تسهيلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تاليف مولانا شاه فيصل

فاضل دارالعلوم اسلاميه چارسده و امداد العلوم پشاور

د اوويشت (۲۷) خصوصياتو سره چې يوولس (۱۱) په کښې دا دي

1. پېښورۍ پښتو سره بين القوسين د قندهارۍ پښتو د کرانو ټکو اضافه
2. د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
3. په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح د اضافي قيوداتو ترجمه
4. د حديث هرې جملې او د هغې ترجمې ته د آسانتيا دپاره نمبرې ورکول
5. د فقهي اختلافي مسئلو مدلل او آسان حل
6. د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم
7. د هر حديث د صحاح سته وغيره نه تخريج
8. د حل اللغات په عنوان لاندې د مرقاة المفاتيح نه د مشکلو لغاتو حل
9. د قوله په عنوان سره د حديث د مشکلو جملو تشريح
10. د هر باب په اول کښې ... خلاصه
11. د کتاب په اول کښې د ...







Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

تسهیلات

پښتوشرح

مشکواة

تالیف :- مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

شپږم جلد (٦)

د شلو (٢٠) خصوصیاتو سره چې لس (١٠) په کښې دا دی

① پېښوري پښتو سره بین القوسین د قندهاري پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافي قیوداتو ترجمه
④ دحدیث هري جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
⑤ په فهقي اختلافي مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑥ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑦ دهرحدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑧ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑨ دقوله په عنوان سره دحدیث د هري مشکلې جملې تشریح
⑩ دهرباب په اول کښې دهغې د احادیثو خلاصه
⑪ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکی
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل ٠٣١٥-٩٥٩٥٧١٧

دکتاب نوم   تسهیلات شرح مشکواة
شارح مولانا پروفیسر شاه فیصل
فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده
معاون مترجم:: عبدالکریم صدیقی

د ملاویدو پتې

جدید اسلامي کتب خانه خوست
المصباح کتب خانه کابل
روغانیوال کتب خانه جلال آباد
رحیمي کتب خانه خوست
حرم کتب خانه کابل
دیني کتب خانه تیمرګره
تاج کتب خانه سوابۍ
مکتبه خواجه عبدالله انصاري هرات
مکتبه دارالاخلاص کابل
مکتبه رحمانیه قندهار
مکتبه رحمانیه کوټه
الوري کتب خانه قندهار
نعمت کتب خانه کابل
مکتبه علمیه اکوړه خټک
حقانیه کتب خانه ګردیز
وطن دوست کتب خانه ګردیز
إقرأ کتب خانه جلال آباد
مکتبه معروفیه کوټه
مکتبه عمریه چمن
مکتبه عباسیه تیمرګره
مکتبه امیر حمزه قندهار

اجمالی فہرست

د احاديثو د عنوانانو فهرست

فهرست اختلاف مذاهب

[۱۴]بَابُ إِحْيَاءِ الْمَوَاتِ وَالشِّرْبِ

د غیرآباد زمکې د آبادولو بیان

خلاصة الباب:-

ستة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① ثبوت إحياء الأرض الموات بإذن الإمام وطريقه: ۱، ۲، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۳۔

② حق الشرب ومقداره: ۳، ۱۴۔

③ الأشياء التي لا يحل منعها: ۴، ۵، ۱۱، ۱۶۔

④ الأشياء التي لا يجوز إحياءها: ۲، ۱۰، ۱۱۔

⑤ ثبوت الملك في الماء لمن سبق إليه: ۱۲۔

⑥ جزاء السيل المهزور: ۱۵۔ أورده طرداً۔

د قرآن څخه د اوبه څور ثبوت:- ﴿وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ ۚ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ﴾ [سورت القمر الايه: ۲۷]

د موات په تعریف کښې د علماء کرامو اقوال:-

① علامه طیبی رحمه الله د "مُغرب" په حواله سره لیکلی دی چه "موات" خرابې غیرآبادې زمکې ته وائی دَدې ضد آباده زمکه ده. الموات الارض الخراب وخلافه العامر.

② علامه طیبی رحمه الله دَ امام طحاوی رحمه الله په حواله سره لیکلی دی چه موات هغه زمکې ته وائی چه نه دَ چا په ملکیت کښې وی اونه دَ ښار او کلی منافع دې سره ترلې وی بلکه دَ ښارنه بهر وی که نیزدې وی که لرې وی.

③ ابن کثیر رحمه الله په نهایه کښې لیکلی دی چه موات هغه زمکې ته وائی په کوم کښې چه نه څه فصل وی نه مکان وی اونه دَهغې څوک مالك وی دَ نن صبا په اصطلاح کښې داسې زمکې ته شاملات ونیلې شی چه غیرآباد او شاړې زمکې وی. دَ احیاء موات مطلب دادې چه دا ژوندئ او آباده کړی. دَ دغه شاړې زمکې دَ آبادولو طریقه داده چه په هغې کښې کرونده اوکړې شی یا واړولې شی یا په کښې باغ جوړکړې شی او یا مکان تعمیرکړې شی [والکاشف: ۶/۱۷۳]

دَ ارض موات په شرعی حکم کښې مذاهب:-

دَداسې غیرآباد زمکې شرعی حکم دادې چه کوم سړې دا آباده کړی دا زمکه به هم دَهغه شی خو په دې کښې دَ فقهاؤ لرښان اختلاف دې

① جمهور فرمائی لکه څنګه چه په احادیثو کښې دی هم هغه دَدې حکم دې چاچه آباده

کړه زمکه هم د هغه ده او د صاحبینو هم دغه فتوی ده

② اما ابوحنیفه رحمه الله فرماني بیشکه دا سړی به د دغه زمکې مالك شی لیکن د دې دپاره شرط دادې چه د حاکم وخت د طرف نه دلالةً صراحةً اجازت وی، اجازت اختسل ضروری دی لکه د احیاء موات حدیث مشروط باذن الامام دې

د شرب لغوی معنی:- شرب په شین کسره ده په لغت کښې د اوبو حصې ته وائی

د شرب اصطلاحی تعریف:- په اصطلاح کښې باغات او حیوانات خړوب کولو هغه حق چه هر انسان ته حاصلیږی هغې ته شرب ونیلې شی (یعنی د اوبو څکلو او په بل د څکلو نمبر مقرر کول) علماؤ لیکلی دی چه اوبه ترکومې په خپل معدن کښې وی په هغې کښې ټول انسانان شریك دی خوکه څوك په احراز کښې راغلل نوبیابه د هغه په ذاتی ملکیت کښې شی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۹۹۱] د شاړې زمکې په آبادولو د ملکیت حکم

[۱] (۱) ① عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②«مَنْ عَمَرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ فَهُوَ أَحَقُّ» ③ قَالَ عُرْوَةُ: "قَضَى بِهِ عُمَرُ فِي خِلَافَتِهِ»" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړی چې یو داسې (افتاده، بنجر) زمکه آباده کړي چې د هغه څوك مالك نه وي، نو هغه آبادونکی سړی د هغه زمکې د ټولو څخه زیات حقدار دی ③ حضرت عروه وایې چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په خپل دور کې د دې مطابق فیصله کړیده. (بخاري)

حل اللغات:- ① عَمَرَ: تعمیر کړی، آباده کړی،

تسهیلات:

قوله: قَضَى بِهِ عُمَرُ:

د مذکوره جملې مقصد:- په دې جمله سره دا خودل مقصود دی چه دا حدیث غیر منسوخ دې خکه چه حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دور خلافت کښې په دې باندې عمل کړې دې

[۲۹۹۲] د څرن د خالی ځان دپاره مخصوص کولو ممانعت

[۲] (۲) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ الصَّعْبَ بْنَ جَثَّامَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ②«لَا حِمَى إِلَّا لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من أحيا أرضا مواتا (رقم-۲۳۳۵) واحمد في المسند: ۱۲۰/۶
۲) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب لا حمى إلا لله ولرسوله صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۳۷۰) واحمد في المسند: ۳۸/۴

ترجمه[۱]: او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې حضرت صعب ابن جثامه اوويل چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [۲] چې د يو چراګاه د مخصوص کولو حق د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څخه علاوه بل چا ته نشته. (بخاري)

حل اللغات:- ① حِمَى: چراګاه.

تسهيلات: قوله: لَاحِمَى:

دحمی لغوی معنی:- دَ حاء کسره سره دې هغه زمکې اودَځرن ځائی ته وائی چرته چه دَ څاروودَپاره وابنه ساتلې شی. بارِ او نبنې لګولوسره دَ نورو خلقو نه وابنه منع کولې شی دا جائزنه دی.

د دنیاوی بادشاهانو چراګاه سره د الله تعالی د محرماتوتشبیه او د حدیث مطلب:-دَ حدیث مطلب دادې چه دَالله تعالي او دَهغه دَ رسول الله ﷺ دَ اجازت نه بغير چاته داحق حاصل نه دې چه دَ خپلو څاروو دَپاره يودَ ځرن ځائی خاص کړی اودَ نورو خلقو په څاروو باندې پابندی اولګوی. دَدې حکم ضرورت په دې وجه پیښ شو چه دَ عربو بادشاهان او سرداران خلقو به دَ ځان دَپاره دَ ځرن ځائی مخصوص کولو. غریبانان او بې وسه خلق به دَدې قدرتی نعمت نه محروم پاتې کیدل په دې وجه نبی کریم ﷺ حکم اوفرمائیلو چه دَ ځرن ځائی مخصوص کولو حق صرف دَ الله تعالی جل شانه اودَ هغه رسول مقبول ﷺ ته حاصل دې بل چاته داحق حاصل نه دې.

[۲۹۹۴] دَ پټواوبه کولو شرعی ضابطه

[۲]- (۱) [۱] وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ: [۲] «خَاصَمَ الزُّبَيْرُ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فِي شِرَاجٍ مِنَ الْحَرَّةِ [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ، [۴] فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ: أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ، [۵] فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ: [۶] اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى الْجَدْرِ ثُمَّ أَرْسِلِ الْمَاءَ إِلَى جَارِكَ

ترجمه: [۱] او حضرت عروه رحمه الله وايي [۲] چې (يو خل) د غرني زمکې څخه (کيتيوته) د اوبو بوتلونکو نالیو په سلسله کې (زما پلار) حضرت زبیر رضي الله عنه او د يو انصاري په منځ کې يوه تنازعه پیښه شوه (کوم وخت چې دا معامله بارګاه رسالت ته ورسیده نو) [۳] رسول الله ﷺ وفرمايل چې اې زبيره! مخکې ته خپل فصل ته اوبه بوخه بيا خپل ګاونډي (يعني د دې انصاري کښې تې) ته اوبه پريږده (د دې فيصلې اوريدو سره) [۴] هغه انصاري اوويل چې تا داسې فيصله ځکه کړيده چې زبير رضي الله عنه ستاسو د عمه (ترور) ځوی دی (د دې اوريدو سره) [۵] د حضور ﷺ مخ مبارك (د غصې په وجه) متغير شو ، بيا حضور ﷺ وفرمايل [۶] چې اې زبيره! اوبه بوخه او بيا اوبه درولې ساته (يعني اوبه د دې انصاري فصل ته مه

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب سکر الأنهار (رقم-۲۳۵۹) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب وجوب اتباعه صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۲۹ - (۲۳۵۷)

ورکوه، ددې پورې چې ستا فصل په بنه شان اوبه شي، او اوبه د فصل پولی ته ورشي

حل اللغات - ① شِرَاجٍ: ددې مفرد شرجة دې دَ غريزو لختوته وائی د کوم په ذريعه چه پتوته اوبه رسيږی ② الْحَرَّةِ: مدينه منوره کښې د يوې زمکې نوم دې چرته چه به تورکانړی وو ③-اسْقِ: اوبه ورکړه (پټې او فصل)، ④ الْجَدْرِ: پوله (دفصل يا د پټې)،

> ١ فَاسْتَوْعَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِلزُّبَيْرِ حَقَّهُ فِي صَرِيحِ الْحُكْمِ ٢ حِينَ أَحْفَظَهُ الْأَنْصَارِيُّ وَكَانَ أَشَارَ عَلَيْهِمَا بِأَمْرٍ لَهُمَا فِيهِ سَعَةٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ گويا حضور ﷺ د دې صريح حکم په ذريعه حضرت زبير رضی الله عنه ته د هغه پوره پوره حق ورکړې ٢ څکه چې هغه انصاري حضور ﷺ غضب ناك کړې وو حالانکه حضور ﷺ چې په ابتداء کې د هغه دواړو په باره کې کومه فيصله کړې وه په هغه کې د دواړو د پاره آساني وه

حل اللغات: -⑤ اسْتَوْعَى: داستوفی په معنی کښې دې، دعا: لوښی ته وائی او استوعی دَ لوښی دکولو په معنی کښې دې يعنی پوره پوره حق ئې ورکړو، ⑥ أَحْفَظَهُ: دَباب افعال نه غصه کښې دَ اچولو په معنی کښې دې ⑦ سَعَةٌ: فراخی، اسانی، ⑧ الجدر: که چرې جيم او دال باندې ضمه وی نودا دَ جدار جمع ده

تسهيلات:

قوله: رَجُلًا:

په حديث کښې د رجلاً څخه مراد: -په ظاهره داسې معلوميدل چه څوك منافق سړې ووچه په حقيقت کښې انصاری نه وو بلکه دَانصار قبيلې سره دَ هغه تعلق وو بلکه شاړ اوکلی وال وو دَغصې دَ وجې نه بې قابوشوې وو حضورپاك صبراوکړو

قوله: أَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ:

د مذکوره عبارت تقدير: -په دې کښې په همزه باندې زبردې په اصل کښې "بأن"يا "لِأَنْ"دې حرف جردَ تخفيف په غرض سره حذف کړې شوې دې عبارت داسې دې "اي هذاالترجيح لانه ابن عمتك"او"بسبب انه ابن عمتك" يعنی هغه زبير له په ماباندې څکه ناجائز ترجيح ورکړه چه دَهغوی دَ ترور خوئی دې دَدې عظيم گستاخئی او بدگمانئی دَ وجې نه دا سړې منافق گرځولې شوې دې

قوله: فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ:

په نبی عليه السلام باندې بې بنياده شک کول: - دَدې سړی دَ بې بنياده الزام دَ وجې نه دَحضورپاك مخ مبارك دَ غصې نه متغير شونو اوس حضورپاك دَ قاعده مطابق حکم اوفرمائيلو اې زبير اوس خپله زمکه پوره خړوب کړه کله چه اوبه دَ پولو سرونوته اورسی بيا

دَ انصاري دَ زمكې طرف ته پرېږده اصل صورت حال دا وو چه غريزه نا له دَ كوم خاني نه راتلله هلته مخكښې دَ حضرت زبير رضي الله عنه زمكه وه شاته دَ انصاري زمكه وه دَ قاعده مطابق دَ حضرت زبير رضي الله عنه زمكه دَ پولو دَ سرونو پورې دَ اوبو نه ډكيدو نه پس دَ انصاري نمبر راتې ليكن حضورپاك دَ حسن اخلاق او مروت دَ وجې نه حضرت زبير رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه صرف خپل پټي ته اوبه وركړه بيا دَ انصاري طرف ته اوبه ورپرېږده

ليكن چه كله انصاري دَ حضورپاك فيصلې ته دَ شك په نظر سره اوكتل او په هغې باندې اعتراض اوكړو نوبيا حضورپاك دَ قاعده مطابق حضرت زبير رضي الله عنه ته دَ هغه پوره حق وركړو او فيصله ئې واوروله

[۲۹۹٤] دَ ضرورت څخه د زياتو اوبو رابندولو ممانعت

[۲] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ ③ لَا تَمْنَعُوا بِهِ فَضْلَ الْكَلَإِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل كومې اوبه چې ستاسو د ضرورت څخه زياتي وي هغه مه منع كوئ ③ چې د دې په وجه د ضرورت څخه زيات د وښو څخه منع كول لازم نشي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْكَلَإِ: گيا ، واښه،

تسهيلات:

قوله: لَا تَمْنَعُوا فَضْلَ الْمَاءِ

په حديث كښې د يوې حيلې سد باب: - دَ دې حديث تشريح اوتوضيح "باب المنهى عنها من البيوع" حديث نمبر (۲۸۵۹) لاندې ليكلې شوې دې خلاصه دا چه پخپله راټوكيدونكو وښو كښې په وجه دَ ضرورت چونكه ټول مسلمانان شريك دى اوس يوسړې نيغ په نيغه دَ وښو نه خو رامنع كولې نه شى دَ دې دَ پاره هغه دا حيله كوى چه دَ څرن خانى سره دَ هغه كومې اوبه وى هغه دَ دغه اوبو نه خلق منع كوى كله چه اوبه څناوروته نه ملاويږى نو هلته به دَ څرن دَ پاره څوك څناور راولى دغه شان حيله كولو سره دا سړې دَ وښو نه منع كول غواړى حضورپاك اوفرمائيل چه داسې مه كوئى كه چرې زياتى اوبه وى نو هغه مه منع كوئى هلته كه چرته اوبه دَ خپل ضرورت نه زياتى نه وى هغه جدا خبره ده ليكن دَ ضرورت نه زياتى اوبه منع كولو سره دَ ضرورت نه زياتى واښه منع كول ډير زيات نامناسب دى

۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من قال: إن صاحب الماء أحق بالماء حتى يروى لقول النبي صلى الله عليه وسلم: «لا يمنع فضل الماء» (رقم-۲۳۵٤) ومسلم في المساقاة/باب تحريم بيع فضل الماء الذي يكون بالفلاة ويحتاج إليه لرعي الكلأ، وتحريم منع بذله، وتحريم بيع ضراب الفحل (رقم-۳۷ - (۱۵۶۶))

[۲۹۹۵] درې قسمه خلقو سره دالله تعالى خبرې نه کول

[۵] (۱) ⓵ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ⓶ «ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ: ⓷ رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ لَقَدْ أُعْطِيَ بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أُعْطِيَ وَهُوَ كَاذِبٌ ⓸ وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ، ⓹ وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ، ⓺ فَيَقُولُ اللّٰهُ: الْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَذُكِرَ حَدِيثُ جَابِرٍ فِي بَابِ الْمَنْهِيِّ عَنْهَا مِنَ الْبُيُوعِ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ درې سړي داسې دي چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ دهغو سره (د رحم وکرم) خبره ونه کړي او نه به د هغوی طرف ته د (مهربانۍ په نظر) وګوري، ⓷ يو خو هغه تاجر سړی دی چې قسم اخستو سره (خريدار ته) وايي چې د دې شي قيمت تا راکړي دي، د دې څخه زيات قيمت ماته حاصليدی (يعني هغه چې خپل څه څيز خرڅوي نو قسم اخستو سره وايي چې د دې څخه زيات قيمت ما ته حاصليدلی) حالانکه هغه سړی (په خپل قسم کې) دروغجن وی (ځکه چې درحقيقت د دی څخه زيات قيمت هغه ته نه حاصليدی) ⓸ دويم سړی هغه دی چې د مازيګر څخه وروسته د دروغو قسم واخلي او د دې (دروغ قسم) مقصد د يو مسلمان سړي (يا ذمي) څه مال اخستل وي ⓹ او دريم هغه سړی دی چې د زياتو اوبو څکلو څخه خلق منع کوي ⓺ داسې سړي ته به الله ﷻ د قيامت په ورځ وفرمايي چې څنګه تا په دنيا کې د زياتو اوبو څخه خلق منع کړي وو باوجود د دې چې هغه اوبه خو تا په خپل لاس سره نه وي رابنکلي، دغه شان نن زه هم تا د خپل فضل څخه لرې کوم، (بخاري)

حل اللغات: - ⓵ سِلْعَةٍ: نرخ، قيمت، ⓶ لِيَقْتَطِعَ: چه قبضه کړی، واخلی، ⓷ لَمْ تَعْمَلْ: تا عمل او محنت نه وو کړي

تسهيلات: **قوله**: بَعْدَ الْعَصْرِ:

د مازيګر څخه روسته د قسم خوړولو وجه: - دَ مازيګروخت چونکه دَ ډير تقدس او عظمت حامل دي په دې وجه قسم کښ هم عظمت راځی

قوله: مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ:

د اوبو منع کولو وعيد: - يعنی چه داسې قدرتی څيز رامنع کوی کومه چه ستا دَ لاس ګټه نه ده بلکه دَ الله تعالى يوعام نعمت دي ته دا ولې دَخلقو نه منع کولې. ستادَي جرم دَ وجې

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من رأى أن صاحب الحوض والقربة أحق بمائه (رقم-۲۳۶۹) ومسلم في كتاب الإيمان/باب بيان غلظ تحريم إسبال الإزار، والمن بالعطية، وتنفيق السلعة بالحلف، وبيان الثلاثة الذين لا يكلمهم الله يوم القيامة، ولا ينظر إليهم، ولا يزكيهم ولهم عذاب أليم (رقم-۱۷۱ - (۱۰۶)) واخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في منع الماء (رقم-۳۴۷۴) والنسائي في كتاب البيوع/باب الحلف الواجب للخديعة في البيع (رقم-۴۴۶۲) وابن ماجه في كتاب التجارات/باب ما جاء في كراهية الأيمان في الشراء والبيع (رقم-۲۲۰۷) واحمد في المسند: ۲۵۳/۲

نه نن د قیامت په ورځ تانه خپل رحمت رامنع کوم او تا به د خپل فضل نه منع ساتم

قوله: وَذُكِرَ حَدِيثُ جَابِرٍ: د دې حدیث تشریح دې نه مخکښې شوې ده هلته کتل پکار دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹۹۶] د شاملاتی زمکې په حد بندی کولو د ملکیت راتلل

[۰] (۱) ① عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «مَنْ أَحَاطَ حَائِطًا عَلَى الْأَرْضِ فَهُوَ لَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① جناب حسن بصري رحمه الله د حضرت سمره رضي الله عنه څخه نقل کوي او هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② کوم سړی چې د شاړې زمکې سره دیوار راوګرځولو نو هغه د هغه شي، (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① حَائِطًا: دیوال.

تسهیلات:

قوله: أَحَاطَ:

د شاملات د زمکې څخه د دیوال راتاوولو حکم: - یعنی یوه لرې غیرآباده زمکه ده د هغې نه ګیرچاپیره چادیوال جوړ کړو نو د دې حدیث مطابق به هغه زمکه د ګیرونکی سړی شوه دا حدیث او د دې باب رومبې حدیث مفهوم هم یو دې چه ارض موات ناچاپیره دیوال جوړ کړو هغه د احیاء موات په حکم کښې ده زمکه به هم د هغه وی لیکن باقی درې ائمه فرمائی چه د احیاء موات د پاره ضروری دی چه د غه زمکه آباده کړې شی صرف په دیوال جوړولو سره آبادیږی نه لهذا زمکه به د هغه نه وی. په دې حدیث کښې د اوسیدو او آبادولو په غرض سره دیوال جوړول مراد دې صرف د راګیرولو د پاره مراد نه دې

[۲۹۹۷] زبیر رضي الله عنه ته د جاګیر په طور شاړه زمکه ورکول

[۰] (۲) ① وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ ② «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ نَخِيلًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه لور بي بي اسماء رضي الله عنها وایې ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت زبیر رضي الله عنه د پاره د کجورو وَنې په طور د جاګیر ورکړې وی، (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① أَقْطَعَ: ورکړې وه

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/ باب فی إحیاء الموات(رقم-۳۰۷۷) واحمد فی المسند: ۲۱/۵

۲) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/ باب فی إقطاع الأرضین(رقم-۳۰۶۹)

تسهيلات:

قوله: اقطع للزبير نخيلا:

حضرت زبير ته د کجورو ولو ورکولو کښې دوه احتمالات:-

① يعنى حضورپاك حضرت زبير رضی الله عنه ته جاگيرد کهجورو ونې ورکړې. په دې کښې حضرت زبير رضی الله عنه ته دا ونې د مال خمس نه ورکړې وو

② حضورپاك هغه ته افتاده شاړه زمكه د جاگيرپه توگه د آبادولو د پاره ورکړې وى

[۲۹۹۸] ابن زبير ته د جاگير ورکولو حکم

[۸] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ② «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَقْطَعَ لِلزُّبَيْرِ حُضْرَ فَرَسِهِ ③ فَأَجْرَى فَرَسَهُ حَتَّى قَامَ ④ ثُمَّ رَمَى بِسَوْطِهِ ⑤ فَقَالَ: أَعْطُوهُ مِنْ حَيْثُ بَلَغَ السَّوْطُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي ② چې رسول الله ﷺ حضرت زبير رضی الله عنه ته د هغه د آس د زغليدو په قدر زمكه په طور د جاگير ورکړله (يعني يو زغل کې چې آس تر کوم ځايه رسيدو سره ودريږي، د هغه پې زمكه ورته ورکړه) ③ نو (د دې مقصد د پاره) حضرت زبير رضی الله عنه خپل آس وزغلولى او هغه آس (يو ځاى ته د رسيدو سره) ودريدلو، ④ بيا حضرت زبير رضی الله عنه خپله دُرّه وويشتله، ⑤ د دې ځخه وروسته حضور ﷺ وفرمايل چې د زبير رضی الله عنه دُرّه چې په کوم ځاي کې ولويده د هغه پورى دى زمكه زبير رضی الله عنه ته ورکول شي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① حُضْرَ: حضروإحضار د اس منډې ته وائي. ② السَّوْطُ: دُوره،

تسهيلات: قوله: حُضْرَ فَرَسِهِ:

د حضر موت مصداق او د حديث پس منظر:- يعنى حضورپاك حضرت زبير رضی الله عنه ته د هغه د اس د منډې په مقدار باندې جاگيرورکړو. يعنى په يوځل چه يوشان اس ترکومې پورې په زمكه کښې منډه اووهى د هغه ځائى پورې زمكه به د هغه شى اوکوم ځائى چه اس اودريدو هم هلته به دغه ورکړه ختمه شى. نو د حضرت زبير رضی الله عنه اس چه تر کومې پورې ستړې کيدوسره اودريدو نو حضورپاك د هغه ځائى نه خپله همسا وراندې د هغه ځائى پورې اوغورزوله حضورپاك اوفرمائيل چه ده له د وراندې ځائى پورې ورکړئى ترکوم ځائى پورې چه همسارسيدلې ده داهم د لرې شاړې زمكې د جاگيرمعامله ده.

قوله: حُضْرَ فَرَسِهِ:

د اس د منډې په مقدار زبيررضى الله عنه ته زمكه ورکول:- ديته د اسونو منډه وئيلې

(۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/ باب في إقطاع الأرضين(رقم-۳۰۷۲) واحمد في المسند: ۱۵۶/۲

کیږی یعنی نبی علیه السلام حضرت زبیر رضي الله عنه ته د هغه د اس د منډې هومره زمکه ورکړه چنانچه کوم ځائې پورې چه د حضرت زبیر رضي الله عنه اس ستړې شو او ودریدو بیا چه هغه ځائې نه تر کوم ځائ پورې تیر اورسیدو نو تر هغه ځائې پورې د ده هغه جائیداد شو

[۲۹۹۹] وائل بن حجر رضی الله عنه ته د جاګیر په طور شاره زمکه ورکول

---[۹] (۱) [۱] «وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ عَنْ أَبِيهِ [۲] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَقْطَعَهُ أَرْضًا بِحَضْرَمَوْتَ» [۳] قَالَ: فَأَرْسَلَ مَعِي مُعَاوِيَةَ قَالَ: أَعْطِهَا إِيَّاهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت علقمه ابن وائل د خپل پلار (حضرت وائل ابن حجر رضی الله عنه) څخه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ وائل ابن حجر رضی الله عنه ته په حضرموت کې څه زمکه په طور د جاګیر عطاکړه، [۳] نو حضرت وائل رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ حضرت معاویه رضی الله عنه زما سره ولیږلی چې هغه د هغه زمکې پیمایش وکړي او معاویه رضی الله عنه ته یې وفرمایل چې هغه زمکه (ناپ کولو سره) وائل ته ورکړه.

تسهیلات:

قوله: بِحَضْرَمَوْتَ:

دحضرموت محل وقوع: - دَ جبل السراة یوه سلسله دَ یمن سره تیریږی اودَجزیرة العرب جنوب مغربی کونې سره مشرق طرف ته تاوېږی. بیا جنوبی ساحل سره نیزدې ترلرې پورې تلې ده. دَ جبل السراة هم دغه کوهستانی ریګستانی سلسله چه په کومو علاقو باندې مشتمل ده هغې ته حضر موت وئیلې شی. په دغه کوهستانی علاقوکښې هیڅ یوځائی دَ کر قابل نشته دې. خوبعض وادیانې داسې دی چه دَ کروندې قابل دی. هم په دې کښې یو وادی حضرموت دې.

د وائل بن حجر اسلام راوړل: - حضرت وائل بن حجر رضی الله عنه هم دَدې علاقې دَ پخوانی شاهی خاندان اولاد وو. دَ دوی پلار دَ هغه ځائی بادشاه وو. کله چه وائل بن حجر رضی الله عنه دَ اسلام قبلولودَپاره دَ هغه ځائی نه روان شو نوحضورپاك په ډیره خوشحالئی سره صحابه کرامو ته دَهغه دَ راتګ خبر ورکړو او بیا ئې دَ هغه په راتلوباندې استقبال اوکړو اوخپل څادر ئې ورته خورکړواوخپل ځان سره ئې نیزدې کینولو. اوبیا دې دَ حضرموت حاکم مقررکړو اوڅه جاګیر ئې ورکړو. په دې حدیث کښې هم دَ دغې حقیقت بیان دې.

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/ باب فی إقطاع الأرضین(رقم-۳۰۵۸) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی القطائع (رقم-۱۳۸۱) واحمد فی المسند:۳۹۹/۶

[۲۰۰۰] د تیارې ځمکې د جاګیر په توګه د ورکولو ممانعت

۲۰۰۰-[۱۰] (۱) [۱] «عَنْ أَبْيَضَ بْنِ حَمَّالٍ الْمَأْرِبِيِّ [۲] أَنَّهُ وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَاسْتَقْطَعَهُ الْمِلْحَ الَّذِي بِمَأْرِبَ فَأَقْطَعَهُ إِيَّاهُ [۴] فَلَمَّا وَلَّى قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا أَقْطَعْتَ لَهُ الْمَاءَ الْعِدَّ [۵] قَالَ: فَرَجَعَهُ مِنْهُ [۶] قَالَ: وَسَأَلَهُ مَاذَا يُحْمَى مِنَ الْأَرَاكِ [۷] قَالَ: لَمْ تَنَلْهُ أَخْفَافُ الْإِبِلِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابیض ابن حمّال ماربي رضی الله عنه په باره کې منقول دی [۲] چې هغه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو [۳] او دا درخواست یې وکړې چې په مارب کې د مالګې چې کوم کان دی هغه ته دي په طور د جاګیر ورکول شي، نو حضور ﷺ هغه ته د مالګې هغه کان په طور د جاګیر عطا کړي، [۴] کوم وخت چې ابیض واپس شو، نو یو سړی (یعني اقرع ابن حابس تمیمي رضی الله عنه) عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ تا خو ابیض رضی الله عنه ته تیارې اوبه (یعني په کان کې بالکل تیاره مالګه) ورکړې ده، [۵] راوي وایي (کوم وخت چې حضور ﷺ ته د حضرت اقرع رضی الله عنه څخه دا معلومه شوه چې ابیض رضی الله عنه ته خو یو داسې کان ورکول شوی دی چې په هغه کې مالګه خو بالکل تیاره ده نو) حضور ﷺ هغه کان د ابیض رضی الله عنه څخه واپس واخستی، [۶] راوي وایي چې هغه سړي (یعني حضرت اقرع رضی الله عنه) د رسول الله ﷺ څخه دا پوښتنه هم وکړه چې د پیلو (یوه ونه چې د بیخلو څخه یې مسواکونه جوړیږي) د ونو کومه ځمکه ګیره کړل شي؟ (یعني کومه غیر آباده ځمکه په آبادولو سره خپل ملکیت جوړشي) [۷] نو حضور ﷺ ورته وفرمایل هغه ځمکه چرته چې د اوښانو پښې نه رسیږي، (ترمذي ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: - ① الْمِلْحَ: مالګه. ② مَأْرِبَ: دا د یمن د یو ښار نوم دي کوم چه د صنعاء نه ۶۰ کلومیتر لرې دې ③ وَلَّى: واپس شو. ④ الْعِدَّ: تیاره. ⑤ يُحْمَى: چه راګیره کړې شی. ⑥ الْأَرَاكِ: د پیلو یا زیر لرګی ونه (د کیکر پشان، کوم نه چه مسواکونه جوړیږی. ⑦ أَخْفَافُ: د اوښانو خپې.

تسهیلات: قوله بِمَأْرِبَ:

په ماربی کښې د نسبت وجه :- مارب طرف ته نسبت دې حضرت ابیض رضی الله عنه هم د دې مارب ښار اوسیدونکې وو هغه د حضورپاك نه په مارب کښې د مالګې د یو کان د هغه د پاره د جاګیر کولو درخواست اوکړو حضورپاك قبول کړو او د جاګیر په توګه ئې ورکړو کله چه ابیض رضی الله عنه روان شو نو په مجلس کښې چا اوویل یارسول الله ﷺ تاسو خو بالکل تیار کان د هغوی په حواله کړو.

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأحکام عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی القطائع (رقم- ۱۳۸۰) وابن ماجه فی کتاب الرهون/باب إقطاع الأنهار والعیون (رقم-۲۴۷۵)

قوله قَالَ رَجُلٌ:

د رجل مصداق:- ونيلي شي چه دا اقرع بن حابس ﷺ وو حضورپاك ابيض ﷺ راؤغوښتو او هغه كان ئې دَ هغه نه واپس واخستو دې نه معلوميږي چه دَ جاگير په توگه شاړه زمكه وركولې شي بالكل تياركان يا زمكه نه شي وركولې

قوله: الْمَاءَ الْعِدَّ:

د احياء الموات د زمكې تعريف:- يعنى دَ تيارو اوبوپه شان كان وو داسې اوبه كومې چه دائم هم وى اوقائم هم، دَ احياء موات دَپاره داسې زمكه چه دَ هغې حاصلول مشكل او گران وي وركولې كيږى داتيار څيزوو په كوم كښې چه دَ ټولو مسلمانانوحق وو

قوله: وَسَأَلَهُ مَاذَا يُحْمَى مِنَ الْأَرَاكِ

په ساله كښې د سائل مصداق:- يعنى راوى وائى "وسأله" يعنى اقرع بن حابس ﷺ دَ حضورپاك نه تپوس اوكړو چه دَ زيړلرگى دَ ونو كومه يوه زمكه گيرولې شى

قوله: لَمْ تَنَلْهُ أَخْفَافُ الْإِبِلِ:

د كانونو دوه قسمونه:- يعنى تركومې پورې چه دَ اوښانو خپې نه وى رسيدلې دَ آبادئى نه ډيره لرې شاړه زمكه وى هغه دَ احياء موات په توگه آبادولې شى. نيزدې مقامات خودَ ښار او كلى دَ ضروريات نه وى. حضورپاك اول اوگنړل چه دا سخت كان دې چه چاته هم دَ آبادولودَپاره وركولې شى. كله چه معلومه شوه چه دا سهل الحصول دې نوواپس ئې كړو دَ كانونو هم دغه دوه قسمونه وى.

[٢٠٠١] په مسلمانانوكښې د دريو څيزونو اشتراك

[١] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ فِي الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دري څيزونه يعنى اوبه وابنه او اور داسې دي چې په هغه كې ټول مسلمانان شريك دي، ابوداؤد ابن ماجه.

حل للغات:- ① الْكَلَإِ: گيا، وابنه،

تسهيلات:

قوله: الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ

د دريو څيزونو مصداق:- يعنى په دريوڅيزونوكښې عام مسلمانان شريك دى په دغه څيزونو باندې دَ چاقبضه كول جائزنه دى.

١) اخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى منع الماء(رقم-٣٤٧٧) وابن ماجه فى كتاب الرهون/باب المسلمون شركاء فى ثلاث (رقم-٢٤٧٢) واحمد فى المسند: ٣٦٤/٥

① اوبه دې نه دَ دريابونو نالو اوکوهيانو تالابونوعام اوبه مراد دی هغه اوبه مرادنه دی کومې چه چا په ټينکې يا لوښې يا مشك کښې اچولې وی.
② واښه دَ وښونه مراد هغه واښه دی چه په ځنګلوکښې پخپله راټوکيږی چا دَهغې ساتنه نه وی کړې نه ئې شپول لګولې وی.
③ اور که يوسړې دَ اور دَ شغلې نه دَخپل ځان دَپاره اور اوړل غواړی نوهغه بندول منع دی خکه چه په اورکښې هيڅ کمې نه راځی اوکه اور اوړونکې دَ لرګوسره اور اوړل غواړی نوهغه منع کولې شی بل په اورکښې دَ ګرمولونه او دَهغې په رڼاکښې دَ کيناستونه څوك منع کولې نه شی.

[۲۰۰۲]په مباح څيزد قبضې په صورت کښې ملکيت راتلل

٢٠٠٣—[٣] (١)① وَعَنْ أَسْمَرَ بْنِ مُضَرِّسٍ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَبَايَعْتُهُ ② فَقَالَ: «مَنْ سَبَقَ إِلَى مَاءٍ لَمْ يَسْبِقْهُ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَهُوَ لَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

توجمه: ①او حضرت أسمر ابن مُضَرِّس ﷺ وايې چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او د حضور ﷺ سره مې بيعت وکړي (يعني اسلام مې قبول کړي)② نو حضور ﷺ وفرمايل کوم سړی چې د داسې اوبو طرف ته سبقت وکړي (يعني هغه اوبه حاصلې کړي) کومې چې يومسلمان نه وي حاصلې کړي نو هغه د هغه دی، (ابوداؤد)

تسهيلات: قوله: مَنْ سَبَقَ إِلَى مَاءٍ لَمْ يَسْبِقْهُ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَهُوَ لَهُ

په مباح څيز باندې د قبضې کولو نه پس د ملکيت ثبوت: - مطلب دادې چه کوم سړې مباح اوبه يعنې د درياب يا تالاب وغيره نه څه مقدار واخلی نود اوبو دغه اخستلې شوې مقدار ددغه سړی ملکيت جوړيږی اوکومې اوبه چه په درياب يا تالاب وغيره کښې باقی پاتې شی هغه دهغه په ملکيت کښې نه راځی، بلکه هغه په خپل حال باندې مباح پاتې کيږی، دغسې نور مباح څيزونه مثلاً د ګياه، واښه او لرګو وغيره هم دغه حکم دی.

[۲۰۰۳]دَکمزوری السانانو دَحقوقوتحفظ او د حاکم ذمه واری

٢٠٠٤—[٤] (٢)① وَعَنْ طَاوُسٍ مُرْسَلًا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②«مَنْ أَحْيَا مَوَاتًا مِنَ الْأَرْضِ فَهُوَ لَهُ ③ وَعَادِيُّ الْأَرْضِ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ مِنِّي». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

توجمه: ①او حضرت طاؤس ﷺ بذريعه ارسال نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② افتاده او بنجر زمکه چې کوم سړي آباده کړي هغه د هغه ملکيت شی ③و قديم زمکه د الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ دپاره ده اوبيا هغه زما د طرف څخه ستاسو د پاره ده (شافعي)

---

١) اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في تفسير الجائحة (رقم-٣٤٧١)
٢) اخرجه الشافعي في الام في كتاب الهبة باب عمارة ما ليس معمورا.

۳۰۰۳-(۱) [۱] وَرُوِيَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَقْطَعَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ الدُّورَ بِالْمَدِينَةِ [۲] وَهِيَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ عِمَارَةِ الْأَنْصَارِ مِنَ الْمَنَازِلِ وَالنَّخْلِ، [۳] فَقَالَ بَنُو عَبْدِ بْنِ زُهْرَةَ: نَكِّبْ عَنَّا ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ، [۴] فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: فَلِمَ ابْتَعَثَنِي اللَّهُ إِذًا، [۵] إِنَّ اللَّهَ لَا يُقَدِّسُ أُمَّةً لَا يُؤْخَذُ لِلضَّعِيفِ فِيهِمْ حَقُّهُ».

ترجمه: [۱] او په شرح السنه کې منقول دی چې رسول الله ﷺ حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه ته په مدينه کې چې کوم مکانات ورکړل [۲] هغه د انصارو د آبادی (يعني د هغوی د مکانو او د هغوی د کجورو د ونو) په منځ کې واقع وو. [۳] نو د عبد ابن زهره خامنو اوويل چې تاسو د ام عبد خوی (يعني عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه) زمونږ څخه لرې وساتي اووائي زوي، ددې په جواب کې، [۴] رسول الله ﷺ وفرمايل چې بيا الله ﷻ زه څه د پاره راليږلی يم [۵] ياد لرئ! الله ﷻ هغه قوم ته پاکيزګي نه عطا کوي چې په هغه کې د کمزورو حق ته تحفظ حاصل نه وي.

حل اللغات: - ① الدُّورَ: د دارْ جمع ده، دارْ کورته وائی. ② بَيْنَ ظَهْرَانَيْ: په مينځ کښې. ③ نَكِّبْ: وارْوی، لرې کړئ.

تسهيلات: **قوله:** وَعَادِيُّ الْأَرْضِ:

د عادی الارض څخه مراد: - دې نه مراد هغه شاړه غيرآباده زمکه ده دَ کومې چه څوک مالک نه وی اونه چاته دَهغې دَ مالك علم وی بلکه دادَ قوم عادطرف ته منسوب پخوانئی زمکه وی.

قوله: أَقْطَعَ:

ابن مسعود ته کورونه ورکول: - يعنی حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ته حضورپاك په مدينه کښې مکانات ورکړل چه دَ انصارو دَ کورونو او کهجورو دَ باغونو په مينځ کښې واقع وو

قوله: فَقَالَ بَنُو عَبْدِ بْنِ زُهْرَةَ:

د بنوعبدبن زهره د قول وجه: - دَ عبدبن زهره اولاد دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دَ پلارسره حريفانه مقابله کښې پاتې وو بل دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه مور په يووخت کښې دَ مجبورئ نه دَ دغه خلقو مزدوری کړې وه اوس دَ انسانی بشری جذباتو په وجه دغه خلقو حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په خپل مينځ کښې په داسې شان اوشوکت سره برداشت نه کړو بلکه دَ حقارت جمله ئې استعمال کړه چه "فنكب عنا ابن ام عبد" يعنی زمونږ نه ئې واړه ونې

کمزورو ته د هغوی حق ورکول منصب رسالت: - دَدې په جواب کښې حضورپاك دَ غصې اوخفګان اظهاراوکړو اودَ عدل اوانصاف خبره ئې اوکړه که چرې زه دَ يوکمزوری انسان

---

۱) اخرجه الشافعی فی المسند کتاب الجهاد باب ماجاء فی الحماوالقطايع

حو هغه ته ورنه کړې شم نو بیا زما رب زه ولې نبی جوړ کړې را الیکلې یم؟ بیا حضورپاك يوه قاعده بیان کړه چه هغه قوم کله پاك صفا اومقدس جوړیدې نه شی په کوم قوم کښې چه د کمزوری انسان د حق تحفظ حاصل نه وی

[۲۰۰۵] دَ لوړو ښیره له پتی خروب کولو ضابطه

۲۰۰۵ - [۳] (۱) ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ ② «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَضَى فِي السَّيْلِ الْمَهْزُورِ أَنْ يُمْسَكَ حَتَّى يَبْلُغَ الْكَعْبَيْنِ ③ ثُمَّ يُرْسَلَ الْأَعْلَى عَلَى الْأَسْفَلِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار (حضرت شعیب) څخه او هغه د خپل نیکه (یعني حضرت عبد الله ابن عمرو ﷠) څخه نقل کوي ② چې رسول الله ﷺ د مهزور د اوبو په باره کې دا حکم وکړي (چې هر کله د هغه اوبه په کښې تی وغیره کې) د پنړکوپوري د کې شي نو هغه دي بندي شي ③ او بیادي پورته والاتدي والا د پاره (د هغه اوبه) پریږدي. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: - ① السَّيْل: سیلاب، دَ ځنګلاتو او صحرائی غرونونه چه کومې اوبه په کومه لار رابهیږي راځی هغه نالئی او نهر ته هم سیل وائی. ② الْمَهْزُور: دَ بنوقریظه په علاقه کښې دَ یوې وادئ نوم دې ③ الْكَعْبَيْن: د خپو ګیټئ، پرکئ،

تسهیلات: قوله: الْمَهْزُور:

دحدیث پس منظر: - په مدینه منوره کښې دَ بنوقریظه په علاقه کښې دَ یوې وادئی نوم دې دَ بنوقریظه دَ پټو اوبه به هم په دغه نالئی او وادئی کښې راتلې چه پټی به ئی خروب کول حضورپاك هم دَدغې متعلق داحکم فرمائیلې چه دَ یوقاعدې اوضابطه حیثیت لری اودَ دنیا دَ ټولو انسانانودپاره یوشرعی ضابطه ده.

د اوبه خور په باب کښې یوه قاعده: - مطلب دادې چه مثلاً دَ غرونونه اوبه دَ یونالئی په ذریعه دَ آبادئی طرف ته راځی اوخلق په هغې باندې خپلې زمکې خروب کوی نودَهغې دَپاره قاعده او شرعی ضابطه داده چه دَ کوم سړی په زمکه کښې دغه نالئی اول راتیریږی هغه سړې دَ خپلې زمکې اوبه کولو دَپاره رومبې حقدار دې هغه سړې دې په خپله زمکه کښې دومره اوبه جمع کړی چه دَ خپو دَ ګیټو پورې اورسی بیا دې خپل نیزدې ملګری ته اوبه پریږدی هغه دې هم دغه شان زمکه اوبه کړی اودَ بل طرف ته دې اوبه وریږیږدی داحکم سره دَدې چه دَمدینې په خلقو کښې نافذ شوې وو خودا شرعی ضابطه دَ دنیادَ ټولو مسلمانانودَپاره ده

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأقضية /باب من القضاء (رقم-۳۶۳۹) وابن ماجه فی کتاب الرهون /باب الشرب من الأودية ومقدار حبس الماء (رقم-۲۴۸۲) ومالک فی الموطا کتاب الاقضية /باب القضاء فی المیاه (رقم-۲۸)

[۲۰۰۶] ذ خپل جائیدادپه ذریعه چاته د تکلیف ورکولو مما نعت

۳۰۰۰—[۵] (۱) [۱] «وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ [۲] أَنَّهُ كَانَتْ لَهُ عَضُدٌ مِنْ نَخْلٍ فِي حَائِطِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، [۳] وَمَعَ الرَّجُلِ أَهْلُهُ، فَكَانَ سَمُرَةُ يَدْخُلُ عَلَيْهِ فَيَتَأَذَّى بِهِ، [۴] فَأَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ [۵] فَطَلَبَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِيَبِيعَهُ فَأَبَى، [۶] فَطَلَبَ أَنْ يَنْقُلَهُ فَأَبَى،

ترجمه: [۱] او د حضرت سمره ابن جندب ﷺ په باره کې منقول دی [۲] چې د هغه د کجورو خو ونې د يو انصاري (چې د هغه نوم بعضې علماوو مالك ابن قيس ﷺ ليکلې دی) په باغ کې وې [۳] او هغه د خپل اهل وعيال سره په هغه باغ کې اوسيدلی هر کله چې سمره به (د خپلو هغوی ونو په وجه) باغ ته راتلو نو هغه انصاري ته به خيني تکليف وو (يوه ورځ) [۴] هغه انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او حضور ﷺ ته يې د دې ذکر وکړي، [۵] نو حضور ﷺ سمره خپل مجلس ته طلب کړي چې (هغه ته دا وفرمايي چې) هغه دې د خپلو کجورو هغه ونې خرڅې کړي (چې د دې ونو په وجه انصاري ته کوم تکليف رسيږي هغه ختي نجات پيدا کړي) ليکن سمره (د خپلو ونو خرڅولو څخه انکار وکړي [۶] بيا حضور ﷺ د دې خواهش اظهار وکړي چې سمره خپلې (دا) ونې د انصاري د (هغه) ونو سره بدلې کړي (کومې چې په بل ځای کې واقع وي) خو سمره دی ته هم تيار نه شو .

حل اللغات: - ① عَضُدٌ: د ونو قطار، د ورو کهجورو بوټي.

[۱] قَالَ: فَهَبْهُ لَهُ وَلَكَ كَذَا أَمْرًا رَغَّبَهُ فِيهِ فَأَبَى، [۲] فَقَالَ: أَنْتَ مُضَارٌّ [۳] فَقَالَ لِلْأَنْصَارِيِّ: اذْهَبْ فَاقْطَعْ نَخْلَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَذُكِرَ حَدِيثُ جَابِرٍ "مَنْ أَحْيَا أَرْضًا" فِي بَابِ الْغَضَبِ بِرِوَايَةِ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي صِرْمَةَ «مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللَّهُ بِهِ» فِي بَابِ مَا يُنْهَى عَنِ التَّهَاجُرِ.

ترجمه: [۱] بيا حضور ﷺ سمره ته دا وفرمايل چې ښه خپلې ونې انصاري ته په طور د هديې ورکړه، تا ته به د دې اجر (د جنت د نعمتونو په صورت کې) حاصل شي، ګويا حضور ﷺ په طور د سفارش او رغبت ورکولو د پاره دا حکم ورکړي يا (أَمْرًا رَغَّبَهُ ترجمه دا ده چې حضور ﷺ سمره ته د ترغيب يوه خبره وفرمايله (يعني خپلې ونې په طور د هديې ورکولو د ثواب ذکر يې وفرمايلو) ليکن سمره د دې څخه هم انکار وکړي. [۲] په آخر کې حضور ﷺ سمره ته وفرمايل چې د دې مطلب دا دی چې ته (واقعي) دې انصاري ته ضرور تکليف رسول غواړي او کوم سړی چې چاته تکليف رسوي د هغه دفعيه ضروري ده، ځکه [۳] حضور ﷺ انصاري ته وفرمايل چې ته ورشه او د سمره ونې پريکولو سره وغورځوه، (ابوداؤد)

حل اللغات: - ② مُضَارٌّ: ضرر او تکليف رسونکي، ③ الْغَضَبُ: غصه، ④ ضَارَّ: چه ضرر اورسوی، ⑤ التَّهَاجُرِ: يوبل سره تعلق پريښودل

۱) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الأقضية باب من القضاء (رقم-۳۶۳۶)

تسهيلات:

قوله عَضُدٌ:

د عضد په مصداق کښې اقوال:-

① ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دې نه دکهجورو دَ ونو قطار مراددې اوبعضو ونیلی چه یوخوورې کهجورې مراد دی اهل لغت هم دغه دوه معنی خودلی دی

② علامه تورپشتی رحمه الله فرمائی دَ حدیث دَ ظاهری الفاظو اومفردضمائرنه معلومیږی چه دا یوه ونه وه که چرې دا زیاتې ونې وې نوحضورپاك به دَ هغې دَ پرې کولو اواخواکولوحکم نه فرمائیلو دَ علامه تورپشتی رحمه الله درائې نه دَملاعلی قاری رحمه الله رائې زیاته بهترده چه دادَ ونودَ یوقطار نوم دې

دحدیث پس منظر:- دَ حضرت سمره رضی الله عنه دَ ونو یوبناخ دَ یوانصاری مالك بن قیس رضی الله عنه په باغ کښې وو دَ حضرت سمره رضی الله عنه په تلو راتلویه انصاری ته تکلیف کیدلو حضورپاك دَ سفارش او ترغیب په توګه حضرت سمره رضی الله عنه له خپلې ونې خرڅولو یا بدلولویا هبه کولوپاره اوونیل دَ "رغبه" مطلب هم دغه سفارش اوترغیب دې دَ حضورپاك داحکم وجوبی نه وو ګنی دَ حضرت سمره رضی الله عنه به دَ انکار ګنجائش نه وې

قوله: أَنْتَ مُضَارٌ:

د سمره د ونې کټ کولو حکم کولو وجه:- یعنی ستا مطلب صرف نقصان اوتکلیف رسول دی لهذا اوس ستا ضرر دفع کول ضروری شوی دی اودَې صورت هم دغه دې چه دا ونې دَ بیخه اوویستلې شی نو حضورپاك هم دغه شان حکم ورکړو

اشکال:- دَ حضوراکرم دَ طرف نه حضرت سمره رضی الله عنه ته داحکم وجوبی نه وو صرف سفارش وو نو بیا ئې دَهغه ونو دَ پرې کولوحکم ولې ورکړو؟

داشکال درې جوابونه:-

① په اصل کښې حضورپاك دَ حضرت سمره رضی الله عنه په وړاندې باقی ټولې اختیاری خبرې کیخودې ترغیب ئې هم ورکړو دَ جنت زیرې ئې هم ورکړو کله چه هغه اونه منله نوحضورپاك بیا وجوبی حکم ورکړو ځکه چه اوس دَ ضرر اوتکلیف رسولوصورت پیدا شو لهذا دَ دغه ضرر دفع کول ضروری شو نوحضورپاك دَ ونو دَ پرې کولو حکم ورکړو

② ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه ممکن ده چه حضرت سمره رضی الله عنه سره دغه ونې دَ باغ دَ مالك دَ طرفه هبه وې

③ یادَ بل چا دَ طرفه دَ عاریت په توګه وی په دې وجه ئې دَ پرې کولو حکم ورکړو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۰۷] د اوبو مالګې او اور ورکولو ثواب

۲۰۰۷—[۸] (۱) ۱ عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - ۲ أَنَّهَا قَالَتْ: «يَا رَسُولَ اللهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ ۳ قَالَ: اَلْمَاءُ وَالْمِلْحُ وَالنَّارُ، ۴ قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا الْمَاءُ قَدْ عَرَفْنَاهُ فَمَا بَالُ الْمِلْحِ وَالنَّارِ؟ ۵ قَالَ: يَا حُمَيْرَاءُ مَنْ أَعْطَى نَارًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَا أَنْضَجَتْ تِلْكَ النَّارُ،

ترجمه: ۱ د ام المؤمنین بي بي عائشه رضي الله عنها په باره کې روایت دی ۲ چې (یوه ورځ هغې پوښتنه وکړه چې یا رسول الله! ﷺ هغه کوم څیز دی چې د هغه د ورکولو څخه انکار کول درست نه دی؟ ۳ حضور ﷺ وفرمایل چې اوبه، مالګه او اور. ۴ بي بي عائشه رضي الله عنها وایې چې ما (دا اوریدو سره) عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ د اوبو معامله خو ماته معلومه ده (چې دا د الله ﷻ یو داسې عام نعمت دی چې د هیڅ سړي ذاتي ملکیت نه دی څه انساني څه حیواني د ټول مخلوق ضرورتونه د دې سره تړلی دی ځکه دي څخه منع کول د ډیر زیات تکلیف او ضرر باعث جوړیدی شي) لیکن د مالګي او اور خبره خما په پوهه کې نه راځي (چې دا دواړه څیزونه د اوبو په مثل نه دی او په ښکاره بالکل حقیر او معمولي څیزونه دي چې د هغوئ ورکول او نه ورکول څه حیثیت لرلی شي) ۵ حضور ﷺ وفرمایل چې (دامه ګڼه چې ددې دواړو څیزونو د ورکولو یا نه ورکولو څه حیثیت نشته) کوم سړی چې اور ورکړي نو ګویا هغه ټول څیزونه په طور د صدقې ورکړل، کوم چې په هغه اور پاخه شي.

حل اللغات: - ① يَا حُمَيْرَاءُ: عرب حمیرا سفین ته وائي او مقصود په کښې د هغې ښائست وی خو بیا ددې اطلاق په هغه سپین والي باندې کیږي چې په هغې سوروالي هم وی. ② أَنْضَجَتْ: چه پاخه شي.

۱ وَمَنْ أَعْطَى مِلْحًا فَكَأَنَّمَا تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَا طَيَّبَتْ تِلْكَ الْمِلْحُ، ۲ وَمَنْ سَقَى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ يُوجَدُ الْمَاءُ فَكَأَنَّمَا أَعْتَقَ رَقَبَةً، ۳ وَمَنْ سَقَى مُسْلِمًا شَرْبَةً مِنْ مَاءٍ حَيْثُ لَا يُوجَدُ الْمَاءُ ۴ فَكَأَنَّمَا أَحْيَاهَا». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ دغه شان چا چې چاته مالګه ورکړه ګویا هغه هغه ټول څیزونه په طور د صدقې ورکړل کوم چې هغه دې مالګې ذائقه دار جوړ کړل او د اوبو اهمیت خو ته په خپله پیژنې (لیکن تاته دا معلومه نه ده چې) ۲ کوم سړی چاته هغه ځای کې چرته چې اوبه وي یو ځل هم اوبه ورباندې وڅکلي ګویا هغه یو غلام آزاد کړي ۳ او کوم سړی چې چاته په هغه ځای کې چرته چې اوبه موجود نه وي یو ځل ورباندې اوبه وڅکلي ۴ نو ګویا هغه، هغه (یعني یو مسلمان) ژوندی کړي، (ابن ماجه)

۱) اخرجه ابن ماجه فی کتاب الرهون/باب المسلمون شرکاء فی ثلاث (رقم- ۲۴۷۴)

تسهیلات:

قوله لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ:

د اور او مالګې فائدې او اهمیت:- یعنی اوبه اور اومالګه ورکولوکښې ترکومې چه ګنجائش وی نودَهغې دَ یومسلمان نه منع کول جائزنه دی خکه چه داخیزونه دَ وخت په ضرورت ډیر دکار او دَ احتیاج سبب وی لهذا دَدې په ورکولوکښې ثواب هم زیات دې حضرت عائشه رضی الله عنها دَ اوبوپه اهمیت باندې خو پوهه شوه خکه چه په عربستان ریګستان کښې اوبه دَ ژوند دَپاره ډیرې ضروری دی او دَ دې وجود ډیر کم وی لیکن دَمالګې او اور اهمیت باندې حضرت عائشه رضی الله عنها پوهه نه شوه په دې وجه ئې هغه حقیر اوکمترګنړلوسره سوال اوکړو دَدې په جواب کښې حضورپاك دَ اور مالګې فائدې اواهمیت او ضرورت واضح کړو دَ اور په ذریعه تول دَ پخولوخیزونو دَعطیه شان ثواب به ملاویږی اودَ مالګې په خوندسره دَ پوره طعام دَ صدقې په شان ثواب ملاویږی اواوبه خو اوبه دی دا خو ژوندون او ځان دې چه په چا باندې څکوی لکه چه هغه ته ژوند ورکوی.

[۱۵] بَابُ الْعَطَايَا]

دَعطایابیان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على مسئلتين:

① حکم الوقف: ۱.

② حکم العمری: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸.

دقرآن څخه عطایا ثبوت:- قال الله جل جلاله ﴿كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا﴾ [بنی اسرائیل الایه:۲۰]

د لفظ العطایا تحقیق:- عطایاجمع ده دَدې مفردعطیه ده، عطیه بخشش اوهدیه ته وائی چه یوسړې دَخپل څه څیزتصرف اوملکیت دَ بل سړی طرف ته منتقل کړی په دې باب کښې دَعطایا تول قسمونه مثلاً وقف، هبه عمری او رقبی بیان کیږی ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې لیکلی دی چه دلته دَ عطیا نه دَ امراء اوسلاطین بخشش او انعامات مراددی

د حاکمانو انعامانو قبلولو کښې مختلف اقوال:- ملاعلی قاری رحمه الله دامام امام غزالی رحمه الله د منهاج العابدین په حوالې سره لیکلی دی چه دَ امراء اوسلاطین بخششونه او سرکاری انعامات قبلولو کښې دَ علماء مختلف اقوال دی.

① دَ امراء هدایا مطلقاً قبلول جائزدی مګر دا چه دَدې خبرې مکمل يقين اوشی چه دا مال حرام دې ځکه چه حضورپاک دَ مصر دَ بادشاه مقوقس هديه قبوله کړې وه
② دَ غریب او مسکین دَپاره دا هدایا قبلول جائزدی اودَ غنی مالداردَپاره ناجائز دی.
③ که چرې دغه عطايا دَ حرام مالونو نه وی یعنی دَهغې دَ حرام کیدو يقين نه وی نودا قبلول صحیح دی.
④ ترکومې چې دَ دغه مال دَ حلال کیدو يقين نه وی ترهغه وخته پورې دَ دې نه قبلول بهتر اواولی دی. ځکه چه په دغه زمانه کښې په خزانه کښې جمع شوی مالونه اکثر اوبیشتر په غیرشرعی ذرائع سره حاصلیږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۰۸] دَ حضرت عمر رضي الله عنه دَ طرفه دَ خیبر دَ زمکې وقف کول

۳۰۰۸—[۱] (۱) ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ «أَنَّ عُمَرَ أَصَابَ أَرْضًا بِخَيْبَرَ ② فَأَتَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ فَمَا تَأْمُرُنِي بِهِ؟ ④ قَالَ: إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا، ⑤ فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ، إِنَّهُ لَا يُبَاعُ أَصْلُهَا وَلَا يُوهَبُ وَلَا يُورَثُ،

ترجمه: ① حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وایی چې د خیبر څه زمکه (چې په هغه کې کجوري پیدا کیدلي) حضرت عمر رضي الله عنه ته د مال غنیمت د حصي په طور حاصله شوه، ② نو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرشو، او عرض یې وکړې ③ چې یا رسول الله ﷺ ما په خیبر کې او دخپلي حصي داسې زمکه پیداکړي ده چې د هغه څخه زیات ښه مال ماته هیڅ کله نه دی حاصل شوی (او اوس غوارم چې هغه زمکه د الله ﷻ د رضا او خوشنودي د پاره ورکړم ځکه) ته ماته حکم وکړه (چې زه په دې باره کې څه وکړم؟) ④ حضور ﷺ ورته وفرمایل چې که ته دا غواړې، نو اصل زمکه وقف کړه او هغه څخه چې څه پیدا کیږي، هغه په طور د صدقې تقسیم کوه، ⑤ نو حضرت عمر رضي الله عنه هغه زمکه د دې شرط سره د الله ﷻ په لار کې ورکړه (یعني هغه یې وقف کړه) چې اصل زمکه دې نه خو خرڅول کیږی، نه هبه کیدی شي، او نه دې هغه د چا میراث ګرځول کیږی،

حل لغات: - ① إِنِّي أَصَبْتُ: زه رسیدلې یم، ما حاصله کړې ده، ② قَطُّ: هیڅ کله، ③ أَنْفَسَ: زیات ښه، قیمتی، ④ حَبَسْتَ: حبس په اصل کښې بندیز ته وائی خو دلته ترې مراد ځان سره ایسارول دی.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الشروط/باب الشروط فی الوقف (رقم-۲۷۳۷) ومسلم فی کتاب الوصیة/باب الوقف (رقم-۱۵ - (۱۶۳۲))والنسائی فی کتاب المزارعة/باب ذکر الأحادیث المختلفة فی النهی عن کراء الأرض بالثلث والربع. وإختلاف ألفاظ الناقلین للخبر (رقم-۳۸۹۷) وابن ماجه فی کتاب الصدقات/باب من وقف (رقم-۲۳۹۶)واحمد فی المسند: ۱۲/۲

۱ وَتَصَدَّقَ بِهِ فِي الْفُقَرَاءِ وَفِي الْقُرْبَى ۲ وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَالضَّيْفِ، ۳ لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ ۴ أَوْ يُطْعِمَ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ». ۵ قَالَ ابْنُ سِيرِينَ: غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ مَالًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او د هغه پيداوار دي په طور د صدقي داسې صرف شي چې هغه فقيرانو، قريبدارو ته نفع رسول کيږي، ۲ د غلامانو مدد ورباندې وکړى شي (يعني څنګه چې مکاتب ته زکوة ورکول کيدى چې د هغه په ذريعه خپل مالك ته بدل کتابت ورکولو سره آزاد کړل شي دغه شان د دې زمکې د پيداوار څخه دي هم د مکاتب مدد وشي) د الله ﷻ په لار کې (يعني په مونځ ګذارو او په حاجيانو) دي خرڅ شي، د مسافرو ضرورتونه دي پوره شي (باوجود د دې چې هغه په خپل وطن کې د مال او زرو مالك وي) او د ميلمنو ميلمستيا دي ورباندې وشي، ۳ او د دې زمکې متولي دي هم بقدر حاجت د دې څخه خوري ۴ يا خپل اهل وعيال ته (چې د مستطيع نه کيدو په وجه د هغه زير کفالت وي) خوري، نو په دې کې د ګناه څه خبره نشته، په شرط د دې چې هغه متولي (د هغې وقف آمدني څخه) مالدار جوړ نشي (يعني کوم سړى چې د هغه زمکې نګراني کوي او د هغه پيداوار په مذکوره بالا خلقو د خرچ کولو په ذمه واري په طور د متولي مامور کړل شي، که هغه هم خپل او د خپل اهل وعيال د ژوند ضروريات پوره کولو د پاره د هغه زمکې پيداوار او آمدني څخه څه اخلي نو په دې کې څه حرج نشته، هو د دې خبري اجازت به نه وي چې هغه د دې زمکې په ذريعه مالدار جوړ شي)، ۵ ابن سيرين رحمه الله د غير متمول په ځاى غيرمتاثل ذکر کړي دى او د غير متاثل مطلب يې دا بيان کړي دى چې هغه متولي هغه زمکه د خان د پاره د مال وزر جمع کولو ذريعه جوړه نکړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ⑤ الرِّقَابِ: د رقبة جمع ده، څټ ته وائي، مراد ترې غلام دې، ⑥ ابْنِ السَّبِيلِ: مسافر. ⑦ الضَّيْفِ: ميلمه، ⑧ وَلِيَهَا: متولي، او مالک ددې، ⑨ غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ: اى غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ: چه نه وى مال وزر جمع کونکي.

تسهيلات: **قوله:** لَمْ أُصِبْ مَالًا قَطُّ أَنْفَسَ عِنْدِي مِنْهُ:

په حديث کښې د وقف بنيادي احکام: - په دې حديث کښې دَ وقف بنيادى مثالى احکامات دى ① مثلاً په وقف کښې خپل ښکلې مال ورکول پکاردى
② داهم جائز دى چه په اندازه دَ ضرورت څه آمدن پخپله هم استعمال کړى
③ دا هم جائز دى چه دَ وقف نګرانى هم خپل خان سره اوساتلې شى
④ وقف کله شخصى وى چه اصل او نفع چرته هم دَ يومسکين لاس کښې ورکړې شى اوکله دَعام مسکينانو دَپاره وقف کولې شى دلته دَعامو مسکينانودَپاره وقف شوې دې
⑤ وقف مال نه خرڅولې شى نه هبه کولې شى نه په دې کښې ميراث چليږى بلکه "الوقف لا يملك" ضابطه ده

[۲۰۰۹] د عمرىٰ جواز

۳۰۰۳-[۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② قَالَ: «الْعُمْرَى جَائِزَةٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل عمرىٰ جائز ده، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْعُمْرَى: عمرىٰ دَ فُعلى په وزن باندې دې چاته دَ ټول عمر دَپاره خپل كور وركول.

تسهيلات: قوله: الْعُمْرَى:

د عمرى تعريف: - عمرىٰ دَ فُعلى په وزن باندې دې دَدې معنى ده چه چاته دَ ټول عمر دَپاره خپل كور وركول اوداسې الفاظ استعمالول "هذه الدار لك عمري" چه ماداكور دَ ټول عمر دَپاره تاته دركړو دا استعمالوه. لكه چه عمرىٰ هبه اوعطيه اوتحفه ضروري دى. دَ عمرى صيغه اكثردَباب افعال نه استعمالېږى. په دې كښې عطيه كونكى ته معمر وائى اوچاته چه عطيه كړې شوې ده هغه ته "مُعْمَرْلَهٗ" وائى اودغه عطيه ته عمرىٰ وائى

دَ عمرى دَ هبه كولو درې صورتونه دى: ① اول صورت دادې چه په دې كښې دَمعمرله دَ وراثت تصريح وى مثلاً عطيه كونكى اوونيل "اَعْمَرْتُكَ هٰذِهِ الدَّارَفَاِذَامِتَّ فَهِيَ لِوَرَثَتِكَ".

② دويم صورت هغه دې چه بالكل مطلق وى. مثلاً "اَعْمَرْتُكَ هٰذِهِ الدَّارَ"

③ دريم صورت هغه دې په كوم كښې چه دكور دَ واپس كولوتصريح وى مثلاً "اَعْمَرْتُكَ هٰذِهِ الدَّارَفَاِذَامِتَّ عَادَتْ اِلَيَّ".

دعمرى په تمليك كښې مذاهب:-

① امام مالك ﷫ فرمائى چه دَ عمرىٰ په دريوارو صورتونو كښې تمليك منافع دې تمليك عين نه دې لهذا دَمعمرله دَمرګ نه پس عمرىٰ عين دَ اصل مالك طرف ته به واپس شى

② امام ابوحنيفه ﷫ امام شافعي ﷫ دَ يوقول مطابق امام احمدبن حنبل ﷫ جمهورو په نيز عمرىٰ دريوارو صورتونو كښې مطلقًا تمليك عين اوهبه دې. اودَ واپس كيدو شرط فاسد دې كوم چه باطل دې لهذا معمرله دَ مرګ نه پس به دَ هغه وارثان هغه اخلى څوك ئې منع كولې نه شى

داول فريق دليل: - دَ حضرت جابر ﷜ حديث نمبر (۳۰۰۳) د اول فريق مستدل دې په كوم كښې چه "فانها ترجع الى صاحبها" الفاظ راغلى دى

۱) اخرجه مسلم فى كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب ما قيل فى العمرى والرقبى (رقم-۲۶۲۶) واخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى العمرى (رقم-۳۵٤۸) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب الرخصة فى خروج المبتوتة من بيتها فى عدتها لسكناها (رقم-۳۵٤۸) واحمد فى المسند: ۳٤۷/۲

د اول فريق د دليل ځواب: - ① امام مالک چه د حضرت جابر د روايت نه استدلال کړې دې هغه روايت د نورو روايتونو هم خلاف دې او پخپله هم د حضرت جابر د رواياتو هم خلاف دې لهذا هغه قابل د استدلال نه دې.

② هغه د حضرت جابر خپل قول او اجتهاد دې مرفوع حديث نه دې. لهذا د نورو مرفوع احاديثو مقابله نه شي کولې.

د دويم فريق دلائل: - د حضرت جابر حديث نمبر (۳۰۰۰) د دويم فريق مستدل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه باندې "العمري ميراث لاهلها" الفاظ موجود دی.

② د حضرت جابر حديث نمبر (۳۰۰۱) هم د دويم فريق مستدل دې په کوم کښې چه د مسئلې هم ذکر دې د دې د حکم هم ذکر دې او د دې د علت هم ذکر دې چه دير واضح دليل دې.

③ د حضرت جابر حديث نمبر (۳۰۰۳) هم د دويم فريق مستدل دې چه په خپله مدعا باندې صريح دليل دې.

④ د فصل الثالث حضرت جابر حديث نمبر (۳۰۰۵) هم د دويم فريق مستدل دې.

تعارض: - په زيربحث حديث کښې "العمري جائزة" الفاظ دی او د فصل ثاني حديث نمبر (۳۰۰۳) کښې هم د حضرت جابر روايت کښې "لاتُعْمِرُوا عمري" سره د نهى روايت دې. دا واضح تعارض دې د دې څه حل دې؟

د تعارض حل: - اصولاً خو هم هغه حکم دې چه "العمري جائزة" دا جائز دی منع نه دی ليکن چرته چه د ممانعت حديث راغلې دې نو هغه نهى ارشادى ده چه په دې مصلحت باندې مبنى ده چه خپل کور ته عمرى و نيلو سره چاته مه ورکوه څکه چه عمرى خو نافذ ده بيا به پريشان شې. په دې وجه دا اقدام مه کوه ليکن که چا عمرى اوکړه نو هغه به نافذ او جائز وى.

[۲۰۱۰] په عمرىٰ کښې د وراثت جواز

۳۰۰۰ — [۲] (۱) ① وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «إِنَّ الْعُمْرَى مِيرَاثٌ لِأَهْلِهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او حضرت جابر د رسول الله نه نقل کوي چې حضور وفرمايل عمرىٰ د خپل مالک (يعني معمر له) د وارثانو ميراث دې. (مسلم)

حل لغات: - ① الْعُمْرَى: عمرىٰ د فُعلى په وزن باندې دې چاته د ټول عمر د پاره خپل کور ورکول،

۱) اخرجه مسلم في باب العمرى (رقم-۳۱ - (۱۶۲۵)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْعُمْرَى مِيرَاثٌ لِأَهْلِهَا:

په عمری سره ورکړې شوی څیزپاندې د ملکیت ثبوت:- .. معمرله ،،هغه کس ته وائي چاته چه په طور د عمرٰی څه څیز ورکولې شی، نو ددې حدیث مطلب دادې چه کوم یوکس ته مثلا یو کور په طور د عمرٰی ورکولې شی، دغه کوربه دهغه د ژونده پورې دهغه ملکیت وی او دهغه دمرګ نه پس دهغه د وارثانو ملکیت جوړیږی، ګویا دا حدیث دخپل ظاهری مفهوم په اعتبار سره د جمهور علماؤ دمسلک دلیل دې.

[۲۰۱۱] دعمرٰی دیوصورت بیان

۳۰۰۴-[۴] (۱) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «أَيُّمَا رَجُلٍ أُعْمِرَ عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ ۳ فَإِنَّهَا لِلَّذِي أُعْطِيَهَا ۴ لَا تَرْجِعُ إِلَى الَّذِي أَعْطَاهَا؛ ۵ لِأَنَّهُ أَعْطَى عَطَاءً وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ که یو سړی او د هغه وارثانو ته څه څیز په طور عمرٰی ورکول شي ۳ نو هغه عمرٰی د هغه سړي شی چاته چې هغه څیز ورکول شوی دی (یعني هغه څیز چې د هغه په ملکیت کې شي) ۴ د عمرٰی ورکونکي په ملکیت کې واپس نه راځي، ۵ ځکه څه چې ورکونکی دغه شان ورکړي دي په هغه کې میراث جاري کیږي، (بخاري مسلم)

حل لغات:- ۱ أُعْمِرَ: چه په طور د عمرٰی ورکړې شی، ۲ عُمْرَى: ټول عمر دپاره ورکول، ۳ لِعَقِبِهِ: وروستو دده دپاره، وارثانو دپاره، ۴ عَطَاءً: عطیه، بخشش.

تسهیلات: **قوله:** أَيُّمَا رَجُلٍ أُعْمِرَ عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ

دعمرٰی په درې صورتونو کښې یو صورت:- د ابو هریره رضي الله عنه په حدیث کښې چه کوم درې صورتونه د عمرٰی بیان شوی د هغې نه یو صورت په دې حدیث کښې ذکر دې په دې کښې چه کوم اختلاف دې نو هغه هم هغه حدیث کښې بیان شوې دې.

[۲۰۱۲] دَ عمرٰی باره کښې دَ امام مالک رحمه الله دلیل

۳۰۰۵-[۵] (۲) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: «إِنَّمَا الْعُمْرَى الَّتِي أَجَازَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ أَنْ يَقُولَ: هِيَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ، ۳ فَأَمَّا إِذَا قَالَ: هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ ۴ فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب ما قيل في العمرى والرقبى (رقم-۲۶۲۵) باب العمرى (رقم-۲۰ - (۱۶۲۵) واخرجه ابو داوه في السنن أبواب الإجارة/باب من قال فيه ولعقبه (رقم-۳۵۵۳) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في العمرى (رقم-۱۳۵۰) وابن ماجه في كتاب الهبات/باب العمرى (رقم-۲۳۸۰)

۲) اخرجه مسلم في باب العمرى (رقم-۲۳ - (۱۶۲۵) واخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في العمرى (رقم-۳۵۵۱) واحمد في المسند: ۲۹۴/۳

ترجمه:۱ او حضرت جابر ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ د عمرې کوم صورت جائز ګرځولی دی هغه دا دی۲ چې مالك (یعني ورکونکی) داسې اووایې چې دا شی ستا د ژوندہ پورې ستا دی او ستا د مرګ څخه وروسته ستا د وارثانو دی.۳ او که یواځی دا اووایې چې دا عمرې یواځی ستا د ژونده پورې ستا د پاره ده۴ نو په دې صورت کې (د هغه سړي د مرګ څخه وروسته) هغه عمری د مالك (یعني د ورکونکي) په ملکیت کې واپس راځي. (بخاري مسلم)

جمهور علماء د دی حدیث په باره کې دا وایي چې دا حدیث مرفوع نه دی یعنی د رسول الله ﷺ ارشاد نه دی بلکه خپله د حضرت جابر ﷺ قول دی، چې د ده په خپله رایه مبنی دی.

حل اللغات:- ①لِعَقِبِكَ: ستا د وارثانو د پاره، ②مَاعِشْتَ: ترڅو چه ته ژوندې یې.

تسهیلات: قوله: فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا:

دحدیث څخه د امام مالک استدلال:-داحدیث دَ امام مالك ﷫ مستدل دې چه عمری واپس دَمعمر ملکیت کښې لاړه شی.

داستدلال څخه جواب:- دَامام مالك ﷫ روایت دَهغوی خپل قول دې مرفوع حدیث نه دې دَهغه خپل اجتهاد دې لهذا دا روایت دَمرفوع احادیثو مقابله نه شی کولې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِی

[۲۰۱۲]د عمرٰی او رقبٰی دَممانعت وجه

ـــ [(۱)]۱عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲«لَا تُرْقِبُوا وَلَا تُعْمِرُوا، ۳فَمَنْ أُرْقِبَ شَيْئًا أَوْ أُعْمِرَهُ فَهِيَ لِوَرَثَتِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:۱ حضرت جابر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل۲ مه رقبٰی کوی مه عمرٰی کوی۳ څکه چې کوم څیز (یعنی مثلًا مکان یا زمکه) په طور د رقبٰی یا په طور د عمرٰی ورکول کیږی هغه د وارثانو ملکیت ته ځي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ①لَاتُرْقِبُوا: رقبٰی مه کوئ، دمرګه پورې کور چاته ورکولو ته رقبٰی وائی. ②لَاتُعْمِرُوا: عمرٰی مه کوئ، تول عمر دپاره کور ورکولو ته عمرٰی وائی.

تسهیلات: قوله: لَاتُرْقِبُوا:

د رقبٰی مفهوم او معنٰی:-رقبٰی هم دَعمرٰی په شان ده. دَ باب افعال نه استعمالیږی. ارقاب او رقوب دَ انتظار اونګرانئی په معنی کښې دې. دَ رقبٰی مفهوم اوتعارف دادې چه مثلاً یو سړې وائی چه داکور زه تاته درکوم که چرې ته مخکښې مړ شوې نودا کوربه واپس زما وی او که چرې زه مخکښې مړشوم نوداکوربه بیاستا وی نوپه داسې صورت کښې هریو

۱) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب من قال فیه ولعقبه (رقم-۳۵۵۶) والنسائی فی کتاب العمری/باب ذکر إختلاف ألفاظ الناقلین لخبر جابر فی العمری (رقم-۳۷۳۱)

ملکری دَبل ملکری دَ مرګ انتظار کوی چه دې به کله مرکیږی چه داکور زما شی

په روایاتو کښې تعارض: - په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ دَ رقبی او عمری نه منع کړې ده حالانکه دَدې نه مخکښې احادیثو کښې دَ عمریٰ دَ جواز بیان دې؟

دتعارض جواب: -دلته نهی ارشادی ده کومه چه دَ یو مصلحت لاندې ده هغه داچه رقبی او عمریٰ سره بالکلیه کور دَ انسان دَ لاس نه اوځی نوحضورپاک دا لارخودنه اوکړه چه تاسو به رقبی او عمریٰ دَ تادئی نه کارمه اخلئی ځکه چه رقبی کوئی نوکوربه دَهمیشه دپاره ستاسودَ لاس نه اوځی. که صبا ضرورت شی نوتاسو به پریشان شئی په دې وجه ښه په سوچ اوفکرسره دَ رقبی عمریٰ باندې اقدام کوئی. راتلونکی حدیث نمبر(۳۰۰۵) کښې داعلت ومصلحت مذکوردې.

دحکم په اعتبارسره په رقبی اوعمری کښې اقوال: - دَ رقبی حکم هم دَعمریٰ په شان عطیه اوهبه ده.لیکن په فقهی تناظرکښې رقبی دَعمریٰ نه څه مختلف ده

① د امام شافعی رحمه الله امام احمد رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله په نیز رقبی دَعمریٰ په شان ده چا چه خپل کور بل چاته په توګه دَ رقبی ورکړو هغه به دَ هغه سړی اودَ هغه دَ وارثانو شی واپس کیږی به نه.

② امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالک رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نیز رقبی باطل ده یعنی هغه څیزدَ رقبی کونکی ملکیت کښې به وی.

٣٠٠٤—[٧] (١) ① وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② قَالَ: «الْعُمْرَى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا، وَالرُّقْبَى جَائِزَةٌ لِأَهْلِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت جابر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ②عمرٰی د عمرٰی والاوو د پاره جائز ده (یعني کوم سړي ته چې څه څیز په طور د عمرٰی ورکول شي هغه ،د هغه د پاره جائز دی) او رقبی د رقبی والاوو د پاره جائز دی (یعني کوم څیز چې په طور د رقبی چاته ورکول شي هغه، دهغه د پاره جائز دی) احمد ترمذي ابوداود.

حل لغات: - ① الرُّقْبَى: رقبی دَ باب افعال نه دَ انتظار په معنی کښې دې په اصطلاح کښې رقبی دې ته وائی چه مثلا یو سړې وائی چه داکور زه تاته درکوم که چرې ته مخکښې مړ شوې نودا کوربه واپس زما وی اوکه چرې زه مخکښې مړشوم نوداکوربه بیا ستا وی.

تسهیلات:

نوټ: -ددې حدیث شرح ددې څخه وړاندې حدیث نمبر (۳۰۱۴) کښې تیره شوې ده.

١) اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في الرقبى (رقم-٣٥٥٨) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرقبى (رقم-١٣٥١) وابن ماجه في كتاب الهبات /باب الرقبى (رقم-٢٣٨٣) واحمد في المسند: ٣٠٣/٣

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۱۵] د عمرىٰ د جواز په ظاهره مخالف یو بل حدیث

۲۰۱۵-[۸] (۱) ① عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «أَمْسِكُوا أَمْوَالَكُمْ عَلَيْكُمْ لَا تُفْسِدُوهَا، ③ فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى ④ فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَ حَيًّا وَمَيِّتًا وَلِعَقِبِهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② تاسو خپل مالونه دخپل خان سره ساتي په هغه کي نقصان مه پيدا کوئ ③ ځکه چې کوم سړی چاته څه څيز د عمرىٰ په طور ورکړي ④ نو هغه څيز (مکان يا زمکه) چې په طور د عمرىٰ ورکول شوی وي په ژوند او مرګ دواړو حالتونو کي د هغه سړي ملکيت شي چې هغه څيز په طور د عمرىٰ ورکول شوی وي (په دي طور چې د څو هغه ژوندی وي نو خپله د هغه شي مالك وي او هغه د مرګ څخه وروسته) بيا د هغه اولاد يې مالك شي، (مسلم)

تسهيلات:-

نوټ: -د دي حديث شرح د دي څخه وړاندي حديث نمبر (۳۰۱۲) کښي تيره شوي ده

بابٌ (من الملحقات)

دَ تیرشوی باب دَ متعلقاتو بیان

خلاصة الباب:-

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① الترغيب في قبول العطايا والهدايا : ۱، ۲، ۱۴، ۱۵.

② قباحة العود في الهبة والمنع عنه: ۳، ۵، ۶.

③ جواز العود في بعض صور الهبة: ۴، ۵، ۶، ۱۶.

④ قباحة الهبة بنية الزيادة في العوض : ۷.

⑤ الترغيب في جزاء العطية والهدية : ۸، ۹، ۱۰، ۱۱.

⑥ الترغيب في التهادى: ۱۲، ۱۳، ۱۷.

⑦ تسوية العطايا بين الأولاد: ۴، ۱۶.

.....

۱) اخرجه مسلم فى باب كراهة تفضيل بعض الأولاد فى الهبة (رقم-۲۶ - (۱۶۲۵)) واحمد فى المسند: ۳/۳۱۲

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۰۱۶] دَ خوشبوا و ګل تحفه واپس کولو ممانعت

۳۰۱۶-[۱] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدُّهُ [۳] فَإِنَّهُ خَفِيفُ الْمَحْمَلِ طَيِّبُ الرِّيحِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي ته چې خوشبوداره ګلونه (د تحفې په طور) ورکول شي هغه دې واپس نه ورکوي، [۳] ځکه چې (اول خو) هغه ډير معمولي احسان دی او (دويم دا چې هغه يوه ښه خوشبويي ده) مسلم.

حل اللغات: - ① رَيْحَانٌ: خوشبودار ګلونه، يو قسم خوشبو والا ګل، ② خَفِيفٌ: سپک، معمولی، ③ اَلْمَحْمَلُ: برداشت، احسان،

تسهيلات:

قوله: مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَفِيفٌ:

د ګل تحفه نه واپس کولو وجه: - دَ خوشبو او ګل تحفه وړه غوندې هم ده او مزيداره هم ده او چاته چه پيش کولې شي دَهغه اعزاز هم دې نو داسې څيز واپس کول نه دی پکار.

[۲۰۱۷] دخوشبوئی نه واپس کول

۳۰۱۷-[۲] (۲) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د خوشبويي هديه نه واپس کوله. بخاري.

نوټ: - د حديث مطلب د ترجمې څخه واضح دې. د اضافی تشريح ضرورت نشته.

[۲۰۱۸] په هبه کښې د رجوع کولکی سپی سره تشبيه

۳۰۱۸-[۳] (۳) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ [۳] لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

۱) اخرجه مسلم فی باب استعمال المسک وأنه أطيب الطيب وکراهة رد الريحان والطيب (رقم-۲۰ - (۲۲۵۳) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الترجل /باب فی رد الطيب (رقم-۴۱۷۲) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی کراهية رد الطيب (رقم-۲۷۹۱) والنسائی فی کتاب الزينة /باب الطيب (رقم-۵۲۵۹)

۲) اخرجه البخاری فی کتاب اللباس /باب من لم يرد الطيب (رقم-۵۹۲۹) والنسائی فی کتاب الزينة /باب الطيب (رقم-۵۲۵۸)

۳) اخرجه مسلم فی کتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها /باب لا يحل لأحد أن يرجع فی هبته وصدقته (رقم-۲۶۲۲) واخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة /باب الرجوع فی الهبة (رقم-۳۵۳۸) والنسائی فی کتاب الهبة /باب ذکر الإختلاف علی طاوس فی الراجع فی هبته (رقم-۳۷۰۱) والنسائی فی کتاب الهبة /باب ذکر الإختلاف علی طاوس فی الراجع فی هبته (رقم-۳۷۰۱) وابن ماجه فی کتاب الهبات /باب الرجوع فی الهبة (رقم-۲۳۸۵)

ترجمه: ۱ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ خپله هبه واپس کونکې (يعنې يو چاته يو څيز په طور د هديې او د تحفې ورکولو سره بيا هغه واپس اخستونکې) د هغه سپي په شان دی چې خپل قی واپس څټي ۳ او زمونږ د پاره دا مناسب نه دی چې زمونږ د څه خراب مثال سره تشبيه ورکول شي. (بخاري)

حل اللغات: - ① اَلْعَائِدُ: واپس کونکې، ② مَثَلُ السُّوْءِ: خراب مثال، نمونه،

تسهيلات:

قوله: كَالْكَلْبِ يَعُوْدُ فِيْ قَيْئِهِ:

په هبه کښې رجوع کولو کښې مذاهب:-

چا ته چې څه څيز په هديه او هبه کښې ورکړې شي نو په هغې کښې رجوع کولو کښې د فقهاؤ اختلاف دې

① دَ ائمه ثلاثه په نيز په هبه کښې رجوع کول نه قضاءً جائز دی اونه ديانةً جائز دی البته امام شافعي رحمه الله فرمائی که چرې پلار خپل خوئی ته هبه اوکړه اوبيائی واپس کول غواړي نودهغه دپاره په وخت دَ ضرورت رجوع کول جائز دی.

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی په هبه کښې رجوع کول جائز مع الكراهة ده يعنی ديانةً رجوع نه شی کولې قضاءً رجوع کولې شی. البته که چرې خوئی ته ئی هبه کړې ده نو په وجه دَ قرابت رجوع کول جائز نه ده.

په اووه مواقعو کښې په هبه کښې د رجوع کولو عدم جواز:- دَاحنافو په نيز اووه مواقع داسې دی چه په هغې کښې دَ هبه کولونه پس دَ رجوع کولوګنجائش نشته دې. دَدې مواقع طرف ته "دمع خزقه" دَ حروفوپه مجموعه سره اشاره کولې شی

① چنانچه حرف دال سره په موهوب څيز کښې دَمتصله زيادت طرف ته اشاره ده يعنی موهوب له په هغې کښې خپل مال شامل کړې دې اوس واهب رجوع نه شی کولې

② حرف ميم سره واهب يا موهوب له دَ مرګ طرف ته اشاره ده دَدغه مرګ په صورت کښې رجوع نه شی کولې

③ حرف عين سره هبه بالعوض طرف ته اشاره ده يعنی واهب دَ هبه په عوض څه معاوضه واخسته نواوس رجوع ممکن نه ده

④ حرف خاء سره دَ خروج طرف ته اشاره ده چه هبه کړې شوې څيز دَ موهوب دَ لاس نه اووتلو اوس رجوع نه شی کولې.

⑤ حرف زاء نه دَ زوجين هبه طرف ته اشاره ده چه ښځې خاوند يوبل ته هبه اوکړه په دې صورت کښې رجوع نه شی کيدې.

⑥ حرف قاف نه قرابت طرف ته اشاره ده اوقرابت نه دَ محرمیت قرابت مراد دې لکه پلار، خونې مور خونې رور اوخور په دې صورت کښې دَ هبه طرف ته رجوع کول جائزنه دی
⑦ حرف ه نه دَهلاکت طرف ته اشاره ده چه موهوب کړې شوې څیزهلاك شو اوس رجوع ممکن نه ده دَدې اووه صورتونونه علاوه دَ احناف په نیز هبه کښې رجوع کول جائز دی لیکن مکروه دی

د اول فریق دلائل: – د اول فریق دپاره مستدل زیربحث دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث دې په کوم کښې چه دَ رجوع والو تشبیه دَ سپی قی او دَ هغې ځټلو سره ورکړې شوې ده بنکاره خبره ده چه دا یوقبیح او حرام کاردې لهذا رجوع فی الهبه حرام ده

داول فریق د دلیل څخه جواب: – دا حدیث په دیانت باندې حمل دې په دې کښې رجوع فی الهبه نهی او ممانعت نه دې صرف دَدې قباحت طرف ته اشاره کړې شوې ده اودا قباحت د دویم فریق په نیز هم دې مګر کراهت تحریمی صورت کښې دې. بالکل دَ حرام صورت کښې نه دې څکه چه په دې حدیث سره حرمت څنګه ثابتولې شی. حال دادې چه دَ سپی دَپاره دَحرمت اوحلت څه ضابطه نشته دې دا صرف دَ خاربوالی او قباحت طرف ته اشاره ده بهرحال په دې حدیث باندې دویم فریق احناف هم عمل کوی. صرف په اجتهادی رنګ دهنګ کښې فرق دې هغوی حرام وائی دوی مکروه تحریمی وائی.

دویم فریق دلائل: – ① دَدوی مستدل د حضرت ابوهریره ﷺ مرفوع حدیث دې دکوم الفاظ چه دادی :«الرجل احق بهبته مالم یثب منها» «رواه ابن ماجه والدارمی» یعنی که چرې هبه بالعوض نه وی نوواهب په خپله هبه کښې دَ رجوع کولوزیات حق لری
② دحضرت سمره بن جندب مرفوع حدیث دې دَ کوم الفاظ چه دادی «اذاکانت الهبة لذی رحم محرم لم یرجع فیها» «مستدرك حاکم بیهقی» دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ قرابت نسبی په صورت کښې هبه کښې رجوع جائز نه ده ګنی ګنجائش شته دې

[۳۰۱۹] اولاد ته دَ یوڅیز په ورکولوکښې د فرق کولوعدم جواز

۳۰۱۹–[۳] (۱) ⓵ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ ⓶ «أَنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⓷ فَقَالَ: إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هَذَا غُلَامًا ⓸ فَقَالَ: أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَ مِثْلَهُ؟ ⓹ قَالَ: لَا ⓺ قَالَ: فَارْجِعْهُ». ⓻ وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ: «أَيَسُرُّكَ أَنْ يَكُونُوا إِلَيْكَ فِي الْبِرِّ سَوَاءً؟ ⓼ قَالَ: بَلَى، قَالَ: فَلَا إِذًا».

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الهبة وفضلها والتحریض علیها/باب الإشهاد فی الهبة (رقم-۲۵۸۷) ومسلم فی باب کراهة تفضیل بعض الأولاد فی الهبة (رقم-۹ - (۱۶۲۳) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النحل والتسویة بین الولد (رقم-۱۳۶۷) والنسائی فی کتاب النحل/باب ذکر إختلاف ألفاظ الناقلین لخبر النعمان بن بشیر فی النحل (رقم-۳۶۷۲) وابن ماجه فی کتاب الهبات /باب الرجل ینحل ولده (رقم-۲۳۷۵) ومالک فی الموطا کتاب الاحکام (رقم-۳۹) واحمد فی المسند: ۴/ ۲۶۹

ترجمه: [۱] او د حضرت نعمان ابن بشير ﷛ په باره کې منقول دی [۲] چې (يوه ورځ) د هغه پلار (حضرت بشير ﷛) هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کې راوستی [۳] او عرض يې وکړې چې ما دې خپل خوی (نعمان ﷛) ته يو غلام عطا کړې دی، [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې آيا تا خپلو ټولو ځامنو ته دغه شان يو يو غلام ورکړې دی؟ [۵] هغه اوويل چې نا، [۶] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې بيا د نعمان څخه هم هغه غلام واپس واخله. [۷] او په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ د نعمان ﷛ پلار ته وفرمايل چې آيا ته دا خوښوې چې ستا ټول ځامن ستا په نظر کې د نيکۍ په اعتبار سره يو شان وي؟ (يعنی آيا ته دا غواړې چې ستا ټول ځامن تاسره ښه سلوك وکړي او ټول ستا فرمانبرداري او تعظيم کوي؟) [۸] هغه اوويل چې هو، نو حضور ﷺ ورته وفرمايل په دې صورت کې (چې ته خپلو ځامنو څخه د ښه سلوك خواهشمند يې نو) يواځې يوه خوی (نعمان ﷛) ته غلام مه ورکوه.

حل اللغات: - ① نَحَلْتُ: عطيه کړې مې دی، هبه کړې مې دی.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ: أَنَّهُ قَالَ: «أَعْطَانِي أَبِي عَطِيَّةً [۲] فَقَالَتْ عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ: لَا أَرْضَى حَتَّى يَشْهَدَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَأَتَى رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: إِنِّي أَعْطَيْتُ ابْنِي مِنْ عَمْرَةَ بِنْتِ رَوَاحَةَ عَطِيَّةً [۴] فَأَمَرَتْنِي أَنْ أُشْهِدَكَ يَا رَسُولَ اللهِ [۵] قَالَ: أَعْطَيْتَ سَائِرَ وَلَدِكَ مِثْلَ هَذَا؟

ترجمه: [۱] او په يو بل روايت کې دا الفاظ دي [۲] چې (زما مور) زما پلار (حضرت بشير ﷛) ته اوويل زه په دې د هغه وخته رضامند نه يم د څو چې ته په دې (هبه) رسول الله ﷺ شاهد جوړ نه کړې، [۳] نو حضرت بشير ﷛ د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړې، چې يا رسول الله! ﷺ ما خپل خوی (نعمان ﷛) ته چې د بي بي عمره بنت رواحه د خېټې څخه دی، يو څيز ورکړې دی [۴] او عمره بنت رواحه ماته ويلی دی چې په دې هبه رسول الله ﷺ گواه جوړ کړه [۵] رسول الله ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل څنګه چې تا خپل دې خوی ته يو غلام ورکړې دی دغه شان خپلو ټولو ځامنو ته دې يو يو غلام ورکړې دی؟

[۱] قَالَ: لَا، قَالَ: فَاتَّقُوا اللهَ وَاعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ. [۲] قَالَ: فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِيَّتَهُ». [۳] وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ: «لَا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هغه اوويل چې نا، نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې د الله ﷻ څخه ويرېږئ او د خپل اولاد په منځ کې انصاف کوئ [۲] حضرت نعمان ﷛ وايي چې زما پلار (د حضور ﷺ دا ارشاد مبارك اوريدو سره) واپس راغلو او ماته چې يې کوم څيز راکړې وو هغه يې واپس واخستلو. [۳] په يو بل روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ (د حضرت بشير ﷛ دا خبره اوريدو سره) وفرمايل چې زه په ظلم شاهد نه جوړېږم، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ② جَوْر: ظلم.

تسهيلات:

قوله: نَحَلْتُ ابْنِي:

د حضرت بشير خپل ځوی ته د هبې کولو واقعه:- نحل دَعطيه اوهبه په معنی کښې دې دلته عطيه کونکې پلار حضرت بشير رضي الله عنه دې او کوم ځوئی ته چه هبه کول غواړی دَهغه نوم نعمان دې. هغه پخپله خپله قصه په دې حديث کښې بيانوی. دَ بشير دَ بی بی نوم عمره بنت رواحه دې نعمان دَ هغې دَ ځيټې نه وو. دَ بشير دَ دويمې بی بی نه دَنعمان ميرنی رونړه وو. حضرت عمرة رضي الله عنها غوښتل چه دَهغې دَ ځوئی په عطيه باندې دَ حضورپاك تصديق او تصويب وی په دې وجه حضرت بشير دَ حضورپاك نه په دې باره کښې تپوس اوکړو. حضورپاك دَهغه نه معلومه کړه چه نور اولاد ته ئی هم داسې عطيه ورکړې ده؟ کله چه پته اولګيدله چه نه ئی ده ورکړې نو حضورپاك دَ تصديق او تصويب نه انکار اوکړو. د دې حديث څخه معلوه شوه چې اولاد ته څه څيز ورکولو کښې برابری کول مستحسن اومستحب کاردې. امتيازی فرق نه دی کول پکار. ليکن آيا امتياز کول حرام دی که مکروه دی؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

د اولاد په مينځ کښې د فرق کولو په حکم کښې مذاهب:-

① دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك دادې چه داسې امتياز کول حرام دی.

② جمهور فقهاء کرام فرمائی داسې امتياز کول حرام نه دی بلکه مکروه دی.

داول فريق دلائل:- زير بحث حديث داول فريق مستدل دې طريقه د استدلال دا ده چې حضورپاك اوفرمائيل "لااشهد على جور" يعنی جور اوظلم ته وائی اوظلم حرام دې لهذا دا امتياز حرام دې.

داول فريق د دليل څخه جواب:- علامه طيبی رحمه الله او علامه نووی رحمه الله فرمائی چه په کوم حديث کښې دَ جور لفظ راغلې دې نودا دَ حرمت دَ پاره متعين نه دې بلکه په کوم حرام باندې چه ددې اطلاق کيږی هم دغه شان په مکروه باندې هم دَدې اطلاق کيدې شی.

د دويم فريق دلائل:- ① دويم فريق په دې واقعه کښې نبی کريم ﷺ د دې جملې څخه استدلال کوی "فاشهد عليه غيري" يعنی زما نه علاوه بل څوك په دې باندې ګواه جوړکړه که چرې دا امتياز حرام وی نو حضورپاك به قطعاً اجازت نه ورکولو.

② بل علامه طيبی رحمه الله ليکلی دی چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه خپل اولاد کښې حضرت عائشه رضي الله عنها ته په نور اولاد باندې ترجيح ورکړه بل حضرت عمر رضي الله عنه خپل ځوئی عاصم ته ترجيح ورکړه. دغه شان عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دَ ام کلثوم ځوئی ته په نور اولاد باندې ترجيح ورکړه که چرې دا بالکل حرام وې نودې جليل القدر صحابه کرامو چرې هم داسې نه کول.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۲۰] د پلار دپاره خپل بچي ته په هبه کښې د رجوع جواز

۲۰۲۰-[٥] (١) ① عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا يَرْجِعُ أَحَدٌ فِي هِبَتِهِ ③ إِلَّا الْوَالِدُ مِنْ وَلَدِهِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هيڅوک دي خپله هبه واپس نه اخلي (يعني هبه واپس اخستل مناسب نه دی) ③ هو پلار د خوی څخه (هبه) واپس آخستی شي. (نسائي ابن ماجه)

تسهيلات: **قوله:** لَا يَرْجِعُ أَحَدٌ فِي هِبَتِهِ:

د شوافعو مستدل: - حديث الباب د شوافعو مستدل دې چه مطلقا هبې نه رجوع كول درست نه دی التبه پلار لره د بچی د هبې نه رجوع جائز ده.

نوټ: - د رجوع في الهبه مسئله په تفصيل سره په بل مقام كښې ذكر كښې شوې دې

[۲۰۲۱] د هبه کړی څیز واپس کول او عدم مروت

۲۰۲۱-[٦] (٢) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② «لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً ثُمَّ يَرْجِعَ فِيهَا ③ إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ ④ وَمَثَلُ الَّذِي يُعْطِي الْعَطِيَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا كَمَثَلِ الْكَلْبِ ⑤ أَكَلَ حَتَّى إِذَا شَبِعَ قَاءَ ⑥ ثُمَّ عَادَ فِي قَيْئِهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ وَصَحَّحَهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر ﷺ او حضرت ابن عباس ﷺ راويان دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل د ② هيڅ سړي د پاره دا حلال نه دی (يعني د مروت له مخه دا خبره مناسب نه ده) چې هغه چاته خپل څه څيز ورکړي، او بيا هغه واپس اخلي، ③ البته پلار خپل شی واپس آخستی شي. کوم چې يې خپل خوی ته ورکړي دی، ④ او کوم سړی چې چاته څه ورکولو سره بيا يې واپس خني اخلي، نو د هغه مثال د هغه سپي په شان دی ⑤ چې هغه (په ډک نس) خوراک وکړي، او هر کله چې د هغه خيټه ډکه شی، نو قی يې کړي، ⑥ او بيا هغه قی ختل شروع کړه. (ابوداود ترمذي نسائي ابن ماجه) امام ترمذي ﷺ دي حديث ته صحيح ويلي دي

حل اللغات: - ① الْعَطِيَّةَ: هبه. ② شَبِعَ: موړ شی. ③ قَاءَ: قی اوکړی

١) اخرجه النسائى فى السنن كتاب الهبة/باب رجوع الوالد فيما يعطى ولده وذكر إختلاف الناقلين للخبر فى ذلك (رقم-٣٦٨٩) وابن ماجه فى كتاب الهبات /باب من أعطى ولده ثم رجع فيه (رقم-٢٣٧٨) واحمد فى المسند: ١٨٢/٢

٢) اخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب الرجوع فى الهبة(رقم-٣٥٣٩) والترمذى فى كتاب الولاء والهبة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الرجوع فى الهبة (رقم-٢١٣٢) والنسائى فى كتاب الهبة/باب رجوع الوالد فيما يعطى ولده وذكر إختلاف الناقلين للخبر فى ذلك (رقم-٣٦٩٠) وابن ماجه فى كتاب الهبات /باب من أعطى ولده ثم رجع فيه (رقم-٢٣٧٧)واحمد فى المسند: ٢٣٧/١

تسهیلات: نوټ:- دا حدیث د احنافو مستدل دې چه هبه کړې شوې څیز پلار د بچی نه واپس اغستلې شی

[۲۰۲۲] د تحفې بدله کښې تحفه ورکولو ترغیب

۳۰۲۳-[۷] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، «أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَهْدَى لِرَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَكْرَةً [۲] فَعَوَّضَهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَتَسَخَّطَ، [۳] فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ [۴] ثُمَّ قَالَ: إِنَّ فُلَانًا أَهْدَى إِلَيَّ نَاقَةً [۵] فَعَوَّضْتُهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَظَلَّ سَاخِطًا، [٦] لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ أَوْ أَنْصَارِيٍّ أَوْ ثَقَفِيٍّ أَوْ دَوْسِيٍّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایې چې حضور ﷺ ته یو باندچي (کلیوال) په طور د تحفې یوه خوانه اوښه راوسته، [۲] نو حضور ﷺ هم هغه باندچي (کلیوال) ته د هغه یوې اوښې په بدله کې شپږ اوښې ورکړې، لیکن هغه باندچي (کلیوال) بیا هم خوشحاله نه شو، [۳] حضور ﷺ ته چې کله د دې علم وشو نو مخکې یې د الله ﷻ حمد وثناء بیان کړل (څنګه چې د حضور ﷺ معمول وو چې کله به یې خطبه ویله یا یو خبره به یې شروع کوله، نو مخکې به یې د الله ﷻ حمد وثناء بیانوله) [۴] بیا یې وفرمایل چې فلانی سړی په طور د هدیې زما د پاره یوه اوښه رااوستلې وه، [۵] ما هم د هغه په بدله کې شپږ اوښې ورکړې، خو هغه بیا هم خوشحاله نه شو، [٦] نو ما دا اراده کړې ده چې اوس به زه د قریشي انصاري ثقفي او دوسي څخه علاوه د بل هیچا هدیه قبوله نه کړم، (ترمذي ابوداود نسائی)

حل اللغات:- ① بَكْرَةً: خوانه اوښه، ② فَتَسَخَّطَ: نو هغه خفه شو، ③ نَاقَةً: اوښه، ④ فَظَلَّ او ګرځیدل ⑤ سَاخِطًا: خفه، ⑥ هَمَمْتُ: قصد کړې دې ما،

تسهیلات:

قوله: لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً:

تحفې د سوداګرۍ ذریعه جوړولو حکم:- دَ حضور پاک ښکلې عادت مبارك وو چه دَ تحفه په بدله کښې به ئې تحفه ورکوله بلکه اکثر به ئې زیاتې ورکول. یوځل یوکلی وال حضورپاك ته یوه خوانه اوښه په تحفه کښې ورکړه نوحضورپاك شپږ ځوانې اوښې په بدله دَ تحفه کښې ورکړې. لیکن هغه کلی وال خوشحال نه شو. کله چه حضورپاك ته دَ دې علم اوشو نوخطبه ئې ورکړه چه ما اراده کړې ده چه دَ چاهدیه هم قبوله نه کړم (څکه چه خلقو دادَ تجارت ذریعه جوړه کړه) او یوڅو قبائل دی چه هغوی په اخلاص دَ زړه نه بغیرد څه

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی قبول الهدایا (رقم-۳۵۳۷) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی ثقیف وبنی حنیفة (رقم-۳۹٤۵) والنسائی فی کتاب العمری/باب عطیة المرأة بغیر إذن زوجها (رقم-۳۷۵۹)

حرص او لالچ تحفه ورکوی چه صرف دَ هغوی نه قبلوم په هغوی کښې یودَ قریشو خاندان دې کوم چه فیاض دی، بل انصار دی او دریم دَ دوس قبیلې خلق دی داد اوچت همت والا د ی چه په (وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ۝) باندې کلك ولاړ دې

[۲۰۲۲] دَمحسن شکریه اداکولو ترغیب

[۱] (۱) ① عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «مَنْ أُعْطِيَ عَطَاءً فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهِ، ③ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيُثْنِ ④ فَإِنَّ مَنْ أَثْنَى فَقَدْ شَكَرَ، ⑤ وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ ⑥ وَمَنْ تَحَلَّى بِمَا لَمْ يُعْطَ ⑦ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ د حضور ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي ته چې څه څیز (په طور د هدیې) ورکول شي او د هغه په بدله ورکولو قادر وي، نو هغه ته پکار دی چې د هغه بدله ورکړي، ③ او کوم سړی چې په بدله ورکولو قادر نه وي، نو هغه ته پکار دی چې د هدیې ورکونکو تعریف او توصیف وکړي (او هغه د ورکړې هدیې اظهار دې وکړي) ④ ځکه چې کوم سړی د خپل محسن تعریف وکړي هغه لکه چې د هغه شکر ادا کړي (یعني فی الجمله د هغه بدله یې خلاصه کړه) ⑤ او کوم سړی چې د چا احسان پټ کړي (یعني نه خو د څه ورکولو سره او نه د تعریف کولو سره د هغه بدله یې ور کړه) نو هغه کفران نعمت (یعني ناشکري وکړه) ⑥ او (یاد لرئ) کوم سړی چې خپل ځان په څه داسې شي سره ښائسته کړي چې هغه ته نه وي ورکول شوی، ⑦ نو د هغه مثال د دروغو د دوو کپړو د اغوستونکي په شان دی، (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: - ① فَلْيَجْزِ: نو بدله دې ورکړی، ② فَلْيُثْنِ: نو ثنا او تعریف دې اوکړی، ③ كَتَمَ: پټ ئې کړو، ④ كَفَرَ: ناشکری، ناقدری ئې اوکړه، ⑤ تَحَلَّى: ځان ئې ښائسته کړو، ⑥ كَلَابِسِ: په شان د اغوستونکی، ⑦ زُورٍ: دروغ

تسهیلات: قوله: فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهِ:

د مالی احسان بدله په مالی احسان ورکول: - یعنی که چرې مالی وسعت وی نو هغه له پکاردی چه دَ مالی احسان بدله دې هم په مالی احسان سره اداکړی ځکه چه (هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ۝) [الرحمن الایه: ۶۰] راغلې دې او که چرې مالی وسعت نه وی نو په خله دې دَخپل محسن تعریف اوتوصیف اوکړی داهم دَشکریه ځائی دې. ځکه چه دَ شکرمفهوم دا دې چه په زړه کښې دې محبت وی په ژبه دې تعریف وی او په لاس دې خدمت وی نوزبانی تعریف هم دَ شکر یوځانګه ده.

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی شکر المعروف (رقم-۴۸۱۳) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التشبع بما لم یعطه (رقم-۲۰۳۴)

قوله: وَمَنْ كَتَمَ:

د کتم مفهوم:-یعنی نه ئې تعریف اوکړو اونه ئې دَ محسن شکریه اداکړه اونه ئې دَ هغه دَ احسان چرته تذکره اوکړه نوهغه په حقیقت کښې دَهغه دَ احسان ناشکری اوکړه.

قوله: وَمَنْ تَحَلّٰی:

کلابس ثوبی زور سره د تشبیه ورکولو وجه:-دَ ښائسته کولوپه معنی کښې دې یعنی خپل خان ښکلې کړه په هغه خیزسره کوم چه هغه ته نه دې ورکړې شوې مثلاً عالم نه دې لیکن هغه دَعلماؤ په شان رنګ اولباس وغیره اختیاروی. یا پیر جوړشوې دې خو پخپله تهګ دې یا ان پړه دې مګر شان اوشوکت ئې داسې دې چه پوره تعلیم یافته ښکاری. یعنی دینی اودنیاوی صفت اوکمال داسې ظاهره وی چه لګه هغه په دې سره متصف دې حالانکه هغه دَدې صفت نه بالکل خالی دې. په حقیقت کښې هغه یودهوکه باز دې. ونیلی شی په عربو کښې یوسړې وو چه ډیر ښه لباس به ئې اچولو ښکته پورته به ئې دوه قمیصونه اچول دې دَپاره چه خلق دَدې خبرې ښه یقین اوکړی مګر وو دروغژن. حضورپاك هم دغې سره تشبیه ورکړې ده.

[۲۰۲٤] تحفه ورکونکی ته د دعا کولو حکم

[۱] (۱) [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ [۳] فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا [۴] فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت اسامه ابن زید ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د کوم سړي سره چې څه احسان وشي [۳] او د هغه احسان کونکي په حق کې دا دعا وکړي جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا (یعنې الله ﷻ دې تاته د دې ښه بدله درکړي) [۴] نو هغه د خپل محسن کامل تعریف وکړي، (ترمذي)

حل اللغات:- ① صُنِعَ: چې اوکړې شوه ② مَعْرُوفٌ: نیکی، ③ أَبْلَغَ: زیاتوالې ئې اوکړو، مبالغه ئې اوکړه.

تسهیلات: قوله: فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ:

په تعریف کښې اعتدال:-یعنی دَ ورکولودَپاره هیڅ نشته نودَ محسن په حق کښې خودعاکول پکاردی لیکن دَ تعریف پل ترل نه دی پکار دَ اعتدال په لار باندې قائم پاتې کیدل پکاردی.

قوله: جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا

احسان کونکی ته بدله ورکول:- که یوسړې شکریه هم نه اداکوی دعاهم نه کوی نوهغه په

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناسک ،باب فی تحریم المدینة (رقم-۲۰۳۵)

حقيقت كښې ناشكرى كوى اوكوم سړې چه دَ خلقو شكريه نه اداكوى هغه دَ الله تعالى هم شكريه نه اداكوى لكه چه په راتلونكى حديث كښې راځى

[۲۰۲۵] دخلقو د شكر ادا كولو تاكيد

۳۰۲۵–[۱۰] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللهَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې د خلقو نه شاكر كېږي هغه د الله ﷻ هم شكر نه ادا كوي. (احمد ترمذي)

قوله: مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللهَ:

د مذكوره جملې دوه مطلبونه :-

① كوم كس چې د خلقو شكريه نه ادا كوى نو هغه د الله تعالى هم شكر گزار نشى كېدې خكه چه دا كس د ناشكرئ عادى شوې دې ده ته د الله شكر گزارى كله نصيب كيږى.

② الله تعالى د خلقو د شكريه ادا كولو حكم كړې دې نو چه كله داكس دا حكم نه پوره كوى نو هغه د الله تعالى شكر گزار نشى جوړيدې ځكه چه د الله نعمتونه د بندگانو په واسطه رسيږى نو چه كله د واسطې شكريه نه ادا كوى نو د الله شكر به څنګه ادا كړى.

[۲۰۲٦] دَ انصارو احسان اودَ مهاجرينو بدله

۳۰۲٦–[۱۱] (۲) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: [۲] «لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ [۳] أَتَاهُ الْمُهَاجِرُونَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيرٍ [۴] وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ [۵] لَقَدْ كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ وَأَشْرَكُونَا فِي الْمَهْنَإِ حَتَّى لَقَدْ خِفْنَا أَنْ يَذْهَبُوا بِالْأَجْرِ كُلِّهِ [٦] فَقَالَ: لَا مَا دَعَوْتُمُ اللهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ». [۷] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايې كوم وخت چې رسول الله ﷺ (د مكې څخه هجرت كولو سره) مدينې ته تشريف راوړو، [۲] نو (يوه ورځ) د مهاجرينو يو جماعت د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شو او عرض يې وكړې چې يا رسول الله! ﷺ مونږ داسې هيڅ قوم نه دى ليدلى دى چې په زيات مالدارې كې ډير زيات خرڅ كونكى [۳] او په كمې مالدارى كې ډير د ښه خدمت او د مدد كولو په وصف كې د دې قوم څخه ښه وي، كوم چې په هغوئ كې مونږ راكوز شوي يو، [۴] دوى (يعنې انصارو) مونږ د محنت څخه سبكدوش (سپك) كړي يو، او په ټول تر منفعت كې يې مونږ شريك كړي يو، [۵] او اوس (د دوى دا جذبه سخاوت او ايثار ليدو سره) مونږ ته خودا انديښنه ده، چې ټول تر ثواب چرته د دوى په حصه كې

---

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأدب/باب فى شكر المعروف (رقم-۴۸۱۱) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الشكر لمن أحسن إليك (رقم-۱۹۵۵) واحمد فى المسند: ۲/۲۵۸

۲) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة/ باب دعا الله والثنا عليه ... رقم الحديث ۲۴۷۵

رانشي، [۶] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې نا، (تول تر ثواب به د دوی په حصه کې نه راخي) د څو پورې چې تاسو د دوئ د پاره د الله ﷻ څخه دعاغواړي او د دوئ تعریف (یعني شکرد نعمت ادا) کوي، [۷] امام ترمذي رحمه الله دا حدیث نقل کړي دی او دي ته یې صحیح ویلی دی

حل اللغات:- ① أَبْذَلَ: زیات خرچ کوی، ② مُوَاسَاةً: خدمت کول، ③ الْمُؤْنَةُ: محنت، مشقت، ④ الْمَهْنَأَ: ګټه او منفعت، ⑤ مهنأ: مونږ ته ویره ده، خطره ده،

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ: لَامَا دَعَوْتُمُ اللهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ

په دعاګانو سره د احساناتو بدله ادا کول: په مدینه منوره کښې انصارو د مهاجرینو پر خدمت اوکړو هم د دې اظهار مهاجرینو د حضورپاك په وړاندې اوکړو اودا پریشانی ښکاره کړه چه د دې احساناتو د وجې نه به زمونږ د هجرت وغیره نیکئی تولې د هغوی په حق کښې اونه لیکلې شی. حضور پاك تسلی ورکړه چه داسې به نه کیږی ترکومې پورې چه تاسو د هغوی تعریف کوئی او د هغوی په حق کښې دعا کوئی او جزاك الله وایئی نو د هغوی د احساناتو بدله به کوزه شی. تاسو ته به ستاسو د عبادت ثواب ملاویږی او هغوی ته به ستاسو د نصرت ثواب ملاویږی. الله تعالی خو کریم دې تاسو ته به هم درکړی او هغوی ته به هم ورکوی.

د حدیث د بعضې جملو مطلب:- ① اشرکونا في المهنأ: یعنی په راحت آسانتی او سهولت کښې نی مونږ شریك کړو چه د خپلو پټو نصف حصه ئی بغیر د مشقت نه تیارولو سره مونږ ته راکړه ② مهنأ: میم او نون دواړو باندې زبردې په آخره کښې همزه دې بغیر د څه محنت مشقت چاته یو څیز حاصلیدو ته وائی د لته غله او میوه مراد ده.

[۳۰۲۷] د تحفه ورکولو سره عداوت لرې کیدل

۳۰۲۷-[۳] (۱) [۱] عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «تَهَادُوا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ الضَّغَائِنَ». رَوَاهُ.

ترجمه: [۱] او د مؤمنانو مور بي بي عائشه رضي الله عنها څخه نقل دي [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل په خپلو کې د تحفې راکړه ورکړه کوی ځکه چې د تحفې اخستل ورکول کینې لرې کوي، (ترمذي)

حل اللغات:- ① تَهَادُوا: یوبل ته هدیه تحفه ورکوئ، ② الضَّغَائِنَ: د ضغینة جمع ده، کینې، حسد او عداوت ته وائی.

---

۱) ترمذی لم اجده

تسهيلات:

قوله رَوَاهُ: دلته دَ رواه نه پس بياض دي بعضې عالمانو الترمذى لګولي دي

د هديه ورکولو فوائد:- هديه ورکولو سره خپل مينځ کښې لين دين زياتيږي او بغض او عداوت لرې کيږي او خپل مينځ کښې محبت زياتيږي د مشکات په اصل نسخو کښې رواه نه پس خالي ځائ دي ددې مطلب دا وى چه صاحب مشکات ته ماخذ نه دې ملاو شوې او بيا روستو چا د ترمذى لفظ زيات کړو

[۲۰۲۸] معمولي تحفې لره د سپک نه کتلو حکم

۳۰۲۸ــ[۳] (۱)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] تَهَادَوْا فَإِنَّ الْهَدِيَّةَ تُذْهِبُ وَحَرَ الصَّدْرِ [۳] وَلَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ شِقَّ فِرْسِنِ شَاةٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷛ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په خپلو کې تحفه ورکوى او آخلي ځکه چې تحفه د سيني کدورت (خيرن والى) لرې کوى او (ياد لرى) يو ګاونډنه دي د خپلي دويمي ګاونډۍ (د څه کمتر شي) تحفه حقيره نه ګني [۳] اګر چې د بزي (چيلۍ) د نوك په قدرولي نه وي، (ترمذي)

حل اللغات:- ①تَهَادَوْا: يو بل ته هديه تحفه ورکوئ، ②وَحَرَ: سخته کينه، خيرې، ③الصَّدْرِ: سينه (زړه)، ④جَارَةٌ ګاونډۍ ⑤وَلَوْشِقَّ: اګرکه برابر وى، شِق حصه او مقدار ته وائي ⑥فِرْسِنِ: د خپې نوک، ⑦شَاةٍ: بزه، چيلۍ.

تسهيلات: قوله فِرْسِنِ:

نوکې ته وائي دَ چيلنۍ او اوښ دَپاره فرسن هم داسې دي لکه دَ اس دَپاره چه حافر دي نوکې سره معمولي شان غوښه وى دَهغې ذکرکړې شوې دي مراد معمولي عطيه ده **د تحفې سپک نه ګڼل:-** مطلب دا چه تحفه هرڅومره معمولي وى هغه دې نه ورکونکې سپکه ګڼړي اونه دې اخستونکې سپکه ګڼړي ځکه چه تحفه خو يواعزاز اواکرام دي په دې سره دزړونو سخت غصه اوغضب لرې کيږي که دا غيظ اوغضب دَ دوو بنو په مينځ کښې ولې نه وى

[۲۰۲۹] د درې څيزو لورد کولو ممانعت

۳۰۲۹ــ[۳] (۲)[۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ [۳] الْوَسَائِدُ وَالدُّهْنُ وَاللَّبَنُ.» [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قِيلَ: أَرَادَ بِالدُّهْنِ الطِّيبَ

۱) اخرجه الترمذ ى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الظلم (رقم-۲۰۳۰) واحمد فى المسند: ۲/ ۲۶۴

۲) اخرجه الترمذ ى فى السنن كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية رد الطيب (رقم-۲۷۹۰)

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] دري څيزونه داسې دي چې د هغه د قبلولو څخه انکار نه دی پکار [۳] ① تکيه ② تيل ③ شيدي، امام ترمذي رحمه الله دا حديث نقل کړي دی او ويلې يې دی چې د تيل څخه د حضور ﷺ مراد خوشبوده.

حل اللغات: - ① الْوَسَائِدُ: د وَسد جمع ده، بالخت، ② الدُّهْنُ: تيل، ③ اللَّبَنُ: پی، شيدې.

تسهيلات: قوله: ثلاثة لا ترد:

د دري څيزونو واپس کولو حکم: - يعنی دري څيزونه داسې دی چه که څوك دې سره ستا اکرام کوی نوته دغه مه واپس کوه څکه چه ردکول خپل اعزاز اواکرام نه پخپله انکارکول دی کوم چه مناسب نه دی. يو تکيه ده دويم په سر کښې دَ اچولودَپاره تيل يا عطر اودريم پيئی دی. دا معمولی شان عطيې دی په دې کښې دَ انسان اعزاز اواکرام دې لهذا ردکول نه دی پکار. دهن نه تيل او خوشبوئی دواړه مراد اخستې شی.

[۲۰۲۰] د خوشبوئي د هديه واپس کولو ممانعت

> ۳۰۲۰—[۵] (۱) [۱] عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدَّهُ [۳] فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو عثمان نهدي (تابعي رحمه الله) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کښې چاته خوشبودار ګُل (په طور د تحفی او هديی) درکول شی نو د هغه د قبلولو څخه انکارمه کوئ، [۳] څکه چې هغه ګل د جنت څخه راغلی دی، دا روايت امام ترمذي رحمه الله په طور د ارسال نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① الرَّيْحَانَ: دا يو قسم خوشبودار ګل دې.

تسهيلات: قوله: الرَّيْحَانَ:

د ريحان مصداق: - مطلق خوشبوئی دار ګل باندې دَ ريحان اطلاق کيږی اودَ ريحان ګل هم مراد اخستې شی. دا يوبوټې دې دکوم تخم ته چه تخم ملنګا وائی. دا تخم دَ اسپغولو خاصيت لری. وړې وړې توري داني وی دَدې بوټی پاڼې مړلوسره عام خوشبوئ خوريږی.

قوله: مِنَ الْجَنَّةِ:

د من الجنة په مصداق کښې دوه اقوال: -

① يعنی دَ هرګل خوشبوئی دَ جنت دَ خوشبوئی په شان ده.

② دَهرګل جرړه او اصل بنياد جنت کښې دې. دا دَ جنت نمونې دی انکار کول ترې کم ظرفی ده.

---

۱) اخرجه الترمذ ی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی کراهية رد الطيب (رقم-۲۷۹۱)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۲۱] خپلو ځامنوته په هبه کښې د فرق کولو ممانعت

٣٠٢١ ــ [٦] (١) [١] عَنْ جَابِرٍ قَالَ: [٢] «قَالَتِ امْرَأَةُ بَشِيرٍ: انْحَلِ ابْنِي غُلَامَكَ وَأَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَأَتَى رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: إِنَّ ابْنَةَ فُلَانٍ سَأَلَتْنِي أَنْ أَنْحَلَ ابْنَهَا غُلَامِي وَقَالَتْ: أَشْهِدْ لِي رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٤] فَقَالَ: أَلَهُ إِخْوَةٌ؟ قَالَ: نَعَمْ [٥] قَالَ: أَفَكُلَّهُمْ أَعْطَيْتَهُمْ مِثْلَ مَا أَعْطَيْتَهُ؟ قَالَ: لَا [٦] قَالَ: فَلَيْسَ يَصْلُحُ هَذَا وَإِنِّي لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلَى حَقٍّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر ﷺ وايي [٢] چې د يو صحابي حضرت بشير ﷺ ښځې هغه ته اوويل چې ته زما خوی نعمان ته خپل غلام هبه کړه او په دې زما د اطمينان د پاره رسول الله ﷺ شاهد جوړ کړه، [٣] نو بشير ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړي چې د فلاني لور (يعني عمره بنت رواحه چې زما ښځه ده) ماته دا خواهش کړې دی چې زه د هغه خوی نعمان ته خپل غلام هبه کړم، او دا يې هم ويلي دي چې (په دې باره کې) زما د اطمينان د پاره رسول الله ﷺ شاهد جوړ کړه، [٤] حضور ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې آيا د دې خوی نور ورونه هم شته؟ هغه اوويل چې هو، [٥] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې آيا تا هغه ټولو ته دغه شان يو يو غلام ورکړي دی؟ څنګه چې يې نعمان ته ورکوي، هغه اوويل چې نا، [٦] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې دا مناسب نه دی او زه يواځې په حق خبره ګواه جوړيږم، (مسلم)

حل اللغات: - ① أَنْحَلَ: دا د هبه دپاره استعماليږي.

د امرأة بشير تعارف: - د بشير د ښځې نوم عمره بنت رواحه دې او د هغې د خوی نوم چه د عمره د بطن نه وو هغه نعمان دې او د بشير نور اولاد د بلې ښځې نه وو

تسهيلات:

قوله: وَإِنِّي لَا أَشْهَدُ إِلَّا عَلَى حَقٍّ

د حق په مفهوم کښې دوه اقوال: -

① دحق نه مراد دادې چه زه صرف په هغه معامله کښې ګواه جوړيږم چه هغه بغير د شک او شبهې نه اوبغير د کراهت نه خالص طورسره حق او صحيح وی،

② نبی کريم ﷺ عمومی طور باندې دا اوفرمائيل چه زه په حق باندې ګواه جوړيږم په باطل باندې ګواه نه جوړيږم. بهرحال په دې سلسله کښې تفصيلی بحث دړومبی فصل په حديث نمبر (۳۰۱۹) کښې تيرشوې دې.

١) اخرجه مسلم فی باب كراهة تفضيل بعض الأولاد فی الهبة (رقم-١٩ - (١٦٢٤)) واحمد فی المسند: ٣/٣٢٦

[۲۰۳۲] د نوې میوې تحفه کول

۲۰۳۲-[۶] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أُتِيَ بِبَاكُورَةِ الْفَاكِهَةِ ② وَضَعَهَا عَلَى عَيْنَيْهِ وَعَلَى شَفَتَيْهِ وَقَالَ: اللَّهُمَّ كَمَا أَرَيْتَنَا أَوَّلَهُ فَأَرِنَا آخِرَهُ، ③ ثُمَّ يُعْطِيهَا مَنْ يَكُونُ عِنْدَهُ مِنَ الصِّبْيَانِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي ماليدلي دي چې رسول الله ﷺ ته به څه نوي ميوه پيش شوه ② نو مخکې به يې هغه ميوه (قبلولو سره) په خپلو سترګو او شونډو ايښودله، بيا به يې فرمايل چې اې الله ﷻ څنګه چې تا مونږ ته د دې ميوې ابتداء وښودله، دغه شان د دې انتهاء هم راته وښايه، ③ د دې څخه وروسته به حضور ﷺ هغه ميوه هغه وړو ته ورکوله چې د حضور ﷺ سره به نزدې وو. (بيهقي)

حل اللغات: - ① بَاكُورَة: تازه ميوه، د موسم رومبۍ ميوه.

تسهيلات:

قوله: وَضَعَهَا عَلَى عَيْنَيْهِ:

د يوڅيزد قدر کولو دپاره هغه په سترګو کيخودوحکم: - دَالله تعالى دَ نعمتونو اظهاراودَهغې دَ قدر کولو په توګه به حضورپاك په سترګو باندې کيخودله. كه څوك قرآن پاك په سترګو کيږدی نود ددې حديث په وجه دا څه ناجائزعمل نه دې.

قوله: مِنَ الصِّبْيَانِ:

ماشوم ته د ميوې ورکولو دوه وجوهات: - ① دَ ماشومانو په طبيعت کښې دَ ميوو وغيره طرف ته زياته مينه او محبت وی څکه به ئی هغوی ته ورکولو

② په دې وجه به ئې ميوه ماشوم ته ورکوله چه ماشوم هم دَ دغه ميوې په شان راغلې دې چه دَ چا دَ زړه ميوه ده.

قوله: اللَّهُمَّ كَمَا أَرَيْتَنَا أَوَّلَهُ فَأَرِنَا آخِرَهُ:

د مذکوره دعا په معنی کښې دوه اقوال: - ① که په دې جمله کښې صرف دَ دنياوی ميووبيان مقصود وی نو دَ آخره نه به دَ ميوو آخری حصه مراد وی لكه څنګه چه دَ ميوو شروع خودلې ده اې الله هم په دنياکښې دَدې انتهاء هم رااوښايه چه ترڅيره وخته پورې په مزه کښې پاتې شو

② كه دَ آخره تعلق دَ آخرت نعمتونوسره وی نومطلب به دا شی چه الله رب العزت لكه څنګه چه دې په دنياکښې دا نعمتونه رااوخودل دغه شان په آخرت کښې هم رااوښايې.

---

۱) اخرجه في كتاب الدعوات الكبير / باب ما يقول اذا اتى بباكورة... رقم الحديث ۴۳۹

[۱۶]بَابُ اللُّقَطَةِ

دَلقطه بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية احاديث مشتملة على ست مسائل:

① وجوب تعريف اللقطة سنة: ۱، ۴.

② الزجر بعدم تعريف اللقطة: ۲، ۶.

③ النهي عن لقطة الحاج: ۳.

④ ضمان اللقطة : ۸.

⑤ الإشهاد وقت اللقطة: ۷.

⑥ الرخصة في الانتفاع باللقطات الرخيصة: ۸.

د لقطه معنی :- لقطه دَ لام پیښ او قاف زبر او جزم دواړو سره لوستلې کیږی. دَ محدثینو حضراتو په نیزقاف ساکن لوستل زیات مشهوردی. غورزیدلی شوی څیزته لقطه وائی یولفظ لقیط دې هغه دَ لاوارث بچی اوچتولو او ساتلوته وائی.
دلته دَلقطه فقهی څلور مسائل ذکر کولی شی

[۱]د تشهیر په موده کښې مذاهب:-

دَ غورزیدلی څیز اوچتول مستحب دی په دې شرط چه په خپل ځان باندې دَ تشهیر باور اویقین وی گنی هم په هغه ځائی باندې پریخودل بهتردی. خوکه دَ دغه څیزدَ ضائع کیدو خطره وی نوبیا اوچتول واجب دی گنی گناهگارکیږی به. هم دغه حکم دَ لقیط بچی هم دې اودَځناور هم دې دَ لقیط خرچه په بیت المال هم ده اودَ ځناور خرچه دَ ځناور دَ منافع نه ده
① دَامام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله په نیز دَتشهیرڅه موده مقررنه ده بلکه دَ مبتلی به سری په رائې باندې موقوف ده.
② دَ ائمه ثلاثه اوامام محمد رحمه الله په نیزدَ تشهیرموده یوکال ده که لږ مال وی اوکه ډیرمال وی. دواړو فریقو دَ احادیثونه استدلال کړې دې.

[۲]دَ لقطې په استعمال کښې مذاهب:-

که دَ تشهیرنه پس هم دَمالك پته اونه لگیده او اوچتونکی فقیردې ① نودَ امام ابوحنیفه رحمه الله او سفیان ثوری رحمه الله په نیزئې هغه پخپله استعمالولې شی اوکه غنی اومالدار وی نو په یوغریب دې صدقه کړی
②دَامام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز که اوچتونکې مالداروی که غریب هغه لقطه په ذاتی توگه استعمالولې شی دَ دواړو فریقو دَاحادیثونه استدلال کړې دې.

[۳] دَ حیوان په لقطه کښې مذاهب:-

دَ چیلئی وغیره ساتلو او تشهیر کولو کښې خوځه اختلاف نشته دې خوکه چرته اوښ ملاؤشي نوهغه ساتل او دَ هغې لقطه جوړول ښځګه دی؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

① دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز که دَ ورك شوی اوښ دَ ضائع کیدو خطره وی نو دَهغې التقاط مستحب دې.

② دَائمه ثلاثه په نیز دَ اوښ لقطه جوړول خلاف اولی دی.

دا اختلاف دومره سخت نه دې چه دَدې دَپاره احادیث یا قیاس استعمال کړې شی البته دومره خبره یقیني ده چه نن صبا اوښ خو څه خلق دَ دې نه هم لوئی څیز پته وی او اوړی

[۴] دَ حرم په لقطه کښې مذاهب:-

① دَ امام شافعی رحمه الله په نیز دَ حرم لقطه نه اوچتول بهتردی که چرې اوچت ئی کړه نو دائمًا تشهیرلازم دې.

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز که لقطه دَ حرم وی او که دَ حل وی دَ دواړو حکم یوشان دې دَ ضائع کیدو دَ ویرې اوچتول او تشهیر کول پکاردی.

داول فریق دلیل:- د دوی دلیل دَ مسلم شریف حدیث دې. "ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن لقطة الحاج" یعنی نبی کریم ﷺ د حاجیانو د لقطې اوچتولو څخه منع فرمائیلې ده. د دې څخه معلومه شوه چې د حرم لقطه اوچتول نه دی پکار.

د دویم فریق دلیل:- دویم فریق چې احناف دی دَ دوی دلیل د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وحضرت عائشه رضی الله عنها روایت دی کوم کښې چه دادې. "ان حکم لقطة مکة کحکم سائر البلدان" (زجاجه المصابیح ج۲ص۲۰۰) بهرحال دَاحوالو فساد ته کتلوسره فیصله کول پکاردی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۲۳] دَملتقط دَپاره جامع ضابطه

۳۰۲۳-[۱] (۱)۱ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَأَلَهُ عَنِ اللُّقَطَةِ ۳ فَقَالَ: اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، ۴ فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَشَأْنَكَ بِهَا ۵ قَالَ: فَضَالَّةُ

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب إذا لم یوجد صاحب اللقطة بعد سنة فهی لمن وجدها (رقم-۲۴۲۹) ومسلم فی کتاب اللقطة (رقم-۱ - (۱۷۲۲))واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الزکاة/باب التعریف باللقطة (رقم-۱۷۰۴) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بیع فضل الماء (رقم-۱۲۷۲) وابن ماجه فی کتاب اللقطة/باب ضالة الإبل والبقر والغنم (رقم-۲۵۰۴) ومالک فی الموطا کتاب الاقضیة/باب القضاء فی اللقطة (رقم-۴۶) واحمد فی المسند: ۱۱۶/۴

الْغَنَمِ؟ قَالَ: هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ، ٦ قَالَ: فَضَالَّةُ الْإِبِلِ؟ قَالَ مَالَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَاؤُهَا وَحِذَاؤُهَا ٧ تَرِدُ الْمَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ حَتَّى يَلْقَاهَا رَبُّهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

حل اللغات: - ① اعْرِفْ: اوپیژنه، معلوم کړه. ② عِفَاصَهَا: ای دعاءها عفاص علامې او نښانې ته وائی یعنی لقطه په نښه کښې ساته، ③ وِكَاءَ: سربند، سرپوښ، ④ عَرِّفْهَا: معلومات ئې وركوه، تشهير ئې کوه، ⑤ الذِّئْب: شيرمغ، ليوه، ⑥ رَبُّهَا: پالونکې یا مالک دهغې، ⑦ سِقَاء: مشکیزه، ⑧ حِذَاؤُهَا: حذاء موزې او څپلې ته وائی،

ترجمه: ۱ حضرت زيد ابن خالد ﷺ وايي ۲ چې يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او د لقطه په باره کې يې د حضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې (که لويدلی شی پيدا شي نو څه کول پکار دي؟) ۳ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې مخکې خو د هغه ظرف وپيژنه (يعني که هغه څيز په څه کپړې يا د څرمني تهيلی وغيره کې دی نو هغه په شناخت کې ساته) او د هغه سر بند هم وپيژنه، بيا يو کال پورې د هغه تشهير کوه (د يو کال په موده کې) ۴ که د هغه مالك راشي، نو هغه څيز هغه ته حواله کړه، او که هغه رانشي نو بيا هغه په خپل استعمال کې راوله، ۵ بيا هغه سړی د ورکې شوې بزې (چيلې) په باره کې پوښتنه وکړه (که د چا ورکه شوې بزه يو سړی نيولی راولي نو د هغه سره څه وکړي؟) حضور ﷺ ورته وفرمايل چې هغه ستا ده يا ستا د ورور ده يا د شرمښ ده، ٦ د دې څخه وروسته هغه سړي پوښتنه وکړه چې د ورك شوي اوښ په باره کې څه حکم دی؟ حضور ﷺ خنې پوښتنه وکړه چې ستا د هغه څه کار دی (يعني هغه مه نيسه ځکه چې هغه ضائع کيدونکی شی نه دی، ځکه د هغه د نيولو او راوستو ضرورت نشته) د هغه مشك او موزې د هغه سره دی ۷ چې هغه د څو خپل مالك ته ونه رسيږي تر اوبو تلی شي او د ونې پانې خوړلی شي، (بخاري مسلم)

۱ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: «عَرِّفْهَا سَنَةً ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا ۲ فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ»

ترجمه: ۱ او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې (هغه سړی د لقطه په باره کې پوښتنه وکړه، نو) حضور ﷺ ورته وفرمايل چې تر يو کال پورې د هغه تشهير کوه، او د هغه سربند او ظرف (تيلی وغيره) بيان که (د تشهير په دې موده کې که د هغه مالك رانشي، نو) بيا هغه په خپل استعمال کې راوله، ۲ او که د دې څخه وروسته د هغه مالك راشي نو هغه ته د هغه څيز (مثل په شرط د دې چې ستا سره هغه شان وي) ورکړه (کنې د هغه قيمت ورته اداکړه)

حل اللغات: - ① اسْتَنْفِقْ: خپل استعمال کښې ئې راوله، يا خرچه پرې کوه.

تسهیلات: قوله: عَرِّفْهَا سَنَةً:
د لقطه د تشهیر مسئله ددې باب په اول کښې په تفصیل سره تیره شوې ده

قوله: وَالْاَفْشَاْنُكَ:
یعنی بیا ته پوهه شه اوستاکار پوه شه پخپله ئې خورې که بل ته ئې ورکوې په دې مسئله کښې تحقیق هم د قطه د استعمال مسئله هم ددې باب په اول کښې په تفصیل سره تیره شوې ده

قوله: هِيَ لَكَ:
وچلیږ د تشهیر حکم:- یعنی چیلئی یوکمزورې خناوردې که چرې تاورته خیال اونه کړو نو ستا بل یو رور به ئې اونیسی یا به ئې لیوه ماته کړی. مطلب دا چه دا لکه دَ لقطه په توګه باندې محفوظ اوساته.

قوله: مَعَهَا سِقَاؤُهَا:
که لقطه اوښ وی نو ددې تفصیل هم ددې باب په اول کښې تیرشوې دې

قوله: وَحِذَاؤُهَا:
د اوښ د مضبوطتیا اولوت بیان:- حذاځپلئی اوموزې ته وائی مراد دَ اوښ مضبوط تلی دی. لهذا هغه دَ خوراك څښناك او درندګانونه په بچ کیدلو کښې پوره دې. ګرمی یخنی برداشت کوی دَ ریګستان جهاز دې او ښه لوئی دې هیڅ یوځناور هغه شلولې نه شی

قوله: فَأَدِّهَا إِلَيْهِ:

د لقطه د واپس کولو په طریقه کښې مذاهب:-

① که څیز موجود دې نو ورکړه ګنی قیمت ورکړه. امام مالك رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائی چه لقطه دَهغې دَمالك په مطالبه باندې ورکول واجب دی دَ هیڅ ګواه ضرورت نشته دې صرف علامات او نشانات خودل ضروری دی.

② احناف او شوافع وائی که چرې ملتقط ته یقین راغلو نو ورکول جائز دی مګر واجب نه دی. ورکول هله واجب دی چه کله مالك په داسې مال باندې ګواه پیش کړی.

[۳۰۲٤] دَ تشهیر په لیت سره د لقطه اوچتول

۳۰۲۴-[۲] (۱) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «مَنْ آوَى ضَالَّةً فَهُوَ ضَالٌّ مَا لَمْ يُعَرِّفْهَا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت زید رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② څوك چې د چا ورك شوي څیز پورته کولو سره د ځان سره وساتي نو هغه ګمراه دی د څو پورې چې هغه د هغه

۱) اخرجه مسلم فی کتاب اللقطة/باب [ص:۱۳۵۱] فی لقطة الحاج (رقم-۱۲ - (۱۷۲۵))واحمد فی المسند: ۱۱۷/٤

تشهیر ونه کړي. (مسلم)

حل اللغات - ① آوَى: محفوظ کړی، اوچت کړی، ② ضَالَّةً: ورک شوې څیز

تسهیلات: **قوله**: مَنْ آوَى ضَالَّةً:

د لقطه د اوچتولو غرض:- کوم ځائې چه دَ لقطه نه اوچتولو حکم په احادیثو کښې راغلې دې دَهغې نه مراد هم دغه دی چه یوسړې پخپله دَ خوړلو پتهولو دَ پاره اودَ دباوولودَپاره اوچته وی نودا ګناه ده لیکن که دَ حفاظت په توګه دَ تشهیرپه غرض سره نی اوچته وی نوبیاجائزدی

[۲۰۳۵] حاجی د لقطه نه اوچتولو حکم

۳۰۳۵—[۳] (۱) ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الرحمٰن ابن عثمان تیمي ﷺ وایي ② چې رسول الله ﷺ د حاجیانو د لویدلی شی پورته کولو څخه منع فرمایلي ده. (مسلم)

حل اللغات:- ① لُقَطَةِ: لویدلي څیز.

تسهیلات:

قوله: نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ:

د حرم د لقطه په اوچتولو کښې اختلاف:- د احنافو په نزد د حل او د حرم لقطې حکم یوشان دې لیکن د امام شافعی په نزد د حرم لقطه نه اوچتوی څکه کیدې شی چه مالک نې په لټولو لټهولو دې ځاي ته راورسی نو خپل څیز به ورته ملاؤ شی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۳۶] د زورندې قجورې د اخستلو حکم

۳۰۳۶—[۴] (۲) ① عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ: «عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ ③ فَقَالَ: مَنْ أَصَابَ مِنْهُ مِنْ ذِي حَاجَةٍ ④ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ ⑤ وَمَنْ خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ ⑥ وَمَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ ⑦ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ،

۱) اخرجه مسلم فی کتاب اللقطة/باب [ص:۱۳۵۱] فی لقطة الحاج (رقم-۱۱ - (۱۷۲٤) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الزکاة/باب التعریف باللقطة (رقم-۱۷۱۹) واحمد فی المسند: ٤۹۹/۳

۲) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الزکاة/باب التعریف باللقطة (رقم-۱۷۱۰) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی أکل الثمرة للمار بها (رقم-۱۲۸۹) والنسائی فی کتاب قطع السارق/باب الثمر یسرق بعد أن یؤویه الجرین (رقم-٤۹۵۸) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من سرق من الحرز (رقم-۲۵۹٦)واحمد فی المسند: ۲۸۰/۲

ترجمه: [۱] حضرت عمرو ابن شعیب دخپل پلار (د حضرت شعیب ﷫) څخه او شعیب دخپل نیکه (یعني حضرت عبد الله ابن عمرو ﷠) څخه نقل کوي [۲] چې د رسول الله ﷺ څخه (په ونو کې) د خړیدلو میوو په باره کې پوښتنه وشوه. [۳] نو حضور ﷺ وفرمایل چې که یو ضرورتمند سړی څه میوه (پریکولو سره) وخوري [۴] خو په خپله جولۍ کې ډکولو سره یې نه یوسي نو په هغه څه گناه نشته. [۵] او کوم سړی چې یې وخوري هم او خولی هم ډکه کړي نو په هغه دوچنده تاوان دی، او سزا ده [۶] او کوم سړی چې د هغه میوو څخه غلا وکړي کوم چې په درمن کې اېښودل شوی وي [۷] او هغه غلا کړي مقدار یې د یو سپر د قیمت برابر وي، نو د هغه د پاره د لاس پریکولو سزا ده.

> [۱] وَذَكَرَ فِي ضَالَّةِ الْإِبِلِ وَالْغَنَمِ كَمَا ذَكَرَهُ غَيْرُهُ [۲] قَالَ: وَسُئِلَ عَنِ اللُّقَطَةِ [۳] فَقَالَ: مَا كَانَ مِنْهَا فِي الطَّرِيقِ الْمِيتَاءِ وَالْقَرْيَةِ الْجَامِعَةِ [۴] فَعَرِّفْهَا سَنَةً [۵] فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَأْتِ فَهُوَ لَكَ. [۶] وَمَا كَانَ فِي الْخَرَابِ الْعَادِيِّ فَفِيهِ وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ». [۷] رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ عَنْهُ مِنْ قَوْلِهِ: وَسُئِلَ عَنِ اللُّقَطَةِ إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: [۱] راوي د ورك شوي اوښ او بزي (چیلۍ) په باره کې د هغه سوال او جواب ذکر وکړي، کوم چې نورو راویانو بیان کړي دی (چې مخکې تیر شوی دی) [۲] د دې څخه وروسته راوي وایې چې بیا د رسول الله ﷺ څخه د لقطه په باره کې پوښتنه وشوه. [۳] نو حضور ﷺ وفرمایل کومه لقطه چې په داسې لار پیدا شي چې په هغه تله راتله کېږي (آمد ورفت وي) او کلی او آبادی ته نزدې وي. [۴] نو د هغه په باره کې تر یو کال پورې تشهیر او اعلان کوي. [۵] او بیا چې کله هغه راشي نو هغه لقطه ورته حواله کړي، او که مالك رانشي نو بیا هغه لقطه ستا ده (چې ته یې په خپل کار کې راوستی شي) [۶] او هغه چې په قدیم ویرانه کې پیدا شي د هغه او زمکې څخه د راختونکې دفیني دا حکم دی چې د هغه پنځمه حصه دې د الله ﷻ په لار کې ورکول شي. [۷] نسائي، او ابوداود دا روایت د عمرو بن شعیب ﷫ څخه تر وسئل عن اللقطة پورې نقل کړي دی

حل اللغات: - ① الْمُعَلَّقِ: زوړنده، ② خُبْنَةً: جولۍ یا جیب ډکول ③ غَرَامَةُ: تاوان، ④ مِثْلَيْهِ: دوچند. ⑤ الْعُقُوبَةُ: عذاب، سزا، تعزیر ⑥ أَنْ يُؤْوِيَهُ: چه راوړلو سره ئې محفوظ کړی، ⑦ الْجَرِينَ: درمن، ⑧ الْمِجَنَّ: ډهال، ⑨ الطَّرِيقِ: لار ⑩ الْمِيتَاءِ: د تگ راتگ عام لاره، ⑪ الْخَرَابِ: خرابه، شاړه، غیرآباد ځائې ⑫ الْعَادِيِّ: تر ډیرې زمانې نه، د قوم عاد د زمانې راهسې، ⑬ الرِّكَازُ: دفینه، خزانه، ⑭ الْخُمُسُ: پنځمه حصه

تسهیلات: قوله: الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ:

د زوړندې میوې څخه د خوراک کولو محمل: - یعني په ونوپورې زوړندشوې میوې که یو مضطرسړې دَ مخمصه په حالت کښې اوخوری دې دَپاره څه ځان ئې بچ شی نو اجازت دې

بیا به روستو قیمت اداکوی یا دَ اسلام په شروع کښې داسې اجازت وو

د غیر مضطر د پاره زوړندې میوې د خوړاک حکم:- ذکرشوې حکم په هغه صورت کښې دی چه دا سړې نې جمع کوی نه که ذخیره کوی یا کور ته اوړی نو په هغه به ډبل تاوان هم راځی او هغه ته به سزا هم ورکولې شی دَ ډبل تاوان حکم په توګه دَ تغلیظ تشدید تهدید او تنبیه دې یا دا هم دَ اسلام دَ شروع حکم وو بیا منسوخ شو اګرچه حضرت عمر رضي الله عنه به دَدې ظاهری حدیث مطابق فیصله کوله اودَ امام احمد رحمه الله مسلك هم دغه دې په لمن وغیره کښې پټول اوړل غلا ده

قوله: وَالْقَرْيَةِ الْجَامِعَةِ:

د مذکوره جملې مطلب:- یعنی چه دَ ښارپه آبادئی کښې ملاؤشی نودا دَ لقطه په حکم کښې دې دَدې تشهیرضروری دې.

قوله: وَمَا كَانَ فِي الْخَرَابِ:

د مذکوره جملې مطلب:- یعنی بالکل ویران اوغیرآباد ځنګل چه دَ قوم عادزمانې نه ویران پروت وی په هغې کښې خزانه ملاؤشی نو په هغې کښې خمس دې او په رکاز کښې هم خمس دې

[۲۰۳۷] دَ لقطه دَ استعمالولو ځخه روسته د مالك د راتلو په صورت کښې د لقطه حکم

۳۰۳۷-[د] (۱) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ② «أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَجَدَ دِينَارًا فَأَتَى بِهِ فَاطِمَةَ ③ فَسَأَلَ عَنْهُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: هَذَا رِزْقُ اللهِ ④ فَأَكَلَ مِنْهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: " وَأَكَلَ عَلِيٌّ وَفَاطِمَةُ ⑤ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَتَتِ امْرَأَةٌ تَنْشُدُ الدِّينَارَ ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: يَا عَلِيُّ أَدِّ الدِّينَارَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه وايي ② چې (یوه ورځ) حضرت علي کرم الله وجهه (په یوه لار کې په طور د لقطه) یو دینار بیاموندو هغه یې بي بي فاطمې رضي الله عنها ته راوړو ③ او بیا چې حضرت علي رضي الله عنه په دي باره کې د رسول الله ﷺ ځخه پوښتنه وکړه، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې دا د الله تعالی ورکړي رزق دی. ④ بیا د هغه دینار خرید شوي شیز حضور ﷺ هم وخوړلو او حضرت علي رضي الله عنه او بي بي فاطمي رضي الله عنها هم وخوړلو. ⑤ د دې ځخه وروسته چې یوه ښځه خپل دینار لټولو د پاره راغله، ⑥ نو حضور ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل چې اې علي رضي الله عنه دي ښځي ته دینار ورکړه، (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① تَنْشُدُ: لټولو ئې، ② أَدِّ: ادا کړه (صیغه د امر ده)

۱) اخرجه ابو داود في السنن کتاب الزکاة/باب التعریف باللقطة (رقم-۱۷۱۴)

تسهيلات:

قوله :يَاعَلِيُّ أَدِّ الدِّينَارَ:

د موندلې څیز د اعلان نه پس د استعمالولو جواز :- د روایت د مفهوم نه دا بالکل نه ظاهریږی چه حضرت علی ﷺ د تشهیر او اعلان نه بغیر دا دینار خرچ کړو، بلکه احتمال همدا دې چه اول هغوی تشهیر (اعلان) اوکړو بیا ئې روسته خرچ کړو

بغیر د ګواه څخه ښځې ته د څیزپه ورکولو کښې دوه اقوال :-

① نبی کریم ﷺ چه دغه ښځې ته صرف د هغې په وئیلو باندې هغې ته دینار ورکړو نو ددې وجه داده چې دغه ښځې ددې دینار علامت بیان کړې وی

② په نبی کریم ﷺ ته په بل څه ذریعه علم شوې وی چه دا دینار د دغه ښځې وو

[۳۰۲۸] په خراب نیت د لقطه اوچتولو وعید

۳۰۲۸—[۶] (۱) ① وَعَنِ الْجَارُودِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «ضَالَّةُ الْمُسْلِمِ حَرَقُ النَّارِ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت جارود ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د مسلمان ورك شوي څيز (د دوزخ) د اور يوه شعله ده، (دارمي)

حل اللغات:- ① ضَالَّةُ: ورک شوې څیز، ② حَرَقُ: أور، شغله.

تسهيلات:

قوله: ضَالَّةُ الْمُسْلِمِ حَرَقُ النَّارِ:

دحدیث مفهوم :- مطلب دادې چه که څوک یو لقطه په دې بد نیت سره راوچته کړی چه زه به ددې مالک شم، اودې هغه احکام پوره نه کړی کوم چه د لقطه په سلسله کښې لکه تشهیر وغیره شریعت نافذ کړی دی نو دغه لقطه به دغه سړې اور ته حواله کړی

[۳۰۲۹] په لقطه اوچتولو ګواه جوړول

۳۰۲۹—[۷] (۲) ① وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ ذَا عَدْلٍ أَوْ ذَوِي عَدْلٍ ③ وَلَا يَكْتُمْ وَلَا يُغَيِّبْ ④ فَإِنْ وَجَدَ صَاحِبَهَا فَلْيَرُدَّهَا عَلَيْهِ ⑤ وَإِلَّا فَهُوَ مَالُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت عياض بن حمار ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړی

١) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى النهى عن الشرب قائما(رقم-١٨٨١) واحمد فى المسند: ٨٠/٥

٢) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الزكاة/باب التعريف باللقطة (رقم-١٧٠٩) وابن ماجه فى كتاب اللقطة/باب اللقطة (رقم-٢٥٠٥) واحمد فى المسند: ١٦١/٤

چې په يو خای کې يو لويدلی شی پيدا کوي، نو پکار دی چې هغه يو عادل سړی يا وي فرمايل چې دوه عادل سړي شاهدان جوړ کړي (د هغه تشهير او اعلان نه کولو سره)[۳] هغه لقطه دې نه پټوي او نه دي هغه (بل خای ته ليږي سره) غائبه کړي،[۴] بيا که د هغه مالك راشي نو هغه ته دي حواله کړي،[۵] او که مالك يې نه وي نو بيا هغه د الله ﷻ ورکړي مال دی چې الله ﷻ چاته غواړي (د غيب څخه) مال ورکوي، (احمد ابوداود دارمي)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عياض بن حمار:- نوم عياض دَ پلارنوم حمار يا حماد وو. دَ جاهليت دَ زمانې نه دَ رسول الله ﷺ دوست وو (۱) دَ بعثت نبوی ﷺ نه پس دَ خپل زړو تعلق په وجه ئی حضور ﷺ له تحفه ورکول غوښتل نوحضور ﷺ قبوله نه کړه (۲) غالباً دَ مکې دَ فتح نه وړاندې مسلمان شوې وو. بصره کښې اوسيدلو.علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی په عربوکښې يوه ډله داسې وه چه دَ تبرك په توګه به ئی دَ قريشو کپړې اغوستې اودَ بيت الله شريف طواف به ئی کولو.عياض هم په دغه ښکلې عقيدت مندو خلقو کښې وو اوهغه سره دَ رسول الله ﷺ لباس مبارك موجود ووکله چه به مکې ته راتلونودَ رسول الله ﷺلباس مبارك کښې به ئې طواف کولو. (۳)

مرويات:- دَ هغه نه ديرش (۳۰) احاديث نقل دی. (۴) دَ نوروحالاتودپاره اوګورئی استيعاب۲/ ۵۱۰

[۲] مسنداحمد جلد ۵ [۳] تهذيب التهذيب ۸/ ۲۲۰ [۴] تهذيب الكمال ص ۳۱۰.

تسهيلات:

قوله: مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ:

يعنی ګواه قائم کړئی چه دومره مال دې فلانکی تاريخ باندې ماته په فلانکی خائی کښې ملاؤشوې دې بيا تشهيراوکړه

دګواهانو جوړولو حکم:-

بعض علماء وائی دا ګواه جوړول مستحب دی بعض ورته واجب وائی

د ګواه جوړولو فائدې:-

[۱] که چرې مالك راغلو دَ زياتی دعویٰ ئی اوکړه يا دَواکئی اوغلا دعویٰ اوکړی نو تاسره به ګواه وی هيڅ پريشانی به نه وی ګنی پريشان به شې

[۲] دغه شان ګواه جوړولو سره به ته پخپله هم دَهغې دَ خوړلواو هضمولو په چکر کښې نه پريوځې

۱) طبقات ابن سعد ۲/ ۵۱۰). (۲)مسنداحمد) (۳)استيعاب ۲/ ۵۳) (۴)تهذيب الكمال ۳۱۰) (۵)مسلم فی البر باب إستحاب العفو والتواضع) (۶)روضة المتقين ۲/ ۱۵۲. (۷)(۸)

[۲۰٤۰] په معمولي څيز کښې عدم تشهير

۳۰۳۰–[۸] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: [۲] «رَخَّصَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الْعَصَا وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَأَشْبَاهِهِ [۳] يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. [۴] وَذُكِرَ حَدِيثُ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ "أَلَا لَا يَحِلُّ" فِي بَابِ الِاعْتِصَامِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷛ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ مونږ ته د امسا (لکړې) دُرې، رسۍ او د دې په شان د نورو څيزونو په باره کې (چې په عام طور سره کمتر ګڼل کيږي) دا اجازت راکړې وه [۳] چې کوم سړی غواړي، پورته دې کړي، او هغه دې په خپل کار کې راولي. (ابوداؤد)

[۴] او د حضرت مقدام ابن معدی کرب روايت په باب أَلَا لَايَحِلُّ الخ په باب الاعتصام بالكتاب والسنة کې نقل شوی دی.

حل اللغات: - ① السَّوْطِ: دُوره، ② الْحَبْلِ: رسۍ.

تسهيلات:

قوله: رَخَّصَ لَنَا:

په کم قيمته څيز کښې د تشهير موده: - يعنی بالکل کم ترمال مثلاً همسا پړې ياد چابک چوکه ياکهجوره دا حقير څيزونه دی کوم سړې چه د دې اعلان کوی ګرځی هغه په حقيقت کښې رياکار دې د خپلې تقوی تشهيرکول غواړی. د امام ابوحنيفه ﷫ نه يو روايت دې چه د لس درهم نه په کم مال کښې يوځو ورځې تشهيردې په لس درهم کښې د يوې مياشت تشهيردې اود لس درهم نه زيات کښې د يوکال تشهيردې.

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الزكاة/باب التعريف باللقطة (رقم-۱۷۱۷)

[۱۷] بَابُ الْفَرَائِضِ

فرائض يعنى د ميراث بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية وعشرون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① حق التوريث بطريق الإسلام: ۱، ۲۶۔
② الترغيب في تعلم علم الفرائض: ۲۸۔
③ موانع الإرث: ۳، ۶، ۷، ۱۳۔
④ ذكر الفروض المعينة للوارثة: ۸، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱۔
⑤ ۲، ۴، ۴،۵، ۶، ۹، ۱۱، ۱۰، ۱۲، ۱۵، ۱۶، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۷، ۲۸۔

د ميراث د فرضيت ثبوت:- ﴿يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ﴾ [سورت النساء الايه:۱۱]

د فرائض لغوى وضاحت:- فرائض جمع ده دَدې مفرد فريضةده فريضه دَ فرض نه مشتق ده چه دَ قطع او پرې كولوپه معنى كښې هم راځى اودَ مقدر اومقرركولوپه معنى كښې هم راځى

ميراث باندې د علم الفرائض د اطلاق وجه:- دَالفرائض نه علم الميراث مراد دې په قرآن پاك كښې دا دَ فريضه په نوم سره ياد كړې شوې ده او په حديث كښې دى "وافرضكم زيد رضي الله عنه اى اعلمكم بعلم الميراث" په دې وجه دې علم ته علم الفرائض وائى

د فرائض يعنى علم الميراث اصطلاحى تعريف:- "المقدرات الشرعية في المتروكات المالية" يعنى دَميراث هغه حصه كومه چه قرآن اوحديث مقرر كړې ده

ترتيب وار د مړى څلور حقوق:- ① دَټولونه اول دَ مړى تجهيز اوتكفين دې په دې چه كوم خرچ راځى هغه دَ قرض نه مقدم دې

② دَ تجهيز او تكفين نه پس كه په مړى باندې دَ چاقرض وى يا څه مطالبه وى نودَهغې اداكول ضرورى دى

③ دې نه پس چه كوم مال بچ شى بيا په هغې كښې دَ دريمې حصې نه دَ مړى وصيت پوره كول دى كه چرې هغه وصيت كړې وى

④ دې نه پس چه كوم مال بچ شو هغه به ټول په ټول دَمړى په وارثانو كښې تقسيم كولې شى

د ميراث د تقسيم ترتيب:- ① اول به ذوى الفروض ته دَهغوى مقرر كړې شوې حصې

ورکولې شي اودوی دَ اولې درجې وارثان دی او ذوی الفروض تول دولس دی
② دَ مړی دَ ترکه نه دَ ذوی الفروض حصې ورکولو نه پس څه چه بچ شی هغه به په عصبات کښې تقسیم کولې شی ذوی عصبات دَ دويمې درجې وارثان دی
③ که دَ يو مړی په وارثانو کښې نه ذوی الفروض موجود وی او نه عصبات موجود وی نوبيابه دَ هغه ترکه په ذوی الارحام کښې تقسيم کولې شی لکه چه ذوی الارحام دَ وراثت دريمه درجه ده

ه ارث څلور موانع:- ① غلامی مانع د ارث ده غلام نه دَ چا وارث کيدې شی اونه دَ ده څوك وارث کيدې شی ځکه چه غلام په شرعی توګه دَ څه څيز مالك کيدې نه شی
② ناحق قتل مانع د ارث دې که يو وارث خپل مورث قتل کړی نو شرعًا قاتل دَ ميراث نه محروم کيږی
③ اختلاف مذهب مانع د ارث دې چه دَ دوو مذهبونو اختلاف هر يو دَ بل مذهب والا دَ ميراث نه محروم کوی مثلاً مسلمان اويهودی يا عيسائی يا قاديانې يا رافضی
④ اختلاف دارين مانع د ارث دې يعنی دَ مړی اووارث دَ ملك اووطن مختلف کيدل دَ ميراث نه محروم کوی مثلاً يو سړې په دارالاسلام کښې اوسيږی او بل په دارالحرب کښې اوسيږی نودواړه به دَ يو بل دَ ميراث نه محروم پاتې کيږی

نوټ:- خودا حکم دَ غيرمسلم دَپاره دې په مسلم وارث اومورث کښې اختلاف دَ دارين هيڅ اعتبارنشته دې په قرآن کښې دَالله تعالی صريح حکم دې چه دَښځو په ميراث کښې حق شته سره دَدې چه نن صباهريومسلمان داحکم نظرانداز کوی خو په قيامت کښې به حساب کيږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۴۱] دَمړی د ترکې مستحقين

۲۰۴۱—[۱] (۱)[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ [۳] فَمَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ وَلَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ [۴] وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ». وَفِي رِوَايَةٍ: «مَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضِيَاعًا فَلْيَأْتِنِي فَأَنَا مَوْلَاهُ» وَفِي رِوَايَةٍ: «مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ، وَمَنْ تَرَكَ كَلًّا فَإِلَيْنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابوهريره ﷛ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] زه د مسلمانانو په

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من تكفل عن ميت دينا، فليس له أن يرجع (رقم-۲۲۹۸) ومسلم في كتاب الفرائض/باب من ترك مالا فلورثته (رقم-۱۵ - (۱۶۱۹)) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب في أرزاق الذرية (رقم-۲۹۵۵) والنسائي في كتاب الجنائز/باب الصلاة على من عليه دين (رقم-۱۹۶۳) وابن ماجه في كتاب الصدقات/باب من ترك دينا أو ضياعا فعلى الله وعلى رسوله (رقم-۲۴۱۵) واحمد في المسند: ۲/۴۵۶

حق کې په خپله د هغوئ څخه هم زیات عزیز یم (یعني د دین او د دنیا په هره معامله کې یو مسلمان په خپل ځان چې څومره شفیق او مهربانه کیدی شي زه په هغه د هغه څخه هم زیات شفیق او مهربانه یم څکه چې د هغوئ د قرضونو د اداکولو هم زه زیات حقدار یم)۲
نو کوم سړی چې مسلمان مړ شي او په هغه قرض وي او هغه دومره مال نه وي پریښی، چې د هغه سره د هغه قرض ادا کیدی شي، نو د هغه د قرض ادانیګی زما په ذمه ده.۳ او کوم سړی چې دومره مال پریږدي (چې د هغه قرض ادانیګی او د هغه د کړي د شرعي وصیت د تکمیل څخه وروسته هم څه پاتې شي) نو د هغه مال د وراثانو دی

د یو روایت الفاظ دا دي چې کوم سړی قرضدار یا عیالدار مړ شي، او هغه دومره مال نه وي پریښی چې په هغه سره د هغه د قرض آدائیګی وشي یا د هغه د اهل وعیال پرورش اوسی، نو د هغه وکیل یا وصي دي ماته راشي، زه به د هغه انتظام وکړم (یعني زه به د هغه قرض ادا کړم، او د هغه د اهل وعیال پرورش به کوم)

او په یوه بل روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل کوم سړی چې مال پریښودلو سره مړ شي، نو هغه مال د هغه د ورثاء دی، او کوم درونډ څیز (یعني قرض او عیال) پریښودلو سره چې مړ شي نو د هغه انتظام کول زما په ذمه دی، (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ①أَوْلَىٰ: زیات نژدې، زیات حقدار، ②وَفَـاءً: پوره، برابر، (قرض پوره کونکې مال) ③ضَيَاعًا: عیال والا، بال بچ والا، ④مَوْلَاهُ: کارساز او انتظام کونکې دهغه ⑤كَلًّا: بوج، درونډ څیز (مراد قرض او عیال دی).

تسهیلات:

قوله: أَنَا أَوْلَىٰ بِالمومنین:

په حدیث کښې داولی مفهوم:- دَ احق او اقرب په معنی کښې دې یعنی حضورپاك فرمائی چه زه په هرڅیز کښې که هغه دَ دین متعلق وی اوکه دَ دنیامتعلق وی دَمسلمانانو دَ خانونونه زیات دَ هغې حقدار یم لهذا زما شفقت په هغوی باندې دَ دې نه زیات دې کوم شفقت چه دَهغوی په خپلو خانونوباندې دې نوزه دَهغوی دَ قرض دَ اداکولوهم زیات حقداریم

قوله: ومن ترك كَلًّا:

دنبی علیه السلام په خپل امت باندې شفقت:- بې یار اومددګار اولاد دلته دَ کلاً په نوم سره یادکړې دې. دې عظیم شفقت او محبت ته اوګورئی اوبیاپه نبی اکرم ﷺ باندې درود اووایئی. حضورپاك فرمائی چه څه دَ مړی دَ وارثانوده اوچه کوم بوج دې په هغې کښې به زه امدادکوم "سبحان الله" په امت باندې دَ شفقت انتهاء ده.

[۲۰۴۲] ترکه کښې اولنی حقداران

۳۰۴۲—[۳] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا ③ فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د ميراث حصې چې په قرآن کريم کې مقررې شوي دي) حصه دارو ته ورکړي، ③ بيا چې څه پاتې شي هغه د مړي د هغه مرد وارث (عصبه) حق دى چې د مړي د ټولو څخه زيات نږدې عزيز وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أَوْلَى: زيات نږدې، زيات حقدار.

تسهيلات: قوله: أَلحقوا الفرائض بِأَهْلِهَا:

داهل څخه مراد: - د أهل نه مراد ذوى الفروض دى چه په قرآن کښې دهغوى د حصو واضح بيان کړې شوې دې. د ذوى الفروض نه چه کوم مال بچ شو هغه د اقرب عصبات دې د نيزدې عصبه په موجودګۍ کښې به بعيدعصبه ته څه نه ملاويږي هغه حاجب دې

د رجل څخه روسته د ذکر په ذکرکولو د تکرار اعتراض: - د "رجل" ذکرکولو نه پس "ذَكَر" ذکرکول بې موقع دې ځکه چه رجل هم مذکر وى.

د اعتراض درې جوابونه: - ① د رجل اطلاق عموماً په بالغ سړى باندې کيږى حالانکه د میراث تعلق د ماشومانو بچوسره هم وى. د دې وهم لرې کولو دپاره د رجل نه پس د ذکر تاکيد او وضاحت اوکړې شو.

② دا لفظ صرف د تاکيد دپاره دې

③ د ذکر لفظ زياتولوسره د خنثى نه احتراز مقصود دې.

[۲۰۴۳] د اختلاف دين په وجه د ميراث څخه محروم ليدل

۳۰۴۳—[۳] (۲) ① وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ ③ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الفرائض/باب ميراث الولد من أبيه وأمه (رقم-۶۷۳۲) ومسلم في كتاب الفرائض/باب ألحقوا الفرائض بأهلها. فما بقى فلأولى رجل ذكر (رقم-۲ - (۱۶۱۵) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الفرائض/باب في ميراث العصبة (رقم-۲۸۹۸) والترمذى في كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في ميراث العصبة (رقم-۲۰۹۸)

۲) اخرجه البخارى في كتاب الفرائض/باب لا يرث المسلم الكافر ولا الكافر المسلم (رقم-۶۷۶۴) ومسلم في كتاب الفرائض (رقم-۱ - (۱۶۱۴) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الفرائض/باب هل يرث المسلم الكافر؟ (رقم-۲۹۰۹) والترمذى في كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إبطال الميراث بين المسلم والكافر (رقم-۲۱۰۷) وابن ماجه في كتاب الفرائض/باب ميراث أهل الإسلام من أهل الشرك (رقم-۲۷۲۹) ومالك في الموطا كتاب الفرائض/باب ميراث أهل الملل (رقم-۱۰) واحمد في المسند: ۲۰۹/۵

ترجمه: ① أسامه بن زید رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② نه خو مسلمان د کافر وارث دی ③ او نه کافر د مسلمان وارث دی. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ:

مسلمان او کافر په خپل مینځ کښې د میراث اوړلو حکم:- ① په اتفاق سره کافر دَ مسلمان وارث نشي جوړیدې اوددې په عکس چې مسلمان دکافرڅخه میراث یوسی نو ائمه اربعه اوجمهور علماء په نیز مسلمان هم دکافروارث کیدې نه شي لکه څنگه چه زیر بحث حدیث کښې دی چه نه کافر دَ مسلمان وارث کیدې شي اونه مسلمان دکافر وارث کیدې شي.

② حضرت معاذ رضي الله عنه اوحضرت معاویه رضي الله عنه او بعض تابعین لکه سعیدبن مسیب رحمه الله او ابراهیم نخعي رحمه الله په نیز مسلمان دَ کافر وارث کیدې شي زیر بحث حدیث دَ جمهورو دلیل دې.

د مرتد څخه د میراث اوړلو په حکم کښې مذاهب:-

① دَمرتد دَمال ده چه دَهغه وارث به څوك وي. نودَ امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز دَمرتد په حالت دَ اسلام کښې گټلې شوې ټول مال به بیت المال ته خي بیت المال دَهغه وارث دې.

② دَ صاحبینو دې چه کوم مال هم دَ مرتد وی که هغه ئی دَ اسلام په حالت کښې گټلې وی اوکه دَ ارتداد په حالت کښې گټلې وی ټول مال دَهغه دَ وارثانو حق دې.

③ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دې هغه فرمائی چه په حالت دَ اسلام کښې گټلې شوې مال دَ وارثانو دې اوپه حالت دَ ارتداد کښې گټلې شوې مال دَ بیت المال دې.

[۳۰٤٤] آزادونکی مالك د غلام د میراث مستحق کیدل

[۳۰۴۴]—[۴] (۱) ① وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د یو قوم آزاد کړي غلام د هغه قوم څخه دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① مَوْلَى: آزادونکې یا آزاد کړې شوې غلام دواړه مراد کیدې شي

تسهیلات: قوله: مَوْلَى الْقَوْمِ:

دمولی په اطلاق کښې دوه احتمالات:- دَ مولی اطلاق په آزادونکی باندې هم کیږی او په آزادکړې شوی غلام باندې هم کیږی

١) اخرجه البخاري في كتاب الفرائض /باب مولى القوم من أنفسهم. وابن الأخت منهم (رقم-٦٧٦١)

① دلته که چرته دَمولی نه معتق آقا مراد دي نودَ حديث مطلب به داشی چه آزادنکي سړي دَ خپل آزاد کړي شوی غلام وارث دي دا مسئله واضحه ده

② که چرې دَ مولی نه مراد آزاد کړي شوې غلام واخستې شی نودَ حديث مطلب به داشی چه کم قوم يوغلام آزاد کړو نودَ آزاد کړي شوی غلام حيثيت هم دَهغه قوم په شان کيږی که چرې آزادونکي سيد دي دَچا دَپاره چه صدقه اخستل حرام دی نوغلام هم دَ سيد په حکم کښې کيږی دهغه دَپاره به هم صدقه اخستل حرام وی

ه دويمې معنی ترجيح:- ملاعلی قاری رحمه الله او نورشراح دَدې حديث په تشريح کښې داسې ليکلی دی. اودَ حديث دَ سياق اوسباق اودَ الفاظو دَ اطلاق نه داسې محسوس کيږی چه دَدې حديث هم دا دويم مفهوم مقصود دې. چنانچه دې سره امت ته يوضابطه ملاوېږی په نورو احاديثو کښې دَدې حکم تفصيل هم دې

[۲۰۴۵] خوريڼی دَماما دَترکې وارث جوړيدو صورت

۲۰۴۵- [د] (۱) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «ابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۳] وَذُكِرَ حَدِيثُ عَائِشَةَ: "«إِنَّمَا الْوَلَاءُ» "فِي بَابٍ قَبْلَ بَابِ السَّلَمِ [۴] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ الْبَرَاءِ: "«الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ» "فِي بَابِ بُلُوغِ الصَّغِيرِ وَحَضَانَتِهِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه راوی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] د يو قوم خوريې د هغه قوم څخه دی. (بخاري مسلم) [۳] اودبی بی عائشی رضي الله عنها روايت ,إِنَّمَا الْوَلَاءُ الخ د باب السلم څخه په مخکې باب کی نقل شوی دی [۴] او د حضرت براء رضي الله عنه روايت الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ به انشاء الله په باب بلوغ الصغير وحضانته کی ذکر شی.

حل للغات:- ① الْوَلَاءُ: که يو کس خپل غلام آزاد کړل او بيا دغه غلام مړ شو نو دهغه څخه چې کوم ميراث پاتې شی هغې ته ولاء وائی ② الْخَالَةُ: ترور (د مور خور)، ③ وَحَضَانَتِهِ: دهغې تربيت، پرورش.

تسهيلات:

قوله: ابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ:

دمذکوره جملې مطلب:- دَقوم خور خو مور شوه اودَ هغې خوئی دَ دې قوم خوريڼی شو مطلب دا شو چه خوريڼی دَ خپل ماما وارث کيږی اودا خلق دَ ذوی الارحام نه دی. لهذا په دې سره ثابته شوه که چرې ذوی الفروض او عصبه معدوم وی نوبيا دَ مړی دَ ميراث حصه به ذوی الارحام ته ملاوېږی

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الفرائض/باب مولی القوم من أنفسهم، وابن الأخت منهم (رقم-۶۷۶۲) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب إعطاء المؤلفة قلوبهم علی الإسلام وتصبر من قوی إيمانه (رقم-۱۳۳ - (۱۰۵۹)

د ذوی الفروض او عصبه د عدم وجود په وخت کښې ذوی الارحامو ته د میراث په ملاویدو کښې مذاهب:-

① دَامام مالك رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله په نیزبه ذوی الارحام وارث نه شی جوړولې
② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله هم دغه مسلك دې
ددویم فریق دلائل - ① زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې
② دمشکاة حدیث نمبر(۳۰۵۲)د دوی مستدل دې په کوم کښې چې ((الخال وارث)) څخه استدلال کولې شی
③ دغه شان دَحضرت بریده رضی الله عنه حدیث نمبر(۳۰۵۶)هم د دوی مستدل دې ، کوم کښې چه اوذارحم الفاظ دی مستدل دې.
④ قرآن آیت ﴿وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ﴾ هم د دوی مستدل دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۰۴۶] دَمختلف ملتونو خلقو خپل مینځ کښې یوبل څخه د میراث اوړلو حکم

۳۰۴۶-[۱] (۱)[۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] «لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:[۱] حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل[۲] د دوو مختلفو ملتونو خلقو په منځ کې وراثت نه جاري کیږي، (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات:- ①شَتَّى:دَ شیّت جمع ده مختلف اومتفرق .

تسهیلات:

قوله: لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى:

د کافرانو خپل مینځ کښې د میراث اوړلو په حکم کښې مذاهب:-

یعنی دَ متفرق اومختلف مذاهب خلق دَ یوبل وارثان نه شی کیدې
① دَائمه ثلاثه په نیز دَمختلف مذاهب سره متعلق کافران دَ یوبل وارثان نه شی کیدې مثلاً یهود دَ عیسایانو وارثان نه شی کیدې اونه هندو دَهغوی وارثان کیدې شی.
② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه یهود اونصاری اوسیکان اوهندوان دَیوبل وارثان کیدې شی
داول فریق دلیل:- زیربحث حدیث د دوی مستدل دې

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الفرائض/باب هل یرث المسلم الکافر؟ (رقم-۲۹۱۱) وابن ماجه فی کتاب الفرائض/باب میراث أهل الإسلام من أهل الشرك (رقم-۲۷۳۱) واحمد فی المسند: ۱۹۵/۲

دویم فریق دلیل: - احناف دَ دوی مستدل دا حدیث دي «عن عمر رضي الله عنه قال المشركون بعضهم اولياء بعض لانرثهم ولا يرثونا» (رواه احمد)

قوله لَا يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ شَتَّى:

د ملتین ځخه مراد: - زیر بحث حدیث کښې "ملتین" نه مسلم او غیرمسلم دَ دوو ملتونو تعین مقصود دې تول ملتونه مراد نه دی لهذا دا حدیث دَ جمهورو نه بلکه زمونږ دلیل دې

۲۰۴۷-(۱) وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ جَابِرٍ.

ترجمه: امام ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا روایت حضرت جابر رضي الله عنه نقل کړي دی.

[۲۰۴۸] دقاتل دَمیراث ځخه محروم لیدل

۲۰۴۸-[۷] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] الْقَاتِلُ لَا يَرِثُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، [۲] قاتل د مقتول د میراث ځخه محروم دی ، (ترمذي ابن ماجه)

تسهیلات: قوله: الْقَاتِلُ لَا يَرِثُ:

د میراث ځخه د قاتل محرومه کیدل: - په دې کښې دَ اسلام لوئی حکمت پټ پروت دې چه قاتل دَ میراث نه محروم دې ګنی خلقو به خپل بوډاګان مورثان دَمیراث دَ وجې نه ډیر زر خانی ته رسول او قتل عام به شروع کیدو.

[۲۰۴۹] په ترکه کښې دَ نیا (جدة) شپږمه حصه

۲۰۴۹-[۸] (۳) [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] جَعَلَ لِلْجَدَّةِ السُّدُسَ إِذَا لَمْ تَكُنْ دُونَهَا أُمٌّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت بریده رضي الله عنه راوي دی [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د انا (جده) شپږمه مقرره کړي ده، هر کله چې مور هغه محجوبه نکړي (یعني د مړي مور موجود نه وي)، (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: جَعَلَ لِلْجَدَّةِ السُّدُسَ:

د جده ځخه مراد: - دَ جدة نه دلته دواړه نیاګاني مراد دي یعنی که دَ مړی مور ژوندی وی نونیاګانو ته به ئی هیڅ نه ملاویږی خو که مور ئی ژوندئی نه وه نو بیا به دَ مړی په میراث کښې

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب لا يتوارث أهل ملتين (رقم -۲۱۰۸)
۲) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إبطال ميراث القاتل (رقم-۲۱۰۹) وابن ماجه في كتاب الفرائض/باب ميراث القاتل (رقم-۲۷۳۵)
۳) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الفرائض/باب في الجدة (رقم -۲۸۹۵)

نیاته شپږمه حصه ملاویږي

[۲۰۵۰] د ژوندي پیداکیدونکي ماشوم د میراث حکم

۳۰۵۰-[۹] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] إِذَا اسْتَهَلَّ الصَّبِيُّ صُلِّيَ عَلَيْهِ وَوُرِّثَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] که وړوکی څه آواز وخکلي وی نو دهغه دجنازې مونځ دی کیږی او هغه دي وارث ګرځول کیږي، (ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: - ① اسْتَهَلَّ: آواز ئې اوویستلو

تسهیلات: قوله: اسْتَهَلَّ:

دماشوم د مرګ صورتونه: - ① ماشوم چه کله دَ پیدائش په وخت دَ ژړا آواز اوکړی هغې ته استهلال وائی دلته مراددَ ژوند څه علامت دې که ماشوم دَ پیداکیدوپه وخت ژوندې وو او بیا مړ شو، نه آواز اوکړی یا خپه لاس اوخوزه وی یا سا واخلی نوهغه ته به دَ قاعدې مطابق غسل ورکولې شی اودَهغه دَ جنازې مونځ به هم کولې شی اوهغه به دَ خپل مال مالك تصور کیږی. بیادَ مرګ نه پس به دَ قاعدې مطابق دَهغه میراث تقسیمیږی. مثلاً یوسړې مړشو دَهغه حامله ښځه پاتې شوه اوڅه ځامن اولونړه ترې پاتې شو کله چه دا ماشوم ژوندې راپیداشو نو پیداکیدوسره دې دَ خپل پلار په مال کښې نورو رونړو خوئیندوسره وارث جوړشو اوبیا مړشو. دَ مرګ نه پس به دَ هغه په خوئیندورونړو کښې دَهغه دَ میراث حصه تقسیمیږی. دغه شان دا ماشوم وارث هم جوړشو اومورث هم جوړشو ② که هم دغه ماشوم دَ پیدائش په وخت مړپیداشو نونه دې وارث جوړیدې شی اونه مورث جوړیدې شی دَ دې حدیث هم دغه مطلب دې

[۲۰۵۱] دَ اسلام دَ ابتدائی دور د میراث اوړلو یو حکم

۳۰۵۱-[۱۰] (۲) [۱] وَعَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ [۳] وَحَلِيفُ الْقَوْمِ مِنْهُمْ [۴] وَابْنُ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت کثیر ابن عبد الله د خپل پلار (حضرت عبد الله تابعي) او هغه د کثیر د نیکه یعنی د خپل پلار حضرت عمرو ابن عوف مزني صحابي رضي الله عنه څخه نقل کوي، چې هغه اوویل رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د یو قوم مولی د هغه قوم څخه دی، [۳] د یو قوم حلیف د هغه قوم څخه دی [۴] او د یو قوم خوریې د هغه قوم څخه دی، (دارمي)

حل اللغات: - ① حَلِيفُ: معاهده کونکې، ملګرې.

---

۱) اخرجه ابن ماجه فی کتاب الفرائض /باب إذا استهل المولود ورث (رقم- ۲۷۵۰)

۲) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۵۲۷

تسهيلات:

قوله مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْهُمْ:

دحليف مطلب:- دلته خبرې اترې حليف القوم منهم باندې دی ددې وضاحت دادې چه په عربوکښې دا رواج وو چه دوو کسانو به په خپل مينځ کښې په قسم باندې معاهده اومعاقده کوله چه مونږ دواړه به د يوبل په غم درد مرګ اوژوند کښې شريك يو يوسره جنګ به د بل سره جنګ ګڼرلې شی اود يوصلح به د بل صلح ګڼرلې شی هرقسم تاوان نقصان کښې به دواړه شريك وی اود يودمرګ نه پس به دويم دهغه په ميراث کښې وارثانوسره شريك وی

په اسلام کښې د حليف حکم:- دَ اسلام په شروع کښې دَ ميراث باره کښې حکم دا سې ووچه دَ يوبه مرګ به بل دَ هغه دَميراث وارث وو بيا چه کله دَ ميراث حکم او دَ ميراث دَتقسيم ضابطه قرآن کښې بيان کړې شوه نودَ حليف داحکم منسوخ شو اوپخوانې رواج اودستور هم ختم شو.

[۲۰۵۲] دوارث دعدم وجود په صورت کښې د خورئ ميراث اوړل

۳۰۵۳-[۱] (۱) ①وَعَنِ الْمِقْدَامِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ ③فَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيْعَةً فَإِلَيْنَا، ④وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ، ⑤وَأَنَا مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ أَرِثُ مَالَهُ وَأَفُكُّ عَانَهُ، ⑥وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَرِثُ مَالَهُ، وَيَفُكُّ عَانَهُ» ⑦وَفِي رِوَايَةٍ: وَأَنَا وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ أَعْقِلُ عَنْهُ وَأَرِثُهُ، ⑧وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ يَعْقِلُ عَنْهُ وَيَرِثُهُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت مقدام رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② زه د هر مؤمن په حق کې خپله د هغه څخه زيات عزيز او خير خواه يم، ③ کوم سړی چې په خپله ذمه عيال يا قرض پريږدي. نو د هغه د قرض آدائيګی او د هغه د عيال پرورش زما په ذمه دی. ④ او کوم سړی چې د مال پريښودلو سره مړ شي، نو هغه د هغه د وارثانو دی ⑤ او زه د هغه سړي کار ساز (يعني منتظم) يم، چې د هغه څوك کار ساز نه وي، نو زه د هغه د مال وارث کېږم، او د هغه قيدي ته نجات ورکوم (يعني د هغه په ژوند کې په هغه چې کومه خون بها لازمه شوي وه او هغه د خون بها د ادا کولو څخه مخکې مړ شو نو په دي وجه د هغه نفس په عالم برزخ کې د يو قيدي په شان په سختيو کې مبتلا دی څکه زه د هغه خون بها د خپل طرف څخه ادا کولو سره هغه ته نجات ورکوم) ⑥ او ماما د هغه سړي وارث دی چې د هغه هيڅوك وارث نه وي، هغه د مړي ميراث پيدا کوي او هغه قيدی ته نجات ورکوي (يعني د

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الفرائض/باب فی ميراث ذوی الأرحام (رقم-۲۹۰۰) وابن ماجه فی كتاب الفرائض/باب ذوی الأرحام (رقم-۲۷۳۸)

کوم سړی چې ذوی الفروض او عصبي وارث نه وي د هغه ماما چې د هغه د ذوی الارحام څخه دی د هغه وارث کېږي، نو هغه د مړي ترکه پيدا کوي، او په هغه چې کومه خون بها وغيره لازم وه هغه اداکولو سره د هغه روح ته د عالم برزخ د عذاب څخه نجات ورکوي [۷] او په يو دويم روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل زه د هغه سړي وارث يم چې د هغه هيڅوك وارث نه وي، نو زه د هغه د طرف څخه د هغه خون بها ادا کوم او د هغه وارث جوړېږم (يعني د هغه ترکه په خپله نګراني کې اخستلو سره په بيت المال کې داخلوم) [۸] او د کوم سړي چې (د ذوي الفروض او عصبات څخه) هيڅوك وارث نه وي نو (د ذوی الارحام څخه) د هغه ماما د هغه وارث کېږي چې د هغه د طرف څخه خون بها اداکوي او د هغه ميراث حاصلوي. (ابوداؤد)

حل للغات: - ① أَوْلَى: زيات نزدې، زيات حقدار، ② ضَيْعَةً: عيال، بال بچ، ③ مَوْلَى: سرپرست، کارساز او انتظام کونکي، ④ أَرِثُ: وارث کيږم، ⑤ وَأَفُكُّ: فکاك بدله ورکول د يو قيدي خلاصول. ⑥ عَانَهُ: عان: نه قيدی او د بوج لاندې ګيرشوي سړي مراددي ⑦ أَعْقِلُ: خون بها، ديت اداکوم

تسهيلات:

قوله: وَالْخَالُ وَارِثٌ:

د ذوالارحام د ميراث اوړاودليل: - داحديث د احناف اوحنابله دليل دي که د يوسړی د وارثانونه څوك ذوی الفروض وی نه عصبه وی نوبيا د ذوی الارحام ماما وارث جوړيدې شي

قوله: أَرِثُ مَالَهُ:

د مذکوره جملې مفهوم: - دي نه دامراد نه دې چه د حضورپاك د دغه مال وارث به جوړيږی څکه چه انبياء د چا وارثان نه وی بلکه مراددادې چه زه به دا په بيت المال کښې ايږدم

[۲۰۵۲] د ښځې د درې کسانو څخه ميراث اوړل

۲۰۵۲-[۳] (۱) [۱] وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «تَحُوزُ الْمَرْأَةُ ثَلَاثَ مَوَارِيثَ: [۳] عَتِيقَهَا وَلَقِيطَهَا وَوَلَدَهَا الَّذِي لَاعَنَتْ عَنْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت واثله ابن اسقع رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ښځه د درېو سړو ميراث اخلي. [۳] يو د خپل آزاد کړي غلام، دويم د خپل لقيط، او دريم د خپل هغه وړوکی چې د هغه په وجه ښځې دخاوندسره لعان کړي وی. (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الفرائض/باب ميراث ابن الملاعنة (رقم-۲۹۰۶) والترمذی فی کتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يرث النساء من الولاء (رقم-۲۱۱۵) وابن ماجه فی کتاب الفرائض/باب تحرز المرأة ثلاث مواريث (رقم-۲۷٤۲) واحمد في المسند: ۳/٤۹۰

حل اللغات: - ①تَحُوزُ: دَ حاز یحوز نه دي، جمع کول او یوځائی کول. حاصلول ②عَتِیقَهَا: خپل آزاد کړي غلام. ③لَقِیطَهَا: دخپل لقیط. لقیط د بل چا غورزولي ماشوم. ④لَاعَنَتْ: چه لعان ئې کړي دي (لعان یعنی دښځې خاوند یوبل باندې لعنت کول د زنا د تهمت په وجه)

تسهیلات:

قوله: عَتِیقَهَا:

د آزاد کړی غلام میراث مالک ته ملاویدل:- یعنی دَخپل آزادکړي شوی غلام میراث اخلی لکه څنګه چه دَ ضابطه لاندې هرسړي دَخپل آزاد کړي شوی غلام میراث او ولاَ حقداروی

قوله: وَلَقِیطَهَا:

د لقیط د میراث حکم:- یعنی ښځه دَ خپل لقیط میراث اخلی دَ لقیط نه مراد هغه نامعلومه بچي دي چاچه چرته غورزولي وی اویوښځې ته ملاؤ شی اوښځې هغه اوچت کړو او په هغه باندې خرچ اوکړو دا ماشوم لوئی شو بیا مړشو دَ هغه میراث به هم دغه ښځې ته ملاویږی چاچه دې پاللي دي.

د لقیط د میراث په حکم کښې اختلاف:- ① په زیربحث حدیث کښې هم دغه حکم دې او دَ اسحاق بن راهویه رحمه الله مسلك هم دغه دي.

②نور علماء فرمائی چه داحکم هم منسوخ شوي دې ځکه چه په یوحدیث کښې دی ((لاولاء لها الاولاء العتاقة)).

یوبنکلي تطبیق:- قاضی عیاض فرمائی چه دادَ لقیط مال به بیت المال ته ځی نودا ښځه ډیره حقدار ده چه دَ بیت المال نه دَ لقیط مال هم دې ته ملاؤ شی دَدې مفهوم په اعتبارسره به دا حدیث منسوخ نه شی

قوله: لَاعَنَتْ عَنْهُ:

په څېله ښځه د زنا تهمت لګولو یو صورت:- یعنی خاوندخپلې ښځې ته اووئیل چه دا بچي کوم چه تانه پیدا دي دا زما څخه نه دې پیدا شوي دَدې جملې په ضمن کښې په دې ښځه باندې دَ زنا بهتان دې چونکه ګواه نشته نو ښځه خاوند به لعان کوی دَ لعان کولونه پس به ښځه اوخاوندَ همیشه پاره جدا شی اوهغه بچي به ښځې سره وی

د ذکرشوی بچي د میراث حکم:- دا ماشوم چه کله لوئی او مال اوګټی اومړشی نودَ ده مور به دَ ده وارثه وی ځکه چه دَهغه نسب ثابت دې او میراث دَ نسب تابع دې. دغه شان یوه ښځه دَ دریو ځایونو نه میراث رایوځائی کولې شی. باقی دَ لعان تفصیل په باب اللعان کښې ذکر شوې دي.

[۲۰۵٤] د ولد زنا د میراث حکم

۳۰۵۰-[۳] (۱) ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۲ قَالَ «أَيُّمَا رَجُلٍ عَاهَرَ بِحُرَّةٍ أَوْ أَمَةٍ ۳ فَالْوَلَدُ وَلَدُ زِنًا لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن شعیب رحمه الله د خپل پلار شعیب رحمه الله، او شعیب د خپل نیکه څخه نقل کوي ۲ چې رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړی چې د ښوې آزادې ښځې یا وینځې سره زنا وکړي. ۳ او د هغه په نتیجه کې چې کوم وړوکی پیدا شي هغه ته به ولد الزنا (حرامي وړوکی) ویل کیږي هغه وړوکی به نه د چا وارث وي او نه به د هغه میراث چا ته حاصلیږي، ترمذی

حل اللغات - ۱ عَاهَرَ: زنا ئې اوکړه،

تسهیلات:

قوله: لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ:

د ولد زنا د میراث څخه محرومتیا- یعنی ولد الزنا ماشوم نه د خپل پلار وارث کیدي شي او نه پلار د هغه وارث کیدي شي ځکه چه د کوم پلار نه دې پیدا شوې دې هغه د ده پلار نه دې یعنی شرعی نسب ثابت نه دې او میراث د نسب تابع دې لهذا هیڅ میراث ئې نشته دې او د ولد الزنا نسب چونکه د خپلې مور نه ثابت دې لهذا مور به د ده وارثه وي او دې به د هغې وارث وي

[۲۰۵۵] د آزاد شوي غلام میراث

۳۰۵۱-[۳] (۲) ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ «أَنَّ مَوْلًى لِرَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۲ مَاتَ وَتَرَكَ شَيْئًا وَلَمْ يَدَعْ حَمِيمًا وَلَا وَلَدًا ۳ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَعْطُوا مِيرَاثَهُ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ قَرْيَتِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې د رسول الله ﷺ يو آزاد کړي غلام مړ شو ۲ او هغه څه مال پرې ښوو، ليکن نه خو هغه يو رشته دار پرېښودی او نه فرزند (څوی)، چې د هغه د ترکه وارث شوی وی. ۳ نو رسول الله ﷺ وفرمایل چې د هغه پرېښی مال د هغه د کلی يو سړي ته ورکړيی. (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات - ۱ لَمْ يَدَعْ: نه ئې پريخودي. ۲ حَمِيمًا: رشته دار.

---

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إبطال ميراث ولد الزنا (رقم-۲۱۱۳) وابن ماجه في كتاب الفرائض/باب في ادعاء الولد (رقم-۲۷٤٥)

۲) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الفرائض/باب في ميراث ذوي الأرحام (رقم-۲۹۰۲) وابن ماجه في كتاب الفرائض/باب ميراث الولاء (رقم-۲۷۳۳)

تسهیلات: قوله مِنْ أَهْلِ قَرْيَتِهِ:

د پیغمبره آزاد کړی غلام د میراث حکم:- یعنی د ده د کلی په خلقو کښې چه څوك فقیر وی یا ده سره نیزدې وی هغه ته د دغه غلام پریخودې شوې مال ورکړنی قاعده خو هم هغه ده چه د آزاد کړې شوی غلام میراث به د هغه آزادونکی آقا ته ملاوېږی که چرې څوك عصبه ئې نه وی لیکن د انبیاء کرام علیهم السلام دپاره میراث اخستل جائز نه دی په دې وجه حضورپاك اوفرمائیل چه دا مال د ده د کلی یوغریب ته ورکړنی

[۲۰۵٦] ذوارث دعدم وجود په صورت کښې د میراث حکم

۳۰۵۲–[٥] (۱) [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: «مَاتَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ [۲] فَأُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمِيرَاثِهِ [۳] فَقَالَ: الْتَمِسُوا لَهُ وَارِثًا أَوْ ذَا رَحِمٍ. [۴] فَلَمْ يَجِدُوا لَهُ وَارِثًا وَلَا ذَا رَحِمٍ. [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : أَعْطُوهُ الْكُبْرَ مِنْ خُزَاعَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ: انْظُرُوا أَكْبَرَ رَجُلٍ مِنْ خُزَاعَةَ.

ترجمه: [۱] او حضرت بریده ﷺ وایې چې د قبیله خزاعه یو سړی مړ شو نو [۲] د هغه میراث رسول الله ﷺ ته راوړل شو، [۳] حضور ﷺ وفرمایل چې د ده یو وارث ولټوی یعني اول خو د ذوي الفروض او عصبات څخه څوك وارث تلاش کړي، که په هغوئ کې څوك وارث پیدا نشو نو) خواه څوك ذي رحم دي وارث شي (د تلاش څخه وروسته) [۴] نه خو په ذوی الفروض او عصبات کي) یو وارث پیدا شو، او نه په ذي رحم کي. [۵] خکه رسول الله ﷺ وفرمایل چې د ده میراث د قبیله خزاعه یو ډیر بوډا ته ورکړي. (ابوداؤد) او د ابوداود په یو روایت کې داسې دی چې حضور ﷺ وفرمایل د قبیله خزاعه یو ډیر لوی بوډا شری وګوري (او هغه ته دا میراث ورکړي)

حل اللغات:- ① اِلْتَمِسُوا: اولټوئ، تلاش کړئ، ② ذَا رَحِمٍ: ذوی الارحام، ③ الْكُبْرَ: مشر، بوډا،

تسهیلات: قوله: أَوْ ذَا رَحِمٍ:

ذوالارحامو ته د میراث ملاویدو دلیل:- ددې نه په واضحه توګه ثابتیږی که د چاوارث ذوی الفروض یا عصبه کښې نه وی نو ذوی الارحام نه به چاته میراث ورکولې شی اوهم دغه د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك دي

قوله: الْكُبْرَ:

بوډا ته د ورکولو په حکم کښې دوه وجوهات:-

① یعنی دهغه په قوم کښې د ټولو نه بوډا سړی ته د هغه مال ورکړنی ددې وجه داده چه سړې څومره بوډاوی هم دومره به هغه د مری پلار نیکه ته په خپلوئی کښې نیزدې وی او په میراث کښې به اقرب فالاقرب ته ترجیح ورکولې شی

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الفرائض /باب فی میراث ذوی الأرحام (رقم-۲۹۰۴) واحمد فی المسند: ۳٤۷/٥

⑥ دا مال اول دَ بيت المال په مصرف کښې راځی ليکن بيت المال دَ مړی دَ قوم دا سې سرې لتوی چه دَدغه مال دَ تولونه زيات مستحق وی اودَ ورانديې نه دَ بيت المال مصرف وی په دې وجه بوډا ته ترجيح ورکولې شی

[۲۰۵۷] په وصيت باندې د قرض ادا کولو تقديم

۳۰۵۷—[۲] (۱) ① وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: «إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الْآيَةَ ﴿مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ﴾ [النساء: ۱۲] ② وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَضَى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ ③ وَأَنَّ أَعْيَانَ بَنِي الْأُمِّ يَتَوَارَثُونَ دُونَ بَنِي الْعَلَّاتِ ④ الرَّجُلُ يَرِثُ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ دُونَ أَخِيهِ لِأَبِيهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او د حضرت علي رضي الله عنه څخه منقول دی چې (يوه ورځ) هغه (خلقو ته) اوويل چې تاسو دا آيت وايئ: مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ، ② خو رسول الله ﷺ د وصيت پوره کولو څخه مخکې د قرض د ادا کولو حکم کړې دی، ③ او دا حکم يې هم فرمايلی دی چې حقيقي ورونه وارث وي، نه چې ميرني ورونه (يعني د حقيقي ورونو په موجودګی کې ميرني ورونو ته هيڅ نه رسيږي) ④ او دا چې سړی د خپل حقيقي ورور وارث وي نه چې د ميرني ورور (دا جمله د مخکې د تاکيد په طور استعمال شوي ده) (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: - ① أَعْيَانَ: حقيقی رونړه، ② بَنِي الْأُمِّ: مورشريک رونړه خويندې، ③ بَنِي الْعَلَّاتِ: ميرنی رونړه، (مور ني يوه وی پلار ني بدل بدل وی)، ④ أَخِيهِ لِأَبِيهِ: پلار شريک رونړه.

① وَفِي رِوَايَةِ الدَّارِمِيِّ قَالَ: ② «الْإِخْوَةُ مِنَ الْأُمِّ يَتَوَارَثُونَ دُونَ بَنِي الْعَلَّاتِ إِلَخْ».

ترجمه: ① او د دارمي په روايت کې داسې دی ② چې حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل هغه ورونه چې په مور کې هم شريك وي (يعني په پلار او مور دواړو کې شريك وي چې هغوی ته حقيقي ورونه وايي) وارث وي، چې هغه ورونه چې يواځی په پلار کې شريك وي (يعني ميرني ورونه) د مخکې حديث هغه الفاظ دي کوم چې پورته نقل شو

حل اللغات: - ⑤ الْإِخْوَةُ مِنَ الْأُمِّ: مور شريک رونړه حقيقی رونړه.

تسهيلات: قوله: هَذِهِ الْآيَةَ:

مشار اليه آيت: - دَدې آيت نه مراد ﴿ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ ﴾ دې دَحضرت علی رضي الله عنه مقصد يوه خدشه لرې کول وو خدشه داوه چه دَ قرآن کريم په آيت کښې وصيت پوره کول مقدم دی حالانکه دَ نبی کريم ﷺ دَ فعل نه ثابتيږی چه حضورپاك دَ قرض ادا کول په وصيت باندې مقدم کړی دی دا په ظاهره دَ قرآن پاك په حکم او دَ رسول الله ﷺ په فعل کښې تضاد دې حضرت علی رضي الله عنه هم دَ دغه خدشه دَ لرې کولو دپاره تنبيه فرمائی چه دَ

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفرائض عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی ميراث الإخوة من الأب والأم (رقم-۲۰۹۵) وابن ماجه فی کتاب الفرائض/باب ميراث العصبة (رقم-۲۷۳۹) واحمد فی المسند: ۱/ ۱۴

آيت په الفاظو كښې وصيت مقدم دې ليكن په حكم كښې د قرض اداكول مقدم دى نو هيڅ تضاد نشته دې

د وصيت د تقديم وجه:- علماؤ ليكلى دى چه وصيت مقدم ځكه ذكر كړې شو چه دې نه خلق انكار كوى ځكه چه د هغې څوك طالب متعين نه وى مګر قرض داسې يو څيز دې چه ددې په انسانانو كښې غوښتونكې وى چه دهغه دباؤ راځى نو انكاركول آسان نه وى هم ددې اهتمام په وجه وصيت مقدم كړې دې

قوله أَعْيَانَ بَنِي الْأُمِّ:

د خويندواو رونړو دپاره درې اصطلاحات - د خور او رونړو دپاره درې اصطلاحى الفاظ د ميراث په بحث كښې راځى

① بنوالاعيان" يعنى سكه رور چه په موريلار دواړو كښې شريك وى

② "علاتي" رور چه صرف پلارئى شريك وى مئيندې ئى جدا جدا وى

③ اخيافى رور چه صرف په مور كښې شريك وى پلاران ئى جدا جدا وى

يعنى ① عينى ② علاتى ③ اخيافى.

[۲۰۵۸]دميراث دآيت شان نزول

۲۰۵۸-[۷] (۱)[۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: «جَاءَتِ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۲] فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَاتَانِ ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ قُتِلَ أَبُوهُمَا مَعَكَ يَوْمَ أُحُدٍ شَهِيدًا [۳] وَإِنَّ عَمَّهُمَا أَخَذَ مَالَهُمَا وَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا [۴] وَلَا تُنْكَحَانِ إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ. قَالَ: يَقْضِي اللّٰهُ فِي ذَلِكَ،

ترجمه:[۱] او حضرت جابر ﷛ وايې چې (يوه ورځ) د حضرت سعد بن ربيع ﷛ ښځې خپلې دواړې لونړې چې د حضرت سعد ابن ربيع ﷛ ځخه وې په اخستو سره د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضرى شوى،[۲] او عرض يې وكړې چې يا رسول الله! ﷺ دا دواړې لونړې د سعد ابن ربيع ﷛ دى، د دوى پلار چې غزوه احد كې ستاسو سره ملګرى وو په ميدانِ جنګ كې شهيد شوى دى.[۳] او د هغه مال د دوى تره آخستلو دى (يعنې د دوى د پلار تركه چې د دې لونړو رسيده. هغه د زمانۀ جاهليت د رسم مطابق د سعد ورور واخستې ده) او د دوى د پاره يې هيڅ مال نه دى پريښى،[۴] اوس د څو پورې چې د دوى سره مال نه وې د دوى سره د نكاح كولو د پاره هيڅوك نه تياريږي، حضور ﷺ ورته وفرمايل چې (د لږ ورځو د پاره صبر وكړې) د دې لونړو معامله به الله ﷻ فيصله كړي (يعنې د دوى په باره كې چې څه وحې نازله شي نو فيصله به وشي) نو (څو ورځې وروسته)

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الفرائض/باب ما جاء فى ميراث الصلب (رقم-۲۸۹۲) والترمذى فى كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ميراث البنات (رقم-۲۰۹۲) وابن ما جه فى كتاب الفرائض/باب فرائض الصلب (رقم-۲۷۲۰) واحمد فى المسند: ۳۵۲/۳

... فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ[۲] فَبَعَثَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى عَمِّهِمَا[۳] فَقَالَ: أَعْطِ لِابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ، وَأَعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ،[۴] وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] آیت میراث یعنی یوصیکم الله في أولادکم الخ، نازل شو. [۲] نو حضور ﷺ یو خوك د هغه لونړو تره ته ولیږلی (راغوښتلو سره)، بیا [۳] ورته اوویل چې د سعد رضي الله عنه لونړو ته د سعد رضي الله عنه د ترکه څخه ثلثین ۳/۲ او د دوئ مور ته اتمه حصه ورکړه [۴] او څه چې باقي پاتې شو هغه ستا دی، (احمد ترمذي ابوداود ابن ماجه) او امام ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث حسن غریب دی

تسهیلات:

قوله سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ:

په عهد جاهلیت کښې د زنانوه میراث څخه محرومتیا:- دَ جاهلیت په زمانه کښې به یوې ښځې ته دَ میراث حصه بالکل نه ورکولې کیده. دغه شان دَ یتیمانانو ماشومانو حق هم په میراث کښې نه وو بلکه دَمړی رور تره او دَ جنګ قابل خپلوان به راتلل اومال به ئې اوړلو اوجینکئی کونډې او ښځې به محروم پاتې کیدلې. اسلام دا قبیح رسم ختم کړو

زنانوته د میراث ورکولو د حکم نزول:- اولنئی واقعه داسې پیښه شوه چه دَحضرت سعد بن ربیع رضي الله عنه ښځه راغله اودَ حضورپاك په مخکښې ئې شکایت اوکړوچه دَ سعد رضي الله عنه دا ماشومانې لونړه دی دَدوی پلار په میدان احد کښې جهاد کولوسره شهید شوې دې دَ دوی ترکه اومیراث وغیره ټول دَدوی تربورانو وغیره یوړلو اوس به دې جینکوسره نکاح څوك کوی اودَ دوی دَ واده کولو به څه کیږی؟ حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو چه الله تعالی به دَدې باره کښې فیصله اوکړی چنانچه دَ قرآن پاك آیت نازل شو اودَمړی دَمال دَ تقسیم حکم ئې ورکړو حضورپاك داسې تقسیم اوکړو چه دَ سعد دوو لونړو ته به دَ پوره مال دوه ثلث ملاویږی اودَ جینکومور یعنی دَ سعد ښځې ته به دَ مال ثمن ملاویږی دې نه پس چه کوم بچ شی هغه په توګه دَ عصبه دَ رور حصه ده. دَ تقسیم صورت داسې دې

مسئله ۲۴ سعد

اخ	زوجه	بنت	بنت
عصبه	ثمن	ثلث	ثلث
۵	۳	۸	۸

[۲۰۵۹] د لولی عالم په موجودگئی کښې د وروکی عالم څخه تپوس نه کول

۳۰۵۰-[۸] (۱) ۱ وَعَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ قَالَ: ۲ «سُئِلَ أَبُو مُوسَى عَنِ ابْنَةٍ وَبِنْتِ ابْنٍ وَأُخْتٍ. ۳ فَقَالَ: لِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَلِلْأُخْتِ النِّصْفُ ۴ وَأْتِ ابْنَ مَسْعُودٍ فَسَيُتَابِعُنِي. ۵ فَسُئِلَ ابْنُ مَسْعُودٍ وَأُخْبِرَ بِقَوْلِ أَبِي مُوسَى، ۶ فَقَالَ: لَقَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ أَقْضِي فِيهَا بِمَا قَضَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ۱ او حضرت هزيـل ابـن شـرحبيل (تـابعي) رحمه الله وايـي ۲ چې د حضرت ابوموسى (صحابي) رضي الله عنه څخه دا پوښتنه وشوه چې (مثلاً زيد مړ شو او د هغه په وارثانو کې) يوه لور، يوه نوسي او يوه خور ده (نو د زيد ميراث به څنگه تقسيمول کيږي)؟ ۳ حضرت ابوموسى رضي الله عنه جواب ورکړي، چې (د زيد رضي الله عنه ترکه) نيمه به لورته، او نيمه به خورته ورکول کيږي (نوسي به محرومه وي) ۴ بيا حضرت ابوموسى رضي الله عنه پوښتنه کونکي ته اوويل چې حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه ته ورشه (او د هغه څخه هم دا مسئله وپوښته هغه به هم زما دي جواب سره اتفاق وکړي (يعني د دې مسئلې چې کوم جواب ما درکړي دي، دا جواب به هغه هم درکړي) ۵ نو د حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه څخه هم دا مسئله وپوښتل شوه، او هغه کوم جواب چې حضرت ابوموسى رضي الله عنه ورکړي وو هغه هم هغه ته وښودل شو، ۶ حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه (مسئله او د حضرت ابو موسى رضي الله عنه جواب اوريدو سره) اوويل چې په داسې صورت کې (يعني ابوموسى رضي الله عنه چې کومه فتوى ورکړي ده که هغه فتوى زه درکړم نو) زه به گمراه گڼلى شم، او خان به د هدايت په لاره پيدا نه کم. ۷ په دې مسئله کې به زه هغه فيصله کوم کومه چې د رسول الله ﷺ د حکم مطابق ده او هغه دا ده

حل اللغات:- ① ضَلَلْتُ: زه به گمراه گڼرلي شم،

۱ لِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَلِابْنَةِ الِابْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ ۲ وَمَا بَقِيَ فَلِلْأُخْتِ. ۳ فَأَتَيْنَا أَبَا مُوسَى فَأَخْبَرْنَاهُ بِقَوْلِ ابْنِ مَسْعُودٍ ۴ فَقَالَ: لَا تَسْأَلُونِي مَادَامَ هَذَا الْحَبْرُ فِيكُمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ چې لور ته به نيمه ورکول کيږي او د ثلثين ۲/۳ د پوره کولو د پاره نوسى ته به شپږمه حصه حاصليږي (يعني د مړي د ترکې څخه دوه يا د دوه څخه زيات لونو ته دوه دريمې حاصليږي، اوس خو لور يوه ده او هغه ته نيمه حصه حاصله شويده. نو نوسى ته به شپږمه حصه ورکولو سره ۲/۳ پوره کولى شي) ۲ او څه چې باقي پاتې شي (يعني ۱/۳) هغه د خور ده (يعني په دې حديث کې د لوراو نوسى په موجودگئ کې خور د عصبه گرځولو مطابق خور عصبه کيدو سره باقيمانده ترکه به اخلي او د اکثرو علماؤ دا مسلك

---

۱) اخرجه البخاري فى كتاب الفرائض/باب ميراث ابنة الابن مع بنت (رقم-۶۷۳۶) والترمذي فى كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ميراث ابنة الابن مع ابنة الصلب (رقم-۲۰۹۳) وابن ماجه فى كتاب الفرائض/باب فرائض الصلب (رقم-۲۷۲۱) واحمد فى المسند: ۳۸۹/۱

دی. راوي وایي چې (د حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ د جواب اوریدو سره)[۳] موږ حضرت ابوموسی ﷺ ته راغلو او هغه مو د حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ د جواب څخه خبر کړی[۴] نو حضرت ابوموسی ﷺ وفرمایل چې (ماته د خپلې غلطۍ اعتراف دی. ځکه چې ابن مسعود ﷺ چې کومه فتوی ورکړیده هغه صحیح او حق ده نو) د څو پورې چې په تاسو کې دا عالم (یعني ابن مسعود ﷺ) موجود وی زما څخه یو مسئله مه پوښتی. (بخاري)

حل اللغات: -② الحَبْر: عالم.

تسهیلات: قوله: فَبِئْنَا بِعُنِي:

د میراث په مسئله کښې د ابوموسی اشعري احتیاط: - دَحضرت ابوموسی اشعری ﷺ نه چا دَمړی دَ لور نمسئی او خور دَ میراث دَ مسئلې تپوس اوکړو هغوی اوخودله لیکن دا تاکیدئی ورته اوکړوچه زمانه پس لاړشه اودَدې مسئلې دَ ابن مسعود ﷺ نه هم معلومات اوکړه اوبیا راشه ماته هم اوښایه. نیزدې ده چه هغه به هم په دې مسئله کښې زما په شان اوښائی کله چه دا سړې هلته لاړو او پوره قصه ئی بیان کړه نوحضرت ابن مسعود ﷺ اوفرمائیل که چرې په دې مسئله کښې دَهغه تابعداری ما اوکړه نوزه به گمراه شم

دابوموسی د مسئلې صورت: - مسئله داسې ده حضرت ابوموسی اشعری ﷺ چه کومه مسئله خودلې وه هغه داسې وه چه دَ یوې لور حصه نصف مال اودَ یوې خور حصه نصف مال اونمسئی محروم دا غلطه وه دَ هغې نقشه دا وه:

مسئله ۴

بنت الابن	اخت	بنت
محروم	نصف	نصف
x	۲	۲

داځکه غلطه وه چه هغه دَ لوردَپاره نمسئی حاجب جوړه کړه حالانکه دا حاجب نه ده.

په مذکوره مسئله کښې ابن مسعود فتوی: -

اصل مسئله داسې ده دکوم فتویٰ چه حضرت ابن مسعود ﷺ ورکړه.

مسئله ۶

بنت الابن	اخت	بنت
عصبه	سدس	نصف
۲	۱	۳

د ابوموسی اشعری ﷺ کمال عاجزی: - دَدې صحیح جواب اطلاع چه کله حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ته اوشوه نوهغوی دا ښکلې جمله اوفرمائیله "لاتسألوني مادام هذا

الحبرفيكم" يعنى تركومې پورې چه دَ ابن مسعود ﷺ په شان اوچت شان والا عالم موجود وى تاسو مانه هيڅ كله دَمسئلې تپوس مه كوئ

د يوې قاعدې استنباط:- په دې جواب سره دا ضابطه حاصله شوه چه كله لوئى عالم موجود وى وروكى عالم ته نه مسئله خودل پكاردى اومه خلق دَهغه طرف ته راغب كول پكاردى هم دې نه تقليد شخصى ثابتيږى اودې نه دا هم معلومه شوه "الدين كله ادب" مگر افسوس نن صبا معامله اولټه شوې ده

[٢٠٦٠]په ميراث كښې دَ نيكه (جد) حصه

٢٠٦٠-[١٩] (١)[١] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ:[٢] «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَقَالَ: إِنَّ ابْنَ ابْنِي مَاتَ فَمَا لِي مِنْ مِيرَاثِهِ؟[٤] قَالَ: لَكَ السُّدُسُ،[٥] فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ قَالَ:[٦] لَكَ سُدُسٌ آخَرُ[٧] فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ قَالَ: إِنَّ السُّدُسَ الْآخَرَ طُعْمَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه:[١] او حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه وايي [٢]چې يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو[٣] او عرض يې وكړي چې زما نوسى مړ شوى دى، د هغه په تركه كې به ماته څومره حاصليږي ؟[٤] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې شپږمه حصه (دا جواب اوريدو سره)[٥] چې هغه واپس لاړل نو حضور ﷺ راوغوښتلو[٦] او ورته يې وفرمايل چې تاته به شپږمه حصه نوره حاصليږي ،[٧] ز بيا چې هغه واپس لاړل نو حضور ﷺ راوبللو او ورته يې وفرمايل چې دا آخرى شپږمه حصه ستا رزق دى، (احمد ترمذي ابوداود) او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دى.

حل اللغات:- ①وَلَّى: واپس شو، ②طُعْمَةٌ: طعام، رزق.

تسهيلات: قوله: إِنَّ السُّدُسَ الْآخَرَ:

صورت د مسئلې:- دَمسئلې نوعيت داسې ووچه يوسړې مړشو هغه په تركه كښې مال پريخودو اوپه وارثانوكښې ئې دوه لونړه پريخودې او يوئى نيكه پاتې شو دَ حضورپاك نه هم دغه نيكه دَخپل ميراث دَمسئلې تپوس اوكړو حضورپاك اوفرمائيل چه تاته به يو ثلث ملاويږى. دا سړې لاړو بيا حضورپاك راؤغوښتو ورته ئې اوفرمائيل تاته به يوسدس ملاويږى. دا سړې لاړو بيا حضورپاك راؤغوښتو اوونى فرمائيل دويم سدس ملاؤ شودا په توگه دَعصبه دې چونكه دا سړې دَ ذوى الفروض څخه وو نوده ته دَمړى پلار نه كيدو په وجه يوسدس مال ملاؤ شو حضورپاك ده ته دوباره يو سدس وركړو دا په توگه دَعصبه وو

---

١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الفرائض/باب ما جاء فى ميراث الجد (رقم-٢٨٩٦) والترمذى فى كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ميراث الجد (رقم-٢٠٩٩)

حضورپاك جدا جدا څکه ورکړه چه دې دا اونه ګڼري چه په دوه سدس میراث کښې دَ هغه حصه په توګه دَ ذوی الفروض ده په دې وجه ئې هغه ته په زبانی توګه باندې اوخودل چه دا آخری سدس دَ عصبه په توګه دې دمسئلې صورت داسې دې

مسئله ۶ .

جدبالفروض والعصبه	بنت	بنت
دو سدس	ثلث	ثلث
۲	۲	۲

[۳۰٦۱]په میراث کښې دَ جده حصه

۳۰۰۳—[۲۰] (۱) [۱]وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ قَالَ: [۲]«جَاءَتِ الْجَدَّةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا. [۳]فَقَالَ لَهَا: مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللهِ شَيْءٌ وَمَا لَكِ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - شَيْءٌ [٤]فَارْجِعِي حَتَّى أَسْأَلَ النَّاسَ، [٥]فَسَأَلَ فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ: حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَعْطَاهَا السُّدُسَ. [٦]فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: هَلْ مَعَكَ غَيْرُكَ؟

ترجمه: [۱]او حضرت قبیصه ابن ذویب ﷺ وایي [۲]چې (د یو متوفي سړي) جده د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او هغه ته یې د خپل میراث په ورکولو مطالبه وکړه. [۳]حضرت ابوبکر ﷺ هغه ته وفرمایل چې په کتاب الله کې ستا د پاره هیڅ حصه مقرر نه ده او نه په سنت د رسول الله ﷺ کې ستا د پاره څه حصه مقرره شویده، یعنی ما ته چې کوم حدیثونه یاد دي په هغه کې په هیڅ حدیث کې د انا څه ذکر نشته [٤]حکه اوس ته واپس ولاړه شه. زه به د خلقو (علماء صحابه ﷺ) څخه پوښتنه وکړم شاید په هغوئ کې چاته د جده په باره کې د حضور ﷺ څه ارشاد معلوم وي [٥]حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د خلقو څخه پوښتنه وکړه، نو حضرت مغیره ابن شعبه ﷺ اوویل چې زه (یوه ورځ) د حضور ﷺ په خدمت کې حاضروم (نو ما ولیدل) چې حضور ﷺ یوي انا ته شپږمه حصه ورکړه. [٦]حضرت ابوبکر ﷺ مغیره ﷺ ته اوویل چې ستا څخه علاوه بل یو سړی هم تاسره وو؟ (یعني حضرت ابوبکر ﷺ خني په طور د احتیاط پوښتنه وکړه چې ستا څخه علاوه یو بل سړی هم د رسول الله ﷺ څخه دا حکم اوریدلی یا لیدلی دی؟)

[۱]فَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مِثْلَ مَا قَالَ الْمُغِيرَةُ [۲]فَأَنْفَذَهُ لَهَا أَبُو بَكْرٍ [۳]ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الْأُخْرَى إِلَى عُمَرَ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا. [٤]قَالَ: هُوَ ذَلِكَ السُّدُسُ [٥]فَإِنِ اجْتَمَعْتُمَا فَهُوَ بَيْنَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا خَلَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الفرائض/باب فی الجدة (رقم-۲۸۹٤) والترمذی فی کتاب الفرائض عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی میراث الجدة (رقم-۲۱۰۰) وابن ماجه فی کتاب الفرائض/باب میراث الجدة (رقم-۲۷۲٤) کتاب الفرائض/باب میراث الجدة (رقم-٤) واحمد فی المسند: ۲۲٥/٤

ترجمه: [۱] نو (یو بل صحابي) حضرت محمد ابن مسلمه ﷺ (د حضرت مغیره ﷺ د قول تائید وکړي یعنی هغه) هغه اوویل چې څه مغیره ﷺ ویلي وو. [۲] حضرت ابوبکر ﷺ ته چې کله اطمینان وشو چې د مړي د ترکی څخه د انا هم حصه ده نو هغه) هغه انا ته د مړي د ترکی څخه د شپږمې حصه ورکولو فیصله وکړه. [۳] بیا دویمه انا د حضرت عمر ﷺ په خدمت کې حاضره شوه او د خپل میراث په ورکولو یې مطالبه تري نه اوکړه. [۴] نو حضرت عمر ﷺ ورته اوویل چې هغه شپږمه حصه ستا د پاره هم ده. [۵] که تاسو دوی یئ، نو هغه شپږمه حصه ستاسو د دواړو په منځ کې مشترکه ده، او که ستاسو څخه یوه وي نو هغه شپږمه حصه به د هغه یوي د پاره وي، (مالك احمد ترمذي ابوداود دارمي ابن ماجه)

حل لغات: - ① فَأَنْفَذَهُ: نونافذ ئې کړه دا خبره،

تسهیلات:

قوله: جازت الجدة إلى أبي بکر ﷺ:

شیخیوته د نیاګانو د راتلو مصداقات: - په عربی لغت کښې جده دَ پلار مور والانیا ته هم وائی او دَ مورمور والانیا ته هم جده وائی. دَ حضرت ابوبکرصدیق ﷺ په خدمت کښې چه دَمیراث غوښتودَپاره کومه ښځه راغلې وه علماؤ لیکلی دی چه هغه ښځه دَمړی دَمور مور وه اودَحضرت عمر ﷺ په خدمت کښې چه کومه ښځه راغلې وه هغه دَ مړی دَ پلار مور وه لکه څنګه چه په بعض روایاتو کښې دَدې فرق ذکرهم کړې شوې دې

دحدیث مفهوم: - دَدې حدیث مطلب دادې چه دَ پلاردَمور والانیا شپږمه حصه ده که هغه یوه وی که دوه وی اوکه شپږ وی دَ حضرت ابوبکر ﷺ په علم کښې دا خبره وه چه یوه نیانی ده لهذا دَ هغې شپږمه حصه ده. لیکن چه کله دَ حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې دویمه نیا راغله نوحضرت عمر ﷺ هغې ته اوفرمائیل چه دَ پلاردَمور والانیا حصه هم هغه شپږمه ده که نیا یوه وی اوکه ډیرې وی که خان له وی نودا حصه هم دَ هغې دَ پاره خان له ده اوکه په یوخانی ډیرې نیاګانې راجمع شی نودَ ټولو دَپاره هم هغه یو سدس دې ټولې به په دې کښې شریکې وی خلاصه دا چه دَحضرت ابوبکر ﷺ په علم کښې یوه نیا وه نودَ یوې دَپاره ئې سدس مقرر کړولیکن حضرت عمر ﷺ ته معلومه شوه یوه بله نیا ئې هم ده نو دواړه ئې هم په دغه یوه حصه کښې شریکې اوګرځولې.

[۲۰۶۲] دَمړی دَپلار په موجودګئ کښې جده ته سدس ملاویدل

۳۰۶۳ — [۳] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: «فِي الْجَدَّةِ مَعَ ابْنِهَا [۲] أَنَّهَا أَوَّلُ جَدَّةٍ أَطْعَمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ ابْنِهَا، [۳] وَابْنُهَا حَيٌّ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ، وَالتِّرْمِذِيُّ ضَعَّفَهُ.

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفرائض عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی میراث الجدة مع ابنها (رقم-۲۱۰۲)

ترجمه: ۱ او د حضرت ابن مسعود ﷜ څخه روایت دی چې هغه د هغې انا په باره کې چې د هغه خوی موجود وي ۲ دا اوویل چې (میراث حاصلونکی) هغه مخکښې نیا وه، چې رسول الله ﷺ د هغه د خوی په موجودګی کې هغې ته شپږمه حصه ورکړې وه، ۳ او د هغې خوی ژوندی وو، (ترمذي دارمي) او امام ترمذي ﷫ دې حدیث ته ضعیف ویلي دي

تسهیلات:

قوله: مَعَ ابْنِهَا:

صورت د مسئلې:- دَمسئلې صورت داسې دې چه یوسړې پخپله مړشو هغه یوپلار پریخودو او یوه نیا چه په خپل مینځ کښې مور اوځوئی وو حضورپاك دَمړی نیاته په میراث کښې شپږمه حصه ورکړه اودَ دغه نیا ځوئی هم ژوندې وو چه دَ مړی پلار وو په دې صورت کښې دَعلماؤ مسلك دادې چه دَ مړی دَ پلار په موجودګئی کښې به نیا ته څه نه ملاویږی بلکه هغه دَ نمسی دَ میراث نه محروم پاتې کیږی. مذکوره حدیث متروك العمل دې اودا حدیث ضعیف هم دې کوم چه دَ استدلال قابل نه دې یاخو حضورپاك نیا ته دَ تبرع او احسان په توګه شپږمه حصه ورکړه په توګه دَ میراث ئی نه ده ورکړې لهذا دا ضابطه نه ده

[۲۰۶۲] دَ خون بها په مال کښې د میراث نفاذ

۳۰۰۳—[۲۰] (۱) ۱ وَعَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ سُفْيَانَ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَيْهِ ۲ أَنْ وَرِّثِ امْرَأَةَ أَشْيَمَ الضِّبَابِيِّ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا» ۳ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: او د حضرت ضحاك ﷜ ابن سفیان څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته ولیکل چې د أشیم ضبابي ښځي ته دی د هغه د خاوند د خون بها څخه میراث ورکول شي. (ترمذي ابوداود) امام ترمذي ﷫ ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دی.

تسهیلات:

قوله: الضَّحَّاكِ بْنِ سُفْيَانَ:

د ضحاک بن سفیان تعارف:- حضرت ضحاك بن سفیان ﷜ دَ عربودَبهادرانونه وو وئیلې شی چه دَ سلو بهادرانو برابر وو حضورپاك سره به ئی برېنډه توره اوډلوسره دَ پهره دار په توګه اوسیدلو حضورپاك هغه دَ هغه په قوم اسلم باندې ګورنرمقررکړې وو. هم هغه وخت هغوی له دَ حضورپاك خط راغلې وو

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الفرائض/باب فی المرأة ترث من دیة زوجها (رقم-۲۹۲۷) والترمذی فی کتاب الفرائض عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی میراث المرأة من دیة زوجها (رقم-۲۱۱۰) وابن ماجه فی کتاب الدیات/باب المیراث من الدیة (رقم-۲۶۴۲) ومالک فی الموطا کتاب العقول/باب ما جاء فی میراث العقل والتغلیظ فیه (رقم-۹) واحمد فی المسند:۳/۴۵۲

قوله: امْرَأَةَ أَشْيَمَ الضِّبَابِيّ:

په ديت كښې د ميراث اجراء: - اشيم ضبابى صحابى دې دې د حضورپاك په زمانه كښې قتل كړې شوې وو مكردا قتل خطاء وو په دې وجه قاتل سره خون بها اوكړې شوه په وارثانوكښې د اشيم ﷺ بى بى هم وه حضورپاك هم په دې سلسله كښې ضحاك ﷺ ته خط اوليكلو چه اشيم ضبابى ته د هغې د خاوند د ديت نه ميراث وركړنى دې حديث نه معلومه شوه چه ميراث د مړى په ديت كښې هم چليږى لكه چه د هغه په نورو مالونوكښې چليږى. وئيلى شى چه د حضرت عمر ﷺ اوحضرت على ﷺ خيال وو چه د مړى په ديت كښې د ورثاء ديت نه چليږى په دې وجه حضرت ضحاك ﷺ هغوى ته د حضورپاك د حديث حواله وركړه اومسئله ئې ثابته كړه.

[۲۰٦٤] د موالات اسلام په ارث باندې عدم اثر

۳۰۰۳-[۳] (۱) [۱] وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ قَالَ: «سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] مَا السُّنَّةُ فِي الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَيْ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ؟ [۳] فَقَالَ: هُوَ أَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] اوحضرت تميم داري ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه [۲] چې د هغه سړي په باره کې څه حكم دى چې د يو مسلمان په لاس يې ايمان راوړي وي (يعني هغه مسلمان د هغه نوى مسلم مولى دي كه نه؟) [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه مسلمان (چې د هغه په لاس هغه مشرك اسلام راوړي دى) د هغه په ژوند كې د ټولو څخه زيات حقدار دى، او د مرګ څخه وروسته هم د ټولو څخه زيات حقدار هغه دى (يعني هغه مسلمان د هغه نوى مسلم مولى دى) ترمذي ابن ماجه دارمي.

د راوي مختصر تعارف:

حضرت تميم اوس الدارى ﷺ: نوم تميم، ابورقيه كنيت دارى نسبت د شام اوسيدونكي وو. د قبيله تميم سره ئې نسبى تعلق وو. د اسلام نه وړاندې ئې عيسائى مذهب سره تعلق وو. په ۹ھ كښې خپل رور نعيم سره مسلمان شو. (اصابه) د حضورپاك ﷺ په زمانه كښې د حضرت ابوبكر صديق ﷺ او حضرت عمر ﷺ په زمانه كښې هم په مدينه منوره كښې اوسيدو خوچه كله د حضرت عثمان په زمانه كښې فتنه شروع شوه نو د زړه د ناخوښئ باوجود خپل وطن شام ته لاړو.(۴)

۱) اخرجه البخارى فى كتاب الفرائض/باب إذا أسلم على يديه واخرجه ابو داود فى السنن كتاب الفرائض/باب فى الرجل يسلم على يدى الرجل (رقم-۲۹۱۸) والترمذى فى كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ميراث الذى يسلم على يدى الرجل (رقم-۲۱۱۲) وابن ماجه فى كتاب الفرائض/باب الرجل يسلم على يدى الرجل (رقم-۲۷۵۲) واحمد فى المسند: ۱۰۳/۲

هم دې صحابی ﷺ په جمات کښې چراغ اولګولو په کوم سره چه حضورپاك ﷺ خوشحاله شو (۵) ښه پیزار ښه لباس او ښکلې ښائسته سړې وو.(۶)

وفات - ترآخرعمر پورې پرهیزګاره او ملنګی ژوند تیرکړو.(۷) ۴۰هجری کښې دَ دې دنیا نه رخصت شو او په بیت حبرون کښې خښ کړې شو.(۸)

مرویات - دَ هغوی نه ۱۸ روایات نقل دی.په دې کښې یوپه مسلم شریف کښې او باقی په سنن کښې دی په بخاری شریف کښې دَ هغوی نه یوروایت هم نشته.

حل للغات - ①السُّنَّةُ: حکم، شریعت.

تسهیلات:

قوله: هُوَأَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ:

د موالات اسلام اصطلاح: - یوسړې چه کله دَ بل سړی په لاس باندې اسلام قبلوی نوهغه سړې دَ دغه نوی مسلمان آقا کیږی دې ته مولات اسلام وائی. دَ اسلام په شروع کښې په داسې صورت کښې حکم دا وو چه داخلق به دَ یوبل وارثان کیدل روستو بیا داحکم منسوخ شو

قوله: هُوَأَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ:

د مولی په جوړیدو کښې اختلاف: - نه هم دغه مراددې چه دَ ژوند اومرګ دواړو صورتونو کښې دا سړې دَ دغه نوی مسلمان آقادې. ملاعلی قاری رحمه الله په حواله دَ مظهر رحمه الله لیکلی دی چه داسې سړې دَ عمربن عبدالعزیز رحمه الله اوسعیدبن مسیب رحمه الله وغیره په نیزدَ نوی مسلمان آقا جوړیږی لیکن دَ امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نیز دَهغه مولی نه جوړیږی. مولی هم هغه وی چاچه څوك آزاد کړې وی

په حدیث کښې دوه احتمالات: - ① زیر بحث حدیث یا منسوخ دې

② مطلب دادې چه اوس ژوند اودَ ژوند نه پس دَ دغه نوی مسلمان امداد په دې سړی باندې لازم دې لهذا دَدې حدیث دَمولی جوړیدو اونه جوړیدو سره هیڅ تعلق نشته دې

[۲۰۶۵] دآزادشوی غلام دخپل مالك څخه د میراث اورلو حکم

۲۰۶۵—[۲۳] (۱)①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ②«أَنَّ رَجُلًا مَاتَ وَلَمْ يَدَعْ وَارِثًا إِلَّا غُلَامًا كَانَ أَعْتَقَهُ③فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هَلْ لَهُ أَحَدٌ؟④قَالُوا: "لَا" إِلَّا غُلَامٌ لَهُ كَانَ أَعْتَقَهُ⑤فَجَعَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِيرَاثَهُ لَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما راوي دی② چې یو داسې سړی مړ شو ، چې هغه د

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الفرائض/باب فی میراث ذوی الأرحام (رقم-۲۹۰۵) والترمذی فی کتاب الفرائض عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی میراث المولی الأسفل (رقم-۲۱۰۶) وابن ماجه فی کتاب الفرائض/باب من لا وارث له (رقم-۲۷۴۱)واحمد فی المسند: ۲۲۱/۱

خپل يو غلام ځخه علاوه چې هغه يې آزاد کړي وو بل هيڅ وارث نه وو پريښى. [۳] رسول الله ﷺ وفرمايل د ده يو وارث شته که نه؟ [۴] صحابه وو ؓ عرض اوکړو چې وارث يې نشته، البته يو غلام شته چې هغه آزاد کړي وو. [۵] نو حضور ﷺ د هغه مړي ميراث هغه آزاد شوى غلام ته ورکړي.

تسهيلات:

قوله فَجَعَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِيرَاثَهُ لَهُ:

د مالک ميراث غلام ته د ملاويدو صورت: - يعنى د يوآقا انتقال اوشو مګر دهغه په وارثانو کښې څوك نه وو صرف دهغه په پسمانده ګانو کښې يو غلام وو حضورپاك دهغه سړى ميراث دغه غلام ته ورکړو ملاعلى قارى رحمه الله ليکلى دى دامعامله د احسان او تبرع په توګه وه لکه څنګه چه دې نه مخکښې دحضرت عائشه صديقه ؓ په روايت کښې تيرشوى دى شيخ مظهر رحمه الله ليکلى دى چه د حضرت شريح رحمه الله اوطاؤس رحمه الله په نيزداحديث په خپل ظاهرباندې معمول به دې لکه څنګه چه آزادونکې دخپل آزاد کړى غلام وارث وى دغه شان غلام هم دخپل آزادونکى وارث کيدې شى

[۲۰٦٦] دَولاء دوراثت مسئله

۳۰۷۳—[د-] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ [۲] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " [۳] «يَرِثُ الْوَلَاءَ مَنْ يَرِثُ الْمَالَ» ". [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار ځخه او هغه د خپل نيکه ځخه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] کوم سړى چې د مال وارث وي هغه د ولاء هم وارث وي. [۴] امام ترمذي رحمه الله دا حديث نقل کړي دى او ويلي يې دي چې د دې حديث اسناد قوي نه دي

حل اللغات - ① الْوَلَاءَ: د آزادکړ ي غلام متروکه مال ته ولاء وائى

تسهيلات:

قوله: يَرِثُ الْوَلَاءَ مَنْ يَرِثُ الْمَالَ:

دغلام ميراث مالک ته ملاويدل: - د آزادکړې شوى غلام د مرګ نه پس به ولاء د هغه آزادونکى ته ملاويږى په دې شرط چه د غلام خپل وارث نه وى په دې حديث کښې چه کوم صورت بيان کړې شوې دې هغه داسې دې چه مثلاً د زيد پلار مړشو بيا د هغه نه پس د زيد د پلار آزادکړې شوې غلام مړشو نواوس به زيد د دغه غلام د ولاء وارث وى ځکه چه څنګه زيد د خپل پلار د مال وارث دې هم دغه شان د خپل پلار آزادکړې شوى غلام هم

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يرث الولاء (رقم - ۲۱۱٤)

وارث دي کوم ته چه ولاء واني یادلرنی چه داحکم صرف دَعصبه بنفسه دي کوم چه خونې وی لهذا لونړوته به په دې میراث کښې هیڅ نه ملاویږی خکه چه هغوی عصبه بنفسه نه دی هغوی به دَ خپل پلار دَ مال وارث وی لیکن دَهغه دَ غلام دَ ولاء وارث نه شی کیدي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۶۷] په جاهلیت کښې دَتقسیم شوی میراث حکم

۲۰۶۷—[۳] (۱) ① عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ –رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ –صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ– ② قَالَ: «مَا كَانَ مِنْ مِيرَاثٍ قُسِمَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْجَاهِلِيَّةِ، ③ وَمَا كَانَ مِنْ مِيرَاثٍ أَدْرَكَهُ الْإِسْلَامُ فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْإِسْلَامِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم میراث چې په زمانه د جاهلیت کې تقسیم شوی دی هغه به د زمانهٔ جاهلیت د تقسیم مطابق وي ③ او کوم میراث چې د اسلام زمانه پیدا کړي هغه به د اسلام مطابق تقسیمیږی. (ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله فَهُوَ عَلَى قِسْمَةِ الْجَاهِلِيَّةِ:

① دَنبی کریم دَ دې ارشاد مطلب دادې چه کوم میراث دَ جاهلیت په زمانه کښې په وارثونو کښې تقسیم شوې دې په هغې کښې به ترمیم اوزیاتوالي نه کیږی چاته چه دَهغه دور مطابق څومره ملاؤشوې هم هغه دَ هغه حصه ده که کم ملاؤشوي

② که زیات او په کوم مال چه دَ اسلام دور راغلې دې دَهغې تقسیم به دَ اسلام دَ اصولو اوقواعدو مطابق کیږی. دَدې حدیث نه "ابقاءماکان علی ماکان" ضابطه راؤخی

[۲۰۶۸] د ترور خپل وراره څخه د میراث اورلو عدم صحت

۲۰۶۸—[۴] (۲) ① وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ كَثِيرًا يَقُولُ: ② كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَقُولُ: عَجَبًا لِلْعَمَّةِ تُورَثُ وَلَا تَرِثُ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① او د حضرت محمد ابن ابي بکر ابن حزم رحمه الله څخه روایت دی چې هغه د خپل پلار څخه واوریدل. اکثره به یې دا ونیل ② چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به فرمایل چې د عمه په باره کې تعجب دی چې د هغه وراره خو د هغه وارث کیږي خو هغه د خپل وراره نه وارثه کیږي. (مالك)

حل اللغات: - ① عَجَبًا: تعجب دي. ② الْعَمَّةُ: ترور (د پلار خور)

---

۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الفرائض/باب قسمة المواريث (رقم-۲۷۴۹)

۲) اخرجه مالک في الموطا كتاب الفرائض/باب ما جاء في العمة (رقم-۹)

تسهيلات: **قوله:** عَجَبًا لِلْعَمَّةِ:

متعجب يو صورت:- حضرت عمر فاروق ؓ فرمائي په ترور باندې تعجب دې چه دَ هغې وراره خودَ هغې وارث دې مگر هغه دَ وراره وارث نه ده. دَ حضرت عمر ؓ دا تعجب دَ قياس په بنياد دې گني دَ شريعت دَ حکم علت لټول ضروري نه دي. دَ الله تعالى حکم دې که په عقل کښې راځي او که نه راځي

[۲۰٦٩] دَ ميراث علم دَ زده کولو حکم

۳۰۷۰-[۸] (۱) ①وَعَنْ عُمَرَ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ②تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ. ③وَزَادَ ابْنُ مَسْعُودٍ: وَالطَّلَاقَ وَالْحَجَّ. ④ قَالَا: فَإِنَّهُ مِنْ دِينِكُمْ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او د حضرت عمر فاروق ؓ څخه روايت دی چې هغه وفرمايل ② د فرائض (ميراث) احکام او مسائل زده کړي، ③ او حضرت ابن مسعود ؓ د دې الفاظو اضافه کړيده، د طلاق او حج احکام او مسائل هم زده کړي، ④ هغه اوويل چې (د دې زده کول څکه ضروري دی چې) دا علم ستاسو د دين د ضرورياتو څخه دی، (دارمي)

حل اللغات:- ① الْفَرَائِضَ: ميراث،

تسهيلات:

قوله: قَالَا: فَإِنَّهُ مِنْ دِينِكُمْ:

په مذکوره څيزونو دَدين اطلاق:- يعنى ابن مسعود ؓ او عمر فاروق ؓ دواړو اوفرمائيل "فانه" يعنى دا علم اوزده کول بعض نسخو کښې "انها" دې يعنى دا مذکورات ستاسو دَ دين نه دی يعنى دَ دين اهم اهم مسائل دی. په دې صورت کښې من دَ تبعيض دَپاره دې يا من بيانيه دې يعنى دا مذکورات ستاسو دين دې

علم الفرائض ته د نصف العلم ويلو وجه:- دې ته نصف علم څکه وائي چه دَ انسان دَ ژوند دوه حالتونه دی يا حالت حيات دې چه نيمه حصه ده او يا حالت ممات دې چه دويمه نيمه حصه ده. دَ علم الفرائض تعلق دويم حالت سره دې. په يو حديث کښې دی تعلموا الفرائض وعلموه الناس فاني امرؤ مقبوض" په يو روايت کښې دَ دې حديث په آخره کښې داسې دی "فانها اول قضية تنسى" يعنى دا ړومبې علم دې چه دَ انسانانو نه به هيرولې شي

چنانچه په علوم اسلاميه کښې علم ميراث ړومبې علم دې چه دَ علماؤ نه به پاسې او دا دَ قيامت دَ نښونه دی. نن په څائې باندې وئيلې شي چه ۸۰ فيصد علماؤ نه دا علم پاسيدلې دې په کوم کښې چه دَ ټولونه وړاندې زه پخپله يم الله تعالى دې دَ علم او علماؤ حفاظت اوکړي.

---

[۱] اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۲۸۵۱

[۱۸]بَابُ الْوَصَايَا]

دَ وصیتونو بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① الترغيب على الإيصاء: ۱، ۶.

② جواز الوصية في الثلث فقط: ۲، ۳، ۸.

③ عدم جواز الوصية للوارث: ۴.

④ عدم الإضرار في الوصية: ۵.

⑤ عدم جواز الوصية للكافر: ۷.

د قرآن څخه د وصیت ثبوت :- ﴿مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْدَيْنٍ﴾ [سورت النساء الایه:۱۲]

دوصیت لغوی معنی:- وصايا جمع ده دَدې مفرد وصية دې.

دوصیت اصطلاحي تعریف:- وصیت دې تـه وائـي چـه یوسړې پـه خپـل ژوند کښې خپلو وارثانوته اووائی چه زما دَ مرګ نه پس فلانکې فلانکې کاراوکړئی مثلاً مدرسه یا جمات یا خانقاه یا سرائې یا پل یا هسپتال جوړکړئی یا کوهی اوباسئی یا زما په ذمه فلانکی فلانکی عبادتونه پاتی دی دَدې انتظام اوکړئی

د وصیت په حکم کښې مذاهب:-

①داؤد ظاهری اواسحاق بن راهویه او اهل ظواهر په نیز وصیت کول واجب دی

② دَ جمهورو په نیز وصیت کـول مـستحب دی. اګرچـه دَ احتیـاط تقاضـاهم دغـه ده چـه هر مسلمان سره دَهغه وصیت موجود وی یا دَ تکیه لاندې ئی کیخودې وی مګر واجب نه دې

اول فریق دلائل:- ① د اول فریق مستدل دَ قرآن کریم دا آیت دې ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [البقره،الایه: ۱۸۱]

په دې دې کښې ښکاره د وصیت دپاره د کتب لفظ استعمال شوې دې او کتب د فرضیت دپاره راځی نو وصیت کول فرض او واجب شو.

② دَ باب الوصایا رومبې فصل رومبی هم د اول فریق مستدل دې

د اول فریق د دلائلو څخه جوابونه:- اهل ظواهر چه دَ کوم آیت دَ وصیت نه استدلال کړې دې یا دَ دې باب دَحدیث نمبر(۳۰۷۰) نه ئی استدلال کړې دې نودَدې جواب دادې چه دا صورت یادَ قرض په وصیت باندې محمول دې یعنی که دې مقروض وی نو ده باندې د قرض ادا کولو وصیت واجب دې

④ یادَ امانت په وصیت باندې محمول دې یعنی که ده سره د چا امانت پروت وی نو په ده باندې واجب دی چې وصیت اوکړی دا ما سره فلانې څیز د فلانی امانت دې هغه ته ئې واپس کړئ
④ دَ وصیت نه استحبابی وصیت مراددې اودَ وصیت په استحباب کښې دَ چا اختلاف نشته دې
④ دا دَ ابتداء اسلام کښې دَ وصیت دَ وجوب حکم وو بیا منسوخ شو

د دویم فریق دلائل:- ① د میراث په آیت سره دَ وصیت پوره نظام منسوخ شوې دې اوس دَ وارثانودَ شریعت دَ طرف نه حصې مقرردی دَ سرې دَ وصیت څه ضرورت باقی پاتې نه شو ② دغه شان "لاوصیة لوارث" مشهور حدیث دې په دې سره هم آیت میراث متاثر کیدې شی. دَ اسلام په شروع کښې سره دَدې چه دَ وصیت نظام قائم وو لیکن روستو منسوخ شو. او دَ آیت میراث نه پس هم دَ مال په دریمه حصه کښې مالك ته دَ وصیت حق حاصل دې دې دَپاره که یوسړې دَ ژوند په آخری وخت کښې وصیت کول غواړی یاصدقه کول غواړی نودَ نیکئی تولې دروازې په هغه باندې کولاؤدی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۷۰] د وصیت نامې د لیکلې ساتلو حکم

۲۰۷۰–[۱] (۱) ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② مَا حَقُّ امْرِءٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصَى فِيهِ ③ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د کوم مسلمان سړی چې (په مال یا په خپلو کې د تعلقاتو) په معامله کې څه خبره د وصیت قابل وي، ③ نو هغه ته پکار دی، چې هغه دوه شپې هم د ليکلو څخه بغير تيرې نکړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① يَبِيتُ: شپه تيره کړی. ② مَكْتُوبَةٌ: ليکلې شوې.

تسهیلات:

نوټ: د وصیت په باره کښې تفصیل د مذاهبو وړاندې تیرشوې دې

---

۱) اخرجه البخاری فی كتاب الوصايا/باب الوصايا وقول النبی صلى الله عليه وسلم: «وصية الرجل مكتوبة عنده» (رقم-۲۷۳۸) ومسلم فی كتاب الوصية (رقم-۱ - (۱۶۲۷) واخرجه ابو داود فی السنن كتاب الصيد/باب ما جاء فی ما يؤمر به من الوصية (رقم-۲۸۶۲) والترمذی فی كتاب الوصايا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الحث على الوصية (رقم-۲۱۱۸) والنسائی فی كتاب الوصايا/باب الكراهية فی تأخير الوصية (رقم-۳۶۱۵) وابن ماجه فی كتاب الوصايا/باب الحث على الوصية (رقم-۲۷۰۲) كتاب الوصية/باب الأمر بالوصية (رقم-۱) واحمد فی المسند: ۲/۴

[۲۰۷۱] د خپلې ترکې په دریمه حصه کې وصیت کیدی شي

۳۰۷۱—[۲] (۱) [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «مَرِضْتُ عَامَ الْفَتْحِ مَرَضًا أَشْفَيْتُ عَلَى الْمَوْتِ، [۲] فَأَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعُودُنِي، [۳] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: إِنَّ لِي مَالًا كَثِيرًا [۴] وَلَيْسَ يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَتِي، [۵] أَفَأُوصِي بِمَالِي كُلِّهِ؟ [۶] قَالَ: "لَا" [۷] قُلْتُ: فَثُلُثَيْ مَالِي؟ قَالَ: "لَا"

ترجمه: [۱] او حضرت سعد ابن ابي وقاص ﷺ وايي چې زه د مکې د فتح په کال دومره سخت ناجوړه شوم چې مرګ ته نژدې شوم، [۲] کوم وخت چې رسول الله ﷺ زما پوښتنې ته تشریف راوړو، [۳] نو ما عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ زما سره ډیر مال دی [۴] خو د یوې لور څخه سوا بل څوک وارث مې نشته، [۵] نو آیا زه د خپل ټول مال په باره کې وصیت وکړم؟ [۶] حضور ﷺ وفرمایل چې نا، [۷] بیا ما عرض اوکړو چې آیا د دوو دریمو حصو مال په باره کې وصیت وکړم؟ حضور ﷺ وفرمایل چې نا،

حل اللغات: - ① أَشْفَيْتُ: أَشْفَيْتُ دَ قاربت په معنی کښې دي. "اشفیت، اي قاربت".

[۱] قُلْتُ: فَالشَّطْرُ؟ قَالَ: "لَا" [۲] قُلْتُ: فَالثُّلُثِ؟ قَالَ: "الثُّلُثُ" وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ، [۳] إِنَّكَ إِنْ تَذَرْ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ، [۴] وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا أُجِرْتَ بِهَا [۵] حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا إِلَى فِي امْرَأَتِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بیا ما عرض اوکړو چې آیا د نیمه وصیت وکړم؟ حضور ﷺ وفرمایل چې نا، [۲] بیا ما عرض اوکړو چې آیا د دریمې وصیت وکړم؟ حضور ﷺ وفرمایل چې هو، د یوې دریمې مال په باره کې وصیت کولی شي، اګر چې ډیر دی، [۳] او یاد ساته که ته خپل وارثان مالدار او خوشحاله پریږدي، نو دا ستا د پاره د دې څخه ښه ده چې ته هغه مفلس پریږدي. او هغه د خلقو په مخکې لاس غزولي ګرځوي (یعني سوال کوي) [۴] پوهه شه چې ته د خپل مال په کومه حصه کې هم د الله ﷻ د رضا او خوشنودی په جذبه کې خرڅ کوي. نو د په هغه خرڅ به درته ثواب حاصلیږي. [۵] ددې پورې چې تاته په هغه نمرئ هم ثواب حاصلیږي چې ته یې د خپلې ښځې تر خُلې ورسوي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ② الشَّطْر: نصف، نیمه، ③ إِنْ تَذَرْ: که ته پریږدي، ④ عَالَةً: مفلس، محتاجه، ⑤ يَتَكَفَّفُونَ: لاسونه نې نیولی وی، سوال کوی، ⑨ اللُّقْمَةَ: نمرئ، ⑥ فِي: فِيْ فم کښې یو لغت دې کوم چه مشدد دې خلې ته وائی

١) اخرجه البخاری فی کتاب الوصایا/باب أن يترك ورثته أغنياء خير من أن يتكففوا الناس (رقم-٢٧٤٢) ومسلم فی کتاب الوصية/باب الوصية بالثلث (رقم-٥ - (١٦٢٨) والترمذی فی کتاب الوصايا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الوصية بالثلث (رقم-٢١١٦) والنسائی فی کتاب الوصايا/باب: الوصية بالثلث (رقم-٣٦٢٦) وابن ماجه فی کتاب الوصايا/باب الوصية بالثلث (رقم-٢٧٠٨)

تسهيلات:

قوله عَامَ الْفَتْحِ:

دعام الفتح تغليط:- ميرك شاه ليكلي دي چه دعام الفتح الفاظ صحيح نه دي بلكه "عام حجة الوداع" الفاظ دي دَ يو راوي نه سهو شوي ده

قوله إِلَّا ابْنَتِي:

مطلب دا چه دَ ذوي الفروض نه زما وارث دي وخت كښي صرف زما لور ده

اشكال:- حضرت سعد رضي الله عنه يو مالدار صحابي وو او دَ هغه څو خامن وو او په عصبه كښي ډيرزيات وارثان وو بيا هغوي دا څنګه اوفرمائيل چه زما په وارثانو كښي صرف يو لور ده نور څوك نشته دي؟

دا اشكال دري جواب:-

① ملاعلي قاري رحمه الله دَ علامه طيبي رحمه الله نه نقل كړي دي. دَدي خلاصه دا ده چه زما وارثان خو ډير دي ليكن دَچا باره كښي چه زما ويره ده اوزه په هغې كښي پريشان يم هغه صرف زما لور ده ځكه چه دا عاجز خاتون ده چه زما په وارثانو كښي دَ ټولو نه زياته كمزوري ده

② ملا علي قاري فرمائي دَحضرت سعد رضي الله عنه ذوي الفروض نه صرف يولور خودل چه دَ ذوي الفروض نه يولور ده دا مطلب نه دي چه نور وارثان ئې نشته دي ځكه چه په عصبه كښي دَهغوي ډيرزيات وارثان وو پخپله هم دي حديث كښي "ورثتك" لفظ راغلي دي او "يتكففون" دَ جمع صيغه ده دكوم نه چه صفا پته لګي چه نور وارثان وو مګر هغه په عصبه كښي وو بلكه دي سره حديث نمبر (۳۰۷۲) كښي "ولدك" سره دَ اولاد ذكر موجود دي

③ حضرت سعد رضي الله عنه خپل مالونه په خپلو ټولو خامنو باندي تقسيم كړي وو صرف يو لورني وه چه هغې ته دَميراث حصه تر دغه وخته پوري نه وه وركړي شوي په دي وجه هغوي دَدي ذكر اوكړو دا جواب ډير ښه دي او واضح دي ماته ياديږي چه دا ما چرته ليدلي دي

قوله الي فِيّ:

په مباح عمل كښي دنيكۍ په نيت د ثواب ملاويدل:- مطلب دا دي چه دَ الله تعالى دَ رضا دَپاره څوك عمل كوي هغه ته ضرور ثواب ملاويږي دَ بي بي په خوله كښي نوړونى وركول دَميني په وخت كيخودي شي دا څه عبادت نه دي بلكه عادت او شهوت دي ليكن چه كله په دي كښي دَ الله تعالى دَ رضا تصور وي نو دا هم په عبادت كښي شميرلي كيږي او ثواب ملاويږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۷۲] د ټول مال د وصیت کولو څخه ممانعت

۲۰۷۲-[۱](۱) عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: «عَادَنِي رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَأَنَا مَرِيضٌ، فَقَالَ: أَوْصَيْتَ؟" قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "بِكَمْ": قُلْتُ بِمَالِي كُلِّهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. قَالَ: "فَمَا تَرَكْتَ لِوَلَدِكَ؟" قُلْتُ: هُمْ أَغْنِيَاءُ بِخَيْرٍ. فَقَالَ: "أَوْصِ بِالْعُشْرِ" فَمَا زِلْتُ أُنَاقِصُهُ، حَتَّى قَالَ: "أَوْصِ بِالثُّلُثِ، وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: حضرت سعد ابن ابي وقاص ﷛ وايي زه چې ناجوړه ووم نو رسول الله ﷺ زما پوښتنې ته راغلی، وي فرمايل چې آيا تا د وصيت کولو اراده کړيده؟ ما اوويل چې هو. نو حضور ﷺ وفرمايل چې د څومره مال د وصيت اراده دي کړيده؟ ما عرض اوکړو چې ما خو د الله ﷻ په لار کې د ټول مال د وصيت کولو اراده کړيده، حضور ﷺ وفرمايل چې ت دخپل اولاد د پاره څه پرېښي دي؟ ماعرض اوکړو چې هغه خپله مالدار او خوشحاله دي. حضور ﷺ وفرمايل (که وصيت کول غواړي نو) د خپل مال د لسمې حصې په باره کې وصيت وکړه، حضرت سعد ﷛ وايي هر کله چې ما د حضور ﷺ نبودل شوی دا مقدار مې بار بار کمولی نو (زما په اصرار) حضور ﷺ وفرمايل چې ښه د دريمې حصې مال په باره کې وصيت وکړه، اګر چې دا دريمه هم ډيره ده

حل اللغات: - ①عَادَنِي: بيمار پرسي اوکړه زما، زما پوښتنه ئې اوکړه ②فَمَا زِلْتُ: هميشه ووم زه، بار بار کونکې ووم زه ③أُنَاقِصُهُ: ما کمولو هغه

نوټ: -د حديث تشريح د ترجمې نه ظاهره ده او ددې حديث نه معلومه شوه چه په ثلث کښې به وصيت جاري کيږي.

[۲۰۷۳] ذ وارث ذ پاره د وصيت عدم صحت

۲۰۷۳-[۲](۲) ①وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: ②إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ: "«الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ»".

ترجمه: ①او حضرت ابو امامه ﷛ وايي چې ما د حضور ﷺ څخه د حجة الوداع په کال په خطبه کې واوريدل ②چې الله ﷻ هر حقدار ته د هغه حق ورکړي دی نو د وارث د پاره

۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى الوصية بالثلث والربع (رقم-۹۷۵) والنسائى فى كتاب الوصايا/باب: الوصية بالثلث (رقم-۳۶۳۱)

۲) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الصيد/باب ما جاء فى الوصية للوارث (رقم-۲۸۷۰) والترمذى فى كتاب الوصايا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا وصية لوارث (رقم-۲۱۲۰) وابن ماجه فى كتاب الوصايا/باب لا وصية لوارث (رقم-۲۷۱۳)واحمد فى المسند: ۲۶۷/۵

وصیت نشته، ابوداؤد ابن ماجه، او امام ترمذي رحمه الله دا مزید نقل کړي دی چې وړوکی دصاحب فراش د پاره دی او د زنا کونکي د پاره کاڼي دي او د هغوی معامله الله ﷻ ته حواله ده

حل اللغات - ① الْفِرَاش: بستره (مراد ترې ښځه ده)، ② الْعَاهِر: زناکار، ③ الْحَجَرُ: کاڼړی محرومتیا، سنګسارکول

تسهیلات:

قوله: أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ:

دوارث دپاره د وصیت نشته:- یعنی د هرصاحب حق مقرره حصه الله تعالی ورکړې ده د ذوی الفروض دپاره جدا حصې مقرردی د اعصاب دپاره جدا حصې مقرردی لهذا د یووارث په حق کښې د وصیت ضرورت نشته که څوك وصیت هم اوکړی نودهغې هیڅ اعتبارنشته دې اوکه ټول وارثان په دې باندې متفق شی اود یوکس په حق کښې د مړی د وصیت د نفاذ اجازت ورکړی نودا جائز دی په دې شرط چه په هغوی کښې څوك وړوکې ماشوم نه وی

قوله: الولد لِلْفِرَاشِ:

د الفراش څخه مراد:- د فراش اطلاق په ښځه باندې کیږی لیکن دلته په الولدللفراش کښې صاحب فراش مراددې چه د ښځې دپاره خاوند یا د وینځې دپره آقا اومالك مراددي

قوله: وللعاهر الْحَجَرُ:

د الحجر دوه مطلبونه:- ① یعنی هغه ته به کاڼړی ملاویږی چه په هغه باندې کاڼړی اووره وی سنګسار نی کړی که چرې واده کړې وی

② یا د الحجر لفظ کنایه ده دحرمان او محرومتیانه چه زناکار ته به هیڅ هم نه ملاویږی هغه محروم دي

۳۰۷۰-(۱) [۱] وَيُرْوَى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: «لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ، إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْوَرَثَةُ». [۳] مُنْقَطِعٌ، هَذَا لَفْظُ الْمَصَابِيحِ. وَفِي رِوَايَةِ الدَّارَقُطْنِيِّ: قَالَ: «لَا تَجُوزُ وَصِيَّةٌ لِوَارِثٍ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْوَرَثَةُ».

ترجمه: [۱] و حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ څخه دا نقل کړي دی [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل د وارث د پاره وصیت نشته خو که وارث وغواړي، [۳] دا حدیث منقطع دی او دا د مصابیح الفاظ دي

۱) اخرجه الدارقطني في السنن ۴/ ۳۷ رقم الحدیث ۸۹

او د دار قطنی په روایت کی دا الفاظ دی، چې (حضور ﷺ وفرمایل) دوارث په حق کی وصیت جائز نه دی خو هر کله چې نور وارثان وغواړی

[۲۰۷۵] وارثانو ته د نقصان رسولو وعید

۳۰۷۵—[۵] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةَ بِطَاعَةِ اللَّهِ سِتِّينَ سَنَةً، ③ ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ، فَيُضَارَّانِ فِي الْوَصِيَّةِ، فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ». ثُمَّ قَرَأَ أَبُو هُرَيْرَةَ ﴿مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ﴾ [النساء: ۱۲] ④ إِلَى قَوْلِهِ ﴿وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾ [النساء: ۱۳] ⑤ رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② سړی او ښځه تر شپیتو کلو د الله ﷻ عبادت کوي، ③ خو کله چې د هغوی د مرګ وخت نژدی راشي، ④ نو د وصیت په ذریعه وارثانو ته نقصان رسوي، نو د هغوی د پاره دوزخ ضروري کېږي. ⑤ د دې څخه وروسته حضرت ابوهریره ﷺ دا آیت کریمه وویلو: وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ یعني (ورثاء د خپلي حصې) وصیت پوره کولو څخه وروسته د چا دپاره چې وصیت شوی وي یا د دین (قرض) څخه وروسته په شرط د دې چې (وصیت کونکی) چاته ضرر ونه رسوي

حضرت ابوهریره ﷺ دا آیت تر ارشاد رباني: وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (او دا لویه کامیابي ده) پورې تلاوت کړي. (احمد ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: - ① يُضَارَّانِ: نو یوبل ته ضرر رسوی دوی، ② دَيْنٍ: قرض

تسهیلات:

قوله: سِتِّينَ سَنَةً:

د آخری خاتمې اعتبار: - دحدیث تعلیم دادې چه اعتبار آخری خاتمې له دې یوسړی مثلاً د شپیتو کالو نه په عبادت کښې لګیادې ښځه هم لګیاده لیکن دمرګ نه مخکښې ناجائز وصیت کولوسره خپلو وارثانوته نقصان رسولو نه هغه د اور مستحق کیږی لهذا په هرمسلمان باندې لازم دی چه هغه دې د خپلو وارثانو په حق کښې نقصان نه کوی ګنی د عذاب دپاره دې تیارشی

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الصيد/باب ما جاء في كراهية الإضرار في الوصية(رقم-۲۸۶۷) وابن ماجه في كتاب الوصايا/باب الحيف في الوصية (رقم-۲۷۰٤)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۷٦] په جائز وصيت دَ ثواب ملاويدل

۳۰۷۲-[۲] (۱) ① عَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «مَنْ مَاتَ عَلَى وَصِيَّةٍ مَاتَ عَلَى سَبِيلٍ وَسُنَّةٍ، ③ وَمَاتَ عَلَى تُقًى وَشَهَادَةٍ، وَمَاتَ مَغْفُورًا لَهُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سرى چې د وصيت كولو سره مړ شي (يعني كوم سرى چې د خپل مرګ په وخت د خپل مال يو حصه د الله ﷻ په لار كې مثلًا فقراء ته د وركولو وصيت وكړي) نو هغه په صراط مستقيم او ښه طريقه مړ شو . ③ او په تقوى او شهادت مړ شو (يعني په متقيانو او شهيدانو كې دا خل شو) او په داسې حال كې مړ شو چې د هغه مغفرت وشو (يعني وبخښل شو) (ابن ماجه)

حل اللغات: -① سَبِيلٍ: لاره (د شريعت)، ② سُنَّةٍ: طريقه (د دين)، ③ عَلَى تُقًى: په تقوى باندې، په خوف خدا باندې، ④ شَهَادَةٍ: حكمى شهادت (د شهادت ثواب به ملاويږي)، ⑤ مَغْفُورًا: بخښلې شوي،

تسهيلات: قوله: مات على سَبِيلٍ:

د سبيل نه مراد: - يعنى په لويه لاركښې دې اولګوى چه كوګ نه وى بلكه نيغ به وى نه به خفګان وى اونه به دَ چا جګړه. په دې حديث كښې دَ وصيت ترغيب دې چه هوښيار اوسيړنى وصيت ځان سره ساتنى داحكم دَ اسلام په شروع كښې واجب وو بيا دَ ميراث په آيت سره منسوخ شو. اوس مستحب دې اوكه دَ چا رشته دار غريب دې او په ميراث كښې دَهغه څه حق نشته دې كه دَهغه دَپاره يوسرې دَخپل دريمې حصې دَمال نه وصيت كوى نودا جائز بلكه مستحب دى.

قوله: وَسُنَّةٍ:

د سنت نه مراد: - يعنى په خوښه كړې شوې لار به مرى او دَ خو سنتو په لار به اچولې خى "على تُقًى" يعنى دَ خوف خدا اودَتقوىٰ په اوچت مقام باندې به مرى په علم اوعمل به دَهغه خاتمه وړى اوډير به ښه وى

قوله: مَغْفُورًا:

د وصيت فائدې: - يعنى بخښنې سره به دَ دنيا نه اوچتيږى خى به. داټول فوائد دَ وصيت دى دَدې فوائدو تعلق دَ آخرت سره دې ليكن په وصيت كښې دَ دنياهم بې شميره فائدې دى كله چه سرې وصيت نه كوى او مال په بينكونوكښې يا نوركاروباركښې لګيدلې وى دكور خلقوته هم معلومه نه وى چه مشرسره څومره مال دې اوكوم كوم ځائى كښې دې. دَ وصيت نه بغير مړكيدو سره لاكهونه دوب شى دغه شان ډير واقعات شوى دى.

۱) اخرجه ابن ما جه فى السنن رقم الحديث ۲۷۰۱

[۲۰۷۷] کافرانو ته دَ نیکو اعمالو ثواب نه رسیدل

۳۰۷۷—[۷] (۱) ①وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: ②«أَنَّ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ أَوْصَى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ ③فَأَعْتَقَ ابْنُهُ هِشَامٌ خَمْسِينَ رَقَبَةً ④فَأَرَادَ ابْنُهُ عَمْرٌو أَنْ يُعْتِقَ عَنْهُ الْخَمْسِينَ الْبَاقِيَةَ، ⑤قَالَ: حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ①او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار (حضرت شعیب) او شعیب د خپل نیکه حضرت عبد الله ﷺ څخه نقل کوي ②چې عاص بن وائل وصیت کړي وو چې زما د طرف څخه دي سل غلامان آزاد کړل شي، ③نو پنځوس غلامان خو د هغه خوی هشام ﷺ آزاد کړل. ④بیا چې د هغه دویم خوی عمرو دا اراده وکړه چې باقي پنځوس غلامان هغه آزاد کړي ⑤نو هغه اوویل (یعني په خپل زړه کې یې سوچ وکړو) چې زه دا پنځوس غلامان د هغه وخته نه آزادوم د څو پورې چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړم په خپل زړه کې یې سوچ وکړي چې آیا دا پنځوس غلامان او پنځوس غلام آزادول مقید هم دي که نه؟ نو عمرو د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو

①فَأَتَى النَّبِيَّ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ أَبِي أَوْصَى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ، ②وَإِنَّ هِشَامًا أَعْتَقَ عَنْهُ خَمْسِينَ، وَبَقِيَتْ عَلَيْهِ خَمْسُونَ رَقَبَةً، أَفَأُعْتِقُ عَنْهُ؟ ③فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: إِنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا فَأَعْتَقْتُمْ عَنْهُ أَوْ تَصَدَّقْتُمْ عَنْهُ أَوْ حَجَجْتُمْ عَنْهُ، ④بَلَغَهُ ذَلِكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او عرض یې وکړي چې یا رسول الله! ﷺ زما پلار (عاص) دا وصیت کړي وو، چې د هغه د طرف څخه دي سل غلامان آزاد کړل شي، ②او بیشکه هشام اذاد کړی او دهغه د طرفه نه پنځوس غلامان نو اوس په هغه (یعنی د هشام ﷺ په ذمه) پنځوس غلامان باقي پاتې دي. نو آیا زه د خپل پلار د طرف څخه (هغه پنځوس غلامان آزاد کړم. ③رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې هغه (ستا پلار عاص) که مسلمان وې او تاسو د هغه د طرف څخه غلامان آزاد کړي وی، یا صدقه کړي وی. یا مو د هغه د طرفه حج کړي وې نو هغه ته به د هغه ثواب رسیدی (ابوداؤد).

حل اللغات: - ① حَجَجْتُمْ: حج کړي وې تاسو. ② بَلَغَهُ: رسیدلې به وې هغه ته.

تسهیلات:

قوله أَنَّ الْعَاصَ بْنَ وَائِلٍ:

د عاص بن وائل د دوه خامونو تعارف: - عاص بن وائل دَ نبوت په زمانه کښې وو لیکن دَ بدقسمتنی نه نی اسلام قبول نه کړې شو او په کفریاندې مرشو دَهغه دوه خامن وو یو هشام بن عاص ﷺ او بل عمرو بن عاص ﷺ وو دواړو ته الله تعالی دَ اسلام قبلولو

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الجهاد . باب فی إباحة الطعام فی أرض العدو (رقم-۲۷۰۱)

توفيق ورکړې وو مکه کښې اسلام قبول کړو اوبيا د حبشه طرف ته هجرت اوکړو د حبشه نه واپس مکې ته راغلل نوپلار قيد کړل او درې ځلورکاله د پلار په قيد کښې تکليفونه تيرول بيا په غزوه خندق کښې مدينې منورې ته حضوراکرم ﷺ له هجرت اوکړو راغلل د لوئ شان والاصحابي وو په جنګ يرموك کښې شهيد شو حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه د فتح مکې نه لږشان وړاندې حضرت خالدبن وليد رضي الله عنه سره مدينې ته اورسيدل او اسلام ئې قبول کړو دَځه لوئ شان والاصحابه کرام وو فاتح مصر وو دَ حضورپاك په زمانه کښې دَحضورپاك دَ طرف نه ګورنروو بيا دَ حضرت صديق اکبر رضي الله عنه په زمانه کښې هم ګورنروو بيا دَ عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کښې دَمصر ګورنر پاتې شو بيا دَحضرت معاويه رضي الله عنه دَ طرف نه ګورنر پاتې شودَ ۹۹ کالو په عمر کښې ۴۳ هجرى کښې وفات شو

قوله: إِنَّ أَبِي أَوْصَى أَنْ يُعْتَقَ عَنْهُ مِائَةُ رَقَبَةٍ:

دعمروبن عاص د پلار وصيت: - په زيربحث حديث کښې حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه دَحضورپاك نه تپوس اوکړو چه زما پلار دَ مرګ نه وړاندې وصيت کړې وو چه زما دَ طرف نه سل غلامان آزاد کړه زما رور هشام پنځوس غلامان آزاد کړل باقي پنځوس زما په :مه دی زه دَهغه دَطرف نه دا غلامان آزادولې شم. يعنى هغه ته به څه فائده اورسى اوڅه سخى نه هغه ته اورسى؟

قوله: إِنَّهُ لَوْ كَانَ مُسْلِمًا:

کافرمړی ته ثواب نه رسيدل: - حضورپاك په جواب کښې اوفرمائيل که هغه مسلمان وو نودَغلام آزادولو ثواب به هغه ته رسيدلو ليکن چونکه هغه په اسلام باندې نه دې مړ لهذا دَ کافردَپاره هيڅ ايصال ثواب نه وررسى حضورپاك په عجيبه طريقه سره جواب ورکړو حضورپاك دا اونه فرمائيل چه غلام مه آزاده وه بلکه اشاره ئې اوفرمائيله چه دَ غلام آزادولو ثواب خو ضرور ملاويږى غلام آزادول پکاردی دادَ ثواب کاردې ليکن هغه ته ثواب ځکه نه رسى چه هغه مسلمان نه وو يو کافرته دَهغه دَ هريو عبادت ثواب دَهغه دَ مرګ نه پس هغه ته نه رسيږى لهذا دَ هيڅ نيکئ فائده به نه وى که غلام آزادول وى اوکه حج کول وى اوکه زکوة ورکول وى اومسلمانانوته دَدې قسم نيکو ثواب ملاويږى

[۲۰۷۸] دَوارث حق لوه د ضائع کولو ګناه

٣٠٧٨—[٨] (١) [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَنْ قَطَعَ مِيرَاثَ وَارِثِهِ، قَطَعَ اللهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] اوحضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړی چې د خپل وارث ميراث قطع کړي، نو الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه د جنت ميراث قطع کړي. (ابن ماجه)

۱) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الوصايا/باب الحيف فى الوصيه (رقم-۲۷۰۳)

۳۰۷۰-()[۱۰][۱]وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-.

ترجمه:[۱]او بیهقي دا روایت د حضرت ابوهریره ﷜ څخه نقل کړي دی

حل اللغات - ①قَطَعَ: ضائع کړی، ختم کړی.

تسهیلات: قوله: مَنْ قَطَعَ مِيرَاثَ وَارِثِهِ:

د میراث څخه د وارث محرومه کولو سزا:- یعنی دَخپل وارث میراث په هیڅ شان سره مه ضائع کوه اوکه هغه ئې دَ میراث نه محروم کړو نو دَقیامت په ورځ به دغه ظالم سړې دَ جنت دَ میراث نه محروم کړی دَ جنت دَ میراث طرف ته دَ قرآن کریم طرف نه اشاره ده ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا﴾ دَمیراث دَ دې اطلاق نه معلومیږی چه دَهرانسان دَپاره په جنت کښې سیټ او ځائې متعین دې اودغه شان په دوزخ کښې هم یوسیټ اوځائې متعین دې که دا سړې جنت ته لاړنه شو نودَ بل سړی سیټ هغه ته ملاویږی دا لکه چه دَ جنت میراث دي [اشعة اللمعات]

د هر انسان دپاره په جنت او جهنم کښې ځائې:-شیخ عبدالحق محدث دهلوی ﷫ دَهر انسان دَ دوو سیټونوذکر کړې دې "ولماکان لکل مکلف مقعد فی الجنة ومقعدفی النار الخ" [لمعات حاشیه مشکوة ص ۲۸۵]

بهرحال کوم سړې چه په دنیا کښې دَ یورشته دار میراث خرابوی الله تعالی به دَ قیامت په ورځ دَدغه سړی میراث خراب کړی.[اشعة اللمعات]

په عمل او سزاء کښې مناسبت:-علامه طیبی ﷫ په دې سزاکښې دَ ربط اومناسبت طرف ته داسې اشاره کړې ده دَهغه دَعربی عبارت ترجمه اوګورئی په قیامت کښې دَ جنت نه دَ دغه سړی میراث ختمول دَ دغه سړی ډیره ناکامی اودناامیدئی طرف ته اشاره ده په دواړو کښې مناسبت داسې دې مثلاً په دنیاکښې دَ یوسړی وارث دَ اوږدې مودې راسې په دې انتظارکښې دې چه زه دَ خپل مورث میراث ته اورسیږم کله چه ورنیزدې شی نومرګ دَ دغه سړی میراث کټ کړی اوهغه ناامیده کړی دغه شان چه کله دا مورث دَ جنت په انتظارکښې وی او په طمع وی چه اوس به ماته زما مقام ملاوشی او په جنت کښې به زما میراث ماته ملاوشی نوالله تعالی دَهغه نه دَ جنت میراث کټ کړی نودَ ډیر امید اوانتظارنه پس هغه پوره ناامیده شی اوناکام شی اودَ کماتدین تدان مکافات عمل مزه هغه ته وراوڅکی اوهغه ته "جزاء الفعل بمثل مافعل" پوره پوره حساب ملاویږی او "جزاء سیئة سیئة بمثلها" مکمل نقشه دَهغه مخې ته راځی حالانکه هغه ته بار بار وئیلې شوی وو چه ﴿هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾ په ضابطه باندې کاربند اوسیږه دې دَپاره چه ته کامیاب شې [الکاشف،۲۳۳/۶]

[۱]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان

[۱۳] كِتَابُ النِّكَاحِ

دنکاح کتاب

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① الترغيب في النكاح: ۱، ۲، ۱۰، ۱۱، ۱۴، ۱۵، ۱۷۔
② صفات الزوجة : ۳، ۵، ۹، ۱۲، ۱۳، ۱۸۔
③ الترغيب في تزويج المرأة الصالحة: ۴، ۱۶۔
④ كون النساء سبب الفتنة : ۶، ۷، ۱۸۔

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د نكاح ثبوت د قرآن څخه :- قال الله تعالى ﴿ فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ﴾ [سورت النساء ايت: ۳.]

د كتاب البيوع څخه روسته د كتاب النكاح ذكر كولو وجه:- نكاح من وجه عبادت دي او من وجه معامله ده په دي وجه دَ عباداتو او معاملاتو نه پس ذكر كړې شوه

دنكاح لغوى معنى:- لفظ نكاح په لغت كښې ضم او ملاويدلو ته وائي او "تقب" سورى ته هم وائي په نكاح كښې دواړه مفهومونه موجود دى.

دَ نكاح اصطلاحى تعريف:- دَ فقهاء كرامو په نيز دنكاح تعريف داسې دي "اَلنِّكَاحُ هُوَ عَقْدٌ وُضِعَ لِتَمْلِيْكِ الْمُتْعَةِ بِالْاُنْثٰى قَصْدًا" په اردو كښې دَنكاح تعريف داسې كيږى چه نكاح دَهغه عقد او معاهده نوم دې چه دَ ښځې او سړى په منيځ كښې كيږى په كوم سره چه دَ دغه دواړو په مينځ كښې دَ زوجيت تعلقات قائميږى.

د اصل وضعى په اعتبار سره د نكاح په حيثيت كښې مذاهب:-

دنكاح لفظ داصل وضع اعتبار سره عقد دپاره دې يا وطى دپاره ، په دې سلسله كښې دعلماؤ درې قولونه دى.

① دحضرات شوافع قول اصح ا و د حضرات مالكيه راجح مذهب دادي چه لفظ دنكاح په عقد كښې حقيقت دې او وطى كښې هم مجاز ده.

② دحضرات حنفيه مسلك دادې چه لفظ دنكاح دوط الراجحى په معنى كښې حقيقت دې او په عقد كښې مجاز ، دحضرات شوافعو نه هم دا يو روايت دې .

③ لفظ دنكاح وطى او عقد دواړو دپاره على السواء استعماليږى. او دواړو كښې بالاشتراك حقيقت دې

حنابله کښې قاضی ابویعلی هم دا اختیارکړې دې ، شوافع نه هم یو روایت هم د نقل شوې دې او حافظ ابوالقاسم زجاجی هم ددې تائید کړې دې

منکاح د عباداتویا مباحاتو په حیثیت کښې مذاهب:-

① دمالکیه نه دوه قولونه منقول دی. یو دا چه نکاح ((اقوات " کښې نه ده ، (قوت) هغه څیز ته ونیلې شی چه دهغې نه بغیر ژوند تیرول مشکل وی او نکاح داسې څیز دې چه ددې نه بغیر ژوند مشکل دی ، دویم قول دادې نکاح دتفکهات دقبیل نه ده او دفواکه شان داوی که استعمال شی نو ډیره ښه ، که نه وی نو هیڅ حرج نشته.

② حضرات حنفیه او حنابله په نیز داپه عبادات کښې شامل دی. او حضرات شوافع دا په مباحات کښې شمیری.

منکاح په حکم کښې مذاهب:-

① اود داود ظاهری رحمه الله ، علامه ابن حزم رحمه الله اوامام احمد بن حنبل رحمه الله یو قول دادې چه نکاح کول واجب دی.

② دجمهور علماء کرام مسلك دادې چه نکاح کول سنت دی . خودا سنتیت دعامو حالاتوپه اعتبار سره دې ، کله چه انسان ته په زنا وغیره کښې دمبتلا کیدو ویره نه وی. که ددې ویره وی نو (عندالتوقان) بیا دټولو دپاره نکاح کول واجب دی. البته حضرات شوافع په دې صورت کښې هم دوجوب قائل نه دی،بلکه هغوی ورته صرف مستحب وائی.

داول فریق اول دلیل:- ①دقران عظیم الشان دا آیت مبارك ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ﴾ د دوی مستدل دې. چه (فَانْكِحُوْا) دامر صیغه ده ،

داول فریق دویم دلیل:- ② په حدیث کښې (تزوجوالولودالودودفانی مکاثربکم الامم) کښې واردشوی دی او په دې کښې هم (تزوجو) دامر صیغه ده.

داول فریق دریم دلیل:- ③ په بخاری شریف کښې یو حدیث رازی ، ددې په آخر کښې دی چه (فمن رغب عن سنتی فلیس منی) ، ددې نه هم وجوب ثابتیږی.

داول فریق د اول دلیل جواب:- دا دلیل دوجوب دپاره کافی نه دی ، آیت کریمه چه ((فَانْكِحُوْا)) دامر صیغه دې لیکن امر هر ځاې کښې دوجوب دپارهٔ نهٔ رازی،د آیت کریمه سیاق وسباق هم په دې باندې دلالت کوی چه نکاح واجب نه ده،

داول فریق د دویم دلیل جواب:- په ((تزوجواالولودالودود)) ، کښې دامر صیغه خوده لیکن مخکښې چه په (مکاثربکم الامم) سره کوم علت بیان شوې دې ،دې نه متبادر هم دا کیږی چه وجوب لره بیانول مقصود نه دې.

داول فريق د هريم دليل جواب: - او ((من رغب عن سنتي فليس مني)) دهغه سړي د پاره بيان فرمائيلې شوى دى چه د حضرت نبى كريم د سنتومبارك نه اعراض اوكړى . بيا هم كه يوسړي د سنت نه اعراض نه كوى او هغه نكاح صرف په دې وجه نه كوى چه د هغه د نكاح كولو ضرورت او حاجت نشته نو دا وعيد دهغه دپاره نه دې

علمى مصروفياتو ته په تزوج ترجيح وركونكى عالمان: - د شام مشهور عالم شيخ عبدالفتاح ابوغده په يوكتاب د ((العلماء العزاب الذين آثروا العلم على الزواج)) نوم سره تحرير فرمائيلى دى ، په دې كښې هغوى دهغه عالمانو مختصر حالات جمع كړى دى چه هغوى دعلمى مصروفياتو په وجه د ازواج ضرورت محسوس نه كړو . اوپه دې كښې هغوى تقريبًا د شپږديرشو (۳۶) عالمانو ذكر فرمائيلې دې چه په هغوى كښې ابن تيميه رحمه الله او علامه نووى رحمه الله پشان اساطين علم نومونه شامل دى. ظاهره ده چه ددې اهل علم متعلق خودا نشى وئيلې كيدې چه هغوى يو واجب عمل پريښودو.

دامام بخارى د طرز څخه دعدم وجوب نكاح قرينه: - پخپله دامام بخارى رحمه الله دصنيع او طرز نه معلوميږى چه هغه هغوى مطلقًا دنكاح دوجوب قائلْ نه دې څكه د ((فَانْكِحُوْا)) والآيت هغوى په ((باب الترغيب في النكاح)) لاندې ذكركړې دې. دې خبرې طرفته داشاره ې كولو دپاره دا په وجوب باندې دال نه دې ، صرف دترغيب دپاره دې.

د تخلى للعبادة النافلة اونكاح په افضليت كښې مذاهب: -

① دَ شوافعوو په نيز تخلى بالعبادة النافلة دَنكاح نه غوره دې

② امام ابوحنيفه رحمه الله دَ خپل ژور نظر او شرعى نقطه نگاه په بنيادباندې فرمائى چې نكاح د عبادت نفليه څخه غوره او افضله ده

داول فريق دليل: - حضرت يحيىٰ عليه السلام ته الله تعالى (سَيِّدًا وَّحَصُوْرًا) فرمائيلى دى او حصور هغه وى چه واده خادى اونه كړى او يوشان په عبادت كښې اخته وى هركله چې د پيغمبر تجرد ژوند تيروى نودا د دې د افضليت دليل دې

داول فريق د دليل جواب: - دحضرت يحي عليه السلام شريعت زمونږ شريعت نه دې د هغوى عمل زمونږ دپاره حجت نشى جوريدې

د دويم فريق اول دليل: - په نكاح باندې دَ نوع انسانى دارومدار دې. داد انسان دَتوالد اوتناسل ذريعه ده. داد دوو كسانوپه مينځ كښې ذاتى ترون يا صرف شخصى اوطبعى خواهش نه دې بلكه داد عمل انسانى دَمعاشرې دَ وجود ددې دَ تشكيل اوددې دَترقئ بنيادى ستن ده. هم دغه وجه ده چه دَ تخليق آدم عليه السلام نه واخله تر دَ شريعت محمدى پورې په ټولو آسمانى مذاهب او شريعتونو كښې نكاح يوشان راروانه ده. هيڅ يوشريعت داسې

نـه دي راغلـي چـه دذي نکـاح دَ عمـل نـه خـالي پـاتې وي سـره دَدې چـه پـه بعضې شریعتونوکښې بعضې عباداتوکښې بدلون راغلې دې لیکن دَ شرائطو او ضوابطو تغیر پریخودوسره دَنفس نکاح وجود په هرمذهب کښې پاتې دې یوآسماني مذهب دا اجازت نه دې ورکړې چه بغیردَ عقداونکاح اوبغیردَ معاهدې اومعاقدې نه دَ ښځې اوسړی جنسي تعلق قائم وي

د دویم فریق دویم دلیل:- نکاح کول سنت نبوی دې اوپه نکاح نه کولو کښې د خپل پیغمبر د سنت ترک دې ددې وجې نکاح کول افضل شو

د نکاح د ضرورت اووه وجوهات او فوائد:-

① **د افرادی قوت اضافه:-** یوسړې کمزورې دې دَهغه افرادي قوت دَ ښځت برابردې په واده کولوسره هغه ته افرادي قوت حاصلیږی دَ نوی خپلوانودَ طرف نه هغه ته پشتې امداداونصرت ملاویږی نوهغه ته حوصله ملاویږی دَ بزدلئی نه بچ کیږی اوس دا سړې نه ظالم پاتې کیږی اونه مظلوم بلکه دَدې په مینځ کښې دَ بهادرئی په مطلوبه مقام باندې قائم پاتې کیږی

② **په انساني قوتونوکښې اعتدال پیدا کیدل:-** په انسان کښې دوه طاقتونه په ښکاره توګه موجوددی چه دَهغې په افراط اوتفریط اوبې قاعده ګئی سره انسان بربادیږی قوت غضبیه قوت شهویة قوت غضبیه کښې افراط او زیاتې "تَهَوُّرْ" اوظلم دې او په دې کښې تفریط اوکمې "جُبُنْ" اوبزدلی ده او په دې کښې توسط او اعتدال شجاعت اوبهادری ده کومه چه شرعاً مطلوب او مقصود ده.

قوت شهویه کښې افراط فسق اوفجور اوزناده او په دې کښې تفریط خمود اوجمود اونامردی ده اودَدې وسط "عفت" دې کوم چه مطلوب اومقصوددې په نکاح کښې دَانسان هم دغه دوه بنیادی قوتونه په قابواوکنټرول کښې راځی اودَ انسان په ژوند کښې دَ اعتدال لار پیداکیږی

③ **دشرمګاه د تخلیقی عمل بالی پاتې کیدل:-** جالینوس لیکلی دی چه دَ انسان یواندام دَ هغې دَتخلیقی عمل نه تړدیرې مودې پورې منع کړې شی نوهغه خپل تخلیقی عمل پریخودوسره بیکاره کیږی دَدې نه ثابته شوه چه نکاح کولوسره سړې خپل اصلی صفت اواعتدال او عفت باندې قائم پاتې کیږی نه په فسق اوفجور او زناکښې پریوځی او دَ نامردئی ښکار کیږی خلاصه دا چه نکاح سره په جنسی خیالاتوکښې مکمل سکون راځی.

④ **د زنا مخه د حفاظت ذریعه:-** نکاح شهوانی قوت په اعتدال کښې راولی. مثلاً دَ قضاء شهوت دَپاره چه کله سړی ته صحیح او جائزمحل ملاویږی نوهغه دَ فسق اوفجور اوخناورتوب نه محفوظ پاتې کیږی حضرت مولانا مفتی محمدشفیع رحمه الله په فرمائیل که

دَ خوارلسو کالو جیننی او دَ پنځلسو کالو هلك دَ نکاح پابند کړې شی نوتر ډیره حده پورې په دَ زنا وجود ختم شی دغه شان دَ ډیره موده دَنکاح نه کولو په وجه په خاص اندام کښې تذابل خمود اوجمود اونامردی پیدا کیږی په صحیح نکاح کولوسره سړې دَ دې مصیبت نه محفوظ پاتې کیږی

⑤ **د نیک اولاد د پیدا کیدو ذریعه :-** نکاح دَ صالح اولاد واحد ذریعه ده او په صالح اولاد کښې دَدین اودنیالوئی لوئی فائدې دی دغه شان دَ تیزمزاج والا سړی په مزاج کښې په مزه والې راخی دَ ښځې فرمانشونه اوریدوسره په مزاج کښې اعتدال راخی

⑥ **په سړی کښې عاجزی پیدا کیدل :-** دَ قوم نمانده او مشرچه کله کورته راخی نو ښځه هغه دهنیه او کورکمان راوړلودَپاره بازارته په منډه کوی دې په منډه خی اوسامان پخپله اخلی راوړی په دې سره په ده کښې عاجزی راخی اودَ نخوت اوکبرنه بچ کیږی اودَ هغه روحانی اصلاح کیږی دَ مرزامظهرجان جانان رحمه الله دَ مزاج حال په واقف حال باندې ښکاره دې چه هغه خومره نازك مزاج وو نودَهغوی بی بی هم دومره بداخلاق وه خومره چه داحضرت نازك مزاج وو. هغوی به فرمائیل چه الله تعالی زما دَ اصلاح دَپاره ماله داسې ښځه راکړې ده

⑦ **په انسانی ارادو کښې اوچتوالې پیدا کیدل :-** دَ نکاح په فائدو کښې داهم لیکلی دی چه په دې سره دَ انسان ارادو اوحوصلو کښې اوچتوالی راخی ځکه چه دَ خاوند جوړیدو نه پس سړې سوچ کوی چه پخپله به خورم په ښځه بچو او خپلوانوباندې به هم خورم. په دې سره په انسان کښې ښه صفات مثلاً همت سخاوت او عزیمت او بهادری راخی بل دَ نکاح کونکې دَ مجاهداتو عادت کیږی ځکه چه پوره کورنې انتظام دَ هغه په سرباندې راخی په دې سره هغه دَ سستی بې پرواهی اوغفلت غوندې خرابوصفاتونه بچ کیږی

د نکاح د فرضیت صورتونه :- ① نکاح هغه وخت فرض کیږی چه دَ نکاح نه کولوپه صورت کښې دَ جنسی خیالاتودَوجې نه په زنا کښې پریوتل یقینی کیږی اوکه په دې صورت کښې په ښځه باندې دَ ظلم کولوویره وی نو بیافرض نه ده

② حق مهر اداکولوباندې خاوند قادروی

③ ښځې ته نان نفقه ورکولو باندې خاوند قادر وی

د نکاح د مسنونیت صورتونه :- په دې دغه پورتنی صورتونو کښې چه کله اعتدال وی نو نکاح سنت مؤکده کیږی دَ اعتدال مطلب دادې چه دَ جنسی خیالاتو غلبه نه وی او په نان نفقه باندې سړې قادر وی په عامو حالاتو کښې نکاح دَ احنافو په نیز هم مباح ده لکه څنګه چه دَ شوافعو په نیز نکاح مطلقًا مباح ده. په دې صورت کښې شریعت مطهره دَ نکاح ډیر ترغیب ورکړې دې اودې ته ئې نصف ایمان وئیلې دې اودَ صالح مستقبل ضامن

نی گرځولې دي

دنکاح د کراهت صورتونه: - نکاح هغه وخت مکروه کیږي کوم وخت چه په ښځه باندې د ظلم کولو ویره اوخطره وي مزاج ئې دومره سخت وي که نکاح ئې اوکړه نو د ظلم خطره ده، نکاح هغه وخت حرام ده ځکه چه د نکاح کولو په وجه د بدمزاجئ نه په ښځه باندې د ظلم کولو یقین وي

نتیجه د بحث: - د پورتنی صورتونو په رڼا کښې هرسړې دا فیصله کولې شی چه په کومو حالاتو کښې نکاح کول فرض کیږي او په کومو حالاتو کښې واجب کیږي یا سنت اوب مستحب کیږي او په کومو حالاتو کښې نکاح نه کول ضروري کیږي

دَ نکاح اته اقسام سره د تعریف او حکم: -

دنکاح اته قسمونه: - په عربو کښې دَ جاهلیت په دور کښې به اته قسمه نکاح کیدله اسلام په هغې کښې صرف یوقسم جائزاوګرځوله او باقی ټولې ئې رد کړې

① **نکاح استبضاع:** ښځه چه به کله دَ ماهوارئی نه پاکه شوه نو خاوند به ئې ونیل چه فلانکی سردار له لاړه شه جماع اوکړه دې دَپاره چه شریف بهادر او نجیب بچې پیدا شی ښځې به داسې کول اوخاوند به دَ حمل دَ ظهورپورې به ئې خپلې ښځې سره صحبت نه کولو

② **نکاح الرایات:** دادَ بازاری او فاحشه ښځونکاح وه په دوی کښې به هرې یوې ښځې په خپل کورباندې جهنډا لګوله اوکوم سړی چه به هم زنا کول غوښتل هغه ته به معلومه شوه اوهغه به دې له راتللو کله چه به ماشوم پیدا کیدلو نودې خلقو به قیافه شناس راغوښتلو هغه به په کتلوسره فیصله کوله چه دا ماشوم دَ فلانکی سړی په شان دې لهذا داهم دَهغه بچې دې

③ **د لسوکسانو هغه جماع کول:** ښځې به نمبر په نمبر لسوکسانوسره جماع کوله کله چه به هلك پیدا کیدلو نودې ښځې به هغه ټول سړی راغوښتل هیچا به انکارنه شو کولې بیا به دغه ښځې هغوی ته ونیل تاسو چه ماسره څه کړی دی هغه تاسوته معلوم دی اې فلانکیه دا هلك ستا دې هغه سړی به دَهغې نه انکارنه شوکولې اودغه هلك به په دغه نامزدګئ او تعین سره دَهغه سړی کیدلو

④ **نکاح متعه:** دا به موقته نکاح وه یوسړې به چرته یوښار یا کلی ته لاړو هلته دَ حصاریدو او سامان کیخودو او دَ جنسی خواهش پوره کولو په غرض بغیردَ څه ګواه په څه معاوضه به ئې یوې ښځې سره نکاح کوله اوهغې سره به حصاروو نن صبا شیعه او روافضو سره دَدې پوره انتظام او سهولیات موجود دی اسلام دا ناجائز ګرځولې ده.

⑤ **نکاح الخدن:** داد یارباشنی پته نکاح وه د دوستنی اویارې په توګه به نی پته زنا کوله اسلام دې ته ﴿ وَلَا مُتَّخِذٰتِ أَخْدَانٍ ﴾ ونیلی دی او رد کړې نی دې [سورت النساء ۲۵.]

⑥ **نکاح شغار:** داد دوو جینکود بدلون صورت دې په کوم کښې چه مهرنه وی مثلاً یوسړی به بل ته وائیل دا زما لور ده ته دا په خپله نکاح کښې د خپلې لور په عوض قبوله کړه هغه بل به ونیل ته زما لور د خپلې لور په عوض کښې قبوله کړه اود دغه دوارو په مینځ کښې به مهر نه وو.

شغر او شغار د سپی د متیازو وخت کښې خپې اوچتولوته وانی لکه چه دلته هریوبل ته اووئیل ته زما د لور اوزه ستاد لور خپې اوچتوم اوهم دغه دَدوارو مهردې اسلام دا هم منع کړه (بحواله رسوم جاهلیت)

⑦ **نکاح البدل:** په جاهلیت کښې به یوسړی بل سړی ته وئیل ته زمادپاره دَخپلې ښځې نه جدا شه زه به ستاد پاره دَخپلې ښځې نه جدا شم داد هغوی په نیزد نکاح یوصورت وو اسلام دا منع کړو خونن صبا په بې غیرت دنیادارو کښې دا رواج په وقتی توګه نانت کلبونو کښې کیږی.

⑧ **عام شرعي نکاح:** داهغه نکاح وه کومه چه نن صبا په مسلمانانو کښې رائج ده

په خپل خاندان کښې د واده کیدو په صورت کښې دعا: - په عربو کښې چه کله به دا نکاح په خاندان کښې کیدله نودجینئی پلاربه دَ جینئی حق کښې دادعاکوله چه الله تعالی دې تا په دې کورننی کښې خوشحاله اوساتی ستا اولاد دې خورشی تاله دې الله تعالی ځامن درکړی او په عزت اوعظمت دې اوساتی

په پردی خاندان کښې د واده کیدو په صورت کښې دعا: -که جینئی به په بل خاندان کښې واده کیدله نوپلاربه نی داسې دعا غوښتله الله تعالی دې تاخوشحاله اوساتی ستااوبه دې خوږې وی تاله دې الله تعالی ځامن درنه کړی ځکه چه په دې سره به زمونږ دښمنان زیاتیږی ته د خپل خاوند عزت کوه دَ خپلې سخرګننی خدمت کوه دَهغوی دَ خپلو خپلوانو قدرکوه دا نکاح به په عربو کښې دَ عامو شریفانو خلقو نکاح وه اوددې نوم نکاح الشرفاء هم وو.

[۲۰۸۰] خوانانو ته د نکاح کولو حکم

۲۰۸۰ - [۱] (۱) ① عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②: «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، ③ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، ④ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ، ⑤ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② اې دخوانانو دلې! په تاسو کې چې کوم سړی د مجامعت لوازمات (يعني د ښځې او وړو د نفقې او د مهر ادا کولو) استطاعت لري، نو هغه ته په کار دی چې هغه نکاح وکړي. ③ خکه چې نکاح کول نظر ډير ټيټوي، او شرمگاه ډيره محفوظ کوي (يعني د نکاح کولو سره د اجنبي ښځې طرف ته نظر نه مائل کېږي، او انسان د حرام کارې نه منع کېږي) ④ او کوم سړی چې د جماع د لوازماتو استطاعت (طاقت) نه لري، هغه ته پکار دی چې هغه روژې نيسي، ⑤ خکه چې روژه ساتل د هغه د پاره د خصي کولو فائده ورکوي (يعني څنگه چې د خصي کيدو سره جنسي جوش ختميږي، دغه شان په روژو نيولو سره هم جنسي جوش ختميږي) بخاري مسلم

حل لغات: - ① مَعْشَرَ: جماعت (وله معشر هغه جماعت ته واني چه په يو خاص وصف باندې مشتمل وي مثلاً معشر الرجال د سړو جماعت، معشر النساء د ښځو جماعت، معشر الجن د جنات جماعت. معشر الشيوخ د بوډاگانو جماعت او معشر الشباب د خوانانو جماعت ته واني ② الشَّبَاب: دا د شَابٌ جمع ده د دې مفرد شاب دې، خوان ته واني. شبان او شبية هم د دې جمع راخي. ③ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ: سترگو له زيات ښکته کونکې ده يعنې نکاح کولو سره سړي د غلط نظر نه بچ کيږي ④ أَحْصَنُ لِلْفَرْجِ: د شرمگاه زيات حفاظت کونکې ده ⑤ وِجَاءٌ: خصيتين ټکول. دې نه مراد د شهوت کم والې او ماتوالې دې خکه چه خصيتين د شهوت مرکز دې

تسهيلات: قوله: يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ:

د خوانۍ آخري حد: - د خوانۍ په آخري عمر او آخري حد کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې د شوافعو حضراتو په نيز د خوانۍ آخري حد ديرش کاله دې د ائمه احناف په نيز يو سړي تر خلويښتو کالو پورې د خوان ونيلو حق لري او د بلوغ د وخت نه خوانۍ شروع کيږي

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب من لم يستطع الباءة فليصم (رقم-٥٠٦٦) ومسلم في كتاب النكاح/ باب استحباب النكاح لمن تاقت نفسه إليه، ووجد مؤنه، واشتغال من عجز عن المؤن بالصوم(رقم-١ - (١٤٠٠))واخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب التحريض على النكاح (رقم-٢٠٤٦) والترمذي في كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في شرب أبوال الإبل (رقم-١٨٤٥) والنسائي في كتاب الصوم/باب ذكر الإختلاف على محمد بن أبي يعقوب في حديث أبي أمامة. في فضل الصائم (رقم-٢٢٤٢) وابن ماجه في كتاب النكاح/باب ما جاء في فضل النكاح (رقم-١٨٤٥) واحمد في المسند: ٤٣٢/١

قوله: اَلْبَاءَةَ

په لفظ باثة کې څلور قسمه لغات: - اي مؤنة البائة. دا کلمه په څلور لغاتو باندې وئيلې شي

① "بَاءَةٌ" دې کښې مد هم دې او تاء هم ده

② "بَاءٌ" دې کښې مد خو شته ليکن آخره کښې تاء نشته

③ "بَاهة" دې کښې مد نشته مګر آخره کښې پوره هاء او تاء شته

④ "بَاهٌ" دې کښې مد نشته دې مګر آخره کښې هاء موجود ده باه او مباهات دَ جماع او نکاح په معنی کښې راځي چه په اصل کښې همزه سره مباءة دَمکان ورکولو په معنی کښې دې ځکه چه کوم سړې نکاح کوی هغه ښځې ته ځائې او مکان ورکوی باه، قوت باه ته هم وئيلې شي

د لفظ باثة معنی او د حديث په مراد کښې دوه اقوال: - اوس دا کتل دی چه دلته په حديث کښې دَدې لفظ څه مراد او معنی کړې ده.

① شارحين حديث نه علامه طيبی رحمه الله فرمائی دې لفظ نه جماع او نکاح دواړه مراد اخستې شی او جماع مراد اخستل راجح دی. ليکن په دې صورت کښې به مضاف محذوف منلې شی يعنی مؤنة الجماع واسباب الجماع، دَدې محذوف ځکه ضرورت پيښ شو چه روستو "من لم يستطع" جمله راغلې ده دَدې عطف په "باءة" باندې صحيح نه دې ځکه معنی به دا شی چه کوم سړې ستاسو نه دَجماع طاقت نه لری هغه دې روژې ساتی دا معنی غلطه ده ځکه چه کوم سړې په جماع باندې قادر نه وی هغه له دَ شهوت کنټرول کولو دَپاره دَ روژو ساتلو څه ضرورت دې هغه خودَ مخکښې نه په جماع باندې قادر نه دې او که چرې "باءة" دَ لفظ نه نکاح مراد واخستې شی نو بيا به دا عطف صحيح شی [الکاشف ۶/۲۳۵]

② دَمسلم شريف شارح علامه محمد بن خليفه متوفی ۸۲۸هـ دَمسلم شريف شرح أُبِيّ کښې فرمائی چه "الباءة" هم دَ نکاح په معنی کښې دې دَ جماع معنی اخستل غلط دی ځکه چه په دې صورت کښې به دَ "من لم يستطع" مفهوم به غلط شی يعنی دَچا چه دَ جماع طاقت نه وی هغه دې روژې او ساتی غلط دی په دې وجه هم نکاح مراد ده. دَعلامه أُبِيّ تشريح زياته بهتر او آسانه ده

د نکاح فائدې: - دلته نبی کريم ﷺ دَ نکاح دوه لوئې فائدې خودلې دی. يوه دا چه نکاح سره سړې دَ غلط نظربازئی نه بچ کيږی او دويم دا چه دَحرام کارئی نه بچ کيږی.

قوله: مَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ:

د من لم يستطع توجيه: - دَدې جملې عطف دې نه مخکښې "من استطاع" په جمله باندې

دي او "باءة" د نکاح په معنی کښې دي نوبیا به معنی صحیح شی او که چرې باءة د جماع په معنی کښې واخستې شی لکه چه د علامه طیبی رائې ده نوبیا به مضاف محذوف منلې کیږی دې د پاره چه معنی صحیح شی یعنی "مؤنة الباءة اي اسباب الجماع"

قوله: فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ.

په لفظ علی کښې باریکه نکته:- د علی لزوم او رکوب په مفهوم کښې استعمال شوې دې په کوم سره چه دا اشاره اوکړې شوه چه یودوو روژو سره دامقصد نه حاصلیږی بلکه یوشان روژې ساتلو سره به حاصلیږی ځکه چه روژه ساتلو سره په انسانی رګونو کښې وینه منډې وهل بندیږی اوشیطان هم د دغه وینې په لارو سره داخلیږی نود ده داخله په بدن کښې بندیږی په کوم سره چه د مستنی لارې بندیږی ګنی په روژې سره سړې خصی کیږی نه صرف شهوت ئې کنټرول کیږی.

د څناورو د خصی کولو حکم:- د څناور خصی کولو کښې شوافعو حضرات فرمائی چه ماکول اللحم وړوکی څناورو خصی کول جائز دی د غتو جائز نه دي اود حرام څناورو خصی کول مطلقًا ناجائز دی. د احنافو په نیزد څناورو د خصی کولو ذکرخوشته مګر نور تفصیل ئې نشته دي.

[۲۰۸۱] د ترک نکاح ممانعت

۲۰۸۰-[۲] (۱) [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «رَدَّ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ التَّبَتُّلَ [۳] وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن ابي وقاص ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ حضرت عثمان ابن مظعون ﷺ د تبتل (یعني د نکاح پرېښودلو) نه منع کړي وو. [۳] که حضور ﷺ هغه ته د تبتل اجازت ورکړي وو نو مونږ به هم خانونه خصي کړي وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① التَّبَتُّلَ: بنخوسره انقطاع او ترک نکاح ته تبتل وائی

تسهیلات:

قوله: التَّبَتُّلَ: یعنی محبوب د شپې تیاره داسې روښانه کوی لکه څوک راهب تارک دنیا د زړا مناره چه وی

بی بی مریم او فاطمې ته د بتول ویلو وجه:- حضرت مریم ته بتول د ترک نکاح د وجې نه

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب ما یکره من التبتل والخصاء(رقم-۵۰۷۳ -) ومسلم فی کتاب الرضاع/باب التحریم بخمس رضعات(رقم-۲٤ - (۱٤٥۲) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی النهی عن التبتل (رقم-۱۰۸۳) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: النهی عن التبتل (رقم-۳۲۱۳) وابن ماجه فی کتاب النکاح/باب النهی عن التبتل (رقم-۱۸٤۸) واحمد فی المسند: ۱۷٥/۱

واني اوحضرت فاطمه رضي الله عنها ته بتول يا خودي دپاره واني چه هغې دنيا ترك كړې وه اويا په دې وجه چه د دې امت د ښځونه حسب نسب، دين اودرجه په اعتبار سره خان له جدا او ممتازه وه

[۲۰۸۲] ديندارې ښځې سره د نكاح كولو ترغيب

۲۰۸۲ — [۳] (۱) ⓵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ — رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ — قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ — صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ —: " ⓶ «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ: ⓷ لِمَالِهَا، وَلِحَسَبِهَا، وَلِجَمَالِهَا، وَلِدِينِهَا، ⓸ فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ و حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ د يوي ښځې سره د نكاح كولو په باره كې د څلورو څيزونو لحاظ ساتل كيږي، ⓷ اول د هغې مالدار كيدل. دويم د هغې حسب او نسب والا كيدل، دريم د هغې حسين او جميل كيدل. او څلورم د هغې ديندارو كيدل، ⓸ نو دينداره ښځه خپل مطلوب وګرځوه ستا دواړه لاسونه دي په خاوره ككړشي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① حَسَب: حسب نسب، دخاندان ښه صفاتو ته حسب وائي ② ظَفَر: كاميابي. ③ تَرِبَتْ يَدَاكَ: لاسونه دي ككړ شه، (دا كلمه د ترغيب ده)

تسهيلات:

قوله: وَلِحَسَبِهَا

د حسب نسب تعريف: — د سړي په خپل ذات اود هغه پلار نيكه اوخاندان كښې چه شرعاً يا عرفاً كوم ښه صفات وي د هغې نوم حسب نسب دې. دحسب لفظ خاص كر دښځې د خاندان په نسب باندې يادولې شي. د خاندان نسبي رفعت اوعظمت اثر په اولاد باندې پريوځي

د رشتې دپاره د سړو فطري رجحانات: — ① د انسان دا فطري خواهش وي چه هغه داسې ښځې سره نكاح اوكړي چه د خاندان په اعتبارسره اوچت وي عزت والاوي او حيثيت والا وي دې دپاره چه د هغوي په اولاد كښې دا خصوصيات راشي

② بعضې خلق غواړي چه دهغه نكاح ښه مالداره ښځې سره اوشي

③ د ډيروزياتو خلقودا هم خواهش وي چه دهغوي نكاح حسين اوجميل ښځې سره اوشي.

④ بعضې نيك او ديندارو خلق دا غواړي چه دهغوي ښځه نيكه او ديندارو شريفه وي

د اسلام په نظر كښې قابل ترجيح صفت: — اسلام دا ترجيحات مسترد كړي نه دي بلكه

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب الأكفاء في الدين (رقم-۵۰۹۰) واخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب ما يؤمر به من تزويج ذات الدين (رقم-۲۰۴۷) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: كراهية تزويج الزناة (رقم-۳۲۳۰) وابن ماجه في كتاب النكاح/ تزويج ذات الدين (رقم-۱۸۵۸) واحمد في المسند: ۴۲۸/۲

ددي په دینداري او نیکئی ته په باقي صفاتو باندي ترجیح ورکړې ده شریعت دینداري ته په دي وجه ترجیح ورکړې ده چه په دي کښي د انسان د دنیا ښیګړه ده او د آخرت هم ښیګړه ده ځکه چه په دینداری کښي پائیداري ده باقي دري څیزونه عارضي او زوال پذیر دي لهذا دیندار او دیانتدار اوعقلمند او مروت خلقو له پکار دي چه دهغوی په مخکښي دین په تولو باندي مقدم وی کوم چه نبی کریم دهغوی دپاره خوښ کړي دي

قوله فاظفر بذات الدين:

د مذکوره جملې مفهوم: - ظفرهغه کامیابئی ته واني چه د کامیابئی آخري درجه او د خوښي آخري منزل وی په کوم کښي چه د فوائد جلیله حصول وی دا امر ارشـدی دي دین ته اولیت ورکړي شوي دي دباقي ترجیحاتو نفي مقصود نه ده

قوله تربت يداك:

په عربی محاوراتو کښي د لفظ تربت یداک معنی: - داکلمه واضع د بددعا دپاره وضع کړې ده لیکن عرب په خپلو محاوراتو کښي دا د نورو معاني دپاره هم استعمالوی

① د زتي دپاره په یوکارباندي ترغیب ورکولودپاره ② دانکاردپاره

③ د حیرانتیا دپاره هم استعمالیږي. دلته بددعامقصود نه ده بلکه راؤچتول مقصود دي کوم ته چه ترغیب هم وئیلي شي. په اردو کښي د دي دپاره "تیرا ناس ہو" الفاظ به مناسب وی په عربی کښي به پوره جمله داسي جوړیږي ((تربت یداك ان لم تفعل ما امرتك)).[الکاشف ۲۳۷/۶.]

[۲۰۸۳] نیکه بی بی ښکه لویي د نیاوی نعمت

۳۰۸۳-[۳](۱) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «الدُّنْيَا كُلُّهَا مَتَاعٌ ③ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل ② پوره دنیا یو متاع ده. ③ او د دنیا بهترینه متاع نیك عمله ښځه ده. (مسلم)

حل اللغات ① مَتَاعٌ: د عارضي فائدي لپاره شان سامان

تسهیلات: قوله كُلُّهَا مَتَاعٌ:

د متاع تشریح: - د دنیا هغه قلیل اوکثیرسازوسامان د کوم نه چه فائده اوچتولي شي هغي ته متاع واني په مختصر الفاظو کښي داسي اووایه چه متاع هغه څیزدي د کوم نه چه لږه شان عارضي فائده اوچته کړي شي اوبیا فناشي [الکاشف ۲۳۸/۲.]

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الرضاع/باب خير متاع الدنيا المرأة الصالحة (رقم-۶۴ - (۱۴۶۷) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب المرأة الصالحة (رقم-۳۲۳۲) واحمد فی المسند: ۱۶۸/۲

د مرېي څيزونو حقيقت معلومولو دپاره د امام اصمعي د لټون عجيبه واقعه: -امام لغت شيخ اصمعي رحمه الله باره كښې وېنلى كېږي چه هغه د دريو څيزونو يعنى متاع، تبارك او رقيم حقيقت معلومولو تلاش وو چه د دې درېواړو الفاظو اصلي مفهوم او حقيقت څه دې نو هغه د كلو طرف ته لاړو دې دپاره چه د صحرانشين عربو فصحاء نه د دې حقيقت معلوم كړي كله چه هغه په يو كلي كښې يو كوهي ته اورسيدو نو هغه او كتل چه په كوهي باندې يوه جينئى لوبنى وينځى كومې سره چه د لوبنو وينځلو دپاره سخا. خيرنه خيځنه غوړه ګنده كپړه وه اصمعي رحمه الله دا نظاره كتله چه يوسپې راغلو هم دغه د لوبنو وينځلو كپړه ئې په خله كښې اوچته كړه او د غرطرف ته وراوختلو. دغه جينئى د فرياد په شكل كښې خپلې مورته دا سې آواز اوكړو "يَا أُمَّاهُ جَاءَ الرَّقِيمُ وَأَخَذَ الْمَتَاعَ وَتَبَارَكَ إِلَى الْجَبَلِ" اصمعي رحمه الله چه كله خپل دريواړه مقاصد په يوه جمله كښې واوريده نو د خوشحالئى نه تاؤ شو مطلب دا چه د متاع حقيقت چيتړه او لاس پناه د لوبنو وينځلو ګنده كپړه ده. او په سورت كهف كښې چه كوم د رقيم لفظ راغلى دې دې نه سپې مراد دې او په قرآن كښې چرته چه د تبارك لفظ راغلى دې هغې نه د الله تعالى اوچتوالي او عظمت مراد دې. نيكې ښځې ته په دې وجه د متاع او نفع سامان اووئيلې شو چه دا د مفتو څوكيداره ده د خاوند خدمتكاره ده ښه وفادار نسل زياتونكې ده غم شريكه ده خيرخواه ده مشوره وركونكې ده او هم دغه بهترين روزګار دې.

[۲۰۸٤] د قريشو نيک عملو ښځو فضيلت

۲۰۸۳—[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۳] «خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْإِبِلَ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ [۴] أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ فِي صِغَرِهِ، وَأَرْعَاهُ عَلَى زَوْجٍ فِي ذَاتِ يَدِهِ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] چې په اوښانو سوريدونكو ښځو كې ښه ښځې د قريشو نيكې ښځې دي. [۳] چې په ورو كوشنيانو ډيرې مهرباني وي. [۴] او د خپل خاوند د هغه مال چې د هغې په قبضه كې وي ډير زيات حفاظت كوي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① رَكِبْنَ الْإِبِلَ: په اوښانو سوريدونكي ښځې. دې نه د عربو ښځې مراد دى ځكه چه په اوښانو باندې سورلى د عربو د ښځو عادت دې. دا د هغوى خصوصيت او د هغوى تعريف دې ② أَحْنَاهُ: په ماشومانو بچو باندې مهربانى كونكې ښځې. ③ أَرْعَاهُ: د خاوند د مال حفاظت كونكې ښځې.

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب إلى من ينكح، وأي النساء خير. وما يستحب [ص:٦] أن يتخير لنطفه من غير إيجاب (رقم-٥٠٨٢) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب من فضائل نساء قريش (رقم-٢٠٠ - (٢٥٢٧) واحمد في المسند: ٢/٢٦٩٠

تسهيلات:

قوله أَحْنَاهُ عَلَى وَلَدٍ:

د حنا د لفظ ضبط:- حنا يحنو دَ نصر ينصر نه دَ شفقت په معنى كښې دې "ولد" نكره راوړلې شو دې دَپاره چه عموم راشى كه دَ چاځوك هم ولد وى كه هغه ئى خپل وى يا دَ سابقه ښځې وى چه دَ هغې په تربيت كښې وى په هريوباندې شفقت كونكې ده

قوله: أَحْنَاهُ:

د حنا نه مراد:- هغه ښځه چه څوك يتيم ماشوم اوپالى ګنى حانه نه ده ياكه چرې يتيمانو پريږدى نكاح اوكړى نوبيا هم حانه نه ده په دې حديث كښې دَعربو او بالخصوص دَ قريشو دَ ښځو تعريف دې.

د حناه په ضمير اشكال:- "احناه" كښې ضميرمذكر ولې راوړلې شو اوحال داد ې چه ضميربه ظاهره دَښځوطرف ته راګرځى؟

داشكال جواب:- دَمذكرضمير دَ الصنف طرف راګرځى مراد "هذا الصنف" دې يا "من يركب الابل" طرف ته راګرځى كوم چه دكلام په مفهوم كښې موجود دې دغه شان دَ ارعى ضمير هم دَمور طرف ته راګرځى كوم چه دَ كلام په مفهوم كښې دې

[۳۰۸۵] ښځې كه لويه فتنه ؟

٣٠٨٥-[٢] (١) ١ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "٢ «مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنهما وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ ما د خان نه وروسته هيڅ داسې فتنه نه ده پريښې چې د سړو په حق كې د ښځو د فتنې نه زياته ضرر رسانه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① فِتْنَةً أَضَرَّ: ډيره زياته ضرر رسونكې فتنه.

تسهيلات: قوله: مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً:

ښځه د فتنې او فساد جوړه:- ښځه كه چرې دَهغې په پيدائشې او تخليقى فطرت، يا څه ظاهرى شريعت قابونه كړى اودا فطرى او شرعى څيزونه دَهغې اصلاح اونه كړى نوښځه عين فساد دې اودَ سړو په حق كښې دادَ ټولو نه زياته ضرر رسونكې فتنه ده. اول خودَې

---

١) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب ما يتقى من شؤم المراة (رقم-٥٠٩٦) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب اكثر أهل الجنة الفقراء واكثر أهل النار النساء وبيان الفتنة بالنساء (رقم-٩٧ - (٢٧٤٠)) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تحذير فتنة النساء (رقم-٢٧٨٠) وابن ماجه في كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء في صلاة الليل والنهار مثنى مثنى (رقم-١٣٢٥) واحمد في المسند: ٥/٢٠٠

دپاره چه په عام توگه بندي د سړو طبائع د ښځو طرف ته مائل کيږي دويمه دا چه سړي د ښځو زيات خواهشات پوره کولوپابندوي او د ښځي توله سرمايه دا ده چه هغه سړي د دنيا ښکلا او ښائست طرف ته راماٸل کړي او د دنيا په محبت کښې راګيروي او د دنيا محبت د هرې برائيي اوفتني جرړه ده لهذا ښځه صرف د فساد ذريعه نه بلکه عين فساد دي

د دنيا اول قتل د ښځې په وجه: - په دنيا کښې اول قتل قابيل د ښځي د وجې نه کړې وو او هغه ني هم خپل رور وژلې وو قرآن کريم کښې الله تعالى ﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ﴾ [سورة آل عمران ۱۴ الخ] کښې ښځې نفس خواهشات گرځولو سره په تولو شهواتو کښې په سرفهرست ده خلاصه دا چه که چرې ښځه صالحه وي نو دا د حضرت حوا عليها السلام نوراو حوره ده او که مفسد وي نو دا د شيطان ترور ده

په حديث کې د بعدي قيد فائده: - نبي کريم د ښځو دا فتنه "بعدي" سره خاص کولو کښې اشاره او کړه چه د دې فتنه په زماد وفات نه پس زياتيږي

[۳۰۸۶] د ښځې فتنې څخه د ځان ساتلو حکم

۳۰۸۶-[۷] (۱) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ ③ وَإِنَّ اللهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ④ فَاتَّقُوا الدُّنْيَا، وَاتَّقُوا النِّسَاءَ ⑤ فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ». "رَوَاهُ مُسْلِمٌ".

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دنيا شيرينه او شنه (جازب نظره) ده. ③ الله ﷻ تاسو د دې دنيا خليفه جوړ کړي يئ، ځکه هغه هر وخت، ګوري چې تاسو په دې دنيا کې څنګه عمل کوئ. ④ نو د دنيا نه ځان اوساتئ، او د ښځو (د فتنو) نه ځان اوساتئ. ⑤ ځکه چې د بني اسرائيلو د تباهۍ باعث د تولو نه مخکې فتنه د ښځو په صورت کې وه. (مسلم)

حل اللغات: ① **حُلْوَةٌ:** خوږه او شيرينه. ② **خَضِرَةٌ:** شنه او تازه. نظر رانيکونکي. دنيا هم دغسې ده په طبيعت خوږه او په نظر ښائسته لګي ③ **مُسْتَخْلِفُكُمْ:** يعنى الله تعالى تاسو په دې دنيا کښې خپل خليفه جوړ کړي يئ تاسو خليفه يئ اصل مالك الله تعالى دې تاسو صرف د نائب او وکيل په توګه په دې کښې اوسيږئ

تسهيلات:

قوله: فَاتَّقُوا الدُّنْيَا: يعنى دنيا يو د دهوکې نه ډك جال دې په دې کښې مه راګيريږئ دنيا فاني او ختميدونکې څيز دې خپله بيړئ په دې خطرناك سمندر کښې مه ډوبه وئ

۱) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار بباب أكثر أهل الجنة الفقراء وأكثر أهل النار النساء وبيان الفتنة بالنساء (رقم-۹۹ - (۲۷۴۲) والترمذى في ما جاء ما أخبر النبي صلى الله عليه وسلم أصحابه بما هو كائن إلى يوم القيامة (رقم-۲۱۹۱) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب فتنة النساء (رقم-۴۰۰۰) واحمد في المسند: ۲۲/۳

قوله فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسْرَائِيلَ:

په بنی اسرائیلو کښې د اولنی فتنې سبب ښځه: - په دې حدیث کښې په بنی اسرائیلو باندې د ښځو د وجې نه چه کومه فتنه راغلې وه د هغې مصداق دوه واقعې کیدې شی

د بنی اسرائیلو د سړی د قتل وجه ښځه: - بنی اسرائیل کښې عامیل نومې یو سړی خپل تره یا د تره ځوئی په دې وجه قتل کړو چه د هغه لور یا د هغه ښځې سره نکاح اوکړی د سورت بقره اوړده قصه هم دې واقعه سره متعلق ده کیدې شی چه په دې حدیث کښې دې قصې طرف ته اشاره وی

د بلعم بن باعوراء د گمراهی سبب ښځه: - حضرت موسی علیه السلام بنی اسرائیل واخستل د جهادپه غرض د شام په علاقه کښې جبارون (دعمالقه وغیره) په مقابله کښې راؤوتل په دې قوم کښې بلعم بن باعور په نوم باندې یومستجاب الدعوات سړې اوسیدلو قوم هغه ته اوونیل چه د موسی علیه السلام خلاف بددعا اوکړه دې دپاره چه موسی علیه السلام خپل لښکرسره واپس لاړشی هغه اوونیل تاسو توبه اوکړئی هغه پیغمبردې که بددعامې اوکړه نو هلاك به شم دې خلقو د ښځو اوتحفو په ذریعه تیارکړو. بلعم په خپل خرباندې سور شو د بددعا د پاره اووتلو نو خر گویا شو اوبلعم ته ئی اوونیل

اې نادان بلعم! په تاباندې افسوس دې ولې خپل ځان سره ماهم هلاك کوې؟ ته ما وړاندې کوې اوفرښتې ما شاته دیکه کوی. بلعم د خر نه کوز شو پیدل روان شو اولاړو په یومقام کښې بددعااوکړه بددعا اولټه شوه هغه خپل قوم ته بددعا کول شروع کړه قوم ونیل بلعم ته څه کوې؟ هغه اوونیل زه څه کوم بې اختیار د ژبې نه ستاسو دپاره بددعااوځی دې سره د بلعم ژبه د خلې نه بهر راووتله او په سینه باندې زوړند شوه

د الله تعالی مدد بندولو دپاره یوه حربه: - بلعم خپل قوم ته اوونیل زما خودنیا اوآخرت تباه شو اوس تاسو د موسی اود هغه د لښکرو د منع کولو دپاره خپلې ښائسته ښځې سینگارکړئی او لښکرته ئی ورلیگئی اودغه ښځوته اووایئی چه د هریوسپاهی هرخواهش پوره کړی نودا ښځې لاړې او په اسلامی لښکرکښې فتنه اچول شروع کړه. خو چاهم د هغوی طرف ته اونه کتل مگر زمزم نومې یونسردار یوې ښځې سره زنااوکړه د کوم په ذریعه چه په بنی اسرائیلو کښې یووبائی مرض خورشو په کوم سره چه اویا زره فوجیان مړه شو حضرت موسی علیه السلام د دې گناه د لټولو دپاره سړې اولیگل. یوسړی زمزم اوهغه سره یوه اجنبی ښځه قتل کړه نوبیا عذاب اخواشو. کیدې شی چه په دې حدیث کښې دې قصې اودې فتنې طرف ته اشاره وی.

[۳۰۸۷] ددرې څیزونو سپیره والي

۳۰۸۷—[۸] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«الشُّؤْمُ فِي الْمَرْأَةِ وَالدَّارِ وَالْفَرَسِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ③ وَفِي رِوَايَةٍ: «الشُّؤْمُ فِي ثَلَاثَةٍ: فِي الْمَرْأَةِ، وَالْمَسْكَنِ وَالدَّابَّةِ».

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② چې په ښځې، كور او آس كې نحوست وي (بخاري او مسلم) ③ او په يو روايت كې دي چې حضور ﷺ وفرمايل نحوست په درې څيزونو كې وي په ښځو كې، په مكان كې او په حيوان كې

حل اللغات: ① الشُّؤْمُ: بدفالي، نحوست، بې بركتي. شُوم دَ بركت ضد دې

د احاديثو په مينځ كښې د تعارض اشكال:- دا حديث دَهغه ټولو احاديثو سره معارض دې په كوم كښې چه دَ بدفالي اونحوست نفي كړې شوې ده بلكه "الطيرة شرك" فرمائيلې شوې دى؟

د اشكال درې جوابونه:- ① واقعي الله تعالى په دې دريوارو څيزونو كښې دَنحوست خاصيت كيخودې دې. دا تاثير بالخاصه دې په دې وجه دا درې څيزونه دَ بدفالئي او طيره دَ عام احاديثو نه مستثنى دى. "ومامن عام الاوقد خص عنه البعض ی".

② حضرت ابوهريره رضي الله عنه دَدغه نحوست په توضيح اوتشريح كښې فرمائى چه دَ ښځې نحوست دادې چه بداخلاقه وى، دَاس نحوست دې چه سركش وى اودَ كور نحوست دا دې چه تنګ وى. نودلته په حديث كښې دَ شوم نه بدفالي نه بلكه بدى اوبرائى مراد ده. بعضو ونيلي دى چه منحوسه ښځه هغه ده چه شنډه وى دَ كور نحوست دا دې چه ګاونډى بيكاره وى اودَ اس نحوست دا چه په هغه باندې جهاد اونه كړې شى.

③ داكلام دَ فرض اوتقدير په توګه باندې دې چه فرض كړه كه نحوست وى نو په هغه دريو څيزونو كښې به وى مګر نحوست نشته دې په دې وجه په دغه دريو كښې هم نشته دې

[۳۰۸۸] پيغلې ښځې سره د نكاح كولو ترجيح

۳۰۸۸—[۹] (۲) ① وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي غَزْوَةٍ ② فَلَمَّا قَفَلْنَا كُنَّا قَرِيبًا مِنَ الْمَدِينَةِ ③ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ ④ قَالَ: تَزَوَّجْتَ؟ " قُلْتُ: نَعَمْ. ⑤ قَالَ: أَبِكْرٌ أَمْ ثَيِّبٌ؟ قُلْتُ: بَلْ ثَيِّبٌ.

۱) اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب ما يتقى من شؤم المرأة (رقم-۵۰۹۳) ومسلم فى كتاب السلام/باب الطيرة والفأل وما يكون فيه من الشؤم (رقم-۱۱۵ - (۲۲۲۵) واخرجه ابو داود فى السنن كتاب الطب/باب فى الطيرة (رقم-۳۹۲۲) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الشؤم (رقم-۲۸۲٤) والنسائى فى كتاب الخيل/باب: شؤم الخيل (رقم-۳۵۶۹) ومالك فى الموطا كتاب الاستئذان/باب ما يتقى من الشؤم(رقم-۲۲)

۲ اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب تستحد المغيبة وتمتشط الشعثة (رقم-۵۲٤۷) ومسلم فى كتاب الرضاع/باب استحباب نكاح البكر (رقم-۵۷ - (۷۱۵) واخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى تزويج الأبكار (رقم-۲۰٤۸) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:على ما تنكح المرأة (رقم-۳۲۲۶) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ تزويج الأبكار (رقم-۱۸۶۰)

ترجمه: [۱] د حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې په يو جهاد کې مونږ د رسول الله ﷺ سره ملګري وو [۲] کوم وخت چې مونږ د جهاد نه واپس راغلو او مديني ته نزدې ورسيدو [۳] نو ما عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ زما نوی نوی واده شوی وو (چې زه جهاد ته ولاړم اوس که حکم وي، نو زه به مخکې ولاړ سم، چې خپل کور ته زر ورسيږم [٤] نو حضور ﷺ وفرمايل چې تا نکاح کړيده؟ ما عرض اوکړو چې هو، [۵] رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې: پيغلې سره که د کونډې سره؟ ما عرض اوکړو چې د کونډې سره.

[۱] قَالَ: فَهَلَّا بِكْرًا تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ. [۲] فَلَمَّا قَدِمْنَا ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ، [۳] فَقَالَ: أَمْهِلُوا حَتَّى نَدْخُلَ لَيْلًا أَيْ عِشَاءً [٤] لِكَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمايل د پيغلې سره دې نکاح ولې ونه کړه؟ چې تا د هغې سره او هغې تا سره ساتيې کولې، [۲] بيا چې مونږ مدينه ته ورسيدو او مونږ ټولو خپلو کورونو ته د تلو اراده وکړه، [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل چې اوس لږ انتظار وکړئ. مونږ به د شپې (يعني د ماښام په وخت) په کورونو کې داخليږو، [٤] چې د کومې ښځې ويښتان ار اوبير وي هغه سر چوټي ګمنز کړي او هغه ښځه چې د هغه خاوند موجود نه وو (بلکه زمونږ سره جهاد ته تلی وو) خپل ويښتان زيات صاف کړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات ① فِي غَزْوَةٍ: دې نه مراد غزه تبوك دې ② قَفَلْنَا: دَميدان جهاد اوغزوه نه واپس كورته راتلوته قفل وائي ③ تَمْتَشِطَ: امتشاط ګمنز کولوته وائي ④ الشَّعِثَةُ: خيرن ويښتووالا ښځې ته وائي كله چه تر ډيره وخته پورې خاوند دكور نه غائب وي نوښځه عموماً د ويښتو جوړولونه غافله وي هم دغې ته شعثه وائي ⑤ وَتَسْتَحِدَّ: استحداد دَ حديد نه دې دَ اوسپنې استعمالولو په معنى كښې دې ⑥ الْمُغِيبَةُ: هغه ښځې ته وائي دكومې خاوندچه دَ ډيرې مودې نه غائب وى ميم باندې ضمه ده

قوله تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ:

د باکرې سره د نکاح مشوره ورکول: - په دې جمله سره دَ ښځې خاوند په مينځ كښې لويې توقې اودَ حقوق زوجيت طرف ته اشاره كړې شوې ده حضرت جابر رضي الله عنه ته نبى كريم باكره او پيغلې سره دَ نكاح كولوترغيب وركړو

د جابر رضي الله عنه د ثيبې سره د نکاح کولو وجه: - حضرت جابر رضي الله عنه دَدې يومعقول وجه اوخودله چه زما اته خوئينډې دى كه چرې ما پيغلې جينئى سره واده كړې وې نوهغه به هم هغوى سره يوه جينئى جوړيدوسره اوسيدله ما غوښتل چه يوه ثيبې كونډې تجربه كارې ښځې سره واده اوكړم دې دَپاره چه هغه دَدوى مور جوړيدوسره تربيت اوكړى.

قوله نَدْخُلَ لَيْلًا:

د تعارض اشکال: - دلته سوال دادې چه بل حديث كښې دَ شپې وخت كښې داخليدل منع كړى دى اودلته دَ شپې دَداخليدودَ پاره دَ انتظار حكم وركړې شوې دې دا تعارض دې؟

د تعارض جواب:- د شپې داخلـدل هغه وخت منع دي چه اول ئې ښځې ته خبر نه وي اوکله چه د ښځې د ډول سینګار موقع ملاؤ شي نو دا جائز دي ځکه چه دا صورت د دې ممنوع صورت نه جدا دي

د وېښتو ختمولو دپاره ښځې له د چاړې استعمالولو حکم:- اوس دلته رومبې سوال دا دې چه دلته د ښځې دپاره د چاړې استعمال خودلې شوې دې دا څنګه دې؟

ددې جواب دا دې چه د ښځې دپاره د چاړې استعمالول نامناسب هم دي اونه ښځه دا ستعمال په صحيح طريقه سره پوره کولې شي دلته د استحداد لفظ د وېښتو ختمولو کنايه ده که هغه په نوره سره وي اوکه په بال صفا وغيره سره وي د ښځو دپاره اصل طريقه "نتف" يعني د وېښتو راشوکولو يا وېستل دي. ليکن دا لفظ د قباحت د وجې نه نه دې ښکاره کړې نو د استحداد لفظ استعمال کړې شو

د لفظ المغيبة په تعبير کې يو نکته:- هم دغه وجه ده چه دلته "المغيبة" لفظ راغلې دې وددې نه مخکښې د الشعثة لفظ راغلې دې حالانکه هغه د ګمنزي کونکې خيرنووېښتووالا ښځه هم المغيبة ده ددې خاوند هم غائب پاتې دې ليکن دلته د ښځې د نامه نه لاندې وېښتو ذکر پرېخودو سره دا د مغيبة په نوم سره ياده کړې شوې ده دې دپاره چه د ښځو په پټو خبرو باندې ترممکن حد پورې پرده واچولې شي نو د المغيبة لفظ په حقيقت کښې د ښځې د نامه لاندې وېښته اوږده کيدو سره کنايه ده ددې ذکر د قباحت په وجه پرېخودې شوې دې او په الشعثة کښې قباحت نه وو په دې وجه ددې ذکر اوکړې شو دې ته د "المغيبة" وئيلو ضرورت نه وو د سړو د نامه لاندې وېښتو صفاکولوکښې د چاړې استعمال زيات بهتراو د مردانه قوت د زياتيدو سبب دې او د ښځو دپاره "نتف" يعنې رابنکل زيات بهتر دي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۰۸۹] د الله تعالى د مدد مستحق درې کسان

۳۰۸۹-[۱۰] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللّٰهِ عَوْنُهُمْ: [۳] اَلْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الْأَدَاءَ، [۴] وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ، [۵] وَالْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] درې سړي داسې دي

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی المجاهد والناكح والمكاتب وعون الله إياهم (رقم-۱۶۵۵) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب: معونة الله الناكح الذي يريد العفاف (رقم-۳۲۱۸) وابن ماجه فی كتاب النكاح/ الأكفاء. (رقم-۱۹۶۷)

چې د هغوئ مدد په الله ﷻ باندې (د هغه د وعدې مطابق) واجب دی،[۳] يو خو هغه مكاتب چې د خپل بدل كتابت د ادا كولو اراده لري،[۴] دويم نكاح كونكی سړی چې د حرام كارې نه د خان ساتنې نيت لري[۵] او دريم د الله ﷻ په لار كې جهاد كونكی. (ترمذي نسائي ابن ماجه)

حل اللغات حَقٌّ :واجب او لازم دی. ②عَوْنُ:نصرت او امداد

قوله :حَقٌّ عَلَى اللهِ:

د لفظ حق اختيارولو وجه :-لفظ حق ځكه اختيار كړې شوچه راتلونكی درې امور دَانسان دَپاره ډير سخت او مشكل دی چه دَ انسان ملا ماتوی. كه چرې الله تعالى خصوصي مهرباني نصرت او امداد او نه كړی نو هيڅ يوسړې دا نه شي پوره كولې

قوله : الْمُكَاتَبُ:

د مكاتب تعريف :- مكاتب هغه غلام ته وائی چه دَهغه مالك هغه ته ونيلی وی كه چرې تادومره روپيئ اوګټلې او ماته راكړې نوته به آزاد شې. دې رقم ته بدل كتابت وائی دَدې په اداكولوسره غلام آزاديږی. ليكن كه دَدې يوه روپيئ هم باقي وی نومكاتب به غلام پاتې وی دغه غلام ته زكوة وركول هم جائز دی اوالله تعالى په خپل خان باندې دَ احسان او اكرام په توګه دَ هغه امداد كول واجب ګرځولی دی.

دغه شان ناكح دې اوهم دغه شان مجاهد فی سبيل الله دې ځكه چه ناكح پاك دامنی غواړی اومجاهدخودَ الله تعالى دَ دين دَ اوچتوالی دَپاره دَ خپل خان بازی لګوی. په دې وجه الله تعالى دَهغه امداد كوی چه دا بې غرضه خلق دی.

[۲۰۹۰] دَښځې دَولی دَپاره يوضروری هدايت

۳۰۹۰-[۱۱] (۱) [۱]وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ[۳]إِنْ لَا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هر كله چې تاسو ته څوك د نكاح پيغام راوړي او تاسو د هغه سړي د دينداری او د هغه د اخلاقو نه مطمئن او خوشحاله يئ نو (د هغه پيغام منظورولو سره) د هغه سره يې نكاح وكړي،[۳] او كه داسې ونكړي نو په زمكه كې به فتنه او لوی فساد پيدا شي. (ترمذي)

حل اللغات: ①خَطَبَ:د نيكاح پيغام اوليږلو . ②فَسَادٌ عَرِيضٌ:اوږد او لوئې فساد چه تر ډيره وخته پورې جاري وی.

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء إذا جاءكم من ترضون دينه فزوجوه (رقم-۱۰۸٤)

تسهيلات

قوله إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ

د جينۍ د رشتې راتلو په وخت اولياؤ ته هدايت: يعنې بونيك سيرت او نيك صورت سړی دَ نكاح پيغام وركړو نو دَ جينۍ اولياء له پكاردي چه په دغه پيغام باندې عمل كولوسره جينۍ دَهغه په نكاح كښې وركړي اوبې كاره شرطونه دې نه لګوي لكه چه د دنيا دَخلقو عادت دې چه هغوی دولت مند اومالداران خلق ګوري اوګرځي او ښه اخلاق طورطريقې او ديندارئي ته نه ګوري بيا قسماقسم شرطونه لګوي په دې وجه دَمرضۍ رشته زرنه ملاويږي نوجينۍ به ترمرګه پورې په كور كښې ناسته وي جګړې به پيدا كيږي اواوږد فساد به شروع شي په حديث كښې خطاب دَ ښځې اولياء ته دې كله كله دَ پيغام رد كولوسره خپل مينځ كښې بغض اوحسد دَ دښمنۍ عداوت اوفساد ميدان هم ګرميږي

د امام مالك رحمه الله په نيز د كفاءت معيار: دَدې حديث دَ وجې نه امام مالكؒ فرمائي چه دَ نكاح پيغام راتلونه پس صرف دين ته كتل پكاردي دې نه علاوه كفوكښې څه شرافت اوخانداني تناسب ته به نه شي كتلې ليكن جمهور علماء كرام فرمائي چه دكفودپاره دَ څلورو څيزونو كيدل ضروري دي. ① دين ② حريت ③ حسب نسب ④ حرفت او پيشه [الكاشف ۶/۲۲۲.]

[۲۰۹۱] ديربچی راوړونكې ښځې سره د نكاح كولو ترغيب

۳۰۹۱ — [۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ، [۳] فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت معقل ابن يسار رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو د داسې ښځې سره نكاح كوئ، چې خپل خاوند سره محبت كونكې وي، زيات ماشومان خيږي پيدا كيدونكې وي، [۳] ځكه چې زه به د نورو امتونو په مقابله كې ستاسو په كثرت فخر كوم، (ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① الْوَدُودَ: خاوند سره محبت كونكې ښځه ② الْوَلُودَ: ډير بچې راوړنكې ښځه ③ مُكَاثِرٌ: په زياتوالي باندې فخر كول

قوله تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ:

محبت كونكې اوبچی راوړونكې ښځې سره د نكاح ترغيب: ښځه كه كثيرالاولاد وي مګر خپل خاوندسره محبت كونكې نه وي نوداهم دَ زړه دَتسكين او نظر ته نيزدې نه ده اوكه

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب النهى عن تزويج من لم يلد من النساء (رقم -۲۰۵۰) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب: كراهية تزويج العقيم (رقم -۳۲۲۷)

چرې اولاد نی نه وی شنډه وی نود نکاح مقصد اومطلوب فوت کیږی نوبیاهم د اطمینان سبب ده خوکه دا دواړه صفتونه په یوښځه کښې راشي نوهغه مرغوبه هم ده اومحبوبه مطلوبه هم ده

د مذکوره دوو صفاتو معلومولو طريقه: - د هرې ښځې د خاندان اوخپلوانونه پته لګی چه د دې خاندان جینکنی څنګه وی

قوله فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ.

دامت په زیادت د نبي کريم ﷺ فخر: - داجمله د ماقبل دپاره علت دی "مکاثر ای مفاخر" یعنی د نورو امتونو په مقابله کښې به ستاسو په کثرت باندې فخرکوم چه زما منونکی زیات دی کله چه تاسو زیات شئ نوزه به په دغه مقابله کښې په هغوی باندې غالب راشم په دې حدیث کښې د کثرت اولاد ترغیب دی

[۲۰۹۲] پیغلې سره د نکاح کولو ترغیب

حدیث [۱۳] (۱)[۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَالِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ عُوَيْمِ بْنِ سَاعِدَةَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " «عَلَيْكُمْ بِالْأَبْكَارِ، [۳] فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهًا، وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا، [۴] وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الرحمٰن ابن سالم ابن عتبه علیه الرحمه ابن عویم ابن ساعده انصاري د خپل پلار حضرت سالم نه او هغه د عبد الرحمٰن د نیکه (یعني حضرت عتبه تابعي علیه الرحمه) نه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو ته د پیغلو ښځو سره نکاح کول پکار دی. [۳] خکه چې هغه شیرین دهن وي (یعني پیغلې ښځې شیرین زبانه او خوش کلامه وي او هغه په بد زباني او فحش ګوني کې نه مبتلا کیږي) او زیات ماشومان پیدا کونکي وي. [۴] او هغه په لږ څه شي باندې راضي وي (یعني په لږ مال او اسباب پیدا کیدو باندې هم راضي وي) دا روایت ابن ماجه بطریق ارسال نقل کړي دی

حل اللغات ① أَعْذَبُ أَفْوَاهًا: د باکرې ښځې د خولې د توکانړو خوږوالی ته وائي (دا کنایه ده د خوږو خبرو او خوش کلامئ نه) ② وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا: زیات ماشومان پیدا کونکې. ③ وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ: په لږ څه مال اسباب باندې راضي کیدونکې.

تسهیلات: **قوله** ① أَعْذَبُ أَفْوَاهًا:

د اعذب افواها په مفهوم کښې اقوال: -

① "اعذب افواها" د هغې د ژبې او کلام د خوږوالی سره کنایه ده.

② اعذب افواها د ناواده کړې په ژبه د شرم اوحیاد وجې ژبه اوږدول نه کیږی څکه چه هغې

۱) اخرجه ابن ماجه في كتاب النكاح/ تزويج الأبكار (رقم- ۱۸۶۱)

دې نه وړاندې خاوند سره واسطه نه وي راغلې
③ اعذب افواها: دې نه كنايه ده چه د ناواده كړې شكل او صورت كښې بناوټ او سجاوټ وي كوم چه د عذوبت ذريعه ده دا كيفيت په ثيبه كښې نه وي
④ اعذب افواها: حقيقةً د باكره تو كانړې د بكارت په وجه مزيدارې وي
قوله: وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا:
د زيات بچو راوړونكې ښځې فضيلت:- په دې حديث كښې د باكره دويم خصوصيت دا بيان كړې شوې دې چه باكره د بكارت د وجې نه زيات بچې پيدا كوي
انتق اوسع په معنى كښې دې: اى اكثراولادا: يعنى په رحم كښې قوت غريزى او حرارت زيات كيدو د وجې نه نطفه زر قبلولو سره زيات بچې پيدا كوى. ناتق هغه ښځې ته وائى د كومې چه زيات اولاد وى.
قوله: ③ وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ:
په لږ څيز راضى كيدل:- په دې جمله كښې د باكره يعنى ناواده كړې دريم خصوصيت دا بيان كړې شوې دې چه باكره ته په هرڅيز كښې خومره حصه وركړې شى هغه راضى وى كه هغه جماع وى كه سامان وى كه طعام وى كه سلام كلام وى ځكه چه هغې بل خاوند نه وى ليدلې بلكه د دغه ميدان رومبې شهسواره وى نو په قليل او كثير دواړو باندې راضى وى په خلاف د كونډې ښځې چه هغې د دې نه وړاندې د يو بل خاوند شهسوارى كړى وى نو هغه دا دويم خاوند په هر څيز كښې تلى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۰۹۳] په محبت پيدا كولو كښې د نكاح اثر

۳۰۹۳-[۱۳] (۱) ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «لَمْ يُرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مِثْلُ النِّكَاحِ».

ترجمه: ① حضرت ابن عباس ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل راى سريه؛ ② تا به د نكاح په شان داسې څه څيز نه وي ليدلى، چې د دوو محبت كونكو په منځ كې محبت زيات كړي
حل اللغات: ① اَلْمُتَحَابَّيْنِ: دوه كسان په خپل مينځ كښې محبت كونكى
تسهيلات: قوله: لِلْمُتَحَابَّيْنِ:
د حديث دوه مطلبونه:- ① يعنى د نكاح په ذريعه د ښځې او خاوند په خپل مينځ كښې

۱) اخرجه ابن ماجه فى كتاب النكاح / باب ما فى فضل النكاح... رقم الحديث ۱۸٤۷

محبت دومره زياتيږي چه په يوبل کښې فنا کيږي دَ دې دوو نه علاوه دَ طرفينو خاندان په خپل مينځ کښې محبت او تړلي کيږي لکه دَ وينې رشتې سره دا رشته په محبت کښې زياتيږي او په يوبل باندې قربانيږي

② مطلب دا دې چه اول په دواړو کښې صفا محبت وو دَهغې نه پس دَ دواړو په مينځ کښې نکاح اوشوه نو دَ نکاح والا محبت دومره زياتيږي چه چا به داسې محبت نه وي ليدلې او نه به ني اوريدلې وي دَدې وجه دا ده چه دَ نکاح نه بغير محبت ناقص دې او په نکاح کښې جماع ده په کوم کښې چه دَ محبت تکميل دې

[۲۰۹٤] آزادو ښځوسره دَ نکاح کولو فضيلت

۳۰۹٤—[۱۵] (۱)①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«مَنْ أَرَادَ أَنْ يَلْقَى اللّٰهَ طَاهِرًا مُطَهَّرًا، ③فَلْيَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ».

ترجمه: ①او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②کوم سړی چې د دې خبري خواهشمند وي چې هغه (د زنا د نجاست نه پاك) د پاکي په حالت کې او پاکيزه د الله ﷻ سره ملاقات وکړي③ نو هغه ته پکار دی چې د آزادو ښځو سره نکاح وکړي

حل للغات: ①الْحَرَائِرَ: جمع د حرة ده ، آزاده ښځه، ددې ضد اَمَةٌ (وينځه) راځي

قوله: فَلْيَتَزَوَّجِ الْحَرَائِرَ:

آزاد ښځو سره د نکاح کولو حکمت: —وجه داده چه په وينځه کښې هغه خصوصيات نه وي کوم چه په آزاده کښې وي دَ دې خراب اثر په خاوند باندې هم وي او بيا دَ دې خراب خيالات او دهمت لاندې والي اثر په اولاد باندې هم وي. وينځه پخپله دَ ادب او تهذيب نه خالي وي په دې وجه دَهغې اولاد بې ترتيب او بدتهذيب جوړيدې شي دَ دې برعکس دَ آزادې اوچت صفتونو اثر په خاوند او اولاد باندې پريوځي نو هغه به پاك صفا وي دَ آزادو ښځو په شان طريقه او سليقه په وينځو کښې چرته کيدې شي

خلاصه دا چه اسلام خپل منونکي کامل انسان او کامل صفاتو والا ليدل غواړي دا صفات په آزادو شريفو ښځو کښې دي په وينځو کښې نشته دې.

[۲۰۹۵] خاوند دپاره نيکه ښځه لوئي نعمت

۳۰۹۵—[۱٦] (۲)①وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ يَقُولُ: ②«مَا اسْتَفَادَ الْمُؤْمِنُ بَعْدَ تَقْوَى اللّٰهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ، ③إِنْ أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ، ④وَإِنْ نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ، ⑤وَإِنْ أَقْسَمَ عَلَيْهَا أَبَرَّتْهُ، ⑥وَإِنْ غَابَ عَنْهَا نَصَحَتْهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ». رَوَى ابْنُ مَاجَهْ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ.

۱) اخرجه ابن ما جه فى كتاب النكاح/ تزويج الحرائر والولود (رقم-۱۸٦۲)
۲) اخرجه ابن ما جه فى كتاب النكاح/باب أفضل النساء (رقم-۱۸۵۷)

ترجمه: [۱] او حضرت ابو امامه ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مومن بنده د الله ﷻ د تقوى نه وروسته د ټولو نه ښه شى چې د خان د پاره منتخب كوي، هغه نيك بخته او خوبصورته ښخه ده، [۳] د داسې ښځې خصوصيت دا دى كه خاوند هغه ته څه حكم وركوي نو هغه پرځاي كوي، [۴] هر كله چې د هغې طرف ته ګوري نو هغه (د خپل حسن، پاكيزګي، خوش سليقګى او پاك سيرتي سره) د هغه زړه خوشحالوي، [۵] هر كله چې هغې ته قسم وركوي، نو هغه قسم پوره كوي [۶] او هر كله چې د هغه خاوند موجود نه وي نو د خپل نفس اود ده د مال په باره كې د هغه خير خواهي كوى چې (هغه د ضائع كيدلو او خرابيدلو نه ساتي او په هغه كې څه خيانت نه كوي) مذكوره بالا حديثونه ابن ماجه ﷫ نقل كړي دي

حل اللغات: ① اِسْتَفَادَ: فائده او ګټه ئې واخسته ② اَبَرَّتْ: قسم كښې برى كونكې ښخه ③ نَصَحَتْ: خير خواهى كونكې ښخه يعنى خيانت پكښې نه كوى.

تسهيلات:

قوله: زَوْجَةٍ صَالِحَةٍ

د صالحې او نيک عمله ښځې صفات: - يعنى دَ ديندارئى او تقوى نه پس دَ هرڅه نه بهترين خيز صالحه اونيكه بى بى ده چه دَمفت خدمتګاره اوتابعداره ده دَ خاوند دَ ټولو احساساتو محافظه ده په كوم كښې چه دَ دين اودنيا دواړو فائده ده په دې حديث كښې "تقوى الله" يعنى دَ الله تعالى ويره او دين اسلام په دوو حصوكښې تقسيم كړې شوې. نيمه حصه نيكې ښځې سره نكاح ده اوباقى نيمه دَدې نه علاوه ده دَدې حديث مضمون راتلونكې حديث په شان دې چه نكاح كول نيم دين دې. په احياء العلوم كښې امام غزالى ﷫ فرمائى چه انسان تباه كونكى په عمومى توګه باندې دوه څيزونه دى يوبطن دې او دويم فرج دې په نكاح سره دَ فرج مسئله حل كيږى

په دې حديث كښې دَ نيكې ښځې تشريح اوتفصيل دې. خلاصه دا چه ښخه كه نيكه وى نودَ خاوند اوامر اونواهى اودَهغه دَ اوريخو په اشاره لبيك وائى كه خاوندئى موجودنه وى نو بياهم خيرخواه وى اوكه مفسده وى نوبياخو ټول فساد دې

قوله: أَقْسَمَ عَلَيْهَا:

دخاوند دقسم پوره كولو خيال ساتل: - مطلب دا چه خاوند دَ ښځې سره متعلق څه قسم خورلې وى چه دا كاربه نه كوى يابه كوى نونيكه ښخه دَ خاوند دَ قسم پوره پوره خيال ساتى

[۲۰۹٦] په نكاح د نيم دين اطلاق

۳۰۹٦- [۱۷] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّينِ [۳] فَلْيَتَّقِ اللهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي».

ترجمه:[۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې نکاح وکړه هغه خپل نيم دين پوره کړي [۳] اوس هغه ته پکار دی چې د باقي نيم په باره کې د الله تعالیٰ نه ويريږي.

قوله: نِصْفَ الدِّيْنِ

په نکاح د نيم دين د اطلاق وجه:- يعنی په انسان کښې دوه قوتونه او دوه څيزونه داسې دی په کوم سره چه پوره دين کښې د فساد راتلو احتمال دې يوشهوت د بطن قوت دې او دويم شهوت د فرج قوت دې. شهوت بطن د شهوت فرج نصف دې نو په نکاح سره د شهوت فرج حفاظت کيږي. لهذا د نصف دين حفاظت نکاح سره اوشو د باقي نصف حفاظت په نورو خو افعالو او اعمالو او عباداتو په ذريعه سره کول پکاردی، دې د پاره چه ايمان مکمل شي.

[۳۰۹۷] آسانه نکاح برکتی نکاح

٣٠٩٧-[١٨] (١) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً». [٣] رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه:[۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بلا شبه ډيره زياته برکت ناکه نکاح هغه ده، چې د مهر او خرڅونو د لحاظ نه اسانه وي. [۳] دا دواړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړي دی.

حل اللغات: ① أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً: کم مَهر او کم خرچ والا نکاح.

تسهيلات:

قوله: أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً

د آسانې نکاح تعريف:- يعنی آسانه نکاح هغه ده چه د ښځې مهر د کم نه کم وی. د نکاح په وخت په خاوند باندې ناجائز شرائط اونه لګوی. د خاوند د حيثيت نه د زيات مال اسباب مطالبه دې ښځه نه کوی د جهيزبوج دې په ښځه باندې نه اچوی او د نورو رسمونو او بدعتونونه دې نکاح پاکه وی. باقي چرته چه جينئی خرڅولوسره د مهر په نوم باندې مورپلار کوم مال ګټی دا د ظلم او حرام د ګټې نه علاوه لويه بې غيرتی هم ده. د داسې علاقو په علماؤ باندې فرض دی چه هغوی دې پخپله هم د دې ظلم نه لرې شی او عوام ته دې هم ښه نصيحت کولوسره منع کړی.

[۱] باب النظر إلى المخطوبة، وبيان العورات

منسوبې ته د کتلو او د ستر د اندامونو بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① جواز النظر إلى المخطوبة_ , الإذن في النظر : ۱- مواضع النظر: ۹. حكمة النظر: ۱۰.

② منع النظر إلى العورات وما في حكمها وجوبا أو أدبا: ۲، ۳، ۷، ۱۲، ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۶، ۱۹، ۲۶، ۲۷، ۲۸.

③ النهي عن الخلوة بالأجنبية: ۴، ۵، ۲۱، ۲۲.

④ ذكر من يجب عنه الستر ومن لا يجب عنه: ۵، ۶، ۱۹، ۲۳، ۲۴.

⑤ الأمر بالستر : ۱۲، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰ ، ۲۴، ۲۵.

⑥ طريق دفع الوسوسة الناشئة من النظر إلى الأجنبية: ۸، ۱۱.

⑦ تفصيل العورات: , المرأة كلها: ۱۲ - ما بين السرة إلى الركبة: ۱۴ . الفخذ: ۱۵، ۱۶، ۱۷. / الرأس والرجلان: ۲۳.

حل اللغات: ①اَلْمَخْطُوبَة: منسوب كړې شوې او دچا په نامه كړې شوې ښځه. كومې ښځې ته چه د نكاح پيغام وركړې شوې وى هغې ته مخطوبه وائى، ②عَوْرَات: جمع ده، دَدې مفرد عورة دې د انسان شرمگاه او پټو اندامونو ته وائى.

تسهيلات:

خطبه او خطبه كې فرق:- خطب، مخاطبه او تخاطب دَ يو بل سره كلام كولو په معنى كښې دى خُطبه په ضمه دَ خاء دَ وعظ كلام او خِطبه په كسره دَ خاء دَ نكاح پيغام ته وائى دلته هم دغه دَنكاح پيغام مراد دې.

قوله: عَوْرَات

د عورت د لفظ تحليل:- جمع ده، دَدې مفرد عورة دې. اصل او حقيقت كښې عورة دَ انسان شرمگاه او پټو اندامونو ته وائى دادَعارنه مشتق دې خكه چه دَ دغه اندامونو ښكاره كيدوسره انسان شرميږى په دې وجه دَ عورة لفظ دَ مستوراتو دَپاره وئيلې شى [الكاشف ۶/۲۵۰].

قوله: النظر إلى المخطوبة:

مخطوبه ته د كتلو په حكم كښې مذاهب:-

كومې ښځې ته د پيغام د نكاح ليكلى شى هغې د نظر كولو په جواز او عدم جواز كښې

اختلاف دې

① دَ اهل ظواهريه نيز مخطوبه په هيڅ صورت کښې ليدل جائزنه دى

② دَ امام مالك رحمه الله په نيز دَ يوقول مطابق مطلقًا ممنوع دى اودَ يوقول مطابق دَ ښځې په اجازت سره جائزدى بغيرهٔ اجازت نه منع دى

③ جمهور فقهاء اوعام علماء فرمائى چه مخطوبه ته کتل مطلقًا جائزدى که دَهغې اجازت وى اوکه نه وى

نوټ: دويم فريق چونکه په عدم جواز کښې داول فريق سره ملګرى دى اوپه جواز کښې د دريم فريق سره ملګرى دى نوموږ به دلائل صرف داول او دريم فريق ذکر کوو داول فريق د عدم جواز د دلائلو په ضمن کښې به د دويم فريق دلائل هم راشى اود دريم فريق د جواز د دلائلو په ضمن کښې به د دويم فريق دلائل هم راشى.

داول فريق دليل: -دَحضرت على رضي الله عنه روايت د دوى مستدل دې په هغې کښې دا الفاظ دى "ياعلى لاتتبع النظرة النظرة" اهل ظواهروائى دې سره مطلقًا دَ کتلوممانعت ثابتيږى د دويم فريق دعدم جواز دليل هم داول فريق دليل دې.

جواب: -دا غلط استدلال دې ځکه چه دَدې حديث تعلق دَاجنبياتو بدنظرئې سره دې اوزموږ بحث مخطوبه منسوبه سره دې.

د دريم فريق دلائل: - ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ. قَالَ: «فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

په دې کښې "فانظرالیها" واضحه الفاظ راغلى دى چې په جواز د نظر دلالت کوى

② عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «أَلَا لَا يَبِيتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

③ «وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ خَطَبْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا؟ قُلْتُ: لَا قَالَ: فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا»

په دې احاديثو کښې په واضحه توګه دَ مخطوبه دَ کتلو حکم دې اوتاکيد دې نوځنګه ممنوع کيدې شى بل دا دَ ژوند مسئله اومعامله ده نوپه تسلى کول پکاردى.

د توافق صورت: -اودَ اختلاف نه دَ بچ کيدودپاره بهتر صورت دادې چه يوه تجربه کاره ښځه دغه جينئى کره اوليګلې شى هغه به په تسلئى سره دکتلونه پس صورت حال اوښائى ليکن ياد ساتل پکاردى چه مخطوبې ته دَ سرودَ کتلوکوم اجازت دې هغه صرف دَ مخ او لاسونو دَ يوځل کتلو اجازت دې نور اندامونه نه اوبار بار کتل هم نشته دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۰۹۸] مخطوبې ته د کتلو اجازت

۲۰۹۸–[۱] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] فَقَالَ: إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ. [۳] قَالَ: «فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷛ وايي چې يو سړی د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو [۲] عرض يې وکړي چې زه د يوې انصاري ښځې سره نکاح کول غواړم (په دې باره کې ستا څه هدايت دی؟) [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ته هغه ښځه وګوره (ښه به وي) ځکه چې (د بعضو) انصارو ښځو په سترګو کې څه خرابي وي، (مسلم)

حل اللغات: ① أَعْيُنِ: د عين جمع ده سترګې ته وائي، ② فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا: د سترګو خرابی، او عَيب مراد دي، دې نه مراد دا چه دَ انصاری ښځو سترګې شني وی يا دا مطلب چه هغوی کښې زيړوالې وی.

تسهيلات: قوله: فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا:

د مستشار امانت دار کيدو وجه:– يعنی دَ مشورې تقاضا هم دغه وه لکه څنګه چه نبی کريم ﷺ دغه سړی ته صفا صفا اوخودل ځکه چه "المستشار مؤتمن" دَ چانه چه مشوره اخستې شی هغه امين جوړولې شی نوهغه له صفا خودل پکار دی.

د نبی کريم ﷺ د اجنبی ښځو د سترګو په علم اشکال:– اوس دلته شارحينو دا سوال اوچت کړې دې چه نبی کريم ته دَ اجنبی ښځو دَ سترګوعلم څنګه وو؟

د اشکال درې جوابونه:– ① ښځې په سړو باندې قياس کولو سره معلوميږی چه دَ سړو سترګې داسې وې نود ښځو سترګې به ئې هم دغه شان وی.

② دَ وحی په ذريعه ورته معلومه شوه.

③ نبی کريم دَ امت روحانی پلار وو دَ هغوی نه شرعًا دَ چاپرده نه وه ياداچه دَ پردې دَ حکم راتلونه وړاندې نبی کريم ليدلې وې. يا دَ امهات المؤمنين په ذريعه معلومه شوې وه.

د اشکال حيثيت:– دا يوځو جوابات شو ليکن حقيقت دادې چه دا سوال بالکل بې وزن او بې ځايه دې ځکه چه په يوماحول اومعاشره کښې اوسيدوسره دَ خپل قوم اوطبقې دَحالاتونه څوك ناخبره وی. ولې دَ انصارو ښځې ټولې بالغې راپيدا شوې وې څه؟ په هغوی دَ وړوکوالی زمانه نه وه تيره يا دَ هغوی په سترګوکښې دَ پيدا کيدونه واخله تر بلوغ پورې پردې پرتې وې دَ چانظر په هغوی نه وو پريوتلې؟

---

۱) اخرجه مسلم في كتاب النكاح/ باب ندب النظر إلى وجه المرأة وكفيها لمن يريد تزوجها (رقم-٧٤ - (١٤٢٤)) واحمد في المسند: ٢/٢٩٩

[۲۰۹۹] ذ يوې ښځې بلې ښځې سره د مباشرت ممانعت

[۲] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا ③ كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هيڅ ښځه دې د بلې ښځې بربنډ بدن نه مسه کوي چې بيا د هغه ښځې د بدن حال د خپل خاوند په مخکې بيانوي ③ په داسې طريقه چې ګويا د هغې خاوند د هغه ښځې بدن پخپله وينې (بخاري مسلم)

حل لغات: ① لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ: تباشر نه إلصاق البشرة بالبشرة مراد دي يعنې يوه ښځه دې بربنډه دَ بلې ښځې بربنډ بدن سره ځان نه لګوي. ② فَتَنْعَتُ: خپل خاوند ته د پردئ ښځې صفات بيانوي.

تسهيلات:

قوله: لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ:

بلا حائله د دوو ښځو خپل مينځ کښې د مباشرت د ممانعت وجوهات: - علامه طيبي رحمه الله فرمائی د لفظ (لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ) نه کتل او لاس لګول دواړه مراد دي. دا حکم دَ لسو کالو نه پس عمر کښې ښځو او سړو ټولو دَپاره دي.

① په دې سره به هغه ښځه دَبلې ښځې دَ بدن خصوصيات اوپټ راز وغيره معلوم کړي اوبيا به نی دَ خپل خاوند په وړاندې بيانوی لکه چه هغه دې ته ګوري. دا ډير معيوب عمل دې په دې قبيح فعل کښې يو بې شرمی بې حيائی او بې غيرتی ده

② که په دغه بيانولو دَدې خاوند په هغه ښځه باندې مئين شی نو هغه به په فتنه کښې پريوځی او پخپله به دا ښځه په افسوس لاسونه مروړی.

[۲۱۰۰] دَ ښځو او سړو دَپاره دوه حکمونه

[۳] (۲) ① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلَى عَوْرَةِ الرَّجُلِ، ③ وَلَا الْمَرْأَةُ إِلَى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ، ④ وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، ⑤ وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هيڅ نارينه دې د بل نارينه د ستر طرف ته نه ګوري، ③ اونه دې ښځه د ښځې و بدن ته ګوري، ④ او دوه

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب: لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها (رقم-۵۲۴۰) کتاب النکاح/باب ما يؤمر به من غض البصر (رقم-۲۱۵۰) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی کراهية مباشرة الرجال الرجال والمرأة المرأة (رقم-۲۷۹۲) واحمد فی المسند: ۳۸۷/۱

۲) اخرجه مسلم فی کتاب الحيض/باب تحريم النظر إلى العورات (رقم-۷۴ - (۳۳۸) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی کراهية مباشرة الرجال الرجال والمرأة المرأة (رقم-۲۷۹۳) واحمد فی المسند: ۶۳/۳

برېنډ سړي دې په يوه کپړه کې نه جمع کېږي، [۵] او نه دې دوې سرتور سر ښځې په يوه کپړه کې جمع کېږي، (مسلم)

حل اللغات: ① **عَوْرَةَ:** دَ ښځو او سړو دَ بدن کوموحصوته کتل چه شريعت منع کړځولی دی هغې ته عورة (ستر) وائی ② **وَلَا يُفْضِي:** د افضی معنی يوبل ته يوځائې کېدو ته وائی لکه څنګه چې ښځه او خاوند په يوه بستره کښې جمع کېږی.

تسهيلات:

قوله: عَوْرَةَ الرَّجُلِ:

دَ ښځې او د سړی دَ ستر حدود: - دَ سړی ستردَ هغه دَ نامه نه واخله لاتدې زنګونوپورې دې دَ سړو دا حصه کتل دَ ښځو او سړو تولو دَ پاره کتل حرام دی اودَ هغه دَ ښځې او وينځې دَپاره جائزدی. دَ ښځې ستر دَ بلې ښځې دَپاره دَ نامه لاتدې دَ کونډو پورې دې لهذا هيڅ يوه ښځه دې دَ بلې ښځې دا حصه نه ګوری داحرام دی. اوشرعی عذر دَدې نه مستثنٰی دی دَ ښځې پوره بدن دَ پردی سړی دَپاره ستردې او مخ لاسونه په وجه دَ مجبورئی دَدې حکم نه مستثنٰی دې دادَ ښځو مجبوری ده دَ سړو دَ کتلودَپاره ترغيب نه دې. پردې سړې دَ خوانې جينئی دَ بدن هيڅ يوحصې ته لاس نه شی لګولې. دَ سړی چه خپلې ښځې سره اووينځې سره جماع کول حلال دی نودَهغې تول اندامونه کتل ئی هم جائزدی. دَ ښځې ستر دَهغې دَ محرم په حق کښې دَ نامه نه لاتدې دَ کونډو پورې دې او خيټه او ملا هم په ستر کښې داخل دی دې نه علاوه سترنه دې.

د مذکوره حديث د حکم متعلق يو څو مسائل: - ① ښائسته سړی ته دَ شهوت په نظرسره کتل دَ ښځودَپاره حرام دی اودَ سړی بدن ته لاس لګول هم حرام دی

② غلام خپلې مالکې يعنی دَ مالك دَ ښځې په حق کښې دَ پردی سړی په شان دې يعنی دَ غلام نه پرده کول ضروری دی

③ هيجړاګان هم دَ پردو سړو په شان دی.

④ دوه برېنډې ښځې هم په يوه کپړه کښې په يوځائې نه سملی سره دَ دې چه دَ فتنې محل نه وی بياهم دا بې حيايئی ده کومه چه منع ده

⑤ دوه برېنډ سړی دې په يوه کپړه کښې يوځائې نه سملی

[۲۱۰۱] اجنبي ښځې سره د خلوت ممانعت

[۳] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «أَلَا لَا يَبِيتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ. [۳] إِلَّا أَنْ يَكُونَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۱) اخرجه مسلم فی کتاب السلام /باب تحريم الخلوة بالأجنبية والدخول عليها (رقم-۱۹ - (۲۱۷۱)

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] خبردار هيڅ سړی دې يوې ثيبې ښځې سره شپه نه تير وي، [۳] خو دا چې هغه سړی ناکح يعنی خاوند وي يا محرم وي. (مسلم)

حل اللغات: ① لَايَبِيْتَنَّ: شپه دې نه تيروی، دَ شپې تيريدونه دلته مراد ځان له ملاويدل دی کوم چې شپې وی اوکه دَ ورځې وی دواړه ناجائز دی ② ثَيِّبٍ: هغه ښځه چې جماع ورسره شوې وی. ښځه. دلته تړې کونډه او پيغله دواړه مراد دی ③ ذَا مَحْرَمٍ: دائمی محرم هغه وی چاسره چه دَ ښځې نکاح کله هم په يوصورت کښې هم ممکن نه وی لکه مور لور وغيره

تسهيلات: **قوله**: عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ

د ثيبه خاص کولو وجه: - يعنی کونډه ئې ځکه خاص کړه چه باکره کښې حياء منع اوحجاب وی نوهلته دَ فتنې دومره خطره نه وی څومره چه په ثيبه کښې وی. بل ثيبه دَ دغه ميدان شهسوار او تجربه کار ده دا خپل عادت زر مجبوره کولې شی. يا دَ ثيبه دَ لفظ نه مراد بې خاونده ښځه مراد ده که کونډه وی او که پيغله وی دا تشريح ډيره بهتر ده

[۳۱۰۲] دَ ليور ځخه دَ پردې حکم

[۵] (۱) [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ. [۳] فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ [۴] قَالَ: الْحَمْوُ الْمَوْتُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عقبه ابن عامر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] (اجنبي) ښځو ته د ورتلو نه پرهيز کوي (هر کله چې هغه په تنهايي کې وي، يا برښد خلاصې ناستې وي) [۳] يو سړی (د دي اوريدو سره) عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ د حمو (د ديور) په باره کې ستا څه حکم دی؟ (آيا د هغه د پاره هم دا ممانعت دی؟) [۴] رسول الله ﷺ وفرمايل حمو (ديور) خو مرګ دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① اَلْحَمْوَ: د حمو جمع احماء راځی، دخاوند رشته داران، چې ددې رومبې مصداق خاوند ورور دې ② اَلْمَوْتُ: مرګ، په حديث شريف کښې ليور ته مرګ ونيلوسره دا تنبيه کړې شوې ده چه دا خطرناک څيز دې ده نه بچ اوسيږه

قوله: أَرَأَيْتَ الْحَمْوَ

د حمو نه مراد: - دا دَ ښځې هغه خپلوانوته وائی کوم چه دَ خاوند دَ طرف نه وی مګر دلته دَ خاوند خوئي اودَ خاوند پلار دې نه مستثنی دې دلته دَدې لفظ رومبې مصداق دَ خاوند رونړه دی چه دَدغه ښځې ليورونه دی

(۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب لا يخلون رجل بامرأة إلا ذو محرم، والدخول على المغيبة (رقم-۵۲۳۲) ومسلم في كتاب السلام/باب تحريم الخلوة بالأجنبية والدخول عليها (رقم-۲۰ - (۲۱۷۲) والترمذي في كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء في كراهية الدخول على المغيبات (رقم-۱۱۷۱)واحمد في المسند: ۱۴۹/۴

په ليور د مرګ د اطلاق وجه: - په حديث شريف کښې ليور ته مرګ ونيلوسره دا تنبيه کړې شوې ده چه دا خطرناك څيز دې ده نه بچ اوسيږه

عرب چه کله څوك دَ يو څيز نه ويره وي نو هغه څيز سره مرګ يا اور يادوي مثلاً هغوي وائي "الاسدالموت" دَ ازمرې نه بچ کيږه دا مرګ دې. "السلطان النار" بادشاه له نيزدې مه ورځه هغه مرګ دې "الحموالموت" يعنی دَ ليورنه داسې بچ اوسيږه لکه چه دَمرګ نه بچ کيږې خکه چه دَدې فتنه دَ خطرې نه ډکه ده. دَ کور دَ کسانونه يوکس دې او دَ کور رازدان دې

[۳۱۰۲] سرې دپاره د ښځې علاج کولو حکم

—[۲] (۱)[۱] «عَنْ جَابِرٍ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْحِجَامَةِ[۲] فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجُمَهَا[۳] قَالَ: حَسِبْتُ أَنَّهُ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ[۴] أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] او حضرت جابر ﷺ وايي (يو ځل) أم المؤمنين بي بي ام سلمه ﷺ د رسول الله ﷺ نه د ښکر لګولو (د وينې ښکلو) اجازت وغوښتلی،[۲] نو حضور ﷺ ابوطيبه ﷺ ته د ښکر لګولو حکم ورکړې،[۳] حضرت جابر ﷺ وايي زما ګمان دی چې ابوطيبه ﷺ ته د ښکر لګولو د حکم ورکولو وجه دا وه چې هغه د بي بي ام سلمه ﷺ د پينو شريك ورور وو[۴] يا اوس لا بالغ شوی نه وو. (مسلم)

حل اللغات: ①**الْحِجَامَةِ**: حجامه ښکر او جوکه لګولوته وائي. (يعنی د بدن نه وينه ويستل) ②**غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِمْ**: نابالغ هلك چه احتلام ئې لا نه وی شوې.

تسهيلات:

قوله: فِي الْحِجَامَةِ

د حجامه يعنی ښکر لګولو اهميت او فوائد: - په احاديثو کښې دې ته ډيرزيات ترغيب ورکړې شوې دې اودَدې امت دَپاره دا دَ علاج يوه لويه ذريعه ګرځولې شوې ده. په ښکرلګولوسره دَ بلډپريشر اودَدې نه پيدا کيدونکو ټولو بيمارو مؤثرعلاج کيدې شی

د حضرت ام سلمه رضي الله عنها د اجازت غوښتلو وجه: - حضرت ام سلمه ﷺ دَ يو بيمارئی دَعلاج دَپاره دَدې اجازت غوښتلو چه دَ ښکرلګولوداعمل سرو کولو. نبی کريم اجازت ورکړو اوابوطيبه حجام ئې دَدې دَپاره متعين کړو.

د ام سلمې بدن ته د کتلو جوابات: - باقی د ابوطيبه پردی سړی دَ حضرت ام سلمه ﷺ بدن ته د کتلو اعتراض لرې کولو دپاره حضرت جابر ﷺ دوه جوابونه ورکوی.

① زما خيال دې چه ابوطيبه دَ ام سلمه ﷺ دَپينوشريك رور وو.

② هغه نابالغ هلك وو.

۱) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب لکل داء دواء واستحباب التداوی (رقم-۷۲ - (۶-۲۲۰)

③ که چرې د علاج ضرورت وی او د بیمارئی مجبوری وی نو طبیب د بیمارې ښځې د بدن هغه متاثره حصه کتلې شی او په غیرضروری مقاماتو باندې کېږه اچول پکار دی که ښځه طبیبه او ډاکټره وی نوبیاهم مسئله هم دغه شان ده په افسوس سره ونیلې کیږی چه نن صبا په هسپتالونوکښې ډاکټرانې ښځې اوسړی په شوقیه توګه د مریضانو د بدن غیر ضروری مواضع ګوری

[۲۱۰٤] په پردئ ښځه ناڅاپه د نظر پریوتو حکم

[۷] (۱) ① «وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ نَظَرَةِ الْفُجَاءَةِ ② فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جریر ابن عبد الله رضی الله عنه وایې چې ما د رسول الله ﷺ نه په یوی اجنبی ښځې د اچانك نظر پریوتو په باره کې پوښتنه وکړه، ② نو حضور ﷺ ماته دا حکم وکړې چې خپل نظر (سمدستي) وګرځوه، (مسلم)

حل لغات ① عَنْ نَظَرَةِ الْفُجَاءَةِ: ناڅاپه نظر، بغیرد قصد اوارادې ناڅاپې په یواجنبی ښځه باندې نظر پریوتلوته "نظرالفجاءة" ونیلې شوي دي.

تسهيلات:

قوله عَنْ نَظَرَةِ الْفُجَاءَةِ:

په پردئ زنانه باندې د ناڅاپې نظر لګیدلو مفهوم او حکم:- په شریعت کښې دا ناڅاپې نظر پریوتل یوخل معاف دې لیکن په نظرپریوتونکی سړی باندې واجب دی چه زر دې خپلې سترګې واړه وی که هغه د رومبی خل نظرهم هغه شان ساتی نوپه رومبی نظر باندې به هم ګناهګار شی

ښځې دپاره د مجبورۍ په حالت کې د مخ ښکاره کولو حکم:- دَدې حدیث نه معلومه شوه چه ښځه د مجبورئی د وجې نه خپل مخ ښکاره کولې شی دا د هغې مجبوری ده لیکن یو سړی ته اجازت نشته چه هغه دې د دې د مجبورئی نه فائده اوچته کړی او د هغې مخ ته په ورکړې دې حضرت امام غزالی رحمه الله فرمائی چه نظر د زنابنیاد دې د دې حفاظت ډیرضروری دې

په پردئ ښځه د ناڅاپې نظر لیګدلو علاج:- دَدې حدیث نه پس راتلونکې حدیث نمبر(۳۰۵) کښې دی چه په پردئی ښځه باندې د ناڅاپې نظر پریوتلوعلاج دادې که شهوت

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الآداب/باب نظر الفجاءة (رقم-٤٥ - (۲۱۵۹) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی نظرة الفجاءة (رقم-۲۷۷٦) واحمد فی المسند: ٤/۳۵۸

نې شوې وی نو لازدې شی خپلې ښځې سره دې کوروالې اوکړی دَ راتلونکی حدیث نه داهم معلومیږی چه ښځه په فتنه کښې خالص دَ شیطان په شان ده لهذا دې له دَ سخت ضرورت نه بغیر ګرځیدل راګرځیدل جائزنه دی او په ښکلې او زړه راښکونکې لباس کښې خو په بوصورت کښې هم وتل جائزنه دی ځکه چه دادَ شیطان دَ تولو نه لوئی جال دې په کوم سره چه دَ سړو ښکار کیږی دَدې حدیث نه داهم معلومیږی چه په سړو باندې لازم دی چه هغوی دې پردو ښځوته اودَهغوی لباسونوته نه ګوری اوددې نه داهم معلومه شوه چه سړې دَ ورځې خپلې ښځې سره کوروالې کولې شی راتلونکی حدیث نمبر(۳۰۶۸) پورې دَتولو احادیثو تشریح اوتوضیح ضرورت نشته دې دا تشریح دَ تولو دَپاره کافی ده

[۳۱۰۵] داجنبي ښځې دلیدو اثر ختمولو دپاره خپلې ښځې ته رجوع کول

—[۸] (۱) ① وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ وَتُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ ③ إِذَا أَحَدَكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا ④ فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② ښځه د شیطان په صورت کې راځي، او د شیطان په صورت کې ځي، ③ نو په تاسو کې چې چاته یوه اجنبي ښځه ښه ولګیږي، او د هغه زړه ته راشي نو هغه ته پکار دی چې سمدستي خپلې ښځې ته ورشي او د هغی سره مباشرت وکړي، ④ ځکه چې دا مباشرت به هغه څیز ختم کړي کوم چې د هغه په زړه کې پیدا شوی دی (یعني جنسي خواهش) مسلم

حل لغات: ① تُقْبِلُ: رامخامخ کیږی، ② تُدْبِرُ: واپس کیږی، ③ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ: حیران کړی ده لره یوه ښځه، یوه پردۍ ښځه ورته ښه ښکاره شی، ④ فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ: او دده په زړه کښې ورسره مینه پیدا شی ⑤ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ: نو خپلې ښځې ته دې لاړ شی، ⑥ فَلْيُوَاقِعْهَا: نو خپلې ښځې سره دې صُحبت اوکړی، ⑦ فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ: نو دا به هغه څیز ختم کړی کوم چه دده په زړه کښې پیدا شوی وی.

تسهیلات:

قوله: فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ:

د مذکوره جملې مفهوم: – امام نووی رحمه الله فرمائیلی دی د عالمانود تحقیق مطابق په دې حدیث کښې فرمائیلی دی چې الله تعالی د سړو په زړونوکښې ښځو ته کوم میلان اود دوی په زړونوکښې د هغوی محبت کیخودې دې.نوشیطان د وسوسې په ذریعه پردۍ ښځه

۱) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب ندب من رأی امرأة فوقعت فی نفسه. إلى أن يأتي امرأته أو جاريته فيواقعها (رقم-۹ - (۱۴۰۳) واحمد فی المسند: ۳/۳۴۱

سرو ته بنآنسته کوی چې دوی ورته اوګوری نونبی علیه السلام ددې علاج اوخودلو چې کوم شهوت د پردی ښځې څخه پوره کولې شی هم د هغه شهوت پوره کولو یو جائز محل شته چې دده خپله ښځه ده دهغې څخه دې خپل شهوت پوره کړی اوپردې ښځې دې په نظر کښې نه راولی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢١٠٦] د نكاح څخه وړاندې مخطوبې ته د کتلو استحباب

٣١٠٦-[٩] (١)① عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ ③فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل② هر كله چې په تاسو كې يو سړى يوې ښځې ته د نكاح پيغام ليږلو ،③ نو كه هغه (د ښځې په اعضاء) كتلو قادر وي. چې هغه ته د نكاح رغبت وركوي (يعني لاس او مخ) نو يو نظر دې وګوري. (ابوداؤد)

حل اللغات: ①خَطَبَ: د نكاح پيغام وركړو وركول. ②إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا: څه چه ښځې سره د نكاح شوق پيدا كوى يعنى لاس او مخ وغيره.

تسهيلات:

نوټ: - په راروان حديث نمبر (٣١٠٧) كښې د دې حديث تسهيل راروان دي.

[٢١٠٧] مخطوبې ته د کتلو فائده او حکمت

٣١٠٧-[١٠] (٢)① «وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ خَطَبْتُ امْرَأَةً② فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا؟③ قُلْتُ: لَا، قَالَ:④ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت مغيره رضي الله عنه ابن شعبه وايې چې ما د يوې ښځې سره د واده كولو اراده وكړه. ② نو رسول الله ﷺ ماته وفرمايل چې آيا تا هغه ښځه ليدلې ده؟ ③ ما عرض اوكړو چې نا. ④ نو حضور ﷺ وفرمايل چې ته هغه ښځه يونظر وګوره. ځكه چې ستاسو دواړو په منځ كې د الفت او محبت د پيدا كيدو د پاره يو نظر كتل ډير مناسب او بهتر دى. (احمد ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: ①أَحْرَى: ډير مناسب. ډير بهتر. ②أَنْ يُؤْدَمَ: چې محبت او مينه پيدا شي.

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب في الرجل ينظر إلى المرأة وهو يريد تزويجها (رقم-٢٠٨٢)
٢) اخرجه الترمذي في السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في النظر إلى المخطوبة (رقم-١٠٨٧) والنسائي في كتاب الجهاد/باب إباحة النظر قبل التزويج (رقم-٣٢٣٥) وابن ماجه في كتاب النكاح/ النظر إلى المرأة إذا أراد أن يتزوجها (رقم-١٨٦٥)واحمد في المسند: ٢٤٦/٤

تسهيلات:

قوله: فانظر إليها فإنه أحرى أن يؤدم بينكما:

د نكاح پيغام ليږلو نه وړاندې د ليدلو فائده: - يعني كه ته خپله مخطوبه يو نظر اوګوري او بيا ورسره نكاح اوكړې نو ستاسو په خپل مينځ كښې به محبت زيات وى ځكه چې كله مخطوبه اوكتلې شى او بيا ورسره نكاح اوكړې شى نو په دې باندې عام طور سړې پښيمانه نه وى او نه په خپل انتخاب باندې شرمنده او پريشانه وى

دا حديث پاك هم د جمهور آئمه كرامو مستدل دې چې مخطوبه ښځې ته كتل جائز دى او نبى كريم ﷺ پخپله ددې حكم فرمائيلې دې

[۲۱۰۸] په اجنبي زنانو د ناڅاپى نظر پريوتلو علاج

—[۱۱] (۱) [۱] «وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - امْرَأَةً فَأَعْجَبَتْهُ [۲] فَأَتَى سَوْدَةَ وَهِيَ تَصْنَعُ طِيبًا وَعِنْدَهَا نِسَاءٌ [۳] فَأَخْلَيْنَهُ فَقَضَى حَاجَتَهُ [۴] ثُمَّ قَالَ: أَيُّمَا رَجُلٍ رَأَى امْرَأَةً تُعْجِبُهُ فَلْيَقُمْ إِلَى أَهْلِهِ فَإِنَّ مَعَهَا مِثْلَ الَّذِي مَعَهَا». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ﷺ وايي چې (يوه ورځ) د رسول الله ﷺ نظر په يوى ښځې ولګيدلو ، نو په حضور ﷺ هغه ښه ولګيده، [۲] نو حضور ﷺ (سمدستي) ام المؤمنين بي بي سوده ﷺ ته تشريف راوړو، هغې هغه وخت خوشبو تياروله، او څو ښځې ورسره ناستې وې، [۳] هغه ښځو خلوت وكړي (يعني د بي بي سوده ﷺ نه پاڅيدلې او بهر ووتلې) بيا حضور ﷺ خپل ضرورت پوره كړي (يعني د بي بي سوده ﷺ سره يې مجامعت وكړي) [۴] او وې فرمايل چې د كوم سړي چې په يوى داسې ښځې نظر پريوځي چې خوښه يې شي، نو هغه ته پكار دى چې هغه (سمدستي) خپلې بي بي ته ورشي او د هغه په ذريعه جنسي تسكين حاصل كړي (چې د هغه جنسي خواهش پوره شي او خراب خيالاتو كې مبتلا نشي) ځكه چې د هغه ښځې سره هم هغه څيز دى كوم چې هغه د بلې ښځې سره دى، (دارمي)

حل اللغات: ① فَأَعْجَبَتْهُ: هغه ئې په تعجب كښې اوغورځولو (يو څيز په زړه ښه لګيدل) ② طِيبًا: عطر. خوشبو. ③ فَأَخْلَيْنَهُ: نو هغه ښځو نبى عليه السلام خانله پريښودو او لاړلو. ④ فَقَضَى حَاجَتَهُ: خپلې ښځې نه ئې د شهوت طبعى تقاضا پوره كړه ⑤ فَإِنَّ مَعَهَا مِثْلَ الَّذِي مَعَهَا: پردئ ښځې سره هم هغه څه دى كوم چه خپلې ښځې سره وى. يعنى اصل مقصود شهوت پوره كول دې او هغه خود خپلې ښځې نه هم پوره كيږى په دې كښې هيڅ تفاوت نشته دې، خو په حكم كښې تفاوت ضرور شته دې چه خپلې ښځې سره جماع حلال ده او پردئ ښځې سره حرام ده

(۱) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۲۲۱۵

تسهیلات: قوله: فأعجبته

اشکال:- نبی کریم ته داسې خیال څنګه اوولې راغلو نبی کریم خو معصوم دې؟

د اشکال دوه جوابونه:- ① دَبشری اوطبعی تقاضې لاندې نبی کریم تـه دَدې ښځې د خوښیدو خیال راغلو دا خیال صرف دَ "هاجس" او "خاطر" په درجه کښې وو په کوم چه هیڅ مواخذه نشته دې لهذا مسئله صفا ده.

② دَ نبی کریم په ذریعه الله تعالی عملاً دامسئله ښکاره کړه دَ دې وجې نه چه دَ امت دَپاره دَ تعلیم اونمونې ذریعه جوړه شی. اودَ امت دَ تعلیم دَ پاره کله کله یومکروه تزیهی فعل ارتکاب هم مباح ګرځولې شوې دې. دریم جواب دادې چه دا دَ ناڅاپی نظر وو په کوم چه څه نیول نشته دې.

[۲۱۰۹] کتونکو ته د ښځې ښاسته ښکارول شیطانی حربه

[۱۳] (۱)① وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ② فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:① او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ښځه په پرده کې د اوسیدو څیز دی② هر کله چې یوه ښځه (د خپلې پردي نه) اُوځی نو شیطان د سرو په نظر کې هغه ښانسته ښکاره کوي، (ترمذي)

حل اللغات: ①عَوْرَةٌ: د پردي او پټ ساتلو څیز، دکوم په ښکاره کیدو چه شرم محسوسیږی. ② اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ: "استشرف" شیش لګول سره کتلوته وائی خاص کر دَ حیرانتیا په وخت سړي چه کله لاس دَ سترګو دَپاسه په اوریځو باندې کیږدی ګوری دغه استشراف دې.

تسهیلات:

قوله: الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ:

د لفظ عورت ماخذ او تسمیه:- یعنی ښځه دَ پردې قابل څیزدې. دادَ عـار نه دې دَدې په ښکاره کیدو اوبې پردې کیدو سره سړې عار یعنی شرم محسوس کوی. دَ ښځې بې پردې کیدل داسې دی لکه چه شرمګاه ئې بې پردې شی کله چه دا څوك برداشت کولې نه شی نودَ ښځې بې پردګی څنګه برداشت کولې شی لیکن په حقیقت کښې دَ سرو په غیرت باندې پرده پریوتلې ده

قوله: اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ:

د شیطان د شیش لګولو څلور مطلبونه:- علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَ دغه شیش لګولوسره کتلو

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۱۱۷۳)

① شيطان بهر وتونكي ښځه باندې شيش لګولو سره خپل خبيث نظر اچوی دي دپاره چه د هغې په اثر سره دا پاکه اوطيبه ښځه رذيله اوخبيثه جوړه شي د علامه طيبی رحمه الله دا آخری توجيه ډيره ښکلې ده [الکاشف ۲/۲۵.]

② شيش لګولو سره کتلونه د بدکاره خلقو کتل مراددی يعنی کله چه ښځه دکور نه بې پردې کيدوسره اوځي نوفاسقان او فاجران هغې ته په شيش لګولوسره ګوری اود هغوی په زړونوکښې دغه وسوسه او خبيثتوب چونکه شيطان پيداکوی په دې وجه ددوی د فعل نسبت دشيطان طرف ته کړې شوې دې، يعنی د شيطان نه مراد فاسقان او فاجران خلق دی

③ شيطان غواړی اوپه دې سره خوشحاليږی چه ښځه ذات کولاؤ ميدان ته راشی دې دپاره چه شيطان هغه په ښه موږ زړه سره اوګوری اوهغه دې د شيطان مخې ته ولاړه وی.

④ شيطان دغه ښځه د سړو مخکښې ښائسته کوی اود هغې په ذريعه خلق ګمراه کوی اوپخپله دغه ښځه هم ګمراه کوی. صاحب آکام المرجان في احکام الجان په خپل کتاب کښې ليکلی دی چه شيطان د ښځې د کوناتو دپاسه د نرئی ملا لاندې کينی اوخلق د هغې طرف ته راغب کوی. دعلامه طيبی رحمه الله په نيزددې حديث

[۲۱۱۰]په ښځه اتفاقي نظر پريوتو ځخه د دويم نظرعدم جواز

[۱۳] (۱)① وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِعَلِيٍّ: ② يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ ③ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت بريده رضي الله عنه راوي دی رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل ② چې اې علي (رضي الله عنه) د نظر پريوتو نه وروسته بيا نظر مه اچوه (يعني که په يوی ښځې ناګهاني نظر پريوځي نو بيا د دې نه وروسته دوباره د هغی طرف ته مه ګوره) ③ ځکه چې ستا د پاره مخکنی نظر خو جائز دی (ځکه چې په هغه کې قصد او ارادي ته قطعاً دخل نه وي) خو دويم نظر جائز نه دی، (احمد ترمذي ابوداود دارمي)

حل اللغات: ① لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ: يعنی رومبی نظر پريوتلو سره دويم نظر مه اچوه ② فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ: ځکه چه ستا دپاره رومبې نظر جائز دې کوم چه بغير د قصد نه وو. خو دويم نظر جائز نه دي

تسهيلات: قوله: لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ:

د اول ناڅاپی نظر معاف کيدل:- الحاصل نبی کريم ﷺ حضرت علی رضي الله عنه ته اوفرمائيل چې اې علی ! يو نظر نه پس بل نظر مه کوه يعنی اول نظر خو معاف دې ليکن دويم نظر نه دې معاف. ځکه دا ارادې سره وی. او ارادې سره بد نظری معاف نه ده. که اول ځل ئې

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب ما يؤمر به من غض البصر (رقم-٢١٤٩) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في نظرة الفجاءة (رقم-٢٧٧٧) واحمد في المسند:٥/٣٥٣

خپل نظر مسلسل جاري اوساتلو او نظر ئې ښکته نه کړو نو سا به هم دا د دويم نظر په حکم کښې وی په دې باندې هم گناه شته دې
امام طيبي رحمة الله عليه فرمائي چې دا حديث پاك په دې خبره باندې دلالت کوی چې بغير ارادې والا نظر ستاسو دپاره مفيد دې چې كه ته زر نظر ټيټ کړې يعنى سترگې واړوې نو يقيني طور به تاته اجر ملاويږي. لکه څنګه چې د يو حديث پاك مفهوم دې چې كله تاته ايماني خوږ والي ملاؤ شي نو لامحاله به دويم نظر نقصاني وی دحديث الباب پيش نظر دا مسئله اخذ كيږي چې علماء كرامو او مشائخ لره خپلو ښځو شاگردانو يا ښځو مريدانو ته كتل جائز نه دی اوږنه بلا حجاب بيعت جائز دې

[۲۱۱۱] په نکاح ورکولو څخه روسته په مولی باندې د وينزې حرمت

[۱۳] (۱) ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى عَوْرَتِهَا. ۳ وَفِي رِوَايَةٍ فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د نيكه نه نقل كوي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر كله چې په تاسو كې څوك د خپل غلام نكاح د خپلې وينځې سره وكړي، نو بيا د هغه وينځې (عورت) ته دې نه گوري، څكه چې د نكاح نه وروسته هغه دمولي د پاره حرامه شي، ۳ او په يو روايت كې دا الفاظ دي چې ته د هغه وينځې د بدن هغه حصې ته مه گوره چې د نامه د لاندې نه د زنگون تر پورته پورې ده، (ابوداؤد)

حل اللغات: ۱ عَبْدَ: غلام، ۲ أَمَتَهُ: امة: وينځه ۳ السُّرَّةِ: ناف، نوم، ۴ الرُّكْبَةِ: ينډئ.

تسهيلات:

قوله: فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى عَوْرَتِهَا:

خپله وينځه په نکاح ورکولو نه پس خپله هغې ته د نظر حکم: - يعني كله چه آقاد خپلې وينځې نكاح خپل غلام سره اوكړه نواوس دا وينځه د بل سړی ښځه جوړه شوه لهذا اوس د آقادپاره دا وينځه د اجنبي ښځې په شان شوه اوس د دې د كونډونه پورته اونامه نه لاندې اودې نه علاوه نور مستوره اندامونو طرف ته كتل د آقادپاره جائزنه دی اوهم دغه د احنافو مسلك دې

ليكن امام شافعي رحمه الله فرمائي چه د واده كيدونه پس د وينځې ستر د آقادپاره به د سړو د ستر په شان شي يعني د كونډونه پورته اونامه نه لاندې پرده اوس ضروری ده. اول د آقا دپاره ضروری نه وه څكه چه د هغه دپاره دې سره جماع كول جائزوو مگر اوس د دې دا حصه

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب اللباس/باب في قوله عز وجل: {وقل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن} [النور: ۳۱] (رقم-۴۱۱۳)واحمد في المسند: ۱۸۷/۲

ممنوع او باقی حصې به د سرو په شان شی یعنی د دې خیته او شا وغیره اندامونه به د ستر نه خارج وی

[۳۱۱۲] د پتون عورت کیدل

[۳۱۱۲]-[۱۵] (۱) ۱ وَعَنْ جَرْهَدٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت جرهد رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ آيا تاسو نه پوهيږئ چې ورون ستر دی (يعني ورون د بدن هغه حصه ده چې د هغه پټول پکار دي) ترمذي ابوداود

حل اللغات: ۱ الْفَخِذَ: پتون، ورون، ، د خپې هغه حصه کوم چه د زنګون نه پورته وی

تسهيلات: **قوله:** أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ

د پتون په عورت کيدو کښې مذاهب:-

د پتون په عورت او عدم عورت کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

۱ د امام مالك رحمه الله او اهل ظواهر په نيز پتون عورت نه دې.

۲ د جمهورو په نيز پتون عورت دې.

د اول فريق دليل:- حضرت انس رضي الله عنه فرمائي مونږ د غزوه خيبر د پاره نبی کريم ﷺ سره روان وو. د سحر په وخت کښې ابوطلحه رضي الله عنه پسې شاته نبی کريم سره په اوبنه سور شوم زما خپې د نبی کريم خپو مبارکو سره لګيدلې يعنی پتون په خپل مينځ کښې لګيدل معلومه شوه چه عورت نه دې.

جواب:- د دې نه جواب دادې چه د خيبر په سفر کښې که چرې د پتون د يو بل سره د لګيدو واقعه پيښه شوې وی نو هغه د مجبورئ او په سورلئ باندې غيراختياری توګه باندې شوی دی کوم چه ضابطه نه شی جوړولې يا هغه د پتون يو بل سره لګيدل حائل سره وو چه په مينځ کښې څه کپړا حائل وه. بهرحال هغه يو جزئی واقعه ده او هغه هم محتمل ده او بل طرف ته په زيات مقدار کښې واضح احاديث دی په دې باندې عمل کول زيات بهتر دی

د دويم فريق دلائل:- ۱ وَعَنْ جَرْهَدٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ. (د تسهيلات حديث نمبر ۳۱۱۲)

۲ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى عَوْرَتِهَا. وَفِي رِوَايَةٍ فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. (د تسهيلات حديث نمبر ۳۱۱۱)

---

۱) اخرجه البخاری فی كتاب الصلاة/باب ما يذكر في الفخذ قال أبو عبد الله: والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الفخذ عورة (رقم-۲۷۹۵ واخرجه احمد فی المسند: ۴۷۸/۳

په دې حديث کښې دی چې د وينځې د زنګونونو نه پورته او د پتون نه ښکته مه ګورئ
طرز د استدلال داسې دې چه د وينځې دستر اندامونه هم هغه دی کوم چه د سړی دی لهذا
پتون عورت دې دا د جمهورو دويم دليل دې

۳ «وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لَهُ: يَا عَلِيُّ لَا تُبْرِزْ فَخِذَكَ وَلَا تَنْظُرْ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ». د تسهيلات حديث نمبر ۳۱۱۳)

په دې کښې د ژوندی سړی او مړ سړی پتون ته کتل ممنوع ګرځولې شوی دی.

۵ وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ». د تسهيلات حديث نمبر ۳۱۲۵)

[۳۱۱۳] پتون ته د کتلو څخه ممانعت

[۱٦] (۱) ۱ «وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ قَالَ لَهُ: يَا عَلِيُّ ۳ لَا تُبْرِزْ فَخِذَكَ ۴ وَلَا تَنْظُرْ إِلَى فَخِذِ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او د حضرت علي ﷺ نه روايت دی ۲ چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل اې علي ﷺ ۳ خپل ورون (د خلقو په مخکې) مه ښکاره کوه، ۴ او مه د ژوندي سړي ورون ته ګوره. او مه د مړي ورون ته ګوره. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل للغات ① لَا تُبْرِزْ: مه ښکاره کوه.

تسهيلات: نوټ: - د پتون د عورت په باره کښې تفصيل د حديث نمبر (۳۱۱۲) په تشريح کښې ذکر دې

[۳۱۱٤] د پتون د عورت کيدو دليل

[۱۷] (۲) ۱ «وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَحْشٍ قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى مَعْمَرٍ وَفَخِذَاهُ مَكْشُوفَتَانِ. ۲ قَالَ: يَا مَعْمَرُ غَطِّ فَخِذَيْكَ فَإِنَّ الْفَخِذَيْنِ عَوْرَةٌ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ۱ او حضرت محمد ابن حجش ﷺ وايي چې (يو خل) رسول الله ﷺ په حضرت معمر ﷺ په داسې حال کې تير شو چې د هغه دواړه ورونونه ښکاره وو، ۲ نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې اې معمر! خپل ورونونه پټ کړه خکه چې ورنونه ستر دي. (شرح السنه)

حل للغات ① فَخِذَاهُ مَكْشُوفَتَانِ: دواړه پتونان ئې ښکاره وو ② غَطِّ فَخِذَيْكَ: خپل پتونان دې پټ کړه.

تسهيلات:

نوټ: - د پتون د عورت په باره کښې تفصيل د حديث نمبر (۳۱۱۲) په تشريح کښې ذکر دې.

---

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الجنائز/باب فى ستر الميت عند غسله (رقم-۳۱٤۰) وابن ماجه فى كتاب الجنائز / باب ما جاء فى غسل الميت(رقم-۱٤٦۰)واحمد فى المسند: ۵۰۱/۳
۲) اخرجه احمد فى المسند: ۲۹۰/۵

[۳۱۱۵] بلا ضرورته په تنهائي کښې د عورت ښکاره کولو حکم

۳۱۱۵-[۱۸] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ إِلَّا عِنْدَ الْغَائِطِ وَحِينَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى أَهْلِهِ ③ فَاسْتَحْيُوهُمْ وَأَكْرِمُوهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② تاسو د بربنډ کيدو نه پرهيز کوئ، اگر چې تنهائي ولې نه وي، ځکه چې د قضاء حاجت او د خپلې بي بي سره د مجامعت د وختونو ماسوا هر وخت هغه فرښتې ستاسو سره وي (کومې چې ستاسو په نگهباني او حفاظت او ستاسو د اعمال په ليکلو مامورې وي) ③ نو تاسو د دې فرښتو نه حياء کوئ، او د هغوئ تعظيم کوئ، (ترمذي)

حل اللغات: ① إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ: د ځان بربنډ کيدو نه بچ اوسئ. يعنى ځان مه بربنډوئ ② لَا يُفَارِقُكُمْ: چه ستاسو نه نه جدا کيږي، هر وخت تاسو سره وي. ③ الْغَائِطِ: قضائې حاجت. ډک اودس ماتې.

تسهيلات:

قوله: إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ:

بلا ضرورته د عورت ښکاره کولو ممانعت:- بلاوجه د کشف عورت نه ځان ساتئ. ځکه چې تاسو سره فرښتې هم وی چې کله هم ستاسو څخه نه جدا کيږي خو د وړوکي او لوئې اودس ماتې په وخت کښې.

د فرشتو په مصداق کښې اقوال:- ① امام طيبي رحمه الله فرمائي چې ددې نه حفاظت کوونکې فرښتې ② دې فرشتو څخه کراما کاتبين مراد دی.

د انسانی عورت کتلو څخه د فرشتو حيا کول:- ابن الملك رحمه الله فرمائي چې کشف عورت دې بغير د څه ضرورت نه اونه کړې شي او ضرورت قضاء حاجت يا مجامعت دې ددې نه معلومه شوه چې فرښتې د انسان د ستر کتلو نه شرم کوی نو ايمانی تقاضا داده چې مونږ دې هم دهغوئ نه شرم اوکړو او بغير د څه ضرورت نه دې ستر نه ښکاره کوو دارنگ الله ﷻ د شرم وحياء زيات حقدار دې

اشکال:- که په دې دواړو وختونو کښې څوك گناه اوکړی نو د کراما کاتبين د نه نزديوالی په وجه به ددوئ گناه نه ليکلې کيږي او بيا به مواخذه هم نه وی هرکله ليکلې کيږی نه نو ددې سزا به هم نه وی؟

داشکال دوه جوابونه:- ① الله ﷻ فرښتو ته وائی چې دې فلانی کس دا گناه کړې ده نو هغوئ ئې اوليکی.

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الاستتار عند الجماع (رقم-۲۸۰۰)

④ په دې دواړو وخنونو کښې به ددې کس گناه لیکلې کیږي خکه چې کله یو کس گناه کوی نو دهغه په بدن باندې یو نجاست اولگی چې دهغې په وجه کراما کاتبین ته معلومیږی چې دې کس خه گناه کړې ده

[۲۱۱۶] د ښځې دپاره سړو ته د کتلو ممانعت

۳۱۱۶-[۱۹] (۱) ①«وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَمَيْمُونَةُ ② إِذْ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : "احْتَجِبَا مِنْهُ" ③ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمَى لَا يُبْصِرُنَا! ④ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ام المؤمنین بې بې ام سلمه ﷺ روایت کوی چې (یو ځل) هغه او ام المؤمنین بې بې میمونه ﷺ د رسول الله ﷺ سره موجودې وې، ② اچانك ابن ام مکتوم ﷺ (چې یو نابینا صحابي وو) راغلی، حضور ﷺ (د ابن ام مکتوم ﷺ په لیدو سره) خپلو دواړو بیبیانو ته وفرمایل چې د ده نه پټې شی، ③ ام سلمه ﷺ وایې چې د حضور ﷺ دا حکم اوریدوسره ما عرض اوکړو چې آیا دی نابینا نه دی؟ دی مونږ نشي لیدلی، ④ حضور ﷺ وفرمایل چې آیا تاسو دواړې هم نابینا یئ؟ آیا تاسو دی نه وینی؟ (یعني که هغه ړوند دی نو تاسو خو ړندې نه یئ) احمد ترمذي ابوداود.

حل اللغات: ① احْتَجِبَا: تاسو دواړه پرده اوکړئ، پټې شئ، ② أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا: آیا تاسو دواړه هم ړندې یئ؟. تاسو دې نه وینئ؟

تسهیلات: -

قوله: أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا

د ښځې پردی سړی ته د کتلو حکم: - دَدې حدیث نه معلومه شوه چه ښځه پردی سړی ته نه شی کتې لکه څنګه چه دَ سړی پردئی ښځې ته کتل حرام دی دغه شان ښځې له هم دَ شهوت سره مطلقًا پردی سړی ته کتل حرام دی اوس په دې حکم باندې دَحضرت عائشه صدیقه ﷺ په روایت سره اعتراض راځی په کوم کښې چه حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمائی چه ما هغه وخت تورو حبشیانو ته کتل کوم وخت چه هغوی خپلو نیزو اوتورو سره په جماعت کښې لوبې کولې دَدې دوه قسم متعارض روایتونو دَ وجې نه بعضې علماؤ خودَ حرمت خبره کړې ده لیکن عام علماء فرمائی که چرې دَ فتنې نه امن وی نوښځه پردی سړی ته کتلې شی دَحضرت عائشه صدیقه ﷺ روایت په دې باندې دلالت کوی څکه چه

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب اللباس/باب فی قوله عز وجل: {وقل للمؤمنات یغضضن من أبصارهن} [النور: ۳۱] (رقم-۴۱۱۲) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في احتجاب النساء من الرجال (رقم-۲۷۷۸) و اخرجه احمد فی المسند: ۲۹۶/۶

دا واقعه دَ ۹ه ده کوم وخت چه دَحضرت عائشه رضي الله عنها عمر ۱۶ کاله وو بل قرآن کریم ښځو ته دَ پردې او حجاب حکم ورکړې دې دې دَپاره چه سړی هغې ته اونه ګوری اوسړو ته نی دَ پردې اوحجاب حکم نه دې ورکړې که دَ ښځو کتل ناجائز وې نوسړو ته به دَ پردې حکم ورکړې شوې وو

د شهوت په صورت کښې پردی سړی ته د کتلو حرمت:- بهرحال دَ کتلو دا جواز مشروط دې چه شهوت نه وی اودَفتنې خطره نه وی که چرې شهوت اودَ فتنې خطره وی نوبیا خو کتل حرام دی. اودَ نامه نه لاندې اودَ زنګونونه پورته حصې ته کتل په هرحال کښې حرام دی دَ لویغاړو په لویو کښې که چرې پټون ښکاره وی نودَ سړو او ښځو دواړو کتل حرام دی اوبهتر هم دغه دی چه ښځه دې بغیردَ ضرورت نه سړی ته نه ګوری.

دحدیث د دوو کلماتو وضاحت:- ① وَمَيْمُونَةُ: دَدې لفظ عطف "انها" کښې دَان په اسم باندې دې په دې وجه دا منصوب وئیل زیات بهتردی.

② أَفَعَمْيَاوَانِ: داجمله دَدې نه مخکښې جملې استفهام انکاری دَپاره په توګه دَتقرر او ثبوت اوفرمائیله. دَدې زجر اوتوبیخ او دَدې روایت ممانعت ته دَ حدیث علماؤ اوفقهاؤ په تقوی او احتیاط باندې حمل کړی دی اودَعدم فتنه اوعدم شهوت په صورت سره نی مربوط کړی دی.

[۳۱۱۷] په خلوت کښې هم دعورت پټ ساتل

۲۰ [۲۰] (۱) ① وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «احْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ» ③ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَفَرَأَيْتَ إِذَا كَانَ الرَّجُلُ خَالِيًا ④ قَالَ فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت بهز ابن حکیم د خپل پلار مکرم (حکیم رحمه الله) نه او هغه د بهز د نیکه (حضرت معاویه رضي الله عنه ابن حیده) نه روایت کوي ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ته خپل ستر پټ ساته، علاوه د خپلې ښځې یا وینځې نه (چې د هغوئ مخکې ستر پټول ضروري نه دي) ③ حضرت معاویه رضي الله عنه وایې چې ما عرض اوکړو چې یا رسول الله! سړی چې په خلوت (تنهایي) کې وي نو آیا هلته دي هم خپل ستر پټ ساتي؟ ④ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې الله جل جلاله زیات لائق دی چې د هغه نه شرم وشي، (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ: چه ستا ښې لاس دهغې مالک وی، دې نه مراد وینځه ده. ② إِذَا كَانَ الرَّجُلُ خَالِيًا: کله چه سړې خانله وی، یواځې وی نور هیڅوک نه وی. ③ فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحمام باب ما جاء فی التعری (رقم-۴۰۱۷) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی حفظ العورة (رقم-۲۷۹۴) وابن ما جه فی کتاب النکاح/ التستر عند الجماع (رقم-۱۹۲۰)واحمد فی المسند: ۳/۵

يُسْتَحْيَا مِنْهُ: الله ﷻ زيات لائق دې چې د هغه نه شرم وشي، يعنى په خانله والى كښې هم خپل ستر پټ ساتل پكار دى

تسهیلات:

قوله: فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ:

په خلوت كښې هم د عورت ښكاره كولو څخه پرهيز:- دنبى كريم ﷺ د جواب مطلب دادې چې چې خلوت كښې اګر چې څوك موجود نه وى خو بيا هم په دې وخت خپل ستر ښكاره كول مناسب نه دى. ځكه الله ﷻ خو هر صورت كښې ګورى. او هغه عظيم ذات دانسانانو نه زيات ددې خبرې حقدار دې چې دهغه نه شرم اوكړې شى. نو ددې نه معلومه شوه چې په خلوت كښې هم ستر پټول واجب دى. البته د څه ضرورت په وجه ښكاره كول جائز دى.

دحديث څخه د يوې مسئلې استنباط:- حديث پاك كښې دستر د پټولو حكم وركړې شوې دې او په دې سلسله كښې چې د ښځې او وينځې كومه استثنى كړې شوې ده چې دخپلې ښځې يا وينځې په وړاندې خپل ستر پټول ضرورى نه دى نو ددې نه دا خبره واضح كيږى چې ملك او نكاح ، جانبين (يعنى سړى او ښځې) دپاره د يوبل ستر طرفته كتل مباح ګرځوى.

[۲۱۱۸] پردئ ښځې سره ځانله مجلس كښې د شيطان شركت

[۲۱] (۱) [۱] وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثُهُمَا الشَّيْطَانَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې يو سړى د يوې اجنبي ښځي سره په تنهايي كې يو ځاى شي، نو هلته په هغوئ كې دريم شيطان وي. (ترمذي)

حل اللغات: ① لَا يَخْلُوَنَّ: ځانله والې دې نه كوى، ځانله كيږى دې نه.

تسهیلات: قوله: إِلَّا كَانَ ثَالِثُهُمَا الشَّيْطَانَ:

د شيطان د دريم كيدو مطلب:- ښكاره خبره ده چه شيطان به دَدې دواړو مينځ كښې څه دَ اصلاح دَپاره نه راځى بلكه دَ فساد اوفتنې اچولودَپاره به راځى. دَ ښځودا ويناكول غلطه ده چه زړه صفا ساته هيڅ به نه كيږى كه چرې زړه ئې صفا وې نو پردو سړو سره به ئې ولې خان ګډوډ كولو؟ ياد لرئى دَ فتنې نه اصل حفاظت حجاب او پرده ده. بې پردګئى كښې قرآن خودونكې قرآن په طاخ كښې كيخودوسره به ګناه شروع كوى. الاماشاء الله.

١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الدخول على المغيبات (رقم-١١٧١) و اخرجه احمد فى المسند:٢٦/١

[۳۱۱۹] په انساني بدن کښې د شيطان تصرف

[۲۲] (۱) ① وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «لَا تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ ③ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ أَحَدِكُمْ مَجْرَى الدَّمِ ④ قُلْنَا وَمِنْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ⑤ قَالَ وَمِنِّي وَلَكِنَّ اللَّهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② هغه ښځو ته (په تنهايي کې) مه ورځئ، چې د هغوئ خاوندان موجود نه وي، ③ ځکه چې ستاسو په بدنونو کې د وينې زغليدو پشان شيطان زغلي (يعنې د شيطان تصرف د انسان په ټولو رګونو او ځمړه کې سرايت کوي) ④ مونږ عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ ستا هم داسې دی؟ ⑤ هغوی وفرمايل چې زما هم، ليکن الله ﷻ د شيطان په مقابله کې زما مدد کړي دی، نو زه د هغه نه محفوظ يم. (ترمذي)

حل اللغات: ① لَا تَلِجُوا: په تنهايئ کښې مه ورځئ، ② الْمُغِيبَاتِ: هغه ښځې چه دهغوی خاوندان موجود نه وی، ③ مَجْرَى الدَّمِ: په شان د زغليدو د وينې، ④ أَعَانَنِي عَلَيْهِ: الله مدد کړې دې زما . په مقابله ددې شيطان کښې، ⑤ فَأَسْلَمَ: نو زه ددې (شيطان) نه محفوظ يم. يا دا شيطان زما تابعدار شوې دې.

تسهيلات:

قوله: مَجْرَى الدَّمِ:

د مجرى الدم په مفهوم کښې دوه اقوال: - ① دا کلام خو يا په تشبيه او مجاز باندې محمول دې يعنې ځنګه چه وينه په رګونو کښې منډې وهي دغه شان شيطان هم د وسوسې په ذريعه په انساني بدن کښې منډې وهي.

② دا کلام په حقيقت باندې مبنی دې چه کوم کوم ځائې ته وينه ځي هغه ځائې ته شيطان داخليدو سره ځي او په نظر نه راځي لکه ځنګه چه وينه هم نه ښکاری

قوله: الْمُغِيبَاتِ:

د مغيبات لفظ د تخصيص وجه: - د ميم ضمه سره دا لفظ د مغيبة جمع ده. هغه ښځې ته وائي د کومې خاوند چه په سفر کښې وی او د هغې کور خالی وی په حديث کښې داسې ښځې په خاص توګه ځکه يادې کړې شوې چه د يوې مودې نه د خاوند د عدم موجودګئ د وجې نه داسې ښځې د جماع زيات شوق لرې نودې سره خلوت ساتل زيات د فتنې سبب دې او شيطان خو پټ دښمن دې چه هروخت د وار کولو په انتظار کښې اوسيږی.

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة الدخول علی المغيبات (رقم-۱۱۷۲) و اخرجه احمد فی المسند: ۳۰۹/۳

قوله: فَأَسْلَمَ:

د لفظ اسلم په ضبط کې دوه احتمالات او د دې معنی :- ① دا لفظ أَسْلَمَ هم دې ② او أَسْلَمُ هم دې اول صیغه دَ ماضی ده اودویمه دَمضارع متکلم صیغه ده که چرې دَ ماضی صیغه ده نوترجمه به داسې شی چه شیطان تابعداری اختیار کړې ده اوکه چرې دَ متکلم صیغه ده نو دَ دې ترجمه به داسې شی چه زه دَهغه نه محفوظ پاتې کیږم بهرحال دا صیغه دَاسلام په معنی کښې نه ده ځکه چه شیطان مردود دې هغه اسلام نه قبلوی

[۲۱۲۰] دَ مالکې دَ خپل غلام څخه دَ پردې حکم

[۲۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَتَى فَاطِمَةَ بِعَبْدٍ قَدْ وَهَبَهُ لَهَا، [۲] وَعَلَى فَاطِمَةَ ثَوْبٌ إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ رَأْسَهَا لَمْ يَبْلُغْ رِجْلَيْهَا، وَإِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا لَمْ يَبْلُغْ رَأْسَهَا، [۳] فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا تَلْقَى قَالَ: إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وایې چې (یو ځل) رسول الله ﷺ د بي بي فاطمه ﷺ په طرف تشریف راوړو، هغه وخت د بي بي فاطمې ﷺ په خدمت کې یو غلام موجود وو، چې حضور ﷺ ورته ورکړي وو، [۲] او د بي بي فاطمې ﷺ په بدن یو داسې (وړه) کپړه وه چې په هغه سره به یې سر پټوی نو پښې به یې ښکاره پاتې کیدی او که پښې به یې پټولې نو سر به یې ښکاره پاتې کیدی [۳] حضور ﷺ چې بي بي فاطمه ﷺ په دې پریشانی کې ولیده (چې د هغه د شرم او حیاء په وجه د خپل پوره بدن پټولو په کوشش کې نه کامیابیږي) نو حضور ﷺ ورته وفرمایل چې (ای فاطمې! ﷺ) دومره ولې پریشانه کېږې، په دې څه حرج نشته، ځکه (د چا نه چې ته دومره شرمیږې) هغه یو هم غیر نه دی بلکه یوستا پلار دی، بل ستا غلام دی. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ رَأْسَهَا: چې کله به نې په هغې سره سر پټولو. ② إِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا: او کله چې به نې پرې پښې پټولې ③ إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ: په دې کښې په تا هیڅ ګناه حرج نشته. ④ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ: هغه خو ستا پلار دې او ستا غلام دې.

تسهیلات: قوله: إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ:

د غلام د خپلې مالکې په حق کښې د محرمیت باره کښې مذاهب:-

دَ مالکې ښځې غلام دَ دغه ښځې محرم وی که دَ پردو په شان دې په دې کښې دَفقهاؤ اختلاف دې

① دَ امام مالك ﷫ او امام شافعی ﷫ په نیزدَ ښځې غلام دَهغې دَ محارمونه نه دې دَهغه نه هیڅ پرده نشته دې

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب اللباس/باب فی العبد ینظر إلى شعر مولاته (رقم-۴۱۰۶)

④ امام ابوحنيفه رحمه الله امام غزالی رحمه الله اوعلامه نووی رحمه الله په نيزد ښځې غلام دَهغې دپاره په منزله دَ اجنبی دې دَ کوم نه چه مکمل پرده ده. دَدې ښځې دَ مخ اولاسونونه علاوه دَ بدن هيڅ يوه حصه غلام نه شی کتلې

داول فريق دلائل:- ① زيربحث دَ حضرت انس رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې.

داول فريق داول دليل دوه جوابونه:- ① کيدې شی غلام نابالغ وی

② دلته دَ مظنۀ شهوت او فتنه احتمال نه وو بهرحال دا يوه جزونی واقعه ده په دې کښې مختلف احتمالات کيدې شی مونږ له قاعده اوضابطه خپلول پکاردی

داول فريق دويم دليل:- ② دَ سورت نور آيت ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ﴾ [سورت نور الايه: ۳۱.] هم د دوی مستدل دې چه دلته دَ ما لفظ عام دې لهذا ښځه دَ خپل مملوك غلام او وينځې دواړو په مخکښې دَ زينت مواضع نه شی ښکاره کولې.

داول فريق د دويم دليل جواب:- د دې نه جينکئی او مملوکې وينځې مراددی هلکان مرادنه دی. حضرت سعيدبن مسيب رحمه الله او حضرت حسن بصری رحمه الله اوحضرت سمره بن جندب رضي الله عنه فرمائی چه "لاتغرنكم سورة النور فأنها في الأناث دون الذكور"

د دويم فريق دلائل:-

① دَمصنف ابن ابی شيبه روايت د دوی مستدل دې چه "تستر المرأة من غلامها"

② دغه شان په مصنف عبدالرزاق کښې ذکرشوې دَ مجاهد رحمه الله اوحضرت طاؤس رحمه الله روايت هم د دوی مستدل دې چه "لاينظر المملوك الى شعرسيدته"

③ صاحب هدايه عقلی دليل داسې پيش کړې دې چه کله غلام آزاديږی نودَهغه نکاح خپلې سابقه مالکې ښځې سره جائزده که چرې دې دَ محارم نه وې نونکاح به څنګه جائز کيدله [سورت نور: ۳۱.]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۱۲۱] د مخنث ښځو مجلس ته د ورتلو ممانعت

۳۱۲۱- [۲۳] (۱) ① عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② كَانَ عِنْدَهَا وَفِي الْبَيْتِ مُخَنَّثٌ، ③ فَقَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ أَخِي أُمِّ سَلَمَةَ: يَا عَبْدَ اللّٰهِ ④ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ لَكُمْ غَدًا الطَّائِفَ فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى ابْنَةِ غَيْلَانَ ⑤ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ، ⑥ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «لَا يَدْخُلَنَّ هٰؤُلَاءِ عَلَيْكُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الطائف في شوال سنة ثمان. قاله موسى بن عقبة (رقم-٤٣٢٤) ومسلم في كتاب السلام/باب منع المخنث من الدخول على النساء الأجانب(رقم-٣٢ - (٢١٨٠)

ترجمه: [۱] د ام المؤمنين بي بي ام سلمه ﷺ نه روايت دى [۲] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د هغې سره تشريف فرماوو، او په كور كې يو مخنث هم موجود وو، [۳] هغه مخنث حضرت عبد الله ابن اميه ته چې د بي بي ام سلمه ﷺ ورور وو، او ونيل اې عبد الله! [۴] كه الله ﷺ صبا ته تاسو خلقو ته په طائف فتح دركړي، نو زه به تاته د غيلان لور وښايم، [۵] چې د څلورو سره راځي او د اتو سره ځي (يعنى هغه د غيلان لور چې باديه نوميږي دومره څربه ده چې مخامخ را روانه وي نوپرنس يې څلور ګنجې ښکاري او چې ځى د شا نه آته ګنجې ښكارى څلوريواړخ ته څلوربل اړخ ته) [۶] رسول الله ﷺ چې د هغه مخنث دا خبره واوريده نو وي فرمايل چې دا مخنث دې تاته نه راځي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① مُخَنَّثٌ: نرښځي، حنالي مشكل هغه سړې چه د ښځو سره مشابه وى. ② ابْنَةِ غَيْلَانَ: غيلان د طائف سردار وو دهغه د لور نوم باديه وو. دا د چاقيدو (څرب كيدو) د وجې نه ښه ښكلې او زړه رابنكونكې او چاقه وه. ③ تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ: چه مخې ته ئې د چاقوالى په وجه څلور قطونه جوړ شوى وو. ④ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ: او شاته ئې د چاقوالى په وجه اته قطونه جوړ شوى وو.

تسهيلات:

قوله: وفي البيت مُخَنَّثٌ:

د مخنث معنى: –مخنث د ښځې په شان سړې وى د چا اندامونه چه د ښځوپه شان وى رنګ ډهنګ او آواز د ښځوپه شان وى اودا د ښځو په شان سړې بالكل د ښځو مشابه وى.

دمخنث قسمونه: – ① مخنث كيدل او ښځوسره مشابهت كله خلقى اوپيدائشى وى لهذا هغه شرعاً د مذمت قابل نه وى ځكه چه دهغه په اختيار كښې نه وى.

اوكه دا مخنث كيدل ښځوسره د مصنوعى مشابهت په وجه وى چې سړې د څه مقصد اوغرض دپاره خپل ځان دښځو په شان جوړكړې وى نودا موجب لعنت او حرام دى. اودا تصنع د سړو او ښځو دواړو دپاره ناجائز دى.

دمخنثانو كورونو ته د داخليدو څخه د منع كولو وجه: –صحابياتو او امهات المؤمنين مخنث (غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ) ګنړلې وو چه داخلق د ښځو خدوخال سره څه رغبت اوخواهش نه لرى ليكن چه كله دې مخنث د ښځوتيك تيك محاسن ذكركړل نونبى كريم دوى كورونوته د داخليدو نه اود ښځو سره ګډود كيدو نه منع كړل ځكه چه معلومه شوه چه داخلق د (غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ) نه نه دى. هم دغه حكم د خصى او مجبوب الذكر سړى هم دې چه هغه هم (غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ) نه نه دې.

قوله: تُدْبِرُ بِثَمَانٍ:

د ادبار بثمان مطلب او تفسير: –دَدې مطلب دادې چه د چاقوالى د وجې نه دهغې په بدن

كښې قطونه جوړشوی وو چه د مخې طرف نه څلور قطه کربښې د شا طرف ته خی یو د ودې ښی طرف ته اویوکس طرف ته خی اوس څلور کرښې د مخې طرف نه خو هم څلور دی مګر شاته تلو سره د ملا نه مخکښې مخکښې ختمیږی نو د هریو دوو طرفونه د څلورو په خانی اته قطونه جوړیږی نو د دې ښخې مخې ته راتلو سره څلور او تلو کښې اته قطونه ښکاری هم د غه نقشه د غه مخنث راښکله چه "تقبل باربع وتدبر بثمان".

[۲۱۲۲] بلا ضرورته د بربنډ والی ممانعت

۳۱۲۰—[۲۵] (۱) [۱] «وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ: حَمَلْتُ حَجَرًا ثَقِيلًا [۲] فَبَيْنَمَا أَنَا أَمْشِي سَقَطَ عَنِّي ثَوْبِي فَلَمْ أَسْتَطِعْ [۳] أَخْذَهُ فَرَآنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۴] فَقَالَ لِي: خُذْ عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلَا تَمْشُوا عُرَاةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت مسور ابن مخرمه ﷺ وایي چې (یوه ورځ د خپل څه ضرورت تحت) ما یو درووند کاڼی پورته کړي [۲] او د هغه آخستو سره روان شوم (په لار کې) زما کپړه (یعني تهبند (لنګ)) زما د بدن نه ولویدلې (چې د هغه په وجه زما ستر ښکاره شو) خو ما (د بوج په وجه سمدستي) خپله کپړه پورته نه کړی شوه، [۳] او په دې دوران کې رسول الله ﷺ زه (په بربنډ حالت کې) ولیدم، [۴] نو رسول الله ﷺ وفرمایل چې (سمدستي) خپله کپړه پورته کړه او ستر پټ که او بیا حضور ﷺ دا عام) حکم وکړي چې بربنډ مه ګرځی، (مسلم)

تسهیلات:

قوله: وَلَا تَمْشُوا عُرَاةً:

دستر عورت د حکم عموم:- دا د عموم بعد الخصوص قبیل څخه دي چې خذ علیك ثوبك. دا په دې خبرې باندې دلالت کوی چې هیڅ یو بالغ کس دې نه بربنډ اوسی او نه دې بربنډ ګرزی، ستر پټول فرض دی، دا حکم عام دې دا یو کس سره خاص نه دې (التعلیق الصبیح)

[۲۱۲۳] د خاوند شرمګاه ته نه کتل

۳۱۲۱—[۲۶] (۲) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَا نَظَرْتُ [۲] أَوْمَا رَأَيْتُ فَرْجَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَطُّ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او د مؤمنانو مور بي بي عائشه ﷺ فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ ستر خایي طرف ته هیڅ کله نظر نه دی پورته کړي، [۲] یا داسې یې وفرمایل چې ما (د حضور ﷺ د ستر) حصه هیڅ کله نه ده لیدله، (ابن ماجه)

---

۱) اخرجه مسلم في كتاب الحيض/باب الاعتناء بحفظ العورة (رقم-۷۸ - (۳۴۱)
۲) اخرجه ابن ماجه في السنن رقم الحديث ۱۹۲۲ واحمد في المسند رقم الحديث ۶/ ۶۳

تسهیلات:

قوله مَا رَأَيْتُ فَرْجَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَطُّ:

دخپلې بي بي شرمګاه ته د کتلو حکم: - غوره اوبهتره دا ده چې خاوند د خپلې بي بي شرمګاه ته اونه ګوري دغه شان چې ښځه د خپل خاوند شرمګاه ته اونه ګوري خوکه دخپلې تسلئ دپاره ورته اوګوري نه څه ګناه په کښې نشته

[۲۱۲٤] پردئ ښځې ته د اچانک نظر څخه پس نظروا پس کولو انعام

۳۳۳۳-[۲۷] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا أَحْدَثَ اللهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو امامه ﷛ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] د کوم مسلمان نظر چې په اولني ځل (بلا قصد او اراده) د يوې ښځې د حسن او جمال طرف ته پورته شي، او بیا هغه سمدستي خپل نظر وګرځولو، نو الله ﷻ د هغه د پاره يوداسي عبادت پيدا کوي، چې په هغه سره هغه سړی لذت حاصلوي، (احمد)

حل لغات: ① مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ: د ښځې د حُسن او جمال ځايونه. ② أَحْدَثَ اللهُ: پيدا کوی الله تعالی. ③ حَلَاوَتَهَا: لذت او خوږوالې دهغې،

تسهیلات:

قوله: إِلَّا أَحْدَثَ اللهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا

په عبادت کښې دخوند پیدا کولو طریقه: - په عبادت کښې حلاوت او خوند پيدا کيدل دا ډير اوچت مقام دې کله چې د سړی په عبادت کښې خوند او لذت پيدا شي نو بيا هغه د عبادت ستړې والې نه محسوسوی هم دغه وجه وه چې نبی کريم ﷺ ته به خوشحالی په مانځه کښې حاصليدله ((کما قال جعلت قرة عيني في الصلاة)) نودا مقام په مختلفو مجاهداتو سره سړی ته حاصليږی ددې مقام د حاصلولو يوه طريقه دا هم ده چې سړې د خپل نظر حفاظت کوی نو ده ته به دا مقام حاصليږی

[۲۱۲۵] د مستورا نامو لو ښکاره کولو حرمت

۳۱۲۵-[۲۸] (۲) [۱] وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت حسن بصري ﷬ نه بطريق ارسال روايت دی چې هغه فرمايې ماته (د صحابه وو ﷡) دا حديث رسيدلی دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په هغه سړي

۱) اخرجه احمد في المسند: ۵/ ۲٦٤
۲) رواه البيهقي في شعب الايمان (رقم-۷۷۸۸)

چې هغه (بلا عذر او اضطرار) اجنبی ښځی ته وکتل او په هغه چې هغه ته وکتل شو د الله تعالٰی ﷻ لعنت وي. (بیهقي)

حل اللغات: ① اَلنَّاظِرُ: یعنی قصداً او شهوت سره پردی ښځې ته کتونکي ملعون دي دغه شان مستوره اندامونو ته کتونکي هم ملعون دي ② وَالْمَنْظُوْرُ اِلَيْهِ: دغه شان دَ چا طرف ته چه کتلې شی هغه هم ملعون دي

تسہیلات: قوله: وَالْمَنْظُوْرُ اِلَيْهِ

د منظور اِلیه د ملعون کیدلو وجه:- سوال دادي چه هغه ولې ملعون دې دَ کتونکی خو قصور دې مگر دَ هغه څه قصور دي؟

دَدې جواب دادې چه منظوراليه کښې داقيد دې چه هغه بغيرد عذر او اضطرار نه خپل خان برېنډ کړې دې اوخان ښائی که هغه ښځه وی اوکه دَ یوسړی مستور اعضاء وی اوکه منظور اليه بې اختياره وی یا معذوره او مجبوره وی نوهغه دَدې وعيدنه خارج دي

تنبيه دې روایت سره جانګې اچونکې دَ سویمنګ شوقین لویغاړی فلم اوفلم ستهار برېنډ تصویرونه، ټیلی ویژن او وی سی آر ټول دَدې لعنت لاندې راځی. الله تعالی دې دَ دې ټولو بلاګانونه دَمسلمانانو حفاظت اوکړی اودَمسلمانانو په شان منافق حکمرانان دې مسلمانان جوړ کړی او اسلامی ملکونوته دې دَدې فحاشونه خلاصې ورکړی. آمین یارب العالمین

[۲] بَابُ الْوَلِيِّ فِي النِّكَاحِ وَاسْتِئْذَانِ الْمَرْأَةِ

دَ نکاح دَولی او د ښځې دَ اجازت بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① حكم الاستيذان: ۱، ۲، ۸۔

② الرجوع وقت عدم الاستيذان: ۳، ۱۰۔

③ انعقاد النكاح بالولي: ۵، ۶، ۷۔

④ من يصلح للوكالة ومن لم يصلح ، الأب: : ۳، ۴، ۱۰، ۱۲، ۱۳۔

د ولی ماخذ او معنی :- ولي په لغت کښې دَ امورو منتظم او کارساز په معنی کښې دي دادَ ولايت نه ماخوذ دې کوم ته چه "تنفيذ الحكم على الغير" وائی دلته دَ ولی نه مراد هغه سړې دې چه دَ یوې ښځې دَ نکاح اختيارلری اودَ دغه معامله قانونی ذمه وار وی. دَ ټولو نه اول دَ یوې ښځې دَ نکاح دَ ولايت اختيار دَښځې هغه رشته دار ته حاصل دې کوم چه عصبه بنفسه وی او دَ عصباتو ترتيب به هم هغه وی کوم چه په میراث اووراثت کښې وی

د حق ولایت حاصلیدلو شرائط:-دَ ولایت حق حاصلیدلو دَپاره دَ سرې
① آزاد کیدل شرط دې
② عاقل کیدل ضروری دی
③ بالغ کیدل
④ او مسلمان کیدل لازم دی لهذا غلام مجنون، ماشوم او کافر ولی نه شي جوړیدې دې دَپاره چه دَ کامل شفقت او مکمل حکمت په رنړا کښې دَ ژوند دا اوږده معامله دَ څه نقصان ښکاره نه شی دَاسلام په نظر کښې چونکه دَ نکاح اودَ انسانی شرافت ډیر زیات لحاظ ساتلې شوې دې په دې وجه دَ ولی اجازت سره معامله دَ شرافت په رنړا کښې یوځائی کړې شوې ده دې دَپاره چه په مناسب ځائی کښې نکاح کولو سره ښځه خپل خاندان رسوا نه کړی او بل طرف ته ښځه بې وسه کیدو سره دَ ځناورو په صف کښې شامله نه شی. په دې وجه دې "باب ولی النکاح" کښې به هغه ټول احادیث راځی په کوم کښې چه دَ طرفینو احساساتو اوجذباتو پوره پوره لحاظ ساتلې شوی دې. دَ انسانی حق خودداری دَ اصول لاندې په دې معامله کښې دَ ښځې حیثیت لږ شان طاقتور اومستحکم دې لیکن دَ شرافت شرم اوحیا په میدان کښې دَ ولی طرف درونددې. لهذا په دې باب کښې چه په کومواحادیثوکښې په ظاهره تعارض ښکاری هغې ته هم دَ دغه طرفین دَ حقوق په انداز کښې کتل پکاردی بیا به هیڅ تعارض نه پاتې کیږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۱۳۶] د نکاح دپاره د ښځې څخه اجازت غوښتل

۳۱۲۶-[۱] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ ③ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ. ④ قَالُوا: يَارَسُولَ اللهِ كَيْفَ إِذْنُهَا؟ ⑤ قَالَ: أَنْ تَسْكُتَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷛ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② أَیِّم (یعني د کونډې بالغې) نکاح دې نه کول کیږی د خو پورې چې د هغه حکم حاصل نشي، ③ دغه شان د پیغلې ښځې (یعني د پیغلې بالغې) نکاح دې نه کول کیږی د خو پورې چې د هغه اجازت حاصل کړل نشي (د دې اوریدو سره) ④ صحابه وو ﷡ عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ د پیغلې ښځې اجازت به څنګه حاصلیږي (ځکه چې پیغله خو ډیر شرم او حیاء

۱) اخرجه البخاری في کتاب الحیل/باب فی النکاح (رقم-۶۹۶۸) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی الاستئمار (رقم-۲۰۹۲) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی استئمار البکر والثیب (رقم-۱۱۰۷) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: إذن البکر (رقم-۳۲۶۷) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ استئمار البکر والثیب (رقم-۱۸۷۱) واحمد فی المسند: ۲/ ۲۵۰

کوي.۵ حضور ﷺ وفرمايل داسي چې هغه چپ شي يعنی د پیغلي نه د هغی د اجازت په غوښتلو باندې که د شرم او حیاء د وجي نه هو ونه کړي. بلکه خاموشه پاتې شي نو داد هغه اجازت ګڼل کیږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات ①**الأَيِّمُ**: هغه ښځه چه د هغې بکارت ختم شوې وی. ②**الْبِكْرُ**: هغه ښخه چه د هغې بکارت په نکاح وغیره سره ختم شوې نه وی.

تسهیلات: **قوله**: لَاتُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتّٰى تُسْتَأْمَرَ:

په ثیبه او باکره کښې فرق :-

د ثیبه درې اطلاقات :- ① دَ ایم لفظ شد سره دې دا هغه ښځې ته وائی چې ثیبه وی. ② یا دکومې خاوند چه نه وی ③ یا مطلقه وی ④ یائی دَ خاوند انتقال شوې وی.

په حدیث کښې مراده معنی :- لیکن دلته په دې حدیث کښې صرف ثیبه مراد ده یعنی دَ چا بکارت چه ختم شوې وی ① که هغه په نکاح صحیح سره ختم شوې وی ② یا په نکاح فاسد سره ③ یا شبه سره ④ یا زنا سره ⑤ اویا په توپ وغیره سره ختم شوې وی علامه طیبی رحمه الله هم داسې لیکلی دی. دې حدیث کښې "الايم" سره دَ امر اوحکم لفظ راغلې دې خکه چه په ثیبه کښې اصل نسوانی حیا باقی پاتې نه وی نو هغه دَ خپلې نکاح پخپله حکم ورکولو سره دَ الفاظو قطار به اولګوی.

دباکره سکوت د لیل د رضاولې دې؟ :- او "البکر" سره اذن او اجازت لفظ لګیدلې دې خکه چه هغه پیغله وی په دې میدان کښې نسوانی حیاء په هغې کښې کامله وی نو په ژبه سره حکم نه شی ورکولې په دې وجه دَ هغې چپ پاتې کیدل او سکوت دَهغې رضامندئی باندې دلالت کوی

د ولایت اجبار څلور قسمونه :- په ولایت اجبار اوعدم اجبار کښې دَ ښځوڅلورقسمونه دی

① باکره صغیره ده په دې کښې هم دَتولو علماؤ اتفاق دې چه دَدې دَ نکاح دَپاره دَدې نه دَ اجازت اخستلو ضرورت نشته دې

② ثیبه بالغه ده په دې قسم ښځوکښې دَ تولو فقهاؤ اتفاق دې چه دَ ثیبه اجازت ضروری دې بغیرد دې دَ اجازت نه نکاح صحیح نه ده.

③ باکره بالغه ده په دې کښې هم اختلاف دې علماء احناف فرمائی دَدې نکاح دَدې دَ اجازت او رضامندئی نه بغیر جائز نه ده خکه چه دا بالغه اختیارمنده ده لیکن جمهور فرمائی چه دَدې دَ اجازت او رضامندئی نه بغیرد دې نکاح دَ دې ولی کولې شی خکه چه داباکره ده خودمختار نه ده. اوهم دغه مطلب دَ ولایت اجبار دې چه ولی په جبری توګه باندې دَدې نکاح کوی.

④ ثیبه صغیره ده په دې کښې دَجمهورو خیال دې چه دَدې دَ اجازت نه بغیرنکاح نه شي کیدې مګر احناف وائی چه دلته دَدې دَ اجازت ضرورت نشته دې دَ ثیبه صغیره صورت دادې چه جینئی وړه ده او دَ بلوغ نه مخکښې کونډه شوه

په باکره باندې د ولی په ولایت کښې مذاهب او د اختلاف بنیاد:-

① دَ جمهور حضراتو په نیزمدارد اجبار په بکارت باندې دې ولی ته به دَ جبرحق صرف په هغه صورت کښې حاصل وی کله چه جینئی پیغله یا باکره وی که هغه بالغه وی او که نابالغه وی نو په دوو صورتونو یعنی ثیبه بالغه او باکره صغیره کښې دَ ټولو اتفاق دې دغه شان ثیبه صغیره اوباکره بالغه دواړو صورتونوکښې دَ فقهاؤ اختلاف دې دلته چه کله دَ فقهاؤ دَ اختلاف خبره راځی نودَهغې نه هم دغه دوه نزاعی صورتونه مراد وی.

② دَ احنافو په نیز دَ ولایت اجبارمدار په صغرباندې دې یعنی نابالغ کم عمره جینئی باندې اولیاء ته داحق حاصل دې چه دَهغې دَ مرضئی نه بغیردَ هغې نکاح اوکړی که هغه ثیبه وی اوکه باکره وی.

د اول فریق دلائل:- ① دَ ولایت اجباردَپاره خو داسې هیڅ یوصریح حدیث نشته دې چه دَ جبردَ ټولو صورتونودَپاره دلیل جوړشی. صرف دَ یوحدیث دَ مفهوم مخالف نه په خپله مدعاباندې دلیل قائموی هغه حدیث داسې دې. ((الثیب احق بنفسها من ولیها)) (رواه مسلم) په دې روایت کښې دَ ثیب لفظ راغلې دې چه هغه دَخپلې نکاح اختیار پخپله لری نومفهوم مخالف دا شو چه باکره دَخپلې نکاح اختیار پخپله نه لری. بلکه دَهغې ولی دَ هغې دَ نفس زیات حق لری.

② دَ خنساء بنت خذام روایت د دوی مستدل دې چه هغه ثیبه وه نونبی کریم دَهغې نکاح رد کړه کومه چه دَ هغې پلار کړې وه. دَدې نه ئې هم استدلال دَمفهوم مخالف په توګه کړې دې چه دَ ثیب نکاح ئې ردکړه لهذا هغې ته اختیاردې اوباکرې ته اختیار نشته

جوابونه:- ① مونږ مفهوم مخالف نه منو ځکه چه که مفهوم مخالف که چرته په توګه دَ قاعده او ضابطه اومنلې شی نودَ شریعت بعضې نصوص مفهوم مخالف منلوسره به دَ شریعت ښکاره خلاف ورزی راځی.

② چه کله مفهوم موافق موجود دې اوحکم منطوق ثابت دې نودَ مفهوم مخالف طرف ته اودَ غیرمنطوق حکم طرف ته دَتلو څه ضرورت دې اونه مناسب دی په دې وجه زمونږ دلائل راجع دی

د دویم فریق دلائل:- ① زیربحث حدیث د دې ((وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتّٰى تُسْتَأْذَنَ))

② دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت د دویم فریق مستدل دې کوم کښې چه ((وَالْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ وَالْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا)) وغیره الفاظ راغلی دی.

④ ۳۱۲۵ـــ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«الْيَتِيمَةُ تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا، وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

④ ۳۱۲۶ـــ «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتْ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ. فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» -. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

په دې کښې چه په واضحه توګه باندې باکرې ته دَ نکاح فسخ کولو اختیار ورکړې شوې دې دا مختلف احادیث په دې باندې واضح دلائل دی چه باکره کله بالغه وی هغه دَخپلې نکاح اختیار پخپله لری په هغې باندې څوك جبر نه شی کولې اودا جدا خبره ده چه دَ شرافت مروت او حکمت تقاضا داده چه ښځه دَ خپلې نکاح معامله خپلو مشرانوته حواله کړی دَحدیث شریف دَ لفظ احق نه دَ اسم تفضیل سره هم اشاره کیږی چه پخپله ښځه زیاته حقداره ده اوولی ته هم حق حاصل دې.

[۳۱۲۷] دَ کونډې اختیاردهغې په خپل لاس کښې

۳۱۲۷ـــ [۲] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «الْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا ③ وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صِمَاتُهَا. ④ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ وَإِذْنُهَا سُكُوتُهَا. ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا أَبُوهَا فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صِمَاتُهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ وايې چې رسول اللهﷺ وفرمايل ② ايم يعنى هغه ښځه چې کُنډه بالغه او عاقله وي، د خپلې نکاح په معامله کې د خپل ولي نه زيات خپله اختيار لري، ③ او پيغله جينۍ (چې بالغه وي) هم د دې حقداره ده، چې د هغې نکاح د هغی د اجازت سره وکړی شي، او د هغې اجازت د هغی خاموشي ده (يعني دا ضروري نه ده چې هغه د خپلی ژبی سره اجازت ورکړي، بلکه د هغه د شرم او حياء له خاطره د هغی خاموشي د هغی د اجازت د پاره کافي دی، ④ په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل ثيب (يعني کُنډه ښځه) په خپل باره کې د خپل ولي نه زيات خپل اختيار لري، او د پيغلې جينۍ نه دی هم د هغی د نکاح اجازت وآخستی شي، او د هغی اجازت د هغی خاموشي ده ⑤ او په يو روايت کې داسې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ثيبه په خپل باره کې د خپل ولي نه زياته خپل اختيار لري او د پيغلې جينۍ نه دي هم پلار د هغی د نکاح په باره کې اجازت حاصل کړي ، او د هغی اجازت د هغې خاموشي ده. (مسلم)

۱) اخرجه مسلم فى كتاب النكاح/ باب استئذان الثيب فى النكاح بالنطق. والبكر بالسكوت (رقم-۶۶ - ۱۴۲۱)واخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى الثيب (رقم-۲۰۹۸) والترمذى فى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى استئمار البكر والثيب (رقم-۱۱۰۸) والنسائى فى كتاب الجهاد/ باب: استئمار الثيب فى نفسها (رقم-۳۲۶۵) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ استئمار البكر والثيب (رقم-۱۸۷۰) ومالك فى الموطا كتاب النكاح/باب استئذان البكر والأيم فى أنفسهما (رقم-۴) واحمد فى المسند: ۲۱۹/۱

تسهيلات

نوټ: - د دې حديث شرح د حديث نمبر (۳۱۲۶) په تسهيل کښې ذکر شوې دې

[۳۱۲۸] کونډې ته د نکاح رد کولو اختيار

۳۰--[۳] (۱) ۱ «وعن خنساء بنت خذام - رضي الله عنها أن أباها زوجها وهي ثيب، ۲ فكرهت ذلك، فأتت رسول الله صلى الله عليه وسلم - ۳ فرد نكاحها». رواه البخاري وفي رواية ابن ماجه "نكاح أبيها".

ترجمه: ۱ او د بي بي خنساء بنت خذام ﷺ نه روايت دی چې د هغې پلار د هغې نکاح د هغې د اجازت نه بغير، وترله، هر کله چې هغه کُنډه (او بالغه) وه، ۲ هغې هغه نکاح خوښه نه کړه، او د رسول الله ﷺ په خدمت کې (د خپلې معاملې راوړلو سره) حاضره شوه، ۳ نو حضور ﷺ د هغې نکاح (يعني د هغې د پلار نکاح کول) رد کړله. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: وهي ثيب:

د مفهوم مخالف نه استدلال او د هغې جواب: - جمهورو دې نه مفهوم مخالف په توګه بندې د خپل مسلك د اثبات دپاره استدلال کړې دې چه ثيب ته د نکاح رد کولو اختيار دې بکرې ته اختيارنشته دې. احناف فرمائي چه دلته د ثيب نه بالغه ښځه مراد ده اوهغې ته اختيار په وجه د اهليت ورکړې شو ځکه چه عاقله بالغه ښځه ده. هرقسم عقود اوفسوخ اختيار هغې ته شريعت ورکړې دې نو د عقد نکاح اختيار هم شريعت ورکړې دې اوکله چه يوې ښځې ته اختيارورکړې شو نوبيا د کونډې او باکرې فرق نشته صرف د بلوغ لحاظ دې

[۳۱۲۹] د نکاح په وخت د حضرت عائشه صديقه ﷺ عمر

۳۱--[۴] (۲) ۱ «وعن عائشة - رضي الله عنها - أن النبي صلى الله عليه وسلم تزوجها وهي بنت سبع سنين ۲ وزفت إليه وهي بنت تسع سنين، ۳ ولعبها معها، ۴ ومات عنها وهي بنت ثماني عشرة». رواه مسلم.

ترجمه: ۱ او د بي بي عائشې ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ د هغې سره هغه وخت نکاح وکړه کله چې د هغې عمر اووه کاله وو. ۲ او کوم وخت چې د حضور ﷺ کورته وليږل شوه. نو د هغې عمر نهه کاله وو. ۳ او د هغې (د لوبو د پاره) د لوبو ځيزونه هم د هغې سره وو. ۴ او کوم وخت چې حضور ﷺ د دنيا نه تشريف يوړلي، او د بي بي عائشې ﷺ نه د هميشه د پاره جدا شو نو هغه وخت د هغې عمر اتلس کاله وو. (مسلم)

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب إذا زوج ابنته وهي كارهة فنكاحه مردود (رقم-۵۱۳۸) واخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب في الثيب (رقم-۲۱۰۱) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: الثيب يزوجها أبوها وهي كارهة (رقم-۳۲۶۸) وابن ماجه في كتاب النكاح/ من زوج ابنته وهي كارهة (رقم-۱۸۷۳) واحمد في المسند: ۶/۳۲۸
۲) اخرجه مسلم في كتاب النكاح/ باب تزويج الأب البكر الصغيرة (رقم-۷۱ - (۱۴۲۲))

حل اللغات ① وَزُفَّتْ إِلَيْهِ: چه د واده رخصتي ئې اوشوه او د حضور پاک ﷺ کورته اوليږلې شوه ② وَلُعَبُهَا مَعَهَا: او د هغې د لوبو څيزونه هم د هغې سره وو

تسهيلات:

قوله: تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِينَ:

د حضرت عائشه رضي الله عنها د ژوند د ابتدائی دور نقشه او درې اهم مراحل: -دا حديث شريف دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ ژوند دَ شروع دور نقشه وړاندې کوی او دَ هغې دَ کم عمرئی دَ درې مرحلو خودنه کوی. ① دَ اووه کالو په عمر کښې هغه دَ نبی کريم په زوجيت کښې راغله

② دَ نهو کالو په عمر کښې رخصتی اوشوه

③ نبی کريم سره دَ نهو کالو دَ رفاقت نه پس دَ اتلسو کالو په عمر کښې نبی کريم ﷺ سره دنياوی رفاقت ختم شواو دَ نبی کريم وصال اوشو.

دنهو کالو په عمر کښې د بلوغت امکان: -دَ نهو کالو په عمر کښې جينئی بالغ کيدې شی دا دَ بلوغ اقل موده ده او په دغه کم عمر کښې دربارنبوی ته رسيدل دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَپاره اعزازدې. نادان دی هغه خلق چه دا صريح او صحيح حديث په دې وجه رد کوی چه دَ هغوی په خيال کښې دې سره دَ حضرت عائشه رضي الله عنها شان کميږی په غلطو مفروضو سره يو صحيح حديث رد کول ګمراهی ده. حضرت عائشه رضي الله عنها کم عمره وه په دې وجه ئې خپل دَ لوبو څيزونه خان سره راوړې وو دا دَ لوبو څيزونه دَ کپړې او لرګی نه جوړې شوې ګډيانې وې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۳۰] د ولی د اجازت څخه بغير د کم عمره جينئ د نکاح عدم صحت

۳۱۳۰—[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوموسیٰ رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي حضور ﷺ وفرمايل [۲] د ولي د اجازت نه بغير نکاح نه کېږي، (احمد ترمذي ابوداود ابن ماجه دارمي)

تسهيلات:

قوله: لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ:

د نکاح په فيصله کښې احتياط: -نکاح دَ ټول ژوندون دَ ترون نوم دې دَ پوره ژوند سودا ده.

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی الولی (رقم-۲۰۸۵) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء لا نکاح إلا بولی (رقم-۱۱۰۱)وابن ما جه فی کتاب النکاح/ لا نکاح إلا بولی (رقم-۱۸۸۱) واحمد فی المسند: ۳۹٤/٤

شريعت په دې کښې په ډير سوچ اوفکرسره د قدم کيخودو تعليم ورکړې دې دَدې د پاره لازم دی چه د فريقينو رضا اورغبت په دې کښې شامل وی چه روسته څه د فکرخبره رانه شی شريعت په ډيراعتدال سره يوطرف ته اولياؤته ترغيب ورکړې دې چه هغوی دې د جينئی د مرضئی خيال اوساتی اوبل طرف ته ئی جينئی ته ترغيب ورکړې دې چه هغه دې د خپل ولی د رضا نه بغيردې نکاح نه کوی خودا چونکه د ترغيب معامله ده ليکن

په عبارة النساء سره د نکاح د انعقاد په صحت کښې مذاهب او مسئلې صورت:-

که څوك عاقله بالغه جينئی په کفوکښې په مهرمثل باندې نکاح کوی او د ولی نه اجازت نه اخلی يا د هغې نکاح بل څوك عاقله بالغه ښځه کوی کوم ته چه "انعقادالنکاح بعبارة النساء" په عنوان سره يادولې شی نو په دې کښې د فقهاء اختلاف دې

① دامام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز د ولی د اجازت نه بغير نکاح نه منعقد کيږی او د صاحبين مسلك هم دغه دې.

② امام مالك رحمه الله فرمائی که چرې ښځه وضيعه ده يعنی دکمزوری خاندان سره د هغې تعلق دې نوهغه خپله نکاح پخپله کولې شی د ولی ضرورت نشته اوکه د شريف خاندان سره ئی تعلق دې نو هغه خپله نکاح پخپله نه شی کولې.

③ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی که چرې نکاح په کفوکښې شوې ده اومهرمثل مقرر دې نو نکاح منعقد کيږی اوکه چرې په غيرکفوکښې ده يا د مهر مثل نه کم مهر باندې نکاح شوې ده نود امام ابوحنيفه رحمه الله نه دوه روايتونه دی يوظاهرالرواية دې اوهغه دا چه نکاح خو به اوشی مګر ولی ته به د دې نکاح د فسخ کولو حق حاصل وی او دويم روايت نادرالرواية دادې چه دا نکاح بالکل صحيح نه ده لهذا د راجح او قابل فتوی قول دادې چه نکاح به نه منعقد کيږی.

داول فريق دلائل:- ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "«لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ» "رَوَاهُ»(مشكاة رقم ۳۱۳۰)

② وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "«أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا فَإِنِ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ»».(مشكاة رقم ۳۱۳۱)

جوابونه : ① په کوموا احاديثو کښې چه د ولی د اجازت نه بغيرنکاح ممنوع ګرځولې شوې ده هغه احاديث په صغيره باندې محمول دی

② هغه احاديث په صغيره باندې محمول دی په مجنونه باندې محمول دی څکه د دوی د اختيار اعتبارنشته بلکه هډو اختيارئی نشته.

③ یا "لانکاح الابولی" کښې دې طرف ته اشاره ده که چرې په غیر کفو کښې نکاح شوې وی نو دَ ولی اجازت ضروری دې یعنی که په غیر کفو کښې نکاح شوې وی نو ولی دا فسخ کولې شی لکه چه دا نکاح دَ ولی په اجازت باندې موقوف ده نو "لانکاح الابولی" صحیح شو
④ دَ منع احادیث دَ سند په اعتبار سره ناقابل احتجاج دی لکه امام بخاری رحمه الله دې روایت ته ضعیف ولی دی. نسائی رحمه الله دامخدوش گرځولې دې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائیلی چه دا روایت قوی نه دې.
⑤ دَ حضرت عائشه رضی الله عنها خپل عمل دَ خپل روایت برعکس شوې دې ځکه چه هغې دَ حضرت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه دَ لور نکاح پخپله اوکړه په کوم چه عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه خفه وو مګر نکاح نافذ اومنلې شوه. لهذا په دې صورت کښې دا روایت دَحجت قابل نه شو
⑥ بعضې وئیلی دی چه دَ احناف په نیز "لانکاح" کښې لانفی دکمال دپاره ده چه بهترنه ده
د دویم فریق دلیل: – دوی په احادیثو کښې دَ تطبیق نکاح لار راویستې ده یعنی دَ منع احادیث دَ شریفې ښځې په حق کښې دی چه دَولی دَ اجازت نه بغیر دې نکاح نه کوی او هغه احادیث چه په جواز باندې دلالت کوی هغه دَ وضیعه ښځې په حق کښې دی هغې ته دَ اجازت اخستو ضرورت نشته.
د دریم فریق دلائل: – ① دَ قرآن کریم په ډیرو زیاتو آیاتونو کښې دَ نکاح نسبت ښځې طرف ته کړې شوې لکه ﴿ فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ﴾ [بقره: ۲۳۰.] ﴿ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ ﴾ [بقرة: ۲۳۲.] ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [بقره: ۲۴۳.]
② په احادیث کښې دی "الایم احق بنفسها من ولیها" د دې نه هم معلومه ده چې ثیبه وی نو هغه دخپلې نکاح په خپله د ولی په نسبت زیاته حقدار ده. یعنی دهغې نکاح د هغې په عبارت سره منعقد کیږی
③ هغه ټول احادیث د دوی مستدل دی په کوم کښې چه دَ ښځې اجازت ضروری ګرځولې شوې دې.
④ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "«أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا فَإِنِ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ». (مشکاة رقم ۳۱۳۱)

په دې حدیث کښې دَ "اشتجروا" لفظ راغلې دې دا دَ تشاجر اومشاجره نه دې کوم چه دَ جګړې په معنی کښې دې. یعنی چه کله دَ یوې ښځې اولیاء په خپل مینځ کښې څه جګړه کوی او یو اتفاقی فیصلې ته نه رسی نو بیا به دَ ولایت حق دَ وخت قاضی ته وی ځکه چه دَ

چې ولی نه وی دَهغوی ولی قاضی اوحاکم وی

⑤ عقلي دليل دا دې چه ښځه انسان دې کله چه دې ته دَ تولو فسوخ او عقود حق حاصل دې نونکاح هم يوعقد دې په دې کښې ښځه دَ حيواناتو په شان نه شی ساتلې. لهذا په عبارات النساء سره هم نکاح منعقد کيږی اودَ ولی دَ اجازت نه بغير هم.

[۳۱۲۱] دولی د اجازت څخه بغیر د نکاح فساد

۳۱۲۲-[۲] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "② «أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا ③ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، ④ فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا ⑤ فَإِنِ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کومي ښځي چې خپله نکاح د هغه د ولي د اجازت نه بغير وکړه، ③ نو د هغي نکاح باطله ده، د هغي نکاح باطله ده، د هغي نکاح باطله ده، ④ بيا که خاوند د هغي سره مجامعت وکړي، نو هغه به د مهر حقداره وي، ځکه چې خاوند د هغي د شرمګاه نه فائده واخستي ده، ⑤ او که د يوي ښځي وليان په خپلو کې اختلاف وکړي نو د چا چې هيڅوك ولي نه وي د هغي ولي بادشاه دی. (احمد ترمذي ابوداود ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: ① فَإِنِ اشْتَجَرُوا: که خلق خپلو کښې اختلاف اوکړی.

تسهیلات:

نوټ: د دې حديث شرح د حديث نمبر (۳۱۲۶) په تسهيل کښې ذکر شوې دي.

[۳۱۲۲] د ګواهانو څخه بغير د نکاح فساد

۳۱۲۳-[۷] (۲) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «الْبَغَايَا اللَّاتِي يُنْكِحْنَ أَنْفُسَهُنَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ». ③ وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② بدکاري ښځي چې په زنا کې مبتلا وي هغه دي چې بي شاهدانو خپله نکاح کوي، ③ د دې روايت په باره کې زياته صحيح خبره دا ده چې دا په حضرت ابن عباس رضي الله عنهما باندې موقوف دی يعنی دا حضور ﷺ ارشاد نه دی بلکه خپله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول دی، (ترمذي)

حل اللغات: ① اَلْبَغَايَا: زناکاري او بدکاري ښځې

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی الولی (رقم-۲۰۸۳) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب (رقم-۱۱۰۲) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ لا نکاح إلا بولی (رقم-۱۸۷۹) واحمد فی السند: ۱۶۶/۶

۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء لا نکاح إلا ببینة (رقم-۱۱۰۳)

تسهيلات: قوله: بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ:

په عقد نكاح كې د ګواهانو حيثيت:- اهل ظواهر او ابن ابى ليلى رحمه الله طرف ته دا منسوب كولې شى چه دَ عقدنكاح په وخت دَ دوو ګواهانو او ايجاب اوقبول اوريدل ضرورى نه دى دَ جمهور امت په نيز دَ نكاح دپاره دَ دوو ګواهانو موجود كيدل شرط دې البته امام مالك رحمه الله فرمائى چه دَ ښځې اوخاوند دَ ملاقات دَ وخت پورې دَ ګواهانو موجودكيدل ضرورى دى. دَ جمهورو په نيزد عقدنكاح په وخت موجودكيدل كافى دى

[۲۱۲۲] دَ ښځې خاموشى دَ رضا دليل كيدل

[۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «الْيَتِيمَةُ تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا [۳] وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضى الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د بالغې پيغلې ښځې نه دې د هغه د نكاح په باره كې اجازت حاصل كړل شي، او كه هغه (د طلب اجازت په وخت) خاموشه شي، نو د هغې خاموشي د هغې اجازت دى. [۳] او كه هغې انكار وكړي نو په هغې دې جبر نه كول كيږى. (ترمذي ابوداود نسائي)

حل لغات: ① **اَلْيَتِيمَةُ**: بالغه پيغله جينئ، دلته دَ يتيمې اطلاق په باكره بالغه ښځې باندې په اعتبار دَ ما مضى شوې دې چه اول دا يتيمه وه اوس خو دَ بلوغ نه پس "لايتم بعدالبلوغ" چه دَ بلوغ نه پس څوك يتيم نه پاتې كيږى.

(۲) [۱] (وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي مُوسَى).

ترجمه: [۱] دارمي رحمه الله دا روايت د حضرت ابوموسىٰ رضى الله عنه نه نقل كړي دى.

تسهيلات: قوله: فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا:

په نكاح كښې د ښځې د خاموشئ مسئله:- دَخاموشئ دپاره په دې ضابطه باندې خان پوهه كول پكار دى چه دَ ښځې خاموشى دَ اجازت قائمقام كيدل صرف دَ هغې دَ ولى په حق كښې دى يعنى ښځه به هغه وخت خاموش ګنړلې شى چه كوم وخت دَ هغې ولى دَ هغې نه دَ نكاح اجازت اوغوښتلو اوهغه چپ پاتې شى. داخاموشى دَ رضا قائمقام ده اوكه غيرولى دَ نكاح مطالبه اوكړه اوښځه خاموش پاتې شوه نودَ دغه چپ پاتې كيدو هيڅ اعتبار نشته دې. كه چرې دَ يتيمې نكاح دَ پلار نه غير اوكړې شوه نودَ بلوغ نه پس دَ احنافو په نيز هغې ته به دَ فسخ حق حاصل وى. فى الحال نكاح موقوف ده دَ شوافعو په نيزدا نكاح صحيح نه ده.

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى الاستئمار (رقم-۲۰۹۳) والترمذى فى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى إكراه اليتيمة على التزويج (رقم-۱۱۰۹) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب: البكر يزوجها ابوها وهي كارهة (رقم-۳۲۷۰) واحمد فى المسند: ۲۵۹/۲
۲) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ۸۵۲۱

د مالک د اجازت نه بغیر د غلام د نکاح عدم صحت

۳۳۰۵-[۹] (۱) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ فَهُوَ عَاهِرٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم غلام چې د خپل مالك د اجازت نه بغير نكاح وكړي، هغه زنا كار دى. (ترمذي ابوداود دارمي)

حل اللغات: ① عَاهِرٌ: اى زان، زناكار،

تسهيلات: قوله: أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ:

دمالك د اجازت نه بغير د غلام د نكاح په صحت كښې مذاهب:-

① دَ امام مالك ﷫ په نيز دَعبد نكاح دَ آقا دَ اجازت نه بغير جائز او صحيح ده امام احمدبن حنبل ﷫

② دَ امام شافعي ﷫ په نيزدا نكاح باطل او صحيح نه ده.

③ دَ امام ابوحنيفه ﷫ په نيزغلام اهليت نه لرى لهذا ايجاب اوقبول هم موقوف دي او نكاح هم موقوف ده. مولى كه چرې اجازت وركړو نونكاح نافذ ده كنى موقوف به وى نواحناف دَ مولى اجازت ملاويدو په صورت كښې چه كومه نكاح نافذ منى په هغې كښې دوى امام مالك ﷫ سره شواو دَ عدم اجازت په صورت كښې احناف دا نكاح باطل منى نو په دې صورت كښې هغوى شوافعو سره شو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۱۳۶] دَخپلې نكاح په معامله كښې د بالغې خودمختارى

۳۳۰۶-[۱۰] (۲) ۱ «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ۲ إِنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ. ۴ فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس ﷺ وايي ۲ چې (يوه ورځ) يوه پيغله ښځه (چې بالغه وه) د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضره شوه ۳ او هغې دا بيان وكړي چې د هغې پلار د هغې نكاح كړيده، چې هغه يې نه خوښوي، ۴ رسول الله ﷺ هغې ته اختيار وركړي (كه غواړي

---

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى نكاح العبد بغير إذن سيده (رقم-۲۰۷۸)والترمذى فى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى نكاح العبد بغير إذن سيده (رقم-۱۱۱۱) وابن ما جه فى كتاب النكاح/ تزويج العبد بغير إذن سيده (رقم-۱۹۵۹) واحمد فى المسند: ۳/۳۷۷

۲) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى البكر يزوجها أبوها ولا يستأمرها (رقم-۲۰۹۶) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ من زوج ابنته وهى كارهة (رقم-۱۸۷۵)

نکاح دي باقي وساتي که غوارې نو فسخ دي کړي، ابوداؤد

حل اللغات ①كَارِهَةٌ: ناخوښه وه. خفه وه (په خپله نکاح باندې) ① فَخَيَّرَهَا: نو اختيار ئې ورکړو هغې ته (چه که باقي ئې ساتي او که فسخ کوي ئې)

تسهيلات: نوټ -ددې حديث تشريح د حديث نمبر (۳۱۳۰) په تسهيل کښې تيره شوې ده

[۳۱۳۷] د ولي دپاره د بالغې ښځې په نکاح ورکولو استحباب

۳۱۳۷-[۱۱] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «لَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا ③ فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② ښځه دې د بلې ښځې نکاح نه کوي او نه دې ښځه خپله نکاح په خپله کوي، ③ ځکه چې هغه ښځه به په زنا کې مبتلا وي، چې خپله نکاح پخپله کوي، (ابن ماجه)

نوټ:- د ښځو په عبارت سره د نکاح په انعقاد کښې اختلاف مذاهب وړاندې تير شوي دي هغې ته رجوع اوکړئ.

[۳۱۳۸] د اولاد درې حقونه

۳۱۳۸-[۱۲] (۲) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ ③ فَإِذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ ④ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى أَبِيهِ».

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد ﷺ او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د کوم سړي چې څوک پيدا شي، نو پکار دي چې د هغه ښه نوم کيږدي، او نيک آدب ورته وښايي (يعني د شريعت احکام او آداب او د ژوند بهترينې طريقې دې ورته وښايي چې په دنيا او آخرت کې کامياب شي) ③ او بيا چې هغه بالغ شي، نو د هغه نکاح دې وکړي، ④ که هلك بالغ وي (او غير مستطيع وي) او د هغه پلار (د هغه په نکاح کولو د قادر کيدو باوجود) د هغه نکاح ونه کړي، او بيا هغه هلك په بدي کې مبتلا شي (يعني د بدکارۍ بې راه روي ښکار شي) نو د هغه ګناه به په پلار وي

تسهيلات: قوله: مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنِ اسْمَهُ

داولاد په حق کښې د والدينو ذمه واري:-اسلام يو صالح معاشره تشکيل کوي. دَ بچو رومبنې مدرسه دَ والدينو کوروی که دَ هغه ځائې نه ئې ښه بنياد واچولې شو نو دَ ژوند ترآخره پورې به دا بنياد په کارراځي اوکه چرې دَ ژوند په دې شروع مرحله کښې بنياد

---

۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب النكاح/ استئمار البكر والثيب (رقم-۱۸۷۲)
۲) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۸۶۶۶

خراب شو نو بيا به تر آخره پورې داخراب وى او پوره معاشره به په خپله ګيره كښې واخلي
په والدينو د اولاد هرې قسمه حقوق: - په دې حديث كښې والدين ته هم دَ دغه بنيادي څيزونونه دَ دريو تعليم وركړې شوې دې
① والدين دې دَ پيدائش په وخت دَ ماشوم ښه نوم كيږدى اسلامى نوم كيږدى دَ دې ښه اثر به پوره ژوند كښې وى
② والدين دې ماشوم ته صحيح تعليم وركړى دې دَپاره چه ماشوم جاهل پاتې نه شي دَتعليم مقصد ښه لارخودنه ده چه ماشوم دَ خالق اومخلوق حقوق اوپيژنى دينى تعليم هيرول او سكول ونيل دَ بې مقصد تعليم حاصلولو په شان دې
③ والدين دې دَبلوغ نه پس دَ ده نكاح اوكړه دې سره به دا فائده وى چه بچې به د خرابولارو نه بچ شى اودَ زنا دَ هلاكونكى اثراتو نه به محفوظ پاتې شى
دَ حضرت مولنامفتى محمدشفيع رحمه الله په حواله سره داخبره مشهوره ده هغوى به فرمائيل چه هلك دَ خوارلسو كالووى او جينئى دَ پنځلسو كالو نودَ دواړو دَ پاره په دغه عمر كښې واده كول لازمى اوګرځوئى نوتقريباً زنا به ختمه شى.
د نبي كريم ﷺ د يو هلک پلار ته زورنه وركول: -دَدې حديث په آخره كښې دَ تشديداوتهديد ،تغليظ او توبيخ په توګه دااوفرمائيلې شوچه دَ بلوغ نه پس ناواده كړې هلك يا جينئى دَ زنا وغيره فحاشئى ګناه اوكړه نودَدې نقصان به په پلار وى يعنى پلاربه نى په دې ګناه كښې شريك ګنړلې شى په دې شرط چه هغه ته څه شرعى عذرنه وى دَ راتلونكى روايت مضمون هم دا شان دې.

[۲۱۳۹] په بلوغت سره د جينۍ د نكاح كولو ترغيب

[۱۳] (۱) ①وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②قَالَ: «فِي التَّوْرَاةِ مَكْتُوبٌ: ③مَنْ بَلَغَتِ ابْنَتُهُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً وَلَمْ يُزَوِّجْهَا ④فَأَصَابَتْ إِثْمًا فَإِثْمُ ذَلِكَ عَلَيْهِ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ①او حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه او حضرت انس ابن مالك رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل كوي ②چې رسول الله ﷺ وفرمايل په تورات كې ليكلي دي ③چې د كوم سړي د لور عمر چې دولس كاله شي او هغه (د كفو موندلو باوجود) د هغې نكاح ونه كړي، ④او بيا هغه جينۍ په بدكاري وغيره كې مبتلا شي، نو د هغې ګناه د هغې د پلار په سر ده، دا دواړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړي دي

حل اللغات ①فَإِثْمُ ذَلِكَ عَلَيْهِ:نو ددې ګناه ئې په پلار ده

---

۱) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۸۶۶۹

تسهيلات:

قوله فَأَصَابَتْ إِحْمَاقَالْمَرْذَلِكَ عَلَيْهِ:

په نکاح کې د غير ضروري شرائطو لګولو نتيجه:- مسلمانانو غير مسلموته په کتلوسره دَهغوی رسم اورواج اوغلط رسومات اوبدعات په خپل غم اوخوشحالئ کښې داخلولوسره دَخپل خان دَپاره مشکلات پيدا کړی دی دَ جهيز جوړولودپاره خيرغوښتلي شی او خائی په خائی دعاګانې کولې شی چه دَ لوڼړو دَ رشتو انتظام اوشی ليکن دَدغه رشتودَپاره چه کوم اوږده اوږده اوبيکاره شرطونه کيخودې شی دَهغې پوره کول آسان نه وی نونتيجه دا راوځی چه ماشومانې په کلونو باندې دَ بلوغت نه پس په کورونو کښې ناستې وی او په قسما قسم ګناهونوسره ګنده کيږی هم دغه حال دَ هلکانوهم دې اسلام دَ حق مهراداکولونه سوا دَ واده دَپاره هيڅ قسم تکلف نه دې لازم کړې

[۳] بَابُ إِعْلَانِ النِّكَاحِ وَالْخِطْبَةِ وَالشَّرْطِ

دَ نکاح اعلان ، خطبه اوشرائط

خلاصة الباب:-

فيه عشرون أحاديث مشتملة على ست مسائل:

① طريق إعلان النكاح- , الدف: ۱، - اللهو:۲، . في المسجد: ۳- / الصوت: ۱۴- الغناء: ۱۵، ۲۰-، الغزل: ۱۶-

② عدم الاختطاب على خطبة الغير: ۵-

③ الخطبة (بضم الخاء) ۲، ۱۱، ۱۲-

④ الرد على تحريم بعض الأوقات للخطبة والنكاح: ۳-

⑤ شروط النكاح الجائزة وغير الجائزة , الجائزة: ۴- - الغير الجائزة: ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۸، ۱۹-

⑥ إنفاذ إنكاح الولي الأول في صورة إنكاح الولين: ۱۷-

د نکاح د اعلان په سلسله کې شرعی آداب:- په دې باب کښې دَ نکاح واجبات، آداب، سنن، مستحبات او دَنورو ضرورياتو په ډيرواضحه انداز سره بيان راغلې دې

① دَ ټولونه اول دا اعلان کيدل پکاردی چه نکاح دې دَ دوو ګواهانو په وړاندې وی ګنی صحيح به نه وی

② دَ نکاح دې ښه تشهيراوکړې شی په ښکاره جمات کښې دې وی دَ جانبين دَ بزرګانو اودَعلاقې دَ معززينو په وړاندې دې وی. په دې کښې دَجائز حده پورې دَعلاقې دَ دستور مطابق دې دزې وی خکه چه په دې کښې يوه فائده دَ تشهير ده او دويمه فائده دَ ښنبې

پخولو ده او دریمه فائده دَ جهادي تربیت ده خو دَ اسراف نه بچ کیدوسره دې په ښه نیت سره کوی

③ دَ اعلان نکاح په سلسله کښې تمبل وهل هم شته چه دَ جائزحد پورې وی. په دې کښې یوه فائده دَ تشهیرنکاح ده دې دپاره چه دَ سازشی نکاح نه شرعی نکاح جدا شی دریمه فائده داده چه په ماتم غم او واده کښې فرق راشی چه داواده دې غم نه دې

④ دَ ولیمې دعوت هم یو ادب دې دې دپاره چه عام تشهیراوشی او هرسازش بندشی خطبه دَ نکاح هم دَاعلان دَ تشهیر ذریعه ده. دا ټول کارونه دَ تشهیرپه غرض سره جائزدي بعضې واجب دی بعضې مستحب او مسنون او یامباح دی.

لیکن ددې باوجود دَ یومسلمان نکاح دَ جاهلیت او اهل بدعت دَ ټولو رسوماتونه پاك کیدل پکاردی دَ یهود هنود او اهل باطل دټولو خرافاتو نه ددې پاك کیدل دَ اسلام ایمان شریعت اوشرافت تقاضاده مثلاً ګانې بجانې، آتش بازئی، بې پردګی سهره تړل په اسونو سوریدل دَ بازارونو چکروهل اودَ ناوې اوزلمی غیراخلاقی حرکات فضول دی.

د خطبې شرعی حیثیت:—دا لفظ په ضمه اوکسره دواړه شان لوستلې شوې دې که دَ خاء ضمه وی نودَنکاح خطبه به مراد وی اودا خطبه دَ احنافو او شوافعو ټولوپه نیزمسنون ده البته شوافعو دَ هرعقد په موقع خطبې ته مسنون وائی. مثلاً دَ بیع او شراء په وخت هم دهغوی په نیزخطبه مسنون ده. اوکه چرې دا لفظ دَ خاء کسره سره وی نوبیا دَ نکاح دَپیغام په معنی کښې دې دَ باب په احادیثو کښې دواړه څیزونه دی لیکن خطبه مسنونه مراد اخستل ډیر واضح دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۱٤۰]دَ نکاح په وخت د تمبل وهلو اجازت

۳۱۴۰—[۱] (۱) ①عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ ابْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ: «جَاءَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②فَدَخَلَ حِينَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي ③فَجَعَلَتْ جُوَيْرِيَاتٌ لَنَا يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ ④إِذْ قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ: وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ ⑤فَقَالَ: دَعِي هَذِهِ وَقُولِي بِالَّذِي كُنْتِ تَقُولِينَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:①بي بي روبیع بنت معوذ بن عفراء وایې چې دنکاح نه وروسته چې د خپل خاوند کور ته رخصتولو سره راغلم،② نو رسول الله ﷺ زمونږ خواته تشریف راوړو، او زما په بستره داسې کیناستلو څنګه چې ته زما په بستره ناست یې (ربیع دا خبره حضرت خالد ابن ذکوان مخاطب کولو سره اوویل کوم چې دا روایت یې نقل کړي دی) ③او زمونږ د

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح رقم الحدیث ۵۱۴۷. وابن ماجه فی کتاب النکاح/ الغناء والدف (رقم-۱۸۹۷)

شهيدان ورو لونړو (چې هغه وخت زمونږ په کور کې موجودې وې) دريا (تنبل) غږول شروع کړل او زمونږ د پلرونو نه چې کوم خلق په جنګ بدر کې شهيدان شوي وو. د هغوئ په خوبي او شجاعت مشتمل اشعار يې شروع کړل.۴ په دې دوران کې يوې وړوکی جينئ دا اوويل چې او زمونږ په مينځ کې هغه نبي ﷺ دی چې صبا کيدونکي خبره ورته معلومه وي.۵ حضور ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې دا خبره پريږده (يعني دا قسم خبرې مه کوه) بلکه هغه وايه څه چې دې مخکې ويل. (بخاري) ① حِيْنَ بُنِيَ عَلَيَّ: کله چه څه ناوې جوړه شوم، يعنی د خپل خاوند کور ته په ناوې توب راغلم. ② كَمَجْلِسِكَ مِنِّي: لکه څنګه چه ته اوس ما سره ناست ئې، داخطاب حضرت خالدبن ذکوان ته دې ③ جُوَيْرِيَاتٌ: نابالغې جينکئ. ④ يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ: چه تنبل ئې وهلو. دف ډهولکې يا په څه لوښی وغيره باندې څرمن تړلوسره غږونکی څيزته وائی دکوم نه چه دَ دف دف آواز راوځی نودا "تسمية الشئ باسم صوته" دې. ⑤ وَيَنْدُبْنَ: او تعريف ئې کولو، بهادری ئې بيانوله

تسهيلات:

قوله: فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِي:

د نبی کريم ﷺ رُبيع ﷺ سره بغيرهَ پردې کيناستووجوهات:-

① جلوس حجاب سره وو يعنی دَ سترد اصول مطابق وو.

② دَ اجنبی ښځې مخ او لاسونه په وخت دَ ضرورت کتل جائز دی

③ نبی کريم دَ امت دَ سړو او ښځودپاره په منزله دَ پلار وو نودَ پردې سوال نه پيداکيږی داآخری جواب علامه عينی ﷫ ورکړې دې دَچانه چه په اکثرو موقعو دې قسم سوالونو جوابونه کيږی

قوله: يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ:

د تنبل د جواز حکم:- په تنبل کښې به باجې سرناګانې چنګ رباب ستار او هارمونيم نه وی که چرې دا څيزونه وی نو په اتفاق سره حرام دی

① بعضې علماؤ مطلقًا هروخت دف غږول منع کړی دی

② بعضې هروخت مطلقًا مباح ګرځولی دی مګر اصل مسئله داده چه په اخترونوکښې سنتونوکښې واده ښادئی په موقعو کښې دَ دف غږولو ذکر په احاديثوکښې په کثرت سره ملاويږی مثلاً يوځو هم دغه زير بحث حديث دې

دې نه پس دَحضرت عائشه صديقه ﷺ والا حديث دې. دغه شان په ص ۲۷۲ باندې دَ حضرت عائشه روايت دې. دې نه پس دَحاطب جمعی ﷺ روايت دې، دې نه پس بيادَ حضرت عائشه ﷺ روايت دې. دا ډيراحاديث دَ جواز او اباحت واضح دلائل دی. په دې

مسئله کښې حضرت مولانا محمد شفیع رحمه الله احکام القرآن کښې د سورت لقمان په فوائدو کښې ډیر تفصیلي بحث او تفصیل بیان کړې دې او د غناء او سماع قواعدئې بیان کړی دی هغه هم هلته کتل پکار دی خلاصه دا چه د مسلمانانو په خوشحالئی او غم کښې فرق کیدل پکاردی واده غم نه دې دا په غم کښې بدلولوسره د ناوې په مجلس کښې قرآن خوانی نه دی کول پکار اونه دعوت ولیمه د دعوت خیرات په نوم سره یادول پکاردی لکه چه بعضې خشك صوفیان ئې کوی

قوله مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ:

په شعرونو کښې د جهاد او مجاهدینو بهادری بیانول:- حضرت معوذ رضی الله عنه د بدر د شهیدانونه وو د آبائی په لفظ سره هم د هغه طرف ته اشاره کړې شوې ده چونکه په دې اشعارو کښې د مجاهدینو، جهاد او جوش او شجاعت تذکرې وې په دې وجه نبی کریم خاموش وو

قوله وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ

د نبی کریم ﷺ د علم غیب مسئله:- لیکن چه کله دغه ماشومانو جینکو "وفينا رسول الله يعلم ما في غد" ونیل نونبی کریم هغوی منع کړې ځکه چه په دې سره د فساد عقیده خطره وه ځکه چه علم غیب د الله تعالی د خصوصي صفاتونه دې. علامه طیبی رحمه الله په دې مقام بندې لیکی چه نبی کریم دغه ماشومه د دې شعر ونیلونه ځکه منع کړه چه "لكراهة ان يسند علم الغيب اليه مطلقا لان الغيب لا يعلمه الا الله" (طیبی ج۶ص۲۵۴)

[۳۰۱] د واده په موقع د تنبل وغیره غږولو اجازت

۳۰۳- [۴] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: زُفَّتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ ② فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ؟ ③ فَإِنَّ الْأَنْصَارَ يُعْجِبُهُمُ اللَّهْوُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي چې يوه ښځه د نکاح نه وروسته رخصتولو سره په انصارو کې يو سړي ته را وستل شوه. ② نو رسول الله ﷺ (هغه سړي ته) وفرمايل چې آيا تاسره لوبه (يعني دريا (تنبل) او سندرې) نشته (يعني شريعت چې په واده او کوژدن کې د کوم دريا (تنبل) غږولو اجازت ورکړي دی او د کوم قسم سندرې چې يې جائز ګرځولي دي ستا واده ددې څيزونونه ولې خالي دي. ③ ځکه چې انصار خودا څيزونه ډيرخوښوي. (بخاري)

حل اللغات: ① زُفَّتِ امْرَأَةٌ: يوه ښځه د نکاح نه وروسته رخصتولو سره راوستلې شوه، ② اَللَّهْوُ: د لوبو او سندرې ونیلو آله. تنبل وغیره

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب النسوة اللاتی یهدین المرأة الی زوجها ودعائهن بالبرکة (رقم-۵۱۶۲)

تسهيلات: قوله: مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ؟

د مذکوره جملې ترکيب: - ما نافيه دي او همزه د انکار دي تقديري عبارت به داشان وي (أي لم يكن معكم ضرب دف وقراءة شعر ليس فيه إثم) يعنى آيا ستاسو سره دف نشته دي او شعر ويونکي چې په کښې څه ګناه نه وي

[۳۱٤۲] د شوال په مياشت کښې د نکاح کولو استحباب

۳۳۲۲-[۳] (۱) ۱ «وَعَنْهَا قَالَتْ: تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي شَوَّالٍ وَبَنَى بِي فِي شَوَّالٍ ۲ فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ أَحْظَى عِنْدَهُ مِنِّي؟». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه ﷞ فرمايي رسول الله ﷺ زما سره د شوال په مياشت کې نکاح وکړه، او بيا (دري کاله وروسته) د شوال په مياشت کې زما رخصتي سره يې خپل کور ته راوستم، ۲ اوس (تاسو وښايئ چې) د رسول الله ﷺ په بيبيانو کې کومه بي بي به زما نه زياته خوش نصيبه وي، (مسلم)

حل اللغات: ① وَبَنَى بِي: رخصت کولو سره ئې راوستلم ② أَحْظَى: زياته خوش نصيبه. زياته خوښه

تسهيلات: قوله: فِي شَوَّالٍ:

د شوال په مياشت کې د واده کولو باره کښې د نحوست عقيده ساتلو ترديد: - دَ جاهليت خلقو به دَ شوال په مياشت کښې واده سپيره ګڼرلو لکه څنګه چه نن صبا بعضې جاهل خلق دَ دوو اخترونو په مينځ کښې يا شعبان يا محرم کښې واده کول بد ګڼړي حضرت عائشه ﷞ هم دَدې ترديد کړي دي که چرې دا سپيره وې نوزما واده خو په شوال کښې شوې دى رخصتى هم په شوال کښې شوې ده زه خومره خوش نصيبه يم

[۳۱٤۳] د مهر د اداء کولو تاکيد

۳۳۲۳-[۴] (۲) ۱ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «أَحَقُّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ ۳ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت عقبه ابن عامر ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د کومو

---

۱) اخرجه مسلم فى كتاب النكاح/ باب استحباب التزوج والتزويج فى شوال، واستحباب الدخول فيه (رقم-۷۳ - ۱٤۲۳) والترمذى فى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى الأوقات التى يستحب فيها النكاح (رقم-۱۰۹۳) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ متى يستحب البناء بالنساء (رقم-۱۹۹۰) واحمد فى المسند: ۵٤/۶

۲) اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب الشروط فى النكاح (رقم-۵۱۵۱) ومسلم فى كتاب النكاح/ باب الوفاء بالشروط فى النكاح (رقم-۶۳ - ۱٤۱۸) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى الرجل يشترط لها دارها (رقم-۲۱۳۹) والترمذى فى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى الشرط عند عقدة النكاح (رقم-۱۱۲۷) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:الشروط فى النكاح (رقم-۳۲۸۱) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ الشرط فى النكاح (رقم-۱۹۵٤) واحمد فى المسند: ۱٤٤/٤

شرطونو پوره کول چې ستاسو د پاره ضروري دی[۲] په هغوی کې د ټولو نه مهم شرط هغه دی چې د هغه په ذريعه تاسو شرمګاوی ورباندی حلال کړي دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَحَقُّ الشُّرُوطِ: د ټولو نه د اهم شرط نه مراد د ښځې مهر دي

تسهيلات: **قوله** - أَحَقُّ الشُّرُوطِ:

د شرط په مراد کښې دوه اقوال:-

① د شرط نه مراد ياخومهر دې لکه څنګه چه اوليکلې شو

② اويا د ښځې اوخاوند په مينځ کښې حقوق زوجيت مراد دي کوم چه د خاوندپه ذمه وی لکه چه د نان نفقه اومکان وغيره ضروريات دی

په دې څيزونو د شرط د اطلاق وجه:- چونکه د عقد نکاح په وخت خاوند صراحةً يا دلالةً اقرار او عهد کوی چه زه به دغه ټول حقوق پوره کوم هم دغه عزم اوعهد د شرط په نوم سره ياد کړې شوي دي دې نه علاوه د دورازکار شروطو د اسلام سره هيڅ واسطه نشته کوم چه د روافض وغيره په نيزرائج دی

د نکاح درې شرطونه:- په نکاح کښې درې قسمه شرطونه کيدې شی

① هغه شرطونه چه د عقدنکاح د تقاضو موافق وی اود لوازم نکاح نه وی لکه روټئی کپړا مکان وغيره د دې شرطونو پوره کول ضروری دی.

② هغه شرطونه چه د عقدنکاح د تقاضومنافی وی. دا قسم شرط پوره کول ضروری نه دی اونه د دې څه اعتبار شته.

③ هغه جائز شرائط چه نه د عقدنکاح د تقاضو منافی وی اونه د عقدنکاح د لوازماتو نه وی لکه په يوخاص کورکښې د اسولوشرط، په يوخاص علاقه کښې د اوسيدو شرط داسې شرطونه پوره کول د حسن سلوك په بنيادخو صحيح دی ليکن دا څه شرعی ضابطه اوداسې قاعده نه ده دکوم پابندی چه لازم وی "احق الشروط" مبتداء دې او "مااستحللتم" خبر دې او "ان توفوابه" دې شروط سره بدل دې

[۲۱٤٤] د بل چا مخطوبې ته د نکاح پيغام وراليږلو ممانعت

۳۰۳۳-[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب لا يخطب علی خطبة أخيه حتی ينکح او يدع (رقم-٥١٤٤) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب تحريم الخطبة علی خطبة أخيه. حتی ياذن او يترک ٥٢٠ - (١٤١٣) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی کراهية أن يخطب الرجل علی خطبة أخيه (رقم-٢٠٨٠) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی سؤال النبی صلی الله عليه وسلم ثلاثا فی أمته (رقم-٢١٧٥) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب النهی أن يخطب الرجل علی خطبة أخيه (رقم-٣٢٤١) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ لا يخطب الرجل علی خطبة أخيه (رقم-١٨٦٧) ومالک فی الموطا کتاب النکاح/باب ما جاء فی الخطبة (رقم-١)

خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتَّى يَنْكِحَ أَوْ يَتْرُكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هیڅ سړی دي د خپلي نکاح پیغام د خپل یو مسلمان ورور په پیغام نه لیږلو ، ددي پوري چې هغه ورسره نکاح وکړي یا یي ترک کړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① خِطْبَةِ: داد خاء کسره سره دي ، د نکاح پیغام ته خطبه وائی

تسهیلات:

قوله: لَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ:

د نکاح پیغام لیږلو دپاسه د بل چا د پیغام لیږلو ممانعت: - اسلام بغض حسد اوتنازعات اودي اسباب ختمول غواړي. نوچه کله یومسلمان په یوعقد کښي لګیاوی نوترکومي پوري چه د هغه معامله ختمه نه وی بل مسلمان په دي کښي داخلیدي نه شی دي دپاره چه بغض حسد اوعداوت جوړنه شی. هم په دي سلسله کښي دا حدیث دي چه د خبرو اترو په وخت اود معامله د فیصلي په وخت مداخلت مه کوئی ترهغه وخته پوري چه د هغي نکاح اوشی یا مخطوبه پریخودي شی.

اشکال: - دلته یو فنی اعتراض دي اوهغه دادي چه "حتی ینکح" جمله "لایخطب" جمله باندي متفرع ده لیکن د دغه نهی دپاره داجمله غایه نه شی جوړیدي ځکه چه په دي صورت کښي به ترجمه داسي شی هیڅ یوسړي دي د خپل مسلمان رور د نکاح په پیغام باندي دي د نکاح پیغام نه لیګی ترهغي پوري چه دغه رور نکاح اوکړی یائی ترک کړی، نوچه کله دغه رور نکاح اوکړه بیا هغه د دغه سړی منکوحه ښځي ته د نکاح پیغام څنګه ورکولي شی؟

د اشکال دوه جوابونه: - ① د حتی کلمه په معنی د "کی" ده او "او" کلمه د "الی ان" په معنی کښي ده او د "ینکح" ضمیر د دغه نوی سړی طرف ته راجع دي اود "یترك" ضمیر د هغه د مسلمان رور طرف ته راګرځی. ترجمه به داسي شی هیڅ یوسړي دي د خپل مسلمان رور د نکاح په پیغام باندي د نکاح پیغام نه لیګی دي دپاره چه هغه ښځي سره هغه پخپله نکاح اوکړی تردي چه د هغه مسلمان رور هغه ښځه ترك کړی. د دي توجیه مطابق په حدیث کښي نهی دپاره غایه صرف د یترك جمله ده ینکح به نه جوړیږی.

② علامه طیبی ﷺ دي اعتراض کولوسره بیا دوه جوابونه ورکړی دی. اول جواب دادي چه داکلام د تعلیق بالمحال په توګه باندي دي. یعنی فرض کړه که داسړي د نکاح پیغام ورکولي شی او ممکن وه نو ورديې کړی لیکن د نکاح نه پس بیا پیغام ورکول جائز نه دی لهذا پیغام دي نه ورکوی.

د ممانعت وخت: - جمهورعالمان فرمائی چه که ښځي یا د هغي ولی په واضح توګه باندي

دا پيغام قبول كړو او دَدوارو طرفونه رضامندي اوشوه صرف عقد نكاح باقي دې نودغه وخت كښې دَ بل چا پيغام ليګل ناجائز دي اوكه په واضحه توګه باندې رد كړو نو اتفاقاً پيغام ورليګل جائز دي [الكاشف ۲/۲۸۰.]

[۲۱٤۵] ښوئه په خپل مينځ كښې د محبت تعليم

٥٣٣- [۲] (۱) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «لَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا ۳ لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا وَلِتَنْكِحَ ۴ فَإِنَّ لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ ښځه دې (يو سړي ته) د خپلې ديني يوې خور په باره كې دا نه وايې، چې هغې ته طلاق وركړه، ۳ او هغې ښځې ته د طلاق وركولو مقصد دا وي چې هغه د هغه پيالې خالي كړي (يعني هغې ته طلاق وركولو سره د هغې ټول حقوق په خپله را ټول كړي) او د هغې د خاوند سره خپل نكاح وكړي، ۴ ځكه چې هغې د پاره هغه دي كوم چې د هغې په مقدر كې ليكل شوي دي. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① لِتَسْتَفْرِغَ: استفرغ دَ فراغت نه دې دَخالي كولوپه معنى كښې دې. ① صَحْفَتَهَا: "صحفة" نه مراد لويه پياله اوكاسه ده په كوم كښې چه پنځه كسان خوراك كولې شي.

تسهيلات:

قوله: لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا:

د حديث په مفهوم كښې دوه اقوال:- ① دَ يوسړي په نكاح كښې دوه ښځې وي مګر يوه بنه وائي چه دا دويمه فارغه كړه، دې دَپاره چه دَدې كاسه زما دَپاره خالي شي "والتنكح" دَدې دويم مفهوم مطابق به دَدې كلمې ترجمه داسې شي چه هغه مطلقه سابقه ښځه چرته بل خوا لاړه شي بل سړي سره نكاح اوكړي. نبي كريم دَدې نه مسلمانانې ښځې منع كړي دي ځكه چه هرې يوې ښځې سره خپل قسمت راځي نودَدې بداخلاقئ او بدخواهئ څه فائده ده ② يوسړې دې دَهغه يوه ښځه ده په هغې باندې دې دويمه ښځه كول غواړي ليكن دا نوې راتلونكې ښځه وائي چه زه به هله نكاح كوم چه ته اولې ښځې له طلاق وركړې كور نه ئې لرې كړي چه انګړ او خائي زما دَپاره خالي شي. "والتنكح" يعني دَ مخكينې ښځې خاوندسره دا نوې راتلونكې ښځه پخپله نكاح اوكړي.

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب الشروط التي لا تحل في النكاح (رقم-۵۱۵۲) ومسلم في كتاب النكاح/ باب تحريم الجمع بين المرأة وعمتها أو خالتها في النكاح (رقم-۳۸ - (۱٤۰۸) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق/ الرجل يراجع. ولا يشهد (رقم-۲۱۸٦) والترمذي في كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا تسأل المرأة طلاق أختها (رقم-۱۱۹۰) والنسائي في كتاب الجهاد/باب النهي أن يخطب الرجل على خطبة أخيه (رقم-۳۲۳۹) واحمد في المسند: ۲/۲۱۱

[۲۱٤٦] دَ نكاح شغار ممانعت

[۷] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- : نَهَى عَنِ الشِّغَارِ [۲] وَالشِّغَارُ [۳] أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ ابْنَتَهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ».

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې حضور ﷺ د شغار نه منع کړېده. [۲] او شغار. دا دى چې يو سړى (د يو دويم سړي سره) د خپلې لور نکاح په دې شرط وکړي [۳]. چې هغه دويم سړي به د خپلې لور نکاح د هغه سره کوي، او په دواړو کې مهر هيڅ نه وي. (بخاري مسلم) [۴] او د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په اسلام کې شغار جائز نه دى.

حل للغات: ① اَلشِّغَارُ: اوچتول، مهر ختمول، خپله لور يا خور د بل د لور يا خور په بدل کښې ورکول چه مهر پکښې نه وى. ② صَدَاقٌ: مهر،

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنِ الشِّغَارِ:

د لفظ شغار ماخذ او د نكاح شغار وجه تسميه: - شغار دَ شغر نه ماخوذ دي او شغر دَ اوچتولو په معنى کښې راځي. چنانچه کله چه سپي خپه اوچتولو سره متيازې کوى نو وئيلى شى "شغرالكلب". دلته دَ شغار په دې معامله کښې مهر دَ مينځ نه اوچتولې شى په دې وجه دې ته هم شغر اووئيلې شو يا دا چه هريو دَ بل په لور يا خور باندې په خپله خپه اوچتولو سره عقد كوى په دې وجه دا شغار شو او په دې کښې دَ هرقسم دَ عار اوشرم طرف ته اشاره ده دَ شغار صورت خو په دې حديث کښې ترجمه سره بيان شوې دې لږ شان په نورو وضاحت سره داسې اوګنړئى چه شغار دادې چه يوسړې بل سړى ته اووائى ماته خپله لور په نكاح كښې راكړه هغه ورته اووائى چه ته خپله لور زما دَ لور په عوض كښې ماته په نكاح كښې راكړه دغه شان دَ دواړو په راضى كيدو باندې عقد كيږى او په مينځ كښې مهر نه وى بلكه دَ جينكو دا بدلول مهر مثلې شى صرف هم دغه عقد لكه چه دَ يو بل دَپاره مهر دې.

دشغار د نكاح په حكم كښې مذاهب: -

دَ شغار د نكاح په جواز او عدم جواز كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې ① جمهور فرمائى دا عقد باطل دې

---

۱) اخرجه البخارى في كتاب النكاح/باب الشغار (رقم-۵۱۱۲) ومسلم فى كتاب النكاح/ باب تحريم نكاح الشغار وبطلانه (رقم-۵۷ - (۱٤۱۵) واخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى الولى (رقم-۲۰۸۴) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب: تفسير الشغار (رقم-۳۳۳۷) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ النهى عن الشغار (رقم-۱۸۸۳) ومالک فى الموطا كتاب النكاح/باب جامع ما لا يجوز من النكاح (رقم-۲٤) واحمد فى المسند: ۱۹/۲

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی عقد صحیح دې نکاح خو شوې ده البته مهرمثل به ورکولې کیږی احناف دَ دې حدیث ترجمه داسې کوی "لاشغارفی الاسلام" یعنی په اسلام کښې په یو عقد کښې داسې شرط صحیح نه دې نوشرط باطل دې نفس عقد اوشو مهرمثل ورکول به لازم وی

د عقد د صحت او د شرط د بطلان صورتونه:- احناف فرمائی چه په ډیرو مسائلو کښې دَ دې مثالونه موجود دی چه عقد صحیح وی اوشرط باطل وی. مثلاً

① نکاح اوکړې شوه او په مهرکښې شراب یا خنزیر مقررکړې شی نودَ ټولو په نیز عقد صحیح دې لیکن مهر مثل به ورکولې کیږی.

② په خندا قهقه سره د مونځ نه وتل جائز نه دی خو که یوکس د مونځ د وتلو په نیت د سلام په ځائې په مانځه کښې په کړس کړس (قهقه) سره اوخاندل نوناجائزه عمل ئې اوکړلو خو مونځ ئې پوره شو نو په نکاح شغار کښې هم چې په احادیثوکښې چه دکوم شغارنه نهی راغلې ده هغه په خپل ځائې صحیح ده مګر دَدې په ضمن کښې عقد منعقد کیږی.

خلاصه دبحث:- خلاصه دا چه دشغار په معامله کښې داطریقه اوطرز باطل دې نفس نکاح صحیح ده نومهرمثل به ورکوی. زیلعی رحمه الله وئیلی دی دا عقد اومعامله مکروه ده لیکن په کراهت سره په یوڅیز کښې فساد خونه راځي او دَمهرمثل ورکولو نه پس بیا شغار نه پاتې کیږی. دا بحث اوتحقیق په خپل ځائې لیکن حکم دادې چه مسلمانانو له دَ دې قسم نکاح کولونه په سختئی سره ځان ساتل پکاردی اونهی هم په دغه کراهت باندې محمول ده.

[۳۱٤۷] د نکاح متعه ممانعت

٣٠٣٤—[٨] (١) ① «وَعَنْ عَلِيٍّ ② أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ ③ وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت علي كرم وجهه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د ښځو سره د متعه كولو نه منع وفرمايله. ③ او د كورني خرو د غوښو خوړلو نه يې هم منع وفرمايله (د كورني خرونو نه هغه خرونه مراد دي كوم چې په كور كې ساتل كيږي او د بار برداری وغيره په كار كې راځي، ځنګلي خر چې هغه ته ګور خر وايي حلال دی، د هغه غوښه خوړل كيدی شی. (بخاري مسلم)

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة خیبر (رقم-٤٢١٦) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب نکاح المتعة. وبیان انه ابیح. ثم نسخ. ثم ابیح. ثم نسخ. واستقر تحریمه إلی یوم القیامة (رقم-٢٩ - (١٤٠٧) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی تحریم نکاح المتعة (رقم-١١٢١) والنسائی فی کتاب الجهاد /باب:تحریم المتعة (رقم-٣٣٦٦) ومالک فی الموطا کتاب النکاح/باب نکاح المتعة(رقم-٤١)

حل اللغات ①مُتْعَة: د یوې مقرر مودې دپاره، د مقرر رقم په عوض نکاح کولو ته متعه وائی مثلاً یوسړي یوې ښځې ته داسې اووائی زه د دوو کالودپاره یا د دوو میاشتودپاره په عوض د دومره رقم تاسره نکاح کوم ②الْحُمُرُ الْإِنْسِيَّةُ کور کښې ساتلې شوی خرونه، کورنی خرونه۔

د متعې د حرمت تاریخی پس منظر:- متعه یوسازشی نکاح ده ، نه په دې کښې گواه شته نه په دې کښې د ولی اجازت شته او نه دکفو اوخاندان سوال دې نه ایجاب دې نه قبول نه دې متعه د جاهلیت د نکاحونونه یوه نکاح وه د اسلام په شروع کښې دا هم دغه شان روانه وه څه نوې حکم نه وو راغلې د جنگ خیبر په موقع نبی کریم ددې نه منع اوکړه بیا د مکې د فتح نه پس د جنگ اوطاس په موقع باندې د دریو ورځو د اجازت نه پس د قیامته پورې متعه د مسلمانانو د پاره همیشه همیشه دپاره حرام اوگرځولې شوه لکه چه د نکاح متعه دوه ځل اباحت راغلو او دوه ځله حرمت، او بیا د همیشه دپاره حرامه کړې شوه د ابوداؤد د یوروایت نه معلومیږی چه د متعه حرمت د حجة الوداع په موقع باندې راغلې وو ممکن ده چه دا اعلان د حرمت نه پس د نور زیات تشهیر تفهیم اوتعمیم دپاره کړې شوې وی.

د نکاح متعه مفاسد:- متعه د نکاح د اغراضو اومقاصدو نه بالکل منافی عمل دې او د بې شمیره مفاسدو منبع ده. مثلاً یوې ښځې په یوه میاشت کښې دریو خاوندانوسره د لسو لسو ورځو دپاره متعه اوکړه بیا کال پس بچې پیدا شو نواوس د دریو خاوندانو په اشتراك عمل سره کوم بچې پیدا شوې دې دا بچې به د چا وی؟ د چا وارث به جوړیږی؟ څوك به د ده مشر او وارث وی؟ د متعه په دې بد عمل سره تلبیس نسل او ابطال میراث لازم راځی لهذا د اجماع امت په فیصلې سره متعه حرام ده. د فقهاء اربعه په اتفاق سره متعه حرام ده د شرافت په اصول سره متعه حرام ده. صاحب هدایه په هدایه کښې د امام مالك رحمه الله طرف ته د متعه د جواز نسبت کړې دې لیکن په دې نسبت کښې غلطی شوې ده ځکه چه په مؤطا مالك کښې دا ناجائز لیکلې شوې ده [نساء الایه ۲۴.]

د متعې په حکم کښې مذاهب:-

① د روافضو په نیز د متعې نکاح جائز ده ② د جمهورو عالمانو په نیز دا حرامه ده.

د اول فریق اول دلیل:- ① د قرآن پاك آیت دا آیت د دوی مستدل دې ﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾ [مؤمنون ۷.] کښې د استمتاع ذکر دې کوم چه د متعه نه ماخوذ دې او "اجورهن" کښې د اجرت ذکر دې مهر نه دې لهذا متعه مستقل حکم دې.

د اول فریق د اول دلیل جواب:- د "فما استمتعتم" د آیت نه مخکښې اود آیت نه پس د نکاح ذکر دې نو ﴿أُجُورَهُنَّ﴾ نه مراد مهر دې او ﴿اسْتَمْتَعْتُمْ﴾ نه نکاح مراد ده. د اجور اطلاق په

مهرباندې کیږی لکه چه قرآن پاك کښې دی ﴿فَانْكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ [سورت نساء ۲۵.] دلته دَ اجور نه مزدوری مراد نه ده بلکه حق دَ بضعه معاوضه مراد دې کوم چه مهردې

داول فريق دويم دليل :-

② دوی دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما طرف ته دَ متعه دَجواز قول منسوب کوی

د اول فريق د دويم دليل جواب :-

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما سره دَدې چه دَ جواز قائل وو لیکن چه کله حضرت علی رضی الله عنه هغوی په سختنی سره منع کړو نوهغوی رجوع اوکړه او ونی فرمائیل "فكل فرج سواهما فهو حرام"

دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما ته دَهغوی شاگرد سعیدبن جبیر رحمه الله یوځل اوفرمائیل چه حضرت دَ متعه متعلق ستاسو فتویٰ خو په دنیا کښې خوره شوې ده او په قافلو اومجالسو کښې دَهغې تذکره کیږی. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل چه هغه کومه فتویٰ ده اوڅه تذکرې دی؟ نوشاگرد ورته اووئیل چه خلق ستاسو طرف ته داسې فتویٰ منسوب کوی دکوم ذکر چه په اشعارو کښې یو شاعرې ښځې داسې کړې دې.

قدقلت وللشيخ لما طال مجلسه يا صاح هل لك في فتوى ابن عباس

یعنی چه کله مشرصاحب ترناوخته پورې مونږ کره وو نوما هغه ته اووئیل چه اې زما ملگریه ولې ستا دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَمتعه په فتویٰ کښې څه رغبت نشته.

هل لك في رخصة الاطراف آنسة يكون مثواك حتى مصدر الناس

آیا تاته په نازك اندام محبت کونکی جینئی کښې رغبت نشته چه دَخلقو دَ واپس کیدو پورې ته هم هغوی سره حصار وې.

فقال ابن عباس سبحان الله ما بهذا افتيت وما هي الا كالميتة والدم والخمر ولحم الخنزير

بهرحال متعه په نکاح کښې داخلول داسې مشکل دی

داول فريق دريم دليل :-

③ په مشکوة ص ۲۷۳ باندې دَ ابن مسعود رضی الله عنه دَ روایت نه هم دوی استدلال کوی.

داول فريق د دريم دليل جواب :- که ابن مسعود رضی الله عنه چرته یووخت کښې دَ متعه په شروع کښې قائل وو نو وو به روستو هغوی رجوع کړې وه

د دويم فريق دلائل :- ① دَ قرآن کریم آیت ﴿فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ﴾ [سورت مؤمنون ۷. دَمتعه په حرمت باندې داآیت نص قطعی دې.

② دَ مسلم شریف یو روایت دَمتعه په حرمت باندې دغه شان واضح دلیل دې. ((وان الله قد حرم ذلك الى يوم القيامة))

③ مشکوة ص ۲۷۲ باندې دَحضرت علی رضی الله عنه روایت په حرمت باندې دال دې.

مشکوة ص ۲۷۲ باندې د حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه روايت دې کوم چه د متعه په حرمت باندې دال دې

④ هم دغه شان مشکوة ص ۲۷۳ باندې د ابن عباس رضی الله عنهما روايت د متعه په حرمت باندې دال دې. ⑤ اجماع د امت هم د متعه په حرمت باندې قائم ده

روافض او حضرت علي رضي الله عنه سره د محبت دعوی: – په شيعه روافض باندې تعجب دې چه حضرت علي رضی الله عنه چه د کوم متعه نه په سختئى سره منع کړې ده د شيعه ګانو محبوب مشغله هم دغه متعه ده.

[۳۱٤۸] د متعه د حرمت تاريخ

۳۰۳۸–[۹] (۱) ⑴ «وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: ⑵ رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَامَ أَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثًا ⑶ ثُمَّ نَهَى عَنْهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⑴ او حضرت سلمه ابن اکوع رضی الله عنه وايي ⑵ چې حضور صلی الله علیه وسلم د جنګ اوطاس په کال د دريو ورځو د پاره د متعی اجازت ورکړې وو، ⑶ بيا يې د هغه نه د هميشه د پاره منع وفرمايله. (مسلم)

حل اللغات: ① عَامَ أَوْطَاسٍ: او طاس د يو جنګ نوم دې يعنی د اوطاس جنګ په کال.

تسهيلات:

قوله: عَامَ أَوْطَاسٍ:

د حرمت متعې د تاريخ باره کښې مختلف اقوال: –

① کښې د متعه حرمت کله راغلې په دې باره کښې مختلف احاديث دی زياته مشهوره خو هم دغه خبره ده چه د جنګ خيبر په موقع باندې د متعه حرمت راغلې وو او د کورنو ساتلې شوې خرو د غوښې د خوړلو ممانعت کړې شوې وو.

② بعضې رواياتو کښې راغلی دی چه د فتح مکه په موقع باندې د متعه د تحريم حکم راغلې

③ بعضې رواياتو کښې راغلی دی چه د جنګ حنين او اوطاس په موقع دا حرمت راغلې وو. په دې روايتونو کښې د تطبيق اوترتيب يو خوصورتونه دی.

د رواياتو د تطبيق صورتونه: – ① د متعه حرمت خو هم د جنګ خيبر په موقع شوې وو ولېکن بيا د فتح مکه په موقع باندې رخصت اوشو، دې نه پس د اوطاس په موقع د هميشه د پاره حرمت اوشو نو دوه خل رخصت اودوه خل حرمت راغلو.

۱) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب نکاح المتعة، وبيان أنه أبيح، ثم نسخ، ثم أبيح، ثم نسخ، واستقر تحريمه إلى يوم القيامة (رقم-۱۸۰ - (۱٤۰۵) واحمد فی المسند: ٤/٥٥

۳ دَ جنګ خیبر په موقع باندې کوم حرمت شوې ووهغه داسې لکه څنګه چه دَ مردار او مې شوی حرمت دې چه په حالت اختیارکښې حرام دې او حالت اضطرارکښې جائزدې دَ کومو صحابه کرامو طرف ته چه دَ جواز قول منسوب کولې شی لکه حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نوهغوی هم دغه شان دَ اضطرار په حالت کښې په شروع کښې قائل وو بیائی دَ دې نه هم رجوع اوکړه.

بهرحال کوموخلقوته چه په کوم وخت معلومه شوه چه متعه حرام ده هغوی هم دَهغه وخت طرف ته نسبت کړې دې او دا هیڅ تعارض نه دې فتح مکه او جنګ حنین یوځائی دوه واقعې دی که چا دَ فتح مکې طرف ته نسبت کړې چه په دغه ورځ متعه حرام شوې وه نو هغه هم صحیح دې اوکومو چه دَ اوطاس دَموقع طرف ته نسبت کړې نوهغه هم صحیح دې خکه چه هم دَ فتح مکه په کال کښې مکه هم فتح شوې ده جنګ حنین،اوطاس او طائف هم دې

۴ امام حازمی رحمه الله لیکلی دی چه دَ حجة الوداع په موقع باندې هم حضوراکرم ﷺ متعه دَ همیشه دَپاره حرام ګرځولې ده. په ابوداؤد شریف کښې هم یوحدیث دې په کوم کښې چه دَ حجة الوداع په موقع باندې دَ متعه دَ حرمت ذکر دې. دَتعمیم تفهیم اوتشهیردَپاره هغه وخت هم اعلان شوې وو. نوچاچه په کوم وخت دَ حرمت واوریدل هم دَهغې طرف ته نې منسوب کړودا څه تعارض نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

دَنکاح دخطبې مسنونیت

۳۱۴۹-[۱۰] (۱) ۱ «عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: ۲ عَلَّمَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةِ وَالتَّشَهُّدَ فِي الْحَاجَةِ، ۳ قَالَ: "التَّشَهُّدُ فِي الصَّلَاةِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، ۴ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، ۵ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، ۶ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

ترجمه: ۱ حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وایی ۲ چې رسول الله ﷺ مونږ ته په مونځ کې ویونکی تشهد هم ښولی ده او د څه حالت او ضرورت په وخت چې کوم تشهد وئیل پکار دي، د هغه تعلیم یې هم راکړي دی. ۳ نو د مونځ تشهد دادی د ژبې عبادتونه، بدني عبادتونه او مالي عبادتونه ټول د الله ﷻ د پاره دي. ۴ اې نبي (ﷺ) په تا دې سلامتي وي او د الله ﷻ رحمت او برکت دې وي. ۵ او مونږ او د الله ﷻ په نیکو بنده ګانو دې هم

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی خطبة النکاح (رقم-۲۱۱۸) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی خطبة النکاح (رقم-۱۱۰۵) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: ما یستحب من الکلام عند النکاح (رقم-۳۲۷۷) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ خطبة النکاح (رقم-۱۸۹۲) واحمد فی المسند: ۳۹۲/۱

سلامتي وي، [٦] زه شاهدي ورکوم چې د الله ﷻ نه سوا بل معبود نشته او زه د دې خبرې هم شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او د هغه رسول دی

[١] وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ [٢] نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ [٣] وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا [٤] مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ [٥] وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ [٦] وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

ترجمه: [١] او د حاجت تشهد دا دې ټول تعریفونه الله ﷻ لره دي [٢] مونږ د هغه نه مدد غواړو او د هغه نه د بخشش طلبګار یو، [٣] او مونږ د خپل نفس د هرې بدۍ نه د الله ﷻ پنا غواړو، [٤] چا ته چې الله ﷻ د هدایت توفیق ورکړي، هیڅوک هغه ګمراه کولی نشي یعني نه خو شیطان یې دوکه کولی شي نه نفس یې ګمراه کولی شي، او نه بل څوک یې په ګمراهي کې مبتلا کولی شي) [٥] او الله ﷻ چې څوک ګمراه کړي هغه ته هدایت کونکی هیڅوک نشته، [٦] زه شاهدي ادا کوم چې د الله ﷻ سوا بل معبود نشته او شاهدي ادا کوم چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی.

[١] وَيَقْرَأُ ثَلَاثَ آيَاتٍ + يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ _ [آل عمران:١٠٢]، (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا) ، + يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا - يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا _ [الأحزاب:٧٠-٧١] ».

ترجمه: [١] او درې آیاتونه دې اولولي ای ایمان والاوو د الله ﷻ نه ویریږئ، څنګه چې د ویریدو حق دی، او چې مرئ نو مسلمانان مړه شئ. ای ایمان والاوو د خپل رب نه ویریږئ، هغه ذات چې تاسو یې پیدا کړي یئ د یو نفس نه او پیدا کړې ده د هغه نه ښځه د هغه او خواره کړي دي د دوي د دواړو نه خلق ډیر او ښځې ډیرې ، او ویریږئ د الله ﷻ نه هغه ذات چې د هغه په نوم تاسو د یو بل نه غوښتنه کوئ او د صلهٔ رحمۍ د پریکولو نه ځانونه وساتئ بیشکه الله تاسو وینې ای ایمان والاوو د الله ﷻ نه ویره کوئ او سمه خبره کوئ، هغه به ستاسو ټول اعمال درست کړي، او ستاسو ګناه به وبخښي. او کوم سړی چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ فرمانبرداري کوي، نو بیشکه لوی مراد به و مومي

[١] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ. [٢] وَفِي جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ فَسَّرَ الْآيَاتِ الثَّلَاثَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَزَادَ ابْنُ مَاجَهْ بَعْدَ قَوْلِهِ إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ، وَبَعْدَ قَوْلِهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا.

ترجمه: [١] (احمد ترمذي ابوداود نسائي دارمي) [٢] او په جامع ترمذي کې دا الفاظ هم دي چې دا درې سره آیاتونه سفیان ثوري رحمه الله بیان کړي دی ابن ماجه رحمه الله د ان الحمدلله نه وروسته نحمده او من شرور انفسنا نه روسته، ومن سیئات اعمالنا الفاظو اضافه کړیده. او دارمي رحمه الله په خپل روایت کې د عظیماً نه وروسته دا اضافه کړیده، چې (د دی تشهد

او آياتونو ويلو نه وروسته، خپل حاجت (يعني د عقد الفاظ) دي بيان كړي او په شرح السنه كې د ابن مسعود رضي الله عنه دا روايت نقل كړې دی، په دې كې د خطبة حاجت وضاحت نكاح وغيره سره شوی دی (يعني په شرح السنه كې د لفظ حاجت په توضيح كې من النكاح وغيره د الفاظو اضافه كړيده)

تسهيلات: قوله التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةِ وَالتَّشَهُّدَ فِي الْحَاجَةِ:

دَ نكاح خطبه مسنون ده او دَ شوافعو په نيزپه نورو عقود كښې هم خطبه ونيل مسنون دی

قوله وَالتَّشَهُّدَ فِي الْحَاجَةِ

په خطبه كښې د قرآني آيتونو لوستل:-د تشهد نه مراد هم دغه نكاح او په دې كښې ايجاب اوقبول دې دَ قرآن كريم درې آياتونه دلته دَ نكاح په خطبه كښې راغلی دی ليكن دا يو دساتنی چه دَ سورت نساء آيت﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾نه شروع دې مصحب عثمانی كښې داسې نه دې په هغې كښې﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي﴾ دې ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ نه دې نو دا كيدې شی چه دَ كاتب غلطی وی يا دا دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ مصحف يو قرأت دې

د نكاح او خطبې په مينځ كښې ترتيب:-بهرحال كوم خلق چه نكاح كوی هغوی له پكار دی چه خطبه دې دَ تشهد نه شروع كړی بيا دې درې آياتونه اووائې بيا دې نكاح سره متعلق يوځو احاديث اووائی اوبيا دې ايجاب اوقبول اوكړی اول دې دَ جينئی والونه قول او اقرار واخلی اوبيا دَهلك نه قول اواقرار او قبول په واضحه الفاظو كښې واخلی داصورت واضح او بهتردې فقهاؤ ليكلی دی چه يوه صيغه دې دَماضی وی اودويمه دَمستقبل يعنی حال وی نو ددې هم خيال ساتل پكاردی بعضې حضرات نن صبا صرف دَ قبول الفاظ اداكولوسره نكاح كوی نو مناسب دغه دی چه ايجاب اوقبول دې دواړه وی

[۲۱۵۰] د خطبې څخه بغير د نكاح بې بركتي

[۱۱](۱) ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «كُلُّ خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په كومه خطبه كې چې تشهد (يعني د الله جل جلاله حمد وثناء) نه وي هغه د كټ شوي لاس په شان ده، ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن غريب دی.

حل اللغات ① الْيَدِ الْجَذْمَاءِ: كټ شوي لاس. يعني يا شل لاس.

---

۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب فی الخطبة (رقم-٤٨٤١) والترمذی فی كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی خطبة النكاح (رقم-١١٠٦) واحمد فی المسند:٣٤٣/٢

تسهيلات: قوله: كُلُّ خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ:

په نكاح كښې د خطبې په حكم كښې مذاهب:-

①د اهل ظواهرو په نزد خطبه وئيل شرط دى ، دې نه بغير نكاح نه صحيح كيږي.

②د جمهور علماء كرامو او ائمه اربعه په نزد خطبه وئيل شرط نه دى بلكه مستحب دى . ددې نه بغير نكاح كښې څه فرق نه راځي .

داول فريق دليل:- همدا حديثِ باب دې چې په دې كښې نبى كريم ﷺ بغير د نكاح نه خطبې ته (كاليد الجذماء) فرمائيلى دى.

د اول فريق د دليل جواب:- حديث الباب نه استحباب مراد دې ځكه چې حديث پاك كښې هيڅ يو لفظ داسې نشته دې چې هغه په وجوب باندې دال وى بلكه په حديث پاك كښې د بې بركتئ لفظ استعمال شوې ې ددې څخه وجوب نه ثابتيږي.

د دويم فريق دليل:- ابوداؤد شريف كښې يو حديث دې چې (إن رجلا من بنى سليم خطب إلى النبى ﷺ أمامة بنت عبد المطلب فانكحه من غير أن يتشهد) ددې نه معلومه شوه چې د خطبې نه بغير نكاح صحيح ده.

قوله: فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ:

د تشهد څخه بغير خطبې د جذامى لاس سره تشبيه:- مطلب دادې چې لكه څنګه د پريكړې شوې لاس څه فائدې نه وى چې لاس به والا ددې نه څه فائده نشى اخستې دغه شان د خطبې نه بغير نكاح هم فائدې نه خالى ده چې په دې كښې خير او بركت نه وى. ملا على قارى ﷫ خپله شرح كښې لفظ د خطبه دخ په زير سره ليكلې دې او ددې معنى ئې تزويج يعنى نكاح كول بيان كړى دى. او حضرت مولانا شاه اسحاق دهلوى ﷫ فرمائيلى دى چې مونږ د خپلو اساتذه كرامو نه دا لفظ د خ په پيښ سره آوريدلې دې او د حضرت شيخ عبد الحق دهلوى ﷫ په كلام كښې هم دا مفهوم دې

[۲۱۵۱] دبسم الله نه وئيلو په وجه بې بركتي

۳۱۵۱-[۱۲] (۱)①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُبْدَأُ فِيهِ بِالْحَمْدِ لِلّٰهِ فَهُوَ أَقْطَعُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:① او حضرت ابوهريره ﷛ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②كوم اهم او عظيم الشان كارچې دالله ﷻ د حمد او ثناء نه بغير شروع كړل شي هغه بې بركته وي، (ابن ماجه.

حل اللغات: ①ذِي بَالٍ:عظيم الشان كار، ②أَقْطَعُ:بې بركته، لنډې بوچې،

---

۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب الهدى فى الكلام (رقم-۴۸۴۰) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ خطبة النكاح (رقم-۱۸۹۴)واحمد فى المسند: ۳۵۹/۲

تسهيلات:

قوله: كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ:

د بال لغوى معنى: - د بال لغوى معنى ده زړه، خيال ، توجه ،

د بال اصطلاحى تعريف: - اصطلاح کښې ددې معنى ده شان ، انجام ، حال ، ښه ځکه چې داسې کار طرفته زړه متوجه کيږي په دې وجه دې ته بال وائي.

د ذى بال قيد لګولو فائده: - په دې وجه حديث کښې د ذى بال قيد لګولو سره ئې ممنوع کارونه اووېستل ، لهذا د ممنوع کارونو په وخت کښې بسم الله يا الحمد لله يا ذکر الله ممنوع دي.

[۳۱۵۲] د نکاح د اعلان کولو استحباب

۳۱۵۲ - [۱۳] (۱) ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ ۳ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايې ۲ چې رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو د نکاح اعلان کوئ نکاح په مسجدونو کې دننه کوئ، ۳ او د نکاح په وخت دريا (تنبل) غږوئ. ترمذي دا روايت نقل کړي دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ① بِالدُّفُوفِ: جمع د دف ده، طبل، دوېرئ،

تسهيلات:

قوله: أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ:

د نکاح آداب: - ① دَ نکاح اعلان کوئی يعنی ښه تشهيرئی کوئی.

② هم ددې تشهيريو صورت دا دې چه نکاح دې په ښکاره مجلس او کولاؤ جمات کښې وی په جمات کښې نکاح په تشهير سره کولو دا دَبرکت سبب هم دې ځکه چه دا دَعبادت ځائی دې او نکاح هم عبادت دې

③ دَ طرفين بزرګان دې حاضر وی

④ دَ تنبل غږولو شور او غوغا دې وی مګر په جمات کښې شور يا تنبل وهل منع دی

⑤ دغه شان دَ جمعې ورځ دَ نکاح دَپاره بهتر ده ځکه چه دې کښې زيات تشهير هم دې او حصول برکت هم دې

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في إعلان النكاح (رقم ۱۰۸۹) وابن ماجه في كتاب النكاح/ إعلان النكاح (رقم-۱۸۹۵)

[۳۱۵۳] د سندرو يا تنبل په ذريعه د واده د تشهير حكم

۳۱۵۳-[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ الْجُمَحِيِّ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ الصَّوْتُ وَالدُّفُّ فِي النِّكَاحِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت محمد ابن حاطب الجمحي رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د حلال او حرام په منځ كې فرق په نكاح كې آواز او تنبل (دريا) غږول دي. (احمد ترمذي نسائي ابن ماجه)

حل اللغات: ① فَصْلُ: فرق، جدائي، ② الصَّوْتُ: دَ آواز نه مراد خو اشعار دي او يا دَ نكاح تذكرې دي

تسهيلات:

قوله فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ الصَّوْتُ:

د نكاح د تشهير حكم: دَ حديث مطلب دا نه دي چه دَدې څيزونو نه بغير نكاح صحيح نه ده بلكه دَ نكاح دَپاره خو ايجاب او قبول اودوه ګواهان ضروري دى په دې حديث كښې صرف دا ترغيب دي چه دَ نكاح تشهير كيدل پكار دى. دَدې مجلس عام او ښكاره كيدل پكار دى دَ تشهير كم نه كم حد دا دي چه ګاونډيانو ته معلومه شي چه دلته واده دې اوس دا علم په آواز سره هم حاصليدې شي او په تنبل وهلو سره هم. دَدې حديث مطلب دا هيڅ كله نه دې چه بازارونو ښارونو اخبارونو او ويډيوګانو وغيره كښې تشهير كول پكار دى او نه دَدې نه دَ باجو سرناګانو او ميوزك خرافات مراد كيدې شي.

[۳۱۵٤] په واده كې د سندرو ويلو اجازت

۳۱۵٤-[۱۵] (۲) [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [۲] كَانَتْ عِنْدِي جَارِيَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ زَوَّجْتُهَا [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: يَا عَائِشَةُ أَلَا تُغَنِّينَ [۴] فَإِنَّ هَذَا الْحَيَّ مِنَ الْأَنْصَارِ يُحِبُّونَ الْغِنَاءَ» رَوَاهُ.....

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چې زما سره يوه انصاري جينۍ وه. ما چې د هغه نكاح (د چا سره) وكړه. [۳] نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې اې عائشې رضي الله عنها آيا ته د سندرو د پاره چاته نه وايې؟ [۴] خكه چې انصار قوم سندرې ډيرې خوښوي. دا روايت ابن حبان رحمه الله په خپل صحيح كې نقل كړي دى

حل اللغات: ① الْغِنَاءَ: لوبې. سندرې

[۱]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في إعلان النكاح (رقم-۱۰۸۸) والنسائي في كتاب الجهاد/باب:إعلان النكاح بالصوت وضرب الدف (رقم-۳۳۶۹)وابن ماجه في كتاب النكاح/ إعلان النكاح (رقم-۱۸۹۶)واحمد في المسند: ٤/۲۵۹

[۲]) اخرجه صحيح ابن حبان في كتاب الحظر والاباحة/ باب فضل في السماع... رقم الحديث ۵۹۷۱

تسهيلات:

قوله: يَا عَائِشَةُ أَلَا تُغَنِّينَ

① په خطاب کښې دوه احتمالات - په دې کښې دا احتمال شته چې خطاب د غائب په صيغې سره وی يعنی کومې ښځې چې په دې وخت کښې موجود نه دی دهغه ښځو نه مراد وينځې يا لاندې درجې ښځې دی ځکه چې آزادې ښځې په دې کار کولو باندې شرميږی

② داهم احتمال دې چې صيغه خطاب کښې امهات المؤمنين هم شاملې وی او د فعل اضافت حکم ورکولو والا يا اجازت ورکونکو طرفته وی.

قوله: فَإِنَّ هَذَا الْحَيَّ مِنَ الْأَنْصَارِ يُحِبُّونَ الْغِنَاءَ

د سندرو وليلو محفل:- حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها فرمائی چې ما سره د انصارو يوه جينۍ وه اودا زما زير کفالت وه. ما ددې واده اوکړو نو رسول کريم ﷺ تپوس اوکړو چې ته ددې د واده په موقع باندې سندرې نه وايې ، ښه مضمون والا سندرې اووايه يعنی ماشومانو ته اووايه چې هغوئ راشی او سندرې اووائی ځکه چې دا دانصارو ماشومه ده. او ددې واده هم په انصارو کښې شوې دې. او د انصارو جماعت غناء خوښوی غناء نه مراد ښه مضمون والا سندرې دی کومې چې ورې ماشومانې وائی

قوله: رَوَاهُ.....

د مشکاة په بعضې نسخو کښې بياض:- په ځينې نسخو کښې دلته بياض (خالی ځائې) دې ليکن ځينو ددې په حاشيه کښې ليکلی دی ابن حبان فی صحيحه.

[۲۱۵۵] د واده په موقع د حقيقی سندرو وليلو اباحت

٣١٥٥-[١٢] (١) ⓵ «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَنْكَحَتْ عَائِشَةُ ذَاتَ قَرَابَةٍ لَهَا مِنَ الْأَنْصَارِ ⓶ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⓷ فَقَالَ " أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ ". قَالُوا نَعَمْ. ⓸ قَالَ " أَرْسَلْتُمْ مَعَهَا مَنْ يُغَنِّي قَالَتْ لَا. ⓹ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " إِنَّ الْأَنْصَارَ قَوْمٌ فِيهِمْ غَزَلٌ ⓺ فَلَوْ بَعَثْتُمْ مَعَهَا مَنْ يَقُولُ أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ» "..رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايې چې ام المؤمنين بي بي عائشې رضی الله عنها خپله يوه رشته داره جينۍ په انصاروکې واده کړه. ⓶ (د نکاح نه وروسته) رسول الله ﷺ چې کور ته تشريف راوړو. ⓷ نو پوښتنه يې وکړه چې آيا تاسو دې جنۍ ته چې د هغې نکاح شويده د هغې د خاوند کور ته د ليږلوپه وخت څه هديه ورکړې ده؟ کور والاوو اوويل چې هو. ⓸ حضور ﷺ وفرمايل چې آيا تاسو د هغې سره سندرو والا هم ليږلی وه؟ بي بي عائشې

١) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب النكاح / الغناء والدف (رقم-١٩٠٠) واحمد في المسند: ٣٩١/٣

ﷺ اوويل چې نا ،[۵] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې انصار يو داسې قوم دی چې په هغوئ کې د سندرو شوق دی،[٦] آرمان (کاش) چې تا د هغه سره داسې څوک ليږلی وی چې دا سندری يې کولی، أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ يعنی مونږ تاسو ته راغلو، مونږ تاسو ته راغلو، الله ﷻ دې مونږ هم او تاسو هم د سلامتې سره لري. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ: آيا تاسو دې واده شوې ناوې سره څه هديه ليږلې ده؟ ② مَنْ يُغَنِّي: هغه څوک چه شعرونه او سندرې وائی ③ غَزَلٌ: د سندرو شوق لرونکی

تسهيلات:

قوله: أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ:

د انصارو د خوشحالئ په موقع سندرې ويل:- دَمدينې په انصاروکښې يوپخوانې روايت وو چه دَ خوشحالئ په موقع باندې به ئې اشعار وغيره ونيل. هم دَ دغه قومی روايت مطابق نبی کريم دَ دغه خواهش اظهار اوفرمائيلوچه که تاسو دَ يوسندرې ويونکې انتظام کړې وې چه دَ انصارو په خوشحالئ کښې زياتوالې شوې وې. بيا نبی کريم په دې موقع باندې دَيو شعر طرف ته اشاره اوفرمائيله چه دَهغې نيمه حصه ئې اوونيله پوره شعرداسې دې

أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ وَلَوْلَا الْحِنْطَةُ السَّمْرَاءُ لَمْ تَسْمَنْ عَذَارَاكُمْ

يعنی مونږ ستاسو خواله راغلو چی راغلو الله تعالی دې مونږه هم اوتاهم ژوندې اوتازه لري، که چرې سره غنم نه وې نوستاسو پيغلې به داسې چاق بدن والااوداسې دَ ښکلی بدن والانه وې.

يادلرنی دې شعرونوسره باجې وغيره نه وې اوهغه جائزنه دی او په کلوکښې دَ شعرونو ونيلو رواج اوس هم شته اودَ پردې اهتمام سره جاری پاتې کيدل مستحب دی. نوره تشريح به ان شاء الله بيان شعرباب کښې راځی څه وضاحت وراندې هم شوې دې.

[۲۱۵٦] د دوو وليانو په انکاح کښې د اولنی د انکاح صحت

۳۱۵٦- [۱۷] (۱)[۱]وَعَنْ سَمُرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲]«أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ فَهِيَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا،[۳]وَمَنْ بَاعَ بَيْعًا مِنْ رَجُلَيْنِ فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[۱]او حضرت سمره ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] د کومې ښځې چې دوه ولې د هغه نکاح وکړې نو هغه ښځه په هغه دوارو کې د يوه د پاره ده، د کوم يوه سره چې مخکې نکاح شويده،[۳] او کوم سړی چې يو څيز د دوو سړو په لاس خرڅ کړيږ، نو هغه څيز

۱) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب النكاح/باب إذا أنكح الوليان (رقم-۲۰۸۸) والنسائی فی كتاب البيوع/باب الرجل يبيع السلعة فيستحقها مستحق (رقم-٤٦٨٢) وابن ماجه فی كتاب التجارات/باب إذا باع المجيزان فهو للأول (رقم-۲۱۹۰) واحمد فی المسند:۸/۵

په هغه دوارو کې د هغه د پاره دی چې مخکې ورباندې خرڅ شوی وي. (ترمذي ابوداود نسائي دارمي)

تسهيلات:

قوله: أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ:

په يو وخت کښې د دوو وليانو په نکاح ور کولو کښې دوه صورتونه: - ① که ديوې ښځې دوه وليان وی او دواړه وليان ددې ښځې نکاح جدا جدا وقتونو کښې دوه سړو سره اوکړی ،داشان چې اول يو ولی يو کس سره ددې نکاح اوکړه او بيا بل ولی د بل کس سره ددې نکاح اوکړه، نو ددې دويم ولی کړې شوې نکاح به باطل وی. اودا به دهغه کس ښځه وی کوم سره چې اول نکاح شوې ده. ليکن دا حکم به په دې صورت کښې وی چې کله دواړه وليان په يوه درجه کښې وی ، ددارو قرابت ورسره يو شان وی.

② که دواړه وليان د يوې درجې نه وی نو بيا به هغه ولی مقدم وی کوم چې اقرب وی يعنی نزدې رشته دار وی. لهذا دې صورت کښې به دا دهغه کس ښځه وی کوم کس سره چې ددې نزدې رشته دار کړې نکاح کړې ده. که دې اول نکاح کړې وی او که روستو او که د يوې ښځې يو شان درجې والا دوه وليان وی او ددې نکاح په جدا جدا وختونو کښې جدا جدا سړو سره اوکړی. مثلا يو ولی ددې نکاح زيد سره اوکړه او هم په دې وخت کښې بل ولی ددې نکاح بکر سره اوکړه نو په دې صورت کښې متفقه طور د علماء کرامو مسلك دادې چې دواړه نکاح گانې باطل دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۱۵۷] داسلام په ابتداء کښې د نکاح متعه جواز

۳۱۵۷—[۱۸] (۱) ① «عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② لَيْسَ مَعَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا: أَلَا نَخْتَصِي ③ فَنَهَانَا عَنْ ذَلِكَ ثُمَّ رَخَّصَ لَنَا أَنْ نَسْتَمْتِعَ ④ فَكَانَ أَحَدُنَا يَنْكِحُ الْمَرْأَةَ بِالثَّوْبِ إِلَى أَجَلٍ ⑤ ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ﴾ [المائدة: ۸۷]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابن مسعود ﷺ وايي چې (د يوې غزا په موقع) مونږ د رسول الله ﷺ سره په جهاد کې شريك وو. ② او هغه وخت زمونږ سره زمونږ ښځې (يعني بيبياني او وينځې) نه وی (هر کله چې د ښځو د نه کيدو په وجه مونږ د بشري خواهش نه پريشانه شو) نو مونږ اوويل چې آيا مونږ ځانونه خصي نه کړو. (چې د بشري خواهش او د شيطان د

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح /باب ما یکره من التبتل والخصاء (رقم-۵۰۷۵) ومسلم فی کتاب النکاح / باب نکاح المتعة. وبيان أنه أبيح. ثم نسخ. ثم ابيح. ثم نسخ واستقر تحريمه إلى يوم القيامة (رقم-۱۱ (۱۴۰۴) واحمد فی المسند: ۴۳۲/۱

وسوسو نه مونږ نجات تر لاسه کړو[۲] ليکن رسول الله ﷺ مونږ د دې نه منع کړلو. البته مونږ ته يې د متعه کولو اجازت راکړې.[۳] نو په مونږ کې به بعضې خلقو د کپړې په معاوضه د يوې مقررې مودې پورې د ښځې سره نکاح (يعني متعه) کوله.[۵] د دې نه وروسته ابن مسعود ﷺ دا پورته آيت ووېلو يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا الخ اې ايمان والاوو کوم پاک څيزونه چې الله ﷻ حلال کړي دي، هغه حرام مه ګڼئ. (بخاري)

حل اللغات: ①نَخْتَصِي: ځان خصي کول چه شهوت ختم شي او د بشري خواهش نه ځان خلاص کړي ②رَخَّصَ لَنَا: اجازت ئې راکړو. ③نَسْتَمْتِعَ: چه مونږ متعه اوکړو. يو خاص مودې پورې په مخصوص معاوضه سره نکاح کولو ته متعه وائي.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ:

د ابن مسعود رضي الله عنه نه د متعې د جواز په روايت کې دوه احتمالات: - دحضرت ابن مسعود ﷺ په دې روايت سره دمتعه جواز معلوميږي ① نو ممکن ده چه ابن مسعود ﷺ د اسلام په شروع کښې په جواز باندې د اضطرار په صورت کښې د هميشه دپاره قائم پاتې شوی وی او د نسخ د واضحه احکاماتو هغه ته علم نه وی شوې

② او ډير قوی امکان دې چه د حضرت ابن عباس ﷺ په شان حضرت ابن مسعود ﷺ هم رجوع کړې وی ځکه چه حضرت عمر ﷺ سرکاری اعلان کړې وو چه په احاديثو کښې دممانعت نه باوجود اوس هم که يوسړې متعه کوی نوزه به په هغه باندې حد جاری کوم

[۲۱۵۸] دمتعې د حکم منسوخيت

۳۱۵۸ - [۱۹] (۱)[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّمَا كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ[۲] كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْبَلْدَةَ لَيْسَ لَهُ بِهَا مَعْرِفَةٌ[۳] فَيَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ بِقَدْرِ مَا يَرَى أَنَّهُ يُقِيمُ فَتَحْفَظُ لَهُ مَتَاعَهُ وَتُصْلِحُ لَهُ شَيْئَهُ[۴] حَتَّى إِذَا نَزَلَتِ الْآيَةُ ﴿إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ﴾ [المؤمنون: ۶] [۵] قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَكُلُّ فَرْجٍ سِوَاهُمَا فَهُوَ حَرَامٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې د متعې جواز يواځې په ابتداء د اسلام کې وو.[۲] او هغه وخت د متعې يو صورت دا وو، چې کله به يو سړی يو ښار ته ورتلی، او هلته به يې د خلقو سره څه پيژندګلوی نه وه (چې د هغوئ سره پاتې کيدو سره د قيام او طعام بندوبست يې کړې وی)[۳] نو هلته به يې د يوې ښځې سره د دومره مودې د پاره نکاح کوله، څومره موده چې به هلته پاتې کيدلی، نو هغې ښځې به د هغه د سامان حفاظت

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في تحريم نكاح المتعة (رقم-۱۱۲۲)

کولی، او طعام (دیگ و روټی وغیره) به یې ورلره پخوی.④ ددې پورې چې دا آیت نازل شو اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَا مَلَکَتْ اَیْمَانُهُمْ.⑤ ابن عباس رضی الله عنهما فرمایې چې پس د دې دواړو (یعنې ښځې او وینځې) د شرمګاه نه علاوه هره شرمګاه حرامه ده. (ترمذي)

تسهیلات:

قوله اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَا مَلَکَتْ اَیْمَانُهُمْ

● آیت مفهوم:- کوم چې خلق خپل شرمګاهونه دخپلو ښځو او وینځو نه علاوه نورو ښځو څخه محفوظ ساتی نو په دوئ باندې هیڅ ملامتیا نشته دې. خو چې کوم خلق په خپلو ښځو او وینځو باندې قناعت نه کوی یا چې کوم خلق د نکاح په ذریعه په شرعی طور سره د خپل جنسی خواهش تسکین نه کوی بلکه غیر ښځو طرفته مائله کیږی، هغوئ په اصل کښې د حلال نه مخ اړونکی او حرامو طرفته تجاوز کوونکی دی او ددوئ دپاره سخته ملامتیا ده.

نوټ:- د حرمت متعه باره کښې تفصیل دحدیث نمبر (۳۱۴۷) په تسهیل اوشرح کښې تیرشوې دې.

[۲۱۵۹] دواده په موقع د سندرو ویلو اجازت

۳۱۶۰-[۲۰] (۱)① وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى قَرَظَةَ بْنِ كَعْبٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ فِي عُرْسٍ، ② وَإِذَا جَوَارٍ يُغَنِّينَ،③ فَقُلْتُ: أَيْ صَاحِبَيْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَهْلَ بَدْرٍ يُفْعَلُ هٰذَا عِنْدَكُمْ؟④ فَقَالَا: اجْلِسْ إِنْ شِئْتَ فَاسْمَعْ مَعَنَا وَإِنْ شِئْتَ فَاذْهَبْ،⑤ فَإِنَّهُ قَدْ رُخِّصَ لَنَا فِي اللَّهْوِ عِنْدَ الْعُرْسِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه:① او عامر بن سعد (تابعي رحمه الله) وایې چې زه په یو واده کې د شرکت د پاره ورسیدم، چرته چې (دوه صحابه) حضرت قرظه ابن کعب رضی الله عنه او حضرت ابو مسعود انصاري رضی الله عنه هم موجود وو،② نو ومې لیدل چې څو وړوکی جینکۍ سندرې وایې،③ ما اوویل چې اې د رسول الله ﷺ صحابه وو او په جنګ بدر کې شریکیدونکو! آیا ستاسو په مخکې هم دا (سندرې) کیږي؟ (د دې اوریدو سره)④ هغه دواړه صحابه وو رضی الله عنهما اوویل چې کینه، که ستا زړه غواړي نو ته یې هم زمونږ سره واوره، او که غواړې نو دې ځای نه ځه،⑤ ځکه چې د واده په موقع مونږ ته د سندرو اوریدو اجازت راکول شوی دې.

حل اللغات: ①عُرْسٍ: خوشحالی. واده.②جَوَارٍ: نابالغه جینکۍ. ماشومانې،③يُغَنِّينَ: سندرې او شعرونه نې وئیل.

---

۱) اخرجه النسائي في السنن كتاب الجهاد /باب: اللهو والغناء عند العرس (رقم-۳۳۸۳)

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّهُ قَدْ رَخَّصَ لَنَا فِي اللَّهْوِ عِنْدَ الْعُرْسِ:

د ورو ماشومانو سندرو وئيلو باره کښې د هوږ صحابوو نظريه:- حضرت عامر بن سعد فرمائی چې زه د قرظه بن کعب او د ابو مسعود انصاری ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوهغوئ دواړه په يو وادهٔ کښې شريك وو. ناګهانه ما اوکتل چې وړې وړې ماشومانې سندرې وائی او دا خلق ناست دی. ماله غصه راغله او ما اووئيل چې د رسول کريم ﷺ صحابه کرامو ، اې اهل بدر،تاسو سندرې آورئ. هغوئ ماته اووئيل چې کينه ته هم زمونږ سره واوره ، اوکه ته تلل غواړې نو لاړ شه ، ځکه چې مونږ ته خو ددې وادئ په موقع باندې اجازت ملاؤ شوې دې. يعنی د شريعت په حدودو کښې مونږ ته ددې اجازت دې

[۴] بَابُ الْمُحَرَّمَاتِ

په سروباندې دَ حراموښځوبيان

خلاصة الباب:-

فيه عشرون حديثاً مشتملة على تحريم أسباب النكاح السبعة.

① تحريم الجمع بين الأختين: ۱، ۱۰، ۱۷.

② تحريم الرضاع , الحكم العام: ۲. حرمة عم رضاعى: ۳. حرمة بنت الأخ الرضاعية: ۴./ حرمة أم رضاعية : ۱۴. مقدار الرضاع: ۵، ۶، إعتبار مدة الرضاع لابعدها : ۷، ۱۲، إثبات الرضاعة بشهادة مرضعة واحدة:۸ ـ ۳ أداء حق الرضاعة: ۱۳.

③ تحريم المرأة إذا كانت في نكاح مسلم: ۹.

④ التحريم بالنسب: , منكوحة الأب: ۱۱، - المحرمات السبعة لأجل النسب: ۱۹.

⑤ تحريم الزيادة على أربع : ۵، ۱۶.

⑥ التحريم بسبب اختلاف الدين ۱۸.

⑦ التحريم بسبب الصهر: ۱۹، ۲۰.

د محرماتو نه د نه کيدو شرط:- نکاح يوه اسلامي رشته ده صرف شهوت پوره کول نه دی. په دې وجه دَ دې دَ صحت اوحرمت ډير ضرورت دې. دَ نکاح دَ صحيح کيدلو دَپاره دَ نورو شرطونو علاوه يوشرط دا هم دې چه ښځې دَ محرماتونه نه وی. په دې باب المحرمات کښې هم دغه بيان دې چه کومه يوه ښځه په کوم سری باندې حرام ده.

د حرمت اقسام:

حرمت دوه قسمه دې يوحرمت مؤبده دې يعنی هغه ښځه کومې سره چه هميشه دَپاره

نکاح نه شی کیدلې دویم حرمت غیرمؤبده دې دا هغه ښځه ده چه دَ عارض دَ وجې نه حرامیږی
دَ حرمت نکاح اسباب:- دَ حرمت نکاح مختلف اسباب دی دَ ټولو بیانول مشکل هم دی او طویل هم صرف دَ نهه اسبابو بیان په مختصرتوګه دلته کولې شی.
① ړومبې سبب نسبی رشته ده کومې ښځې چه دَ نسبی رشتې دَ وجې نه حرام دی هغه دادی مور، لور، خور، تروریانې، وریره او خورزه. لهذا دې ښځوسره نکاح حرام ده دغه شان دَ والدین اصول دَ بره پورې او دَ هغوی فروع لاندې پورې حرام دی.
② دویم سبب دَ سخرګنئی رشته ده لکه خواخې، بهوام مزنیه وغیره.
③ دریم سبب دَ رضاعت او پینورشته داری ده.
④ څلورم سبب ښځې په نکاح کښې راجمع کول سبب دې په کوم سره چه حرمت راځی لکه دَ څلورونه زیاتې ښځې په یووخت نکاح کښې یوځائی کول یا دوه خوئیندې یا تروراو دَ هغې وریره جمع کول یا داسې دوه ښځې په نکاح کښې رایوځائی کول که په هغوی کښې یوه سړې تصور کړی نو هغه ښځه دَ دغه سړی دَپاره حلال نه وی. خلاصه دا چه یا اجنبیاتې دَ څلورونه زیاتی راجمع کول یا دَ ذوات الارحام نه دوه یا دَ دوو نه زیات یوځائی کول دا ټول حرام دی.
⑤ پنځم سبب دَ ښځې مملوکه کیدل دی یعنی دَ اول نه آزاده ښځه موجود ده نو په هغې باندې وینځې سره نکاح کول حرام دی.
⑥ شپږم سبب تعلق حق الغیر دې یعنی دَ بل نکاح کړې ښځې سره نکاح کول دی.
⑦ اووم سبب دَ مذهب اختلاف دې یعنی مشرکه آتش پرست، دهریه، آغاخانیه، قادیانیه یا رافضیه سره نکاح کول حرام دی صرف دَ اهل کتاب ښځې که چرې واقع اهل کتاب وی هغوی سره نکاح جائزده لیکن دَ مسلمانې جینئی اهل کتاب سره نکاح کول حرام دی.
⑧ اتم سبب دَ ښځې مالکه کیدل دی یعنی ښځه مالکه ده هغه خپل مملوک غلام سره نکاح نه شی کولې
⑨ نهم سبب طلاق دې یعنی درې طلاقه ورکولونه پس بغیردَ حلاله دا ښځه په دغه سړی حرامه شوې ده بل په لعان سره چه کومه ښځه دَ خاونددپاره دَ همیشه حرامیږی هغه هم دَ طلاق په زمره کښې راځی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۱۶۰] په خپل مينځ کښې د محرمو ښځو د جمع کولو حرمت

۳۱۶۰-[۱] (۱)① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -② «لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل② ښځه او د هغې عمه (د پلار خور) په خپله نکاح کښې يوځاي نشي ساتلی، اونه يوه ښځه د هغې د خاله (د مور د خور) سره په خپله نکاح کښې ساتلی شي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ:

د دوو ښځو په يووخت په نکاح کښې د ساتلو د حرمت وضاحت او يوه ضابطه:- په دې حديث کښې يوه ضابطه او يواصولی قاعده طرف ته اشاره کړې شوې ده اوداُمت علماؤ دَدغه قاعده تشريح کولوسره واضح کړی دی. هغه قاعده داده چه هرهغه دوه ښځې په کوموکښې چه قرابت دَ محرميت وی که په هغوی کښې يوسړې او بله ښځه فرض کړې شی نودَ دواړو نکاح نه صحيح کيږی داسې دوه ښځې په نکاح کښې يوځائی ساتل حرام دی. دَدې مثال په مذکوره حديث کښې دَ پلارخور (ترور) اووريره ده. که چرې دغه ترور سړې فرض کړې شی نودَ وريرې سره دَ تره نکاح حرام ده اوکه چرې وريره سړې فرض کړې شی نو وراره سره دَ ترور نکاح حرام ده. دَدې قاعده متعلق يوخبره ذهن کښې ياد ساتل پکاردی هغه دا چه داحرمت دَ دواړو طرفونه ضروری دې يعنی دَ جانبين نه چه څوك هم سړې فرض کړې نونکاح حراميږی. که چرې داسې نه وی او دَ يوطرف نه حرمت راځی ليکن دَدې برعکس کښې حرمت نه راځی نودا قاعده دغه صورت ته شامل نه ده بلکه داسې دوه ښځې په يوه نکاح کښې يوځائی ساتلې شی. مثلاً ښځه اودَ هغې دَ مخکينی خاوند لور دَ جمهورو په نيز په يونکاح کښې يوځائی ساتلې شی خوچه هغه جينئی دَ دې ښځې نه نه وی. اوس که چرې دَ مخکينی خاوند دغه لور سړې فرض کړې شی نودا ښځه دَهغې دَ پلار ښځه يعنی زوجة الاب جوړيږی او زوجة الاب سره نکاح حرام ده ليکن که دغه ښځه سړې فرض کړې شی نودَدغه جينئی سره دَ نکاح دَ حرمت هيڅ وجه نه جوړيږی لهذا مذکوره قاعده دَ طرفين په حرمت باندې مبنی ده دَ يوطرف حرمت کافی نه دی.

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب لا تنکح المرأة علی عمتها (رقم-۵۱۰۹) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب تحريم الجمع بين المرأة وعمتها أو خالتها فی النکاح (رقم-۳۳ - (۱۴۰۸))واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب ما يکره أن يجمع بينهن من النساء (رقم-۲۰۶۶) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ لا تنکح المرأة علی عمتها. ولا علی خالتها(رقم-۱۹۲۹) کتاب النکاح/باب ما لا يجمع بينه من النساء (رقم-۲۰)

[۳۱۶۱] د حرمت رضاعت حکم

[۲] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① اوبې بې عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د پينو څکلو په وجه هغه رشتې حرامې کيږي کومې چې دپيدائش په وجه حرامې دي. (بخاري)

حل اللغات: - ① الرَّضَاعَةُ: په پينوه دوو شريکو بچو په مينځ کښې دَنسبت نوم دې.

تسهيلات:

قوله: «يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ:

د رضاعت سره متعلق يو څو اصطلاحي الفاظ: رضاعت په اصل کښې دَ پينو څکلو په معنی کښې دې دَ رضاعت صيغه دَ باب فتح کرم اوسمع تولو نه راخي.

رضيع پينې څکونکې بچې ته وائي اومرضعه پينې ورکونکې ښځې ته وائي. دَ رضاعت موده دوه کاله ده په کوم چه فتویٰ ده

د رضاعت په موده کښې مذاهب:-

څومره اندازه باندې پينې څکلوسره دَرضاعت حرمت ثابتيږي په کوم سره چه دَ نسب دَحرمت په شان حرمت راخي. ① امام شافعي رحمه الله دَ رضاعت حرمت پنځو ځل څکلوسره تړلې دي.

② دَامام احمد بن حنبل رحمه الله او اهل ظواهر په نيزحرمت دَ رضاعت درې ځل څکلوسره ثابتيږي

③ جمهور يعنې امام مالک رحمه الله امام ابوحنيفه رحمه الله اوجمهورعلماء فرمائي که چرې دَ ښځې دَ پيشوموده رضاعت په دوو کالوکښې دننه په يقيني توګه باندې دَ ماشوم دَ حلق نه تيرشو نوکه دا پينې لږ وی اوکه ډير حرمت درضاعت به ثابتيږي. په مرضعه باندې به دَ دغه بچې فروع حرام شي او دَ ضيع بچې باندې مرضعه او اودَې اصول اوفروع تول حرام شي.

د اول فريق دليل:- دَحضرت عائشه رضي الله عنها حديث نمبر(۳۱۶۷) د اول فريق مستدل دې کوم کښې چه ذکر دې چه قرآن کريم کښې اول دَ لسو رضعاتو سره دَ حرمت حکم نازل شوې وو بيا هغه حکم منسوخ شو اودَ پنځو رضعاتو حکم راغلو دَ رسول الله ﷺ تروفات پورې هغه آيت په قرآن پاک کښې لوستلې شو.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب {وامهاتکم اللاتی ارضعنکم} [النساء: ۲۳] ويحرم من الرضاعة ما يحرم من النسب (رقم-۵۰۹۹)ومسلم فی کتاب الرضاع/باب يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولادة (رقم-۲ - (۱٤٤٤) کتاب الرضاع/باب رضاعة الصغير (رقم-۱)

د اول فریق د دلیل نه جواب:- دَحضرت عائشه رضي الله عنها حدیث خبر واحد دې او په خبر واحد سره دَ قرآن قرآنیت نه شی ثابتیدې لهذا دَ قرآن دَ آیت په موجودګئی کښې به دا روایت ترك کولې شی یا به تاویل کولې شی ځکه چه قرآن کریم یو محفوظ آسمانی صحیفه ده. په دې محفوظ کتاب کښې دَ پنځو رضعاتو والا آیت نشته دې نه په مشهور او متواتر قرأت کښې دَدې څه ذکر شته اوس که چرته دَ نبی کریم په آخری وخت کښې هغه آیت تلاوت شوې وې او دَ نبی کریم دَ وفات نه پس منسوخ شوې وې نو دَدې مطلب خو هم دا شو چه نعوذ بالله دا قرآن محفوظ نه دې او دا نظریه دَ ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ [سورت حجر ۹.] منافی ده.

او اصل حقیقت دا دې چه دَ لسو رضعاتو والا آیت په پنځو رضعاتو والا آیت سره منسوخ شو دکوم تذکره چه حضرت عائشه رضي الله عنها کړې ده او دَ پنځو رضعاتو آیت ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ﴾ [نساء ۲۳.] په مطلق آیت سره منسوخ شو اوس دا آیت منسوخ التلاوة والحکم دې. البته حضرت عائشه رضي الله عنها ته دَدې رومبې نسخ علم وشو او کیدې شی چه دَدویمې نسخ علم ورته نه وی شوې نو هغې دَخپل علم مطابق مذکوره حدیث بیان کړو.

د دویم فریق دلیل:- حدیث نمبر(۳۲۳) دَام الفضلَ روایت د دویم فریق مستدل دې په کوم کښې چه دی په دوو رضعاتو سره حرمت نه راځی لهذا په دریو سره به حرمت راځی لکه چه دوی په مفهوم مخالف باندې عمل کړې دې.

د دویم فریق د دلیل نه جوابونه:- ① مونږ دَ مفهوم مخالف هډو قائل نه یو او نه دَدې پابند یو. بل دَ منطوق په مقابله کښې دَ مفهوم طرف ته تلل هم مناسب نه دی او دا منل هم مناسب نه دی.

② دَ ام الفضل روایت دَهغه وخت دې کله چه دَ پنځو رضعاتو خبره مشهوره وه او دَهغې حکم منسوخ شوې نه وو کله چه منسوخ شو نو ټوله قصه ختمه شوه.

③ اصل حقیقت دا دې چه "مصة" چپول دَ بچی فعل دې او "املاجة" دَمور فعل دې نو عادت او تجربه داسې ده چه کله ماشوم تیې په خوله کښې اخلی نو په تیی کښې زر پیئی نه راځی بل یو خل دوه هسې خوله وهی هم دې ته ئې فرمائیلی چه په دې سره رضاعت نه ثابتیږی ځکه چه په دې سره حلق ته پیئی نه ورځی دَ پیئو په ورتللو خو به یقیناً رضاعت ثابتیږی.

④ "مصتان" یا "املاجتان" دا عدد دې او په تعداد او عدد کښې دَمفهوم مخالف نه شی اخستلې "قال الطیبی ومفهوم العدد ضعیف". [الکاشف ۲/۲۹۳.]

د دریم فریق دلائل:- ① دَ قرآن کریم آیت ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ﴾ [نساء ۲۳.] د دریم فریق مستدل دې. دا حضرات فرمائی چه ارضاع مطلق دې که هغه یو ګوټ وی او که کم

اوزیات وی حرمت دَ رضاعت به ثابتیږی "ارضاع باب افعال ارضعنکم" مصدر دی

② په احادیث کښې دَ "الرضاعة" لفظ هم راغلې دې کوم چه مصدر دې او په مصدر کښې تکرار نشته نو په یوځل څکلوسره به هم حرمت راځی که دَ سینې نه چپولوسره ئې څکلی وی یا په لوښی کښې اچولوسره ئې اوڅکی حرمت به ثابتیږی په دې کښې دَ تعداد او شمېر څه قید اوشرط نشته دې

③ عقلی دلیل دادې چه دَحرمت اصل علت جزئیت دې چه دَپیئو په وجه دَ یوبل په بدن کښې اجزاء گډوډ کیږی اودَ خپل جزء نه استمتاع کول جائز نه دی په دې وجه نکاح جائز نه ده اودا جزئیت په یوځاځکی پیئوسره هم حاصلیدې شی لهذا حرمت به ثابتیږی که هغه کم وی اوکه زیات

دَرضاعت مستثنی صورتونه:- دلته یوڅو صورتونه دی چه دَ رضاعت دَ مسئلې نه مستثنی دی چه په رضاعت کښې جائز او په نسب کښې هلته نکاح منع ده.

① دَ رضاعی رور نسبی خور جائز ده.

② دَنسبی رور رضاعی خور جائز ده.

③ دَ رضاعی خوئی نسبی خور جائز ده.

④ دَ رضاعی رور رضاعی خور جائز ده.

⑤ دَ رضاعی خوئی رضاعی خور جائز ده.

⑥ دَنسبی خوئی رضاعی خور جائز ده.

⑦ دَنسبی خور رضاعی رور سره نکاح صحیح ده.

⑧ دَ رضاعی خور رضاعی رور سره نکاح جائز ده.

⑨ دَ رضاعی خور نسبی رور سره نکاح جائز ده.

دا ټول نهه صورتونه دی کوم چه مستثنی دی. دَ فقه کتابونوکښې څه نور صورتونه هم دی لیکن شارحین حدیث هم دا نهه بیانوی.

[۲۱۶۲] دَرضاعی مورخاوند دپلارپه حکم کښې

۳۱۶۳-[۳] (۱) ① «وَعَنْهَا قَالَتْ: جَاءَ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ ② فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَسَأَلْتُهُ ④ قَالَ: إِنَّهُ عَمُّكِ فَأْذَنِي لَهُ ⑤

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب ما یحل من الدخول والنظر إلی النساء فی الرضاع (رقم-۵۲۳۹) ومسلم فی کتاب الرضاع/باب تحریم الرضاعة من ماء الفحل (رقم-۷ - (۱۴۴۵))واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی لبن الفحل (رقم-۲۰۵۷) والترمذی فی کتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی لبن الفحل (رقم-۱۱۴۸) و ابن ماجه فی کتاب النکاح/ لبن الفحل (رقم-۱۹۴۹) کتاب النکاح/باب ما جاء فی الخطبة (رقم-۲) واحمد فی المسند:۶/۱۹۴

قَالَتْ: قُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ.[۶] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ وَذٰلِكَ بَعْدَمَا ضُرِبَ عَلَيْنَا الْحِجَابُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او بي بي عائشه ﷺ وايي چې (يو ورځ) زما رضاعي تره زما کور ته د راتلو اجازت وغوښتلی،[۲] ما د اجازت ورکولو نه انکار وکړي، چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړم.[۳] پس پيغمبر راغلی ما په دې باره کې پوښتنه وکړه.[۴] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه ستا تره دي، هغه ته د راتلو اجازت ورکوه.[۵] بي بي عائشه ﷺ فرمايي چې (د دي اوريدو سره) ما عرض اوکړو چې ماته خوښځي پئ راکړي وې سړي خونه وی راکړي.[۶] حضور ﷺ وفرمايل چې په دې کښې شک نشته، چې هغه ستا تره دی، خکه هغه ستا کره راتلی شي (بي بي عائشې ﷺ بيان وکړي) زما د رضاعي اکا (تره) د راتګ د هغه وخت واقعه ده، کله چې زمونږ د پاره د اجنبي سړو نه پرده کول واجب شوی وو

تسهيلات: قوله: إِنَّهُ عَمُّكِ:

د رضاعي ورور کيدو وضاحت:-

حضرت عائشه ﷺ چه د کومې ښځې پيئې څکلې وو دَهغې دَ خاوند نوم ابوالقعيس وو اوکوم سړي چه دَعائشه ﷺ کورته داخليدلو د پاره راتلو دَهغه نوم افلح وو افلح دَ ابوالقعيس رور وو. دَ ابوالقعيس دَ ښځې دَ پيئو څکلو دَ وجې نه دا دَ حضرت عائشه ﷺ رضاعی پلار شو او دَ هغه رور افلح دَ حضرت عائشه ﷺ رضاعی تره شو

قوله: أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ:

دعائشې مقصد:- حضرت عائشه ﷺ په دې کلام سره دا خودل غواړی چه پيئې دَ ښځې دی نو رضاعت هم ښځې نه ثابتيدل پکار دی. دَ سړی په رضاعت کښې څه دخل دې نبی کريم ارشاد اوفرمائيلو چه نه، دَ ښځې دَ پيئو دَ وجې نه سړي هم رضاعی جوړيږی پيئې سره دَدې چه دَښځې دی ليکن دَ خاوند په جماع سره پيئې پيدا کيږی نو خاوند ته هم په پيئو کښې دخل شته دې.

[۲۱۶۲] درضاعي وريرې سره د نکاح حرمت

۳۱۶۳-[۴] (۱)[۱] «وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ[۲] هَلْ لَكَ فِي بِنْتِ عَمِّكَ حَمْزَةَ فَإِنَّهَا أَجْمَلُ فَتَاةٍ فِي قُرَيْشٍ،[۳] فَقَالَ لَهُ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ حَمْزَةَ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ[۴] وَأَنَّ اللهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا حَرَّمَ مِنَ النَّسَبِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] او د حضرت علي کرم الله وجهه په باره کښې منقول دي چې هغه عرض وکړو، يا رسول الله ﷺ[۲] ستا د اکا (تره) (حمزه) لور ستا (د خپلي نکاح د پاره) ولي خوښه نه ده؟

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الرضاع/باب تحريم ابنة الأخ من الرضاعة (رقم-۱۱ - (۱۴۴۶)

هغه خو د قریشو په پیغلو جینکو کښې یوه حسین ترینه جینۍ ده،۲ حضور ﷺ ورته وفرمایل چې آیا تاته معلومه نه ده چې حمزه رضي الله عنه زما په پیئو کې شریک ورور دی.۳ اوالله تعالیٰ جل جلاله چې کومې رشتې د نسب په وجه حرامې کړې دي، هغه رشتې یې د رضاعت په وجه هم حرامې کړې دي، (مسلم)

تسهیلات:

قوله: هَلْ لَكَ فِي بِنْتِ عَمِّكَ حَمْزَةَ:

د مذکوره جملې مفهوم: - یعنی ولې ستاد حضرت حمزه رضي الله عنه په لورکښې څه دلچسپي نشته حالانکه داپه قریشوکښې د ټولونه زیاته ښائسته ده نو "هل لك" مبتداء "رغبة" خبرمحذوف دي حضرت حمزه رضي الله عنه د نبی کریم ترهٔ وو لیکن د دوارو یوعمروو او دوارو رضاعی رونړه هم وو ځکه چه دوارو د ابولهب د وینځې ثوبیه پیئې څکلې وو په دې وجه د حمزه رضي الله عنه لور د نبی کریم رضاعی وریره وه کومې سره چه نکاح حرام وه.

د نبی کریم ﷺ رضاعی میاندې: - رسول الله ﷺ مبارک د څلورو ښځوپیئې څکلې دی ① د خپلې مور محترمې آمنه ② حلیمه سعدیه ③ ام ایمن ④ او ثوبیه.

[۳۱٦٤] د رضاعت مقدار

[۵] (۱) ۱ وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ: إِنَّ نَبِيَّ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «لَا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ أَوِ الرَّضْعَتَانِ».

ترجمه: ۱ اوبې بې ام فضل رضي الله عنها وایې چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ۲ یو ځل یا دوه ځله پئ څکل نه حراموي (یعني یو ځل یا دوه ځله رودلو سره نکاح د پاره حرمت رضاعت نه ثابتیږي)

حل اللغات: ① الرَّضْعَةُ: یو ځل پئ څکل ② الرَّضْعَتَانِ: دوه ځله پئ څکل.

(۲) ۱ وَفِي رِوَايَةِ عَائِشَةَ قَالَ: لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ أَوِ الْمَصَّتَانِ.

ترجمه: ۱ او د بې بې عائشې رضي الله عنها په روایت کښې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل یو ځل یا دوه ځله رودل (نکاح) نه حراموي

حل اللغات: ① الْمَصَّةُ: یو ځل پئ رودل ② الْمَصَّتَانِ: دوه ځله پئ رودل.

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الرضاع/باب فی المصة والمصتين (رقم-۲۱ - (۱۴۵۱) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ لا تحرم المصة ولا المصتان (رقم-۱۹۴۰)

۲) اخرجه مسلم فی کتاب الرضاع/باب فی المصة والمصتين (رقم-۱۷ - (۱۴۵۰) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب هل يحرم ما دون خمس رضعات (رقم-۲۰۶۳) والترمذی فی کتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء لا تحرم المصة ولا المصتان (رقم-۱۱۵۰) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب:القدر الذی یحرم من الرضاعة (رقم-۳۳۰۹) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ لا تحرم المصة ولا المصتان (رقم-۱۹۴۱)

۳۱۶۶ـــ (۱) ۱ وَفِي أُخْرَى لِأُمِّ الْفَضْلِ ۲ قَالَ: لَا تُحَرِّمُ الْإِمْلَاجَةُ وَالْإِمْلَاجَتَانِ. هَذِهِ رِوَايَاتٌ لِمُسْلِمٍ.

ترجمه: ۱ او دبي بي ام فضل په يو روايت کښې دا الفاظ دي ۲ چې حضور ﷺ وفرمايل يو ځل يا دوه ځله (په خله کښې) تي دا خلول (نکاح) نه حراموي (دا ټول روايتونه مسلم رحمه الله نقل کړي دي)

حل اللغات: - ① الْإِمْلَاجَةُ: يو ځل په خوله کښې تي داخلول ② الْإِمْلَاجَتَانِ: دوه ځله په خوله کښې تي داخلول

تسهيلات:

نوټ: - ددې حديث تشريح د حديث نمبر (۳۱۶۱) يل کښې ذکرشوې ده

۳۱۶۷ـــ [۲] (۲) ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ فِيمَا أُنْزِلَ مِنَ الْقُرْآنِ: ۲ عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ يُحَرِّمْنَ، ۳ ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُومَاتٍ ۴ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهِيَ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ اوبي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې په قرآن کريم کښې دا حکم نازل شوى وو، ۲ چې لس ځله پئ ځکل، هر کله چې د دې د ځکلو کامل يقين وي (نکاح) حراموي، ۳ بيا دا حکم پنځه ځله د ځکلو سره چې د هغه دځکلو کامل يقين وي، منسوخ شو (يعني وروسته چې دا حکم نازل شو چې پنځه ځله پئ ځکل چې د هغه د ځکلو کامل يقين وي حرمت رضاعت ثابتوي، نو اولنى حکم منسوخ شو، ۴ د دې نه وروسته رسول الله ﷺ د دې دنيا نه تشريف يو وړى، اودا آيت په قرآن کريم کښې تلاوت کيدلى، (مسلم)

تسهيلات:

نوټ: - ددې حديث تشريح د حديث نمبر (۳۱۶۱) يل کښې ذکرشوې ده

[۲۱۶۸] دَرضاعت موده

۳۱۶۸ـــ [۷] (۳) ۱ وَعَنْهَا «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا رَجُلٌ ۲ فَكَأَنَّهُ كَرِهَ ذَلِكَ فَقَالَتْ: إِنَّهُ أَخِي ۳ فَقَالَ انْظُرْنَ مَنْ إِخْوَانُكُنَّ ۴ فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او د ام المؤمنين بي بي عائشى رضي الله عنها نه روايت دي چې يوه ورځ نبي کريم ﷺ

---

۱) اخرجه مسلم فى كتاب الرضاع/باب فى المصة والمصتين (رقم-۱۸ - (۱۴۵۱) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:القدر الذى يحرم من الرضاعة (رقم-۳۳۰۸) واحمد فى المسند: ۶/۳۳

۲) اخرجه مسلم فى كتاب الرضاع/باب التحريم بخمس رضعات(رقم-۲۴ - (۱۴۵۲) واخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب هل يحرم ما دون خمس رضعات (رقم-۲۰۶۲) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:القدر الذى يحرم من الرضاعة (رقم-۳۳۰۷)

۳) اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب من قال: لا رضاع بعد حولين (رقم-۵۱۰۲) ومسلم فى كتاب الرضاع/باب إنما الرضاعة من المجاعة (رقم-۳۲ - (۱۴۵۵) واخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب فى رضاعة الكبير (رقم-۲۰۵۸) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:القدر الذى يحرم من الرضاعة (رقم-۳۳۱۲)

هغې ته تشریف راوړو نو هغه وخت یو سړی ورسره ناست وو۲ (د هغه په لیدو سره) حضور ﷺ ته ګویا ناګوار شو ، بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې ما (د حضور ﷺ ناګوارتیا محسوسولو سره) عرض اوکړو چې دې زما د پینو شریک ورور دی.۳ حضور ﷺ وفرمایل ګوره (یعني دا غور او سوچ وکړه) چې ستا ورور څوک کیدی شي.۴ ځکه چې په شرعي طور سره د رضاعت اعتبار د لوږې په وخت دې. (بخاري مسلم)

حل اللغات ①الْمَجَاعَةِ: د ماشوموالی په حالت کښې چه یې خیټې ته لاړ شی کوم وخت کښې چه د دغه ماشوم بل څه خوراک نه وی، هغې ته مجاعت وائی؟

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ

د هذا په طور د پیؤ څکلو سره د رضاعت د حکم تعلق: -دَدې حدیث مطلب دا شو چه دَ پینوڅکلو احکام هغه وخت شروع کیږی کله چه دا پینی دَ خوراك په توګه بدن کښې ورکوز شی ځکه چه هم په دغه زمانه کښې پینی دَبدن جز جوړیږی او هم په دې سره دَ رضاعت حرمت ثابتیږی دَ المجاعة مطلب هم دغه دې چه دا پینی دَ اولګې دَ وجې نه بدن ته کوز شوې وی بل څه خوراك نه وی. حضرت عائشه رضي الله عنها هم دغه سړې دَ پینوشریك رور ګڼرلې وو لیکن چونکه داپینی دَ رضاعت دَ مودې نه پس څکلې شوې وو په دې وجه دې سره رضاعت ثابت نه شو نونبی کریم خفګان ښکاره کړو.

د رضاعت مدت او مفتی به قول: -دَ رضاعت موده دَ جمهورو په نیز دوه کاله ده اوصاحبین هم دې طرف ته تلی دی. امام ابوحنیفه رحمه الله دوه نیم کاله وائی لیکن فتوی دَ صاحبین او جمهورو په قول ده

[۳۱۶۹] دَرضاعت په ثبوت کښې دَیوې ښځې د ګواهی اعتبار

——[۸](۱)۱(وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ۲ فَأَتَتِ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ: قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ. وَالَّتِي تَزَوَّجَ بِهَا۳ فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ قَدْ أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي۴ فَأَرْسَلَ إِلَى آلِ أَبِي إِهَابٍ فَسَأَلَهُمْ

ترجمه: ۱ د حضرت عقبه ابن حارث رضي الله عنه په باره کښې منقول دی چې هغه د ابو اهاب ابن عزیز لور سره نکاح وکړه.۲ نو یوه ښځه راغله هغې اوویل چې ما عقبه ته او د ابواهاب لور ته، چې د هغې سره عقبه واده کړي دی، پی ورکړي دي (نو عقبه او د ابواهاب لور چې یې شریک ورور، خور شو ، د هغوئ نکاح باطله شوه)۳ عقبه هغه ښځي ته اوویل چې ماته دا معلومه نه ده چې تا په ما باندې پی څکلی دي، او نه تا ماته (د دې نه مخکې)

۱) اخرجه البخاري في كتاب الشهادات/باب إذا شهد شاهد. أو شهود بشيء. وقال آخرون: ما علمنا ذلك. يحكم بقول من شهد (رقم-۲٦٤٠)

خبر اکړي دي، ۴ بیا عقبه یو سړي د ابو اهاب د خاندان والاوو ته د دې معلومولو د پاره ولیږلی، چې آیا دې ښځې ستا په لور پۍ څکلې دي؟

۱ فَقَالُوا: مَا عَلِمْنَا أَرْضَعَتْ صَاحِبَتَنَا، فَرَكِبَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْمَدِينَةِ ۲ فَسَأَلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ ۳ فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ».

ترجمه: ۱ هغوی اوویل چې مونږ ته معلومه نه ده چې دې ښځې زمونږ لور ته پۍ ورکړې دي، د دې نه وروسته عقبه ﷺ سوریدو سره مدینې ته نبی کریم ﷺ ته ورسیدو . ۲ او د حضور ﷺ نه یې د خپلې نکاح په باره کښې پوښتنه وکړه چې (دا صورت پیدا شوی دی آیا زما نکاح باطله شوې ده؟ یا باقي ده؟) حضور ﷺ ورته وفرمایل چې ته هغه جینۍ څنګه په نکاح کښې ساتلی شې، کله چې دا ظاهره شوې ده چې هغه ستا د پینو شریکه خور ده. ۳ نو عقبه ﷺ هغه جینۍ جدا کړله، او هغه جینۍ د یو بل سړي سره نکاح وکړله. (بخاري)

حل لغات: ① كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ: ته هغه جینۍ څنګه په نکاح کښې ساتلې شې، کله چې دا ظاهره شوې ده چې هغه ستا د پینو شریکه خور ده. ② فَفَارَقَهَا: نو هغه جینۍ ئې جدا کړله یعنی د نکاح نه ئې اوویستله.

تسهیلات: **قوله:** قَدْ أَرْضَعَتْ عُقْبَةَ

د یوې ښځې په ګواهۍ سره د رضاعت په ثبوت کښې مذاهب:-

یوه ښځه چې ګواهي ورکړي چه مافلانکی سړی ته پینې ورکړې وو نو په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

① امام احمدبن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهویه په نیزد رضاعت د حرمت د پاره د یوې ښځې ګواهي کافي ده. ② جمهور علماء فرمائي چه صرف یوه ښځه مرضعه د ګواهئ سره د رضاعت حرمت نه ثابتیږي.

د اول فریق دلیل:- د دوی مستدل حدیث الباب دې په دې کښې نبی کریم ﷺ د یوې ښځې په ګواهۍ باندې د ښځې او خاوند په مینځ کښې تفریق اوکړو

د اول فریق د دلیل نه جوابونه:- ① کیدې شی نبی کریم ته د وحی په ذریعه معلومه شوه چه دې ښځې واقعی دواړو ته پینې ورکړې وو نو نبی کریم د فرقت حکم ورکړو.

② د پریخودو دا فیصله اوحکم په توګه د قاعده شرعیه نه وو اونه په توګه د فتوی وو بلکه داحکم په توګه د احتیاط اوتقوی وو. او د حدیث دا لفظ کیف وقد قیل په دې باندې صریح دلالت کوی یعنی چه کله یو د شك والا خبره کړې شوې ده نو دې نه پس به ستا زړه څنګه مطمئن وې په دې وجه بهتر ده چه پریږدې

د دویم فریق په خپل مینځ کښې اختلاف:- د جمهورو په مینځ کښې لږشان اختلاف دې

① امام مالک رحمه الله فرمائی چه دَ دوو ښځوشهادت کافی کیږی
② امام شافعی رحمه الله دَ څلورو ښځوگواهی معتبرمنی
③ دَ احنافو په نیز په رضاعت کښې هم هغه عام قاعده چلیږی چه دَ دین په ټولو شعبو کښې دَ گواهئی قاعده چلیږی چه دوه سړی وی یا یو سړې اودوه ښځې وی دا دَ شهادت نصاب دې په رضاعت کښې به هم په دې باندې عمل کیږی

[۲۱۷۰] د دارالحرب څخه قیدیانو سره د راوستل شوې ښځې حکم

[۹] (۱) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ② «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ حُنَيْنٍ بَعَثَ جَيْشًا إِلَى أَوْطَاسٍ ③ فَلَقُوا عَدُوًّا فَقَاتَلُوهُمْ فَظَهَرُوا عَلَيْهِمْ وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا ④ فَكَأَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَحَرَّجُوا مِنْ غِشْيَانِهِنَّ مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ⑤ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى فِي ذَلِكَ ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ [النساء: ۲۴] » ⑥ أَيْ فَهُنَّ لَهُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د غزوه حنین په ورځ يو لښکر د اوطاس جانب ته وليږلی (چې طائف ته نژدې واقع دی) ③ هغه لښکر د دښمن سره وجنګيدلی، او د جنګ نه وروسته هغه فتح ياب شول، او ډير قيديان ورته په لاس ورغلل (چې هغوئ کښې) ښځې هم وې، اوهغه ښځې د وينځو په طور د مجاهدينو په ملکيت کښې راغلې ④ ليکن د رسول الله صلی الله علیه وسلم بعضې اصحابو رضي الله عنهم هغه وينځو سره په دې وجه د جماع نه پرهيز وکړې، چې هغه د خاوندانو والا وې، او د هغوئ خاوندان مشركان وو. ⑤ نو په دې سلسله کښې الله تعالى جل جلاله دا آيت نازل کړی. وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ، او په تاسو هغه ښځې حرام شوې دي کومې چې د خاوندانو والا دي. ⑥ خو هغه ښځې په تاسو حرامې نه دي، کومې چې ستاسو په ملکيت کښې راغلې دي. يعنی هغه ښځې چې تاسو د جنګ نه وروسته د دارالحرب نه د وينځو په طور نيولې راوستلې وې. او د هغوئ خاوندان په دارالحرب کښې پاتې شوې دي، هغه ښځې د عدت تيريدو نه وروسته ستاسو د پاره حلالې دي. (مسلم)

حل اللغات: ① جَيْشًا: د جنګيالو جماعت، ډله، لښکر. ② فَظَهَرُوا: هغوی کامياب شو ③ وَأَصَابُوا لَهُمْ سَبَايَا: دَ مسلمانانو په لاس کښې دَ کافرانو ښځې قيد کښې راغلې ④ تَحَرَّجُوا: هغوی ځان اوساتلو. ⑤ غِشْيَانِهِنَّ: د جماع کولو نه هغوی سره ⑥ وَالْمُحْصَنَاتُ: خاوندانو والا ښځې.

---

۱) اخرجه مسلم فی كتاب الرضاع/باب جواز وطء المسبية بعد الاستبراء، وإن كان لها زوج انفسخ نكاحها بالسبي (رقم-۳۳ - (۱۴۵۶)) واخرجه ابو داود فی السنن كتاب النكاح/باب فی وطء السبايا (رقم-۲۱۵۵) والترمذی فی كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی الرجل يسبي الأمة ولها زوج هل يحل له أن يطأها(رقم-۱۱۳۲) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب:تأويل قول الله عز وجل {والمحصنات من النساء إلا ما ملكت أيمانكم} [النساء: ۲۴] (رقم-۳۳۳۳)

تسهیلات:

قوله تَحْرُجُوامِنْ عِتْيَانِهِنَّ.

د استبراء رحم حکم: -دا خو دیره واضحه مسئله ده چه کومه ښځه د یو سړی په نکاح کښې وی د بل سړی خونه دهغې سره نکاح کول جائزدی اونه په دې باندې تصرف جائزدې اوکه د کافرانو ښځې په میدان جهاد کښې د مسلمانانولاس ته راغلې اودهغوی خاوندان په دارالحرب کښې پاتې شو نواوس دهغوی څه حکم دې؟ ددې مسئلې حل دا دې چه په دې ښځو باندې استبراء رحم واجب دې یعنی د استبراء رحم نه وړاندې هغوی سره جماع کول جائزنه دی

د استبراء رحم دوه صورتونه:- ① داستبراء صورت دادې چه دغه ښځې باندې یوحیض راشی که چرې حیض پرې نه راځی وړه وی یا آیسه وی نو په دې باندې د یوې میاشتې تیریدل ضروری دی بیابه ورسره جماع جائزوی

② اوکه چرې هغه ښځه حامله وی نود وضع حمل پورې به انتظارکول ضروری وی دا استبراء رحم دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۷۱] د محرماتو په یووخت په نکاح کښې د ساتلو حرمت

۳۱۷۱—[۱۰] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] نَهَى أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوِ الْعَمَّةُ عَلَى بِنْتِ أَخِيهَا [۳] وَالْمَرْأَةُ عَلَى خَالَتِهَا وَالْخَالَةُ عَلَى بِنْتِ أُخْتِهَا [۴] لَا تُنْكَحُ الصُّغْرَى عَلَى الْكُبْرَى وَلَا الْكُبْرَى عَلَى الصُّغْرَى». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَفِي النَّسَائِيِّ وَرِوَايَتُهُ إِلَى قَوْلِهِ بِنْتِ أُخْتِهَا.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ [۲] د دې نه منع فرمایل ده، چې د یوې ښځې سره د هغې د عمه په موجودګۍ کښې ، یا د یوې ښځې سره د هغه د وریرې په موجودګۍ کښې نکاح وشي، [۳] او د دې نه یې هم منع فرمایله ده چې د یوې ښځې سره د هغه د خاله (په موجودګۍ کښې نکاح وکړی شي، یا د یوې ښځې سره د هغې د خورزی په موجودګۍ کې نکاح وکړی شي، [۴] او حضور ﷺ وفرمایل چې) د لوی (مثلاً عمه اوخاله) په موجودګۍ کښې د وړې (مثلاًوریره اوخورزه) سره او د کشنۍ په موجودګۍ کښې د لوی سره دې نکاح نشي کولی(اوبنت الاخ والاخت ته صغرې اوعمه وخاله ته کبرې پدې وجه اوویل شوه ځکه چې وریره اوخورزه دعمه اوخاله دپاره په منزله دلوروې اوعمه وخاله

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب ما یکره ان یجمع بینهن من النساء (رقم-۲۰۶۵) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء لا تنکح المراة علی عمتها ولا علی خالتها(رقم-۱۱۲۶) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب:تحریم الجمع بین المراة وخالتها (رقم-۳۲۹۶)

ددوي دپاره په منزله دموروي ‹ترمذي ابوداؤد دارمي نسايي›
او نسايي رحمه الله دا روايت تر بنت اختها پورې نقل کړي دي

تسهيلات:

قوله نَهَى أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا:

دحدیث مفهوم: - دحديث پاك حاصل دادې چې که د اول نه ترور په نکاح کښې وی ددې په موجودګۍ کښې ددې وريرې سره يا که وريره په نکاح کښې وی نو ددې ترور سره نکاح کول جائز نه دی خو که دوئ کښې يوې ته طلاق ورکړی او ددې د عدت ورځې تيرې شی نو بيا د بلې سره نکاح کولې شی. يا په دوئ کښې يوه مړه شی نو ددې بلې سره نکاح کول درست دی.

[۲۱۷۲] د میرنی مور سره د نکاح کولو حرمت

[۱](۱) ① وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: «مَرَّ بِي خَالِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ ② وَمَعَهُ لِوَاءٌ فَقُلْتُ أَيْنَ تَذْهَبُ؟ ③ قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ آتِيهِ بِرَأْسِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ، وَلِلنَّسَائِيِّ، وَابْنِ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيِّ " «فَأَمَرَنِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ وَآخُذَ مَالَهُ» " وَفِي هَذِهِ الرِّوَايَةِ قَالَ "عَمِّي" بَدَلَ "خَالِي"

ترجمه: ① او حضرت برا ابن عازب رضی الله عنه وايي چې يوه ورځ زما ماما حضرت ابو برده رضی الله عنه ابن دينار زما سره په داسې حال کښې تير شو، ② چې د هغه په لاس کښې جنډه وه، ما پوښتنه ورنه وکړه چې ته چرته ځې؟ ③ نو هغه اوويل چې يو سړي د خپل پلار د ښځې سره نکاح کړې ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم زه دې سړي ته رالیږلی یم چې د هغه سر پريکولو سره د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شم، ‹ترمذي ابوداؤد›
او دا بوداؤد رحمه الله په يو بل روايت کښې او د نسايي رحمه الله ابن ماجه رحمه الله او دارمي رحمه الله په روايت کښې داسې دي چې ابو برده رضی الله عنه اوويل چې حضور صلی الله علیه وسلم ماته حکم راکړی دی چې زه د هغه څټ ووهم، او د هغه مال اواسباب راوړم، او په دې روايت کښې زما د ماما په ځای د تره الفاظ دی ‹نو دا خبره مختلف فيه شوه، چې حضرت ابو برده رضی الله عنه ابن نياز د برا بن عازب رضی الله عنه ماما وو يا اکا (تره) وو›

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود/باب فی الرجل يزنی بحريمه (رقم-۴۴۵۶) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فيمن تزوج امراة أبيه (رقم-۱۳۶۲) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب:نکاح ما نکح الآباء (رقم-۳۳۳۱) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من تزوج امراة ابيه من بعده (رقم-۲۶۰۷) واحمد فی المسند: ۴/۲۹۲

تسهيلات:

قوله: آتيه برأسه:

د پلار د منکوحې سره د نکاح کولو سزا: -په اصل کښې دَ دغه سړی عقيده دَاهل جاهليت په شان وه چه دَ پلار ښځې سره نکاح کول جائز دی بلکه هغه خلق مشرخونی په توګه دَ حقدار دَپلار ښځه يعنی دَهغه ميرنې مور ورکوله او هغه بدبخت به هغې سره نکاح کوله دَدغه سړی چه کله داعقيده وه چه په اسلام کښې يوحرام خيز په حقيقت کښې حرام نه دې بلکه حلال دې نو په دې عقيده سره دا سړې مرتدشو نوواجب القتل شو ځکه چه اسلام يوډيرقانون دې. چرته چه حدود او تعزيرات دی داسې نه ده چه دَ خپل نرم طبيعت دَ وجې نه هم دَ اسلام احکام خراب کړی. اوس اوګوره دا صحابی دَنبی کريم دَ طرف نه يوسړې دَ پوهه کولودَپاره نه بلکه دَ هغه سټ الوزولو دَپاره ځی. دَنبی کريم جهنډا په لاس کښې اخستلوسره په دې وجه خوزوی چه خلقو ته يقين راشی چه دادَ نبی کريم ليګلې شوې سړې دې. "لواء" جنګی جهنډې ته وائی.

[۳۱۷۳] د رضاعت د مودې تيريدوځخه روسته د حرمت رضاعت عدم صحت

وعن [۱۳] (۱) [۱]وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«لَا يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ [۳]فَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱]او بي بي ام سلمه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]هغه پئ ځکل حرمت رضاعت ثابتوي کوم چې د سيني نه د ځکلو په وجه کولمي خلاصي کي، [۳] او هغه پئ د تي د پريکولو د وخت نه مخکي ځکل شوي وي، (ترمذي)

حل اللغات: ① مَا فَتَقَ: مَا موصوله په معنی دَ الذی دې او فَتَقَ نصر ينصر نه دې دَدې معنی کولاوول دی. ② الْأَمْعَاءَ: کولمې. ③ الْفِطَامِ: د تیْ نه پريکول، ماشوم باندې د مور پئ بندول .

تسهيلات:

قوله: فَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ:

د رضاعت وخت : -دَدې مطلب دادې چه هغه پيئی دَ ماشوم خيټه اوکولمې دا مَړې کړی لکه ځنګه چه دَيواوګی سړی خيټه په خوراك سره مړيږی يعنی دَ دغه ماشوم خوراك صرف دَ مور پيئی دی خوراك نه خوری اودا دَ رضاعت په موده کښې کيږی چه دَ مفتی به قول مطابق دَ دوو کالو زمانه ده.

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الرضاعة لا تحرم إلا في الصغر دون الحولين (رقم-۱۱۵۲)

قوله فِي الثَّدْيِ:

د لفظ الشدی دو مطلبونه: -① عربی محاوره کښې دا لفظ دَ رضاعت موده اودَ پیتو څکلو زمانې دَپاره یادولې شی دلته که چرې هم دغه معنی واخستې شی نو مطلب به داشی چه: پیتودَ څکلو په زمانه کښې ماشوم پیتی اوڅکل ② یادې لفظ نه امرواقعی بیان کړې شوې دې چه ماشوم عموماً پیتی هم دَ سینې نه نیغ په نیغه راکاږی څکی نو دا څه قید احترازی نه دې چه دَ سینې نه علاوه که چرې دَ لوښی نه آوڅکی نورضاعت به نه ثابتیږی

قوله: فَتَقَ:

د رضاعت مودې ته د اشارې الفاظ: -د فتق د ضمیرفاعل نه فی الشدی حال مقدره دې او الامعاء مفعول به دې. "اي لايحرم من الرضاع الا الذي فتق الامعاء حال كون اللبن ممتلئا في الشدي" علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه الشدی لفظ دَ لوښی په معنی کښې دې لکه چه دا پیتی دَ سینې په لوښی کښې جمع پراته دی اوماشوم ئې څکی. فتق الامعاء اوفی الشدی دا ټول الفاظ دَرضاعت دَمودې طرف ته اشاره ده. [الکاشف: ۶/ ۳۰۰-۲۹۹.]

قوله: وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ:

د سابقه کلام تاکید: - یعنی دَ پیتونه ارولو نه مخکښې ئې څکلې وی داجمله دَ سابقه کلام دَپاره په توګه دَتاکید ده یعنی دَ رضاعت په موده کښې ئې پیتی څکلې وی اوهغه موده دوه کاله دې څکه چه هم دَدغه زمانې پیتی دَ بدن جز جوړیږی کوم چه موجب حرمت رضاعت دې

[۲۱۷٤] دَرضاعی مور حق اداکول

۳۱۷۴- [۱۳] (۱) ①وَعَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ الْأَسْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ ②أَنَّهُ «قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرِّضَاعِ؟ ③فَقَالَ: غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت حجاج ابن حجاج اسلمي رضی الله عنه د خپل پلار بزرګوار نه نقل کوي ②چې هغه (یعني حجاج اسلمي رضی الله عنه) عرض وکړي چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کوم شی دی، چې په هغه سره د پیتو د حق نه خلاصیدي شم؟ یعني دخپلي رضعي مورحق څنګه اداکړم؟ ③حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې مملوک ورکول، که غلام وي یا وینځه چې د پیتو ورکونکی ښځی خدمت وکړي چې د هغی د خدمت جبیره وګرځی، (ترمذي ابوداؤد نسایي دارمي)

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی الرضخ عند الفصال (رقم-۲۰۶٤) والترمذی فی کتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء ما یذهب مذمة الرضاع (رقم-۱۱۵۳) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب:حق الرضاع وحرمته (رقم-۳۳۲۹) واحمد فی المسند: ۴۵/۳

حل اللغات: ① مَذِمَّةُ الرَّضَاعِ: د رضاعت د حق ذمه داري پوره کول ② غُرَّةٌ: د اس په تندی باندې سپين داغ ته وائي. هر ښائسته څيز ته وائي. دلته ترې غلام يا وينځه مراد دی

تسهیلات:

قوله: مَذِمَّةُ الرَّضَاعِ:

د اجرت نه څه زياتي بدله مرضعې ته ورکول: -مذمة د ذال کسره اوميم فتحه سره دَ حق او ذمه دارئ په معنی کښې دې. الذمام دَ واجب الحفاظت څيز حق اداکولوسره حفاظت کولوته وائی مراد دَ پينو څکلو دَ احسان بدله ورکول دی دَعربو عادت وو چه دَ پينو څکولو دَاجرت ورکولونه علاوه دَ احسان په توګه به ئی څه ورکول

د لفظ غرة اصل معنی او مفهوم: -هم دَ دغه څيزسوال حضرت حجاج اسلمی ﷺ کړې دې نبی کريم په جواب کښې اوفرمائيل غره ورکړه غره ښائسته غلام ته وائی اصل کښې دا لفظ دَ اس په تندی باندې سپين داغ ته وئيلی شی بيا دَدې اطلاق په هرروښانه او سردار او شريف سړی باندې کيدلو. هم په دې سلسله کښې دا لفظ دَ غلام اووينځې دَپاره اووئيلي شو. نبی کريم اوفرمائيل چه دَ مرضعه دَ خدمت دَپاره وينځه يا غلام ورکړه هغه به دَدې خدمت کوی لکه څنګه چه مرضعه ستا خدمت اوکړو لکه چه دا "جزاءحقهامن جنس فعلها" شو يعنی دَخدمت بدله خدمت سره اوشو. ﴿هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾ [الرحمن: ۶۰].

[۲۱۷۵] د حليمی ﷺ سعديه تعظيم اوتکريم کول

[۱۴] (۱) ① وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ الْغَنَوِيِّ، قَالَ: «كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ فَبَسَطَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رِدَاءَهُ حَتَّى قَعَدَتْ عَلَيْهِ ③ فَلَمَّا ذَهَبَتْ قِيلَ: هَذِهِ أَرْضَعَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». - رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابو طفيل غنوي ﷺ وايي چې (يوه ورځ) زه د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې ناست وم، ② چې اچانك يوه ښځه (يعني دايه حليمه ﷺ) راغله، حضور ﷺ (د هغې د تعظيم او تکريم او خوشحالولو د پاره) خپل پټو مبارک اوار کړ، او هغه په هغه کيناستله، ③ بيا چې هغه ولاړه (نو هغه خلقو ته چې هغه د حضور ﷺ د تعظيم او تکريم په وجه او د حضور ﷺ په پټو مبارک د هغې ښځې په ناسته سره حيران او متعجب وو) اوښودل شو چې دا ښځههغه ده چې، هغې نبی کريم ﷺ ته پئ ورکړي دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① فَبَسَطَ: خور (آوار) ئې کړو. ② رِدَاءَهُ: خپل څادر.

(۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأدب/باب فی بر الوالدين (رقم-۵۱۴۴)

تسهيلات:

قوله فَبَسَطَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رِدَاءَهُ:

د حضور پاک ﷺ د خپلې رضاعي مور عزت کول: حضرت حليمه سعديه د قبيله سعد سره تعلق لرلو هغې دوه کاله نبي کريم ته پئي ورکړي دي د جنگ حنين په موقع کيدې شي دا نبي کريم ﷺ ته راغلې وه نبي کريم د دې ډير اکرام اوکړو هم په دې موقع د نبي کريم رضاعي خور او د حليمه سعديه لور شيما هم نبي کريم له راغلې وه د هغې هم نبي کريم ډير اکرام اوکړو دا دواړه خوش قسمته مسلمانانې شوې وې د حضرت حليمه رضي الله عنها قبر په مدينه منوره کښې جنت البقيع کښې دي

[۲۱۷٦] په يو وخت کښې د څلورو څخه د زياتو ښځو سره د نکاح حرمت

۳۱۷۶-[۱۵] (۱)① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ «أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ② فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ③ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: أَمْسِكْ أَرْبَعًا وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي کوم وخت چې غيلان ابن سلمه ثقفي مسلمان شو . نو د هغه لس ښځې وې، چې هغه د جاهليت په ورځو کښې واده کړي وې، ② د هغه سره هغه لس سره ښځې هم مسلمانې شوې، ③ نو رسول الله ﷺ هغه ته حکم ورکړي چې په هغوئ کښې څلور ښځې په خپله نکاح کښې وساته او باقي جدا کړه. احمد ترمذي ابن ماجه.

حل اللغات - ① فَارِقْ: جدا کړه، پريږده، يعنی طلاق ورکړه.

تسهيلات:

قوله - أَمْسِكْ أَرْبَعًا وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ:

په نکاح کښې د څلورو نه زياتو ښځو د وجود په صورت کښې مذاهب:-

کافر چې د خپلو ښځو سره مسلمان شي کومې چې د څلورو نه زياتې وي نو صرف څلور په ساتي خو کومې به ساتي او کومې پريږدي نو

① ائمه ثلاثه او امام محمد رحمه الله يعنی جمهور فرمائي د غه سړی ته اختيار دې چه کومې ساتل غواړي او دې ساتي او کومې چه پريخودل غواړي رخصت دې کړي.

② امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله فرمائي دې سړی ته پريخودو کښې تخيير نشته بلکه اول چه کومو څلورو ښځو سره نکاح شوې ده هم هغه دې اوساتي او د څلورو د نکاح نه پس چه کومو سره نکاح شوې ده هغه د پريخودو د پاره متعين دي.

---

۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۱۱۲۸. وابن ماجة في السنن رقم الحديث ۱۹۵۳. واحمد في المسند رقم الحديث ۲ / ۴۴

د اول فريق دلائل:- زيربحث د غيلان بن سلمه رضي الله عنه روايت د اول فريق مستدل دې څکه چې په دې کښې د ((امسك أربعاً)) مطلق الفاظ راغلي دي هيڅ قيد نشته چه اول کومه پريږدی اوروستو کومه ساتی
۲ دَحضرت ضحاك بن فيروز رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې په دې کښې د "اختر ايتهما شئت" الفاظ راغلي دی چه تخيير اواختيار استعمالولو باندې دلالت کوی
۳ دَ نوفل بن معاويه رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې چه هغه ته کله دَ څلورو ساتلو اوباقی پريخودو حکم ملاؤ شو نوهغه دَ ټولو نه مشره مخکښې نکاح شوې ښځه پريخوده اوڅلورنی اوساتلې.
د اول فريق د دلائلو نه جواب:- امام طحاوی دا جواب ورکړې دې چه په مذکوره احاديثو کښې خاوندته کوم اختيار ورکړې شوې دې دا دَهغه زرې اوپخوانې نکاح خبره ده کله چه دَ څلورو نه زياتی يا د دوه خوئيندې يوځائې ساتلو دَ تحريم حکم هډو راغلې نه وو لهذا هغه وخت ټولې نکاح ګانې صحيح وې نو په ټولو کښې اختيار ورکړې شو چه کومې غواړی اودې ساتی اوکومې چه غواړی رخصت دې کړی. بيا داحکم موقوف شو. بهرحال دَ جمهورو قول راجح دې.
د دويم فريق دليل:- دَنکاح په معاملات کښې کفار دَ شرعی نصوصو اواحکامات او فروعات پابند دی. نوچه کومې څلورنکاحونه يوکافر دَ مخکښې نه کړې وې هغه دَ اسلام په نظر کښې صحيح وې ليکن څلورونه پس نکاح صحيح نه وه مګر په کافرباندې شرعی احکامات تنفيذ څکه نه وو چه هغه مسلمان نه دې او اهل ذمه په خپل شخصی ژوندون کښې آزادې دی. ليکن چه کله هغه مسلمان شو نواوس دَ شريعت حکم دَ هغه طرف ته متوجه شو لهذا چه کومې څلور اول په نکاح کښې راغلې وې نوهغه خوئی بيبيانې وې او روستو به هم هغه پاتې وی اوکومې څلور چه روستوپه نکاح کښې راغلې وې هغه نکاح کلا نکاح وه هغه هم هغه وخت کالعدم وې. لهذا هغه دَ پريخودو او رخصت کولودَپاره متعين دی.
مفتي به قول:- دَ دوی دا دليل دَ شريعت مجموعی قواعد او اصولو باندې مبنی دې دا څه قياس نه دې چه دَ نصوص په مقابله کښې راغلې دې خوچونکه امام محمد رحمه الله هم جمهورو سره دې لهذا فتویٰ دَ جمهورو په قول ده هم په دې کښې احتياط هم دې.

[۳۱۷۷] د پنځو بنځو سره د زیاتو په نکاح کښې د ساتلو عدم جواز

۳۱۷۷—[۱۶] (۱) ⓵ وَعَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: «أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي خَمْسُ نِسْوَةٍ ⓶ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⓷ فَقَالَ: فَارِقْ وَاحِدَةً وَأَمْسِكْ أَرْبَعًا. ⓸ فَعَمَدْتُ إِلَى أَقْدَمِهِنَّ صُحْبَةً عِنْدِي عَاقِرٍ مُنْذُ سِتِّينَ سَنَةً فَفَارَقْتُهَا». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ⓵ او حضرت نوفل ابن معاویه ﷺ وایي کوم وخت چې زه مسلمان شوم نو زما په نکاح کښې پنځه ښځې وې، ⓶ ما به دې باره کښې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه ⓷ نو حضور ﷺ راته وفرمایل چې یوه جدا کړه او څلور باقي وساته ⓸ د حضور ﷺ د حکم اوریدو سره، ما د ټولونه مخکښې ښځه جدا کړه، چې شنډه وه. او د شپیتو کلونه زما سره وه. (شرح السنة)

حل اللغات - ① أَقْدَمِهِنَّ صُحْبَةً: چه په ملګرتیا او نکاح کښې د نورو نه مخکښې وه. ② عَاقِرٍ: شنډه. چه هیڅ اولاد ئې نه وو

تسهیلات: **نوټ:**- د دې حدیث تشریح په وړاندې حدیث کښې تیره شوې ده

[۳۱۷۸] د دوو خویندو په نکاح کښې د ساتلو حرمت

۳۱۷۸—[۱۷] (۲) ⓵ وَعَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ فَيْرُوزَ الدَّيْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ⓶ «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ، ⓷ قَالَ: اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ضحاک ابن فیروز دیلمي د خپل پلار (حضرت فیروز ﷺ) نه نقل کوي. هغه اوویل ⓶ چې ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زه مسلمان شوی یم، او زما په نکاح کښې دوه خویندې دي (په دې باره کښې) څه حکم دی؟ ⓷ حضور ﷺ وفرمایل چې په دې دواړو کښې چې کومه یوه غواړې وې ساته، (ترمذي ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات - ① وَتَحْتِي أُخْتَانِ: او زما په نکاح کښې دوه خویندې دي

تسهیلات:

قوله: اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ:

د نو مسلم په نکاح کښې د دوو خویندو د اجتماع په صورت کښې حکم:- مثلاً یو سړی اسلام قبول کړو او هغه په نکاح کښې دوه خویندې وې هغه هم دواړه مسلمانانې شوې نو جمهور فرمائي چه دې سړي ته اختیار دې چه کومه ساتي اوکه پریږدي او امام ابوحنیفه

۱) اخرجه البغوي في شرح السنة رقم الحديث ۲۲۸۹

۲) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الصوم/باب في صوم يوم عاشوراء (رقم-۲۴۴۳) والترمذي في كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في الرجل يسلم وعنده أختان (رقم-۱۱۳۰) وابن ماجه في كتاب النكاح/ الرجل يسلم وعنده أختان (رقم-۱۹۵۱)

ﷺ فرمائی که چرې د دواړو خوښېدو نکاح په یوځائې شوې وې نو اوس به دواړه رخصت کوی او که چرې نکاح وړاندې روستو شوې وی نو اولنې دې اوساتی او دویمې ته دې رخصت ورکړی د دلائلو او مسائلو بحث مخکښې شوې دې

[۲۱۷۹] داحد الزوجین په اسلام قبلولو سره د نکاح حکم

۳۱۷۹-[۱۸] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ فَتَزَوَّجَتْ ② فَجَاءَ زَوْجُهَا إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِي ③ فَانْتَزَعَهَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ زَوْجِهَا الْآخَرِ، وَرَدَّهَا إِلَى زَوْجِهَا الْأَوَّلِ». ④ وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّهَا أَسْلَمَتْ مَعِي ⑤ فَرَدَّهَا عَلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایې چې یوې ښځې اسلام قبول کړې، او بیا هغې د یو سړی سره نکاح وکړه، ② د دې نه وروسته د هغې اولنی خاوند د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او عرض یې وکړې چې یا رسول الله ﷺ ما اسلام قبول کړې دی، او زما دې ښځې ته زما د اسلام قبلولو علم وو، ③ لیکن د دې باوجود هغې د دویم خاوند سره نکاح کړې ده، حضور ﷺ هغه ښځه د دویم خاوند نه جدا کولو سره اولنی خاوند ته حواله کړه. ④ او په یو روایت کښې داسې دي چې هغه اولنی خاوند دا اوویل چې هغه ښځه (یعنې زما ښځه چې هغه اوس د دویم سړي سره نکاح کړې ده) زما سره مسلمانه شوې ده، ⑤ حضور ﷺ (د دې اوریدو سره) هغه ښځه د هغې اولنې خاوند ته حواله کړه. (ابوداؤد)

۳۱۸۰-(۲) ① وَرُوِيَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ: «أَنَّ جَمَاعَةً مِنَ النِّسَاءِ رَدَّهُنَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالنِّكَاحِ الْأَوَّلِ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ ② عِنْدَ اجْتِمَاعِ الْإِسْلَامَيْنِ بَعْدَ اخْتِلَافِ الدِّينِ وَالدَّارِ.

ترجمه: ① او په شرح السنة کښې دا روایت نقل شوې دې چې حضور ﷺ دغه شان ډیرې ښځې د هغوئ د اولنی نکاح مطابق د هغوئ خاوندانو ته حواله کړې وې، ② چې د هغوئ خاوندان د دین او وطن د فرق نه وروسته د هغوئ سره د اسلام په صف کښې شامل شوي وو (یعنې په غیر مسلم ښځه او خاوند کښې د یو د اسلام قبلولو په وجه او د یو په دارالاسلام کښې او دویم په دارالحرب کښې د اوسیدو په وجه، لکه چې د دواړو په منځ کښې مذهبي او ملکي لرې والي او اختلاف پیدا شوی وو، خو هر کله چې هغه دواړو اسلام قبول کړې، نو حضور ﷺ د هغوئ سابقه نکاح باقي ساتلو سره ښځه به یې خاوند ته حواله کوله، لکه چې د قبول اسلام نه وروسته د تجدید نکاح ضرورت نه وو)

---

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق / باب إذا أسلم أحد الزوجين (رقم-۲۲۳۸) والترمذي في كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الزوجين المشركين يسلم أحدهما (رقم-۱۱۴۴) وابن ما جه في كتاب النكاح / الزوجين يسلم أحدهما قبل الآخر (رقم-۲۰۰۸)

۲) اخرجه مالک في الموطا كتاب النكاح/باب نكاح المشرك إذا أسلمت زوجته قبله (رقم-۴۴)

[۱] مِنْهُنَّ بِنْتُ الْوَلِيدِ بْنِ مُغِيرَةَ كَانَتْ تَحْتَ صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ[۲] فَأَسْلَمَتْ يَوْمَ الْفَتْحِ، وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ[۳] فَبَعَثَ إِلَيْهِ ابْنَ عَمِّهِ وَهْبَ بْنَ عُمَيْرٍ بِرِدَاءِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَمَانًا لِصَفْوَانَ[۴] فَلَمَّا قَدِمَ جَعَلَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَسْيِيرَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ[۵] ، حَتَّى أَسْلَمَ فَاسْتَقَرَّتْ عِنْدَهُ،

ترجمه:[۱] نو په هغه ښځو کښې يوه ښځه د وليد ابن مغيره لور هم وه، چې د صفوان ابن اميه ښځه وه،[۲] دا ښځه د خپل خاوندنه مخکښې د فتح مکه په ورځ مسلمانه شوه، او د هغې خوند د اسلام نه تيښته وکړه،[۳] حضور ﷺ د هغې خاوند (صفوان بن اميه) ته د هغه د اک (تره) زوی وهب ابن عمير ﷺ خپل پټو مبارک ورکولو سره وليږلی، او هغه ته يې آمن ورکړې (يعني حضور ﷺ وهب ته په طور د علامت خپل پټو ورکولو سره ونيږلی. چې هغه صفوان ته دا پټو ښودلو سره خبر ورکړي، چې د قتل او تشدد نه ت ته آمن درکړل شوی دی، ته بلا خوف راتلی شې)[۴] بيا چې صفوان راغلی. نو د هغه د سيل د پاره څلور مياشتې مقرري کړی شوی (يعني هغه ته اجازت ورکړی شو چې هغه په پوره آمن و آمن سره تر څلور مياشتو د مسلمانانو په منځ کښې دې وګرځي، چې د مسلمانانو عادات او اطوار په ښه شان مشاهده کړي، نو هغه د څو ورځوپوري د مسلمانانو په منځ کښې وګرځيدلی)[۵] ددې پورې چې صفوان هم (د خپلې ښځې د مسلمانيدو نه دوې مياشتې وروسته) مسلمان شو ، او کومه ښځه چې د هغه په نکاح کښې وه، برقرار د هغه ښځه پاتې شوه.

[۱] وَأَسْلَمَتْ أُمُّ حَكِيمٍ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ امْرَأَةُ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ،[۲] وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ حَتَّى قَدِمَ الْيَمَنَ[۳] فَارْتَحَلَتْ أُمُّ حَكِيمٍ حَتَّى قَدِمَتْ عَلَيْهِ الْيَمَنَ فَدَعَتْهُ إِلَى الْإِسْلَامِ[۴] فَأَسْلَمَ، فَثَبَتَا عَلَى نِكَاحِهِمَا». رَوَاهُ مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ مُرْسَلًا.

ترجمه:[۱] دغه شان په دې ښځو کښې يوه ښځه ام حکيم وه، چې د حارث بن هشام ﷺ لور د ابو جهل د خوی عکرمه ﷺ ښځه وه، هغه د مکې د فتح په ورځ اسلام قبول کړې.[۲] او د هغه خاوند (عکرمه) د اسلام نه ګريخت (تيښته) وکړه، او يمن ته لاړل[۳] څه ورځې وروسته) ام حکيم ﷺ هم (د حضور ﷺ په حکم خپل خاوند براه راست راوستلو د پاره) يمن ته ورسيده، او خپل خاوند عکرمه ته يې د اسلام د قبلولو ترغيب ورکړې،[۴] ددې پورې چې هغه مسلمان شو ، او د هغوی دواړه نکاح باقي پاتې شوه، دا روايت امام مالک ﷫ د ابن شهاب نه بطريق ارسال نقل کړی دی

حل اللغات:- ① هَرَبَ: او تښتيدلو، ② تَسْيِيرَ: ګرځيدله ③ فَاسْتَقَرَّتْ: برقرار پاتې شوه ④ فَارْتَحَلَتْ: کوچ ني اوکړلو

تسهيلات: قوله: - أَنَّ جَمَاعَةً مِنَ النِّسَاءِ رَدَّهُنَّ النَّبِيُّ

د تفرق بين الزوجين اسباب: - د نفس مسئلې شروع کولو نه وړاندې د تفرق بين الزوجين اسباب اوپيژنئ

① **د اسلام قبلولو نه انکار: -** که دَ احدالزوجين نه يوکس اسلام قبول کړی نو بيا ته به اسلام وړاندې کولې شی که هغه هم اسلام قبول کړو نو نکاح به خائی ده او که چرې دغه دويم انکاراوکړو نونکاح به ختمه شی. قاضی به په دواړو کښې جدائی کوی اوکه چرې ښځه کتابيه وی نو هغې ته به اسلام نه شی پيش کولې او نکاح به په خائی وی

② **تباين دارين: -** که احدالزوجين نه يوکس مسلمان شی اودې نه پس تبدل دارين راغلويعنی يوملك پريخودو نودې ته اختلاف دارين وائی ددې په وجه به هم تفرق بين الزوجين راځی ځکه چه دَ دارين دَ اختلاف سره دَ اسلام پيش کول ممکن نه دی اودَ دارالحرب دَ تللونه پس که دَ عدت دَمقدار موده تيره شوه نونکاح به ختمه شی

③ **د عدت ختميدل: -** که احدالزوجين نه يوکس اسلام قبول کړی اوبيا دَ عدت په موده کښې يعنی دريو حيضو پورې اسلام قبول نه کړو نو په دې سره به هم دَ دواړو نکاح ختمه شی اګرچې په يو ملك کښې اوسيږی.

دتفرق بين الزوجين په سبب کښې مذاهب: -

① امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز په اسباب ثلاثه کښې صرف د دريم سبب قائل دی چې صرف دعدت په تيريدو باندې تفرق د احد الزوجين واقع کيږی.

② دَ جمهورو په نيز دَ ښځې دَ جدائيئ اسباب درې دی دکوم تفصيل چې وړاندې تير شو.

خلاصه د مذاهبو: - يعنی دامام شافعی او امام احمد بن حنبل په نيز احدالزوجين کله اسلام قبول کړو نودَ نکاح باقی پاتې کولو کښې دَبل انتظار انقضاء عدت يعنی دريو حيضو پورې به کولې شی که په دغه موده کښې بل هم مسلمان شو نو نکاح به ئې باقی پاتې وی ګنی نکاح به ختمه شی. که دَ ښځې اوخاوند په مينځ کښې دَ دين دَ اختلاف سره اختلاف دارين راغلې وی اوکه نه. اختلاف دارين سره هيڅ فرق نه پريوځی. دغه شان دَ يو دَاسلام په صورت کښې به په بل باندې اسلام نه شی پيش کولې اونه دَ اسلام دَ انکار فرق سره څه تعلق دې دَفرق تعلق خو صرف انقضاء عدت دې او جمهور درې واړه اسباب سبب د تفرق ګنړی.

داول فريق اول دليل: - ① د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حديث الباب د اول فريق مستدل دې. کوم چې په خپله مدعی باندې ښکاره دليل دې يعنی په دې حديث کښې تباين دارين موجود شوې دې خوددې باوجود په دواړه ښځه او خاوند کښې تفريق نه دې

شوې کوم چې د دويم فريق حجت دې

د اول فريق د اول دليل جواب: دلته تباين دارين صرف صورةً موجود شوې دې صورةً او معنی نه دې موجود شوې، ځکه چې هر کله ښځې هم د خپل خاوند سره اسلام قبول کړې وو لکه چې هغه په هجرت کولو کښې روسته شوې وه خود اسلام راوړلو ځخه روسته هغه "علی شرف الهجرة" وه يعنی د هجرت په انتظار کښې وه نو دلته تباين دارين صورةً خو راغلو خو حکماً نه دې راغلې، او د دويم فريق په نيز هغه تباين دارين موجب د فرقت دې چې هغه صورةً او حکماً دواړه وی او دلته صرف صورةً دې حکماً نه دې

د اول فريق دويم دليل: - ② اول فريق دَ صفوان بن اميه او عکرمه بن ابی جهل په واقعاتو سره په تباين دارين باندې استدلال کړې دې. د کوم تفصيل چې د حديث په ترجمه کښې موجود دې

د اول فريق د دويم دليل جواب: - په دې واقعاتو سره په تباين دارين باندې استدلال کول جائزنه دی ځکه چه دلته تباين شوې نه دې دا دواړه حضرات بيشکه دَمکې نه تختيدلی وو ليکن دَمکې دَ حدودو نه بهر نه ووتلی بلکه يو خو دَ سمندر غاړې پورې تلې وو او دويم دَمکې سره خواکې پټ شوې وو.

د اول فريق دريم دليل: - د اول فريق دريم دليل دادې چې زمی ته مونږ دَ عدم تعرض عهده ورکړې ده اوس په هغه باندې اسلام پيش کول دا تعرض دې کوم چه جائزنه دې

د اول فريق د دريم دليل جواب: - دَدې جواب دادې چه ټيک ده تعرض جائزنه دې په جبری توګه جائزنه دې دَ مجبورنی په حال کښې يا دهمکی ورکولو سره جائزنه دې په اختياری توګه خو جائز دې دَدې هيڅ ممانعت نشته دې.

د اول فريق څلورم دليل: - په بنيادی توګه شوافعو او حنابله دَ حضرت ابوالعاص رضي الله عنه دَواقعه نه استدلال کړې دې دَ حضرت ابوالعاص رضي الله عنه نکاح په مکه کښې دَ نبی کريم لوربی بی حضرت زينب رضي الله عنها سره شوې وه حضرت زينب رضي الله عنها خو مسلمانه وه ليکن ابوالعاص رضي الله عنه لا اسلام نه وو قبول کړې په جنګ بدر کښې چه کله قيد شو نو نبی کريم هغه بغير دَ فديه نه پريخودو مګر دا شرط ئی کيخودو چه زما لور زينب به دَمکې نه مدينې ته دَ هجرت دَپاره پريږدې په دې موقع حضرت زينب رضي الله عنها دَ هغه دَ راخلاصولو دَپاره هغه هار هم ورليګلې وو چه حضرت خديجه رضي الله عنها خپلې لورته دَ واده په موقع ورکړې وو نبی کريم چه کله دا هار اوکتلو او دَحضرت خديجه رضي الله عنها ياد ورته راتازه شو نو په نبی کريم باندې ژړ شروع شو نبی کريم دَ صحابه کرامو په مشوره ابوالعاص رضي الله عنه بغير دَ فديه نه واپس اوليګلو او هار ئی هم واپس کړو حضرت ابوالعاص رضي الله عنه وعده پوره کړه او حضرت زينب رضي الله عنها مدينې منورې ته لاړه. بيا دَ يوې قافلې صحابه کرامو دَ څه مودې پورې سارنه هم اوکړه په

کومه کښې چه حضرت ابوالعاص رضی الله عنه هم وو هغه په تیختـه بانـدې مـدینې تـه راغلـو او دَحضرت زینب په کور کښې داخل شو حضرت زینب رضی الله عنها دَهغـه دَپاره امـان اوغوښتلو نبی کریم امـان ورکړو ابوالعـاص رضی الله عنه مکې ته لاړو اوهلته ئې دَ خپـل اسلام په شاندار طریقه سره اعلان اوکړو او واپس مدینې ته راغلو په دې کښې دَ شپږو کالو موده تیره وه مګر نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ړومبې نکاح سره حضرت زینب رضی الله عنها هغه ته واپس کړه شـوافع وائـی چه ګورئی تباین دارین شوې وو مګر فرقت نکاح نه ده شوې

دَ فریق اول دَ علاوه دلیل جوابونه:-

① دَ حضرت ابوالعاص رضی الله عنه واقعه په قطعي توګه قابل استدلال نه ده ځکه چې په ترمذی کښې دی چه په اول نکـاح سره ئـې واپـس کـړه هلتـه دا هـم ړی چـه پـه نکـاح جدیـد او مهرجدید سره ئې واپس کړې ده اوس به څه کوئی؟ اذاتعارضاتساقطا۔

② په دې کښې خودَ عدت موده هم تیره شوې وه درې حیض یا درې میاشتې څه چه شپږ کاله په کښې تیر شوې وو نوخامخوا به اول فریق هم تاویل کوی او دویم فریق به هم تاویـل کوی بغیردَ تاویل نه څوك هم استدلال نه شی کولې نو په تاویلاتوکښې یوتاویـل دادې چه دا خصوصیت پیغمبری ووچه ترشپږو کالو پورې نکاح په ځائی وه.

③ په اول نکاح کښې یودَ تشبیه صورت دې چه دَ ړومبې نکاح په شان په نوی مهر اونوی نکاح سره نکاح اوشوه. باقی دَ ترمذی دواړه روایتونه صحیح دی او په دې کښې واضح تعارض دې. نو دویم فریق وائی چه دَ عمرو بن شعیب رضی الله عنه روایت کوم چه د دوې دلیـل دې چه نوې مهر اونوې نکاح اوشوه دا روایت راجح دې ځکه چه دا مثبت دې اودَحضرت ابـن عمر رضی الله عنه روایت نافی اونافی ومثبت کښې چه کله تعارض راځی نو مثبت اولی بالترجیح وی

د دویم فریق دوه قسمه دلائل:- د دویم فریق دَپاره دَ دوو قسم دلائلوضرورت دې

① هغه دلائل چه دَ عرض اسلام دَپاره مفید او مثبت وی

② هغه دلائل چه تباین دارین سره د فرقت دَ ثبوت دَپاره وی

په احد الزوجین باندې د عرض اسلام دلائل:-

① دَ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یوه واقعه د دویم فریق مستدل دې.

د هغې واقعې خلاصـه داده چه دَ داؤد بـن کـردوس بیـان دې چـه زمـونږ دَ بنوتغلب نـه دَیـو نصرانی سړی په نکاح کښې یوه نصرانی ښځه وه دې ښـځې اسلام قبـول کـړو اوخاونـدئی انکارکولو. حضرت عمر رضی الله عنه له چه کله خاونـه راوسـتلې شـو نوهغوی اوفرمائـل "اسلموالا فرقت بینکما" دې نصرانی اووئیل چه زه په دې وجه اسلام نـه قبلـوم چـه زه دَ عربـو نـه شرمیږم دوی بـه وائـی چـه دې سـړی دَ ښـځې دَ فـرج دَپـاره اسـلام قبـول کـړو. حضـرت عمـر رضی الله عنه پـه دواړوکښې جدائی اوکړه دا روایت زجاجة المصابیح ج۲ص ۴۲۰ باندې دَدې مصنف نقل

کړي دي او د عارضة الاحوذی مصنف ابن عربی شرح ترمذی کښې او امام طحاوی هم دا نقل کړي دي

④ د دویم فریق بله واقعه هم مستدل ده حضرت عمر رضی الله عنه ته دوه مشرکان راوستلې شو په معوی کښې یو مسلمان شوي وو حضرت عمر رضی الله عنه په هغه دویم باندې اسلام پیش کړو په انکار بندې په دواړو کښې جدائی اوکړې شوه معلومه شوه چه اسلام پیش کول ثابت دي او د فرقت نکاح د اسباب نه یو سبب انکار اسلام دي

⑤ اسلام رحمت دي شفقت اوطاعت دي لهذا دا پخپله د فرقت سبب نه شي جوړیدې په کوم کفرباندې چه اسلام پیش کړې شو اوهغه انکار اوکړو نو اوس انکار از اسلام به د فرقت ذریعه جوړیږی او قصور وار به هم هغه کافر ګرځولې شي په دې وجه عرض اسلام ضروری دې دې دپاره چه په اسلام باندې دتفریق زوجین الزام رانه شي

په تباین دارین سره د فرقت واقع کیدو دلائل:- ① اول دلیل قرآنی آیت دې ﴿ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ﴾ [سورت ممتحنة الایه ۱۰.] دې سره په واضحه توګه دا مسئله ثابتیږی چه تباین دارین دفرقت زوجین سبب دي

② دا آیت هم د دویم فریق مستدل دې ﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ﴾ [سورت ممتحنة الایه ۱۰.] که چرې تباین دارین د فرقت زوجین ذریعه نه ده نو دې ښځوسره نکاح څنګه جائزشوه د چاخاوندان چه په مکه کښې موجودوو.

③ امام ترمذی رحمه الله د عمروبن شعیب رضی الله عنه په حواله سره په خپل کتاب کښې نقل کړي دي ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رد ابنته زینب علی ابی العاص بن الربیع بمهر جدید ونکاح جدید [ترمذی ج ۱ ص ۲۱۷.]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۱۸۱] د سخر کنی په تعلق سره اووه قسمه ښځې حرامیدل

۳۱۸۷-[۱۹] (۱) [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «حُرِّمَ مِنَ النَّسَبِ سَبْعٌ [۲] وَمِنَ الصِّهْرِ سَبْعٌ [۳] ثُمَّ قَرَأَ ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ﴾ [النساء: ۲۳] الْآيَةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې د نسب له مخه د اوو ⑦ رشتو ښځي حرامي شوي دي. [۲] او د مصاهرت له مخه هم د اوو ⑦ رشتو ښځي حرامي شوي دي. [۳] بیا ابن عباس رضی الله عنهما دا آیت حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ (النساء ۴: ۲۳) تر آخره وویلو. (بخاري)

حل اللغات:- ① الصهر: سخرګنی.

۱) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۵۱۰۵

تسهيلات:

نوټ:- د سورت نساء آيت نمبر ۲۳ کښې د دغه ټولو محرماتو ذکر دې د نسبي رشتې والا د اووه ذکر دې او د سخرګنې رشتو د اکثر ذکر دې هلته اوګورئ (مؤلف)

[۲۱۸۲] د ميرنۍ لور سره د نکاح حرمت

۳۱۸۲-[۲۰] (۱)[۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ:[۲] «أَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا[۳] وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا فَلْيَنْكِحِ ابْنَتَهَا[۴] وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَنْكِحَ أُمَّهَا دَخَلَ بِهَا أَوْلَمْ يَدْخُلْ». [۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَا يَصِحُّ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ، إِنَّمَا رَوَاهُ ابْنُ لَهِيعَةَ وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ وَهُمَا يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه:[۱] او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار او هغه د خپل نيکه (حضرت عبدالله ﷺ) نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د ښځې سره نکاح او بيا د هغې سره جماع وکړي، نو د هغه د پاره د هغې د ښځې د لور سره (چې د هغې د مخکنې خاوند نه وي) نکاح کول جائز نه دی (ترڅو چې هغه ښځې لره يې طلاق ورکړي نه وي، يا هغه مړه شوي نه وي، ځکه چې هغه ښځه او د هغه لور يو ځای په خپله نکاح کښې ساتل په دې صورت کښې هم جائز نه دی)[۳] او کوم سړی چې د يوې ښځې سره نکاح وکړي نو اوس د هغه د پاره د خپلې منکوحې مور يعنی خپلې خواښې سره نکاح کول جائز نه دی، که د دې خپلې منکوحې سره يې جماع کړې وي که يې نه وي کړې.[۵] دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او وېلې يې دی چې دا حديث د خپل سند په اعتبار سره صحيح نه دی. ځکه چې دا ابن لهيعه او مثنی ابن صباح د عمرو ابن شعيب نه نقل کړی دی، او هغه دواړه د حديث د روايت کولو په سلسله کښې ضعيف شمېرل کيږي (ګويا دا حديث د خپلو راويانو د اعتبار نه خو صحيح نه دی، ليکن د خپل مفهوم او معنی د اعتبار نه صحيح دی، ځکه چې په دې حديث کښې کوم مفهوم بيان شوی دی هغه د قرآن د آيت مطابق دی)

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث وضاحت د حديث نمبر (۳۱۶۰) په تسهيل کښې ذکر شوې دی

---

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فيمن يتزوج المرأة ثم يطلقها قبل أن يدخل بها هل يتزوج ابنتها أم لا (رقم-۱۱۱۷)

[۵] بَابُ الْمُبَاشِرَةِ

خپلې ښځې سره دَ مباشرت بيان

خلاصة الباب:-

فيه خمسة عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① جواز الإتيان إلى الحائض من كل جانب في محل واحد: ۱، ۹.

② النهي عن إفشاء السر بين الزوجين: ۸.

③ حرمة الإتيان في الدبر: ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳.

④ حكم الغيلة تحريماً وتنزيهاً وبيان عدم تأثيرها حقيقة: ۷. ۱۴، ۶.

⑤ حكم العزل تحريماً وتنزيهاً وعدم الفائدة في فعله وذكر العزل بعد الغيلة: ۲، ۷، ۱۵. ۳، ۴، ۵. ۶.

قوله: المباشرة:

د مباشرت لغوى معنى:- دَ انسان ښکاره څرمن او ښکاره بدن ته وائى هم دَدې نه بشره دې خکه چه بشرهم انسان وی اودَ حیوان په مقابله کښې دَده بدن دَ ویښتو نه خالی او صف وی المباشرة الصاق البشرة بالبشرة: ته وئیلی شی چه دَ طرفین کولاؤ بدن یو بل سره اولګی دا لفظ په عربی کښې جماع سره خاص نه دې البته جماع نه کنایه کیدې شی لکه چه دلته المباشرة په معنی د "المجامعة دې. لیکن په ابواب الصوم کښې په احادیثو کښې دَ نبی کریم باره کښې دَ رمضان په ورځو کښې چه دَ "یباشر" کوم لفظ راغلې دې هغه الصاق المبشرة بالبشرة غیر الجماع په معنی کښې دې دَ کوم چه په اردو کښې ترجمه "بوس وکنار" کیږی

د حديث غلطه ترجمه:- کوموخلقوچه دَ بخاری شریف اردو ترجمه کښې دَدې لفظ ترجمه مباشرت سره کړې ده هغوی دیرلوئی ظلم کړې دې خکه چه مباشرت په اردو کښې جماع سره خاص دې نو په رمضان کښې نبی کریم دَ ورځې څنګه جماع اوکړه په دې ترجمه سره به دیرزیات خلق ګمراه شی

د باب د مضامينو اجمال:

په دې باب کښې دَ جائز او ناجائز مباشرت تفصیلات دی اودَمباشرت آداب اومسائل هم بیان شوی دی. لیکن په دې کښې دَ عزل احادیث زیات دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۱۸۴] د جماع په باره کښې د يهودو غلطه نظريه

۳۰۹۲-[۱] (۱) [۱] عَنْ جَابِرٍ قَالَ «كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ: [۲] إِذَا أَتَى الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا فِي قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ [۳] فَنَزَلَتْ ﴿نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ﴾ [البقرة: ۲۲۳]» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې يهودو به دا وئيل [۲] چې کوم سړی د خپلې ښځي سره د وروسته د طرف نه د هغه په مخکښې حصه (يعني په شرمگاه) کښې جماع وکړي، نو د هغه کوږ سترګی ماشوم پيدا کيږی. [۳] په دې خبره دا آيت نازل شو نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ ستاسو ښځي ستاسو دپاره پټي دي نو تاسو ته اختيار دی چې هغوئ ته د کوم طرف نه غواړي راشي. (دا روايت بخاري او مسلم نقل کړي دي)

تسهيلات:

قوله: كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ:

د يهودو غلطه عقيده:- يهودو به وئيل چې که يو کس ښځې سره داسې جماع اوکړی چې ښځه دې نه شاته اودريږی يا کينی او ددې مخکښې شرمگاه کښې خپل عضو داخل کړی نو ددې په وجه کاڼرې ماشوم پيدا کيږی.

د يهودو د ترديد دپاره د آيت نزول:- نو ددوئ ددې غلط خيال او د وهم د ترديد دپاره دا آيت مبارك نازل شو چې ستاسو بيبيانې ستاسو پټې دی، لکه څنګه چې ستاسو په پټو کښې فصل پيدا کيږی همداشان ستاسو ددې بيبيانو په ذريعه ستاسو اولاد پيدا کيږی په دې وجه تاسو خپلو پټو ته په راتګ کښې خودمختاره يئ، څنګه چې راتګ غواړئ نو راځئ که په ملاستنه وی . که په ناسته وی او که په ولاړه وی او که د وروستو نه وی اوکه د مخکښې نه وی . څنګه چې ستاسو زړه غواړی دوئ سره جماع کوئی . په هيڅ صورت کښې هم نقصان نشته دې

مرد په فرج کښې د جماع جواز:- خو شرط دادې چې جماع بهر صورت د ښځې په مخکښې حصه يعنی شرمگاه کښې اوکړې شی څکه چې کوم اعتبار سره ښځې ته پټې وئيلې شوې دې . ددې اطلاق د ښځې په مخکښې شرمگاه باندې کيدېشی مقعد باندې

۱) اخرجه البخاری فی كتاب تفسير القرآن/باب {نساؤكم حرث لكم فأتوا حرثكم أنى شئتم وقدموا لأنفسكم} [البقرة: ۲۲۳] الآية (رقم-٤٥٢٨) ومسلم فی كتاب النكاح/ باب جواز جماعه امرأته فی قبلها، من قدامها، ومن ورائها من غير تعرض للدبر(رقم-۱۱۷ - (۱٤۳۵)واخرجه ابو داود فی السنن كتاب النكاح/باب فی جامع النكاح (رقم-۲۱٦۳)والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة البقرة (رقم-۲۹۷۸) وابن ماجه فی كتاب النكاح/ النهی عن إتيان النساء فی أدبارهن (رقم-۱۹۲۵)

ددې اطلاق نشي کيدې ځکه چې مقعد د اولاد د پيدا کيدو ځائې نه دې بلکه د غو
اودس ماتي ځائې دې ، په دې وجه دا خبره ياد ساتل پکار دی چې په ورستو حصه کښې
بد فعلي يعنی اغلام کول صرف په اسلام کښې نه بلکه په هر دين کښې حرام دی

اشکال: - په ظاهره سوال او جواب کښې مطابقت نشته دې حالانکه که د حديث بيان
حقيقي معنی مراد وی نودا اشکال نه پيدا کيږی د عدم مطابقت سوال داشان دې چې
سوال د عزل د حرمت اود حلت باره کښې وو ، او په جواب کښې ددې فوائد او نقصانا
بيان کړې شوی دی

داشکال جواب: - نبی کريم ﷺ ډير په حکيمانه انداز سره د سوال د منشاء مطابق جواب
ورکړو چې ته دا کار ولې کوې ، کوم بچې چې به دنيا ته راځی نو هغه هيڅوك نه شي
بندولې، ځکه چې چا لره چې تقدير او دالله ﷻ حکم دې دنيا ته راولی نو هغه د نطفې نه
بغير هم راوستلې شی دا شان دا حديث پاك هم د عزل په جائز کيدو دلالت کوی

[۲۱۸٤] د عزل جواز

[۲] (١) ① وَعَنْهُ قَالَ: «كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ② وَزَادَ مُسْلِمٌ: «فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَلَمْ يَنْهَنَا».

ترجمه: ① او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې مونږ خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې
عزل کوی، او قرآن به نازليدلی (يعني د نزول سلسله جاري وه) خو په دې باره کی څه
ممانعت نازل نه شو ، (بخاري)

حل اللغات: - ① نَعْزِلُ: عزل، جدا کيدل، دجماع په وخت کښې جدا کيدل چه انزال بهر اوشی.

تسهيلات: **قوله:** نَعْزِلُ:

د عزل لغوی: - دَ عزل لغوی معنی جدا کول دی لکه ﴿فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ﴾
[بقرة ۲۲۲] دې

دعزل اصطلاحی تعريف: - دَ عزل اصطلاحی تعريف داسې دې جماع کولو وخت کښې
نطفه دَ انزال په وخت جدا کيدو سره ضائع کول په دې باب باندې دَ عزل احاديث حاوی دی
دَ بعضې نه دَ جواز پته لګی اودَ بعضې نه عدم جواز معلوميږی

د عزل حکم: - ① علامه ابن همام رحمه الله فرمائی چه اکثر علماء دَ عزل قائل دی درمختار هم
جائز ليکلی دی

---

١) اخرجه البخاری فی كتاب النكاح/باب العزل (رقم -۵۲۰۸) ومسلم فی كتاب النكاح/ باب حكم العزل (رقم -۱۳۸ - ۱٤٤۰) والترمذی فی كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی العزل (رقم -۱۱۳۷) وابن ماجه فی كتاب النكاح/ العزل (رقم -۱۹۲۷) واحمد فی المسند: ۳/۳۰۹

④ بعضي صحابه او بعضي سلف عزل ته ناجائز وائی ابن حزم هم دَ عدم جواز قائل دي بهرحال عام علماء فرمائی او په احاديثو کښي هم داشان دی چه وينځي سره بغيرد اجازت دَ وينځي نه عزل جائز دي اوآزادي ښځي سره دَ اجازت نه پس عزل جائز دي ځکه چه دَ تکميل شهوت کښي د ښځي دپاره دَ سړي اوبه سختي ضروري وی نو دادَ هغي حق دي که چرې هغه اجازت ورنه کړی نوناجائز دي بهرحال که اجازت اوشی نو عزل صرف دَ مباح په درجه کښي دي. پوره احاديثوته په کتو سره داسي معلوميږی چه دَ شريعت په نظر کښي عزل خوښ کړي شوي کارنه دي.

د حمل د بندولو دپاره د دوائي د استعمال حکم: – بعضي رواياتو کښي خو دي ته وأدخفی ونيلي شوي دي يعنی په پټه طريقه سره بچي ژوندي ښخول. بهرحال صاحب دَ هدايه چه کله دَ عزل متعلق ليکلي دی "وکره العزل" چه عزل سره دَدې مباح دي ليکن دا يوناخوښه عمل دي. په دې باندې دَ هدايه شارحينو کفايه عنايه اوفتح القدير کښي دَ ضبط توليد متعلق ليکلی دی چه که نن صبا څوك دَ بچو بندولودپاره دَ حمل کيدو نه مخکښي مخکښي نطفه دَ څه دوائی په ذريعه ضائع کول غواړی نودا جائز دی هغه حضرات ليکی چه نن صبا دَ اولاد تربيت خو کيږی نه په دې وجه دَ فاسقانو فاجرانو اودَ الله تعالی دَ ښمنانو زياتولوته څه ضرورت دي. دا دَ هغه حضراتو يوښه نيت دي دغه شان که چرې ښځه کمزوري وی بيماره وی يا اولاد زيات وی نوهغه هم دَ عذر په توګه باندې دوائی استعمالولي شی.

د ضبط اولاد ترغيبات: – ليکن نن صباچه دَ بدتميزئی کوم طوفان راؤچت شوي دي منصوبه بندی اوکړئی بچی هم دوه ښه دی، وقفه ضروري ده نودَدې خلقو نيت څه بل څه وی په کوم کښي چه دَاسلام او مسلمانانو عداوت او دښمنی پټه پرته وی اودَ الله تعالی په رازق کيدو باندې عدم اعتماد وی. په دې نظريه سره څه دوائی استعمالول جائز نه دی علماء بهتر فتوی ورکولي شی.

[۳۸۵] د وينځي څخه د عزل کولو جواز

۳۸۵ — [۳] (۱) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۳] إِنَّ لِي جَارِيَةً هِيَ خَادِمَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ [۴] فَقَالَ: "اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا" [۵] فَلَبِثَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَاهُ [۶] فَقَالَ: إِنَّ الْجَارِيَةَ قَدْ حَبِلَتْ. قَالَ: "قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي [۲] چي يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کښي په

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب حکم العزل (رقم-۱۳۴ - (۱۴۳۹) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب ما جاء فی العزل (رقم-۲۱۷۳) واحمد فی المسند: ۳۱۲/۳

حاضریدو سره عرض اوکړو[۳] چې زما سره یوه وینځه ده، چې زمونږ خدمت کوي، او زه د هغې سره جماع هم کوم، لیکن زه دا نه خوښوم، چې هغه حامله شي،[۴] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې که ته غواړي عزل کوه، لیکن د هغې وینځې په ذریعه چې د کوم شي پیدا کیدل مقدر شوي دي، هغه به ضرور پیدا کیږی ،[۵] د دې نه وروسته تر څه مودې پورې هغه سړی رانغلی، او بیا چې هغه راغلی،[۶] نو هغه اوویل چې زما وینځه حامله شوې ده، حضور ﷺ (د دې اوریدو سره) وفرمایل چې ما خو ته مخکې خبر کړې وې، چې د هغه په ذریعه د کوم شي پیدا کیدل مقدر شوی دی هغه به ضرور پیدا کیږی ۔ (مسلم)

حل اللغات - ① تَحْبَلَ: حملداره شوه ② حَبِلَتْ: حامله شوه

تسهیلات:

نوټ: - د حدیث د ترجمې څخه مطلب واضح دی. د مزید تفصیل ضرورت نشته

[۲۱۸۶] د تقدیر نه بدلیدل

۳۱۸۶ — [۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ [۲] فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ، فَاشْتَهَيْنَا النِّسَاءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ، وَأَحْبَبْنَا الْعَزْلَ [۳] فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ وَقُلْنَا: نَعْزِلُ وَرَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ؟ [۴] فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ [۵] قَالَ: مَا عَلَيْكُمْ أَلَّا تَفْعَلُوا، [۶] مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري ﷺ وایي کوم وخت چې مونږ د رسول الله ﷺ سره د بني المصطلق جنګ ته ولاړو،[۲] نو د عربو په قوم کنبې څه وینځې غلامان زمونږ لاس ته راغلل، مونږ ته د ښځو خواهش وو، او مجرد اوسیدل مونږ ته سخت مشکل شو ، او د هغه وینځو سره چې زمونږ لاس ته راغلی وې) مونږ عزل کول وغوښتل (چې د هغوی حمل ونشي)[۳] آخر مونږ د عزل اراده وکړه، خو بیا مونږ سوچ وکړي، چې رسول الله ﷺ په مونږ کنبې موجود دي، نو د حضور ﷺ نه د پوښتنې کولو نه بغیر عزل کول زمونږ د پاره جائز دی که نه؟[۴] مونږ د حضور ﷺ نه په دې باره کنبې پوښتنه وکړه، [۵] نو حضور ﷺ وفرمایل چې که تاسو عزل ونه کړي، نو په دې کنبې ستاسو څه نقصان دي؟،[۶] ځکه چې تر قیامته چې کوم نفس پیدا کیږی هغه خو به (خامخا) پیدا کیږی ۔ (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① الْعُزْبَةُ: مجرد اوسیدل. د ښځو نه جدا اوسیدل ② بَيْنَ أَظْهُرِنَا: موجود کیدل ③ نَسَمَةٌ: نفس ④ كَائِنَةٌ: پیدا کیدل

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی /باب غزوة بنی المصطلق، من خزاعة، وهی غزوة المریسیع (رقم-۱۳۸-٤) ومسلم فی کتاب النکاح / باب حکم العزل (رقم-۱۲۵ - (۱٤۳۸) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح /باب ما جاء فی العزل (رقم-۲۱۷۲) کتاب الطلاق باب ما جاء فی العزل (رقم-۹۵)

تسهيلات:

قوله: فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ:

په عربوه غلامي راتلو امكان: - علامه نووي رحمه الله فرماني دَدي حديث نه داخبره ثابتيږي چه په عربوباندې هم غلامي راتلې شي ځکه چه دلته دبنومصطلق خلق غلام او وينځې جوړولو ذکردي اوهغه عرب وو. دَ امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله هم دغه مسلك دې امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي عربوخلقوته الله تعالى مخصوص شرف ورکړې دې په هغوی باندې غلامي نه شي راتلې.

قوله: مَا عَلَيْكُمْ أَلَّا تَفْعَلُوا:

د مذکوره جملې دوه مطلبونه: - ① دلته په ان باندې فتحه اوکسره دواړه جائز دی معنی دا چه که چرې تاسو عزل نه کوئی نو په دې کښې هيڅ نقصان نشته دې.

② بعضې دَ لا کلمه زائده منلې ده. ترجمه دا چه په عزل کولوکښې هيڅ قباحت نشته

[۳۱۸۷] دعزل په وجه د تقدير نه بدليدل

٣١٨٧ـــ[٥] (١) ① وَعَنْهُ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الْعَزْلِ ② فَقَالَ: "«مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُونُ الْوَلَدُ ③ وَإِذَا أَرَادَ اللهُ خَلْقَ شَيْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَيْءٌ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دی چې د رسول الله ﷺ نه د عزل په باره کښې پوښتنه وشوه (چې عزل کول جائز دي که نه؟) ② نو حضور ﷺ وفرمايل چې د مني د هرې اوبو نه خوماشوم نه جوړيږي، ③ او هر کله چې الله تعالى جل جلاله د يو شي د پيدا کولو اراده وکړي، نو د هغه د پيدا کولو نه يې هيڅ څيز نشي منع کولی. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الْعَزْلِ

د تيوس منشاء: - په ظاهره اشکال پيدا کيږی چه دَ سائل په سوال اودَنبی کريم په جواب کښې په ظاهره مطابقت نشته دې خوکه په ژور نظرسره اوکورې نوڅه سوال نه راپيدا کيږی ځکه چه دَ سوال مقصد داوو چه دَ عزل اجازت ملاؤشی دې دَپاره چه دَ عزل کولوپه صورت کښې دَاولاد پيدا کيدو ويره نه وی

د منې دخول سره د علوق عدم قطعيت: - هم دَدې سوال دَدې مفهوم په رڼا کښې رسول الله ﷺ جواب ورکړوچه تاسو ګڼړی چه دَ منی دننه تللوسره به بچې پيدا کيږی او په نه تللوسره به نه پيدا کيږی دا غلطه ده بعضې وخت اوبه ورځی خو بچې نه پيدا کيږی

(١) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب حکم العزل (رقم-١٣٣ - (١٤٣٨)

او بعضې وخت او به نه خې خو الله تعالی د مور په رحم کښې بچې راپیدا کوی نو دا رومد! په نطفه بانديې نه دي بلکه د الله تعالی په قدرت دي او دا جدا خبره ده چه الله تعالی د تولدو تناسل سلسله نطفې سره یوځائی کړې ده مګر نطفه مؤثر حقیقی نه دې په دې وجه کیدې شی چه د نطفې یوه ذره دننه اورسی او د هغې نه الله تعالی بچې پیدا کړی د ټولې منئی نه خو بچې نه پیدا کیږی

[۲۱۸۸] د رضاعت په موده کښې د جماع جواز

۲۱۸۸ــ[۲] (۱) [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، [۲] «أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۳] إِنِّي أَعْزِلُ عَنِ امْرَأَتِي. [۴] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "لِمَ تَفْعَلُ فِي ذَلِكَ؟" [۵] فَقَالَ الرَّجُلُ أُشْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا. [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَلَوْ كَانَ ذَلِكَ ضَارًّا ضَرَّ فَارِسَ وَالرُّومَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعد ابن ابي وقاص ﷺ وايي [۲] چې (يوه ورځ) يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغلی، او هغه اوویل [۳] چې زه د خپلي ښځې سره عزل کوم. [۴] حضور ﷺ (د دې اوریدو سره) وفرمايل چې ته ولې داسې کوې؟ [۵] هغه سړي اوویل چې زه د هغه د پينو خوړونکی ماشوم په وجه ويريږم (چې چرته د رضاعت په موده کښې هغه حامله نشي، او په دې حالت کښې ماشوم ته يې ورکول نقصان ونه رسوي) [۶] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې که دي نقصان رسولی، نو روم او فارس والاوو ته به يې ضرور نقصان رسولی. (مسلم)

حل اللغات: - ① أُشْفِقُ: زه ويريږم ② ضَارًّا: نقصان اورسولو.

تسهیلات: **قوله:** أُشْفِقُ عَلَى وَلَدِهَا:

د باطلې نظريې ترديد: - د عامو خلقو خيال دا ووچه د رضاعت په موده کښې په جماع کولو سره او بيا حمل حصاريدو سره د ښځې په پينو کښې خرابي راځي په دې وجه دغه پينې څکلو سره ماشوم ته نقصان رسيږی او د ښځې پينې هم کميږی. هم د دې ويرې هغه سړی د نبی کريم نه د عزل اجازت اوغوښتلو. د دې په جواب کښې نبی کريم اوفرمائيل که چرې داسې پينې څکلو سره بچې ته نقصان کيدلو نو د فارس اوروم خلقو ته به نقصان کيدلو ځکه چه هغوی دا عمل کوی. معلومه شوه چه په دې کښې نقصان نشته دې نو بيا د عزل څه ضرورت دې دې سره د عزل د ناخوښه کيدو اشاره ملاويږی.

---

۱) اخرجه مسلم في كتاب النكاح/ باب جواز الغيلة، وهي وطء المرضع، وكراهة العزل (رقم-۱۴۳ - (۱۴۴۳))واحمد في المسند: ۲۰۳/۵

[۲۱۸۹] د غیله کولو حکم

۳۱۸۹- [۷] (۱) [۱] وَعَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ قَالَتْ: [۲] «حَضَرْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي أُنَاسٍ [۳] وَهُوَ يَقُولُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ، [۴] فَنَظَرْتُ فِي الرُّومِ وَفَارِسَ فَإِذَا هُمْ يُغِيلُونَ أَوْلَادَهُمْ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ ذَلِكَ شَيْئًا، [۵] ثُمَّ سَأَلُوهُ عَنِ الْعَزْلِ، [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ذَلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ وَهِيَ ﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ﴾ [التكوير: ۸].» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او بي بي جذامه بنت وهب ﷺ وايي [۲] چي (يوه ورځ) زه د رسول الله ﷺ په خدمت كښي حاضره شوم، هغه وخت د خلقو يو جماعت هلته موجود وو، [۳] او حضور ﷺ هغوئ ته وفرمايل چي ما دا اراده كړي وه، چي خلق د غيله (د حمل په حالت كي وړوكی ته پئ وركولو) نه منع كړم، [۴] ليكن بيا ما وليدل چي د روم او فارس خلق د خپل اولاد په موجودګي كښي غيله كوي، او په دي وجه د هغوئ اولادو ته څه نقصان نه رسيږي نو ما دا اراده پريښودله [۵] بيا خلقو د عزل په باره كښي د حضور ﷺ نه پوښتنه وكړه چي د دي څه حكم دی؟) نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چي دا عزل كول خو په پټه طريقه سره ژوندی اولاد ښخول دي، [۶] او دا يو خراب عادت دی، چي د دي آيت كريمه وَإِذَا الْمَوْؤُدَةُ سُئِلَتْ الآية (او هر كله چي له ژوندی ښخي شوی جينئ نه پوښتنه وشي، چي هغه د كومي ګناه په بدل كښي قتل شوي وه) په حكم كښي داخل دی، (مسلم)

حل اللغات: - ① أُنَاسٍ: جماعت، ډله، ② هَمَمْتُ: ماقصد اوكړو ③ الْغِيلَةِ: غيله دَ غين كسره سره غيل بفتح الغين نه ماخوذ دي. په حالت دحمل كښي بچی ته پئ وركول. ④ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ: په پټه طريقه سره ژوندی اولاد ښخول.

تسهيلات:

قوله: لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ:

د غيلة په تعريف كښي دوه اقوال: - ① اصمعی رحمه الله اودَ هغه ملګری اهل لغت اوامام مالك رحمه الله فرمائي چه دَ پيئی وركونكې ښځې سره كله دَهغې خاوند جماع اوكړی نودَغه خاص فعل نوم غيله دې

② ابن سكيت وائی چه حامله ښځې سره كله دَهغې خاوند دَ حمل په حالت كښې جماع اوكړی نودغه مخصوص عمل ته غيله وائی

---

¹) اخرجه مسلم فى كتاب النكاح/ باب جواز الغيلة، وهي وطء المرضع، وكراهة العزل (رقم-۱۴۱ - (۱۴۴۲))واخرجه ابو داود في السنن كتاب الطب/باب فى الغيل (رقم-۳۸۸۲) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:الغيلة (رقم-۳۳۲۶) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ الغيل (رقم-۲۰۱۱) كتاب الرضاع/باب جامع ما جاء فى الرضاعة(رقم-۱۶)واحمد فى المسند: ۶ ۴۳۴

د عربو غيله نه د ځان ساتلو عقيده او د دې باره کښې شرعي حکم: - عربو به د دغه عمل نه ځان ساتلو اوڼيل به ئې په دې سره بچی ته نقصان رسيږي. دا عقيده په هغوی کښې ښه ښکاره جاره اوخاص اوعام کښې مشهوره وه. نبی کريم اراده اوکړه چه امت د دې نه منع کړي ليکن چه کله نبی کريم اوکتل چه فارس اوروم کښې خلق دا عمل کوي اوهغوی ته نقصان نه رسيږي اونه هغوی د دې څيز څه پرواه کوي نو نبی کريم ﷺ امت د دې عمل نه منع نه کړو

د جمهورو په نيز غيله جائز ده مګر د ماشوم د نقصان خطره ده په دې وجه خلاف اولی دي

قوله ذٰلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ:

د عزل کراهت: - يعنی عزل په پټه ژوندی خښول دی. په دې جملې سره د عزل د کراهت طرف ته واضح اشاره ملاويږي. "الوأد" د ژوندی خښولو په معنی کښې دې يعنی څوك ژوندې خښول د علماؤ يوه طبقه د عزل د عدم جواز طرف ته تلې ده ليکن د جمهور علماؤ په نيز عزل مباح دې سره د دې چه حضرت عمر رضي الله عنه خلق د عزل نه منع کړی دی او حضرت عثمان رضي الله عنه هم منع کړی خو بيا هم دا نهی کراهت تنزيهی اوخلاف اولی باندې به حمل کيږي

[۲۱۹۰] د خپلې ښځې د پټو خبرو ظاهرونکی د پاره وعيد

[۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] إِنَّ أَعْظَمَ الْأَمَانَةِ عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: «إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلُ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به د الله تعالی جل جلاله په نزد د ټولو نه لوی امانت، [۳] په يو روايت کښې داسې دي چې د قيامت په ورځ د الله تعالی جل جلاله په نزد به د مرتبې په اعتبار سره د ټولو نه خراب سړې هغه وي. چې د خپلې ښځې سره هم بسترشي، او د هغه ښځه د هغه تعلق اوساتی، اوبيا هغه سړی د هغې (ښځې) پټې خبرې ظاهروي يعنی د شپې حالات خلقوته بيانوي، بخاري مسلم

حل اللغات - ① يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ: خپلې ښځې سره تعلق اوساتی جماع اوکړی.

تسهيلات:

قوله يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ:

د ښځې او خاوند پټې خبرې ښکاره کول: - يعنی د ټولونه لونی امانت کوم کښې چه بنده خيانت اووکړی د هغه سړی خيانت دې الخ الله تعالی ښځه اوخاوند د يوبل د پاره لباس پيدا کړی دی د هغوی په مينځ کښې پټ جنسی تعلقات قائم وی اودا دواړه د يوبل راز دان

۱) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب تحريم إفشاء سر المرأة (رقم-۱۲۳ - (۱۴۳۷) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأدب/باب فی نقل الحديث (رقم-۴۸۷۰) واحمد فی المسند: ۶۹/۳

وی اوس که په دوی کښې هریوسحر پاسی او د شپې پټ حالات ښکاره کوی اووینا کوی گرځی چه زما د ژوند ملګرې داسې ده اوداسې ده ما داسې اوکړه اوهغې داسې اوکړه لکه چه د بعضې خلقو عادت وی د داسې خرابو حرکتونونه اسلام مونږ منع کوی اودا پټ راز ښکاره کول ډیر لوئی خیانت دې اوډیره لویه بې غیرتی هم ده اوډیر لوئی شرارت هم دې [الکشف ۲۰۹.]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۱۹۱] دَ حیض په دوران ښځوسره د مجامعت حرمت

—[۹] (۱) ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ «أُوحِيَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ﴿نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ﴾ [البقرة: ۲۲۳] الْآيَةَ ② أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحَيْضَةَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې په رسول الله ﷺ دا آیت نازل شو نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ. الآیة یعني ستاسو ښځي ستاسو پټی دي، خپلو کښتو (پټی) ته راځی الخ نو تاسو چې څنګه غواړي د هغوئ سره مجامعت کوي ② که د مخ نه د مخ په جانب کښې راځي. یا د وروسته نه د مخکي په جانب کښې راځي، لیکن په مقعد (د شاحصه) کښې د دخول کولونه پرهیز کوي (څکه چې دا مردار و بوی ناکه او مردار ځایي دی) او د حیض په حالت کښې جماع مه کوی، (ترمذي ابن ماجه دارمي)

تسهیلات:

قوله: فَأْتُوا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ:

د لفظ انی نه د روافضو یو باطل استدلال: —لفظ اَنّٰى مِنْ اَیْنَ معنی کښې دَعموم مکان دپاره راځی "اي من این شئتم" اوډ کیف په معنی کښې هم راځی دکوم نه چه عموم احوال مراد اخستې شی

روافض دواړه معنې اخستلوسره وطی فی الدبرجائز ګرځولي دي او په قبائح کښې راګیرشو بعضې خلقو دَ عبدالله بن عمر رضی الله عنه دَ یو مجمل کلام نه غلطه فائده اوچتولوسره دهغوی طرف ته غلط نسبت کړې دي چه هغوی "انی شئتم اي فی دبرها" فرمائیلی دی دا سراسر بهتان دې څکه چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه وطی فی الدبر باره کښې فرمائیلی دي "هل یفعل ذلك احد من المسلمین" آیا یو مسلمان بدفعلی کولې شی؟

د استدلال جواب: —روافض چه دَ انی شئتم نه کوم دَ عموم افعال اخستوسره وطی فی الدبر

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة البقرة (رقم-۲۹۸۰) واحمد فی المسند:۱/۲۹۷

جائز گرخولی دی ددې جواب دادې چه د آیت دَ سیاق او سباق نه معلومیږی چه دلته عموم موضع مراد نه دې بلکه عموم احوال مراد دی یعنی موضع خاص وی کیفیت عام وی په ناسته وی او که په ملاسته وی په اړخ وی پورته بښکته وی قعود وی دا ټول احوال جائز دی مگر شرط دادې چه وطی په موضع حرث کښې وی موضع فرث کښې نه وی شیعه په هر عمل کښې دَ مسلمانانو نه جدا تلل غواړی دلته هم هغوی جدا لار جوړه کړه "خذلهم الله کما خذلوا الاسلام".

[۳۳] زنانو ته سره د شا طرفه د جماع کولو حرمت

۳۳ـ[۱۰] (۱) [۱] وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ [۳] لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَدْبَارِهِنَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت خزیمه ابن ثابت ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالیٰ ﷻ د حق خبري کولو نه حیا نه کوي، [۳] تاسو د ښځو په مقعد کښې بدفعلي مه کوی، یعنی د خپلو ښځو سره لواطت مه کوی، احمد، ترمذی، ابن ماجه، دارمی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ:

دحیاء تعریف: - حیاء هغه تغیرته وئیلې کیږی چې د عیب لګیدو او د بد وئیلو د ویرې په انسان کښې واقع کیږی.

دالله تعالیٰ په حق کښې دحیاء مطلب: - اوچونکه د الله ﷻ په ذات کښې د څه قسم تغیر واقع کیدل محال دی، په دې وجه دې ځائې کښې د حیاء حقیقی معنی مراد نه ده. بلکه دې ځائې کښې مجازی معنی مراد ده یعنی پرینبودل. نو ددې جملې مطلب دادې چې الله ﷻ ته په حق خبره کولو سره حیاء نه ورځی، نو ددې نه پس والا مضمون دپاره دا جمله د تمهید په طور ذکر کول ددې بد فعل دیر زیات مذمت (غندنه) او خرابی بیانول مقصود دی چې ددې حدیث پاك نه معلومه شوه چې بدفعلی حرامه او ډیرزیات قباحت والا کار دې

قوله: لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَدْبَارِهِنَّ

ښځې سره په دبر کښې د جماع دوه صورتونه اودهريو حکم: - علامه طيبى رحمه الله فرمائی

① که یو کس دا بد فعل یو اجنبی ښځې سره اوکړی نو دا به د زانی په حکم کښې وی

② که خپلې بی بی یا وینځې سره اوکړی نو د حرامو مرتکب به وی. خو ددې په وجه به دې نشی سنګسارولې او نه به په ده باندې حد جاری کیږی البته ده ته به تعزیرا سزا ورکولې کیږی

۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب النكاح/ النهي عن إتيان النساء في أدبارهن (رقم-۱۹۲۴)واحمد في المسند: ۲۱۳/۵

خپل غلام سره د لواطت سزا- علامه نووی رحمه الله فرمائی که یو کس خپل غلام سره بدفعلی اوکړه نو دا داجنبیه سره د بدفعلۍ په حکم کښې دې ، اوکه مفعول وړوکې وی یا مجنون وی یا ده سره زبردستی اوشی نو په مفعول باندې حد نشته دې

د لواطت په سزا کښې مذاهب:-

① د جمهورو په نزد د لواطت حکم هم د زنا د حد پشان دې چې کوم حد د زنا دې دغه حد به د لواطت هم وی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چې لوطی دپاره حد نشته دې بلکه تعزیر دې او تعزیر د حاکم په اختیار کښې وی . او په دې تعزیر دې فعل کوونکی لره قتل کولې هم شی او په دۀ باندې دیوال هم راغورزولې شی. او سنګسارولې هم شی. ګویا د حد نه هم زیاته تعزیراً سزا ورکولې شی.

[۳۱۹۲] خپلې ښځې سره د شا طرفه راتلونکی باندې لعنت

[۱۱] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«مَلْعُونٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② هغه سړې ملعون لعنتې دې چې د خپلې ښځې سره بد فعلې وکړي، (احمد ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: فِي دُبُرِهَا:

د لواطت د ګناه لوئوالې؛ خپلې بی بی سره چه ښځه هم ده بدفعلی کول خومره لوئی جرم دې نودَ پردو ماشومانو قریب البلوغ او سړو سره دَ بدفعلی کونکی به کومه ټکانه وی پخوانوامتونوکښې قوم لوط په مکمل توګه دَدې جرم په سزاکښې تباه شوې دې. په دې خراب کار سره عرش په لړزیدوکیږی. بعضې وائی چه دَ دې فعل نه پس دَدې جرم مرتکب په اووه سمندرونوکښې هم غسل اوکړی بیاهم ده ته طهارت نه حاصلیږی. ښکاره خبره ده چه ظاهری غسل اواوبوسره دغه باطنی خباثت او ګناه چرته ختمیدې شی.

دَ لواطت په سزا کښې مذاهب:-

① دَ جمهورو په نیزدَ لواطت سزا دَ زنا دَ حدپه شان ده لهذا هم دَهغې په شان حدنافذ کیږی صاحبین هم دَ جمهورو سره دی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه په لواطت کښې تعزیردې

---

(۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح /باب في جامع النكاح (رقم-۲۱۶۲)واحمد في المسند: ۲/۴۴۴

د اول فریق دلائل: - دَحضرت علی رضی الله عنه نه نقل دی چه هغه لوطی سنګسار کړې وو دَ حسن بصری رحمه الله او ابراهیم نخعی رحمه الله نه هم دغه شان نقل دی

② په عقلی دلیل کښې جمهور فرمائی چه په لواطت سره قضاء شهوت په مکمل درجه سره کیږی لهذا دادَ زنا په حکم کښې دې

د دویم فریق دلیل: - ځکه چه دا دَ یوحدلاندې راوستل ګران دی که چرې دا په یوحد کښې په متعین توګه باندې داخل وې نوصحابه کرام به دَدې په سزا کښې مختلف نه وې حالانکه مختلف صحابه کرامو مختلف سزاګانې ورکړی دی. دادَ دې حبرې دلیل دې چه په دې کښې حدنشته دې البته تعزیردې. په تعزیرکښې دې قتل کولې هم شی سنګسار کولې هم شی ځکه چه تعزیردَامیر په اختیارکښې دې. لهذا په احنافو باندې دا اعتراض دَ حسد دَ وجې نه دې چه هغوی دَ لواطت دَ حد قائل نه دی حالانکه دَهغوی په نیزخودَ حد نه هم په دې بد عمل باندې دَسخت نه سخت سزا ورکولې شی.

د لوطی په سزا کښې د صحابؓ اختلاف: - ① چا لوطی دَ غرنه راغورزولې دې

② چا پرې دیوال راګذار کړې دې

③ چا په سمندر کښې ډوب کړې دې

④ چا په اور کښې سوزولې دې

⑤ چا دَ چت نه راګذارولوسره پرې دَ شانه کانړی ورولې دی.

[۳۱۴۳] لوطی ته د الله تعالی نظر نه کول

۳۱۴۳ - [۱۲] (۱) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِنَّ الَّذِي يَأْتِي امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَيْهِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② کوم سړی چې د خپلي ښځي سره بد فعلي کوي، الله تعالی جل جلاله د هغه طرف ته (د رحمت او شفقت په نظر سره) نه ګوري. (ترمذي)

تسهیلات:

نوټ: - د دې حدیث تشریح د حدیث نمبر (۳۱۸۳) په تسهیل کښې ذکرشوې ده.

[۳۱۴۵] په لوطی باندې د الله تعالی غصه

۳۱۴۵ - [۱۳] (۲) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا يَنْظُرُ اللهُ إِلَى رَجُلٍ أَتَى

۱) اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب النکاح / النهی عن إتیان النساء فی أدبارهن (رقم-۱۹۲۳)
۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی کراهیة إتیان النساء فی أدبارهن (رقم-۱۱۶۵)

رَجُلًا أَوِامْرَأَةً فِي الدُّبُرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالىٰ جل جلاله دهغه سړي طرف ته د رحمت او شفقت په نظر سره، نه ګوري چې د سړي يا د ښځې سره بدفعلي کوي. (ترمذي)

تسهيلات:

نوټ: - د دې حديث تشريح د حديث نمبر (۳۱۸۳) په تسهيل کښې ذکرشوې ده

[۳۱۹۶] دغيله ممانعت

[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «لَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ سِرًّا [۳] فَإِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فَيُدَعْثِرُهُ عَنْ فَرَسِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بي بي اسما بنت يزيد رضي الله عنها وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] چې تاسو خپل اولاد په مخفي (پټ) طور سره مه قتلوی، [۳] ځکه چې غيل، په سواره باندې اثر اندازه کيږي، او هغه د آس نه غورځوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْغَيْلَ: ماشوم ته په حمل کښې پئ ورکولو سره چه کومه بيماری پيدا کيږی هغې ته غيل وائي. ② الْفَارِسَ: شهسوار، په آس باندې سور شوې کس، ③ فَيُدَعْثِرُهُ: راوبغورزولو.

تسهيلات:

قوله: فَيُدَعْثِرُهُ:

د لفظ يدعثره لغوی تحقيق: - دعثر يدعثر دعثرةً د راغورزولو په معنی کښې دې يعنی دَ داء الغيل اثر به دَهغه ماشوم په خپو اوبدن دَ کمزورتيا په صورت کښې ظاهريږي. کله چه ماشوم سړې شی او په اس باندې سوريږی او هغه زغلوی نو دا بيماری خپل اثر ښائی نو هغه داس نه پريوځی او هلاکيږی. لکه چه دا پټ قتل دې نو اووفرمائيلې شو چه خپل اولاد مه قتل کوئی. دَ داء الغيل تفصيل تيرشوې دې چه دَدې بيمارئی اثر په اندامونو باندې پريوځی اودا توله خرابی د دغه غلطو پيئو نتيجه ده چه دَ خاوند دَجماع په وجه چه دَ ښځې پيئی خراب شو او ماشوم اوڅکل يا دَ حمل په حالت کښې هغې سره جماع اوکړې شوه

د غيل په احاديثو کښې تعارض: - دلته سوال دا پيدا کيږی چه دې نه وړاندې نبی کريم دَ غيل عمل مباح ګرځولې دې په دوو حديثونو کښې دا خبره راغلې ده چه غيل سره هيڅ نه کيږی او اوس په دې حديث کښې دَغيل نقصان منلې شوې دې؟

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الطب/باب في الغيل (رقم-۳۸۸۱) وابن ماجه في كتاب النكاح/ الغيل (رقم-۲۰۱۲)واحمد في المسند: ۴۵۸/۶

د تعارض جوابونه:- ① علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه په تیرو شوو احادیثو کښې د غیله دنقصان نفي د اهل جاهلیت د عقیدې په رڼا کښې وو چه هغوی د غیلې اثر مؤثر حقیقي ګڼړلو نونبی کریم نفي اوفرمائیله او دلته په دې کښې في الحمله د اثرطرف ته اشاره کړې ده چه في الجمله ددې اثر پریوځي

② دا په شروع کښې نبی کریم اراده کړې وه چه غیله حرام اوګرځوي روستو بیا دنبی کریم اجتهاد بدل شو د زیربحث حدیث تعلق کیدې شي هغه زمانې سره وي کوم وخت چه د غیله د ممانعت خبرې کیدلې [الکاشف ۶/۳۱۱.]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۱۹۷] دعزل مشروط جواز

[۱۵] (۱) ۱ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: ۲ «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يَعْزِلَ عَنِ الْحُرَّةِ إِلَّا بِإِذْنِهَا.» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه وایي ۲ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حرې (آزادې ښځې) سره د هغه د اجازت نه بغیر، د عزل کولو نه منع فرمایلې ده، (ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله إِلَّا بِإِذْنِهَا

آزادې ښځې څخه د عزل اجازت غوښتل:- ① د آزادې ښځې سره که د جماع په وخت کښې عزل اوشي نو دهغې نه اجازت اخستل ضروری دی. د هغې د اجازت نه دې بغیر عزل او نه کړې شي

د اجازت غوښتلو دوه وجوهات:- ① که ښځه بچي غواړي نو سړی ته دا اختیار نشته دې چې هغه دښځې دا خواهش پورا نه کړي او د عزل په وجه بچي نه پیدا کیږي

② دعزل په وجه دښځې په جنسی لذت کښې کمې راځي که یوه ښځه د عزل په وجه خپل جنسي خواهش کښې کمې محسوسوي نو دا هغې سره بې انصافي ده. په دې وجه ضروري ده چې د عزل دپاره دې د ښځې نه اجازت طلب کړې شي که هغه اجازت اوکړې نوبیا عزل کولې شي، اوکه اجازت ورنکړي نو عزل دې اونه کړې شي.

۱) اخرجه احمد في المسند ۳۱/۱

[۶] بَابُ مَسئلة خيار العتق

خلاصة الباب:-

فيه أربعة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① ثبوت خيار العتق للأمة إذا كان زوجها عبدا: ۱، ۲.

② جواز الشفاعة في الرجوع إلى الزوج السابق: ۲.

③ امتداد خيار الأمة إلى قبل الجماع مع الزوج: ۴.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۱۹۸] وینزۍ ته د آزادۍ څخه روسته د نکاح د فسخ اختیار

۳۱۹۸ -[۱] (۱) [۱] عَنْ عُرْوَةَ «عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لَهَا فِي بَرِيرَةَ: [۲] خُذِيهَا فَأَعْتِقِيهَا وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا [۳] فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا [۴] وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت عروه د ام المؤمنين بي بي عائشي ﷵ نه نقل كوي چې رسول الله ﷺ بي بي عائشي ﷵ ته د بريره ﷵ په باره كښې وفرمايل [۲] چې هغه واخله، او بيا هغه آزاده كړه، او د بريره ﷵ خاوند غلام وو، [۳] څكه حضور ﷺ هغه ته اختيار وركړي وو، اوبريره ﷵ (د دي اختيار مطابق) خپل ځان د خپل خاوند نه جدا كړي وو، [۴] او كه د هغه خاوند آزاد وى، نو حضور ﷺ به هغه ته دا اختيار نه وو وركړي، (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: خُذِيهَا فَأَعْتِقِيهَا وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا:

د حديث پس منظر او شان ورود:- مدينه منوره كښې دَ يو يهودى وينځه وه دكومې نوم چه بريره وه. دَهغې مالك دَ . اوقيه په بدله كښې هغه مكاتبه جوړه كړه. دَبدل اوكتابت دَ امداد په سلسله كښې بريره حضرت عائشې ﷵ له راغلې وه. حضرت عائشې ﷵ هغه واخسته او بيائى آزاده كړه. دَ اخستلو په وخت كښې دَ بريره يهودى مالك دَدې شرط ذكر اوكړو چه دَ بريره دَ ولاء حق دَهغې دَمړه كيدونه پس هم مونږ ته ملاويږى. حضرت عائشه

۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب بيع الولاء وهبته (رقم-۲۵۳۵) ومسلم في كتاب العتق/باب إنما الولاء لمن أعتق (رقم) ۸ - (۱۵۰۴) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق/باب في المملوكة تعتق وهي تحت حر أو عبد (رقم-۲۲۳۳) والترمذي في كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في المرأة تعتق ولها زوج (رقم-۱۱۵٤) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: خيار الأمة تعتق وزوجها حر (رقم-۳٤٤۹) وابن ماجه في كتاب النكاح/ خيار الأمة إذا أعتقت(رقم-۲۰۷٤) كتاب الطلاق/باب ما جاء في الخيار(رقم-۲۵) واحمد في المسند: ٤۲/۶

ﷺ د دې خبرې ذکر د نبی کریم په وړاندې اوکړو نبی کریم ډیر خفه شو اوخطبه ئې ورکړه ونې فرمائیل «فقضاء الله احق وشرط الله اوثق وانما الولاء لمن اعتق». د حضرت بریره ﷺ یوخاوند وو چه د هغه نوم مغیث وو هغه هم اول غلام وو روستو هغه ته هم آزادی ملاؤ شوه په دې سلسله کښې حضرت بریره ﷺ ته د خیارعتق یعنی اختیارطلاق په وجه دعتق حاصل شو هم د دې خیارعتق په تفصیلات کښې د فقهاء کرام اختلاف پیدا شوې دې

د وینزې آزادیدو په وخت کښې درې صورتونه:- ① په دې باندې د ټولو اتفاق دې که چرې د وینځې د آزادولو په خت د هغې خاوند غلام وی نووینځې ته خیارعتق یعنی د طلاق اختیار به ورته ملاویږی.

② په دې باندې هم د ټولو فقهاؤ اتفاق دې که چرې په یوځائې باندې دواړه ښځه اوخاوندآزاد شی نوچاته به هم خیار عتق حاصل نه وی.

③ که چرې د وینځې د آزادئی وخت کښې خاوندآزاد وی نوښځې ته به خیار عتق ملاویږی که نه؟ په دې کښې

د خاوند د حریت په صورت کښې وینزې ته په خیار عتق کښې مذاهب:-

① د فقهاء کرامو اختلاف دې د ائمه احناف په نیز وینځې ته به په هرحالت کښې خیارعتق ملاویږی که د هغې خاوند غلام وی اوکه آزادوی.

② د جمهور اوشوافعو په نیز خیارعتق صرف په هغه صورت کښې دې کله چه خاوند غلام وی او ښځه آزاده شی که چرې خاوندئې آزاد وی نووینځې ته به خیارعتق حاصل نه وی

د خیار عتق په علت کښې اختلاف:- ① د احناف اوجمهورو په مینځ کښې چه کوم اختلاف دې دا د تخریج علت د وجې نه دې جمهورو د خیارعتق د پاره چه کوم علت راویستې دې هغه دا دې چه کله وینځه آزاده شی نواوس به هغه د غلام خاوندلاندې اوسیدو سره شرم محسوسوی ځکه چه په دواړو کښې کفاءت پاتې نه شو اوکه چرې خاوند آزاد وی نوهیڅ شرم نه دې د دې د پاره هغه ته خیار نشته په غلام کښې شرم دې نوهلته اختیاردې

② د احنافو په نیزد خیار عتق علت د آزادئی نه پس شرم نه دې بلکه د دریو طلاقو اختیاردې ځکه چه د طلاق مدار په ښځوباندې دې که چرې ښځه وینځه ده نوخاوند ته د دوو طلاقو حق حاصل دې "طلاق الامة اثنتان" اوکه چرې ښځه آزاده وی نو خاوندته د دریو طلاقو اختیارحاصلیږی احناف فرمائی د آزادئی نه پس د دغه ښځې طرف ته یوزیاتی دریم طلاق متوجه شو لهذا دې له د دغه زیاتی بوج د لرې کولو حق حاصل دې کوم چه خیارعتق دې دا د خیارعتق علت هم دې او فائده اوحکمت هم دې

د اول فريق اول دليل:- ① زير بحث دَ حضرت عروه رحمه الله عن عائشه رضي الله عنها روايت د دوى مستدل دي په کوم کښې چه "كان زوجها عبدا" واضح الفاظ راغلى دى "ولوكان حرالم يخيرها" الفاظو سره دَ مخالف طرف رد هم اوشو او مسئله هم صفاشوه

د اول فريق د اول دليل جواب:- د "ولوكان حرالم يخيرها" الفاظ دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه دى بلكه دَحضرت عروه رحمه الله الفاظ دى ځكه چه حضرت عائشه رضي الله عنها خودَ مغيث دَحر كيدو روايت بار بار بيان كړي دي

د اول فريق دويم دليل:- ②عقلى دليل هم د دوى مستدل دي چه په حقيقت كښې دَدې مسئلې دَعلت طرف ته اشاره ده كه چرې خاوند غلام وى نودَ هغه ماتحت اوسيدو كښې شرم دې اوكه چرې خاوندنى حر وى نو هيڅ شرم نشته. لهذا هغې ته خيار نشته نو په مسئله كښې څه غبار نشته.

د اول فريق د دويم دليل جواب:- دَ عبدلاندې دَآزادې ښځې اوسيدل شرم دې نودا علت بيانول صحيح نه دى ځكه چه دَ حره په شروع كښې دَ غلام ماتحتنى كښې راتلل شرم دې ليكن هغه دَ مخكښې نه دَهغه په نكاح كښې مستعمله مستفرشه وى نو په دې كښې به دغه وخت څه شرم وى؟

د دويم فريق دلائل:- ① ((روي مسلم عن عبدالرحمن بن القاسم الى آخر الحديث قال القاسم وخبرت فقال عبدالرحمن وكان زوجها حرا)). (زجاجة المصابيح: ج۲ص ۴۳۰)

② ((روي البخاري واصحاب السنن عن ابراهيم عن الاسود عن عائشة في قصة بريرة وفي آخرها وكان زوجها حرا)) (بحواله زجاجة المصابيح ج۲ص: ۴۲۸، بخاري ج۲ص: ۹۹۹).

③((وفي رواية الترمذى قالت كان زوج بريرة حرا فخيرها النبي ﷺ)) (ايضاً)

④((وروي ابوداؤد عن الاسود عن عائشة ان زوج بريرة كان حراحين عتقت)) (زجاجة ج۲ص ۴۳۱)

⑤((وروي الطحاوي وابن ابى شيبة عن طاؤس قال للامة الخيار اذا اعتقت وان كانت تحت قرشي وفي رواية لهما عنه قال لها الخيار في الحر والعبد)) (ايضاً)

⑥((وروي ابن ماجة والنسائى عن الاسود عن عائشة انها اعتقت بريرة فخيرها النبى ﷺ وكان لها زوج حر)). (ايضاً)

⑦((وروي ابن ابى شيبة عن ابن سيرين والشعبى نحوه وفي رواية له عن مجاهد قال لها الخيار ولو كانت تحت امير المؤمنين)) (زجاجة المصابيح مشكوة الحنفي: ج۲ ص ۴۳۱).

⑧ دارقطنى رحمه الله يو روايت نقل كړي دي ((قال رسول الله ﷺ لبريرة ملكت بضعك فاختاري)) دلته دې روايت كښې دَخيارعتق علت بيانولوسره نبى كريم پخپله فيصله اوكړه چه دَ خاوند

اعتبار نشته که هغه غلام وی او که حر وی شرط دادې چه ښځه دخپل اختیار مالکه جوړه شی اوس دلته مطلق د ملکیت بضعه د فاختیاری سبب ګرخولې شوې دې دخاوندلحاظ نه دې ساتلې شوې افسوس سره لیکلې کیږی چه دومره روایات دی او صاحب مشکوٰة یوهم نه دې نقل کړې

د اول فریق د اول او دویم دلیل دوه جوابونه :- ① اول فریق "وکان زوجها عبدا" اختیار کړې دې اودویم فریق "وکان زوجها حرا" اختیار کړې دې نو په ظاهره دې معارض روایاتو کښې یوطرف ته خو ترجیح نه شی ورکولې بیا به په دې روایتونوباندې عمل څنګه کولې شی نواحناف د تطبیق صورت اختیار کړې دې هغوی فرمائی چه کله "وکان زوجها حرا" اختیار کړې شونو په ټولو روایتونو باندې به عمل اوشی اوهغه داسې چه مونږ دحر اوعبد دواړه متضاد الفاظ به په یووخت باندې نه حمل کوو بلکه د تطبیق په غرض سره مونږ به حریه جدا زمانه باندې حمل کو اوعبد به په جدا زمانه باندې حمل کوو. نو اصولی قاعده داده چه په حر مسلم باندې عبدیت نه شی شروع کیدې او په عبد مسلم باندې حریت شروع کیدې شی

② اود بریره ﷺ خاوند مغیث اول غلام وو روستو آزاد شو نود هغه په حق کښې چه د عبدیت کوم الفاظ راغلی دی دا حکایت په تیره شوې زمانه باندې محمول دی یعنی "وکان عبدا" پخوانئی زمانه کښې غلام وو اوس د بریره د آزادئی په وخت کښې نه وو نوهغه خوواقعی اول غلام وو اوچرته چه د "وکان زوجها حرا" الفاظ راغلی دی نودا الفاظ د حالت عتق او خیارعتق په وخت باندې محمول دی نتیجه دا شوه چه مغیث حر وو او بریره ته نبی کریم د خیارعتق حق ورکړو معلومه شوه چه دحریه ماتحتئی کښې که چرې ونیځه آزاده شی نوهغې ته به هم خیارعتق حاصل وی او په عبدیت کښې نی تول منی

[۲۳۴] د یوغلام دپاره د نبی علیه السلام شفارس

۲۳۴-[۲](۱) ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ٢ «كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عَبْدًا أَسْوَدَ يُقَالُ لَهُ مُغِيثٌ ٣ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَطُوفُ خَلْفَهَا فِي سِكَكِ الْمَدِينَةِ وَدُمُوعُهُ تَسِيلُ عَلَى لِحْيَتِهِ ٤ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ، يَا عَبَّاسُ، أَلَا تَعْجَبُ مِنْ حُبِّ مُغِيثٍ بَرِيرَةَ، وَمِنْ بُغْضِ بَرِيرَةَ مُغِيثًا ٥ فَقَالَ النَّبِيُّ: لَوْ رَاجَعْتِيهِ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ تَأْمُرُنِي؟ ٦ قَالَ: إِنَّمَا أَشْفَعُ، قَالَتْ: لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وایي ٢ چې د بریره رضي الله عنها خاوند یو تور رنګې غلام

١) اخرجه البخاری فی کتاب الطلاق/باب شفاعة النبی صلی الله علیه وسلم فی زوج بریرة (رقم-۵۲۸۳) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/باب فی المملوکة تعتق وهی تحت حر أو عبد (رقم-۲۲۳۱) والترمذی فیکتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المرأة تعتق ولها زوج (رقم-۱۱۵۵) واحمد فی المسند: ۱۸۲۱۵

وو. چې مغيث نوم يې وو. [۳] زما د سترګو مخکې اوس هم هغه منظر دې. چې مغيث په بريره رضي الله عنها پسې وروسته وروسته د مدينې په کوڅو کښې ژړيدلې ګرځيدلى. او د هغه د سترګو نه اوښکې څڅيدو سره د هغه په ږيره پريوتلې. [۴] بيا ورځ حضور ﷺ حضرت عباس رضي الله عنه ته وفرمايل چې اې عباس! رضي الله عنه آيا تا ته په دې تعجب نکوې چې د مغيث بريره رضي الله عنها څومره خوښه ده. او بريره رضي الله عنها د مغيث نه څومره نفرت کوي. [۵] بيا حضور ﷺ بريره رضي الله عنها ته هم وفرمايل چې کاش چې تا مغيث ته رجوع کړې واى (يعنى د مغيث سره دې دوباره نکاح کړې واى) بريره رضي الله عنها عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ تاسو ما ته په طور د وجوب (د دې حکم راکوې؟ [۶] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې اې بريره! رضي الله عنها زه خو سفارش کوم (يعنى په طور د وجوب نه. بلکې بطريق استحباب تا ته سفارش کوم) بريره رضي الله عنها اوويل چې زما هغه ته د رجوع کولو هيڅ ضرورت نشته (يعنى ماته د هغه سره وسيدل منظور نه دى) بخاري

حل اللغات - ① سِكَك: کوڅه، ګلى، ② أَشْفَعُ: سفارش کوم.

تسهيلات:

نوټ: - دحديث مطلب دترجمې څخه واضح دې د اضافى شرحې ضرورت نشته.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۲۰۰] د زوجينو په آزادولو کښې دغلام آزادولو ته ترجيح ورکول

---[۳] (۱) [۱] «عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تُعْتِقَ مَمْلُوكَيْنِ لَهَا زَوْجٌ [۲] فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَأَمَرَهَا أَنْ تَبْدَأَ بِالرَّجُلِ قَبْلَ الْمَرْأَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] د بي بي عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چې هغې د خپل دوه مملوک د آزادولو اراده وکړه. چې په خپلو کښې ښځه اوخاوند وو. [۲] نو د نبى کريم ﷺ نه يې پوښتنه وکړه. [۳] حضور ﷺ ورته د ښځې نه مخکې د سړي د آزادولو حکم ورکړي (چې ښځې ته د نکاح فسخ کولو اختيار باقي پاتې نشي) ابوداؤد نسايي

تسهيلات:

قوله: أَنْ تَبْدَأَ بِالرَّجُلِ:

د ښځې نه مخکې د سړى آزادولو وجوه: - حضرت عائشه رضي الله عنها سره دوه مملوک وو په هغوى کښې يوه ښځه او بل خاوند وو. يعنى د دوارو په مينځ کښې د ښځې خاوندرشته وه

---

(۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الطلاق/ باب فى المملوكين يعتقان معا هل تخير امرأته؟(رقم-۲۲۳۷) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب:خيار المملوكين يعتقان (رقم-۳۴۴۶) وابن ماجه فى باب من أراد عتق رجل وامرأته فليبدأ بالرجل (رقم-۲۵۳۲)

حضرت عائشه رضي الله عنها دواړه آزادول غوښتل نو د نبي کريم نه ئې معلومه کړه نبي کريم
اوفرمائيل چه سړي اول آزاد کړه

① (اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ) [نساء ۳۴] د فضيلت خيال ساتلې شوې دې

② عموماً سړي وينځه په نکاح کښې ساتي په هغه ډير ناخوښه نه تيريږي خوچه ښځه کله آزاده وي اوخاوندئې غلام وي نو په دې کښې ښځه شرم محسوسوی په دې وجه دسړی اول آزادولوحکم اوشو

③ د سړی په آزادولوسره به ښځې ته د نکاح د فسخ کولواختيارحاصل نه شي نو بقاء نکاح د انقطاع نکاح نه اولی وی

[۳۲۰۱] د آزادئ څخه روسته په جماع کولو سره د نکاح فسخ کولو اختيار ختميدل

[۳] (۱) ١ وَعَنْهَا «أَنَّ بَرِيرَةَ عَتَقَتْ وَهِيَ عِنْدَ مُغِيثٍ ٢ فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَقَالَ لَهَا: إِنْ قَرِبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې بريره رضي الله عنها په داسې حال کښې آزاده شوې وه، چې هغه د مغيث په نکاح کښې وه، ٢ رسول الله ﷺ هغې ته (د خپلې نکاح د باقي ساتلو يا فسخ کولو) اختيار ورکړې، ليکن دا يې هم ورته فرمايلي وو چې که ستا خاوند ستا سره جماع وکړي، نو تا ته به دا اختيار حاصل نه وي (ځکه چې په دې صورت کښې به دا ګڼل کيږي. چې ته د هغه په خاوندتوب راضي يې) ابوداؤد.

او داباب د دريم فصل نه خالي دي

تسهيلات:

نوټ - ددې حديث تفصيل چې د خيارالعتق مسئله ده د حديث نمبر (۳۱۹۸) په تسهيل کښې

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الطلاق / باب فى المملوكين يعتقان معا هل تخير امراته؟ (رقم - ۲۲۳۶)

[۶] بَابُ الصَّدَاقِ

دَمهربیان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① كون المهر غير المال: ۱، ۸.

② كون المهر قليل من المال: ۴، ۵.

③ القدر المنصوص من المهر: خمس مائة دراهم: ۲، ۳. - أربعة آلاف درهم: ۷.

④ الاستحلال بإعطاء المهر المعجل: ۴.

⑤ إنعقاد النكاح بمهر المثل: ۶.

دقرآن څخه د مهر د فرضیت ثبوت:-

① ﴿ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا ﴾ [سورت نساء: ۲۰.]

② ﴿ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ ﴾ [سورت نساء: ۲۴.]

③ ﴿ وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ﴾ [سورت احزاب: ۵۰.]

④ ﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ ﴾ [سورت نساء: ۴.]

د لفظ صداق تحقیق:- صداق په وزن دَ کتاب دَ ښځې مهرته وائی دَدې جمع صُدُقَ دَ کتب په شان راځی. په صداق کښې دَ صاد کسره زیات فصیح او فتح هم مشهوره ده. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی مهرته صداق څکه اووئیلې شو "لانه يظهر به صدق ميل الرجل الى المرءة" په عربی کښې المهرهم وئیلې کیږی دَ کوم جمع چه مهور راځی.

د نکاح د صحت دپاره د مهر لزوم:- دَ خاوند دَطرف نه دَ حقوق زوجیت په معاوضه کښې چه څه ورکولې شی هغه مهر دې. دَ نکاح دَصحت دَپاره دَمهر کیدل ضروری دی دَدې نه بغیر نکاح صحیح نه ده. اوکه چرې تذکره ئې اونه کړه نومهرمثل به لازم راځی نکاح به ئې صحیح شی.

مهر د ښځې خالص حق:- مهرخالص دَ ښځې حق دې کوم خلق چه دَ لور خور په نوم باندې مهر وصول کړی اوپخپل مصرف کښې راولی دادَ ښځو په حق کښې لوئی ظالمان خلق دی اودیره دَ بې شرمئی خبره ده چه لونړه خرڅه وی. په علماء حق باندې فرض دی چه دې خراب رسم او ظلم خلاف دَ حق آواز اوچت کړی.

د مهر حکمتونه:- ① حضرت شاه ولی الله رحمه الله دَ مهر دَ حکمتونو متعلق په حجة البالغه کښې لیکلی دی چه نکاح دَ یونظم اوضبط جوړ اوترتیب نوم دې دَ ښځې خاوند په مینځ

کښې د همیشه معاونت او نصرت او مدد نوم دې هم د دې جوړ نظم او ضبط د وجې نه مهرمقررشو دې دپاره چه بغیرد ضرورت نه خاوند د دې نظم په ماتولو کښې د خپل من یعنی مهر ضائع کیدو خطره محسوسوی گویا مهرمقررول چه د نکاح د دوام مضبوطیا دپاره ضروری دې

③ مهرمقررکولو کښې په نکاح کښې عظمت او اهتمام پیدا کیږی خکه چه خلق په طبعی توگه باندې د مال حرص کوی نو چه یوسړې د ملك بضعه په عوض کښې مال ورکوی نو د اخستونکی او ورکونکی دواړو په سترگو کښې به د نکاح عظمت پیدا کیږی او د جینئی والوسترگې یخیدې شی چه زمونږ د زړه د ټکړې یوسړې په مفت کښې مالك نه دې جوړ شوې

④ مهرمقررولوسره په زنا او نکاح کښې فرق ښکاره کیږی. بیا د مال په اخستلو او ورکولو کښې چونکه د خلقو عادتونه او د حرص درجات بل د انسانانو طبقات مختلف دی په دې وجه شریعت د مهر کم یا زیات مقررکولو کښې څوك پابند نه کړل (یعنی جانب اکثر هم په مهر پابندی اونه لگوله).

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۲۰۲] د اوسپنې ګتمه په مهر کښې مقررکول

۳۲۰۲—[۱] (۱) ۱ «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ ۲ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ فَقَامَتْ طَوِيلًا ۳ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ زَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ فِيهَا حَاجَةٌ، ۴ فَقَالَ هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا ۵ قَالَ مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي هٰذَا،

ترجمه: ۱ حضرت سهل ابن سعد ؓ وایي چې یوه ورځ یوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه. ۲ او هغې اوویل چې یا رسول الله! ﷺ ما خپل خان ستا د پاره هبه کړی (دې ویلو سره) هغه ښځه تر ډیر وخته ولاړه وه. (ددې پورې چې حضور ﷺ د هغې د خبرې څه جواب ورنه کړې). ۳ او اوس لا حضور ﷺ پته خوله وو، چې یو صحابي ؓ ودریدلو او عرض یې وکړې چې یا رسول الله! ﷺ که ته ﷺ ددې ښځې ضرورت نه محسوسوی نو د دې سره زما نکاح وکړه. ۴ حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې آیا ستا

---

۱) اخرجه البخاری فی باب: السلطان ولی لقول النبی صلی الله علیه وسلم: «زوجناکها بما معک من القرآن» (رقم-۵۱۳۵) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب الصداق، وجواز کونه تعلیم قرآن، وخاتم حدید، وغیر ذلک من قلیل وکثیر، واستحباب کونه خمسمائة درهم لمن لا یجحف به (رقم-۷۶ - (۱۴۲۵) روابوداود فی السنن کتاب النکاح/باب فی التزویج علی العمل یعمل (رقم-۲۱۱۱) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۱۱۱۴) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: التزویج علی سور من القرآن (رقم-۳۳۳۹) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ صداق النساء (رقم-۱۸۸۹) ومالک فی الموطا کتاب النکاح/باب ما جاء فی الصداق والحباء (رقم-۸) واحمد فی المسند: ۳۳۰/۵

سره يو ځيز هم داسې شته، چې دې ښځې ته په مهر كښې وركړى شي.۵ هغه عرض اوكړو چې د دې تهبند (لنګ) نه علاوه (چې ما تړلى دى) بل هيڅ ځيز نشته.

۶ قَالَ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَالْتَمَسَ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا ۲ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ؟ ۳ قَالَ نَعَمْ سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا ۴ فَقَالَ قَدْ زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ۵ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ انْطَلِقْ فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْآنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې لاړ شه (څه شې) ولټوه، اګر چې هغه د اوسپنې ګوتمې وي، هغه صحابي ﷺ ډير تلاش وكړي، خو هيڅ ځيز يې بيانه پيدا كړى.۲ بيا حضور ﷺ پوښتنه ورنه وكړه چې آيا تا ته د قرآن مجيد نه څه ياد دي؟ ۳ هغه عرض اوكړو چې هو، فلاني فلاني سورتونه مې په ياد دي.۴ حضور ﷺ وفرمايل چې د قرآن مجيد نه چې څه تا ته ياد دي، د هغه په سبب ما ستا نكاح د دې ښځې سره وكړه.۵ او په يو روايت كښې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمايل څه، ما ستا نكاح د دې ښځې سره وكړله.ته دى ته د قرآن مجيد تعليم وركوه. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ۱ تُعْطِيْهَا: چې ته هغې ته مهر وركړې ۲ فَالْتَمِسْ: ته لټون اوكړه

تسهيلات:

قوله: قَالَ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ:

دَمهر مقدار څومره پكار دې په دې كښې دَعلماء كرامو اختلاف دې

د اكثر مهر په مقدار كښې عدم تعين: - په دې خبره باندې ټول فقهاء متفق دى چه دَ مهرجانب اكثر كښې څه حد مقرر نه دې بلكه په قرآن كريم كښې الله تعالى لفظ "قنطارا" ذكر فرمائيلې دې اګرچه مستحب دادى چه په مهر كښې غلونه وى اودغه دې دومره زيات نه وى چه خلق دَ نكاح كولو قابل پاتې نه شى اودَ مهردَبوج لاندې خنس پاتې شى

د اقل مهر په مقدار كښې مذاهب: -

۱ امام مالك ﷫ په نيز كم نه كم مهر ربع دينار دې

۲ دَ امام شافعى ﷫ او امام احمد بن حنبل ﷫ په نيزدَ اقل مهر هم څه حد مقرر نه دې بلكه چه زوجين په كوم باندې راضى شى هم هغه صحيح دې. دَهغوى په نيز نكاح دَ بيع اوشراء په شان مالى معامله ده مال پكار دې چه كم وى اوكه زيات، چه ښځه خاوندوى راضى نوڅه كوى قاضى

۳ امام ابوحنيفه ﷫ فرمائى چه اقل مهر لس درهم دې دې نه كم جائز نه دې دا آخرى حد دې

داول فريق اول دليل: - ۱ حديث المجن د وى مستدل دې چه دَ نبى كريم په زمانه كښې

"ثمن المجن" باندې نکاح شوې ده او دَ ډهال قیمت ربع دینار وو

د اول فریق د اول دلیل جواب:- دا حدیث د فریق ثالث خلاف مستدل نه دې خکه چه په شروع دورکښې ربع دینار یاثمن مجن دا ټیزونه دَ لس درهم برابر وو

د اول فریق دویم دلیل:- ② په حد سرقه کښې لاس دَ ربع دینار بدله کښې کټ کوې کیږی نودَ یواندام قیمت ربع دینار دې دلته په نکاح کښې ملك بضعه هم یواندام دې د دې بدله هم ربع دینارکیدل پکاردی

د اول فریق د دویم دلیل جواب:- دَ قطع ید مسئله خومونږ هم په خپل عقلی دلیل کښې پیش کوو خکه چه هلته هم دَ لس دراهم ذکردې هم دغه ربع دینار دې

د دویم فریق دلائل:- هغه اکثراحادیث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَ شئ قلیل من المال ذکر دې لکه چه دَ بخاری په یوروایت کښې دی "ولوخاتماًمن حدید" یوروایت کښې دَ ستوانو ذکر راغلې دې او په یوکښې دَ چوارې ذکر دې په یوکښې دَ نعلین ذکر دې نهذا دَ مهرڅه حدمقرر نه دې

د دویم فریق د دلائلو نه دوه جوابونه:- ① په کومو ځیزونوکښې دَ قلیل شینونو ورکولوذکر راغلې دې دَهغې نه مهرمعجل مراد دې دَعربوعادت ووچه په رومبې ملاقات کښې به نی بی ته څه نه څه دَ تحفه په توګه ورکول چه دَمهرنه علاوه به دَ مخ کتلو تحفه وه یابه دَمهرڅه حصه وه لکه څنګه چه حضرت علی ﷛ حضرت فاطمه ﷛ ته یوه زغره ورکړې وه حالانکه مهرجدا مقرروو

② دادَهغه وخت خبره وه کوم وخت چه دَ مهرحدمقررشوې نه وو. هم دغه وجه ده چه په احادیثوکښې تعلیم القرآن په مهرکښې شمیر کړې شوې دې حالانکه هغه مال نه دې

د دریم فریق دلائل:- ① دَ قرآن عظیم دَ آیت ﴿قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ﴾ [سورة احزاب ۵۰.] د دوی مستدل دې طریقه دَ استدلال داسې ده چه الله تعالی کوم څه مفروض اومقرر کړی دی دَهغې څه معتدبه معین مقدار کیدل پکاردی دغه شان آیت ﴿أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾ [سورة نساء ۲۴.] هم یومعین اومقرر مقدارتقاضاکوی دا مقدارضرورمعلومیدل پکاردی دآیاتونو د اجمال تفصیل دَپاره حضرت ابن مسعود ﷛ هغه حدیث دې کوم چه دارقطنی اوبیهقی نقل کړې دې "لامهر دون عشرة دراهم"

② په دارقطنی او بیهقی کښې دَ حضرت علی ﷛ هغه موقوف روایت هم دې "ولایکون المهر اقل من عشرة دراهم" په دې روایتونوکښې سره دَدې چه په انفرادی توګه باندې ضعف دې لیکن د کثرت طرق دَ وجې نه دَ حسن دَ درجې نه کم نه د ې.

③ ابن ابی حاتم ﷬ دَ حضرت جابربن عبدالله ﷛ نه داحدیث نقل کړې دې ((قال قال رسول

به ﷺ لامهر اقل من عشرة» دي روايت ته ابن حجر رحمه الله حسن ونيلي دي
زوجتكها فعلمها من القرآن»:

د قرآن تعليم مهر مقرر کول: - ① د حديث د دې لفظ نه په ظاهره دا معلوميږي چه تعليم قرآن مهر مقرر کړي شوي دي امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله دا جائز منلي دي
② د امام مالک رحمه الله او امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دا جائز نه دی هغوی فرمائی چه داسې کولو سره مهر مثل لازميږي

د اول فريق دليل: - زير بحث حديث د دوی مستدل دي د کوم د ظاهر نه چې په مهر کښې تعليم القرآن مقرر کول صحيح ښودلی شوی دی

د اول فريق د دليل جوابونه: - ① د اسلام په شروع کښې نبی کريم قرآن عظيم د ژوند په هره شعبه کښې عام کول غوښتل د دې وجې نې د نکاح د صحت دپاره د قرآن پاک تعليم په مهر کښې مقرر کړي وو چې قرآن پاک عام شی.
② د دې حديث نه د اشارې په توګه دا هم معلوم شو چه تعليم قرآن د هغه سړی دپاره په درجه د مجبورئ مهر جوړيدې شی. چاسره چه په پوره ماليت کښې يو د اوسپنې ګوتمه هم نه وی. داسې سړې په دنيا کښې څوک کيدې شی نودا يوبې مثاله صورت وو "والنادر کالمعدوم"
③ دا د نبی کريم صلی الله عليه وسلم خصوصيت وو چې په خپله ئې هم بغير مهر نکاح کولې شوه او بل دپاره ئې هم دعامو څيزونو ماليات په ځائې به منافعو نکاح کولې شوه د دې وجې بل چا دپاره بغير د مهر نه نکاح جائز نه ده. او که چا اوکړه نو مهر مثل په بري واجب وی. په دې خصوصيت باندې دا دوه روايات دليل دی.
(۱) په ابوداؤد شريف کښې په روايت د مکحول دا نقل دی «انه کان يقول ليس ذالک لاحد بعد رسول الله ﷺ» معلومه شوه چه دا خصوصيت د پيغمبر وو
(ب) په سنن سعيد بن منصور کښې يو حديث داسې هم دې «عن ابی النعمان الازدي قال زوج رسول الله ﷺ امرأة علی سورة من القرآن ثم قال لايکون لاحد بعدک مهرا»

د دويم فريق دليل: - د مهر په وجوب کښې چه څومره روايات دی هغه د دوی دلائل دی

[۳۲۰۲] د ازواج مطهرات ﷺ د مهر مقدار؟

۳۲۰۲ - [۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ: «سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَمْ كَانَ صَدَاقُ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② قَالَتْ: كَانَ صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ ثِنْتَا عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشٌّ ③ قَالَتْ: أَتَدْرِي مَا النَّشُّ؟ قُلْتُ: لَا ④ قَالَتْ: نِصْفُ أُوقِيَّةٍ فَتِلْكَ خَمْسُمِائَةِ دِرْهَمٍ». ⑤ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَنَشٌّ بِالرَّفْعِ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَفِي جَمْعِ الْأُصُولِ.

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب الصداق، وجواز کونه تعليم قرآن، وخاتم حديد، وغير ذلک من قليل وکثير، واستحباب کونه خمسمائة درهم لمن لا يجحف به (رقم-۷۸ - (۱۴۲٦) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب الصداق (رقم-۲۱۰۵) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ صداق النساء (رقم-۱۸۸٦)

ترجمه:[۱] اوحضرت ابو سلمه رضی الله عنه وايي چې ما د ام المؤمنين بي بي عائشي رضی الله عنها نه پوښتنه وکړه چې نبی کریم ﷺ د خپلو بيبيانو مبارکو څومره مهر مقرر کړی وو؟[۲] نو بي بي عائشي رضی الله عنها وفرمايل چې حضور ﷺ د خپلو بيبيانو د پاره ددولس اوقيه او يو نش مهر مقرر کړی وو ،[۳] بي بي عائشي رضی الله عنها پوښتنه وکړه چې پوهيږې نش څه ته وايي؟ ما عرض وکړو، چې نا ،[۴] نو هغې وفرمايل چې يو نش د نيم اوقيه برابر وي. دغه شان د دولس اوقيه او يو نش مجموعي مقدار د پنځه سوه درهم برابر شو (ځکه چې يو اوقيه د څلويښت درهم برابر وي)[۵] دا روايت مسلم رحمه الله نقل کړي دي او شرح السنه او د اصول په تولو کتابونو کښې لفظ نش د نون په پيش سره يعنی نُش منقول دي (اصول د حديث هغه کتابونو ته وايي چې په هغه کښې تول احاديث د سند سره ليکلي وي).

حل اللغات:- ①أُوقِيَّةٌ:دَ اوقيه جمع اواق ده. يواوقيه دَ څلويښتو دراهم وی.②نَشٌّ:"نش" نصف اوقيه وی يعنی شل دراهم نش دی نودَ دولس نيم سوو اوقيه نه پنځه سوه دراهم پوره شو

تسهيلات:

قوله: صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ ثِنْتَا عَشْرَةَ أُوقِيَّةً

د بعضې ازواج مطهراتو د مهر تعداد:- دَ عام ازواج مطهرات مهر هم دومره وو (يعنی پنځه سوه دراهم) اوهم دَدې ذکر عام رواياتو کښې ملاويږی. اودَ ام حبيبه رضی الله عنها مهر څلور زره دراهم وو ليکن هغه دَ نبی کريم دَ طرف نه دَ حبش نجاشی بادشاه مقرر کولو سره اداکړې وو لهذا دَدې روايت دې سره هيڅ تعارض نشته دې.

د درهم مقدار:- لس درهمه غالبا دَ دوه نيمې تولې چاندنی دَ وزن برابر وی. مظاهر حق کښې ليکلی دی چه پنځه سوه دراهم دَ چاندنی دَ مقدار يوکلو پنځه سوه ديرش ګرام وی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۰۴] دَزيات مهرممانعت

۳۲۰۳-[۳] (۱)[۱] «عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: [۲] أَلَا لَا تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا وَتَقْوَى عِنْدَ اللهِ لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا نَبِيُّ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] مَا عَلِمْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَكَحَ شَيْئًا مِنْ نِسَائِهِ وَلَا أَنْكَحَ شَيْئًا مِنْ بَنَاتِهِ عَلَى أَكْثَرَ مِنَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[۱] د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه په باره کښې منقول دي چې هغه وفرمايل

۱) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب النكاح/باب الصداق (رقم-۲۱۰۶) والترمذی فی كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۱۱۱٤) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب: القسط فی الأصدقة (رقم-۳۳٤۹) وابن ماجه فی كتاب النكاح/ صداق النساء (رقم-۱۸۸۷)

خبر دار! د ښځو دروند مهر مه تړی، که دروند مهر تړل په دنیا کښې د بزرګۍ او عظمت سبب او د الله تعالی ﷻ په نزد د تقوی موجب ولاړي نو یقیناً نبی کریم ﷺ ددې زیات مستحق وو (چې حضور ﷺ د دروند نه دروند مهر تړلی)۲ خو ماته نه ده معلومه، چې رسول الله ﷺ د دولس اوقیه نه په زیات مهر د خپلو بیبیانو سره نکاح کړې وي، یاد دې نه په زیات مهر یې د خپلو لوڼو نکاح کړې وي. (احمد ترمذي ابوداؤد نسایي ابن ماجه دارمي)

حل اللغات:- ① مَكْرُمَةً: عظمت، بزرګی

تسهيلات:

قوله: لَاتُغَالُوا:

د کم مهر افضلیت:- دَحضرت عمر رضی الله عنه دَدې فرمان مطلب دادې افضل دغه دی چه مهر کم نه کم وی او په دې کښې زیات تجاوز اونه کړی. دَدې مطلب دانه دې چه دَ ۱۲ اوقیه نه زیات مهر مقررول جائز نه دی جواز خودَ زیات هم دې. باقي دا اعتراض هم نه دی کول پکار چه حضرت عمر رضی الله عنه ۱۲ اوقیه ذکر کړې دې او حضرت عائشه رضی الله عنها دَیو نش اضافه کولو سره بیان کړې دې داځکه چه حضرت عمر رضی الله عنه په خپل بیان کښې کسر پریخودې دې لکه چه په عام توګه عرب پریږدی او حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کړې دې یا دا چه دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَعلم مطابق هم دغه وو. هغوی دَ خپل معلومات مطابق بیان کړې دې په دې څه تعارض نشته دې

[۳۲۰۵] په مهر کښې دتعجیل استحباب

۳۲۰۵-[۳] (۱) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ «مَنْ أَعْطَى فِي صَدَاقِ امْرَأَتِهِ مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا أَوْ تَمْرًا ۳ فَقَدِ اسْتَحَلَّ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړی چې د خپلې ښځې په مهر کښې (څه حصه په طور د مهرِ معجل ورکړله، مثلاً) دواړه لاسه ډکولو سره ستوان یا کجورې یې ورکړلې، ۳ نو هغه خپله ښځه د ځان د پاره حلاله کړه. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① سَوِيقًا: ستوان. ② اسْتَحَلَّ: حلالول. جائز کول

تسهيلات:

نوټ:- ددې حدیث سره متعلق د مهر په مقدار کښې تفصیل د حدیث نمبر (۳۲۰۲) په تسهیل کښې ذکرشوې دې

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح /باب قلة المهر (رقم-۲۱۱۰) واحمد فی المسند: ۳/ ۳۵۵

[۲۲۰۶] د مهر د وجوب یو صورت

۳۲۰۹—[۵] (۱) [۱] وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ [۲] «أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ [۳] فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ؟ [۴] قَالَتْ: نَعَمْ، فَأَجَازَهُ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عامر ابن ربیعه ﷺ وایي [۲] چې د قبیله فزاره یوې ښځې په یوه جوړه چپلو د یو سړي سره نکاح وکړه، [۳] نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل چې آیا ته د خپلې مالدارۍ باوجود خپل ځان د یوې جوړې چپلو په بدله کښې په حواله کولو راضي شوې (یعني د دې باوجود چې ته خپله مالداره او باحیثیة ښځه یې، آیا یواځې د یوې جوړې چپلو په بدله کښې دې ځان حواله کولو باندې راضي شوې) [۴] هغه ښځې اوویل چې هو، زه راضي یم، حضور ﷺ (دا جواب آوریدو سره) دا مهر یې جائز وګرځولی. (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: نَعْلَيْنِ:

په نعلین کښې مختلف توجیهات: - ① دې نه مراد خو هم هغه مهر معجل او مهر علی الفور په توګه د تحفه دي ② یا څپلئ خو هم مختلف وي په نوم اخستو سره خو دَ څپلئ لفظ راځي لیکن بعضې څپلئ لس درهم خوځه بلکه سل دراهم نه هم دَ زیات قیمت وي. نو دا روایت دَ شوافعو دپاره قطعي دلیل نه دې او دا روایت ضعیف هم دې.

③ دا ښځه دَ مهر مقرر کولو نه پس دَ خپل حق نه دَ دوو جوړو په بدله کښې لاس واخستو

④ دَ مهر څه حصه فوري توګه باندې ورکړه هغه مراد دې

[۲۲۰۷] د مهر مثل د وجوب یو صورت

۳۲۰۷—[۶] (۲) [۱] «وَعَنْ عَلْقَمَةَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ [۲] أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا شَيْئًا، [۳] وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا حَتَّى مَاتَ، [۴] قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: لَهَا مِثْلُ صَدَاقِ نِسَائِهَا لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ [۵] وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَلَهَا الْمِيرَاثُ،

ترجمه: [۱] او حضرت عقلمه ﷺ د حضرت ابن مسعود ﷺ په باره کښې نقل کوي [۲] چې د هغه نه د یو سړي متعلق پوښتنه وشوه، چې هغه د یوې ښځې سره نکاح وکړه، او د هغه

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی مهور النساء (رقم-۱۱۱۳) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ صداق النساء (رقم-۱۸۸۸) واحمد فی المسند: ۴۴۵/۳

۲) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فیمن تزوج ولم یسم صداقا حتی مات (رقم-۲۱۱۵) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرجل یتزوج المراة فیموت عنها قبل أن یفرض لها(رقم-۱۱۴۵)والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: إباحة التزوج بغیر صداق (رقم-۳۳۵۵) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ الرجل یتزوج ولا یفرض لها فیموت علی ذلک (رقم-۱۸۹۱) واحمد فی المسند: ۲۷۹/۴

څه مهر یې مقرر نه کړي، [۳] او اوس لا هغه دخول نه وو کړی (یعني نه خو یې د خپلې بي بي سره نکاح کړي وه، او نه خلوت صحیحه شوي وو) چې هغه وفات شو . [۴] حضرت ابن مسعود ﷺ تر یوی میاشتی په دي مسئله غور اوفکر وکړي، او بیا (د خپل اجتهاد په بنا) یې وفرمایل چې دې ښځې ته به هغه مهر حاصلیږي کوم چې د دې د خاندان د ښځو دي (یعني د هغه سرې کندې ښځې ته به مهر مثل ورکول کیږي)، نه به په هغې کښې کمی کیږی نه به زیاتوب، [۵] او په هغې ښځې به (د خاوند د ذات) عدت هم واجب وي، او هغه ته به میراث هم ورکول کیږی (د دې اوریدو سره)

حل اللغات: ① لَاوَكْسَ: کمی به پکښې نه کیږی ② وَلَاشَطَطَ: زیاتي به پکښې نه کیږی.

[۱] فَقَامَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانٍ الْأَشْجَعِيُّ فَقَالَ: [۲] قَضَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ امْرَأَةٍ مِنَّا بِمِثْلِ مَا قَضَيْتَ [۳] فَفَرِحَ بِهَا ابْنُ مَسْعُودٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت معقل ﷺ ابن سنان اشجعي ودریدلو، او هغه اوویل [۲] چې نبی کریم ﷺ زمونږ د خاندان د یوي ښځې بروع بنت واشق په باره کښې دا حکم کړی وو، کوم چې دا وخت تا بیان کړی دی، [۳] ابن مسعود ﷺ (د دې خبرې د اوریدو سره) ډیر خوشحاله شو ، (ترمذي، ابوداؤد، نسایي، دارمي)

تسهیلات: قوله: مِثْلُ صِدَاقِ نِسَائِهَا:

د متوفي عنها زوجها د مهر نه مستحق کیدو یو صورت: - دَحضرت علی ﷺ اونورو صحابه کرامو دامسلك ووچه کله به دَ چامهرمقررنه وو اوخاوند دخول هم نه وی کړې صرف نکاح شوې وی اوبیا دَ خاوند انتقال شوې وی نوپه دغه صورت کښې به ښځې ته مهرنه ملاویږی او عدت به تیروی اومیراث به ورته ملاویږی.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ایمانی جذبه او علمی مهارت: - حضرت ابن مسعود ﷺ فیصله واؤرولـه چه دغه ښځې تـه بـه مهرمثل ملاویږی دادَ هغوی اجتهادی فیصله او ایمانی فراست او علمی مهارت وو په دې باندې یوصحابی پاسیدو اوهغه ګواهی ورکړه چه نبی کریم دَیوې ښځې باره کښې هم داسې فیصله کړې وه په دې باندې ابن مسعود ﷺ ډیرخوشحاله شو چه ستاسو اجتهاد صحیح ثابت شو اوالله تعالی لار اوخودله په دې واقعه سره دَ ابن مسعود ﷺ شان ډیر اوچتیږی دَحضرت ابن مسعود ﷺ باره کښې نبی کریم فرمائیلی ((رضیت لامتی مارضی لهاابن امرعبد)) دامعمولی انعام نه دې بلکه دَدوارو جهانو اعزاز دې په کوم باندې چه حضرت ابن مسعود ﷺ پوره ثابت شو.

مهرمثل هغه مهر ته وائی چه دَ هغې دَ پلار دَخاندان دَ هغه ښځووی چه په دې لاندې خبرو کښې دَهغې مثل وی، عمر، جمال، مال، ښار، زمانه، عقل اوکمال، بکارت، دینداری، علم اوادب اوښه عادات او اخلاق

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۰۸] د ام حبيبه رضي الله عنها د مهر مقدار

۳۲۰۸ - [۷] (۱) ۱ «عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ ۲ فَمَاتَ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ وَأَمْهَرَهَا عَنْهُ أَرْبَعَةَ آلَافٍ ۴ وَفِي رِوَايَةٍ أَرْبَعَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ ۵ وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَعَ شُرَحْبِيلَ ابْنِ حَسَنَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ د ام المؤمنين بي بي ام حبيبه رضي الله عنها په باره کښې منقول دی چې هغه مخکې دعبدالله ابن حجش په نکاح کښې وه، ۲ بيا چې په ملک حبشه کښې عبدالله مړ شو، نو د حبشه بادشاه نجاشي د هغې نکاح د نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره وکړه، ۳ او نجاشي د حضور صلی الله علیه وسلم د طرف نه د ام حبيبه رضي الله عنها مهر څلور زره مقرر کړي، ۴ په يو بل روايت کښې د څلورو زرو درهمو الفاظ دی (يعني دلته چې کوم روايت نقل شوی دی په هغه کښې د درهم لفظ نشته بلکې يواځې د څلور زره ذکر دي، هر کله چې په يو دويم روايت کښې د څلورو زرو سره د درهم لفظ هم دی، او دا مراد دی) ۵ او نجاشي (د نکاح نه وروسته) ام حبيبه رضي الله عنها د شرحبيل ابن حسنه سره حضور صلی الله علیه وسلم ته وليږله، (ابوداؤد نسايي)

تسهيلات:

قوله: تَحْتَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ

د حضرت ام حبيبه رضي الله عنها د ړومبی خاوند نوم: -دَحضرت ام حبيبه رضي الله عنها دَ ړومبی خاوند نوم عبيدالله بن جحش وو. دَمشکوة په ټولونسخوکښې عبدالله بن جحش ليکلې شوې دې دا غلط دې. عبدالله بن جحش خو په احد کښې شهيد شوې دې اونن صباد هغوی قبر دحضرت حمزه رضي الله عنه اودَحضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه په اړخ کښې دَ زيارت کونکودپاره پروت دې اودا دعوت ورکوی.

د حضرت ام حبيبه رضي الله عنها د نکاح پس منظر: -دَحضرت ام حبيبه رضي الله عنها اصل نوم رمله وو. دادَ حضرت ابوسفيان بن حرب لور اودَ حضرت معاويه رضي الله عنه خوروه. اول دَ دې نکاح عبيدالله بن جحش سره شوې وه. عبيدالله اسلام قبول کړو اوبيادَ مکې نه هجرت کولوسره حبشه ته لاړو. حضرت ام حبيبه رضي الله عنها ورسره وه. په حبشه کښې عبيدالله مرتدشوعيسائی شو اوهم هلته مړشو. حضرت ام حبيبه په اسلام باندې قائمه پاتې شوه. نبی کريم دَ يوقاصد په ذريعه دَحبشه بادشاه نجاشی ته پيغام اوليګلو چه هغه دې دَ حضوراکرم نکاح دَ ام حبيبه سره اوکړی. او هغه دې دَنبی کريم دَپاره دَنکاح پيغام ورکړی. نجاشی دَخپلې وينځې په

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب الصداق (رقم-۲۱۰۷) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: القسط فی الأصدقة (رقم-۳۳۵۰)

ذريعه حضرت ام حبيبه رضي الله عنها ته دَ نكاح پيغام وركړو حضرت ام حبيبه رضي الله عنها په خوشحالئ خوشحالئ دا قبول كړو او پيغام راوړونكې وينځې ته ئې دوه كپړې او يوه ګوتمه وركړه اوبيائي خپل رشته دار حضرت خالدبن سعيد رضي الله عنه خپل دَنكاح وكيل مقرركړو كله چه مابنام شو نونجاشي حضرت جعفر طيار رضي الله عنه ته اوهغه ټولوصحابه كرامو ته كوم چه په حبشه كښې وو دَ نكاح دَمحفل تقريب كښې دَ شموليت دعوت وركړو

نجاشي اود نبي كريم سره د ام حبيبه د نكاح خطبه: - كله چه ټول مسلمانان راجمع شو نودَ حبشه بادشاه پخپله داسې دَ نكاح خطبه اولوستله

الحمدلله الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن العزيز الجبار اشهدان لااله الاالله وان محمداعبده ورسوله ارسله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله ولوكره المشركون. بيا نجاشي اوفرمائيل چه مادَ رسول الله ﷺ حكم قبول كړو اوڅلورزره دينارمهرمې مقرركړو دې نه پس حضرت خالدبن سعيد رضي الله عنه دَ توحيداورسالت خطبه اولوستله اوبيائي اوفرمائيل چه ما دَ رسول الله ﷺ حكم اومنلواومادَ ابوسفيان لور حضرت ام حبيبه رضي الله عنها سره دَ نبي كريم نكاح اوكړه الله تعالى دې رسول الله ﷺ ته دغه نكاح مبارك كړي.

كله چه مجلس ختم شو نو نجاشي اوفرمائيل تاسو خلق كينئي خوراك اوكړئي ځكه چه دَ نكاح نه پس خوراك وركول دَ انبياء كرامو سنت دى. ټول خلق كيناستل اوخوراك ئې اوكړو دا واقعه دَ ۷هجرى ده.

[۳۲۰۹] داسلام قبوليت د مهر قائم مقام ګرځول

۳۲۰۹—[۸] (۱) ١ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: ٢ تَزَوَّجَ أَبُو طَلْحَةَ أُمَّ سُلَيْمٍ ٣ فَكَانَ صَدَاقُ مَا بَيْنَهُمَا الْإِسْلَامَ أَسْلَمَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَبْلَ أَبِي طَلْحَةَ ٤ فَخَطَبَهَا فَقَالَتْ إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ فَإِنْ أَسْلَمْتَ نَكَحْتُكَ ٥ فَأَسْلَمَ فَكَانَ صَدَاقَ مَا بَيْنَهُمَا. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايې ٢ چې ابو طلحه رضي الله عنه چې كوم وخت د ام سليم رضي الله عنها سره نكاح وكړه. ٣ نو قبوليت د اسلام يې په خپلو كښې مهر وګرځولی، ام سليم رضي الله عنها د ابو طلحه رضي الله عنه نه مخكې اسلام قبول كړی وو. ٤ او بيا چې ابو طلحه رضي الله عنه ام سليم رضي الله عنها ته د نكاح پيغام وليږلی نو ام سليم رضي الله عنها ورته اوويل چې ما اسلام قبول كړی دی، كه ته هم مسلمان شې. نو زه به ستا سره نكاح وكړم (او ستا نه به مهر نه آخلم) ٥ نو ابوطلحه رضي الله عنه اسلام قبول كړې او اسلام قبلول يې په خپلو كښې مهر وګرځولو. (نسايي)

تسهيلات:

قوله: فَكَانَ صَدَاقُ مَا بَيْنَهُمَا:

---

۱) اخرجه النسائى فى السنن كتاب الجهاد/باب: التزويج على الإسلام (رقم-۳۳٤۰)

د اسلام قبلول د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه د پاره مهر مقرر کيدل:- يعنی اسلام د دغه دواړو په مينځ کښې مهرجوړ شو اسلام او تعليم قرآن د شوافعو په نيزهم يوځيزدې لهذا د هغوی په نيزدواړه مهرجوړيدې شی د احنافو په نيزتعليم قرآن او اسلام وغيره طاعات چونکه مال نه دې او د مهر باره کښې صريح آيت راغلې دې ﴿ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ ﴾ لهذا دا ځيزونه مهرنه شی جوړيدې

د حضرت ابوطلحه ﷺ معامله د ډير مخکښې ده بلکه داسې معلوميږی چه د هغه اسلام د هجرت نه وړاندې وو مختصر واقعه داسې ده چه ام سليم اول د مالك بن نضرپه نکاح کښې وه د کوم نه چه حضرت انس ﷺ پيدا شوې وو مالك د اسلام قبلولونه وړاندې وژلې شوې حضرت ام سليم اسلام قبول کړو ابوطلحه هغې ته د نکاح پيغام ورکړو حضرت ام سليم دا شرط اولګولو که چرې ته اسلام قبلوې نو زه به تاسره نکاح اوکړم ابوطلحه اسلام قبول کړو او د دواړو نکاح اوشوه اومهرهم دغه د اسلام قبلول شو

د مذکوره واقعې نه د احنافو جوابونه:- ① مهرخود اول نه مقررووليکن ام سليم د خپلې وعدې مطابق د ابوطلحه د اسلام د قبلولو د وجې نه خپل حق مهرمعاف کړو نواسلام د مهرمعاف کيدو ذريعه جوړشو.

② دا واقعه د هجرت نه د وړاندې ده کوم وخت چه د مهر متعلق آيت هم نه وو نازل شوې ابوطلحه خود بيعت عقبه په وخت کښې مسلمان شوې وو د مهر آيت په مدينه منوره کښې نازل شوې وو لهذا دا ضابطه د مهر نه د وړاندې واقعه ده بل دا يوه جزئی واقعه ده په کوم کښې چه ډير زيات احتمالات دی معلومه نه ده چه صحيح صورت حال څه وو دا به د ضابطه لاندې کتلې شی پخپله ضابطه نه شی جوړيدې

د ابو طلحه د نکاح په عدم بطلان باندې اعتراض:- يومشهوراعتراض هم دې چه مهاجر د ام قيس هجرت د نکاح سره مشروط کولو د وجې نه باطل شوې وه نو د ابوطلحه نکاح چه د اسلام سره مشروط کړې شو دا ولې باطل نه شو؟

د اعتراض جواب:- هجرت يو راتلونکې عارضی ځيز دې په دې کښې امتداد نشته کله چه هجرت مکمل شو هغه وخت په دې کښې اخلاص نه وو او د مکمل کيدونه پس د اخلاص ګنجائش پاتې نه شو خکه چه په هجرت کښې امتداد نشته او اسلام خو يو ممتدعمل دې که چرې نن په کښې اخلاص نه وی نو صبا به راشی ابوطلحه سره د دې چه د واده په غرض اسلام قبول کړې وو ليکن د نکاح نه پس ئی په اسلام کښې اخلاص راغلو اوپه رښتونی زړه سره د اسلام قبلولو ګنجائش باقی وو لهذا په دې کښې او په هجرت کښې فرق پيدا شو

[۷]بَابُ الْوَلِیمَةِ

دَولیمې دعوت

خلاصة الباب:-

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① التاكيد في الوليمة: ۱، ۱۵.

② المقادير المنقولة في الوليمة_ , شاة: ۱، ۲ - خبز ولحم: ۳. . حيس وأجزاءه ۴، ۵. : مدين من شعير : ۶. . سويق وتمر: ۱۱.

③ التاكيد بإجابة الوليمة: ۷، ۸، ۹، ۱۳.

④ عدم الإجابة وقت وجود المانع: , وجود المنكر: ۱۲. – التفاخر بالوليمة: ۱۶، ۱۷. . الفسق: ۱۸.

⑤ عدم الشركة في طعام الوليمة بلا إذن: ۱۰.

⑥ مصداق شر الوليمة : ۹.

⑦ مدة الوليمة: ۵.

⑧ المرجح وقت تعارض الدعوتين: ۱۴.

⑨ عدم السؤال عن المسلم عن طعامه من حيث الحرمة والحلة: ۱۹.

د لفظ وليمه تحقيق:-دَ وليمه جمع ولائم ده ولم يلم ولماجمع كيدل. يوخ ئى اودَ راغوند يدلو په معنى كښې دي. ولائم هغه خوراكونو ته وائى چه دَ جاهليت په دور كښې دَ غم يا خوشحالئى په موقع وركولې شو عربوخلقو به تولو ته ولائم ونيل بيا ميلمستيا سره خاص كړې شو مثلاً ولائم العرس او ولائم الخرس وغيره وغيره

نن صباوليمه صرف دَ واده خادنى خوړې سره خاص شوې ده خكه چه شريعت دَ وليمه لفظ دَ واده اونكاح دَپاره استعمال كړې دې فقهاء كرام فرمائى چه وليمه دَهغه خوراك نوم دې چه دَ شب زفاف نه پس يعنى دَ ښځې خاوند دَ ملاقات نه پس وركولې شى دَ وليمې اصل سنت خو هم دغه دې چه دَ ښځې خاوند دَملاقات نه پس وى خوكه ملاقات نه وى نوكم ازكم نكاح شوې وى كه دَ نكاح نه وړاندې يوسړې وليمه وركوى نودا دَ وليمې سنت نه دې صرف دعوت دې

دوليمې حكم:-په اسلام كښې دعوت وليمه ته بعضې خلقو واجب وئيلى دى بعضې سنت مؤكد وئيلى دى اوبعضو مستحب وئيلى دى رحمة الامة فى اختلاف الائمة يومستند كتاب دې په دې كښې ليكلى دى "وليمة اللعرس سنة على الراجح من مذهب الشافعي

ومسلمة عندالثلاثة (ص۲۱۴) کوموحضراتو اهل ظواهرو وغیره ولیمې ته چه واجب وئیلی دی هغوی اولمولوبشاة دامر صیغې ته ئې کتلې دی الولیمة حق الفاظوته ئې کتلې دی جمهورفرمائی دامت تعامل په لزوم او وجوب باندې نه دې البته د سنت لفظ عام او مشهوردې مستحب او سنن زوائد هم یوځیزدې لهذا مستحب وئیل هم صحیح دی [الکاشف ۲:۳۲۲]

ددعوتونوبیان

د دعوت قبلولو حکم: -د دعوت په قبلولو کښې چه څه شرعی عذرنه وی نو قبلول واجب دی که عذر وی سړې پخپله بیمار وی یا په تللو کښې خطره وی یا دعوت دحرام مال نه وی یا په دعوت کښې دمتوب وغیره وی یا بدعات اومنکرات وی نوددې قبلول جائزنه دی که د تګ نه پس پته اولګی چه منکرات دی نوکه داسړې پخپله مقتداء جوړشوې دې نوهلته دې نه حصاریږی بلکه په منډه دې واپس لاړشی اوکه چرې مقتدا نه وی جوړشوې نوبیا دې خوراك اوکړی رادې شی
دمقتدا جوړیدو مطلب دادې چه داسې عالم جوړشوې دې چه دهغه دعمل نه خلق دلیل نیسی اودا سندګنړی یا دې داخبره هم په خیال کښې اوساتی چه دعوت خاص قبلول لازم دی چه چ خصوصی دعوت درکړې وی اوکه خصوصی دعوت نه وی نوعام دعوت قبلول لازم او واجب نه دی ددعوت قبلولواصل وجه داده چه د شریعت حکم دې بله وجه دا چه د راغوښتونکی دخصوصی دعوت نه پس انکارکولوسره به دهغه زړه مات شی نفرت به زیات شی او په عام دعوت کښې دا صورت نه وی
ددعوت دمنکراتونه داهم دی چه څوك لوئی سړې د خپل شان شوکت اوعهدې په بنیاد باندې خپل عزت زیاتولود پاره په خصوصی دعوت پاندې عالم رابلی یاد یوباطل د تقویت دپاره هغه رابلی اودهغه په ذریعه باندې په بل باندې داثر اچولوکوشش کوی یاڅوك قاضی په دعوت باندې راغواړی نودا دعوت د رشوت شکل اختیاره وی یا نور داسې منکرات دی مثلاً ریښمین قالین وغیره یا حرام مال یا ریاکاری یاکبر تجبر وغیره منکرات وی

دعربو دجاهلیت ولیمې:

دعربو د جاهلیت په دورکښې د ولائم په نوم باندې پنځلس دعوته روان وو په اضافت سره به ئې په دې کښې تخصیص کولو د دغه ټولو نومونه دمختصرتعارف سره لیکلې کیږی
① **ولیمة العرس:** دابه دواده ښادئی په موقع کیدلو اسلام دا په ځائې ساتلې دې په عام توګه هم دغه ولیمه پاتې ده
② **الخرس:** د ماشوم په پیدا کیدو چه کوم خوراك ورکولې شی هغې ته الخرس وائی

③ **عقيقة:** په اوومه ورځ دَ ماشوم نوم كيخودو وخت كښې چه كوم خوراك وركولې شى هغې ته عقيقه وائى په اسلام كښې دا مسنون طريقه ده
④ **اعذار:** دَماشومانو په سنتولو كښې چه كوم خوراكونه وركولې شى هغې ته اعذار وائى په اسلام كښې دا نشته دا صرف رواج كښې دى.
⑤ **ذوالحذاق:** ماشوم چه په يوځيز كښې كمال پيدا كوى مثلاً غشى ويشتل. لامبو وهل. توره چلول اواسونه زغلول وغيره هغه وخت به دا خوراكونه وركولې شو په اسلام كښې دا خوراكه تحفيظ قرآن يا فارغ تحصيل كيدو باندې دا خوراك وركولې شى
⑥ **ملاك:** دَ كوژدن په تقريب كښې چه كوم خوراك وركولې شى هغې ته ملاك وائى
⑦ **وضيمه:** چاكره په مرى كيدو باندې چه كوم خوراك ورليګلې شى هغې ته وضيمه وائى اسلام ددې دَ وركولو تاكيد كړې دې په جاهليت كښې به دَ وضمې لاندې دريمه اوومه نهمه پنځلسمه اودَ كليزې خوراكونه هم راتلل چه نن صبا بريليانو خپل كړى دى
⑧ **وكيره:** دَ كور جوړولو په موقع چه به كوم خوراك وركولې شو هغې ته به نى وكيره ونيل. وكر ځالې ته وائى
⑨ **عتيره:** دا خوراك به دَ رجب دَ مياشتې په ليدو باندې وركولې شو
⑩ **شُنْدُخ:** دا خوراك به هغه وخت وركولې شو كله چه به دَ چا ورك څيز راپيدا شو
⑪ **نقيعه:** دا خوراك به دَ مسافر كورته په واپس كيدو باندې وركولې شو
⑫ **تحفه:** دا خوراك به دَ ملاقات په وخت وركولې شو
⑬ **قرى:** دا به عام ميلمانو او نوى راتلونكو خلقو ته وركول شو
⑭ **نقرى:** دا به په خاص كارډ باندې دعوتى خوراك وو
⑮ **جفلى:** دابه دَعام خيرات خوره وه په دې كښې به دوستان او دښمنان ټول شريكيدل

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۲۱۰] دوليمى حكم

۳۲۱۰-(۱) [۱] عَنْ أَنَسٍ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ [۳] فَقَالَ: مَا هٰذَا؟ قَالَ: إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ، [۴] قَالَ: بَارَكَ اللهُ لَكَ، أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب قول الله تعالى: {وآتوا النساء صدقاتهن نحلة} [النساء: ٤](رقم-٥١٤٨) ومسلم فى كتاب النكاح/ باب الصداق، وجواز كونه تعليم قرآن، وخاتم حديد، وغير ذلك من قليل وكثير، واستحباب كونه خمسمائة درهم لمن لا يجحف به (رقم-٧٩ - (١٤٢٧))واخرجه ابو داود فى السنن كتاب النكاح/باب قلة المهر (رقم-٢١٠٩) والترمذى فى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى الوليمة (رقم-١٠٩٤) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ الوليمة (رقم-١٩٠٧) كتاب النكاح/باب ما جاء فى الوليمة (رقم-٤٧) واحمد فى المسند: ٢٠٥/٣

ترجمه:[۱] حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د عبدالرحمن بن عوف ﷺ (په بدن يا په کپړه) (د زعفران) زيړه نښه وليده،[۳] پوښتنه يي ورنه وکړه چې دا څه دي؟ عبدالرحمن ﷺ اوويل چې ما د يو نواة (د پنځو درهمو برابر وزن) سرو زرو په عوض کښې د يوي ښځي سره نکاح کړي ده،[۴] حضور ﷺ (د دي اوريدو سره) ورته وفرمايل چې الله تعالى ﷻ دي تاته مبارکه کړي، وليمه وکړه (يعني طعام پخولو سره په خلقو يې وخوره) که څه هم هغه يوه پسه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ①وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ:نواة د کهجوري هډوکی ته وائی. يعنی د کهجوري د هډوکی د مقدار برابر سره زر. چه هغه وخت د دې قيمت پنځه درهم وو

تسهيلات:

قوله: مَا هٰذَا؟:

د نبی کريم صلي الله عليه وسلم د پوښتنی کولو وجه:-دا سوال ئی ځکه اوکړو چه نبی کريم صحابه ته خلوق يعنی دَ زعفرانوعطر لګولونه منع کړې وو عبدالرحمن بن عوف ﷺ عذر پيش کړو چه دَ بی بی نه لګيدلې دي. "اولم"کوم خلق چه وليمه ته واجب وائی دَهغوی دليل دا دي "ولوبشاة" يعنی لونی ځيزاوښ وغيره نه ليکن چيلئی خوذبح کړه. بعضي علماؤ دا په تکثيرباندې حمل کړي دي چه وليمه کوئی اګرکه چيلئی ولې نه وی دا مفهوم بعيد دي تقليل زيات واضح دي.

بعضي دَ نواة نه مراد پنځه درهم اخستی دی چه دا هم بعيده ده بلکه دَ نواة نه مراد دکهجوري دَ ګيتی (هډوکی) برابر سره زر دی

[۲۲۱۱] په ازواج مطهراتو کښې د تولو ښه لويه وليمه

٣٢١٠-[٢](١)[۱] وَعَنْهُ قَالَ: «مَا أَوْلَمَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَائِهِ[۲] مَا أَوْلَمَ عَلَى زَيْنَبَ أَوْلَمَ بِشَاةٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د خپلي يوي بي بي دومره لويه وليمه نه وه کړي.[۲] څومره لويه وليمه چې يي د بي بي زينب ﷺ په نکاح کښې کړی وه. حضور ﷺ د هغې په نکاح کښې د يوه پسه وليمه کړي وه. (بخاري مسلم)

١) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب الوليمة ولو بشاة (رقم-٥١٦٨) ومسلم في كتاب النكاح/ باب زواج زينب بنت جحش. ونزول الحجاب. وإثبات وليمة العرس (رقم-٩٠ - (١٤٢٨) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الأطعمة/باب في استحباب الوليمة عند النكاح (رقم ٣٧٤٣) وابن ماجه في كتاب النكاح/ الوليمة (رقم-١٩٠٨) واحمد في المسند: ٢٢٧/٣

تسهيلات: **قوله:** أَوْلَمَ بِشَاةٍ:

د حضور پاک ﷺ وليمه: -يعني دَ نورو ازواج مطهرات دَ دعوت وليمه په اعتبار سره چيلنې لونې څيز وو ځکه چه دحضرت زينب رضي الله عنها نه علاوه دَچا په دعوت وليمه کښې چيلنۍ نه ده ذبح شوې دَدې مطلب دانه دې چه چيلنې دَ تولو نه لونې دعوت وو لونې دعوت خو په اوښ وغيره سره کيدلو لکه چه دحضرت علي رضي الله عنه دَ واده دپاره نې دوه اوښې ساتلي وې اوحضرت حمزه رضي الله عنه وژلي وې کومه چه مشهوره قصه ده لهذا دَدې نه مخکښې روايت کښې "ولوبشاة" دَتقليل دَپاره دې دَتکثيردَپاره نه دې

[۳۲۱۳] د زينب بنت جحش د وليمه

۳۲۱۲- [۳] (۱) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: «أَوْلَمَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ بَنَى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ ۲ فَأَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ د بي بي زينب بنت حجش رضي الله عنها سره د شب زفاف (د واده شپه) تيرولو نه وروسته وليمه وکړه. ۲ او هغه (په هغه وليمه کښې) خلق په غوښو او په روټۍ سره ماړه کړل. (بخاري)

حل اللغات: - ① بَنَى بِزَيْنَبَ: د زينب رضي الله عنها شب زفاف. د رخصتۍ شپه.

تسهيلات:

قوله: فَأَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا:

دحديث د بعضې جملوو ضاحت: - ① فَأَشْبَعَ النَّاسَ: کوم خلق چې په وليمه کښې حاضر وو هغوئ باندې ئې ښۀ په مړۀ خيټۀ خوراك اوکړو

② خُبْزًا وَلَحْمًا: روټۍ او غوښې سره يا په دې کښې دا هم احتمال دې چې د غوښې په خوروا کښې ثريد (يعني روټۍ وره کړې يا ماته کړې وی) او هغه خورلې شو

[۳۲۱۳] د ښځې آزادي د هغې مهر مقرر کول

۳۲۱۳- [۴] (۲) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «أَعْتَقَ صَفِيَّةَ ۲ وَتَزَوَّجَهَا وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا ۳ وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب قوله: إلا تدخلوا بیوت النبی إلا أن یوذن لکم إلی طعام غیر ناظرین....... (رقم-۴۷۹٤)

۲) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب الولیمة ولو بشاة (رقم-۵۱۶۹) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب فضیلة إعتاقه أمته. ثم یتزوجها (رقم-۸٤ - (۱۳۶۵) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی الرجل یعتق أمته ثم یتزوجها (رقم-۲۰۵٤) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الرجل یعتق الأمة ثم یتزوجها (رقم-۱۱۱۵) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: التزویج علی العتق (رقم-۳۳٤۲) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ الرجل یعتق أمته ثم یتزوجها (رقم-۱۹۵۸) واحمد فی المسند: ۹۹/۳

ترجمه: او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ مخکې بي بي صفيه رضي الله عنها آزاده کړه، بيا يې د هغې سره نکاح وکړه، حضور ﷺ د هغې آزادي د هغې مهر وګرځولو او د هغې په نکاح کښې يې د حيس وليمه وکړه. (بخاري)

حل اللغات ① حَيْس: د کهجورو پنيراو غوړو حلوا.

تسهيلات

قوله أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَتَزَوَّجَهَا

د جنګ خيبر په موقع باندې د حضرت صفيه رضي الله عنها خوب ليدل: حضرت صفيه رضي الله عنها د خيبر د يهودو د سردار حُيي بن اخطب لوروه د جنګ خيبر په موقع باندې هغې خوب وليدلو چه د يثرب نه يو سپوږمۍ راغله او د هغې په غيږ کښې راکوزه شوه هغې د خوب خپل خوند ته اوونيل هغه دا يو څپيړه په مخ باندې اووهله چه ته د يثرب يعنی د مدينې بادشاه محمد ﷺ سره د واده خواهش لرې هغه پخپله فرمائی چه په دغه څپيړه باندې ترد غه وخته پورې زما سترګه مخ شين وو چه زه نورو بنځو سره د حضرت محمد ﷺ په قيد کښې راغلم مابنام نبی کريم ماله راغلو او ماسره نې خبرې اترې اوکړې د دغه خبرو اترو خلاصه دا وه

حضرت صفيه رضي الله عنها ته نبی کريم صلي الله عليه وسلم اختيار ورکول: حضرت صفيه رضي الله عنها ته نبی کريم اوفرمائيل که ته په خپل دين باندې قائمه پاتې کيدل غواړې نو په تا باندې هيڅ جبر نشته او که چرې ته الله تعالی او د هغه رسول ﷺ اختياروې نو دا به ستا د پاره بهتروي حضرت صفيه رضي الله عنها اوفرمائيل زه الله تعالی او د هغه رسول او اسلام خوښوم نبی کريم هغه آزاده کړه او بيائی هغې سره نکاح اوکړه صحابه کرامو ته معلومه نه وه چه صفيه په وينځو کښې ده يا ام المؤمنين جوړه شوې ده بعضې صحابه کرامو اوفرمائيل چه که پرده نې اوکړه نو نکاح به نې شوې وی او ام المؤمنين به جوړه شوې وی او که چرې پرده نې اونه کړه نو وينځه به وی چنانچه د سورلئی په وخت چه زما پرده اوکړې شوه نو صحابه کرامو ته اندازه اوشوه چه ام المؤمنين جوړه شوې ده

قوله وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا

عتق مهر جوړيدو کښې مذاهب:-

په دې حديث کښې دا لفظ موجود دې چه "جعل عتقها صداقها" نبی کريم د حضرت صفيه رضي الله عنها آزادی د هغې مهر اوګرځولو نو

① امام احمد بن حنبل رحمه الله اسحاق بن راهويه رحمه الله اوزاعی رحمه الله او قاضی ابويوسف رحمه الله فرمائی چه عتق مهر جوړولې شی دا جائزدی

④ حضرت امام مالك رحمه الله امام ابوحنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيز عتق مهر گرخول صحيح نه دی

داول فريق دليل:- زيربحث حديث د دوی مستدل دې چه د حضرت صفيه رضي الله عنها مهر دهغې عتق گرځولې شوې وو

داول فريق د دليل درې جوابونه:- په حديث کښې کوم د صداق لفظ راغلې دې داد حضرت انس رضي الله عنه کلام دې اود قرآني آيت په مقابله کښې قابل د استدلال نه دې

② حضرت صفيه رضي الله عنها مهرمعاف کړې وو داهم پيغمبری خصوصيت وو

③ دا خصوصيت پيغمبری وو د نبی کريم د پاره بغير د مهر نه نکاح کول جائز وو نو که چرې عتق مهر جوړ کړې شو نو په وجه د خصوصيت جائز وو د بل چا د پاره جائز نه دې

د دويم فريق دليل:- قرآن کريم د دوی مستدل دې الله تعالی فرمائيلی دی ﴿أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾ [سورت نساء ۲۴.] اوچه عتق مال نه دې نومهرنه دې

[۳۲۱٤] دبي بي صفيي رضي الله عنها وليمه

[۵] (۱) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: «أَقَامَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِينَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ [۲] فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِينَ إِلَى وَلِيمَتِهِ وَمَا كَانَ فِيهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ [۳] وَمَا كَانَ لَهَا إِلَّا أَنْ أَمَرَ بِالْأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ فَأَلْقَى عَلَيْهَا التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ د خيبر او د مديني په منځ کښې درې شپې قيام وکړې. او د صفيي رضي الله عنها سره (د نکاح نه وروسته) شب زفاف (د دواده شپه) تيره کړه. [۲] او ما مسلمانان د حضور ﷺ د وليمې دعوت ته را وبلل. په وليمه کښې نه خو غوښه وه نه روټی وه. [۳] بلکې حضور ﷺ د دستر خوان خورولو حکم وکړې. کوم وخت چې دسترخوان هوارکړل شو، نوپه هغه خورما، او اقط او غوړي کيښودل شو. (بخاري)

حل اللغات ① بِالْأَنْطَاعِ: دسترخوان ② وَالْأَقِطَ: پنير

تسهيلات:

قوله التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ:

په بی بی صفيه بالدې د نبی کريم صلي الله عليه وسلم د وليمې دعوت:- دې نه مخکښې حديث کښې لفظ حيس راغلې ووداد هغې تفسيردې چه د کهجورو پنيراوغوړو حريره او د حلوا په شان يوخوراکې ته حيس وئيلی شی دې حديث نه پس راتلونکی حديث کښې د دوو سيرو اوربشوذکر دې چه د سردار اولين او آخرين وليمه داسې وه په دې سره به د امت

۱) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة خيبر (رقم ۴۲۱۳) والنسائي في كتاب الجهاد/باب:البناء في السفر (رقم ۳۳۸۲) واحمد في المسند: ۲۶٤/۳

دَ هغه غريبانانو دَ زړه ساتنه کيږي څوك چه دَ وليمې دَ دعوت طاقت نه لري نوهغوی ته دَ نبی کريم دا نمونه ملاؤ شوه چه نبی کريم په دوو سيرو اوربشوباندې خپله وليمه اوکړه دې نه مخکښې دَ حضرت زينب رضي الله عنها په وليمه کښې په خلقو باندې دَ چيلئی غوښه په مړه خيټه اوخوړلې شوه کوم سره چه مالدارنوته دَ سنت نمونه ملاويږی که چرې طاقت وی نو ښه خوراك ورکړه اوکه طاقت دې نه وی نو په قرض اخستوسره خپل خان مه خرابونی دَ نبی کريم سيرت ته اوګورئی چه په دوو سيرو اوربشوباندې وليمه ورکولې شی

[۳۲۱۵] دَ حضرت ام سلمه رضي الله عنها وليمه

۳۲۱۵—[۲] (۱) ① وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ ② «أَوْلَمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيرٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي صفيه رضي الله عنها بنت شيبه وايي ② چې نبی کريم ﷺ د خپلې بي بي مبارکې (غالبًا د ام سلمه رضي الله عنها) وليمه د دوو سيرو وربشو سره وکړه. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيرٍ:

د علي بعض نسائه مصداق: - امام سيوطی رحمه الله فرمائی چې د بعض نسائه نه مراد شايد ام سلمه رضي الله عنها وي

دام سلمې اولنې خاوند: - ام سلمه رضي الله عنها اول د ابن عبدالاسد حضرت ابو سلمه رضي الله عنه په نکاح کښې وه دهغه د وفات نه پس ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چې ما د حضور نبی کريم ﷺ نه دا کلمات آوريدلې وو چې کوم کس دمصيبت په وخت کښې دا کلمات اووائی (اللّٰهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا، إِلَّا أَخْلَفَ اللّٰهُ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا) حضرت ام سلمه رضي الله عنها فرمائی چې ما به دا دعا وئيله او په زړه کښې به مې سوچ کولو چې د ابو سلمه رضي الله عنه دمرګ نه پس به ماته د هغه نه څوك بهتر ملاويږی بهر حال ما به په زړه کښې دا دعا وئيله

دنبی عليه السلام ام سلمې ته د نکاح پيغام ليږل: - بيا نبی کريم ﷺ ماته د حاطب بن ابی بلتعه په ذريعه د نکاح پيغام رااوليږلو خينې رواياتو کښې دی چې حضرت ابو بکرصديق رضي الله عنه ورته د نکاح پيغام ليږلو وو خو هغې انکار کړې وو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه هم دې ته دنکاح پيغام ليږلو وو بيا روستو چې کله حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته د نبی کريم ﷺ د خطبې باره کښې علم اوشو چې هغوئ ﷺ خواهش مند دی نو هغه خپل نفس ته دير زيات غصه شو او خپل نفس ئې ملامته کړو

د ام سلمه درې خصلتونه: - ام سلمه رضي الله عنها به فرمائيل چې کله حضرت نبی کريم ﷺ ما ته

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب من أولم بأقل من شاة (رقم-۵۱۷۲) واحمد فی المسند: ۱۱۳/۶

پیغام راواولیږلو نو ما اووئیل چې مرحبا برسول لیکن ما کښې درې خصلتونه دی

① زه یوه غیرمنده ښځه یم

② زه په مصیبتونو کښې راګیره ښځه یم

③ زما څوك ولی نشته دې چې زما نکاح اوکړی

نبی علیه السلام ام سلمې ته د درې واړه خبرو جواب: – نبی کرې ﷺ تشریف راوړو او ماته ئې اوفرمائیل چې تا د کوم غیرت ذکر اوکړو هغه څه دالله ﷻ نه دعا کوم چې هغه ستا نه ختم کړی او تا چې په مصیبتونو کښې د راګیریدو ذکر اوکړو نو دهغې بدله کښې به الله ﷻ ستا دپاره کافی شی او ستا څوك ولی نشته دې نو ستا په رشته دارو کښې ما بد نه ګنړی بیا دې نه پس ام سلمه رضي الله عنها دخپل ځوئې نه تپوس اوکړو نو هغه اووئیل چې «فإن الله سيكفيهم» یعنی ستا دپاره الله ﷻ کافی دې بیا زما ځوې زما واده نبی کریم ﷺ سره اوکړو ددې حدیث نه معلومه شوه چې ځوئې د خپلې مور واده کولې شی او د احنافو هم دا مسلك دې خو د امام شافعی رحمه الله په دې کښې اختلاف دی

[۳۲۱٦] دولیمې دعوت قبلول پکار دی

[٤–٣٢١٦] (١) ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ٢ «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ٣ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: فَلْيُجِبْ عُرْسًا كَانَ أَوْ نَحْوَهُ.

ترجمه: ١ او حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هر کله چې په تاسو کښې څوک د واده د طعام د پاره وبلل شي، نو هغه ته ورتلل پکار دی. «بخاري مسلم» ٣ او د مسلم به یو روایت کښې دي چې دعوت قبلول پکار دی. که هغه د ولیمې دعوت وي یا د دې قسم یو بل دعوت وي

حل اللغات: - ① عُرْسًا: واده. خوشحالی

تسهیلات:

قوله: إِلَى الْوَلِيمَةِ فَلْيَأْتِهَا:

نوټ: – دې حدیث سره متعلق تفصیل د دې باب په اول کښې تیرشوې دې

١) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب حق إجابة الوليمة والدعوة. ومن أولم سبعة أيام ونحوه ولم يوقت النبی صلى الله عليه وسلم يوما ولا يومين (رقم-٥١٧٣) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب الأمر بإجابة الداعی إلى دعوة (رقم-١٠٠ - ١٤٢٩) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأطعمة/باب ما جاء فی إجابة الدعوة (رقم-٣٧٣٦) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ إجابة الداعی (رقم-١٩١٤) ومالک فی الموطا کتاب النکاح/باب ما جاء فی الوليمة (رقم-٤٩) واحمد فی المسند:٢٢/٢

[۲۲۱۷] د دعوت د اجابت حکم

۳۲۱۶ - [۸] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ [۳] فَلْيُجِبْ فَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کښې څوک د واده يا د دې قسم په تقريب (پروګرام) کښې د طعام د پاره وبلل شي. [۳] نو هغه ته پکار دی. چې هغه دعوت قبول کړي يعنی دعوت ته دې ولاړ شي. بيا (هلته په ورتلو سره د هغه په مرضي موقوف ده چې) که طعام وخوري يا ونه خوري. (مسلم)

تسهيلات:

قوله إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ:

د عذر په وجه د دعوت نه قبلولو جواز: - ابن الملک ﷺ فرمائي چې دا امر د وجوب د هغه چا د پاره دې چا ته چې څه عذر نه وی او که عذر لاحق شوې وی لکه د دعوت ځنې لرې دې چې هلته تګ کښې تکليف او مشقت دې نو بيا ددې دعوت نه قبلولو کښې څه باک نشته دې او داشان مسلم او ابوداؤد کښې روايت دې چې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې کله تاسو کښې چا ته دعوت ورکړې شی نو هغه ته پکار دی چې هغه قبول کړی

[۲۲۱۸] په وليمه کښې يواځې مالداران راغوښتل انتهايي بد دي

۳۲۱۷ - [۹] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ [۳] وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُوْلَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] خراب طعام د هغه وليمې طعام دې چې په هغه کښې مالداران وبلل شي. او فقرا پريښودل شي. [۳] او کوم سړی چې دعوت (د يو عذر نه کيدو باوجود) قبول نه کړي. نو هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وکړه. (بخاري مسلم)

تسهيلات: **قوله شَرُّ الطَّعَامِ:**

مذکوره وليمې ته د شر الطعام ويلو وجه: - وليمې ته نی خراب خوراك د وليمې د وجې نه نه دی ونيلی بلکه په دې وجه دې ته شر الطعام ونيلی شوی دی چه د دنيا والوعادت دې

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب النکاح/ باب الأمر بإجابة الداعی إلی دعوة (رقم-۱۰۵ - (۱۴۳۰)) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأطعمة/باب ما جاء فی إجابة الدعوة (رقم ۳۷۴۰)

۲) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب من ترک الدعوة فقد عصی الله ورسوله (رقم-۵۱۷۷) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب الأمر بإجابة الداعی إلی دعوة (رقم-۱۰۷ - (۱۴۳۲)) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأطعمة/باب ما جاء فی إجابة الدعوة (رقم-۳۷۴۲) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ إجابة الداعی (رقم-۱۹۱۳) ومالک فی الموطا کتاب النکاح/باب ما جاء فی الوليمة (رقم-۵۰) واحمد فی المسند:۲/۲۴۱

چه په ولیمه کښې د خان خودلو د پاره مالدار، منصب دار، رعب دار، او مشهور خلق راغواړي اوغریبانان او فقیران پریږدی که چرې داخارجی علت نه وی نونفس ولیمه خود شریعت ماموربه مسنون یا مستحب حکم دې ددې ترغیب نبی کریم ورکړې دې نودې ته نی شرالطعام څنګه اوونیل معلومه شوه چه د دغه خارجی قید د وجې نه نی مذمت شوې دې اوهغه دا چه غریبانان پریخودې شی اومالداران راغوښتې شی او بیا پرې خوراک کولې شی

قوله: فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ:

د ولیمې د دعوت قبلولو حکم: -دعوت قبلول د ائمه احناف په نیز د راجح قول مطابق مستحب دې او د جمهورو په نیز د مشهورقول مطابق واجب دې رحمة الامة في اختلاف الائمه کښې داسې لیکلی دی لیکن بعضې کتابونوکښې داسې لیکلی دی چه داحدیث د هغه خلقو دلیل دې چه دعوت قبلولته واجب وائی او د جمهورو په نیزدعوت قبلول مستحب دی دا قول ډیر واضحه معلومیږی باقی دعوت کښې که چرته منکرات او یا څه شرعی عذر وی نوقبلول ضروری نه دې تفصیل تیرشوې دې

[۳۲۱۹] غیر مدعوته طعام ورکول د کوربه پر اجازت موقوف دی

۳۲۱۹-[۱۰] (۱)[۱]وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: «كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكْنَى أَبَا شُعَيْبٍ كَانَ لَهُ غُلَامٌ لَحَّامٌ [۲]فَقَالَ: اصْنَعْ لِي طَعَامًا يَكْفِي خَمْسَةً لَعَلِّي أَدْعُو النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خَامِسَ خَمْسَةٍ[۳]فَصَنَعَ لَهُ طُعَيْمًا ثُمَّ أَتَاهُ فَدَعَاهُ

ترجمه:[۱] او حضرت ابومسعود انصاري ﷺ وایي چې یو انصاري صحابي ﷺ چې د هغه کنیت ابو شعیب ﷺ وو، د هغه یو غلام وو، چې غوښه به یي خرڅوله.[۲] یوه ورځ هغه انصاري صحابي (یعني ابوشعیب ﷺ) خپل غلام ته اوویل چې زما د هدایت مطابق دومره طعام تیار کړه، چې د پنځو سړو د پاره کافي وي، ځکه چې د رسول الله ﷺ دعوت کوم، او حضور ﷺ به د هغه پنځه کسانو نه یو وي (یعني حضور ﷺ به وي او څلور سړي به ورسره نور وي)[۳] نو هغه غلام د هغه د هدایت مطابق د حضور ﷺ د پاره لږ شان طعام تیار کړ، بیا هغه (ابوشعیب ﷺ) د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او حضور ﷺ او څلور صحابه وو ﷺ ته یي د هغه طعام د پاره دعوت ورکړي (حضور ﷺ چې د هغه د کور طرف ته روان شو، نو،

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأطعمة/باب الرجل يدعى إلى طعام فيقول: وهذا معي (رقم-۵۴۶۱) ومسلم في كتاب الأشربة/باب ما يفعل الضيف إذا تبعه غير من دعاه صاحب الطعام. واستحباب إذن صاحب الطعام للتابع (رقم-۱۳۸-۲۰۳۶) والترمذي في كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فيمن يجيء إلى الوليمة من غير دعوة (رقم-۱۰۹۹) واحمد في المسند: ۱۲۱/۴

حل اللغات - ① يُكْنَى: كنيت چه د خوی يا پلار په نوم سره وی چې څوک يادولی شی نودې ته كنيت وائی ② لَحَّامٌ: دَ لحم نه دَ مبالغه صيغه ده ، غوښه خرڅونكې يا غوښه تيارونكې ③ طُعَيِّمٌ: محدود طعام،

[۱] فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] يَا أَبَا شُعَيْبٍ إِنَّ رَجُلًا تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهُ وَإِنْ شِئْتَ تَرَكْتَهُ قَالَ: [۳] لَا بَلْ أَذِنْتُ لَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] يو بل سړي هم د حضور ﷺ سره ملګري شو ، حضور ﷺ د هغه كور ته په رسيدو سره يې وفرمايل [۲] چې اې ابوشعيب رضی الله عنه يو بل سړی هم مونږ سره راغلی دی. كه ته غواړې نو ده ته هم د طعام د خوړلو د پاره د راتلو اجازت وركړه، ګينی دې (په دروازه پريږده او په دستر خوان د ناستې اجازت مه وركوه) [۳] ابو شعيب رضی الله عنه اوويل چې (ده ته په دستر خوان د ناستې اجازت نه وركول زه مناسب نه ګڼم بلكې) زه ده ته هم اجازت وركوم . (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ رَجُلًا تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ

د نابللی کس په دعوت کښې د شرکت حکم: - دَ دې غلام دَ آقا كنيت ابوشعيب وو هغه دَ نبی كريم دَ پاره دَ دعوت انتظام اوكړو رسول الله ﷺ سره نور څلور ملګری هم وو
① يو سړې له بغيرد بلنې دَ چادعوت له تلل نه دی پكار دغه شان دَ يو ميلمه دَپاره هم دا جائزنه دی چه هغه څوك نابللې خان سره بوځی اوخوراك پرې اوكړی اوكه كوربه صراحةً يا دلالةً اجازت وركړې وې نوبيا بوتلل جائز دی.
② علماء كرامو ليكلی دی چه كه چرې كوربه دَميلمه په مخكښې خوراك كيخودو سره دا اوونيل چه زه دا خوراك ستا په قبضه كښې دركوم نو په دې صورت كښې هغه ميلمه په هريوبل سړی باندې دا خوراك كولې شی بلكه اوچتولوسره ئې كورته هم اوړلې شی ليكن كه چرې كوربه دَميلمه دَپاره خوراك صرف مباح كړې وی نوهغه ئې صرف پخپله خوړلې شی
د کوربه دروازې سره په اجازت غوښتلو اعتراض: - كله چه نبی كريم ﷺ سره يونابللې سړې دروازې ته هم اورسيدو دكوم خانې نه چه څوك واپس كولې هم نه شی اونبی كريم دَ كوربه اجازت هم اوغوښتلو نودلته څنګه ممكن وو چه كوربه انكاركړې وې كه هغه په زړه كښې خفه ولې نه وی نولكه چه دادَ خوشحالئی اجازت نه وو بلكه يوقسم جبروو اګرچه صورت هم دَ اجازت وو نودا څنګه جائز شو؟
د اعتراض جواب: - حضوراكرم ﷺ دَاسې معاشره تياره كړې وه چه دَهغې دَ هرفرد باطن او ظاهر يوشان پرتيدونكې وو كومه خبره چه به په ژبه وه هم هغه به په زړه كښې وه اوكومه چه به نې په زړه كښې وه هم هغه به نې په ژبه وه كه چرتې دلته دَ دغه صحابی په زړه كښې

لرښان هم دعدم اجازت خبره وه هغه به بنه په جهرسره کوله چه یا رسول الله ﷺ د دغه زیاتی سړی ګنجائش نشته دې بیا به د هغه سړی واپس تلوکښ نه پخپله په هغه څه بوج محسوس کیدو اونه به په نبی کریم باندې ګرانه تیریدله لهذا دلته څه خبره نه وه په ژبه سره اظهاراو رضامندی د زړه د رضامندئ دلیل وو بې تکلف اوصفا ستهرا معاشرې تشکیل رسول الله ﷺ فرمائیلې وو هلته د زړه اوژبې تناؤ یو وو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۲۰] دبي بي صفيې رضي الله عنها وليمه

٣٢٢٠ـــ(١)[١] عَنْ أَنَسٍ [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَوْلَمَ عَلَى صَفِيَّةَ بِسَوِيقِ التَّمْرِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه وايي [٢] چې نبی کریم ﷺ د ام المؤمنين بي بي صفيې رضي الله عنها وليمه په ستوانو او خورماوو سره کړې وه، (احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: بِسَوِيقِ التَّمْرِ:

يو تعارض اوپه رواياتو کښې تطبيق:- د حضرت صفيه رضي الله عنها د وليمې په سلسله کښې چې کوم حديث وړاندې تير شوې دې، په هغې کښې د هغې دوليمې خوراك حيس ذکر کړې شوی دی او د لته ستو او کهجورې ذکر دی. دې دواړو رواياتو کښې به مطابقت داشان وی چې دحضرت صفيه رضی الله عنها په وليمه کښې دواړه څيزونه وو، حيس هم ووا و ستو او کهجورې هم وو راويانو کښې چې چا څه کتلی دی هغه ئې بيان کړی دی

[۳۲۲۱] دَډول سنګارنه دَحضوراکرم ځان ساتل

٣٢٢١ـــ[١٣] (٢)[١] وَعَنْ سَفِينَةَ «أَنَّ رَجُلًا ضَافَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ [٢] فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا [٣] فَقَالَتْ فَاطِمَةُ لَوْ دَعَوْنَا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَكَلَ مَعَنَا [٤] فَدَعَوْهُ فَجَاءَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى عِضَادَتَيِ الْبَابِ [٥] فَرَأَى الْقِرَامَ قَدْ ضُرِبَ فِي نَاحِيَةِ الْبَيْتِ [٦] فَرَجَعَ قَالَتْ فَاطِمَةُ فَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا رَدَّكَ [٧] قَالَ إِنَّهُ لَيْسَ لِي أَوْ لِنَبِيٍّ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتًا مُزَوَّقًا.» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: [١] او حضرت سفينه رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه ته يو

---

[١] اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأطعمة/باب فی استحباب الوليمة عند النكاح (رقم-٣٧٤٤) والترمذی فی کتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی الوليمة (رقم-١٠٩٥) وابن ماجه فی کتاب النكاح/ الوليمة (رقم-١٩٠٩) واحمد فی المسند: ١١٠/٣/٢

[٢] اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأطعمة/باب إجابة الدعوة إذا حضرها مكروه (رقم-٣٧٥٥) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب إذا رأى الضيف منكرا. رجع (رقم-٣٣٦٠)

میلمه راغلی. [۲] نو حضرت علي ﷺ د هغه د پاره طعام تيار کړي. [۳] بي بي فاطمې ﷺ اوويل که مونږ رسول الله ﷺ ته هم دعوت ورکړو او هغه ﷺ زمونږ سره طعام وخوري، نو ډيرښه به وي. [۴] حضور ﷺ ته دعوت ورکړی شو. تشريف يې راوړو. او په مکان کښې د داخليدو د پاره څنګه چې د دروازي په دولرګيو خپل دواړه لاسونه کيښودل. [۵] نو د حضور ﷺ نظر په هغه منقشه پرده پريوتی چې د کور په کاليووغيره ې اچولي وه. [٦] حضور ﷺ (هغه پرده ليدو سره) واپس لاړل. بي بي فاطمه ﷺ وايي چې زه هم په حضور ﷺ پسې روانه شوم، او عرض مي اوکړو چې يا رسول الله ﷺ ته ولې واپس لاړلې؟ [۷] حضور ﷺ وفرمايل چې ماله يا هيڅ نبي له د زينت والا په کور کې داخليدل مناسب نه دی، (احمد ابن ماجه)

حل اللغات - ① عِضَادَتَي الْبَابِ: د دروازي دواړه بازوګان. چوکاټونه ② الْقِرَامَ: نقشداره پرده ③ مُزَوَّقًا: زيب او زينت والا کور

تسهيلات: **قوله**: الْقِرَامَ:

د رسول الله دننه تشريف نه اوړلو دوه وجوهات:-

① د زيب. زينت او ښائست نه د خان ساتلو د وجې نه دننه لاړ نه شو

② په دغه کپړې سره ديوال پټ کړې شوې وو کوم چه اسراف وو نبی کريم ناخوښه کړو

[۲۲۲۲] يو دعوت ته د نابللي تلونکي مذمت

---[۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «مَنْ دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُولَهُ [۳] وَمَنْ دَخَلَ مِنْ غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِيرًا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د طعام د پاره وغوښتل شي، او هغه دعوت قبول نه کړي، نو هغه د الله تعالیٰ ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني کونکي دی. [۳] او کوم سړی چې نابللي د چا د طعام مجلس له ورشي. نو هغه د غلو په شان راغي . او د مال لوټ کولو سره ووتلو. (ابوداؤد)

حل اللغات ① سَارِق: غل. ② مُغِيرًا: شوکمار. لوټ کونکې.

تسهيلات:

قوله: فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ

د دعوت په باره کښې معتدل تعليم:- حضوراکرم خپل امت ته د ښکلی اخلاقو درس ورکړې دې لهذا بغير د دعوت او بغير بلنې د چاد طعام دعوت ته تلل نی منع کړخولی دی. اوخپل امت نی د حرص اولالچ نه بچ کړي دې بل طرف ته د شرعی عذر نه بغير د چاد

---

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأطعمة /باب في استحباب الوليمة عند النكاح (رقم- ۳۷٤۱)

دعوت نه انکار ممنوع او کرخولو یاخوني دحرص او تکبر په مینځ کښې درمیانه لار اوخودله دې دپاره چه د انکار په صورت کښې په امت کښې تکبر. لوئی علو او عدم الفت خراب صفات داخل نه شی او نه په کښې حرص اولالچ راشی په دې وجه نبی کریم اوفرمائیل خوك چه بغیرد اجازت نه دعوت ته لاړو خوراك ئی اوکړو نو دخل سارقا وخرج مغیرا خرابو صفاتو سره متصف شو

[۳۲۲۳] که دوه سرې په یووخت دعوت وکړي نوکوم یو قبلول پکاردی؟

---[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲] «إِذَا اجْتَمَعَ الدَّاعِيَانِ فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا [۳] وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا فَأَجِبِ الَّذِي سَبَقَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د نبی کریم ﷺ په صحابه وو ﷺ کښې د یو سړي نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] که دوه سړي په یو وخت دعوت وکړي، نو په هغوئ کښې د هغه سړي دعوت قبول کړه، چې د هغه دروازه درته زیاته نژدې وي، [۳] او که په هغوئ کښې یو مخکې دعوت ورکړي وي (او دویم د هغه نه وروسته کړی وي) نو په دې صورت کښې د هغه سړي دعوت قبول کړه، کوم چې مخکې دعوت درکړي وي. (احمد أبوداؤد)

په حدیث کې حکم مذکور صورت:-

تسهیلات:

قوله: فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا:

دوؤ دعوتونو د اجتماع په صورت کښې حکم:- دا هغه صورت دې چه په یووخت په یو شان دوو کسانو چاته دعوت ورکړو اوس به دا سړې څه کوی؟ که ممکن وی نو د دواړو دعوت دې اوخوری خواه که کمه خوری خو رد کوی دې نه یا چه د کوم دروازه ډیره نیزدې ده هغه حقدار دې ځکه چه مشهور متل دې الحق للقریب ثم للبعید او که په دواړو کښې چرې یو رومبې دعوت ورکړې وی نو د هغه دعوت قبلول لازم دی

[۳۲۲٤] دعوت ولیمه صرف دوه ورځې دې

---[۱۵] (۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «طَعَامُ أَوَّلِ يَوْمٍ حَقٌّ [۳] وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّانِي سُنَّةٌ [۴] وَطَعَامُ الثَّالِثِ سُمْعَةٌ وَمَنْ سَمَّعَ: سَمَّعَ اللهُ بِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په اولني ورځ (د واده) طعام ورکول حق دی. [۳] په دویمه ورځ طعام سنت دی. [۴] او په دریمه ورځ طعام د

---

(۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأطعمة /باب إجابة الدعوة إذا حضرها مکروه (رقم - ۳۷۵۶) واحمد فی المسند: ۵/۴۰۸

(۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ ما جاء فی الولیمة (رقم - ۱۰۹۷)

خپل خان ښکاره کولو دپاره وي اوخوك چې دخان ښودلو خواهشمند وي، الله تعالی ﷻ به دهغه دقیامت په ورځ دټولو مخلوقاتو په مخکې تشهیروکړي چې دا رياكاراودروغجن دي. ترمذي.

حل اللغات ① سُمْعَةً رياكاري. شهرت

تسهيلات

قوله أَوَّلِ يَوْمٍ حَقٌّ:

د وليمې د وجوب دليل: - كوم حضرات چه وليمې ته واجب وائي داحديث دهغوی دليل دې نيكن د جمهورو په نيز وليمه سنت ده

د دليل نه جواب: - كوم حضرات چه دعوت وليمه ته مسنون وائي دهغوی په نيزد دې لفظ ترجمه داسې ده چه د اولې ورځ خوراك وركول ثابت دی بهرحال د دوو ورځو پورې خوراك وركول جائز دی

قوله سُمْعَةً:

د ريا او فخر دپاره كول دعوت: - ليكن كه په دريمه ورځ هم كه چرته څوك دعوت وركوی نودا كنړل پكار دی چه په دې كښې رياكاري، خان خودل اود نمائش جذبه شامل شوې ده اوس دا سړې غواړی چه دې مشهورشی د ده تعريف اوشی او هرطرف ته د ده د سخاوت غږونه اوكړې شی دې دپاره چه هغه د فخر اظهاراوكړې شی د"سمعة" هم دغه مطلب دې

قوله سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ:

د رياكارى انجام: - يعني داسړې رياكاري كوی دخان مشهورتياغواړی چه عزت دار جوړشی الله تعالی به د حشرپه ميدان كښې دې په خلقوكښې مشهوركړی چه دا سړې دروغژن دې او رياكاردې په هغې سره به دا سړې د معظم جوړيدو په ځائې "محقر" جوړشي

[۲۲۲۵] د فخر اومقابله كونكو دعوت خوړل منع دی

۳۲۲۵ —[۱۲] (۱) ① وَعَنْ عِكْرِمَةَ «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② نَهَى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ أَنْ يُؤْكَلَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ ③ وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُرْسَلًا.

ترجمه: ① او حضرت عكرمه رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه دا روايت كوي ② چې نبی كريم ﷺ د هغه دوه سړو د طعام خوړلو نه منع فرمايلي ده. چې په خپلو كښې د فخر مقابله كوي. (ابوداؤد)

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأطعمة /باب إجابة الدعوة إذا حضرها مكروه (رقم - ۳۷۵۴)

[۴] او محي السنه ويلي دي چې صحيح دا دی چې داحضرت عکرمه رحمه الله د نبی کریم ﷺ نه بطريق ارسال نقل كريدي (يعني په روايت كښې عن ابن عباس رضي الله عنهما الفاظ مذكور نه دی بلکې دلته زيات نقل شوي دي)

حل اللغات ① اَلْمُتَبَارِيَيْنِ: په فخر او ريا كښې مقابله كونكى

تسهيلات:

قوله اَلْمُتَبَارِيَيْنِ:

د لفظ مبارات معنى او په حديث كې ئې مطلب:-دا لفظ دَ مبارات نه دې په يو كار كښې د يو بل نه دَ وړاندې كيدو په معنى كښې دې دلته ددې لفظ نه مراد هغه دوه كسان دی چه زيات خوراك پخول او په خلقو باندې خوړلو كښې مقابله كوی او دخلقونه شاباسې وصولول غواړی چه دَ چا خوراك ډير ښه وو اوچا ډيرو خلقو باندې اوخوړله اودَ چا انتظام ډير بهتروو دَ دواړو مقصد خان خودل دی دَداسې دعوت خوړل منع كړې شوی دی دې دپاره چه په خلقو كښې دَ دغه مقابلې حوصله شكنى اوشى دَ راتلونكى حديث هم دغه مفهوم دې په دې كښې دَ دغه لفظ مفهوم متعارضان سره واضح كړې شوې دې يعنى دَ يو بل په ضد كښې دعوتونه پخه وی او په خلقو باندې خوری

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۲۶] د رياء او فخر دپاره شوی دعوت د قبلولو ممانعت

[۱۷] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «الْمُتَبَارِيَانِ لَا يُجَابَانِ وَلَا يُؤْكَلُ طَعَامُهُمَا». [۳] قَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ: يَعْنِي الْمُتَعَارِضَيْنِ بِالضِّيَافَةِ فَخْرًا وَرِيَاءً.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د هغه دوه سړو دعوت دی قبول نه كړل شي، نه دې د هغوی طعام وخوړل شي، چې د اظهار فخر د پاره طعام پخولو، خوړلو، په خپلو كښې مقابله كوي. [۳] امام احمد رحمه الله د لفظ متباريان په وضاحت كښې ويلي دي چې د متباريان نه د حضور ﷺ هغه دوه سړي مراد دې، چې د فخر او ريا له مخه او په طريقه د مقابلې يعنی د يو بل په ضد كې دعوت كوي

حل اللغات - ① اَلْمُتَعَارِضَيْنِ: د يو بل په ضد كښې دعوت كونكى

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث تشريح د حديث نمبر (۳۲۱۶) په تسهيل كښې ذكرشوې ده

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۶۰۶۸

[۲۲۲۷] د فاسق دعوت مه قبلوئ

۳۲۲۷-[۱۸] (۱) ۱ «وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: ۲ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ إِجَابَةِ طَعَامِ الْفَاسِقِينَ».

ترجمه: ۱ او حضرت عمران ابن حصين ﷺ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ د فاسقانو خلقو د دعوت د قبلولو نه منع فرمايلې ده.

تسهيلات: قوله: الْفَاسِقِينَ:

د فاسقانو دعوت نه قبلولو وجه: -دې نه مراد مطلق فاسق دې كه دَهرقسم په فسق كښې اخته وى دَ فساقو اوفجارو دَ دعوت دَ ممانعت سبب دادې چه دا خلق اكثرظالمان وى نو په چابه ئې ظلم كړې وى اوحرام مال به ئې راجمع كړې وى. بل هغوى له تلل اودَ هغوى دعوت قبلول دَ هغوى دپاره عزت دې دَ كوم چه هغوى دَ فسق په وجه حقدار نه دى. بل كه نن دې دَ فاسق خوراك اوكړو نوصباله به په هغه باندې خپل حلال مال خورې اوهم دغه وجه ده چه نبى كريم دعا غوښتې ده اې الله په ماباندې دَ فاسق احسان مه اچوه دَ كوم چه زه بيا روستو بدله وركوم.

[۳۲۲۸] دَ نيك مسلمان په دعوت خوړلو كښې شك مه كوئ

۳۲۲۸-[۱۹] (۲) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ۲ «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ الْمُسْلِمِ ۳ فَلْيَأْكُلْ مِنْ طَعَامِهِ وَلَا يَسْأَلْ، وَيَشْرَبْ مِنْ شَرَابِهِ وَلَا يَسْأَلْ» " ۴. رَوَى الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ ۵ وَقَالَ هَذَا إِنْ صَحَّ ۶ فَلِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْمُسْلِمَ لَا يُطْعِمُهُ وَلَا يَسْقِيهِ إِلَّا مَا هُوَ حَلَالٌ عِنْدَهُ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر كله چې په تاسو كښې يو سړى يو مسلمان ورور ته ورشي، ۳ نو د هغه طعام دې وخوري، او د هغه اوبه دې وڅكي، او دا پوښتنه دې نه كوي، چې هغه طعام او اوبه څنګه دي؟ او د كوم ځاى نه راغلي دي؟ ۴ دا دري سره حديثونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كښې نقل كړي دي ۵ او ويلي دي چې دا (آخري) حديث كه صحيح شي، ۶ نو د دې حكم وجه دا ده چې يو مسلمان په دويم مسلمان هغه څيز خوري، څكي، چې د هغه په نزد حلال وي

تسهيلات:

قوله: إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ الْمُسْلِمِ:

د اخيه المسلم مصداق او د حديث مفهوم: - دَ مسلمان رور نه مراد متقى اوپرهيزګاره مسلمان دې نو وئې فرمائيل چه دَ داسې سړى په خوراك څښاك كښې هسې شك مه كوئ

۱) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۵۸۰۳
۲) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۸۵۰۱

چه دا دَ حلال خوراك دې كه دَ حرام؟ بلكه څه چه مخې ته راشي بيشك اوبې شبه خورني خكه چه كله دغه سړې نيك دې نوهغه به نه خپله دَ حرام مال دَ خوړلو كوشش كوى اونه به په بل باندې حرام مال خورى او په دې تحقيق تفتيش او خبرواترواولتهون سره به هغه ته تكليف رسيږى كوم چه منع دې اوكه چرې دَ حرامې گټې شك دې نوبيا سوال كولې شى اوكه چرې اكثره گټه ئې دَ حرام ده نوبيا دې خوراك نه خورى اوكه غالب مال دَ حلال وى نوخورى دې

[۸]بَابُ القَسْمِ

په زياتوبيبيانوكښې دَ نمبرمقررولوبيان

خلاصة الباب:-
فيه تسعة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:
① عمل النبي ﷺ في القسم بين أزواجه الطاهرات : ۱، ۲، ۷، ۹-
② الهبة والإذن في القسم لواحدة من الزوجات: ۲، ۳، ۹-
③ طريق القسم بين الزوجة الجديدة والقديمة: ۵، ۶-
④ المواخذة من الله تعالى في ترك القسم فيما يملك : ۷، ۸، -
⑤ الاستهام في القسم لمعية الزوجة في السفر: ۴-

دعدل اوانصاف وجوب:- ①قال الله تعالى﴿ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ ﴾[سورة نساء:۳.]

② وقال الله تعالى ﴿ وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ أَن تَعۡدِلُواْ بَيۡنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡ فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلۡمُعَلَّقَةِ ﴾ [سورة نساء:۱۲۹.]

قوله: القسم:

د قسم په مفهوم كښې اقوال:- په قاف فتحه او په سين سكون دې دا قسم يقسم قسماً مصدر دې دَتقسيم په معنى كښې دې دَمال په تقسيم كښې چه كله په ډيرو شريكوالوكښې مال تقسيم شى اوهريوته خپله حصه ملاوشى هغه تقسيم په بل قسم دې

① هم دَدې نه دلته هم دَ زياتوبيبيانو په مينځ كښې نمبرمقرركول اودَهغوى په مينځ كښې برابرى اوعدل اوانصاف قائم كول قسم دې

② دَ بعضو ښخوسره دَ شپې تيرولو نمبرته قسم ونيلې دې مګرروميې مفهوم كوم چه ابن همام ﷫ بيان كړې دې هغه زيات واضح دې بعضو ددې نه هم زيات وضاحت سره داسې فرمانيلى چه دَ ښځو په مينځ كښې دَ شپې تيرولو اوخوراك څښاك اوكپړې اومكان وغيره

كښې د برابرۍ نوم قسم دې دا برابري كول واجب دي او په جماع كښې برابري ضروري نه ده ځكه چه د دې تعلق د سړي شوق اوخوښې سره دې دغه شان د زړه په مينه كښې هم برابري ضروري نه ده ځكه چه دا غيراختياري معامله ده قرآن كريم كښې الله تعالى قسم د عدل په نوم باندې ياد كړې دې لكه چه پورته آياتونو كښې ذكر دې دغه شان په احاديث مقدسه كښې دې برابرۍ ته قسم او عدل په نوم سره ياكړې شوې دې

په نبي كريم ﷺ باندې د نوبت د حكم حيثيت: -د بعضې علماؤ خيال دې چه قسم په حضوراكرم ﷺ باندې هم واجب وو مګر صحيح قول دادې چه نبي كريم ﷺ د قسم نه مستثنى وو د قرآن كريم آيت ﴿ تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ ﴾ نه معلوميږي چه نبي كريم ﷺ د قسم پابندنه وو ليكن د دې باوجود نبي كريم ﷺ په قسم اوعدل باندې عمل كړې دې قسم صرف د اقامت په موده كښې وي په سفركښې نه وي دغه شان قسم صرف په شپه تيرولوكښې دې په ورځ كښې نه دې اوكه خاوند د شپې په ډيوټۍ باندې وي نو بيا دې د قسم نمبر د ورځې مقرركړي د سفردوران كښې د تطييب قلب د پاره خښې اچولوسره يوه بي بي ځان سره بوځي نودا بهترده د نمبر موده كم نه كم يو ورځ او شپه ده دې نه په كم وخت كښې نمبر نه جاري كيږي لهذا په يوه شپه كښې د دوو بيبيانو نمبرمقرركول صحيح نه دي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۲۲۹] د حضور ﷺ د ازواج مطهرات (بيبيانو مباركو) تعداد

----[۱] ( ) «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قُبِضَ عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ وَكَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي كوم وخت چې رسول الله ﷺ وفات شو . هغه وخت د حضور ﷺ په نكاح كښې نهه بيبياني وې. چې هغوئ كښې د اتو بيبيانو مباركو نمبر مقرر وو. بخاري مسلم،

حل اللغات - ①قُبِضَ: وفات شو

تسهيلات: قوله قُبِضَ عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ

د وفات په وخت كښې د ازواجو مطهراتو ټول تعداد: -د رسول الله ﷺ يولس بيبياني وې ليكن د حضرت خديجه رضي الله عنها اوحضرت زينب خزاعيه رضي الله عنها انتقال مخكښې شوې وو په دې

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب كثرة النساء (رقم ۵۰۶۷) ومسلم في كتاب الرضاع/باب جواز هبتها نوبتها لضرتها (رقم-۵۱ (۱۴۶۵) والنسائي في كتاب النكاح ذكر أمر رسول الله صلى الله عليه وسلم في النكاح وأزواجه. وما أباح الله عز وجل لنبيه صلى الله عليه وسلم. وحظره على خلقه. زيادة في كرامته. وتنبيها لفضيلته (رقم - كتاب النكاح (رقم-۳۱۹۷)واحمد في المسند: ۲۳۱/۱

حديث كښې د هغه ازواجو ذکر دې چه دنبی کريم ﷺ د وفات په وخت ژوندنی موجود وې د ټولې نهه بيبيانې وې دکومو نومونه چه دادی
① ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها
② ام المؤمنين زينب رضي الله عنها
③ ام المؤمنين حضرت حفصه رضي الله عنها
④ ام المؤمنين حضرت صفيه رضي الله عنها
⑤ ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها
⑥ ام المؤمنين حضرت سوده رضي الله عنها
⑦ ام المؤمنين حضرت جويريه رضي الله عنها
⑧ ام المؤمنين حضرت ام حبيبه رضي الله عنها
⑨ ام المؤمنين حضرت ميمونه رضي الله عنها

د حضرت سودې خپل نوبت عائشې ته ورکول: -په دوی کښې صرف د اتو نمبر مقرر وو حضرت سوده رضي الله عنها خپل نمبر حضرت عائشه رضي الله عنها ته ورکړې وو نبی کريم اراده کړې وه چه حضرت سوده رضي الله عنها ته طلاق ورکړی نو هغې رضي الله عنها اوفرمائيل چه ماته تاسو طلاق مه راکونی خکه چه زه اميد کوم چه زه به په جنت کښې ستاسو بی بی يم زه خپل نمبر حضرت عائشه رضي الله عنها ته ورکوم

دنبی کريم ﷺ په ګڼړو بيبيانو د کافرانو اعتراض: -

کافران دا اعتراض کوی چه دمسلمانانو نبی محمد عربی ﷺ دومره زيات ودونه ولې کړی دي اودومره زياتې بيبيانې ئی ولې ساتلې وې؟

جواب: د نبی کريم ﷺ کثرت ازواج د شهوت پوره کول نه وو: -اهل اسلام او علماء کرام ددې جواب هم ورکوی اودکثرت ازواج مصلحت او ضرورت هم ښائی نوحقيقت دادې چه نبی کريم ﷺ د عظيم مصلحت اوحکمت لاندې زياتې نکاح ګانې کړې وې په دې کښې هيڅ د نفس خواهش نه وو خکه چه نبی کريم د ۲۵ کالو په خوانئی کښې د ۴۰ کالو پوخ عمر ښځې حضرت خديجه رضي الله عنها سره نکاح اوکړه چه دوه خل کونډه شوې وه که چرې نبی کريم دنفس خواهش مجبور کولو نو نبی کريم به دانکاح چرې هم نه کوله خکه چه په قريشو کښې د نبی کريم دپاره پيغلې جينکئی خو موجود وې بيا چه ترکومې پورې حضرت خديجه رضي الله عنها موجوده وه د ۵۳ کالو پورې نبی کريم بل واده اونه کړو دحضرت خديجه رضي الله عنها د وفات نه پس دېو خو حکمتون د وجې نه نبی کريم ﷺ په کثرت ازواج باندې عمل کړو په کوم کښې چه دا لاندينی حکمتونه پټ پراته وو

رحمة للعالمين ﷺ دپاره دبيبيانو ګڼړوالې: -درسول الله ﷺ ذات مبارک سراسری

رحمت اوبرکت دي، داحکامورسول، دنفسونو پاکیزه کول او قرآن کریم خلقوته رسول ددوئ ﷺ دتولونه لوئي مقصد دپیغمبرئ وو، دوی ﷺ اسلامی تعلیمات، په وینا او عمل سره په دُنیاکښې خواره کړل، خلقوته به ئي ښودل او پخپله ئي هم پرعمل وو، بیا هرکله چې دانساني ژوند هیڅ یوه خانګه داسې نهٔ وه چې په هغې کښې به درسول الله ﷺ ضرورت نهٔ وي، دجمعې دمونځ نه چې واخلې بیبیانو سره دتعلیماتو دآل اولاددپالنې، دلویوورومتیازوکولواودپاکئ حاصلولوپه باره کښې د دوئ ﷺ قولي او فعلي هدایاتونه داحادیثو کتابُونه ډک دي، په کورکښې دننه به ئي څه څه کول، بیبیانو سره ئي څنګه تعلقات ساتل ،اوکورته ورتلونکوبیبیانوته ئي دهغوئ دپوښتلو مسئلو څه جوابُونه ورکړل، داسې نورې په سوؤنو مسئلې دی چې هم دازواجو مطهراتو په ذریعه امت ته اورسیدلی د تعلیم او تبلیغ د دیني ضرورت په وجه نبی کریم ﷺ دپاره د بیبیانو کثرت یو ضروري خبره وه. صرف د عائشه صدیقه رضی الله عنها نه داحکامو او مسائلو ، اخلاقو او آدابو ، او د نبی کریم ﷺ د سیرت متعلق دوه زره دوه سوه او لس روایات مروی دی چې د احادیثو په کتابونو کښې موجود دی د ام سلمه رضی الله عنها د روایاتو شمیر درې سوه یو اویا پورې رسیدلې دې حافظ ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین [ص:۹ ج:۱] کښې لیکلی دی چې که د ام سلمه فتاوې راجمع کړې شی کومې چې هغوئ د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس ورکړی دی نود هغې نه یوه رساله مرتب کیږي

دعائشې رضی الله عنها فقاهت:- د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها چې په فقه او فتاوی کښې کومه مرتبه ده هغه د بیان محتاج نه ده . د هغوئ د شاګردانو تعداد تقریبا دوه سوه دی د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس یې تر اته څلوېښتو کالو پورې د علم رڼا خوره کړه د مثال په طور د دوؤ مقدسو بیبیانو مجمل حال لیکلې شوي دې د نورو ازواجو مطهراتو روایات هم مجموعی طور سره کافی تعداد کښې موجود دی او دا خبره ښکاره ده چې ددې تبلیغ او تعلیم فائده صرف د ازواج مطهراتو نه راؤسیدله.

ازواج مطهراتو سره دنکاح ترتیب:- ① هرکله چې ددوئ ﷺ عمرمبارک پنځه ویشت کاله وونوحضرت خدیجې رضی الله عنها سره ئي نکاح اوکړواودعمرمبارک ترپنځوسو کالو[یعنی پنځه ویشت کاله] پورې ئي یو اخې هم دغه بی بی پاتې شوه.

② دهغې رضی الله عنها دوفات نه پس ئي حضرت سوده رضی الله عنها اوحضرت عائشه رضی الله عنها سره نکاح اوشو، حضرت سوده رضی الله عنها د دوئ ﷺ کورمبارک ته راغله اوحضرت عائشه رضی الله عنها لاوړه وه، ځکه دخپل والدصاحب رضی الله عنه په کورکښې پاتې شوه.

③ بیاځوکاله پس [سنه ۲ه] کښې په مدینه منوره کښې حضرت عائشه رضی الله عنها دوالدصاحب رضی الله عنه د کورنه رُخصت کړې شوه اود دوئ ﷺ کورمبارک ته راغله چې عمرمبارک ئي دغه

وخت خلور پنځوسو کالونه رسيدلې وو اودوه بيبيانې ئې په دغه عمر کښې ورسره جمع شوې اودګنړو بيبيانو معامله دغه ځائې نه شروع شوه.

④ دې نه يو کال پس ئې حضرت حفصه ﷺ سره نکاح اوشو.

⑤ بيا څو مياشتې پس ئې دحضرت زينب بنت خزيمه ﷺ سره نکاح اوشوچه اتلس مياشتې د دوئ ﷺ په نکاح کښې دپاتې کيدونه پس وفات شوه. اوديوبل قول مطابق درې مياشتوپورې د دوئ ﷺ په نکاح کښې پاتې شوې وه.

⑥ بيا په [کال ۴هجرئ] کښې ئې دحضرت أم سلمة ﷺ سره نکاح اوشو.

⑦ بيا [سنة ۵ه] کښې ئې دحضرت زينب بنت جحش ﷺ سره نکاح اوشوچه عمر مبارک ئې دوه کم شپيته کاله شوې وو اوپه دې دومره مشر عمر کښې ورسره څلوربيبيانې جمع شوې، حالانکه اُمت ته چې څه وخت دڅلورو بيبيانو اجازت ورکړې شوې وو، دغه وخت خودوی ﷺ هم کم نا کم څلورنکاځونه په يوځل کولې شو، خودوی ﷺ داسې اونکړل.

⑧ بيا په [سنه ۶ه] کښې حضرت جويريه ﷺ سره اوشوه.

⑨ بيا په [سنه ۷ه] کښې حضرت أم حبيبه ﷺ سره

⑩ بيا هم په دې کال کښې حضرت صفيه ﷺ اوحضرت ميمونه ﷺ سره ئې نکاح اوشو.

خُلاصه داچه دڅلورو پنځوسو کالوترعمره پورې، دوی ﷺ صرف ديوبی بی سره ګُذاره اوکړه بيا پنځه ويشت کاله حضرت خديجه ﷺ اوڅلورپنځه کاله ئې حضرت سوده ﷺ سره تيرکړل بيا داتو پنځوسو کالو په عمر کښې ورسره څلوربيبيانې جمع شوې اوپاتې نورې پاکې بيبيانې دوه. درې کالو کښې دننه دننه په حرم نبوت کښې راغلې.

داخبره په خاص ډول دياد ولوجوګه ده چې په دې ټولو بيبيانو کښې صرف يوه بی بی [حضرت عائشه ﷺ داسې يوبی بی وه چې په پيغلتوب کښې ئې ورسره نکاح شوې وواوپاتې نورې بيبيانې ټولې ګنډې وې چې پکښې دځنوبيبيانودوه دوه خاوندان تيرشوی وو. اوداشمير هم بيا په آخرعمر کښې ورسره جمع شويدې.

د صحابه کرامو د نبی کريم ﷺ په رشته دارئ فخر کول:- صحابه کرام ﷺ [انړاو ښځې] ټول په دوی ﷺ فدايان وو، که دوی ﷺ غوښتې نوټولې بيبيانې به ئې پيغلې کړې وې بلکه يو، يو يا دوه، دوه مياشتې پس ورته دبيبيانوبدلولو موقعه هم وه خودوی ﷺ داسې اونکړل.

په خپل ځان پالدې د نکاح پابندئ لګول:- داخبره هم دياد ولوجوګه ده چې رسول الله ﷺ په حقه نبی وواونبی ﷺ دهوااوهوس تابع نۀ وی، چه څه کوی نو دالله تعالی په حُکم ئې کوی، چه نبی اومنلې شی نوټول اعتراضونه به ختم شی اوکه څوک ئې دسره نبی نۀ منی

او دا الـزام او لگـوی چـې دوئ يـو اخې د شـهوت پرسـتئ لـه كبلـه خپـل خـان د پـاره د بيبيانو گنړو الې رو الې گنړلې وونو دغه كس ته به وئيلې شی چې كه داسې وې نو خپل خان د پاره به ئې د گنړو بيبيانو په باره كښې د هغې پابندئ اعلان ولې كولو چه ذكرئې د قرآن پاك په آيت [لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْ بَعْدُ] كښې موجود دې پخپل حق كښې د دې پابندئ اعلان د دې خبرې ښكاره دليل دې چې نبى كريم ﷺ څه هم او كړل هغه يې د خپل رب په اجازت سره او كړل

امت ته د اسلامی تعليماتو رسول :- د گنړو بيبيانو په وجه چې اُمت ته كومې تعليمى او تبليغى فائدې اورسيدې او كوم احكام چې اُمت ته اورسيدل د هغې جزئيات په دومره گنړ شمير كښې دى چې په حساب كښې ئې راوستل گران دى. د احاديثو كتابونه په دې گواه دى. البته. څو نورو فائدو ته مونږ دلته اشاره كوو.

د پركتې د تربيت تعليم وركول :- د حضرت اُم سلمه رضى الله عنها خاوند. ابو سلمه رضى الله عنه چې وفات شو نو د هغې نه پس ورسره رسول الله ﷺ نكاح كړې وه، هغه د مړخاوندنه پيدا اولاد سره د دوئ ﷺ كورته راغله. دوى ﷺ د دغې ناڅكه اولاد چه په كومه مينه محبت سره پالنه اوكړه او پخپل عمل سره يې اوښودل چې په كومې مينې او محبت سره د ناسكه اولاد پرورش كول پكار دى او د رسول كريم ﷺ په بيبيانو كښې يوازې دا يوه بى بى وه چې د بچېنو سره راغلې وه. كه يوه بى بى داسې نۀ هم وې راغلې نو په عملى ډول به د ناڅكه اولاد د پالنې خانه خالى پاتې كيده او اُمت ته به په دې باره كښې څه هدايت په لاس نۀ وې راغلې. د دې خونې حضرت عمربن ابى سلمه رضى الله عنه فرمائيلى دى چې زما پالنه د رسول الله ﷺ په غيږه مباركه كښې كيده. يوځل م هغوئ سره چې روټئ خوره نو د كاسې هرخائې نه به مې لاس وراوړو. هغوى ﷺ راته اوفرمائيل [سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ] [د الله تعالى په نوم خوراک شروع كوه. په ښى لاس خوراک كوه او خپلې مخې نه ادخپلې خوا سره] خوره. [بخارى مسلم په حواله د مشكوة ص ۳۶۳] (۱)

د جويريه سره په نكاح كولو كښې يهودو لره مالونه كول :- حضرت جويريه رضى الله عنها په يو جهاد كښې بندى جوړه شوې راغلې وه. په ويش كښې د ثابت بن قيس رضى الله عنه ياد دۀ د تربوراد اكاد زوئ په برخه اورسيده. دې خپل آقا سره داسمجهوته او معامله اوكړه چې دومره دومره مال به دركړم ته م آزاده كړه بيا دې باره كښې رسول الله ﷺ ته راغله او مالى امداد ئې تراوغوښتو. هغوى ﷺ ورته اوفرمائيل چې د دې نه ډيره غوره خبره درته اونكړم؟ هغه داسې چې ستاد ارخه به څۀ مال اداكرم او نكاح به درسره اوكرم، دغې بى بى

۱) مشكوة. كتاب الأطعمة. ج ۱. ص ۳۶۳

په خوشحالئ منظوره کړه اوداشان ددې له اړخه په مال اداکولو سره ئې نکاح کښې راوسته،

دصحابه کرامو رضی الله عنهم خپل مریان آزادول: - ددې د قوم په سوونوخلق دصحابه کرامو﷢ په ملکیت کښې راغلی وو، ولې چې دغه ټول په قید کښې راغلی وو، هرکله چې صحابه کرامو﷢ ته پته اولګیده چې حضرت جویریه ﷢ درسول الله ﷺ په نکاح کښې راغلې ده، نودهغوئ ﷺ داحترام له خاطره ئې خپل خپل ټول مریان اووینځې آزادې کړې. سُبحن الله دصحابه کرامو﷢ دادب څه شان وو، جذبه ئې داوه چې هرکله اخلق دهغوی ﷺ سخرګنئ شوه، نوموږنړه ئې دوینځو، غلامانو، په توګه څنګه په خپل ملک کښې ساتلې شو؟ اوټول ئې آزادکړل، حضرت عائشه ﷢ ددې په باره کښې فرمائی فلقدأعتق بتزویجه ایاها مائة اهل بیت من بنی المصطلق فما اعلم امراة اعظم برکة علی قومها منها:(۱)

رسول الله ﷺ سره دنکاح کولو په وجه دبنومصطلق سل کورنئ آزادې شوې ماهیڅ یوښځه داسې نه ده لیدلې چې خپل قوم دپاره په برکت کښې دجویرې ﷢ نه زیاده ثابته شوې وی. (۲).

د جویریه سره د نکاح نتیجه: - غرض داچه ددې نکاح اثرد یونفسیاتی جنګ په ډول اوشو اوداسلام په مقابله کښې دکُفرلیډرهمت اوبائیللو، ددې نکاح په وجه چې کومه سیاسی فائده اسلام او مسلمانانوته اورسیده دهغې داهمیت اوضرورت نه انکارنشی کیدې اوپه یقین سره وئیلې شی چې دالله تعالی مُدبراوحکیم رسول ﷺ به دغه فائده ضرورپه خیال کښې ساتلې وی. دایوخوخبرې اولیکلې شوې، ددې نه علاوه دسیرت پوهانوحضراتوته څه ډیرحکمتُونه دګڼرو بیبیانوپه باره کښې معلومیدې شی، په دې سلسله کښې دسیدی حکیم الأمت قدس سره رساله(کثرة الازواج لصاحب المعراج) کتل به هم فائده من وی. داتفصیل مود بیدینو اومستشرقینود خطاایستونکی خورکړی جال دشلولودپاره لیکلی دی ولې چې دفریب په دغې دام کښې ډیرهغه تعلیم یافته اوناواقفه مسلمانان هم راګیرېږی چې دسیرت نبوی ﷺ اوتاریخ اسلام نه بې خبره دی اوداسلامیاتوعلم، دمستشرقینودکتابُونونه ترلاسه کوی.(۳)

---

۱) مسند احمد رقم الحدیث: ۲۵۱۶۱

۲) تفسیر الخازن باختصار تحت سورة المائده آی ۸۰ ج ۲، ص ۳۲۳، والمستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۶۷۷۱

۳) ماخوذ ازمعارف القرآن سورة نساء جلددویم)

[۲۲۲۰] يوه بي بي خپل وار خپلې بنې ته ورکولی شي؟

۳۲۳۰ — [۲] (۱) ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ «أَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ ۲ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ جَعَلْتُ يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ، ۳ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه ﷞ وايي چې د بي بي سوده ﷞ عمر چې زيات شو. ۲ نو هغې عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ ما د خپل نمبر ورځ، چې تا ﷺ زما د پاره مقرر کړې وه، بي بي عائشې ﷞ ته ورکړه، ۳ نو د دې نه وروسته به حضور ﷺ دوه ورځې : بي بي عائشې ﷞ سره وو، يوه ورځ خو د هغې په خپل نمبر کښې ، او يوه ورځ د بي بي سوده ﷞ په نمبر کښې . (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① كَبِرَتْ: د باء په ضمې سره باب كرم نه هم رازي، بمعنى مقدار كښې لوئيدل. يا د باء كسرې سره باب علم نه وي نو بيابه ددې معنى عمر كښې زيات. دلته دباء په كسرې سره باب علم نه دې.

تسهيلات:

قوله: أَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ:

دحضرت سوده ﷞ د پلار نوم زمعه وو او د مور نوم ئې سموس وو. اول ددې واده حضرت سكران ﷛ سره شوې وو. دې دواړو د نبي كريم ﷺ د بعثت په ابتداء كښې اسلام قبول كړې وو او هجرت ئې كړې وو او حبشه ته تلى وو. هركله چې ددې خاوند حضرت سكران ﷛ وفات شو نو حضرت نبي كريم ﷺ د حضرت خديجه ﷞ د وفات نه پس دې سره نكاح اوكړه. حضرت عائشه ﷞ سره د نبي كريم ﷺ نكاح ددې سره د نكاح نه پس شوې وه. د حضرت عمر فاروق ﷛ او يا د حضرت معاويه ﷛ په زمانه كښې دا وفات شوه او په مدينه منوره كښې دفن كړې شوه. فقهاء كرامو ليكلى دى چې كه ديوې كس ښځه خپل نمبر خپلې يو بنې ته وركړى نو داجائز دى. په دې شرط چې په دې كښې د خاوند د طرفه څه لالچ يا جبر نه وى. او كه يوه ښځه خپل نمبر خپلې بنى ته وركړى نو دهغې دپاره دا هم جائز دى چې هغه كله غواړى او خپل پيشكش واپس واخلى

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب المرأة تهب يومها من زوجها لضرتها. وكيف يقسم ذلك (رقم-۵۲۱۲) ومسلم في كتاب الرضاع/باب جواز هبتها نوبتها لضرتها (رقم ۴۷ - (۱۴۶۳)) وابن ماجه في كتاب النكاح/ المرأة تهب يومها لصاحبتها (رقم-۱۹۷۲) واحمد في المسند: ۷۶/۶

[۳۲۳۱] د نبی علیه السلام د عائشې رضی الله عنها سره محبت

[۳] (۱) وَعَنْهَا «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَسْأَلُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ [۲] أَيْنَ أَنَا غَدًا أَيْنَ أَنَا غَدًا [۳] يُرِيدُ يَوْمَ عَائِشَةَ [۴] فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ يَكُونُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِي بَيْتِ عَائِشَةَ حَتَّى مَاتَ عِنْدَهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ به خپلي هغه بيماري كښې چې په هغه كښې وفات شو (روزانه) به يي دا پوښتنه كوله، [۲] چې صبا به زه كوم خاى يم (يعني صبا به د كومي بي بي سره يم) [۳] او د دې پوښتنې كولو نه د حضور ﷺ منشا دا معلوميدله، چې د بي بي عائشي رضي الله عنها نمبر په كومه ورځ دي (د حضور ﷺ د بي بي عائشي رضي الله عنها سره زيات محبت وو، څكه حضور ﷺ به د هغې د نمبر په شدت سره منتظر وو) [۴] بيبيانو مباركو (د حضور ﷺ دا قلبي اضطراب محسوس كړي، نو ټولو) دا اجازت وركړي، چې ته ﷺ د چا سره چې غواړې د هغې سره اوسه، بيا حضور ﷺ د بي بي عائشي رضي الله عنها سره مقيم شو، ددې پورې چې د هغې په كوركې وفات هم شو. (بخاري)

تسهیلات:

قوله: فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ: دَ رسول الله ﷺ حضرت عائشه رضي الله عنها سره ډيره مينه وه. په دې وجه دَ بيمارئ په ناقرارئ كښې نبی كريم دَ زړه دَ سكون حاصلولو دَپاره به نى دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ نمبر باربار تپوس كولو. دَ نبى كريم هم دغه اراده وه چه ټولې ازواج مطهرات حضرت عائشه رضي الله عنها كره دَ تلو اجازت راكړى. چنانچه ټولو اجازت وركړو او دَ رسول الله ﷺ انتقال هم حضرت عائشه رضي الله عنها كره اوشو. مګر عجيبه اتفاق دې چه كله دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نمبر راغلو نو دَ نبى كريم هم هغه وخت دَ حضرت عائشه رضي الله عنها په نمبر كښې انتقال اوشو. حضرت سوده رضي الله عنها خو دَ مخكښې نه خپل نمبر حضرت عائشه رضي الله عنها ته وركړې وو خلاصه دا چه يوه بن بلې بنې ته خپل نمبر هبه كولې شى په دې شرط چه دَ خاوند دَ طرف نه څه جبر نه وى او نه دَ خاوند څه غلطه اراده او يا څه لالچ وى

خپل نمبر بن ته هبه كولو كښې يو څو نكات:-

دلته يو څو نكتې دى كوم چه علامه طيبى رحمه الله بيان كړى دى

① كه يوه بن خپل نمبر خپلې بنې ته هبه كړى نو خاوند له دغه قبلول لازمى نه دى بلكه اختيار دې ورته چه قبلوى او كه نه قبلوى

② خاوند دَ يو معين بى بى متعلق دَ نمبر هبه كول قبول كړل نو اوس به هغه دوچنده وخت

(۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح /باب إذا استأذن الرجل نساءه في أن يمرض في بيت بعضهن فأذن له (رقم-۵۲۱۷) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم /باب في فضل عائشة رضي الله تعالى عنها (رقم-۸٤ - (۲٤٤۳))

هغه بی بی کره تیروی کومې بی بی ته چه دوه نمبرې ملازشوی دی مګر دغه ښځې ته دا
اختیار نشته چه هغه دغه زیاتی نمبر مسترد کړی

④ خپل نمبر هبه کونکې بی بی خپلې هبې ته چه کله هم غواړی رجوع کولې شی داد هغې مرضی ده

⑤ دا هم جائز دی چه ښځه خپل نمبر نیغ په نیغه خپل خاوند ته هبه کړی بیا خاوند په خپله مرضئی سره چه د کومې بی بی د پاره غواړی مقررکولې شی

⑥ که یو بی بی خپل نمبر ترک کړولیکن د چاد پاره نی متعین نه کړونو اوس به خاوند به تولو بیبیانو کښې مساوات قائم ساتی البته د هبه کونکې ښځې نمبر ختم شو

⑦ د نمبر هبه کولو په عوض څه پیسې وغیره اخستل جائز نه دی [الکاشف ۶/۳۳۳]

[۳۳۳] په سفر کښې د څان سره د بوتلو د پاره د یوې بی بی انتخاب دې د قرعه په ذریعه وشي

۳۳۳-[۳] ( ) ① وَعَنْهَا قَالَتْ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَرَادَ سَفَرًا ② أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ ③ فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا مَعَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه ﷺ وايي رسول الله ﷺ چې به د سفر اراده وکړه. ② نو د خپلو بیبیانو په منځ کښې به یې قرعه اندازي کوله. ③ د کومې په نوم چې به قرعه راوخته. هغه به یې د خان سره په سفر کښې بوتله. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① أَقْرَعَ: قرعه اندازی به ئې اوچوله. ② سَهْمُهَا: قرعه، پچه راوختله.

تسهیلات:

قوله أَقْرَعَ:

په سفر باندې خان سره د دوؤ بی بی بوتلو دپاره د خنړی د ویستلو په حکم کښې مذاهب:-

① په سفرباندې بوتللو د پاره په زیاتو بیبیانو کښې خسنړې ویستل اوس هم د امام شافعی رحمه الله په نیز واجب دي

② د امام مالك رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزپه سفرکښې د یوې بی بی بوتلوکښې د خسنړی ویستلو هډو څه ضرورت نشته بلکه خاوند ته اختیار دې کومه یوه چه بوتلل غواړی بغیرد خسنړی بوتلې شی

د اول فریق دلیل:- مذکوره حدیث د دوی مستدل دې کوم چه بالکل واضح دې چه نبی کریم به په سفرکښې د بوتلو د پاره خسنړې ویستلو

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح /باب إذا استأذن الرجل نساءه فی ان یمرض فی بیت بعضهن فأذن له (رقم-۵۲۱۷) ومسلم فی کتاب التوبة /باب /فی حدیث الإفک وقبول توبة القاذف (رقم-۵۶ - (۲۷۷۰) وابن ماجه فی کتاب النکاح القسمة بین النساء (رقم-۱۹۷۰) واحمد فی المسند: ۶/۲۶۹

د اول فريق د دليل جواب: - دا د نبی کريم ﷺ خسنرې ويستل د تطييب خاطر دپاره وو کوم چه په استحباب باندې محمول دي

د دويم فريق دليل: - په سفر کښې د نمبر نظام اوترتيب ختميږي نوچه کله په سفر کښې د يوې ښځې بوتلل واجب نه دی نوخسنرې ويستل به ولې واجب وی؟

[۲۲۲۳] دَنوې ناوې دَپاره دَنمبر مقررکولو مسئله

--۲۲۲۳-[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي قِلَابَةَ، «عَنْ أَنَسٍ قَالَ: [۲] مِنَ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا وَقَسَمَ، [۳] وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَسَمَ، [۴] قَالَ أَبُو قِلَابَةَ: وَلَوْ شِئْتُ لَقُلْتُ: إِنَّ أَنَسًا رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»- . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او ابو قلابه (تابعي رحمه الله) دحضرت انس رضی الله عنه نه روايت کوي چې هغه وفرمايل [۲] دا مسنون دي چې که يو سړی د ثيبې په موجودګۍ کښې د يوې پيغلې سره نکاح وکړي نو تر اوو شپو دي د هغه سره وي، او بيا دي د نوې او پخوانو ښځو په منځ کښې نمبر مقرر کړی. [۳] او که د يوې ثيبې (يعني کندې او يا مطلقې ښځې) سره نکاح وکړي، نو د هغه سره دې درې شپې اوسي، او بيا دې نمبر مقرر کړي، [۴] حضرت ابو قلابه وايي چې که زه وغواړم. نو دا به اووايم چې حضرت انس رضی الله عنه دا حديث د حضور ﷺ نه نقل کړی دی.
(بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① وَقَسَمَ: نمبرې دې مقرر کړی تقسيم د شپو دې اوکړی

تسهيلات: قوله: أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا:

په نوبت کښې دوه اتفاقی مسئلې: - ① که چرې دَ چا دَ يوې نه زياتې بيبيانې وی نو اتفاق دَ تولو په نيز په دوی کښې عدل او انصاف قائم ساتل واجب دي

② دغه شان که خاوندنوې واده اوکړو نوکه چرې باکره سره ئې واده کړې وی نو اووه ورځې ورې دې اول هغې سره وی او ثيبه سره دې درې ورځې وی په دې کښې دَ چا هم اختلاف نشته دي

د اعزازی شپو ختميدو نه روسته د بيبيانو د نوبت په تعداد کښې مذاهب: -

کله چې دا اعزازی زياتی ورځې ختمې شی نوبيابه باقی بيبيانوته هم دومره ورځې ورکولې کيږی يادادَ دغه نوې ناوې اضافی اعزاز دي

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب إذا تزوج الثيب على البكر (رقم-٥٢١٤) ومسلم في كتاب الرضاع/باب قدر ما تستحقه البكر. والثيب من إقامة الزوج عندها عقب الزفاف (رقم-٤٤ - (١٤٦١) واخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب في المقام عند البكر (رقم-٢١٢٤) والترمذي في كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في القسمة للبكر والثيب (رقم-١١٣٩) ومالك في الموطا كتاب النكاح/باب المقام عند البكر والأيم (رقم-١٥) واحمد في المسند: ١٧٨/٢

① جمهور فرمائی چه په نمبر کښې رومبې کول هم دَ دغه نوې ناوې حق دې اوبیا دا ورځې دَ تقسیم نه جدا ساتل هم هم دَ دغه نوې ناوې حق دې دَ باکره اعزاز تراووه ورځو پورې دې او دَ ثیبه دریوورځو پورې دې نمبر به دَدې ورځو نه پس شروع کیږی دا دَ موج ورځې دی دَ سوچ ورځې نه دی

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه صرف رومبې والې کول دَ دغه نوې ناوې حق دې دَ تالیف اوتانیس په غرض سره دا ورځې به اول دې ته ملاویږی بیا به دا ورځې په نمبر کښې شمیرلې کیږی خومره انتظارچه نورو کړې دې دا به ئې هم کونې دا دَهوش کار دې دَ جوش نه

داول فریق دلیل: - دَ حضرت انس رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې. ځکه چې دا واضح حدیث دې اوهم دغه دَ شریعت قانون اوضابطه ده.

داول فریق د دلیل جوابونه: - ① دَ حضرت انس رضی الله عنه روایت مجمل دې دَدې تفصیل دَ حضرت ام سلمه رضی الله عنها په روایت کښې دې. لهذا داخپلول پکاردی یا دا چه که په بیبیانو کښې دَ صلح صورت جوړشی او دَ ټولو په خوښه دا اعزازی ورځې هم دغه نوې ناوې ته ملاؤ شی نو دا محل دَ بحث نه دې.

② هلته تفضیل اعزاز اکرام دَ ورځو دَ زیاتوالی دَ وجې نه نه وو بلکه دَ بداعت او شروع کولو کښې اعزاز ورکول وو. لکه چه بیسې (کمیتی/قسط) اچونکی یو کس ته په ټوکه دَ رعایت دَ قسط نمبر اول ورکوی دَدې مطلب دا نه دې چه هغه دَدې ترتیب نه بهرشو.

د دویم فریق دلیل: - ① دَ حضرت ابوبکربن عبدالرحمن رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې په هغې کښې دَ حضرت ام سلمه رضی الله عنها واقعه ده په کوم کښې چه تصریح موجود ده چه دا ورځې به په تقسیم کښې شمیرلې کیږی ځکه چه ((سبعت عندك وسبعت عندهن)) والا الفاظ واضح بنائی چه دا ورځې دَ تقسیم نه بهر زیاتی ورځې نه وې بلکه صرف دَ ابتداء کولو اعزاز وو

[۳۲۲٤] د پیغلې اوثیبې سره د نوبت مقدار

۳۲۲۴-[۲] (۱) ①وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ وَأَصْبَحَتْ عِنْدَهُ ②قَالَ لَهَا: لَيْسَ بِكِ عَلَى أَهْلِكِ هَوَانٌ، إِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ عِنْدَكِ وَسَبَّعْتُ عِنْدَهُنَّ، ③وَإِنْ شِئْتِ ثَلَّثْتُ عِنْدَكِ وَدُرْتُ، ④قَالَتْ: ثَلِّثْ» . ⑤وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ: «لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابوبکر بن عبدالرحمن رحمه الله وائې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کوم وخت د بي بي ام سلمی رضی الله عنها سره نکاح وکړه، ②نو په دویمه ورځ سحر یې هغې ته وفرمایل چې ستا د

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الرضاع/باب قدر ما تستحقه البکر. والثیب من إقامة الزوج عندها عقب الزفاف ٤٢ - (١٤٦٠) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی المقام عند البکر (رقم-٢١٢٢) ومالک فی الموطا کتاب النکاح/باب المقام عند البکر والأیم (رقم-١٤)

خاندان والا وو د پاره ستا د طرف نه په دې کښې هيڅ ذلت نشته. که ته غواړې نو زه به ستا سره اوه شپې يم، او بيا د نورو ټولو بيبيانو سره به هم اوه اوه شپې يم. ۳ او که ته غواړې نو ستا سره به درې شپې يم، او بيا د دې نه وروسته به دوره کوم (يعني د نورو ټولو بيبيانو سره به هم درې درې شپې يم) ۴ بي بي ام سلمه رضي الله عنها (د دې اوريدو سره) اوويل چې زما سره درې شپې تيرې کړه، ۵ او په يو روايت کښې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته وفرمايل چې د پيغلې سره اوه شپې پاتې کيدل پکار دی او د ثيبه سره درې شپې. (مسلم)

حل اللغات: - ① هَوَانٌ: ذلت، ملامتيا.

تسهيلات: قوله: لَيْسَ بِكِ عَلَى أَهْلِكِ هَوَانٌ:

د اهل په مصداق کښې دوه اقوال: - ① دَ اهل نه مراد دَ نبی کريم ﷺ ذات بابرکات دې

② يا دَ ام سلمه رضي الله عنها قبيله مراد ده

اومفهوم واضح دې يعنی زمونږ په نيز ستاسو څه ناقدری او اعراض او بې رغبتی نشته ليکن شرعی مسئله داده چه دَ ثيبه حق درې ورځې دې که چرې زه تاسره اووه ورځې پاتې شم نو اووه ورځې به نورو بيبيانو سره هم اوسيږم دې دَپاره چه عدل او انصاف قائم شی علماء کرامو ليکلی دی چه نبی کريم ام سلمه رضي الله عنها ته دَ اعزاز او اکرام په توګه دَ باکره درجه ورکړه او دَ اووه ورځو خبره ئې اوفرمائيله دا دَ شروع کلام دَ راتلونکی کلام دَپاره دَ تمهيد په توګه دې بيا حضور پاك اوفرمائيل که چرې زه درې ورځې تاسره پاتې شم نو بيا به نورو بيبيانو کره ورځم اوس ته اوښايه ستا کوم صورت خوښ دې

د درې ورځو د انتخاب دوه وجوهات: - ① ام سلمه رضي الله عنها درې ورځې اختيار کړې دې دَپاره چه د شرعی قاعدې مطابق هم وی

② چه ورځې کمې وی نو نبی کريم به زر دوباره حضرت ام سلمه رضي الله عنها له راشی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۲۵] يو سړي د خپلو ټولو بيبيانو سره په يوشان محبت کولو مجبور نه دی

۳۲۳۵ - [۴] (۱) ۱ «عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهِ فَيَعْدِلُ ۲ وَيَقُولُ اللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی القسم بين النساء (رقم-۲۱۳۴) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی التسوية بين الضرائر (رقم-۱۱۴۰) والنسائی فی کتاب عشرة النساء/باب ميل الرجل إلی بعض نسائه دون بعض (رقم-۳۹۴۲) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ القسمة بين النساء (رقم-۱۹۷۱) واحمد فی المسند: ۶/۱۴۴

ترجمه: ابي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ به د خپلو بيبيانو په منځ کښې نمبر مقررولی. او د عدل نه به يې کار آخستلو (يعني د هغوئ سره د شپې تيرولو په سلسله کښې د برابري خيال ساتلی) [۲]او بيا (د دې احتياط باوجود به يې) دا دعا به يې غوښتله. چې اې الله! ﷻ د کوم شي چې زه مالک يم، په هغه کښې ما نمبر مقرر کړی دی. نو د کوم شي چې ته مالک يې، زه يې مالک نه يم (چې هغه د زړه محبت دی) نو په هغه ما ملامت مه کړې. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه. دارمي)

حل اللغات ①فَيَعْدِلُ: نو د ښځو په مينځ کښې دې برابری کوی

تسهيلات:

قوله اللَّهُمَّ هَذَا قَسْمِي فِيمَا أَمْلِكُ:

په اختيارى څيزونو کښې د مساوات فرضيت:- ددې دعا مطلب دادې چې خپلو بيبيانو نه په ورتلو کښې نمبر مقرر کولو او دهغوئ د نان نفقې مالك يم لهذا په دې څيزونو کښې عدل او برابری زما ذمه داری ده کومه چې زه پورا کوم او يوې ښځې سره هم بې انصافي يا دهغې حق تلفی نه کوم ، اود مينې او محبت معامله د زړه سره تعلق ساتی نو په دې باندې زما هيڅ اختيار نشته دې خه په دې کښې برابری نشم کولې كه زما يوې بی بی سره زياته مينه ده او بلې بی بی سره مې کمه مينه ده نو دې کښې به زما قصد او اختيار لره داخل نه وی نو په دې باندې زما مواخذه اونه کړې شی

[۲۳۳٦] د خپلو بيبيانو په منځ کښې د عدل او برابري نه کونکي په باره کښې وعيد

۲۳۳٦-[۸](۱) [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲]«إِذَا كَانَتْ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا [۳]جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د نبی کريم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲]د کوم سړي په نکاح کښې چې د يوې نه زياتې، مثلًا دوه بيبياني وي، او هغه د هغوئ دواړو په منځ کښې عدل او برابري نه کوي. [۳]نو هغه به د قيامت په ورځ (په ميدان حشر کښې) داسې راځي چې د هغه نيم بدن به بيکاره وي. (ترمذي، ابوداؤد)

حل اللغات ①وَشِقُّهُ: يو اړخ. نيمه حصه ②سَاقِطٌ: بې کاره. شل

---

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب في القسم بين النساء (رقم-۲۱۳۳) والترمذي في كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في التسوية بين الضرائر (رقم-۱۱٤۱) والنسائي في كتاب عشرة النساء/باب ميل الرجل إلى بعض نسائه دون بعض (رقم-۳۹٤۲) وابن ماجه في كتاب النكاح/ القسمة بين النساء (رقم-۱۹٦۹) واحمد في المسند: ۳٤۷/۲

تسهيلات: قوله: فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا:

په بيبيانو کښې د بې انصافۍ سزا:- د کوم کس چې يو نه زياتې بيبيانې وی که دوه وی که درې وی او که څلور وی . او هغه په دوئ کښې عدل و برابری نه کوی نو دده ددې بې انصافۍ په وجه ده ته ددې پورتنۍ سزا دهمکی ورکړې شوې ده نمبراونوبت کښې برابری په دې طور واجب ده چې دشپې څومره حصه يوې ښځې سره تيره کړی نو دومره حصه بلې ښځې سره هم تيرول پکار دی لکه يوې ښځې ته هم د مابنام نه پس ورځی نو پکار ده چې بلې ته هم د مابنام نه پس ورشی که هغې ته دماسختن نه پس ورځی نو دا به د انصاف خلاف وی دلته د صحبت په معامله کښې برابری واجب نه ده

د نوبت په حکم کښې د ثيبه او باکره برابری:- په دې حکم کښې باکره ، ثيبه ، نوې او زړه ، مسلمانه او کتابيه ټولې برابر دی او د ټولو حقوق يو شان دی البته د آزادې ښځې په نسبت د وينځې مکاتبې مدبرې ام ولد دپاره نيم نمبر دې يعنی که د يو سړی په نکاح کښې يوه آزاده ښځه وی او ده يوې وينځې سره ئې هم نکاح کړې وی نو وينځې وغيره سره يوه شپه ده او د آزادې ښځې سره دوه شپې حرم (وينځې) دپاره نمبر مقررول واجب نه دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۳۷] د حضور ﷺ په نهو ۹ بيبيانو مبارکو کښې د اتو د پاره وار مقرر وو

۳۲۳۷-[۹] (۱) [۱] عَنْ عَطَاءٍ قَالَ: «حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جَنَازَةَ مَيْمُونَةَ بِسَرِفَ [۲] فَقَالَ: هَذِهِ زَوْجَةُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوهَا وَلَا تُزَلْزِلُوهَا وَارْفُقُوا بِهَا [۴] فَإِنَّهُ كَانَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تِسْعُ نِسْوَةٍ كَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ.

ترجمه: [۱] حضرت عطا ابن رباح (تابعي رحمه الله) ، وايي چې مونږ د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما سره په مقام سرف کښې د ام المؤمنين بي بي ميمونی رضي الله عنها په جنازه کښې شريک شو ، [۲] نو ابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل چې ګوري دا د رسول الله ﷺ بي بي مبارکه ده. [۳] هر کله چې تاسو د دې جنازه پورته کړی، نو دې ته زيات حرکت مه ورکوی. بلکې (د تعظيم وتکريم د تولو تقاضو سره) په ډير آرام سره يې پورته کړی [۴] ځکه چې (دا د هغې بيبيانو مبارکو نه ده چې د هغوئ د پاره حضور ﷺ نمبر مقرر کړی وو) د حضور ﷺ نهه بيبيانې وې، حضور ﷺ په هغوئ کښې د اتو د پاره نمبر مقرر کړی وو. او د يوې د پاره هيڅ نمبر نه وو ،

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب کثرة النساء (رقم-۵۰۶۷) ومسلم فی ۵۱ - (۱۴۶۵) والنسائی فی وسلم. وحظره علی خلقه. زيادة فی كراته. وتنبيها لفضيلته (رقم- كتاب النكاح (رقم-۳۱۹۶) واحمد فی المسند: ۳۴۸/۱

قال عطاء: التي كان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - لا يقسم لها [۲] بلغنا أنها صفية [۳] وكانت آخرهن موتا ماتت بالمدينة». متفق عليه. [۴] وقال رزين: قال غير عطاء هي سودة [۵] وهو أصح وهبت نفسها لعائشة حين «أراد رسول الله - صلى الله عليه وسلم - طلاقها [۶] فقالت له: أمسكني، قد وهبت يومي لعائشة لعلي أن أكون من نسائك في الجنة».

ترجمه: [۱] حضرت عطا رحمه الله وايي هغه بي بي مباركه چې د هغې د پاره هيڅ نمبر نه وو. [۲] مونږ ته معلومه شوې ده چې هغه بي بي صفيه رضي الله عنها وه. [۳] او د رسول الله ﷺ په بيبيانو كښې بي بي صفيه رضي الله عنها د ټولو نه وروسته په مدينه كښې وفات شوې ده. (بخاري مسلم) [۴] او د رزين رحمه الله بيان دى چې د عطا رحمه الله نه علاوه د نورو آئمۀ حديث نه منقول دى، چې هغه بي بي مباركه چې د هغه نمبر نه وو مقرر شوى (بي بي صفيه رضي الله عنها نه وه، بلكې بي بي سوده رضي الله عنها وه، [۵] او دا قول زيات صحيح دى، او د بي بي سودى رضي الله عنها (د پاره نمبر نه مقرر كيدو وجه دا وه، چې هغې) د خپل نمبر ورځ بي بي عائشي رضي الله عنها ته وركړې وه (د هغه تفصيل دا دى چې) كوم وخت چې رسول الله ﷺ بي بي سودى رضي الله عنها ته د طلاق وركولو اراده وكړه، [۶] نو هغې حضور ﷺ ته عرض اوكړو چې زه د خپل نمبر ورځ بي بي عائشي رضي الله عنها ته وركوم. ته ما په خپله نكاح كښې وساته، چې په جنت كښې ستا په بيبيانو كښې د شامليدو شرف راته حاصل وي.

حل اللغات - ① بِسَرِفَ: د مكې او مدينې په لاره كښې مكې ته نزدې د يو ځاى نوم دى ② نَعْشَهَا: هغې مړ بدن (لاش). ③ فَلَا تُزَعْزِعُوهَا: زيات حركت مه وركوئ ④ وَلَا تُزَلْزِلُوهَا: زيا نه ئې مه خوزوئ

تسهيلات:

قوله قَالَ عَطَاءٌ:

مقام سرف او حضرت ميمونه: - د حضرت ميمونه رضي الله عنها نكاح په ۶ هجرى كښې مقام سرف كښې شوې وه هم هلته شب زفاف او هم هلته دعوت وليمه او هم هلته وفات او هم هلته دفن او هم په هغه ځاى كښې قبر تراوسه پورې موجود دې دا ځاى د تنعيم نه د مدينې طرف ته وادى فاطمه سره دې د سرك په غاړه باندې قبرنبكارى حضرت ميمونه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما تروز وه د مور نوم ئې هنده وو د هغې خپل نوم برّه وو حضوراكرم ﷺ ميمونه كيخودو

قوله أَنَّهَا صَفِيَّةُ:

د بې نوبته بى بى په تعين كښې اختلاف د رواياتو: - د كومې بى بى نمبر چه مقرر نه وو هغه حضرت سوده رضي الله عنها وه حضرت صفيه رضي الله عنها نه وه دلته د يوراوى نه غلطى شوې ده چه د

صفيه نوم نې اخستې دې دلته دوه متضاد روايتونه دې مګر راجح او تحقيقي خبره هم دغه ده چه هغه حضرت سوده رضي الله عنها وه علامه خطابي رحمه الله فرمائي چه دعطا رحمه الله په قول کښې د نمبر معاف کونکې حضرت صفيه وه د بوراوي نه سهو شوې ده يعنې حضرت عطاء رحمه الله خو هم د حضرت سوده رضي الله عنها نوم اخستې وو مګر بوراوي دحضرت سوده رضي الله عنها په ځائې دحضرت صفيه رضي الله عنها ذکر اوکړو او هم دغه ئې نقل کړو

په دې روايت کښې دويمه غلطي دا شوې ده چه په دې کښې ونيلي شوي دي چه د صفيه رضي الله عنها انتقال په آخره کښې شوې دې حالانکه دهغې انتقال ۵۰ هجري سره نيزدې شوې دلته د حضرت ميمونه رضي الله عنها ذکر زيات بهتر وو خکه چه دهغې انتقال ۶۶ هجري کښې شوې وو دباقي بيبيانو زيات تر انتقال هم دغه ۵۰ هجري سره خواؤشا شوې خکه چه د حضرت عائشه رضي الله عنها وفات ۵۷ هجري کښې مدينه منوره کښې شوې وو وقيل ۵۸ هجري کښې شوې د حضرت سوده رضي الله عنها وفات ۵۴ هجري کښې شوې د حضرت صفيه رضي الله عنها وفات ۵۰ هجري کښې شوې وو وقيل في ۴۱ هجري د حضرت ام سلمه رضي الله عنها انتقال ۵۹ کښې شوې دحضرت ام حبيبه انتقال ۴۴ هجري کښې شو وقيل في ۴۳ هجري د حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها انتقال ۲۰ هجري يا ۲۱ هجري کښې شوې اودحضرت جويريه انتقال ۵۰ هجري کښې شوې اوس که چرته دلته دحضرت ميمونه رضي الله عنها نوم وې نوبه دې لحاظ سره خو هغه بهتر وو چه دهغې انتقال د ټولونه آخره کښې شوې وو ليکن بيابه دا اشکال راؤچتيږي چه په مذکوره روايت کښې "ماتت بالمدينة" الفاظ راغلي دي حالانکه د حضرت ميمونه رضي الله عنها انتقال مقام سرف کښې شوې دې هم الله تعالى بهتر پيژندګلو کولې شي چه په دې روايت کښې دومره ګډوډوالې ولې دې شارحين عاجز او حيران دي څه اوکړي؟

[۹] بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ وَمَا لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنَ الْحُقُوقِ]

دَ کورنی ژوندا وښځې اوخاوند دَحقوقو بیان

خلاصة الباب :-

فيه أربعة وثلاثون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① حقوق الزوجة على الزوج: ۱، ۳، ۵ ،۲۱، ۲۲، ۲۳.

② حقوق الزوج: ۴، ۹، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰ ،۳۱ ومن ۲۸ إلى ۳۴.

③ حسن العشرة مع الزوجات: ۶، ۷، ۱۴، ۱۵، ۲۲، ۲۵، ۲۶، ۲۷.

④ بيان المغاضبة بين الزوجين : ۸، ۱۱، ۱۲.

⑤ عشرة الضرات فيما بينهن: ۱ ، ۱۲، ۱۳.

⑥ الزجر على الدخيل في عشرة الزوجين:: ۲۴.

زنانو سره د حسن سلوک د فرضیت دلائل :-

① قال الله تعالى ﴿ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ﴾ [نساء:۱۹.]

② قال الله تعالى ﴿ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴾ [بقره ۲۲۸.]

قوله: وَعَاشِرُوْهُنَّ:

د عشرة وضاحت :- عاشر يعاشر معاشرة وعشرة. تعلق ساتلوته یوځائی اوسیدلوته اوژوند تیرولوته عشرة وائی هم دَدې نه عشیره اوعشائر دی چه دَ سړی په خاندان قبیله او رورولئی باندې مشتمل وی عشیرخاوندته هم وائی دلته دَ ښځې اوخاوند په خپل مینځ کښې دَ ژوند تیرولواصول اوقواعد مراد دی

قوله: وَمَا لِكُلِّ وَاحِدَةٍ:

په ترجمه الباب کښې د وما لكل واحدة لفظ ذکر کولو ضرورت :- دَهرې یوې ښځې خپل حثیت حالت اوکیفیت وی چه څوک پیغله وی نوڅوک ثیبه ده څوک مالداران څوک غریبان اوڅوک متوسط څوک خوش اخلاق وی اوڅوک بداخلاق وی دَدې تولو اقسامو په رنړاکښې "ومالكل واحدة" لفظ استعمال کړې شوې دې چه دَهرقسم ښځې دَ حقوق بیان دې کښې دَدې لفظ دَ راوړلوضرورت نه وو دَ مشکوة شریف دَ متن په تولو نسخو کښې "لكل واحد" الفاظ دی دا الفاظ زیات بهتر دی ځکه چه دا لفظ ښځو اوسړو تولوقسم افراد ته شامل دې خوتولو شارحین حضراتو دَ واحدة لفظ نقل کړې دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۲۳۸] د ښځې کږې سخت روی سره لري کيدل نشي

۳۲۳۸ــ[۱] (۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ، وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د ښځو په حق کښې د خير وصيت قبول کړی، ځکه چې هغوی د پوښتې نه پيدا شوي دي. او د ټولونه زيات کوږوالي په هغه پوښتې کښې دی چې پورته ده، که تاسو د پوښتې د سيده کولو کوشش کوی. نو هغه به ماته کړی، او که پوښتي په خپل حال پريږدی. نو هغه هميشه کږه به کږه وي، ځکه د ښځو په حق کښې د خير وصيت کوی. (بخاري، مسلم)

حل لغات - ① اِسْتَوْصُوْا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا د زنانو په باره کښې نصيحت قبول کړئ ② ضِلَع پښتى ③ أَعْوَج زيات کوږ ④ تُقِيْمُهُ چې ته ئې نيغوې ⑤ كَسَرْتَهُ ماته به ئې کړې

تسهيلات:

قوله: خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ:

د ګسې پښتې نه د بی بی حوا پيدائش: -ضلع د ضاد کسره اولام فتحه سره پوښتنی ته وائی دا مفرد دي ددې جمع اضلاع ده اود ټولو نه ګګه پوښتنی دلته مراد ده حضرت حواء عليها السلام د حضرت آدم عليه السلام د کچې پوښتنی نه پيدا شوې وه کومه چه د ټولو نه زياته ګګه وی لهذا د ښځې په طبعيت اومزاج کښې کوګوالي دې دا د هغې د تخليقي مزاج حصه ده په دې حديث کښې د ښځې عيبونه اونقصانات بيانول مقصد نه دي بلکه د هغې خلقت استعداد او طبعيت بيان کړې شوي دي چه کوم د هغې نفسيات استعداد او حالات دی هم د هغې مطابق په هغې باندې بوج اچونی د هغې د طاقت او طبعيت نه زيات بوج په هغې باندې مه اچونی ګنی د صحيح کولو په ځائی به نوره ورانه شی خلاصه دا چه ښځې بدليدونکی رابدليدونکی حالات اود تَلَوُّن مزاجی اود هغې په نفسياتو باندې ښه خان پوهه کولوسره د هغې مطابق د ګذارې د حده پورې هغې سره ژوند تيرونی

قوله: فَاسْتَوْصُوْا:

د فاستوصوا جملې دوه مطلبونه: -

① د ښځوباره کښې زه کوم نصيحت او وصيت کوم د هغوی په حق کښې زما نصيحت او

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب الوصاة بالنساء (رقم-۵۱۸۶) ومسلم فی کتاب الرضاع/باب الوصية بالنساء (رقم-۶۰ - (۱۴۶۸))

وصیت قبول کړنی سین اوتاء دَ مبالغه دَ پاره کیدي شی

④ تاسو په خپل مینځ کښې دَ ښځو متعلق دَ ښیګړې او نصیحت خبرې کونی په دې حدیث کښې ښځو سره دَ نرمئی او ښه سلوك کولو تعلیم ورکړې شوې دې او دَ هغوی په ګکواخلاقو باندې دَ صبر، تحمل او برداشت سبق ورکړې شوې دې دې ته طلاق ورکول نی ناخوښه کړی دی او دانی خودلی دی چه دَ ښځې په مکمل توګه باندې دَ صحیح کیدو امید او توقع مه ساتئی

د حدیث مذکور محل او مصداق: -یادلرنی دا صبر او تحمل دَ کورنی امورو او تعلق ساتلو کښې په ښکته پوره کیدو کښې دی که چرې ښځه په ښکاره ګناه او معصیت باندې راشی نو په سرو باندې لازم دی چه هغه دې داسې کولو پرینږدی بلکه پابند دې کړی او دَ ګناه آزادی دې نه ورکوی دَ پورته پوښتئی نه هغه وړه پوښتئی مراد ده کومه چه ملا سره وی

[۳۲۳۹] د ښځې د کسې پښتۍ څخه پیدائش

۳۲۴۰ -[۲] ( ) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ «إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ، ۳ فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ ۴ وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا، وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهریره ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د ښځو اصل او بنیاد یعني د هغوئ مور بي بي حوا علیها السلام د حضرت آدم ﷺ د پوښتۍ نه پیدا شوي ده. خکه هغه به ستا د پاره په یوه لار هیڅ کله سیده نشي، ۳ که فائده ورنه پورته کول غواړې. نو د هغه د کوږوالي په حالت کښې ورنه فائده پورته کړه. ۴ او که ته هغه سیده کول غواړې. نو د هغه نتیجه به د دې نه سوا نور هیڅ نه وي چې، ته به هغه ماته کړې. او د هغې ماتول هغې لره طلاق ورکول دی. (مسلم)

حل اللغات: - ① ضِلَع: پوښتۍ. ② عِوَجٌ: کوږوالې ③ كَسَرْتَهَا: ته به ئې ماته کړې

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ:

د ښځې د کس پښتۍ سره د تشبیه وجه: - بالکل به نیغه نشی. ددې مطلب دادې چې که تاسو غواړنی چې یوه ښخه همیشه هم په یو حالت باندې قائمه پاتې شی نو دا ممکن نه دی خکه چې ددې په خلقت کښې کوږوالې دې بدې وجه ددې حالت بدلیږی رابدلیږی

١) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب المداراة مع النساء. وقول النبی صلی الله علیه وسلم: «انما المرأة کالضلع» (رقم- ٥١٨٤) ومسلم فی کتاب الرضاع/باب الوصیة بالنساء (رقم ٥٩ - (١٤٦٨)) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی مداراة النساء (رقم ١١٨٨) واحمد فی المسند:٢/٥٣٠

كله د شكر لار پريږدي او د ناشكرۍ په لاره روانه شي كله د طاعت او فرمانبردارۍ لار پرېږدي روانه وي او يكدم دنافرمانۍ لارې ته راواوړي قناعت پرېږدي طرفته كړي او د طمعې او حرص په جال كښې انخښلې غرض دا چې داشان دډي به مزاج او عمل كښې نور تغيرات پيدا كيږي

[۲۲٤۰] ښځوسره حسن معاشرت اختيارکړلی

---[۳] ( ) ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً ③إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②هيڅ مسلمان سړی دې د هيڅ مسلمانې ښځې سره بغض نه ساتي. ③كه د هغه په نظر كښې د ښځې يو خصلت او عادت ناخوښه وي، نو يو بل خصلت او عادت به يې خوښ هم وي. مسلم

حل اللغات - ①يَفْرَكْ: بغض كوي، نفرت كوي.

تسهيلات: **قوله:** لَا يَفْرَكْ:

لفظ لا يفرك وضاحت او د حديث مقصد: - دا د نهې صيغه ده ليكن په نفي كښې مستعمل ده چه خاوند له مناسب نه دی چه د ښځې نه نفرت اوكړی فرك يفرك سمع يسمع نه بغض حسد اونفرت ته وائې خاص كر د ښځې خاوند په مينځ كښې چه د يوبل د پاره كوم نفرت اوكركه وی هغې ته الفرك وائې ددې حديث مطلب داشو چه د يوسړی ټول حركت وسكنات اودهغه ټول اخلاقيات ټول په ټول خراب نه وی كه په يوانسان كښې خراب افعال وی نودهغه ښه اخلاق هم كيدې شي كه يونيم خوئی خراب وی نودې مطلب دانه دې چه هغه بالكل مستردكړې شي بلكه دهغه د دې خرابو افعالو اوعاداتو نه علاوه دهغه ښه خويونه او عادتونه هم په خيال كښې ساتل پكاردی

هغه يومتل دې چه بالكل بې عيب يار لټونكې هم بې ياره پاتې كيږی خلاصه دا چه د ښځې ښه اخلاق او خصائل مخې ته ساته او په خرابو خصلتونوباندې صبراوتحمل كوه

[۲۲٤۱] كه كوالي هرې يوې ښځې ته په ميراث كښې ملاوډي

---[۴] (۲) ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَوْلَا بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزِ اللَّحْمُ ③وَلَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا الدَّهْرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه مسلم فی كتاب الرضاع/باب الوصية بالنساء (رقم-۶۱ - (۱٤۶۹) واحمد فی المسند: ۲/۳۲۹

۲) اخرجه البخاری فی كتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله تعالى: ﴿وواعدنا موسى ثلاثين ليلة وأتممناها بعشر فتم ميقات ربه أربعين ليلة﴾ (رقم-۳۳۹۹) ومسلم فی كتاب الرضاع/باب لولا حواء لم تخن أنثى زوجها الدهر (رقم-۶۳ - (۱٤۷۰) واحمد فی المسند: ۲/۳۰٤

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كه بني اسرائيل نه وايي، نو غوښه به نه خرابيده، [۳] او كه بي بي حوا نه وايي نو ښځي به د خپل خاوند سره خيانت نه كولی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات - ① يَخْنَز: خرابيږي سخاكيږي ② تَخُنْ: خيانت كوي.

تسهيلات:

قوله: لَوْلَا بَنُو إِسْرَائِيلَ:

د بني اسرائيلو د ذخيره اندوزئ نحوست: - يعني بني اسرائيل په ميدان تيه كښي سركاري اوشاهي ميلمانه وو هغوى ته به سحر مابنام ترنجبين او تازه غوښه ملاويدله مګرد غوښي ذخيره كولونه منع كړې شوي وو ليكن هغه خلقو د حرص لالچ اوعدم يقين خراب طبعيت په بنيادباندې غوښه د دويم وخت دپاره ذخيره كول شروع كړه دې نه مخكښي به غوښه نه سخاكيدله د هغوى كيخودې شوي غوښه د سزا په توګه باندې سخاكيدله اوتراوسه پورې پوره انسانيت د هغې سزا خوري

د ښځو د ماهوارۍ (حيض) فلسفه: - حضرت حوا بي بي حضرت آدم عليه السلام ته د غنم خوړلوپار بار دعوت وركړو حضرت آدم عليه السلام اوفرمائيل الله تعالى منع كړي يو حضرت حواء اوفرمائيل چه الله تعالى دَدې خائي اودَدې ونې د خوړلونه منع كړي يو مونږ به د بلې علاقې د ونې نه اوخورو ځكه ﴿وَلَا تَقْرَبَا هَـٰذِهِ الشَّجَرَةَ﴾ [البقره ۳۵.] مشار اليه خاص ونه ده چنانچه حضرت حوا د ونې ښاخ ښكته طرف ته راټيټول غوښتل په كوم سره چه ښاخ مات شو اود هغې نه وينه بهيدله هغه ښاخ خيرې اوكړې چه الله تعالى دې ستانه داسې وينه روانه كړي لكه څنګه چه تامانه روانه كړه چنانچه ښځوته د ماهوارئ بيمارى ملاؤ شوه په دې خيروسره خو په ښځود ماهوارئ بيمارى اولګيدله اوبل د هغوى په طبعيت كښي د استقامت په ځائي د كوګوالي بيمارى وركړه شوه

[۲۲٤۲] بغيرد ضرورت نه د ښځو د وهلوممانعت

۳۲۳۳ — [۵] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «لَا يَجْلِدْ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ [۲] ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ». [۳] وَفِي رِوَايَةٍ «يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا فِي آخِرِ يَوْمِهِ» [۴] ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِي ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ: لِمَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ؟». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب ما يكره من ضرب النساء (رقم-۵۲۰٤) ومسلم فى كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب النار يدخلها الجبارون والجنة يدخلها الضعفاء (رقم-٤۹ - (۲۸۵۵) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ومن سورة والشمس وضحاها (رقم-۳۳٤۳) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ ضرب النساء (رقم-۱۹۸۳) واحمد فى المسند: ٤/۱۷

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن زمعه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هيڅ سړی دې خپله ښځه د غلام په شان (په بد دلې سره) نه وهي، [۲] چې بيا د ورځې په آخره حصه کښې د هغې سره جماع کوي. [۳] په يو روايت کښې داسې دي چې (حضور ﷺ) وفرمايل په تاسو کښې يو سړی وهل کوي، او خپله ښځه د غلام په شان وهي. حالانکه (دا سوچ نه کوي چې) شايد هغه د هغې ورځ په آخري حصه کښې د هغې سره هم بستر شي. [۴] بيا حضور ﷺ د ريح (باد) په خارجيدو خنديدونکو ته نصيحت کولو سره وفرمايل چې په تاسو کښې يو سړی په هغه څيز ولې خاندي چې هغه يې خپله هم کوي. (بخاري مسلم)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عبدالله بن زمعه رضي الله عنه: نوم ئې عبدالله د پلار نوم ئې زمعه د مور نوم ئې قريبه وو د ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها خور وه. دا د قريشو د رنيسانو د کورنئ نه وه. پلار زمعه ئې په غزوه بدر کښې د مشرکانو د طرف نه اووژلې شو (۴)

عبدالله رضي الله عنه د مکې د فتح سره نيزدې مسلمان شوې وو د ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها خوريئي کيدو په وجه به حضوراکرم ﷺ له ډير زيات راتلو

وفات:- ۳۵هـ کښې په جنګ جمل کښې د يزيدپه دور حکومت کښې د حره په مشهوره واقعه کښې وفات شو.(۵)

ترجمه - د مرګ نه څوك خلاصيدې شي نن هغه دې اوصبازمونږ وار دې

مرويات - دهغه نه داحاديثو په کتابونوکښې صرف يو روايت دې اوهغه هم متفق عليه دې يعنې بخاري اومسلم شريف دواړوکښې دې. (۶)

حل اللغات - ① يَجْلِدُ: وهی سزا ورکوی ② يُضَاجِعُهَا: چې هغې سره جماع کوی.③ الضَّرْطَة: هوا . باد خارجيدل

تسهيلات: قوله: لَمْ يُجَامِعُهَا:

د ښځې وهلو قباحت:- دا ثم استبعاديه او استعجابيه دې چه د يو عقل مند او هوښيار سړی نه دا ډيره لرې خبره ده اود سخت تعجب مقام دې چه هغه دا وهل تکول رايوځائي کړی دی دوهلو په وخت کښې هغه له خو دومره خيال کول پکاردی چه د ورځې په آخری حصه يعنی د شپې داسرې دخپلې ښځې طرف ته څومره اندازه باندې محتاج کيدو ورتيتيږی خپله ښځه په شرعی حدود کښې دننه وهل جائز دی مګر داسې نه چه د غلامانو په شان وهلې تکولې شی دا ډيرزيات ناخوښه انداز دې

(وَاضْرِبُوهُنَّ) [نساء. ۳۴] داخو په قرآن کښې دی او "ضرباغيرمبرح" حديث کښې دی ليکن قرآن اوحديث د خناورو په شان د بربريت قطعاً اجازت نه دې ورکړې دحديث نه معلومه شوه چه وهل ادباً جائز دی

قوله ضحكهم:

د خلقو عيبونه پټول: -دلته دا تعليم ورکړې شوې دې چه کوم عيب په يوسړي کښې پخپله موجود دې د هغه عيب په بل کښې موجود کيدوسره په هغه پورې خندا کانې اوټوقې کول څه مطلب اومقصد دې؟ که چرې دا د خندا څيز دې نوپخپله د دې ارتکاب ولې کوي؟ يعني هرسړی له پکار دی چه هغه د نورو عيبونو ته د کتلو نه مخکښې دا سوچ اوکړي چه دا عيب پخپله په هغه کښې موجود دې که نه. نوبيا دې لا ړشي اود نوروخلقو عيبونه دې لټوي بهرحال د دې حديث نه دا سې معلوميږي چه هغه وخت هم په مجلسونو کښې د ننه د خلقو په مخکښې ريح ،هوا، خارج کيدل عيب ګڼرلې شو هم په دې وجه خو صحابه کرامو خندل لهذا محفلونه د دې قسم ناخوښه حرکتونونه محفوظ ساتل تهذيب دې ليکن که د مجبورئ د وجې نه د چانه دا اخراج اوشي نو په خندا کولوسره هغه ذليل کول جائز نه دی

[۳۲٤۳] د جينکو ګډياني

۳۲٤۳-[۲] ( ) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] وَكَانَ لِي صَوَاحِبُ يَلْعَبْنَ مَعِي [۳] فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ يَنْقَمِعْنَ مِنْهُ [٤] فَيُسَرِّبُهُنَّ إِلَيَّ فَيَلْعَبْنَ مَعِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ فرمايي (زه چې کشني وم. او زما د واده ابتدايي دور وو. نو) ما به د رسول الله ﷺ په کور کښې (په لوبتکو سره) لوبې کولې. [۲] او زما همزونو لونړو به هم زما سره لوبې کولې [۳] بيا چې رسول الله ﷺ به کور ته تشريف راوړو، نو زما همزولي به (د شرم په وجه) د حضور ﷺ نه پټې شوې، [٤] ليکن حضور ﷺ به هغه ما ته راليږلې. او هغوئ به زما سره لوبې کولې، بخاری مسلم

حل اللغات. ① صَوَاحِبُ: ملګرې. همزولي. ② يَنْقَمِعْنَ: پټې به شوې. ③ فَيُسَرِّبُهُنَّ. نو هغوی به ئې ما ته راليږلې

تسهيلات: قوله: فيلعبن بِالْبَنَاتِ:

د لفظ بنات تحقيق: -بنات د کپړونه جوړې شوې ګډيانې وی ماشوماني جينکئ دې سره لوبې کوی اوپه خپلو لاسونو باندې جوړوی دې سره مسلمانانو ماشومانو جينکونه په کورنی کارونو کښې امداد ملاويږی جينکوله د کور کار زده کول. خوراك پخول اود لين دين ښه پوره چل ورښانې لکه چه دا د جينکود مهارت حاصلولود دستکارئ سکول دې په دې وجه شريعت د دې اجازت ورکړې دې

١) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب الانبساط إلى الناس (رقم-٦١٣٠) ومسلم في كتاب فضائل الصحابة رضي الله تعالى عنهم/باب في فضل عائشة رضي الله تعالى عنها (رقم-٨١ - (٢٤٤٠) واحمد في المسند: ٦/٢٣٤

د پلاستکی ګوډیانو حکم:- په دې باندې د نن صبا د پلاستک ګډ یانې قیاس کول جائز نه دی ځکه چه دغه خو ناجائز مجسمې دی کوم چه د ناجائز تصویرونو په زمره کښې راځي ددې حدیث نه د رسول الله ﷺ عظیم الشان سینې د وسعت پته لګی او د بنکلې کورنی ماحول هم اندازه کیږی او په دې کښې د بنه وخت تیرولو لونی تعلیم موجود دې

د حدیث د دوو ټکو وضاحت:- ① يَنْقَمِعْنَ: انقماع د پټیدو او غیبیدو په معنی کښې دې په اصل کښې انقماع په غار کښې د پټیدلو په معنی کښې دې

② فَيُسَرِّبُهُنَّ: سرب تسریب د لیګلو په معنی کښې دې که خان له وی او که د ډلې په صورت کښې وی دلته دواړه معنې صحیح دی نبی کریم به دا ماشومانې جینکنی ما ته رالیګلې

[۲۲٤٤] مسجد نبوی کښې د جهاد مشق

—[٧] ( ) ① وَعَنْهَا قَالَتْ: «وَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُومُ عَلَى بَابِ حُجْرَتِي ② وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بِالْحِرَابِ فِي الْمَسْجِدِ ③ وَرَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْتُرُنِي بِبُرْدَةٍ لَهُ لِأَنْظُرَ إِلَى لَعِبِهِمْ بَيْنَ أُذُنِهِ وَعَاتِقِهِ ④ ثُمَّ يَقُومُ مِنْ أَجْلِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّتِي أَنْصَرِفُ ⑤ فَاقْدُرُوا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ الْحَرِيصَةِ عَلَى اللَّهْوِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او بی بی عائشه رضي الله عنها وایې چې ما ولیدل او ماته په بنه شان یاد دې. چې رسول الله ﷺ زما د حجرې په دروازه ولاړ وو، ② او حبشي خلقو په مسجد کښې په خپلو نیزو لوبه کوله. ③ او رسول الله ﷺ په خپل خادر سره زما د پاره پرده کړې وه. چې زه هم د حضور ﷺ د غوږ او اوږې په منځ کښې د هغه حبخیزونو لوبه ووینم. ④ د دې پورې چې حضور ﷺ د هغه وخته (پرده کړې) ولاړ وو. د خو پورې چې زه خپله د هلته نه لیرې نه شوم. ⑤ د دې نه تاسو د هغه وخت آندازه ولګوئ، چې په هغه کښې یوه کم عمره جینۍ چې د لوبې تماشې شائقه وي اودریدلو شي (یعني خیال وکړئ چې کم عمره جینۍ د تماشې لیدو څومره شوق کوي. او د زیات نه زیات دریدل هم د هغې د پاره یوه معمولي خبره وي، زه چې هغه وخت څومره ولاړه وم. حضور ﷺ هم زما په وجه پرده کړې ولاړ وو. حصل دا چې حضور ﷺ هلته تر ډیره وخته ولاړ وو. ما ته یې د حبشیانو لوبه ښودله. (بخاري . مسلم).

حل اللغات ① يَلْعَبُونَ بِالْحِرَابِ: په تورو یا نیزو سره نې لوبې کولې. ② بُرْدَةٍ: څادر. ③ الْحَدِيثَةِ السِّنِّ: کم عمره جینۍ. ④ الْحَرِيصَةِ عَلَى اللَّهْوِ: د لوبو شوقینه.

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب النكاح باب نظر المرأة إلى الحبش ونحوهم من غير ريبة (رقم-٥٢٣٦) ومسلم في كتاب صلاة العيدين باب الرخصة في اللعب الذي لا معصية فيه في أيام العيد (رقم) ١٨ (٨٩٢) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب باب في النهي عن الغناء (رقم-٤٩٢٣) والنسائي في كتاب صلاة العيدين باب اللعب في المسجد يوم العيد ونظر النساء إلى ذلك (رقم-١٥٩٥) واحمد في المسند: ١٦٦:٦ .

تسهيلات:

قوله وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ بِالْحِرَابِ:

د حبشو په جمات کښې لوبې کول:- الحراب چاړه ته وائي يعنى حبش خلقو به په چاړو سره کرتب خودلو

په جمات کښې د لوبو کولو توجيهات:- ① جنگى مظاهره خوبه يا مسجدسره خواکې رجبه اوکولاؤ خانى کښې وه مسجدنى خکه اوونيل چه مسجدسره بالکل متصل خانى وو

② دې تاويل ضرورت نشته داهم مسجدوو اودَ حبشيانودا لوبه څه دَ دنياوى لوبونه نه وو بلکه دادَ جهاد دَتربيت يوه حصه وه اوعبادت وو لهذا په دې باندې نور فضول لوبې قياس کول جائز نه دى

د عائشې رضى الله عنها د حبشو سرو ته دکتلو توجيهات:- ① حضرت عائشه ﵂ هغه وخت کښې دومره لويه بالغه ښځه هم نه وه

② د نبى کريم ﷺ په موجودګئى کښې تولو آفاتو بلياتو او فتن ظاهرى او باطنى نه حفاظت هم وو دَ وحى دَ نازليدلو زمانه وه دَ فرښتو تګ راتګ وو دَ صحابه کرامو په شان دَ فرښتو جماعت موجود وو په دې کښې دَهيڅ قسم فتنې خطره نه وه نوحضرت عائشه ﵂ اوکتل دَدې نه دَ هغه خلقو خبره ثابتيږى چه ښځه اجنبى سړو ته بغيرد شهوت نه کتلې شى

③ دا واقعه دَ حجاب دَ حکم دَ نزول نه مخکښې ده. په دې باندې نورې بالغه غيرمحفوظ ښځې قياس کول قياس مع الفارق دې

④ دا يوجهادى حربى مظاهره وه نودَ جهاد په وجه دا عبادت وو دَدې طرف ته کتلوکښې ممانعت نشته دې

[۳۲٤۵] دنبى عليه السلام د عائشې په نفسياتو پوهيدل

۳۲٤۵—[۸] ( ) ①وَعَنْهَا قَالَتْ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى، ③فَقُلْتُ: مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذٰلِكَ، ④فَقَالَ: إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً فَإِنَّكِ تَقُولِينَ: لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ، وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى قُلْتِ: لَا وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ، ⑤قَالَتْ: قُلْتُ: أَجَلْ وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او بى بى عائشه ﵂ وايې چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ماته وفرمايل ②کوم وخت چې ته زما نه خوشحاله يې، نو زه پوهيږم. او کله چې ته (په څه دنياوي معامله کښې

۱) اخرجه البخارى فى كتاب النكاح/باب غيرة النساء ووجدهن (رقم-۵۲۲۸) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فى فضل عائشة رضى الله تعالى عنها (رقم-۸۰ - (۲٤۳۹) واحمد فى المسند: ٦/٦١

زما نه ناراضه یې (خنګه چې د ښځې او خاوند په منځ کښې په څه خبره خفګان راځي) نوهم ماته هغه معلومیږي، ۳ما عرض اوکړو چې ته ﷺ دا څنګه پیژنې؟ حضور ﷺ وفرمایل (داسې چه) ته زما نه خوشحاله یې، نو داسې وایې چې د محمد ﷺ په پروردګار قسم، او کله چې ته زما نه خفه یې، نو داسې وایې چې د ابراهیم ﷺ په پروردګار قسم (یعنې کله چې ته زما نه د خفه کیدو په حالت کښې قسم خورې، نو زما نوم نه آخلې بلکې د ابراهیم ﷺ پروردګار وایې) ۴بې بې عائشه رضي الله عنها وایې (د دې اوریدو سره، ما عرض اوکړو چې هو، یا رسول الله ﷺ دا خبره صحیح ده، لیکن زه یواځې ستا نوم پریږدم نه محبت، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ①مَا أَهْجُرُ: زه نه پریږدم،

تسهیلات:

قوله: وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ

د عائشې رضی الله عنها نبی علیه السلام سره مینه: - حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها به کله کله د غصې نه دنبی کریم ﷺ نامه مبارکه نه اخسته. د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها د نبی کریم ﷺ نامه مبارکه نه اخستل څه د محبت د ناقص کیدو علامت یا دلیل نه دې بلکه فرمائی چې زما په زړه کښې چې نبی کریم ﷺ د پاره د محبت او مینې کوم دریاب دې په هغې کښې به لږ شان هم کمې نه راتلو

[۳۲۴٦] د خاوند په خواهش ښځې لره د هم بستر کیدو نه انکار کول نه دی پکار

[۹] (۱) ۱وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: ۲«إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ ۳لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ۴وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ ۵إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا».

ترجمه: ۱او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲که یو سړی چې خپله ښځه د هم بستر کیدو د پاره اوبلې او هغه ښځه انکار وکړي، او بیا خاوند (د هغه انکار په وجه) ټوله شپه په دغه شان حالت کښې وي. ۳نو ملائکې په هغه ښځه تر سهاره لعنت لیږي ، (بخاري مسلم) ۴او د مسلم په یو روایت کښې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل قسم دې په هغه ذات چې د هغه په لاس کښې (یعنې د هغه په قبضه تصرف کښې

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب إذا قال أحدکم: آمین والملائکة فی السماء. آمین [ص: ۱۱٤] فوافقت إحداهما الأخرى. غفر له ما تقدم من ذنبه (رقم-۳۲۳۷) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب تحريم امتناعها من فراش زوجها (رقم-۱۲۲ - (۱٤۳٦)) واخرجه ابو داوود فی السنن کتاب النکاح/باب فی حق الزوج على المرأة (رقم-۲۱٤۱) واحمد فی المسند: ۲/٤۳۹

زما ساه ده. کوم سړی چې خپله ښځه خپلې بسترې ته وبلي. او هغه انکار وکړي. نو هغه ذات چې په آسمان کښې دي د هغې نه د هغه وخته ناراضه وي. د څو پورې چې د هغې خاوند د هغې نه راضي نشي

حل اللغات ①سَاخِطًا ناراضه. خفه.

تسهيلات:

قوله إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ: يعني چه څه شرعی عذر نه وی او بغیر د عذر نه ښځه د کوروالی نه انکار کوی نو د دغه ښځې دپاره وعید دې ګنی د عذر په وخت په انکار باندې وعید نشته دې بل د شپې ذکر د اکثریت په توګه باندې کړې شوې دې ګنی انکار که هغه د ورځې وی او که د شپې تولوته دا وعید شامل دې

قوله إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ:

د الذی فی السماء په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① دا جمله د متشابهات نه ده د سلف صالحین په نیز د دې ترجمه دا سې ده چه هغه رب کوم چه په آسمانونو کښې دې "مایلیق بشانه"

② دویمه ترجمه چه د سلف نه پس د امت د آخرین په نیز ده هغه داسې ده چه هغه رب د چا حکم چه په آسمانونو کښې چلیږی او په آسمانونو باندې د هغه قبضه ده د عام نصوص د واضح اشارونه معلومیږی چه الله تعالی په آسمانونو کښې دې

[۳۲۴۷] د بنې سوزولو دپاره دروغ ونیل حرام دی

-۳۲۴۳-[۱۰]( ) ①وَعَنْ أَسْمَاءَ «أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ ②إِنَّ لِي ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ زَوْجِي غَيْرَ الَّذِي يُعْطِينِي؟ ③فَقَالَ: "الْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①بی بی اسماء ﷞ وایي چې یوې ښځې عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ②زما یوه بنه ده. که زه د هغې په مخکې د خپل خاوند د یو داسې څیز اظهار وکرم، چې هغه ماته نه دي راکړي. نو آیا دا ګناه ده؟ یعني زما خاوند چې څه ماته راکوي که زه د خپلې بنې سوزولو د پاره د هغې په مخکې هغه څیز زیات کولو سره بیان کرم. چې ګوره ماته ستا نه زیات حاصلیږي . نو آیا په دې کښې څه بدي شته؟ ③حضور ﷺ ورته وفرمایل چې هو. دا ډیره بده خبره ده. څکه چې د نه ورکړی شوي څیز اظهار کونکي د دوو دروغو کپړو اغوستونکي په شان دي. بخاري. مسلم.

١) اخرجه البخاري في كتاب النكاح باب المتشبع بما لم ينل. وما ينهى من افتخار الضرة (رقم-٥٢١٩) (رقم -) ومسلم في كتاب الأشربة باب النهي عن التزوير في اللباس وغيره والتشبع بما لم يعط (رقم-١٢٧ - (٢١٣٠))واخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب باب في المتشبع بما لم يعط (رقم ٤٩٩٧)

حل اللغات ① ضَرَّةٌ بنه. ② اَلْمُتَشَبِّعْ د نه ورکړې شوی څيز په دروغه اظهار کوونکی ③ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ: د دوو دروغو کپړو اغوستونکی پشان.

تسهيلات:

قوله كلابس ثوبي زور:

لابس ثوبي زور دوه مطلبونه:- ① يعنی د پورته نه د ښکنه پورې دروغ دی د دروغو بس دا چه عالم نه وی اود علماؤ خاص وضع ئی اختيار کړی وی صوفی زاهد نه وی او وضع قطع اولباس ئی د صوفيانو اغوستې وی

د دوو کپړونه تهبند اوځادر مراد دي

② يو سړی د خلقو د امانت کپړې اغوستې دی اوخلقوته ئی ښائی چه دا زما کپړې دی

[۳۲۴۸] د ايلاء مطلب

۳۲۴۸-[۱۱] ( ) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «آلَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ نِسَائِهِ شَهْرًا وَكَانَتِ انْفَكَّتْ رِجْلُهُ [۲] فَأَقَامَ فِي مَشْرُبَةٍ تِسْعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً ثُمَّ نَزَلَ [۳] فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ آلَيْتَ شَهْرًا فَقَالَ: إِنَّ الشَّهْرَ يَكُونُ تِسْعًا وَعِشْرِينَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ يوه مياشت د خپلو بيبيانو نه ايلاء وکړه. او په هغه زمانه کښې د حضور ﷺ په پښه کښې بريښ راغلی وو. [۲] حضور ﷺ تر يو کم ديرش شپو په بالا خانه کې وو بيا چې حضور ﷺ لاندې تشريف راوړو. [۳] نو خلقو عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ تا خو د يوې مياشتې ايلاء کړې وه او مياشت د ديرشو ورځو وي بيا ته د يو کم ديرش ورځو نه وروسته ولې راکوز شوې؟ حضور ﷺ وفرمايل چې مياشت د يو کم ديرش ورځو هم وي

حل اللغات ① آلَى: ايلاء. ښځو ته د نه ورتلو قسم کول. ② انْفَكَّتْ رِجْلُهُ: خپه کښې ئي سريخ. درد راغلي وو. ③ مَشْرُبَةٍ: د اوبو خاني . بالاخانه. خلوت خانه، دا بالاخانه مسجد نبوی سره وه

تسهيلات:

قوله: آلَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د ايلاء لغوی معنی:- دالفظ د ايلاء نه دې اوايلاء قسم ته وائی شاعر وائی

وَيَوْمًا عَلَى ظَهْرِ الْكَثِيبِ تَعَذَّرَتْ عَلَيَّ ۔۔۔ وَآلَتْ حِلْفَةً لَمْ تَحَلَّلِ

يعنی يوه ورځ محبوبې د شګو په غونډئ باندې د انکار وخت کښې پوداسې قسم

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح /باب قول الله تعالی: ﴿الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض﴾ [النساء: ۳۴] إلی قوله - ﴿إن الله کان عليا کبيرا﴾ [النساء: ۳۴] (رقم-۵۲۰۱) واحمد فی المسند.

اوخوړلو چه دَهغې نه دَحلال کیدو څه صورت نه وو

د ایلاء اصطلاحی تعریف: - ایلاء هغه قسم ته وائی چه خاوند خپلې ښځې ته اوونی چه زه به څلور میاشتې تاله نیزدې درنه شم په دې باندې عمل کولوسره به په ښځه باندې یو طلاق بائن هغه وخت پریوځی کله چه دَ څلورومیاشتو موده تیره شی اوکه قسم ئې مات کړو اوپوره ئې نه کړو بلکه په څلورو میاشتو کښې دننه ئې خپلې بی بی سره کوروالي اوکړو نواوس به دَقسم کفاره اداکوی اول به غلام آزادوی که چرې غلام نه وی نو بیا به دوه میاشتې روژې نیسی ګنې بیا په شپیتو مسکینانو باندې خوراك کوی تفصیل به روستو راځی په دې حدیث کښې شرعی او اصطلاحی ایلاء مراد نه ده بلکه دلته صرف ایلاء لغوی مراد ده ځکه چه دلته دَ یوې میاشتې پورې نبی کریم انتظار اوکړو او په ایلاء شرعی کښې څلورمیاشتو پورې انتظارکولې کیږی.

[۳۲۴۹] دَنبی کریم دَ ایلاء قصه

[۱۳] () ۱ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ «دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ فَوَجَدَ النَّاسَ جُلُوسًا بِبَابِهِ لَمْ يُؤْذَنْ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ، ۳ قَالَ: فَأُذِنَ لِأَبِي بَكْرٍ فَدَخَلَ، ۴ ثُمَّ أَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَوَجَدَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَالِسًا حَوْلَهُ نِسَاؤُهُ وَاجِمًا سَاكِتًا،

توجمه: ۱ او حضرت جابر ﷺ وايي چې په کومه زمانه کښې چې حضور ﷺ خپلو بيبيانو ته د يوې مياشتې جدايي اختيار ولو سره په مکان کښې ګوښه نشين وو. نو يوه ورځ حضرت ابوبکر صديق ﷺ راغلی، او د حضور ﷺ په خدمت کښې د حاضريدو د اجازت طلبګار شو. ۲ هغه وليدل، چې د حضور ﷺ په دروازه خلق جمع دي. او چا ته د حاضريدو اجازت نه ورکول کيږی. ۳ خوحضرت ابوبکر ﷺ ته اجازت ورکړی شو. او په خدمت کښې حاضر شو. ۴ بيا چې حضرت عمر فاروق ﷺ راغلی. هغه ته هم اجازت ورکړی شو. نو حضور ﷺ يي په داسې حالت کښې وموندلې، چې شاوخوا ورنه بيبياني مبارکې ناستې وې. او حضور ﷺ هغه وخت غمجن او خاموش وو.

۱ قَالَ: فَقُلْتُ: لَأَقُولَنَّ شَيْئًا أُضْحِكُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَوَجَأْتُ عُنُقَهَا، ۳ فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَالَ: هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ ۴ فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ عَنْ عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا، وَقَامَ عُمَرُ إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا ۵ كِلَاهُمَا يَقُولُ تَسْأَلِينَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَا لَيْسَ عِنْدَهُ ۶ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ

توجمه: ۱ جابر ﷺ وايي چې حضرت عمر ﷺ دا صورت حال ليدو سره په خپل زړه کښې ، اوويل چې دا وخت مالره څه خبره کول پکار دی، چې حضور ﷺ وخاندي ۲ نو

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الطلاق/باب بيان أن تخيير امرأته لا يكون طلاقا إلا بالنية (رقم-۲۹ - (۱۴۷۸))

هغه اوويل چي يا رسول الله ﷺ كه ته ووينې، چې د خارجه لور (يعني زما ښځه)، زما نه د روټۍ او د اوبو خرچ (د معمول نه) زيات طلب كوي. نو زه به ودريدو سره د هغې څټ تاوولو سره خوړ كړم ۲ (حضرت عمر ؓ دا خبره په داسې انداز سره وكړه)، چې حضور ﷺ وخندل، بيا حضور ﷺ وفرمايل دا (زما) ښځې چې ته يې زما نه شاوخوا ناستې وينې، زما نه د معمول نه زيات خرچ غواړي ۳ (د دې آوريدو سره)، حضرت ابوبكر ؓ اودريدلو او دخپلې لور بي بي عائشه ؓ په څټ يې وهل شروع كړل. دغه شان حضرت عمر ؓ هم دخپلې لور حفصه ؓ په څټ يې وهل شروع كړل. ۵ او بيا دې دواړو (ابوبكر ؓ او عمر ؓ) اوويل چې آيا تاسو د حضور ﷺ نه د هغه شي مطالبه كوئ؟ چې د حضور ﷺ سره موجود نه دي؟ (يعني دا خبره څومره نامناسبه ده چې تاسو ته د حضور ﷺ مالي حالت معلوم دی، او د دې باوجود د حضور ﷺ نه د دومره خرچ مطالبه كوئ، چې د هغه په پوره كولو قادر نه دی، آيا ستاسو مطالبه د حضور ﷺ په پريشانۍ كښې د مبتلا كولو برابر نه ده) هغوئ اوويل چې (بيشكه مونږ مطالبه كړې وه. چې په هغه مونږ پښيمانه يو، او د آئنده د پاره عهد كوو، چې قسم په خدای اوس به مونږ هيڅ كله هم د حضور ﷺ نه د هغه شي مطالبه نه كوو. كوم چې د حضور ﷺ سره نه وي، ليكن حضور ﷺ د جدايي قسم خوړلی وو (ځكه د هغه قسم د پوره كولو د پاره، ۶ حضور ﷺ تر يوې مياشتې پورې يا تر ۲۹ ورځو پورې د خپلو بيبيانو نه جدا وو (په دې ځای كښې د حديث راوي ته شک شوی دی، چې حضرت جابر ؓ دلته يوه مياشت ويلې وه، يا ۲۹ ورځې يې ويلې وي)

۱ ثُمَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ﴾ [الأحزاب: ۲۸] حَتَّى بَلَغَ ﴿لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ [الأحزاب: ۲۹] ۲ قَالَ فَبَدَأَ بِعَائِشَةَ قَالَ: يَا عَائِشَةُ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَعْرِضَ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِي أَبَوَيْكِ، ۳ قَالَتْ: وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَتَلَا عَلَيْهَا الْآيَةَ

ترجمه: ۱ بيا دا آيت قُلْ لِأَزْوَاجِكَ نه تر لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا پورې نازل شو . ۲ حضرت جابر ؓ وايي چې (د دې آيت د نازليدو نه وروسته) حضور ﷺ د ټولونه مخكې د بي بي عائشې ؓ سره رابطه قائمه كړه (ځكه چې په ټولو بيبيانو مباركو كښې هغه د ټولونه زياته عقلمنده او محبوبه وه)، حضور ﷺ هغې ته وفرمايل چې اې عائشې! ؓ زه ستا په مخكې يوه خبره پيش كوم. ليكن ورسره زه دا هم غواړم چې ته (د دې په جواب راكولو كښې) تلوارې مه كوه. بلكې په دې باره كښې د خپلې مور او پلار نه مشوره واخله. ۳ بي بي عائشې ؓ عرض اوكړو چې يا رسول الله! ﷺ وې فرمايه، هغه څه خبره ده. حضور ﷺ د هغه په مخكې مندرجه پورته آيت وويلو.

۱ قَالَتْ: أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَيَّ بَلْ أَخْتَارُ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ ۲ وَأَسْأَلُكَ أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِي قُلْتُ، ۳ قَالَ: لَا تَسْأَلُنِي امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا أَخْبَرْتُهَا ۴ إِنَّ اللهَ لَمْ يَبْعَثْنِي مُعَنِّتًا وَلَا مُتَعَنِّتًا وَلَكِنْ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُيَسِّرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشي ﷵ دا آيت اوريدو سره اوويل چې يا رسول الله ﷺ آيا زه ستا ﷺ په معامله کښې د مور او پلار نه مشوره واخلم؟ (يعني مشوره خو په هغه معاملې کښې کول کيږي، چې په هغه کښې څه تردد وي، هر کله چې په دې معامله کښې ماته هيڅ تردد نشته) بلکې ما د الله ﷻ او د الله ﷻ د رسول ﷺ او د آخرت کور اختيار کړی دی (يعني زه په دې معامله کښې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د مرضي او خواهش په مخکې سر تسليم خم کوم، چې په دې کې زما د پاره د دنيا هم خير دی او د آخرت هم کاميابي ده) ۲ ليکن زه تا ﷺ ته دا درخواست کوم چې دا وخت ما تا ته څه عرض کړی دی، د دې ذکر خپلې يوې بي بي ته مه کوه، ۳ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې (دا خبره ممکنه نه ده، ځکه) که يوه بي بي زما نه دا پوښتنه وکړي، نو زه به د هغه په مخکې ضرور ذکر کوم. ۴ الله تعالی ﷻ زه د دې د پاره نه يم رالیږلی، چې چا ته تکليف ورسوم، يا خامخا څوک په تکليف کښې مبتلا کړم، بلکې الله تعالی ﷻ زه د دې د پاره راليږلی يم. چې زه د خداې مخلوق ته د دين احکام وښايم، او آساني (يعني په ديني او دنياوي راحت سره) يې هم کنار کړم، (مسلم)

حل اللغات: - ① وَاجِمًا سَاكِتًا: "وجم يجم وجما" دَ غم دَوجې نه خاموش پاتې کيدوته وجموانی نوساکتًا لکه چه دَدې تفسير اوتوضيح ده. بعضو وئيلی دی وجم غم ته وائی اودَ سکوت ذکر دلته جدا کيفيت بيانولو دپاره دې ② تَوْجَأُ عُنُقَهَا: نو په څټ مې اووهله. ③ تَسْتَشِيرِي: ته مشوره ئې ورکړه ④ مُعَنِّتًا: تکليف رسونکې. ⑤ مُتَعَنِّتًا: په تکليف کښې اخته کونکې. يعنی نه ئې څوک په مشقت کښې واچولو اونه دَ چامشقت غوښتونکې وو

تسهيلات:

قوله: لَمَّا اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ:

دحديث د بعضې الفاظو وضاحت: - ① الی ايلاء: دلته هم ايلاء لغوی مراد ده يعنی يوې مياشت پورې کورته دَ نه راتلوقسم ئې خوړلې وو

② بِنْتَ خَارِجَةَ: حضرت عمر ﷛ دَ خپلې بی بی طرف ته اشاره کړې ده

③ سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ: يعنی زمانه زما دَطاقت نه زياته نفقه اوغواړی نوزه به دَهغې په مرئی غلې شم

④ ثم نزلت: يعنی آيت دَ تخيير نازل شونبی کريم دَتخيير آيت تلاوت کړو تولو بيبيانو الله تعالی اودَهغه رسول اختيار کړو.

قوله: يَجَأُ عُنُقَهَا:

د نبی کریم ﷺ د خوشحالولو دپاره د عمر رضی الله عنه طريقه:- وجاء دَ چقنړی کولو اوپه مرنی دَ غلي کیدلو دَپاره راځي. دلته مراد په سټ وهل دی. روستو هم په دغه حدیث کښې هم دالفظ دغه شان دَ وهلو په معنی کښې راغلې دې. حضرت عمر ﷺ دَ خپلې بی بی دَ اصل نفقې نه انکارنه کولو بلکه که هغه دَخپل حیثیت نه دَزیاتې نفقې مطالبه اوکړی نوبیا به داسې عمل وی.

د لفظ اختاری حکم:- دَ جمهور علماؤ په نیز خپلې بی بی ته "اختاری" ونیلوسره هیڅ طلاق نه واقع کیږی اوکه بی بی طلاق اختیارکړو نوطلاق بائن به واقع شی

قوله: لَا تَعْجَلِي فِيهِ:

د نبی کریم ﷺ عائشې سره مینه:- یعنی اې عائشه زه یوه خبره تاته خودل غواړم ته په جواب کښې تادی مه کوه بلکه خپل مورپلارسره مشوره اوکړه نوجواب راکړه. دَنبی کریم ﷺ خیال داوو چه عائشه کم عمره او ناتجربه کاره ده چرته طلاق اختیارنه کړی په کوم سره چه به دَهغې والدین ته هم تکلیف وی اونور امهات المؤمنین هم دَحضرت عائشه صدیقه ﷺ په شان طلاق اختیارولې شی نوټولې به پریشان شی

قوله: أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً:

د عائشې د قول مطلب:- حضرت عائشه ﷺ غوښتل چه زما دَجواب علم نورو بیبیانوته نه وی نوممکن ده چه په هغوی کښې څوك طلاق اختیارکړی اوهغه طلاقه شی دا یوبشری جذبه ده کومه چه بشرسره لګیدلې ده خاص کر دَ بنو کمې به کومه یوه ښځه نه غواړی بیا چه دَ نبی کریم په ملاقات کښې څومره واسطې کمې وی هم هغه هومره به دَعلم مستفید ته دَ استفاده زیاته موقع ملاویږی نودا غرض څه فاسد غرض نه دې

د نبی کریم ﷺ د ایلاء سبب:- دَ خیبردَ فتح کیدونه پس دنیازیاته شوه اودَ صحابه کرامو اموال زیات شو. بعضې بیبیانو دَنبی کریم نه دَ خرچې زیاتولودرخواست اوکړو په دې باندې نبی کریم ناراض شو اوبیبیانوله دَ تلونه ئی دَ یوې میاشتې دَپاره قسم اوخوړلو اوجمات سره بالاخانه کښې ئی یوه میاشت تیره کړه اوبیا آیت دَتخییرنازل شو. دا واقعه اودَخرج خبره دَ شروع خبره وه روستوچه کله مکمل وسعت پیداشو نونبی کریم به دَخپلو بیبیانودَپاره دَ یوکال خرچ وراندې ادا کولو. دحضرت عائشه ﷺ نه علاوه به ټولو خپله خرچه اخستله.

[۲۲۵۰] دعائشې رضی الله عنها غیرت

۳۲۵۰-[۱۳] ( ) [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَغَارُ عَلَى اللَّاتِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقُلْتُ: أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا أَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى ﴿تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ﴾ [الأحزاب: ۵۱] [۳] قُلْتُ مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَحَدِيثُ جَابِرٍ «اتَّقُوا اللهَ فِي النِّسَاءِ» ذُكِرَ فِي قِصَّةِ حَجَّةِ الْوَدَاعِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ وايي چې ماته به په هغه ښځو غيرت راتلو يعني خوندبه يې نه راکاوۍ چې خپل نفس به يې رسول الله ﷺ ته هبه کوی [۲] ومابه ونيل چې ښځه لاهم خپل نفس هبه کولی شي بيا چې دا آيت نازل شو اې محمد ﷺ دي ښځو نه چې کومي نه غواړې هغه جدا کړه اوکومي چې غواړې خان سره خای ورکړه اوکومي ښځې چې تاجدا کړې دي که په هغوی کښې هم ته څوک وبلې نوڅه ګناه نشته [۳] نوماحضور ﷺ ته اوويل زه وينم چې ستاسو پروردګار ستاسو مرضي او خواهش زر پوره کوي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أَغَارُ: زه به غيرت کوم ② يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ: ستا مرضی او خواهش زر پوره کوی

تسهيلات:

قوله: فقلت أتهب الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا:

دښځې خپل ځان بل چاته هبه کولوبد ګنلو وجه:- يعنی هغه ښځې چې هغوئ به خپل خانونه نبی کريم ﷺ دپاره هبه کولو. هغوئ ته به حضرت عائشه صديقه ؓ په دې وجه په ښه نظر نه کتل چې د يوې ښځې خپل نفس غير کس لره هبه کول دا د ښځې د شرف او عزت نه خلاف دی. او دهغې په حرص او قلت حياء باندې دلالت کوی په دې وجه به حضرت عائشه صديقه ؓ دا خبره ښه نه ګنړله يا بهٔ ئې دشرکت په وجه ښهٔ نه ګنړله.

قوله تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ

د مذکوره آيت په تفسير کښې څلور اقوال:- ① ددې آيت مبارك مطلب دادې چې نبی کريم ﷺ خپلو ازواج مطهراتو کښې چالره غواړی نو هغې سره شپه دې تيره کړی او چالره چې او نه غواړی نوشپه دې ورسره نه تيروی

② چا لره غواړی نو خپله نکاح کښې اوساتی او چالره چې غواړی نو طلاق دې ورکړی

③ د خپل امت په ښځو کښې چا سره چې اوغواړی نو نکاح دې ورسره اوکړی او چې

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب قوله: (ترجئ من تشاء منهن وتؤوی إليک من تشاء ومن ابتغيت ممن عزلت فلا جناح عليک)(رقم-۴۷۸۸) ومسلم فی کتاب الرضاع/باب جواز هبتها نوبتها لضرتها (رقم-۴۹ - (۱۴۶۴) والنسائی فی کتاب النکاح ذکر أمر رسول الله صلی الله عليه وسلم فی النکاح وأزواجه. وما أباح الله عز وجل لنبيه صلی الله عليه وسلم. وحظره علی خلقه. زيادة فی کرامته. وتنبيها لفضيلته (رقم- کتاب النکاح (رقم-۳۱۹۹)وابن ماجه فی کتاب النکاح/ باب التی وهبت نفسها للنبی صلی الله عليه وسلم (رقم--۲۰۰۰) واحمد فی المسند: ۶/۱۳۴

چا سره نه غواړي نو نکاح دې ورسره نه کوي

⑥ امام بغوی رحمه الله فرمائی چې دا آیت مبارك د نبی کریم ﷺ د بیبیانو د نمبر باره کښې نازل شوې وو په دې آیت مبارك سره د نمبر وجوب د نبی کریم ﷺ په حق کښې ساقط شو ځکه چې اول نمبر مقررول په نبی کریم ﷺ باندې واجب وو ددې آیت د نازلیدو نه پس نبی کریم ﷺ ته اختیار ملاؤ شو چې خپلو بیبیانو کښې کومې بی بی سره غواړی نو شپه ورسره تیروه او چا سره چې نه غواړی نو مه تیروه یعنی د امت په سړو باندې د نمبر په معامله کښې نبی کریم ﷺ ته فضیلت ورکړې شو

قوله مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ

د مذکوره جملې څخه مراد:- علامه نووی رحمه الله فرمائی چې ددې خبرې نه د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها مراد دا وو چې الله تعالی د نبی کریم ﷺ په حق خینې احکامو کښې نرمی کوی او نبی کریم ﷺ ته په هغې باندې دعمل نه کولو آسانی کوی

په حدیث کښې د ذکر شوې ښځې په مصداق کښې مختلف اقوال:- ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې هغه کومه یوه ښځه وه چې هغې خپل ځان نبی کریم ﷺ دپاره هبه کړې وو په دې کښې مختلف اقوال نقل دی

① میمونه رضی الله عنها

② ام شریك رضی الله عنها

③ زینب بنت خزیمه رضی الله عنها

④ خوله بنت حکیم رضی الله عنها

خود حدیث ظاهری الفاظو څخه معلومیږی چې دا یوه ښځه نه وه بلکه ډیرې ښځې وې او داشان ډیر ځل شوی دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۵۱] دحسن معاشرت بهترین نمونه

۳۲۵۱- [۱۳] (۱) ①«عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَفَرٍ ② قَالَتْ فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ ③ فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ فَسَبَقَنِي ④ قَالَ هَذِهِ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بی بی عائشه رضی الله عنها چې په یو سفر کښې د حضور ﷺ سره ملګرې وه. ② وایي چې (په یو سفر کښې په یوه موقع) ما د حضور ﷺ سره د خپلو پښو په ذریعه منډه ووهله (یعنې مونږ دواړو په منډه کښې پخپل مینځ کې مقابله وکړه) نو زه د حضور ﷺ نه

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی السبق علی الرجل (رقم-۲۵۷۸) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ حسن معاشرة النساء (رقم- ۱۹۷۹) واحمد فی المسند: ۳۹/۶

مخكې شوم. ③بيا زه څه موده وروسته څربه شوم نو بيا چې ماد منډې وهلومقابله ورسره وکړه نو دا ځل حضور ﷺ زما نه مخکې شو ، ④نو حضور ﷺ وفرمايل، دا ځل زما مخکې وتل په اولني ځل ستا د مخکې کيدو په بدله کښې دې (يعني مخکې ځل تا ګټلې وه، او دا ځل ما وګټله، نو په منډه کښې دواړه برابر برابرشو) ابوداؤد

حل اللغات - ①فَسَابَقْتُهُ :نوما دهغه سره دمنډې مقابله اوکړه، ②حَمَلْتُ اللَّحْمَ :ما چه کله غوښه اونيوله، يعنى څربه شوم؛

تسهيلات:

قوله: فَسَابَقْتُهُ:

د زوجينو څپل مينځ کښې د مسابقې جواز: -دادَ سفرڅه واقعه ده چه په صحرائي ميدان کښې ښځه اوخاونددَمنډې مقابله اوکړې نودادَ حجاب او پردې منافي هم نه دى اونه په دې کښې دَ نن صبا دَبې حيا جينکو فسادونو اولوبو څه مشابهت دې

لفظ دَ پيدل منډې دَ تعيين دَپاره دې چه دا مقابله په خپو وه دَ سوريدو په حالت کښې نه وه دَدې واقعه نه معلوميږى چه دَ نبى کريم ﷺ خپلو بيبيانوسره په حسن معاشرت اوحسن معامله کښې خان له يومثال وو.

په څلورو څيزونو کښې د مقابلې جواز: -علامه قاضى خان ليکلى دى چه په څلورو څيزونوکښې دَ منډې مقابله جائزده. ① په اوښانوکښې ② اسونو اوقچرو کښې ③ غشى ويشتلوکښې ④ اوپيدل منډې وهلوکښې. خو په خپل مينځ کښې شرط لګول جانبين کښې حرام دې

په مسابقه کې د شرط لګولو جائز صورتونه: -

① دَ يوطرف نه شرط لګول جائزدې. چه څوك چاته اووائى راځه مقابله کووکه زه وراندې لاړم نوماته به پنځه سوه روپئ راکوې اوکه ته وراندې شوې نوزه به هيڅ هم نه درکوم دا جائزدى

② چه په مينځ کښې محلل موجود وى. نو هم شرط لګول جائز دى. يعنى زيد اوبکردَ دواړو طرفونه شرط اولګولو خو په مينځ کښې ئې داسې اوکړه چه يودريم کس ئې هم په مقابله کښې شامل کړو اوونى وئيل چه که په مونږ کښې څوك وراندې شونو شاته پاتې کيدونکې به هغه ته پنځه سوه روپئ ورکوى خوکه محلل وراندې شو نوهغه ته به هيڅ هم نه ملاويږى دا صورت دَدې شرط هغه منډه جائز جوړه وى.

③ دغه شان که يو انجمن يا کمپنى اعلان اوکړى چه وراندې تلونکى ته به مونږ دومره رقمونه ورکوونوداهم جائز دى دادَ انعام صورت دې

"هذه بتلك السبقة" يعني دا کاميابى دَهغه ناکامئ په بدله کښې ده "تلك بتلك".

[۲۲۵۲] په مړو تبصري مه کوئی

۳۲۶۳ - [۱۵] (۱) ①وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي ③وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ②په تاسو کښې بهترين سړی هغه دی، چې دخپل اهل (ښځي) ورو او اقرباؤ او د خدمتګارو په حق کښې بهترين وي، او زه د خپل اهل په حق کښې په تاسو کښې بهترين يم (يعني دخپل اهل وعيال سره چې څومره بهتر سلوک زه کوم، په خپل اهل وعيال کښې دومره بهتر سلوک په تاسو کښې هيڅوک هم نه کوي) ③او هر کله چې په تاسو کې څوک مړ شي، نو هغه پريږدي يعني دهغه بدمه بيانوي، (ترمذي دارمي)

۳۲۶۴ - (۰) ①وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَى قَوْلِهِ لِأَهْلِي.

ترجمه: ①او ابن ماجه رحمه الله دا روايت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه د لفظ لِأَهْلِي پورې نقل کړي دي.

تسهيلات:

قوله: وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ:

د مذکوره جملې درې مطالب:-

① يعنى دَهغه دَمرګ نه پس په هغه باندې ژړاګانې مه کوئی.

② يعنى چه ستاسو څوک دوست مسلمان مړشی نوهغه پريږدئی اوس دَهغه غيبت مه کوئی اوعيبونه ئی مه لټوئی او په هغه باندې بې خايه تبصرې مه کوئی

③ "بِاَصَاحِبُکُم" نه مراد حضوراکرم ﷺ دې مطلب داچه اوس دَ وفات نه پس په حضوراکرم ﷺ باندې ماتم غم اوتحسر پريږدئی دوه درې ورځې ماتم يعنى غم کول په عام مړوباندې جائز دي دَدريو ورځونه زيات جائزنه دي. او ښځه په خپل خاوندباندې څلورمياشتې لس ورځې ماتم اوغم کولې شی

[۲۲۵٤] دَتابعدارو ښځو فضائل

۳۲۶۵ - [۱٦] (۲) ①وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«الْمَرْأَةُ إِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَأَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا ③فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ». رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ.

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی العفو والعافیة (رقم-۳۵۹۵)

۲) اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب النکاح/حسن معاشرة النساء (رقم-۱۹۷۷)

۳) کذا فی حلیة الاولیاء وطبقات الاصفیاء باب الربیع بن صبیح ومنهم اذوالعقل (۶/ ۳۰۸)

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كومې ښځې چې (د خپلې پاكې په ورځو كښې په پابندۍ سره) پنځه وخته مونځ وكړي، د رمضان (ادا او قضاء) روژې يې ونيولې، د خپل شرمګاه حفاظت يې وكړي (يعني د فواحشو او خرابو خبرو نه يې خپل نفس محفوظ كړي) او د خپل خاونديې (په هغه څيزونو كښې، فرمانبرداري وكړه (چې په هغه كښې فرمانبرداري كول د هغه د پاره ضروري ده)، [۳] نو (د هغې ښځې د پاره دا بشارت دی چې) هغه د كومې دروازې نه چې غواړي په جنت كښې دې داخله شي. دا روايت ابو نعيم په حلية الاولياء كښې نقل كړي دي

حل اللغات: - ① بَعْلَهَا: د هغې خاوند.

تسهيلات:

قوله: الْمَرْأَةُ إِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا

د څلور صفتونو حاملې ښځې دپاره دجنت وعده: -

① هغه پنځه مونځونه ادا كوي، كله چې د طهارت په حالت كښې وي.

② هغه ښځه چې د رمضان روژې نيسي.

③ هغه ښځه چې خپل نفس دبدوخبرو او بدركارونونه ساتي اودخپل عزت حفاظت كوي

④ هغه ښځه چې د خپل خاوند اطاعت كوي په هغه امورو كښې كوم چې شرعا جائز دي

قوله: فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې درې اقوال: - ① په دې جمله كښې جنت ته د داخليدو اشاره ده چې دا جنت ته د داخليدو نه هيڅوك نشي منع كولې

② يا اشاره ده چې دا به زر جنت ته داخله شي.

③ د دا سې ښځې جنت كښې داخيدل يقيني دی

[۳۲۵۵] كه غير الله ته سجده كول جائز وې لو خاوند به د ښځې مسجود ګرځول شوې وو

٣٢٥٥ - [١٧] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ [٣] لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كه ما چا ته دا حكم كولای چې هغه دې بل چاته ته سجده وكړي، [۳] نو ما به يقينًا ښځې ته حكم وركړې وو، چې هغه دې خپل خاوند ته سجده كوي. (ترمذي)

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی حق الزوج على المرأة (رقم-۱۱۵۹)

تسهيلات:

قوله: لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ

د خاوند مقام او عظمت:- يعني په ښځه د خاوند بې شميره حقوق دي ښځه دخاوند د احسانانو شکر نه شي ادا کولې په دې وجه که چرته دغيرالله دپاره سجده کول جائزوې نو ښځې ته به حکم کړې وې چې هغه دې خپل خاوند ته سجده کوی وړاندينو شريعتو کښې د تعظيم سجده جائز وه لکه د ملائکو حضرت آدم عليه السلام ته سجده کول ، دا سجدهٔ تعظيمي وه اوداشان د حضرت يوسف عليه السلام د رونړو حضرت يوسف عليه السلام ته سجده کول هم سجدهٔ تعظيمي وه زمونږ په شريعت محمدی کښې دشرک د ويرې په وجه سجدهٔ تعظيمي جائز نه ده او دا سجده منسوخ شوې ده

[۲۲۵٦] د خاوند د خوشنودې اهميت

٣٢٥٦-[١٨] (١) ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کومه ښځه چې په داسې حال کښې مړه شي چې دهغه خاوند دهغې نه راضي اوخوشحاله وي نوهغه به جنت کښې داخليږي (ترمذي)

تسهيلات: قوله: وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ

د خاوند د خوشحالئ معيار:- زوج نه مراد عالم ، متقی دي د عالم او متقی ښځې دپاره دا اجر بيان شوې دې ، او په غير شرعي امورو کښې د فاسق ، فاجر خاوند د رضامندئ هيڅ اعتبار نشته دې

قوله: دَخَلَتِ الْجَنَّةَ

د داسې ښځې جنت ته د داخليدو وجه:- د الله ﷻ د حقوقو پورا کولو او د بندګانو حقوقو د پورا کولو په وجه به جنت ته داخليږي

[۲۲۵۷] په مشکل وخت کښې هم د خاوند تابعداري کول

٣٢٥٧-[١٩] (٢) ١ وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في حق الزوج على المرأة (رقم-١١٦١) وابن ماجه في كتاب النكاح/باب حق الزوج على المرأة (رقم-١٨٥٤)

٢) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في حق الزوج على المرأة (رقم-١١٦٠) واحمد في المسند: ٢٣/٤

ترجمه: [۱] او حضرت طلق بن علي رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] هر كله چې يو سړي خپله ښځه د خپل حاجت پوره كولو دپاره يعنى جماع دپاره وبلي نوښځې له خاوند ته ورتلل پكار دي كه څه هم چې هغه دنغرې سره وي (ترمذي)

حل اللغات - ① التَّنُّور: تنور يا نغري، د روټئ پخولو ځائې

تسهيلات:

قوله: عَلَى التَّنُّور:

د حكم مذكور علل او محمل: - يعنى سره دَدې چه هغه ښځه په ډيرمشكل كار كښې مشغوله هم وى اودَ هغه كار په پريخودو باندې دَهغې دَخرابيدو خطره هم وى لكه په ګرم تنوركښې لګيدلې روټئې پريخودوسره هغه روټئې سوزيږى. دا به په هغه صورت كښې وى چه كله چه دا اوره دَخاوندوى اوهغه كله خپل مال ضائع كول غواړى نوداسې دې اوكړى ښځه دې تابعدارى اوكړى خكه چه كه چرې ښځه انكاراوكړى او دَ خاوند سره ته مستى ختلې وى نوخاوند په زنا او بدكارئى كښې پريوتلې شى يا كورنى تعلقات خرابيدې شى. كوم چه لوئى نقصان دې يا دا چه كلام دا تعليق بالمحال په توګه دې كه هغه كار پريخودونكې هم ممكن نه وى اومحال وى نوبيادې هم پريږدى اودَ خاوند تابعدارى دې اوكړى.

[۳۲۵۸] خاوند ته تكليف مه وركوه

٣٢٥٨-[٢٠] (١) [۱] وَعَنْ مُعَاذٍ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَالَ: «لَا تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا [۳] إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ: لَا تُؤْذِيهِ قَاتَلَكِ اللّٰهُ [۴] فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاذ رضي الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي [۲] چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل هر كله چې يوه ښځه په دنيا كښې خپل خاوند ته تكليف رسوي، [۳] نو د هغه د جنت والا ښځه (يعني د ښائسته، غټو سترګو والاحوره وايي چې الله تعالى دې مره كړه [۴] دا خو درسره د څو ورځو ميلمه دى، چې زر به ستا نه جدا كيدو سره (په جنت كې) مونږته راشي، (ترمذي) امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات - ① دَخِيلٌ: د يو څو ورځو ميلمه.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ:

۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-١١٧٤) وابن ماجه فى كتاب النكاح/باب فى المرأة تؤذى زوجها (رقم-٢٠١٤) واحمد فى المسند: ٢٤٢/٥

د خاوند خفه نافرمانی ښځې دپاره وعید: - یعنی کله چې د دنیا بی بی خاوند ته تکلیف رسوی نو د جنت حورې د دنیا ښځې ته وائی چې (قاتلك الله) ته دا الله ﷻ د رحمت نه نا امیده شې او د جنت نه لرې شې او په بل روایت کښې دی چې (لعن الله الملائكة لعاصية الزوج) یعنی فرښتې په هغه ښځه باندې لعنت لیږی کومه چې د خپل خاوند نافرمانی کوی ددې نه معلومه شوه چې انسان څه کوی نو هغه د ملأاعلی یعنی د آسمان فرښتو په علم کښې هم وی

قوله: فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ:

هیلوی ښځې سره د خاوند مثال: - یعنی هغه د دنیا دې ښځې سره د لږ ساعت دپاره میلمه دې او ددې نه راتلونکې دې

[۳۲۵۹] په خاوند د ښځې حق

[۳۲۵۹]-[۳۱] (۱) ① وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ عَنْ أَبِيهِ ② قَالَ: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ ③ قَالَ: أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ ④ وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلَا تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت حکیم ابن معاویه قشیری د خپل پلار نه نقل کوی ② چې هغه اوویل ما عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ په مونږ کښې د یوی ښځې د هغې په خاوند څه حق دی؟ ③ حضور ﷺ وفرمایل دا چې هر کله ته (څه) خورې، نو په هغې هم خوره، هر کله چې ته (څه) آغوندې نو په هغه یې هم آغونده (یعنې څنګه چې یې ته خورې، آغوندې یې، دغه شان یې په خپله ښځه هم خوره او آغونده) ④ هغه په مخ مه وهه، مه هغه ته بد رد وایه، او مه ورته دا وایه چې الله ﷻ دی بد شکله که، او د هغې نه یواځې په کور کښې د ته جدایی اختیار کړه. (احمد ابوداؤد ابن ماجه)

حل لغات: - ① وَلَا تُقَبِّحْ: بد رد ورته مه وایه. ② وَلَا تَهْجُرْ: او جدائی ترې مه اختیاروه.

تسهیلات:

قوله: وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ:

په مخ باندې د وهلو ممانعت: - په ټولو اندامونو کښې مخ ډیر معظم او مکرم دې په دې وجه خاص په دې باندې وهل نې منع کړل په قرآن پاك کښې الله تعالی دَ ښځود وهلو اجازت ورکړې دې نبی کریم "ضربا غیرمبرح" فرمائیلو سره حد بندی اوکړه په یو حدیث کښې راغلی دی په قیامت کښې به دَ خاوند نه (دَ شریعت په حدود کښې) دَ ښځې دَ وهلو سوال نه کیږی؟

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح/باب فی حق المرأة علی زوجها (رقم-۲۱۴۲) وابن ماجه فی کتاب النکاح/باب حق المرأة علی الزوج (رقم-۱۸۵۰) واحمد فی المسند: ۴/۴۴۶

د ښځې د وهلو جائز صورتونه: - د څلورو خبرو وجې نه سړې خپله ښځه وهلې شي

① بغير د عذر نه د جماع نه په انكار كولو

② د خاوند د باره په ډول سنګارنه كولو باندې

③ فرائض اسلام پريحودو باندې

④ د اجازت نه بغير د كور نه په بهروتلو باندې يعنى بې پردګى كولو باندې وهلې شى د قرآن كريم دا ترتيب دې ﴿وَالّٰتِىْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِى الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ﴾ [نساء ۳۴.] "ولاترفع عنهم عصاك ادبا"

قوله: وَلَاتُقَبِّحْ:

د مخ د بدئ بيانولو ممانعت: - يعنى ښځه په قبيح الفاظوسره مه يادوئى چه ته ګنده ئى بدشكل ئى خرابه ئى ځكه چه د ښځې اصل سرمايه د هغې حسن او د هغې تعريف دې نو په دې قسم مذمت باندې هغه مرى.

[۳۲۶۰] بدزبانه ښځې ته طلاق وركړه

[۳۲] (١) ① وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ قَالَ: «قُلْتُ: ② يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي امْرَأَةً فِي لِسَانِهَا شَيْءٌ يَعْنِي الْبَذَاءَ، ③ قَالَ: طَلِّقْهَا، قُلْتُ: إِنَّ لِي مِنْهَا وَلَدًا وَلَهَا صُحْبَةٌ، ④ قَالَ: فَمُرْهَا، يَقُولُ: عِظْهَا فَإِنْ يَكُ فِيهَا خَيْرٌ فَسَتَقْبَلُ، ⑤ وَلَا تَضْرِبَنَّ ظَعِينَتَكَ ضَرْبَكَ أُمَيَّتَكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت لقيط ابن صبره ﷺ وايي چې ما عرض اوكړو ② يا رسول الله ﷺ زما يوه ښځه ده، چې د هغې په ژبه كښې څه شي دى. يعنى هغه زبان درازه اوبدزبانه ده. ③ حضور ﷺ وفرمايل چې (كه ته د هغې په زبان درازې او فحش ګويې صبر نه شي كولې. نو) ته هغې له طلاق وركړه (ګويا حضور ﷺ دا حكم په طور د اباحت وركړې) ④ ما عرض اوكړو چې د هغې (د نس) نه زما آولاد دې. او د هغې سره (پخوانې رفاقت او) صحبت دى (ځكه هغې له طلاق وركول هم زما د پاره مشكل دى) ⑤ حضور ﷺ وفرمايل چې بيا هغې ته حكم كوه. يعنى هغې ته د ژبې د درست كولو او د خپلو عاداتو او طريقو د صحيح كولو نصيحت كوه. كه په هغې كښې څه هم نيكې وي، نو هغه به ستا نصيحت قبول كړي. ⑤ او هغه د وينځې په شان مه وهه. (ابوداؤد)

حل اللغات ① فِي لِسَانِهَا شَيْءٌ: د هغې په ژبه كښې څه څيز دې يعنى زبان درازه ده. ② الْبَذَاءَ: بد زبانى. ③ ظَعِينَتَكَ: ته ناوې په ډولې كښې ناسته ښځه. ناوې.

---

١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الطهارة ، باب فى الاستنثار (رقم - ١٤٢)واحمد فى المسند: ٣٣/٤

تسهيلات: قوله: عِظْنَا:

د لفظ ظعينه متعلق د علامه طيبي قول:-دا لفظ دَ مرها تفسير دي ظعينه هغه شريفې ښځې ته وائي چه په کجاوه اودولئ کښې په عزت سره ناسته وي که په کجاوه کښې نه وي نو ظعينه نه ده بيا په دې کښې وسعت راغلو او هرې شريفې ښځې ته او خاص کر سې بې ته ظعينه او وئيلې شوه دا لفظ دَ رفيقه سفر اودَ رفيقه حيات بهترين تعبير دې علامه طيبي ﷫ فرمائي چه عرب ډيرې شريفې ښځې ته ظعينه وائي لکه چه يو شاعر وائي [الکاشف ۶/۳۵۲].

[۲۲۶۱] د ښځو د وهلو ممانعت

—۳۲۳ [۲۳] (۱) [۱] وَعَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «لَا تَضْرِبُوا إِمَاءَ اللَّهِ». [۳] فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ فَرَخَّصَ فِي ضَرْبِهِنَّ

ترجمه: [۱] و حضرت اياس ابن عبد الله ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د الله ﷻ وينځې (يعني خپلې بيبياني) مه وهی، [۳] بيا (د دې حکم نه څو ورځې وروسته) حضرت عمر ﷛ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او عرض يې وکړې چې (تاسو ﷺ د ښځو د وهلو نه منع فرمايلي ده، څکه) ښځې په خپلو خاوندانو زړورې شوې دي، نو حضور ﷺ د ښځو د وهلو اجازت ورکړې،

حل اللغات:- ① ذَئِرْنَ: ښځې زړه ورې شوې،

[۱] فَأَطَافَ بِآلِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ، [۲] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ [۳] لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] د دې نه وروسته بيا ډيرې ښځې د رسول الله ﷺ بيبيانو مبارکو ته راجمع شوې، او د خپلو خاوندانو يې شکايت وکړې (چې هغه مونږ وهی) [۲] رسول الله ﷺ ته چې دا معلومه شوه، نو وې فرمايل چې د محمد ﷺ بيبيانو ته ډيرو ښځو د خپلو خاوندانو شکايت راوړې دې، دا خلق (چې خپلې ښځې وهي) [۳] په تاسو کښې بهتر خلق نه دي، (ابوداود ابن ماجه دارمي)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت اياس بن عبدالله بن ابي ذباب ﷛: اياس دَ قبيله دوس نه ووخو بعضې خلقو هغه قبيله مزينه ته منسوب کړې دې ولې اکثرو کښې دوس ته ترجيح حاصله ده. دَ مکې

---

۱) وابوداود في السنن كتاب النكاح/باب في ضرب النساء (رقم-۲۱۴۶) وابن ماجه في كتاب النكاح/ ضرب النساء (رقم-۱۹۸۵)

اوسیدونکي صحابي وو. ابن منده او ابونعیم اختلاف کړي دي. چه هغه ته د حضور ﷺ صحبت هم ملاوشوي دي که نه. دبعضو په نیز صحبت نه دې ملاوشوي. د دوی نه صرف هم یو روایت نقل دي.

تسهیلات:

قوله: لَا تَضْرِبُوا إِمَاءَ اللهِ:

د تعارض اشکال: - دَ قرآن اوحدیث نه په مجموعی توګه دَ ښځودَ وهلو اجازت څه پټه خبره نه ده لیکن دَ زیرنظر حدیث نه معلومیږی چه ښځي نه دی وهل پکار په ظاهره دَ آیت حدیث او دَ حدیث حدیث سره تعارض معلومیږی؟

د اشکال جواب: - په قرآن کریم کښې کله دَ ښځودَ وهلواجازت راغلو نونبی کریم دَ دغه وهلو اجازت هم ورکړو اوحدئی هم مقررکړو اودَ دغه حدنه زیات وهل ئی منع اوفرمائیل چه یوطرف ته ممانعت راغلې نوهغه دَ هغه وهلو دي کوم چه دَ شرعی حدنه زیات وی اوچرته چه دَ وهلوحکم دي نوهغه په شرعی حد کښې دننه دي.

قوله: ذَئِرْنَ:

نحوی توجیه: - یعنی ښځي تکړه شوي دَ ازمرو په شان ئی غاښونه راویستل دا صیغه دَ مفردکیدل پکاروو ځکه چه فاعل اسم ظاهر دي لیکن دي سره "اکلونی البراغیث" ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ [ابوداؤد: ۲/۲۶۰.] معامله کړي شوي ده.

[۳۲۶۲] ښځه د هغی د خاوند خلاف د خطا ایستلو مذمت

۳۲۶۲-[۲۴] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا ③ أَوْ عَبْدًا عَلَى سَيِّدِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هغه سړی زمونږ د تابعدارانو نه نه دی، چې یوه ښځه د هغی د خاوند خلاف، ③ یا یو غلام د هغه د آقا خلاف بد راه کړي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① خَبَّبَ: چه مخالف کړی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلَى زَوْجِهَا:

د ښځي او خاوند په مینځ کښې تفرقه اچولو مطلب: - دَ ښځي خاوند مینځ کښې تفریق اچول دادی چه په خبروسره غیبتونوسره اوچغلیانوسره دَهغوی په مینځ کښې ورانې

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب باب فيمن خبب مملوكا على مولاه (رقم-۵۱۷۰) واحمد في المسند: ۲/۳۹۷

راپيدا كړي يا په جادو منترجنتر تعويذاتو سره په هغوى كښې فساد واچوى نو دا ټول منع دي كه روحاني توروى او كه مادي توروى

قوله: ليس منا:

زمونږ نه نه دي مطلب دا چه اوس دا سړي په دې شعبه كښې دَ اسلام په طريقه نه دي يا دا مطلب چه په توګه دَ اسلوب حكيم نبى كريم اوفرمائيل چه زمونږ نه نه دي نوچه كرم مسلمان دا خبره اورى هغه به په ژرا ژرا سره دا كار پرېږدي

[۲۳٦۳] د خپل اهل وعيال په حق كښې كمال مهرباني د كمال ايمان دليل دي

---[۲۵] (۱) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا [۳] وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په مؤمنانو كښې كامل ترين ايمان د هغي سړى دى، چې خوش اخلاقه وي، [۳] او په خپل اهل وعيال ډير مهربانه وي. (ترمذي)

حل اللغات: - (۱) وَأَلْطَفُهُمْ: مهربانه وى،

تسهيلات:

نوټ: - د حديث مطلب د ترجمي څخه واضح دي. د مزيد تشريح ضرورت نشته.

[۲۳٦٤] ښځوسره د ښه سلوك كولو ترغيب

---[۲٦] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا [۲] وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ إِلَى قَوْلِهِ خُلُقًا.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په مؤمنانو كښې كامل ترين ايمان د هغه سړي دي، چې په هغوئ كښې ډير زيات خوش اخلاقه وي (يعني د الله تعالى د پوره مخلوق سره د خوش اخلاقي سلوك كوي) [۲] او په تاسو كښې بهتر هغه سړي دي، چې د خپلو ښځو په حق كښې بهتر دي (ځكه چې ښځې د خپل عجز او د كمزوري په بنا د زياتي مهرباني او مروت مستحقي وي) [۳] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي او ويلي يې دي چې دا روايت حسن دى، اوامام ابوداؤد رحمه الله دا روايت د لفظ خُلُقًا پورې نقل كړي دي

حل اللغات: - (۱) وَخِيَارُكُمْ: په تاسو كښې غوره.

۱) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ۳٦۱۲ واحمد فى المسند ٦/ ٤۷
۲) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب السنة/باب الدليل على زيادة الإيمان ونقصانه(رقم-٤٦٨٢)

تسهيلات:

قوله: وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ:

په خاوندانو کښې افضل خاوند: - ماقبل حديث پاك کښې تير شو چې بهترين اخلاقو سره الله ﷻ هم راضي کيږي ، رسول کريم ﷺ هم راضي کيږي او مخلوق هم راضي کيږي چونکه ښځه صرف د خاوند په وجه دخپل مورپلار ، رونړه، خويندې او ټول خاندان پريږدي ، په دې و جه خاوند ته پکار دی چې خپلې بی بی سره مهرباني اوکړي

[۲۳٦۵] د بي بي عائشې رضي الله عنها سره د حضور ﷺ يوه د لطفه ډکه واقعه

۳۳۶۵-[۲۷] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «قَدِمَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ أَوْ خَيْبَرَ ② وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ، ③ فَقَالَ: مَا هَذَا يَا عَائِشَةُ؟ قَالَتْ: بَنَاتِي، ④ وَرَأَى بَيْنَهُنَّ فَرَسًا لَهُ جَنَاحَانِ مِنْ رِقَاعٍ،

ترجمه: ① او د بي بي عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله ﷺ د غزوه تبوک يا غزوه حنين نه وروسته کور ته تشريف راوړو، ② نو هغه وخت د بي بي عائشې رضي الله عنها د کور په چوکاټ پرده پرته وه، چې هوا وچليدله نو د هغې پردې يو ګوټ کولاؤشو ، چې د هغه نه د بی بی عائشې رضي الله عنها دلوبو ګوډياني په نظر راغلې، کومې چې هغه په دريچه کښې ايښودل شوی وې، ③ حضور ﷺ ورنه پوښتنه وکړه چې اې عائشې! رضي الله عنها دا څه دي؟ عائشې رضي الله عنها اوويل چې دا زما ګوډياني دي، ④ په هغه ګوډو کښې حضور ﷺ يو آس هم وليدلو، چې د هغه د کپړې يا بل څه نه دوه وزرې وې

① فَقَالَ: مَا هَذَا الَّذِي أَرَى وَسْطَهُنَّ؟ ② قَالَتْ: فَرَسٌ قَالَ: وَمَا هَذَا الَّذِي عَلَيْهِ؟ قَالَتْ: قُلْتُ: جَنَاحَانِ، ③ قَالَ فَرَسٌ لَهُ جَنَاحَانِ، ④ قَالَتْ أَمَا سَمِعْتَ أَنَّ لِسُلَيْمَانَ خَيْلًا لَهَا أَجْنِحَةٌ؟ ⑤ قَالَتْ: فَضَحِكَ حَتَّى رَأَيْتُ نَوَاجِذَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضور ﷺ بيا پوښتنه وکړه چې د دې ګوډيانو په منځ کښې چې کوم شی زه وينم. دا څه دي؟ ② بي بي عائشې رضي الله عنها اوويل چې دا آس دی، ③ رسول الله ﷺ وفرمايل داڅه شی دي چې پردې آس دي بي بي عائشې رضي الله عنها اوويل دادوه وزران دي رسول الله ﷺ وفرمايل چې د آس هم وزرې وي؟ ④ نو بی بی عائشی رضي الله عنها اوويل چې آيا تاسو ﷺ نه دي اوريدلي چې د حضرت سليمان علیه السلام سره چې کوم آسان وو. د هغوئ وزرې هم وې، ⑤ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې حضور ﷺ (زما جواب آوريدو سره) وخندل، ددې پورې چې ما د حضور ﷺ د ژامې غاښونه وليدل، (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① سَهْوَتِهَا: د کور چوکاټ، وړوکې کور. دونکاچه. طاقچه ② سِتْرٌ: پرده، ③ فَهَبَّتْ رِيحٌ: نو

---

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب /باب في اللعب بالبنات (رقم-۴۹۳۲)

هوا راوالوته. ④نَاحِيَةُ الْبَيْتِ: د پردې گوټ، اوطرف. ⑤لَعِبَ: د لوبو گوډیانې. ⑥رِقَاعٍ: دَ رقعة جمع ده دکپړې یا کاغذټکړو ته وائی (هغه وخت خو به هم کپړه وه کاغذچرته وو)

تسهیلات:

قوله مَا تبسمت:

د نبی کریم ﷺ د خندا لیوت: – یعنې ولې تاته معلومه نه ده چه دَحضرت سلیمان علیه السلام اس وو دَهغې دوه وزرې وې حضرت عائشه رضي الله عنها داخبره په معاشره کښې دغه مشهورې قصې اوریدوسره بیان کړې ده کومې قصې چه په عام توګه دَ ماشومانو په مجلسونوکښې اوروې شی په دې وجه نبی کریم ډیر اوخندل دَدې خندا نه ثابته شوه چه نبی کریم به کله کله دَ مسکی کیدونه علاوه خندا هم کوله په کوم سره چه به دَ غاړې غابښونونه ښکاریدل

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۶۶] غیرالله ته سجده کول جائز نه دی

[۳۸] () [۱]عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: «أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ [۲]فَقُلْتُ: لَرَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَهُ، [۳]فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقُلْتُ: إِنِّي أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَأَنْتَ أَحَقُّ بِأَنْ يُسْجَدَ لَكَ،

ترجمه: [۱]حضرت قیس ابن سعد رضي الله عنه وایې چې زه (کوفې ته نژدې یو ښار) حیره ته ورسیدم، نو ما د هغه خای خلق ولیدل، چې خپل سردار ته سجده کوي [۲]ما په خپل زړه کښې) اوویل چې رسول الله ﷺ خو ډیر زیات د دې مستحق دی، چې هغه ﷺ ته سجده وشي، [۳]کوم وخت چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم، نو ما عرض وکړو، چې زه حیره ته ولاړم نو د هغه خای خلق مې ولیدل، چې هغوئ خپل سردار ته سجده کوي، نو ته ﷺ خو د دې زیات مستحق یې، چې تا ﷺ ته دې سجده وسي

[۱]فَقَالَ لِي: أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِي أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ؟ [۲]" فَقُلْتُ لَا فَقَالَ: " لَا تَفْعَلُوا [۳]لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ [۴]لِمَا جَعَلَ اللهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ حَقٍّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]حضور ﷺ وفرمایل چې [۲]ماته وښایه، که ته زما قبر ته راشې، نو آیا ته به زما قبر ته سجده کوې؟ [۳]ما عرض اوکړو چې نا ، حضور ﷺ وفرمایل (نو بیا زما په ژوند کښې هم داسې مه کوه) [۴]که ما دا حکم کولی شو چې یوکس دې (د الله ﷻ نه علاوه) بل چاته سجده وکړي، نو ما به ښځو ته حکم ورکړې وو، چې هغه دې خپلو خاوندانو ته سجده کوي، ځکه چې الله تعالی ﷻ په ښځو د سړو (ډیر زیات) حق مقرر کړی دی، (ابوداؤد)

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب النکاح /باب فی حق الزوج علی المراة (رقم-۲۱۴۰)

حل اللغات ① الحِيرَةَ: د يو ځاي نوم دې ② لِمَرْزُبَانٍ: په ميم فتحه اوزاء باندې ضمه ده دا فارسي لفظ دې قومندان ته هم وائي رئيس امير كماندر اوچوهدري او لوئي زميندار ته هم وائي

تسهيلات: قوله لومررت بقبر:

قبرونو ته د سجدې سد باب: – يعني دَ رسول الله ﷺ روضه ته به سجده کوئي؟ صحابي اوونيل نه به کوم په دې لفظ کښې څومره لوئي تعليم دې اودَ قبرپرستو په مخ باندې څومره لويه څپيړه ده ﴿لَوْكَانُوا يَشْعُرُونَ﴾

٢٢٦٧ – ( ) [١] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ.

ترجمه: [١] دا روايت احمد رحمه الله هم د معاذ ابن جبل رضي الله عنه نه نقل کړي دي

[۲۲٦۸] د نافرماني ښځې پر وهلو به مؤاخذه نه وي

٢٢٦٨ – [٢٩] (ٍ) [١] وَعَنْ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] قَالَ: " «لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت عمر رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي، [٢] چې حضور ﷺ وفرمايل که سړی خپله ښځه په يو (معقول) شي ووهي، نو قابل د مؤاخذې نه دی، (ابوداؤد ابن ماجه)

تسهيلات: قوله: لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ:

د بي بي په جائزو وهلو عدم سزا: – دَدې مطلب دادې چه دَخپله نافرمانه بي بي دَ شريعت دَ حدود په رڼا کښې وهلو باندې نه په قيامت کښې نه په دنيا کښې دَ خاوند نه څه تپوس پوښتنه نه کيږي دلته دَ لفظ عليه ضمير مجرور دَحرف ما طرف ته راجع دې کوم چه په فيماضرب کښې دلته مذکور دې ليکن چونکه ﴿ وَالَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ ﴾ [نساء۳۴.] آيت دَدې مسئلې بنيادې دې لهذا لفظ ما دَنشوز قائم مقام دې په حقيقت کښې دَ عليه ضمير دَ نشوز طرف ته راجع دې مطلب داشوچه يو سړې خپله ښځه په نشوز (نافرمانئي) باندې اووهي نو نيول به ئي نه کيږي

[۲۲٦۹] ښځه دې دَ خاوند دَ اجازت نه بغير نفلي روژه نه ساتي

٢٢٦٩ – [٣٠] (ٍ) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: «جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَنَحْنُ عِنْدَهُ [٢] فَقَالَتْ: زَوْجِي صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ وَيُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ، وَلَا يُصَلِّي الْفَجْرَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، [٣] قَالَ: وَصَفْوَانُ عِنْدَهُ، قَالَ: فَسَأَلَهُ عَمَّا قَالَتْ: [٤] فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَمَّا قَوْلُهَا يَضْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ فَإِنَّهَا

١) اخرجه احمد في المسند ٢٢٧/٥

٢) اخرجه ابو داود في السنن كتاب النكاح/باب في ضرب النساء (رقم-٢١٤٧) وابن ماجه في كتاب النكاح/ ضرب النساء (رقم-١٩٨٦)

٣) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الصوم . باب المرأة تصوم بغير إذن زوجها (رقم-٢٤٥٩) واحمد في المسند: ٨٠/٣

تَقْرَأُ بِسُورَتَيْنِ وَقَدْ نَهَيْتُهَا،

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد خدري ﷺ وايي چې (يوه ورځ) مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې ناست وو، يوه ښځه په بارګاه رسالت کښې حاضره شوه، او عرض يې وکړي چې زما خاوند صفوان ابن معطل، چې زه مونځ کوم، نو ما وهي، [۲] او چې روژه نيسم نو راباندې يې ماتوي، او هغه خپله د سحر مونځ هغه وخت کوي، هر کله چې نمر (يا خو راختو سره نزدې وي يا) راختلى وي، [۳] راوي وايي چې (کوم وخت چې د صفوان ښځې شکايت کولې، هغه وخت) صفوان د حضور ﷺ سره موجود وو، د راوي بيان دى چې حضور ﷺ د صفوان نه د هغه د ښځې د ذکر کړي خبرو په باره کښې پوښتنه وکړه، [۴] نو صفوان اوويل چې يا رسول الله! ﷺ زما د ښځې دا وئيل چې زه کله مونځ کوم، نو ما وهي، د دې وجه دا ده چې دا د مونځ (په يو رکعت کښې يا په دوه رکعاته) کښې دوه (اوږده اوږده) سورتونه وايي، حالانکه ما دا د اوږدو سورتونو د ويلو نه منع کړي ده،

[۱] قَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: لَوْ كَانَتْ سُورَةٌ وَاحِدَةٌ لَكَفَتِ النَّاسَ. [۲] قَالَ: وَأَمَّا قَوْلُهَا يُفَطِّرُنِي إِذَا صُمْتُ فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ تَصُومُ وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَا أَصْبِرُ [۳] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا تَصُومُ امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا،

ترجمه: [۱] راوي وايي چې رسول الله ﷺ د صفوان د تصديق د پاره وفرمايل چې (د سورة فاتحه نه وروسته) يو سورت وئيل د خلقو د پاره کافي دي، [۲] بيا صفوان اوويل چې او د دې دا وئيل چې کله زه روژه نيسم، نو روژه راباندې ماتوي، د دې وجه دا ده چې دا روژې نيسي (يعني هميشه نفلي روژې نيسي) او زه يو زلمي سړى يم (د شپې ماته د مباشرت موقع نه حاصليږي، خکه د ورځې که زما د جماع خواهش وشي، نو) زه صبر نشم کولى. [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې يوه ښځه دې دخپل خاوند د اجازت نه بغير (نفلي) روژه نه نيسي.

[۱] وَأَمَّا قَوْلُهَا إِنِّي لَا أُصَلِّي حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِنَّا أَهْلُ بَيْتٍ قَدْ عُرِفَ لَنَا ذٰلِكَ لَا نَكَادُ نَسْتَيْقِظُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، [۲] قَالَ: فَإِذَا اسْتَيْقَظْتَ يَا صَفْوَانُ فَصَلِّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] بيا صفوان اوويل چې د دې دا وئيل چې زه د نمر ختو په وخت مونځ کوم، د دې سبب دا دى چې مونږ د کار او بار والا خلق يو (د شپې تر ډير وخته خپلو کښې تيو او باغونو ته اوبه ورکوو، چې د هغه په وجه په شپه کښې اوده کيدل راته نه حاصليږي) او زمونږ خلقو دا عادت شوى دى چې (مونږ د شپې په آخري حصه کښې اوده کيږو، نو) هغه وخت رابيداره کيږو، هر کله چې نمر (يا خو ختلو ته نزدې وي، يا) ختلى وي، [۲] حضور ﷺ (دا عذر اوريدو سره) وفرمايل چې اې صفوانه! چې کله دې سترګې وغړيږي مونځ کوه، (ابوداود ابن ماجه)

حل لغات: - ① قَدْ عُرِفَ لَنَا: زمونږ دا عادت جوړشوي وو

تسهيلات:

قوله: يَفْرِبُنِي إِذَا صَلَّيْتُ:

په حديث کې ذکر شوې د عبرت واقعه: -هرخاص اوعام له دَدې واقعه نه عبرت اخستل پکاردی چه دَ ژبې ظاهری الفاظ اودَهغې مصداق اوحقیقت کښې څومره فرق راځی که یوسړې اجمال هم په اجمال کښې کیخودوسره خبره اوکړی نو په اوریدونکی باندې به څنګه اثرپریوځی خوچه کله دَدغه اجمال وضاحت اوشی نوهیڅ څه لویه مسئله نه وی مګر دَ خپل مینځ دَ جګړودپاره هم دغه کافی وی نن صبادَ الفاظودَ ظاهری جوړخ نه خلق کوم کوم تنازعات پیداکوی بیا خپل مینځ کښې جګړې کوی خوچه دَحقیقت پته اولګی نوهیڅ هم نه وی. بس دادَ نقل کونکو مهربانی وی.

اوس دلته په حدیث کښې اوګورئی درې شکایتونه دی اوڅومره لوئی شکایتونه دی چه خاوندئی په مونځ کولو باندې وهی چه روژه نیسی نوماتوی پرې اودَ سحرمونځ خو هډوکوی نه. نبی کریم چه کله دَدې تفصیل دَهغې دَ خاوند نه معلوم کړو نوحقیقت څه بل څه وو خو نبی کریم په مانځه باندې دَ وهلو شکایت کښې دَ حضرت صفوان ﷜ دَ بی بی په حق کښې فیصله ورکړه اودَ روژې ماتولو په شکایت کښې دَخاوندپه حق کښې فیصله ورکړه اودَ سحر په مونځ کښې هم حضرت صفوان ﷜ معذوره ګڼړلوسره دَهغه په حق کښې فیصله ورکړه اوبیانی دَ مونځ ترتیب اوخودلو

[۳۲۷۰] دسخت نه په سخت حکم کښې هم د خاوند اطاعت کوه

۳۲۷۰-[۳۱] (۱) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ فِي نَفَرٍ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ [۲] فَجَاءَ بَعِيرٌ فَسَجَدَ لَهُ [۳] فَقَالَ أَصْحَابُهُ: يَا رَسُولَ اللهِ تَسْجُدُ لَكَ الْبَهَائِمُ وَالشَّجَرُ فَنَحْنُ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ

ترجمه: [۱] و د بي بي عائشي ﷺ نه روايت دی، چې (يو ورځ) رسول الله ﷺ د مهاجرينو او د انصارو د يو جماعت په منځ کښې تشريف فرماوو. [۲] يو اوښ راغلی، او د حضور ﷺ مخې ته سجده کونکي شو (د دي ليدو سره) [۳] صحابه وو ﷺ عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ هر کله چې چارپايان او اوني تاسو ته سجده کوي (چې ناپوهه ه دي، او ستا ﷺ د تعظيم او احترام مکلف هم نه دی) نو مونږ (د دوی نه) زيات د دې لائق يو، چې تا ﷺ ته سجده وکړو.

[۱] فَقَالَ: اعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَأَكْرِمُوا أَخَاكُمْ [۲] وَلَوْ كُنْتُ آمُرُ أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا، [۳] وَلَوْ أَمَرَهَا أَنْ تَنْقُلَ مِنْ جَبَلٍ أَصْفَرَ إِلَى جَبَلٍ أَسْوَدَ وَمِنْ جَبَلٍ أَسْوَدَ إِلَى جَبَلٍ أَبْيَضَ كَانَ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تَفْعَلَهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

۱) اخرجه احمد فی المسند: ۶/۷۶

ترجمه: ۱ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې د خپل پروردګار عبادت کوی، او د خپل ورور يعني زما، تعظيم کوی، ۲ که ما چا ته د غيرالله د سجدي حکم ورکولی شو ، نو يقيناً ښځي ته به مي دا حکم ورکړي وو، چې هغه دي خپل خاوند ته سجده کوي، ۳ که د هغي خاوند هغی ته دا حکم ورکړي، چې هغه دي د زيړ رنګ د غره نه کاڼي پورته کولو سره تور غر ته يوسي، او د تور غره نه کاڼي پورته کولو سره سپين غره ته دي يوسي، نو د هغي ښځي د پاره دا لائق وو، چې هغه د خپل خاوند دا حکم په ځای راوړي. (احمد)

تسهيلات: **قوله**: فَسَجَدَلَهُ:

نبی کريم ﷺ ته د اوښ سجده کول:- يعني اوښ دَ خپل خرق عادت په توګه دَ نبی کريم په وړاندي راغلو سجده ئې اوکړه اوښ يوغير مکلف ځناوردي اودَ معجزي په توګه داسي شوی دی نوپه دي سره دَمکلف انسانانودَپاره څه داسي قاعده نه شي جوړيدي بيا دَ اوښ دا سجده دَالله تعالی دَپاره وه نبی کريم په منزلـه دَ قبلي وو اوداَ الله تعالی صرف اوښ ته حکم شوي وو دَ بل چادَپاره ګنجائش نشته دي رسول الله ﷺ منع فرمائيلي ده نوچه کوم خلق نن په قبرونوکښي سجدي لګوی هغوی ډير نادانان او نافرمان دی

قوله: وَأَكْرِمُوا أَخَاكُمْ:

عبادت د الله تعالی او اطاعت د رسول الله صلي الله عليه وسلم:- نبی کريم دَ تعظيم اواکرام باره کښي اوفرمائيل چه عبادت خو دَالله تعالی حق دي اودَ خپل روږ يعني دَ حضوراکرم ﷺ اکرام تعظيم اوادب کوئی په زړه کښي ماسره محبت ساتئی اوپه ظاهراوباطن کښي زما اطاعت کوئی نبی کريم خو تواضعًا "اخاکم" لفظ استعمالولوسره اشاره اوکړه چه زه هم دَ آدم ﷺ دَ اولاد په شان بشر يم خوزما رب ماته نبوت راکړي دي په دي وجه دَ الله تعالی دَ اکرام په رانړاکښي زما اکرام کوئی

علامه طيبی رحمه الله فرمائی "يعني اکرموا من هو بشر مثلکم ومفرع من صلب ابيکم آدم، واکرموه لما اکرمه الله تعالی" دَدي حديث دَ تشريح دَپاره يوبدعتی حضرت شاه اسماعيل شهيد رحمه الله ته درخواست اوکړوحضرت شاه صاحب ښکلي تشريح اوليکله وروئی ليکله دَبدعتی نيت ښه نه وو هغه دَ شاه صاحب خلاف يو طوفان راوچت کړوچه شاه صاحب نبی کريم ته مشر روږ اووئيل ترنن پوري دَ مطاعن سلسله جاری ده الله تعالی دي دَداسي فتنه خورونکوخلقونه حفاظت اوکړی [الکاشف ۶/۳۵۷.]

قوله: أَنْ تَنْقُلَ: ای تنقل حجرا:

په ښځه د خاوند د حکم پوره کولو وجوب:- يعني که خاوند ښځي ته حکم اوکړی چه هغه دي يو دروند کاڼي دَ زيړرنګ دَ غر نه واخلی اودَ تور رنګ غر ته دي يوسی اودَ تور نه دي

واخلي سپين غر ته دې يوسي نودې ښځې له پكاردي چه داكار اوكړي سره ددې چه په دې كښې څه فائده نشته دې بلكه موقع ده چه دا فضول خاوند ښه اورتلې شي چه د يوې مقصدكارد پاره يوانسان په تكليف كښې اچوي ليكن د شريعت او پيغمبراسلام حكم دې چه ښځه دې ددې په شان حكم هم منى هغه دې كارته نه ګوري بلكه دخاوند حكم او اطاعت ته دې ګوري په دې به دې ته ثواب ملاويږي.

قوله: احمر الى من جبل:

په عبرو كښې د مبالغې حكم:- د غرونود دغه خاص رنګونوذكر كول د مبالغه طرف ته اشاره كول دى ځكه چه دا قسم دمختلف رنګونو والاغرونه د يوبل نه ډير لرې وى اويوبل سره نيزدې نه وى

[۳۲۷۱] دكومې ښځې خاوند چه ناراض وي د هغې مونځ په پوره طور سره نه قبليدل

[۳۲] (۱) ١ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ لَهُمْ صَلَاةٌ وَلَا تَصْعَدُ لَهُمْ حَسَنَةٌ: ٣ الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَى مَوَالِيهِ فَيَضَعَ يَدَهُ فِي أَيْدِيهِمْ، ٤ وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا، ٥ وَالسَّكْرَانُ حَتَّى يَصْحُوَ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ داسې دري سړي دي، چې د هغوئ مونځ په پوره طور سره نه قبليږي، او نه د هغوئ څه نيكى پورته (يعني الله تعالى ﷻ طرف ته) ځي، ٣ يو خو تښتيدلي غلام، د څو پورې چې هغه خپلو مالكانو ته واپس راتلو سره د هغوئ په لاس خپل لاس كينږدي (يعني د څو پورې چې وروسته راتلو سره خپل ځان مالكانو ته ځان حواله نه كړي، او د هغوئ اطاعت شروع نه كړي، د هغه مونځ په پوره طور سره نه قبليږي) ٤ دويم هغه ښځه چې د هغې خاوند د هغې نه ناراضه وي. ٥ او دريم نشه باز، د څو پورې چې په هوش كښې رانشي، دا روايت بيهقي په شعب الايمان كښې نقل كړي دي.

حل اللغات - ① لَا تَصْعَدُ: پورته نه خيجه. ② الْعَبْدُ الْآبِقُ: تختيدلي غلام ③ إِلَى مَوَالِيهِ: موالى دمولى جمع ده آقا ته وائى ④ السَّاخِطُ: ناراض، خفه ⑤ السَّكْرَانُ: نشه باز ⑥ يَصْحُوَ: چه په هوش كښې راشي.

تسهيلات:

قوله: إِلَى مَوَالِيهِ:

په لفظ د موالى جمع راوړلو كښې نكته:- دلته په جمع راوړلو سره اشاره اوكړه چه دغه غلام له پكاردى چه صرف د آقانه بلكه د آقاد اولاد په لاس كښې دې هم لاس وركړى توبه دې اوكړى چه د ده عبادت خراب نه شي او چه د وفادارئى ښه اظهار اوشي.

١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٨٦٠٠

قوله: وَلَا تَصْعَدُ:

په لفظ د صعود کښې فائده:- سره دا اشاره ملاوېږي چه نیك اعمال پورته خيږي اود الله تعالی بادشاهت او عرش برين نظام پاس دي دلته دا خبره ذهن کښې ساتنې چه په کوم احاديثو کښې خاوند ته اعزاز ورکړې شوي دي د هغې نه مراد هغه خاوند دي چه د خپل خالق او مالك مطيع او فرمانبردار او پرهيزګاره مؤمن وي د فاسق فاجر دا مقام نه دي

[۲۲۷۲] د بهترين ښځې پېژندګلو

[۳۳]-۳۲۷۲ (۱)[۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲]أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ؟ قَالَ: الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ [۳]وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ»، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چي د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه، [۲]چي کومه ښځه بهتره ده؟ نو حضور ﷺ وفرمايل هغه ښځه چي کله د هغې خاوند هغې ته وګوري، نو هغه يي خوشحاله کړي، او هر کله چي خاوند څه حکم ورکړي، نو هغه په ځاى کوى (په شرط د دي چي هغه حکم خلاف شروع نه وي) [۳]او په خپل ذات او خپل مال کښې د هغه خلاف څه داسي خبره نه کوي، چي هغه يي نه خوښوي، دا روايت بيهقي عليه په شعب الايمان کښې نقل کړي دي.

تسهيلات:

قوله: وَلَا مَالِهَا:

د نسبت ښځې طرف ته په کولو کښې دوه توجيهات:- ① د مال نسبت ښځې طرف ته ځکه شوي دي چه ممکن ده چه دا مال په ذاتي توګه د ښځې وى او د هغې خاوند غريب وى نو دا به حقيقي نسبت شي

② او دا هم ممکن ده چه مال خود د خاوند وى ليکن د ښځې په تصرف کښې وى نو دا ښځه دومره ايمانداره ده چه د خاوند د مال د خپل مال په شان حفاظت کوى او د خاوند مال د خاوند د مرضى نه خلاف نه خرچ کوى او نه په خپله په هغې کښې خيانت کوى [الکاشف: ۶/۳۵۹]

۱) اخرجه النسائي في السنن کتاب الجهاد/باب أي النساء خير (رقم-۳۲۳۱)

[۲۳۷۳] د امانت داري ښځي فضيلت

۳۲۷۳-[۳۴] (۱) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ فَقَدْ أُعْطِيَ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ: قَلْبٌ شَاكِرٌ، وَلِسَانٌ ذَاكِرٌ، وَبَدَنٌ عَلَى الْبَلَاءِ صَابِرٌ، وَزَوْجَةٌ لَا تَبْغِيهِ خَوْنًا فِي نَفْسِهَا وَمَالِهِ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل خلور څيزونه داسې دي، چې هغه کوم سړي ته حاصل شي، هغه ته د دين اودنيا خير نصيب شو، اول (د حق تعالی جل جلاله د نعمتونو) شکر ادا کونکی زړه، دويم (په خوشحالي او غم، په هر حالت کښې الله تعالی جل جلاله) يادونکي ژبه، دريم په بلاګانو (او مصيبتونو) صبر کونکي بدن، او څلورم هغه ښځه چې په خپل ذات او د خاوند په مال کښې خيانت نه کوي، دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کښې نقل کړي دي.

حل اللغات: - ① لَا تَبْغِيهِ خَوْنًا: هغه سره خيانت مه کوه.

تسهيلات:

قوله: أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ فَقَدْ أُعْطِيَ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

د څلورو نعمتونو کښې عظمت: - په حديث مبارک کښې د څلورو نعمتونو ذکر دي چې چاته دا څلور واړه خصلتونه ورکړې شونو هغه ته د دنيا او آخرت ټول خيرونه ورکړې شو

① هميشه دپاره د الله تعالی شکرګذار وی شکايت نه کوی.

② په هرحالت کښې د الله تعالی ذکر کونکې ژبه ورته الله تعالی ورکړې وی

③ په تکليفونو او مصيبتونو کښې صبر کونکې وی.

④ چې داسې بی بی ورته الله تعالی ورکړې وی چې ده سره خيانت نه کوی چې دده څخه سوا بل چا سره آشنائی جوړه کړی او هغه ته د خپل نفس څخه د فائدې اخستلو موقع په لاس ورکړی اودغه شان دده د مال حفاظت هم کوی چې بې ځايه ئې خرج کړی.

۱) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث

[۱۰] بَابُ الْخُلْعِ وَالطَّلَاقِ

دَخلع اوطلاق بیان

خلاصة الباب:-

فیه عشرون حدیثاً مشتملة علی ست مسائل:

① مقدار بدل الخلع: ۱، ۱۷.
② النهي عن بعض أقسام الطلاق:- , في الحیض: ۲، - قبل النكاح: ۸، ۹.
③ طرق الطلاق ثبوتاً ونفیاً: ۱، ۳، ۴، ۵، ۱۰.
④ الزجر بالطلاق والخلع من غیر ضرورة: ۲، ۷، ۱۶، ۲۰.
⑤ الطلاق النافذ وغیر النافذ: ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴.
⑥ عدد الطلاق: ۱۵، ۱۸، ۱۹.

خلع بفتح الخاء او بالضم کښې فرق:-باب فتح یفتح نه خلع کله چه دَ خاء فتح سره راشی نودا په لغت کښې دَ یوځیز دَ ویستلو کولاوولوختمولو اوراښکلو کښې استعمالیږی په خاص توګه دَ بدن نه کپړې او څپلئی کوزولودَپاره استعمالیږی اوکله چه دَ خاء په ضمه او لام په سکون سره وی نودا دَ ازاله زوجیت دَپاره استعمالیږی اوهم دغه خلع ده.

د خلع شرعی تعریف:-دَدې شرعی تعریف داسې دې "الخلع فراق الرجل امرأته علی عوض" یعنی (ملکیت نکاح ته دَ مال په عوض دَ خلع په لفظ سره زائل کولونوم خلع ده).

په معنی لغوی او شرعی کښې مناسبت:-علامه طیبی ﷫ فرمائی چه په لغوی اوشرعی معنی کښې دامناسبت دې چه ښځه خاونددَ یوبل دَپاره په منزله دَ لباس دی ﴿ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ﴾[البقرة: ۲۲۹.] اوکله چه ښځې خاونددَ خلع عمل اوکړو نولکه چه دواړو دَخپل بدن نه کپړې کوزې کړې (والطلاق) داپه خلع باندې عطف دې که چرې خلع دَ فسخ نکاح نوم دې اودَ طلاق نوم نه دې نو په دې باندې دَ طلاق عطف کول واضح اوظاهر دی چه دواړه لفظونه دَ مفهوم په اعتبارسره جدا جدا دی اوعطف صحیح دې اوکه چرې خلع هم یوطلاق دې لکه چه روستو اختلاف راخی نوبیابه لفظ (الطلاق) عطف په عام علی الخاص وی طلاق عام دې اوخلع خاص ده.

د خلع او طلاق حکمت:-اسلام دَ سهولت او رحمت، دین اوشفقت قانون دې کله ښځه ښه نه وی دکوم په وجه چه دَخاوندژوند دَتکلیفونوتیرولو مجموعه وی نواسلام خاوندته په ښه طریقه باندې دَ طلاق ورکولواختیارورکړې دې اوکله خاوند ښه نه وی نو ښځه دَهغه دَ ظلمونو په میچن اوره کیږی نواسلام دَدغه ښځې دَ خان خلاصولودَپاره په رضاکارانه توګه

خلع کول یعنی په څه اندازه د مال په عوض د طلاق اخستلو حق ورکړي دي فرق صرف دومره دې چه په طلاق کښې خاوند آزاد دې د ښځې په مرضئی باندې طلاق موقوف نه دې لیکن په خلع کښې د خاوند مرضی باقی ساتلې ده دې د پاره چه د کورنئی مشروالی او د سرو سیادت شل پاتې نه شي سره د دې سهولتونو اسلام په تکلیف ورکولو او د فساد په بنیاد باندې طلاق ورکول یا خلع اخستلو سخت مذمت کړې دې دې د پاره چه د مجبورئی د یو سهولت نه څوک ناجائزه فائده وانخلی

د خلع طریقه:-که د ښځې خاوند په مینځ کښې اختلاف پیداشی او خاوند ښځې ته طلاق نه ورکوی او ښځه د خپل ځان خلاصولو د پاره خاوند ته وائی چه ته دومره پیسې واخله اوما پریږده، د مهر پیسې خپل ځان سره حصارې کړه اوما پریږده اوخاوند په جواب کښې وائی چه او د دومره پیسو په بدله کښې تا پریږدم نودا فدیه. افتدا اوخلع ده په دې کښې داشرط دې چه د طلاق لفظ به نه استعمالیږی که د طلاق لفظ استعمال کړې شو نوطلاق بالمال به ورته وائی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۳۷٤] د ناخوښه خاوند نه طلاق حاصلولی شي

۳۲۷۴—[۱] (۱) ①عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ «أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَلَا دِينٍ ③وَلٰكِنِّي أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ!

ترجمه: ①حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې د ثابت ابن قیس ﷺ ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه، ②او عرض يې وکړي چې يا رسول الله! ﷺ په ثابت ابن قیس ﷺ ماته غصه نه راځي، او نه د هغه عادات او د هغه په دین کښې څه عیب لګوم، ③لیکن زه په اسلام کښې کفر (یعني کفران د نعمت یا ګناه) نشم خوښولی،

حل اللغات:- ①مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ: زه په ده باندې عیب نه لګوم

①فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، ②قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: اقْبَلِ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې آیا ته د ثابت ابن قیس ﷺ باغ به (چې هغه تاته په مهر کښې درکړي دي) هغه ته واپس کړې، د ثابت ﷺ ښځې اوویل چې هو، ②رسول الله ﷺ (د دې آوریدو سره) ثابت ﷺ ته وفرمایل چې ته خپل باغ واپس واخله او دې ته یو طلاق ورکړه. (بخاري)

حل اللغات:- ②أَتَرُدِّينَ: آیا ته به واپس کړې؟

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطلاق/باب الخلع وکیف الطلاق فیه (رقم-۵۲۷۳) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: ما جاء فی الخلع(رقم-۳۴۶۳) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ المختلعة تأخذ ما أعطاها (رقم-۲۰۵۶) واحمد فی المسند: ۳/٤

تسهیلات:

قوله: اَقْبِلِ الْحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً:

په خلع سره د نکاح په فسخ کیدو کښې مذاهب:-

① دامام احمد بن حنبل رحمہ اللہ او امام شافعی رحمہ اللہ دَمشهور قول مطابق خلع کولو سره به نکاح فسخ شی او دَ ښځې اوخاوند دواړو جدائی به اوشی

② دامام مالک رحمہ اللہ اوامام ابوحنیفه رحمہ اللہ په نیزدَ خلع په عمل سره به په ښځه باندې یوطلاق بائن واقع شی. خلاصه دا چه امام احمد رحمہ اللہ او امام شافعی رحمہ اللہ په نیزخلع فسخ نکاح ده اودامام مالک رحمہ اللہ او امام ابوحنیفه رحمہ اللہ په نیز طلاق بائن دې

داول فریق اول دلیل:- ① ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۠ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝﴾ آیت دې. طرزدَ استدلال داسې دې چه په آیت کښې اول دَ دوو طلاقوذکر دې اوبیا ﴿فَاِنْ طَلَّقَهَا﴾ نه دریم او آخری طلاق بیان کړې شوې دې اوس که چرې په مینځ کښې ﴿فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ﴾ دَ فدیه والا دَخلع صورت هم طلاق واحد شمیر کړې شی نو په اسلام کښې به دَدریو په ځائی څلور طلاقه شی اودا باطل دې لهذا خلع په طلاق کښې شمیرل هم باطل دی

داول فریق د اول دلیل جواب:- دلته خلع جدا طلاق نه دې بلکه قرآن دَ ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ﴾ دوه صورتونه بیان کړی دی. یوطلاق بغیردَ عوض دې دکوم ذکر چه ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ﴾ کښې دې او یوطلاق بالعوض دې کوم ته چه خلع وائی دادَ جدا طلاق ذکر نه دې بلکه ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ﴾ په ضمن کښې یوقسم طلاق ذکردې دا دوه طلاقونه شو او ﴿فَاِنْ طَلَّقَهَا﴾ کښې دریم طلاق بیان کړې شوې دې.

داول فریق دویم دلیل:- دَ حضرت ثابت بن قیس دَ ښځې قصه د دوی مستدل دې چه نبی کریم ﷺ دَهغې عدت صرف یوحیض اوګرځولو ((فجعل عدتها حیضة)) دَ ابوداؤد شریف دَ دې روایت نه معلومه شوه چه دَ خلع نه پس حضور پاک دَ حضرت ثابت رضی اللہ عنہ دَ ښځې عدت یوحیض اوګرځولو او په طلاق کښې یوحیض نه بلکه درې حیض عدت دَپاره ضروری دی معلومه شوه چه خلع طلاق نه بلکه فسخ نکاح ده

داول فریق د دویم دلیل جواب:- اوکوم چه په حدیث کښې ((حیضة)) لفظ راغلې دې نودادَ جنس دَپاره دې کوم چه په قلیل اوکثیر باندې یادولې شی. لهذا په دې سره دَ دریو حیضو

نفی نه کیږی حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی د یوحیض چه په حدیث کښې کوم ذکر راغلې دې دا هغه حیض دې چه دکوم د تیرولو د پاره ښځې ته ونیلی شوی دی چه هغه دې د خاوند په کور کښې کم نه کم دا تیر کړی دې نه علاوه د دوو حیض تیرولو د پاره دې خپل کورته لاړه شی

د دویم فریق دلیل: - ① د حضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه د ښځې د واقعه نه استدلال کړې دې چه په بخاری کښې هم ذکر دې او د مشکوة شریف په دې صفحه باندې هم دې چه نبی کریم د هغې خاوند ته اوفرمائیل چه دا باغ کوم چه ستا ښځې درکړې دې دا قبول کړه او ښځې ته یو طلاق ورکړه داحضرات فرمائی که چرې داخلع فسخ نکاح وې نو د طلاق ورکولو څه ضرورت وو؟ دې حضراتو د دې روایت نه هم استدلال کړې دې «ان النبی ﷺ جعل الخلع تطلیقة واحدة رواه سعید بن المسیب مرسلا کذا فی مصنف ابن ابی شیبه»

قوله: أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ:

د اکره الکفر فی الاسلام مطلب: -یعنی زما هغې سره د ژړه مینه نه ده د کوم په وجه چه هغه په طبعی توګه زما ناخوښه دې. په څه شرعی وجه باندې خراب نه دې نه په هغه کښې څه شرعی عیب دې لیکن زما خوښ نه دې اوچونکه هغه زما خاوند دې د کوم نه چه نفرت او کرکه کول حرام دی. لهذا په اسلام کښې اوسیدو سره دا غیر اسلامی خبرې اوناشکری زه نه شم برداشت کولې هسې نه چه زما ایمان خراب شی. نو د کفر نه کفران نعمت مراد اخستې شی. ونیلی شی چه د حضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه قد ټیټ وو اوشکل ئې هم تك سپین نه وو او د هغه بی بی چه د هغې نوم جمیله یا حبیبه وو ښائسته وه په دې وجه د دواړو جوړ نامناسب او بې جوړ وو.

[۲۲۷۵] د طلاق تعریف او د هغې قسمونه

[۲] (۱) «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ ② فَذَكَرَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَتَغَيَّظَ فِيهِ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ ثُمَّ قَالَ: لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا، ثُمَّ تَحِيضُ فَتَطْهُرُ، ④ فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ». ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ: «مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب سورة الطلاق (رقم-۴۹۰۸) ومسلم فی - کتاب الطلاق/باب تحریم طلاق الحائض بغیر رضاها. وأنه لو خالف وقع الطلاق. ویؤمر برجعتها (رقم-۱ - (۱۴۷۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/باب فی طلاق السنة (رقم-۲۱۷۹)والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی طلاق السنة (رقم-۱۱۷۵) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: وقت الطلاق للعدة التی أمر الله عز وجل أن تطلق لها النساء (رقم-۳۳۸۹) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ باب طلاق السنة (رقم-۲۰۱۹) ومالک فی الموطا کتاب الطلاق باب ما جاء فی الأقراء وعدة الطلاق وطلاق الحائض (رقم-۵۳) واحمد فی المسند:۲/۲۶

ترجمه: [۱] او د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ په باره کښې روایت دی. چې هغه د حیض په حالت کښې خپلې ښځې ته طلاق ورکړي. [۲] حضرت عمر ﷺ د دې ذکر حضور ﷺ ته وکړې، حضور ﷺ په دې واقعه سره ډیر په غصه شو . [۳] او وې وفرمایل چې (د دې ګناه د تدارک کولو د پاره) عبدالله لره پکار دی چې هغه دې ښځې ته رجوع وکړي (یعني مثلاً داسې اووایې، چې ما دا په خپله نکاح کښې واپس واخستله) او بیا یې د خان سره وساتې. ددې پورې چې هغه پاکه شي، او بیا چې هغه حائضه شي. او د هغه نه وروسته پاکه شي. او که طلاق ورکول ضروري وي، نو د پاکې په حالت کښې دې هغې لره طلاق ورکړي. مخکې د دې نه چې هغې سره جماع وکړې، [۴] نو دا هغه عدت دی چې د هغه په باره کښې الله تعالٰی ﷻ حکم ورکړې دی، چې په دې کښې دې ښځو لره طلاق ورکړی شي. [۵] په یو روایت کښې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ حضرت عمر ﷺ ته وفرمایل عبدالله ته حکم ورکړه. چې هغه دې ښځې ته رجوع وکړي، او بیا هغه لره د پاکې په حالت کښې (په شرط د دې چې هغه حامله نه وي، او حیض ورته هم نه وي) یا د حمل په حالت کښې دې طلاق ورکړي. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: - ① فَتَغَيَّظَ: غصه شو .

تسهیلات:

قوله: طَلَّقَ امْرَأَتَهُ:

د طلاق لغوی معنی: - طلاق په معنی دَ تطلیق دې لکه چه سلام دَ تسلیم په معنی کښې دې په لغت کښې دَ طلاق معنی داده "حَلُّ قَيْدٍ حِسِّيٍّ أَوْمَعْنَوِيٍّ" یعنی دَ ظاهری یا معنوی تړون نه خلاصولو نوم طلاق دې دَ قید ظاهری مثال لکه چه دَ چا په خپه کښې زنځیرونه اچولې شوی دی اودَ قید معنوی مثال لکه دَ نکاح دَ وجې نه په ښځه باندې غیرمرئی وغیره حسی قید لګی

د طلاق اصطلاحی تعریف: - دَ فقهاء کرامو په اصطلاح کښې دَ طلاق تعریف داسې دې "الطلاق ازالة النكاح اونقص حِلِّهِ" یعنی دَ نکاح قید بالکل ختمول یا دَ هغې حلت کمول کله چه یو سړې ښځې ته مغلظ طلاق ورکوی نو دابالکلیه دَنکاح قید ختموی اوس وطی حرام ده او که چرې طلاق رجعی ورکوی نو دَ نکاح دَحلت صورت کښې نقصان کوی په دې صورت کښې سره دَدې چه وطی جائز ده لیکن د رجوع کولو په صورت کښې به دَ بیا دریو طلاقو په ځائې دَ دوو مالک کیږی هم دغه په حلت کښې کمې دې. خلاصه دا چه په لغت کښې طلاق ته دَ قید اوچتول ونیلی شوی دی او اصطلاح کښې دَ نکاح قید دَ مخصوص الفاظو په ذریعه دَ ختمولونوم طلاق دې.

دَ طلاق درې قسمونه: -

احسن: - ① دادې چه يو خل طلاق په داسې پاك حالت كښې وركړې شي په كوم كښې چه جماع نه وي كړې بيا درې مياشتې عدت تيرولوپورې رجوع او جماع نه اجتناب اوكړې شي دعدت په تيريدو به ښځه بائنه شي دا ځكه احسن دې چه خاوندته به هروخت دَ رجوع اختياروي دَ سوچ دَپاره به ورته اوږده موقع ملاؤ شي اودَ طلاق مكروه الفاظ به هم دَ كم نه كم استعماليږي

حسن: - ② دې ته وائي چه په طهر كښې خپلې ښځې ته يوطلاق وركړي په دويم طهر كښې دويم طلاق او په دريم طهر كښې دريم طلاق وركړي دغه شان په ښځه باندې درې طلاق واقع شو امام مالك رحمه الله فرمائي چه دا صورت حسن نه دې ځكه چه كله په يوطلاق وركولوسره ښځه جدا كيدې شي نودا ابغض المباحات درې ځل پورې دَ استعمالولوڅه ضرورت دې؟ جمهورفرمائي چه دَ شرعي نصوص په موجودګئ كښې ستاسو قياس نه شي چليدې

بدعي: - ③ طلاق بدعي دې هغه داسې چه په يوطهر كښې درې طلاقه هم په يومجلس كښې وركړي يا په جدا جدا وختونو كښې وركړي يا دَحيض په حالت كښې ښځې ته طلاق وركړي دا بدعي طلاق دې دغه شان بدعي طلاق وركولوسره به سړې ګناهګارشي مګر طلاق به واقع كيږي

د طلاق بدعي په حكم كښې اختلاف: - ①امام شافعي رحمه الله فرمائي چه طلاق بدعي هغه دې چه دَحيض په حالت كښې وركړې شي كه په طهر كښې وركړې شي نودغه بدعي نه دې كه هغه په يومجلس كښې درې طلاق په يو ځائي وركړي يا جدا جدا ټول جائز دي ځكه چه طلاق امر مشروع دې ممنوع نه دې

② احناف فرمائي چه نكاح په مصالح دينيه او دنيويه باندې مشتمل ده اوطلاق وركولوسره دا مصالح ختميږي لهذا طلاق دَ سختې مجبورئي په حالت كښې وركول پكاردي اوهغه هم داسې وركول پكاردي چه په وخت دَ خپيمانتيا كښې دَ خاوند په لاس كښې څه اختيارباقي وي په كوم سره چه به دَهغه پريشاني لرې شي په دې وجه طلاق چه څومره كم وركړې شي نو هم دومره بهتر ده اوكثرت بدعت دې

د طلاق په دويم اعتبار سره تقسيم: - دَ طلاق په قسمونو كښې بعضې شارحينو حضراتو مختصر الفاظوسره داسې تقسيم كړې دې چه طلاق په دوه قسمه دې سني او بدعي بيا سني په دوقسمه دې احسن او حسن نوټول درې قسمونه جوړشو

قوله: "فتغیظ فیه رسول الله:

دَ حیض په حالت کښې دَ طلاق ورکولو حکم: - نبی کریم خکه غصه شو چه دَ حیض په حالت کښې طلاق ورکول حرام دی خکه چه په حالت دَ حیض کښې بالاجماع گناه او بدعت دې دَ ائمه اربعه او سلف صالحین په دې کښې دَهیڅ قسم اختلاف نشته دې

د غیر مقلدینو مذهب: - البته دَ غیرمقلدینو مسلك دې که چا په حالت دَ حیض کښې طلاق ورکړو نو طلاق به نه واقع کیږی

په حالت حیض کښې د طلاق په واقع کیدو دلیل: - جمهور ائمه دَ زیر نظر حضرت ابن عمر ﷺ دَ روایت نه استدلال کړي دې په کوم کښې چه دَحضرت عمرفاروق ﷺ په شکایت باندې نبی کریم هغه ته اوفرمائیل خپل خونی ته حکم ورکړه چه خپلې ښځې ته رجوع اوکړی "مره فلیراجعها" اوس دا خبره واضح ده چه رجوع متفرع ده په طلاق باندې چه طلاق پریوځی نو بیا هله رجوع کیږی گنی دَ رجوع ضرورت څه دې؟ دې نه معلومه شوه چه سره دَدې چه دَ حیض په حالت کښې طلاق ورکول گناه ده لیکن که چا ورکړونو طلاق به واقع کیږی پاتې شوه دا خبره چه دې حیض سره متصل کوم طهر دې په هغې کښې دَ طلاق ورکولو په ځائی نبی کریم دا ولې اوفرمائیل چه راتلونکی حیض نه پس چه کوم طهر راځی په هغې کښې طلاق ورکړنی. دَدې حکمت علماء کرامو دا خودلې دې په دې تاخیر سره کیدې شی چه دخاوند دَ طلاق اراده بدله شی یا دَ سزا په توګه ئی مؤخر کړی چه تا تادی کولو سره په حیض کښې طلاق ورکړو. اوس دَ یو طهر نه بلکه دَ دوو طهر انتظار اوکړه بهرحال دا یوه تنبیه ده کومه چه اولی ده واجب نه ده.

[۲۲۷۶] ښځې له دَ طلاق اختیار ورکول

۳۲۷۶-[۳] (۱) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «خَيَّرَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاخْتَرْنَا اللَّهَ وَرَسُولَهُ [۲] فَلَمْ يَعُدَّ ذَلِكَ عَلَيْنَا شَيْئًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ مونږ ته اختيار راکړی وو رکه تاسو د دنيا او د دنيا د زينت او آسائش طلبګاري يئ ، نو راځي چې څه مال درکولو سره تاسو پريږدم، [۲] او که تاسو د الله ﷻ او د الله ﷻ د رسول او د دار آخرت طبګاری يئ ، نو ستاسو د پاره د الله ﷻ سره بې شميره اجر او عظيم ثواب دی، نو مونږ رد دنيا او د دنيا

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطلاق/باب من خیر نساءه (رقم-۵۲۶۲) ومسلم فی کتاب السلام/باب التعوذ من شیطان الوسوسة فی الصلاة(۶۸ - (۲۲۰۳) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/باب فی الخیار (رقم-۲۲۰۳) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی طلاق السنة (رقم-۱۱۷۶) والنسائی فی کتاب النکاح/باب: فی المخیرة تختار زوجها (رقم-۳۴۴۱) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ باب الرجل یخیر امرأته (رقم-۲۰۵۲) واحمد فی المسند: ۴۵/۶

د زينت او آسائش په مقابله کښې، الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ اختيار کړي، او حضور ﷺ دا اختيار زمونږ د پاره (د طلاق په اقسامو کښې څه قسم لکه يو طلاق يا دوه طلاق يا رجعي يا بائن) هيڅ هم اختيار نه کړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① خَيَّرَنَا: اختيار ئې راکړو مونږ ته. ② فَاخْتَرْنَا: نو اختيار کړو مونږ. ③ فَلَمْ يَعُدَّ: نو شمير ئې نه کړو.

تسهيلات: قوله: فَاخْتَرْنَا اللّٰهَ:

د حديث پس منظر: - حضرت عائشه ﷞ فرمائي چه نبي کريم مونږ ته دَ طلاق اختيار راکړي وو مونږ الله تعالى اودَ هغه رسول ﷺ اختيار کړو اوطلاق مو اختيار نه کړو صورت حال داسې دې چه که يوسړې خپلې ښځې ته داسې اووائې چه ته خپل نفس اختيار کړه يا ما اختيار کړه. اوس که چرې ښځې خپل خان اختيار نه کړو بلکه خاوند ئې اختيار کړو نو په دې صورت کښې به هيڅ طلاق نه واقع کيږي ځکه چه ښځې خپل حق او اختيار استعمال نه کړو. نودَ جمهورو په نيز هيڅ نشته او حضرت على ﷛ اوحضرت زيد بن ثابت ﷛ طرف نه منسوب دى چه هغوى صرف دَ اختيار ورکولو سره دَ طلاق رجعي يا بائن واقع کيدو قائل وو. حضرت عائشه ﷞ کيدې شي هم ددې حضراتو دَ خيال طرف ته اشاره فرمائيلې ده چه صرف اختيار ورکولو سره هيڅ نه کيږي.

د لفظ اختارى په حکم کښې مذاهب: -

① که چرې ښځې خپل خان او طلاق اختيار کړو نو طلاق به واقع شي. البته دَ امام شافعي ﷫ او امام احمد ﷫ په نيز به طلاق رجعي واقع شي

② امام ابوحنيفه ﷫ په نيزبه طلاق بائن واقع کيږي

③ دَ امام مالک ﷫ په نيزبه درې طلاق پريوځي

[۳۳۷۷] څه څيز په ځان حرامولو سره کفاره لازميږي

۳۲۷۷ - [۴] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ② فِي الْحَرَامِ يُكَفِّرُ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت ابن عباس ﷠ نه روايت دى، هغه اوويل ② چې (څه شي) حرام کولو باندې به کفاره ورکوي، او په دې سلسله کښې ستاسو د پاره د رسول الله ﷺ پيروي بهتره ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يُكَفِّرُ: کفاره به ورکولې شي

۱) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب {يا ايها النبي لم تحرم ما احل الله لک تبتغی مرضاة ازواجک والله غفور رحيم} (رقم-۴۹۱۱) ومسلم فی کتاب الطلاق/باب وجوب الكفارة على من حرم امراته. ولم ينو الطلاق (رقم-۱۸ - (۱۴۷۳) وابن ماجه فی کتاب النكاح/باب الحرام (رقم-۲۰۷۳)

تسهيلات:

قوله: قَالَ: فِي الْحَرَامِ يُكَفِّرُ:

يو څيز په ځان باندې د حرامولو تفصيل: -يعنې که يوسړې څه څيز په خپل ځان باندې حرام کړی نوهغه څيز خو حلال دې او حلال به پاتې وی البته حرام کونکې به دَ قسم کفاره هغه وخت اداکوی کله چه هغه دغه څيز استعمال کړو که هغه څيز فی نفسه حلال وی اوکه حرام وی مثلاً چا دَ قسم په نيت سره دا اووئيل چه شراب په ما باندې حرام دی اودَهغه نيت دَخبر ورکولونه وو بلکه قسم ئې کړې وو نوکه اوس هغه شراب اوڅکل نودَ قسم کفاره به لازم وی سره دَدې چه شراب څکل حرام دی. که چرې چا خپلې ښځې ته اووئيل چه ته په ما باندې حرامه ئې نودابه ايلاء شی دکوم تفصيل چه دَ ايلاء په ابواب کښې دې اوکه چا اووئيل چه په ما باندې دَ الله تعالی حلال کړې شوی ټول څيزونه حرام دی. نو په مظاهرحق کښې ليکلی دی چه فتویٰ هم دغه ده چه داسې وئيلوسره دَ هغه ښ: څه طلاق واقع کيږی سره دَدې چه هغه دَ طلاق نيت نه وی کړې. دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هم دغه مسلك دې اودَ ائمه احناف هم دغه مسلك دې. په آيت کښې هغه واقعه طرف ته اشاره ده چه نبی کريم په خپل ځان باندې شات حرام کړې وو بيا نبی کريم قسم ماتولوسره دَ قسم کفاره اداکړه راتلونکی حديث کښې په تفصيل سره دغه واقعه راځی.

[۲۳۷۸] دَشاتو څکلو واقعه

۳۲۷۸—[۵] ()[۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَشَرِبَ عِنْدَهَا عَسَلًا [۲] فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَنَّ أَيَّتَنَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] فَلْتَقُلْ إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ؟ [۴] فَدَخَلَ عَلَى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لَهُ ذَلِكَ فَقَالَ:

توجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم به (خپلې يوې بي بي) د زينب بنت حجش رضي الله عنها سره ايساريدلو. او هلته به يې عسل (شهد) څکل (يوه ورځ) [۲] ما او حفصې رضي الله عنها په خپلو کښې دا اوويل که نبی کريم صلى الله عليه وسلم په مونږ کښې ، هري يوې ته تشريف راوړو. [۳] نو هغه دې حضور صلى الله عليه وسلم ته دا اووائي، چې ستا صلى الله عليه وسلم د خلې نه د مغافيرو بوی راځي. آيا تا صلى الله عليه وسلم مغافير خوړلي دي؟ [۴] هر کله چې په هغوئ دواړو کښې يوې (يعني بي بي عائشې رضي الله عنها يا بي بي حفصې رضي الله عنها) ته يې تشريف راوړو، نو هغې دغه شان وويل.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب {يا أيها النبی لم تحرم ما أحل الله لک تبتغی مرضاة أزواجک والله غفور رحيم} (رقم-۴۹۱۲) ومسلم فی کتاب الطلاق/باب وجوب الکفارة علی من حرم امرأته. ولم ينو الطلاق (رقم-۲۰ - (۱۴۷۴) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأشربة/باب فی شراب العسل (رقم-۳۷۱۴) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: تأويل هذه الآية علی وجه آخر (رقم-۳۴۲۱)

۱ لَا بَأْسَ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذٰلِكِ أَحَدًا، ۲ يَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِهِ فَنَزَلَتْ ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ﴾ [التحریم: ۱] الْآيَةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضور ﷺ ورته وفرمایل چې هیڅ خبره نشته، ما د زینب بنت جحش رضی الله عنها سره عسل (شهد) څکلي دي، اوس به زه هیڅ کله عسل (شهد) نه څکم. ما قسم آخستلو دی. لیکن ته چاته دا خبره مه کوه (چې په دي سره د زینب رضی الله عنها دل شکني ونشي، چې اوس به زه د هغي سره عسل (شهد) نه څکم) او د دې نه (یعني عسل (شهد) په خان د حرامولو نه ۲ د حضور ﷺ مقصد د خپلو بیبیانو خوشحالول وو، په دي خبره دا آیت نازل شو يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ، الآية (یعني اې نبي ته محض د خپلو بیبیانو د خوشحالولو د پاره په خپل خان هغه څیز ولي حراموی کوم چې الله جل جلاله ستا د پاره حلال کړي دي. بخاري مسلم

حل اللغات: - ۱ فَتَوَاصَيْتُ: وصیت، مشوره اوکړه، ۲ مَغَافِيرَ: دا دَمغفور جمع ده دَ لاشوړه وغیره څه وني دَ میوي نوم دې چه دَ ګوند په شان وی دَدې بوئی خراب وی. ۳ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ: زه به دا دوباره نه کوم. بیا به شهد نه څکم.

تسهیلات:

قوله: فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ

د یوې بی بی خلاف د دوه بیبیانو خپلو کښې منصوبه جوړول: -نبی کریم ﷺ به چونکه فرښتوسره خبرې کولې په دې وجه به ئی دَ خلې مبارکې دَ بوئی ډیر خیال ساتلو دَ ازواج مطهرات نه حضرت زینب بنت جحش کره دَمازیګر په وخت به نبی کریم ﷺ تشریف اوړلو حضرت زینب رضی الله عنها به په نبی کریم ﷺ باندې شات څکل دَ نبی کریم ﷺ شات ډیر خوښ وو په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې دا فراق اودَ حضرت زینب رضی الله عنها کره تردیره وخته پورې کیناستل ګران تیریدل نو حضرت حفصه رضی الله عنها سره ئی مشوره اوکړه او یوه منصوبه ئی تیاره کړه چه مونږ دواړه به وایو ستاسو دَخلې نه دَ مغافیر بوئی راځی نودواړو داسې اوکړه نبی کریم ﷺ اووئیل چه ما خو مغافیر نه دی خوړلې البته شات مې څکلی دی. هغوی ونیل چه اوکیدې شی چه دَ شاتو مچنی دَ دغه میوې نه رس راښکلې وی اوراوړلوسره ئی په شاتوکښې اچولې وی دَ کوم اثر چه په شاتوکښې راغلی وی داهم داسې اوړده مفروضه وه بهرحال حضوراکرم ﷺ شات په خان باندې حرام کړل الله تعالی ورته دَ قسم دَ کفارې اداکولوحکم ورکړو دَ حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت حفصه رضی الله عنها دا منصوبه چونکه کورنئی حساس معامله وه په دې وجه الله تعالی په ډیرو کلکوالفاظوسره تنبیه اوفرمائیله که چرې تاسو توبه اونه کړه نویادساتئی الله تعالی خپل نبی سره دې بلکه جبرائیل آمین هم

نبی سره اوتول نیکان صالحان مسلمانان هم نبی سره دی خیال کونی دَ نبی دَپاره هرقسم بیبیانې موجود دی دَښځوهیڅ کمې نه دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۲۷۹] بلا ضرورته د طلاق غوښتونکي ښځې په حق کښې وعید

۳۲۷۹—[۲] (۱) ① عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ ③ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ثوبان ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②کومه ښځه چې د خپل خاوندنه بي ضرورته طلاق غواړي، ③په هغې به د جنت بوی حرام وي (یعني هر کله چې په میدان حشر کښې د الله تعالیٰ ﷻ نیک او خواږه بنده ګانو ته د جنت خوشبویي رسیږي، نودا ښځه به ددې خوشبونه محرومه وي) احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي

حل اللغات:- ①غَيْرِ مَا بَأْسٍ: بې ضرورته،

تسهيلات: قوله: فِي غَيْرِ مَا بَأْسٍ:

دبأس مفهوم:- حديث الباب كښې بأس نه مراد سختي ده. يعنى بغير د څه شدت او ضرورت نه د طلاق مطالبه كول ، په دې جمله كښې ما زائده دې

قوله: فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ:

د خوشبوئي نه محروم کیدو په مفهوم کښې درې اقوال :-

① د جنت بوئې نه محروم کیدو وعید او زورنې په طور دې

② مطلب دا چې د طلاق مطالبه کوونکې به د جنت خوشبو هم بوئی نه کړې دا مطلب زیاد راجح ده

③ یا لکه څنګه چې نیکو عملونو والا به د خوشبو نه فائده اخلی داشان به بغیر د څه ضرورت نه د طلاق مطالبه کوونکې ددې خوشبو نه فائده نشي اخستې لکه څنګه چې د چا زکام وی هغه که په پوزه باندې ګل کیږدی نو بیا هم هغه ته فائده نه رسی .

[۲۲۸۰] طلاق څه ښه څیز نه دې

۳۲۸۰—[۷] (۲) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «أَبْغَضُ الْحَلَالِ إِلَى اللهِ الطَّلَاقُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الطلاق/باب فی الخلع (رقم-۲۲۲۶) والترمذی فی كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المختلعات (رقم-۱۱۸۷) وابن ما جه فی كتاب النكاح/ كراهية الخلع للمرأة (رقم-۲۰۵۵) واحمد فی المسند: ۲۷۷/۵

۲) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الطلاق/باب فی كراهية الطلاق (رقم-۲۱۷۸) وابن ماجه فی كتاب النكاح/ الحامل المتوفی عنها زوجها إذا وضعت حلت للأزواج (رقم-۲۰۲۸)

ترجمه: [۱] د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چې نبی کريم ﷺ وفرمايل [۲] په مباح څيزونو کښې د الله تعالی په نزد مبغوض ترين شی (يعني د ټولو نه خراب) طلاق دی. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: أَبْغَضُ الْحَلَالِ:

طلاق ته د ابغض الحلال وئيلو وجوهات: - ① چه يو څيز حلال دې نو هغه څنګه مبغوض ګرځولې شی څکه چه حلال خوجائزوی؟ نو د دې دا ده چه دلته دَ حلال لفظ دَ حرام په مقابله کښې وئيلې شوې دې چه طلاق حرام نه دې حلال دې. اوس دَ حلال ډيرې درجې دی که دَ واجب درجه وی که دَ سنت که دَ مباح درجه وی او که خلاف اولی يا دَ ناخوښه مکروه درجه وی دا ټول مراحل دَ حلال لاندې راځی لهذا دلته فی نفسه دَ حلال کيدو باوجود دا فعل مبغوض ګرځولې شوې دې.

② سره دَدې چه طلاق ورکول حلال او مباح دی ليکن دَالله تعالی په نيز مبغوض او مکروه دې او ډير داسې څيزونه او مثالونه موجود دی چه يو څيز مکروه اوناخوښه ګڼلې شی ليکن هغه مباح او حلال وی مثلاً فرض مونځ دَ شرعی عذر نه بغير په کور کښې کول يا په غصب شوې زمکه باندې مونځ کول دا سره دَدې چه مباح دی او دَفرض مونځ نه غاړه خلاصيږی خو ولې سره دَدې مکروه او ناخوښه دې.

[۲۲۸۱] دَ نکاح نه وړاندې دَ طلاق مسئله

۳۲۰-[۸] (۱) [۱] عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: «لَا طَلَاقَ قَبْلَ نِكَاحٍ، وَلَا عَتَاقَ إِلَّا بَعْدَ مِلْكٍ، وَلَا وِصَالَ فِي صِيَامٍ، [۳] وَلَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ، وَلَا رَضَاعَ بَعْدَ فِطَامٍ، وَلَا صَمْتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي رضي الله عنه د نبی کريم ﷺ نه نقل کوي، [۲] چې حضور وفرمايل د نکاح نه مخکې طلاق نه کيږی (د مالک کيدو نه مخکې غلام آزاد کولی نسی، او د وصال روژې (يعني د شپې افطار کولو بغير مسلسل روژې نيول) جائز نه دی، دا يواځې د حضور ﷺ په خصائصو کښې وو. او يواځې د حضور ﷺ د پاره جائز وو) [۳] د بالغ کيدو نه وروسته څوک يتيم نه وي (يعني د چا چې مور پلار نه وو. هغه چې بالغ شي، نو هغه ته به يتيم نشي ويل کيدی) د پينو څکلو د مودې نه وروسته يې څکل په رضاعت کښې شامل نه دي (يعني د پينو څکلو موده دوه يا دوه نيم کاله ده). او د پينو څکلو په سبب چې حرمتِ نکاح وي. هغه د دې مودې نه وروسته د پينو څکلو سره نه ثابتيږي. او

۱) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۲۳۵۰

توله ورخ چپ پاتې کيدل جائز نه دی (يعني د دې هيڅ ثواب نشته) شرح السنه

حل اللغات - ① وِصَالٌ: پيوسته د شپې افطار کولو نه بغير مسلسل روژې نيولو ته صوموصال وائي ② وَلَايُتْمَ: يتيم والې نشته ③ لِطَامِ: تې نه پريکول. په ماشوم باندې د مور خپل پې: بندول.
④ صَمْتُ: چپوالې، خاموش پاتې کيدل

تسهيلات:

توله: لَاطَلَاقَ قَبْلَ نِكَاحٍ:

د طلاق دوه قسمونه: - ① **تنجيزی:** - طلاق تنجيری دَدې مطلب دادې چه طلاق فوری توګه باندې دَ څه شرط نه بغير واقع کړی.

مثال: - دَ يوې ښځې سره دَنکاح کولونه وړاندې تنجيزی طلاق دَ هيچا په نيزجائزنه دې مثلاً يوسړې يوپردئې ښځې ته وائي هغه په ما باندې طلاقه ده داکلام په اتفاق سره لغو دې.
② طلاق بالشرط دې چه يوشرط سره مشروط اومعلق وی

د معلق بالشرط طلاق دوه قسمونه: - ① په يوقسم کښې اضافت اونسبت دَ نکاح دَخپل ملك طرف ته نه وی بلکه غير ملک طرف ته وی. مثلاً يوسړې وائي که چرې فلانکې ښځې نکاح اوکړه نوهغه طلاقه دې طلاقه وی. نودا طلاق لغو دې.
که چرې روستوئي نکاح اوکړه نوطلاق به نه واقع کيږی خکه چې طلا ق په خپل محل کښې نه دې واقع شوې.
② په دې کښې سرې دَ نکاح او طلاق اضافت خپل ملك طرف ته کوی او وائي چه (ان نكحتك فأنت طالق اوان نكحتُ فلانة فهی طالق) په دې صورت کښې دَفقهاء کرامو اختلاف دې

د طلاق قبل النكاح په حکم کښې مذاهب: -

① دَ جمهورو په نيزداهم لغو دې خکه چه داقبل النکاح طلاق دې نومحل طلاق نشته نو دا وقوع طلاق هم نه دې
② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي که په دې صورت کښې محل صالح نه دې نوتيك ده چه طلاق نه دې ليکن څنګه چه محل صالح اوشی نوطلاق به کيږی

د اول فريق دليل: - زيربحث حديث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه د لاطلاق قبل نکاح واضح الفاظ موجوددی دَامام مالك رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله روايات اګرچه مختلف دی ليکن دَهغوی يوروايت امام شافعی رحمه الله سره دې لهذا جمهور په يوطرف دی.

د اول فريق د دليل جواب: - دا روايت په معلق بالشرط في ملك الغير باندې محمول دې چه دَ ټولو په نيزنه واقع کيږی

د دويم فريق دليل: - ① دَموطاء امام مالك روايت د دوی مستدل دې امام مالك رحمه الله

فرمائي مالك بلغه ان عمر بن الخطاب وعبدالله بن عمرو عبدالله بن مسعود وسالم بن عبدالله والقاسم بن محمد وابن شهاب وسليمان بن يسار كانوا يقولون اذا حلف الرجل بطلاق المرأة قبل ان ينكحها ثم اثم (اي حنث) ان ذالك لازم له اذا نكحها (ص۵۲۸)

④ هم په دې موطا امام مالك كښې دی چه يوسړی قاسم بن محمد اوسليمان بن يسار نه دَمسئلې تپوس اوكړو چه يو سړی دَ يوې ښځې سره دَ نكاح نه وړاندې ظهار اوكړو نودَدې څه حكم دې؟ نودواړو جواب وركړوكه دغه سړی دې ښځې سره نكاح اوكړه نوتركومې پورې چه دَ ظهار كفاره نه اداكوی دغه ښځې ته به نه نيزدې كيږی. (ص۵۲۸)

⑤ دغه شان په ترمذی كښې هم ص ۲۲۳ باندې يوقول دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ احنافو دليل دې دَدې ټولو دلائلونه معلومه شوه چه دَ ائمه احناف مسلك مبرهن او مدلل بدلائل دې

نوټ:- هم دغه اختلاف دَ جمهورو اواحنافو لفظ (كلما) سره طلاق وركولو كښې هم دې جمهورودَ طلاق واقع كيدو قائل نه دی اواحناف دا منی او هم دغه شان مسئله دَ اعتاق هم ده

قوله: وَلَا وِصَالَ:

د صوم الوصال تعريف:- وصال دَهغه پرله پسې روژو نوم دې په كوم كښې چه روژې ماتې نه وی داسې روژې دَ عام امت دَپاره منع دی. اودَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په خصوصيات كښې وو هغوی دَپاره منع نه وو.

قوله: وَلَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ:

د يتيم تعريف: يعنی دَ يتيم مسائل اوفضائل صرف دَ قبل البلوغ مودې پورې محدود دی كله چه هلك بالغ شو نواوس هغه ته يتيم نه شی وئيلې كنی دَ دنيا ټول خلق به دَ يتيم وئيلو مستحق اوګرځی.

قوله: وَلَا صَمْتَ يَوْمٍ:

د شپې د ورځې عدم صحت:- يعنی دَ چپ پاتې كيدو روژه نشته دې پخوانو امتونو كښې به دَ چپ پاتې كيدو روژه وه لكه چه حضرت مريم عليها السلام وئيلی دی ﴿ إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴾ مريم ۲۶. هسې په خاموش اوسيدو كښې فائده ده ليكن دَ خاموشی روژه سائل دادَې امت په عبادتونو كښې نه ده.

[۲۲۸۲] غیرمنکوحې ته د طلاق ورکولو عدم صحت

۳۲۸۲—[۹] (۱) ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «لَا نَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ، ۳ وَلَا عِتْقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ، وَلَا طَلَاقَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ "وَلَا بَيْعَ إِلَّا فِيمَا يَمْلِكُ".

ترجمه: ۱ و حضرت عمرو ابن شعیب رحمه الله د خپل پلار (شعیب) نه او شعیب د خپل نیکه (حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله عنه) نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د ابن آدم نذر په هغه څیز کښې نه صحیح کیږی ، چې د هغه خپله مالک نه دی، او هغه څیز یعنی وینځه او غلام آزادول هم صحیح نه دی، چې د هغه مالک نه دی. ۳ او هغه ښځې ته طلاق ورکول هم درست نه دی، چې دې د هغه مالک نه دی. (ترمذي ابوداؤد)

او ابو داؤد په خپل راوایت کې دا الفاظ هم نقل کړی دی چې هغه څیز خرڅول هم صحیح نه دی چې د هغه د خرڅولو هغه (اصالةً یا وکالةً یا عاریةً) مالک نه دی

حل اللغات: - ① نَذْرَ: منت، منخته منل،

تسهیلات:

قوله: لَا نَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ

د غیرمملوک غلام آزادولو عدم صحت: - د ابن آدم نذر صحیح نه دي مطلب دادي چې یوکس اووائی چې دالله ﷻ درضا دپاره ددې غلام د آزادیدو نذر کوم . حالانکه د نذر منلو په وخت کښې هغه غلام ددهٔ په ملکیت کښې نه وی نودا نذر صحیح نه دې او که دې نه پس هغه ددې غلام مالك شو نو هغه بهٔ آزاد نه وی

[۲۲۸۳] دَ طلاق بتة مسئله

۳۲۸۳—[۱۰] (۲) ۱ «وَعَنْ رُكَانَةَ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ سُهَيْمَةَ الْبَتَّةَ، ۲ فَأُخْبِرَ بِذَلِكَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَالَ: وَاللهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً، ۳ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: وَاللهِ مَا أَرَدْتَ إِلَّا وَاحِدَةً»،

ترجمه: ۱ و د حضرت رکانه ابن عبد یزید په باره کښې روایت دی چې هغه خپلې ښځې

---

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/ باب فی الطلاق قبل النكاح (رقم-۲۱۹۰) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء لا طلاق قبل النكاح (رقم-۱۱۸۱) وابن ماجه فی کتاب النكاح/ لا طلاق قبل النكاح (رقم-۲۰۴۷)واحمد فی المسند: ۱۹۰/۲

۲) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/باب فی البتة (رقم -۲۲۰۶) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرجل یطلق امرأته البتة (رقم-۱۱۷۷) وابن ماجه فی کتاب النكاح/باب طلاق البتة (رقم-۲۰۵۱)

سُهیمه ﷺ ته طلاق بته (۱) ورکړي، ۲ او بیا د دې ذکر يې رسول الله ﷺ ته وکړي، او هغه اوویل چې قسم په خدای ما د یو طلاق نیت کړی وو، ۳ حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې (آیا واقعي) په خدای قسم، تا د یو طلاق نیت کړی وو؟

حل اللغات: - ① اَلْبَتَّةُ: قطع کول. پریکول.

> ۱ فَقَالَ رُكَانَةُ: وَاللهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً، فَرَدَّهَا إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ فَطَلَّقَهَا الثَّانِيَةَ فِي زَمَانِ عُمَرَ وَالثَّالِثَةَ فِي زَمَانِ عُثْمَانَ». ۳ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ إِلَّا أَنَّهُمْ لَمْ يَذْكُرُوا الثَّانِيَةَ وَالثَّالِثَةَ.

ترجمه: رکانه اوویل قسم په الله ما دیوه طلاق نه بغیر دبل څه نیت وو کړي نو رسول الله ﷺ د هغه ښځه هغه ته واپس ورکړه، ۲ بیا رکانه هغې ښځي ته دویم طلاق د حضرت عمر ﷺ په عهد خلافت کښې، او دریم طلاق د حضرت عثمان غني ﷺ په عهد خلافت کښې ورکړي، ۳ دا روایت ابوداؤد ترمذي، ابن ماجه او دارمي نقل کړی دی، لیکن ترمذي وابن ماجه او دارمي په خپل روایت کښې د دویم او دریم طلاق ذکر نه دی کړی

تسهیلات: **قوله**: اَلْبَتَّةُ:

د البتة لغوی معنی: - لفظ بته او البتة هم یوځیزدي چه دَ پرې کولواوقطع کولو په معنی کښې راځی.

دَ ښځې خاوند په مینځ کښې دَ نکاح علاقه پرې کولواوختمولو دَپاره خاوند دَدې لفظ استعمال کوی یعنی لفظ طلاق ته (بته یا البتة) سره مقید کوی دکوم مفهوم چه داشو داسې طلاق کوم چه دَ نکاح دَ رشتې تعلق بالکل ختمولوسره ښځه دَ نکاح نه قطعی توګه باندې اوباسی

طلاق سره د البتة لفظ په جمع کولو کښې د نیت په اعتبار کښې مذاهب: -

که یوسړی طلاق البتة سره مقید کړو

① نودَ امام مالك رحمه الله قول چه په دې لفظ سره درې طلاقه واقع کیږی ښځه به مغلظه شی دَ نیت اعتبارنشته دي

② جمهور فقهاء فرمائی دَدې لفظ دَ ا ستعمالونکی سړی دَنیت اعتبار دي

البتة سره په طلاق ورکولو کښې د طلاق په عدد کښې مذاهب: -

① بیا دَ شوافعو او احناف دَدې نیت په تفصیل کښې اختلاف پیداشوي دي امام شافعي رحمه الله فرمائی که یوسړې دَ یوطلاق رجعی نیت کوی نوبیاهم صحیح دې دَ دوو نیت هم صحیح دې اودَدریو نیت هم کولې شی په کوم سره چه به ښځه مغلظه شی.

(۱) طلاق بت دا دی چی حضرت رکانه ﷺ په دی الفاظو کی طلاق ورکړ. التعلیق الصبیح

② ائمه احناف فرمائي په دې لفظ سره طلاق رجعي نه بلکه يوطلاق بائن واقع کيږي. که د يوطلاق نيت ئې کړې اوکه د دريو طلاقو نيت ئې کړې وي نوهغه هم صحيح دې او د دوو نيت نه شي کيدې

د اول فريق دليل: اول فريق د زيربحث حديث څخه استدلال کوي چې رکانه رضي الله عنه د يوطلاق اراده کړې وه اوهغه رجعي وو لهذا صرف "راجعتها الى نكاحى" په الفاظوسره ئې بي بي په خپله نکاح کښې راواپس کړه.

داول فريق د دليل جواب: دا الفاظ کنائي دي اوکنائي الفاظو سره يوطلاق بائن واقع کيږي نوپه حديث کښې د "ردها" مطلب به دا شي چه حضورپاك په نوي نکاح سره د هغه بي بي د هغه طرف ته ورواپس کړه.

د دويم فريق دليل:- (البتة) لفظ مصدردې او د مصدراطلاق په دوو باندې نه شي کيدې څکه چه دوه عدد محض دې اومصدرپه قليل اوکثيرباندې خويادولې شي خو په عدد محض باندې نه. بهرحال په يوطلاق سره به ښځه بائن شي اوکه د دريو نيت ئې وي نو مغلظه به شي.

قوله: وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً:

په طلاق کنايه کښې د نيت د اعتبار صحت:- چونکه دا کنائي الفاظ دي په دې وجه د طلاق ورکونکي د نيت اعتبار کيږي. هم د دې د پاره نبي کريم بار بار د حضرت رکانه رضي الله عنه نه تپوس کولو چه د يواراده دې وه که د دريو. هغه قسم خوړې چه هم د يو اراده مې وه چونکه په دې الفاظوسره د عربو د عادت موافق د يوطلاق اراده معروف اومشهور وه لهذا هم په هغې باندې به عمل کيدلو.

قوله: فَرَدَّهَا:

د شوافعو په نيز د ردها مطلب:- امام شافعي رحمه الله فرمائي چونکه صرف رکانه رضي الله عنه د يوطلاق اراده کړې وه اوهغه رجعي وو لهذا صرف "راجعتها الى نكاحى" په الفاظوسره بي بي په خپله نکاح کښې راواپس کړه. د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزدې لفظ سره يو طلاق بائن واقع کيږي خوکه د يو يادوو طلاقو اراده اوکړې شوه يا هيڅ اراده ئې هم نه ده کړې اوکه د دريو اراده ئې اوکړه نودرې طلاقه به واقع کيږي. خلاصه دا چه دا الفاظ کنائي دي اوکنائي الفاظ سره يوطلاق بائن واقع کيږي. لهذا "ردها" مطلب به داشي چه نبي کريم ﷺ په نوې نکاح سره د هغه بي بي د هغه طرف ته ورواپس کړه.

[۲۳۸٤] د نکاح او طلاق الفاظ که په خندا کښې هم د خلې نه وزي نو د هغې حکم ثابتیږي

۳۲۸۴-[۱۱] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ «ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ: النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالرَّجْعَةُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ وفرمايل دري څيزونه داسې دي، چې د هغه قصد کول هم قصد دی، او په خندا ومذاق کښې د خولې نه ايستل هم قصد دی ۳ ① نکاح ② طلاق ③ رجعت، (ترمذي ابوداؤد) ترمذي ﷺ ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دی

حل اللغات: - ① جِدُّهُنَّ جِدٌّ: دهغه قصد کول هم قصد وی، ② هَزْلُهُنَّ جِدٌّ: دهغه مذاق کول هم قصد دی، ③ الرَّجْعَةُ: دطلاق څخه پس ښځې ته رجوع کولو ته رجعة وائی يعنی چې هغې سره تعلق اوساتی

تسهيلات: قوله: ثَلَاثٌ:

د هزل او جد د برابرۍ صورتونه: - باقی حديث پاك کښې د دريو څيزونو (نکاح ، طلاق او رجوع) باره کښې فرمائيلي شوی دی چې په دې کښې قصد او هزل برابر دي د احنافو په نزد ددې درې وارو نه علاوه نور هم ډيرو مسائلو کښې د قصد او هزل حکم يودې حديث کښې ددې درې وارو تخصيص ددې د اهميت په وجه شوې دې

قوله: جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ:

د جد لغوی معنی - (ما يراد به ما وضع له أو ما صلح له اللفظ مجازا) يو لفظ اووئيلې شی او د وئيلو په وخت ددې لفظ نه واقع کيدونکې حکم مقصود وی يا د مجازی معنی مراد اخستو صلاحيت نه وی

د هزل لغوی معنی - (الهزل ان يراد بالشئ غير ما وضع له بغير مناسبة بينها) ددې مطلب دادې چې انسان کوم لفظ اووائی هغه په واقع کښې مقصود نه وی

قوله: جِدٌّ: النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالرَّجْعَةُ:

د هزل په حالت کښې د طلاق په واقع کيدو کښې مذاهب: -

① دامام احمد ﷫ او امام مالك ﷫ په نزد د هزل طلاق نه واقع کيږی. ددوئ په نزد د وقوع طلاق دپاره د طلاق لفظ وئيلو په وخت کښې د طلاق نيت ضروری دې

② د امام ابوحنيفه ﷫ او امام شافعی ﷫ په نزد طلاق که د قصد په طور وی او که د

١) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/ باب فی الطلاق علی الهزل (رقم-٢١٩٤) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الجد والهزل فی الطلاق (رقم-١١٨٤) وابن ماجه فی کتاب النكاح/ من طلق أو نكح أو راجع لاعبا (رقم-٢٠٣٩)

هزل دواړو صورتونو کښې به واقع کیږی

دوول فریق دلیل:- دقرآن پاك آیت مبارك کښې دی چې «وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ الخ» وجه د استدلال داده چې دې ځائې قرآن کریم د وقوعِ طلاق دپاره عزم طلاق شرط ګرځولي دې او د هزل په صورت کښې د طلاق عزم نشته دې

دوول فریق د دلیل جواب:- ددې آیت مبارك دې زیر بحث مسئلې سره هیڅ تعلق نشته دې ځکه چې زیر بحث مسئله د طلاق ده او دا آیت د ایلاء باره کښې دې او په ایلاء کښې خو ټول حضرات د عزم طلاق اعتبار کوی

د دریم فریق دلیل:- همدا زیربحث حدیث د دوی مستدل چې دې «ثلاث جدهن جد وهزلهن جد»

[۳۲۸۵] په زبردستي ورکیدونکي طلاق واقع کیږی که نه؟

۳۲۸۵-[۱۲] () [۱]وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲]«لَا طَلَاقَ وَلَا عَتَاقَ فِي إِغْلَاقٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، قِيلَ: مَعْنَى الْإِغْلَاقِ الْإِكْرَاهُ.

ترجمه: [۱]او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، [۲]چې د اکراه په حالت کې خو نه طلاق کیږی ، او نه آزادي، (ابوداؤد ، ابن ماجه) وئیل شوي دي چې د اغلاق معنی د اکراه ده.

حل اللغات:- ① اَلْإِغْلَاقُ: مصدر دې بندول ② اَلْإِكْرَاهُ مصدر دې زبردستی کول

تسهیلات:

قوله: لَا طَلَاقَ وَلَا عَتَاقَ فِي إِغْلَاقٍ:

د اغلاق معانی:- ① اغلاق دَ غلق نه دې دَ اکراه او زبردستئی په معنی کښې دې

② ددې دویمه معنی بعضې علماؤ غصه اوغضب هم کړې ده ددې مطلب به داشی چه بدحواسئی او مدهوشئی په حالت کښې چه کله غصه دومره زیاته شوه چه دَ سړی عقل په ځائی پاتې نه شی اوپه دغه حالت کښې ورډوب شی نودَدغه حالت طلاق اوعتاق معتبرنه دې ځکه چه دَ هغه هوش په ځائی پاتې نه شو ③ بعضو دَ اغلاق معنی لیونتوب خودلې دې یعنی دَ مجنون اوپاګل دَ طلاق او عتاق اعتبارنشته دې بهرحال صاحب کتاب دَ اغلاق معنی اکراه سره کړې ده

د مکره د طلاق په واقع کیدو کښې مذاهب:-

[۱] اخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق/ باب في الطلاق على غلط (رقم-۲۱۹۳) وابن ماجه فى كتاب النكاح/ طلاق المكره والناسي (رقم-۲۰۴۶) واحمد فى المسند: ۲۷۶/۶

① دَ دريوارو ائمـه حضراتو پـه نيز مكره چې پـه چا بانـدې زور شـوی وی طـلاق نـه واقـع كيږی ② دَ ائمه احناف او ډيرو زياتو صحابه كرامـو او ډيرو زيـاتو تـابعينو پـه نيز دَ مكره طلاق واقع كيږی او صحيح هم دې.

داول فريق دلائل:-

① دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دا مذكوره حديث د اول فريق مستدل دې چرتـه چـه اغلاق دَ اكراه په معنى كښې دې لهذا دَاغلاق په صورت كښې به طلاق نه واقع كيږی

داول فريق د اول دليل نه جواب:- دَاغـلاق ډيـرې معنـې دی. بعـضـو دَ تنگنـی معنى اخستې ده بعضې دَ غصې معنى مراد اخستې ده بعضې دَ اكراه معنى مـراد اخسـتې ده او بعضـو درې طلاقونه په يوځائی دَوركولو مطلب اخستې دې بعضې دَ جنون معنى اخستې ده كله چه په دې لفظ كښې دومره احتمالات دی نو دا صرف پـه اكراه بانـدې حمـل كـولې نـه شی اونه دالفظ دَدې دَپاره متعين دې نودا استدلال صحيح نه دې. دَ احنافو علمـاء فرمـائی چه دَدې (مجمل) لفظ نـه مونږ دَ اكراه پـه ځـائی دَتنگنـی معنـی اخلوځكـه چـه پـه يوځـائی باندې دَ درې طلاقه وركولوسره تنگی پيدا كيږی. مطلب دا شوچه كلـه دَ دريوطلاقـو جدا جدا وركولو گنجائش شته نويوسرې په يوځائی باندې دريو طلاقو وركولوسره په خپل ځان باندې تنگی ولې كولی لهذا (لاطلاق في الاغلاق) مطلب داشو چه پـه يوځـائی درې طلاقـه مـه وركونی په خپل ځان باندې تنگی مه كونی. دغه شان كه مثلاً يوغريب سړې دې دَهغـه هـم يوغلام دې هغه دا آزاده وی نوشريعت وائی چه په خپل ځان باندې تنگی مه كونی اوس كه چا تنگی اوكړه او په يوځائی طلاقونه وركړل نو طلاق خو بـه واقـع كيږی اودَ عتـق حكـم بـه نافذشی

داول فريق دويم دليل:-

② مشهور حديث د دوی مستدل دې چه (رفع عن امتي الخطاء والنسيان وما استكرهوا عليه)

د اول فريق د دويم دليل جواب:- د (رفع عن امتي) كښې دَ رفـع نـه مـراد دَ آخـرت گنـاه او رانيول دی چه دَ غلطئی په وجه يا په هيره سره يا په اكراه سره كوم كـار اوكـړې شـی هغـه دَ اخـرت پـه اعتبارسـره معـاف دې نـه دا چـه پـه دنيا كښې هغـه كـارمعـاف دې ځكـه چـه پـه دنياكښې په قتل خطاء باندې ديت راځی حالانكه هغه هم دَ خطا يوعمـل دې. معلومـه شـوه دَ دنياحكم معاف دې

داول فريق دريم دليل:- ③ دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه هغه فيصله مستدل ده چه يوسـړی بـل سـړې پـه طـلاق وركولوبانـدې مجبـوركړو هغـه طـلاق وركـړو نوحـضرت ابـن عمـر رضي الله عنه اوفرمائيل (ليس هذا بطلاق إرجع إلى أهلك)

د اول فریق د هریم دلیل جوابونه:-

① دَ مرفوع احادیثو په موجودګئی کښې دَدې آثارو او واقعاتو اعتبار نشته

② د دغه حضراتو اودَهغوی په آثاروکښې هم اتفاق نشته دې بلکه په دوی کښې هم اختلاف دې لهذا په مرفوع احادیثو به عمل کیږی

د هريم فريق دلائل:- ① دَ دې حدیث نه وراندې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی (ثلاث جدهن جدوهزلهن جد النكاح والطلاق والرجعة) (ترمذی وابوداؤد) دَ استدلال طرز داسې دې چه په توقوکښې یوسرې طلاق ورکوی په هغې کښې دَهغه مرضی شامل نه وی نو (فقدان رضا) نه باوجود واقع شو دغه شان دَاکراه په صورت کښې هم فقدان رضا ده نودلته هم طلاق واقع کیدل پکاردی.

② دَ حضرت صفوان طائی رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې چه یوې ښځې خپل خاوند سره بغض لرلو یوه ورځ چه هغې خاوند اوده اولیدلو نوهغې چاړه راواخسته اودَ خاوند په سینه کیناسته اوبیائی خاوندته اووئیل چه ماته درې طلاقه راکړه ګنی زه به دې حلال کړم خاوندورته دَ الله تعالی واسطه ورکړه مګر ښځې هیڅ خبره وانوریده هغه درې طلاقه ورکړل او بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم له راغلواودَدغه حالت دَ طلاق دَمسئلې پوښتنه ئې اوکړه نبی کریم اوفرمائیل (لاقیلولة فی الطلاق) یعنی په طلاق مغلظه کښې رجوع نشته دې (زجاجة المصابیح ج۲ص ۲۷٦)

③ (عن علی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم رفع القلم عن ثلاثة عن النائم حتی یستیقظ وعن الصبی حتی یبلغ وعن المعتوه حتی یعقل) (ترمذی ابوداؤد) په دې حدیث کښې معتوه مغلوب الحال مرفوع القلم ګرځولې دې اودَ نابالغ ماشوم او اوده شوی سړی فعل ناقابل اعتبار ګرځولې شوې دې دا واضحه اشاره ده چه دَدوی نه علاوه کوم عاقل بالغ او په هوش کښې خلق دی دَدوی افعال معتبردی هم په دې کښې طلاق مکره هم دې کوم چه دَ صحیح اوَنافذ په حکم کښې دې

④ دَحضرت عمر رضی الله عنه هغه فیصله د دوی مستدل دې چه په یوسړی نه دَهغه ښځې په جبرباندې طلاق حاصل کړو کله چه مقدمه حضرت عمر رضی الله عنه له راغله نوهغوی طلاق نافذ اوګرځولو او حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله هم دَمکره طلاق نافذ ګرځولې دې (عمدة القاری)

د اکراه دَاعتبار لس صورتونه:- دَ علماء احناف نه ملاعلی قاری رحمه الله په حواله دَ فتح القدیر لس داسې احکام راجمع کړی دی په کوم کښې چه دَ اکراه په صورت کښې هم حکم نافذ کیږی.

[۲۲۸٦] دَ ليونى طلاق نه واقع كيږي

۳۲۸۹ – [۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ [۲] إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ وَالْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ» [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعَطَاءُ بْنُ عَجْلَانَ الرَّاوِي ضَعِيفٌ ذَاهِبُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل هر طلاق واقع كيږي ، [۲] خو د بې عقل او مغلوب العقل طلاق نه واقع كيږي ، [۳] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړي دي، او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی، او د دې يو راوي عطا بن عجلان په روايت حديث كښې ، ضعيف شميرل كيږي، ځكه چې د هغه په حافظه كښې به حديث محفوظ نه پاتې كيدي

حل اللغات - ① اَلْمَعْتُوه: كم عقل او مدهوش.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ:

د معتوه په تفسير كښې اقوال: - ① معتوه عموماً داسې سړي وی چه په يو وخت كښې بې عقل پاتې كيږی او دويم وخت كښې بيا دَ هغه عقل ځپل ځائی له راځی

② علامه ابن همام رحمه الله فرمائی چه معتوه هغه سړې دې چه ناقص العقل وی كم پوهيدونكې وی دَ هغه كلام بې ربط وی ليكن خلق وهی نه او نه كنځل كوی او دَ ده په مقابله كښې مجنون دې. مجنون هغه وی چه كنځلې كوی او خلق په كانړو باندې اولی.

③ زين العرب اوفرمائيل چه دَ معتوه په مفهوم كښې مجنون او په خوب كښې اوده سړې، مدهوش او داسې بيمار دَ چا عقل چه ختم شوې وی ټول په كښې داخل دی.

د جملې په تركيب كښې دوه احتماله او ده هر يو حكم: - ① اوس كه دَ معتوه په مفهوم كښې مجنون او پاګل داخل اومنلې شی نو "والمغلوب على عقله" جمله دَ ‹معتوه› دَپاره به عطف تفسيرجوړشی او مطلب به داشی چه معتوه يعنی دَ مجنون او پاګل طلاق نه واقع كيږی دَ عطف تفسير تائيد دَ دې روايت نه هم كيږی په كوم كښې چه دا جمله بغير دَ واؤ راغلې ده

② او كه چرې دا جمله ماقبل دَپاره عطف تفسير نه وی نو بيا دې جملې نه مراد به سكران اخستې شی او دَ هغه دَ طلاق حكم زيربحث راځی او مجنون به په معتوه باندې قياس كولې شی چه كله دَ معتوه دَ طلاق اعتبار نشته نو دَ مجنون په طريقه اولی نشته.

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی طلاق المعتوه (رقم-۱۱۹۱)

د سکران د طلاق په واقع کیدو کښې مذاهب:-

① دَ امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله دویم قول دا دي چه دَ سکران طلاق نه واقع کیږی او هم دغه رائې دَ علامه کرخي رحمه الله او امام طحاوي رحمه الله او اسحاق بن راهویه رحمه الله هم ده

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله او دَ اکثر سلف صالحین په نیز دَ (سکران) طلاق واقع کیږی او دي سره دَدي چه زائل العقل دي

داول فریق دلیل:- دوقوع طلاق او عتاق دَپاره دَعقل ضرورت دي او سکران زائل العقل دي لهذا دَده طلاق نافذ نه دي.

د دویم فریق دلیل:- نشه کول یوه گناه ده نو دَ معصیت او نشي کولو دَ جرم په وجه زجراً دَ هغه طلاق نافذ گرځولي شوي دي او هم دغه دَ امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله یو قول هم دي

نوټ:- دَ شوافعو او حنابله یو قول جمهورو سره دي په دي وجه دَ سکران مسئله اتفاقي اجماعي کیدل پکاردی.

[۳۲۸۷] دري کسان مرفوع القلم دی

۳۲۸۷-[۱۴] (۱) ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ ۳ عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتَّى يَبْلُغَ، وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتَّى يَعْقِلَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت علي کرم الله وجهه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ دري سري مرفوع القلم دی (یعني د دې سرو نامه اعمال نه لیکل کیږی، ځکه چې د هغوی د قول او فعل هیڅ اعتبار نشته او هغه د مواخذي نه کولاوډي ۳ ① یو اوده د څو پورې چې بیداره نشي ② دویم هلک د څو پورې چې بالغ نشي ③ او دریم بې عقل د څو پورې چې د هغه عقل صحیح نشي. (ترمذي ابوداؤد)

حل اللغات:- ① رُفِعَ الْقَلَمُ: مرفوع القلم. چه عمل نامه ئې نه لیکلې کیږی، مواخذه ئې نه وی

۳۲۸۸-(۲) ۱ وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْهُمَا.

ترجمه: ۱ دارمي رحمه الله دا روایت د بي بي عائشې رضي الله عنها نه او ابن ماجه د بي بي عائشې رضي الله عنها او حضرت علي رضي الله عنه نه نقل کړی دی

۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود/باب فی المجنون یسرق أو یصیب حدا (رقم-۴۳۹۸) واحمد فی المسند: ۱۵۵/۱

۲) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب النکاح/ طلاق المعتوه والصغیر والنائم (رقم-۲۰۴۱)

تسهیلات:

قوله: رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ

د درې قسمه خلقو عدم مکلف کیدل:- په دې لاندې ذکر شوؤ درې کسانو باندې شرعي احکام نه جاري کيږي په دې وجه دوئ د تصرفاتو هیڅ اعتبار نشته دې

① نائم تر دې چې بیدار شي

② ماشوم چې ترکومې بالغ نشي

③ مجنون چې تر کومې هغه عقل مند نشي.

[۳۲۸۹] د وینځې د پاره دوه طلاقه دي

۳۲۸۹—[۱۵] (۱) ①وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②«طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او بي بي عائشه رضي الله عنها راوي ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ②د وينځې د پاره دوه طلاقه دي، او دهغې دعدت موده دوه حيضه دي. (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي

تسهیلات:

قوله: طَلَاقُ الْأَمَةِ:

د طلاق الامه سره متعلق دوه صورتونه:- په زير بحث حديث کښې دَوومسئلو ته اشاره شوې ده

① دا اتفاقي مسئله ده چه دَ آزاد او غلام سرې په طلاق کښې فرق دې دَ(حر) طلاق درې دي اودَ غلام صرف دَ دوو طلاقو اختيار دې.

② په دوو طلاقو کښې يا دريو طلاقو ورکولو کښې دَ ښځې دَ حالت اعتبار دې که دَ خاوند دَ حالت اعتبار دې يعنى طلاق بالرجال دې که بالنساء دې

د زوج يا زوجې د حالت په اعتبار کښې مذاهب:-

① دَ ائمه ثلاثه يعنى جمهورو په نيز دَ زوج اوخاونددَ حالت اعتبار دې که چرې زوج حر دې نوهغه ته دَ دريوطلاقو اختيار دې که ښځه ئې آزاده ده او که وينځه ده او که چرې خاوندئې غلام وي نو هغه ته دَ دوو طلاقو اختيار حاصل دې که ښځه آزاده ده او که وينځه ده يعنى دَهغوى په نيز طلاق بالرجال دې طلاق بالنساء نه دې

۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الطلاق/باب في طلاق السنة (رقم-۲۱۸۰) والترمذي في كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن طلاق الأمة تطليقتان (رقم-۱۱۸۲)وابن ما جه في كتاب النكاح/ باب في طلاق الأمة وعدتها (رقم-۲۰۸۰)

② دَائمه احناف په نيز دَ طلاقونودَ تعداد دارومدار دَښځې په حالت باندې دې که چرې ښځه حره يعنې آزاده اوشريفه ښځه ده نوخاوندته دَ دريو طلاقو حق حاصل دې که خاوندئې آزادوی اوکه غلام اوکه چرې ښځه وينځه ده نوخاوندته په هغې باندې دَ دوو طلاقو اختيار دې که خاوندئې حر وی اويارقيق وی

د اول فريق دليل: – دَ طبرانی يوروايت د دوی مستدل دې چه «الطلاق بالرجال والعدة بالنساء رواه الطبراني عن ابن مسعود موقوفاً»

د اول فريق د دليل جواب: – جمهورو په خپله يوه مدعاباندې چه کوم دليل پيش کړې وو دَهغې جواب دادې چه "الطلاق بالرجال" مطلب دادې چه دَطلاق ورکولوحق زوج ته حاصل دې اودَ ښځې په ذمه عدت تيرول دی. لهذا داحديث دَ جمهورو دليل نه شی جوړيدې

دويم فريق دليل: – زيرنظرصريح اوصحيح حديث د دوی مستدل دې دَ حديث په اول حصه کښې په واضحه توګه باندې ذکر دی چه دَ وينځې دوه طلاقونه دی دکوم نه چه معلومه شوه چه دَ طلاق په تعداد کښې دَ خاونداعتبارنشته بلکه دَ ښځې اعتبار دې. دَدې دَپاره اوفرمائيل چه دَ وينځې خاوندکه هرڅوك هم وی مگر دَهغه طلاق دَ دوو نه زيات نه دې

د درې قروۀ په اعتبار باندې اتفاق: – دَفقهاؤ په نيزدويمه اختلافی مسئله داده چه په قرآن کريم کښې داخو واضح دی چه دَ آزادې ښځې دَعدت موده درې قروء دی څکه چه په قرآن پاك کښې دا الفاظ راغلی دی ﴿وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ﴾ [سورت البقره ۲۲۸]. په دې کښې خودَ چاهم اختلاف نشته دې

دعدت بالقروء او بالاطهار په اعتبار کښې مذاهب: -

په دې کښې اختلاف دې چه دَ لفظ قروء نه اطهار مراد دی يا درې حيض مراد دی

① ائمه احناف فرمائی چه دَ قروء مصداق حيض دې لهذا عدت به درې حيض تيريدو سره مکمل کيږی

② امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دَ قروء مصداق طهردې په دې وجه دَ مطلقه ښځې عدت درې طهر دی

داول فريق دليل: – دې حضراتوسره دَ دويمې مسئلې دِ اثبات دَپاره څه مرفوع حديث نشته

د دويم فريق دليل: – احناف دَ خپلې دويمې مسئلې دَ اثبات دَپاره هم دَدې حديث دَ دويمې حصې نه استدلال کړې دې چه دَ وينځې دَ عدت موده دوه حيض دی دَ کوم نه چه معلومه شوه چه عدت بالاطهارنه دې بلکه عدت بالحيض مقرردې

③ دَ ابوداؤد شريف دَ فاطمه بنت حبيش واضح اوصريح حديث د دوي مستدل دې. دَ

حدیث الفاظ دا دي «فقال لها رسول الله ﷺ انما ذالك عرق فانظري اذا اتي قروءك فلا تصلي فاذا مر قروءك فتطهري ثم صلي مابين القرء الى القرء» (ابو داؤد ص ۳۷) په دي حدیث کښې څلور ځل د قروء لفظ راغلي دي او څلور واړه ځل د حیض د پاره استعمال شوي دي او د طهر د پاره یو ځل هم نه دي استعمال شوي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۲۹۰] د خپل خاوند نه د طلاق یا خلع غوښتونکي په باره کښې وعید

۳۲۹۰ – [۱۲] (۱) ۱عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲«اَلْمُنْتَزِعَاتُ وَالْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ۲د خپل خاوند نه خان ایستونکي اوخلع غوښتونکي ښځي منافقي وي. (نسایي)

حل اللغات: - ①اَلْمُنْتَزِعَاتُ: وتونکي. هغه ښځه چه دخپل خاوند دنکاح نه وتل غواړي. بلاوجه خلع کوی ②اَلْمُخْتَلِعَاتُ: د خاوند تابعداری نه کونکی. نافرمانه ښځې.

تسهیلات: **قوله:** هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ:

بغیر د مجبورۍ نه د خلعې په غوښتلو د منافقت اطلاق: – یعنی کومې ښځې چه د سختې مجبورۍ نه بغیر شوقیه خلع اخستل غواړی او د خاوند تابعداری نه کوی نوهم دغه ښځې منفقانې دی خکه چه په ژبه سره او په ظاهری احوالوکښې هغوی د اسلام احکام منی خوپه زړه کښې هغوی نافرمانی او د خاوندسره دوه مخیزه معامله کوی نن صبا د بعضې ښخود کاروبار دي چه پیسه ورکولوسره طلاق حاصله وی او نوی خاوندانوسره نکاح کونکې گرخی

[۲۲۹۱] د ښځي د تمام مال په عوض کښې خلع کول مکروه دی

۳۲۹۱ – [۱۴] (۲) ۱وَعَنْ نَافِعٍ عَنْ مَوْلَاةٍ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ ۲أَنَّهَا اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا بِكُلِّ شَيْءٍ لَهَا فَلَمْ يُنْكِرْ ذٰلِكَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱او حضرت نافع رحمه الله د بي بي صفیه بنت ابي عبید د یوي آزادي کړي وینځي نه روایت کوي. ۲چې بي بي صفیي ﷺ د خپل هر هغه شي په عوض کښې . چې د هغې سره موجود وو. خپل خاوند (حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ) نه خلع وکړه. او عبدالله ابن عمر ﷺ د دی نه انکار ونه کړي. (مالک)

حل اللغات - ①اِخْتَلَعَتْ: د مؤنث صیغه ده خلع ئې اوکړه.

۱) اخرجه النسائي في السنن کتاب الجهاد باب: ما جاء في الخلع(رقم - ۳۴۶۱) واحمد في المسند: ۲/۴۱۴
۲) اخرجه مالک في الموطا کتاب الطلاق باب ما جاء في الخلع(رقم - ۳۲)

تسهيلات:

قوله بكل شئ ولما:

دخلع جواز:- يعنى دَ ښځې دَ ټول مال په عوض چه خاوند خلع قبلولو سره طلاق ورکرونودا صورت سره دَدې چه مکروه دې ليکن دَ طرفين دَ رضامندئ نه پس خلع جائز ده

د خلع په جواز اوعدم جواز کښې مذاهب:-

علامه ابن همام رحمه الله فرمائيلى دى چه ① دَ شيخ مزنى رحمه الله مسلك دې چه خلع کول په هيڅ يوصورت کښې جائزنه ده

② اهل ظواهر وئيلى دى که دَ خاوندنه دَ ښځې سخت نفرت وى اوخاوند اوس دا اندازه ونګوله چه اوس نه زه دَ ښځې حقوق اداکولې شم اونه ښځه زما حقوق اداکولې شى نو په دغه صورت کښې خلع اخستل جائزدى ګنى نه دى جائز

③ دَ جمهورو فقهاؤ په نيز خلع جائزده اودَ قرآن دَ آيت نه ثابته ده اومنسوخ هم نه ده

په خلع کښې د مهر واپس کولو په مقدار کښې اقوال:- البته دومره بحث ضرور دې چه خوند څومره مهراداکړې دې آيا ښځه به هم دومره مال دَ خلع په عوض فديه کښې اداکوى يازيات هم اداکولې شى؟ نو ملاعلى قارى رحمه الله په مرقات کښې دَ دې حديث لاندې ډير روايات نقل کړى دى چه خاوند څومره مال ورکړې دې دَهغې نه زيات مال په خلع کښې اخستل جائزنه دى ليکن په آخره کښې ليکلى دى چه په دې مسئله کښې دَ صحابه کرامو په دور کښې هم اختلاف وو اوبعضې صحابه کرامو په ټول مال باندې خلع جائزګرځولې ده

د خاوند د سرکشى په صورت کښې د خلع حکم:- صاحب دَ هدايه ليکلى دى که چرې نافرمانى دَ ښځې دَ طرف نه نه وى بلکه خاوند سرکشى کوى نو په دې صورت کښې دَ خلع په عوض مال اخستل منع دى ليکن دې ته حرام نه شى وئيلې خکه چه په رواياتو کښې تعرض دې بهرحال دَ مهرنه زيات مال اخستل مکروه دى اوخلع جائز ده پوره تفصيل مرقات کښې دې

[٢٢٩٢] په يو ځاى درې طلاقه ورکول مکروه دى

[١٨] (١) ①وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ قَالَ ②«أُخْبِرَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ جَمِيعًا ③فَقَامَ غَضْبَانَ، ثُمَّ قَالَ: أَيُلْعَبُ بِكِتَابِ اللهِ - عَزَّ وَجَلَّ - وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ حَتَّى ④قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا أَقْتُلُهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت محمود ابن وليد رضي الله عنه وايي ②هر کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د هغه

(١) اخرجه النسائى فى السنن كتاب الجهاد/باب: الثلاث المجموعة وما فيه من التغليظ (رقم-٣٤٠١)

سړي په باره کښې وښودل شو، چې هغه خپلې ښځې لره په يو ځای دري طلاق ورکړي دي. [۳] نو حضور ﷺ غضبناک کيدو سره ودريدلو، او وي فرمايل چې آيا د الله عز وجل د کتاب سره لوبې کول کيږي (يعني د حکم خداوندي سره ټوقې کول کيږي) حالانکه زه په تاسو کښې موجود يم [۴] د دې اوريدو سره په مجلسِ نبوي ﷺ کښې د موجود صحابه وو ﷺ نه، يو سړي ودريدلو، او عرض يې وکړې چې يا رسول الله ﷺ زه دا سړی قتل نه کړم؟ (نسايي)

تسهيلات: قوله: ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ:

په يو ځل د درې طلاقو په حکم کښې مذاهب:-

① دَ امام شافعي رحمه الله په نيزيه يوځائی درې طلاقه ورکول خلاف اولی دی حرام نه دی.

② دَحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزيه يوځائی درې طلاقه ورکولو بدعت اوحرام دی

د دويم فريق دليل:- دَ مذکوره حديث نه په يوځائی درې طلاقه ورکول حرام معلوميږی ځکه چه دَ نبی کريم داسې غضبناك کيدل په حرام کيدې شی. ليکن دَدې مطلب دانه دې چه په دې سره طلاق نه واقع کيږی ځکه چه ډيرزيات احکامات داسې وی چه دَ ممانعت نه باوجود حکم نافذ کيږی

د ممانعت بلوجود په منهی عنه باندې د اثر د ترتب مثالونه:- ① لکه په حالت دَ حيض کښې دَطلاق ممانعت دې ليکن حضرت ابن عمر رضي الله عنهما چه کله طلاق ورکړونو هغه واقع شو په کوم چه نبی کريم خفه شو اودَ رجوع کولوحکم ئې ورکړو.

② دَ جمعه دَ اذان نه پس بيع اوشراء ممنوع ده ليکن په کولوسره کيږی.

③ دَمغصوبه زمکې غصب منع دې ليکن په هغې باندې مونځ کيږی

په مسنون طريقه طلاق ورکولو کښې سهولت:- بهر حال الله تعالی انسان ته په طلاق ورکولوکښې دَمهلت حکم ورکړی دې چه يوطلاق ورکړه بيا سوچ اوکړه بيا دَ څه مودې نه پس دويم طلاق ورکړه اوسوچ اوکړه کيدې شی چه په دغه دوران کښې دماغ او غيظ اوغضب احوال بدل شی نودَ ښځې طرف ته دَ رجوع کولوموقع به ئې په لاس کښې وی ليکن که يوسړې په يوځل درې طلاقه په يومجلس کښې ورکړی نوهغه سړې دَالله تعالی حکم شاته غورزه وی اوخپل ځان په مشقت اومصيبت کښې اچوی

سهولت ته د قرآنی آيت اشاره:- دَدې طرف ته دَ قرآن عظيم دا آيت مبارك اشاره کوی ﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ ۖ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا ۚ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ۝ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ ۗ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ

يَعْلَمُونَ ۞ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا ﴾ استهزاء او توقي هم دغه دی چه يوسړي دَ الله تعالى دَ حکم نه بې پرواهي او بې رخي اوکړی په دې وجه نبی کريم دَ غضب په حالت کښې اوفرمائيل (ايلعب بکتاب الله عزوجل) اوهم دَ دې جملې دَ وجې نه يوسړي عرض اوکړو چه يا رسول الله آيازه هغه قتل نه کړم؟ دې صحابی اوګڼل چه کوم سړې قرآن پورې توقې کوی هغه کافر کيږی لهذا دَهغه قتل کول پکار دی حالانکه دَ حضوراکرم دا اشاره دَ زجر توبيخ او تغليظ او تشديد دَپاره وه دَ امت دَعلماؤ په دې باندې اتفاق دې که يوسړی خپلې ښځې ته اووئيل (انت طالق ثلاثا) نو درې طلاقه به واقع شی اهل ظواهر به دې خبره کښې اختلاف کوی. دا مسئله ورسره حديث کښې راروانه ده

[۲۲۹۴] دَدريوطلاقو مسئله

—[۱۹] (۱) [۱] وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ [۲] أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ: إِنِّي طَلَّقْتُ امْرَأَتِي مِائَةَ تَطْلِيقَةٍ [۳] فَمَاذَا تَرَى عَلَيَّ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: [۴] طَلُقَتْ مِنْكَ بِثَلَاثٍ، وَسَبْعٌ وَتِسْعُونَ اتَّخَذْتَ بِهَا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأِ.

ترجمه: [۱] و حضرت امام مالک رحمه الله راوي دی چې هغه ته دا حديث ورسيدلی. [۲] چې يو سړی حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما ته اووئيل چې ما خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي دي. [۳] په دې باره کښې ته څه وايې؟ (يعني آيا زما په ښځه طلاقونه لويدلی دی که نه؟) حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ورته وفرمايل [۴] چې هغه ښځه د درې طلاقه په ذريعه ستا نه جدا شوه. او (۹۷) طلاقونه چې باقي پاتې شو. د هغه په ذريعه تا (ګويا) د الله تعالى جل جلاله په آياتونو مزاق وکړي. (مؤطا)

تسهيلات:

قوله: طَلُقَتْ مِنْكَ بِثَلَاثٍ..الخ:

قال الله تعالى ﴿ فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ﴾ (البقرة ۲۳۰. قال ابن عباس طلقت منك بثلاث يعنی حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ سوال کونکی په جواب کښې اوفرمائيل چه په دريو طلاقو ورکولوسره ستا ښځه تانه جدا شوه

دَدرې طلاقو په واقع کيدو کښې مذاهب:-

دويمه مسئله چه کومه ډيره زياته اهمه اومعرکة الآراء ده هغه دَدرې طلقات دَوقوع مسئله ده. يعنې که يوسړی په يوه کلمه سره درې طلاقه ورکړی ،ياپه يومجلس کښې درې طلاق ورکړی نوآيا دا واقع کيږی اوکه نه؟اوکه واقع کيږی نويوواقع کيږی که

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الطلاق/باب ما جاء فی البتة (رقم-۱)

درې(۱) نوبه دې باره کښې درې مذهبه دی :

① شیعه جعفریهٔ دامسلك دې چې د درې طلاقو ورکولو په صورت کښې یوطلاق هم نه واقع کیږی . (۲) او حجاج بن ارطاة اوابن مقاتل ته هم داقول منسوب دی(۳)

② دَ بعضواهل ظاهرواوعلامه ابن تیمیه ،علامه ابن القیم ،اودَعکرمه وغیره مسلك دا دې چه په دې سره یوطلاق واقع کیږی ،اوخاوندته به دَ رجعت اختیار وی . (۴) زمونږپه زمانه کښې غیر مقلدین هم په دې ټینګ دی

③ جمهور فقهاء او علماء امت او ائمه اربعه فرمائی چه درې طلاقه که هغه په یوطهر کښې وی یا په جدا جدا طهرکښې وی یومجلس کښې وی یا په جدا جدامجالس کښې وی. حالت حیض کښې وی یا طهر کښې وی دَ دریو طلاقو الفاظ یوځائی وی یا جدا جدا الفاظ وی په هرصورت کښې هم درې طلاقونه واقع کیږی. دَ جمهورو فقهاؤ او تابعین په حق کښې دَ قرآن اوحدیث قطعی نصوص نه اودَصحابه کرامو او تابعینو دَ فیصلوسره په دومره زیات مقدار کښې دلائل موجود دی چه دَهغې دَ رایوځائی کولو نه یوپوره کتاب لیکلې کیدې شی دلته یوڅو دلائل پیش کولې شی:

مشترکه خبره:- خوپه مذکوره درې وارو مذاهبوکښې داخبره مشترك ده چه که درې طلاقه په درې مختلفو طهرونو کښې ورکړې شی نوداد ټولوپه نزدواقع کیږی ،نودداسې ښځې په مغلظه کیدوکښې دَچا هم اختلاف نشته،تردې چه اهل ظواهرهم او روافض ددې د وقوع قائل دی .

په پاکستانی عائلی قوانینو کښې د درې طلاقو حکم:- خوزمونږ په ملك چه کوم عائلی

(۱) په ظاهره داحکم دَمدخول په صورت کښې دې،کښې که ښځه غیرمدخول بها وی نوپه داسې صورت کښې داحنافوپه نزدتفصیل دې،اوهغه داچه که خاوندپه یوکلمه سره درې طلاقه ورکړی وی مثلاً اووائی"انت طالق ثلاثا" نوپه داسې صورت کښې به صرف دَیوطلاق سره بائنه شی. اود نورو دوه طلاقودپاره به هدومحل پاتې نه شی.اوګورئ هدایه(ج۲ص۳۷۱)فصل فی الطلاق قبل الدخول ۱۲مرتب)).

۲)کماجزم به الحلی الشیعی فی شرائع الاسلام(ج۲ص۵۷)کذافی التکمله (ج۱ص۱۵۳).قال الشیخ ابن الهمام رحمه الله:فعن الامامیة لایقع بلفظ الثلاث ولافی حالة الحیض.فتح القدیر(ج۳ص۳۲۹)باب طلاق السنة ۱۲مرتب)).

۳)کماحکاه النووی فی شرح المسلم(ج۱ص٤۷۸)باب طلاق الثلاث "

دحجاج بن ارطاة اودمحمدبن اسحاق دویم روایت دَدریم مذهب مطابق دَیوطلاق رجعی واقع کیدودې.حواله مذکور۱۲۵م)).

۴)یوبل خلورم مذهب هم ذکرشوې دې چه دمدخول بهاپه صورت کښې درې طلاقه اودَغیر مدخول بهاپه صورت کښې یوطلاق به واقع وی.کمافی فتح القدیر(ج۳ص۳۲۹) داخلورم مذهب ابن القیم بعض اصحابوداًبن عباس رضی الله عنه اوداًسحاق بن راهویه رحمه الله ته منسوب کړې دې ،کمافی زادالمعاد(ج۵ص۲٤۸) فصل واماالمسالة الثانیة)وراجعها لتفصیل المذاهب. وانظر المغنی(ج۷ص۱۰٤و۱۰۵)لوطلقها ثلاثا)وشرح النووی علی صحیح مسلم(ج۱ص٤۷۸)۱۲م)).

قوانين نافذدی دي کښي دا ونيلي شوی دی چه په دري طهروباندي متفرق دری طلاقو ورکولوسره هم دري به نه واقع کيږی ، بلکه يو به واقع وی او دتغليظ صورت ددي عائلی قوانينوپه بناء صرف دا دي چه خاوند يوطلاق ورکړی او رجوع اوکړی بيا طلاق ورکړی او بيا رجوع اوکړی اوبيا طلاق ورکړی.

ظاهره ده چه مذکوره صورت په امت کښي ديوفرد هم مسلك نه دي،د دي وجي چه کوم خلق د دي عائلی قوانينوپه تائيدکښي ابن قيم رحمه الله،ابن القيم رحمه الله،يا اهل ظاهر پيش کوی د دوی داعمل په هيڅ قسم صحيح نه دي.

د اول فريق اول دليل:- ① دمشکاة حديث نمبر(۳۲۸۳) د حضرت رکانه رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دي چه هغه د نبی کريم په زمانه کښي ښځي ته (په بته) سره طلاق ورکړي ومګرنبی کريم هغه ته د رجوع کولواختيارورکړي وو معلومه شوه چه په يومجلس کښي دري طلاقه ورکول هم يو طلاق رجعي واقع کيږی ځکه چه رکانه رضي الله عنه رجوع اوکړه اونبی کريم انکار اونه فرمائيلو اود (بته) په الفاظوسره دري طلاقه ورکولي شی د رکانه رضي الله عنه په روايت کښي بعضي راويانوداهم نقل کړی دی چه هغه د ثلاثا په الفاظ سره دري طلاقه ورکړي وو اوبياهم نبی کريم د رجوع کولوحکم ورکړي وو معلومه شوه چه په يوځائی دري طلاقه په حقيقت کښي هم يو وی.

د اول فريق د اول دليل جواب:- د دي حديث په متن کښي ډير اضطراب دي بعضي رواياتوکښي راغلی دی چه حضرت رکانه رضي الله عنه د ثلاثه لفظ سره طلاق ورکړي وو بعضي کښي راغلی دی چه هغوی د البتة لفظ د طلاق دپاره استعمال کړي وو اود بعضي رواياتونه معلوميږی چه حضرت رکانه رضي الله عنه يوطلاق ورکړي وو چنانچه نيل الاوطار ج۶ص ۲۴۱ کښي د دي تفصيل موجود دي. په دي وجه امام بخاری رحمه الله د حضرت رکانه رضي الله عنه حديث ضعيف ګرځولي دي اوامام احمدبن حنبل رحمه الله د دي حديث ټول طرق ته ضعيف ونيلی دی علامه ابن عبدالبر رحمه الله هم دا روايت ضعيف ګرځولي دي د سنن ابوداؤد شريف په ډيرو طرقو سره معلوميږی چه د دي حديث په سند کښي هم اضطراب دي امام ابوداؤد رحمه الله په دي روايت کښي د بته په لفظ سره طلاق ورکول صحيح او راجح ګرځولی دی اود ثلاثه الفاظ ئی مرجوح او غير اصح ګرځولی دی (ابوداؤد ج۱ص۲۹۸) د حضرت رکانه رضي الله عنه روايت که صحيح هم وی او په دي کښي څه اضطراب هم نه وی بيا هم د دي مطلب بالکل واضح دي چه د البتة لفظ د کنائی الفاظونه يولفظ دي او په الفاظ کنائی کښي د ټول په نيز د دغه الفاظو د استعمالونکی د نيت اعتباربه کيږی هم دغه وجه ده چه دحضرت رکانه رضي الله عنه نه نبی کريم ﷺ باربار حلفيه بيان اخلی چه په دغه الفاظوسره ستا څه اراده کړي وه هغه جواب ورکړو چه ما د يوطلاق اراده کړي وه نو هله نبی کريم د يوطلاق

فیصله اوفرمانیله اوښځه ئې ورته واپس کړه که چرې حضرت رکانه رضي الله عنه ونیلې وې چه ما د دریو طلاقو اراده کړې وه نو رسول الله ﷺ به خامخا فیصله کوله چه اوس د رجوع ګنجائش نشته دې ځکه چه د دریو طلاقونه پس د رجوع حق نه پاتې کیږي که چرې درې طلاقه د رسول الله ﷺ په نیزهم یو وې نود حضرت رکانه رضي الله عنه نه باربار په قسم سره د یوطلاق د اقرار اخستو څه ضرورت وو هغوی به صفا صفا فرمائیل چه که د یونیت ئې کړې وی اوکه د دریو نیت ئې کړې وی خو طلاق هم یو دې د دریو به هډو سوال نه پیدا کیدو که چرې دا نصاف په نظر سره اوکتلې شي نود حضرت رکانه رضي الله عنه روایت د غیرمقلدینو دلیل نه جوړیږي بلکه د جمهور فقهاؤ دلیل جوړیږي ځکه چه غیرمقلدین خوواني چه د دریو نیت څوك اوكړي یا د دریو صریح الفاظ استعمال کړي طلاق صرف هم یو واقع کیږي حالانکه د حضرت رکانه رضي الله عنه په روایت کښې د یو او دریو د فرق ښکاره کولو دپاره بار بار د هغه نه پوښتنه کیږي شارحین حدیث د حضرت رکانه رضي الله عنه د حدیث متعلق لیکلي دي چه په دې کښې د ثلاثا الفاظ کومو راویانو استعمال کړي دي هغه په حقیقت کښې روایت بالمعنی دې اوهغوی د بتة په لفظ سره د دریو طلاقو مفهوم اخذ کولو سره د (ثلاثا) الفاظ نقل کړل ګني په اصل روایت کښې صرف د البتة لفظ دې لکه څنګه چه د ابوداؤد نه معلومیږي

داول فریق دویم دلیل: - ② د مسلم شریف دا روایت دې د کوم الفاظ چه دادي «وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال كان الطلاق على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وابي بكر وسنتين من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر بن الخطاب ان الناس قد استعجلوا في امر كانت لهم فيه اناة فلو امضيناه عليهم فامضاه عليهم» [مسلم ج۱ ص۴۷۸.]

ترجمه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه د حضور اکرم ﷺ اوابوبکر صدیق رضي الله عنه په زمانه کښې او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت د شروع دوو کالو کښې به درې طلاقه یو وو اود دې نه پس حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چه خلقو په دې کار کښې تادي اوکړه په کوم کښې چه د هغوئ دپاره سهولت وو نو که مونږ په هغوی باندې درې طلاقه نافذ کړو نودا به بهتروی نو په هغوی باندې درې طلاقه نافذ کړې شو د استدلال طرز داسې دې چه د نبی کریم او صدیق اکبر رضي الله عنه په زمانه کښې به درې طلاقونه یو طلاق شمیرلې کیدو درې طلاقونه درې ګرځول د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فیصله ده مونږ ته دا قبوله نه ده بلکه د حضور اکرم او صدیق اکبر فیصله قبلول پکار دي

داول فریق د دویم دلیل جواب: - علامه نووی رحمه الله چه د دې حدیث کوم مطلب بیان کړې دې هغه د شارحین حدیث متفقه فیصله ده تولوله پکار دي چه د حدیث هم هغه مفهوم خپل کړي کوم چه شارحینو بیان کړې دې د علامه نووی رحمه الله د کلام خلاصه داده چه

د حضور اکرم په مبارکه زمانه کښې د خلقو عادت داسې وو چه د يو طلاق د تاکيد دپاره به ئې نور دوه الفاظ ونيل لکه په انت طالق طالق طالق کښې په رومبی خل به طلاق ورکول مقصود وو هم ددې د تاکيد دپاره به ئې دويمه او دريمه کلمه ونيله دريم طلاقه ورکول عادت وو او نه رواج وو ليکن د روستو زمانې خلقو دا کلمه دريم خل ونيل د دريو خلو د طلاق ورکولو دپاره شروع کړه

د عمر فاروق رضي الله عنه فيصله: - په دې باندې حضرت عمر فاروق ﷺ اوفرمائيل چه وس خلق دا تاکيدی سهولت هيره وی اود دريو خلو طلاق ونيلو نه تاکيد نه بلکه د ستيناف اراده کولو سره دريم طلاقه ورکوی لهذا اوس به دې ته هم دريم ونيلې شی د ستنی چه حضرت عمر ﷺ څه شرعی حکم نه دې بدل کړې بلکه د خلقو عادت د خلقو فعال او اعمال اود خلقو د عرف او دستور بدليدو سره ئې حکم بدل کړې دې لکه چه د حکم د نبی کريم په زمانه کښې هم داسې ووکه د خلقو عادت د فاروقی دور د عادت په شان وې خو هغه وخت غالب عادت هم د يو طلاق وو او شاته دور کښې غالب عادت د دريو طلاقو شو نو د دريو طلاقو واقع کيدو عام حکم ئې ورکړو څکه چه د دريو طلاقو په نيت باندې طلاق ورکول خود نبی کريم په زمانه کښې هم دريم طلاقه ګڼرلې شو او عمر فاروق ﷺ هم دغه د دريو حکم نافذ کړې دې

د دريو طلاقو په واقع کيدو اجماع: - علماؤ دا هم ليکلی دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ د صحابه کرامو ﷺ د مشورې نه پس دا حکم نافذ کړې دې او يو صحابی په دې باندې نکيرنه دې کړې لهذا په دې باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده غير مقلدين حضرات سره ددې چه په زيه باندې دانه وائی چه مونږ د صحابه کرامو يو فيصله نه منو خو که غور او کړې شی نو هغوی د خپل عمل نه ظاهره کړې ده چه هغوی د صحابه کرامو د اجماعی فيصلو پابند نه دی مثلاً شل رکعته تروايح کښې دا حضرات په خپل عمل سره د صحابه کرامو اجماعی فيصله ردکوی په طلاق ثلاثه کښې هم دغه صورت حال دې د جمعه دپاره په اذان کښې دا حضرات وائی چه دا حضرت عثمان ﷺ د خان نه جوړ کړې دې د حد خمر اتيا (۸۰) کوړو کښې اود دې په شان په ډيرو فيصلو کښې دا حضرات د صحابه کرامو خبره رد کوی حلانکه نبی کريم فرمائيلی دی (عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين)

د اول فريق دريم دليل: - ۞ هغه ټول روايات د دوی مستدلات دې په کومو کښې چه درې يا د دريو نه زيات طلاقونو ورکولو سخت ممانعت راغلې دې او نبی کريم او صحابه کرامو په دې باندې د سختې غصې اظهار کړې دې

د اول فريق د دريم دليل جواب: - ممانعت او وعيد په خپل خائی باندې صحيح دې ليکن

د يو ممنوع كار د كولونه پس به ولې د هغې اثر نه مرتب كيږي؟ د جمهور امت نظريه داده كه يو ممنوع كار چه په غلطئ سره اوكړونو هغې اثر مرتب كيږي دري طلاقه په يوخائې وركول سره د دې چه يوناخوښه عمل دې ليكن د دغه ناجائز قبيح اومكروه كار په كولوسره به د دې اثر خامخا پريوځي صحابه كرامو د دريو طلاقونه زيات طلاق ناخوښه ګرځولي دي او سخته ناراضګي ئې هم ښكاره كړي ده خو د دې نه باوجودئې د سلو طلاقونه دري نافذ ګرځولي دی يا په حالت د حيض كښې د ابن عمر رضي الله عنه طلاق نبي كريم د خفګان اوكراهيت نه باوجود نافذكړو د دې قسم ډيرمثالونه دی لهذا د دريو طلاقو په يوخائې وركولو كراهت نه باوجودصحابه اوتابعين او جمهور امت دا دري منلوسره نافذ ګرځولي دی د احتياط اوانصاف تقاضاده چه د جمهورو په مسلك باندې فتوی وركړې شي

د دويم فريق دلائل: - ① د قرآن كريم دا آيت د دوی مستدل دې ﴿ فَإِنۡ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهٗ ﴾ په دې آيت كښې داخبره په يقيني اواجماعي توګه سره ثابته شوه چه په اسلام كښې د دريو طلاقو وجود شته او په دريو طلاقونوسره ښخه مغلظه جوړيږي او د دويم خاوندسره نكاح او حلالې نه بغير د رومبي خاوند د پاره حلال كيدې نه شي

② امام بخاري رحمه الله د بخاري شريف هم په دغه پورتنئ صفحه كښې دا باب قائم كړې دې باب من اجاز الطلاق الثلاث، د دې لاندې امام بخاري رحمه الله د عويمر عجلاني رضي الله عنه د لعان اوږده قصه نقل كړې ده د هغې په آخره كښې دی ،فطلقها ثلاثا، بدرالدين عيني رحمه الله فرمائي چه حضوراكرم صلى الله عليه وسلم د عويمر رضي الله عنه دري طلاقونه نافذ اوګرځول معلومه شوه چه دري طلاقه هم دري وی

③ امام بخاري رحمه الله بخاري شريف ج۲ص ۷۹۱ كښې د طلاق ثلاثه د پاره مستقل باب ،باب من اجاز الطلاق الثلاث، تړلې دې او د قرآن كريم آيت ﴿ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۖ فَاِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوۡفٍ اَوۡ تَسۡرِيۡحٌۢ بِاِحۡسَانٍ ﴾ نه ئې استدلال كړې دې هغوی خويا ،مرتان، تثنيه د تكرير په معنی كښې اخستې دې چه مرة بعدمرة طلاق وركول جائزدی په كوم كښې چه دري طلاقونه داخل دی يا هغوی اوتسريح باحسان، نه استدلال كړې دې څكه چه تسريح د پريخودلو په معنی كښې دې كه دا پريخودل په يوطلاق سره وی يا په دريو طلاقوسره وی ټول دې كښې شامل دی

④ جمهورو د محمودبن لبيد رضي الله عنه د روايت نه هم استدلال كړې دې چه د زيربحث حديث څخه وړاندې حديث نمبر ،۳۲۹۲، لاندې تيرشوې دې په كوم كښې چه دا الفاظ دی ،طلق امرأته ثلاث تطليقات جميعا، په كوم چه نبي كريم سخت خفه شوې وو ليكن په دغه يومجلس كښې په يوځائې دري طلاقه نبي كريم اومنل او دائې يواونه ګرځولو

⑤ دبخاری شریف هم په دغه صفحه کښې د حضرت رفاعه د ښځې واقعه هم امام بخاری رحمه الله د دریو طلاقو په ثبوت او واقع کیدو باره کښې نقل کړې ده په دغه حدیث کښې داالفاظ دی (لاحتی یذوق عسیلتك وتذوق عسیلته) یعنی ته دخپل خاوند طرف ته ترهغه وخته پورې رجوع نه شې کولې ترکومې چه ته د دغه نوی خاوند خوندوانخلې او هغه ستا خوند وانخلی دا روایت صاحب مشکوٰة هم صفحه ۲۸۴ باندې نقل کړې دی لیکن په هغې کښې دا الفاظ دی (لاحتی تذوق عسیلته ویذوق عسیلتك)

⑥ زیربحث حدیث نمبر (۳۲۹۳) هم د دوی مستدل دې په کوم چه مشکوٰة کښې د موطا امام مالك په حواله سره ذکر کړې شوې دې لکه چه دا د عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما د هغه سړی باره کښې فتوی ده چه درې طلاقه واقع شو او ۹۷ طلاقونه ستا په ګناه کښې شامل شو

⑦ سنن نسائی (باب احلال المطلقة ثلاثا) کښې امام نسائی رحمه الله مختلف احادیث نقل کړی دی د کوم نه چه د دریو طلاقو واقع کیدل معلومیږی د حضرت ابن عمر رضی الله عنه یوروایت الفاظ داسې دی (عن ابن عمر رضی الله عنه قال سئل النبی صلی الله علیه وسلم عن الرجل یطلق امرأته ثلاثا فیتزوجها الرجل فیغلق الباب ویرخی الستر ثم یطلقها قبل ان یدخل بها لاتحل للاول حتی یجامعها الآخر [سنن نسائی ج ۲ ص ۱۰۱].

یعنی د نبی کریم نه د یوداسې سړی په باره کښې سوال اوکړې شو چه مثلاً خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکوی اوبیا دویم سړې هغې سره نکاح کوی اودروازه بندولو سره پرده راښکته کړی خلوت صحیحه کوی لیکن د جماع نه وراندې هغې ته طلاق ورکوی آیا دا ښځه به د رومبی خاوند دپاره حلال شی؟ نبی کریم اوفرمائیل چه ترکومې دا دویم خاوند هغې سره جماع نه وی کړې دا د رومبی خاوند دپاره حلال کیدې نه شی

⑧ د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه خود طلاق ثلاثه د واقع کیدو باره کښې بې شمیره اقوال نقل دی اودهغوی نه په ګنړ تعداد کښې فتاوی مشهورې دی دا زیربحث حدیث هم دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما حکم اوفتوی ده چه په سلو طلاقو کښې په دریو باندې ښځه طلاقه شوه او په درې کم سلو سره په قرآن پاك پورې خندا اوکړې شوه مصنف ابن ابی شیبه او سنن بیهقی کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ډیرې فتاوې نقل دی د کوم نه چه په واضحه توګه معلومیږی چه په یو ځائې درې طلاقه واقع کیږی اوښځه مغلظه جوړیږی

⑨ د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یوه فتوی هم د دوی مستدل ده هغوی له د دوو کسانو باره کښې استفتاء راغلې وه چه یو خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړې وو او بل د ستورو د شمیر برابر ورکړې وو هغوی په جواب کښې اوفرمائیل چه هغه ښځې د هغوی نه جدا شوې (بیهقی)

دغه شان یوسړی خپلې ښځې ته سل طلاقونه ورکړې وو نو حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په دې الفاظوسره فتوی ورکړه (بانت منك بثلاث وسائرهن معصية) (مصنف ابن ابی شیبه) یعنی په دریوطلاقونوسره ښځه جدا شوه اوباقی ستا په ګناه کښې داخل دی

دغه شان د ابن عمر رضي الله عنهما فتوی ده (من طلق امرأته ثلاثا فقد عصى ربه وبانت امرأته) (مصنف ابن ابی شیبه) چاچه درې طلاقه په یوځائی ورکړل نوهغه د خپل رب نافرمانی اوکړه او د هغه ښځه د هغه نه جدا شوه په بل روایت کښې دا الفاظ هم دی (لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره)

⑩ حضرت مجاهد رحمه الله د خپل استاذ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما یوه فتوی داسې نقل کړې ده (قال رجل لابن عباس طلقت امرأتي مأة قال تأخذ ثلاثا وتدع سبعا وتسعين) (بیهقی) هم په دې مقام د حضرت سعیدبن جبیر فتوی هم په سنن بیهقی کښې نقل کړې ده هغوی فرمائیلی دی که یوسړې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړی نوښځه به په هغه باندې حرامیږی بهرحال د صحابه کرامو بې شمیره فتاوی او بې شمیره فیصلې موجود دی چه په یوځائی درې طلاقه ورکولوسره ښځه مغلظه کیدوسره جداکیږی او د بل خاوندسره د نکاح اوجماع نه بغیرد خپل خاونددپاره حرامیږی. د سلف اوخلف فقهاء په دې باندې متفق دی. د صحابه کرامو او تابعینو په دې باندې اتفاق دې او د قرون وسطی علماء په دې باندې متفق ښکاری د عربو اوعجمو علماؤ په دې باندې اتفاق کړې دې د سعودی عرب د لویولویو مفتیانو هم دغه فتوی ده د سعودی عرب قاضی القضاة شیخ بن باز رحمه الله د طلاقه ثلاثه په واقع کیدو باندې د فتوو نه علاوه یوکتاب هم لیکلې دې.

[۳۲۹٤] د الله جل جلاله په نزد طلاق یوخراب څیز دی

[۲۰] (۱) ① وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② يَا مُعَاذُ مَا خَلَقَ اللَّهُ شَيْئًا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الْعَتَاقِ، ③ وَلَا خَلَقَ اللَّهُ شَيْئًا عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَبْغَضَ إِلَيْهِ مِنَ الطَّلَاقِ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: - ① د معاذبن جبل رضی الله عنه څخه روایت دې فرمائی رسول الله صلی الله علیه وسلم (دوی ته) اوفرمائل ② معاذ الله تعالی په مخ د زمکې د غلام آزادولو څخه خوښ عمل نه دې پیدا کړې ③ والله تعالی په مخ دزمکې د طلاق څخه ناخوښه عمل نه دې پیدا کړې

تسهیلات: قوله: أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الْعَتَاقِ :

د عتاق د محبوبیت وجه: - ددې وجه داده چې عتاق سره یو انسان ته دهغه پیدائشی او فطری حق ملاویږی اوده ته د غلامی نه نجات حاصلیږی کوم چې د انسان حیثیت سره ددې د مرتبې برابر دې

۱) اخرجه الدارقطنی رقم الحدیث ۹٤ من کتاب الطلاق

قوله أبغض الحلال إلى الله الطلاق:

• **طلاق د مبغوضيت وجه:** - طلاق ته مبغوض په دي وجه ونيلي شوی دی چي په دي کښي قطع رحمي وی او الله ﷻ دصلهٔ رحمي حکم ورکړي دي خو طلاق مبغوض هله وی چي کله بغير د څه حاجت شرعيه نه ورکړي شي

• **تجرد په مقابله کښي په نکاح کولو افضليت:** - فتاوی قاضی خان کښي دی چي که چا سره د ومره مال نه وی چي هغه د ښځي مهر ادا کړی او د دهٔ ښځه مونځ نه کوی نو هغه هم د دي لائق چي دي هغي ته طلاق ورکړي شي د ابوحفص ﷫ قول دي چي که يو بنده الله ﷻ سره په دي حالت کښي ملاقات کول کوی چي دده په ذمه د دهٔ مهر وی نو هغه زما په نزد د دي نه زيات مانه دا خوښ دی چي هغه يوي داسي ښځي سره صحبت اوکړی کومه چي هډو مونځ نه کوی گويا دا حديث الباب په دي خبره باندي دلالت کوی چي څوک وال (گوشه نشيني) اختيارولو نه نکاح افضل ده دا زمونږ دليل دي (مرقاة ص ۲۹۲ جلد ۲)

[۱۱] بَابُ الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا

باب د هغي زنانه باره کښي چه دري طلاقه ورکړي شوی وی

خلاصة الباب: -

فيه ستة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① وجوب التحليل من الزوج الثاني للزوج الأول الطالق: ۱.

② اللعنة بإشتراط التحليل في النكاح: ۲.

③ حكم الإيلاء: ۳.

④ كون الكفارة واحدة في الظهار بعد الوقوع وقبله: ۴، ۵، ۶.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۲۹۵] د حلاله صحيح کيدل د دويم خاوند پر جماع کولو موقوف دی

۲۲۹۵ - [۱] (۱) عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «جَاءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الشهادات/باب شهادة المختبی (رقم ۲۶۳۹) ومسلم فی کتاب النکاح/ باب لا تحل المطلقة ثلاثا لمطلقها حتی تنكح زوجا غيره، ويطأها، ثم يفارقها وتنقضی عدتها (رقم ۱۱۱ - ۱۴۳۳) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فيمن يطلق امرأته ثلاثا فيتزوجها آخر فيطلقها قبل أن يدخل بها(رقم ۱۱۱۸) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: الطلاق للتی تنكح زوجا ثم لا يدخل بها (رقم ۳۴۰۸) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ الرجل يطلق امرأته ثلاثا فتزوج فيطلقها قبل أن يدخل بها. أترجع إلى الأول (رقم ۱۹۳۲) ومالک فی الموطا کتاب النکاح باب نکاح المحلل وما أشبهه (رقم ۱۷) واحمد فی المسند: ۶/۴۲

[۲] فَقَالَتْ: إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي، [۳] فَتَزَوَّجْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَمَا مَعَهُ إِلَّا مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ، [۴] فَقَالَ: أَتُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، [۵] قَالَ: لَا حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه ﷺ وايي چې (يوه ورځ) د رفاعه قرظي ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه، [۲] وعرض يي وکړي، چې زه د رفاعه په نکاح کښې وم. خو هغه ماته طلاق را کړي، او طلاقونه يي هم دري راکړل، [۳] نو ما د رفاعه نه روسته. د عبدالرحمن ابن زبير سره نکاح وکړه، ليکن عبدالرحمن د کپړي د خونډي په شان لري (يعني هغې ښځي د شرم او حيا له مخه د عبدالرحمن نامردي يي کنايةً د دې الفاظو په ذريعه بيان کړه، چې هغه د ښځي قابل نه دی) [۴] حضور ﷺ (د دي آوريدو سره) وفرمايل آيا ته بيا رفاعه ﷺ ته تلل غواړي؟ هغې عرض اوکړو چې هو. [۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ته د هغه د رفاعه ﷺ سره دوباره نکاح نه شي کولی. د څو پورې چې عبدالرحمن ستا مزه ونه څکی او ته د هغه مزه ونه څکی، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَبَتَّ طَلَاقِي: دري طلاقه ئې يو ځل راکړل ② هُدْبَةِ الثَّوْبِ: د کپړې زونډې. کنايه ده د نامردئ نه. ③ تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ: چه ته د هغه ګبين اوڅکې. کنايه ده د جماع د خوند اخستلونه

تسهيلات: قوله: هُدْبَةِ الثَّوْبِ:

د نامردئ څخه کنايه: - دا د نامردئي طرف ته اشاره ده بعضې رواياتو کښې راغلی دی چه عبدالرحمان اوونيل "انما ابنها ابنا" يعني زه خودا څنډلوسره ايږدم زه نامرد نه يم علماؤ تطبيق ورکړې دې چه عبدالرحمان هم رښتيا وئيلی دی مګر دا ښځه د دې نه د زيات قوت خواهشمنده وه نو د هغې ونيل هم صحيح دی مګر هغې په تشبيه ورکولو کښې ښه زور ورکړې دې او د کونډې ښځې سره واده کولو کښې دا خرابی لازم ده

د حديث څخه مستنبط مسائل: - ① حلاله يو حقيقت دې د کوم نه چه انکار نه شی کولې او د دې خراب صورتونه به هم خراب وی ليکن د دې د وجود نه انکار خونه شی کيدې البته که چرې څوك سرې دې نکاح او حلاله ته د حلاله په ځائې څه بل نوم تجويز کولوسره ورکوی نو د اصطلاحاتو په تغير کښې څه بخل نشته دې

② درې طلاقه هم درې واقع کيږی

③ د زوج ثاني جماع کول ضروری دی او ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ [بقره: ۲۳۰] کښې صرف نکاح مراد نه ده بلکه وطی مراد ده حضرت سعيدبن مسيب رحمه الله اول صرف نکاح کافی کرخولې وه مګر روستو د حديث عسيله د وجې نه رجوع اوکره

④ د حلاله نه بغير د ښځه د اول خاوند د پاره حلاله نه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۹۶] په محلل او محلل له د حضور ﷺ د طرف نه لعنت

٣٢٩٦—[٢] (١) ①عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: ②«لَعَنَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وايي ②چې رسول الله ﷺ په محلل او محلل له لعنت ويلي دي (دارمي)

حل اللغات: ① الْمُحَلِّلَ: حلالونکي ، زوج ثاني ته وائي ②وَالْمُحَلَّلَ لَهُ: دَ چادَپاره چه حلالولي شي ، زوج اول ته وائي

٣٢٩٧—(٢) ①وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ.

ترجمه: ①ابن ماجه رحمه الله دا روايت د حضرت علي رضي الله عنه ، ابن عباس رضي الله عنهما او عقبه ابن عامر رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

تسهيلات:

قوله: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْمُحَلِّلَ

د حلالې صورت:- چه يوسړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل دَ عدت تيريدونه پس دا سړي دوباره دغه ښځې مطلقه مغلظه سره نکاح کول غواړی نودا سړې اوس نکاح نه شي کولې او که دغه ښځې چرته بل چاسره نکاح اوکړه اوهغه ورسره جماع هم اوکړه اوبيائی پخپله طلاق ورکړو نودَ عدت تيريدونه پس دابنځه دَخپل رومبی خاوند دَپاره حلاليږی دې ته حلاله وائی اودادَ حلاله هغه جائزصورت دې دَکوم ذکرچه قرآن کريم کښې ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ سره کړې شوې دې. البته داخبره دَ يادساتلوده چه په دويم خاوندباندې څه لازم نه دی چه هغه دې طلاق ورکړی که چرې هغه طلاق نه ورکوی نودا دَ هغه ښځه ده خوکه هغه په رضا صلاح سره طلاق ورکړو نو په ښځه باندې عدت تيرول لازم دی بيانکاح کولې شی

دَ حلالې مکروه تحريمی صورتونه:- لاندې چې کوم صورتونه ذکر کولی شی دا ټول دَ حلاله مکروه تحريمی صورتونه دی څکه چه دامقاصددَ نکاح منافی دی په نکاح کښې دوام وی او په دې کښې دَ عدم دوام شرط لګولې شوې دې

١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في المحل والمحلل له (رقم-١١٢٠) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: إحلال المطلقة ثلاثا وما فيه من التغليظ (رقم-٣٤١٦) واحمد في المسند: ٤٤٨/١

٢) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب النكاح/ المحلل والمحلل له (رقم-١٩٣٤)

① ښځې دغه شرط اولګولو چه دَ جماع نه پس به طلاق راکوي
② که چرې دويم خاوند شرط اولګولو چه دَ جماع نه پس به طلاق ورکوم
③ زوج ثاني دَ زوج اول سره پيسې مقرر کړې چه دومره پيسې به راکړی نو حلاله به کوم
④ زوج اول دغه شرط اولګولو چه دَ جماع نه پس به طلاق ورکوي

د مشروط حلالې په صحت کښې مذاهب:-

① دَ جمهور ائمه په نيزدا حلاله صحيح نه ده او دَ جماع نه باوجوددا ښځه به دَ رومبی خاوند دَپاره حلاله نه وی ځکه چه دا شرط فاسد دی لهذا نکاح فاسد شوه نو حلاله صحيح نه شوه

② د احنافو په نيز دا فاسد شرائط به په خپله فاسد شی او نکاح به صحيح پاتې شی ځکه چه په شرائط فاسده سره عقد نکاح نه فاسد کيږی او کله چه عقد نکاح صحيح شوه نو حلاله هم صحيح شوه او ښځه دَ زوج اول دَپاره حلال شوه.

داول فريق دليل:- زيربحث حديث کښې لفظ لَعَنَ نه دوی استدلال کوی چې دې کښې په محلل باندې لعنت وئيلی شوې دې معلومه شوه چې دا تحليل صحيح نه دې

داول فريق د دليل جواب:- په دې روايت کښې لفظ د محلل په دې دلالت کوی چې حلاله صحيح کيږی ځکه چې محلل ئې ورته وئيلې دې که حلاله پرې نه صحيح کيده نو ولې به ئې ورته محلل وئيل

حلاله کونکې باندې د لعنت وجه:- په حلاله کونکی باندې لعنت ځکه کړې شوې دې چه دَ لعنت تعلق دَ حلاله هغه صورتونو سره دې کوم چه مکروه تحريمی دی هم دَ دغه صورتونو په رنړا کښې په بعضې رواياتو کښې (محلل) ته (تَيْس مُسْتَعَار) يعنی دَ عاريت بکرې وئيلې شوې دې او په زيرنظر حديث کښې په دې باندې لعنت کړې شوې دې

په محلل له د لعنت وجه:- په محلل له باندې لعنت ځکه کړې شوې دې چې د هغه مغلظه طلاق ورکولو سره دغه زوج ثاني دَ حلاله په هغه مکروه صورتونو کښې واچولو په دې وجه هغه هم دَ لعنت مستحق شو

خلاصه:- خلاصه دا چه که په حلاله کښې دغه مکروه صورتونه نه وی او په زبان حال او زبان قال سره په واضحه توګه دَ دغه ناجائز شرطونو اظهار نه وی نو فی نفسه حلاله دَ مواخذه قابل نه ده بلکه په بعضې ډيره مجبورنی کښې دَاجر قابل هم کيدې شی کله چه نيت دَ اصلاح احوال وی ځکه چه دَ قرآن په آيت کښې ﴿حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ [سورت بقره ۲۳۰] هم يو عام مفهوم دې

د حلالې ممنوع او غير صحيح صورت:- علامه ابن همام رحمه الله فتح القدير کښې دَ حلاله

ممنوع او قابل دَ لعنت دا صورت خودلې دې چه مطلقه مغلظه ښځې خپل په خپله دَ مشرد اجازت نه بغير نکاح اوکړه نوپه دې صورت کښې سره دَدې چه دويم خاوند جماع هم اوکړې دا حلاله صحيح نه ده اودَ زوج اول دپاره دا حلال کيدې نه شي او هم په دې باندې فتوى ده

[۲۲۹۸] د ايلا مسئله

۲۲۹۸—[۳] (۱) ① وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: أَدْرَكْتُ بِضْعَةَ عَشَرَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كُلُّهُمْ ② يَقُولُ: يُوقَفُ الْمُؤْلِي. رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ① او سليمان ابن يسار (تابعي) ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ لس. بلکه د دې نه هم زيات صحابه ﷺ ليدلي دي، ② چې هغوئ ټولو به دا فرمايل. چې ايلا کونکي دې ايسار کړل شي، (شرح السنه)

حل اللغات: - ① بِضْعَةَ عَشَرَ: د لسو نه زيات، ② يُوقَفُ: ايسارولې به شي. پابند کولې به شي ③ الْمُؤْلِي: ايلاء کونکې

تسهيلات:

قوله: يُوقَفُ الْمُؤْلِي:

د موقلې حصارولو مفهوم: -يعنى ايلاکونکې به حصارولې شي رابندولې به شي او هغه به دَدې پابند کولې شي چه تاکله ايلا کړې ده نو اوس دَ څلورومياشتو نه پس وطی کولو سره دَ ښځې طرف ته رجوع اوکړه يا طلاق ورکړه که چرې هغه داسې نه کوی نو هغه به قيد کولې شي او په جيل کښې به اچولې شي. دادَې جملې ظاهری مطلب دې کوم چه دَ جمهورو موافق دې

د ايلا لغوی: -په لغت کښې ايلاء قسم ته وائی

دايلا اصطلاحی تعريف: - په اصطلاح کښې ايلا دې ته وائی چه يوسړې داقسم اوخوری چه هغه به څلورو مياشتو يا دَدې نه زيات پورې خپلې ښځې سره جماع نه کوی دا ايلاده

د ايلا حکم: - که دې سړی په څلورومياشتو کښې دننه خپلې ښځې سره جماع اوکړه نو ايلا ختمه شوه داسړې حانث شواوس به دَ قسم کفاره اداکوی

د څلورو مياشتو تيريدو نه پس د طلاق واقع کيدو په کيفيت کښې مذاهب: -

① که څلورمياشتې تيرې شوې اوده رجوع اونه کړه نو د جمهورپه نيز څلورمياشتې تيريدونه پس به پخپله طلاق نه واقع کيږی بلکه ايلاکونکی ته به وئيلی شی چه يا خپلې ښځې طرف ته رجوع اوکړه يا دې ته طلاق ورکړه که چرې هغه نه طلاق ورکوی اونه رجوع کوی نوقاضی به دې په قيد کښې واچوی دې دپاره چه هغه دې يا طلاق ورکړی يا دې

۱) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ۲۳۶۲، والدارقطنى رقم الحديث ۱۴۸ من كتاب الطلاق

رجوع اوکړی خوکه دې ضدی ظالم هیڅ هم اونه کړل بلکه انکارئی اوکړو نو دې وخت کښې به قاضی دَ ده په ځائی شی اوهغه به طلاق ورکړی یعنی په دواړو کښې به دَ جدا کیدو حکم اوکړی کوم چه یو طلاق بائن دې

② دَ احنافو په نیز به دَ دغه مودې په تیریدوسره به پخپله یوطلاق بائن واقع شی دَ قاضی دَ تفریق هیڅ ضرورت نشته دې اونه به دا سړې په طلاق ورکولو یا په رجوع ورکولوباندې مجبورولې شی

داول فریق دلیل: - مذکوره روایت په ظاهره دَدوی مستدل دې ځکه چه ایلا کونکی ته دَ څلورمیاشتونه وړاندې په رجوع یا طلاق باندې نه شی مجبورولې معلومه شوه چه دَ څلورو میاشتو موده تیریدونه پس دامعامله کول دی که په موده تیریدوسره طلاق بائن واقع کیدې نو دَ (یوقف المولی) څه ضرورت وو؟

داول فریق د دلیل جواب: - دلته دَ قاضی دَ فیصلې هیڅ ضرورت نشته دې ځکه چه ایلا یوه ذاتی معامله دَ کورنئې ده دَدې قاضی اودَهغه عدالت سره هیڅ کارنشته دې دَ قاضی مداخلت په لعان کښې وی په ایلاکښې نه وی. لهذا جمهورو چه دلته دَ قاضی تفریق ته ضروری وئیلی دی دَدې هیڅ ضرورت نشته دې.

د دویم فریق دلیل: - دا آیت د دوی مستدل دې ﴿ لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَـإِنْ فَـآءُوْا فَـإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّـلَاقَ فَـإِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝ ﴾ [سورت بقره ۲۲۶.]

دآیت نه د دوؤ خبرو معلومیدل: - ① دَ ایلاکم نه کم موده څلورمیاشتې ده دَدې نه په کمه موده کښې به ایلا نه کیږی بلکه صرف قسم به وی.

② څلورمیاشتې تیریدونه پس یوطلاق بائن واقع کیږی ځکه چه آیت وائی که چرې ایلا کونکی څلورمیاشتوکښې دننه رجوع اونه کړه نوهغه هم دَ طلاق اراده اوکړه اودَ ﴿ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ ﴾نه احنافو په ځائی استدلال کړې دې

د دویم فریق دویم دلیل: - ② دَاحنافودَ مسلك مطابق لوئی لوئی صحابه کرام لکه حضرت عثمان ﷺ حضرت علی ﷺ اوحضرات عبادله ثلاثه یعنی حضرت عبدالله بن مسعود او عبدالله بن عمر او عبدالله بن عباس ﷺ تولو فرمائیلی دی چه دَ ایلا دَ مودې څلورو میاشتو تیریدوسره په ښځه باندې یوطلاق بائن واقع کیږی.

په ایلاء کښې د رجوع دوه صورتونه: - ① په ایلاکښې دَ رجوع کولو یوه طریقه خوخپلې ښځې سره جماع کول دی دا رجوع بالفعل دې

② دویمه طریقه په ژبه سره دَ رجوع کولوده کوم ته چه رجوع بالقول وئیلی شی

[۲۲۹۹] د ظهار حکم

۳۲۹۹ــ[۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: «أَنَّ سَلْمَانَ بْنَ صَخْرٍ -وَيُقَالُ لَهُ: سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ الْبَيَاضِيُّ- [۲] جَعَلَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ كَظَهْرِ أُمِّهِ حَتَّى يَمْضِيَ رَمَضَانُ، [۳] فَلَمَّا مَضَى نِصْفٌ مِنْ رَمَضَانَ وَقَعَ عَلَيْهَا لَيْلًا، [۴] فَأَتَى رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَعْتِقْ رَقَبَةً،

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسلمه ﷺ وايي چې (يو صحابي) سليمان ﷺ ابن صخر چې هغه ته سلمه ابن صخر بياضي ونيل کيږي، [۲] خپله ښځه د خان د پاره د خپلې مور د شا په شان وګرځوله، [۳] تردې چې رمضان ختم شي (يعني هغه ښځې ته دا اوويل چې د رمضان تر ختميدو ته په ما زما د مور د شا په مثل يې، ګويا دغه شان هغه خپله ښځه د رمضان تر ختميدو په خپل خان حرامه وګرځوله) خو اوس لا نيم رمضان تير شوی وو، چې يوه شپه يې د خپلې ښځې سره صحبت وکړې، [۴] بيا (چې سحر شو ، نو) هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او دا واقعه يې ورته بيان کړه، حضور ﷺ ورته وفرمايل چې يو غلام آزاد کړه،

[۱] قَالَ: لَا أَجِدُهَا قَالَ: فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، [۲] قَالَ: لَا أَسْتَطِيعُ، قَالَ: (أَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا): قَالَ: لَا أَجِدُ، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو (أَعْطِهِ ذٰلِكَ الْعَرَقَ): [۴] وَهُوَ مِكْتَلٌ يَأْخُذُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ صَاعًا (لِيُطْعِمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا)»: رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] هغه عرض اوکړو چې زه د دې استطاعت نه لرم، حضور ﷺ ورته وفرمايل چې دوې مياشتې پرله پسې روژې ونيسه، [۲] هغه عرض اوکړو چې د دې طاقت هم زما په کښې نشته (حکم خداوندي خو دا دې چې دوه مياشتې مسلسل داسې روژې ونيول شي، چې په هغه مياشتو کښې د جماع نه کُلِّيَةً پرهيز وشي، او زه د خپل جنسي هيجان په وجه تر دومره ورځو د جماع نه منع کيدی نشم) حضور ﷺ ورته وفرمايل چې په شپيتو مسکينانو طعام وخوره. هغه عرض اوکړو چې زه د دې هم استطاعت نه لرم، [۳] بيا حضور ﷺ يو بل صحابي فروه ابن عمرو ﷺ ته وفرمايل چې ده ته د خورماوو هغه عرق ورکړه (چې يو سړی راوړي وو) چې په شپيتو مسکينانو يې وخوري [۴] او عرق د خورماوو د پانړو نه جوړې شوی توکرې ته وايي، چې په هغه کښې پنخلس يا شپاړس صاع يعنی تقريباً ۱۱۲ ،۵۲ سيره يا ۵۶ سيره کجورې راځي، (ترمذي)

حل اللغات: - ① اَلْعَرَقُ: توکرئ. بوجئ. ② مِكْتَلٌ: پيمانه ③ صَاعًا: يو خاص پيمانه چه په دې کښې تقريبا ۱۱۲ ،۵۲ سيره يا ۵۶ سيره کجورې راځي.

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كفارة الظهار (رقم ۱۲۰۰)

...۳۲۲۲( ) [۱] وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ «عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ نَحْوَهُ، [۲] قَالَ: كُنْتُ امْرَءًا أُصِيبُ مِنَ النِّسَاءِ مَا لَا يُصِيبُ غَيْرِي». [۳] وَفِي رِوَايَتِهِمَا - أَعْنِي أَبَا دَاوُدَ وَالدَّارِمِيَّ -: («فَأَطْعِمْ وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ بَيْنَ سِتِّينَ مِسْكِينًا»).

ترجمه: [۱] او ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي دا روايت د سليمان ابن يسار نه او هغه د سلمه ابن صخر ﷺ نه داسې نقل کړي دي، [۲] چې په هغه کښې د حضرت سلمه ﷺ دا الفاظ هم دي، چې ما به د خپلو ښځو سره دومره قربت کولی، چې هيڅ سړی به زما برابر قربت نه کولی (نو د جنسي هيجان د دومره زياتي غلبي په وجه زه د خپلي ښځي سره د صحبت کولو نه منع نه شوم) [۳] او دي دواړو يعنی د ابوداؤد او دارمي په روايت کښې دا الفاظ دي، چې حضور ﷺ (په شپيتو مسکينانو د خوړلو په خای) دا وفرمايل چې په شپيتو مسکينانو يو وسق کجوري وخوره.

حل اللغات: - ① أُصِيبُ مِنَ النِّسَاءِ: ښځو ته به رسيدم. کنايه ده د جماع نه. ② وَسْقًا: يو خاص پيمانه چه د شپيتو صاع برابر وی.

تسهيلات:

قوله: كَظَهْرِ أُمِّهِ:

د مشكاة د نسخو اختلاف: - دَمشکوة شريف په بعضې نسخوکښې (باب المطلقة ثلاثا) نه پس (وفيه ذکر الظهار والايلاء) الفاظ عنوان کښې ذکر دی. هم په دې وجه په دې باب کښې دَ ايلاء حديث هم دې اودَ ظهار احاديث هم راغلی دی يا ايلاء او ظهار هم دَ طلاق يو قسم دې په دې وجه دَطلاق دَ ابوابو په ضمن کښې ذکر کړې شو.

قوله: كَظَهْرِ أُمِّهِ:

د ظهار تعريف: - ظهار هغې ته وائی چه يو سړې خپلې ښځې ته يا دَهغې دَبدن اهم او مشهوره حصه خپل محرمات ابديه دَ بدن هغه حصې سره تشبيه ورکړی د کومې حصې طرف ته چه دَ هغه دَ پاره کتل حرام وی لکه چه خپلې ښځې ته داسې اووائی چه ته په ما باندې لکه زما دَمور دَ شا په شان حرام ئی يا ستا سر يا خيټه زما دَمور دَ خيټې په شان ده

د ظهار حکم: - ددې الفاظو نه پس دغه ښځې سره جماع کول اوښکلول اونيزدې کيدل تول حرام دی اوکه هغه چرته دَ ظهار کفاره اداکړی بيا به جماع جائزشی دَ ظهار کفاره اداکولو نه مخکښې که چرې هغه جماع اوکړه نو په هغه باندې استغفار لازم دې صرف هم هغه دَظهار کفاره به اداکوی نوره څه جرمانه به نه راخی البته دکفاره اداکولو نه مخکښې دوباره دې جماع نه کوی

---

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق باب في الظهار (رقم - ۲۲۱٤) واحمد في المسند: ٥/٤٣٦

قوله: حَتّٰى يَنْقَضِيَ رَمَضَانُ:

د ظهار موقت حکم: - دې جملې نه معلومه شوه چه موقت ظهار جائز دې او کله چه مقرره وخت تیر شی نو ظهار به باطل شی ابن همام رحمه الله فرمائیلی دی چه کوم سړی د يو معين وخت دپاره ظهار او کړو (مثلاً داسې اووئيل چه د رمضان پورې ظهار دې) نو دا قيد لګول صحيح دی او د وخت تيريدو سره به ظهار باطل شی

قوله: أَطْعِمْ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا:

د ظهار په کفاره کښې ترتيب: - د ظهار په کفاره کښې دا ترتيب دې

① چه اول خو غلام آزادول متعين دی

② که چرې غلام نه وی نو شپيته ورځې به روژې ساتی

③ که چرې روژې نه شی ساتلې نو بيا به په شپيتو مسکينانو باندې خوراك کوی په دې درې وارو صورتونو کښې د دې کفارو ادا کولو نه وړاندې جماع کول حرام دی يعنی د غلام آزادولو نه وړاندې د روژو پوره کولو نه مخکښې او شپيتو مسکينانو ته د طعام ورکولو نه وړاندې جماع کول حرام دی که چرته د دې کفارو ادا کولو نه وړاندې ئې جماع او کړه نو کفاره پرې دوباره نه لازميږی البته استغفار کوی او د الله تعالی نه به معافی غواړی

اشکال: - شپيتو مسکينانو ته ۱۶ صاع کهجورې کفاره کښې ورکړې دې حالانکه د فقه په کتابونو کښې ليکلی دی چه که کهجورې ورکول وی نو هر مسکين ته به د صدقه فطر په اندازه برابر ورکوی په دې حساب خو شپيته صاع کهجورې کيدل پکار دی؟

د اشکال درې جوابونه: - ① رسول الله ﷺ حضرت سلمه رضی الله عنه ته او فرمائيل چه دا کهجورې په مسکينانو باندې خرچ کړه د دې مطلب دا نه وو چه پوره کفاره هم دغه وه بلکه مطلب دا وو چه څومره کهجورې موجود دی هغه تقسيم کړه او باقی د خپل طرف نه يو ځائی کړه

② هم په دې روايت کښې د ابوداؤد او دارمی په حواله سره د يووسق ذکر موجود دې او وسق د شپيتو صاع وی نو اوس هيڅ اشکال باقی پاتې نه شو ځکه چه دغه سړی ته لکه چه اووئيلې شو چه دا ۱۶ صاع واخله او د خپل طرف نه باقی کهجورې ملاؤ کړه يووسق پوره کړه

③ په نورو روايتونو کښې دا تفصيل دې چه دا سړې پخپله غريب وو نو فی الحال تولې کهجورې هم هغه ته ورکړې شوې او کفاره روستو بيا ادا کړې شوه

د کفاره ظهار په روژو کښې د تسلسل حکم: - فقهاؤ ليکلی دی چه کفاره د ظهار کښې که يو سړې روژې ساتل غواړی نو په هغه روژو کښې دا تسلسل کيدل پکار دې چه په مينځ کښې ايام منهيه رانه شی

۵ روژو په مینځ کښې د جماع کولو حکم:- د امام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت دې که ظهار کونکی د روژو په مینځ کښې جماع اوکړه نو بیا به د سره روژې نیسی مګر د امام ابویوسف رحمه الله او جمهورو مسلك دا دې چه استیناف نشته صرف استغفار دې اوکړی

په کفاره ظهار کښې د غلام د اسلام په شرط کښې مذاهب:-

① د جمهورو په نیز د ظهار کفاره کښې د مسلمان غلام آزادول ضروری دی

② احناف فرمائی چه قرآن کریم کښې مطلق غلام ذکر دې لهذا مسلمان کیدل افضل دی لیکن واجب نه دی دغه شان که غلام وی او که وینځه وی بالغ وی که نابالغ ټول جائز دی خکه چه آیت مطلق دې. د راتلونکی حدیث نمبر (۳۳۰۱) او (۳۳۰۲) تشریح هم په دې توضیح کښې راغله

[۳۳۰۱] که ظهار کونکي د کفاره ورکولو نه مخکې جماع اوکړي، بیا به هم یوه کفاره واجب وي

۳۳۰۱-[۵] (۱) ①وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ ②«عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ، ③قَالَ: كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①و سلیمان ابن یسار (تابعي) د حضرت سلمه رضي الله عنه ابن صخر نه نقل کوي ②چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغه ظهار کونکي په باره کښې، چې د کفارې د ادا کولو نه مخکې جماع وکړي ③وفرمايل چې په هغه به يواځې يوه کفاره واجب وي، (ترمذي. ابن ماجه)

حل اللغات:- ①الْمُظَاهِر: ظهار کونکې ②يُوَاقِعُ: چه واقع شی مراد ترې جماع ده

تسهیلات:

نوټ:- حدیث سره متعلقه تشریح ددې څخه وړاندې حدیث نمبر ۳۳۰۰ په تسهیل کښې ذکر شوې ده

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۳۳۰۲-[۶] (۱) ①عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا -: ②«أَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنِ امْرَأَتِهِ فَغَشِيَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ، ③فَأَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ. ④فَقَالَ: مَا حَمَلَكَ عَلَى ذٰلِكَ؟! ⑤" قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! رَأَيْتُ بَيَاضَ حِجْلَيْهَا فِي الْقَمَرِ، فَلَمْ أَمْلِكْ نَفْسِي أَنْ وَقَعْتُ عَلَيْهَا.

ترجمه: ①عکرمه د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کوي. ②چې یو سړي د خپلې ښځې سره ظهار وکړي. او بیایي د کفاره د ادا کولو نه مخکې د هغې سره جماع وکړه، ③د دې نه وروسته

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المظاهر یواقع قبل أن یکفر(رقم-۱۱۹۸) وابن ما جه فی کتاب النکاح/ المظاهر یجامع قبل أن یکفر (رقم-۲۰۶۴)
۲) اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب النکاح/ المظاهر یجامع قبل أن یکفر (رقم-۲۰۶۵)

هغه د نبي كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو، او حضور ﷺ ته يې واقعه ذكر كړه.
[۲]حضور ﷺ ورته وفرمايل چې كوم شي ته په داسې كولو آماده كړې؟ (يعني څه وجه پېښه شوه چې تا د كفارې د ادا كولو نه مخكې جماع وكړه، [۵]هغه عرض اوكړو چې د سپوږمۍ په رڼا كښې د هغه د پازيب په سپين والي زما نظر ولګيدلو . او ما د جماع كولو نه ځان منع نه كړې شو .

[۱]فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]وَأَمَرَهُ أَنْ لَا يَقْرَبَهَا حَتَّى يُكَفِّرَ» . [۳]رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ. وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ مُسْنَدًا وَمُرْسَلًا. وَقَالَ النَّسَائِيُّ: الْمُرْسَلُ أَوْلَى بِالصَّوَابِ مِنَ الْمُسْنَدِ.

ترجمه: [۱]د دې آوريدو سره) حضور ﷺ ته خندا ورغله. [۲]و هغه ته يې دا حكم وكړې چې اوس دوباره د هغې سره د هغه وخته جماع مه كوه، د څو پورې چې كفاره ادا نه كړې. [۳]ابن ماجه، ترمذي رحمه الله هم دغه شان (يعني د دې هم معنى) روايت نقل كړې دې، او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح غريب دى، او ابوداؤد رحمه الله او نسايي رحمه الله دا شان روايت مسند او مرسل نقل كړي دي، او نسايي رحمه الله ويلي دي چې د مسند په نسبت مرسل زيات صحيح دى.

حل اللغات - ①فَغَشِيَهَا:نو پته ئې كړه، جماع ئې ورسره اوكړه ②حِجْلَيْهَا:پانزيب دهغې

تسهيلات:

قوله: فَلَمْ أَمْلِكْ نَفْسِي أَنْ وَقَعْتُ عَلَيْهَا:

د مذكوره جملې مطلب:- ما دا طاقت نه لرلو چې ما خپل ځان منع كړې وې ليكن بيا مې هم جماع اوكړه . يا بۀ دا بدل وى د نفسى نه نو معنى به ئې داوى چې ددې كار په كولو كښې څه د خپل نفس مالك نه ووم

قوله: وَأَمَرَهُ أَنْ لَا يَقْرَبَهَا حَتَّى يُكَفِّرَ:

د سورة مجادله د آياتونو شان نزول:- ددې حديث پاك په ذيل كښې ملا على قارى رحمه الله دكفارې د نزول سبب بيان فرمائيلې دې كوم طرفته چې داسې اشاره ئې اوفرمائيله (وسبب نزول شريعة الكفارة في الظهار قصة خولة او خويلة بنت مالك ابن ثعلبة قالت ظاهر مني زوجي أوس بن صامت فجئت رسول الله ﷺ أشكو إليه ورسول الله ﷺ يجادلني فيه ويقول اتقي الله فإنه ابن عمك...الخ)

يعنى خوله يا خويله بنت مالك ابن ثعلبه رضي الله عنها فرمائى چې كله ماته اوس بن صامت رضي الله عنه اوفرمائيل چې (أنت كظهر أمي) نو څه د شكايت دپاره د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې

حاضره شوم او خپنو روایاتو کښې دی چې نبی کریم ﷺ ته راغله او وې اوئیل یارسول الله ﷺ کله چې خما هغه سره واده شوې وو نو هغه وخت کښې ماسره مال دولت وو اوس راسره هیڅ نشته دې ماشومان مې دی او اوس زه هم خوانه نه یم ، د یوځائې کیدو یو صورت راته اوښائې په دې باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې زما دا خیال دې چې ته په خپل خاوند باندې حرامه شوې نوپه دې باندې دې ښځې بحث شروع کړو او وې وئیل چې هغه د طلاق لفظ هم نه دې استعمال کړې اوس به څه کیږی؟ زه چرته لاړه شم وغیره وغیره

د ظهارد حکم نزول:- نو په دې باندې د سورة مجادله دا پورتنی آیت مبارک نازل شو چې ﴿قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ﴾ نبی کریم ﷺ هغې ته اووئیل چې ته خپل خاوند راوله نو هغې خاوند راوستو او دهغه په وړاندې نبی کریم ﷺ دا آیت مبارک تلاوت کړو او ورته ئې اوفرمائیل چې ته یو غلام آزاد کړه هغه اووئیل چې ما کښې د غلام آزادولو طاقت نشته دې نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې دوه میاشتې پرله پسې روژې اونیسه هغه اووئیل چې څه بوډا یم دومره روژې نشم نیولې نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې شپیتو مسکینانو ته خوراك ورکړه عرض ئې اوکړو چې ماسره دصدقې دپاره هیڅ څیز نشته دې خو که تاسو ماسره مدد اوکړئی نبی کریم ﷺ هغه سره د یو فرق کهجورو مدد اوفرمائیلو دې صحابی عرض اوکړو چې ماسره د یو بل فرق تعاون اوکړئی نو نبی کریم ﷺ هغه ته دوه فرق ورکړل یو فرق کښې شپیته صاع وی

[۱۲]بَابٌ[فِي كَوْنِ الرَّقَبَةِفِي كَفَّارَةٍمُؤْمِنَةً]

باب د مؤمني په کفاره کښي د غلام آزادول

خلاصة الباب:-

فيه حديث واحد مشتمل على مسئلة واحدة:

① كون الرقبة مؤمنة فى الكفارة إلا كفارة القتل:

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۳۰۲] د ظالم دپاره په مظلوم باندې احسان کول

۲۳۰۲-[۱] (١) ①«عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ جَارِيَةً كَانَتْ لِي تَرْعَى غَنَمًا لِي فَجِئْتُهَا وَقَدْ فَقَدَتْ شَاةً مِنَ الْغَنَمِ، ③فَسَأَلْتُهَا عَنْهَا فَقَالَتْ: أَكَلَهَا الذِّئْبُ; ④فَأَسِفْتُ عَلَيْهَا وَكُنْتُ مِنْ بَنِي آدَمَ، ⑤فَلَطَمْتُ وَجْهَهَا، وَعَلَيَّ رَقَبَةٌ أَفَأُعْتِقُهَا؟

ترجمه: ①حضرت معاویه ابن حکم ﷺ وايي چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښي حاضر شوم، ②او عرض مي اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ زما يوه وينځه ده، چې زما رمه پيايي. زه چې هغې ته ورغلم، او په رمه کښي خپله يوه بزه مي کمه وليده، ③نو ما د هغې نه د بزي (چيلئ) په باره کښي پوښتنه وکړه، چې هغه څه شوه؟ هغې اوويل چې شرمښ يو وړه. ④ماته په هغې غصه راغله، او زه د بني آدم نه يم (يعني يو انسان يم، او انسان په تقاضا د بشريت سره مغلوب الغضب کيږي) ⑤خکه هغه وينځه مي په مخ يوه چپلاخه ووهله . او دا وخت (د کفاره ظهار يا د کفاره قسم په طور يا په څه بل سبب) په ما يو برده (يعني يوه وينځه يا يو غلام) آزادول واجب دی، نو آيا زه هغه وينځه آزاده کړم (چې زما د ذمي نه هغه کفاره هم ادا شي. او د هغې په چپلاخه د وهلو په وجه چې زه په کوم ندامت او شرمندګي کښي مبتلا يم. د هغه نه هم نجات پيدا کړم)

حل لغات:- ①فَلَطَمْتُ: په څپيړه مې اووهله.

①فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (أَيْنَ اللّٰهُ؟): فَقَالَتْ: فِي السَّمَاءِ ②فَقَالَ: (مَنْ أَنَا؟): فَقَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (أَعْتِقْهَا)» رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ①حضور ﷺ (د دي اوريدو سره) هغه وينځه طلب کړه، او د هغې نه يې پوښتنه وکړه چې الله چرته دي؟ هغې جواب ورکړي چې په آسمان کې دي يعني پورته دي ②بيا يې پوښتنه ورنه وکړه چې زه څوک يم؟ هغې اوويل چې ته ﷺ د الله تعالى ﷻ رسول يې، د

(١) اخرجه مسلم فى كتاب المساجد/باب تحريم الكلام فى الصلاة، ونسخ ما كان من إباحته (رقم-٣٣ - (٥٣٧) ومالك فى الموطا كتاب العتق والولاء/باب ما يجوز من العتق فى الرقاب الواجبة (رقم-٨)

دي نه وروسته حضور ﷺ وفرمایل چي دا آزاده کړه، مالک.

[۱] وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ قَالَ: «كَانَتْ لِي جَارِيَةٌ تَرْعَى غَنَمًا لِي قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ، [۲] فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا الذِّئْبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا، [۳] وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي آدَمَ آسَفُ كَمَا يَأْسَفُونَ، [۴] لَكِنْ صَكَكْتُهَا صَكَّةً، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَعَظَّمَ ذٰلِكَ عَلَيَّ.

ترجمه: [۱] د مسلم رحمه الله په روایت کښې داسې دي چې حضرت معاویه رضی الله عنه اوویل چې زما یوه وینځه وه، چې د احد د غره او د جوانیه په اطرافو کښې به يې زما بزې (چیلۍ) پیایلې (جوانیه احد ته نزدې د یو ځای نوم دی) [۲] یوه ورځ چې ما ځپله رمه ولیده، نو ماته معلومه شوه چې شرمښ زما یوه بزه د رمې نه پورته کولو سره وړې ده، [۳] زه د بني آدمو نه یو سړی یم، او څنګه چې (د څه نقصان او تاوان په وجه) د آدم آولاد ته غصه راځي، دغه شان ماته هم غصه راغله (نو د هغه په وجه ما هم وغوښتل، چې هغه وینځه ښه ووهم) [۴] لیکن ما هغه یوه چپلاخه ووهله، بیا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم (او ټوله واقعه مې ورته بیان کړه) حضور ﷺ دا واقعه زما په حق کښې یو اهم امر وګڼلو، او وې فرمایل چې تا دا لویه ګناه کړې ده،

حل اللغات: - ② اَلْجَوَّانِيَّةِ: په جیم باندې فتحه او په واؤباندې شد دې. په مدینه کښې دَ اُحد غرسره یوځای دې دَهغې نوم دې ③ فَاطَّلَعْتُ: طاء مشدده سره دا دَ سر وراوچتولوسره کتلو په معنی کښې دې ④ آسَفُ: افسوس، ⑤ صَكَكْتُهَا صَكَّةً: نصرینصر نه صکاوصکة په مخ څپیړه وهلو ته وائی ⑥ فَعَظَّمَ ذٰلِكَ: یو اهم او لویه واقعه ئې اوګڼړله دا معامله،

[۱] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-! أَفَلَا أُعْتِقُهَا؟ [۲] قَالَ: (ائْتِنِي بِهَا). فَأَتَيْتُ بِهَا. فَقَالَ لَهَا: (أَيْنَ اللّٰهُ؟) [۳] قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ. قَالَ: (مَنْ أَنَا)، [۴] قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ: (أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ)».

ترجمه: [۱] ما عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ نو آیا زه دا وینځه آزاده کړم؟ [۲] حضور ﷺ وفرمایل چې هغه ماته راوله، ما حضور ﷺ ته راوسته، حضور ﷺ د هغې نه پوښتنه وکړه چې الله تعالی جل جلاله کوم ځای دی؟ [۳] هغې جواب ورکړې چې په آسمان کښې دی. بیا يې ورنه حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې زه څوک یم؟ [۴] هغې اوویل چې ته ﷺ د الله تعالی جل جلاله رسول يې. نو حضور ﷺ وفرمایل چې دا وینځه آزاده کړی، ځکه چې دا مسلمانه ده

تسهیلات: **قوله:** آسَفُ:

د آسف لغوی تحقیق: - په همزه باندې مدې اوسین مفتوح دې دا ماده دَ دوو بابونو نه راځي سمع‌یسمع نه دردمنداوغمګین کیدو په معنی کښې دې اودَباب افعال نه په غصه کښې دَ اچولوپه معنی کښې دې (فلما آسفونا) هم دَدې باب افعال نه دې. په دې حدیث کښې

علامه طیبی رحمه الله او ملاعلی قاری رحمه الله دواړو دا لفظ ذ غصې او غضب په معنی کښې خستې دې

قوله "أَيْنَ اللهُ":

په أين الله سره د سوال کولو مطلب:- رسول الله ﷺ دَهغه وینځې نه دا سوال دَدې وجې نه نه وو کړې چه هغه دې دَالله تعالی جهت مکان اومقام اوښائی بلکه دَ نبی کریم مقصد صرف دومره معلومات کول وو چه دا وینځه مؤحده مؤمنه ده که نه او چونکه دَ عربو دَ مشرکانو عقیده وه چه الله تعالی سره څومره هم معبودان شریك دی هغه ټول په زمکه بندې دی او په آسمان کښې چه کوم رب دې هم هغه الله دې په دې وجه چه کله وینځې جواب ورکړو چه (فِي السَّمَاءِ) نودَدې مطلب دا شو چه هغه واحد لاشریك ب دشـ ه په آسمـ ن کښې دې دَهغه هیڅوك شریك نشته دې په دې باندې نبی کریم اوفرمائیل دا آزاده کړئ دا مؤمنه مؤحده ده

په کفاره ظهار کښې غوره غلام:- افضل اوبهتر هم دغه دی چه دَ ظهارپه کفاره کښې آزاد شوې غلام یا وینځه مسلمان وی اوکه چرې مسلمان نه وی نو بیا هم دې سره کفاره اداکیږی دَ احنافو هم دغه مسلك دې البته جمهور فرمائی چه دَ غلام مسلمان کیدل ضروری دی هغوی دَ مذکوره حدیث نه استدلال کوی احناف فرمائی په قرآن کریم کښې دَ ظهاردَ کفارې ترتیب داسې دې ﴿وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ﴾ [سورة المجادلة ۲] ﴿فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ۚ﴾ [سورة المجادلة ۴.]

په دې ترتیب کښې (رقبة) لفظ مطلق دې که مسلمانه وی اوکه کافره وی البته دَحدیث دَ وجې نه مسلمانه کیدل غوره دی

تعارض:- دلته په دې دوو روایتونوکښې په ظاهره معمولی شان تضاد معلومیږی ځکه چه دَ موطامالك دَ روایت نه معلومیږی چه دغه صحابی اوفرمائیل زما په ذمه یوغلام آزادول دی نو آیا دَهغه په عوض زه دا وینځه آزادولې شم دې دَپاره چه هغه کفاره هم اداشی اودَ دې وهونکی دَ ملامتیا علاج هم اوشی

بل طرف ته دَ مسلم شریف دَ روایت نه معلومیږی چه حضرت معاویه بن حکم دغه وینځه په مخ باندې دَ وهلودَ وجې نه آزاده کړه؟

دَ تعارض جواب:- دَدې تضاد جواب دادې چه دلته څه تعارض نشته دې صرف دومره خبره ده چه دَ موطا مالك په روایت کښې تفصیل دې اودَ مسلم په روایت کښې اجمال دې

نودغه اجمال ته دَدې تفصيل په رنړا کښې کتل پکاردی چه دَ دغه صحابی په ذمه بل څه کفاره هم وه ليکن هغه غوښتل چه په هغې کښې دَ دغه وهلو دکفارې نيت هم اوکړی نوچه دا نيت به صحيح وی که نه، نونبی کريم اوفرمانيل چه داصحيح دې

[۱۳] بَابُ اللِّعَانِ

دَلعان بيان

خلاصة الباب:-

فيه عشرون حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① الملاعنة بين الزوجين: , ثبوتا ۱، ۲، ۴- - ونفيا: ۱۸-

② سبب اللعنان: , ثبوتاً،۱، ۴، ۵، ۶- - ونفياً: ۸، ۱۴-

③ التفريق والتطبيق بعد اللعان: ۱، ۲-

④ جعل الملاعنة ذنباً عظيماً في قلب الزوج والزوجة من الحاكم ۲، ۳، ۴، ۱۹-

⑤ أقسام الغيرة المتعلقة اللعان: ۵، ۶، ۷، ۱۶، ۲۰-

⑥ نفي نسب الولد عن الزوج بعد الزنا واللعان: ۱، ۲، ۹، ۱۵، ۱۶-

⑦ حكم ثبوت النسب بالشُبَه : ۱، ۴، ۹، ۱۰-

⑧ الزجرلمن يدعى النسب إلى غير أبيه: ۱۱، ۱۲، ۱۳-

⑨ عدم الرجوع في المهر بعد اللعان: ۳-

دلعان ثبوت د قرآن څخه :- قال الله تعالى ﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ۝ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ۝ ﴾ [سورت النور ۶.]

د لعان لغوی تحقيق :- لعان دَ فعال په وزن باندې دَ باب مفاعله مصدر دې دَدې ماده لعنت دې او چونکه ښځه اوخاوند يوبل دَ الله تعالى دَ رحمت نه لرې کوی يا دَ زوجيت دَ رشتې نه يوبل لرې کوی په دې وجه په لغوی اعتبارسره دې ته لعان اووئيلې شو بل په دې قسمونو کښې دَ لعنت لفظ په صراحت سره موجود دې په دې وجه هم دَدې معاملې نوم لعان کيخودې شوې دې [النور ۶.]

دَ لعان اصطلاحی تعريف :- دَ لعان په اصطلاحی تعريف کښې دَ فقهاؤاختلاف دې دَ ائمه ...اف په نيزدَ لعان تعريف داسې دې (شهادات مؤکدات بالايمان) يعنی قسمونوسره دَ ...ب کيدشوې گواهئ نوم لعان دې لهذا لعان دَ احنافو په نيزدَ گواهئ دَ قسم نه دې په دې وجه لعان کښې دَ شهادت ټول شرائط موجود کيدل ضروری دی چنانچه په نابالغ او مجنون کښې دَ شهادت اهليت نشته لهذا هغه لعان هم نه شی کولې دغه شان دَ

کافراو مسلمان خپل مینځ کښې لعان نشته دغه شان محدود فی القذف کښې هم لعان نه شی کولې خکه چه دا تول خلق د شهادت اهلیت نه لری نو دوی د لعان هم اهل نه دی د جمهورو په نیز د لعان تعریف دادې ،ایمان مؤکدات بلفظ الشهادة، د هغوی په نیز لعان د باب الیمین نه دې نو د هغوی په نیز چه کوم سړې د یمین اوقسم اهل وی هغه به د لعان هم اهل وی د هغوی په نیز محدود فی القذف او غیر مسلم کافر لعان کولې شی

د لعان حقیقت: د لعان صورت او د دې حقیقت دادې چه کله خاوند په ښځه باندې د زنا تهمت اولګوی او ښځه نې انکار اوکړی او اووائی چه تا په ما باندې د دروغو بهتان لګولې دې اوس به دا ثابته وې دغه شان دا ښځه د خپل خاوند خلاف عدالت ته تللو سره د قاضی مخکښې فریاد اوکړی قاضی به خاوند راغواړی او د دعوی د ثبوت د پاره به څلور ګواهان غواړی که چرې بهتان ثابت شو نو په ښځه به د رجم حکم نافذ کولې شی او که خاوند نې څلور ګواهان پیش نه کړې شو نو په دواړو کښې به د لعان حکم جاری کولې شی

د لعان طریقه: - اول به خاوند وائی چه زه الله تعالی ګواه جوړوم وایم چه ما په دې ښځه د زنا کوم تهمت لګولې دې زه په دې کښې رښتونې یم څلور ځل به د ښځې طرف ته اشاره کولو سره خاوند دا قسم خوری او په پنځم ځل دې دا سې قسم اوخوری که چرې زه په دې الزام کښې دروغژن یم نو په ما دې د الله تعالی لعنت وی بیا دې د دې نه پس ښځه دغه شان قسم اوخوری چه زه الله تعالی ګواه کوم وایم چه زما دې خاوند په ما د زنا دا کوم الزام لګولې دې په هغې کښې دې دروغژن دې څلور ځل داسې قسم خوړلو نه پس به په پنځم ځل ښځه داسې وائی چه دې خاوند په ما باندې کوم تهمت لګولې دې که چرې په دې کښې دې رښتونې وی نو په ما دې د الله تعالی غضب وی

د لعان په حکم کښې فائده: - یا ساتنې چه د لعان حکم د زنا د حد نه پس راغلې دې دا یوخان له قانون دې کوم چه ښځې او خاوند سره خاص دې او په دې کښې د خاوند عزت او عظمت او د هغه د غیرت احترام کړې شوې دې خکه چه که خاوند مثلاً په خپلو سترګو خپله ښځه زنا کولو سره اوکتله اوس که چرې په ژبه سره د زنا نسبت د ښځې طرف ته کوی او څلور ګواهان نشته نو هم د هغه په شا به د حد قذف اتیا کوړې لګولې شی دا یوخان له مصیبت دې اوکه د ښځې په دې خراب حرکت باندې خاموش پاتې کیږی نو ټول عمر به د وینو ګوټونه څکی او د همیشه د پاره به غیظ او غضب او غم خفګان کښې سوزیږی شریعت مطهره خاوند د دې مصیبت نه د راویستلو د پاره د زنا د حد نه جدا یوه لار راویستلې ده که چرې ګواه نه وی نو قسمونه اوخرې لعان اوکړنې اوکه د دواړو نه خاوند انکار کوی نو قاضی به هغه د دوو څیزونو نه په یو باندې عمل کولو د پاره مجبور کولو سره قید کولې هم شی ګنې حد د قذف به اولګولې شی

دَ لعان نه پس د زوجینو د تفریق په حکم کښې مذاهب:-

دَ ښځې اوخاوند په مینځ کښې چه کله دَ لعان عمل مکمل شي

① امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله اوپه یوقول کښې امام احمد رحمه الله فرمائي چه دَ لعان نه پس به دَ ښځې اوخاوندپه مینځ کښې پخپله جدائي او فرقت راشي دَ قاضي دَ تفریق او دَهغه دَ فیصلې ضرورت نشته دې

② ائمه احناف او په یوقول کښې امام احمد رحمه الله فرمائي چه صرف په لعان کولوسره به په ښځه اوخاوند کښې تفریق نه راځي بلکه دَ قاضي دَ قضاء به ضرورت پیښیږي

د اول فریق اول دلیل:- دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوحضرت عمر فاروق رضي الله عنه یورروایت او اثر د دوی مستدل دې کوم چه عبدالرزاق په مصنف کښې نقل کړې دې دَهغې الفاظ دادي (المتلاعنان لایجتمعان ابدا)

طرز دَ استدلال داسې دې چه په دغه روایت کښې خودلې شوی دی چه دَلعان کولونه پس ښځه اوخاوند هیڅ کله یوځائې نه شي اوسیدلې که چرې په لعان باندې جدائي رانغله نو دې سره به دَ ښځې اوخاوند په مینځ کښې اجتماع لازم راځي کوم چه دَدې روایت دَ تصریح خلاف دې

د اول فریق د اول دلیل دوه جوابونه:- ① د ابن مسعود رضي الله عنه اثر د مرفوع حدیث په مقابله کښې حجت نه دې

② ددې اثرڅخه مراد دا دې چې د تفریق څخه روسته اجتماع نشي کیدې دا تاویل ددې وجې کولې شي چې د مرفوع حدیث سره تعارض رانشي

داول فریق دویم دلیل:- ③ دا اول فریق دویم فریق ته الزامي دلیل پیش کوي لکه څنګه چې تاسو د ایلاء په مسئله کښې صرف د ایلاء مدت تیریدو سره د زوجینو د جدائي قائل يي اود قاضي تفریق ته ضرورت نه ګڼرئ نودغه شان دلته د لعان په صورت کښې هم په نفس لعان باندې د زوجینو جدائي پکار ده د قاضي د تفریق څه ضرورت نه دې پکار

داول فریق د دویم الزامي دلیل جواب:- پاتې شوه دَ ایلا مسئله نولعان په ایلا باندې قیاس کولې نه شي څکه چه ایلا یوه ذاتي کورنئ معامله ده په کوم کښې چه دَ قاضي مداخلت نشته دې باقي (المتلاعنان لایجتمعان ابدا) مطلب دادې چه دَ لعان دَ تکمیل نه پس دَ ښځې خاوند جدائي دَ همیشه دَپاره ده او په دې مطلب کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې اونه دَ مطلب دَ چاخلاف دې

د دویم فریق دلیل:- دَحضرت عویمر عجلاني رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا الفاظ راغلي دي (کذبت علیها ان امسکتها فطلقها ثلاثا)

د روايت نه د دوو څېرو ثبوت: ـ د لعان نه پس درې طلاقه ورکړې شو که چرې په لعان سره پخپله جدائی واقع کيدله نو د دريو طلاقو څه ضرورت وو
ـ يوځائی باندې درې طلاقه نافذ کيږی دريمه خبره دا واضحه شوه چه حضرت عويمر رضی الله عنه پخپله فرمائی که اوس د لعان نه پس ما دا ښځه خپل خان سره پاتې کړه نو دا دې مطلب به داشی چه ما په دې ښځه باندې دروغ ونيلی دی په دې وجه زه دې ته طلاق ورکوم دا بيان د دې واضحه دليل دې چه صرف په لعان سره جدائی نه واقع کيږی که چرې دې سره جدائی کيدله نو عويمر رضی الله عنه به هيڅ کله هم دا بيان پخپله نه شوو رکولې
۲ د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د دې باب د دويم حديث د دوی مستدل دې په هغې کښې دا الفاظ دی (ففرق بينهما) د دې ټولو رواياتو نه معلوميږی چه صرف لعان د جدائی سبب نه دې بلکه د قاضی د مداخلت ضرورت شته دې.
۳ د سنن ابی داؤد يو حديث هم د دوی مستدل دې چه هم د عويمر عجلانی رضی الله عنه قصه ده په دې کښې دا الفاظ راغلی دی د کوم نه چه معلوميږی چه د لعان نه پس تفريق کول مسنون طريقه ده (فمضت السنة بعد فی المتلاعنين ان يفرق بينهما ثم لا يجتمعان ابدا) (ابوداؤد ج۱ص۳۰۶)
۴ عقلی دليل د دوی مستدل دې څکه چه د لعان ټوله معامله د قاضی عدالت سره تړلې ده په کوم کښې چه دعوی ده ګواهی ده او قسم دې کله چه دا ټوله معامله د عدالت لاندې روانه ده نو د زوجين د تفريق معامله ولې د عدالت د اختيار نه بهر کولې شی؟

په زنا کښې د قتلولو حکم: ـ که يو سړی خپله ښځه په زنا کښې پخپله اوليدله نو آيا هغه دا قتل کولې شی که نه؟
په دې کښې کافی تفصيل دې خلاصه داده که چا خپله ښځه د زنا په حالت کښې اوليدله او د غيرت په جوش کښې ئې دواړه قتل کړل نو اميد دې چه د الله تعالی په نيزبه ئې نيول نه کيږی فقهاؤ داجمله ليکلې ده (وله قتلهما) چه خاوند دواړه قتل کولې شی ليکن چونکه د ظاهری شرعی قواعدو په دې اقدام سره خلاف ورزی شوې ده په دې وجه جمهور علماء فرمائی چه په شرعی عدالت کښې به داسړې راوستلې شی او په قصاص کښې به وژلې شی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳۰۴] د رسالت په دربار کښې د لعان یوه واقعه

۳۳۰۴—[۱] (۱) ۱عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «إِنَّ عُوَيْمِرًا الْعَجْلَانِيَّ قَالَ: ۲يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُونَهُ؟ ۳أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ؟!

ترجمه: ۱حضرت سهل ابن سعد ساعدي ﷛ وایي چې (یو صحابي) عویمر عجلاني ﷛ (په دربار رسالت کښې په حاضریدو سره) عرض اوکړو ۲چې یا رسول الله ﷺ ماته د هغه سړي په باره کښې وښایه، چې د خپلې ښځې سره یو اجنبي سړي پیدا کړي (او هغه ته دا یقین وي، چې هغه سړي د هغه د ښځې سره زنا کړي ده) نو آیا هغه سړی قتل کړي؟ که هغه قتل کړي، نو د (مقتول وارث به هغه قتل کړي، ۳نو په داسې صورت کښې هغه څه وکړي؟ (آیا په دې عار صبر وکړي، یا څه اقدام وکړي)

۱فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (وَقَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ، فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا). ۲قَالَ سَهْلٌ: فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ، أَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ: كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا، فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا،

ترجمه: ۱رسول الله ﷺ (د دې اوریدو سره) هغه ته وفرمایل چې ستاسو د ښځې او خاوند په قضیه کښې وحي نازله شوي ده، لاړ شه خپله ښځه راوله. ۲حضرت سهل ﷛ وایي چې عویمر ﷛ خپله ښځه راوشته. او ښځې و خاوند (په مسجد نبوي کښې) لعان وکړي. او زه هم هغه وخت د نورو خلقو سره د حضور ﷺ سره موجود وم. ۳کوم وخت چې هغه دواړه ښځه وخاوند د لعان نه فارغ شو، نوعویمر (یعني خاوند) اوویل چې که زه دا ښځه د خان سره ساتم، نو ګویا ما په دې د دروغو تهمت لګولی دی. د دې نه وروسته هغه هغې ښځې ته درې طلاقه ورکړل

۱ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲(انْظُرُوا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَسْحَمَ، أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ، عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ، خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ، ۳فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا، ۴وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهُ وَحَرَةٌ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا.

ترجمه: ۱بیا رسول الله ﷺ وفرمایل ۲چې که دا ښځه (د خپل موجوده حمل نه) داسې وړوکی راوړي. چې د هغه رنګ تور، سترګې یې ډیرې تورې وي. د غټو کوناټو والا وي.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطلاق /باب اللعان. ومن طلق بعد اللعان (رقم ۵۳۰۸) ومسلم فی کتاب اللعان (رقم ۱- ۱۴۹۲) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق، باب فی اللعان (رقم ۲۲۴۵) والنسائی فی کتاب الجهاد /باب: بدء اللعان (رقم ۳۴۶۶) وابن ماجه فی کتاب النکاح / باب اللعان (رقم ۲۰۶۶) ومالک فی الموطا کتاب الطلاق باب ما جاء فی اللعان (رقم ۳۴) واحمد فی المسند: ۳۳۴/۵

او دواړي پندى يې غوښني وي، [۳] نو زه به د دې نه علاوه نور هيڅ نه گنم، چې عويمر د دى ښځى په باره کې څه ويلى دى، رښتيا يې ويلى دى (څکه چې عويمر ﷺ د کوم سړى طرف ته د زنا نسبت کړى دى، هغه د دې رنگ او صورت دې، او هر کله چې د هغه د شباهت وروکى پيدا شي، نو دا به ويلى شي چې د هغه د نطفې نه دې) [۴] او که ښځې داسې بچې راوړو چې د هغه رنگ سور وي، نو بيا زه د دې نه علاوه نور څه نه گنم، چې عويمر ﷺ د هغه په باره کښې دروغ ويلي دي (يعني عويمر ﷺ د سور رنگ دې، خکه د ماشوم رنگ به هم سور وي، نو گڼل کيږى به چې بچې د عويمر ﷺ د نطفې نه دى. او عويمر ﷺ په ښځه د دروغو تهمت لگولى دى)

حل اللغات:- ① أَسْحَمَ: تور رنگ والا ② أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ: تورو ، غټو سترگو والا ③ عَظِيمَ الْأَلْيَتَيْنِ: غټو کوناتو والا ④ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ: غټو غوښنو پندو والا. ⑤ أُحَيْمِرَ: سور رنگ والا. ⑥ وَحَرَةٌ: (دابة صغيرة على شكل سام أبرص) کربوري.

[۱] فَجَاءَتْ بِهِ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ تَصْدِيقِ عُوَيْمِرٍ، [۲] فَكَانَ بَعْدُ يُنْسَبُ إِلَى أُمِّهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] کوم وخت چې وروکى پيدا شو، نو د هغه هغه رنگ او صورت وو کوم چې رسول الله ﷺ د عويمر ﷺ د تصديق د پاره ذکر کړى وو، (يعني هغه وروکى د هغه سړي د شباهت وو، چې د هغه طرف ته عويمر ﷺ د زنا نسبت کړى وو، گويا د عويمر ﷺ خبره رښتينې ثابته شوه) [۲] د دې نه وروسته به هغه وروکى د حضور ﷺ د دې ارشاد اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ ، مطابق د خپلې مور طرف ته منسوب کيدي ، (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا:

د ښځې سره پردې سړي په زنا باندې د ليدلو حکم: - که يو کس خپلې ښځې سره پردې سړي په زنا باندې اوليدلو نو خاوند هغه قتلولې شى که نه؟ او که قتل نې کړلو نو داسلامى قانون مطابق هغه د مرگ د سزا مستحق دې او که نه ده؟ په دې باره کښې مفسرينو مختلف اقوال ذکر کړى دى دجمهور په نيزدا کس د مرگ مستحق دې خوځه صورتونه داسى دى چې په هغې کښې د مرگ د سزا څخه بچ کيدې شى که دا خاوند څلور گواهان پيش کړى چې دده ښځې زنا کړې ده يا د مقتول وارثان ددې گواهى ورکړى چې آو زمونږ دې مقتول دده دښځې سره زنا کړې ده نو په دې صورت کښې دا خاوند د مرگ د سزا څخه بچ کيدې شى خو که خاوند د خپلې ښځې په زنا باندې گواهان پيش نکړې شو يا د مقول وارثانو د مقتول د زنا اعتراف او اقرار اونکړو نو په دې صورت کښې به دا خاوند د مرگ مستحق وى نو که دا خاوند عندالله مجرم نه دې خو قضاء به ده ته د مرگ سزا

ورکولې شي ځکه چې شریعت د ده ته په مذکوره صورت کښې د دغه زاني کس د قتل اجازت نه ورکوی

[۳۳۰۵] دلعان په صورت کښې د ښځې او خاوند په مینځ کښې د جدایي مسئله

۳۳۰۵—[۲] (۱) ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَاعَنَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَتِهِ ۲ فَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا، فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا، ۳ وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر ﷺ وایي چې نبی کریم ﷺ د هغه سړي او د هغه د ښځې په منځ کښې د لعان حکم وکړي، ۲ نو (د هغه لعان په وجه، هغه سړی د هغې ښځې د ماشوم نه لرې شو یعنی د ماشوم نسب د هغه سړي نه لرې شو) او حضور ﷺ د ښځې او خاوند په منځ کښې جدایي وکړه، ۳ او ماشوم یې ښځې ته حواله کړي. (بخاري مسلم)

۱ وَفِي حَدِيثِهِ لَهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَعَظَهُ، وَذَكَّرَهُ ۲ وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ، ۳ ثُمَّ دَعَاهَا فَوَعَظَهَا، وَذَكَّرَهَا، ۴ وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ.

ترجمه: ۱ او د حضرت ابن عمر ﷺ په یو بل روایت کښې چې بخاري او مسلم نقل کړی دی دا الفاظ دي چې حضور ﷺ هغه سړي ته نصیحت وکړي، او د آخرت عذاب یې ورته په یاد کړي (چې هغه دروغ ونه وایي، او په ښځه ناحق الزام ثابت نه کړی) ۲ او هغه یې د دې خبرې نه آګاه کړي، چې د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه آسان دي. ۳ بیا حضور ﷺ هغه ښځه راوغوښتله، هغه ته یې هم نصیحت وکړي او د آخرت عذاب یې ورپه یاد کړي، ۴ او آګاه یې کړه، چې د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه آسان (معمولي) دي

تسهیلات: نوټ: د زوجینو په مینځ کښې د تفریق په مسئله کښې مذاهب د لعان د باب په اول کښې ذکرشوی دی هغې ته رجوع اوکړئ

[۳۳۰۶] دلعان کونکو محاسبه به په آخرت کښې وي

۳۳۰۶—[۳] (۲) ۱ وَعَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ: "حِسَابُكُمَا عَلَى اللّٰهِ، ۲ أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا": ۳ قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! مَالِي. قَالَ: "لَا مَالَ لَكَ، إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا، ۴ وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا فَذَاكَ أَبْعَدُ وَأَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الطلاق/باب يلحق الولد بالملاعنة (رقم-۵۳۱۵) ومسلم فی کتاب اللعان (رقم-۸ - (۱۴۹۴) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/ باب فی اللعان (رقم-۲۲۵۹) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: نفی الولد باللعان وإلحاقه بأمه (رقم-۳۴۷۷) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ باب اللعان (رقم-۲۰۶۹) واحمد فی المسند: ۱۱/۲

۲) اخرجه البخاری فی کتاب الطلاق/باب المتعة للتی لم يفرض لها (رقم-۵۳۵۰) ومسلم فی کتاب اللعان (رقم-۵ - (۱۴۹۳) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/ باب فی اللعان (رقم-۲۲۵۷) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی اللعان (رقم-۱۲۰۳) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: اجتماع المتلاعنين (رقم-۳۴۷۶)واحمد فی المسند: ۱۱/۲

ترجمه: [۱]او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ لعان کونکي سړی او ښځي ته وفرمايل چې (مونږ يواځی د ظاهري احوال او وجوه په بنياد څه حکم نافذ کولی شو، او هغه مونږ د لعان په صورت کښي نافذ کړي دي، البته) ستاسو احتساب به د الله جل جلاله سره وي، [۲]ځکه چې (د نفس الامر او حقيقت په اعتبار سره) په تاسو دواړو کښي يو ضرور دروغجن دی (بيا حضور ﷺ سړي ته وفرمايل چې) اوس د ښځي په باره کښي ستا د پاره هيڅ لار نشته (يعني د لعان نه وروسته د دې ښځي سره ستا اوسيدل جائز نه دی، ځکه چې دا ستا د پاره د هميشه د پاره حرامه شوي ده) [۳]سړي عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ او زما مال (يعني ما چې ښځي لره کوم مهر ورکړي دی، آيا هغه به زما نه ولاړ شي؟) حضور ﷺ ورته وفرمايل چې په هغه مال ستا هيڅ حق نشته (يعني د ورکړي مهر د واپس آخستو تا ته هيڅ حق حاصل نه دی، ځکه) که تا د هغه ښځي په باره کښي رښتيا ويلي دي يعني ستا د وينا مطابق که هغي ښځي واقعتًا بد کاري کړي ده، نو هغه مال د هغه شي بدله شوه، چې تا د هغه شرمګاه حلاله کړي ده، [۴]او که تا د هغي ښځي په باره کښي دروغ ويلي دي، نو په دي صورت کښي د مهر بيرته آخستل د هغی نه هم بعيد دی. او ستا نه هم بعيد دی، نو د دروغ ويلو په صورت کښي خو بدرجه اولی تا لره هغه مهر واپس آخستل نه دی پکار. (بخاري، مسلم)

تسهيلات: قوله: حِسَابُكُمَا عَلَى اللهِ، أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ:

په متلاعنينو کښي د يو دروغژن کيدل:- تاسو په دنيا کښي په يو بل باندي قسمونه خوړل او لعان مو کړي وو. خو ددي حقيقت الله ﷻ ته معلوم دي چې څوک رښتوني دي او څوک دروغژن آخرت کښي به الله ﷻ تاسو سره ددي حساب کوی او دا يقيني خبره ده چې يو دروغژن د ی

قوله: إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا، فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا:

د ملاعن د پاره د مهر د نه واپس کولو حکم:- په دي کښي اشاره ده چې کوم کس دخپلي بی بی سره لعان اوکړی نو هغه دي د خپلي بی بی نه د مهر واپسی نه کوی چې کله ده بی بی سره دخول کړي وی

ملاعنه سره د عدم جماع په صورت کښي مذاهب:-

① که ده بی بی سره دخول نه وی کړي نو د حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام شافعی رحمه الله په نزد د نيم مهر رجوع کولي شی

② عند البعض دټول مهر د واپسی حقدار دي

③ داحنافو په نزد لعان کوونکی د مهر رجوع نشی کولي لعان سره په مهر باندي هيڅ

اثر نه پريوزي او كه هغه كس دروغژن وي نو بيا خو په طريق اولى د خپلې بي بي مهر واپس نشي اخستې

[۳۳۰۷] د آيت د لعان شان نزول

۳۳۰۷-[۳] (۱) ۱وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-: ۲«أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ» ۳فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "الْبَيِّنَةَ أَوْ حَدًّا فِي ظَهْرِكَ".

ترجمه: ۱او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ۲چې (يو صحابي) هلال ابن اميه رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ په مخكې په خپلې بي بي د شريک ابن سحماء صحابي رضي الله عنه سره د زنا تهمت ولګولی (يعني هلال رضي الله عنه اوويل چې شريک ابن سحماء زما د ښځې سره زنا کړي ده) ۳نبي كريم ﷺ هلال رضي الله عنه ته وفرمايل چې (د خپل الزام په ثبوت كښې) ګواه پيش کړه، ګينې (د دروغو د تهمت په جرم كښې) به ستا په شا حد جاري كيږي (يعني اتيا دورې به وهل كيږي)

حل اللغات: -①قَذَفَ: د زنا تهمت ئې اولګولو ②حَدًّا: شرعي سزاګانې كومې چه قرآن سره ثابتې وي.

۱فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا ۲يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ؟ ۳فَجَعَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ": ۴فَقَالَ هِلَالٌ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ، ۵فَلَيُنْزِلَنَّ اللهُ مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ،

ترجمه: ۱هلال رضي الله عنه عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ كه په مونږ كښې يو سړی د خپلې ښځې سره په بدكاري مبتلا ووينې، ۲نو آيا هغه شاهد تلاش كولو له ولاړ شي؟ (يعني اول خو په داسې صورت كښې دومره موقع چرته وي، چې څوک شاهد كړي بيا دا چې د شاهد كولو د پاره به هغه خاى كې څوک وي) ۳ليكن نبي كريم ﷺ دا فرمايل چې شاهد پيش كړه. ګينې ستا په شا به حد جاري كيږي ، ۴بيا هلال رضي الله عنه عرض اوكړو چې قسم دې په هغه پاک ذات چې ته يې د حق سره پيغمبر راليږلې يې، زه رښتينې يم، ۵زما يقين دى چې الله تعالى جل جلاله به ضرور څه داسې حكم نازل كړي، چې زما شا به د حد نه خلاصه كړي،

حل اللغات -①يَنْطَلِقُ: هغه به ځي، لاړ شي. ②يَلْتَمِسُ: چه اولټوي، تلاش كړي.

۱فَنَزَلَ جِبْرِيلُ، وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ﴾ [النور: ۶]: فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ ﴿إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ﴾ [النور: ۹] ۲فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "إِنَّ اللهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ، فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟" ۳: ثُمَّ قَامَتْ، فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ ۴وَقَفُوهَا، وَقَالُوا: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ،

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب {ويدرأ عنها العذاب أن تشهد أربع شهادات بالله إنه لمن الكاذبين} [النور: ۸](رقم-۴۷۴۷) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق/ باب في اللعان (رقم-۲۲۵۴) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة النور(رقم-۳۱۷۹) وابن ماجه في كتاب النكاح/ باب اللعان (رقم-۲۰۶۷)

ترجمه: [۱] آخر (څه وخت وروسته) حضرت جبرائيل ﷺ تشريف راوړو، او په حضور ﷺ باندې دا آيتونه نازل شوه: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ، الآية (يعني كوم خلق چې په خپلو بيبيانو تهمت لګوي الخ) بيا د دې نه وروسته آياتونو تر اِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِيْنَ پورې تلاوت وكړي، [۲] د دې نه وروسته هلال ﷺ په دربار رسالت كښې حاضر شو، او شاهدي يې وركړه (يعني د لعان چې كوم تفصيل وروسته بيان شوى دى، هغه ښځه خله د شاهدى په ذريعه لعان اوكړو) او نبى كريم ﷺ به دا فرمايل چې بيشكه الله تعالى پوهيږي ﷻ چې په تاسو كښې يو دروغجن دى، نو په تاسو كښې څوك دي، چې توبه وباسي، [۳] د هغه نه وروسته د هلال ﷺ ښځه ودريدله او لعان يې وكړي (يعني څلور خله يې د پاكدامني شهادت وركړي) او هر كله چې په پنځم خل شاهدى يې وركوله [۴] نو (صحابه وو ﷺ) هغه منع كړه، او ورته يې اوويل چې ښه سوچ وكړه، دا پنځمه شاهدى به (ستاسو دواړو په منځ كښې) جدايي واجب كړي (يا كه ته دروغجنه يې نو د آخرت عذاب به واجب كړي)

حل اللغات: ⑤ يَرْمُونَ: الزام، تهمت لګوى. ⑥ وَقَّفُوهَا: خلقو منع كړه هغې لره (د قسم خوړلو نه)

> [۱] فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا تَرْجِعُ، [۲] ثُمَّ قَالَتْ: لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ، فَمَضَتْ. [۳] وَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "أَبْصِرُوهَا، [۴] فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ، خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ، فَهُوَ لِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ)"؛

ترجمه: [۱] ابن عباس ﷺ وايي چې هغى ښځه ايساره شوه او وروسته شوه (يعني هغه په پنځم خل شاهدى وركولو كښې په سوچ كښې شوه) نو مونږ دا ګمان وكړي چې دا به د خپلې خبرې نه واوړي، [۲] ليكن بيا هغى اوويل چې زه (د لعان نه بچ كيدو سره او د خپل خاوند د الزام د تصديق كولو سره) خپل قوم تول د عمر د پاره نه رسوا كوم (د دې ويلو سره) هغه پنځمه شاهدى هم پوره كړه (دغسې چې لعان پوره شو او حضور ﷺ د دواړو په منځ كښې جدايي وكړه، نو) [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې دې ته ګوري، [۴] كه دې داسې ماشوم راوړو چې د هغه سترګې تورې، كوناټې درانه، او پندې يې غټې وى، نو هغه وړوكى به د شريک ابن سحماء وى، (څكه چې شريک دغسې دى)

حل اللغات: ⑦ فَتَلَكَّأَتْ: ايساره شوه. توقف ئې اوكړو . په سوچ كښې شوه ⑧ وَنَكَصَتْ: او روسته شوه. تاخير ئې اوكړو ⑨ لَا أَفْضَحُ: زه نه شرموم. نه رسوا كوم ⑩ فَمَضَتْ: نو پوره ئې كړه. ⑪ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ: درانه يا غټو كوناټو والا (څرب والې ترې مراد دي)

> [۱] فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ، فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللَّهِ; لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] كوم وخت چې هغه ښځې وړوكى راوړو (چې د شريک مشابه وو) نو حضور ﷺ وفرمايل [۲] چې كه د كتاب الله مذكوره حكم نه وايې (او د دې نه واضحه كيږي، چې په

لعان کونکو تعزير نه جاري کيږي ، نو ما به د دې ښځې سره دويمه معامله کړې وه . يعني د شريک سره د دې ماشوم د مشابهت د هغه ښځې د بدکاري يوه واضحه قرينه ده ، ځکه چې د هغه په دې بدکاري ما هغه ته داسې سزا ورکړې وه ، چې د خلقو د پاره به عبرت وو بخ ري

تسهيلات: قوله: (فَلَيُنْزِلَنَّ اللّٰهُ)

د لعان د حکم اولني نافذ عليه :- دَ لعان حکم شعبان ۹ھ کښې راغلې دې دَ ټولو نه اول د لعان حکم په هلال بن اميه باندې نافذ شوې وو دې نه مخکښې دَ عويمر عجلانی روايت کښې فقد انزل فيک، دَ الفاظو نه معلوميږي چه دَ لعان حکم هم دَدوی باره کښې نازل شوې وو ليکن علماؤ داتطبيق ورکړې دې چه دَ لعان حکم عام دې نودَ هريوباره کښې ونيلې کيدې شی چه هم ستامتعلق داحکم راغلې دې . يااصل حقيقت خودا دې چه حکم خودَ عويمرباره کښې نازل شوې وو مگر په دې باندې عمل هلال بن اميه دَ اول نه اوکړو يا ممکن ده چه دَ دواړو متعلق آيت نازل شوې وی.

د حديث د بعض الفاظو وضاحت :-

① اَلْبَيِّنَةَ: يعنی گواه پيش کړه دا لفظ منصوب دې

② إِنَّهَا مُوجِبَةٌ: يعنی په پنځم خل قسم خوړل به دَ لعان حکم ثابت کړی او په آخرت کښې به عذاب واجب کړی

③ سَائِرَ الْيَوْمِ: يعنی دَ هميشه دَپاره خپل قوم رسوا کولې نه شم په دې جملې سره لکه چه دغه ښځې دَ خپل جرم اقرار اوکړو بيا دې عاجزې ته پته اونه لگيدل چه هغې قسم خوړلو سره خه پټ کړه او خه ئې ښکاره کړه

[۳۳۰۸] دَ زنا تهمت دَ څلورو گواهانو په ذريعه ثابتيږي

۳۳۰۸-[۵] (۱) ⓵وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ: لَوْ وَجَدْتُ مَعَ أَهْلِي رَجُلًا لَمْ أَمَسَّهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ؟ ⓶قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَهُ: "نَعَمْ". قَالَ: كَلَّا،

ترجمه: ⓵او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې سعد بن عباده رضی الله عنه اوويل که زه يو غير سړي د خپلې ښځې سره ووينم نو د څو پورې چې څلور شاهدان راجمع نه کړم، هغه ته به لاس نه وروړم؟ يعني هغه به نه قتلوم؟ ⓶رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هو، سعد رضی الله عنه اوويل چې هيڅ کله نه،

حل اللغات: - ①لَمْ أَمَسَّهُ: لاس به نه وراوړوم، نه به ئې قتلوم،

۱) اخرجه مسلم فی کتاب اللعان (رقم-۱۶ - (۱۴۹۸)

۱ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ كُنْتُ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ قَبْلَ ذٰلِكَ. ۲ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ، ۳ إِنَّهُ لَغَيُورٌ، وَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ، وَاللّٰهُ أَغْيَرُ مِنِّي». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ قسم دې په هغه ذات، چې ته ﷺ يې د حق سره رالېږلې يې، مخکې د دې نه چې زه څلور شاهدان راجمع کړم، سمدستي به په توره سره د هغه خاتمه وکړم، ۲ حضور ﷺ (حاضرين د مجلس مخاطب کولو سره) وفرمايل واورئ چې ستاسو سردار (يعني سعد رضي الله عنه) څه وايي؟ ۳ بيشکه دې غيرت مند دې، زه د ده نه زيات غيرت مند يم، او الله تعالى ﷻ زما نه زيات غيرت مند دى، (مسلم)

حل اللغات: - ۞ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ: زه به ئې زر تر زره په توره وهم، ۞ لَغَيُورٌ: دې غيرت مند دې ۞ أَغْيَرُ: زه زيات غيرت مند يم

تسهيلات:

قوله: اسْمَعُوا إِلَى مَا يَقُولُ سَيِّدُكُمْ:

اشکال: - دلته دا سوال پيدا کيږي چه دَحضرت سعد رضي الله عنه دَ کلام نه په ظاهره معلوميږي چه هغه دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاد مبارك مخالفت کړې دې حالانکه هغه دَ ډير لوئى شان والا صحابى دې

د اشکال جواب: - دَدې جواب دادې چه حضرت سعد رضي الله عنه دَ ارشاد نبوی مخالفت نه دې کړې بلکه هغه دَ خپل طبيعت اوپتو جذباتو او باطنى کيفيت اظهار فرمائيلې دې چه زما دَ کيفيت اوغيرت خو دا حال دې که چرې ماپه داسې حالت کښې يوسړې خپلې ښځې سره اوليدلو نودَ يوګواه دَ انتظار نه وړاندې به هغه قتل کړم او وريت به ئې کړم حالانکه دَ شريعت حکم بل دې نوزه به څه کوم؟ په دې باندې نبى کريم دَ مجلس حاضرينوته اوفرمائيل واورئى ستاسو سردار څه وائى لکه چه نبى کريم دَ حضرت سعد رضي الله عنه دَ دغه طبعى کيفيت اوغيرت تعريف اوکړو چه دا ستاسو سردار دې اودَ سردارانو په طبيعت کښې دا جذبات وى ليکن دَ شريعت حکم داسې نه دې بلکه دَدې برعکس دې نبى کريم دَ حضرت سعد رضي الله عنه دَ خبرې تائيد اونه کړو بلکه دَهغه عذرئى بيان کړو حضرت مظهر رحمه الله فرمائى چه حضرت سعد رضي الله عنه دَ حضور پاك حکم رد کړې نه دې بلکه دَهغه دَ سوال مقصد دا وو چه دَ نبى کريم دَطرف نه اجازت ملاؤشى چه په داسې حالت کښې دغه شان سړې قتل کړې شى نبى کريم دَ قتل کولونه انکار اوکړو اوبليغ اندازکښې ئې حضرت سعد رضي الله عنه پوهه کړو په کوم چه حضرت سعد رضي الله عنه خاموشى اختيار کړه.

[۳۳۰۹] د الله له زیات هیڅوک غیرتمند نشته

۳۳۰۹ــ[۶] ( ) ①وَعَنِ الْمُغِيرَةِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ: لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِي ③لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفِحٍ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: ①او حضرت مغیره ﷺ وایي ②چې حضرت سعد ﷺ دا اوویل که زه یو غیر سړي د خپلې بي بي سره ووینم، ③نو هغه به زه په توره سره قتل کړم. او د توري د شا جانب نه نه، بلکې د تیز والا جانب نه یې قتل کړم (حاصل دا چې په توره سره د هغه خاتمه وکړم) رسول الله ﷺ ته چې دا خبره ورسیده (چې سعد ﷺ دغه شان وایي)

حل اللغات - ①غَيْرَ مُصْفِحٍ: د توري پس اړخ، دشا طرف چه په هغې سره وینه نه اوځي.

①فَقَالَ: أَتَعْجَبُونَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ؟ ②وَاللهِ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ، وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي، ③وَمِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ اللهِ حَرَّمَ اللهُ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، ④وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللهِ، مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ بَعَثَ الْمُنْذِرِينَ وَالْمُبَشِّرِينَ، ⑤وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللهِ، وَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ وَعَدَ اللهُ الْجَنَّةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①نو حضور ﷺ صحابه وو ﷺ ته وفرمایل چې آیا تاسو ته د سعد ﷺ په دي (غیر معمولي) غیرت تعجب دی؟ ②قسم په خدای زه یقینا د هغه نه زیات غیرتمند یم، او الله ﷻ زما نه زیات غیرتمند دی، ③او الله ﷻ د خپل غیرت په وجه ټول ګناهونه حرام کړي دي. که هغه ظاهري ګناه وي یا پټه ګناه وي، ④او عذر د الله تعالی ﷻ نه زیات هیڅوک محبوب نه لري. ځکه الله تعالی ﷻ بیرونکی او بشارت ورکونکي (یعني پیغمبران) رالیږلي دي. ⑤او تعریف کول د الله تعالی ﷻ نه زیات هیڅوک نه خوښوي، او په دي سبب الله تعالی ﷻ د جنت وعده کړي ده. (بخاري، مسلم)

حل اللغات -②الْمِدْحَةُ: مصدر دي تعریف کول.

تسهیلات: **قوله:** غَيْرَ مُصْفِحٍ:

د مصفح مفهوم: -دَدي مطلب دادي چه دَ توري په تیره مخ به نی وهم په غاړه یا شاسره اویاپه پلنوباندي به نی نه وهم مرادقتل کول دی مُصفح دَمیم ضمه صاد ساکن اوفاء کسره سره هم دي کوم چه دَ ضارب صفت دي اوکه چرې فاء باندي فتحه ده نودابه دَ توري صفت جوړشی بعضې فاء مشدد لوستلې ده ټول حال واقع دی

قوله: وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي:

دغیرت تعریف: - دَسړی.دَدننه کیفیت دَ دي تغیرنوم غیرت دي چه دَ خپل بال بچ متعلق

---

١) اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لا شخص أغير من الله» وقال عبيد الله بن عمرو، عن عبد الملك: «لا شخص أغير من الله»(رقم-٧٤١٦) ومسلم في كتاب اللعان (رقم-١٧ - (١٤٩٩)) واحمد في المسند: ٢٤٨/٤

په نه برداشت کونکې خبرې په کتلوسره پيدا کيږي اوس سوال دادې چه دې مفهوم تنزه د غيرت اطلاق په الله تعالى باندې څنګه کيدې شي داخو محال دى په دې وجه علماء ليکلى دى چه د الله تعالى د غيرتى کيدو مطلب دادې چه هغه د بندګانو د معاصى اوګناه په کولوسره غصه کيږي اوخفه کيږي نود لفظ غيرت اوحياء او رحمت الفاظو په شان د دې الفاظونه يودې د کوم اطلاق چه د شروع په اعتبار سره په الله تعالى باندې نه کيږي البته د غايه نهايه او انجام اونتيجه په اعتبار سره کيږي

قوله: وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللهِ:

د مذکوره جملې دوه مطلبونه:- ① اول دا چه الله تعالى ته داخبره محبوب وى چه د هرسړى عذرختم کړى اود چا څه عذر باقى پرينږدى دې د پاره چه په قيامت کښې د حجت موقع باقى پاتې نه شى. د دې د پاره الله تعالى انبياء کرام بشير اونذير جوړولوسره مبعوث کړى دې د دې لفظ

② کله يوسړې د الله تعالى په مخکښې د خپل جرم عذر پيش کوى معذرت او اعتذار کوى په عاجزئى سره درخواست کوى معافى غواړى نوالله تعالى د تولو نه زيات د قبلولوسره معاف کوى.

قوله: وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللهِ:

د المدحة وضاحت:- يعنى الله تعالى خپل تعريف د تولو نه زيات خوښوى ځکه چه هغه د تولو خوبيانو مالک دې اوپه ټولوصفات کماليه سره متصف وى. ارشاد دې «الكبرياء ردائى والعظمة ازاري» هم دغه وجه ده چه الله تعالى پخپله د خپل ځان تعريف کړې دې اونورو ته نې د دې ترغيب ورکړې دې اود جنت وعده هم هغه خلقو سره کړې ده څوک چه د هغه د زيات نه زيات تعريف کوى

[۳۳۰] د الله تعالى ﷻ د غيرت تقاضه څه ده؟

۳۳۰-[۷] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَغَارُ ③ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ ④ وَغَيْرَةُ اللهِ أَنْ لَا يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ اللهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② الله تبارک وتعالى غيرتمند دى، ③ او مؤمن (هم) غيرتمند دې (يعني غيرت په اصل کښې د الله تعالى ﷻ صفت دى، چې په مؤمن کښې هم موجود دى) ④ او د الله تعالى ﷻ د غيرت تقاضه دا ده

۱) اخرجه البخاري فى كتاب النكاح/باب الغيرة (رقم-۵۲۲۳) ومسلم فى كتاب التوبة/باب غيرة الله تعالى وتحريم الفواحش(رقم-۳۶ - (۲۷۶۱) والترمذى فى كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الغيرة (رقم-۱۱۶۸) واحمد فى المسند:۲/۳۴۳

چې مؤمن هغه کار ونه کړی کوم چې الله تعالی ﷻ حرام کړي دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① يَغَارُ: غيرت کوی، غيرت مند دي،

تسهيلات:

نوټ: - د ترجمې څخه د حديث مطلب ښکاره دي د مزيد تسهيل ضرورت نشته

[۳۳۰] په خيالی شبهاتو باندې تهمت مه لګوئ

۳۳۰— [۸] (۱) [۱] وَعَنْهُ «أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۲] إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّي أَنْكَرْتُهُ. [۳] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۴] "هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ؟". قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "فَمَا أَلْوَانُهَا؟". قَالَ: حُمْرٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايې چې يو بانډچي (کليوال) د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او عرض يې وکړي [۲] چې زما ښځې يو داسې ماشوم راوړي دی، چې د هغه رنګ تور دی او (زما هم رنګه نه دی) ما د هغه نه انکار کړی دی (يعنې چې زما خوی نه دی) [۳] رسول الله ﷺ (د دې آوريدو سره) ورته وفرمايل [۴] چې ستا سره څه اوښان شته؟ هغه عرض اوکړو چې هو، حضور ﷺ ورته وفرمايل چې د کوم رنګ دی؟ هغه عرض اوکړو چې د سور رنګ دی،

حل اللغات: - ① أَنْكَرْتُهُ: ما انکار کړي دي دهغه نه، ② حُمْرٌ: سور رنګ،

[۱] قَالَ: "هَلْ فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ؟" قَالَ: إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا [۲] قَالَ: "فَأَنَّى تُرَى ذَلِكَ جَاءَهَا؟": [۳] قَالَ: عِرْقٌ نَزَعَهَا. [۴] قَالَ: "فَلَعَلَّ هَذَا عِرْقٌ نَزَعَهُ": [۵] وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ فِي الِانْتِفَاءِ مِنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې په هغه کښې د خړ رنګ دا هم شته؟ هغه عرض اوکړو چې هو. په هغه کښې خړ رنګي هم شته، [۲] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ستا څه خيال دی؟ په هغوئ کښې دا خړ رنګي (خاکستري) اوښان د کومه راغلل (هر کله چې د هغوئ مور او پلار خړرنګي نه دي) [۳] هغه عرض اوکړو چې څه رګ به وي، چې دوی يې راؤښکل (يعنې د هغوئ په اصل کښې به د خړ رنګ اوښ وو، چې د هغه مشابه دوی هم شو) [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل نو بيا دا وړوکی به هم د څه داسې رګ په سبب تور وي، چې هغه دي راؤښکلي دي (يعنې د دې ماشوم په اصل کښې به هم څوک سړی د تور رنګ تير شوی وي، چې دا وړوکی د هغه مشابه شوی دی) [۵] او دغه شان حضور ﷺ هغه

---

۱) اخرجه البخاری في كتاب الاعتصام بالكتاب والسنة /باب من شبه أصلا معلوما بأصل مبين، قد بين الله حكمهما، ليفهم السائل -(رقم-۷۳۱۴) ومسلم في كتاب اللعان (رقم-۱۸ - (۱۵۰۰) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الطلاق/ باب في اللعان (رقم--۲۲۶۰) والترمذی في كتاب الولاء والهبة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرجل ينتفي من ولده (رقم-۲۱۲۸) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: إذا عرض بامرأته وشكت في ولده وأراد الانتفاء منه (رقم-۳۴۷۸) وابن ماجه في كتاب النكاح/ الرجل يشك في ولده (رقم-۲۰۰۲) واحمد في المسند: ۲۳۳/۲

بندچي (كليوال) ته د هغه ماشوم نه د انكار كولو اجازت ورنه كړي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ③أَوْرَقَ: خړ رنګ ، خاکی ④عِرْقٌ: رګ ، ⑤نَزَعَهَا: رابنکلي ئې دي دا ⑥وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ: اجازت ئې ورنه كړو هغه ته (دانكار كولو) ⑦فِي الِانْتِفَاءِ مِنْهُ: په نفي كولو دهغه (ماشوم) نه

تسهيلات:

قوله: ولدت غُلَامًا أَسْوَدَ:

د كلي وال په زړه كښې د شك سبب: - دَدغه كلي وال په ذهن كښې داخبره وه چه زما خوني تور ولې دې اوحال دادې چه زه پخپله سپين يم زما بي بي سپينه ده دابچې آخر دَچادې په دې باندې هغه شك ښكاره كړو. نبي كريم په ډير حكيمانه او ساده عام فهم انداز كښې دكلي وال دَ تجربې مطابق هغه پوهه كړوخكه چه دَاوښانو په معامله كښې داكلي وال ماهروو هغه په حقيقت باندې پوهه شو اوچپ شو.

د كمزورو علاماتو په بنياد د خپل بچي نه انكار كول: - علامه طيبي رحمه الله اوفرمائيل چه صرف په معمولي خبرو اوضعيف علامتونو په بنياد باندې دَخپل بچي انكاركول منع دي بلكه په دې صورت كښې مضبوط دلائل اومكمل شهادت موجودكيدل ضروري دي مثلاً بي بي سره ئې كوروالي نه دې كړې اودَهغې بچې پيدا شو يا دَ صحبت نه پس دَ شپږو مياشتو نه په كمه موده كښې بچې پيداشو په داسې صورتونوكښې انكار كول جائز دې صرف په خيالي شبهات اوتهمت لګول جائز نه دي.

[۳۳۳] د زنا په نتيجه كښې د پيدا كيدونكي ماشوم نسب د زنا كار نه نه ثابتيږي

۳۳۳—[۹] (۱) ①وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ ②أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّي، فَاقْبِضْهُ إِلَيْكَ» ③فَلَمَّا كَانَ عَامُ الْفَتْحِ أَخَذَهُ سَعْدٌ، فَقَالَ: إِنَّهُ ابْنُ أَخِي،

ترجمه: ①و بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې عتبه بن ابي وقاص خپل ورور سعد ابن ابي وقاص ته وصيت وكړې، ②چې د زمعه د وينځې خوى زما د نطفې نه دى، ته هغه واخله، ③نو دمكې د فتح په كال سعد رضي الله عنه هغه هلك واخستى، هغه اوويل چې دا زما وراره دى.

حل اللغات:- ①عَهِدَ: وصيت (لوظ) كړې وو.

①وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي، فَتَسَاوَقَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ أَخِي كَانَ عَهِدَ إِلَيَّ فِيهِ. ③وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ: أَخِي وَابْنُ وَلِيدَةِ أَبِي، وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ.

۱) اخرجه البخاري في كتاب الوصايا/باب قول الموصى [ص: ۴] لوصيه: تعاهد ولدى، وما يجوز للوصى من الدعوى (رقم-۲۷۴۵) ومسلم في كتاب الرضاع/باب الولد للفراش، وتوقى الشبهات(رقم-۳۶ - (۱۴۵۷) واخرجه ابو داود في السنن كتاب الجهاد/باب في نفل السرية تخرج من العسكر (رقم-۲۷۴۵) والترمذى في كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الولد للفراش (رقم-۱۱۵۷) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: فراش الأمة (رقم-۳۴۸۷)وابن ماجه في كتاب النكاح/ الولد للفراش، وللعاهر الحجر (رقم-۲۰۰۴) ومالك في الموطا كتاب الاضحية (رقم-۲۰)

ترجمه: [۱] او عبد ابن زمعه رضی الله عنه اوویل چې دا زما ورور دی، بیا هغه دواړو خپله معامله رسول الله ﷺ ته راوړه، [۲] نوسعد اوویل چې یارسول الله! بیشکه زماورور دې کښې په حقله ماته وصیت کړې وو چې داته واخله، [۳] وعبد بن زمعه اوویل چې (دا هلک) زما ورور دی، او زما د پلار د وینځې زوی دی، چې زما د پلار په بستره پیدا شوی دی.

حل اللغات: -[۲] فَتَسَاوَقَا: دواړو معامله پیش کړه، [۴] فِرَاشِهِ: په بستره دهغه.

[۱] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ، [۲] الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ) [۳] ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ: (احْتَجِبِي مِنْهُ) لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ بِعُتْبَةَ، [۴] فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: (هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِيهِ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ (د دواړو خبري آوریدو سره) وفرمایل چې اې عبد ابن زمعه رضی الله عنه د دې ماشوم ته حقدار یې، [۲] ځکه چې ماشوم د صاحب فراش طرف ته منسوب کیږی ، او د زاني (زناکار) د پاره (د نسب او میراث نه) محرومي ده (یا دا چې زاني د سنګساري مستوجب دی) [۳] بیا حضور ﷺ بي بي سوده بنت زمعه رضی الله عنها ته وفرمایل چې ته د دې هلک نه پرده کوه، ځکه چې په ده کښې د عتبه شباهت په نظر راځي، [۴] نو بي بي سوده رضی الله عنها د هغه هلک سره هیڅکله ونه لیدل، حتی چې وفات شوه، [۵] په یو روایت کښې داسې دي. چې حضور ﷺ وفرمایل اې عبد ابن زمعه! دا هلک ستا ورور دی، ځکه چې ستا د پلار په بستره پیدا شوی دی، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: -[۲] وَلِلْعَاهِرِ: زنا کارد پاره، [۵] الْحَجَرُ: سنګسار کیدل. محروم کیدل

تسهیلات:

قوله: أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ:

د حدیث پس منظر: - دَدې حدیث په مطلب باندې دَ پوهیدلو دَپاره اول په دې باندې ځان پوهه کول پکاردی چه یوسعدبن ابی وقاص دې دویم عتبه بن ابی وقاص دې کوم چه دَ ده رور دې حضرت سعد رضی الله عنه ایمان راوړلې وواو عتبه په کفرباندې مړشو بلکه عتبه هم هغه بدبخت دې چا چه دَ جنګ احد په موقع باندې دَرسول الله ﷺ غابنونه مبارک شهیدان کړی وو عتبه دَ زمعه وینځې سره زنا کړې وه زمعه دَحضرت سوده رضی الله عنها دَ پلار نوم دې اودَ هغه دَ خوئي نوم عبد دې کوم چه په دې حدیث کښې ذکردې

دَ جاهلیت دَ اصولو مطابق که یوسړی به دَ چا وینځې سره زناکوله اودَهغې په نتیجه کښې به بچې پیدا کیدو نوهغه بچې به هم دَ هغه زناکاروو اودَ هغه په اولاد کښې به شمیرلې شو هم په دې اصولوسره عتبه خپل رور حضرت سعد رضی الله عنه ته وصیت کړې وو چه دَزمعه دَ وینځې بچې زما دې ځکه چه دا زمادَ نطفه نه دې لهذا هغه په خپله قبضه کښې واخله نوچه کله مکه مکرمه فتح شوه نوپه دې موقع حضرت سعد رضی الله عنه هغه هلک واخستو اوونی

ونيل چه دا زما وراره دي عبدابن زمعه اوونيل دا زما رور دي ځکه چه زما دپلار د وینځې نه پیداشوې دي داجګړه چه کله د نبی کریم په وړاندې پیش کړې شوه نورسول الله ﷺ یو نوې اسلامی دفعه نافذ کړه اوهلك نی عبدته حواله کولوسره د جاهلیت قاعده په دې مبارك فرمان سره ماته کړه چه «الولد للفراش وللعاهر الحجر» یعنی بچې هم د هغه وی د چا په فراش چه پیداشوې وی اودزناکاردپاره دمحرومې نه علاوه هیڅ نشته یا مطلب دا چه د زناکاردپاره په کاڼړو ویشتل دی.

سودة ته د پردې کولو حکم اوه دې وجه: بهرحال فیصله خوهم داسې اوشوه لیکن چونکه په دغه هلك کښې د عتبه واضحه مشابهت ښکاریدلو په دې وجه نبی کریم حضرت سوده ﷺ ته اوفرمائیل چه د ده نه پرده کوه نوهغې د وفات پورې د هغه نه پرده کوله. ددې واقعه نه دا خبره واضحه شوه چه د قرائنو علاماتو او مشابهت اعتبارنشته دې بلکه په فراش او زوجیت باندې دارومدار دې.

[۳۳۱۳] د نسب په اثبات کښې د قیافه شناسې قول معتبر دی که نه؟

۳۳۱۰ - [۱۰] ( ) [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: «دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ مَسْرُورٌ، [۲] فَقَالَ: أَيْ عَائِشَةُ! أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ، [۳] فَلَمَّا رَأَى أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا، [۴] فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بی بی عائشه رضي الله عنها وایي چې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ ډیر خوشحاله خوشحاله زما کور ته تشریف راوړو، [۲] او وې فرمایل چې اې عائشې! رضي الله عنها آیا تاته معلومه نه ده چې (نن) مجزز مدلجي (مسجد نبوي ﷺ) ته راغلی، [۳] او هر کله چې هغه اسامه رضي الله عنه او زید رضي الله عنه ولیدل. چې څادر (پټو) په ځان اچولی داسې ناست وو، چې سرونه یې پټ وو، او پښې یې ښکاره وې. [۴] نو هغه اوویل چې د دې دواړو پښې د یو بل مطابق دي، یعنی دا پښې چې د کومو دوو سرو دي، هغه په خپلو کښې پلار او ځوی دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① مَسْرُورٌ: خوشحاله. ② قَطِيفَةٌ: څادر. رومال ③ غَطَّيَا: دواړو پټ کړی وو

تسهیلات: قوله: أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ:

دمجزز تعارف: - مجزز دمکبر په وزن باندې د عربو د یومشهورقیافه شناس نوم دی د هغه خاندانی تعلق چونکه د قبیله مدلج سره وو په دې وجه هم دغه قبیلې طرف ته منسوب دې په عربو کښې په قیافه شناسئی کښې دې سرې د سند حیثیت لرلو او په خلقو کښې دا یومعیاررو.

۱) اخرجه البخاري فی کتاب الفرائض/باب القائف (رقم-۶۷۷۱) ومسلم فی کتاب الرضاع/باب العمل بإلحاق القائف الولد (رقم-۳۸ - (۱۴۵۹) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الطلاق/باب فی القافة (رقم-۲۲۶۷) والنسائي فی کتاب الجهاد/باب: القافة (رقم-۳۴۹۳) وابن ماجه فی کتاب الأحکام/باب القافة (رقم-۲۳۴۹) واحمد فی المسند: ۲۲۶/۶

د زید بن ثابت او اسامه بن زید په نسب باندې اعتراض: - بل طرف ته حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه ډیر ښانسته وواو، هغه خوئی اسامه بن زید چونکه د حضرت ام ایمن رضي الله عنها د بطن سره وو په دې وجه هغه د خپلې مور په شان د توربخن رنګ وو منافقانو به پروپیګنډې کولې چه اسامه د خپل پلار نه نه دې ځکه چه د دومره ښانسته پلار خوئی داسې تورځکه کیدې شي نبي کریم به په دغه خبرو باندې ډیرزیات غمګین اوخفه کیدو اوخاطریه نې دریدو لیکن د دې تو د پاره د یوداسې څیز اوسند ضرورت وو کوم چه د معاشرې تول خلق بغیر د څه خبرو کولو قبول کړي اوهغه سند د قیافه شناس قیافه شناسی کیدې شوه

د قیافه شناس په وینا د اعتراض سد باب کیدل: - چنانچه الله تعالی انتظام اوکړو اوبووړخ د عربو مشهورقیافه شناس مجزز مدلجي مسجد نبوي ته راغلو حضرت اسامه او حضرت زید رضي الله عنهما دواړه په یوځادر کښې داسې اینغښتې اوده وو چه په مخونو بندې څادر وو اوخپې ښکاره وې مجزز چه کله اوکتل نو وئي وئیل داخپې د پلار اوځوئی دې په دې باندې نبي کریم ډیرخوشحال شو ځکه چه د دغه پروپیګنډې د ختمولو د پاره هم د دې سند ضرورت وو ګنې د آسمان نه وحی هم راتلې شوه مګر په عام معاشره کښې د قیافه زیات اعتبار وو

د نسب په ثبوت کښې د قیافه شناس په حجیت کښې مذاهب: -

① د جمهورو په نیز د هرنسب د ثبوت د پاره هم د نورو دلائلو نه علاوه قیافه شناسی هم یو مؤثر دلیل دې

② ائمه احناف فرمائی چه علم قیافه د ثبوت نسب د پاره کافی نه دې

داول فریق دلیل: - د اول فریق مستدل زیربحث حدیث دې په دې کښې نبي کریم ﷺ د دغه قافیه شناس په خبره خوشحاله شو چې هغوی د اسامه او د هغه د پلار د نسب ثبوت د خپل علم په رڼا کښې ورکړو نود نبي کریم ﷺ خوشحالی د دې خبرې دلیل دې چې د قفیه شناس قول دلیل دې

اول فریق د دلیل جواب: - نبي کریم ته د مخکښې نه د وحی په ذریعه معلومه وه چه اسامه هم د زید خوئی دې لیکن د منافقانو پیغورونه او پروپیګنډې د قیافه شناس په فیصله سره ختمیدې شوې په دې وجه نبي کریم د قیافه شناس په خبره باندې د خوشحالئی اظهاراوکړو داثبوت په نسب باندې دلیل نه دې بلکه د پیغورد ختمولو د پاره یو دلیل دې

د دویم فریق دلائل: - ①قیافه د هغه علم نوم دې په کوم کښې چه د یوڅیزپیژند ګلو په هغې کښې د دنته علاماتو اونښاناتونه کیږی اودا تخمین اواندازه په کوم سره چه قطعی یقینی علم نه شي حاصلیدې اود ثبوت نسب د پاره د یقینی علم کیدل ضروری دی د دې

باره په شریعت کښې د اموروېقینیو اعتبار دې لهذا قیافه بې اعتباره ده
⑥ شریح د حضرت عمر رضی الله عنه د خط په ذریعه د دې مسئلې تپوس اوکړو نو حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه دواړه آقا په دغه بچي کښې شریك دی دوی به د بچي وارثان وی او بچې به د دوی وارث وی د حضرت علی رضی الله عنه هم دغه شان فیصله وه لکه چه د صحابه کرامو اجماع اوشوه ملاعلی قاري رحمه الله نور روایتونه هم نقل کړی دی
په اختلاف مذکوره باندې د بلې مسئلې تفریع: - هم په دې اختلاف باندې دا مسئله متفرع ده چه مثلاً په دوو سړو کښې یو مشترکه وینځه ده او د دواړو د جماع په نتیجه کښې د هغې بچې پیدا شو نو جمهور فرمائی چه قائف کومه فیصله اوکړه د هغې مطابق به دا بچې د هغه سړی شی احناف فرمائی په دې صورت کښې به هغه بچې د دواړو مشترکه مملوك وی او وینځه به د دواړو ام ولده شی سره د دې چه په حقیقت کښې به دغه بچې هم د یوکس وی لیکن د قائف د فیصلې اعتبار نشته ځکه چه په دې باندې د شریعت مدار نشته دې

[۳۳۳] د خپل پلار نه د انکار کولو په باره کښې وعید

[۱۱] ( ) [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَأَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَا: [۲] «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُ [۳] فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ)»: مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه او حضرت ابوبکره رضی الله عنه دواړه راویان دي [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل کوم سړی چې خپل ځان د خپل پلار په ځای د یو دویم سړی سره منسوب کړی. او هغه په دې هم پوهیږي، چې دا زما پلار نه دی. [۳] نو په هغه جنت حرام دی. (بخاري، مسلم)

تسهیلات:

قوله: مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ:
د جنت حرامیدلو توجیهات: - یعنی خپل نسب پتولو سره د خپل پلار په ځائی بل چاته پلار اوئیل نو په دغه باندې جنت حرام دې
① په اولنی ځل داخلیدل په ده باندې جنت حرام دې
② چه کوم سړې د خپل پلار په ځائی خپل ځان بل چاته منسوب کوی او دا حرام عمل حلال ګڼړی نو هغه په حقیقت کښې یو حرام ته حلال وائی او دا کفر دې نو د کفر په وجه په هغه باندې جنت حرام دې

---

۱) اخرجه البخاري فی کتاب الفرائض/باب من ادعی إلی غیر أبیه (رقم-۶۷۶۶) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان حال إیمان من رغب عن أبیه وهو یعلم (رقم-۱۱۵ - (۶۳) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من ادعی الی غیر أبیه أو تولی غیر موالیه (رقم-۲۶۱۰)؛ واحمد فی المسند: ۴۶/۵

۳ دَ گناه اثرخو هم دغه دې چه په ده دې جنت حرام وی لیکن په قیامت کښې فیصله په معجون مرکب باندې کیږی

۴ دا کلمات ئې تشدیداً تغلیظاً تهدیداً فرمائیلي دی راتلونکی روایت نمبر ۱۲ کښې د "فقد کفر" الفاظ راغلی دی هلته که دَ کفر نه دَ کفرحقیقی مرادوی نو دې خانې جوابونو کښې دویم جواب پریخودو سره باقی جوابونه دَ هغه حدیث دَپاره هم دی اوکه چرته هلته دَ کفرنه کفران نعمت مرادواخستې شی نو بیابه څه اعتراض نه راځی

[۳۳۱۵] دَخپلو پلارا نو څخه دبې رغبتی حرمت

۳۳۱۵-[۱۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② لَا تَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ، ③ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ فَقَدْ كَفَرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ④ وَذُكِرَ حَدِيثُ عَائِشَةَ: («مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ»): فِي (بَابِ صَلَاةِ الْخُسُوفِ).

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② تاسې (د غیر سړي سره خپل نسب لګولو سره) د خپل پلار نه مخ مه ګرځوی، ③ څوک چې کوم سړی د خپل پلار نه مخ وګرځولي (یعني د هغه نه یې د خپل نسب انکار وکړي) نو هغه په حقیقت کښې کفران د نعمت وکړي (د نعمت ناشکري یې وکړله) بخاري مسلم ④ وحدیث دعائشې مَامِن اَحَدٍ اَغْيَرُ من الله په باب صلوٰة الخسوف کې ذکرشوي دي .

حل لغات: - ① لَاتَرْغَبُوا عن: مخ مه ګرځوئ. انکار مه کوئ.

تسهیلات:

قوله: لَاتَرْغَبُوا عَنْ آبَائِكُمْ:

د مذکوره جملې مفهوم: - یعنی که هغه غریب وی یا ئې عزت نه وی نو په دې کښې شرم او غیرت مه کوئی چې هغوئ ته خپل پلار اووائې

قوله: فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيهِ فَقَدْ كَفَرَ

پلار سره بې رغبتې کولو باندې د کفر په اطلاق کښې توجیهات. -

① دلته د کفر څخه کفر ته نزدیکت مراد دي.

② دلته کفر کښې د اخته کیدو خطره مراد ده

③ که قصدا عمداً د خپل پلارڅخه سوا بل چاته ځان منسوب کول مباح ګڼړی کومه چې لویه ګناه ده نوده یو حرام څیزحلال اوګڼړل او تحلیل الحرام کفر دی.دې صورت کښې د حدیث پاك الفاظ (فقدکفر) خپل حقیقی معنو باندې محمول دی.

۱) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ٦٧٦٨ ومسلم فی صحیحه رقم الحديث ١١٣/ ٦٢ واحمد فی المسند ٢/ ٥٢٦

④ ددې څخه كفران نعمت مراد دې. چې ده ته خپل پلار معلوم هم دې او دې بيا هم د هغه د خوئې ولې څخه انكار كوي نو دا دې د نعمت ناشكري كوه چې حرام پيدا نه دې پلار ئې معلوم دې او بيا هم د هغه څخه انكار كوي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۲۲] دَ يوشقي القلب پلار شقاوت

[۳]()۱ «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الْمُلَاعَنَةِ: ۲ "أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ، ۳ فَلَيْسَتْ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ، وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللَّهُ جَنَّتَهُ،

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دى چې هغه د لعان د آيت د نازليدو په وخت د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل، ۲ چې كومه ښځه څوك په داسې قوم كښې داخل كړي، چې د هغه نه هغه نه وي (يعني يوې ښځې بدكاري وكړه، او بيا د هغې د بدكارې نتيجه كښې يې وروكى پيدا شو، او هغه وروكى يې د خپل خاوند طرف ته منسوب كړي) ۳ نو هغه د الله ﷻ په نزد په هيڅ درجه كښې نه ده، او الله تعالى ﷻ به هغه (د خپل مقرب او د نيكو بندګانو سره) هيڅ كله په خپل جنت كښې داخله نه كړي،

حل اللغات: - ① آيَةُ الْمُلَاعَنَةِ: هغه آيت چې هغې كښې د لعان ذكر دي.

۱ وَأَيُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، ۲ احْتَجَبَ اللَّهُ مِنْهُ وَفَضَحَهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ فِي الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ او كوم سړى چې د خپل ماشوم نه انكار وكړي (يعني د هغه ښځې نه چې كوم وروكى پيدا شوى دى. د هغه په باره كښې اووائي چې دا زما نه دى) حالانكه هغه، د هغه طرف ته ګوري (يعني هغه پوهيږي، چې زما خوى دى) ۲ نو الله تعالى ﷻ به د هغه نه پرده كوي (يعني د هغه به د الله تعالى ﷻ ديدار نه نصيب كيږي) او الله تعالى ﷻ به هغه په تولو مخكنى او وروستنى خلقو كښې رسوا كړي (يعني په ميدان حشر كښې چې ټول مخكني او وروستني خلق راجمع شي، نو د هغوئ په منځ كښې به هغه ذليل او رسوا كړي) ابوداؤد، نسايي، دارمي.

حل اللغات: - ② جَحَدَ: انكار اوكړو. ③ احْتَجَبَ اللَّهُ: پرده به اوكړي الله (ديدار به ورته نصيب نه كړي) ④ وَفَضَحَهُ: رسوا به ئې كړي، او به ئې شرموي.

---

۱) اخرجه ابوداود فى كتاب الطلاق/باب التغليظ فى الانتفاء (رقم-۲۲۶۳) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب: التغليظ فى الانتفاء من الولد (رقم-۳۴۸۱)

تسهیلات:

قوله: أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلَى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ:

یعنی زناکولوسره دَ بل قوم دَ کس بچې دَ خپل خاوند او دَهغه دَ قوم طرف ته منسوب کوی دَ ښځې دَپاره دا حرام دی او په دې باندې جنت حرام دې دغه شان که یوسړې دَخپل بچې نه انکارکوی نو په هغه باندې هم جنت حرام دې خلاصه دا چه نه دې ښځه زناکولوسره حرام زاده دَخپل خاوندطرف ته منسوب کوی او نه دې خاوند دَخپل حقیقی بچی نه انکارکوی.

قوله: وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ:

د مذکوره جملې دوه مطلبونه:- ① یعنی ماشوم سترګې برندې کړې دَ پلارطرف ته ګوری اودا شقی القلب دَهغه انکارکوی.

② بعضې شارحینو دَ وهوینظر مفهوم دا اخستې دې چه پلار بچی ته ګوری اوهغه پیژنی چه دا زما خونی دې اوبیاهم انکارکوی. په دې صورت دَ هو ضمیردَ پلار طرف ته راګرځی

[۳۳۷] بدکارې ښځې لره طلاق ورکول اولی دی

۳۳۷۔ [۱۳] (۱) ①«وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ②جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: ③إِنَّ لِي امْرَأَةً لَا تَرُدُّ يَدَ لَامِسٍ فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ④"طَلِّقْهَا": قَالَ: إِنِّي أُحِبُّهَا. قَالَ: "فَأَمْسِكْهَا إِذَنْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، ⑤وَقَالَ النَّسَائِيُّ: رَفَعَهُ أَحَدُ الرُّوَاةِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَحَدُهُمْ لَمْ يَرْفَعْهُ. وَقَالَ: وَهَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِثَابِتٍ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس ﷺ وایي ②چې (یوه ورځ) د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې یو سړی حاضرېدو سره عرض وکړو، ③چې زما ښځه د چا مس کونکې لاس نه منع کوي (یعني کوم سړی چې د هغی سره د بدکاري اراده وکړي، د هغه نه انکار نه کوي) ④نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې هغی لره طلاق ورکړه، هغه عرض اوکړو چې (دا ممکنه نه ده) ځکه چې هغه زما ډیره خوښه ده، حضور ﷺ ورته وفرمایل چې بیا د هغی نګهباني کوه (چې هغه په بدکاري کښې مبتلا نشي، (ابوداود، نسایي)

⑤او نسایي ﷺ وېلي دي چې د دې روایت په راویانو کښې یو راوي خو دا ابن عباس ﷺ ته رسولی دی، او وصل کړی یې دې، او یو راوي دا ابن عباس ﷺ ته نه دې رسولی، او وصل کړی یې نه دی، او نسایي ﷺ وېلي دي چې دا حدیث ثابت نه دی (یعني دا حدیث متصل نه دی، بلکې منقطع دې).

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب النکاح/باب النهی عن تزویج من لم یلد من النساء(رقم-۲۰۴۹) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب ما جاء فی الخلع(رقم-۳۴۶۴)

تسهيلات:

قوله: لَاتَرُدُّيَدَلَامِسٍ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې اقوال: - يعنې دَ يولاس لګونكى لاس نه منع كوى اونه ئې لرې كوى. دَدې حديث مطلب او مقصد بيانولو كښې دَ شارحين حديث مختلف خيالات دى

① دَ قاضى عياض رحمه الله خيال دادې چه چه دا ښخه هم دغه شان فجوركښې اخته وه او فاجره ښخه نكاح كښې ساتل حرام دى خاص كر چه كله يوسړې دَ يوې ښځې په محبت كښې راګيروى نو كه هغه ته دَ طلاق وركولوحكم وركړې شى نودير ممكن دى چه هغه دَ دې نه هم په زياته لويه ګناه كښې اخته شى. مذكوره سړى ته هم دَدغه خاص مجبورئى دَ وجې نه اجازت وركړې شو اودَ هغه دَپاره دا واجب كړې شو چه هغه دې دَ دغه ښځې دَ تهذيب اوتاديب پوره كوشش اوكړى.

② امام احمد رحمه الله فرمائى دَدې جملې مطلب دادې چه دا ښخه بې وقوفه اواحمقه ده خپل مال هرچاته وركوى دَ چانه څه مال نه منع كوى. علامه توريشتى رحمه الله هم دغه شان توجيه فرمائيلې ده. ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه دامعنى مراد اخستل دَ دوو وجوهاتونه ديراولې ده. اوله وجه داده كه چرې دې نه زنا مراد واخستې شى نودا قذف دې نو نبى كريم به دَ دغه سړى نه په دې بهتان باندې ضرور ثبوت غوښتلو ګنى هغه به ئې په كوړو وهلو دويمه وجه داده كه چرې دا ښخه بدكاره وه او وخبره ئې دَ بدكارئى كړې وه نونبى كريم به دا ښخه په نكاح كښې دَ ساتلو اجازت نه وركولو بلكه دَ جدائى حكم به ئې فرمائيلو

③ ابن الاعرابى رحمه الله فرمائى چه (لاتردلامس) سره دَ دغه ښځې فسق اوفجورطرف ته اشاره كړې ده. علامه خطابى رحمه الله هم تقريباً هم داسې مطلب بيان كړې دې.

قوله: فَأَمْسِكْهَا إِذَنْ

يعنى دَداسې ښځې پرېښودل بهتردى ليكن كه هغه هم په نكاح كښې ساتل وى نوبيا دا دَ دغه قبيح اومكروه كارنه منع كول ضرورى دى.

په مذكوره واقعه كښې د رجل جهالت: - يادساتئى چه داحديث ضعيف هم دې او ثابت هم نه دې اودا يوجزئى واقعه ده نه ده معلومه چه دا سړې څوك وو اودَ هغه ايمانى كيفيت څه وو اودَهغه خاندانى غيرت څه وو اودَ هغه خصوصى حالت څه وو هغه وخت دَمنافقانو دور اوهغوى زور هم وو نه ده معلومه چه دا سړې څوك وو. ځكه چه دَ صحابه كرامو متعلق چه كومې قطعى خوبيانې موجود دى يومسلمان له دَهغې باره كښې خرابه عقيده نه دى ساتل پكار.

بذل مجهودكښې ليكلى دى چه ماته دَ دغه سړى باره كښې هيڅ معلومه نه شوه. اصابه كښې ليكلى دى چه دَ دغه سړى نوم هشام وو اودَنبى كريم بيا قريشوغلام وو. علامه ابن

کثیر رحمه الله لیکلی دی دغه سری ته دَ خپلې ښځې باره کښې یقین نه وو البته دَ قرائن په بنیاد باندې ئې دا خبره کوله کومه چه صرف دَ وهم اوګمان په درجه کښې وه بل طرف ته دَ هغوی محبت یقینی وو په دې وجه نبی کریم ورته دَ ساتلې اجازت ورکړو. ابن جوزی رحمه الله دا روایت موضوع ګرځولې دې لیکن علامه سیوطی رحمه الله دَ هغه دا خبره رد کړې ده. ابن حجر رحمه الله دا حدیث صحیح ګرځولې دې.

اشکال: –په احادیثو کښې دَ دیوث دَپاره ډیر سخت وعیدونه راغلی دی او دلته دَ دیوث تعریف صادق راځی؟

اشکال جواب: –کوم وعیدات دَ دیوث متعلق دی هغه دَ هغه دیوث دَپاره دی چه ښځه په بدکارئی باندې ګوری او خاموش پاتې کیږی. دلته خودا سړې خاموش نه دې بلکه باقاعده مقدمه ئې دائر کړې اوهغه هم صرف دَ شك وهم دَ قرائن بعیده په بنیاد وه. دلته دَ دیوث تعریف صادق نه دې.

[۳۲۱۸] داثبات نسب په سلسله کښې یو واضح هدایت او ضابطه

۳۲۱۸ ــــ[۱۵] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَضَى أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ اسْتُلْحِقَ بَعْدَ أَبِيهِ الَّذِي يُدْعَى لَهُ ادَّعَاهُ وَرَثَتُهُ [۳] فَقَضَى أَنَّ كُلَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ يَمْلِكُهَا يَوْمَ أَصَابَهَا فَقَدْ لَحِقَ بِمَنِ اسْتَلْحَقَهُ، [۴] وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ قَبْلَهُ مِنَ الْمِيرَاثِ شَيْءٌ، وَمَا أَدْرَكَ مِنْ مِيرَاثٍ لَمْ يُقْسَمْ فَلَهُ نَصِيبُهُ،

ترجمه: [۱] او عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي، [۲] چې نبی کریم ﷺ (د دي حکم ورکولو) فیصله وکړه، چې د کوم هلک نسب د هغه د پلار د مر کیدو نه روسته، چې د هغه طرف ته نسبت شوي دي، یو ځای کړل شوي دي، او د هغه دعوی د هغه پلار وارثانو کړي ده (یعني مثلًا د زید د مرګ نه وروسته د هغه وارثانو د یو هلک بکر په باره کښې ووېل، چې دا د زید خوی دی، نو دي هم زمونږ پشان د زید یو وارث دی) نو (په دي باره کښې) [۳] حضور ﷺ فیصله وکړله (که هغه هلک چې د هغه نسبت یو ځای کړل شوی دی) د داسې وینځې د خیټې نه وي، چې د صحبت په ورځ د هغه د پلار په ملکیت کښې وه (یعني د وینځې سره د هغه د پلار په جائزه طریقه سره جماع شوې وي) نو هغه به د هغه سړي سره په نسبت کښې یو ځای شي. چا چې هغه یو ځای کړي دي (یعني کوم وارث چې هغه ځای کړي. هغه به په هغه وارثانو کښې یو ځای شي. او د هغوئ سره به د میراث حقدار وي. په دي طور، که ټول وارثان هغه یو ځای کوي، نو د ټولو په حق کښې به وارث وي. او که بعضې وارثانو یو ځای کړی وي، نو د هغه بعضې په حق

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطلاق/باب فی ادعاء ولد الزنا (رقم-۲۲۶۵) وابن ماجه فی کتاب الفرائض/باب فی ادعاء الولد (رقم-۲۷۴۶) واحمد فی المسند: ۲/۲۱۹

كښې به وارث وي، ۴و كوم ميراث چې د هغه يو ځاى كولو نه مخكې تقسيم شوى وي، په هغه كښې به د هغه څه حصه نه وي، هو، كوم ميراث چې د اوسه تقسيم شوى نه وي، په هغه كښې به هغه ته حصه حاصليږي

۱وَلَا يَلْحَقُ إِذَا كَانَ أَبُوهُ الَّذِي يُدْعَى لَهُ أَنْكَرَهُ، ۲وَإِنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ لَمْ يَمْلِكْهَا أَوْ مِنْ حُرَّةٍ عَاهَرَ بِهَا فَإِنَّهُ لَا يَلْحَقُ بِهِ وَلَا يَرِثُ ۳وَإِنْ كَانَ الَّذِي يُدْعَى لَهُ هُوَ الَّذِي ادَّعَاهُ فَهُوَ وَلَدُ زِنْيَةٍ مِنْ حُرَّةٍ كَانَ أَوْ أَمَةٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱او كه هغه هلك داسې وي، چې د هغه نسبت د كوم پلار طرف ته كيږي ، هغه د هغه نه انكار كړى وو (يعني هغه پلار په خپل ژوند كښې د هغه د خپل خوى كيدو انكار كړى وي) نو هغه هلك د هغه د مرګ نه وروسته د وارثانو يو ځاى كولو سره به نه يو ځاى كيږى ، او د هغه پلار وارث به نه وي، ۲دغه شان كه هغه هلك د يوي داسې وينځې د ختيې نه ، چې د صحبت په ورځ د هغه د پلار په ملكيت كښې نه وه (يعني هغه د يو بل سړي د وينځې سره زنا كړې وه، او د هغه زنا په نتيجه كښې دا هلك پيدا شوى وو) يا د يوي داسې آزادې ښځې د ختيې نه وي، چې د هغه سره د هغه پلار زنا كړې وه، نو هغه هلك به د هغه د پلار په وارثانو كښې شامل نه وي، او نه به هغه ته ميراث وركول كيږى .
۳اګر كه په خپله هغه سړي (يعني پلار) چې د هغه طرف ته د هغه هلك نسبت كيږى ، د هغه دعوٰى كړې وي.
دا جمله ګويا د مخكښې حكم د تاكيد په طور ده، كه هغه هلك ولد الزنا وي، نو هغه د هغه پلار، يعنى د زاني په وارثانو كې شامل كول جائز نه دى، ځكه كه خپله هغه زانى په خپل ژوند كښې د هغه د نسب دعوٰى كړې وى، چې دا زما خوى دى، بيا هم د هغه سره د هغه هلك نسب نه يو ځايې كيږى، چې څنګه د هغه د مرګ نه وروسته د هغه وارثان هغه هلك په ځان كړې، نو هغه هلك حرامې دي، اګر چې هغه د وينځې د ختيې نه وي، يا د آزادې ښځې نه پيدا وي، (ابوداؤد)

حل اللغات:- ①مُسْتَلْحَقٌ: صيغه د اسم مفعول ده يو ځاى كړې شوې بچې، دې يعنى د كوم هلك نسب چه د هغه د پلار د مر كيدو نه روسته ثابت شوې وى، ②عَاهَرَ: زنا ئې كړې ده

تسهيلات:

قوله: أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ:

د لفظ استلحاق تحقيق:- استلحاق دَ ملاورهلو پـه معنى كـښې دې يعنى دَ مـړى وارثانو مطالبه اوكړه چه دا ماشوم زمونږ سره په نسب اوميراث دواړه كښې يوځائى كړئى نودَ دغه قضيه تفصيل په دې حديث كښې ذكر دې مستلحق اسم مفعول سره هم دغه ملاؤ شوې بچى ته وائى اودَ ملاوولو دغه عمل ته استلحاق وائى.

د حديث پس منظر:- علامه خطابى رحمه الله فرمائى چه پـه دې حـديث كـښې دَهغـه

احکامو بیان دي چه دَاسلام په شروع کښې به دَ نبی کریم مخې ته راتلل اونبی کریم دَهغې باره کښې فیصله کوله دَ علامه خطابی رحمه الله وینا ده چه دَجاهلیت په زمانه کښې دَخلقو بدکاره او بدکرداره وینځې دَ بدکارئی دَپاره ګرځیدلې دَدغه بدکارئی په نتیجه کښې چه به کله بچې پیداکیدو نوزناکار به دعوی کوله چه دا بچې زما دې ماته دې راکړې شي اومالك به هم دعوی کوله چه دازما بچې دې ځکه چه زما دوینځې نه پیداشوې دې لکه څنګه چه دَ زمعه دَ وینځې قصه دَدې نه وړاندې حدیث کښې تیره شوې ده دَدغه جګړې ختمولو دَپاره حضوریك یوه شرعی ضابطه مقرر کړې وه دَ دغه ضابطې وضاحت په دغه حدیث کښې دې دا په مثال سره داسې اوګنړئی چه مثلاً زید یوسړې دې هغه وفات شو دَهغې نه پس دَهغه وارثانو دعوی اوکړه چه دَ فلانکې وینځې نه فلانکې هلك دَ زید دې چه مونږ سره په نسب اومیراث کښې شریك دې لهذا دامونږ سره ملحق کړئی. اسلام په یوځو شرطونو سره دَدغه وارثانودا دعوی منلې ده. البته کوموارثانوچه په دغه دعوی کښې حصه نه ده اخستې نودَهغوی په نسب او میراث کښې به دغه هلك شریك نه وی.

استلحاق د صحت شرطونه: - دَ استلحاق دَ صحت دَپاره په دې حدیث کښې چه دکوموشرطونوطرف ته اشاره کړې شوې ده هغه مثبت او منفی شرطونه دی. کوم چې لاندې ذکر کولی شی.

① زیدهم په خپل ژوند کښې دَدې هلك اقرار او اعتراف کړې وی او اعلان ئی هم کړې وی چه داهلك په جائز طریقه باندې زما ځوئی دې. دَدې شرط منفی اړخ دادې که زیدپه خپل ژوند کښې دَدې ماشوم نه انکار کړې وی چه داماشوم زما ځوئی نه دې نودَ زید دَ مرګ نه پس وارثان هغه په یوصورت کښې هم هغه په نسب اومیراث کښې شریکولې نه شی.

② چه دا وینځه دَ زیدپه ژوند کښې دَهغه په ملکیت کښې راغلې وی. اوکه دَآزادې حره ښځې متعلق دا دعوی وی نوچه هغه آزاده حره ښځه دَ زیدپه نکاح کښې پاتې وی دَدې شرط منفی اړخ دادې که دا وینځه دَ زید په ملکیت کښې نه وی راغلې اویاداحره ښځه دَ زیدپه نکاح کښې نه وی راغلې نو په دې صورت کښې داهلك ولدالزنادې نه دَ ده استلحاق صحیح دې اونه وارث دې په خپل نسب کښې شاملولې شی بلکه په دې صورت کښې که چرې پخپله زیدهم مثلاً په خپل ژوند کښې دَ دې هلك دَنسب دعوی اوکړی نوهغه به هم صحیح نه وی ځکه چه داهلك ولدالزنادې

③ کوم مال دَ وارثانو په مینځ کښې وړاندې دَدې ماشوم دَ استلحاق نه تقسیم شوی وی په هغې کښې به دَ دغه ماشوم حصه نه وی. اوچه کوم مال تردغه وخته پورې تقسیم شوې نه دې او بیابه تقسیم کیږی په هغې کښې به دا ماشوم ټول وارثانوسره برابرشریك وی. دَدې وضاحتونونه پس به ان شاء الله دَ دې حدیث ټولو اړخونوباندې به پوهیدل آسان شی.

د بعضې جملو ترکیب: -اوس په دې حدیث کښې د بعضې جملو د ترکیب وضاحت هم ضروري دې د پاره چه د هغې مفهوم نور زیات واضح شي او په عبارت کښې جوړ پیدا شي

① فضمان کل مستلحق: کښې د (ان) اسم (کل مستلحق) دې او د دې نه پس عبارت د مستلحق صفت دې

② د (ادعاه) جمله د (ان) خبر دې

③ فقضی ان من کان، د (اعاده بعد عهد) د پاره ده یعنې د قضی لړې کولو د پاره نې دوباره ذکر خوله څکه چه په مینځ کښې کافی کلام حائل شوې دې په دې وجه په دې کښې د تفصیلیه داخل کړې شوې ده.

[۳۲۸] د غیرت صورتونه

---[۱۲] ( ) ①وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- «أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②" مِنَ الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ اللّٰهُ، وَمِنْهَا مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ ; ③فَأَمَّا الَّتِي يُحِبُّهَا اللّٰهُ فَالْغَيْرَةُ فِي الرِّيبَةِ، ④وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُهَا اللّٰهُ فَالْغَيْرَةُ فِي غَيْرِ رِيبَةٍ، ⑤وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ، وَمِنْهَا مَا يُحِبُّ اللّٰهُ ;

ترجمه: ①او حضرت جابر ابن عتیک ﷺ وایي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ②د خپلې ښځې او وینځې په باره کښې) بعضې غیرت خو الله تعالی ﷻ خوښوي او بعضې غیرت نه خوښوي. ③کوم غیرت چې الله تعالی ﷻ خوښوي هغه د شک وشبهې په ځای کې پیدا کیدونکې غیرت دی (مثلاً ښځه یا وینځه د غیر سړو مخې ته راځي، یا غیر سړي هغه لره راځي. او هغه ورسره خندا مذاق کوي، نو په دې موقع خاوند چې کوم غیرت محسوسوي الله تعالی ﷻ هغه خوښوي) ④او کوم غیرت چې الله تعالی ﷻ نه خوښوي، هغه، هغه غیرت دې چې د شک او شبهې د وجهې نه بغیر پیدا شوی وي (مثلاً د څه قرینه او سبب نه بغیر د خاوند په زړه کښې د ښځې د کردار په باب کښې بدګماني پیدا شي، او بیا په هغه غیرت محسوس کړي) ⑤د غه شان بعضې تکبر خو الله تعالی ﷻ خوښوي او بعضې نه خوښوي،

حل اللغات: -①الرِّيبَة: شک، شبهه، ②الْخُيَلَاء: تکبر، غرور

①فَأَمَّا الْخُيَلَاءُ الَّتِي يُحِبُّ اللّٰهُ فَاخْتِيَالُ الرَّجُلِ عِنْدَ الْقِتَالِ، وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ، ②وَأَمَّا الَّتِي يُبْغِضُ اللّٰهُ فَاخْتِيَالُهُ فِي الْفَخْرِ». ③وَفِي رِوَايَةٍ: " فِي الْبَغْيِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ①الله تعالی ﷻ چې کوم تکبر خوښوي، هغه د جنګ په وخت د سړي تکبر کول

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد، باب فی الخیلاء فی الحرب (رقم-۲۶۵۹) والنسائی فی کتاب الزکاة/باب الاختیال فی الصدقة (رقم-۲۵۵۸) واحمد فی المسند: ۴۴۵/۵

دی (يعني په جهاد کښې چې د کفارو سره مقابله وي، نو د خپل قوت او برتري او د کفارو د حقارت او کمترۍ د اظهار د پاره د خپلې لوئې او شجاعت په ډير فخر او غرور سره بيان کوي) او هغه تکبر هم الله تعالیٰ ﷻ ته خوښ دي چې د الله ﷻ په لار کښې د خپل مال د خرچ کولو په سلسله کښې وي، يعنې چې کله صدقه او خيرات ورکړي، نو په خوش دلۍ او بې پروايۍ سره يې ورکړي، او د زياتې نه زيات ورکول هم حقير وګڼي ۞او کوم تکبر چې الله تعالیٰ ﷻ نه خوښوي هغه (په خپل نسب) فخر او تکبر دی، ۞او په يو روايت کښې د (في الفخر په ځای) في البغي دي يعنې کوم تکبر چې الله تعالیٰ ﷻ نه خوښوي، هغه د ظلم تکبر دی (يعني هغه تکبر چې بلا د څه حق استحقاق وکړی شي، چې د هغه څو صورتونه کيدی شي) احمد، ابوداؤد، نسايي.

حل اللغات: -۞اَلْفَخْر: په نسب باندې فخر کول، ۞اَلْبَغْي: ظلم،

تسهيلات:

قوله: مِنَ الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ اللّٰهُ:

دغيرت دوه قسمونه: - ① دمؤمن ځينې غيرتونه الله ﷻ ته خوښ دی. په دې باندې به مؤمن ته ثواب ملاويږي.

② ځينې غيرتونه الله ﷻ ته خوښ نه دی. او ددې په وجه به مؤمن ګناهګار وی. لهذا دا حديث پاک به د (الحياء شعبة من الايمان) شرح شی. چې داسې حياء چې الله ﷻ ته خوښه وی نو هغه د ايمان حصه ده. د خوښ او ناخوښې غيرت متعلق په دې حديث پاک کښې تفصيل دې.

قوله: فَالْغَيْرَةُ فِي الرِّيبَةِ:

د تهمت د ځآئې څخه ځان ساتلو باندې غيرت کول: - يعنې د تهمت او شک ځائې څخه غيرت کول او دهغې څخه ځان ساتل دا د اعلی درجې تقوی او ايماني غيرت دې لکه دغير سړی کور ته راتلل او دده ښځې سره خبرې کول په دې باندې غيرت کول دا د ايماني غيرت دليل دې. دا شان پخپله د يوې اجنبي ښځې سره خلوت باندې غيرت کول داسې غيرت هم د ايماني غيرت دليل دې. داسې غيرت الله ﷻ ته خوښ دې.

قوله: فَالْغَيْرَةُ فِي غَيْرِ رِيبَةٍ:

بې ځايه په چا د شک کولو ممانعت: - بغير د څه وجې نه په چا باندې شک کول او بدګماني کول دا غيرت نه دې بلکه دفتنې او فساد جرړه ده. او دې سره دخاندانونو په مينځ کښې جنګ جګړې پيدا کيږی. او داسې غيرت الله ﷻ ته خوښ نه دې. په قرآن کريم کښې داسې بدګمانی ته (اِثم) وئيلې شوی دی. کما فی القرآن: (اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ)

قوله: وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ:

په حسب نسب باندې تکبر کولو حرمت:- دالله ﷻ په نزد مبغوض تکبر فخر دې ددې مطلب دادې چې کوم کس د اعلی نسب او ښه خاندان سره تعلق ساتی او هغه دا وائی چې ماته په نسب کښې امتیاز حاصل دې او زما پلار نیکه د اعلی خاندان سره تعلق ساتی ، دا داسې تکبر دې چې دالله ﷻ ته خوښ نه دې ځکه چې دالله ﷻ په نزد فضیلت والا هغه کس دې چې د تقوی اعتبار سره وی. ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ وقال سبحانه وتعالی ﴿قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا﴾ أي بالقرآن والإيمان) یعنی قرآن او ایمان سره خوشحاله اوسئ.

قوله: فَاخْتِيَالُ الرَّجُلِ عِنْدَ الْقِتَالِ:

د دشمن په مقابله کښې د ځان لوئې ښکاره کولو فضیلت:- چې د جهاد په وخت کښې د کفارو په مقابله کښې خپل ځان بهادر ګڼړل او کافرانو لره حقیر او ذلیل او کمزوری ګڼړل . لکه څنګه چې رسول کریم ﷺ غزوهٔ حنین کښې کفارو سره کړی وو (أنا النبي لا كذب أنا ابن عبد المطلب) داشان حضرت علی ﷺ په جهاد کښې فرمائیل چې (أنا الذي سمتني أمي حيدرا) څه هغه کس یم د چا نوم چې زما مور حیدر کرار ایښودې دې. دحیدر معنی ده شیر او د کرار معنی ده راتاویدنکې او حمله کؤونکې. دا شان ناز او فخر الله ﷻ ته خوښ دې.

قوله: وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ:

په صدقه کولو باندې د خوشحالئ کولو فضیلت:- داشان د خیرات او صدقې د ورکولو په وخت کښې دخوشحالئ اظهار کول هم دصدقې فخر دې کوم چې الله ﷻ ته ډیر خوښ دې. حدیث باب کښې ډیر ښه اسلوب بیان شویدې چې د غیرت په ذکر کښې ئې اولا د محبوب غیرت ذکر اوفرمائیلو. ځکه چې اکثر غیرتونه محبوب دی او کم غیرتونه مردود. خوتکبر کښې ئې اول د مردود تکبر بیان اوفرمائیلو. روستو ئې د محبوب تکبر ځکه چې اکثر تکبر مردود وی . او ډیر کم محبوب تکبرونه وی. او په یو نسخه کښې د (في البغي) په ځائې (في الفقر) راغلی دی. یعنی کوم تکبر چې الله ﷻ ته خوښ نه دې هغه د فقر تکبر دې. ددې مطلب دادې چې الله ﷻ ته دا خبره خوښه نه ده چې یو کس د فقر په حالت کښې هم فخر اوکړی. علماء کرام فرمائی چې د فقر کولو والا تکبر د هغه تکبر نه بدتر دې کوم چې د غناء او ثروت په وجه کیږی لیکن د فقر تکبر په هغه وخت کښې بد او دالله ﷻ په نزد ناخوښه دې چې هغه د فقراؤ په مقابله کښې اوکړې شی. خو که د فقر تکبر د امراء،اواغنیاء، په مقابله کښې وی نو بیادا خوښ عمل دې . ځکه چې داسې تکبر ته صدقه وئیلې شوې د ه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۲۰] د ولد الزنا نسب د زاني نه نه ثابتيږي

۳۳۲۰-[۱۷] (۱) ۱عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: ۲«قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ فُلَانًا ابْنِي؟ ۳عَاهَرْتُ بِأُمِّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. ۴فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا دِعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ، ذَهَبَ أَمْرُ الْجَاهِلِيَّةِ، ۵الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱حضرت عمرو ابن شعيب ﷺ د خپل پلار شعيب نه او شعيب دخپل نيکه (حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ) نه روايت کوي ۲چې يو سړی په مجلسِ نبوي ﷺ کښې ودريدلو، او عرض يې وکړي، چې يا رسول الله! ﷺ فلانی زما خوی دی، ۳ما د جاهليت په زمانه کښې د هغه د مور سره زنا کړي وه، ۴رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې د زمانهٔ جاهليت د تيري خبري په زمانه د اسلام کښې دعویٰ نشي کيدی (يعني دا خبره د زمانهٔ جاهليت سره مخصوص ده، او کوم وړوکی چې د زنا په نتيجه کښې پيدا کيدلی د هغه نسب زاني د خان سره يو ځای کولی، اوس په زمانه د اسلام کښې دا خبره درست نه ده) ۵ماشوم د صاحبِ فراش يعنی دښځي دی او د زاني دپاره کاڼي يعنی محرومي ده يا سنګساري ده، (ابوداؤد)

حل اللغات:- ①عَاهَرْتُ: ما زنا کړي ده.

تسهيلات: **قوله:** لَا دِعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ:

د زنا په وجه د نسب دعوی کولو بطلان:- يعنی د زنا په وجه د نسب دعوی نشی کولی .
الحاصل د جاهليت په زمانه کښې به د زنا په وجه د نسب دعوی صحيح ګڼړلي کيده او د زنا نه به نسب ثابتيدو .نورسول کريم ﷺ اوفرمائيل چې اسلام کښې د زنا په وجه د نسب دعوی کول صحيح نه دی . او نه ددې نه نسب ثابتيد يشی .

قوله: الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ:

د مذکوره جملې مطلب:- ماشوم صاحب د فراش دې يعنی چې د کومې ښځې دې او دهغې خاوند هم وی نو هغه بچې به دهغه خاوند وی. ليکن که ديوې ښځې ماشوم پيدا شوې وی او ددې خاوند نه وی او نه دا ښځه دچا مملوکه وی نو بيا به ماشوم مور ته منسوب وی

قوله: وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ:

د زناکار دپاره رجم :- زانی د پاره کاڼړې دې. يعنی زانی به په کاڼړو سره سنګساريږی ددې نه مراد دادې چې زانی دپاره حرمان نسب دې ، يعنی دا د نسب نه محروم دې.

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطلاق / الولد للفراش (رقم - ۲۲۷٤)

[۳۳۳] هغه څلور ښځې چاسره چه لعان نه شي کیدی

۳۳۳ - [۱۸] (۱) ۱ وَعَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ أَرْبَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ: النَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ، وَالْيَهُودِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ، ۳ وَالْحُرَّةُ تَحْتَ الْمَمْلُوكِ، وَالْمَمْلُوكَةُ تَحْتَ الْحُرِّ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ۲ څلور قسمه ښځې دي چې د هغوی او د هغوی د خاوندانو په منځ کښې لعان نه کیږی ، یوه خو هغه نصرانیه (یعني عیسایي ښځه) چې د یو مسلمان په نکاح کښې وي، او دویمه یهودیه (یعني یهودي ښځه) چې د یو مسلمان په نکاح کښې وي. ۳ دریمه هغه آزاده ښځه چې د یو غلام په نکاح کښې وي. او څلورمه هغه وینځه چې د یو آزاد په نکاح کښې وي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① مُلَاعَنَةَ: لعان کول.

تسهیلات: **قوله:** أَرْبَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ:

څلور قسمه ښځو سره د لعان عدم صحت: - یعني څلور قسمه ښځې داسې دی کوموسره که د لعان صورت راشي نودغه ښځو اوډهغوی په خاوندانو کښې به لعان نه کیږی

① که یوه حره آزاده ښځه د یوغلام په نکاح کښې وی نود هغوی په مینځ کښې لعان نه کیږی

② یوه وینځه د آزادخاوند په نکاح کښې وی نود هغوی په مینځ کښې لعان نه کیږی

③ یوه یهودنړه ښځه ده یا عیسایئړه ښځه ده چه د یو مسلمان خاوندپه نکاح کښې وی او مسلمان خاوندپه هغوی باندې د زناتهمت اولګوی اوهغې تردیداوکړو نود هغوی په مینځ کښې به لعان نه کیږی

④ یوه عیسایئړه ښځه ده چه د یومسلمان خاوندپه نکاح کښې وی او مسلمان خاوندپه هغوی باندې د زناتهمت اولګوی اوهغې تردیداوکړو نود هغوی په مینځ کښې به لعان نه کیږی

د مذکوره څلور قسمه ښځو سره د لعان د عدم صحت وجه: - د دې وجه داده چه لعان یوقسم ګواهي ده ځکه چه د دې تعریف داسې دې (شهادات مؤکدات بالایمان) اودا څلورقسم خلق د شهادت اهل نه دی دوه خویهودی اوعیسائی دی کوم چه کافران دی او دوه غلامان دی اود کافراوغلام دواړه ګواهی معتبرنه ده. لهذا د هغوی په مینځ کښې لعان نشته. د دې حدیث نه د احنافو د دې مؤقف تایید هم کیږی چه لعان د شهادت د قسم نه دې

---

(۱) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب النکاح/ خیار الأمة إذا أعتقت(رقم-۲۰۷۶)

[۳۳۳۳] حضور ﷺ په حتی الامکان د لعان نه منع کول غوښتل

۳۳۳۳-[۱۹] ( ) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - : «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَمَرَ رَجُلًا حِينَ أَمَرَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يَتَلَاعَنَا [۲] أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ عَلَى فِيهِ [۳] وَقَالَ: "إِنَّهَا مُوجِبَةٌ"». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې (يو خل) د نبی کريم ﷺ په حکم دوه لعان کونکو (يعني ښځې او خاوند) لعان کولی، نو حضور ﷺ يو سړي ته حکم وکړي، [۲] چې د پنځمې شاهدی په وخت د لعان کونکې په خوله لاس کيږده، [۳] او وي فرمايل چې پنځمه شاهدی واجب کونکې ده، (نسايي)

تسهيلات: قوله: أَنْ يَضَعَ:

د لعان نه د بچ کيدو کوشش: - مطلب داچه نبی کريم متلاعنينو ته دَ لعان حکم وركړو خوهلته موجود كسانو كښې ئی چاته دا هم اوفرمائيل چه كله پنځمه گواهی راخی نودَ لعان كونكی په خُله باندې لاس كيږدئی دې دَپاره چه هغه لعان پوره نه كړی څكه چه په خُله باندې لاس كيخودو سره به دې لعان كونكی سړی ته عملی تنبيه اوشی او هغه به دَ پنځمې گواهئی نه منع شی اولعان به مكمل نه شی. كله چه لعان اونه شی نو هغه سړې به ريښتونی خيره ښكاره كړی هغه ته به دَ دنياسزا اوشی اودَ آخرت دَ سزانه به بچ شی. لكه چه دَ نبی كريم ﷺ به پوره كوشش وو چه حتی الامكان به ئی ښځه اوخاونددَ لعان نه بچ كولوسره دَ ريښتياؤ طرف ته راوستل دې دَپاره چه دَ دنياسزا خورلوسره دَآخرت دَ سزا اوعذاب نه بچ شی

[۳۳۳۴] شيطان ښځه او خاوند د يوبل نه د بد ظن كولو كوشش كوي

۳۳۳۴-[۲۰] (۲) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - : «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا لَيْلًا، [۲] قَالَتْ: فَغِرْتُ عَلَيْهِ، فَجَاءَ فَرَأَى مَا أَصْنَعُ. [۳] فَقَالَ: "مَا لَكِ يَا عَائِشَةُ! أَغِرْتِ؟ [۴]" فَقُلْتُ: وَمَا لِي لَا يَغَارُ مِثْلِي عَلَى مِثْلِكَ؟ [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : "لَقَدْ جَاءَكِ شَيْطَانُكِ"

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشې ﷺ په باره کښې منقول دی چې يو خل د شعبان په پنځلسمه شپه نبی کريم ﷺ د هغی نه پاخيدو سره لاړل، [۲] بي بي عائشه ﷺ وايي چې ماته په حضور ﷺ ډير غيرت راغلی، چې واپس راغې او زه چې په کوم کيفيت کښې مبتلا وم. هغه يې وليدلو [۳] نو وي فرمايل چې اې عائشې! ﷺ په تا څه شوی دی؟ آيا ته په ما غيرت کوې؟ [۴] ما عرض اوکړو چې زما په شان ښځه به ستا ﷺ په شان سړي باندې

---

۱) وابوداود في السنن كتاب الطلاق/ باب في اللعان (رقم-۲۲۵۵) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: الأمر بوضع اليد على في المتلاعنين عند الخامسة (رقم-۳۴۷۲)

۲) اخرجه مسلم في كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب تحريش الشيطان وبعثه سراياه لفتنة الناس وأن مع كل إنسان قرينا(رقم-۷۰ - (۲۸۱۵) واحمد في المسند: ۱۱۵/۶

ځنګه غيرت ونکړي، ۵ حضور ﷺ وفرمايل چې په اصل کښې تاته شيطان راغلې دې يعني شيطان ته په شک شبهه کښې مبتلا کړې يې

حل اللغات: ۱ أغِرْتِ: ماته غيرت راغې

۱ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَمَعِي شَيْطَانٌ؟ قَالَ: "نَعَمْ". قُلْتُ: وَمَعَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ۲ قَالَ: "نَعَمْ! وَلَكِنْ أَعَانَنِي اللَّهُ عَلَيْهِ حَتَّى أَسْلَمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ما عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ آيا زما سره شيطان شته؟ حضور ﷺ وفرمايل چې هو، ما اووېل چې آيا ستا ﷺ سره هم شيطان شته؟ ۲ حضور ﷺ وفرمايل چې هو، ليکن الله تعالى ﷻ زه په هغه قوي کړې يم، ددې پورې چې زه د هغه (د وسوسو) نه سالم (محفوظ) يم، يا (حَتَّى أَسْلَمَ) ترجمه دا ده ددې پورې چې هغه مسلمان شوی دی، يعنی زما تابع شوی دی، (مسلم)

تسهيلات:

قوله: "مَالَكِ يَا عَائِشَةُ! أَغِرْتِ؟:

د حديث پس منظر او وضاحت: -يعنی په تاخه چل اوشو ولې په غيرت کښې راغلې؟ په مدينه منوره کښې نصف شعبان کښې دا واقعه پيښه شوه. نبی کريم دَ حضرت عائشه ؓ په نمبر کښې هغې سره مقيم ووچه دَ شپې ئې جنت البقيع ته تشريف يوړو دې دَپاره چه نبی کريم دَخپلو ملګرودَپاره دَمغفرت دعا اوکړی کوموچه دَ دنيانه تشريف اوړلې وو او په جنت البقيع کښې دفن وو. دَحضرت عائشه ؓ خيال وو چه نبی کريم دَهغې په نمبر کښې چرته بلې ام المؤمنين کره تللې يا ځی نوځکه وريسې شاشاته لاړه. بياچه کله معلومه شوه چه نبی کريم قبرستان ته تشريف اوړلې دې نو زر زر واپس شوه. دَدې تادئی دَ وجې نه اودَ خپيماتيادَ وجې نه ساه ساه شوه او رنګ ئی هم زيړشو. نبی کريم پوښتنه اوکړه (مالك اغرت؟) حضرت عائشې ؓ چه کوم جواب ورکړودا دَهغې دَ ذهانت فراست عقيدت اومحبت اعلی شاهکاردې وئی فرمائيل چه زما په شان ښځه به ستا په شان دَ خاوند باره کښې ولې غيرت نه کوی؟ نبی کريم اوفرمائيل په دې شك شبه کښې اچول دَ شيطان په لمسون اودهوکه سره شوی دی.

قوله: أَمَعِي شَيْطَانٌ؟:

د عائشې د پرهيزګارۍ نښه: - دا سوال حضرت عائشه صديقه ؓ دَ ډيرپاکئی دَ زياتې تقویٰ اودَالله تعالی په ويره باندې دلالت کوی ځکه چه دَهغې په وهم اوګمان کښې هم نه وو چه شيطان هم څه آفت دې اوهغه هغې له دَ وسوسې اچولودَپاره نيزدې راتلې شی

قوله حَتّٰى أَسْلَمَ:

د مذكوره جملې په صيغه كښې دوه احتمالات:- ① دا صيغه اسلم دَ واحد متكلم هم ده ددې معنى دا ده چه زه دَهغه نه محفوظ يم تفصيل په اول جلد كښې تير شوې دې
② اسلم دَ باب افعال نه دَ ماضى صيغه هم لوستلې شوې ده معنى دا چه شيطان زما طاعت كړې دې ماته وسوسه نه شى اچولې

[۱۴]بَابُ الْعِدَّةِ

دَعدت اوغم بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① وجوب النفقة والسكنى على الزوج فى العدة: ۱، ۲، ۳۔

② حكم الخروج من البيت فى العدة: ۴، ۹۔

③ مدة عدة الحاملة : ۵۔

④ عدة المتوفى عنها زوجها: ۶، ۷، ۸، ۹۔

⑤ حكم الحداد على موت الزوج: ۶، ۷، ۸، ۱۰، ۱۱۔

⑥ غاية إنقضاء العدة: ۱۲۔

⑦ عدة الآئسة: ۱۳۔

قال الله تعالى ﴿اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ﴾[سورة الطلاق ۱.]

وقال الله تعالى ﴿اَسْكِنُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ﴾ [سورة الطلاق ۶]

وقال الله تعالى ﴿ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ﴾ [سورة البقرة ۲۴۰.]وقال الله تعالى ﴿ وَالّٰٓئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ﴾ [سورة الطلاق ۴.]

وقال الله تعالى ﴿ وَّالّٰٓئِيْ لَمْ يَحِضْنَ ؕ وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ﴾.وقال الله تعالى ﴿وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ﴾ [سورة البقرة.]

د لفظ عدت لغوى معنى:- عدة باب نصر ينصر مصدر دې اودا په لغت كښې شميرته هوائى ښځه هم دَ فرقت زوج نه پس دَ خپل عدت ورځې شميرى.

• عدت اصطلاحي تعريف:- او د شريعت په اصطلاح کښې "د ښځې نه د خاوند د جدائي نه پس د خاص مودې پورې د نکاح او د عدت د منافي څيزونو نه منع کيدلو نوم عدت دې" دا جدائي يا په طلاق سره کيږي يا د خاوند په مرګ سره کيږي

• عدت تيرولو طريقې:- د عدت تيرولو دري طريقې دي

① د حمل وضع سره عدت ترلې شوی وی په دې شرط چه ښځه حامله وی

② د دريو حيضو په ذريعه سره عدت وی

③ د عدت بالاشهروی چه ښځه وړه وی يا د حيض راتلو سره يا د بوډاوالی نه نه نااميده وی نو د دريو مياشتو په شمير به عدت تيروی. او که د ښځې خاوند مړ شوې وی نو بيا د عدت د پاره څلور مياشتې او لس ورځې مقرر دی

• عدت تيرولو حکم:- پورته د قرآني آياتونو نه او راتلونکو احاديثو د تفصيلات نه او د امت د اجماع سره عدت تيرول په ښځه باندې لازم دی. په ټولو مسلمانانو ښځو باندې لازم دی چه هغوی دې د عدت اهتمام اوکړی او د الله تعالى د دغه حکم نه دې بې پرواهی نه کوی. په صوبه سرحد کښې ښځې د الله تعالى په دې حکم کښې ډيره سستی کوی. د هغه ځائی په علماؤ باندې لازم دی چه هغوی دې د دې مسئله اهميت په اهتمام سره په وعظ کښې بيان کړی. او د احنافو فقهاؤ د احاديثو په رڼا کښې کوم دفعات متعين کړی دی هغه دې د مسلمانانو په وړاندې ښکاره ښکاره بيان کړی دې د پاره چه دا مړه شوی سنت راژوندی شی.

د وينځې عدت:- وينځې له که د هغې خاوند طلاق ورکړو نو د هغې عدت دوه حيضه دی او که چرې د هغې حيض نه راځی نو د هغې عدت يوه نيمه مياشتې دی او که چرې د هغې خاوند مړ شی نو د هغې عدت دوه مياشتې پنځه ورځې وی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳۳۳] مسئلة النفقة والسكنى في العدة

۳۳۳۳-[۱] (۱) ① عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، «عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ، ② فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ الشَّعِيرَ فَسَخِطَتْهُ، ③ فَقَالَ: وَاللّٰهِ، مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ. فَجَاءَتْ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ. فَقَالَ: "لَيْسَ لَكِ نَفَقَةٌ".

ترجمه: ① او ابوسلمه د فاطمه بنت قيس نه نقل کوي، چې ابو عمرو ابن حفص رضی الله عنه فاطمه بنت قيس رضی الله عنها ته (چې د هغه ښځه وه) دري طلاقه ورکړه، هر کله چې هغه خپله موجود نه

---

۱) اخرجه مسلم في كتاب الطلاق/باب المطلقة ثلاثا لا نفقة لها (رقم-۳۶ - (۱۴۸۰) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: إذا استشارت المرأة رجلا فيمن يخطبها هل يخبرها بما يعلم (رقم-۳۲۴۵)واحمد في المسند: ۶/۴۱۲

وو یعني عمرو یو خای بهر وو، د چا په ذریعه یې زباني پیغام ولیږلی، چې ما طلاق ورکړیدي، [۲] بیا د ابو عمرو وکیل (کارنده) په طور د نفقه، فاطمې ﷺ ته څه وربشې ولیږلي، د فاطمې ﷺ په خیال کښې د هغه وربشوو مقدار ډیر کم وو، ځکه هغه په دې ناراضه شوه، [۳] وکیل اوویل چې قسم په خدای په مونږ ستا هیڅ حق نشته (ځکه چې تا ته دري طلاقه درکړل شوي دي، د هغه د نفقې هیڅ حکم نشته، دا وخت چې تا ته د وربشو کوم مقدار درکول شوي دي، هغه محض د احسان او سلوک په طور دی) د دې اوریدو سره فاطمه ﷺ د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه، [۴] او دا واقعه یې ورته بیان کړه. حضور ﷺ وفرمایل چې ستا نفقه (په ابو عمرو ﷺ باندې) واجب نه ده.

حل اللغات: - ① اَلْبَتَّةَ: دري طلاقه په یو ځل ورکول، طلاق مغلظ ورکول. یعنی مطلقه مبتوته ② وَكِيْلُهُ: وکیل، کارنده ③ الشَّعِيرَ: وربشې، ④ فَسَخِطَتْهُ: نو ناراضه شوه په هغې باندې، خفه شوه.

[۱] فَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ، [۲] ثُمَّ قَالَ: "تِلْكِ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي، [۳] اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى، [۴] تَضَعِينَ ثِيَابَكِ فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي.

ترجمه: [۱] بیا حضور ﷺ فاطمې ﷺ ته دا حکم ورکړي چې هغه د ام شریک په کور کښې د عدت د پاره کیني، [۲] لیکن بیا ورته حضور ﷺ وفرمایل چې د ام شریک کور ته زما صحابه ﷺ (چې د ام شریک عزیز او اقارب او آل واولاد دي) خې راځي، ځکه د هغه په کور کښې ستا ناسته مناسبه نه ده، [۳] البته ته ابن ام مکتوم ﷺ سره د عدت ورځې تیرې کړه، ځکه چې هغه یو ړوند سړی دي، [۴] هلته ته خپلې کپړې اېښودلی شې، او کوم وخت چې ته حلاله شې (یعني ستا د عدت ورځې پوره شي) نو ته ماته اطلاع راکړه (چې زه ستا د دویمې نکاح فکر وکړم)

حل اللغات: - ⑤ يَغْشَاهَا: خې راځې هغې کره، ⑥ تَضَعِينَ: ته اېښودلی شې،

[۱] قَالَتْ: فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي. [۲] فَقَالَ: "أَمَّا أَبُو الْجَهْمِ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ، وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ، [۳] انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، فَكَرِهْتُهُ، [۴] ثُمَّ قَالَ: "انْكِحِي أُسَامَةَ" فَنَكَحْتُهُ، فَجَعَلَ اللهُ فِيهِ خَيْرًا وَاغْتَبَطْتُ».

ترجمه: [۱] فاطمه ﷺ وایي بیا چې زه حلاله شوم، نو ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو، چې معاویه ابن ابي سفیان ﷺ او ابو جهم ﷺ ماته د نکاح پیغام رالیږلی دی (ستا ﷺ څه رایې ده؟) [۲] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې د ابوجهم ﷺ خبره خو دا ده چې هغه خپل کوتک د اوږې نه نه ځکته کوي، او معاویه ﷺ سره څه مال اواسباب نشته، [۳] نو زما په رایې کښې خو مناسب دا دی چې ته د اسامه ﷺ ابن زید ﷺ سره نکاح وکړه، نو ما خوښ نه کړه، خو بیا چې حضور ﷺ وفرمایل چې نکاح ورسره وکړه، نو ما د اسامه ﷺ سره نکاح وکړه، او الله تعالی ﷻ په هغه نکاح او د اسامه ﷺ په ملګرتیا

کښې خیر او برکت ورکړو، او په ما رشک شروع شو (یعني زمونږ دواړه ملګرتیا داسې راست راغله، او په مونږ کښې دومره محبت او الفت پیدا شو چې چا به لیدل. نو په مونږ به یې رشک کولی)

حل اللغات :-⑦ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ هغه خو خپله همسا د اوږې نه نه کوزوی. هر وخت وهل ټکول کوی. ⑧ صُعْلُوكٌ: فقیر، ای لَامَالَ لَهُ، غریب دې. ⑨ وَاغْتَبَطْتُ: غبطه او رشک به کولو ما

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهَا: "«فَأَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَرَجُلٌ ضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۲] وَفِي رِوَايَةٍ: «أَنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا، فَأَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَالَ: "لَا نَفَقَةَ لَكِ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا».

ترجمه : [۱] او په یو روایت کښې د فاطمې رضي الله عنها الفاظ دا دی چې حضور ﷺ وفرمایل ابو جهم رضي الله عنه یو داسې سړی دی چې ښځې ډیرې وهې (مسلم) [۲] او د مسلم رحمه الله په یو بل روایت کښې داسې دي چې د فاطمې رضي الله عنها خاوند هغې لره درې طلاقه ورکړي وو، کوم وخت چې هغه نبی کریم ﷺ ته راغله، [۳] نو حضور ﷺ ورته وفرمایل چې ستا نفقه (ستا د خاوند په ذمه) نشته، هو که ته حامله وې (نو ستا نفقه په هغه واجب کیده)

حل اللغات :-⑩ ضَرَّابٌ: د مبالغې صیغه ده، ډیر زیات وهونکې دې.

تسهیلات:

قوله: "لَيْسَ لَكِ نَفَقَةٌ"

د مطلقې د نفقې او سکنی درې صورتونه :-

① که ښځه په درې طلاقه سره مطلقه مغلظه وی لیکن حامله هم وی نو دَ هغې نفقه هم دَ وضع حمل پورې په خاوند باندې په اتفاق سره لازم ده.

② کومه ښځه چه رجعی طلاق سره مطلقه وی نو دَ هغې نفقه او سکنه په اتفاق سره په خاوند باندې لازم دی.

③ که چرې ښځه مطلقه مغلظه غیرحامله وی نو دَ هغې په نفقه او سُکنی کښې دَ فقهاؤ کرامو اختلاف دې.

دَ مطلقه مغلظه نفقه او سکنی کښې مذاهب :-

① امام احمد بن حنبل رحمه الله اسحاق بن راهویه او اهل ظواهر په نیز دَ مطلقه مغلظه غیرحامله دَپاره نه نفقه شته او نه سکنی یعنی نه نان شته او نه مکان شته.

② دَ امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز سکنی شته لیکن نفقه نشته دې. یعنی مکان شته نان نشته. ③ د احنافو په نیزدَ دې مطلقه دَپاره سکنی هم شته او نفقه هم شته یعنی نان او مکان دواړه په خاوند باندې لازم دی.

د اول فریق دلیل :- د فاطمه بنت قیس رضي الله عنها روایت د دوی مستدل دې په دې کښې دا

الفاظ دي ((لانفقة لك الا ان تکوني حامل)) او هم په دې حدیث کښې هغې ته حکم ورکړې شوې دې چه ته دَ ابن ام مکتوم رضي الله عنه په کور کښې اوسیږه دَ کوم نه چه معلومه شوه چه هغې ته دَ استوګنې حق هم نشته

د اول فریق د دلیل ځنګه جوابونه:-

① حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چه دا حدیث واوریدو نو وئې فرمائیل ((لاندع کتاب ربنا وسنة نبینا بقول امرأة لنسیت اوشبه لها سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول لها السکنی والنفقته))

② سعید بن مسیب فرمائي چه فاطمه بنت قیس ته نفقه ځکه ورنه کړې شوه چه دَ هغې په ژبه کښې سختي او تیزي وه لکه چه هغه ناشزه وه او ناشزې ته نان او نفقه نه شي ورکولې دَحضرت اسامه بن زید رضي الله عنه په عقد نکاح کښې چه کله فاطمه بنت قیس رضي الله عنها راغله نو هغه په دې باندې

③ کانړي اوورول اودَ هغې قول ئې مسترد کولو سره دَخفګان اظهار اوکړو.

④ حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمائیل چه فاطمه بنت قیس دَ الله تعالی نه نه ویرېږي چه وائي دَ دې دَپاره نه نفقه وه او نه سکنی وه؟

⑤ دَ دې اقوالو نه علاوه په زیربحث حدیث کښې پخپله دَدې حدیث جواب موجود دې ځکه چه دَ فاطمه بنت قیس رضي الله عنها خاوند دَ ابوعمرو بن حفص وکیل دَ هغې دَ خرچ په سلسله کښې هغه ته څه اوربشې لیګلې لیکن هغې دا کم ګڼړلو سره واپس کړې. دَنبی کریم په وړاندې ئې شکایت اوکړو نو نبی کریم دَ زیاتې نفقې نه انکار اوکړو دَ اصل نان نفقې نه ئې انکار نه وو کړې

د دویم فریق دلیل:- دَ سکنی دَ ثبوت دَپاره دَ قرآن کریم دا آیت د دوی مستدل دې (أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ) [سورة الطلاق ۶.] او دَ نفقې دَ نفی دَپاره دَدې نه آیت نه استدلال کړې دې (وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ) [سورة الطلاق ۶.]

طریقه د استدلال:- طرز دَ استدلال دَ مفهوم مخالفت په توګه دې چه نفقه به صرف معتده حامله ته ملاویږي لهذا کومه ښځه چه حامله مطلقه نه وي هغې ته به په هیڅ صورت کښې هم نفقه نه ملاویږي دې حضراتو دَ نفقې دَ نفی دَپاره دَ فاطمه بنت قیس رضي الله عنها دَ زیر نظر حدیث نه هم استدلال کړې دې

د دویم فریق د دلیل جواب:- دریم فریق وائي چې مونږ مفهوم مخالف نه منو او نه دا زمونږ په نیز څه مستند دلیل نه دې خاص کر کله چه دَ ابن مسعود په قرات کښې دا الفاظ موجود دي ((وانفقوا علیهن من وجدکم)) دَدې صراحت نه پس مونږ دَ نفقې نه انکار نه شو کولې

اوهغه هسې شوافعو ته دَ الزام په توګه احناف دا جواب ورکوي چه کله تاسو سکنی اومنله نودغه عاجزه ښځه قتل کول غوارئ اوهغې ته وایئ چه په کورکښې پرته اوسه خکه چه په تاباندې عدت تیرول واجب دی اوتاته به هیڅ خوراك نه ملاویږی داخو عجیبه فیصله ده باقي فاطمه بنت قیس رضي الله عنها ته مکان ولې ملاؤنه شو نودې جواب خپله حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها ورکړې دې چه دَ فاطمه مکان په غیرآباد خوشې خائی کښې وو چه دَ ښار نه یوغاړې ته واقع وو هلته هغه په دغه کورکښې خان له نه شوه اوسیدې اودَ حضرت سعیدبن المسیب دَ قول مطابق حضرت فاطمه بنت قیس رضي الله عنها به زبان دارزی کوله خپل سخرګنئ سره به ئې جنګ کولو په دې وجه هغه دَ مکان دَ سهولت نه محرومه کړې شوه

د دریم فریق اول دلیل:- دَ وجوب سکنی دَ پاره دَ قرآن پاك ﴿ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ ﴾ [سورة الطلاق ۶] آیت د دوی مستدل دې دا آیت په سکنی باندې قطعی دلیل دې

د دریم فریق دویم دلیل:- د قرآن پاك آیت ﴿ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ ﴾ [الطلاق ۱] د دوی مستدل دې. دا آیت په مکان ورکولو باندې صریح دلالت کوی او په ضمنی توګه باندې دا آیت نفقه هم واجبوی. خکه چه کله دَ دغه ښځې په ویستلو او وتلو باندې پابندی ده نو په لازمی توګه به دې ته نفقه ورکول لازم وی.

د دریم فریق دریم دلیل:- دَحضرت عمر رضي الله عنه عامه فیصله اودَ صحابه کرامو اجماع هم په وجوب نفقه باندې د دوی مستدل دې.

د دریم فریق څلورم دلیل:- دَ شریعت دَ قواعدو مطابق به هم هغې ته نفقه ورکولې کیږی خکه چه دلته دَ دغه ښځې حصاریدل په وجه دَ حق دَ زوج رغلې دې اوعدت دَ نکاح دَ اثراتونه یواثردې اودَ نکاح په وجه چه کله نفقه په زوج باندې لازم وه دَ دغه نکاح داثر دَ وجې نه چه کوم حبس راغلې دې په دې کښې به هم نفقه په خاوند باندې فرض وی

قوله: تَضَعِينَ ثِيَابَكِ

د مذکوره جملې په مطلب کښې اقوال:-

① هلته به ته دَعدت په حالت کښې سنګار پریږدې

② دَهغه خائې نه به ته چرته نه اوځې

③ هلته به تاته دَ پردې کولو ضرورت نه وی خکه چه دَهغه خائی اوسیدونکې پخپله نابینا دې اودَ ام شریك دَ خپلوانو په شان دلته نور خوك نه څی راځی لهذا دغه شان به تاته دَ پردې ضرورت نه وی لکه څنګه چه دَ یوبینا سړی په مخکښې مکمل پرده کولې شی.

د غلط مطلب تردید:- دا مطلب ئې نه دې چه ته بالکل هډو کپړې مه استعمالوه. بهرحال ددې جملې نه معلومیږی چه ښځه پردی سړی ته کتلې شی یعنی که دَ فتنې خطره نه وی

نوبعضې علماء دَ جواز قائل دي ليکن بعضې وئيلي دي چه ښځونه له هم سړو ته کتل منع دي ځکه چه دَ قرآن پاك اعلان دې ﴿ قُلْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ ﴾ [النور ۳۱] نو ددې حديث مطلب داشو چه ابن ام مکتوم رضی الله عنه نابينا دې هغه تاته کتلې نه شي او ته به پخپله دَ هغه طرف ته نه ګورې لهذا اوسيدل به دې آسان شي اود پردې به مکمل اهتمام او انتظام وي

د حديث د بعضې جملو وضاحت:- ① فلايضع عصاه: يعني ابوجهيم هروخت دَ ادب همسه په اوګه ساتي ‹ضراب للنسآء› دَ مبالغه صيغه ده يعني هغه ښځې ډير وهونکې دې دا هم هغه ماسبق کنائي الفاظ ‹فلايضع عصاه› تشريح ده

② لامال له: لکه چه ددې صفت کاشفه دې يعني معاويه مفلس اوفقيردې چونکه دَ نبی کريم نه مشوره اخستې شوې وه په دې وجه ‹المستشار موتمن› دَ قاعدې لاندې نبی کريم حقيقت حال واضحه بيان کړو

دحديث نه مستنبط مسائل:- ① دَ فاطمه بنت قيس رضی الله عنها په دې حديث کښې ډيرفوائد اودَ امت دَپاره فائده ورکونکې تعليمات دي.

② دَسړي دَ خپلو حقوقو دَپاره وکيل ساتل جائز دي.

③ دَ فتوىٰ اخستلو دَپاره دَ اجنبي سړي اوښځې خبرې اترې کول جائز دي

④ کله چې خاوند غائب وي او په قابل اعتماد او مستند طريقه سره طلاق ورکړي نودا جائز دي

⑤ ښځه چه په کوم کورکښې دَعدت تيرولودَپاره ناسته وي دَهغې نه دَ ضرورت او حاجت دَ پاره بدليدې شي

⑥ مطلقه مغلظه ته دَ عدت په زمانه کښې دَ نکاح پيغام ورکول دَ تعريض په توګه جائزدي

⑦ کله چه فتنه نه وي نودَ نيکې ښځې دَ ملاقات دَ ثواب په نيت دَ خپلو خپلوانوسرو دَپاره مستحب دي لکه څنګه چه ام شريك کره تلل راتلل وو

⑧ دَ يوسړې دَ نکاح پيغام ورکولو باندې بل سړی ته دَ نکاح پيغام ورکول جائزدي خوچه کله دَ ړومبی سړي خبره جوړه شوې نه وي

⑨ په کلام کښې دَ مجاز استعمال جائز دې لکه چه نبی کريم اوفرمائيل ‹لايضع عصاه› دَ نکاح په رشته کښې مالداري هيرول نه دي پکار

⑧ دَ غائب سړي دَ عيبونو تذکره کول هغه وخت جائز دي کله چه دَ مشورې په توګه جواب ورکولې کيږي لکه چه نبی کريم جواب ورکړې دې

[٣٣٢٥] د مطلقه مغلظې دپاره د سکنی وجوب

٣٣٢٥-[٢]() ①وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: إِنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِي مَكَانٍ وَحِشٍ، فَخِيفَ عَلَى نَاحِيَتِهَا، ②فَلِذَلِكَ رَخَّصَ لَهَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تَعْنِي فِي النُّقْلَةِ -③وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَتْ: مَا لِفَاطِمَةَ؟ أَلَا تَتَّقِي اللهَ؟ تَعْنِي فِي قَوْلِهَا: لَا سُكْنَى وَلَا نَفَقَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه ﷞ وايي چې فاطمه بنت قيس ﷞ چې په کوم ځای کې اوسيده هغه يو وران ځای وو، او هلته د هغه په باره کښې انديښنه وه. ② ځکه حضور ﷺ هغې ته (د عدت په ورځو کښې د خپل مکان نه د ابن ام مکتوم ﷜ مکان ته) د منتقل کيدو آسانې ورکړې وه. ③ او په يو روايت کښې دا الفاظ هم دی چې بي بي عائشې ﷞ اوويل چې فاطمې ته څه شوی دی چې هغه د الله ﷻ نه نه ويريږي؟ د دې نه د بي بي عائشې ﷞ مراد د فاطمې ﷞ د دې قول، چې نه نفقه واجب ده. نه سکنی. ترديد کول وو. (بخاري)

حل اللغات: -①مَكَانٍ وَحِشٍ: د خوف. ويرې ځائې. ②نَاحِيَتِهَا: د کور په اړخ. ③النُّقْلَةِ: د منتقل کيدو.

تسهيلات:

قوله: فَلِذَلِكَ رَخَّصَ لَهَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:

د عائشې رضی الله عنها د مذکوره قول مطلب: - د حديث پاك دابتدائی الفاظو مطلب دادې چې فاطمه بنت قيس ﷞ په کوم کور کښې اوسيده ، هغه په يو ويران ځائې کښې وو. هلته به هر وخت د غل وغيره ويره وه په دې وجه نبی کريم ﷺ هغې ته د حضرت ابن ام مکتوم ﷜ کور ته د منتقل کيدو اجازت ورکړې وو او ددې بيان نه د حضرت عائشه صديقه ﷞ مقصد دا خبردارې ورکول وو چې فاطمه دخپل عدت په ورځو کښې د خپل خاوند کور پريښودې وو دغير په کور کښې اوسيده. په دې وجه څوك دې هم دا گمان نه کوی چې درې طلاقو والا ښځې دپاره سکنی نشته دې او چې کوم ځائې ئې خوښه وی نو هلته دې عدت تير کړی بلکه د فاطمه ﷞ دخپل خاوند کور پريښودل او د بل کس په کور کښې د عدت تيرولو سبب دا دې کوم چې بيان شو

قوله: وَفِي رِوَايَةٍ:

د دويم روايت مطلب: - د دې الفاظو مطلب دادې چې حضرت فاطمه بنت قيس ﷞ به د نبی کريم ﷺ نه دا نقل کول چې کومې ښځې ته طلاق بائن ورکړې شی نو د هغې دپاره نه

---

١) اخرجه البخاري فی صحيحه رقم الحديث ٥٣٢٥، ومسلم فی صحيحه رقم الحديث ٥٤/ ١٤٨١ وابوداود فی السنن رقم الحديث ٢٢٩٢

نفقه شته او نه سکنی حضرت عائشه صدیقه ﷺ دهغې ددې خبرې تردید اوکړو او وې فرمائیل چې فاطمه بنت قیس ﷺ ددې قول حضرت نبی کریم ﷺ ته په منسوب کولو کښې دالله تعالی نه نه ویریږی چې نه نفقه شته او نه سکنی نبی کریم ﷺ بالکل داسې نه دی وئیلی بلکه فاطمې ته غلط فهمی شوې ده

نوټ:- د مطلقه مغلظه د نفقې په حکم کښې د مذاهبو تفصیل د حدیث نمبر ۳۳۲۴ په تسهیل کښې ذکر شوې دې

[۳۳۳۶] دفاطمې د عدت په دوران کښې دخاوند د کور څخه د تلو وجه

۳۳۳۶-[۳] ( ) [۱] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] إِنَّمَا نُقِلَتْ فَاطِمَةُ لِطُولِ لِسَانِهَا عَلَى أَحْمَائِهَا. رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او حضرت سعید بن مسیب وایي [۲] چې فاطمې (د عدت په زمانه کښې د هغې د خوند د کور نه) څکه نقل کړل شوي وه، چې هغې د خپل خاوند د عزیزانو سره ژبه درازي کوله. (شرح السنه)

حل اللغات - ① لِطُولِ لِسَانِهَا: دهغې د ژبان درازئ په وجه، ② أَحْمَائِهَا: د هغې د خاوند رشته داران.

تسهيلات:

قوله إِنَّمَا نُقِلَتْ فَاطِمَةُ لِطُولِ لِسَانِهَا عَلَى أَحْمَائِهَا:

د فاطمې د خاوند پریښودو وجه:- ګویا داحدیث پاك هم د وړاندینی حدیث جواب دې چې حضرت امام احمد بن حنبل ﷫ فرمائی چې هرکله سکنی نشته نو نفقه به هم نه وی دا صحیح نه دی څکه چې حضرت فاطمه ﷺ ته چې په هغه کور د نه اوسیدو حکم ورکړې شوې وو دهغې سبب حدیث کښې ذکر شوې دې چې هغه ژبه وره وه که په هغه کور کښې نې عدت تیر کړې وې نو کیدیشی چې د دواړو به خپلو مینځ کښې جنګ شوې وو . دجنګ نه د بچ کیدو دپاره نبی کریم ﷺ ورته بل کور کښې د اوسیدو حکم ورکړو

[۳۳۳۷] د عدت په زمانه کښې د څه ضرورت دپاره د کور نه بهر وتل جائز دی که نه؟

۳۳۳۷-[۴] (٠) [۱] «وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: طُلِّقَتْ خَالَتِي ثَلَاثًا، [۲] فَأَرَادَتْ أَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا، فَزَجَرَهَا رَجُلٌ أَنْ تَخْرُجَ، [۳] فَأَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: "بَلَى، فَجُدِّي نَخْلَكِ، [۴] فَإِنَّهُ عَسَى أَنْ تَصَدَّقِي أَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوفًا".» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۱) اخرجه البغوي في شرح السنة رقم الحديث ۲۳۸٤

۲) اخرجه مسلم في صحيح رقم الحديث ٥٥/ ۱٤۸۳ وابوداود في السنن رقم الحديث ۲۲۹۷ وابن ماجة في السنن رقم الحديث ۲۰۳٤

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي چې زما خاله ته درې طلاقه ورکړی شو او هغه په عدت کښې کیناستله، [۲] بیا (یوه ورځ) هغې اراده وکړه چې (د کور نه بهر تلو سره) کجوري وشکوي، نو یو سړی هغه د کور نه د بهر وتلو نه منع کړه، [۳] هغه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او دا واقعه یې ورته بیان کړه، حضور ﷺ ورته وفرمایل چې په دې کښې هیڅ حرج نشته، ولاړه شه او د خپلې ونې کجوري راوشکوه، [۴] شاید ته هغه کجوري د الله تعالی ﷻ په لار کښې ورکړې، یا د هغې په ذریعه احسان وکړې. (مسلم)

حل اللغات: - ① تَجُدَّ: چه راؤشکوی. ② فَزَجَرَهَا: نو اورټله نې هغه . منع نې کړه. ③ فَجُدِّي: جدی د واحد مؤنث دپاره دَ امر صیغه ده. جداد دَ کهجورو راشوکولو په معنی کښې راخی

تسهیلات:

قوله: فَزَجَرَهَا رَجُلٌ أَنْ تَخْرُجَ:

دمتوفی عنها زوجها په عدت کښې د کورنه دوتلو مسئله: - دَ دې حدیث نه دَ هغه ښځې دَ دروازې نه دَ وتلو یا نه وتلو حکم معلومیږی چه دَعدت په حالت کښې په کورکښې ناسته وی په دې کښې داسې تفصیل دې چه دَ کومې ښځې خاوند مړشو اوهغه عدت تیره وی نو په دې کښې تقریبًا دَ ټولو علماؤ اتفاق دې چه هغه دَ ورځې دَ کور نه وتلې شی ځکه چه هغه دَ خپلې نفقې پخپله ذمه واره ده نودَ دغه مجبورنی دَ وجې نه دَ ورځې دَ وتلو اجازت دې او په هغې باندې لازم دی چه دَ شپې تیرولودپاره به هم هغه کور ته راځی ځرته چه دَ عدت تیرولودپاره ناسته ده.

اوس پـتې شوه دَ مطلقه ښځې مسئله نودَهغې په وتلو یا نه وتلو کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

د مطلقه په عدت کښې د کور نه په وتلو کښې مذاهب: -

① مطلقه ښځه به دعدت په دوران کښې د خاوند د کور نه اوځی که نه نودَ جمهورو په نیز مطلقه هم دَ ورځې وتلې شی

② ائمه احناف فرمائی چه دَ سختې مجبورنی نه بغیر دامطلقه دَ عدت والا دَ کورنه د ورځې نشی وتلې

داول فریق دلیل: - ① دَ جابر رضی الله عنه ترور ته نبی کریم دَ کهجورو شوکولواوباغ ته دَ تللواجازت ورکړې وو

داول فریق دلیل: دَ قرآن کریم دَ آیت عموم د دوی مستدل دې ﴿ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ ﴾ [طلاق ۱.] دا مطلق آیت دَحضرت جابر رضی الله عنه په خبرواحدسره مقید کولې نه شی لهذا بغیردَ څه ضرورت نه مطلقه ښځه دَ عدت دَ کورنه بهرنه شی تللې اوکه چرې ضرورت پیښ شی نوبیا تلل او دَ شپې واپس راتلل جائز دی

د دويم فريق دلائل: ① دَ قرآن كريم دَ آيت عموم د د وى مستدل دي ﴿ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ ﴾ [طلاق ۱.] دا مطلق آيت دَحضرت جابر ﷺ په خبرواحد سره مقيد كولې نه شي لهذا بغير دَ څه ضرورت نه مطلقه ښځه دَ عدت دَ كورنه بهرنه شي تللې اوكه چرې ضرورت پيښ شي نوبيا تلل او دَ شپې واپس راتلل جائز دى.

② په مجبورنى كښې دَ وتلو دَ جواز دَپاره دَحضرت جابر ﷺ دَ زيربحث حديث نه استدلال كړې دې چه نبى كريم دَ دغه ښځې اجازت ته (لعلك ان تصدقي وتفعلي معروفا) سره مقيد فرمائيلې دې نودا دَ يوضرورت او حاجت طرف ته اشاره ده كه چرې صاحب نصاب شوې نوزكوة به اداكوى اوكه چرې زكوة نه وى نو نفلى صدقاتو نه به چاسره ښيګړه كوى معلومه شوه چه دَ يودينى اودنياوى ضرورت دَپاره وتل جائزګنى جائزنه دى.

③ امام طحاوى ﷫ دَحضرت جابر ﷺ يوه فتوىٰ نقل كړې ده چه وتل جائزنه دى معلومه شوه چه زيربحث حديث منسوخ دې.

مفتى به قول: - دَ صوبه سرحد په علماؤ باندې لازم دى چه هغوى دا مسئله عوامو ته واضحه كولوسره بيان كړى څكه چه په دې كښې هلته سستى كيږى دلته يوخان له صورت دادې كه چرې دَمعتده ښځې مكان راپريوځى يادَ غلو ډاكوانوخطره وى يادَ دغه مكان خرچ دَدغه ښځې دَ طاقت نه بهروى نوهغه په دې صورتونو كښې داكور پريخودوسره يومناسب ځائى ته منتقل كيدې شى.

[۳۳۲۸] د حاملې عدت وضع حمل دى

۳۳۲۸—[۵] ()[۱]«وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ: أَنَّ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ، [۲] فَجَاءَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَاسْتَأْذَنَتْهُ أَنْ تَنْكِحَ، [۳] فَأَذِنَ لَهَا، فَنَكَحَتْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] و حضرت مسور ابن مخرمه وايي، چې د بي بي سبيعه اسلميه د هغې د خاوند د وفات نه څه ورځې وروسته ولادت وشو، [۲] نو هغه د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه، او د حضور ﷺ نه يې د دويمې نكاح كولو اجازت وغوښتلى، [۳] حضور ﷺ ورته اجازت وركړو، او هغې نكاح وكړه، (بخاري)

حل اللغات: - ① نُفِسَتْ: د ماشوم ولادت ئې اوشو، دولادت بيمارئ ته نفاس وائى

تسهيلات:

قوله: أَنَّ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةَ

دسبيعة الاسلميه تعارف: - دا بنو اسلم قبيلې طرفته منسوب دى سبيعه ﷺ د حارث لور

---

۱) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ۵۳۲۰، والنسائى فى السنن رقم الحديث ۳۵۰۶

ده او تعلق ئې بنو اسلم قبيلې سره دې د اسعد بن خوله په نكاح كښې وه بيا د حجة الوداع په كال د اسعد انتقال اوشو ، ددوئ احاديث په كوفه كښې زيات دى او يو جماعت د دوئ نه روايت كوى

قوله: نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ

په وضع د حمل سره د متوفى عنها زوجها عتميدل :- په دې حديث پاك كښې د حاملې د عدت بيان دې كه يو كس مړ شى او ددۀ نه حامله ښځه پاتې شى نو دده د ښځې عدت وضع حمل دې په دې بناء علماء كرامو دا مسئله ليكلې ده چې كه د خاوند د وفات نه پس يا د طلاق نه پس ددې ماشوم پيدا شى نو دې سره به د عدت نه بهر شى او ددې دپاره بله نكاح كول جائز كيږى اګر چې ولادت د خاوند د وفات نه لږ وخت پس شوې وى

[۳۳۲۹] د عدت په ورځو كښې د رانجو لګولو ممانعت

۳۳۲۹-[۲] (۱) ۱ «وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، ۳ وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنُهَا، أَفَنَكْحُلُهَا؟

ترجمه: ۱ و بي بي ام سلمه ﵂ وايي چې يوه ښځه د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضره شوه ۲ او عرض يي وكړي چې زما د لور خاوند مړ شوى دى (چې د هغه په وجه هغه په عدت كښې ده) ۳ او د هغې سترګي خوږيږي نو آيا زه د هغې په سترګو كې رانجه ولګوم.

حل اللغات:- ① اشْتَكَتْ عَيْنُهَا: د سترګو شكايت ئې اوكړو، سترګې ئې خوږ شوې.

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا" ۲ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، كُلَّ ذَلِكَ يَقُولُ: "لَا". ۳ قَالَ: "إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ، ۴ وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې نا . ۲ هغې ښځې دوه درې ځله دا پوښتنه وكړه. ۳ او حضور ﷺ به ورته هر ځل دا جواب وركوى، چې نا . ۴ بيا ورته حضور ﷺ وفرمايل چې عدت څلور مياشتې او لس ورځې دې، د هغې په ځاى په ايام جاهليت كې به تاسو كې يوى ښځى به د كال په آخر كې د پچو په ويشتلو به د عدت نه ځان خلاصولو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ② بِالْبَعْرَةِ: پچه ③ الْحَوْلِ: كال.

تسهيلات:

قوله: أَفَنَكْحُلُهَا؟:

۱) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۵۳۳۶. ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۱۴۸۸. وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۲۲۹۹

د متوفی عنها زوجها دپاره د ترک زینت په حکم کښې مذاهب:-

متوفی عنهازوجها، کله چه په عدت وفات کښې دغم په ایام کښې څلورمیاشتې اولس ورخویورې په ماتم کښې ناسته وی نو د دې دپآره د رانجو لګولو په حکم کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې

① د حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزکه عذر وی اوکه عذر نه وی په یوصورت کښې ښخه په سترګو کښې رانجه نه شی لګولې

② امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د مجبورئی په صورت کښې په توګه د علاج رانجه لګولې شی لیکن د شپې دې لګوی اود ورځې دې پاکوی

③ امام مالک رحمه الله اوامام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه د مجبورئی په وخت په توګه دعلاج رانجه استعمالولې شی. دشپې او د ورځې فرق په کښې نشته

نوټ: د دویم او دریم فریق مذهب کښې معمولی غوندې فرق دې اصل مدمقابل اول او دریم فریق دې ددې وجې دلته د اول او دریم فریق دلائل ذکرکولې شی دویم فریق د دریم فریق په دلائلو کښې ضمنا راغلو.

د اول فریق دلیل:- زیربحث حدیث د اول فریق مستدل دې.

داول فریق د دلیل دوه جوابونه:- ① کیدې شی دغه ښځې بهانه کړې وی چه رانجه خوئی لګولې دی د زینت دپاره اوبهانه د سترګود خوګیدو اوکړه. نبی کریم ته به داصل حقیقت علم شوې وی په دې وجه ئې اجازت ورنه کړو.

② کیدې شی چه دا د ځه خاص قسم رانجه وو دکوم ممانعت ئې چه اوفرمائیلو

③ په دې حدیث کښې د تاویل یوواضحه قرینه داهم ده چه هم دې ام سلمه رضی الله عنها نه په یوه موقعه د رانجود لګولو د مسئلې پوښتنه اوکړې شوه نوهغې د سختې بیمارئی په وخت اجازت ورکړو

د دویم فریق اول دلیل:- ①امام احمد اوامام ابوداؤد ذکر کړی دی چې حضرت ام سلمې رضی الله عنها ځخه یوې معتدې زنانه د رانجو لګولوتپوس اوکړو نو هغوی ورته په جواب کښې اوفرمائل ((لاتکتحلی به الا من امر لابد منه یشتد علیك مکتحلین باللیل وامسحیه بالنهار)) بیا ئې اوفرمائل چې ما د خپل خاوند ابوسلمه به وفات سره هم داسې کړی وو نو نبی علیه السلام راته فرمائیلی وو ((فلاتجعلیه الا باللیل وتنزعیه بالنهار))

د دویم فریق دویم دلیل:-② په موطاء امام مالک کښې دی ((اجعلیه باللیل وامسحیه بالنهار)) چې د شپې رانجه اچوه او د ورځې ئې صفا کوه

د دویم فریق د اول او دویم دلیل جواب:- ددې دواړو دلیلونو ځخه دا جواب ورکړې

نوې دي چې دا دواړه احادیث په عذر خفیف باندې حمل دی کله چې عذر شدید شی نو بیا ورته د ورځې هم د رانجو لګولو اجازت شته

قوله لَاتَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلٰى رَأْسِ الْحَوْلِ:

د مذکوره جملې مطلب:- په دې جمله سره نبی کریم دَ جاهلیت په زمانه کښې په ښځو باندې بې ځایه ظلمونه کولو طرف ته اشاره فرمائیلې ده اومقصدنی دا وو چه په دین اسلام کښې هرقسم آسانی ده اوتاسو بیاهم دَ نورو رخصتونو درخواستونه کونی تاسو ته معلومه نه ده چه په جاهلیت کښې به دَ ښځودَ عدت څه قصه وه

مشاراليها قصه: حضورپاك چه دَ کومې قصې اوافسانې طرف ته اشاره کړې ده دَهغې تذکره چه کومو کتابونوکړې ده دَهغې خلاصه داده چه په جاهلیت کښې به کله سړې مړکیدلو نوښځې به دَماتم کولو اوعدت تیرولودَپاره یه تنګه اوتیاره کوټه کښې داخلیدلې دَ بهرنه به دَ دغه کوټې دروازه بندولې شوه او لیویه ئی پرې کولو دَ یوې کهړکئی په ذریعه به معتده ښځې ته دَ سپی په لوښی کښې خوراك ورکولې شو هم په دغه کوټه کښې به ئی خوراك څښاك تشې اودکې متیازې هم په هغې سملاستل اوهم په هغې کښې به کیناستل پاسیدل وو. دَ ټول کال دَپاره به صرف یوه جوړه کپړې او پوره کال دَپاره به هم په دغه یوځائی کښې اوسیدله. دَ کال پوره کیدونه پس چه به کله کوټه ښه سخته زهریلا کیدله نوهغه خلقو به یوسپې یا مرغئی یا څه څناور دننه ورداخلولو او څناور به نی دَ هغه ښځې فرج پورې مږلو دَ سخت زهریلا ګیس دَ وجې نه هغه څناور مړشو نوخلقو به وئیل زبردست عدت ئی تیرکړې دې بیابه ئی دغه ښځه بهرراویستله او په یوخرباندې به ئی سوروله دَ ښځې مخ به دَ خر لکئی او کوناټوطرف ته کیدلو اوَ هغې په لاسونو کښې به ئی دَ اوښانو یا چیلو دَ پچونه ډکه ټوکرئی ورکوله. هغې به یوه پچه غورزوله اوماشومانو به هغې پسې منډې وهلې اودَ ډم ډم آوازونه لګولوسره به ئی خنداګانې اوقهقهې لګولوسره تلل کله چه به دغه ښځې آخری پچه غورزوله نودَهغې عدت به ختم شو. حضورپاك لکه چه اشاره اوکړه چه یوخوهغه کافرانه نظام اودَ هغې انسانیت سوز سلوك او یودَ اسلام دا شفقت اورحمت اودَ عزت اوعظمت نظام؟ دواړو کښې لوئی فرق دې.

[۳۳۳۰] د عدت په زمانه كښې د ماتم كولو حكم

۳۳۳۰-[۷] (۱) ① وَعَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، وَزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، ③ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او بي بي ام حبيبه رضي الله عنها او بي بي زينب بنت حجش رضي الله عنها د نبي كريم ﷺ نه نقل كوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② كومه ښځه چې په الله تعالى جل جلاله او د آخرت په ورځ ايمان لري، د هغې د پاره دا صحيح نه دى، چې هغه په يو مړي د دريو ورځو نه زيات ماتم وكړي، هو، ③ د خپل خاوند ماتم د څلور مياشتو او لس ورځو پورې كولى شي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات - ① تُحِدَّ: غم كوي، ماتم كوي، احداد په وزن د اعداد د باب افعال نه دي. علامه ابن همام رحمه الله فرمائي دا لفظ مجرد كښې د نصر او ضرب نه هم راځي احداد او حداد ترك زينت او عطريات او ډول سنګار د پريخودو نوم دي. په دې كښې د غم مفهوم پروت دې په دې وجه دې ته سوګ او ماتم وائي

تسهيلات:

قوله: لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ:

د دري ورځو نه زيات د ماتم كولو حرمت: -په اسلام كښې د خاوند نه علاوه په يو مړي باندې د دريو ورځو نه زيات غم او ماتم كول جائز نه دى. شيعه ګان چه هر كال د امام حسين عليه السلام ماتم كوي دا حرام دى. اسلام د انسان د طبيعت او فطرت لحاظ ساتلې دې نو په طبعي توګه باندې انسان دريو ورځو پورې بې مجاله وى. دې نه زيات ترك زينت او ترك عادت جائز نه دې او د زړه غم او د سترګو نه اوښكې تونيدل د دې څه تحديد نشته، دې د حضرت ام حبيبه رضي الله عنها متعلق ابوداؤد شريف كښې يو روايت دې چه كله د هغې د پلار ابوسفيان انتقال اوشو نو دريم ورځې پس هغې عطر راؤغوښتل او په خپلو متو باندې او مږل او وئې فرمائيل چه ماته د دې هيڅ ضرورت نه وو ليكن ما د نبي كريم نه اوريدلى دى بيا هغې هم دغه حديث بيان كړو (ابوداؤد ۳۱۴/۱) د ښځې د پاره د خاوند غم چونكه د ټولو غمونو نه زيات دې خكه چه د هغې ټول كور وران شى نو شريعت د ښځې د دې فطرى خفګان لحاظ ساتلې دې او څلور مياشتې او لس ورځو پورې د ماتم كولو اجازت وركړې دې او بيائې په دې باندې لازم كړې هم دى

١) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ٥٣٣٤. ومسلم فى صحيحه رقم الحديث ٥٨/ ١٤٨٦ والترمذى فى كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى عدة المتوفى عنها زوجها (رقم-١١٩٦) والنسائى فى كتاب الجهاد باب الرخصة للحادة أن تمتشط بالسدر(رقم-٣٥٣٧) ومالک فى الموطا كتاب الطلاق/باب ما جاء فى الإحداد (رقم-١٠١)

د متوفى عنها زوجه د عدت په موده کښې حکمت: - ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې لیکلی دی چه په عام توګه په هلك کښې دري میاشتې پس ساه راځی او په جینئی کښې څلور میاشتې لګی نو شریعت څلور میاشتې اولس ورځې مقرر کړې دي دپاره چه د هرقسم بچي ظهوریقینی شی بعضې بچو کښې حرکت کمزورې وی په دې وجه شریعت د څلورو میاشتو اولس ورځو اضافه اوکړه چه د ښځې د حامله کیدو اونه کیدو ښه اندازه اوشی

[۳۳۲۱] عدت والا ښځه دې د عطریاتو نه ځان اوساتی

---۳۳۳[۸] (۱) ۱ وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ "لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، ۳ وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ، وَلَا تَكْتَحِلُ، وَلَا تَمَسُّ طِيبًا، إِلَّا إِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ۴ وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: "لَا تَخْتَضِبُ».

ترجمه: ۱ او بي بي ام عطيه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هيڅ ښځه دې په يو مړي د دريو ورځو نه زيات ماتم نه کوي، هو، د خپل خاوند په مرګ دې د څلورو مياشتو او لس ورځو پورې ماتم کوي (په هغه ورځو يعنی په زمانه د عدت کښې) د يمنی څادر نه علاوه نه خو دی رنګينه کپړه اغوندي، ۳ نه دې رانجه لګوي، او نه دې خوشبو لګوي. البته د حيض نه د پاکيدو په وخت که لږ شان قسط يا اظفار استعمال کړي، نو قباحت نشته. (بخاري، مسلم) ۴ وابوداوود داالفاظ هم زيات نقل کړي دي چې خضاب رنګ دې هم نه لګوي

حل اللغات: - ① مَصْبُوغًا: رنګ شوې، ② عَصْبٍ: يمنی څادر. په يمن کښې به يوقسم څادر جوړيدو هغې ته عصب وانی ③ وَلَا تَلْبَسُ طِيبًا: نه به خوشبو لګوی. ④ نُبْذَةً: لږ. معمولی شان. په نون باندې ضمه ده اودا لفظ په وجه د استثنی منصوب دي ⑤ قُسْطٍ: اګرباتئ. عُود. ⑥ أَظْفَارٍ: يوقسم خوشبونی ده د کومې تکړې چه د نوکونو په شان وی. همزه مفتوح دې ددې مفرد خو يا نشته يا که چرې شته نو ظفردي ⑦ لَا تَخْتَضِبُ: خضاب رنګ به هم نه لګوی

تسهيلات:

قوله: وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا:

د متوفى عنها زوجها دپاره د رنګ دارو جامو اغستولو ممانعت: - يعنی رنګينې کپړې دې په توګه د زينت نه اغوندی که د زعفرانی رنګ وی اوکه د بل رنګ وی اوکه چرته بل څه کپړا ملاؤ نه شوه نوبيا دې رنګينه استعمال کړی مګرچه د دول سنګار خيال ئی قطعاً نه وی ځکه چه ستر پټول فرض دی

---

۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ٥٣٤١. ومسلم في صحيحه رقم الحديث ٦٦/ ٩٣٨ وابوداود في كتاب الطلاق/باب في المتوفى عنها تنتقل (رقم-٢٣٠٢) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: الخضاب للحادة (رقم-٣٥٣٦) واحمد في المسند: ٨٥/٥

د حديث د بعضې جملو وضاحت: - ① إِلَّاثَوْبَ عَصْبٍ: دلته دعصب نه مراد هغه رنګينه څادردې کوم چه د بوټولواوجوړولو نه مخکښې تارونه يا وړنې رنګ کړې شوې وی اوکله چه څادرتيارشي نو په هغې کښې سپينې او سرې قسم رنګ راځي دَدې قسم څادر استعمالول جائز دی ② طُهْرَتْ: يعني چه کله ښځه دَحيض نه پاکه شي

③ قُسْطٍ: قُسط دالفظ باب طب کښې باربار راغلي دې اودَ دې ترجمه اګرياتنی ده دلته دَدې نه يوقسم عطرمراد دی ملاعلی قاري رحمه الله ليکلی دی چه دا هندی عود دی دکوم نه چه دَ خوشبوئي او دوائي دوارو کار اخستې شي ښځې دَ حيض نه پس غسل کښې دا استعمالوی دې دَپاره چه بدبوئي ختمه شي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۳۲] دَعدت په حالت کښې دَمکان بدلولو حکم

۳۳۳۲—[۹] ( ) ①«عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا-: أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ -وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ- ②أَخْبَرَتْهَا أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- تَسْأَلُهُ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ،

ترجمه: ①بي بي زينب بنت کعب رضي الله عنها فرمايي چې فريعه بنت مالک بن سنان چې د ابو سعيد خدري رضي الله عنه خور ده، ②ماته وښودل، چې هغه (يعني فريعه) د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې د دې پوښتنې کولو د پاره حاضره شوه، چې آيا هغه (د خپل عدت د تيرولو د پاره) خپل اهل (د ښځې د مور او پلار کور) بني خدره ته منتقل کيدی شي؟

①فَإِنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ أَبَقُوا فَقَتَلُوهُ. ②قَالَتْ: فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي فَإِنَّ زَوْجِي لَمْ يَتْرُكْنِي فِي مَنْزِلٍ يَمْلِكُهُ وَلَا نَفَقَةٍ.

ترجمه: ①ځکه چې د هغې خاوند د خپلو تښتيدلي غلامانو په تلاش کښې تلی وو. او هغوی مړ کړې. ①نو فريعه رضي الله عنها وايي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې زه د خپل مور او پلار کور ته ولاړه شم؟ ځکه چې زما خاوند چې زه په کوم مکان کښې پريښې يم. هغه د هغه مالک نه وو (يعني زه چې په کوم مکان کښې اوسم هغه د هغه د ملکيت نه دی) او نه زما سره د خوراک او څښاک څه انتظام شته.

حل اللغات: - ①أَبَقُوا: هغوی تختيدلی دی.

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطلاق/باب فی المتوفی عنها تنتقل (رقم-۲۳۰۰) والترمذی فی کتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أين تعتد المتوفى عنها زوجها؟ (رقم-۱۲۰٤) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب عدة المتوفى عنها زوجها من يوم يأتيها الخبر (رقم-۳۵۳۲) وابن ماجه فی کتاب النکاح/ أين تعتد المتوفى عنها زوجها (رقم-۲۰۳۱)

فَقَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "نَعَمْ". [۲] فَانْصَرَفْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ، دَعَانِي، [۳] فَقَالَ: "امْكُثِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ" [۴] قَالَتْ: فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا.» رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] فريعه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل بهتره ده چې ته د خپلې مورګنۍ او پلارګنۍ كره ولاړه شې، [۲] نو (دا اجازت حاصلولو سره) زه ولاړم. خو كوم وخت چې زه د حجرې مباركي صحن يا مسجد نبوي ته ورسيدم، [۳] نو حضور ﷺ زه بيا راوغوښتلم. او وې فرمايل چې ته اوس په هغه كور كښې په عدت كښې كينه (په كوم كې چې ستا د خاوند د مرګ خبر راغلې دى). اګركه هغه ستا د خاوند ملكيت نه دى، ددې پورې چې كتاب يعني عدت، خپلې مودې ته ورسيږي، [۴] فريعه وايي چې زه (د حضور ﷺ د دې حكم مطابق) تر څلور مياشتو او لس ورځو پورې په هغه مكان كښې په عدت كښې ناسته وم.

مالک، ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: - ④ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ: كتاب يعنى عدت خپلې نيتې ته اورسى. يعنى عدّت (څلور مياشتې اولس ورځې) پوره شي.

تسهيلات:

قوله: امْكُثِي فِي بَيْتِكِ:

دمتوفى عنها زوجها د عدت دوه صورتونه: - ① دَ كومې ښځې چه خاوند مرشى دَهغې دَپاره عدت تيرول ضروري دى. كه چرې حامله وى نو وضع حمل د دې عدت دې

② كه چرې غيرحامله وى نو څلورمياشتې اولس ورځې دَهغې عدت دې

دمتوفى عنها زوجها د عدت تيرولو په محل كښې مذاهب: -

په كوم كوركښې چې د متوفى عنها زوجها خاوندوفات شوې وى نو په دې كښې معمولى شان اختلاف دې چې دا ښځه به هم په هغه كوركښې عدت پوره كوى اوكه په بل كور ته وربدليدوسره عدت مكمل كول جائز دى.

① دَ امام شافعى رحمه الله غيرمشهورقول دادې چه دَ خاوند په مرګ باندې عدت تيرولوكښې دا ښځه آزاده ده چرته چه غوارى عدت تيرولې شى. اوعدت پوره كول اوترك زينت په هغې باندې لازم دى صحابه كرامو كښې دَ يوې طبقې مسلك هم دغه شان وو

② دَ امام مالك رحمه الله امام ابوحنيفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيزدَخاوندچه په كوم كښې انتقال شوې وى هم په هغه كوركښې عدت تيرول ضرورى دى اوكه چرته كور وران شى يا بل څه حادثه پيښه شى نوبيا بل ځائى ته منتقل كيدې شى اوهم دغه دَ امام شافعى رحمه الله مشهورقول هم دې

داول فريق دليل:- زير بحث حديث د دوی مستدل دی طريقه دَ استدلال داسې دي نبی كريم فريعه بنت مالك ته دَ تلو اجازت وركړې وو اودَهغې دَپاره تلل جائز هم وو ليكن روستو نی رامنع كړه چه دا مستحب دی چه هم په دغه كوركښې عدت تيركړی نودا امر دَ اسحباب دَپاره دي

داول فريق د مستدل جوابونه:-

① نبی كريم اول دغه ښځه معذوره گنړلې وه نودَ تلو اجازت نی وركړو بيا نبی كريم ته معلومه شوه چه دامعذوره نه ده نونبی كريم هغه منع كړه

② باقی فريق اول چه داكوم ونيلی چه امردَ استحباب دَپاره دي نوجواب دادي چه په استحباب باندې دلته هيڅ قرينه نشته بلكه دَ وجوب قرينه موجود ده چه دَ اجازت نه پس نی منع اوفرمائيله

د دويم فريق دليل:- زير بحث حديث د دويم فريق دبآره هم مستدل دي طرز دَ استدلال داسې دي چه نبی كريم اول دَ تلو اجازت وركړې وو ليكن بيائی منع كړه. په دغه منع كولوسره هغه رومبې حكم منسوخ شو يا چه دا اوونيلې شی چه دَ وفات په عدت كښې دَعذر اوحاجت دَ وجې دَ خاوند دَ كور نه وتل دَتولو په نيزجائز دی. نبی كريم اول دغه ښځه معذوره گنړلې وه نودَ تلو اجازت ئی وركړو. بيا نبی كريم ته معلومه شوه چه دامعذوره نه ده نونبی كريم هغه منع كړه.

نوټ:- يادلرنی دكومې ښځې چه خاوندمړشوې وی هغه دَ ضرورت دَ وجې نه په ورځ كښې او څه حصه دَ شپې كښې دَ كورنه بهرتلې شی ليكن بغيردَ ضرورت سيل اوچكردَ پاره وتل جائز نه دی.

په كومو ښځو ماتم نشته؟:- امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه اووه قسمه ښځې داسې دی چه دهغوی دَ خاوندانو دَ وفات نه پس ماتم كول واجب نه دی دَدې تفصيل په درمختاركښې داسې ليكلې دي

① كافره ښځه يعنی يهوديه يا نصرانيه باندې ماتم واجب نه دي

② مجنونه اوليونئی باندې نشته دي

③ معتده عتق يعنی ام ولده باندې دَ مولی دَمرګ نه پس ماتم نشته

④ په صغيره باندې ماتم نشته دي

⑤ دَفاسد نكاح عدت تيرونكې ښځه باندې ماتم نشته دي

⑥ وطی بشبه يعنی په غلطئی كښې چاسره چه جماع شوې وی اوهغه په عدت كښې ناسته وی په هغې باندې ماتم نشته دي

⑦ هغه ښځه چه په طلاق رجعی كښې ناسته وی په هغې باندې ماتم واجب نه دي يادلرنی

چه دَ ماتم دَعدت په ورځو کښې کیناستو سره دَ ډول سنګار ترک کولونوم دې. نودَ طلاق رجعي په عدت کښې ترك زینت نشته بلکه زینت اختیارول دی دې دَپاره چه خاوندئې رجوع اوکړی اوچه دَ کومې ښځې خاوند مړشوې وی یا هغې ته طلاق مغلظه یا طلاق بائن شوې وی نودَهغې دَ عدت موده کښې په هغې باندې ډول سنګار ترک کول واجب دی کوم ته چه ماتم وائی

[۳۳۳۳] دَعدت دوران کښې سنګار منع دې

۳۳۳۳–[۱۰] (۱) ۱ «وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ ۲ وَقَدْ جَعَلْتُ عَلَيَّ صَبِرًا. قَالَ: "مَا هَذَا يَا أُمَّ سَلَمَةَ؟ ۳ قُلْتُ: إِنَّمَا هُوَ صَبِرٌ لَيْسَ فِيهِ طِيبٌ.

ترجمه: ۱ او بي بي ام سلمه رضي الله عنها (چې د حضور ﷺ بي بي مبارکه ده) روایت کوي. هر کله چې (زما اولنی خاوند) ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو (او زه په عدت کښې ناسته وم) نو (یوه ورځ) رسول الله ﷺ زما کور ته تشریف راوړو، ۲ هغه وخت ما په خپل مخ ایلوا (مصبر، صبر) لګولي وو، د دې لیدو سره حضور ﷺ وفرمایل چې اې ام سلمه! رضي الله عنها دا څه دي؟ یعني تا د عدت په ورځو کښې دی په مخ دا څه لګولي دي؟ ۳ ما عرض اوکړو چې دا خو ایلوا ده، چې هیڅ قسم خوشبو پکې نشته،

حل اللغات:- ① صَبِرًا: په صاد باندې فتح ده اوباء باندې کسره ده، دَ یوترخې دوائی نوم دې کوم ته چه ایلوا وائی.

۱ فَقَالَ: " إِنَّهُ يَشُبُّ الْوَجْهَ فَلَا تَجْعَلِيهِ إِلَّا بِاللَّيْلِ، وَتَنْزِعِيهِ بِالنَّهَارِ، ۲ وَلَا تَمْتَشِطِي بِالطِّيبِ وَلَا بِالْحِنَّاءِ فَإِنَّهُ خِضَابٌ ". ۳ قُلْتُ: بِأَيِّ شَيْءٍ أَمْتَشِطُ؟ يَا رَسُولَ اللَّهِ! قَالَ: " بِالسِّدْرِ تُغَلِّفِينَ بِهِ رَأْسَكِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ حضور ﷺ وفرمایل خو ایلوا مخ ځوان جوړ وي (یعني د ایلوا لګولو سره مخ خلانده (ښائسته) کیږي ، او رنګ ښکلی کیږي) نو ته دا مه لګوه، هو، که په څه وجه لګول یې ضروري وي، نو د شپې یې لګوه، او د ورځې یې صفا کوه (ځکه چې د شپې استعمالول سره د جوړ وسینګار ګمان به هم نه وي) ۲ دغه شان خوشبوداره ګمنزول هم مه کوه، او مه نکریزي لګوه، ځکه چې نکریزي د سور رنګ وي (او په هغه کښې خوشبو وي، چې د ماتم په حالت کښې ممنوع دی) ۳ ما عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ بیا زه په څه شي سره ګمنز کوم؟ (یعني خپل ویښتان په څه شي سره صفا کوم؟) ۴ حضور ﷺ وفرمایل چې د بیرې په پانړو سره صفا کوه، او په هغه پانړو سره د غلاف په شان خپل سر

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطلاق/ باب فیما تجتنبه المعتدة فی عدتها (رقم-۲۳۰۵) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب الرخصة للحادة أن تمتشط بالسدر(رقم-۳۵۳۷) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب الرخصة للحادة أن تمتشط بالسدر(رقم-۳۵۳۷) ومالک فی الموطاکتاب الطلاق/باب ما جاء فی الإحداد (رقم-۱۰۸)

پټوه ,يعني د بيرې پاڼرې په خپل سر په دومره مقدار کښې آچوه، چې هغه ستا سر د غلاف په شان پټ کړی، ابوداود، نسايي

حل اللغات: -② يَشُبُّ الْوَجْهَ: مخ خوائي، مخ ښائسته کوی. ③ وَلَا تَمْتَشِطِي: او مه ګومنز کوه. ④ بِالسِّدْرِ: بيرې، د بيرې پاڼرې. ⑤ تُغَلِّفِينَ بِهِ: ته پټوه په دې سره، ,د غلاف په شان ئې لګوه.,

تسهيلات:

قوله: بِالسِّدْرِ تُغَلِّفِينَ بِهِ رَأْسَكِ:

د متوفى عنها زوجها د عدت په دوران کښې د موجوده دور زيب وزينت حکم: - تغلفين د غلاف جوړولو او سرپټولو په معنى کښې دې دَ دغه څيزونو په ممانعت سره معلومه شوه چه دَ نوی دور ټول لپ اسټك اوناخن پالش اونور قسم کريم دَ خائست او سنګار ټول څيزونه منع دی دغه شان هرقسم عطرونه پاؤډر اودَ خوشبودَپاره صابن وغيره هم منع دی خکه چه په دې بعضې څيزونو کښې خان جوړول او سنګار دې او په بعضو کښې خوشبوئی ده

[۳۳۳۳] معتده ښځه دې کالی نه استعمالوی

۳۳۳۳ — [۱۱] (۱) ① وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا ③ لَا تَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ مِنَ الثِّيَابِ، وَلَا الْمُمَشَّقَةَ، ④ وَلَا الْحُلِيَّ، وَلَا تَخْتَضِبُ، وَلَا تَكْتَحِلُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي ام سلمه ﷷ د نبی کريم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② د کومې ښځې خاوند چې مړ شي، ③ هغه دې نه په کسم کښې رنګ شوي کپړه اغوندي، نه دې په ګيرو کښې رنګ شوي کپړه اغوندي، ④ نه دې کالي ,زيور, اچوي، نه دې په لاسو و پښو او ويښتانو نکريزې لګوي او نه دې سرمه ,رانجه, لګوي، ,ابوداؤد، نسايي,

حل اللغات: - ① الْمُعَصْفَرَ: اى المصبوغ بالعصفر، زيړ رنګ، کسم، يعنى په کسم کښې رنګ شوي کپړه ② الْمُمَشَّقَةَ: اى المصبوغة بالمشق بكسر الميم وهو الطين الاحمر، دې ته ګل خيرو ,سره ښاوره, وائی په دې سره کپړه رنګ کولې شی ③ وَلَا الْحُلِيَّ: نه به کالی ,زيورات, استعمالوی حاء باندې ضمه هم صحيح ده اوکسره هم صحيح ده او په "ی" باندې شد دې دَ حلية جمع ده کالو ,زيوراتو, ته وائی.

تسهيلات: **قوله:** لَا تَلْبَسُ:

د معتده دپاره د ريښمو جامو اغوستلو حکم: - صاحب دَ هدايه ليکلی دی چه دَ څه بيمارئی يا خارښ يا سپګودَ وجې نه معتده ته په سوګ کښې دَ ريښمو کپړه استعمالول جائزدی يعنی بغيردَ مجبورئی او بغيردَ ضرورت نه ريښمن لباس استعمالول منع دی امام مالك ﷫ فرمائی چه دَ تور رنګ ريښم او کالی استعمالول جائزدی ليکن شارحين

۱) اخرجه ابوداود فى كتاب الطلاق/ باب فيما تجتنب المعتدة فى عدتها (رقم-۲۳۰۴) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب ما تجتنب الحادة من الثياب المصبغة (رقم-۳۵۳۵) واحمد فى المسند: ۳۰۲/۶

حدیث لیکی د کالوخو ښکاره ممانعت راغلې دې او په رنګ شوې کپړو کښې هر رنګ منع دې بغیرد معصب لهذا تور ریښم هم منع کیدل پکار دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۲۵] د مطلقه د عدت باره کښې یو بحث

۳۳۲۵–[۱۴] (۱) [۱] عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -: أَنَّ الْأَحْوَصَ هَلَكَ بِالشَّامِ حِينَ دَخَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ، وَقَدْ كَانَ طَلَّقَهَا، [۲] فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ إِلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ يَسْأَلُهُ عَنْ ذٰلِكَ. [۳] فَكَتَبَ إِلَيْهِ زَيْدٌ: [۴] إِنَّهَا إِذَا دَخَلَتْ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ وَبَرِءَ مِنْهَا، وَلَا تَرِثُهُ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] سلیمان بن یسار رحمه الله وایي چې احوص رحمه الله په ملک شام کښې هغه وخت وفات شو کله چې د هغه د ښځې دریم حیض شروع شوی وو او احوص (د خپل مرګ نه مخکې) هغې ته طلاق ورکړي وو، [۲] نو حضرت معاویه ابن ابي سفیان رضی الله عنه د دې مسئلې د معلومولو د پاره حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ته خط ولیکی، [۳] حضرت زید رضی الله عنه، حضرت معاویه رضی الله عنه ته په جواب کښې ولیکل، [۴] هر کله چې د هغې ښځې دریم حیض شروع شو، نو هغه د احوص نه جدا شوه، او احوص د هغې نه جدا شو. نه احوص د هغې وارث کیدیشي، او نه هغه د احوص وارثه کیدیشي، (مالک)

تسهیلات:

قوله: مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ:

صورت د مسئلې: – د مسئله صورت داوو چه حضرت احوص رحمه الله خپلې بی بی ته طلاق ورکړې وو اود هغه ښځه د عدت تیرولود پاره ناسته وه هغه په دریم حیض کښې داخل شوه چه د هغې د خاوند انتقال اوشو. اوس دا شك پیدا شوچه دا ښځه به د خاوند د مرګ څلورمیاشتې او لس ورځې کیني اوبیابه دا د خپل خاوند وارثه جوړیږی

دَ دې ښځې هغه د طلاق والا عدت ختم شوې دې لهذا دا به د خپل خاوند وارثه نه جوړیږی. هم دغه مسئله حضرت معاویه رضی الله عنه د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه نه د خط په ذریعه معلومه کړه. حضرت زید رضی الله عنه په جواب کښې اوفرمائیل چه کله دا ښځه په خپل دریم حیض کښې داخله شوې وه نوهم دغه وخت د هغې د طلاق والا عدت ختم شو اوهغه آزاده شوه. لهذا دې ته به د خاوند په میراث کښې هیڅ نه ملاویږی څکه چه اوس د دې د خاوند سره تعلق بالکل ختم شو

۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الطلاق /باب ما جاء فی الخیار (رقم-۲۵)

د حضرت زيد رضى الله عنه نه د مسئلې معلومولو مقصد: -دَدې بيان نه معلوميږي چه دَحضرت معاويه رضي الله عنه دَ حضرت زيد رضي الله عنه دَ مسئله معلومولو مقصد صرف دومره ووچه دا ښخه وارثه جوړيدې شي اوكه نه اوداهم احتمال دې چه حضرت معاويه رضي الله عنه دامعلومول غوښتل چه آيا دَدې ښځې به دَ عدت والاطلاق پاتې وى كه دَ خاوندد مرګ عدت به تيره وى حضرت زيد رضي الله عنه جواب وركړوچه كله دا ښځه په دريم حيض كښې داخله شوه دَدې عدت ختم شو اوس نه دادَ خپل خاوند ميراث اخستې شى اونه دَوفات دَ عدت ضرورت دې ځكه چه دَ خاوندَ وفات په وخت دَدې ښځې تعلق دَخپل خاوندسره ختم شوې وو

په عدت بالا طهار باندې د شوافعو استدلال: -دَ دې روايت نه شوافعو دَ عدت بالاطهار مسئله ثابتول غوارى ځكه چه دَهغوى په نيز دَ قرآن كريم آيت ﴿ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ ﴾ نه اطهارمراددې كله چه په دريم حيض كښې ښځه داخله شوه نودرې طهره پوره شوې دې وچه عدت ختم شو.

د شوافعو د استدلال نه جواب:- دا دَ حضرت زيد رضي الله عنه مسلك وو مونږ دَ نورو صحابه كرامو مسلك اخلو په كوم كښې چه خلفاء راشدين اونور اكابر صحابه كرام رضي الله عنهم داخل دي. بل دا قول دَ صحابى دې اواحناف دَ مرفوع احاديث نه استدلال كوى. بل دَحضرت زيد رضي الله عنه نه طلاق الامة الاثنتان وعدتها حيضتان روايت هم ثابت دې دَ كوم نه چه عدت بالحيض ثابتيږى معلومه شوه چه راوى دَ خپل مروى به خلاف فتوىٰ وركړې ده نودَ استدلال قابل پاتې نه شو بهرحال مضبوط دلائل احنافو سره دى.

[۲۲۳٦] د مطلقه د عدت باره كښې يوه مسئله

[۱۳]( ) ①وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -: ②أَيُّمَا امْرَأَةٍ طُلِّقَتْ فَحَاضَتْ حَيْضَةً أَوْ حَيْضَتَيْنِ، ثُمَّ رُفِعَتْهَا حَيْضَتُهَا ; ③فَإِنَّهَا تَنْتَظِرُ تِسْعَةَ أَشْهُرٍ، ④فَإِنْ بَانَ بِهَا حَمْلٌ فَذٰلِكَ، وَإِلَّا اعْتَدَّتْ بَعْدَ التِّسْعَةِ الْأَشْهُرِ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ ثُمَّ حَلَّتْ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ①او سعيد بن مسيب رضي الله عنه وايي چې حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل ②كومې ښځې ته چې طلاق وركړى شوى وي، او هغې ته يو يا دوه حيضه راتلو سره بيا موقوف شوى وي، ③نو هغه دې تر نهه مياشتو انتظار وكړي. ④كه ددې په موده كښې حمل ظاهر شو ، نو د هغې حكم ظاهر دى، او هر كله چې ولادت وشي، نو عدت به پوره شي، او كه حمل ظاهر نشي، نو بيا نهه مياشتې وروسته تر دريو مياشتو د عدت ورځې دې تيرې كړي، او د دې نه وروسته به حلاله وي (يعني د عدت نه به وځي) مالك.

حل اللغات:- ①فَإِنْ بَانَ بِهَا حَمْلٌ: كه ددې حمل ښكاره شو. ②ثُمَّ حَلَّتْ: بيا به حلاله وى، عدت به ئې ختم شى.

---

۱) اخرجه مالک فى الموطا كتاب الطلاق/باب جامع عدة الطلاق (رقم-۷۰)

تسهيلات: قوله: طُلِّقَتْ: دا دَ مجهول صيغه ده دَ طلاق په معنى كښې ده

قوله: حَيْضَتَيْنِ:

د مذكوره جملې وضاحت: - يعنى دَ عدت تيرولو دَ پاره طلاقه شوې ښځه كيناسته خو چه كله يو حيض يا دوه حيضه راغلل نو وينه بنده شوه هم د دې مفهوم دَ پاره نې راتلونكې جمله ارشاد فرمائيلې ده (ثم رفعتها حيضتها) رفعتها دا دَ مجهول صيغه ده او حيضتها دَ دې نائب فاعل دې او په رفعتها كښې چه كوم دَ هاء ضمير دې دا منصوب بنزع الخافض دې اصل عبارت داسې دې (ثم رفعت حيضتها عنها) دَ رفع حيض نه مراد دَ حيض بنديدل دى

قوله: فَإِنَّهَا تَنْتَظِرُ:

جواب شرط: - دا دَ (ايما امرأة) شرط دَ پاره جواب دې (فذالك) دا مبتداء دې او دَ دې خبر محذوف دې (اى فذلك ظاهر حكمه) يعنى دَ دې حكم خو ښكاره دې چه وضع حمل سره به عدت ختم شى (والا) په دې كښې ان شرطيه مدغم دې اصل عبارت داسې دې (وان لم يبن يعنى كه چرې حمل نه وى ښكاره شوې

قوله: والا اعْتَدَّتْ:

د مذكوره لفظ نحوى تركيب: - دا په اصل كښې (فاعتدت) دې او دَ شرط جواب دې (بعد التسعة الاشهر) دلته التسعة په مضاف باندې الف لام داخل دې حالاتكه نحاة دا نه خوښه وى ځكه چه په دې كښې ثقل دې او فائده نې نشته دې دَ دې علماء دا جواب وركوى چه په مضاف باندې الف لام داخلول دَ اهل كوفه دَ لغت موافق دې كوم چه دَ هغوى په نيز جائز دې او په دې كښې هيڅ قباحت نشته دې لكه (الثلاثة الاثواب) بعضې علماء وائى چه "التسعة" نه "الاشهر" بدل واقع دې او دا هم په عربو كښې شائع ذائع دې

په مذكوره حديث كښې د ذكر شوې مسئلې صورت: -په دې روايت كښې چه كومه مسئله بيان كړې شوې ده دَ هغې صورت دا دې چه مثلاً يوه مطلقه مغلظه ښځه دَ حيض والا ده هغې دَ دريو حيضو په اراده سره عدت تيرول شروع كړه كله چه يو يا دوه حيضونه تير شو نو وينه بالكل بنده شوه اوس دَ دغه ښځې عدت دَ حامله ښځې په عدت كښې بدل شو خو چه دَ حمل دَ اكثريت موده نهه مياشتې هم تيرې شوې نو معلومه شوه چه هغه حامله نه ده اوس په دې باندې دَ آئسه عدت تيرول لازم دى آئسه هغه ښځه ده چه دَ حيض دَ راتلونه نا اميده شى نو دَ هغې عدت مياشتو سره وى لهذا درې مياشتې به نوره كينى عدت به تير كړى او دَ او ږدې زمانې پرواه به نه كوى په دې روايت كښې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم دغه مسئله بيان كړې ده.

د طلاق الفار تعریف: - ملاعلی قاری رحمه الله د فتح القدیر په حواله سره دلته د تفریع په توګه د طلاق الفار مسئله بیان کړې ده (فار) تختیدونکی سړی ته وائی اود طلاق الفار مطلب دادې چه یو سړې په لاعلاجه بیمارئی کښې راګیر دې د صحت امید ئې نشته هغه هم په دغه مرض کښې خپلې ښځې له دَدې دَپاره طلاق ورکړو چه هغه د میراث نه محرومه کړی اوس هغه ښځې د طلاق عدت تیرولو چه خاوندئې وفات شو

د طلاق الفار د عدت حکم: - د احنافو فقهاء فرمائی چه اوس به دا ښځه "ابعد الاجلین" عدت تیره وی د عدت بالحیض زمانه هغه وخت اوږدیږی چه د یو حیض نه پس مثلاً د دیرو میاشتو پورې طهر اوږد شو اوځلور میاشتې او لس ورځونه موده زیاته شوه اوس به دا ښځه د طلاق والا عدت تیره وی چه د عدت وفات زوج نه اوږد دې. د کومې زمانې پورې په رسیدو سره چه ښځه آئسه کیږی د هغې په تعین کښې مختلف اقوال دی. یو قول دادې چه ۵۵ کالو عمر د ایاس زمانه ده د یو قول مطابق ۶۰ کاله او د دریم قول مطابق سن ایاس ۷۰ کاله زمانه ده

[۱۵] بَابُ الإِسْتِبْرَاءِ

خلاصة الباب: -

فيه خمسة أحاديث مشتملة على مسئلتين:

① وجوب استبراء الرحم : ۱، ۳، ۵-

② طريقة الاستبراء: ۲، ۴-

د استبراء لغوی: -استبراء په لغت کښې طلب برأت او یو څیز د څه عیب وغیره نه د پاکولو په معنی کښې راځی

د استبراء اصطلاحی تعریف: - د وینځې رحم د حمل نه خالی کولو طلب استبراء ده

د استبراء سبب: - اسباب د استبرا تجدد د ملك دې یعنی د وینځې مالك کیدل که دا ملکیت د اخستلو خرڅولو په ذریعه حاصل وی یا په هبه سره وی یا مال غنیمت په تقسیم سره وی غرض دا چه په کوم سبب سره هم وی خوچه کله تجدد ملك متحقق شو نو استبراء لازم ده

د استبراء حکمت: -د استبراء حکمت دادې چه د وینځې نه پیداشوی بچی کښې اشتباه د نسب ختمیږی څکه چه د استبراء نه بغیر په وطی کولو سره چه کوم بچې پیدا کیږی په هغې کښې دا احتمال هم شته چه د غیر د نطفه نه وی

د عدم استبراء نقصانات: -

① دا خپل طرف ته منسوب کړی نو احتمال دې چه د بل بچې خپل طرف ته منسوب کوی

② که دَ بل طرف ته ئې منسوب کړو نودا احتمال دې چه خپل بچې دَ بل طرف ته منسوب کوی اودا ټول صورتونه شرعًا حرام دی هم دَدې حکمت طرف ته دَدې باب رومبې حدیث کښې پخپله نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلې دې دَ کوم تفصیل چه راروان دې

دَ استبراء صورتونه:- ① دَ جمهورو په نیز اصل مذهب دادې چه په ملکیت کښې راتلونکې وینځه که چرې دَ ذوات حیض نه وی نو دَ استبراء رحم دَ پاره هم یوحیض کافی دې

② که چرې په وجه دَ صغرعمر یا کبرعمر حیض نه راځی نو دَ استبراء دَ پاره یوه میاشت کافی ده ③ که په ملك کښې راتلونکې وینځه حامله وی نو دَ استبراء رحم دَ پاره وضع حمل کافی دې

دَ استبراء رحم حکم:- دَ استبراء رحم نه وړاندې جماع کول حرام دی بیا دا استبراء دَ صغیره کبیره یا باکره ثیبه ټولو دَپاره لازم ده

دَ استبراء دَعدم ضرورت صورتونه:-

① وینځه صغیره ده یا باکره ده ② دَ یوماشوم وینځه وه

③ دَ وینځې مالکه ښځه وه

④ مالك دَ دغه وینځې محرم وو

اشکال:- دَ استبراء ضرورت خو هغه ځائی کښې وی چرته چه دَ اشتغال رحم امکان وی، دې دَپاره چه په نسب کښې اشتباه رانه شی ځکه چه ممکن دی دَ غیرنطفه په رحم کښې موجود وی خوچه کله دَ اشتغال رحم بالکل امکان نه وی نوهلته دَ استبراء څه ضرورت دې؟ اوپه مذکوره ټولو صورتونو کښې دَ اشتغال رحم امکان نشته دې نو دَ قیاس تقاضا داده چه په دې صورتونو کښې دې استبراء نه وی؟

دَ اشکال جواب:- چونکه دَ استبراء سره متعلق نصوص او احادیث مطلق دی لهذا مونږ نصوص واخستل اوقیاس مو پریخودو. په دې وجه مونږ په توګه دَ امر تعبدی هرځائی کښې استبراء ضروری اومنله. دَمطلق نصوص مطلب دادې چه دَ جنګ حنین او جنګ اوطاس په موقع نبی کریم اوفرمائیل حامله وینځوسره دَ وضع حمل پورې جماع اونه کړئی اودَ غیرحامله سره دَ یوحیض راتلو پورې جماع اونه کړئی دلته دَ غیرحامله لفظ عام دې دَ باکره صغیره وغیره ذکرشته دې. هم دامطلق جمهورو قبول کړو او قیاس ئې ترك کړو

متروك العمل دوه حدیثونه:-

① دَ باب فصل ثالث روایت نمبر ۴ دَ کوم روایت چه امام مالك رحمه الله کړې دې په کوم کښې چه داراځی که چرې وینځه دَ حیض والانه وی نوبیا دې درې میاشتې عدت دې

② دغه شان په روایت نمبر ۵ چه دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دې هغه هم دَ جمهور فقهاؤ په نیز متروك العمل دې په کوم کښې چه راغلی دی چه دَ باکره دَ پاره استبراء نشته دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٣٣٣٤] دَاستبراء نه بغير جماع حرام ده

٣٣٣٤-[١] (١) «١عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِامْرَأَةٍ مُجِحٍّ، ٢فَسَأَلَ عَنْهَا، فَقَالُوا: أَمَةٌ لِفُلَانٍ. ٣قَالَ: "أَيُلِمُّ بِهَا؟" قَالُوا: نَعَمْ. ٤قَالَ: لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَلْعَنَهُ لَعْنًا يَدْخُلُ مَعَهُ فِي قَبْرِهِ، ٥كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ؟ أَمْ كَيْفَ يُوَرِّثُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ؟». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١حضرت ابو درداء ﷺ وايي چې (يوه ورځ) نبی کريم ﷺ د يوې ښځې نژدې تير شو، چې د هغې زر ولادت کيدونکي وو، ٢حضور ﷺ د هغې په باره کښې د معلومولو د پاره وفرمايل (چې دا آزاده ښځه ده که وينځه ده؟) صحابه وو ﷺ عرض اوکړو چې د فلاني سړي وينځه ده، ٣حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې آيا هغه سړي د دې سره صحبت کوي؟ صحابه وو ﷺ عرض اوکړو چې هو، ٤نو حضور ﷺ وفرمايل چې ما اراده وکړه چې په هغه سړي داسې لعنت وکړم، چې د هغه سره قبر ته هم ولاړشي، يعنی داسې لعنت چې هميشه ورسره وي، په دې طور چې د هغه اثر د هغه د مرګ نه وروسته هم باقي وي، ٥هغه به څنګه خوی ته د خدمت د پاره وايي، هر کله چې دي خوی ته د خدمت د پاره ويل، يا هغه غلام جوړول حلال نه دی، يا هغه به څنګه خپل وارث ګرځوي، هر کله چې د غير خوی خپل وارث جوړول حلال نه دی، (مسلم)

حل اللغات: - ١ مُجِحّ: په ميم باندې ضمه ده اودې نه پس په جيم باندې کسره ده اودې نه پس حاء ده په کوم چه شد دې اوکسره سره تنوين دې قريب الولادت ښځې تـه وائي. زر ولادت کيدونکې ښځه. ٢ أَيُلِمُّ بِهَا؟: آيا هغه ددې سره صحبت کوی؟، داد المام نه د جماع په معنی کښې راځي

تسهيلات:

قوله: كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ؟:

دحديث د بعضې جملو وضاحت: -

١ يَسْتَخْدِمُهُ: داد استخدام نه خادم اوغلام جوړولو په معنی کښې دې د (وهو) ضمير د استخدام طرف ته راګرځي يعنی خپل خوئی غلام جوړول حرام دی حلال نه دی.

٢ كيف يورثه: داد باب تفعل نه دې دوارث جوړولو په معنی کښې دې يعنی د بل خوئی به خپل وارث څنګه ګرځولې شی حالانکه دا د ده دپاره حلال نه دی.

د حديث مطلب: - د حديث مطلب داشوچه د استبراء نه وړاندې وطی کول د دې وجې نه سبب د لعنت دی چه په دې سره په نسب کښې اشتباه راځي. ځکه چه د استبراء نه وړاندې

١) اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث١٣٩/ ١٤٤١ وابوداود فی السنن رقم الحديث ٢١٥٦ واحمد فی المسند رقم الحديث ٦/ ٤٤٦

مثلاً وطی اوکړه او شپږ میاشتې پس بچې پیدا شو نواوس به دا بچې د چا وی دا هم احتمال دې چه د دغه نوی مالك خوئی وی او دې د خوئی په خائی غلام گرځوی او د غلام په شان د ده نه خدمت اخلی او دا هم احتمال دې چه هغه ماشوم د بل چا خوئی وی دا نوې مالـك دې خـوئی جوړولو سره وارث جوړ گرځوی دا دواړه صـورتونه حـرام دی او پـه دغـه حراموکبنې دا سرې د استبراء نه کولو په وجه راگیرشو معلومه شوه چه استبراء نه کول د لعنت سبب او حرمت موجب دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۳۸] بغیر د استبرا نه د وینځې سره د صحبت کولو ممانعت

۳۳۳۸ــ[۲] (۱) [۱]«عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] قَالَ فِي سَبَايَا أَوْطَاسٍ: "لَا تُوطَأُ حَامِلٌ حَتَّى تَضَعَ، [۳] وَلَا غَيْرُ ذَاتِ حَمْلٍ حَتَّى تَحِيضَ حَيْضَةً». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوسعید خدري ﷺ د نبی کریم ﷺ نه بطریق مرفوع نقل کوي [۲] چې حضور ﷺ په غزوه اوطاس کښې د گرفتارو وینځو په باره کښې وفرمایل چې هیڅ حامله وینځې سره دې د هغه وخته صحبت ونه کړل شي، د څو پورې چې د هغې ولادت ونشي، [۳] او د غیر حامله سره هم هغه وخته پورې دې صحبت نه کیږی، د څو پورې چې هغې ته یوحیض رانشي، (احمد، ابوداؤد، دارمي)

حل اللغات: -(۱) سَبَايَا: قیدیان، (۲) أَوْطَاسٍ: دا د یو غزوې نوم دې هغې طرف ته نسبت دې

تسهیلات:

قوله: لَا تُوطَأُ حَامِلٌ حَتَّى تَضَعَ:

د غیر حاملې حیض نه راتلو په صورت کښې حکم:- که یوې غیر حاملې ته ددې د کم عمرۍ په وجه یا د زیات عمر په وجه حیض نه راځی نو ددې استبراء دا ده چې تر یوې میاشتې پورې دې ته د نزدې کیدو نه اجتناب اوکړې شی کله چې یوه میاشت تیره شی نو بیا دې ورسره جماع اوکړی دا صورت په دې حدیث پاك کښې په دې وجه نه دې ذکر کړې شوې چې دا قلیل الوجوه او نادر دې

د وینځې د استبراء رحم حکم:- وینځه که د حیض په حالت کښې د چا په ملکیت کښې راشي نو په استبراء کښې به ددې حیض اعتبار نه وی بلکه دبل پورا حیض اعتبار به وی دا حدیث ددې خبرې دلیل دې چې وینځې دپاره د نوی ملکیت پیدا کیدل استبراء واجبوی د څلورو واړو ائمه کرامو هم دا مسلك دې

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب النکاح/باب فی وطء السبایا (رقم-۲۱۵۷) واحمد فی المسند: ۶۲/۳

د دارالحرب څخه د بندي ښځې نکاح ختميدوکښې مذاهب:-

① چې کله دار الحرب نه يوه کافره وينځه ګرفتاره کړې شي نو د هغې اولنۍ نکاح د امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نيزختميږي (يعني کافرانو سره د جنګ وغيره په صورت کښې ددوئ چې کومې واده شوې ښځې يا وينځې وي او هغه مسلمانان ګرفتارې کړې نو ددوئ خاوندانو سره به ددوئ د زوجيت تعلق ختم شي)

② حضرت ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چې که ښځه خاوند دواړه يو ځائې ګرفتار کړې شو نو دې صورت کښې به ددوئ نکاح برقراره وي

[۲۳۳۹] د استبراء په غرض د حملدارې وينځې سره د جماع ممانعت

—[۳] (١) ① وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمَ حُنَيْنٍ: ② "لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ -يَعْنِي إِتْيَانَ الْحَبَالَى- ③ وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَقَعَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ السَّبْيِ حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا، ④ وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَبِيعَ مَغْنَمًا حَتَّى يُقْسَمَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: "زَرْعَ غَيْرِهِ".

ترجمه: ① او حضرت رويفع ابن ثابت الانصاري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ د غزوه حنين په ورځ وفرمايل ② کوم سړی چې په الله تعالی او د قيامت په ورځ ايمان لري، د هغه د پاره دا خبره درست نه ده، چې هغه د بل کيتی په خپلو اوبو سره اوبه کړي (يعنی د هغه ښځي سره جماع کول جائز نه دی، چې دمينځي په طور لاس ته راغلی وی، او د بل چا د نطفی نه حامله وی) ③ او کوم سړی چې په الله تعالی او د آخرات په ورځ ايمان لري، د هغه د پاره دا هم جائز نه دي. چې د کفارو سره په جنګ کښې د ګرفتاری شوي وينځې سره د هغه وخته جماع وکړي، د څو پورې چې يو حيض ورته راشي، يا د يوي مياشتي تيريدو انتظار کولو سره د هغې استبرا ونه کړي، ④ او کوم سړی چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان لري. د هغه د پاره دا هم صحيح نه دی، چې هغه مال غنيمت خرڅ کړي. د څو پورې چې هغه تقسيم نشي (يعني په مال غنيمت کښې څه قسم تصرف او خيانت نه کوي) (ابوداؤد) او امام ترمذي رحمه الله دا روايت د لفظ زرع پورې نقل کړي دي

حل اللغات:- ① أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ -يَعْنِي إِتْيَانَ الْحَبَالَى: چه د بل فصل په خپلو اوبو سره اوبه کړی. يعنی د بل چا د نطفې نه حامله شوې ښځې سره جماع اوکړی ②-يَسْتَبْرِئَهَا: چه استبراء ئې اوکړی. يعنی د عدت تيريدو انتظار ئې اوکړی ③ أَنْ يَبِيعَ مَغْنَمًا: چه مال غنيمت خرڅ کړی

١) اخرجه ابوداود فی کتاب النکاح/باب فی وطء السبايا (رقم-۲۱۵۸) والترمذی فی کتاب النکاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فی الرجل يشتری الجارية وهي حامل (رقم-۱۱۳۱) واحمد فی المسند: ۱۰۸/۴ والنسائی فی کتاب الجهاد/باب ما تجتنب الحادة من الثياب المصبغة (رقم-۳۵۳۵)

تسهیلات:

قوله: أَنْ يَقَعَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ السَّبْيِ حَتَّى يَسْتَبْرِئَهَا:

استبراء رحم د ایمان تقاضا ده: - کوم کس چې په الله ﷻ او دقیامت په ورځ ایمان لری. هغه دپاره دا صحیح نه دی چې هغه دبل اوبو سره خپلې اوبه ګډې کړی اوداشان کوم کس چې په الله ﷻ او دقیامت په ورځ ایمان لری، هغه دپاره دا صحیح نه دی چې هغه کفارو سره جنګ کښې ګرفتاره شوې وینځې سره هغه جماع اوکړی ترڅو پورې چې د هغې استبراء رحم نه وی شوې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۴۰] دَ استبراء رحم یوه بله مسئله

۳۳۴۰ - [۴] (ل) ۱ «عَنْ مَالِكٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَأْمُرُ بِاسْتِبْرَاءِ الْإِمَاءِ بِحَيْضَةٍ إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ تَحِيضُ، ۳ وَثَلَاثَةِ أَشْهُرٍ إِنْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا تَحِيضُ، وَيَنْهَى عَنْ سَقْيِ مَاءِ الْغَيْرِ».

ترجمه: ۱ امام مالک رحمه الله وايي چې ماته دا حديث رارسيدلی دی ۲ چې رسول الله ﷺ د يو حيض په ذريعه د وينځو د استبراء حکم فرمايلی، په شرط د دې چې هغې وينځې ته حيض راځي، ۳ او که يوه وينځه به داسې وه چې هغې ته به حيض نه راتلی، نو د هغې د پاره د دريو مياشتو د مودې په ذريعه به يې د استبراء حکم کولی (يعني حضور ﷺ دا حکم جاري کړی وو، چې کومو وينځو ته حيض نه راځي د هغوی سره دې د هغوی مالکان دې د هغه وخته جماع نه کوي د څو پورې چې د دريو مياشتو موده تيره نشي) او حضور ﷺ د خپلو اوبو د بل داوبو سره دهغه په فصل کې ديوځای کولو نه منع کوله، يعني دبل دموطوءه وينځې سره دجماع کولو نه.

تسهیلات:

قوله: وَثَلَاثَةِ أَشْهُرٍ:

د عدم حيض په صورت کښې د استبراء حکم: -دې نه وړاندې دامسئله تيره شوې ده چه جمهورو دعام رواياتو په رڼاکښې دَ وينځې دَ استبراء رحم دَپاره دَ يوحيض حکم خودلې دې اوکه چرې حيض نه راځی نوبيا دَ يوې مياشتې حکم ورکړې دې. خوپه زير نظر روايت کښې دَ عدم حيض په صورت کښې درې مياشتې عدت تيرولو مسئله خودلې شوې ده. په دې روايت باندې حضرت شهاب زهری رحمه الله وغيره عمل کړې دې. جمهور فرمائی چه اصل

۱) رواه رزين

عدت کوم مقرر دې هغه یوحیض دې او ښکاره خبره ده چه دَ یوحیض بدل دَیوې میاشتې کیدل پکار دی نه چه درې میاشتې (عن سقی ماء الغیر) یعنی چه خپلې اوبه دَ بل په اوبو کښې داخل نه کړی مطلب دا چه پردئی وینځه سره دَ استبراء رحم نه وړاندې جماع اونه کړی

[۳۳۳۱] د پیغلې وینځې د پاره استبرا واجب نه

۳۳۳۱–[۵] (۱) ⑴وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: أَنَّهُ قَالَ⑵: إِذَا وُهِبَتِ الْوَلِيدَةُ الَّتِي تُوطَأُ، أَوْ بِيعَتْ، أَوْ أُعْتِقَتْ فَلْتَسْتَبْرِئْ رَحِمَهَا بِحَيْضَةٍ⑶ وَلَا تُسْتَبْرَأُ الْعَذْرَاءُ. رَوَاهُمَا رَزِينٌ.

ترجمه: ⑴او د حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دی چې هغه وفرمایل ⑵هر کله چې یوه داسې وینځه چې د هغې سره جماع کول کیده، هبه کړل شي یا خرڅه کړل شي، یا آزاده کړل شي، نو هغې ته پکار دی چې د یو حیض په ذریعه خپل رحم پاک (صفا) کړی. ⑶البته د پیغلې د پاک (صفا) کولو ضرورت نشته، دا دواړه روایتونه رزین ﷫ نقل کړي دي

حل اللغات:- ①اَلْوَلِيدَةُ: وینځه، ②اَلْعَذْرَاءُ: پیغله جینۍ. باکره،

تسهیلات:

قوله: وَلَا تُسْتَبْرَأُ الْعَذْرَاءُ.:

د مذکوره جملې مطلب:–دَ حدیث شریف دَ ظاهری الفاظو مطلب دا دې چه دَ پیغلې وینځې دَپاره دَ استبراء ضرورت نشته ځکه چه دا خبره متعین ده چه دَهغې رحم دَ غیر دَ نطفې نه صفا دې ځکه چه بکارت باقی دې.

په زیر بحث حدیث باندې د جمهورو عدم عمل:–په دې روایت باندې قاضی شریح وغیره عمل کړې دې لیکن دَ جمهور فقهاؤ مطلب هم هغه دې کوم چه دې نه وړاندې لیکلې شوې دې چه دَ جنګ اوطاس دَ وینځو باره کښې دَ نبی کریم فرمان عام دې چه غیر حامله دَ پاره استبراء رحم یوحیض دې نو دَ غیر حامله په عموم کښې پیغله هم داخل ده.

۱) رواه رزین

[۱۷] بَابُ النَّفَقَاتِ وَحَقِّ الْمَمْلُوْكِ

دَ عام نفقاتو او دَ غلامانو دَ حقوق بيان

خلاصة الباب:-

فيه احد وثلاثون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① وجوب النفقة للزوجة والأولاد والمماليك والوالدين: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۱۳، ۲۵.

② أنواع النفقات: ۳، ۴، ۲۵، ۳۱.

③ النفقة عوض الخدمة: ۶، ۱۴.

④ حق المالك على المملوك: ۷، ۸، ۹.

⑤ حق المملوك على المالك في الملك الحقيقي كما في العبد، والحكمي كما في اليتيم: ۳، ۴، ۵، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱.

د نفقې د فرضيت ثبوت د قرآن څخه:- ① ﴿ وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ ﴾ [سورة بنى اسرائيل ۲۶.]

② ﴿ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ [سورة بقره: ۲۳۳.]

③ ﴿ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ۖ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ اللّٰهُ ﴾ [سورة الطلاق ۷.]

د انفاق لغوى معنى:- انفاق او نفقه خرچ كولو ته وائى. ﴿ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ ﴾ [سورة بقره ۲۷۰.] په آيت كښې هم دَ دې خرچ كولو ذكر دې.

د انفاق اصطلاحى تعريف:- ملاعلى قارى رحمه الله دَ دې شرعى اصطلاحى تعريف داسې كړې دې (وفى الشرع الادرار على الشئ بما به بقائه) يعنى نفقه دَ هر هغه څيز نوم دې چه دَ چاژوند بچ كولو او باقى ساتلو كښې په كار راځى لكه روټئى كپړه او مكان.

د نفقې د وجوب اسباب:- دَ وجوب نفقه اسباب مختلف كيدې شى

① زوجيت او نكاح

② ملك او رقبه سبب

③ قرابت سبب وى

④ دَ چا اضطرارى حالت

د نفقات جمعې صيغې راوړلو وجه:- چونكه مذكور اسباب مختلف دى. په دې وجه نفقات دَ جمع لفظ استعمال كړې شوې دې ځكه چه دَ زوجه نفقه جدا ده دَ والدين نفقه جدا ده دَ اولاد نفقه جدا ده او دَ غلامانو نفقه جدا ده. او كله خپل خپلوان او مسكينان او دَ مضطر خلقو نفقه خان له واجب كيږى. په سرى باندې دَ خپلې ښځې نفقه هغه وخت واجب كيږى

کله چه ښځه خپل ځان خاوند ته حواله کړي که ښځه صغیره وي که کبیره مسلمانه وي که کت پـه وي

د ښځې د نفقې ادا کولو څوره صورت: - که ښځه ناشزه نافرمانه وي نو دهغې نفقه په خاوند باندې لازم نه ده بهتره خبره خو داده چه ښځه خاوند هم په یوځائي خوري څکي خاوند ګټه کوي او ښځه ئې د دستور مطابق خرچ کوي خو که دا د خوشحالئ ماحول نه وي او ښځې د قاضي په ذریعه د ځان له خرچ مطالبه اوکړه نو قاضي به دهغې د پاره ځان له خرچ مقرروي اوښځې ته به ئې حواله کوي خو خرچه به د خاوند د طاقت مطابق وي په کومه کښې چه به نه د اسراف ارخ وي اونه د تنګوالي وي.

د ښځې د علاج ذمه وار والدین: - که ښځه په غټو بیمارو کښې راګیره وي نو دهغې خرچ د هغې په مورپلار دې البته د معمولي بیمارئ خرچه به په خاوندباندې وي که چرې ښځه د حج په سفرځي نو دغه سفر خرچ به دهغې په ذمه وي په خاوندباندې نه دې.

د ښځې د سکنئ ذمه وار خاوند: - ښځې له به مکان هم ورکولې شي چه ځان له وي خو که هغه په مشترکه مکان کښې اوسیږي نو بیا ځان له ورکول واجب نه دي که د خاوندپه کور کښې د ښځې دپاره ځان له یوه کمره مقرر کړي په کوم کښې چه اختیارمنه وي نو په شرعي توګه دهغې د مکان حق اداشو هم دغه کافي دې.

والدینو او خپلوانو کښې د تلو موده: - ښځه خپل مورپلارکره په یومیاشت کښې یوځل تللې شي په دې کښې خاوندهغه منع کولې نه شي او نورو ذي رحم محرم خپلوانوکره په کال کښې یوځل تلل راتلل دهغې حق دې ددې نه زیات تلل راتللونه ئې خاوندمنع کولې شي که د عدت تیرولوپه موده کښې ښځه مرتده شي نو په خاوند باندې خرچه واجب نه ده

د نفقې بعضې مسائل: - ① د نابالغه اولاد خرچ دپلارپه ذمه دې.

② والدین او اصول یعنی پلار نیکونه اونیاګانې د پورته پورې که چرې محتاج وي نودهغوي خرچې د اولاد په ذمه واجب دي په دې شرط چه اولاد ئې مالدار وي که چرې هغوي پخپله محتاج وي نوبیاواجب نه دې.

③ محتاج پلار ته داحق حاصل دې چه هغه د خپل ځوئې منقوله څیزونه خرڅ کړي خرچه ئې کړي لیکن غیرمنقوله جائیدادنه شي خرڅولې

④ البته مورته داحق حاصل نه دې.

⑤ په آقاباندې د غلام او وینځې نفقه واجب او ضروري ده

⑥ که چرې مولي دوي ته د نفقه ورکولونه انکار اوکړو نوغلام به پخپله د ګټلو اختیارمند شي

⑦ که چرې هغه ته د ګټې اجازت ورنه کړې شي نوبیابه آقاپه غلام خرڅولوباندې

مجبوز کولې شي

⑧ که چاخاروی ساتلې وی نودَهغوی خرچه دَ ساتونکی په ذمه واجب ده که چرې هغه خرچه نه کوی نو هغه به مجبور کولې شی چه یادې خرچ کوی یادې دغه خاروی خرڅ کړی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳۳۳] د ښځې او اولاد په قدر د ضرورت نفقه په خاوند واجب ده

۳۳۳۳ — [۱] (۱): ۱ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّ هِنْدًا بِنْتَ عُتْبَةَ ۲ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيْحٌ وَلَيْسَ يُعْطِيْنِيْ مَا يَكْفِيْنِيْ وَوَلَدِيْ ۳ إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ ۴ فَقَالَ خُذِيْ مَا يَكْفِيْكِ وَوَلَدَكِ بِالْمَعْرُوْفِ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ام المؤمنين بي بي عائشه ﷺ وايي چې هند بنت عتبه ﷺ عرض اوکړو ۲ چې يا رسول الله! ﷺ (زما خاوند) ابوسفيان ډير تينګ لاسي او حريص دی، هغه ما ته دومره خرچه نه راکوي چې زما او زما د اولاد د پاره کافي شي، ۳ البته که زه د هغه د مال نه خپله څه وکارم، داسې چې هغه ته خبر ونشي، نو زمونږ ضروريات به پوره کيږی (نو آيا دا جائز دي، چې زه د خپل خاوند د خبرولو بغير د هغه د مال نه د ځان او د خپل اولاد د ضرورياتو په قدر څه وکارم) ۴ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې د ځان او د خپل آولاد د ضرورياتو په قدر چې د شريعت موافق وي (يعني د اوسط درجي خرچ) د هغه د مال نه اخله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① شَحِيْحٌ: بخيل ، كنجوس. ② بِالْمَعْرُوْفِ: د عُرف او شريعت مطابق.

تسهيلات:

قوله: خُذِيْ مَا يَكْفِيْكِ:

د خاوند د مال نه بې اجازته د اخستلو حکم:-ایعنی دَدستور مطابق واجبی ضروریات پوره کولودَپاره دَخوراك څښاك څیزونه اخستې شی. دَ معروف یعنی دَ دستورمطابق مطلب دادې چه شریعت څنګه اجازت ورکړې دې هم دَهغې مطابق دې اخلی. دَ خاوند دَمال نه مراد هغه مال دې دکوم تعلق چه دَ خوراك څښاك څیزونوسره وی که اوشی قلیل هم وی. نوکه دَ خاوندصریح اجازت هم نه وی صرف دلالةً اجازت وی نو دَ ښځې دَپاره په دومره اندازه تصرف کول کافی دی.

ښځې دپاره دخاوند نه صراحة یا کنایة اجازت اخستل:- لیکن دَټولو احادیثو مخې ته کولوسره معلومیږی چه بعضې حدیث کښې دَمعمولی غوندې څیز استعمالول هم بغیرد

---

۱) اخرجه البخاری باب إذا لم ينفق الرجل فللمرأة أن تأخذ بغير علمه ما يكفيها وولدها بالمعروف

اجازت نه منع کرخولې شوی دی اودبعضې احادیثونه معلومیږی چه استعمالول جائز دی نودَ احادیثو په رنړا بهتر هم دغه ده چه صراحةً یا دلالةً دَ خاوند اجازت حاصلول پکاردي ځکه چه بعضې معمولی څیزهم دَ څه اهمیت دَ وجې نه دَ خاوند دَ ضرورت وی بعضې څیزونه دَ علاقې دَ مخصوص حالاتودَ وجې نه دَ اهمیت حامل وی لکه په پخنئی کښې دَ غریه څوکه یودَماچس تیلې هم دیرقیمتې کیږی بعضې څیزونه دَ زمانې اودَ احوال دَ وجې نه اهمیت اختیاروی دغه شان دَ خاوندانو په مزاج کښې هم فرق وی بعضې خاوندان په معمولی څیزباندې کباب کیږی اوبعضې فیاض او دکولاؤ زړه مالك وی نوبهتره هم دا ده چه دَخاوندنه اجازت اخستوسره ښځه په یوڅیزکښې تصرف اوکړی دَ زیرنظر حدیث تعلق دَ واجبی حق اخستلوسره دې کوم چه دَ ښځې دَ خاوندذمه باندې واجب وی دَدې مسئلې تفصیل دَ مشکوة شریف ۱۷۲/۱باندې "باب صدقة المرأة من مال الزوج" لاندې تیرشوي دې هم هلته اوګورئی.

د حدیث نه مستنبط مسائل: -علامه نوی رحمه الله دَدې حدیث یوڅو فائدې بیان کړی دی.

① په سړی باندې دَښځې اوبچونفقه واجب ده.

② او په اندازه دَ ضرورت واجب ده.

③ دَمسئلې دَ تپوس په وخت دَ یوسړی عیب ښکاره کول جائز دی.

④ دَ فتوی په وخت پردئی ښځې سره خبرې کول جائز دی.

⑤ دَ څه ضرورت اوشرعی امردپاره ښځه دارالقضاء ته تلې شی خوچه صراحةً یا دلالةً دَ خاوند اجازت وی.

⑥ دَخاوندپه شان ښځه هم دَ بچودَ خرچې ذمه واره ده.

⑦ قاضی اوحاکم که په یوه معامله کښې حکم جاری کول غواړی نوبغیردَ ګواه غوښتونه جاری کولې شی خوچه خپل معلومات ئې صحیح وی.

[۳۳۳۴] دالله تعالیٰ ورکړي دولت مخکښې په خپل ځان او خپل اهل وعیال خرچ کړه

۳۳۳۴— [۲] (۱): ۱وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ۲إِذَا أَعْطَى اللّٰهُ أَحَدَكُمْ خَيْرًا ۳فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱او حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲هر کله چې الله تعالی جل جلاله په تاسو کښې چاته مال او دولت ورکړي، ۳نو هغه ته پکار دی چې هغه يې مخکښې په خپل ذات او په خپل اهل وعیال خرچ کړي (بیا د دې نه وروسته حسب مراتب په خپلو نورو متعلقینو، خپلوانو، فقراؤ او مساکینو خرچ کړي) مسلم.

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الامارة باب الناس تبع لقریش، والخلافة فی قریش

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت :-

① إِذَا أَعْطَى اللهُ أَحَدَكُمْ خَيْرًا خير نه مراد مال دې كما فى قوله تعالى ﴿إِنْ تَرَكَ خَيْرًا﴾..... الأية او بل خائي كښې دې ﴿وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ﴾

② فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ: ددې جملې مطلب دادې چه الله تعالى چاته مال دولت وركړى نو دټولو نه اول دې په هغې باندې خپل ذاتى ضروريات پوره كوى چه دده دضروورياتو نه زياتى شى نو بيا دې په خپل اهل وعيال خرچ كوى

③ وَأَهْلِ بَيْتِهِ، أى من زوجته وأولاده: اهل بيت نه مراد ددې خاوند كور والا او ماشومان دى

[۳۳۳۳] دغلام نفقه دهغه په مالك واجب ده

۳۳۳۳ — [۳] (۱): ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ لِلْمَمْلُوكِ ۲ طَعَامُهُ وَكِسْوَتُهُ ۳ وَلَا يُكَلَّفُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا يُطِيقُ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د غلام په باره كښې وفرمايل ۲ د هغه روټى، جامى، د هغه د آقاپر ذمه دى، ۳ او دا چې د هغه نه دى يواخى دومره كار آخلى چې د هغه د طاقت او همت مطابق وي، مسلم

حل اللغات:- ① الْمَمْلُوكِ: غلام، ② وَكِسْوَتُهُ: دجامې، ③ وَلَا يُكَلَّفُ: تكليف به نه شى ④ يُطِيقُ: چه هغه ئې طاقت لرى.

تسهيلات:

قوله: طَعَامُهُ وَكِسْوَتُهُ:

غلام ته د خوراک او لباس وركولواندازه:- يعنى دې بنار كښې چې عام طور سره كوم خوراك او كومه جامه وركولې كيږى . ددې په اندازه دې غلام ته وركړې شى شريعت ددې حد نه دې مقرر كړې .

قوله: طَعَامُهُ وَكِسْوَتُهُ:

د مذكوره جملې په اضافت كښې دوه احتمالات:- امام طيبى رحمه الله فرمائى چې دې ځائې كښې دوه احتماله دى

① دلته اضافت كه مفعول طرفته وى نو په دې صورت كښې دكلام معنى ظاهر ده چې آقا باندې د خپل غلام نان نفقه واجب ده ددې بنار د آقا د غلامانو پشان. لكه څنګه چې نور آقا د رواج مطابق نفقه وركوى دا شان د عرف مطابق په دې باندې آقا باندې واجب ده

۱) أخرجه مسلم باب إطعام المملوك مما يأكل، وإلباسه مما يلبس، ولا يكلفه ما يغلبه

⑨ يا كه اضافت فاعل طرفته وى نو بيا ددې معنى ظاهر ده لكه څنګه چې راتلونكى حديث پاك كښې لاندې ذكر كيږى امام محى السنة دا ذكر كوى چې دا خطاب د عربو هغه خلقوته دې كومو چې به خپلو غلامانو ته خراب لباس وركولو او خراب خوراك به ئې وركولو

قوله: وَلَا يُكَلِّفُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا يُطِيقُ

په غلام باندې د ذمه وارۍ اچولو ضابطه: - خپل غلام ته د داسې كار حكم مه كوئ چې هغه ئې نه شى كولې لكه د دوه درې ورځو كار وى يا څه غټ كار وى او هغه يوازې دا نشى كولې يا ددې په كولو هغه نقصان رسى ، نو داسې كار پرې كول درست نه دى ځكه چې حقيقى مالك په خپلو بندګانو باندې د هغوئ د طاقت او همت نه زيات بوج په يو عمل كښې او فعل كښې نه دې اېښودې . او خپل بندګان ئې د هغه عمل پابند جوړ كړى دى د كوم چې هغوئ طاقت لرى . لهذا بندګان چې مالك مجازى دى هغوئ ته بطريق اولى ددې خبرې اختيار نشته دې چې هغوئ پخپلو غلامانو باندې داسې بوج واچوى چې هغوئ ئې پورا كولې نشى .

په غلام د مالك درې حقوق: - امام احمد په مسند او بيهقى په شعب الايمان او طبرانى كښې يو روايت د ابن عباس ﷺ په حوالې سره بيان كړې دې چې غلام باندې مالك دپاره درې څيزونه ضرورى دى .

① كله چې غلام په مونځ ولاړ وى مالك دې هغه ته د زر كولو حكم نه وركوى

⑨ كله چې غلام خوراك كوى نو آقا دې خپل كار دپاره هغه نه پورته كوى .

⑨ دا مالك دې غلام ته دومره خوراك وركوى چې هغه پرې مړيږى داسې نه چې دومره خوراك ورته وركړى چې كولمې ته ئې هم اونه رسى .

[۳۳۳۵] دغلام سره د حسن سلوك كولو حكم

۳۳۳۵ - [۳] (۱) ①وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - : ⑨" إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ، ⑨فَمَنْ جَعَلَ اللّٰهُ أَخَاهُ تَحْتَ يَدَيْهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ، وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ، ④وَلَا يُكَلِّفْهُ مِنَ الْعَمَلِ مَا يَغْلِبُهُ، ⑤فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت ابوذر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⑨غلامان ستاسو ورونه دي او (د دين او خلقت په اعتبار سره) ستاسو په شان دي، الله تعالى ﷻ هغه

---

۱) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ٦٠٥٠ ومسلم فى صحيحه رقم الحديث ۳۸/ ۱٦٦۱ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۵۱۵۸ والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الإحسان إلى الخدم (رقم -۱۹۴۵) واحمد فى المسند:۱٦۱/۵

ستاسو د آزمائش د پاره، ستاسو ماتحت جوړ کړی دی. ۳ نو الله تعالی ﷻ چې د کوم سړي ورور د هغه ماتحت کړی (یعني کوم سړی چې د یو غلام مالک جوړ شي) نو هغه ته پکار دی، چې خپله څه خوري په هغه دي هم خوروي، او خپله چې څه آغوندي په هغه دي هم آغوندي، ۴ او هغه نه دي څه داسې کار نه آخلي چې د هغه د طاقت نه وتلی وي. ۵ او که څه داسې کار ورنه وآخستی شي چې د هغه د طاقت نه وتلی وي، نو په هغه کار کښې دي په خپله هم د هغه مدد کوي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① تَحْتَ يَدَيْهِ: د لاس لاندې يعنی ماتحت ② يَغْلِبُهُ: چه په هغه غالب وی، دهغه د طاقت نه زيات وی. ③ فَلْيُعِنْهُ: نو دهغه مدد دې اوکړی

تسهيلات:

قوله: إِخْوَانُكُمْ

د جملې په ترکیب کښې دوه احتمالات: -علامه طيبی فرمائيلی دی چې د دې جملې په ترکيب کښې دوه احتماله دی.

① دا مبتدا محذوف خبردې.اصل عبارت داسې دې ((ممالیککم اخوانکم)) او ورنړه ورته په دې اعتبارسره وئيلی شوی دی چې ټول انسانان د حضرت آدم علیه السلام اولاد دې اويا په دې اعتبار چې ټول مسلمانان ورونړه دی.په دې صورت کښې به ((جعلهم الله)) به حال شی خکه چې په کلام کښې يوقسم تشبيه ده.

② ((اخوانکم)) مبتدا ده اوددې او ((جعلهم الله)) ددې خبرشی.

قوله: فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ، وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ:

غلامانوته د خپل خوراک اولباس پشان د ورکولو حکم حيثيت: - امام نووی رحمه الله فرمائی چې دې خائې کښې چې کوم د خوراك ورکولو او څکولو حکم دې هغه د وجوب په طور نه دې بلکه د استحباب په طور دې. نو په مولی باندې به د خپلو غلامانو نفقه او جامه ددې ښار د اشخاصو په اعتبار سره واجب وی که هغه د مالك د جامو د جنس نه وی يا ددې نه کم يا زيات وی. که مالك د خپلې تقوی په بنياد يا د خپل په وجه خوراك کښې داشان شومتيا کوی کوم چې ددهٔ د حيثيت د خلقو دمعيار خلاف وی نو داسې شومتيا دمملوك په حق کښې جائز نه ده.

قوله: فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ عَلَيْهِ:

غلام سره په کار کښې مدد کول: - د مذکوره جملې مطلب دادې چې که غلام دپاره داسې څه مشکل کار راشی چې هغه ئې نه شی پورا کولې نو هغه سره مدد کول پکار دی.

[۳۳۴۶] د غلام روزي بندول گناه ده

۳۳۴۶—[۵] ( ) [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - [۲] جَاءَهُ قَهْرَمَانٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ: أَعْطَيْتَ الرَّقِيقَ قُوتَهُمْ؟ قَالَ: لَا. [۳] قَالَ: فَانْطَلِقْ فَأَعْطِهِمْ، فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۴] كَفَى بِالرَّجُلِ إِثْمًا أَنْ يَحْبِسَ عَمَّنْ يَمْلِكُ قُوتَهُ» [۵]. وَفِي رِوَايَةٍ: "«كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما په باره کښې منقول دی [۲] چې (یوه ورځ) هغه ته د هغه کارنده راغلی، [۳] نو هغه ورنه پوښتنه وکړه چې آیا تا غلامانو او وینځو ته د هغوئ طعام (روټۍ وغیره) ورکړي دي؟ هغه اوویل چې نا، [۴] نو ورته یې وفرمایل چې واپس لاړشه او هغوئ ته طعام ورکړه، ځکه چې ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي چې د سړي د گناه د پاره دا کافي ده، چې هغه خپل غلام (یا وینځې) ته طعام ورنه کړي. [۵] او په یو روایت کښې دا الفاظ دی چې حضور ﷺ وفرمایل د سړي د گناه د پاره دا کافي ده، چې د کوم سړي روزي د هغه په لاس کښې وي (یعني د خپل اهل وعیال او غلام وینځې) او هغه د هغوئ روزي ضائع کړي، (مسلم)

حل اللغات: - ① قَهْرَمَانٌ: کارنده. وکیل. ② قُوتَهُمْ: د هغوی رزق. طعام ③ أَنْ يَحْبِسَ: چه راگیر نې کړی. قید نې کړی. ④ أَنْ يُضَيِّعَ: چه ضائع نې کړی،

تسهیلات:

نوټ: — د خپل بال بچ نفقه په سړی باندې واجب ده په دې کښې څه مشکل نشته

[۳۳٤۷] د خپل خادم او نوکر سره په طعام خوړلو کښې عار مه محسوسوه

۳۳٤۷—[۶] (۰) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "إِذَا صَنَعَ لِأَحَدِكُمْ خَادِمُهُ طَعَامَهُ، [۳] ثُمَّ جَاءَهُ بِهِ وَقَدْ وَلِيَ حَرَّهُ وَدُخَانَهُ فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ فَلْيَأْكُلْ، [۴] فَإِنْ كَانَ الطَّعَامُ مَشْفُوهًا قَلِيلًا فَلْيَضَعْ فِي يَدِهِ مِنْهُ أُكْلَةً أَوْ أُكْلَتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې په تاسو کښې د چا خادم د هغه د پاره طعام تیار کړی، [۳] بیا طعام هغه ته راوړي، نو د دا ده چې آقا هغه خادم د خان سره (په دسترخوان) کینوي، او د هغه سره طعام وخوري. [۴] که طعام لږ وي او خوړونکی زیات وي، نو د هغه طعام نه دی یوه دوی نمړئ اخستو سره د هغه په لاس کښې دي کیږدي، (مسلم)

۱) اخرجه مسلم فی صحیحه رقم الحدیث ٤۰/ ۹۹٦ وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۱٦۹۲ واحمد فی المسند ۲/ ۱۹۲
۲) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ٥٤٦۰. ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ٤۲/ ۱٦٦۳ والترمذی فی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الأکل مع المملوک والعیال (رقم-۱۸٥۳) واحمد فی المسند: ۲/ ٤۰۹

حل اللغات - ①صَنَعَ: تیار کړی، پوخ کړی ②وَلِيَ: برداشت کړي ده ③دُخَانَهُ: لوګي، ④فَلْيُقْعِدْهُ: پس کښنوی دې هغه ⑤مَشْفُوهًا: پوخ شوې طعام ⑥فَلْيُنَاوِلْهُ: نو کیدي ږدی. ⑦أُكْلَةً: یوه نمړئ.

تسهیلات:

قوله: فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ فَلْيَأْكُلْ:

نوکرانو او خادمانو سره یوځائې د خوراک کولو ترغیب:- دادې چې هیڅ یو کس دې خپلو نوکرانو سره او خادمانو سره په یو ځائې خوراك کولو کښې شرم نه محسوسوی ځکه چې خادم او نوکر هم د مسلمان په حیثیت سره ده رور دې.

په روټۍ کښې د ګڼړو کسانو شرکت کښې برکت:- بیا په دې کښې دا هم حکمت دې چې په یو دسترخوان څومره زیات خلق ناست وی نو په دې خوراك کښې به برکت وی یو روایت کښې دی چې افضل خوراك هغه دې په کوم کښې چې زیات لاسونه وی

دحدیث دحکم محمل:- دا خبره د لحاظ قابله ده چې په حدیث پاك کښې خادمانو او نوکرانو سره د خوراك کولو یا ددې خوراك نه هغوئ ته لږ شان د ورکولو کوم حکم ورکړې شوې دې هغه د استحباب په طور دې

[۳۳۴۸] دغلام دپاره دوچنده اجر

٣٣٤٨-[٧] (١) ①وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ②إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ ③وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ اللَّهِ فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او د حضرت عبدالله ابن عمر ﷠ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②هر کله چې یو غلام د خپل آقا خیر خواهي کوي (یعني د هغه په زړه او روح سره خدمت کوي ③او بیا د الله تعالی ﷻ عبادت هم په ښه شان کوي. نو هغه ته دوچنده ثواب حاصلیږي ، (بخاري، مسلم)

حل اللغات - ①نَصَحَ: خیرخواه وی

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:- ① إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ د مولی خیرخواهی دا ده چې د هغه هر جائز حکم اومنی د هغه په عدم موجودګۍ کښې د هغه د مال او اولاد نګرانی اوکړی ② وَأَحْسَنَ عِبَادَةَ اللَّهِ چې د الله ﷻ اودرسول ﷺ داحکاماتو پابندی کوی، دمولی په خدمت کښې مشغولیدو په وجه دالله ﷻ داحکاماتو نه بې پرواه نشی

١) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ٢٥٤٦، ومسلم في صحيحه رقم الحديث ٤٢/ ١٦٦٤ وابوداود في السنن رقم الحديث ٥١٦٩

١

③ فَلَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ دده محنت دبل دې د مخلوق خدمت هم او د خالق عبادت هم كوى يو اجر د خپل مولى د خدمت په وجه او دويم اجر د الله ﷻ د عبادت په وجه ورته ملاويږى. دې نه معلومه شوه چې د خپل آقا خيرخواهي يعنى خدمت كول عبادت دې داشان حديث الباب كښې د مولى د اطاعت ذكر د الله ﷻ د عبادت نه وړاندې ذكر كولو كښې دې طرفته اشاره شوې ده چې معاملات د عباداتو په مقابله كښې زيات اهم دى.

[٣٣٤٩] د غلام د پاره بهتره خبره څه ده؟

٣٣٤٩-[٨] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "نِعِمَّا لِلْمَمْلُوكِ أَنْ يَتَوَفَّاهُ اللّٰهُ بِحُسْنِ عِبَادَةِ رَبِّهِ وَطَاعَةِ سَيِّدِهِ، نِعِمَّا لَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د يو غلام د پاره د دې نه بهتره خبره بله كومه كيدى شي، چې هغه د خپل مالک بهترين خدمت او د خپل پروردګار ښه عبادت كولو سره الله ته خپل روح وسپاري (يعني د غلام د پاره د تولو نه سعادت دا دى چې د هغه پوره ژوند د خپل حقيقي مالک په اطاعت او عبادت او د مجازي مالک په خدمت او فرمانبرداري كښې تير شي) بخاري، مسلم.

حل اللغات:- ① نِعِمَّا: ډيره بهتره خبره،

تسهيلات:

قوله: نِعِمَّا لِلْمَمْلُوكِ

د نعما په لوستلو كښې درې اعرابات:- امام طيبى رحمه الله فرمائى چې دا په درې قسمه لوستلې كيږى. ① د نون په كسرې سره او د عين په سكون سره نِعْمَا

② د نون په فتحې او د عين په كسرې سره ، نَعِمَا

③ د دواړو په كسرې سره نِعِمَا الحاصل غلام د پاره د دې نه بهتر بل څه كيدى شى چې هغه د خپل مالك د خدمت سره سره د خپل رب كريم عبادت هم كوى او هم په دې كښې ئې خاتمه اوشى

[٣٣٥٠] د مفرور (تښتيدلى) غلام مونځ نه قبليږي

٣٣٥٠-[٩] (٢) ① وَعَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ». ③ وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ: «أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ".» ④ وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ: «أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ مِنْ مَوَالِيهِ فَقَدْ كَفَرَ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

١) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ٢٥٤٩. ومسلم فى صحيحه رقم الحديث٤٦/ ١٦٦٧

٢) اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ١٢٤/ ٧٠ والنسائى فى كتاب تحريم الدم/باب العبد يأبق إلى أرض الشرك وذكر إختلاف ألفاظ الناقلين لخبر جرير فى ذلک الإختلاف على الشعبى (رقم-٤٠٤٩) واحمد فى المسند: ٣٦٥/٤

ترجمه: [۱] او حضرت جرير ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې غلام وتښتي نو د هغه يو مونځ نه قبليږي، [۳] په يو روايت كښې د حضرت جرير ﷺ نه دا الفاظ منقول دي چې حضور ﷺ وفرمايل كوم غلام چې وتښتيدلى د هغه نه ذمه ختمه شوه، [۴] او په يو روايت كښې د حضرت جابر ﷺ نه دا منقول دي چې (حضور ﷺ فرمايل) كوم غلام چې د خپلو مالكانو نه وتښتيدلى هغه كافر شو ، د څو پورې چې هغوئ نه واپس رانشي، (مسلم)

حل اللغات: - ① أَبَقَ: اوتښتيده، ② بَرِئَتْ: ختمه شوه، برى شوه، ③ الذِّمَّةُ: ذمه ، ④ مِنْ مَوَالِيهِ: جمع د مولى ده مالك، دخپلو مالكانو نه،

تسهيلات:

قوله: أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ فَقَدْ بَرِئَتْ فِيهِ الذِّمَّةُ:

د تختيدلى غلام غير محفوظ الدم گرځيدل: - چه يو غلام دَ خپل مولى نه اوتختى او مرتد شى دارحرب ته لاړو نو اسلام دَهغه ځان او مال او عزت او ننگ ته چه كوم حفاظت وركړي وو اوس به هغه پاتې نه شى او كوم ځائى چه دغه غلام ملاؤ شو هغه به واجب القتل وى دَ ذمه ختميدو مطلب هم دغه دې چه دَاسلامى قانون مطابق هغه سره چه دَ ځان او مال دَ حفاظت كومه معاهده وه اوس هغه پاتې نه شوه اوچونكه دا غلام مرتد شو نو دَهغه اوس مونځ هم مقبول پاتې نه شو

دغير مرتد غلام د تختيدو حكم: - او كه چرې هغه غلام مرتد شوې نه وى صرف دَخپل مالك نه تختيدلې او دارحرب ته هم نه وى تلې بلكه يو اسلامى ملك ته لاړو نو هغه قتل كول جائز نه دى. نو هغه وخت (فقدبرئت منه الذمه) مطلب به دا شى چه دَ مولى په ذمه چه دَ دغه غلام كومه خرچه وه او دَ هغه دَ جنايت برداشت كولو كومه ذمه وارى وه هغه اوس پاتې نه شوه

قوله: أَيُّمَا عَبْدٍ أَبَقَ مِنْ مَوَالِيهِ فَقَدْ كَفَرَ:

په حديث كښې د كفر په مفهوم كښې دوه اقوال: - ① كه چرې دَ مسلمان غلام دَ قتل كولو خبره ده نو دا تشديداً تغليظاً زجراً وتهديداً فرمائيلې شوې دى.

(فقدكفر) دَدې جملې مطلب دادې كه چرې غلام دا تيخته جائز او حلال گڼرى نو په دې سره هغه كافر كيږى

② دَ فقدكفر نه مراد كفران نعمت او ناشكرى ده چه هغه دَ خپل آقا لويه ناشكرى اوكړه. دريمه توجيه دا ده چه دا جمله هم تشديداً تغليظاً فرمائيلې ده.

[۳۳۵۱] په غلام د زنا د تهمت لګونکي مسئله

۳۳۵۱-[۱۰] (۱) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُوْلُ: (۲) «مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ وَهُوَ بَرِيءٌ مِمَّا قَالَ (۳) جُلِدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: (۱) او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې ما واوريدل ابوالقاسم «نبي كريم ﷺ» به فرمايل (۲) كوم سرى چې په خپل برده «غلام» د زنا تهمت ولګوي، هر كله چې هغه په حقيقت كښې د دې خبرې نه پاک وي، كومه چې د هغه په باره كښې ونيل شوي ده، (۳) نو د قيامت په ورځ به هغه سرى په دورو وهل كيږي، هو كه هغه غلام واقعتاً داسې وي، څنګه چې ونيل شوي دي «يعني تهمت درست وي، نو بيا هغه به په دورونه وهل كيږي» بخاري، مسلم

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ:

په غلام باندې د زنا د دروغو تهمت لګولو حكم: -په دې حديث كښې په غلام باندې د زنا د دروغو تهمت لګول جرم ګرځولې شوې دې اوداګناه كاردې ليكن د دې سزا په قيامت كښې كوږې خوږل ګرځولې شوې ده. د دې نه اندازه كيږي چه په دنياكښې د دې بهتان د وجې نه په آقاباندې به د كوږو سزانه شي جارى كولې يعنى حد د قذف به نه شي لګيدې البته په شرعى عدالت كښې به په هغه باندې د تعزير حكم لګولې شي.

[۳۳۵۲] د غلام بغير د څه خطا نه د وهلو كفاره

۳۳۵۲-[۱۱] (۲) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " (۲) «مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ يَأْتِهِ، أَوْ لَطَمَهُ، (۳) فَإِنَّ كَفَّارَتَهُ أَنْ يُعْتِقَهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: (۱) او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې ماد رسول الله ﷺ نه دا واوريدل (۲) څوک چې خپل غلام ته داسې سزا وركړي چې د هغه څه جرم نه وي «يعني بې ګناه يې ووهي» يا په چپلاخه يې ووهي. (۳) نو د هغه كفاره دا ده چې هغه غلام آزاد كړي. «مسلم»

حل اللغات - (۱) لَطَمَهُ: په څپيړه ئې اووهى.

تسهيلات: **قوله:** من ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا:

د حدا په اعراب كښې درې احتمالات: -

(۱) «حَدًّا» مفعول مطلق دې (۲) «حَدًّا» مفعول له دې.

(۳) «حَدًّا» مميز تميز وى

۱) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ٦٨٥٨، ومسلم فى صحيحه رقم الحديث ٣٧/ ١٦٦٠ وابوداود فى السنن رقم الحديث ١٣٦٥

۲) اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ٣٠/ ١٦٥٧ واحمد فى المسند ٢/ ٦١

قوله: فَإِنَّ كَفَّارَتَهُ أَنْ يُعْتِقَهُ:

د غلام د وهلو كفاره: – په دې حديث پاك كښې د غلام بې د څه سبب نه د وهلو د كفاره يا د ګناه د اسقاط ذكر شوې دې چې كوم كس چې غلام اووهى نو هغه ته پكار دى چې هغه دا غلام آزاد كړى

[۲۲۵۴] په ماتحت باندې د ظلم كولو ممانعت

> ۳۳۵۳ —[۱۲] (۱) [۱] «وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي، فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِي صَوْتًا: [۲] "اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ لَلَّهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ". [۳] فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللَّهِ. [۴] فَقَالَ: "أَمَا لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ - أَوْ لَمَسَّتْكَ النَّارُ -». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ وايي چې (يوه ورځ) ما خپل غلام وهلى، د شا د طرف نه مې دا آواز واوريدلى، [۲] چې اې ابومسعوده! ﷺ ياد يې لره چې الله تعالى ﷻ په تا د ده نه هم زيات قدرت لري، څومره قدرت چې ته په دې غلام لري. [۳] ما چې په وروسته وكتل، نو رسول الله ﷺ وو، نو ما عرض اوكړو چې يا رسول الله! ﷺ (ماته په خپل دې فعل ډير ندامت (شرمندګى) دې، اوس) زه دا غلام د الله ﷻ په لار كښې آزادوم. [۴] حضور ﷺ وفرمايل چې ياد لره كه تا دا غلام نه وى آزاد كړى، نو د دوزخ اور به ته سوځلي واى، يا وې فرمايل چې د دوزخ اور به درته لګيدلى وى. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَقْدَرُ: زيات قدرت لرى، ② فَالْتَفَتُّ: نو ما روسته اوكتل. ③ لَلَفَحَتْكَ: سوزولې به ئې وې ته.

تسهيلات:

قوله: لَلَّهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ:

د حديث د متن نحوى تشريح: – لام ابتدائيه تاكيديه دې دا مبتداء دې او (اقدر) دَدې خبردې او (عليك) جارمجرور اواقدر سره متعلق دې او (منك) اقدر دَ اسم تفضيل دَپاره مفضل عليه دې او (عليه) جارمجرور دَ (عليك) كاف خطاب نه حال واقع دې عبارت داسې دې (اى الله اقدر منك حال كونك قادرا عليه) لفحهٔ دَ فتحه بفتحه نه دې په اور باندې دَ سوزيدو په معنى كښې دې "او" دَ شك دَپاره دې (لمستك) دَ لاس لګولو په معنى كښې دې يعنى كه ته خپل غلام په ظلم باندې وهې اوهغه دې نه معاف كوى نو دَ دغه ظلم په وجه به ته په اور كښې سوزيږې

۱) اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۳۵/ ۱۶۵۹ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۵۱۵۹ والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب النهى عن ضرب الخدم وشتمهم (رقم-۱۹۴۸)

د غلامانو سره نرمي اختيارول: -علامه نووي رحمه الله فرمائي چه په دې حديث کښې غلامانو سره د نرمئ کولو حکم ورکړې شوې دې او د امت په دې باندې اتفاق دې چه د غلام په وهلو باندې د هغه آزادول واجب نه دی او مستحب او بهتر هم دغه ده چه هغه آزاد کړی. د دې نه وړاندې چه کوم حديث تيرشوې دې په هغې کښې د کفارې لفظ موجود دې چه د وهلو گناه او د دغه ظلم اثرات ختمولو د پاره کفاره د غلام آزادول دی. دا ټول استحبابی امور دی او د غلامانو سره د حسن سلوك ترغيب دې کومه چه د اسلام يوبې مثاله طريقه ده. ځکه چه هم اسلام د آقانه غلام ته انصاف ورکړې دې چه د دنيا په يو قانون کښې داسې نشته او نه د دنيا يو قانون د دې څه نمونه پيش کولې شی

بعضې انسانانو ته د غلامی طوق اچولو وجه: -اسلام د الله تعالی بعضې باغی مخلوق خپل رب او خپل مولی او خالق او مالك نه د بغاوت په جرم کښې بيشکه د غلامئ طوق وراچولې دې او الله تعالی دا حکم ورکړې دې چونکه زما دا بنديگان زما د بندگئ نه مخ اړه وی په دې وجه به اوس دوی زما د غلامانو غلامان وی مگر د دې سزا سره سره د الله تعالی دې آفاقی دين اسلام دغه غلامانو ته هغه حقوق ورکړی دی چه هيڅوك ئې نه شی ورکولې يوطرف الله تعالی غلامانو ته د تابعدارئ حکم ورکړو او بل طرف ته ئې آقاگانو ته د نرمئ هغه سبق ورکړې دې چه د ټولې دنيا د پاره د حقوقو ورکولو په ميدان کښې نمونه ده. [الکاشف ۶/۴۲۴.]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۵۴] د اولاد په گټه باندې د پلار حق

۳۳۵۴-[۱۳] (۱) [۱]عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، [۲]«أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: إِنَّ لِي مَالًا، وَإِنَّ وَالِدِي يَحْتَاجُ إِلَى مَالِي. [۳]قَالَ: " أَنْتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ، [۴]إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ، كُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱]عمرو بن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي [۲]چې (يوه ورځ) يو سړی د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضرېدو سره عرض اوکړو چې زه مالداريم او زما پلار زما د مال محتاج دی، [۳]حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ته او ستا مال (دواړه) ستا د پلار د پاره دي، [۴]بيشکه ستاسو اولاد ستاسو د ټولو نه بهتره گټه ده، نو د خپل اولاد گټه خوري. (ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه)

۱) اخرجه ابوداود فی أبواب الإجارة/باب فی الرجل يأكل من مال ولده (رقم-۳۵۳۰) وابن ماجه فی كتاب التجارات/ باب ما للرجل من مال ولده (رقم-۲۲۹۲) واحمد فی المسند: ۲/۲۱۴

تسهيلات:

قوله: "أَنْتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ":

د پلار د خپل ځوي په مال کښې د تصرف کولو حکم:- دې حديث کښې دَ مور پلار دَ حقوق بيان دې مطلب دا چه څنګه په اولاد باندې دَ پلار تابعداري اوخدمت لازم دې دغه شان دَ اولاد په مال کښې هم دَ پلار ته دَ تصرف کولو حق حاصل دې لکه چه دا حديث دَ دې خبرې دليل دې چه دَ پلار نفقه په بچي باندې واجب ده

د فقهي مسئلې استنباط:- دَ دې حديث په ضمن کښې دا مسئله هم بيانولې شي چه که پلار دَ خوئي مال پټ کړو يا دَ هغه وينځې سره ئې زنا اوکړه نو په هغه به شرعي حد نه شي جاري کولې څکه چه دلته دَ ملکيت شبه پيدا شوې ده اولاد چونکه دَ پلار دَ محنت نتيجه ده په دې وجه اولاد ته دَ پلار ګټه وئيلې شوې ده اودَ اولاد ګټه دَ پلار دَپاره بهترين حلال ګټه ګرځولې شوې ده او په دې باندې دَ پلار حق ثابت کړې شوې دې.

[۳۳۵۵] دَ مربي په حق کښې دَ يتيم دَ مال حکم

۳۳۵۵- [۱۴] (۱) [۱] وَعَنْهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: [۲] «أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [۳] إِنِّي فَقِيرٌ لَيْسَ لِي شَيْءٌ وَلِي يَتِيمٌ، [۴] فَقَالَ: "كُلْ مِنْ مَالِ يَتِيمِكَ غَيْرَ مُسْرِفٍ وَلَا مُبَادِرٍ وَلَا مُتَأَثِّلٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي [۲] چې (يوه ورځ) د نبي کريم ﷺ په خدمت کښې يو سړی حاضر شو، او عرض يې وکړې [۳] چې زه يو مفلس سړی يم، زما سره هيڅ هم نشته، او زما په نګراني کښې يو يتيم دی (نو آيا د هغه د مال نه څه خورم؟) [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ستا په نګراني کښې چې کوم يتيم دی، ته يې د هغه د مال نه خوړلی شې، په شرط د دې چې اسراف (فضول خرچي) مه کوه، په خرچ کولو کښې تلواري مه کوه، او مه يې د ځان د پاره جمع کوه. (ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① غَيْرَ مُسْرِفٍ: اسراف . زياتې به نه کوي. ② وَلَا مُبَادِرٍ: تادی او جلتی به نه کوې (چه د يتيم مال هړپ کول او ختمول دې مطلب وی) ③ وَلَا مُتَأَثِّلٍ: جمع کول به دې هم مقصد نه وی

تسهيلات: قوله: إِنِّي فَقِيرٌ:

د سرپرست د پاره د يتيم په مال کښې د تصرف کولو شرطونه:- يعنی دَ يتيم بچي مال دې

---

۱) اخرجه ابوداود في كتاب الصيد/باب ما جاء في ما لولي اليتيم أن ينال من مال اليتيم (رقم-۲۸۷۲) والنسائي في كتاب الوصايا/باب ما للوصي من مال اليتيم إذا قام عليه (رقم-۳۶۶۸) وابن ماجه في كتاب الوصايا/باب قوله تعالى: {ومن كان فقيرا فليأكل بالمعروف} [النساء: ۶] (رقم-۲۷۱۸)

او هغه زما په تربیت کښې دي او زه مفلس او محتاج یم نو آیا زه د دغه یتیم د مال نه څه خوړلې شم؟ نبی کریم د یتیم پالونکي او د فقیر مولی ته د یتیم د مال نه د حاجت مطابق د څه اخستلو اجازت ورکړو لیکن دانې دریو شرطونو سره مشروط کړو

① چه سخت ضرورت وی او د ډیرې محتاجنې په وخت څه واخستې شی د یتیم د بالغ کیدونه وړاندې وړاندې د هغه مال خوړل مقصد نه وی د دې شرط طرف ته (غیر مبادر) کښې اشاره کړې شوې ده ځکه چه بادر یبادر مبادرة فهو مبادر د تادنې کولو په معنی کښې دې

② چه حق د خدمت قوت لایموت وی څه اسراف نه وی په دې کښې د غیر مسرف طرف ته اشاره ده

③ د مربی په حیلو او بهانو سره د یتیم مال په ویستلو ویستلو سره د خپل خان د پاره ذخیره کول مقصود نه وی د دې شرط طرف ته (غیر متاثل) سره اشاره کړې شوې ده تاثل د ذخیره کولو په توګه یو خانی کولو ته وائی

[۳۳۵۶] د غلامانو د حقوقو د ادا کولو تاکید

۳۳۵۶—[۱۵] (۱) ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ: ③ الصَّلَاةَ، وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ① او بي بي ام سلمه ﷺ د نبی کریم ﷺ نه نقل کوي ② چې حضور ﷺ به په مرض الموت کښې دا فرمایل ③ چې په مونځ په مضبوطې سره قایم اوسئ، او کوم خلق چې ستاسو په ملکیت کښې دي (یعني وینځې، غلامان) د هغوی حقوق ادا کوئ. بیهقي

حل اللغات - ① مَامَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ: چه ستاسو ښی لاسونه ئې مالکان وی. یعنی غلامان

تسهیلات: قوله: الصَّلَاةَ:

جملې نحوی وضاحت: - دا لفظ منصوب دي او د دې فعل (الزموا) محذوف دي یعنی مونځ لازم اوساتئ د دې حقوق پوره کړئ

قوله: وَمَامَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ:

د غلامانو د حقوقو ادا کولو حکم: - یعنی په ماتحتانو باندې ظلم مه کوئ او د هغوی حقوق ادا کوئ د وینځې غلامانو حق دا دې چه د هغوی مالك دې په هغوی باندې خوراك کوی د حیثیت مطابق دې هغوی ته کپړې ورکوی ناحقه وهل تکول او کنځلو وغیره نه خان اوساتئ دلته که د وینځې او غلام سره سره د دې جملې وسیع مفهوم واخستې شی چه د خپل لاس د لاندې خلقو حقوق ادا کوئ نو په دې کښې ټول نوکران مزدوران او د حاکم

۱) اخرجه البیهقي في شعب الایمان رقم الحدیث ۸۵۵۲

رعايا اود کور لونی واړه تردې چه د لاس لاندې څناور او مرغنی وغیره ټول به په دې کښې داخل شی او اسلام د دغه ټولو قسمونو د حقوقو اعلان هم کړې دې داحدیث نبی کریم د انتقال په وخت امت ته آخری پیغام دې دې نه پس نبی کریم د امت دپاره یو لفظ هم نه دې ارشاد فرمائیلې بلکه ، اللهم الرفیق الاعلی، فرمائیلو سره د دنیا نه رخصت شوې دې

په حدیث کښې د حقوق الله او حقوق العباد راجمع کول :- په دې دوو جملو کښې نبی کریم حقوق الله او حقوق العباد دواړه راجمع کړی دی په رومبنئی جمله الصلوة کښې د حقوق الله طرف ته اشاره ده او په دویمه کښې حقوق العباد طرف ته اشاره ده په حضوراکرم باندې ځان قربانی کونکی کلمه لوستونکو مسلمانانوله پکار دی چه هغوی دې د نبی کریم دا مبارك فرمان حرزجان جوړ کړی او په دې دې عمل اوکړی دنیافانی کیدونکې ده او دلته چه څه هم دی څې راځی دا یوه دهوکه ده او زمونږ په سترګو د غفلت یوه پرده ده

٣٣٥٧ــ( )⑴ وَرَوَى أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ، عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ.

ترجمه: ⑴ و احمد او ابوداؤد دغه شان روایت د حضرت علي ﷺ نه نقل کړی دی

[٣٣٥٨] د خپل مملوك سره د بد سلوكي كونكي په باره كښې وعيد

٣٣٥٨ــ[١٦] (ض) ⑴ وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ⑵ "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⑴ و حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د نبی کریم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ⑵ د خپل مملوك (مینځه، غلام) سره بدسلوکي کونکي به په جنت کښې (په ابتدایي مرحله د نجات ترلاسه کونکو خلقو سره) نه داخلیږي ، (ترمذي ، ابن ماجه)

حل اللغات:- ⑴ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ: بد اخلاقه، بد مزاجه.

تسهیلات:

قوله: سَيِّئُ الْمَلَكَةِ:

د ملکة په تفسیر کښې دوه اقوال :- ⑴ ملکه طبیعت اخلاق اومزاج ته وائی یعنی مثلاً یوآقا اومالك دې د هغه یوغلام دې د دغه غلام په حق کښې هغه ظلم زیاتي او بداخلاقی کوی د دې حدیث نه پس راتلونکې حدیث نمبر (٣٣٥٩) کښې ملکه د اخلاق اوطبیعت په معنی کښې استعمال کړې شوې دې او علامه طیبی ﷫ هم ملکه نه بنه اخلاق معنی

---

۱) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الجنائز/باب ما جاء فی ذکر مرض رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۶۲۵)واحمد فی المسند: ۶/۲۹۰

۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الإحسان إلی الخدم (رقم-۱۹۴۶)و اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الأدب/باب الإحسان إلی الممالیک (رقم-۳۶۹۱) واحمد فی المسند: ۱/۴

مراد اخستې ده

④ نهایه ابن اثیر کښې ملکه نه صَنیع یعنی دَ معامله او سلوك په معنی کښې اخستې ده دواړه معاني نیږدې نیږدې دی "لایدخل الجنة" دې نه مراد دخول اولی دې یعنی دَ سزا خوړلو نه پس به ځی یا دا دَ تغلیظ او تشدید دَ اصولو مطابق دې [الکاشف ۲۲۸/۶.]

[۳۳۵۱] د خپل مملوك سره حسن سلوك د خیر او برکت باعث دی

٣٣٥٢-[١٧]( ) ١ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ مَكِيثٍ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ «حُسْنُ الْمَلَكَةِ يُمْنٌ، وَسُوءُ الْخُلُقِ شُؤْمٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. ٣ وَلَمْ أَرَ فِي غَيْرِ الْمَصَابِيحِ مَا زَادَ عَلَيْهِ فِيهِ مِنْ قَوْلِهِ: وَالصَّدَقَةُ تَمْنَعُ السُّوءَ، وَالْبِرُّ زِيَادَةٌ فِي الْعُمُرِ.

ترجمه: ١ او حضرت رافع ابن مکیث ﷜ نقل کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ٢ د خپل مملوک سره نیکي او حسن سلوک د خیر او برکت باعث دی، او د خپل مملوک سره بد سلوکي د بي برکتي باعث دی، (ابوداؤد) ٣ او (د مشکوٰة مصنف ﷫ فرمايي چې) ما د مصابیح نه علاوه په بل یو کتاب کښې هغه الفاظ نه دی لیدلی، کوم چې صاحبِ مصابیح په دې حدیث کښې نقل کړي دي (او هغه زائد الفاظ دا دی) چې حضور ﷺ دا هم وفرمایل صدقه او خیرات د خراب مرګ نه خلق ساتي، او نیکي عمر زیاتوي.

حل اللغات: - ① يُمْنٌ: خیر او برکت، ② شُؤْمٌ: بې برکتی، ③ الْمَصَابِيحِ: د کتاب نوم دې، ④ السُّوءَ: بدی، (دلته کښې بد مرګ مراد دې) ⑤ وَالْبِرُّ: یعنی مخلوق سره احسان او ښه سلوك کول او د خالق عبدت او اطاعت مراد دې

تسهیلات:

قوله حُسْنُ الْمَلَكَةِ يُمْنٌ:

غلامانو سره د ښه سلوک فضیلت:- یعنی عام طور سره داسې کیږی چې مولی خپلو غلامانو سره نیکی او حسن سلوك کوی نو غلام هم د خپل مالك او مولی زیات تابعدار او خیرخواه وی او دې غلامانو ته چې کوم کار حواله کوی هغه ډیر په شوق سره کوی او هم دا کارونه د خیر او برکت باعث جوړیږی ددې برعکس که هغه خپلو غلامانو سره بدسلوکی او بدخواهی کوی نو د غلامانو په زړهٔ کښې د مالك او مولی خلاف د بغض او نفرت جذبات پیدا کیږی او آخر دا چې د خپل مالك او مولی د جان او عزت او مال ودولت هم هیڅ پرواه نه کوی

١) اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب فی حق المملوک (رقم-٥١٦٢) واحمد فی المسند:

قوله: وَالصَّدَقَةُ تَمْنَعُ السُّوءَ:

د خراب مرګ په مصداق کښې دوه اقوال:- ① د خراب مرګ نه مراد ناڅاپی مرګ دي اودې ته خراب مرګ په دې وجه وئیلې شوې دې چې انسان ناڅاپی د مرګ په دائره کښې راګیر شی او ددې په وجه ورته د حقوق الله او د حقوق العباد په سلسله کښې د کوتاهیانو د تلافی وخت ملاؤ نشی او نه ورته د خپلو ګناهونو د توبې وخت ملاؤ شی

② د توحید اودحق څخه د غفلت په حالت کښې مرګ ترې مراد دې

قوله: زِيَادَةٌ فِي الْعُمُرِ:

د عمرپه زیادت کښې احتمالات:- ① یعنی ددهٔ عمر زیاتولې شی ، د عمر په زیاتولو کښې دا هم احتمال شته چې حقیقی زیاتوالی وی یعنی الله ﷻ دده عمر دنیکیانو سره معلق کړی چې دومره نیکی اوکړی نو دده عمر به زیاتولې شی

② ددې نه مراد معنوی زیاتوالی دې چې ددهٔ په عمر کښې برکت اچولې شی چې لږ عمر کښې زیات کار اوکړی .

[۳۳۶۰] که غلام وهل خورلو کښې د خدای واسطه درکړي نو خپل لاس منع کړه

[۳۳۶۰] [۱۸] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ خَادِمَهُ فَذَكَرَ اللّٰهَ، فَارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ» ". [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ، لَكِنْ عِنْدَهُ: "فَلْيُمْسِكْ" بَدَلَ: "فَارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوسعید رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د مثال په طور، که په تاسو کښې يو سړی خپل غلام وهي، او هغه خدای ياد کړي (يعني داسې اووائي چې تاته خدای واسطه کووم. ما معاف کړه) نو ته (د هغه د وهلو نه) خپل لاس منع کړه. ترمذي [۳] او په شعب الايمان کښې د بيهقي رحمه الله په روايت کښې د فَارْفَعُوْا اَيْدِيَكُمْ په ځای فليمسک نقل شوي دي (او د دوارو لفظونو مطلب يو دی).

حل اللغات:- ① فَارْفَعُوْا أَيْدِيَكُمْ: نو خپل لاسونه اوچت کړئ. يعنی مه ئې وهئ ② فَلْيُمْسِكْ: نو منع دې شی

تسهيلات:

قوله: فَارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ:

د لاسونو پورته کولو څخه مراد:- امام طيبی رحمه الله فرمائی چې دا حکم په هغه وخت کښې دې چې کله دې د تاديب په طور اووهلې شی او دې اووائی چې الله دپاره ما پريږده نو

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب البروالصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ماجاء فی أدب الخادم (رقم ۱۹۵۰)

دي پرېښودل پکار دی او که ده نه د حد په طور سزا ورکولې کېږی نو بيا د ده پرېښودل پکار نه دی پکار بلکه حد پورا کول پکار دی

[۳۳۳] وړوکی غلام د هغه د مور وغیره نه مه جلا کوه

۳۳۳-[۱۹] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: " [۲] «مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ وَالِدَةٍ وَوَلَدِهَا [۳] فَرَّقَ اللّٰهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَحِبَّتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو ایوب ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واورېدل [۲] چې کوم سړی د مور او د خوی په منځ کښې جدایي راولي، [۳] نو د قیامت په ورځ به الله تعالی ﷻ د هغه او د هغه د عزیزانو په منځ کښې جدایي راولي، (ترمذي، دارمي)

تسهیلات:

قوله: مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ وَالِدَةٍ وَوَلَدِهَا:

د مور او خوی په مینځ کښې د جدائی راوستلو مطلب:-یعنی چاچه دَ وینځې اودَهغې دَ خوئی په مینځ کښې جدائی اوکړه نو په دې حدیث کښې دَ والدة نه مراد وینځه ده او ,ولد, نه دَهغې بچې مراد دې چه پخپله هم غلام دې. دَدې دواړو دَ جدائیٔ کولونه مطلب دادې چه وینځه خرڅه کړې شوه یا دَ چا په لاس باندې هبه کړې شوه یا دَ څه صلح وغیره په صورت کښې جدا کړه اودَ هغې بچې پاتې شو په دې کښې به دغه کم عمره ماشوم ته خومره تکلیف وی اودَ بچی موربه خومره پریشانه وی دې باندې هم هغه خلق پوهیدې شی په چاچه دا مصیبت راغلې وی. اسلام دا تکلیف ورکونکې صورت په سختئی سره منع کړې دې په دې حدیث کښې دَ ماشوم دَ قید نه لوئی عمر والا دَ دې حکم نه خارج کړې شوی لهذا دا وعیدونه نابالغ ماشوم سره خاص دی اودَ مور اوخوئی ذکر په توګه دَمثال کړې شوې مراد ترې نه هر دوه نابالغ دَ هغه دَ ذی رحم محرم نه جدا کول دی که هغه مور وی اوکه پلار وی دواړه طرف ته نیکونه وی اوکه نیاګانې وی خور رور وی دا ټول مراد دی

د تفریق حکم:- دَ ائمه احناف نه دَ امام ابویوسف رحمه الله په نیز دا بیع بالکل ناجائز ده مګر دَ طرفین په نیزمکروه تحریمی ده اسلام دَ رحمت دین او دَ شفقت قانون دې دې دَ غلامانودومره خیال ساتلې دې نو دَ نورو شرفاؤ به په اسلام کښې کوم مقام وی

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية أن يفرق بين الأخوين أو بين الوالدة وولدها في البيع (رقم -۱۲۸۳) واحمد في المسند:۴۱۳/۵

[۲۰] (۱) ① «وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: وَهَبَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - غُلَامَيْنِ أَخَوَيْنِ فَبِعْتُ أَحَدَهُمَا، ② فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "يَا عَلِيُّ مَا فَعَلَ غُلَامُكَ فَأَخْبَرْتُهُ". ③ فَقَالَ (رُدَّهُ رُدَّهُ)» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته دوه غلامان راكړل، چې په خپلو كښې ورونه وو، ② بيا په هغوئ كښې يو ما خرڅ كړي، نو رسول الله ﷺ زما نه پوښتنه وكړه چې اې علي! ستا هغه يو غلام څه شو؟ ما حضور ﷺ ته وښودل (چې هغه غلام ما خرڅ كړي) ③ حضور ﷺ وفرمايل چې هغه واپس كړه، هغه واپس كړه (يعنى هغه بيع فسخ كړه) ترمذي، ابن ماجه

حل اللغات:- ① رُدَّهُ: هغه واپس كړه، يعنى دا بيع ختمه كړه.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ (رُدَّهُ رُدَّهُ)

دغلام د واپس كولو مطلب:- دا واپس كړه ، ددې مطلب دا وو چې تا كومه بيع كړې ده هغه فسخ كړه او دا غلام ځان سره راوله چې د دوارو رونړو په مينځ كښې جدا والى رانشي.

درده د تكرار وجه:- ددې داجمله د تاكيد دپاره دوه ځل فرمائيلو كښې دې ته اشاره وه چې كوم حكم دركولې شى هغه د وجوب په طور دې او بيع مكروه تحريمي ده. ددې حديث پاك نه معلومه شوه چې د يو بل په مينځ كښې د جدا والى نه راوستو حكم صرف د مور او د بچو په مينځ كښې مخصوص نه دې.

[۳۳۳] د مور او بچي جدا كولو ممانعت

[۲۱] (۲) ① وَعَنْهُ، «أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ جَارِيَةٍ وَوَلَدِهَا، فَنَهَاهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ ذَلِكَ، ② فَرَدَّ الْبَيْعَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ مُنْقَطِعًا.

ترجمه: ① او د حضرت علي كرم الله وجهه په باره كښې منقول دى چې (يو ځل) هغه يوه وينځه او د هغې خوى يو د بل نه جدا كړل (يعني په هغه دوارو كښې يې يو خرڅ كړو، او يو يې د ځان سره وساتلى) ② رسول الله ﷺ د دې نه منع كړى، ③ نو حضرت علي ﷺ هغه بيع فسخ كړه، ابوداؤد دا روايت بطريق انقطاع نقل كړى دى.

۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية أن يفرق بين الأخوين أو بين الوالدة وولدها فى البيع (رقم-۱۲۸۴) وابن ماجه فى كتاب التجارات/ باب النهى عن التفريق بين السبى (رقم-۲۲۴۹) واحمد فى المسند: ۹۷/۱

۲) اخرجه ابوداود فى كتاب الجهاد . باب فى التفريق بين السبى (رقم-۲۶۹۶)

تسهيلات:

قوله: أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ جَارِيَةٍ وَوَلَدِهَا، فَنَهَاهُ.. الخ:

د ماشوم د مور پلار څخه د جدا کولو عدم جواز: - دا پورتني دواړه حديثونه د حضرت امام ابو يوسف رحمه الله د مسلك دليل دی چې وړوکي ماشوم او دده مور يا دده پلار لره د يو بل نه جدا كول او خرڅول جائز نه دی

[۳۳۳] په غلام د احسان کولو اجر

---[۳۲] ( ) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ يَسَّرَ اللّٰهُ حَتْفَهُ، وَأَدْخَلَهُ جَنَّتَهُ [۳]: رِفْقٌ بِالضَّعِيفِ، وَشَفَقَةٌ عَلَى الْوَالِدَيْنِ، وَإِحْسَانٌ إِلَى الْمَمْلُوكِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] په کوم سړی کښې چې دا دري خبري وي الله تعالی جل جلاله به په هغه مرګ آسانه کړي، او هغه به په جنت کښې داخل کړي [۳] ① د کمزورو او ضعیفانو سره نرمي کول ② د مور او پلار سره شفقت کول ③ په خپل مملوک احسان کول ، دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① حَتْفَهُ: په خپل مرګ مرکیدل، ② رِفْقٌ: نرمی.

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ:

د مرګ د سختو څخه د حفاظت دري صفات: - حاصل د حديث پاك دادي چې په كوم كس كښې د مذكوره دري صفات جمع وی نو الله جل جلاله هغه د مرګ د سختو نه محفوظ ساتی

قوله: يَسَّرَ اللّٰهُ حَتْفَهُ

د مذكوره جملې مفهوم: - امام طيبی رحمه الله فرمائی چې (يقال مات حتف أنفه) چې فلانې په خپل مرګ مړ شو. ددې مطلب دادې چې (وهو ان يموت على فراشه) چې هغه پخپل کټ باندې مړ شو يعنی دې پرمخ او غورزيد واو (حتف أنفه) ورته په دې وجه وائی چې دده روح د پوزې په ذريعه اوويستلې شو

قوله: رِفْقٌ بِالضَّعِيفِ:

د ضعيف په مصداق کښې دري اقوال: -

① که هغه د بدن په لحاظ سره کمزورې وی

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم ـ ٢٤٩٤)

④ كه د مالي حالت په اعتبار سره كمزوري وي

⑤ دعقل په اعتبار سره كمزوري وي

بهر صورت دوى سره د مهرباني كولو حكم وركړې شوې دې

[۳۳۶۵] د مونځ ګزار د وهلو ممانعت

۳۳۶۵—[۲۳] (۱) ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهَبَ لِعَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - غُلَامًا، ② فَقَالَ: "لَا تَضْرِبْهُ فَإِنِّي نُهِيتُ عَنْ ضَرْبِ أَهْلِ الصَّلَاةِ، ③ وَقَدْ رَأَيْتُهُ يُصَلِّي» ". هَذَا لَفْظُ "الْمَصَابِيحِ".

ترجمه: ① او حضرت ابو امامه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ حضرت علي ﷺ ته يو غلام وركړي، ② او دا حكم يې وركړي چې دى به (بې حكم شرعي) نه وهې، ځكه چې زما د رب د طرف نه زه د مونځ ګزارو د وهلو نه منع شوى يم. ③ او ما دا غلام په مونځ كولو ليدلى دى. دا الفاظ (چې په مشكوة كښې مذكور دى) د مصابيح دى

۳۳۶۶—(۰) ① وَفِي "الْمُجْتَبَى" لِلدَّارَقُطْنِيِّ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ ضَرْبِ الْمُصَلِّينَ».

ترجمه: ① او د دارقطني په تصنيف په مجتبى كښې دا منقول دى چې حضرت عمر بن خطاب ﷺ وفرمايل ② چې رسول الله ﷺ مونږ د مونځ ګزارو د وهلو نه منع كړي يو

تسهيلات: قوله: لَا تَضْرِبْهُ:

د مونځ كوونكى د عزت او عظمت بيان: —يعنى دَ شرعي جوازنه بغيرهغه غلام مه وهئ ځكه چه دې مونځ ګذار دې. دَدې حديث نه دَ مونځ ګذار عزت عظمت او دَدې شرف اوفضيلت دَالله تعالى په نيزيه نور مخلوق باندې واضح كيږى اودَ مزې خبره داده چه نبى كريم فرمائى چه زما رب زه دَ مونځ ګذارو دَوهلونه منع كړې يم يعنى دَ بل چاخو هډو سوال نه پيداكيږى علامه طيبى فرمائى چه كله الله تعالى په دنياكښې مونځ ګذار وهلونه منع كړې ده نودَهغه دَعظيم احسان اوكرم نه اميددې چه دَ قيامت په ورځ به هغه مونځ ګذار په عذاب كښې راګيرولوسره ذليل اورسواكوى نه

[۳۳۶۷] د مملوك خطاګاني د معاف كولو حكم

۳۳۶۷—[۲۴] (۲) ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ② «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَمْ تَعْفُو عَنِ الْخَادِمِ؟ فَسَكَتَ، ④ ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ الْكَلَامَ، فَصَمَتَ، ⑤ فَلَمَّا كَانَتِ

---

۱) اخرجه احمد في المسند: ۲۵۸/۵

۲) اخرجه الدارقطني رقم الحديث ۸ من باب التشديد في ترك الصلوة

۳) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب في حق المملوك (رقم - ۵۱۶۴) واحمد في المسند: ۱۱۱/۲

الثَّالِثَةُ قَالَ: "أَعْفُوعَنْهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ وايي [۲] چې (يوه ورځ) د نبي كريم ﷺ په خدمت كښې يو سړى حاضر شو، [۳] او عرض يې وكړې چې يا رسول الله! ﷺ مونږ څو خله د خپل غلام، وينځې خطاوي معاف كړو؟ حضور ﷺ خاموش شو (اوهيڅ جواب يې ورنه كړې)، [۴] هغه سړي بيا دا سوال وكړي، دا خل هم حضور ﷺ خاموش وو، [۵] بيا چې په دريم خل هغه سړي پوښتنه وكړه، نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې هره ورځ اويا خله. ابوداؤد،

حل اللغات: - ① تَعْفُو: معاف كول، ② فَسَكَتَ: خاموش شو، ③ أَعَادَ: دوباره نې كړل، ④ فَصَمَتَ: نوخاموش شو.

تسهيلات: قوله: فَسَكَتَ:

د حضور اكرم صلي الله عليه وسلم د خاموش كيدو وجوهات:-

① دَ سائل دا سوال مناسب نه وو ځكه چه معاف كول خو يوخوښ عمل دې دادَ تعداد سره دَمقيد كولو څه ضرورت دې؟

② نبي كريم ته دَ وحي انتظار وو

③ دَدې دَپاره چه سائل او سامعين دَدې سوال جواب ښه په اهتمام سره واؤرى.

قوله: سَبْعِينَ مَرَّةً

د سبعين نه مراد: - دَ اوياؤ دا عدد په عربي كښې دَ كثرت دَپاره ډيرزيات استعماليږى. چنانچه دلته هم بالكل واضح دى چه دا عدد دَ تكثيردَپاره استعمال كړې شوې دې خاص اويا خل دَمعافئ تقييدنه دې.

۳۳۶۸ - ( ) [۱] وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو.

ترجمه: [۲] ترمذي رحمه الله دا روايت د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ نه نقل كړى دى.

[۳۳۶۹] د مملوك په باره كښې يو هدايت

۳۳۶۹ - [۲۵] ( ) [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«مَنْ لَاءَمَكُمْ مِنْ مَمْلُوكِيكُمْ فَأَطْعِمُوهُ مِمَّا تَأْكُلُونَ، وَاكْسُوهُ مِمَّا تَكْسُونَ، [۳] وَمَنْ لَا يُلَائِمُكُمْ مِنْهُمْ فَبِيعُوهُ وَلَا تُعَذِّبُوا خَلْقَ اللهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ستاسو مملوك

---

۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في العفو عن الخادم (رقم-۱۹۴۹)

۲) اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب في حق المملوك (رقم-۵۱۵۷)

،مينځي، غلام، چې كومه وينځه، غلام ستاسو اطاعت او خدمت ،ستاسو د خواهش مطابق، وكړي ،او هغه ستاسو د مزاج موافق وي، نو په هغه، هغه خوروي څه چې تاسو خپله خورئ، او هغه ته هغه اغوندي څه چې تاسو خپله آغوندي ،څكه چې هغه ستاسو زړه خوشحاله كوي، نو تاسو هم د هغه زړه خوشحاله كړئ، [۲]او كومه وينځه او غلام چې ستاسو د مزاج موافق نه وي، نو هغه ،ته تكليف مه وركوئ، بلكې هغه، خرڅ كړئ، او د الله تعالى ﷻ مخلوق ته تكليف وركول صحيح نه دي. ،احمد ، ابوداؤد،

حل اللغات: - ①لَايُلَائِمُكُمْ ستاسو د طبيعت موافق خدمت كوي.

تسهيلات: قوله: لَايُلَائِمُكُمْ:

د لاملكم لغوي تحقيق او مطلب: - دا دَ باب مفاعله ،يلائم ملائمة، نه راخي دَ موافقت په معني كښې دى دَ مزاج او خواهش مطابق او موافق مملوك مراددي يعنى كله چه غلام ستا دَ مزاج موافق او تابعدار او فرمانبردار وى نو هغه اوساتئى او دَ هغه دَ حقوقو خيال كوئى هغوى ته مناسب خوراك او مناسب لباس وركوئى او كه چرې داسې نه وى نو هسې هغه په عذاب كښې مه ساتئى او مه خپل ځان پرياشان كوئى بلكه هغه خرڅ كړئى دا امور ارشاديه دى نبى كريم دَ امت رهنمائى كولو سره دا حكم وركړې دې.

[۳۳۷۰] د څاروو سره د ښه سلوک کولو حکم

۳۳۷۰—[۲۶] (۱) [۱]وَعَنْ سَهْلِ بْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «مَرَّ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِبَعِيرٍ قَدْ لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ، [۲]فَقَالَ: " اتَّقُوا اللهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ ". [۳]فَارْكَبُوهَا صَالِحَةً وَاتْرُكُوهَا صَالِحَةً» . رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت سهل ابن حنظليه ﷺ وايي چې ،يوه ورځ، رسول الله ﷺ په يو اوښ تېر شو، نو وې ليدل چې ،د لوږې او تندې د شدت او د سورلې او بار بردارۍ د زياتوب په وجه، د هغه شا د خېټې سره لګېدله، [۲]حضور ﷺ وفرمايل چې د دې بې زبانه چارپايانو په باره كښې د الله تعالى ﷻ نه وېرېږئ، [۳]او په دوى په هغه حالت كښې سپرتيا كوئ، كله چې قوي او د سپرتيا قابل وي، او په ښه حالت كښې يې پرېږدئ، چې هغه ستړې نه وي، ،ابوداؤد،

حل اللغات: - ①بَعِيرٍ: اوښ ②لَحِقَ ظَهْرُهُ بِبَطْنِهِ: لړيدلي وه شا دهغه خيټې دهغه سره، يعنى د لوږې تندې دلاسه كمزورې شوې وو. ③الْبَهَائِمِ: چارپايان، څناور ④الْمُعْجَمَةِ: بې زبانه، چه خبرې نه شي كولې، څاروى.

١) اخرجه ابوداود فى كتاب الجهاد . باب ما يؤمر به من القيام على الدواب والبهائم (رقم-٢٥٤٨) واحمد فى المسند: ١٦٨/٥

تسهیلات: قوله: اتَّقُوا اللهَ فِي هَذِهِ الْبَهَائِمِ الْمُعْجَمَةِ:

د حدیث مطلب: - دَ حدیث مطلب دادې چه دا بې زبانه ځناور خوډخپلې ولګې تندې بیان نه شي کولې په دې وجه دَ هغې خیال ساتنې اوبه مقرر وخت په هغوی باندې خوراك څښاك کونی علماؤ لیکلی دی چه دَدې حدیث نه معلومه شوه چه کوموخلقو ځناور او مرغئی ساتلې وی نو په هغوی باندې دهغې اوبه دانه واجب دی

قوله: صَالِحَةً:

ځاروؤ سره د ښه سلوک حکم: - یعنی په ښه خوراك څښاك سره هغوی صحت مند ساتنی اوبیاپه هغوی باندې سورې او بارونه اوړنی دَکار اخستلونه پس چه کله دا ځناور په ښه حالت کښې وی نوهغوی دَځرن دَپاره پرېږدنی دې دَپاره چه هغوی دَدې قابل وی چه په خپله خیته ډکه کړې شی. اسلام دَ رحمت او شفقت مذهب دې کوم چه دَ انسانانواو غلامانونه علاوه دَ ځناورو دَ حقوقو پوره پوره خیال ساتلې دې. کوم خلق چه په دغه قوانینوباندې عمل نه کوی نودادهغوی خپل قصور دې دَ اسلام دَ قوانینوهیڅ قصور نشته دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۳۷۱] د یتیم د مال په باره کښې حکم خداوندي

٣٣٧١-[٢٤] (١) ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: لَمَّا نَزَلَ قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ [الفاتحة: ١٥٢ - ٣٣٢٨٠] ، وَقَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا﴾ [النساء: ١٠] الْآيَةَ ② انْطَلَقَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ يَتِيمٌ فَعَزَلَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ مِنْ شَرَابِهِ ③ فَإِذَا فَضَلَ مِنْ طَعَامِ الْيَتِيمِ وَشَرَابِهِ شَيْءٌ حُبِسَ لَهُ حَتَّى يَأْكُلَهُ أَوْ يَفْسُدَ،

ترجمه: ① حضرت ابن عباس ﷺ وایې چې کله د الله تعالی ﷻ دا ارشاد نازل سوچې، د یتیم مال ته مه ورځې. خو د هغه عادت سره چې په نیکې مبنې وي ،یعني د آمانت او دیانت سره په نیکې مبنې وي، او بلا شبه کوم خلق چې د یتیمانو مال په ظلم ،او بلا استحقاق، خوري. هغه په اصل کښې خپل نسونه ،خیټې، د اور نه ډکوي، ② نو د کومو خلقو سره چې ،یعني د هغوئ په نګراني او پرورش کې، یتیمان وو. هغوئ سخت احتیاط کول شروع کړي. او د هغوئ د خوراک او څښاک سامان یې د خپل خوراک څښاک د سامان نه جدا کړل. ③ د دې پورې چې د هغه یتیمانو د خوراک څښاک نه به څه پاتې شو، هغه به یې کېښودل. چې هغه یتیمانو به په دویم وخت کښې خوړل څکل. یا به خراب شو،

١) اخرجه ابوداود فی کتاب الصید/باب مخالطة الیتیم فی الطعام (رقم-٢٨٧١) والنسائی فی کتاب الوصایا/باب ما للوصی من مال الیتیم إذا قام علیه (رقم-٣٦٧٠)

[١] فَاشْتَدَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ، [٢] فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَى قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ﴾ [البقرة: ٢٢٠] [٣] فَخَلَطُوا طَعَامَهُمْ بِطَعَامِهِمْ، وَشَرَابَهُمْ بِشَرَابِهِمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] دا خبره په هغه نګرانانو ډيره سخته شوه، [٢] هغوئ رسول الله ﷺ ته د دې ذکر وکړې، نو الله تعالى ﷻ دا آيت نازل کړې، او کوم خلق چې ستا نه د يتيمانو و ړو د حکم پوښتنه کوی، نو ورته اووئيلو چې د هغوئ د مصلحت رعايت کول زيات بهتر دی، او که تاسو د هغوئ سره خرج شامل کړی، نو هغه ماشومان ستاشي (ديني) ورونه دي. [٣] نو د دې آيت د نازليدو نه وروسته هغه نګرانانو د يتيمانو خوراک څښاک په خپل خوراک څښاک کښې شامل کړل. (ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات:- ① انْطَلَقَ: په جلتئ سره لاړل، ② فَعَزَلَ: نو جدا ئې کړل ③ حُبِسَ لَهُ: ساتلې به شوه دهغه دپاره، ④ فَاشْتَدَّ: نو ګرانه شوه، سخته شوه. ⑤ فَخَلَطُوا: نو شامل کړو هغوی. يو ځاى ئې کړو.

تسهيلات:

قوله: لَمَّا نَزَلَ قَوْلُهُ تَعَالَى:

د مذکوره آيت د نزول الو:- دَ اسلام په شروع کښې دَ يتيمانانو دَ مالونو باره کښې رومبې آيت نازل شو نو دَهغوی پالنه کونکی ډير اوويريدل هغه آيت په مکمل توګه داسې دې ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾ [سورة النساء: ١٠].

① دَدې وعيدنه خلقو دَ يتيمانانو خوراك ځان له پخول شروع کړه په دې سره يوطرف ته دَ يتيمانانو دا نقصان وو چه خوراك به کم يا زيات شوخرابيدلوبه.

② بل طرف ته به پالونکوته ډير تکليف پيدا کيدلوچه دَهغوی خوراکونه به نی ځان له په ځان له پخول او جدا به نی کيخودل

دآسانتيا راتلل:- په دې وجه الله تعالى آسانی پيدا کړه اوروستودا آيت نازل شو ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْيَتَامَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۚ﴾ [بقرة: ٢٢].

مطلب دا دې چه الله تعالى دَ يتيمانو بدغوښتونکی اوخيرغوښتونکی ښه پيژنی لهذا دَ يتيمانومالونه خپلو مالونو سره يوځائی خوکړنی ليکن دَ يتيمانوهمدردی اوخيرخواهی په هرصورت کښې لازم ده خپل نيتونه مه خرابه وئی اودَ خپلو اعمالو نقصان مه کوئی اود دهوکې او فريب نه په هرحال کښې ځان ساتنی وړاندې به الله تعالى مهربانی اوفرمائی

[۳۳۷۲] په پلار، او زامنو یا دوو ورونو کښې جدایي مه راوله

ح ۳۳۷۲ـــ[۲۸] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ ۲: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الْوَالِدِ وَوَلَدِهِ، ۳ وَبَيْنَ الْأَخِ وَبَيْنَ أَخِيهِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوموسیٰ ﷺ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ په هغه سړي لعنت فرمايلی دی، چې د پلار او د هغه د زوی په منځ کښې، ۳ او د دوو ورونو په مينځ کښې جدايي راولي، (ابن ماجه، دارقطني)

تسهيلات: قوله: مَنْ فَرَّقَ:

د تفريق نه مراد:- دَدې تفريق اوجدائی نه مراد هغه جدائی هم کيدې شي چه دَنابالغ بچې اودَهغه دَ مشر ذی رحم محرم په مينځ کښې دَ يوپه خرڅولواودَ بل په پاتې کيدوسره پيدا کيږي. دَ کوم تفصيل چه دَحضرت ابوايوب انصاری ﷺ حديث نمبر(۳۳۶۸) کښې تيرشوې دې.

د جدائی مفهوم:- دلته په دې حديث کښې دَ جدائی دا مفهوم هم اخستلې شي چه يوسړې چغلی غيبت اوفساد شرارت اونفاق سره دَ دوو رونړو په مينځ کښې يا دَ پلار اوخامنوپه مينځ کښې تفرقه پيدا کوی نوهغه ملعون دې.

[۳۳۷۳] د قيديانو يوکس ته حواله کول

ح ۳۳۷۳ـــ[۲۹] (۲) ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أُتِيَ بِالسَّبْيِ ۲ أَعْطَى أَهْلَ الْبَيْتِ جَمِيعًا، ۳ كَرَاهِيَةَ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَهُمْ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ وايي کله چې به په يوي غزا وغيره کښې قيديان راوستل شو، ۲ نو نبی کريم ﷺ به په مونږ کښې يو سړی ته حواله کول (يعني په قيديانو کښې د يو کور چې به څومره افراد وو، هغه ټول به حضور ﷺ په مونږ کښې يو سړي ته حوال کول) ۳ څکه چې د هغوئ په منځ کښې جدايي را وستل حضور ﷺ نه خوښوله، (ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: إِذَا أُتِيَ بِالسَّبْيِ أَعْطَى أَهْلَ الْبَيْتِ جَمِيعًا:

دحديث د بعضي جملووضاحت:- ① أُتِيَ بِالسَّبْيِ: دسين فتحې سره او د باء په سکون سره (أي الأسارى) يعنی دوئ ته قيديان راوستلې شو.

۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب التجارات / باب النهى عن التفريق بين السبى (رقم-۲۲۵۰)
۲) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب التجارات / باب النهى عن التفريق بين السبى (رقم-۲۲۴۸)

② أَعْطَى أَهْلَ الْبَيْتِ مطلب دادي چې نبي كريم ﷺ به د يو كور ټول قيديان يو مسلمان ته حواله كړل چې په دوئ كښې جدائي رانشي واضحه دې وی چې د يو كور په ورو قيديانو كښې تفريق درست نه دې البته د يو كور بالغ قيديانو كښې تفريق درست دې.

[٣٣٧٣] خراب خلق څوك دي؟

٣٣٧٣-[٣٠] (١) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِشِرَارِكُمْ ③ الَّذِي يَأْكُلُ وَحْدَهُ، وَيَجْلِدُ عَبْدَهُ، وَيَمْنَعُ رِفْدَهُ» ". رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ؓ وايي چې (يوه ورځ) نبي كريم ﷺ وفرمايل ② يا زه تاسو ته دا ونه ښايم، چې په تاسو كښې خراب خلق څوك دي؟ ③ نو واورئ) چې خراب شرئ هغه دي چې طعام تنها خوري، خپل غلام په ناحقه وهي، او چا ته په خپل بخشش او عطا سره فائده نه رسوي، (رزين)

حل اللغات:- ① بِشِرَارِكُمْ: تاسو كښې زيات خراب خلق، ناكاره خلق، ② يَجْلِدُ: وهي، ③ رِفْدَهُ: خپله وركړه، بخشش،

تسهيلات:

قوله: أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِشِرَارِكُمْ:

دَ تولو نه خراب خلق:- دَدې نه پس نبي كريم دَ چادَ جواب انتظار اونه كړو وئې فرمائيل بلكه پخپله ئې درې قسم خلق په خرابوخلقو كښې اوشميرل.

قوله: الَّذِي يَأْكُلُ وَحْدَهُ:

دتكبر په وجه ځانله خوراك كول:- ① يعني يو هغه قسم خلق دی چه دَ ډير تكبراوډير زيات حرص اولالچ دَ وجې نه ځان له كيني خوراك كوی.

② قوله: وَيَجْلِدُ عَبْدَهُ:

په ماتحتو باندې ظلم كول:- جلد كوړې وهلوته وائی مراد ترې غلام وهل دی شرعی كوړې لګول مرادنه دی. په دې كښې دَهغه سړی دَ بداخلاقئی طرف ته اشاره ده چه دَ يوشرعی جوازنه بغير ناحق غلام وهی. خودا معنی عام ده.صرف غلام پورې خاص نه ده. بلكه كوم افسر اود اداري مشر چې په ماتحتوكسانوباندې ظلم كوی هغوی هم په دې كښې داخل دی.

③ قوله: وَيَمْنَعُ رِفْدَهُ:

كنجوسی:- رفد يرفد ضرب يضرب نه مصدردې په راء باندې كسره ده عطيه كول اودَ چاعطيه زياتولو ته وائی. مطلب دادې چه دَ يومستحق اوصاحب حق نه خپله عطيه بندول اودَ خپلې وركړې اوبخشش نه چاله فائده نه وركول كنجوسی اوبخل دې.

(١) رواه رزين

د پوره حديث خلاصه داده چه په خلقوکښې ډېر خراب سړې هغه دې په چاکښې چه بخل خپل کور جوړکړې وی اوبداخلاقو هم هغه راګیرکړې وی

تفصيلي حديث: - په جامع صغير کښې دَ ابن عساکر په حواله سره داشان روايت دَحضرت معاذ رضی الله عنه نه نقل دې په کوم کښې چه څه تفصيل هم شته او په ترغيب اوترهيب کښې حافظ منذری داسې روايت دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړې دې په هغې کښې نورهم زياتوالې دې دَ دغه ټولو خلاصه اومفهوم داسې دې چه نبی کريم حضرت معاذ رضی الله عنه ته اوفرمائيل تاسوته په خلقوکښې خراب سړې اونه ښايم؟ بيانبی کريم اوفرمائيل

① څوك چه خان له خوراك کوی

② چه خان له سفرکوی

③ خپله عطيه بنده وی

④ خپل غلام وهی. آيادَدې نه درته خراب سړې اونه ښايم

⑤ څوك چه خلقو سره بغض ساتی اوخلق ده سره بغض ساتی. آيا دَدې نه درته خراب سړې اونه ښايم؟

⑥ چه خپل آخرت دَبل دَ دنيا دَ وجې نه خرڅ کړی آيا دَدې نه درته خراب سړې اوښايم"

⑦ چه دَ دين په خرڅولوسره دنياګټی. دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما په روايت کښې داسې راغلی دی چه زه تاسوته ستاسو خراب سړې اونه ښايم؟ صحابه کرامو عرض اوکړويارسول الله ﷺ اوښايه نبی کريم اوفرمائيل ستاسو خراب سړې هغه دې چه خان له سفرکوی خپله عطيه بنده وی اوخپل غلام وهی. آيا زه تاسو ته دَدې نه هم خراب سړې نه اوښايم؟ صحابه کرامو عرض اوکړو يارسول الله ! اوښايه نبی کريم اوفرمائيل

⑧ کوم خلق چه دَ بل خطاګانې نه معاف کوی

⑨ دَ بل معذرت اومعافی نه قبله وی

⑩ دَ نورو ګناه اوغلطيانې نه معاف کوی آيا زه تاسو ته دَدې نه هم زيات خراب سړې اونه ښايم؟ صحابه کرامو اووئيل يارسول الله! اوښايه نبی کريم اوفرمائيل

⑪ دَ چا دَ ښيګړې چه څه اميدنه شی کيدلې اودَچادَ شر نه چه خلق په امن کښې نه وی.

[۳۳۸۵] وينځې او غلامان د خپل اولاد او ورونو په شان ساتل

۳۳۸۵-[۳۱] (۱) ⓵ وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ⓶ «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَيِّئُ الْمَلَكَةِ ⓷ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَيْسَ أَخْبَرْتَنَا أَنَّ هَذِهِ الْأُمَّةَ أَكْثَرُ الْأُمَمِ مَمْلُوكِينَ وَيَتَامَى

ترجمه: [۱] او حضرت ابوبکر صديق ﷛ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د خپل غلام، وينځې سره بدي کونکي به په جنت کښې نه داخليږي (د دي آوريدو سره) [۳] صحابه وو ﷡ عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا تا ﷺ مونږ ته دا نه دی ښودلی، چې ستا ﷺ امت به، غلام، وينځې او د يتيمانو د اعتبار نه د مخکنو تولو اُمتونو نه زيات وي (يعني د حضور ﷺ په اُمت کښې به غلامان، وينځې او يتيمان ډير وي، نو آيا دومره د کثرت په حالت کښې د تولو سره د خوش خلقي سلوک کول به ممکن وي؟).

حل اللغات - ① سَيِّئُ الْمَلَكَةِ: بد اخلاقه.

[۱] قَالَ: نَعَمْ فَأَكْرِمُوهُمْ كَكَرَامَةِ أَوْلَادِكُمْ وَأَطْعِمُوهُمْ مِمَّا تَأْكُلُونَ [۲] قَالُوا: فَمَا يَنْفَعُنَا [۳] قَالَ: "فَرَسٌ تَرْتَبِطُهُ، تُقَاتِلُ عَلَيْهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ [۴]" وَمَمْلُوكٌ يَكْفِيكَ فَإِذَا صَلَّى فَهُوَ أَخُوكَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمايل چې هو (زما په امت کښې به وينځې او غلامان ډير وي. او دومره د کثرت په حالت کښې د تولو سره د خوش خلقي سلوک کول به ډير مشکل وي. ليکن که تاسو په جنت کښې داخليدل غواړې، نو تاسو د هغوئ سره داسې احسان کوئ، چې د هغوئ سره ستاسو د بد خلقي بدله شي، او هغه احسان دا دی چې) تاسو هغه د خان په شان عزتمند ساتی (يعني د هغوئ سره داسې نرمي او رحم کوئ، چې په هغوئ د داسې کار بوج مه آچوئ، کوم چې د هغوئ د طاقت نه وتلی وي، او په هغوئ ظلم او زياتوب مه کوئ) او په هغوئ هغه خوري څه چې خپله خوري، [۲] صحابه وو ﷡ عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ مونږ ته په دنياکې د نفع رسولو شی کوم يو دی؟ [۳] حضور ﷺ وفرمايل چې يوآس چې د الله ﷻ په لار کښې د جهاد د پاره تړلی ساتي، [۴] او يو غلام چې ستاسو کفايت کوي (يعني هغه ستاسو دنياوي امور سر ته رسوي، چې تاسو د فارغيدو سره د آخرت امور سر ته ورسول شئ) او که ستاسو غلام مونځ کوي، نو هغه ستاسو ورور دی (نو د هغه سره د ورور په شان شلوک کوئ) ابن ماجه

حل اللغات - ② فَرَسٌ: اس ③ تَرْتَبِطُهُ: چه تړلې ئې ساتی

تسهيلات:

قوله: أَكْثَرُ الْأُمَمِ مَمْلُوكِينَ:

د مذکوره جملې وضاحت: - مطلب دا چه په دې امت کښې به دَ جهاد عمل ډيرزيات وی دَ کوم په نتيجه کښې چه به کافران ډيرزيات په قيد کښې راځی نوغلامان به ډيرزيات وی اودَ جهاد په معرکه کښې به مسلمانان ډير شهيدان کيږی نويتيمانان بچی به ډيرزيات وی سوال داکړې شوې دې چه کله دومره زيات غلامانان اويتيمانان وی نوهغوی سره به ښه سلوک اوښه طريقه څنګه کولې شی؟ نبی کريم اوفرمائيل ګرانه خوبه وی ليکن دَ جنت تللودَ پاره دا ضروری دی چه دغه غلامان دَخپل اولاد په شان اوپالليې شی اودَهغوی اکرام

اوكړې شي په دې سره به د غلامانو په حق كښې د كوتاهئ اوبداخلاقئ كفاره اداشي
قوله: قَالُوا: فَمَا يَنْفَعُنَا:
د كتې دنيلوى څيز: - بيا صحابه كراموپوښتنه اوكړه په دنيا كښې گټه وركونكې څيزكوم يودې؟ ونې فرمائيل د جهاد اس اود خدمت دپاره يوغلام گټه وركونكى څيزونه دى اوكه چرې هغه غلام مونځ كوى نوبيا هغه ستاسو رور دې يا د رور په شان دې په دې وجه اوس هغه سره د رونړو په شان ښه سلوك كوئى

[۱۶] بَابُ بُلُوغِ الصَّغِيرِ وَحَضَانَتِهِ فِي الصِّغَرِ

د ماشوما نو پالنه اود بلوغ بيان

خلاصة الباب:-
فيه ستة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:
① مدة البلوغ بالسن: ۱-
② صاحبة الحضانة: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶-
③ التخيير فى الحضانة : ۴، ۵، ۶-

د قرآن څخه د بلوغ د حكم اعتبار: - ﴿وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ [سورة نور ۵۹.]

دحضانت مفهوم: - حضن يحضن حضنا وحضانة دباب نصرنه د حاء كسره سره دې د مورخپل بچې د پالنې په غرض په ترخ كښې اخستل اودچرگې دخپلو بچو اوهگئى د وزرو لاندې ساتلو او پټولوته حضانة وائى بيا دا لفظ د تربيت دپاره هم استعماليدو چنانچه حاضنه هغه ښځې ته وائيلې شى چه دخپل بچى پالنه اوتربيت كوى اودلته حضانة د تربيت هم دغه عمل نوم دې په دې باب كښې به داهم بيانولې شى چه د بچى د تربيت اوپالنې حق چاته حاصل دې اود تربيت موده د هلك اود جيننى دپاره څه مقرر ده واخلئى ددې باب په رومبى حديث كښې تفصيل اوكورئى

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۳۷۶] د بلوغ عمر پنځلس كاله دې

۳۳۷۶-[۱] (۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: عُرِضْتُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَامَ

۱) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ٢٦٦٤، ومسلم فى صحيحه رقم الحديث ۹۱/ ۱۸۶۸ والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى حد بلوغ الرجل والمرأة (رقم-۱۳۶۱) وابن ما جه فى كتاب الحدود باب من لا يجب عليه الحد (رقم-۲۵۴۳)

أُحُدٍ ۲ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَرَدَّنِي، ۳ ثُمَّ عُرِضْتُ عَلَيْهِ عَامَ الْخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، ۴ فَأَجَازَنِي، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ: هٰذَا فَرْقُ مَا بَيْنَ الْمُقَاتِلَةِ وَالذُّرِّيَّةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې په سنه هـ ۳ کښې د غزوهٔ احد په موقع (په جهاد کښې د تلو د پاره) زه د رسول الله ﷺ په مخکې پيش کړی شوم. ۲ کله چې زما عمر څوارلس کاله وو، خو حضور ﷺ زه واپس واستولم (يعني په جهاد کښې د شرکت د پاره يې زه نه بوتلم) ۳ بيا د غزوهٔ خندق په موقع هر کله چې زما عمر پنځلس کاله وو، زه د حضور ﷺ په مخکې پيش کړی شوم، ۴ نو حضور ﷺ ما ته (په جهاد کښې د تلو د پاره) اجازت راکړي (ځکه چې د بالغ کيدو عمر پنځلس کاله دي) حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمايي چې دا عمر د جنګيدونکو او هلکانو په منځ کښې فرق کونکي دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① عُرِضْتُ: پيش کړی شوم، ② فَرَدَّنِي: خو زه ئې واپس کړم، ③ الْمُقَاتِلَةِ: جنګيدونکی، جنګيالی، ④ الذُّرِّيَّةِ: ماشومان، هلکان،

تسهيلات:

قوله: ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً:

د جينئ او هلک د عدم بلوغ په عمر باندې اتفاق: - دا خبره خو فيصله شوې ده چه جينئ دَ نهو کالونه مخکښې نه شي بالغ کيدې او هلك دَ ۱۲ کالونه مخکښې دَ طبعي نظام لاندې بالغ کيدې نه شي او دَ غيرطبعي نظام اعتبار نشته لکه چه دَ يورپ ګندهِ هګنې دَ دغه مقرر وخت نه مخکښې په وجه دَ فحاشئ بالغ کيږي.

د ماشومانو د بلوغت قسمونه: - دَ ماشومانو بلوغت په دوه قسمه باندې دي.

① بلوغت بالعلامات ② بلوغت بالسنين.

د هلک د بلوغت درې نښې: - دَ هلك دَ بالغ کيدو درې علامتونه دی. ① احتلام ورته اوشي. ② چې انزال ئې اوشي ③ په هغه کښې دَ احبال صلاحيت راشي يعنی دَ يوښځې حامله جوړولو صلاحيت په هغه کښې وی.

د جينئ د بلوغت درې نښې: - دَ جينئ دَ بالغ کيدو هم درې علامتونه دی. ① دَ هغې ماهواری شروع شي ② هغې ته احتلام اوشي ③ په هغې کښې دَ حمل دَ حصار يدو صلاحيت پيدا شي. تر دې پورې په دې مسائلو کښې دَ فقهاء کرام څه اختلاف نشته دې.

د زيرناف ويختو په علامت بلوغ کيدو کښې مذاهب: -

دَدې نه علاوه يو بل علامت دې کوم ته چه "اِنْبَاتِ شَعْر" يعنی دَ نامه لاندې ويښته کيدلو ته وائی. په دې کښې دَ فقهاؤ معمولی شان اختلاف دي

① دَ جمهورو په نيزدَنامه لاندې ويښته راختل دَ بلوغت نښه ده
② دَ احنافو په نيزدا علامت دَبلوغت نښه نه ده دَ ويښتونه مراد دَ نامه نه لاندې دَ سختو ويښتو راتلل دي صرف پشم او مره ويښته مراد نه دي
داول فريق دليل: - دَ بنوقريظه دَ هغه قيديانومتعلق دَنبي كريم اوصحابه كرامو هغه فيصله د دوى مستدل ده په كومه كښې چې دغه قيديانوته به كتلې شو چه څوك بالغ اوڅوك نابالغ دې كه دَ چابه دَ نامه لاندې ويښته وو نوهغه به په بالغانو كښې شميرلې كيدل هغه به قتل كولې شو اودَ چاچه به زير ناف ويښته نه وو هغه به ئې نابالغ گڼړلوسره پريخودلو او غلام به جوړولې شو
ه دليل جواب: - دَ نامه لاندې ويښته دَ بلوغت علامت هغه وخت گرځولې شي چه دَ بلوغت نور علامات مثلاً احبال انزال او احتلام نه وي اودَ عمر اندازه هم نه وي نوداكيدې شي چه دَ يووختي ضرورت لاندې دې چه عموماً دَنامه لاندې ويښته راتوكيدو په وخت هلك بالغ كيږي معامله چونكه دَ قتل كولو يا نه قتل كولو وه په دې وجه دَ احتياط په توگه داسې كړې وې وو داڅه عام ضابطه او قاعده نه وه.

په بلوغت بالسنين كښې مذاهب: -

كه دَ بلوغت څه علامت په هلك اوجينئى كښې ښكاره نه شي نوبيابه دَ دواړو بلوغت په كالونوسره معتبروى كوم ته چه بلوغ بالعمروائى.
① د جمهورو او دَ صاحبين مسلک دا دې چې كله هلك اوجينئى دَ پنځلسو كالوشى نودواړه به بالغ گڼړلې شي داحكمابلوغ دې كه هيڅ يوعلامت ئې هم موجودنه وي.
② داؤد ظاهرى وائي چه تركومې پورې دَ بلوغت علامات نه څه علامت ښكاره نه شي ترهغه وخته پورې بلوغت نه ثابتيږى دَ ده په نيزدَ بلوغ دَپاره دَ عمر څه حدبندى نشته دې دَامام مالك رحمه الله قول هم دغه شان دې
③ دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز چه كله هلك دَ ۱۸ كالوشي اوجينئى دَ ۱۷كالوشي نودا دواړه به بالغ شميرلې كيږى
د اول فريق دليل: - زير بحث حديث د دوى واضح مستدل دې اوكه چرې قريب البلوغ مراهق اقرار اوكړه چه زه بالغ شوې يم نودَ هغه قول به معتبر وى اودَ قاضي په عدالت كښې به فيصله هم دَدې مطابق كيږى "هذافرق" يعني دَ ۱۵كالوعمردَ جنگيدو عمردې اودَدې نه كم مثلاً څوارلس كاله عمر دَ وړوكوالي عمر دې په كوم كښې چه به دَ جنگ ميدان ته ماشوم نه شي ليګلې حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله هم دغه خبره فرمائيلې چه حضرت ابن عمر رضي الله عنه كوم وخت دَ څوارلسو كالووو نو په جنگ احد كښې هغه ته نبي كريم ﷺ دَ جنگ اجازت ورنه كړو او په جنگ خندق كښې چه هغه دَ پنځلسو كالوشو نوورته د

جنگيدو اجازت ملاؤ شو هم دغه فرق دې د جنګيدلو قابل نوي خلمي شوى خوان اونه جنګيدونکي ماشوم په مينځ کښې

① نوټ :- امام ابوحنيفه رحمه الله د جمهورو مذهب ته رجوع کړې ده ددې وجې د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل ذکر کولو ته څه ضرورت پاتې نشو

② نوټ :- که په دفاعي جهاد کښې کم عمر هلك د مسلمانانو جماعت زيات خودلو په غرض سره تلل غواړي نوهغه نه شي بندولې

[۳۳۷۷] د تنازعه په صورت کښې د بچي د پالنې حق چاته حاصل دې؟

۳۳۷۷ — [۲] ( ) ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «صَالَحَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ: ٢ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ، وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَمْ يَرُدُّوهُ، ٣ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ وَيُقِيمَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، ٤ فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ خَرَجَ،

ترجمه: ١ و حضرت برا ابن عازب رضی الله عنه وايي چې نبی کريم صلی الله علیه وسلم د حديبيه په ورځ (د مکې د کفارو سره) په درې خبرو صلح کړې وه، ٢ يو خو دا چې د مشرکانو نه کوم سړی حضور صلی الله علیه وسلم ته راشي، حضور صلی الله علیه وسلم به هغه استوی، دويم دا چې په مسلمانانو کښې کوم سړی مشرکانو ته ولاړ شي، مشرکان به هغه نه استه وي، ٣ او دريم دا چې حضور صلی الله علیه وسلم به آئينده کال (د مدينې نه) مکې ته تشريف راوړي، او خپله قضاء عمره به کوي، او (د ارکان عمره د ادائيګی او استراحت د پاره به) په مکه کښې يواځې درې ورځې قيام فرمايي. ٤ نو آئينده کال هر کله چې حضور صلی الله علیه وسلم مکې ته تشريف راوړي، او مقرره موده پوره شوه (يعنې درې ورځې تيرې شوې) او حضور صلی الله علیه وسلم د مکې نه د تللو اراده وکړه،

حل لغات: - ① مِنْ قَابِلٍ: آئنده. راروان کال. ② مَضَى: پوره شوه، تيره شوه. ③ الْأَجَلُ: مقرره نيته.

١ فَتَبِعَتْهُ ابْنَةُ حَمْزَةَ تُنَادِي: يَا عَمِّ! يَا عَمِّ! ٢ فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ، فَأَخَذَ بِيَدِهَا، ٣ فَاخْتَصَمَ فِيهَا عَلِيٌّ وَزَيْدٌ وَجَعْفَرٌ. ٤ قَالَ عَلِيٌّ: أَنَا أَخَذْتُهَا وَهِيَ بِنْتُ عَمِّي. ٥ وَقَالَ جَعْفَرٌ: بِنْتُ عَمِّي وَخَالَتُهَا تَحْتِي.

ترجمه: ١ نو د حضرت حمزه رضی الله عنه لور د اې زما اکا (تره) ويلو سره په حضور صلی الله علیه وسلم پسې وروسته ولګيده. ٢ حضرت علي رضی الله عنه د هغه د نيولو (يعنې د خان د ملګري کولو) اراده وکړه، او د هغه لاس يې ونيولی (يعنې د خان سره يې ملګرې کړه) ٣ د دې نه وروسته د حضرت حمزه رضی الله عنه د هغې لور د پرورش په باره کښې د حضرت علي رضی الله عنه حضرت زيد رضی الله عنه او حضرت جعفر رضی الله عنه په منځ کښې تنازعه پيدا شوه، ٤ حضرت علي رضی الله عنه خو دا ونيل چې مخکې ما دا وروکی واخستې ده، او دا زما د اکا (تره) لور ده (څکه د دې د

١) اخرجه البخاری فی صحيحه رقم الحديث ۲۷۰۰. ومسلم فی صحيحه رقم الحديث ۹۰/ ۱۷۸۳ والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی بر الخالة (رقم-۱۹۰۴)

پرورش د تولو نه زیات حقدار زه یم) [۵] او حضرت جعفر رضي الله عنه دا ونیل چې دا زما د اکا (تره) لور ده، او د دې خاله (د مور خور) زما په نکاح کښې ده (ځکه د دې د پرورش د تولو نه زیات حق زما دی)

حل اللغات -④لتَنَازَعَا: نو ونې نیوله، خان سره نې کړه، ⑤فاختصَمَ: نو جهګړه پیدا شوه،

> [۱] وَقَالَ زَيْدٌ: بِنْتُ أَخِي فَقَضَى بِهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِخَالَتِهَا، [۲] وَقَالَ: " الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ ". [۳] قَالَ لِعَلِيّ: " أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْكَ ". [۴] وَقَالَ لِجَعْفَرٍ: " أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي ". [۵] وَقَالَ لِزَيْدٍ: " أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلَانَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت زید رضي الله عنه دا ونیل چې دا زما وریره ده (ځکه د دې د پرورش د تولو نه زیات حق زما دی) نبی کریم ﷺ (د دې تنازعې فیصله داسې وکړه چې) هغه یې د هغې خاله (ترور) ته حواله کړه (چې د حضرت جعفر رضي الله عنه په نکاح کښې وه) [۲] او وې فرمایل چې خاله (د مور خور) د مور برابر ده، [۳] بیا حضور ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل چې زه ستا نه یم او ته زما نه یې (یعني په مونږ دواړو کښې کمال اخلاص او یو رنګې ده) [۴] او حضرت جعفر رضي الله عنه ته یې وفرمایل چې ته زما په صورت او سیرت کې زما سره مشابه یې، [۵] او حضرت زید رضي الله عنه ته یې وفرمایل چې ته زمونږ ورور او زمونږ محب یې، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: -⑥أَشْبَهْتَ: ته مشابه ئې، ⑦وَمَوْلَانَا: محبوب، چاسره چې مینه کولې شی

تسهیلات:

قوله: فَقَضَى بِهَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِخَالَتِهَا:

د ماشوم د پالنې (پرورش) استحقاق: -① دَ وړوکی بچی دَ پالنې حق دَتولونه مخکښې دَهغه مورته دې که هغې ته طلاق شوې وی اوکه نه. که موردَ طلاق ملاویدلونه پس دَ بچی دَ پالنې نه انکاراوکړی نوصحیح دا ده چه هغه به مجبوره کولې نه شی اوکه دَخپلې مورنه علاوه دَ پالنې دَپاره څوك هم نه وی نودَبچی دَ خان بچ کولودَپاره به بیا مور په پیئوورکولو باندې مجبوره کولې شی

② که چرې دَ مورنه دَ پالنې حق ساقط شو یا مور موجود نه وه بلکه مړه شوې ده نودَ پالنې حق دَ مورطرف ته په نیاګانوباندې دې که فرض کړه دغه نیا نه وی نودَ پلار طرف نه نیا ته داحق حاصل دې

③ که چرې دغه نیانې هم نه وی نودَ بچی دَ پالنې حق به دَ هغه حقیقی خور ته حاصل شی دې نه پس به بیا میرنې خورته حاصلیږی

④ که چرې په دوی کښې څوك نه وی یادَ پالنې اهل نه وی نوبیا دَ تولو نه زیاته مستحق دَمور خور (ترور)

⑤ اودې نه پس د پلار خور (ترور) که چرې په مورپلار کښې یو مسلمان دې او دویم غیرمسلم دې نود پالنې حق مسلمان ته حاصل دې

د مورنه د پالنې د حق د ساقط کیدو صورتونه:- ① اوکه چرې مورنی مرتد شوې وه نود بچی د پالنې حق به د هغې نه ساقط شی

② که چرې مورنی بدکاره اوبدکرداره وی نوهغه به هم د پالنې دحق نه محرومه کولې شی

③ که چرې مورنی د بچی د پالنې په وخت کښې نکاح اوکړه نواوس به کتلې شی چه که چرې هغې د بچی محارم او صله والوکښې نکاح کړې ده نود پالنې حق به نه ساقط کیږی خو که چرې هغې په اجانبو کښې نکاح اوکړه نوهغه به د پالنې دحق نه محروم شی

د حق حضانت دپاره د حریت لزوم:- د پالنې چه دکومومستحق عزیزانو او خپلوانو ذکر شوې دې ددې تولو دپاره آزاد کیدل ضروری دی لهذا وینځې یا ام ولده ته د پالنې حق حاصل نه دې. البته که چرې مورنی ذمیه ده نوهغې ته د پالنې حق حاصل دې په دې شرط چه ماشوم د پوهې حد ته نه وی رسیدلې.

د پالنې موده:- د پالنې حد اووه کاله یا نهه کاله مقرردې او صاحب قدوری رحمه الله لیکلی دی چه کله ماشوم خان له د خوراك څښاك انتظام کولې شی پخپله د اودس اوکپړو بدلولو اهل شی نود هغه د پالنې حق ختمیږی. اوس پلار دا ماشوم په زوربانديې په خپل تحویل کښې اخستې شی اوکه چرې جینئی وی نود هغې د حیض راتلو او د شهوت قابل کیدو پورې د پالنې حق مور اونیا ته حاصل دې. زیر بحث حدیث کښې رسول الله ﷺ دمورخوریعنی ترور د مور په ځائی فرمائیلوسره حق حضانه هغې ته ورکړې دې

قوله: يَاعَمِّ! يَاعَمِّ!:

نبي کریم ﷺ ته د تره په نوم د آواز کولو وجه:- نبی کریم چونکه دحضرت حمزه رضی الله عنه رضاعی رور هم وو په دې وجه د حضرت حمزه رضی الله عنه لور نبی کریم ته د تره په نوم بانديې آواز اوکړو حدیبیه دمکې نه ۱۵ میله فاصله بانديې د جده طرف ته واقع ده د صلح حدیبیه واقعه په ۶ هـ کښې پیښه شوې وه کافرانونبي کریم د عمره کولونه منع کړو راتلونکی کال دعمرة القضاء په موقع بانديې دحضرت حمزه رضی الله عنه لورملاؤ شوې وه

قوله: بِنْتُ أَخِي:

د حضرت زید او حضرت حمزه د وررولۍ وجه:- د حضرت زید رضی الله عنه بن حارثه رضی الله عنه اوحضرت حمزه رضی الله عنه په مینځ کښې نبی کریم مواخاة قائم کړې وو په دې وجه حضرت حمزه رضی الله عنه د حضرت زید رضی الله عنه رور اوګرځیدو نوهغوی په خپل استحقاق پالنه کښې اووئیل دازما وریره ده نبی کریم د دریواړود تسلئی د پاره د اعزاز او خصوصی امتیاز کلمات ارشاد اوفرمائیل مګر حق حضانه ئی حضرت جعفر رضی الله عنه ته ورکړو

ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی چه حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه په خپله باره کښې دا کلمات واؤريده نو دَ خوشحالئی نه ئې په تاويدو سره تړپونه اووهل "اخونا" دې نه هم هغه مواخات او رورولی مراد ده او "مولانا" نه مراد محبوب دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۷۸] دَ کم عمره ماشوم دَ پرورش دَ تولو نه زياته حقداره دَ هغه موردَه

۳۳۷۸-[۴] (۱) ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-: ۲ «أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ ابْنِي هَذَا كَانَ بَطْنِي لَهُ وِعَاءً، وَثَدْيِي لَهُ سِقَاءً، وَحِجْرِي لَهُ حِوَاءً، ۳ وَإِنَّ أَبَاهُ طَلَّقَنِي، وَأَرَادَ أَنْ يَنْزِعَهُ مِنِّي. ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ تَنْكِحِي"». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار بزرگوار (حضرت شعيب رحمه الله) نه او هغه د خپله نيکه (حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنهما) نه نقل کوي ۲ چې يوې ښځې عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ زما دا زوی چې (تر يو مودې پورې) زما نس (خيټه) د ده لوښې وو (يعني تر دومره مودې پورې دې زما په خيټه کښې وو) زما سينه د ده مشک وه (يعني تر مودې پورې يې زما د سينې نه پئ څکلې) او زما غيږه د ده زانګو وه (يعني تر مودې پورې دې ما په خپل غيږ کښې پاللی دی) ۳ وس د ده پلار ماته طلاق راکړی دی، او زما خوی زما نه په زور آخستل غواړي؟ ۴ رسول الله ﷺ (د دې آوريدو سره) وفرمايل د څو پورې چې ته د چا سره نکاح ونه کړې، د دې ماشوم د پرورش کولو ته د ټولو نه زياته مستحقه يې. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: - ۱ بَطْنِي: زما خيټه. ۲ وِعَاءً: لوښې، ۳ سِقَاءً: مشکيزه، د اوبو څکلو ځائې، ۴ وَحِجْرِي: زما غيږه، ۵ حِوَاءً: زانګو. ۶ أَنْ يَنْزِعَهُ: چه په زوره ئې واخلی،

تسهيلات: قوله: - أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ:

تعارض او دهغې جواب: - دَ دې حديث په ظاهره راتلونکی دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت سره واضح تعارض دې څکه چه په هغې کښې غلام ته اختيار ورکړې شوې دې اودلته مور احق او مستحق دَ پالنې ګرځولې شوې ده دَدې جواب دادې چه په زيرنظر حديث کښې ضابطه او قاعده بيان کړې شوې ده او راتلونکی دَ ابوهريره رضي الله عنه دواړه روايتونو کښې يوجزئی عارضی احتمالی صورت بيان دې نو په دې کښې به تاويل کوو لکه څنګه چه تفصيل راځی

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطلاق/ من أحق بالولد (رقم-۲۲۷۶) واحمد فی المسند: ۱۸۲/۲

[۳۳۷۰] دَ پالنې مودې نه پس دَ تخيير غلام مسئله

۳۳۷۰—[۳] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ خَيَّرَ غُلَامًا بَيْنَ أَبِيهِ وَأُمِّهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي ۲ چې نبی کريم ﷺ يو هلک ته اختيار ورکړي چې که هغه غواړي، د پلار سره دي وسيږي، او که غواړي د خپلې مور سره دي وسيږي، ترمذي

تسهيلات: **قوله:** خَيَّرَ غُلَامًا:

د والدينو د تفريق په صورت کښې د ولد حقدار: – په والدين کښې جدائي واقع کيدونه پس دَ کم عمر اولاد دَ پالنې حقدار دَهغوی مورده په دې کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې. البته دَ کم عمرئ دَدې مودې تعين اودَدې په تفصيلاتو کښې څه اختلاف دې

د کم عمرئ په تعيين کښې مذاهب: -

① دَ شوافعو اوحنابله په نيز ماشوم به دَ اووه کالوپورې دَ مور په پالنه کښې وی دې نه پس به هغه ته اختيارورکولې شی چه هغه مور پلار کښې څوك اختيار وی. هغه چه کوم يوهم اختيارکړو هم هغه سره به ځی. خلاصه دا چه احناف په هيڅ يوصورت کښې دَماشوم دَ تخيير په حق کښې نه دی اوشوافعو دَ اووه کالو نه پس دَ ماشوم دَ تخيير قائل دی

② دَشعور دَزمانې باره کښې احناف وائی چه کله ماشوم په خپله خوړل څکل کولې شی پخپله اودس کولې شی اوکپړې بدلولې شی نودا ماشوم باشعوردې. بعضې احنافو د سن شعوردَپاره اووه کاله خودلی دی بعضې دَ جينئی دَپاره نهه کاله اودَ هلك دپاره اووه کاله عمرخودلې دې فتویٰ دَ اووه کالو په قول باندې ده. احناف فرمائی چه په دې عمر کښې ماشوم پلار ته حواله کول پکاردی ځکه چه تعليم اوتربيت اوادب اوثقافت کښې د پلارسوچ زيات قابل اعتماد اوډير مؤثرپائيداروی او دغه وخت کښې ماشوم ته هم ددې څيزونو ضرورت وی. اودَدې نه په کم عمر کښې هلك اوجينئی دواړه به دَ مور په پالنه کښې وی ځکه چه دَ دغه زمانې مناسب تربيت مور په ښه اندازکښې کولې شی.

د دويم فريق دلائل: – ① دَ حضرت براء بن عازب ﷺ روايت د دوی مستدل دې چه نبی کريم دَحضرت حمزه ﷺ لور خپلې خاله (ترور) ته حواله کړه

② عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: «أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ ابْنِي هَذَا كَانَ بَطْنِي لَهُ وِعَاءً، وَثَدْيِي لَهُ سِقَاءً، وَحِجْرِي لَهُ حِوَاءً، وَإِنَّ أَبَاهُ طَلَّقَنِي، وَأَرَادَ أَنْ يَنْزِعَهُ مِنِّي. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " أَنْتِ أَحَقُّ بِهِ مَا لَمْ

۱) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۳۵۷ واحمد فی المسند ۲/ ۲۴۶

تَنْكِحِي » . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ
په دې کښې چه ذکر دی چه نبی کریم ماشوم خپلې مورته حواله کړو او په کم عمربچی کښې دَ اختیار ورکولو هیڅ خبره نه ده فرمائیلې

۳ حضرت عمر رضی الله عنه خپلې یوې بی بی ته طلاق ورکړې وو دَ هغې یوبچې پیدا شو یوځل حضرت عمر رضی الله عنه مسجد قباء سره تیریدو نودې هلك (عاصم) هلته لوبې کولې حضرت عمر رضی الله عنه اوچت کړو نوجنګ جوړشو نوصدیق اکبر رضی الله عنه دَ مور په حق کښې فیصله اوکړه داد صحابه کرامو په مخکښې فیصله وه نواجماع صحابه اوشوه

۴ هغه ټول روایات د دوی دلائل دی چرته چه دَ تخییرنه بغیر نبی کریم ﷺ فیصله فرمائیلې ده

داول فریق دلائل: – ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَيَّرَ غُلَامًا بَيْنَ أَبِيهِ وَأُمِّهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
زیربحث حدیث د اول فریق مستدل دې په دې کښې چه په واضحه توګه ذکر دې چه نبی کریم بچې ته په مور پلار کښې دَ یو اختیارولو اجازت ورکړې وو.

۲ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَعَنْهُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَتْ: إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ سَقَانِي وَنَفَعَنِي، فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ، فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ. فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ فَانْطَلَقَتْ بِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

د اول فریق د دلائلو جوابونه: – ۱ کوم ځائی چې په احادیثو کښې دَ اختیار ورکولو خبره راغلې ده هغه باشعور بالغ او (ممیز) بچی باره کښې ده ځکه چه په احادیثو کښې دَدې تصریح ده اودې سره روایت کښې هم دا جمله موجود ده چه مور نی اوونیل "وقدسقانی ونفعنی" اودې سره متصل روستو راتلونکی روایت کښې داالفاظ دی "وقدنفعنی وسقانی من بئر ابی عنبة" یعنی دې ماشوم ماله دَ ابوعنبه دکوهی نه اوبه راوړې اومې څکلې دَدې بیان نه په واضحه توګه دامعلومیږی چه هغه بچې بالغ وو یا مراهق وو اودَداسې بچی په اختیارکښې خود چا هم اختلاف نشته دې ځکه چه بالغ خودمختیاردې

۲ دلته دَ یوې مجبورئی دَ وجې نه بچی ته په موږپلار کښې دَ یو دَ اختیارولو اختیار ورکړې شوې وو اودَ هغې وجه دا وه چه دَ دغه هلك پلار کافر وو اونبی کریم غوښتل چه دا هلك دې دَ مور په پالنه کښې لاړشی که چرې نبی کریم دَ مسلمان مور حق کښې دَ شروع نه فیصله کوله نو خلقو به اعتراض کولوچه دَ مسلمان طرفداری ئې اوکړه په دې وجه نبی کریم ماشوم ته اختیار ورکړو او ابوداؤد شریف کښې دی چه هلك دَ اختیار ملاویدلونه

پس پلار طرف ته روان شو نونبی کریم دعا اوکړه "اللهم اهده" ای الله دده لارخودنه اوکړه چنانچه هلك مور اختیاره کړه نود نبی کریم دعا. د خصوصیت پیغمبری وه په دې باندې د بل چا قیاس نه شي کولې

خلاصه: بهرحال عام ضابطه هم هغه ده چه مالکیه او احناف خپله کړې ده باقي په جزئیات کښې به تاویل کولې کیږي

[۳۳۸۰] بچي ته په والدینو کښې هر یو سره د پاتې اختیار

۳۳۸۰—[۵] ( ) [۱] وَعَنْهُ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَالَتْ: إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي وَقَدْ سَقَانِي وَنَفَعَنِي، [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ، فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ. فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ فَانْطَلَقَتْ بِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي [۲] چې یوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه. [۳] عرض یې وکړې چې زما خاوند غواړي چې زما خوی زما نه بوزي. حالانکه هغه په ما باندې اوبه څکې او نفع راته رسوي (یعني هغه اوس د دې عمر شوی دی. چې زه د هغه د خدمت نه فائده پورته کوم) [۴] نبی کریم ﷺ هغه هلک ته وفرمایل چې دا ستا پلار دی او دا ستا مور ده. په دوی کښې چې ته کوم یو خوښوې د هغه لاس ونیسه. نو هلک د مور لاس ونیولواو هغې د خان سره بوتلو. (ابوداؤد. نسایي. دارمي)

حل اللغات - (۱) سقاني: په ما باندې اوبه څکې

تسهیلات:

قوله فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ:

د مذکوره حدیث مفهوم: - ددې حدیث پاك نه معلومیږي چې نبی کریم ﷺ کوم ماشوم ته اختیار ورکړو هغه د شعور عمرته رسیدلې وو او د مور د خدمت قابل وو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳۸۱] د مطلقې ښځې په حق کښې د ابوهریره کردار

۳۳۸۱—[۶] (۲) [۱] عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ، عَنْ أَبِي مَيْمُونَةَ سُلَيْمَانَ مَوْلًى لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ، [۲] قَالَ: «بَيْنَمَا أَنَا جَالِسٌ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَارِسِيَّةٌ، مَعَهَا ابْنٌ لَهَا، وَقَدْ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا، [۳] فَادَّعَيَاهُ، [۴] فَرَطَنَتْ لَهُ تَقُولُ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي.

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الصوم . باب وقت فطر الصائم(رقم - ۲۳۵۱) والنسائی فی کتاب الهبة باب ذکر الاختلاف لخبر عبد الله بن عباس فیه (رقم - ۳۶۹۶) وابن ماجه فی کتاب الأحکام/باب تخییر الصبی بین أبویه (رقم - ۲۳۵۱)
۲) اخرجه ابوداود فی کتاب الطلاق / من أحق بالولد (رقم - ۲۲۷۷)

ترجمه: [۱]حضرت هلال ابن اسامه ﷺ د حضرت ابي ميمونه ﷺ نه چې د هغه نوم سليمان وو، او په اهلِ مدينه كښې د چا آزاد كړى غلام وو، نقل كوي [۲]چې هغه اووېل (يوه ورځ) زه د ابوهريره ﷺ سره ناست ووم، هغه ته د فارس يوه ښځه راغله، چې د هغې سره د هغې هلک هم وو، او د هغې خاوند هغې ته طلاق وركړي وو، [۳]او د ښځې او خاوند په منځ كښې د هغه هلک په باره كښې تنازعه وه، [۴]هغې ښځې د ابوهريره ﷺ سره په فارسي ژبه كښې خبري كولو سره ورته اووېل چې اې ابوهريره! ﷺ زما خاوند زما خوى زما نه آخستل غواړي،

[۱]فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: اسْتَهِمَا عَلَيْهِ. رَطَنَ لَهَا بِذَلِكَ. [۲]فَجَاءَ زَوْجُهَا، وَقَالَ: مَنْ يُحَاقُّنِي فِي ابْنِي؟ [۳]فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: اللَّهُمَّ إِنِّي لَا أَقُولُ هَذَا إِلَّا أَنِّي كُنْتُ قَاعِدًا مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴]فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ زَوْجِي يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِابْنِي، وَقَدْ نَفَعَنِي وَسَقَانِي مِنْ بِئْرِ أَبِي عِنَبَةَ-

ترجمه: [۱]ابوهريره ﷺ ورته اووېل چې تاسو دواړه په دې خبره قرعه واچوى (د چا په نوم چې قرعه راوزي، هغه دې هلک واخلي) حضرت ابوهريره ﷺ هم د هغې ښځې دا مفهوم په فارسي ژبه كښې ادا كړې، [۲]بيا د هغه ښځې خاوند راغلى چې زما د خوى په باره كښې زما سره څوک تنازع كوي، [۳]ابوهريره ﷺ اووېل يا الله! ﷻ زه دا خبره د خپل طرف نه نه وايم، بلكې حقيقت دا دى چې زه (يوه ورځ) د حضور ﷺ په خدمت كښې ناست وم، [۴]نو يوه ښځه راغله، هغې عرض اوكړو چې يا رسول الله! ﷺ زما خاوند زما نه زما د خوى بوتلل غواړي، او هغه ماته فائده رسوي، او د ابوعتبه د كوهي (څاه) نه په ما اوبه څكي.

[۱]وَعِنْدَ النَّسَائِيِّ: مِنْ عَذْبِ الْمَاءِ - فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "اسْتَهِمَا عَلَيْهِ". [۲]فَقَالَ زَوْجُهَا مَنْ يُحَاقُّنِي فِي وَلَدِي؟ [۳]فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "هَذَا أَبُوكَ وَهَذِهِ أُمُّكَ، فَخُذْ بِيَدِ أَيِّهِمَا شِئْتَ". [۴]فَأَخَذَ بِيَدِ أُمِّهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ هِلَالِ بْنِ أُسَامَةَ.

ترجمه: [۱]او په نسايي كښې دا الفاظ دى چې هغه (د ښار نه بهر په كافي فاصله) خوږې اوبه راوړلو سره په ما څكي (د دې آوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل چې تاسو دواړه په ده قرعه واچوى. [۲]خاوند اووېل چې زما د خوى په باره كښې زما سره څوک تنازع كوي، [۳]بيا رسول الله ﷺ هغه هلک ته وفرمايل چې دا ستا پلار دى او دا ستا مورده، په دې دواړو كښې چې دې كوم يو خوښ وي، د هغه لاس ونيسه، [۴]نو هغه هلک د مور لاس ونيولى (او هغې د خان سره بوتلو) ابوداؤد، نسايي، دارمي

حل اللغات: - ①مَوْلَى: آزاد كړې شوې غلام. ②فَرَطَنَتْ: دغه ښځې په فارسي ژبه كښې يا عجمي ژبه كښې خبرې اوكړې ③اسْتَهِمَا: قرعه، پچه واچوئ دواړه، ④مَنْ يُحَاقُّنِي: څوک دى چه جهګړه كوى ما سره، ⑤مِنْ بِئْرِ أَبِي عِنَبَةَ: د ابوعنبه د كوهى نه، ⑥مِنْ عَذْبِ الْمَاءِ: د خوږو اوبو نه.

تسهيلات

قوله امرأة فارسية

د فارسية د نسبت دوه مطلبونه :- ① دا ښځه د فارس او سېدونکې وه او هم دغه واضح ده

② د فارسيه نه مراد عجميه ده يعني يوه عجمي ښځه وه عربو به په عام توګه ټولو عجميانو ته فارس او فارسي په نوم سره ياد ول

قوله رَطَنَتْ لَهَا بِذَلِكَ يعني حضرت ابو هريره رضي الله عنه هم دغه ښځې سره په فارسي يا عجمي ژبه کښې خبرې اترې او کړې د کومې بيان چه راوي په عربي ژبه کښې او کړو

قوله فَرَطَنَتْ

دلفظ فرطنت تحقيق :- د راء فتحه او کسره دواړو سره دي په حقيقت کښې داهغه کلام ته وئيلې شي چه د چا په پوهه کښې رانه شي بيا ددې اطلاق په عجمي ژبه باندې کيدلو ځکه چه عرب به د عربي لغت نه علاوه په يو لغت نه پوهيدل نو هغوی د عربي کلام نه علاوه هر کلام ته عجمي اوونيل يعني د پوهيدونه بالاتر د ګونګيانو ژبه حضرت ابو هريره رضي الله عنه که په فارسي ژبه کښې جواب ورکړې دې او په مينځ کښې څوک ترجمان نه وو نو ددې نه معلومه شوه چه د عجمو په علاقو کښې جهاد کولو سره صحابه کرامو فارسي ژبه څه نه څه زده کړې وه دلته د ابو هريره رضي الله عنه په وړاندې چه د کوم ماشوم تنازعه وړاندې کړې شوې وه دغه شان قضيه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته هم راغلې وه نو حضرت ابو هريره رضي الله عنه د هغې تذکره اوکړه

اشکال :- البته دا وهم کيږي چه نبي کريم غلام ته تخيير هم ورکړې وو او قرعه سره ئې فيصله هم فرمائيلې وه حضرت ابو هريره رضي الله عنه صرف قرعه ولې اختيار کړه او تخييرئې ولې پريخودو؟

د اشکال جواب :- حضرت ابو هريره رضي الله عنه هم د نبي کريم په شان تخيير او قرعه دواړو سره فيصله فرمائيلې وه لکه چه زيلعي د ابن حبان نه روايت نقل کړې دې په هغې کښې دا الفاظ دي :ان اباهريره خير غلامابين ابيه وامه، مګر راوي د اختصار نه کار اخستلو سره د قرعه اندازئ ذکر اوکړو او تخيير ئې پريخودو

د قرعه اندازئ دوه حيثيتونه :- د قرعه اندازئ دوه حيثيتونه دي د قرعه اندازئ يا خسنړې ويستلو شرعي حيثيت څه دې؟ ځکه چه ددې حديث نه د قرعه اندازئ واضح ثبوت ملاويږي نو ددې تحقيق دا دې

① قرعه اندازي د زړه د تطبيب دپاره وي چې د هر يو حصه مقرروي مګر د راجح او مرجوح د پاره قرعه اندازي وي

② چه په قرعه اندازئ سره د نوي حق اثبات اوشي يو ته حق ملاؤشي او بل محروم شي

د قرعه اندازۍ په حيثيت کښې مذاهب:-

① امام شافعي رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله دا خيال دې چه په مطلق قرعه اندازۍ سره حق ثابتيدې شي

② ائمه احناف فرماني چې په مذکوره دواړه قسمه قرعه اندازۍ کښې اول قسم جائز ده دَدې نه انکار په احنافو کښې چاهم نه دې کړې اومذکوره دويم قسم قرعه اندازۍ دَ اسلام په شروع کښې وه کوم وخت چه دَ جوارئي دَ حرمت حکم نه وو راغلې خوچه کله په قمار اوجوارئي باندې پابندي اولګيدله نودَ قرعه اندازئي دا قسم هم منسوخ شو خلاصه دا چه که چرې قرعه اندازۍ احدالمتساويين کښې دَ ترجيح دَپاره اودَ زړه دَ تسلئي دَپاره وي نودا جائز ده اوکه چرې دَ شروع نوي حق دَپاره وي نوناجائزده اومنسوخ ده طحاوي دَدې دَمنسوخ کيدوذکرکړې دې

داول فريق دليل:- زيرنظر حديث د دوي مستدل دې

د دليل جواب:- باقي په زير نظر حديث کښې اصل صورت دَ صلح جوړشوې دې نو حضوراکرم ﷺ دَ جګړې دَ ختمولودَپاره دَ صلح په توګه دَ قرعه اندازئي حکم فرمائيلې وو په توګه دَ شرعي حجت ئي په قرعه اندازئي سره فيصله نه وه کړې

[١٤] كِتَابُ الْعِتْقِ

دَغلام دآزادولوبيان

خلاصة الباب:
فيه ستة أحاديث مشتملة على ثلث مسائل:
① أجر الإعتاق: ١، ٣، ۴، ٥.
② التنويع في الإعتاق: ٢، ٣.
③ فضيلة الشفاعة في الإعتاق: ۶.

د عتق لغوي معاني: دَعتق ديرې معانې دي

① عتق په معنی دَقديم په دې اعتبارسره بيت الله دَ قديم کورنوم سره يادولې کيږي دَالله تعالی ارشاد دې ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ [الحج ٢٩] ﴿ ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ [الحج ٣٣]

② عتق په معنی دَقوت هم په دې اعتبار بيت الله ته عتيق وئيلې شي څکه چه بيت الله په هره زمانه کښې دهرسرې دَ لاس قوت اوملکيت دَخپل خان نه دفع کوي.

③ عتق دَ مملوکيت نه دَ وتلوپه معنی کښې راځي دلته په کتاب کښې هم دغه معنی مراد ده يعنې دَ غلامئي اومملوکيت اوکمزورئي نه وتلوسره دَ قوت آزادئي اوحريت طرف ته راتلل دادَ عتق لغوي معانې دي

⑨ عتق په معنى دَ حسن اوجمال او شرافت اوآزادئى په دې اعتبار سره صديق اكبر رضي الله عنه ته عتيق ونيلې شى چه هغه ښائسته هم وو شريف اوسردار هم وو اودَ اور نه آزاد هم وو
ه عتق اصطلاحى معنى: اوپه شرعى اصطلاح كښې دَعتق تعريف داسې دې .قوت حكمية يصير المرء به اهلا للشهادة والولاية والقضاء .يعنى عتق دَ هغه حكمى اومعنوى قوت اوطاقت نوم دې دَكوم په ذريعه چه سړې دَ قضاء گواهئى او تصرف كولو اهل كيږى
په اسلام كښې ه غلامئ يو معقول دليل: اسلام دَ يوكافر سړى دَ غلام جوړولوچه كوم حزت وركړې دې نودَ دې يومعقول وجه داده چه څنگه چه يوكافر دَ خپل خالق مالك ودَخپل رازق باغى جوړيږى نوالله تعالى حكم وركوى تركومې چه زما دا بنده زما بندگى و غلامى نه اختياروى نودې به زما دَ غلامانوغلام وى اوس دا سړې دَ انسانانو دَ ډلې نه خارج شواودَ څناورو په زمره كښې داخل شوې دې ﴿ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ﴾ [اعراف ۱۷۹]. اوس به ده سره دَ څناورو سلوك كولې شى لهذا دَ ده خرڅول اخستل په خدمت كښې ساتل ټول هرڅه جائزشو دامضمون داسې هم گڼرلې شنى چه كله داكافران دَ خپل رب دَ اطاعت اوحكم منلونه منحرف شونودَوى حيثيت دَ مالك اوحاكم دَپاره دَ باغى فوج په شان شو اوس دَ حكومت وفادار فوج يعنى مسلمانانوته حكم دې چه دا باغيان ښكته كړنى ترهغه وخته پورې چه دا باغيان يا واپس راؤگرځى دَ وفادارئى اعلان وكړى يا قتل شى او يا په قيد كښې راگيرشى بين الاقوامى قوانين اوقاعدې په دې ضبطه بندې گوته نه شى اوچتولې بلكه دَدې قاعدې تائيددَ ټولې دنيا باشعوره انسانان كوى بيا به دَافسوس مقام وى كه يوبدباطن ملحد زنديق په اسلام باندې په دې وجه اعتراض كوى چه اسلام دَ بعضې سركشو په قابوكښې راوستلودَپاره دَغلامئى سزا تجويزكوى
په اسلام كښې د غلامانو سره د خيرخواهى حكم او اهميت: بيا چه كله دَ دغه باغى فوج زور ختم شى اوبعضې كسان قيدكيدوسره غلامان جوړشى نو اسلام دَهغوى ډيرزيات خيال ساتى او خيرخواهى ئى كوى او په ډير تاكيدسره دَ دغه خيرخواهئى حكم وركوى دَهغوى آزادى او خلاصول ډير لوئى ثواب گڼرى

په عهد نبوى او دورِ صحابه كښې د غلامانو د آزادولو عملى نمونه:

① هم دغه وجه ده چه نبى كريم دَخپل عمر مبارك برابر په هركال يو غلام آزادكړې دې رسول الله ﷺ مبارك پخپله ۶۳ غلامان آزادكړى دى

① حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ۷۰ غلامان آزاد كړى

② صديق اكبر اوعثمان غنى رضي الله عنهما بې شميره غلامان آزادكړى دى

③ حضرت عائشه رضی الله عنها ۶۷ غلامان آزاد کړی،
④ حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه دیرش زره غلامان آزاد کړی
⑤ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما زر غلامان آزاد کړی

د غلامانو د آزادولو حکمتونه: غرض داچه دَ غلام جوړولو په دې قانون کښې ډیرزیات حکمتونه اوډیرې فائدې دی

① بـغی مخلوق په ادب شی اوتابعدار شی ② غلامـانو آزادونکوته چه کوم عظیم ثواب ملاوېږی هغه هم تاسو په احادیثوکښې لوستلی دی

③ غلامـان چې آزاد شی نو هغوی تـه دَ مـسلمان کیدو موقـع ملاوېـږی. پـه زرگونونـه پـه لاکهونو غلامـان مسلمانان کیدوسره په دنیااوآخرت کښې کامیاب کیدوسره جنت تـه لاړل آخر حسن بصری رحمه الله او ابن سیرین رحمه الله په شان جبال العلم اودَ دین اسلام نوموړی حضرات هم دَدغه غلامئی دَ پل نه تیریدوسره دَامت مسلمه امامان جوړشوی دی.

د غلام د آزادولو شرطونه: ① دَ غلام آزادولودپاره شرط دادې چه آزادونکې آقا بالغ وی نـابـالغ مـشـوم دې نـه وی

② عقلمنـد دې وی لیـونې دې نـه وی. چـه کـوم غـلام آزاده وی دَهغـه مالـک دې وی اوخودمختاردې وی

د غلام د آزادولو مختلف حکمونه:

① بعضې کښې مباح لکه دَ چادَ ایصال ثواب دَ پاره چه غلام آزادولې شی.
② بعضې صورتونوکښې دَغلام آزادول گناه ده کـوم وخت چـه دَ آزادولونـه پـس دَ هغـه دَ بـدمعاشئی او فساد خطره وی یا دَ مرتد کیدوخطره وی
③ بعضې صورتونوکښې غلام آزادول صرف دَ ثواب اوعبادت عمل وی لکـه یـوغلام صـرف دَ الله تعالی دَ رضا دپاره آزادول
④ په بعضې صورتونوکښې غلام آزادول واجب وی لکه چه په کفاره کښې وی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳۸۲] د غلام د آزادولو ثواب

۳۳۸۲—[۱] (۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ -: [۲] "«مَنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً مُسْلِمَةً [۳] أَعْتَقَ اللهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ [۴] حَتَّى فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۵۷۱۵ ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۲۳/ ۱۵۰۹ والترمذی فی کتاب النذور والأیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی ثواب من أعتق رقبة (رقم-۱۵۴۱) واحمد فی المسند:۲/ ۴۴۷

ترجمه: ۱ حضرت ابوهریره ﷛ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړی چې یو مسلمان (برده) له د غلامۍ نه نجات ورکړي، ۳ نو الله ﷻ به د هغه هر عضو (اندام) له د هغه برده د هر عضو په بدله کې د دوزخ د اور نه نجات (خلاصون) ورکړي. ۴ ددې پورې چې د هغه شرمګاه له به د هغه برده د شرمګاه په بدله کې نجات ورکړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَعْتَقَ: آزاد کړی، ② رَقَبَةً: څټ، مراد ترې غلام دې، ③ عُضْو: اندام.

تسهیلات: قوله: رَقَبَةً مُسْلِمَةً:

د مطلق غلام په آزادولو کښې ثواب: دلته دَمسلمان دَ سټ قید څه احترازی قیدنه دې بلکه صرف په افضل اوثواب کښې زیاتوالی طرف ته اشاره ده ګنی دَ غیرمسلم په آزادولوکښې هم ډیرثواب دې

قوله: بِكُلِّ عُضْوٍ:

د اندامونو په مقابله کښې اندامونه آزادیدل: دَ بکلّ عضوذکرکولونه پس دَ فرج اوشرمګاه ذکرپه خاص توګه یاخودَدې دَپاره اوکړې شو چه په کلام کښې بنه ترغیب او سختوالې پیدا شی یا دَدې اندام ذکر خکه اوکړې شوچه دې نه دَ زنا په شان لویه ګناه کبیرې نواشاره اوکړې شوه چه دَ غلام آزادولو سره دومره لوئی جرم هم معاف کیږی نودَ وړو ګناهونونه به څه وائې دَ اعضاء دَدې تذکره په رڼاکښې علماؤ لیکلی دی آزادونکی له پکاردی چه هغه دَخپل جنس مثل آزادکړی یعنی که سړې دې نوهغه دې سړې غلام آزادکړی اوکه چرې ښځه ده نو هغه دې ښځه غلام آزاده کړی دَدې دَپاره چه دَ اعضاء ښه تقابل اوشی بل مقطوع الذكر اوخصی غلام دې نه وی نودَ هغې آزادول اولی اوافضل دی

[۳۳۸۳] دَټولو څخه افضل عمل

> ۳۳۸۳-[۲] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ -عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ-: ۲ «أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟ ۳ قَالَ: (إِيمَانٌ بِاللهِ، وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ) ۴ قَالَ: قُلْتُ: فَأَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ؟ ۵ قَالَ: (أَغْلَاهَا ثَمَنًا وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا).

ترجمه: ۱ او حضرت ابوذر ﷛ وایي چې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه ۲ چې کوم عمل ښه دی؟ ۳ نو وي فرمایل په الله ﷻ ایمان راوړل او د هغه په لار کې جهاد کول. ۴ او ابوذر ﷛ وایی چې بیا ما عرض اوکړو کوم برده آزادول ښه دی؟ ۵ حضور ﷺ وفرمایل چې کوم ګران قیمته وي او خپل مالك ته ډیر خوږ وي

حل اللغات: ① الرِّقَابِ: جمع د رقبة څټ، مراد ترې غلام دې، ② أَغْلَاهَا: ګران، قیمتی، ③ وَأَنْفَسُهَا: ډیر ښه، عمده،

۱) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۲۵۱۸. ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۱۳۶/ ۸٤ وابن ماجه فی کتاب العتق/باب العتق (رقم-۲۵۲۳)واحمد فی المسند: ۱۵۰/۵

قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟ قَالَ: (تُعِينُ صَانِعًا أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ). ۳قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟ ۴قَالَ: (تَدَعُ النَّاسَ مِنَ الشَّرِّ. فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ تَصَدَّقُ بِهَا عَلَى نَفْسِكَ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ما عرض اوكړو چې كه زه داسې ونه كړل شم (**يعني د سستي د مخه نه بلكه د عجز او عدم استطاعت د مخه نه غلام آزاد نه كړى شم**) ۲نو حضور ﷺ وفرمايل بيا د كار كونكي مدد كوه، يا كوم سړى چې د څه څيز په جوړولو نه پوهيږي، هغه ته هغه څيز وبنايه. ۳ما عرض اوكړو كه دا هم ونه كړي شم (**نو بيا څه وكړم؟**) ۴حضور ﷺ وفرمايل چې د خلقو ته د بدى رسولو نه پرهيز وكړه، ياد لره چې د هغه په ذريعه ته خپل نفس سره نيكي كوې.
(بخاري مسلم)

حل اللغات ۴تُعِينُ: مدد كوه، ۵صَانِعًا: جوړونكي، كار كونكي، ۶أَخْرَقَ: ناپوهه. چه په يو څيز جوړولو نه پوهيږى. ۷تَدَعُ النَّاسَ: پريږده خلق. (نقصان ورته مه رسوه)

تسهيلات:

قوله - وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ

د جهاداو صلاة په افضليت كښي مذاهب:

دايمان په افضل كيدو كښي خود چاڅه كلام نشته دې ځكه چه دايمان نه بغير د يو عمل هيڅ اعتبار نشته دي ليكن علماؤ په دې كښي كلام كړى دي چه دايمان نه پس د ټولونه افضل عمل آيا جهاد دې كه مونځ دې صاحب فتح القدير په دې باندې كلام كړې دي په دوه طرحه.

۱ دعلماؤ يوبله طبقه دې طرف ته تلې ده چه دايمان نه پس د ټولو نه افضل عمل جهاد دې

۲ دعلماؤ يولويه طبقه دې طرف ته تلې ده چه دايمان نه پس افضل عمل مونځ دې

د اول فريق دلائل: ۱ زيربحث حديث د دوى مستدل دې

۲ د كتاب الحج د شروع په احاديثو كښي دحضرت ابوهريره رضي الله عنه يوحديث كښي دا الفاظ موجود دى (قال سئل رسول الله ﷺ اي العمل افضل قال ايمان بالله ورسوله قيل ثم ماذا قال الجهاد في سبيل الله) (مشكوة صفحه ۲۲۱)

دې نه معلوميږى چه دايمان نه پس جهاد په ټولو اعمالو كښي افضل عمل دې

۳ د بخارى شريف يوروايت دې (جاء رجل الى النبي صلى الله عليه وسلم فقال دُلَّنِيْ على عمل بعدل الجهاد قال لا اجده) (بخارى) يعنى يارسول الله! ماته په اسلام كښي داسې عمل اوښايه چه د جهاد برابر وى اود جهاد په شان وى نبى كريم اوفرمايل زه د جهاد په شان برابر عمل نه وينم دې روايت نه هم دغه خلقو د ايمان نه پس جهاد په افضل عبادت دې

دویم فریق دلائل: ① کتاب الصلوۃ کښې دَ حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ یو روایت کښې راغلی دی چه دَ ایمان نه پس افضل عمل "الصلوة لوقتها" دې (مشکوٰة صفحه ۵۸) هلته په دې حدیث باندې په حاشیه کښې صاحب لمعات پوره تفصیل کړې دې

په روایاتو کښې تطبیق: دلته د مونځ او جهاد متعلق تطبیق په صورت کښې علماؤ دا خودلی دی چه علی الاطلاق او عمومی فضیلت هم مونځ ته حاصل دې اګرچه دَ جهاد فضیلت هم موجود دې دې نه بهتر تطبیق دادې چه جهادچه کله دَ فرض کفایه په درجه کښې وی نومونځ دې نه افضل دې ځکه چه مونځ په هرحالت کښې فرض عین دې لیکن که جهاد فرض عین شی نوبیا جهاد دَ مونځ نه افضل کیږی [اشعة اللمعات]

د حدیث د بعضې جملو وضاحت: ① تُعِينُ صَانِعًا: صانع صنعت دَ تجارت پیشه او کاریګرنی ته وائی یعنی چه دَ کوم پیشه ور اوکاریګر اوصاحب تجارت سړی کاروبار نه چلیږی یا دَهغې خرچه دَ ده دَ بال بچ دَپاره کافی نه وی یا هغه سړې کاریګر خودې مګر دَ کار جوړولونه عاجز دې نودَداسې سړی امداد کوه که هغه په کوم صورت کښې هم وی دې دَپاره چه دَ هغه کاروبار روان شی.

② أَوْتَصْنَعُ لِأَخْرَقَ: اخرق اناړی او ناتجربه کار اودَ کاروبار کولونه جاهل سړې ته ونیلی شی مطلب دادې چه یوماهر اوصاحب فن سړې دې هغه له پکاردی چه کاروبار صنعت وحرفت اومهارت نه ناواقف سړی سره په خپل فن کښې امداد اوکړی دَ دواړو جملو مطلب دَ یومسلمان رور سره دَ امداد کولوترغیب دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۸۴] دغلام آزادول د دخول جنت سبب

[۳] (۱) [۱] عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ -عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ- [۲] فَقَالَ: عَلِّمْنِي عَمَلًا يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ. [۳] قَالَ: " لَئِنْ كُنْتَ أَقْصَرْتَ الْخُطْبَةَ لَقَدْ أَعْرَضْتَ الْمَسْأَلَةَ، [۴] أَعْتِقِ النَّسَمَةَ وَفُكَّ الرَّقَبَةَ). [۵] قَالَ: أَوَلَيْسَا وَاحِدًا؟

ترجمه: [۱] حضرت براء ابن عازب رضی اللہ عنہ وایي چې (یوه ورځ) د نبي کریم ﷺ په خدمت کې یو بانډچي (کلیوال) راغلی. [۲] او عرض یي وکړي چې ماته داسې یو عمل وښایه چې د هغه په ذریعه زه (په ابتدایي مرحله کې نجات حاصلونکو خلقو سره) په جنت کې داخل شم. [۳] حضور ﷺ ورته وفرمایل اګر چې تا په سوال کولو کې ډیر د اختصار نه کار آخستلې دی. لیکن اهم سوال دی کړي دی [۴] بیا حضور ﷺ ورته دا عمل وښودلی چې) ته یوانسان

۱) اخرجه احمد فی المسند: ۲۹۹/۴ والبیهقی فی شعب الایمان (رقم-۴۳۳۵۰)

آزاد كړه او برده ته نجات وركړه، ۵باندچي (كليوال) عرض وكړو چې آيا دا دواړي خبري يعني انسان آزادول او غلام ته نجات وركول يو نه دي؟

حل اللغات ①أَقْصَرْتَ: د اختصار نه دې كار دې واخسته، ②الْخُطْبَةَ: په خطبه كښې. ③أَعْرَضْتَ: پيش دې كړه. ④الْمَسْأَلَةَ: مسئله، سوال. ⑤النَّسَمَةَ: نسمه روح ته وائي او په نفس باندې هم دَدې اطلاق كيږي. ⑥وَفُكَّ: آزاد كړه. فاء باندې ضمه ده او كاف باندې تشديد مفتوح اومكسور دواړه شان لوستلې شي

١قَالَ: "لَا، ٢عِتْقُ النَّسَمَةِ أَنْ تَفَرَّدَ بِعِتْقِهَا. ٣وَفَكُّ الرَّقَبَةِ أَنْ تُعِينَ فِي ثَمَنِهَا، ٤وَالْمِنْحَةُ الْوَكُوفُ، ٥وَالْفَيْءُ عَلَى ذِي الرَّحِمِ الظَّالِمِ ٦فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذَلِكَ فَأَطْعِمِ الْجَائِعَ، ٧وَاسْقِ الظَّمْآنَ، ٨وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ، ٩وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ، ١٠فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذَلِكَ فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ»). رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ١حضور ﷺ ورته وفرمايل چې نا، ٢انسان آزادول خو دا دي چې ته دهغه په آزادولو كې تنها او مستقل يې، ٣او برده ته نجات وركول دا دي چې ته د هغه د قيمت په وركولو كې د هغه مدد وكړي ٤او په جنت كې د داخليدو دا هم عمل دي چې) ته يو محتاج ته د پيئو والا چيلئ (بزه، اوښه) وركړي، ٥او د هغه ظالم رشته دار سره مهرباني او احسان وكړي كوم چې په تاظلم كوي، ٦كه ستا نه دا نشي كيدى، نو په وږى څه وخوره، ٧او په تږي اوبه وڅكه، ٨او (خلقو ته) د نيكي تلقين او تبليغ كوه، ٩او د بدى نه خلقو ته د خان ساتلو تلقين كوه، ١٠او كه ته دا هم نشي كولى، نو بيا د كم نه كم دومره خو كوه چې د نېي خبري نه علاوه خپله ژبه بنده ساته، (بيهقي)

حل اللغات ⑦الْمِنْحَةَ: پئيو والا څاروې، ⑧الْوَكُوفَ: زيات پئ وركونكې څاروې ⑨الْفَيْءَ: مهرباني، نرمي. ⑩ذِي الرَّحِمِ: رشته دار، ⑪الْجَائِعَ: وږي، (چه دوډئ ته محتاجه وى) ⑫الظَّمْآنَ: تږي، (چه اوبو ته محتاجه وى) ⑬فَكُفَّ: بنده ساته

تسهيلات:

قوله: أَعْتِقِ النَّسَمَةَ وَفُكَّ الرَّقَبَةَ:

د أعتق اوفك قريب المعنى كيدل: دا دواړه لفظونه دَ معنې په اعتبارسره نيزدې بلكه يو وو په دې وجه سوال كونكي پوښتنه اوكړه چه دا دواړه خو يودى نبى كريم فرق ور اوخودلو چه عتق هغه وى چه مثلاً تا خان له څوك آزاد كړو په دغه آزادولو كښې ته مستقل ئې. او (فك) هغه وى لكه چه دَ يوغلام په آزادولو كښې تاچا سره دَ پيسو امداد اوكړو. دَدې معمولى فرق نه دا خبره واضح شوه چه دَ شارع كلام بالكل سرسرى نه دى كنټرل پكار څكه چه شارع عليه السلام هم باريك اشارو كښې كله مسئله بيانوى. او قرآن اوحديث كښې دَدې نظائرموجود دى دَپوهيدلو ضرورت دې لهذا معتق مولى، مدبر، مكاتب، ام ولده اورقيق وغيره الفاظو كښې فرق كول پكار دى

قوله: وَالْمِنْحَةَ:

د لفظ المنحة تحقيق: دَ ميم كسره سره دَ عطيه په معنى كنبي وى دلته دَ منحه نه هغه وبنه غوا يا چيلئى مراد ده چه څوك صاحب خيريومحتاج ته دَ دې دَپاره وركوى تركومې چه په هغې كنبي پيئى وى نوهغه دې پيئى حاصله وى كله چه پيئى ختم شى نومالك ته دې واپس كړې شى په عربوكنبې دَدې ډيرزيات رواج وو

قوله: الْوَكُوفَ:

د وكوف نه مراد: واؤمفتوح اودې نه پس په كاف پيښ دې داد منحه صفت دې كثيراللبن څاور مراد دې دَ كوم پيئى چه داسې يوشان څڅيږى لكه چه دَ چت نه اوبه څڅيږي پريوخى (وكف) چت چاؤدې كيدوته وائى

[۲۲۸۵] دجمات په جوړلو په جنت كښې د كور جوړيدل

٣٣٠٣ــ[۳] (١) [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ- قَالَ: [٢] («مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِيُذْكَرَ اللَّهُ فِيهِ [٣] بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ، [۴] وَمَنْ أَعْتَقَ نَفْسًا مُسْلِمَةً كَانَتْ فِدْيَتَهُ مِنْ جَهَنَّمَ، [۵] وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". [٦] رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو ابن عبسه رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړى چې يو (كوشنى يا لوى) مسجد (د نام ونمود د پاره نه بلكه) په دې نيت جوړكړي، چې په هغه كې د الله ﷻ ذكر كيږي، [٣] نو د هغه د پاره به په جنت كښې يو لوى مكان جوړول كيږى. [۴] او كوم سړى چې يو مسلمان برده آزاد كړي، نو هغه برده به د هغه سړي د پاره د دوزخ د اور نه د نجات سبب وي، [۵] او كوم سړى چې د الله ﷻ په لار كې (يعني په جهاد كې يا په حج كې يا په طلب علم كې يا په اسلام كې څنګه چې په يوروايت كې فرمايل شويدى) سپين ږيرى شي، نو د هغه بوډاتوب به د قيامت په ورځ به د هغه د پاره رڼا وي او د هغه په سبب به د هغې ورځې د تيارو نه نجات تر لاسه كړي، [٦] دا روايت صاحب مصابيح (په خپل اسناد سره) په شرح السنة كې نقل كړي دى

حل اللغات: ① فِدْيَتَهُ: د هغه بدله. ② شَابَ شَيْبَةً: خوانى زړه كړى (سپين ږيري شي).

تسهيلات:

قوله: مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِيُذْكَرَ اللَّهُ فِيهِ

جمات په جوړولو باندې په جنت كښې كور جوړيدل: يعنى داسې څائې كښې مسجد جوړ كړى چې هلته دالله ﷻ عبادت كيږى كه هغه وقف مسجد وروكې وى يا لوې. څانله نې جوړ كړى يا نور خلق څان سره يوځائې كړى او جوړنې كړى په دې شرط چې نيت كښې

---

۱) اخرجه النسائي في السنن كتاب المساجد /باب الفضل في بناء المساجد (رقم-۶۸۸) واحمد في المسند: ۳۴۲۰

اخلاص وی نو انشاء الله ددي ثواب به ضرور ملاويږی اودا د عبادتونو ټولو انواع لره شامل دي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۸۶] دعالم د پاره د روايت بالمعنى جواز

۳۳۸۶-[۵] (۱) [۱] عَنِ الْغَرِيفِ بْنِ الدَّيْلَمِيِّ، قَالَ: [۲] أَتَيْنَا وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۳] فَقُلْنَا: حَدِّثْنَا حَدِيثًا لَيْسَ فِيهِ زِيَادَةٌ وَلَا نُقْصَانٌ، [۴] فَغَضِبَ وَقَالَ: [۵] إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَقْرَأُ وَمُصْحَفُهُ مُعَلَّقٌ فِي بَيْتِهِ فَيَزِيدُ وَيَنْقُصُ. [۶] فَقُلْنَا: إِنَّمَا أَرَدْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنَ النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ -.

ترجمه: [۱] حضرت غريف ابن ديلمي رحمه الله (تابعي) وايي [۲] چې مونږ د حضرت واثله رضي الله عنه ابن اسقع (صحابي) په خدمت کې حاضر شو، [۳] او عرض مو وکړي چې مونږ ته څه حديث بيان کړه، چې په هغه کې څه کمی بيشي نه وي، [۴] حضرت واثله رضي الله عنه (د دي خبري اوريدو سره) په قهر شو، او هغه اوويل [۵] چې تاسو خلق (شپه او ورځ) قرآن وايئ، او ستاسو قرآن کريم ستاسو په کور کې ځړيږي، بيا هم د دې باوجود (د سهو او خطا د مخه) کمي بيشي کيږي (يعني هر کله چې يو سړی د قرآن کريم تلاوت کوي نو د هغه قرآن کريم د هغه په کور کې. يا د هغه سره موجود وي، او په دي صورت کې که هغه ته څه شبهه وي، نو هغه قرآن کتلی شي، ليکن د دې با وجود په تلاوت کې د غلطي سره څه لفظ پريږدي، يا څه لفظ زيات کړي. نو معلومه شوه چې ضبط وتکرار او د پوره احتياط باوجود د روايت په نقل کولو کې د الفاظ کمی بيشي ضرور راځي) [۶] مونږ عرض اوکړو چې زمونږ مطلب خو يواځې دا دی چې تاسو د حضور صلی الله عليه وسلم نه کوم حديث اوريدلی وي، مونږ ته هغه اووايئ،

حل اللغات: ① مُصْحَفُهُ: د هغه قرآن کريم ② مُعَلَّقٌ: رازوړند وی

[۱] فَقَالَ: «أَتَيْنَا رَسُولَ اللَّهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - فِي صَاحِبٍ لَنَا [۲] أَوْجَبَ يَعْنِي: النَّارَ بِالْقَتْلِ. [۳] فَقَالَ: (أَعْتِقُوا عَنْهُ [۴] يُعْتِقِ اللَّهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِنْهُ عُضْوًا مِنْهُ مِنَ النَّارِ»). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] نو حضرت واثله رضي الله عنه دا حديث بيان کړي چې (يوه ورځ) مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې د خپل يو دوست په معامله کې راغلو [۲] چې هغه (خودکشي کولو سره يا بل څوک عمداً) قتلولو سره د خان د پاره د دوزخ اور واجب کړي وو. [۳] حضور صلی الله عليه وسلم (د واقعي اوريدو سره) وفرمايل چې د هغه سړي د طرف نه غلام آزاد کړي، [۴] الله تعالی به د هغه غلام د هر اندام په بدله کې د قاتل هر اندام ته د دوزخ د اور نه نجات ورکړي، (ابوداود)

حل اللغات: ③-فِي صَاحِبٍ لَنَا: د خپل يو دوست په معامله کښې ② أَوْجَبَ: واجب کړې ئې دي.

۱) اخرجه ابوداود في كتاب العتق/باب في ثواب العتق (رقم - ۳۹۶۴)

تسهيلات:

قوله فَغَضِبَ:

د روايت بالمعنى د جواز دليل: حضرت واثله بن اسقع رضي الله عنه كنړل چه دا خلق د نبى كريم د ژبې مباركې الفاظ بعينه هم هغه شان د نقل كولو مطالبه كوى لكه څنګه چه نبى كريم ارشاد فرمائيلى وى په دې وجه غصه شو ليكن كله چه دغه حضراتو صحابى پوهه كړو چه زمونږ مطلب دادې نودهغه غصه ختمه شوه (ومصحفه معلق) دغه وخت قرآن كريم په مجلدشكل كښې نه ووبلكه جدا جدا څيزونوباندې ليكلې شوې وو اوبيائى دغه ټول څيزونه او پاڼې په يوه كپړه كښې تړلوسره په ديوال پورې زوړند ساتلو هم دغه پس منظر په دې الفاظوكښې بيان كړې شوې دې. د دې كلام نه معلومه شوه چه روايت بالمعنى جائزدې كله چه مفهوم اومقصود يووى نخبة الفكر وغيره اصول حديث كتابونوكښې ليكلى دى چه روايت بالمعنى د عالم نه بغيربل څوك نه شى كولې.

قوله: أَوْجَبَ يَعْنِي: النَّارَ بِالْقَتْلِ

مذكوره جملې په وئيلو كښې دوه اقوال: يعنى هغه خودكشى كړې وه نوځكه واجب النارشوې وو يا هغه بل څوك سرې قتل كړې وود كوم په وجه چه هغه واجب النار شوې وو
① ملاعلى قارى مرقات كښې ليكى چه كيدې شى دا مقتول د معاهدين نه وى اويه غلطئى سره دې قتل كړې شوې وى اودغه سوال كونكوخيال اوكړو چه قتل خطاء هم موجب جهنم دې په دې وجه هغوى داقسم الفاظ اداكړل چه هغه واجب النار وو نونبى كريم اوفرمائيل غلام آزاد كړه كفاره كافى ده.
② زجاجة المصابيح په حاشيه كښې د دې مصنف ليكلى دى چه د غلام د آزادولوحكم به روستوور كړې شوې وى اود قتل د وجې نه چه كومه سزا شوې وه كيدې شى هغه دغه خلقو پوره كړې وه

[۳۲۸۷] د غلام د آزادى دپاره په سفارش د صدقې اطلاق

٣٢٨٠—[٢] (١) ١ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ الشَّفَاعَةُ ٣ بِهَا تُفَكُّ الرَّقَبَةُ»). رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ١ او حضرت سمره ابن جندب رضي الله عنه وايي ٢ چې رسول الله ﷺ وفرمايل بهترينه صدقه هغه سفارش دی ٣ چې د هغه په نتيجه کې (د برده) غاړې ته خلاصون حاصل شي. (بيهقي)

حل اللغات: ① تُفَكُّ: ته خلاص كړې، آزاد كړې

١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان (رقم - ٧٦٨٢)

تسهیلات

قوله شَفَاعَة

د شفاعت دوه مطلبونه: ① دَ سفارش مطلب دادي چه سفارش کولوسره نی غلام آزاد کړو

② بل مطلب دا دي چې یوسړی خپل غلام قتل کول غوښتل بل هغه وهی بل پرې دي که کوم سړی به دغه تنازعه کښې سفارش کولوسره دغه مظلوم غلام بچ کول دا بهترین صدقه ده

[۱] بَابُ إِعْتَاقِ الْعَبْدِ الْمُشْتَرَكِ وَشِرَاءِ الْقَرِيبِ وَالْعِتْقِ فِي الْمَرَضِ

د عبد مشترک آزادولو او د رشته دار د اخستلو او په حالت مرض کښې دَ غلام د آزادولو بیان

خلاصة الباب:

فیه ثمانیة عشر حدیثاً مشتملة علی ثماني مسائل:

① حكم إعتاق العبد المشترك: ١، ٢، ١٠.

② حكم الإعتاق في المرض: ٣.

③ قضية شراء الغلام المحرم وحكمه: ٤، ٦.

④ حكم المدبر و أم الولد: ٥، ٧، ٨.

⑤ حكم مال العبد: ٩، ١٨.

⑥ حكم الشرط في الإعتاق: ١١.

⑦ حكم المكاتب: ١٢، ١٣، ١٤، ١٥.

⑧ حكم الإعتاق عن الميت: ١٦، ١٧.

قال الله تعالى ﴿فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا﴾ [النور ٣٣]

دباب خلاصه: دَ پورتنی باب او عنوان لاندې دَ کوم مسئلو او احکامو متعلق چه احادیث راغلي هغه مسائل او احکام په درې قسمه دی

① په باب کښې یو عنوان دَ عبد مشترك مسئلو او احکامو دَ پاره قائم کړې شوې دې ودې متعلق احادیث ذکر دی

② دَ باب دویم عنوان دَ رشته دار غلام بل ونیخي په اخستلو سره دَ هغوی د آزادیدو حکمو و مسئلو سره متعلق دې اوځه احادیث ددې عنوان متعلق دی

③ دریم عنوان په مرض الوفات کښې د غلام آزادولو احکام او مسائل دی اوځه احادیث ددې عنوان متعلق دی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۲۸۸] د مشترک غلام د آزادولو په باره کښې يو هدايت

۳۲۸۸–[۱] (۱) [۱]عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ -: [۲]((مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ [۳]وَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ، [۴]قُوِّمَ الْعَبْدُ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ، [۵]فَأُعْطِيَ شُرَكَاؤُهُ حِصَصَهُمْ، [۶]وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ، [۷]وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]کوم سړی چې د يو مشترک غلام خپله حصه آزاده کړي [۳]نو د هغه د پاره بهتره دا ده که، د هغه سره دومره مال وي چې د هغه غلام د باقي حصو د قيمت په قدر وي، [۴]نو د انصاف سره (يعني بغير د کمي او بيشي) د هغه غلام (د باقي هغه حصو) قيمت دی ولګول شي، [۵]او د هغه غلام نورو شريکانو ته دي د هغوئ د حصو قيمت ورکړي، [۶]نو هغه غلام به د هغه د طرف نه آزاد شي، [۷]او که د هغه سره دومره مال نه وي، نو بيا د هغه غلام کومه حصه چې هغه سړي آزاده کړيده هغه به آزاده شي (او د نورو شريکانو حصې به مملوک وي) بخاري مسلم

حل اللغات: ① شِرْكًا لَهُ: چه دده ورسره شراکت وی. ② ثَمَنَ الْعَبْدِ: د غلام قيمت، ③ قُوِّمَ: قيمت دي ولګولې شی. ④ قِيمَةَ عَدْلٍ: قيمت د انصاف، بغير کمی بيشی

تسهيلات: **قوله:** مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ..الخ:

د يو څو اصطلاحي الفاظو تشريح

په دې بحث کښې د يوڅو مشکل الفاظو تشريح ورکول ضروری ده دې د پاره چه لوستونکو ته آسانی وی

① **تضمين:** هم د دې معنی ضمان اداکول تاوان ورکول دی مطلب دا چه کله مالدار ملګری د بل ملګری سره شريک غلام کښې خپله حصه آزاده کړه نو هغه به د خپل ملګری د حصې تاوان ورکول

② **استسقاء:** دا د طلب محنت کسب اوګټې طلب کولو په معنی کښې دې مطلب دا چه غلام آزادونکې کوم وخت فقير اولاچار وی نو د هغه بل شريک ملګرې دې د غلام نه د خپلې حصې برابر ګټه وصول کوی

③ **ولاء:** کوم سړې چه غلام آزاد کړی د غلام د مرګ نه پس د هغه ميراث به آزدونکی ته

۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۲۵۲۲. ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۱/ ۱۵۰۱ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۹۴۰ والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في العبد يكون بين الرجلين فيعتق أحدهما نصيبه (رقم-۱۳۴۶) والنسائي في كتاب البيوع/باب الشركة في الرقيق (رقم-۴۶۹۹) وابن ماجه في كتاب العتق/باب من أعتق شركا له في عبد(رقم-۲۵۲۸)

ملاویږی هم د دغه میراث نوم ولاء ده که چرې دوو کسانو غلام آزاد کړو نوولاء به دواړو ته ملاویږی

④ **معتق**: دا د اسم فاعل صیغه ده یعنی آزادونکې، یوغلام آزادونکی ته معتق وائی

⑤ **حالت یسار**: یسار مالدارئی ته وائی حالت یسار یعنی د مالدارئی په حالت کښې اوحالت اعسار یعنی د تنګدستئی په حالت کښې

اعتاق کښې د تجزی مطلب دادې چه جزوی اعتاق او جزوی آزادی معتبر ده

⑥ **مجاناً**: یعنی مفت آزادول

⑦ **تجزی**: دا لفظ دلته اعتاق سره استعمال شوې دې دا د جزء جزء او ټکړې ټکړې کیدو په معنی کښې دې په

قوله: مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ الخ

د إعتاق په تجزی قبلولو کښې مذاهب:

د اصل مسئلې شروع کولو نه وړاندې مناسب ده چې په کوم اصولی اختلاف باندې دا مسئله بنا ده دهغې وضاحت اوشی هغه مسئله دا ده چې اعتاق تجزی او تقسیم قبلوی که نه؟

① د جمهورو په نیز اعتاق تجزی قبلوی. د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز هم اعتاق تجزی قبلوی البته د فقهی اواجتهادی اختلاف د وجې نه په مسئله کښې فرق راغلو کوم چه پورته بیان کړې شو

② د صاحبینو مسلك دادې چه اعتاق قطعًا تجزی نه قبلوی هم دغه وجه ده چه د مشترك غلام هره یوه حصه هم که یوشریك آزاده کړه نو پوره غلام به هم هغه وخت آزاد شی

هرکله چې دا معلومه شوه نو اوس اصل مسئلې ته راشئ

د عبد مشترك د آزادولو په حکم کښې مذاهب:

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په مذکوره حدیث کښې دا مسئله بیان کړې شوې ده چه کله د دوو سړو په مینځ کښې یوغلام مشترك وی اویوشریك خپله حصه آزاده کړې وی نو په دې کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې

① جمهور امام مالك رحمه الله امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی که چرته آزادونکې معتق مالدار وی نوهغه له پکاردی چه د شریك د حصې قیمت هم اداکړی نوپوره غلام به دهغه د طرف نه آزادشی او ولاء به هم آزاد کونکی ته ملاویږی. اوکه چرې آزادکونکې غریب وی نوصرف هم دهغه حصه به آزاده شی اود هغه د شریك حصه به غلام پاتې وی. ددوی په نیزد غلام اعتاق کښې تجزی جائز ده لهذا نیم آزاددې اونیم غلام دې یوه ورځ به دې د خپل مالك په خدمت کښې تیره وی او یوه ورځ به آزاد فارغ اوعیش کوی

② امام ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله یعنی صاحبین فرمائی چه آزادونکي مالداروی نو د غلام باقی نیم قیمت به د دویم شریك ته اداکوی نو غلام به د ده د طرف نه آزاد شی او د ولاء حق به هم ده ته ملاویږی او که چرې آزادونکي غریب وی نو غلام به پخپله کوشش او محنت کوی پیسه به گټی اوپه خپل نیم قیمت به شریك مالك ته ورکولو سره آزادی حاصلوی دې ته استسعاء ونیلی شی بهرحال د صاحبینو په نیز به په هرصورت کښې غلام آزادیږی ځکه چه د هغوی په نیز اعتاق تجزی نه قبلوی اودې آزادونکی د خپل شریك غلام حصه برباده کړه لهذا د ضمان په توګه به خپل شریك ته د هغه د حصې قیمت ورکوی که چرې هغه سره مال وی ګنی په غلام باندې استسعاء لازم ده

③ امام ابوحنیفه فرمائی که د مشترك غلام آزادونکي مالدار وی نو د هغه شریك ملګری ته د دریو خبرو اختیار حاصل دې

۱- یاخودې هغه هم خپله حصه آزاده کړی او په ولاء کښې به دواړه شریك وی یا دې هغه آزادونکي نه د خپل ملګری نه د تاوان په توګه د خپلې حصې قیمت واخلی

۲- اویادې په غلام باندې کوشش کولوسره خپله حصه وصول کړی که چرې آزادونکي پخپله غریب دې نو د هغه شریك ملګری ته به د دوو خبرو اختیار حاصل وی چه

۳- یخودې هغه هم فی سبیل الله خپله حصه آزاده کړی اویادې په غلام باندې سعی اوکړی او خپل حق دې وصول کړی

داول فریق دلیل: زیر بحث د حضرت ابن عمر رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې دا حدیث په دې خبره کښې بالکل واضح دې که چرې آزادونکي مالدار دې نوهغه به بل شریك ته صرف ضمان اداکوی او که چرې هغه غریب دې نوبیاخو به هم غلام پاتې وی بل صورت نشته دې

د دویم فریق دلائل: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا فِي عَبْدٍ أُعْتِقَ كُلُّهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

② وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: «أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ شِقْصًا مِنْ غُلَامٍ، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: "لَيْسَ لِلَّهِ شَرِيكٌ". فَأَجَازَ عِتْقَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

په دواړو احادیثو کښې په واضح توګه باندې ذکر دی چه اعتاق تجزی نه قبلوی بلکه که چرې آزادونکي مالدار دې نوهغه به خپل شریك ملګری ته تاوان اداکوی او که فقیر وی نو په غلام باندې به سعی کوی د حدیث الفاظ دادی ,,قال ان کان غنیا ضمن وان کان فقیرا سعی العبد فی حصة الاخر،،

د دریم فریق دلائل: امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د جمهورو او صاحبینو دواړو د مستدلاتو نه خپل مسلك ثابت کړې دې او امام طحاوی رحمه الله هم د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یو اثر د دلیل په توګه پیش کړې دې شاه انورشاه کشمیری رحمه الله د مسنداحمد یوروایت او د مصنف

عبدالرزاق یوروایت دَ امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله دَ مسلك په تائیدکښې نقل کړې دې بهرحال د صاحبینو مسلك دَ ظاهری حدیث په رنړاکښې ډیرواضح دې اوبیا دَ جمهورو مسلك واضح دې

نوټ: دا خبره دَ یاد ساتلوده چه امام ابوحنیفه دَ کوم اعتاق دَ تجزی اوعدم تجزی خبره فرمائی هغه "اعتاق بمعنی إزالة ملك" دې لهذا چه کوم وخت یوشریك خپله حصه آزاده کړه نو پوره غلام آزاد نه شو او صاحبینوچه کوم اعتاق ته غیرمتجزی ونیلې هلته اعتاق بمعنی اثبات الحریة دې، لهذا دَ یوشریك حصه آزادولوسره پوره غلام آزادیږی دَ ائمه احناف چه په خپل مینځ کښې کوم اختلاف دې دا په حقیقت کښې دَ اعتاق په تفسیرکښې دې صاحبین دَ اعتاق تفسیر "اثبات الحریة" سره کړې دې او "اثبات الحریة" کښې دَ تجزی څوك هم قائل نه دی او امام ابوحنیفه رحمه الله دَ اعتاق تفسیر "ازالۀ ملك" سره کړې دې اودَ ازالۀ ملك کښې دَ تجزی ټول فقهاء قائل دی لهذا دا اختلاف لکه چه لفظی اختلاف دې یا دَ تعبیر اوتفسیر اختلاف دې

[۳۳۸۹] د مشترك غلام د بعضې حصې په آزادی د ټول غلام آزادی

۳۳۸۹-[۲] (۱) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②(«مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا فِي عَبْدٍ أُعْتِقَ كُلُّهُ ③إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ، ④فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ ⑤اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①و حضرت ابوهریره رضی الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②کوم سړی چې د (مشترك) غلام خپله حصه آزاده کړي، نو هغه غلام به پوره آزاد شي (او دا آزادي به د آزادونکي سړي د طرف نه متصور کیږي) ③او که هغه سړي سره دومره مال وي چې هغه د خپلې حصې نه علاوه د باقي حصو د قیمت ادانیګی وشي، نو نورو شرکاؤ ته دي د هغوی د حصو قیمت ورکړي) ④او که د هغه سره دومره مال نه وي. ⑤نو بیا هغه غلام دی د هغه باقي حصو) په قدر قیمت او مزدوري یا د نورو شرکاؤ په خدمت مامور کړل شي. لیکن غلام دي په داسې کار محنت او مشقت کې نه مبتلا کوي چې د هغه د طاقت نه وتلي وي (بخاری، مسلم)

حل اللغات ①شِقْصًا: حصه. ②اُسْتُسْعِيَ: کوشش، محنت، مزدوری به کوی. ③غَيْرَ مَشْقُوقٍ: چه د وس اوطاقت نه زیات مشقت نه وی

---

۱) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۲۵۰۴ ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۳/ ۱۵۰۳ وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۳۹۳۷ والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی العبد یکون بین الرجلین فیعتق أحدهما نصیبه (رقم-۱۳۴۸) وابن ماجه فی کتاب العتق/باب من أعتق شرکا له فی عبد(رقم-۲۵۲۷) واحمد فی المسند: ۲/ ۲۵۵

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا فِي عَبْدٍ أُعْتِقَ كُلُّهُ

نوټ: په دې حديث کښې ښکاره ثابته ده چې اعتاق تجزی نه قبلوی د بعضې حصې په آزادیدو به ټول غلام آزادیږی.

[۳۳۹۰] د مرګ په وخت کښې د غلام د آزادولو حکم

۳۳۹۰- [۳] (۱) [۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-: [۲] «أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ لَهُ عِنْدَ مَوْتِهِ [۳] لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُمْ، [۴] فَدَعَا بِهِمْ رَسُولُ اللهِ -عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ- فَجَزَّأَهُمْ أَثْلَاثًا، [۵] ثُمَّ أَقْرَعَ بَيْنَهُمْ، [۶] فَأَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَأَرَقَّ أَرْبَعَةً، [۷] وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيدًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه راوي دي [۲] چې يو سړي د خپل مرګ په وخت خپل شپږ غلامان آزاد کړل، [۳] او د هغه سړي سره د هغه غلامانو نه علاوه بل څه مال نه وو بيا د هغه سړي د مرګ نه وروسته چې رسول الله ﷺ ته علم وشو، [۴] نو حضور ﷺ هغه غلامان را وبلل او (د دوو دوو په تعداد کې) هغوئ يې درې حصې کړل [۵] او بيا د هغوئ په منځ کې يې قرعه واچوله، [۶] دغه شان د هغوئ نه دوه خو يې آزاد کړي او څلور يې غلامان وساتل، [۷] او د آزادونکي په حق کې (د ناراضګي د اظهار کولو د پاره) سخت الفاظ وفرمايل.

حل اللغات: ① فَجَزَّأَهُمْ: نو حصې حصې ئې کړل، ② أَثْلَاثًا: درې درې حصې، ③ أَقْرَعَ: قرعه اندازی، پچه ئې واچوله، ④ وَأَرَقَّ: غلامان ئې اوساتل،

[۱] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْهُ وَذَكَرَ (لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أُصَلِّيَ عَلَيْهِ) بَدَلَ (وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيدًا). [۲] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: قَالَ: [۳] (لَوْ شَهِدْتُهُ قَبْلَ أَنْ يُدْفَنَ [۴] لَمْ يُدْفَنْ فِي مَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ).

ترجمه: [۱] او د نسايي په روايت کې چې د حضرت عمران رضي الله عنه نه منقول دی د سخت الفاظ فرمايلو په ځای دا الفاظ دي چې ماخو دا اراده کړي وه، چې د دې سړي د جنازې مونځ ونه کړم. [۲] او د ابوداود په روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ (د هغه سړي په حق کې په طور د تنبيه او تهديد) دا وفرمايل [۳] که زه د هغه د دفن کيدو نه مخکې د هغه جنازې ته رسيدلی وی، [۴] نو هغه به د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کولې نشو.

حل اللغات: ⑤ قَوْلًا شَدِيدًا: سخت الفاظ، د غصې خبرې، ⑥ هَمَمْتُ: ما قصد، اراده کړې ده

۱) اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۵۶/ ۱۶۶۸ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۹۵۸ والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يعتق مماليكه عند موته وليس له مال غيرهم (رقم-۱۳۶۴) والنسائى فى كتاب الجنائز/باب الصلاة على من يحيف فى وصيته (رقم-۱۹۵۸) وابن ماجه فى كتاب الأحكام/باب القضاء بالقرعة (رقم-۲۳۴۵) واحمد فى المسند: ۴۲۸/۴

تسهيلات

قوله أَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوكِينَ

په مرض الموت كښې د دريمې حصې نه د زيات وصيت كولو حكم: مملوكين د مملوك جمع ده يعنې شپږ غلامان دغه سړى آزاد كړل اوهم دغه شپږغلامان د هغه ټوله سرمايه وه په مرض الموت كښې دهغه غلامانوسره دهغه د وارثانوحقوق تړلې شوې وو په دې آزادولوسره دغه سړى د وارثانوحق ضائع كړو په دې وجه نبى كريم د خفگان اظهاراوكړو اوبيانى غلامان درې حصې كړه خسنړې ئى واچولونو په دريوحصوكښې يوه حصه كښې عتق نفذ كړو اودريوكښې دوه يعنى څلورغلامان ئى پريخودل ددې حديث نه دامسئله معلومه شوه كه يوسړې په خپل مرض الوفات كښې خپل غلامان آزادكړى اوهغه سره ددې غلامانونه علاوه نورڅه مال نه وى نودا عتق به په دريوحصوكښې په يوه حصه كښې نافذ كيږى په دې كښې د ټولو فقهاؤ اتفاق دې البته دا مسئله چه كوم كوم غلام به آزاديږى اود آزادنى كيفيت اوصورت به څه وى دې كښې اختلاف دې

د فقهاؤ اختلاف: ①جمهور فرمائى چه مجموعه غلامان به دريوحصوكښې تقسيم كولې شى اوبيا به په دريوكښې د يوې حصې د پاره خسنړې اچولې شى مثلاً د شپږو غلامانو درې حصې به جوړكړې شى اود خسنړى په ذريعه به دريوكښې يوه حصه يعنى دوه غلامان به آزادكړې شى او دريوكښې دويمه حصه يعنى څلور به هم هغه شان غلامان پاتې وى كوم چه به وارثانوته ملاويږى لكه چه د عمران بن حصين رضي الله عنه په دې روايت كښې بيان كړې شوى دى

②امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه په مذكوره صورت كښې هرڅومره غلامان وى د هريوغلام به دريوحصوكښې يوه حصه آزادشى او باقى دوثلث په آزادنى كښې به غلام پخپله سعى اومحنت كولوسره گټه كوى او رقم به راوړى مالك ته به ئى وركوى اوخپل ځان به خلاصوى لكه چه د مرض الموت دا اعتاق د مړى په ثلث مال كښې نافذ گڼړلې شى اودا ثلث به په ټول مال كښې خوريږى

دلائل: جمهوروځضرت عمران بن حصين رضي الله عنه د روايت نه استدلال كړې دې چه د ظاهرى الفاظ په لحاظ په خپله مدعاباندې واضح دليل دې امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه قرعه اندازى د اثبات حق دپاره نه وى بلكه د تطييب په خاطر كيږى اود اسلام په شروع كښې به قرعه اندازى د اثبات حكم دپاره كيدله خوچه كله جوارى حرام اوگرځيدله نود قرعه اندازئى دا حكم هم موقوف شو اوس قرعه اندازى صرف مقرر حصصو د تعيين دپاره د تطييب په خاطر باقى ده د اثبات حق په حق كښې منسوخ ده امام طحاوى رحمه الله د قرعه اندازئى داصورت منسوخ كيدو باندې ډير دلائل پيش كړى دى. د مصنف عبدالرزاق يو

روایت هم په دې نسخ باندې دال دې دَ کوم الفاظ چه دادی «روي عبدالرزاق باسناد رجاله ثقات ان رجلا من بني عذرة اعتق مملوكا له عند موته وليس له مال غيره فاعتق رسول الله صلى الله عليه وسلم ثلثه وامره ان يسعى في الثلثين» دغه شان دَ مسنداحمد یوحدیث سره په واضحه توګه معلومیږی چه دَ هر غلام به یوثلث آزادیږی

ه امام صاحب ه جمهورو ه دلیل جواب: ① دَدې حدیث تعلق دَ حرمت قمارنه دَ وړاندې زمانې سره دې کله چه دَ قماریعنی جوارئی دَ حرمت حکم راغلو نودَ اثبات حق دَپاره دَ قرعه اندازئی حکم هم حرام اوګرځولې شو. قرآن اوحدیث کښې دَ قمارحرمت څه پټه خبره نه ده. لهذا دَ اثبات حق دَپاره دَ قرعه اندازئی حکم منسوخ شوې دې

②دویم جواب دادې چه دَدې حدیث واقعه یوه جزئی واقعه ده داضابطه نه شی جوړیدې په حدیث کښې ډیراحتمالات هم کیدې شی اودَدې په الفاظوکښې اضطراب هم دې بعضو کښې دَ آزادولو اوبعضو کښې دَ مدبر جوړولو الفاظ دی بعضو کښې دَ شپږو غلامانو ذکردې او بعضو کښې دَ یوغلام ذکردې

[۲۳۹۱] د پلار د حق ادا کولو یوه طریقه

[۳] (۱) [۱] (وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] («لَا يَجْزِي وَلَدٌ وَالِدَهُ [۳] إِلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا [۴] فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یو خوی د خپل پلار بدله نشي اداء کولی، [۳] خو په دي صورت کې چې هغه خپل پلار د چا غلام و مومي [۴] و هغه په رانیولو سره آزاد کړي (مسلم)

حل اللغات: ① لَا يَجْزِي: بدله به نه ورکوي

تسهیلات:

قوله فَيُعْتِقَهُ: که چرې یوسړې خپل یوذی رحم محرم یا خاص کر دَ پلار مالك جوړشی اوهغه په څه طریقه دَ ده په ملکیت کښې راشی نوهغه به هم آزاد وی په دې کښې دَ چا اختلاف نشته البته دَ دغه آزادئی کیفیت او تفصیل کښې لږ شان اختلاف دې

د ذی رحم محرم د آزاديدو په طريقه کښي مذاهب:

①دَ اهل ظواهرغیرمقلدین حضراتو په نیزذی رحم محرم به صرف په اخستلوسره نه آزادیږی بلکه دَ اخستلونه پس به آزادولې شی نوهله به آزادیږی ②دَ جمهور فقهاؤ په نیز

۱) اخرجه مسلم في صحيحه رقم الحديث ۲۵/ ۱۵۱۰ وابوداود في السنن رقم الحديث ۵۱۳۷ والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في حق الوالدين (رقم-۱۹۰۶) وابن ماجه في كتاب الأدب /باب بر الوالدين (رقم-۳۶۵۹) واحمد في المسند: ۲/ ۲۳۰

صرف په مالك جوړيدو سره به آزاديږي د آزادولو ضرورت نشته دي

د اول فريق دليل: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه زيربحث روايت د دوی مستدل دي چه په دې كښې فيعتقه لفظ كښې فاء د تعقيب مع الوصل دپاره ده يعنى اول نې واخستلو د خسلو نه پس خونې پلار آزادكړو معلومه شوه چه صرف په مالك جوړيدلو سره آزاديږي نه بلكه د مالك جوړيدلو نه پس آزادول ضروري دی

د دويم فريق دلائل: د حضرت سمرة رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دي

○ ---- عن الحسن عن سمرة - رضي الله عنهما - عن رسول الله - عليه الصلاة والسلام - قال: «من ملك ذا رحم فهو حر» رواه الترمذي وأبوداود وابن ماجه

⊙ د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت دي كوم چه امام نسائی رحمه الله نقل كړې دي د هغې الفاظ د سې دي عن ابن عمر انه عليه السلام قال من ملك ذارحم محرم عتق عليه، په دې دواړو حديثونو كښې په نفس ملك باندې د اعتاق حكم لګولې شوې دې د مستقل آزادنې هيڅ ذكر نشته دې معلومه شوه چه صرف مالك جوړيدل د آزادنې دپاره كافی دی

د اول فريق د مستدل جواب: په دې روايت كښې (فيعتقه) كښې فاء سببيت دپاره ده په دې صورت كښې به ترجمه داسې كيږي چه هغه خپل پلارغلام اووينى اوهغه ددې دپاره واخلى چه هغه آزادكړي ددې مسئلې څه تفصيل د حضرت سمرة رضي الله عنه حديث نمبر (۳۳۳) كښې هم راروان دي

[۳۳۹۲] د مدبر غلام د خرڅولو حكم

---- [۵] (۱) [۱] (وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ دَبَّرَ مَمْلُوكًا) [۲] وَلَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ فَبَلَغَ [۳] النَّبِيَّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - فَقَالَ: [۴] مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي؟ [۵] فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ ابْنُ النَّحَّامِ بِثَمَانِمِائَةِ دِرْهَمٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې يو انصاري خپل غلام مدبر كړي. [۲] او د هغه سره د هغه غلام نه علاوه نور څه مال نه وو. [۳] كوم وخت چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د دې نه خبر شو. نو وې فرمايل [۴] چې دا غلام زما نه څوك رانيولې شي. [۵] نو يو سړي نعيم ابن نحام هغه غلام په اته سوه درهمه واخستي (بخاري مسلم)

حل اللغات ① دبّر اي اثبت العتق عن دبر، څوك چې خپل غلام ته اووايي چې ته زما د مرګ نه وروسته آزاد ئې. نوهغه ته مُدَبّر وائی

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: [۲] فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْعَدَوِيُّ بِثَمَانِمِائَةِ دِرْهَمٍ، [۳] فَجَاءَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ [۴] ثُمَّ قَالَ: ابْدَأْ بِنَفْسِكَ فَتَصَدَّقْ عَلَيْهَا [۵] فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ فَلِأَهْلِكَ فَإِنْ فَضَلَ عَنْ

---

۱) اخرجه البخاري فى صحيحه رقم الحديث ۶۷۱۶ ومسلم فى صحيحه رقم الحديث ۵۸/ ۹۹۷ والترمذى فى كتاب سيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى بيع المدبر(رقم-۱۲۱۹)

أَهْلِكَ شَيْءٌ فَلِذِي قَرَابَتِكَ، [٦] فَإِنْ فَضَلَ عَنْ ذِي قَرَابَتِكَ شَيْءٌ فَهٰكَذَا وَهٰكَذَا، [٧] يَقُولُ: فَبَيْنَ يَدَيْكَ وَعَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ اقْضِ دَيْنَكَ.

ترجمه: [١] د مسلم په يو روايت كې داسې دي [٢] چې يو سړى نعيم ابن عبدالله عدوي هغه غلام د اته سوه درهم په عوض كې واخستې، [٣] هغه اته سوه درهمه يې د نبي كريم ﷺ په خدمت كې پيش كړل، او نبي كريم ﷺ هغه درهم هغه سړي ته وركړل (د چا چې غلام وو) [٤] او ورته وي وئيل ته دا روپۍ د تولو نه مخكې په خپل ذات خرچ كړه، او د دې په ذريعه ثواب حاصل كړه، [٥] او د دې نه وروسته كه څه پاتې شي، نو په خپل اهل وعيال يې خرچ كړه، كه په هغوئ د خرچ كولو نه وروسته هم څه پاتې شي، نو هغه خپل په اقرباؤ خرچ كړه، [٦] او بيا په هغوئ د خرچ كولو نه وروسته كه څه پاتې شي، نو ته هغه داسې او داسې خرچ كړه، [٧] راوي وايي چې د داسې او داسې نه مراد دا دى چې هغه په خپل مخ، په خپل ښي او په خپل چَپ طرف خرچ كړه (يعني ستا مخې ته او ښي او چَپ طرف ته چې كوم سائل سوالګر) جمع وي هغوئ ته يې د الله ﷻ د پاره وركړه.

تسهيلات:

قوله دَبَّرَ مَمْلُوكًا

د مدبر دوه قسمونه اوتعريفونه: مدبر په دوه قسمه دې ① مدبرمطلق دې دا هغه وى چه مالك هغه ته اووانى چه زما دَمرګ نه پس ته آزادئى

② مدبرمقيد دا هغه وى چه مالك هغه ته داسې اووائى كه زما په دې موجوده بيمارئى كښې زه مړشوم نوته آزادئى اوس دَمدبرمطلق خرڅولو يا نه خرڅولو كښې دَ فقهاء كرامو اختلاف دې

د مدبر په خرڅولو كښې مذاهب:

① امام شافعي رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى چه دَمدبرخرڅول جائزدى

② امام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله فرمائى داسې غلام چه مدبروى دَهغه آزادول خوجائز دى ليكن دَهغه خرڅول ياچاته هبه كول يا په څه توګه باندې دَ خپل ملك نه ويستلوسره دَ بل په ملك كښې وركول جائزنه دى اوخپل خان سره ئى دَ خادم او غلام په توګه ساتلې شى كه چرې وينځه وى نوهغې سره جماع هم كولې شى اودَبل چا په نكاح كښې هم وركولې شى ليكن دَ خپل ملك نه ويستل جائزنه دى دَمدبرمقيدحكم دې نه مختلف دې دَهغه خرڅول جائز دى هبه كول جائز دى خپل خان سره ساتل هم جائز دى اودَخپل ملك نه ويستل هم جائز دى اودَ مالك په مرګ سره مدبرمقيد هم هغه شان آزاديږى لكه څنګه چه مدبرمطلق آزاديږى

داول فریق دلیل: زیربحث دحضرت جابر رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه بالکل واضح دی نبی کریم فرمانیلی "من یشتریه" دحضرت نُعیم باره کښې دی چه "فاشتراه" نوپه دغه خرخولو اواخستلوکښې هیڅ شبه نشته دې لهذا دمدبربیع جائز ده

ددویم فریق دلیل: ① د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه وغیره اکثرصحابه اوتابعینو روایاتواو آثار د دوی مستدلات دی چنانچه بدائع صنائع کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله دامقوله نقل ده هغوی فرمانی "لولا قول هئولاء الاجلة لقلت بجواز بیع المدبر" که چرې دعلم ددې غرونو قول مخې ته نه وې نومابه د مدبرد بیع دجواز فتوی ورکونه.

② د دارقطنی یوورایت هم د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه داسې دی "المدبرلایباع ولا یوهب وهوحرمن ثلث المال" (بحواله نصب الرایه ۲۸۵/۳) دا حدیث سره ددې چه موقوف دې لیکن د غیرمدرك بالقیاس په صورت کښې موقوف حدیث د مرفوع په حکم کښې وی.

داول فریق د دلیل جواب: ① رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه مدبر مدبریت ختم کړو اوددې نه پس نی هغه خرڅ کړو دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت وو.

②: حدیث په مدبرمقیدباندې محمول دې اومدبر مقیدپه بیع کښې زمونږ اختلاف نشته دې

③ دلته د بیع اطلاق په اجاره باندې شوې دې او په اجاره باندې د بیع اطلاق کیږی نودلته د بیع نه بیع الخدمت یعنی اجاره مراد ده او بعضې روایاتونه ثابت دی چه دا مدبرنی په اته درهمه جاره باندې ورکړې وو نصب الرایه ۲۸۶-۳/۲۸۵.

فائده: د نعیم بن نحام د نوم تحقیق: (دمشکوة شریف په ټولو نسخوکښې دلته نعیم بن نحام لیکلې شوې دې شارحین وائی دا د کاتب غلطی ده ځکه چه نعیم د هغه صحابی رضی الله عنه نوم دې اونحام دهغه لقب دې ځکه چه په حدیث کښې راغلی دی چه نبی کریم فرمانیلی چه زه کله جنت ته داخل شوم نوما د نعیم (نحمة) واوریده نحمه دوب آواز یا د ټوخی آواز ته وائی هم په دې سره دهغه لقب نحام شو ګنی دهغه د پلار نوم عبدالله دې حضرت نعیم رضی الله عنه په مکه مکرمه کښې مسلمان شوې وو بیائی د صلح حدیبیه په زمانه کښې مدینې ته هجرت اوکړو او دوی سره د خاندان ځلویښت کسان هم وو او د شام په زمکه باندې په یوغزوه کښې شهید شوې وو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۹۳] د محرم په ملکیت کښې په راتلو سره د غلام آزادیدل

۳۳۹۳-[۲] (۱) ۞عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - قَالَ: ۞(«مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ فَهُوَ حُرٌّ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: ۞حسن بصري رحمه الله د حضرت سمره رضي الله عنه نه او هغه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۞کوم سړی چې د رانیولو په وجه او یاد هبه یا وراثت په ذریعه، د خپل ذي رحم محرم مالك شي نو هغه به آزاد یږي. (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① ذَا رَحِمٍ: رشته دار.

تسهیلات:

قوله: مَنْ مَلَكَ ذَا رَحِمٍ:

د ذي رحم محرم مصداق: دَ ذی رحم محرم نه هغه خلق مراد دی دَچاچه په خپل مینځ کښې کله هم نکاح نه شی کیدې مثلاً تره، وریره، پهوپهی، خاله، نانا، نانی، دادا، دادی اصول فروع او س دَ فقهاؤ دې کښې اختلاف دې چه کوم قرابت دَ حریت موجب دې اوکوم یونه دې

د قرابت موجب ملکیت کښې (۲) مذاهب:

① دَامام شافعی رحمه الله په نیز قرابت ولادت یعنی اصول اوفروع موجب حریت دی لهذا دا حریت پلاران اونیکونه مئیندې او نیاگانې دَ پورته پورې اوخامن اولونړه دَ ښکته پورې کښې به ثابت وی او قرابت اخوت وغیره کښې به حریت ثابت نه وی

② احناف مالکیه او حنابله جمهورفرمائی چه دَ هرقسم قرابت والاچه کله به دَ خپل ذی رحم محرم مالك جوړیږی نوهغه غلام به آزادشی که هغه قرابت ولادت وی اوکه قرابت اخوت وی

داول فریق دلیل: دَمالك اوآقادَ رضامندئی نه بغیر صرف اخستلوسره دَ غلام آزادیدل دَ قیاس خلاف دی لیکن قرابت اوولادت یعنی اصول او فروع کښې داحکم خلاف القیاس ثابت شوې دې لهذا دا نص به په خپل مورد کښې به بند اومنحصروی نودَ اصول اوفروع نه سوا به اخوت وغیره شامل نه وی

داول فریق د دلیل جواب: چه کله صریح حدیث موجود دې نودَ قیاس څه ضرورت دې

د دویم فریق دلیل: دَحضرت سمره رضي الله عنه زیربحث حدیث د دوی مستدل دې چه په خپل مفهوم اومضمون کښې مطلق دې چرته چه دَ ذی رحم محرم الفاظ راغلی دی لهذا دا

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب العتق/ کتاب الطب/باب فیمن ملک ذا رحم محرم (رقم-۳۹۴۹) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فیمن ملک ذا رحم محرم (رقم-۱۳۶۵)

مطلق په خپل اطلاق باندې به جاري ساتلې شي په دې کښې دَ قرابت اوولادت څه تخصيص نشته دې نو اصول فروع او اخوت وغيره ټولو ته به شامل وي.

[٣٣٩٤] د مالک د وفات څخه روسته دامّ ولد آزاديدل

٣٣٩٤ـ[٧] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - قَالَ: ② «وَإِذَا وَلَدَتْ أَمَةُ ③ الرَّجُلِ مِنْهُ فَهِيَ عَنْ دُبُرٍ مِنْهُ - أَوْ بَعْدَهُ» -). رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې وي فرمايل ② هر کله چې يوه وينځه د هغه (د نطفې نه) وروکی راوړي، ③ نو هغه وينځه د هغه سړي نه وروسته ي وي فرمايل چې د هغه د مرگ نه وروسته آزاده ده (دارمي)

تسهيلات:

قوله: وَإِذَا وَلَدَتْ أَمَةُ الرَّجُلِ مِنْهُ:

د يو کس څخه دهغه د وينځې د پيداکيدو مطلب: مطلب دادې چې کومې وينځې نه د مالک بچې پيدا شي نو هغه به ددې مالک د مړ کيدو نه پس آزاده شي ، او دمالک په ژوند کښې نه آزاديږي خو مالک دا وينځه نه خرڅولې شي اونه ئې هبه کولې شي په دې مسئله باندې د علماء کرامو اجماع او اتفاق دې ددې برخلاف چې کوم روايت منقول دې هغه منسوخ دې ددې تفصيل ددې راتلونکی حديث په ضمن کښې راروان دې

[٣٣٩٥] دامهات الاولاد د تجارت څخه دعمر رضی الله عنه ممانعت

٣٣٩٥ـ[٨] (٢) ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «بِعْنَا أُمَّهَاتِ الْأَوْلَادِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَبِي بَكْرٍ، ② فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ نَهَانَا عَنْهُ، ③ فَانْتَهَيْنَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضی الله عنه وايي چې مونږ د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کې د ورو مندي (ام ولدی) خرڅولې، ② ليکن حضرت عمر فاروق رضی الله عنه چې خليفه شو ، نو هغه د دې د خرڅولو نه مونږ منع کړو ③ نو مونږ منع شو . (ابوداود)

تسهيلات:

قوله وَإِذَا وَلَدَتْ أَمَةُ الرَّجُلِ:

د ام ولد تعريف: ام ولده هغه وينځې ته وائی چه دَ مولی دَ جماع کولو نه دَ هغې بچې پيداشوې وی دَ ام ولده په خرڅولواونه خرڅولو کښې دَ فقهاء اختلاف دې

---

١) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب العتق/باب أمهات الأولاد (رقم-٢٥١٥) واحمد في المسند: ٣٠٣/١

٢) اخرجه ابوداود في كتاب العتق/ كتاب الطب/باب في عتق أمهات الأولاد(رقم-٣٩٥٤) وابن ماجه في كتاب العتق/باب أمهات الأولاد (رقم ٢٥١٧)

د ام ولد د بیعې په حکم کښې مذاهب:

① اهل ظواهر غیرمقلدین حضرات فرمائی چه دَ ام ولده خرخول جائزدی

② دَ جمهور فقهاؤ اوتابعینو په نیز دَ ام ولده خرخول جائزنه دی شیخ ابن قدامه په عدم جواز باندې دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع نقل کړې ده

داول فریق دلیل: ① دَ حضرت جابر رضی الله عنه دَ حدیث نمبر (۳۳۹۵) د دوی مستدل دې چه بعنا امهات الاولاد علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم)

داول فریق د دلیل جواب: اول دَ ام ولده خرخول جائزوو بیا منسوخ شو دَصدیق اکبر رضی الله عنه دور مختصر وو داخلی او بیرونی خطرات وو په دې وجه هغوی دَ مسائلودَ منضبط کونودَپاره فارغ نه وو بیا دَ عمر فاروق رضی الله عنه په دورکښې دَ ام ولده په خرخولوباندې پابندی اولګیده اودَ عدم جواز عام اعلان اوشو دَ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَ دور یوه دا واقعه نه ده بلکه داسې ډیرواقعات راغلی دی دابه دَ صحابه کرامو په مشوره اواتفاق سره کیدل چه دَ اجماع امت حیثیت لری

د دویم فریق دلائل:

① زیربحث دَحضرت جابر رضی الله عنه حدیث نمبر (۳۳۹۵) هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَامهات اولاد خرخولوممانعت حضرت عمر رضی الله عنه دَ صحابه کرامو سره دَ مشورې نه پس کړې وو نوټولوصحابه کرامو قبول کړو نو په عدم جواز باندې اجماع اوشوه

② دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث نمبر (۳۳۹۴) هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه (فهی معتقة) الفظ راغلی دی چه کله دَ بچی په راوړلوسره ام ولده آزاده شوه او په هغې باندې دَعتق حکم اولګیدو نوبیا به دَهغې خرخول څنګه جائز شي

③ دَحضرت ماریه قبطیه رضی الله عنها واقعه هم د دوی مستدل ده دا دَ نبی کریم وینځه وه کومه چه دَ مقوقس بادشاه دَ تحفه په توګه دَ مصرنه دَنبی کریم دَ خدمت دَپاره رالیګلې وه دهغې د بطن نه چه کله ابراهیم پیداشو نونبی کریم اوفرمائیل (اعتقها ولدها) ابن ماجه دارقطني

[۳۳۹۶] دَمعتق غلام دَمال حکم

۳۳۹۶–[۹] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «مَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ، [۳] فَمَالُ الْعَبْدِ لَهُ [۴] إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ السَّيِّدُ» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] که یو سړی خپل

---

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب العتق/باب فیمن أعتق عبدا وله مال (رقم-۳۹۶۲) وابن ماجه فی کتاب العتق/باب من أعتق عبدا وله مال (رقم-۲۵۲۹)

غلام آزاد کړي او د هغه غلام سره څه مال وي، [۳]نو د غلام هغه مال د هغه د مالك دی.
[۴]نو که مالك د هغه شرط وکړي نو بيا هغه مال به د هغه غلام وي، ابوداؤد، ابن ماجه

تسهيلات: قوله وَلَهُ مَالٌ،

اعتراض: غلام د هيڅ مال مالك نه وی دهغه په ملکيت کښې چه څه وی هغه به د مولی وی بيا دلته څنګه اوفرمائيل (وله مال)

جواب: ددې جواب دادې چه داغلام مثلاً ماذون وی چه مولی ورته د ذاتی ګټې اجازت ورکړې وی اوهغه محنت مزدوری کولوسره مال راجمع کړې وی نود آزادولو په وخت به دا مال د غلام وی که د مولی به وی په دې کښې اختلاف دې

د عبد ماذون ګټلي مال په مالکيت کښې مذاهب:

① دامام مالك رحمه الله حسن بصری رحمه الله اواهل ظواهروغيره دامسلك دې چه دا مال دغلام دې هغه ته به ملاويږی

② د جمهور فقهاؤ مسلك دادې چه دغلام د عتق په وخت کوم مال غلام سره دې هغه دهغه دمولی دې اوکه هغه وخت مولی دا اووائی چه داما ل به د غلام وی نوداد دغه مولی دطرف نه دغلام دپاره صدقه او هبه ده

داول فريق اول دليل: زيربحث د حضرت ابن عمر رضي الله عنه حديث د دوی مستدل دې طريقه د استدلال داسې دې چه (فما العبدله) ضمير د عبدطرف ته راګرځی چونکه عبدقريب هم دې لهذا د ضميرحق هم دغه دې چه (العبد) طرف ته راجع کړې شی د حديث مطلب به داسې شی پس د غلام هغه مال هم د غلام دې اوکه مولی دا شرط اولګوی چه د غلام مال به زما وی نودهغه شرط به منلې شی

د اول فريق د اول دليل جواب: په زير بحث حديث کښې له ضمير مولی طرف ته راجع دې نوداد جمهورو مستدل دې مولانا فضل محمد صاحب فرمائی چه زيربحث حديث کښې (ان يشترط السيد) الفاظ دې توجيه سره په ظاهره موافقت نه لری د اسلوب کلام تقاضا ده چه ضمير د غلام طرف ته راؤګرځی والله اعلم

داول فريق دويم دليل: دحضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې (عن ابن عمر عن النبی صلی الله عليه وسلم قال من اعتق عبدا وله مال فالمال للعبد) (رواه احمد) په دې روايت کښې هيڅ ضميرنشته بلکه تصريح ده چه مال به هم غلام ته ملاويږی

د اول فريق د دويم دليل جواب: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دا روايت خطاء دې (قيل الحديث خطأ) لهذا قابل د استدلال نه دې

د دويم فريق دلائل: زيربحث د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حديث نمبر(۳۳۴۱) د دوی هم مستدل

دي د استدلال طريقه دا ده چې (فمال العبدله) كښې له ضميرد مولی طرف ته راجع دې مطلب داشو چه د غلام مال به هم مولی ته ملاويږی اوكه مولی دا شرط اولګوی چه دامال به غلام ته ملاويږی نوبيابه مال د غلام وی اود مولی د طرف نه به دا هبه اوصدقه شی

④ دا روايت هم د دوی مستدل دې (من باع عبداوله مال فماله للبائع) (متفق عليه) په دې روايت سره د زير بحث حديث تفسيراوتشريح هم اوشوه چه (فمال العبدله) كښې له ضمير د مولی طرف ته راجع دې

④ (عن ابن مسعود قال سمعت النبی صلى الله عليه وسلم يقول من اعتق عبدا فمال للذي اعتق) بيهقی. ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات كښې د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه نور روايات هم د جمهورو په حق كښې نقل كړی دی

[۳۲۹۷] د پوره غلام د آزادولو ترغيب

۳۳۹۰-[۱۰] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: [۲] «أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ شِقْصًا مِنْ غُلَامٍ، [۳] فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَقَالَ: "لَيْسَ لِلَّهِ شَرِيكٌ". [۵] فَأَجَازَ عِتْقَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو مليح رحمه الله (تابعي) د خپل پلار مكرم (حضرت اسامه رضی الله عنه ابن عمير رضی الله عنه صحابي) نه روايت كوي [۲] چې يو سړی د خپل غلام څه حصه آزاده كړه، [۳] هر كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته د هغه ذكر وشو، [۴] نو حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د الله جل جلاله هيڅوك شريك نشته. [۵] بيا دا حكم يي وكړي چې دا غلام دی بالكل آزاد كړل شي. (ابوداود)

حل اللغات: ① شِقْصًا: يوه حصه.

تسهيلات:

قوله لَيْسَ لِلَّهِ شَرِيكٌ:".

د مذكوره جملې مطلب: مطلب دادې چه په يوعبادت كښې هم الله تعالى سره څوك شريك كول نه دی پكار او اعتاق عبادت دې لهذا كله چه يوسړې نيم غلام آزاده وی اونيم غلام ساتی نولكه چه دا سړې الله تعالی سره په دې غلام كښې شريك شو نيم د الله تعالی دې اونيم د دغه سړی دې اود الله تعالی څوك شريك نشته دې نودا عمل مناسب نه دې

د اعتاق په عدم تجزی باندې دليل: د دې حديث نه معلوميږی چه اعتاق تجزی نه قبلوی اوهم دغه د صاحبين مسلك دې

د دليل نه جواب: د جمهورو اوامام ابوحنيفه رحمه الله تولو په نيزاعتاق تجزی قبلوی د هغوی په نيزد دې حديث مطلب دادې چه نبی كريم د پوره غلام آزادولو ترغيب وركړې دې چه كله آزادول دی نوبيا پوره ثواب اوګټئ

---

[۱] اخرجه ابوداود فی كتاب العتق/ كتاب الطب/باب فی العتق علی الشرط (رقم-۳۹۳۳)واحمد فی المسند: ۵/ ۷۴

[۲۳۹۸] د مشروط آزادۍ یوه واقعه

۳۳۹۸-[۱۱] (۱) [۱] وَعَنْ سَفِينَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: كُنْتُ مَمْلُوكًا لِأُمِّ سَلَمَةَ، [۲] فَقَالَتْ: أُعْتِقُكَ وَأَشْتَرِطُ عَلَيْكَ أَنْ تَخْدُمَ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا عِشْتَ [۳] فَقُلْتُ: إِنْ لَمْ تَشْتَرِطِي عَلَيَّ مَا فَارَقْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَا عِشْتُ. [۴] فَأَعْتَقَتْنِي وَاشْتَرَطَتْ عَلَيَّ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت سفینه وایي په ابتداء کې زه د بي بي ام سلمه رضي الله عنها په ملکیت کې وم [۲] هغې ماته وفرمایل چې زه ستا آزادول غواړم، لیکن دا شرط درباندې عائد کوم، چې د خو ژوندی یې د رسول الله ﷺ خدمت به کوې، [۳] ما ورته عرض اوکړو چې د رسول الله ﷺ خدمت خو زما د پاره د سعادت او خوشبختی د ټولو نه لویه ذریعه ده. که ته دا شرط نه کړې عائد بیا هم زه د رسول الله ﷺ نه په ژوند کې نه جدا کیږم. [۴] نو بي بي ام سلمه رضي الله عنها زه آزاده کړم، او د حضور ﷺ د خدمت شرط یې په ما عائد کړې (ابوداود، ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَا عِشْتَ: چه ترڅو پورې ژوندې نې.

تسهیلات:

قوله وَعَنْ سَفِينَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

د حضرت سفینه رضی الله عنه تعارف: حضرت سفینه رضي الله عنه دَ ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضي الله عنها غلام ووهغې نبی کریم ته دَ خدمت دَپاره ورکړې وو حضرت ام سلمه رضي الله عنها هغه آزاد کړو اودَ نبی کریم دَخدمت شرط ئی اولګولو ونیلی شی چه سفینه دَ هغه لقب وو اودَ هغه په اصل نوم کښې اختلاف دې بعضې رباح خودلې دې بعضې مهران ونیلې اوبعضې روحان خودلې دې ونیلی شی چه دادَ فارس وو او دوی ته دَ سفینه ونیلوجه دا شوه چه یوځل دې نبی کریم سره په سفرکښې وو یوځوکسان ستړی شونوهغوی خپله وسله او نور سامان دهغوی په اوګو باندې واچوله چنانچه هغوی دیرزیات سامان په خپل خان باندې بارکړې اوچت کړې وو نونبی کریم اوفرمانیل (انت سفینة) یعنی ته کشتنی نی (مرقات) نوبس هم دغه نوم نی شو

د حضرت سفینه رضی الله عنه کرامت: دَ شام په زمکه کښې په جهاد کښې صحابه کرامو سره راګیر شوې وو بیادې دَ قیدنه اوتختیدو او دَ ځنګل په نامعلومه لار باندې روان شو مخې ته ازمرې راغلو هغه ورته اوونیل اې ابوالحارث زه دَ محمدعربی ﷺ غلام سفینه یم ازمری لکې خوزوله اودَ هغه په حفاظت کښې راوړاندې شو اوهغه ئی آبادئی ته راورسولو علامه خطابی رحمه الله فرمانیلی دی دا په حقیقت کښې دَ ام سلمه رضي الله عنها دَ طرف نه وعده وه لیکن دَ شرط په نوم سره یاد کړې شوې ده او اکثر فقهاء دَغلام آزادولونه پس

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب العتق/ کتاب الطب/باب فی العتق علی الشرط (رقم-۳۹۳۲) واحمد فی المسند: ۲۲۱/٥

هيڅ يو شرط باقي ساتل صحيح نه ګڼرى ځكه چه دا داسې شرط دې چه ملكيت سره متعلق نه دې ځكه چه غلام آزاد شوې دې او دَ آزادسړى نه دَ اجرت او مزدورئى نه علاوه فنده نه شى اوچتولې تفصيل دَ ملاعلى قارى رحمه الله په مرقات كښې دې

[۳۲۹۹] دَ مكاتب دَ آزادئ دپاره دَ بدل كتابت دَ ادا كولو فرضيت

۳۳۰۰-[۱۲] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ [۳] مَا بَقِيَ عَلَيْهِ مِنْ مُكَاتَبَتِهِ دِرْهَمٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعيب دَ خپل پلار نه او هغه دَ خپل نيكه نه او هغه دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] مكاتب دَ هغه وخته غلام وي. [۳] دَ دې پورې چې دَ هغه په بدل كتابت كې يو درهم هم باقي پاتې نشي. ابوداود

حل اللغات ① الْمُكَاتَبُ: چاسره چه مكاتبه شوى وى. يعنى مكاتب هغه غلام ته وائى چه مولى هغه ته اووئيل چه ته دومره پيسې اداكړه نوته به آزاد شې

تسهيلات:

قوله - «الْمُكَاتَبُ

دَ مكاتب تعريف: مكاتب هغه غلام ته وائى چه مولى هغه ته اووئيل چه ته دومره پيسې داكړه نوته به آزاد شې

هغه بدل كتابت چې موجب دَ حريت وي. په هغې كښې مذاهب:

① جمهور فرمائى كه په بدل كتابت كښې يوه روپئى هم باقى پاتې وى نو هغه به غلام وى آزاد به نه وى او كه آخرى روپئى وركولو نه عاجز راغلو نو په مكمل توګه به غلام پاتې وى

② بعضې علماء او ابراهيم نخعى رحمه الله وائى چه مكاتب څومره رقم اداكړو هغه هومره آزاد دې او څومره پيسې چه باقى پاتې وى دومره به غلام وى دې

دَ اول فريق دليل: دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث نمبر (۳۳۰۲) دَ دوى مستدل دې

دَ اول فريق دَ دليل جواب: دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت امام ترمذى رحمه الله ضعيف ګرځولې دې لهذا هغه روايت دَ نورو صحيح رواياتو په مقابله كښې دَ استدلال قابل نه دې بل په دې روايت باندې ابراهيم نخعى رحمه الله نه علاوه چاهم عمل نه دې كړې

دَ دويم فريق دليل: جمهورو دَ واضح احاديث نه استدلال كړې دې او تقريباً پوره امت په دې نظريه قائم دې چه دَ مكاتب آخرى روپئى اداكولو وخت پورې هم غلام دې

---

۱) اخرجه ابوداود فى كتاب العتق/باب فى المكاتب يؤدى بعض كتابته فيعجز أو يموت (رقم-۳۹۲۶)

[۲۴۰۰] د مکاتب غلام څخه د مالکې د پردې کولو حکم

۳۰۰۰-[۱۳] (۱) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «إِذَا كَانَ عِنْدَ مُكَاتَبِ إِحْدَاكُنَّ وَفَاءٌ [۳] فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي رسول الله ﷺ ښځو ته وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې د يوې ښځې مکاتب غلام سره دومره روپۍ وشي چې په هغه سره هغه خپل پوره بدل کتابت اداء کړلی شي. [۳] نو بيا هغه مالکې ته پکار دی چې د هغه مکاتب نه پرده کوي.

ترمذي ابوداود ابن ماجه.

حل اللغات ①وَفَاءٌ پوره. برابر ②فَلْتَحْتَجِبْ: نو پرده دې ترې کوي

تسهيلات

قوله فَلْتَحْتَجِبْ يعنی چه مکاتب سره دَ بدل کتابت رقم راغلو نو اوس دَهغه مالکې له پکار دی چه دَهغه نه پرده اوکړی کله چه هغه غلام وو نو دَهغه نه پرده نه وه ليکن اوس دې پرده کوی

اشکال: احاديثو کښې صفا توګه باندې راغلی دی چه که په مکاتب باندې يو درهم هم باقی پاتې وی نو هغه غلام دې نو دلته اوس هغه آزاد ګرځولو سره څنګه دَ پردې حکم ورکړې شوې دې؟

د اشکال درې جوابونه: ① دَ پردې دا حکم په توګه دَ تقوی او احتياط ورکړې شوې دې

② دَ حکم امهات المؤمنين سره مخصوص وو څکه چه دَهغوی خوشان جدا وو اوس پاتې شو د خبره چه دَ غلام نه دَ مالکې پرده ضروری ده يا ضروری نه ده دَدې تفصيل باب النظر الی المخطوبه حديث نمبر (۳۰۹۸) کښې تير شوې دې

③ اوس دې هغه ښځه دَ پردې تيارې کوی دَ پردې دَپاره دې په ذهنی توګه باندې تياره اوسيږی څکه کوم يو وخت هم هغه غلام آزاد يدې شی

[۲۴۰۱] د مکاتب د لسو ديناروپه نه اداکولو عدم آزادی

۳۰۰۰-[۱۴] (۲) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «مَنْ كَاتَبَ عَبْدَهُ عَلَى مِائَةِ أُوقِيَّةٍ [۳] فَأَدَّاهَا إِلَّا عَشْرَ أَوَاقٍ - [۴] أَوْ قَالَ: عَشَرَةَ دَنَانِيرَ - [۵] ثُمَّ عَجَزَ [۶] فَهُوَ رَقِيقٌ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطب/باب فی الطيرة (رقم -۳۹۱۸) والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم باب ما جاء فی المکاتب إذا کان عنده ما يؤدی (رقم ۱۲۶۱) وابن ماجه فی کتاب العتق/باب المکاتب (رقم -۲۵۲۰)

۲) اخرجه ابوداود فی کتاب العتق/باب فی المکاتب يؤدی بعض کتابته فيعجز أو يموت (رقم -۳۹۲۷) والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المکاتب إذا کان عنده ما يؤدی (رقم -۱۲۶۱) وابن ماجه فی کتاب العتق/باب المکاتب (رقم -۲۵۱۹) واحمد فی المسند: ۱۷۸/۲

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار حضرت شعیب ﷺ نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ که یو سړی خپل غلام د سل اوقیه په بدله کې مکاتب کړي، ۳ او هغه غلام ټول اوقیې ادا کړی شوی، خو لس اوقیې یې اداء نه کړي شوی ۴ یا دا یې وفرمایل چې لس دینار یې اداء نه کړی شول (دلته راوي ته شك شوی دی چې حضور ﷺ لس اوقیه فرمایلی وو یا د لس دینار ذکر یې کړي وو) ۵ او بیا هغه د هغه بدلې د ادائیگی نه عاجزه شو ، ۶ نو هغه مکاتب به (بدستور) غلام وي. (ترمذي، ابوداود، ابن ماجه)

حل اللغات: ① أُوقِيَّةٌ: دَ اوقیه جمع اواق دي یو اوقیه دَ څلویښتو دراهم وی ② دَنَانِيرَ: اشرفی. دا یوه سکه وه چې د سرو زرو به وه.

تسهیلات: قوله: ثُمَّ عَجَزَ فَهُوَ رَقِيقٌ:

دعجز په صورت کښې مالک ته د عقد کتابت د فسخ کولو حق: ددې حدیث پاك متعلق ملا علی قاری ﷫ فرمائی چې ابن الملك ﷫ فرمائی چې دا حدیث پاك په دې خبره باندې دلالت کوی چې د مکاتب د خپل بدل دکتابت د څه حصې دادا نه قاصره کیدل د پوره بدل کتابت د ادائیگی نه قاصر کیدل دی. لهذا داسې صورت کښې مالك ته دده بدل کتابت د فسخ کولو حق حاصل دې او فسخ کتابت نه پس هغه مکاتب بدستور غلام وی . او کوم چې دې غلام بدل کتابت ادا کړي دي هغه به هم ددې مالك ملکیت کښې راشی

[۳۴۰۲] مکاتب ته د عتق په حساب سره میراث ملاویدل

۳۴۰۲—[۱۵] (۱) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ۲ «إِذَا أَصَابَ الْمُكَاتَبُ حَدًّا أَوْ مِيرَاثًا ۳ وَرِثَ بِحِسَابِ مَا عَتَقَ مِنْهُ» ". ۴ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ قَالَ: ۵ " «يُودَى الْمُكَاتَبُ بِحِصَّةِ مَا أَدَّى دِيَةَ حُرٍّ، ۶ وَمَا بَقِيَ دِيَةَ عَبْدٍ» ". وَضَعَّفَهُ.

ترجمه: ۱ و حضرت ابن عباس ﷺ د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ که یو مکاتب د دیت یا میراث مستحق شي، ۳ نو هغه ته به د هغه دیت یا میراث هغه قدر حاصلیږي ، څومره چې هغه آزاد شوی دی، ۴ ابوداود ، ترمذي، او د ترمذي ﷫ په یو روایت کې داسې دی چې حضور ﷺ وفرمایل ۵ د مکاتب په دیت کې به د هغه حصي په قدر مال ورکول شي، چې هغه د خپلې آزادی قیمت یعنی بدلِ کتابت اداء کړي وي،

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب فی التناجی (رقم-۴۸۵۲) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المکاتب إذا کان عنده ما یؤدی (رقم-۱۲۵۹)والنسائی فی کتاب القسامة/باب دیة المکاتب (رقم-۴۸۱۱)

(٦) او د هغه حصې په قدر به قيمت ورکول کيږي. او اوس به په طور د غلام باقي وي. دې روايت نه ترمذي رحمه الله ضعيف ويلی دی

حل اللغات ①أَصَابَ: اورسيږی، اصابه د حاصلولو او مستحق جوړيدو په معنی کښې دې

②حَدًّا: حد . مقدار، دلته د ديت او ميراث استحقاق مراد دې،

③دِيَةَ حُرٍّ: د آزاد قيمت،

تسهيلات: قوله: وَرِثَ:

د حديث د مختلفو جملو وضاحت: ① دَ حسب په وزن باندې دَ معلوم صيغه ده بعضې نسخو کښې مجهول هم دې "بحسب" دالفظ دَ حساب او مقدار په معنی کښې دې

② "وفي رواية له" دا ضمير دَ ترمذی طرف ته راګرځی

③ "يودي" دا دَ مجهول صيغه ده دَ ودی يدی دية نه دې دلته دَ "يعطى" په معنی ورکولو په کښې دې "اَدَّي" دا دَ دال مشدد سره دَ اداکولو په معنی کښې دې

④ "دية حر" دا منصوب دې او "يُؤَدِّي" دَ پاره مفعول به دې او دَ "ما ادي" مفعول به محذوف دې کوم چه النجوم دې دکوم معنی چه قسط او حصه ده او "دية عبد" هم منصوب دې اصل عبارت داسې دې "اي يعطى المكاتب دية حر بحساب ما اداه من النجوم ويعطى دية العبد بحساب ما بقي عليه" يعنی مکاتب ته دَ خپلې آزادنی په حساب کښې هغه ته به دَ ديت نه ورکولې شی

دحديث وضاحت د مثال په رنړا کښې: په دې حديث باندې دَ يو مثال په ذريعه باندې داسې پوهه شنی چه مثلاً زيد مکاتب وو هغه نيم بدل کتابت اداکړې ووچه دَ هغه پلار مړشو اودې واحد خان له وارث وو نودَ پلار دَ ميراث نه به نيم ميراث زيد ته ملاويږی دا د ميراث مثال شو دَ ديت مثال داسې دې چه مثلاً دې مکاتب دَ خپل کتابت نيم مال ادا کړې وو چه دې چا قتل کړو اوس دَ دغه مکاتب وارثانو ته به دَ هغه دَ ديت نه نيم مال ملاويږی اونيم مال به د مکاتب مالك ته ملاويږی لکه چه دَ غلام کومه حصه وه دَ هغې ديت به مالك ته ملاويږی اود آزادنی چه کومه حصه وه دَ هغې ديت به ورثاء ته ملاويږی بهرحال په دې حديث باندې صرف ابراهيم نخعی رحمه الله عمل کړې دې دَ باقي جمهور فقهاؤ په نيز دا حديث معمول به نه دې بلکه هغه حديث معمول به دې په کوم کښې چه راغلی دی چه ((المكاتب عبد ما بقي عليه من مكاتبته درهم))

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲٤۰۳] د مالي عبادت ثواب مړي ته رسيدل

۲۳۰۳ - [۱۲] (۰) (۱) عن عبد الرحمن بن أبي عمرة الأنصاري - رضي الله عنه -: [۲] أن أمه أرادت أن تعتق، [۳] فأخرت ذلك إلى أن تصبح، [٤] فماتت. [٥] قال عبد الرحمن: فقلت للقاسم بن محمد: [٦] أينفعها أن أعتق عنها؟

ترجمه: [۱] د حضرت عبد الرحمن ابي عمره انصاري رحمه الله (تابعي) په باره کې منقول دی [۲] چې د هغه مور (يوه ورځ) د يو برده د آزادولو اراده وکړه. [۳] خو هغه تر راتلونکې صبا پورې خپلې ارادې ته عملي جامه وانه غوستلی شوه. [٤] چې د دې دنيا نه رخصت شوه. [٥] عبد الرحمن وايي چې ما حضرت قاسم ابن محمد ته دا صورت ذکر کړې. او د هغه نه مې پوښتنه وکړه. [٦] که زه د خپلې مور د طرف نه برده غلام آزاد کړم. نو آيا په دې سره به مې ته نفع ورسيږي؟

[۱] فقال القاسم: [۲] أتى سعد بن عبادة رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فقال: [۳] إن أمي هلكت، [٤] فهل ينفعها أن أعتق عنها؟ [٥] فقال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: "نعم". رواه مالك.

ترجمه: [۱] حضرت قاسم رحمه الله وفرمايل [۲] چې (يو ځل) حضرت سعد ابن عباده رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو. او عرض يې وکړې [۳] چې زما مور اچانک وفات شويده. [٤] که زه د هغې د طرف نه برده آزاد کړم. نو آيا په دې سره به هغه ته نفع ورسيږي؟ [٥] رسول الله ﷺ وفرمايل چې هو. نفع به ورته ورسيږي. (مالك)

سـهيلات:

قوله عبد الرحمن بن أبي عمرة الأنصاري - رضي الله عنه -:

د عبدالرحمن بن ابی عمره تعارف: دا صحابی نه دی بلکه تابعی دی عمره په عين فتحه اوميم باندې سکون دی (فماتت) د سحرراتلونه وړاندې مړه شوه اودانيك کارياتې شوېه دې وجه علماؤ ليکلی دی (في التاخير آفات فالعجلة محمودة في الطاعات) (فقال القاسم)

د اووه فقهاؤ تذکره: دا قاسم بن محمد دی د صديق اکبر رضي الله عنه نمسی دی اود مدينې منورې د مشهور اووه فقهاؤ نه دی د فقهاء سبعه تذکره چا په دې دوو شعرونوکښې کړې ده

الا کل من لا يقتدي بائمة   فقسمته ضيزى من الحق خارجه

فخذ هم عبيد الله عروة قاسم   سعيد ابو بكر سليمان خارجه

د ايصال ثواب حکم: قاسم بن محمد د حضرت سعد رضي الله عنه واقعه بيان کړه په کوم کښې چه د

(۱) اخرجه مالک في الموطا رقم الحديث ۱۳ من كتاب العتق

سائل دَ سوال جواب دي دَ حديث نه دَ ايصال ثواب مسئله راوځي ددې تفصيل به دَ حضرت سعدبن عباده رضي الله عنه په حديث کښې ملاويږي دلته دا اوګڼړئ چه دَ مالي عباداتوثواب مړي ته رسيږي په بدنی عباداتوکښې دَ فرائض او واجبات نه رسيږي اودَ نفلي ايصال ثواب جائزدي

[٢٤٠٤] دَ مړي دَ طرفه دَ مالي عبادت صحت

٣٠٣٠-[١٧] (١) ١وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: ٢تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ فِي نَوْمٍ نَامَهُ، ٣فَأَعْتَقَتْ عَنْهُ عَائِشَةُ أُخْتُهُ رِقَابًا كَثِيرَةً. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ١حضرت يحيى ابن سعيد رحمه الله (تابعي) وايي ٢چې حضرت عبد الرحمن بن ابي بکر رضي الله عنه اوده وو، چې د خوب په حالت کې اچانك وفات شو. ٣بيا بي بي عائشه رضي الله عنها چې د هغه خور وه. د هغه د طرف نه ډير غلامان (او وينځې) آزادي کړې. (مالك)

تسهيلات:

قوله نَوْمٍ نَامَهُ:

د حضرت عائشه رضی الله عنها د يو څو غلامانو آزادولو وجه: يعنی دَ خوب په حالت کښې انتقال شو حضرت عائشه رضي الله عنها داسې ناڅاپي مرګ بنه اونه ګڼړلو په دې وجه ئې دَ کفارې په توګه ډير غلامان آزادکړل يائې په دې وجه آزادکړل چه دَحضرت عبدالرحمن رضي الله عنه په ذمه باندې دومره غلامان آزادول وو دَحضرت عبدالرحمن رضي الله عنه انتقال مکې مکرمې سره نيزدې حبشی مقام باندې شوې وو اوهم دَهغه ځائی نه راوړلې شوې وو او په جنت المعلاة کښې دفن کړې شوې وو حضرت عائشه رضي الله عنها دَهغه په قبر باندې دَ حاضرئی په وخت دوه شعرونه هم وئيلي وو کوم چه په مشکوة ج ۱ کښې باب الجنائز صفحه ۱۴۹ باندې ذکردي

وکنا کندمانی جذیمة حقبة — من الدهر حتی قیل لن یتصدعا

فلما تفرقنا کانی ومالکا — لطول اجتماع لم نبت لیلة معا

[٢٤٠٥] دَ خرڅ شوی غلام دَ مال حکم

٣٠٣١-[١٨] (٢) ١وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢«مَنِ اشْتَرَى عَبْدًا ٣فَلَمْ يَشْتَرِطْ مَالَهُ ٤فَلَا شَيْءَ لَهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١او حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢کوم سړی چې يو غلام رانيسي. ٣او د هغه د مال شرط ونه کړي. ٤نو آخستونکي ته به د هغه د مال نه هيڅ نه حاصليږي. (دارمي)

[۱] اخرجه مالک فی الموطا رقم الحدیث ۱٤ من کتاب العتق
[۲] اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲٥٦۱

تسهيلات:

توله: فَلَمْ يَشْتَرِطْ:

د شراء په وخت کښې د غلام په لاس کښې د موجوده مال حکم: يعني يوسړی به غلام واخستلو دَهغه غلام په لاس کښې چه کوم مال وو اخستونکی مشتری دَعقدکولو په وخت دَدې شرط نه وولګولې چه دامال زما وی لکه چه غلام به زما وی نودَاخستلونه پس به هغه مال دې مشتری ته نه ملاوېږی ځکه چه په حقيقت کښې هغه مال دَ غلام دَمولی دې اوهم دغه مولی ته به واپس کيږی. اوکه مشتری شرط اولګوی چه دَغلام دامال به هم ماته راکوئی نومال به مشتری ته ملاوېږی اودَمالك دَ طرف نه به دا هبه اوعطيه په حکم کښې شميرلې کيږی

[۲] بَابُ الْاَيْمَانِ وَالنُّذُوْرِ

دَ قسمونو او نذرونو بيان

توله: الْاَيْمَانِ

ديمين لغوی معنی: ايمان د يمين جمع ده علامه ابن همام رحمه الله فرمائی چه دَ يمين لفظ په لغوی توګه قسم، ښي لاس او قوت کښې په مشترکه توګه باندې استعماليږی

د يمين وجهٔ تسميه: قسم ته يمين ځکه وائی چه دَعربوخلق دَ عهد اوپيمان په وخت دَ يوبل په لاس کښې لاس ورکوی اودامعامله به په ښی لاس سره کيدله.

ديمين اصطلاحی تعريف: علماؤ دَ قسم اصطلاحی تعريف داشان کړې دې «اليمين في الشرع توکيد الشئ بذکر اسم الله اوصفته» دلته دَ قسم او نذر متعلق ځلور بحثونه دی کوم چه په ترتيب سره ليکلې کيږی

مباحث اربعه:

اول بحث: د يمين درې قسمونه:

① **يمين غموس:** دا هغې قسم ته وائی چه دَ ماضی په زمانه ئی دَ څه دروغو قسم اوخوړلو چه په الله قسم مادا کارکړې وو حالانکه هغه ته معلومه ده چه داکارئی نه وو کړې په يمين غموس کښې هيڅ کفاره نشته دې داګناه کبيره ده دَدې وجې نه به دې سړی ته په دوزخ کښې غوټې ورکوی «غمس وغموس» دَ غوپې په معنی کښې دې

② **يمين لغو:** داهغه قسم دې چه په خبرو خبرو کښې دَ قسم دَ ارادې نه بغير سړې وائی والله بالله يا وائی په الله قسم يا په قسم چه وائی يا يوسړی داسې قسم اوخوړلو چه دَهغه خيال اوګمان داوو چه واقعی داکار داسې ووخوهغه ته غلط شوې وو اوهغه.کلرهغه شان نه وو دا تول لغو قسمونه دی په دې کښې نه کفاره شته اونه ګناه کبيره ده. سره دَدې چه مسلمان له

دَدې نه هم سچ کېدل یکړدی امام شافعي رحمه الله فرمائي چه ما دَالله تعالی دَ نوم په عظمت نه دَ دروغو قسم خوړلي وی اونه دَ رښتیاؤ

③ **یمین منعقده**: دا هغه قسم دې چه یوسړي په ښه خور او سوچ سره دَ راتلونکې زمانې دَ یوکار نه کولو قسم اوخوری اوبیاقصداً دَهغې خلاف ورزی کوی نودا سړي حانث کیږی اوس به دې دَ قسم کفاره ورکوی په عربی کښې دَ قسم الفاظ والله بالله تالله دی

دویم بحث: دَ قسم الفاظ

د قسم دپاره موضوع له اسماء: په قسم کښې دَالله تعالی ذاتی اسم یا صفتی اسم استعمالیږی لهذا دَدې احترام ضروری دې چه دا مات نه کړې شی اودَ الله تعالی دَنوم مبارك بې ادبی اونه شی اونه به دا مبارك نوم پریخودوسره بل چاته دا عظمت ورکړی اودهغه دَ نوم قسم اوخوری

غیرشرعی قسمونه: دَ پلارانو اونیکونو دَ نومونو قسم خوړلو ممانعت راغلې دې دغه شان ستِ دَ څن او سر قسم خوړل جائزنه دی

دقسم دارومدار: دَ قسم مدار په عرف باندې دې په دې وجه دَالله تعالی په هغه صفاتوباندې قسم نه شی خوړلې چه په عرف عام کښې دَ قسم دَپاره نه استعمالیږی لکه رحمت مغفرت وغیره صفات چه دی اودَ کومو صفاتو قسم چه په عرف کښې خوړلې کیږی لکه عظمت او شان دَ بزرګئی وغیره نو په دې سره قسم واقع کیږی

دقسم الفاظ: په عام توګه شریعت دَ قسم الفاظ والله، بالله، تالله خودلی دی "لعمرالله" لفظ سره هم قسم خوړلې شی داهم قسم دې دَدې مطلب دادې چه تاته دَ عمر درکونکی قسم په قسم کښې ان شاء الله استعمالولوسره دَ قسم اثرختمیږی په دې شرط چه دا لفظ متصلاً استعمال کړې شی دې ته په قسم کښې استثناء وائی

دریم بحث: د قسم کفاره:

د قسم په کفاره کښې ترتیب: ① دَ قسم ماتولوکفاره داسې ده چه یوغلام دې ازادکړی که دغلام آزدولو وس نې نه وی یا غلام نه وی لکه په موجوده وخت کښې

② نوداول صورت په نشتوالی کښې دې لس مسکینانوته دوه وخته درمیانه خوراك ورکړی

③ د د دویم صورت طاقت هم نه لری نو بیادې لسو مسکینانوته کپړې ورکړی.

④ که یوسړې په دې دریوقسم کفاراتو باندې قادر نه وی نوهغه دې مسلسل درې روژې اوساتی

په کوم صورت کښې او په چا چې کفاره نشته: ① دَ قسم ماتولونه وړاندې دَ احنافو په نیزدَ قسم کفاره نشته دې

④ ماشوم يا اوده شوى سړى يا ليونى اوياګل سړى دَ قسم اعتبار نشته دې په دې وجه په دې كښې هم كفاره نشته

⑤ دَ كافر په قسم كښې كفاره نشته دې

نوټ: د نذر لغوى او شرعى معنى وغيره به دې باب پسې راروان باب ،،باب النذور،، كښې راشى هغې ته انتظار اوكړئ

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۳۰۶] د نبى عليه السلام د قسم الفاظ

۳۳۰۶ــ[۱] (۱) ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-: «أَكْثَرُ مَا كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَحْلِفُ: ۲ "لَا، وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ و حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دى چې رسول الله ﷺ به اکثره چې قسم خوړلو.

۲ نو فرمايل به يې نه ده داسې زما دى قسم وى د زړونو په ګرځونكى، ‹بخاري›

حل اللغات: ① يَحْلِفُ: چه قسم به ئې كولو، ② مُقَلِّبِ: ګرځونكې، اړونكې.

تسهيلات:

قوله: "لَا، وَمُقَلِّبِ الْقُلُوبِ

د قسم مخکښې وړاندې د ،،لا،، په راوړلو كښې څلور اقوال: عربى كلام كښې دَ قسم نه مخكښې دَ لا كلمه زائد راوړل معروف اومشهور دى لكه چه ﴿لَآ أُقْسِمُ بِهَـٰذَا الْبَلَدِ﴾ [سورة البلد ۱] ﴿لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ [سورة القيامة ۱]. دَ الله تعالى په كلام كښې راغلى دى

① بعضې ونيلى چه دا لا مضمون دَ قسم دَ نفى دَ تاكيد دَپاره ذكركولې شى مطلب داچه دَ قسم حاجت او ضرورت نشته ليكن زه بيا هم قسم خورم

② علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه دَ لا كلمه دَ سابق كلام دَنفى دَپاره راځى "ولانفى لكلام السابق" يعنى چه كوم ستا خيال دې هغه صحيح نه دې زه قسم خوړلوسره وايم چه حقيقت داسې دې

③ بعضې علماؤ ونيلى دى چه دَ قسم نه مخكښې دا لا دَ تجسس دَپاره ذكركولې شى

④ حضرت مولانامفتى محمد شفيع رحمه الله معارف القرآن كښې ليكلى دى چه دَ قسم نه مخكښې حرف لام زائد دې كله چه قسم دَ يومخالف دَ خبرې دَ رد كولودَپاره خوړلې شى نو دَهغې په شروع كښې حرف لا دَ هغه سړى دَباطل خيال دَ نفى دَپاره زائد استعماليږى اود

۱) اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ۷۳۹۱ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۲۶۳ واحمد فى المسند ۲/ ۲۶

عربو په محاوراتو کښې دا استعمال معروف او مشهور دې زمونږ په ژبه کښې هم بعضې وخت دَ یو قابل تاکید مضمون دَ بیان نه مخکښې ونیلی شی "نه ناداسې نه ده" وراندې خپل مقصد بیانوی [معارف القرآن ۸/۴۲۳]

دحدیث څخه معلومې شوی مرې فائدې: ① دلته حضورپاك دَ الله تعالی په صفتی اسم سره قسم خوړلې دې معلومه شوه چه دا جانز دی او دا هم معلومه شوه چه قسم دَ ضرورت نه بغیر دَ تاکید کلام دَپاره خوړلې شی

② "والذي نفس محمد بیده" سره حضورپاك تعلیم ورکړې دې چه زه دَالله تعالی بنده یم پخپله خدائی نه یم زما دَ ځان مالك هم هغه الله تعالی دې دې سره دَ الله تعالی دَ لوئې شان او لوئی بیانول مقصود دی

③ حضورپاك چه کوم قسم خوړلې دې په هغې کښې دَ امت دَپاره لوئی فائده ورکونکې تعلیم پټ دې چه دَ غیر الله قسم مه خورئی

[۳۳۰۷] په غیر الله د قسم خوړلو ممانعت

۳۳۰۷ـــ[۲] ( ) ① وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«إِنَّ اللهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ ③ مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ ④ أَوْ لِيَصْمُتْ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما راوي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② الله جل جلاله تاسو د دې خبرې څخه منع کوي، چې تاسو د خپلو پلرونو قسم واخلی، ③ کوم سړی چې قسم اخلي هغه ته پکار دی چې هغه د الله جل جلاله په نوم یا د صفاتو، قسم واخلي، ④ یا چپ پاتې شي. بخاری، مسلم

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ:

د پلار نیکه په نوم د قسم خوړلو څخه مراد: دَ پلار نیکه ذکر په توګه دَمثال دې مراد دادې چه دَ غیر الله قسم خوړل جائز نه دی دَ پلار نیکه ذکر دلته په دې وجه سره شوې دې چه دَ عربو معاشره کښې به خلقو دَ پلارانو او نیکونو دَنومونو قسمونه خوړل په دې وجه دا په خاص توګه باندې منع اوګرځولې شو

) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۶۴۶ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۳/ ۱۶۴۶ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۲۴۹ والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية الحلف بغير الله (رقم-۱۵۳۴)والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب الحلف بالآباء (رقم-۳۷۶۷)وابن ماجه في كتاب الكفارات / النهي أن يحلف بغير الله (رقم-۲۰۹۴) ومالك في الموطا كتاب النذور والأيمان/باب جامع الأيمان (رقم-۱۴) واحمد في المسند: ۲/۷

د غیرالله په نوم د قسم خوړلو د ممانعت وجه: اود غیرالله د نوم قسم خوړل ئې په دې وجه ناجائز ګرځولي شوی دی چه مقسم به یعنی د چا د نوم چه قسم خوړلي شي د هغه عظمت اود هغه اوچت شان مقصود اومتصور وی په دې وجه دا عظمت الله تعالی سره خاص دې د غیرالله د نوم قسم خوړلو سره د غیرالله مشابهت الله تعالی سره پیدا کیږی کوم چه د شرك یوه حصه ده

اول اشکال: یوطرف ته نبی علیه السلام د غیرالله په نوم د قسم خوړلوڅخه منع کړې ده خو بل طرف ته الله تعالی په خپله د ډیرو څیزونو قسمونه خوړلی دی نوبندګان منع کولی شی او الله تعالی په خپله په غیرالله قسمونه خوری په دې کښې څه وجه ده؟

د اول اشکال جواب: الله تعالی خالق اومالك دې د هغه دپاره دا امور تکلیفیه دا پابندی نشته دې بل چه الله تعالی د کومو څیزونو قسم خوړلي دې هغه الله تعالی په حقیت کښې په خپل وحدانیت باندې د ګواه په توګه پیش کړې دې هلته نور تصورات نشته دې.
حضرت ابن عباس ﷺ د غیرالله د نوم قسم خوړلوسره متعلق فرمائیلی که زه د الله تعالی د نوم په یوورځ کښې سل قسمونه اوخورم اومات ئې کړم هغه ددې نه بهتر ده چه زه د غیرالله قسم خوړلوسره سر ته اورسوم.

دویم اشکال: د حضورپاك نه په یوه موقع باندې نقل دی چه حضورپاك اوفرمائیل "افلح وابیه" ددې مذکوره حدیث سره واضح تعارض دې؟

د دویم اشکال جواب: ددې د ممانعت نه مخکښې خبره د د ممانعت روستو راغلې دې

[۲۴۰۸] د بتانو په نوم د قسم خوړلو ممانعت

۳۴۰۸ـــ[۳] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«لَا تَحْلِفُوا بِالطَّوَاغِي[۳] وَلَا بِآبَائِكُمْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] و حضرت عبدالرحمن ابن سمره ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] نه د بتانو قسم خورئ، [۳] و نه د خپلو پلرنو قسم کوئ، (مسلم)

حل اللغات: ① بِالطَّوَاغِي: بتان.

تسهیلات:

نوټ: د حدیث وضاحت ددې څخه وړاندې حدیث نمبر (۳۴۰۷) کښې تیرشوې دې.

(اخرجه مسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۶/ ۱۶۴۸ والنسائی فی کتاب الأیمان والنذور /باب الحلف بالطواغیت (رقم-۳۷۷۴) واحمد فی المسند: ۲/ ۳۰۹

[۲۴۰۹] په غیر الله د قسم خوړلو کفاره

۳۴۰۹-[۳] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى ; ③ فَلْيَقُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. ④ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ ⑤ فَلْيَتَصَدَّقْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ د نبي كريم ﷺ څخه نقل كوي چې حضور ﷺ وفرمایل ② كوم سړی چې قسم واخلي، او په خپل قسم كې دا الفاظ ادا كړي چې زه په لات او عزی قسم اخلم، ③ نو هغه ته پكار دی چې هغه لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ وو ايي، ④ او كوم سړی چې خپل يو دوست ته دا اووائي چې راځه دواړه جواري وكړو، ⑤ نو هغه ته پكار دی چې هغه صدقه او خيرات وكړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات ① تَعَالَ: راځه، راشه. ② أُقَامِرْكَ: زه تاسره جواری كوم، چه خپلو كښې جواری اوكړو مقامره د قمار نه دي ③ فَلْيَتَصَدَّقْ: نو صدقه دې وركړی.

تسهيلات:

قوله حَلَفَ فَقَالَ فِي حَلِفِهِ: بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى; فَلْيَقُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ.

د كلمهٔ توحيد په وئيلو كښې دوه اقوال: يعنى دَ لات منات او بتانو دَنوم قسم خوړلو نه پس لا اله الا الله وايئى

① كه يو كس چرې دَ زړه نه دَ عقيده په توګه داسې دَبتانو قسم خوړلي دې نو دا سړې مرتد شوې دې اوس دې دَ تجديد ايمان او مسلمان كيدو دَپاره لااله الاالله دې اووائی

② كه نوى مسلمان شوی سهواً دا قسم اوخوړلو اوپه غلطنى سره نې دا كلمه دَ خلې نه اووتله نو الااله الاالله به په توګه دَاستغفار وی

قوله وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ: تَعَالَ أُقَامِرْكَ; فَلْيَتَصَدَّقْ:

جوارئ ته د دعوت وركولو كفاره: كه چرې يوسړی بل مسلمان ته دَ جوارئى كولو دعوت وركړو نوهغه دَ ګناه دعوت وركولوسره دَ ګناه ارتكاب اوكړو اوس دَدې كفاره داده چه داسړې دې صدقه اوكړى دَحديث نه معلومه شوه چه دَ جوارئى دعوت وركول اودَدې ترغيب وركول هم ګناه ده نوچه كوم سړې پخپله په دې قبيح كاركښې اخته وى هغه به خومره ګناهګار ربږى

---

۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۶۵۰ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۵/ ۱۶۴۷ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۲۴۷ والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۱۵۴۵) والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب الحلف باللات (رقم-۳۷۷۵) واحمد في المسند: ۳۰۹/۲

[۲۴۱۰] د غیر مملوکه څیز د نذر منلو عدم صحت

[۵] ( ) ١ وَعَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«مَنْ حَلَفَ عَلَى مِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا، ٣ فَهُوَ كَمَا قَالَ. ٤ وَلَيْسَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَذْرٌ فِيمَا لَا يَمْلِكُ، ٥ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِشَيْءٍ فِي الدُّنْيَا عُذِّبَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ٦ وَمَنْ لَعَنَ مُؤْمِنًا فَهُوَ كَقَتْلِهِ، ٧ وَمَنْ قَذَفَ مُؤْمِنًا بِكُفْرٍ فَهُوَ كَقَتْلِهِ، ٨ وَمَنِ ادَّعَى دَعْوَى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللهُ إِلَّا قِلَّةً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ثابت بن ضحاك ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړی چې د اسلام خلاف د يو بل مذهب د دروغو قسم واخلي، ٣ نو هغه هغه شان دی څنګه چې هغه ويل يعنی دروغجن دي ، ٤ او په هيڅ انسان د هغه نذر پوره کول واجب نه دی چې د هغه هغه مالك نه وي، ٥ او کوم سړی چې په دنيا کې خپل ځان په يو څيز مثلاً چاړه وغيره سره هلاك کړي، نو هغه به د قيامت په ورځ د هغه شي په عذاب کې مبتلا کړل شي يعني که يو سړی په چاړه وهلو سره خودکشي وکړي، نو په قيامت کې به د هغه په لاس کې هغه چاړه ورکول شي چې هغه به يې په خپل بدن کې وهي) او د څو پورې چې د حق تعالی ﷻ د طرف څخه د نجات (خلاصون) حکم نه وي شوی، هغه به مسلسل په دې عذاب کې مبتلا وي. ٦ او کوم سړی چې په يو مسلمان لعنت اووائي، نو هغه د اصل ګناه په اعتبار سره د سې دی. څنګه چې هغه هغه مسلمان قتل کړي وي. ٧ او دغه شان کوم سړی چې په يو مسلمان د کفر تهمت ولګولی، نو ګويا هغه هغه مسلمان قتل کړي. څکه چې د کفر تهمت لګول د قتل د اسبابو څخه دی. نو د کفر تهمت د قتل کولو پشان دی. ٨ او کوم سړی چې د دروغو دعوی وکړي چې د هغه په مال او دولت کې اضافه وشي، نو الله ﷻ به د هغه په مال او دولت کې کمی وکړي. (بخاری، مسلم)

حل اللغات ① نَذْرٌ: منت. منځته. ② لَعَنَ: لعنت ني اوونيلو. ③ قَذَفَ: تهمت ني اولګولو

تسهيلات:

قوله مَنْ حَلَفَ عَلَى مِلَّةٍ غَيْرِ الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ.

په غير اسلامی ملت د قسم خوړلو دوه صورتونه: ① که څوك مسلمان اووائی چه که ما فلانکي کار اوکړو نوزه به يهودی، نصرانی، هندو، سکھ، قاديانی، آغاخانی يم

② که څوك مسلمان اووائی چه که ما فلانکي کار اوکړو نوزه به د دين اسلام نه به ويزاره يم يا د قرآن پاك نه به ويزاره يم يا د مکې نه به ويزاره يم يا د الله تعالی او کلمه نه به ويزاره

( ) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۰۴۷ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۱۷۶/ ۱۱۰ والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية الحلف بغير ملة الإسلام (رقم-۱۵۴۳) والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب الحلف بملة سوى الإسلام (رقم- ۳۷۷۰) وابن ماجه في كتاب الكفارات / من حلف بملة غير الإسلام (رقم-۲۰۹۸) واحمد في المسند: ۳۳۴

یم

په ملت غیر اسلام باندې د حالف په حکم کښې دوه مذاهب:

په مذکوره صورتونو کښې که دغه حالف بغیرملة الاسلام دغه محلوف عنه کار اوکړونو دده په حکم کښې اختلاف دې

① بعضې شوافعو فرمائی چه دَ ظاهری حدیث په اعتبارسره داسړې کافر شو ځکه چه ده دَاسلام حرمت دَخپو لاندې کړو اوپه کفرباندې دَ رضامندنی اظهاراوکړو

② جمهور علماء فرمائی چه په دې قسم سره دا سړې نه کا فرکیږی

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث د دوی مستدل دې ځکه چې په دې کښې د دغه حالف باره کښې نبی علیه السلام فرمائی چې «فهوکما قال» یعنی ده چې په کوم ملت قسم خوړلې دې دې هم هغه شان دې. که په یهودیت ئې قسم خوړلې وی نو یهودی به وی اوکه په مجوسیت ئې قسم خوړلې وی نو مجوسی به وی.

د اول فریق د دلیل جواب: دې حالف ته دا نسبت په دَ زجر اوتوبیخ باندې حمل دې لکه ځنګه چې په بعضې نورو احادیثو کښې داسې الفاظ په تشدید او زجرباندې محمول دی لکه په دې حدیث کښې چې ((لاایمان لمن لاعهدله)) یعنی چې په چا کښې د وعدې پابندی نه وی په هغه کښې ایمان نشته.دغلته هم عالمان دا په تشدید او زجرباندې محمول کوی یا لکه «من ترك الصلوة متعمدا فقدكفر» حدیث په زجر اوتوبیخ باندې محمول دې.

د دویم فریق دلیل: دوی دا فرمائی چه دکفرتعلق عقیدې او قصداو ارادې سره دې اودَدې سړی اراده دکفرنه ده بلکه دَنفس منع کولودَپاره هغه دا عمل کړې دې.

د مذکوره مسئلې دوه صورتونه: ① درمختارکښې لیکلی دی په دې مسئله کښې زیاته صحیح خبره داده چه داسې قسم خوړونکې که چرې دَخپل قسم برعکس کاراوکړی نوهغه به نه کفرکیږی په دې شرط چه دَهغه مقصد قسم خوړل وی کافرکیدل نه وی

② که هغه پوهیږی چه دَدې قسم خلاف کولوسره سړې کافرکیږی اوبیا هم خلاف ورزی کوی نوپه دې صورت کښې به هغه کافرشی ځکه چه په دې صورت کښې هغه بنه په رضا اورغبت سره په کفرباندې راضی شوې دې

په مذکوره صورت کښې د کفارې په وجوب کښې دوه اقوال: ① دَمالکیه او شوافعو حضراتو په نیز چونکه دا یمین اوقسم نه دې لهذا په دې کښې کفاره هم نشته دې داسړې ډیر زیات ګناهګار شوې دې ده له دَ استغفار کولو ضرورت دې اوځه کفاره نشته دې

② احناف اوحنابله بلکه دَجمهورو مسلك دادې چه په دې کښې کفاره ده ځکه چه دا قسم دې اوپه قسم کښې دَحنث په صورت کښې کفاره وی.

قوله وَمَنِ ادَّعَى دَعْوَى كَاذِبَةً لِيَتَكَثَّرَ بِهَا لَمْ يَزِدْهُ اللهُ إِلَّا قِلَّةً:

د دعوي په ليوت د څيز عدم حلت: يعنى كه يو سړي د دروغو دعوى اوكړى دې د پاره چه د هغه په مال اودولت كښې زياتوالي اوشى نو الله تعالى د هغه مال كمه وى په دې حديث كښې اكثر دا قاعده بيان كړې شوې ده چه اكثر خلق صرف د مال وهلو او په مال كښې د زياتوالى كولو په خاطر خلقوته ښانى چه زه داسې خاوند د جاه اوجلال يم زما داسې عظمت اوشان دې اويا زه داسې د كمال نه ډك بزرگ يم دغه شان علامة الدهريم. الغرض خان ښائى اوكمالات اوفضائل بيانوى دې د پاره چه په دې سره خپل فواندوكښې زياتوالي اوكړى نو الله تعالى د هغه فوائد كموى

قوله وَمَنْ لَعَنَ مُؤْمِنًا فَهُوَ كَقَتْلِهِ

په مسلمان باندې لعنت كول د هغه د قتل سره برابر كيدل: تهمت كه چرته ثابت شى نو هغه موجب قتل دې لهذا كوم سړى چه په يو مسلمان باندې د دروغو تهمت اولګولو نو دا د مسلمان د قتل په شان دى اوكه د كفر تهمت هم ثابت شو نو داموجب قتل دې نو څوك چه د كفر د دروغو تهمت په چاباندې لګوى دا د هغه د قتل په شان دى

[۲٤۱۱] كه د قسم په ماتلولو كښې خير وي نو قسم ماتول پكار دى

۳۰۰۰ـــ[۲] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ "«إِنِّي وَاللهِ إِنْ شَاءَ اللهُ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِينٍ فَأَرَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا; ۳ إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابي موسى رضی الله عنه وايي چې رسول صلی الله علیه وسلم وفرمايل ۲ قسم په خداى كه زه په يو شي قسم واخلم. او بيا د هغه قسم خلاف كول ښه وګنم، ۳ نو زه به خپل قسم مات كړم. او د هغه كفاره به اداء كړم. دغه شان هغه څيز به اختيار كړم كوم چې بهتر دى. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله إِلَّا كَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي وَأَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ

د مذكوره جملي وضاحت: يعنى قسم به په خاني نه ساتم بلكه ښه كاركولو سره به قسم ماتوم اوكفاره به اداكوم

---

[۱]) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۶۷۱۸ ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۷/ ۱۶٤۹ وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۳۲۷۶ والنسائی فی کتاب الأیمان والنذور/باب الکفارة قبل الحنث (رقم-۳۷۸۰) وابن ماجه فی کتاب الکفارات / من حلف علی یمین فرأی غیرها خیرا منها (رقم-۲۱۰۷) واحمد فی المسند: ۳۹۸/٤

کفاره قبل الحنث کښې دوه مذاهب:

تنبیه دَ قسم کفاره اداکولو کښې بعضې احادیثو کښې دکفاره ورکولو الفاظ مخکښې راغلی دی اودَ حنث کیدو الفاظ روستو راغلی دی اوبعضې احادیثو کښې دَ حانث کیدو الفاظ مخکښې راغلی دی اودکفاره ورکولو الفاظ روستو راغلی دی هم په دې وجه دفقهاؤ په دې کښې اختلاف پیدا شو چه کفاره قبل الحنث ده که بعدالحنث ده

① امام مالک رحمه الله امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله جمهور فرمائی چه قبل الحنث کفاره اداکولې شی لکه چه دَ قسم خوړلو په وجه سره کفاره لازم شوه

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه قبل الحنث کفاره نه شی ادکیدې حنث په کفاره باندې مقدم دې ترکومې پورې چه سړې حانث شوې نه وی کفاره لازم نه راځی

داول فریق اول دلیل: ①دَقرآن عظیم دا آیت د دوی مستدل دې ﴿ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ﴾ طریقه دَ استدلال داسې دې چه په آیت کښې حلف اویمین دکفاره دَپاره سبب او وجه او دَ علت په توګه بیان کړې شوې دې لهذا قسم خوړلوسره کفاره اداکیدې شی دحنث کیدو ضرورت نشته دې

داول فریق د اول دلیل جواب: دلته دَ "اذاحلفتم"نه پس "وحنثتم" لفظ محذوف دې یعنی دَ قسم خوړلونه پس کله چه حانث شې نوبیا کفاره اداکړه دامحذوف داسې دې لکه څنګه چه ﴿اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ﴾ کښې "وانتم محدثون"محذوف دې

د اول فریق مزید درې دلائل: ② زیر بحث د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه روایت هم د دوی مستدل دې

③ دَ حضرت عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه حدیث نمبر (۳۴۳) هم د دوی مستدل دې

④ دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث نمبر (۳۴۳) د دوی مستدل دې په دې درې واړه احادیثو کښې دکفاره ذکر مقدم دې او دَحنث ذکر روستوکړې شوې دې دا د دې خبرې دلیل دې چې کفاره قبل الحنث ورکول جائز دی

دمذکوره درې واړو دلائلو جواب: دې احادیثوکښې واؤ د مطلقَ جمع دَپاره دې دَترتیب دَپاره نه دې یعنی کفاره هم اداکړه اوحانث هم شه اونیك کار هم کوه هسې په عربی کښې د محاوره ذوق بنائی چه په دې احادیثوکښې دَ ترتیب هیڅ پابندی نه ده لګولې شوې د جمهورو احترام په خپل ځائی مسلم دې لیکن دې احادیثوسره دَهغوی مسلك ثابتول د یرزیات بعید معلومیږی

داول اول فریق د دلیل عقلی الزامی جواب: که یوسړی قسم اوخوړلواوبیائی دَ خپل قسم پوره خیال اوساتلو اوحانث نه شو بلکه په خپل قسم کښې بریٔ الذمه شو نودَ چا په نیز هم

په دې سرې باندې كفاره لازم نه ده كه چرې صرف دَقسم خوړلو سره كفاره لازم كيدله نو په دغه سړې باندې به د حانث كيدو نه بغير كفاره وركول لازم وو حالانكه دَ دې اول فريق هم قائل نه دې

د دويم فريق دلائل: ① دَ حضرت عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه دَحديث دَ آخرى حصه د دويم فريق د دوى مستدل دې په كوم كښې چه دا الفاظ دى ,,فأت الذي هوخيروكفرعن يمينك،، دلته صراحت سره اول دَ حنث ذكر دې اوبيا دَ واؤ عاطفه سره دكفاره ذكر دې

② عقلى دليل هم د دوى مستدل دې هغه دا چه كفاره اداكول دَ جرم دَ وجې نه وى او قسم خوړل جرم نه دې، ځكه چه انبياء كرام او اولياء عظام اوعلماء كرام په كلام كښې كثرت سره قسم موجود دې كله چه قسم خوړل جرم نه دې نوهغه دكفاره دَپاره څنګه سبب جوړشو؟ اوحانث كيدل جرم دې چه دَ الله تعالى دَ نوم بې اكرامى اوشوه نودَ كفاره دَپاره سبب جوړيږى نوتركومې پورې چه حنث نه راځى كفاره نشته دې

[۳٤۱۲] دَعُهدې د مطالبې كولو څخه مما نعت

[۷] ( ) ۱ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ " «يَاعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ سَمُرَةَ! لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ; ۳ فَإِنَّكَ إِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا، ۴ وَإِنْ أُوتِيتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا، ۵ وَإِذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا ۶ فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ ". ۷ وَفِي رِوَايَةٍ: " فَأْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ وَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الرحمن ابن سمره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم (يوه ورځ ماته) وفرمايل ۲ چې اې عبد الرحمانه! د سردارۍ خواهش مه کوه (يعني د دې خبرې طلب مه کوه چې زه دې د فلاني ځاى حاکم او سردار جوړ شم) ۳ ځکه که ستا په طلب سرداري درکول شي نو ته به هغه سرداري ته حواله شي. ۴ او که غير د غوښتنې څخه سرداري درته حصله شي. نو په هغه کې به ستا مدد کيږي. ۵ او که ته په يوه خبره قسم واخلې. او بيا وويني چې د هغه قسم خلاف کول د هغه قسم د پوره کولو څخه ښه دى. ۶ نو ته د هغه قسم کفاره ورکړه. او هغه کار وکړه کوم چې ښه دى. ۷ او په يو روايت کې داسې دي چې هغه خيز په عمل کې راوله کوم چې ښه دى او د خپل قسم کفاره ورکړه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْإِمَارَةَ: امارت، حاكم، سردارى. ② وُكِلْتَ: ته به اوسپارلي شي. حواله به شي ③ أُعِنْتَ: ستا مدد به كولې شي

[1]) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۷۱٤۶ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۱۹/ ۱۶۵۲ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۲۷۷ والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن حلف على يمين فراى غيرها خيرا منها (رقم-۱۵۲۹) والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب الكفارة بعد الحنث (رقم-۳۷۹۱م) واحمد في المسند: ۵/۶۲

تسهیلات: قوله عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

عبدالرحمن بن سمره او د کابل فتح: یادساتنی د بخاری شریف په روایت کښې دی چه حضرت عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه کابل فتح کړو او په چوك کښې اودرید وسره د غنیمت مال باره کښې نی تقریر اوکړو ابوداؤد شریف ۱۷۷/۱ کښې دی چه هغوی د فتح کابل په موقع باندې د صلوة خوف مونځ ورکړې وو د مذکوره حدیث روایت هم د دغه عبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه نه دې

قوله: لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ:

د امارت د قبلولو دوه صورتونه:

① یعنی امارت اوحکومت څه معمولی کارنه دې بلکه دا ډیره لویه ذمه واری ده هرسړې دا ذمه واری او بوج نه شی اوچتولې که چرې د حرص لالچ او سیادت اوقیادت په خواهش کښې راغلې او د دې مطالبه کولو سره حاصل کړو نود الله تعالی امدادبه درسره شامل حال نه وی نوناکام به شې ② که چرې حرص اوخواهش دې نه وی اوخلقو مجبوره کولوسره ذمه وارجوړشوې نود الله تعالی امدادبه درسره وی اوکامیاب به شې

قوله: فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا:

د قسم د ماتولو دوه صورتونه: ① یعنی که د ګناه کولوقسم نی اوخوړلو چه په الله تعالی قسم زه به مورپلارسره خبرې نه کوم نود دې قسم ماتول به واجب وی اوکفاره به اداکول وی ② که چرې د یومستحب کارنه کولو قسم نی اوخوړلو مثلاً د یوې میاشتې پورې به خپلې بی بی سره کوروالې نه کوم نود داسې قسم ماتول به مستحب او اولی

[۳۴۱۲] د غوره عمل اختیارول اود قسم کفاره ورکول

---[۸] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَى خَيْرًا مِنْهَا [۳] فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ، وَلْيَفْعَلْ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل [۲] که یو سړی په یوه خبره قسم واخلي. او بیا هغه دا وګڼي چې د هغه خلاف کول د قسم پوره کولو څخه ښه دی. [۳] نو هغه دي کفاره ادا کړي او هغه کاردي وکړي (یعني قسم دي مات کړي) (مسلم)

تسهیلات:

نوټ د زیربحث حدیث تسهیل دې څخه وړاندې حدیث نمبر (۳۴۱۲) کښې تیرشو

) اخرجه مسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۱۲/ ۱۶۵۰ والترمذی فی کتاب النذور والأیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی الاستثناء فی الیمین (رقم-۱۵۳۲)

[۳۳۳] په ناجائز قسم باندې ټينګيدل مناسب نه دی

۳۴۱۴-[۹] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«وَاللهِ لَأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ فِي أَهْلِهِ [۳] آثَمُ لَهُ عِنْدَ اللهِ [۴] مِنْ أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ [۵] الَّتِي افْتَرَضَ اللهُ عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] قسم په خدای په تاسو کې د يو سړی په خپل قسم اصرار کول (يعني د هغه قسم د پوره کولو ضد کول) چې د خپل اهل وعيال سره معلق وي، [۳] د الله ﷻ په نزد هغه زيات ګنهګار دي [۴] په نسبت د دې چې هغه هغه قسم مات کړي، او د هغه کفاره ادا کړي. [۵] چې په هغه فرض شويده بخاري مسلم

حل اللغات: ① يَلَجَّ: اصرار کول، ټينګ پاتې کيدل، ضد کول

تسهیلات:

قوله: لَأَنْ يَلَجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ فِي أَهْلِهِ آثَمُ لَهُ:

د خپل بال بچ سره د تعلق نه ساتلو قسم خوړلو ګناه: د حديث مطلب دا چه قسم خوړلوکښې دَ الله تعالى هتك او بې ادبى ده دَ الله تعالى دَ عظمت خلاف ورزی خويقيناً ګناه ده ليکن ددې ګڼه نه هغه ګناه زياته ده چه يوسړې خپل بال بچ سره دَتعلق پريخودو قسم اوخوری او بيا ضدکولوکولوباندې کلك شی اوهم داسې کلك وی بلکه هغه له پکاردی چه دَتعلق پريخودوقسم دې مات کړی اودکفاره فريضه کومه چه الله تعالى مقررکړې ده هغه اداکړی

قوله: آثَمُ لَهُ:

د ..لم.. په نحوی تحقيق کښې دوه اقوال: ① بعضې شارحينو آثم لفظ دَ اسم تفضيل په معنى کښې اخستې دې

② بعضو "الصيف احرمن الشتاء" په طرز باندې نفس فعل يعنى اثم په معنى کښې اخستې دې (كذا فى الطيبى) [الکاشف ۲۶/۷].

[۲۴۱۵] دَ قسم ورکونکی دَ نيت اعتبار

۳۴۱۵-[۱۰] ()[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ستا قسم هغه وخت صحيح کيږي. هر کله چې ستا ملګری (يعني قسم درکونکی) تا رښتينی وګڼی، مسلم

() اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ۶۶۲۵ ومسلم فى صحيحه رقم الحديث ۲۶/ ۱۶۵۵ واحمد فى المسند ۲/ ۳۱۷
() اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۲۰/ ۱۶۵۳ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۲۵۵ والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن اليمين على ما يصدقه صاحبه (رقم-۱۳۵۴)

تسهيلات:

قوله يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ:

په جګړه کښې د مستحلف د يمين اعتبار: يعنى چه په دوو كسانو كښې څه مالي جګړه ده اومدعي منكرته قسم وركوى نو په دې كښې به د قسم وركونكى د نيت اعتبار كيږى د قسم خوړونكى د نيت اعتبار به نه كيږى

د مذکوره مسئلې صورت: مثلاً قسم خوړونكى په ژبه باندې څه الفاظ وائى او په زړه كښې څه توريه يادَ تاويل نيت نى پټ كړې دې نو دهغې اعتبارنشته مثلاً ارشد اقبال ته اووئيل چه تازما اس قتل كړې دې اقبال قسم اوخوړلوچه ما اس نه دې قتل كړې او په نيت كښې د ارشد دَ اس په ځائې دَ فريدون دَ اس دَ قتل قسم خورى نودَدې اعتبار به نه وى په راتلونكى روايت كښې (على نية المستحلف) الفاظومطلب هم دغه دې "مستحلف" يعنى قسم وركونكې.

په يمين كښې دحالف د نيت د اعتبار صورت: كه دَ چادَ حق تلف كيدو مسئله نه وى يا يو سړې مظلوم وى نو بيا په قسم كښې توريه اودَتاويل اعتبار كيږى (ملخصامن زجاجة المصابيح)

[۳٤١٦] په يمين كښې د مستحلف د نيت اعتبار

[۱۱]() ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «الْيَمِينُ عَلَى نِيَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د قسم اعتبار د قسم وركونكي په نيت وي. (مسلم)

حل اللغات: ① اَلْمُسْتَحْلِفِ: قسم خوړونكې.

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث وضاحت ددې څخه وړاندې حديث نمبر (۳۴۱۵) كښې تيرشوې دې

[۳٤١٧] په يمين لغو كښې عدم مؤاخذه

[۱۲]() ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ﴾ [البقرة: ۲۲۵] ③ فِي قَوْلِ الرَّجُلِ: لَا وَاللَّهِ، وَبَلَى وَاللَّهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. ④ وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ لَفْظُ الْمَصَابِيحِ ⑤ وَقَالَ: رَفَعَهُ بَعْضُهُمْ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

ترجمه: ① او د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه روايت دى ② چې دا آيت لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِيْ

() اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۲۱/ ۱۶۵۳ وابن ماجة فى السنن رقم الحديث ۲۱۲۰

() اخرجه البخارى فى صحيحه رقم الحديث ۶۶۶۳ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۲۵٤

أَيْمَانِكُمْ يعني الله ﷻ ستاسو په لغو قسمونو ستاسو مواخذه نه كوي. [۳] د هغه سرې په حق كې نازل شوى دى چې لَاوَاللهِ او بَلٰى وَاللهِ وايي. (بخاري) [۴] په شرح السنة كې دا روايت په لفظ د مصابيح نقل شوى دى. [۵] او په شرح السنة كې ونيل شوى دى چې د بعضې راويانو مطابق دا حديث بى بى عائشې ﷞ څخه مرفوعا نقل كړى دى يعنى د هغه راويانو مطابق دا حديث د حضور ﷺ ارشاد درامي دى.

حل اللغات ①بِاللَّغْوِ: عبث، عادتى قسمونه. ②لَاوَاللهِ،وَبَلٰى وَاللهِ: دا دواړه د قسم الفاظ دى. چه اهل عربو به عام طور خبرو كښې دغسې قسمونه خوړل

تسهيلات: **قوله**: لَاوَاللهِ،وَبَلٰى وَاللهِ:

په عربو كښې د يمينِ لغو رواج: د اهل عربو دا عادت وو چه هغوى خپل مينځ كښې د خبرو اترو په وخت په خبره خبره باندې په دې الفاظو سره قسم خوړلو "لاوالله،بلى والله" د دغه خلقو به په دې الفاظو سره قسم خوړل مقصودنه وو بلكه په كلام كښې د زور پيدا كولو پاره به په توګه د تكيه كلام به ئې دا سې قسم خوړلو هم دغه يمين لغو دې په كوم كښې چه نه كفاره ده او نه ګناه ده.

د يمينِ لغو بل صورت: ائمه احناف د قسم دا صورت هم لغو ګرځولې دې چه يو سړې په يوه خبره باندې قسم اوخورى او د هغه په خيال كښې دا وى چه زه صحيح قسم خورم ليكن په حقيقت كښې د هغه نه غلطى كيږى. بهرحال د لغو قسم د دې شرعى سهولت مطلب دا نه دې چه يو مسلمان هيڅ بې هيڅه خپله ژبه په قسمونو باندې ككړه كړى او كله چه ئې خله كولاويږى هم په څه قسم باندې كولاويږى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۴۱۸] په غيرالله د قسم خوړلو حرمت

۳۴۱۸-[۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ، وَلَا بِأُمَّهَاتِكُمْ، [۳] وَلَا بِالْأَنْدَادِ، [۴] وَلَا تَحْلِفُوا بِاللَّهِ إِلَّا وَأَنْتُمْ صَادِقُونَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷜ وايي چې رسول ﷺ وفرمايل [۲] تاسو مه د خپلو پلرونو په نوم قسم اخلئ. او نه د خپلو ميندو [۳] او نه د بتانو په نوم. [۴] او د خداى ﷻ قسم هم تاسو په هغه صورت كې اخلئ هر كله چې تاسو رښتيني يئ. يعني د دروغو قسم مه اخلئ كه د هغه تعلق د تيرې زمانې سره وي يا د آئنده زمانې سره. ابوداود، او نسايي

حل اللغات ①بِالْأَنْدَادِ: په شريكانو. په بتانو

---

(۱) اخرجه ابوداود فى كتاب الأيمان والنذور/باب فى كراهية الحلف بالآباء (رقم-۳۲۴۸) والنسائى فى كتاب الأيمان والنذور/باب الحلف بالأمهات (رقم-۳۷۶۹)

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث وضاحت وړاندې حدیث نمبر (۳۴۰۷) کښې تیرشوې دې

[۲۴۱۹] په غیرالله باندې د قسم خوړلو حکم

۳۴۱۹-[۱۴] ( ) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ [۳] فَقَدْ أَشْرَكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عمر ﷠ نه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [۲] چې چې د الله ﷻ نه د غیر قسم واخستلو [۳] نو هغه شرک وکړي. (ترمذي)

تسهیلات: قوله: فقداشرك:

په غیرالله باندې د قسم خوړلو دوه صورتونه: ① مطلب دادې چه په اصل کښې محلوف به معظم وی یعنی د چا د نوم چه قسم خوړلې شی هغه معظم هم ګڼړلې شی او هغه "ضار ونافع" هم ګڼړلې شی هغه د خپلو امورو ضامن او بعضې وخت هغه غیب دان هم ګڼړلې شی نوچه کوم سړی د الله تعالی نه سوا بل څوك داسې معظم ګڼړلوسره قسم اوخوړلو نو هغه د شرك جلی یا شرك خفی ارتکاب اوکړو ځکه چه هغه د الله تعالی په بعضې صفاتو کښې غیرالله شریك کړو اوداسې په تعظیم کښې الله تعالی سره غیرالله شریك ګرځول شرك فی التعظیم دې لهذا وئی فرمائیل "فقداشرك" هغه شرك اوکړو

② که چرې داسې عقیده ئی نه وی بلکه صرف د خپل زوړ عادت مطابق د خوئی یا پلار یا نیکه د نومونو قسم اوخوړلو نودا سره د دې چه ګناه ده لیکن په دې کښې شرك نشته دې

[۲۴۲۰] په "امانة" باندې د قسم خوړلو ممانعت

۳۴۲۰-[۱۵] ( ) [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ [۳] فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت بریده ﷠ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې د امانت قسم واخستلو [۳] هغه زمونږ نه دی. ابوداؤد

تسهیلات: قوله: مَنْ حَلَفَ بِالْأَمَانَةِ

په امانت د قسم خوړلو نه ممانعت: امانت د الله تعالی په نومونو کښې یو نوم هم نه دې بلکه د الله تعالی د فرائض نه دې په دې وجه داسې قسم خوړلوسره قسم نه منعقد کیږی

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب الأیمان والنذور باب فی کراهیة الحلف بالآباء (رقم-۳۲۵۱) والترمذی فی کتاب النذور والأیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی الکفارة قبل الحنث (رقم-۱۵۳۰) واحمد فی المسند: ۸۶/۲

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب الأیمان والنذور فی باب کراهیة الحلف بالأمانة (رقم-۳۲۵۳) واحمد فی المسند: ۳۵۲/۵

ممانعت وجه: اودا کوم چه فرمائيلي شوی دی چه داسې زمونږ څخه نه دي. دا څکه چه دا طريقه دَ عيسايانو ده هغوی په عبادات باندې قسم خوری لکه چه دادَ غيرالله په نوم باندې قسم شو کوم چه ناجائز دې

اوکه دَامانت په ځائې باندې امانة الله اووئيل اولفظ دَالله طرف ته ئې اضافت اوکړو نودَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزبه قسم منعقد کيږی ځکه چه دا په دغه وخت اسم صفتي جوړشی کوم چه به دَ امين نه مشتق شی خودَ نورو ائمه حضراتو په نيزاضافت سره استعمالولو سره هم قسم نه منقعد کيږی نه به حانث کيږی اونه به کفاره راځی

قوله فَلَيْسَ مِنَّا

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دا کلام دَ اسلوب حکيم په توګه باندې دې چه دَدغه سړی زمونږ سره تعلق نشته دې. ښکاره خبره ده چه کوم سړې دَ محبوب دَ طرف نه داسې اعلان واوری نوهغه به دَ دې فعل دَ ارتکاب نه خپل ځان بچ اوساتی يا دا تشديد او تغليظ دې

② صرف دې قسم مسئله کښې داسړې دَاهل اسلام په طريقه باندې نه دې. دَدې مطلب دانه دې چه دا سړې کافرشو

[۳۴۲۱] د اسلام څخه د بيزارۍ د قسم خوړلو حکم

---[۱۲] (۱) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «مَنْ قَالَ: إِنِّي بَرِيءٌ مِنَ الْإِسْلَامِ [۳] فَإِنْ كَانَ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ، [۴] وَإِنْ كَانَ صَادِقًا فَلَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْإِسْلَامِ سَالِمًا». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت بريده رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې داسې اوواني که ما داسې کړي وی يا داسې مي نه وی کړي، نو زه د دې اسلام څخه بري يم، [۳] که هغه په خپله خبره کې دروغجن وی نو هغه به هغه شان شي څنګه چې هغه ويلي دي، [۴] او که هغه په خپله خبره کې رښتينی وی بيا هم هغه د اسلام طرف ته واپس صحيح سلامت نه راځي،

حل اللغات: ① إِنِّي بَرِيءٌ: زه بری يم. بيزاره يم.

---

(۱) اخرجه ابوداود فی كتاب الأيمان والنذور/باب ما جاء فی الحلف بالبراءة وبملة غير الإسلام (رقم-۳۲۵۸) والنسائی فی كتاب الأيمان والنذور/باب الحلف بالبراءة من الإسلام (رقم-۳۷۷۲) وابن ماجه فی كتاب الكفارات / من حلف بملة غير الإسلام (رقم-۲۱۰۰) واحمد فی المسند: ۳۵۵/۵

تسهیلات:

قوله فَإِنْ كَانَ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ:

د مذکوره جملې په مطلب کښې دوه اقوال: ① ملاعلی قاري رحمه الله دَدې حدیث دَدې جملې لاندې لیکي چه دا جمله دَ تشدید، تغلیظ، تحدید او زجراوتوبیخ په توګه ده په دې سره واقعةً دا سړې کافرشوې نه دې خکه چه دا یمین غموس دې په کوم کښې چه ګناه شته کفر نشته "وان کان صدقاً" اوکه چرې په خپل خیال او خپل قسم کښې رښتوني دې یعنی هغه داسې قسم اوخوړلو که چرې ما فلانکې کارنه وی کړې نوزه دَاسلام نه ویزاره یم اوفی نواقع هغه رښتوني وی هغه دغه کارکړې وی نوبیاهم داسړې دَ ګناه نه خالی نه شی پاتې کیدې خکه چه شریعت دَ داسې قسم خوړلونه منع کړې ده او ده داسې قسم خوړلې دې نودَ ګناه ارتکاب نی اوکړو

② که یوسړې اووئیل چه که ما فلانکې کارنه وی کړې یعنی مثلاً دَمسلمانانودَپاره مې کوهې نه وی کنستلې نوزه دَ اسلام نه ویزاره یم په دې قسم کښې که چرې داسړې دروغژن وی نودې واقعةً دَ اسلام نه ویزاره شو "فهوکماقال" هم دغه مطلب دې.

[۳٤۲۲] د نبی علیه السلام د قسم خوړلو بیان

[۱۷] ([۱]) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا اجْتَهَدَ فِي الْيَمِينِ [۳] قَالَ: "لَا، وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي الْقَاسِمِ بِيَدِهِ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به په بعضو موقعو په خپل قسم کې زور پیدا کوی، [۳] نو داسې قسم به یي آخستلو، یا .قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې د ابو القاسم ساه ده (دا خبره نه ده، بلکه دا خبره ده،

حل اللغات ① اجْتَهَدَ فِي الْيَمِينِ: سختی او زور به ئي پیدا کولو په قسم کښې.

② نَفْس: ساه، روح. ③ أَبِي الْقَاسِمِ: د رسول الله صلی الله علیه وسلم کنیت دې

تسهیلات:

قوله وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي الْقَاسِمِ بِيَدِهِ

د ابوالقاسم څخه مراد: د نبی علیه السلام چې کوم خامن په وړوکوالی کښې وفات شوی وو په هغوی کښې د یو نوم قاسم وو نو نبی علیه السلام به خپل نوم په کنیت سره واخستلو او قسم به ئي اوخوړلو. کیدې شی په دې کښې د حضرت قاسم سره د مینې د اظهار دپاره هغوی داسې قسم خوړلو

([۱]) اخرجه ابوداود في كتاب الأيمان والنذور/باب ما جاء في يمين النبي صلى الله عليه وسلم ما كانت (رقم -۳۲٦٤)

[۳٤۲۳] د نبي عليه السلام د قسم يو قسم الفاظ

---[۱۸] () [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَتْ يَمِينُ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا حَلَفَ: "لَا، وَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه واېي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به قسم اخستلو، نو قسم به يې داسې وو. لَا، وَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، ابوداود. ابن ماجه.

تسهيلات: **قوله** لَا، وَأَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ

نوټ د لا كلمه د قسم په اول كښې راوړلو تحقيق حديث نمبر (۳۴۰۶) په شرح كښې تير شوي دي

[۳٤۲٤] د قسم سره د ان شاء الله ويلو حكم

---[۱۹] () [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ [۳] فَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللّٰهُ [۴] فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ، وَذَكَرَ التِّرْمِذِيُّ جَمَاعَةً وَقَفُوهُ عَلَى ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] څوك چې په يوه خبره قسم واخلي، [۳] او د قسم سره ان شاء الله هم اوواني، [۴] نو په هغه د حنث ځلاق نه كيږي ترمذي ابوداود نسايي ابن ماجه دارمي، او امام ترمذي رحمه الله د خينې محدثينو په باره كې ذكر كړي دى، چې هغوئ دا روايت په حضرت ابن عمر رضي الله عنهما موقوف كړي دى يعني د دې محدثينو په نزد دا روايت د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ارشاد دى.

حل اللغات ① فَلَا حِنْثَ: نو حنث پرې نشته. قسم ني نه دې مات.

تسهيلات:

قوله فَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَلَا حِنْثَ عَلَيْهِ:

قسم باندې د ان شاء الله په ويلو الركښې څلور اقوال: ① كه چرې قسم طلاق عتاق وغيره عقود كښې ان شاء الله لفظ متصل استعمال كړي شي نو د جمهورو په نيز هم هغه قسم يا څه عقد به نه منعقد كيږي

) اخرجه ابوداود فى كتاب الأيمان والنذور باب ما جاء فى يمين النبى صلى الله عليه وسلم ما كانت (رقم-۳۲۶۵) وابن ماجه فى كتاب الكفارات ، يمين رسول الله صلى الله عليه وسلم التى كان يحلف بها (رقم-۲۰۹۳) واحمد فى المسند: ۲۸۸/۲

) اخرجه ابوداود فى كتاب الأيمان والنذور باب الاستثناء فى اليمين (رقم-۳۲۶۱) والترمذى فى كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فى الاستثناء فى اليمين (رقم-۱۵۳۱) والنسائى فى كتاب الأيمان والنذور باب الاستثناء (رقم-۳۸۳۰) وابن ماجه فى كتاب الكفارات / الاستثناء فى اليمين (رقم-۲۱۰۵) ومالك فى الموطا كتاب النذور والأيمان باب ما لا تجب فيه الكفارة من اليمين (رقم-۱۰)

② دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما طرف ته منسوب دى چه هغوى به ان شاء الله يوكال بعدهم مؤثر منلو

③ حضرت مجاهد رحمه الله به ډيرو كلونوپورې مؤثر منلو

④ سعيد بن جبير رحمه الله د څلورو مياشتو پورې مؤثر منلو

⑤ دَامام مالك رحمه الله په نيز كه ان شاء الله متصل وى اوكه منفصل وى دهغې څه اثر په يوعقد اوعهد باندې نه كيږى قسم به واقع كيږى څكه چه ټول امور هم دَ الله تعالى په رضا كښې دى نودَدې ونيل اونه ونيل برابر دى قسم وغيره به په خاني وى ليكن دا رائې دَ دې قسم ټولو احاديثو نه مخالف ده په دې وجه دَدې څه اعتبارنشته دې

د ان شاء الله په اتصال او انفصال كښې دوه اقوال: ① بعضې ونيلى دى چه په مجلس كښې د خبرو دَ سلسلې جارى كيدو پورې دَدې وخت دې اوكله چه كلام بدل شو يعنى دويم كلام شروع شو نواوس دَ ان شاء الله اثر ختم شو احناف به هم دغه مسلك خپلوى

② بعضې ونيلى دى چه تركومې پورې مجلس قائم وى نوان شاء الله به دَ مجلس دَ قيام پورې مؤثر وى شوافعو به هم دغه مسلك خپلوى.

وجه د اختلاف: څكه چه دَ دواړو اصول اوقواعد داسې دى چه يو فريق په مسائل كښې دَ مجلس دَ ختميدو داعتبار كړې دې او دويم فريق يعنى احناف سلسله دَ كلام په اختتام باندې اعتبار كړې دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[د۳۴۲۵] خپلوانو سره د خپلولى ساتلو دپاره د قسم ماتول

د۳۴۲۵—[۲۰] ( ) ⓵ وَعَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ⓶ «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَرَأَيْتَ ابْنَ عَمٍّ لِي آتِيهِ أَسْأَلُهُ فَلَا يُعْطِينِي وَلَا يَصِلُنِي، ⓷ ثُمَّ يَحْتَاجُ إِلَيَّ فَيَأْتِينِي فَيَسْأَلُنِي، ⓸ وَقَدْ حَلَفْتُ أَنْ لَا أُعْطِيَهُ وَلَا أَصِلَهُ، ⓹ فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ ⓺ وَأُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِي». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵ ابوالاحوص عوف بن مالک د خپل پلار رضى الله عنه څخه روايت كوى. د دوى پلار فرمائى ⓶ اې دالله رسوله! تاسوڅخه فرمائې زما د تره خوې دې چې كله زه محتاج يم نو زه هغه ته ورشم څه ترې غواړم نوهغه ماته څه نه راكوى او نه زما د خپلولۍ خيال ساتى ⓷ څو بيا په بله موقع دې ماته محتاج شى او ما ته راشى زما څخه غوښتنه كوى دده دې سلوک ته چې ما اوكتل نو ⓸ ما قسم خوړلې دې چې نه به ده ته څه وركړم او نه به ده سره خپلولى اوپالم ⓹ نونبى عليه السلام ماته حكم اوكړو چې ته هغه طريقه

---

[۱] اخرجه النسائي في كتاب الأيمان والنذور /باب الكفارة بعد الحنث (رقم ۳۷۸۸) وابن ماجه في كتاب الكفارات / من حلف على يمين فرأى غيرها خيرا منها (رقم ۲۱۰۹) واحمد في المسند: ۴/ ۱۳۶

اختيار کړه کومه چې ښه ده، يعني ته ورته ورکړه کوه او خپلولي ورسره هم ساته [۶] وباقي تا چې کوم قسم خوړلي دې نودا حکم نې راته اوکړو چې زه د خپل قسم کفاره ورکړم

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! [۲] يَأْتِينِي ابْنُ عَمِّي [۳] فَأَحْلِفُ أَنْ لَا أُعْطِيَهُ وَلَا أَصِلَهُ، [۴] قَالَ: كَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ».

ترجمه [۱] اوپه يو روايت کښې دې فرمائي چې ما عرض اوکړو اې دالله رسوله [۲] زما د تره خوئې ماته راشي، زما څخه غوښتنه کوي، [۳] خوما قسم خوړلي دې چې زه به ده ته څه نه ورکوم اونه به ورسره خپلولي ساتم، [۴] نو نبي عليه السلام راته اوفرمائيل دخپل قسم کفاره ورکړه، اوده ته ورکړه هم کوه او خپلولي ورسره هم ساته،

حل لغات ① أَرَأَيْتَ: آيا ته ګورې، تاته پته شته، ② فَلَا يُعْطِينِي: نو ماله څه نه راکوي، ③ وَلَا يَصِلُنِي: ونه راسره تعلق ساتي، صله رحمي راسره نه کوي،

تسهيلات:

نوټ د دې موضوع به دا دا کولو دپاره د قسم ماتول پکار دی ددې وضاحت وړاندې هم په دې باب کښې په مختلف احاديثو کښې شوې دې هغې ته رجوع اوکړئ.

[۳] بَابٌ فِي النُّذُوْرِ

دَ نذرونو يعنې منختو بيان

قوله بَابٌ فِي النُّذُوْرِ

په دې کښې مباحث اربعه:

اول بحث: د نذر لغوي معنی: نذر منختې ته وائي

د نذر اصطلاحي تعريف: غيرواجب څيز په خپل خان باندې واجب کولو نوم نذر يا منخته ده اوپه تفسير کبير کښې د نذر تعريف داشان دې، النذر ما الزمه الانسان على نفسه،

دوئم بحث: د نذر حکم: نذر چه کله دَ ګناه نه وی نودَ ټولو فقهاؤ په نيزدا جائزدې دَ قرآن پاک اعلان دې ﴿ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ ﴾ [سورة الحج ۲۹]

دريم بحث: د نذر دوه قسمونه: ① نذر مطلق دې داهغه وی په کوم کښې چه منذور عمل دَ يوې ورځې يا وخت سره مقيد کړې شوې نه وی

② نذر مقيد دې دا هغه وی کوم کښې چه منذور عمل يوورځ يامياشت ياد يوخاص وخت پورې مقيد کړې شی دَ رومبی مثال لکه چه څوک اووائی، لِلّٰهِ علی صوم شهر، دَ دويم مثال دادې، الله علی صوم شهر رجب هذه السنة،

څلورم بحث: د نذر د صحت شرطونه:

① **عدم معصيت:** منذور عمل ګناه نه وي ځکه چه په حديث کښې دي "لانذر فى معصية" لکه چه څوک نذر اومني چه که زما کار اوشو نوزه به د فلانکي بزرګ په مزار باندې څادر خوروم به مولود کوم يا به يولسمه کوم يا به د غوث اعظم مونځ کوم د داسې منختې پوره کول جائز نه دي لهذا ددې نه د وتلو د پاره د قسم کفاره اداکولو سره د ګناه نه بچ کيدل ضروري دي

② **د مشروع الجنس څيز منخته:** منخته به د داسې څيزوي د کوم جنس چه په شريعت کښې مشروع او واجب وي لکه مونځ روژه حج وغيره نو که چا داسې منخته اوکړه که زما فلانکي کار اوشو نوزه به د فلانکي مريض پوښتنه کوم دا نذر صحيح نه دې ځکه چه پوښتنه کول په شريعت کښې د داسې جنس نه ده چه واجب نه دې

③ **د غيرواجب څيز منخته:** د کوم څيز منخته يوسړې کوي نو هغه دې په دغه وخت يې په راتلونکي وخت د هغه په ذمه فرض يا واجب نه وي مثلاً داسې اووائي چه که زما کار اوشو نوزه به د ماسخوتن مونځ کوم يا د رمضان روژې به ساتم بهرحال د ناجائز منختونه مستمت نونه بچ کيدل ډير ضروري دي لکه څنګه چه د جائز منختې پوره کول ضروري دي د منختې د پاره دا هم ضروري دي چه هغه په طاعت کښې وي او په طاعت مقصوده کښې وي په وسائل کښې نه وي په ژبه سره وي او د الفاظو ادائيګي سره وي صرف د زړه په نيت سره نه وي او د نذر او منختې پوره کولو پخه اراده ئې هم وي

فائده: دوباره د باب النذور راوړلو وجه: صاحب مشکوة دې ځخه وړاندې باب الايمان والنذور کښې هم د نذور عنوان ورکړې وو او دلته بيا د باب النذور مستقل عنوان ذکر کړې کيدې شي هلته د کاتبينو نه سهوشوې وي شيخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات کښې ليکلي دي چه هلته د نذر بيان په ضمني توګه باندې وواصل بيان د قسم وو او دلته ئې نذر مستقل اوخان له ذکر کړې دي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۴۲۲] د نذر منلو څخه ممانعت

۳۴۲۲—[۱] (۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«لَا تَنْذُرُوا، [۳] فَإِنَّ النَّذْرَ لَا يُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا، [۴] وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۶۰۹ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۵/ ۱۶۴۰ والنسائي في كتاب الأيمان والنذور باب النذر يستخرج به من البخيل (رقم ۳۸۰۵) وابن ماجه في كتاب الكفارات / النهي عن النذر (رقم ۲۱۲۳) واحمد في المسند: ۲/ ۱۱۸

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دواړه راويان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو نذر مه منئ، [۳] ځکه چې نذر د تقدير څه څيز لرې کولی نشي، [۴] البته د نذر په ذريعه د بخيل (څه مال ضرور) خرڅ کيږي، (بخاري مسلم)

حل اللغات ① لَاتَنْذُرُوْا: نذر مه منئ، ② لَايُغْنِي: نشي لرې کولې، فائده نه ورکوی، ③ مِنَ الْقَدَرِ: د تقدير نه. ④ يُسْتَخْرَجُ: راويستلې شي، خرچ کولی شي

تسهيلات:

قوله لَاتَنْذُرُوْا، فَإِنَّ النَّذْرَ لَايُغْنِي مِنَ الْقَدَرِ شَيْئًا،

اشکال: د مذکوره حديث په الفاظوکښې د منختې ممانعت په صراحت سره ذکر دې حالانکه قرآن عظيم د نذر جواز اود هغې په پوره کولوکښې حکم ورکوی بل د ډيرو احاديثو نه د منختې جواز معلوميږی

د اشکال جواب: په حقيقت کښې دلته په دې حديث د سخی، بخيل اوکنجوس سړی موازنه کړې شوې ده اود دواړو تقابل بيان کړې شوې دې چه د سخی سړی شان دادې چه هغه بغير د غرض اوبغير د لالچ او بغير د منختې نه د الله تعالى په لار کښې مال خرچ کوی هغه صرف خپل رب راضی کول غواړی اود مال ورکول په عوض کښې هيڅ شرط نه لګوی

قوله وَإِنَّمَا يُسْتَخْرَجُ بِهِ مِنَ الْبَخِيلِ

نذر د کنجوس څخه د انفاق ذريعه: ليکن بخيل اوکنجوس او کنجوس ته د دې توفيق نه وی هغه که چرې خپل مال خرچ کول هم غواړی نود هغې د پاره منختنه واسطه جوړوی اود زړه د غرض پوره کولو د پاره وائی که الله تعالى زما داکار اوکړو يا د دې نقصان نه نی بچ کړم نو زه به د هغه په نوم باندې دومره پيسې خرچ کوم نو په دې حديث کښې د سخی د قربتی د صفت بيان دې اود کنجوس اغراض اومقاصد اود لالچ او سوداګرنی بيان دې

دنذکر د کراهت صورت: قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه کوم وخت د نذر منونکی اووئيل چه الله تعالى به زما کارکوی نوزه به داکار کوم ګنی نه به نی کوم داسې شرط لګولوسره اخلاص ختميږی نونذر مکروه کيږی

د نذر درې صورتونه او د هريو حکم: ① علامه طيبی رحمه الله فرمائی که د نذر منونکی داعقيده وی چه په د غه منختې سره به د الله تعالى تقدير بدل شی اوبخپله به دا منخته نافع اورضا شی (جلب منفعت او دفع مضرت کار کوی) نوداسې منخته کول حرام دی

② که چرې په منخته منلوکښې عقيده خرابه نه وی مګر صرف خودغرضی اومطلب پوره کيدل مقصود وی نودامنخته مکروه ده ځکه چه نيت کښې خلوص نشته دې

③ که چرې خالص نيت سره د اطاعت په غرض سره منخته کوی نودا مستحب ده

د حديث څخه د نهی عليه السلام مراد: بهرحال په مذکوره حديث کښې د غلطې عقيدې د

وجې نه دَ منختې ممانعت راغلې دې او دَ نیت په خلوص سره دَ منختې ترغیب ورکړې شوې دې مطلق دَ منختې نه منع کول مقصود نه دی زیربحث حدیث کښې "فأن النذرلا یغني من القدرشیأ" الفاظو کښې چه د کوم علت طرف ته اشاره کړې شوې ده په هغې سره دَعلامه طیبي رحمه الله تفصیل او توضیح تائید کیږي [الکاشف ۷/۳۵-۳۴]

[۳۴۲۷] د معصیت د نذر د پوره کولو حرمت

۳۴۲۷-[۲] (۱) ١ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ " «مَنْ نَذَرَ أَنْ يُطِيعَ اللّٰهَ فَلْيُطِعْهُ، ٣ وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ فَلَا يَعْصِهِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړی چې داسې نذر ومني چې په هغه سره د الله ﷻ اطاعت کیږي، نو هغه ته پکار دی چې د هغه اطاعت وکړي (یعني نذر دې پوره کړي) ٣ او کوم سړی چې داسې نذر ومني چې په هغه سره د الله ﷻ نافرماني کیږي، نو د هغه نافرماني دې نه کوي (یعني داسې نذر دې نه پوره کوي. بخاري.

تسهیلات: **قوله** وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَعْصِيَهُ فَلَا يَعْصِهِ:

د گناه په نذر کښې د کفارې په وجوب کښې دوه مذاهب:

تمهید په دې باندې دَتولو اتفاق دې چه دَمعصیت نذر اومنختـه منل جائز نه دی مثلاً دا منخته که چامنلې وی کـه زما ورك شوې خوئی ملاؤ شو نوزه بـه پیر بابا پـه مزار بانـدې ځان خوروم. گډا به کوم دَدې منختې پوره کول دَچا په نیز هم جائز نـه دې لیکن اختلاف په دې کښې دې چه دمعصیت په منخته کښې کفاره شته که نه؟

① دَ امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نیزنه ده معصیت منخته جائز ده اونه دَهغې پوره کول جائز دی او نه په دې کښې کفاره شته

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه دَمعصیت منخته ماتول ضروری ده اوبیا دهغې کفاره اداکول هم واجب ده کومه چه دَ قسم کفاره ده

داول فریق دلائل: ① زیربحث حدیث د دوی مستدل دې

② راتلونکی د عمران بن حصین رضي الله عنه حدیث نمبر (۳۴۲۸) هم د دوی مستدل دې په دوارو رایاتو کښې طریقه دَ استدلال داسې دې چه دلته دَ کفارې ذکر نشته دې که چرې په منخته

---

[۱]) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۶۹۶ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۲۸۹ والترمذي في كتاب الأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب من نذر أن يطيع الله فليطعه (رقم-۱۵۲۶) والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب النذر في الطاعة (رقم-۳۸۰۶) وابن ماجه في كتاب الكفارات / النذر في المعصية (رقم-۲۱۲۶) ومالك في الموطا كتاب النذور والأيمان/باب العمل في المشي إلى الكعبة (رقم-۸)

دَ معصيت كښې كفاره وې نو په احاديثو كښې به دَ دې تذكره وې

د اول فريق د دلائلو مجموعي جواب: كه چرې په مذكوره زيربحث حديث كښې دَ كفاره وركولو اويا نه وركولو ذكر نشته دې نو عدم ذكر دَ عدم حكم دليل خونه وى كه چرې په زيربحث حديث كښې دكفاره ذكرنشته نو په نورو احاديثو كښې دَدې ذكر موجود دې لهذا دَ كفاره وركولوحكم به خپلولې شى دې حضراتو چه كوم دَ حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه دَ روايت نه استدلال كړې دې دَهغې هم دغه جواب دې

د دويم فريق دلائل: ① دَحضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه دَ حديث نمبر(۳۴۲۹) د دوى مستدل دې چې الفاظ ئې دادى «كفارة النذر كفارة اليمين»

② دَ فصل ثانى دَ حضرت عائشه رضي الله عنها حديث نمبر(۳۴۳۵) هم د دوى مستدل دې په كوم كښې چه صفا الفاظ راغلى دى چه: «لانذر فى معصية وكفارته كفارة اليمين»

③ هم دې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث نمبر (۳۴۳۶) هم د دوى مستدل دې

د معصيت د نذر په كفاره كښې فرق: دَدويم فريق بعضې علماؤ دَدې قسم منختې په كفاره كښې څه فرق كړې دې چه كه په دې منخته كښې چرته معصيت لذاته يعنى شرب خمر يا دَ زناكولو منخته وى نونه دَدې پوره كول جائز دى اونه په دې كښې كفاره شته اوكه چرې په منخته كښې معصيت لغيره دې مثلاً په اخترونو كښې يا ايام تشريق كښې دَ روژو منخته كړې وى نو دَدې په ماتولو كښې به دَ قسم كفاره راځى دغه شان په دواړه قسمه روايتونو باندې عمل اوشو

فائده: د امام شعبي او امام ابوحنيفه مباحثه: وئيلې شى چه امام ابوحنيفه رحمه الله شيخ شعبى رحمه الله له راغلو اودَ نذر معصيت دَمسئلې تپوس ئې اوكړو هغوى اوفرمائيل چه كله دَ ګناه او معصيت منخته اوكړې شى نو په دې كښې هيڅ كفاره وغيره نشته دې امام ابوحنيفه رحمه الله اوفرمائيل نو بيا په ظهاركښې كفاره ولې ده حالانكه هغه هم ګناه ده خكه خپلې ښځې ته مور وئيل خومره لويه خرابه خبره ده؟ شعبى رحمه الله حيران شو او وئې فرمائيل "انت من الآرائيين" يعنى ته دَ اصحاب رائې نه ئې شيخ شعبى رحمه الله دَ امام ابوحنيفه رحمه الله استاذ دې

[۳۴۲۸] د ګناه د نذر د پوره كولو ممانعت

۳۴۲۸–[۳] (¹) [۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«لَا وَفَاءَ لِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةٍ وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ الْعَبْدُ»". [۳] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةٍ: "لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ اللهِ".

¹) اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۸/ ۱۶۴۱ وابوداود فى السنن رقم الحديث ۳۳۱۶ وابن ماجه فى كتاب الكفارات / النذر فى المعصية (رقم-۲۱۲۴) واحمد فى المسند: ۴/ ۴۳۰

ترجمه: [۱]او د حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲]کوم نذر چې د ګناه باعث وي، د هغه پوره کول جائز نه دی،او هم داسې د کوم څیز چې هغه بنده مالك نه وي. [۳]مسلم، او د مسلم رحمه الله په یو روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل د کوم نذر سره چې د الله تعالی نافرماني کیږي، د هغه پوره کول جائز نه دي. (بخاري)

حل اللغات ①لَاوَفَاءَ پوره کول نې نشته، پوره کول نې جائز نه دی.

تسهیلات:

نوټ ددې حدیث پوره تشریح په وړاندې حدیث نمبر (۳۴۲۸) کښې تیره شوې ده

[۳۴۲۹] د نذر د قسم د ماتولو کفاره

---[۴] [۱]وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-عَنْ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [۲]«كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او د حضرت عقبه رضي الله عنه ابن عامر د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲]د نذر کفاره د قسم د کفارې پشان ده. (مسلم)

حل اللغت ①كَفَّارَةٌ: کفاره، بدل، د نقصان ازاله

تسهیلات: **قوله كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِينِ**:

د قسم په کفاره کښې ترتیب: ① دَ قسم ماتولو کفاره داسې ده چه یو غلام دې ازاد کړی که د غلام ازدولو وس نې نه وی یا غلام نه وی لکه په موجوده وخت کښې

② نو د اول صورت په نشتوالی کښې دې لس مسکینانو ته دوه وخته درمیانه خوراك ورکړی

③ د د دویم صورت طاقت هم نه لری نو بیا دې لسو مسکینانو ته کپړې ورکړی

④ که یو سړی په دې دریو قسم کفاراتو باندې قادر نه وی نو هغه دې مسلسل درې روژې اوسنی

په کوم صورت کښې او په چا چې کفاره نشته: ① دَ قسم ماتولو نه وړاندې دَ احنافو په نیز دَ قسم کفاره نشته دې

② ماشوم یا اوده شوی سړی یا لیونی او پاګل سړی د قسم اعتبار نشته دې په دې وجه په دې کښې هم کفاره نشته

③ دَ کافر په قسم کښې کفاره نشته دې

---

[۱]) اخرجه مسلم في صحيحه رقم الحديث ۱۳/ ۱۶۴۵ والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء في كفارة النذر إذا لم يسم (رقم-۱۵۲۸) والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب كفارة النذر(رقم-۳۸۳۲)

[۳۳۳۰] د نا ممکنه العالو د نذر منلو ممانعت

۳۳۳۰-[۵] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] «بَيْنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَخْطُبُ إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ، [۳] فَسَأَلَ عَنْهُ، فَقَالُوا: أَبُو إِسْرَائِيلَ [۴] نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ، وَلَا يَسْتَظِلَّ وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُومَ، [۵] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مُرُوهُ فَلْيَتَكَلَّمْ وَلْيَسْتَظِلَّ وَلْيَقْعُدْ وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) دنبي كريم ﷺ اچانك په يو سړي نظر ولګيدلو چې ولاړ وو، [۳] حضور ﷺ د هغه سړي په باره كې پوښتنه وكړه چې د ده نوم څه دى؟ او دا وخت ولي ولاړ دى؟ خلقو ورته اوويل چې د ده نوم ابو اسرائيل ﷺ دى. [۴] او ده دا نذر منلى دى چې ولاړ به وي، نه به كيني نه به سورى ته راځي او نه به خبرې كوي، او (هميشه) به روژې نيسي، [۵] رسول الله ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې ده ته اووايئ چې خبرې كوي او سورى ته راځي، كيني، اوخپله روژه دې پوره كړي. (بخاري)

حل اللغات () لَا يَسْتَظِلَّ: نه به سورى (سايه) ته كينى،

تسهيلات:

قوله: أَبُو إِسْرَائِيلَ نَذَرَ أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ، وَلَا يَسْتَظِلَّ وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُومَ

دابواسرائيل رضى الله عنه منخته: يعنى حضورپاك تپوس اوكړوچه دا سړې ولې ولاړ دې خلقو اوئيل دا ابواسرائيل دې ده منخته كړې ده چه ولاړ به وى دغه سړى چه د كومو خبرو منخته كړې وه په هغې كښې په بعضې باندې خوعمل كول آسـان اوممكن وو ليكن په بعضې باندې عمل كول ممكن نه وو.

قوله: أَنْ يَقُومَ وَلَا يَقْعُدَ،

هميشه دولاړې نذر كول:

"ان يقوم" يعنى دهميشه اودريدو منخته نى كړې وه نودې پوره كول ممكن نه وو خكه چه دا د چاد طاقت خبره هم نه ده او په مونځ كښې په سجده اوقعده كښې كيناستل فرض دى په دې وجه ددې منختې دماتولوحكم نى وركړو

قوله: وَلَا يَسْتَظِلَّ

هميشه دپاره ځان باندې سيورى نه (ولايستظل) يعنى كله به سورى ته نه راځى دا هم ممكن نه وو خكه چه هميشه په نمر كښې اودريدل خودكشى ده اوپه جمع سره دمونځ دپاره جمات ته راتلل ضرورى وو په دې وجه ددې منختې ماتولو حكم هم وركړې شو

[۱]) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۷۰۴ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۳۰۰ وابن ماجه في كتاب الكفارات / من خلط في نذره طاعة بمعصية (رقم-۲۱۳۶)

قوله وَلَا يَتَكَلَّمَ وَيَصُومَ

هميشه دپاره د خبرو نه کولو نذر: "لايتكلم" داهم ممكن نه وو چې هميشه دپاره به خبرې نه كوي ځكه چه په مننځه كښې وينا كول د قرأت په صورت كښې فرض دى د قرآن عظيم تلاوت دې اود يومسلمان د سلام جواب وركول واجب دى دغه شان د صله رحمئ دپاره خپلوانو سره خبرې كول د هغوى حق دې په دې وجه دَدې نذر اومنځتې ماتولوحكم وركړې شو ځنده ددې حديث نه داخبره معلومه شوه چه هرهغه فعل اوعمل په كوم سره چه انسان په مشقت كښې پريوځي اوقرآن اوحديث دهغې حكم نه وى وركړې لكه پيدل خپې ابله گرځيدل يې په نمر كښې كيناستل داد ثواب كار نه دې (زجاجة المصابيح ۵۹۵/۲

قوله وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ

د ممكن العمل نذر پوره كول: رسول الله ﷺ هغه ته د روژو پوره كولوحكم وركړوچه د پوره كول روژې په ستې اوايام منهيه دَدې نه بهر دى يعنى ورو كې اختر لونى اختر اودې ورځې په تشريق ايام منهيه دى كه يو سړى دَدې ورځو د روژو منځته اوكړه نود ائمه احناف په نيزښتې دَدې ماتول اوبيا كفاره اداكول به لازم وى. ياد لرئى چه هميشه روژې ستل د هغه دپاره جائز دى ځوك چه دَدې د لرلو طاقت لرى.

[۳۳۳] د پيدل حج د كولو نذرمنلو څخه مما نعت

---[۸] (۱) ①وَعَنْ أَنَسٍ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى شَيْخًا يُهَادَى بَيْنَ ابْنَيْهِ، ②فَقَالَ: " مَا بَالُ هَذَا؟ " ③ قَالُوا: نَذَرَ أَنْ يَمْشِيَ. ④قَالَ: " إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى عَنْ تَعْذِيبِ هَذَا نَفْسَهُ لَغَنِيٌّ " ⑤. وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ د بيت الله شريفي د سفر په دوران كې يو بوډا وليدلو چې (د ضعف او كمزورى په وجه، د خپلو دوو خامنو په مينځ كې (د هغوئ په اوږو لاس ايښى) په لار روان وو. ②حضور ﷺ پوښتنه وكړه چې په ده څه شوي دي؟ ③صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض اوكړو چې دې سړې بيت الله شريفې ته د پياده (په پښو) تلو نذر منلى دى. ④حضور ﷺ وفرمايل چې داسې خپل ځان په تكليف كې اچولو سره الله ﷻ ته پروا نشته. ⑤بيا حضور ﷺ هغه سړي ته په سورلى د تلو حكم وكړي (بخارى مسلم)

حل اللغات (۱) الشَّيْخ بوډا، كمزورى. ② يُهَادَى: داد مجهول صيغه ده د دوو سړو په اوږو باندې دواړه لاسونه اچولوسره په گرانه گرځيدو ته وائى ③ بَالُ: په معنى د حال دې. ④ نَفْسَهُ: دتعذيب اومصدر دپاره مفعول به دې ⑤ بَيْنَ ابْنَيْهِ: دا لفظ په دې باندې دلالت كوى چه هغوى ته څومره تكليف وو

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۱۸۶۵ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۹/ ۱۶۴۲والنسائي في كتاب الأيمان والنذور/باب: ما الواجب على من أوجب على نفسه نذرا فعجز عنه (رقم- ۳۸۵٤)واحمد في المسند: ۱۱٤/۳

()[۱]وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [۲]"ارْكَبْ أَيُّهَا الشَّيْخُ: [۳]فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنْكَ وَعَنْ نَذْرِكَ".

ترجمه: [۱]او د مسلم رحمه الله په يو روايت كې د ابوهريره رضي الله عنه څخه داسې دى [۲]چې حضور ﷺ هغه بوډا ته وفرمايل په سورلى شه، [۳]ځكه چې الله تعالىٰ ستا څخه او ستا د دې رنه تكليف كې اچونكې، نذر څخه بې نيازه دى

تسهيلات: قوله وَأَمَرَهُ أَنْ يَرْكَبَ:

د پيدل حج كولو نذر منل، كه چا دَ بيت الله دَ زيارت دَپاره پيدل تللو نذر منلې وى او داسې نې ونيلى وى چه زه به پيدل په خپو بيت الله ته ځم په دې صورت كښې دعالمانو اقوال مختلف دى

① امام شافعى رحمه الله فرمائى كه دَ پيدل تللو طاقت اوقدرت نى وى نو لاړ دې شى كنى دَ عجز اومجبورئى په صورت كښې دې سور شى اومنخته ماتولوسره دې دم اداكړى اوهم دغه ددې كفاره ده

② دَ امام شافعى رحمه الله يو قول داهم دې چه دَعجز په صورت كښې هيڅ هم نشته اودَ قدرت په صورت كښې كه ئى نذر مات كړو او سورشو نودم به پرې وى

③ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه داسې منخته كولونه پس كه دَ پيدل تلو طاقت نى وى وكه نه وى تلل لازم دى بلكه هغه ته اختيار دې چه هغه دې سوريدو سره سفر اوكړى ويو دم ددې دكفاره په توګه باندې اداكړى

د نذر د انعقاد په صحت باندې اتفاق: ددې دواړو مسلكونو اتفاقى خبره خودومره شته چه داسې منخته كولوسره نذر منعقد كيږى او پياده خپو باندې تلل لازم دى

د پيدل حج نذر كولو كښې د نذر نه كولو په صورت كښې دوه مذاهب:

① كه څوك په دې باندې عمل نه كوى اودا منخته ماتول غواړى نوهغه به څه كوى؟ نو شوافعو فرمائى چه دَ مجبورئى په صورت كښې دم دې اودَمجبورئى نه كيدو دَ وجې نه به پيدل تلل متعين دى

② احناف فرمائى چه په پيدل تللو باندې دَقدرت لرلوباوجود كه چرې دا سړې دا منخته ماتول غواړى اوسوريدو سره تلل غواړى نوداسې كولې شى البته يودم به اداكوى او كم دم چيلئى ده اوكوم خانى چه دَ بدنه ذكر دې نوهغه مستحب دې

په احنافو باندې اعتراض: منخته خودهغه څيز كولې شى دكوم په جنس كښې چه څه شرعى فعل واجب وى اودَ بيت الله شريف طرف ته پيدل سفركول واجب فعل نه دې نودَ قياس تقاضاخودادا ده چه په دې سرى باندې په دې منخته كښې هيڅ هم لازم نه وى. حالانكه

() اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۱/ ۱٦۴۳ وابن ماجة فى السنن رقم الحديث ۲۱۳۵

دَعلم. کرامو په نیز دَدي نذر په ماتولو کښې په دې سړي باندې دم دی

دااعتراض جواب: دَ قیاس تقاضاخو هم دغه ده او هم داسې کیدل پکارو لیکن دَاستحسان یعنی قیاس خفی د وجې نه دا نذر معتبر گرځولې شوې دې ځکه چه دَخلقو په عرف کښې داسې الفاظ ادَکولو سره حج یا عمره لازمی گنړلې شی او په قسم اومنځته کښې دَ عرف دیر لونی دخل دې دویمه وجه داده چه د حضرت علی رضي الله عنه یو اثر نقل دې چه داسې نذر منلو سره حج یا عمره لازمی کیږی نو په دې وجه هم قیاس پریخودلې شوې دې

په احتنالو دویم اعتراض: کله چه دَ منځتې دَماتولو کفاره دَ قسم د کفاره په شان ده نو بیا دَ دغه نذر اومنځتې دَ ماتولو په صورت کښې دم ولې لازمی کیږی او دَ قسم کفاره ولې نه راځی؟

د دویم اعتراض جواب: دَنذر دا معامله حج اوعمره سره تړلې شوې ده او په حج اوعمره کښې چه کوم نقصان راځی نوهغه هم په دم سره پوره کولې شی "قال ونقائص النسك تجبر بسمر" نکه چه دَ دَ حج اوعمره خصوصیت دې "کذافی زجاجة المصابیح مختصراً".

په مذکوره صورت کښې د کور څخه د پیدل روانیدو وجوب: باقی چې چه دَ پیدل حج منځته وکړی نو په هغه باندې لازم دی چه دَ کورنه دَ طواف زیارت پورې پیدل لاړشی هم دغه راجح قول دې او په حدیث الباب کښې چې نبی علیه السلام هغه ناذر ته د نذر ماتولو حکم کړې دې نو زمونږ په دې قول کښې چې د کور څخه دې پیدا حج شروع کړی دحدیث مخالفت نشته ځکه چې دغه نذر خو په احرام کښې وو هغه خو د حج شروع پیدل کړې وه ددې وجې په حنفو اعتراض نه راځی

[۳۴۳۳] وارثانو ته د مړی د نذر پوره کولو حکم

۳۴۳۳—[۱] (۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - : أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «اسْتَفْتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي نَذْرٍ [۲] كَانَ عَلَى أُمِّهِ [۳] فَتُوُفِّيَتْ قَبْلَ أَنْ تَقْضِيَهُ [۴] فَأَفْتَاهُ أَنْ يَقْضِيَهُ عَنْهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې سعد بن عباده رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه د هغه نذر په باره کې مسئله وپوښتله [۲] چې د هغه مور منلی وو. [۳] او هغه د هغه د پوره کولو څخه مخکې مره شوه. [۴] حضور ﷺ سعد رضي الله عنه ته دا فتوی ورکړه چې هغه دې د خپلې مور د طرف څخه هغه نذر پوره کړي. (بخاري. مسلم)

حل اللغات ① اِسْتَفْتَى: طلب د فتوې نې اوکړو. دمسئلې تپوس نې اوکړو

) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۶۶۹۸ ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۱/ ۱۶۳۸ والترمذی فی کتاب النذور والأیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی قضاء النذر عن المیت (رقم-۱۵٤٦)

تسهيلات:

قوله: فَأَفْتَاهُ أَنْ يَقْضِيَهُ عَنْهَا:

د سعدبن عباده د مور د منختې په مصداق کښې مختلف اقوال:

دَ حضرت سعدبن عباده رضي الله عنه مور څه منختې بعضې علماؤ فرمائيلى دى چه

① هغې دَ روژې دَ ساتلو نذر منلې وو

② هغې دَ غلام دَ آزادولو منخته نې کړې وه

③ هغې دَ صدقه منخته نې کړې وه.

④ صحيح خبره داده چه دَ هغې منخته مبهم وه. دَ نذر معين او نذر مطلق تذکره هم نه وه

د سعد بن عباده د مور دپاره نذر پوره کول: دارقطنى کښې يوروايت دې چه نبى اکرم صلى الله عليه وسلم حضرت سعد رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه دَخپلې مور دَ طرف نه کوهې اوباسه اووقف نې کړه نوهغوى هم داسې اوکړل اوبيائى اوفرمائيل چه دادَ سعد دَمور دَپاره دې

د مړى د نذر پوره کولو دوه صورتونه: ① که يوسړې دَ منختې دَ پوره کولووصيت اوکړو او دهغه دَ منختې تعلق بدنى عباداتو سره وى نودَهغه وصيت پوره کول دَ جمهور علماؤ په نيز جائز نه دې ځکه چه "لايصلى احدعن احدولايصوم احدعن احد" صريح حديث راغلې دې اهل ظواهر دَ زير بحث حديث په ظاهرباندې عمل کړې دې چه په وارث باندې دَ مورث منخته پوره کول په هرحال کښې لازم دى.

② د هغه دَ منختې تعلق دَ مال سره دې نو اوس ددې دوه صورتونه دى

(الف) که دغه مړى پَ ترکه کښې مال پريخودې وى دَ مړى دَ دريمې حصې دَ مال نه به هغه منخته پوره کولې شى. اودَ مړى په وارثانوباندې دَ دې حکم پوره کول لازم دى

(ب) که چرې دَ مړى مال نه وى نو په وارثانوباندې دَ دغه منختې پوره کول لازم نه دى اوکه وارثان په توګه دَ احسان هغه پوره کول غواړى نودا تبرع او احسان دې

[۳۳۳۳] د خپل ټول مال د خيرات کولو ممانعت

> ۳۳۳۳ـ[۸] (۱) ①«وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ ـ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ـ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ②إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي ③صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ. ④فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: " أَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ ⑤فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ ". ⑥قُلْتُ: فَإِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِي الَّذِي بِخَيْبَرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَهَذَا طَرَفٌ مِنْ حَدِيثٍ مُطَوَّلٍ.

ترجمه: ① وحضرت کعب ابن مالک رضي الله عنه وايي چې ما عرض اوکړو چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ② زما د مکمل او په پوره طور سره د توبې تقاضه خو دا ده چې زه د خپل ټول مال څخه

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۶۶۹۸ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۵۳/ ۲۷۶۹ وابوداود في السنن رقم الحديث ۳۳۱۷ والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة التوبة (رقم-۳۱۰۱)

دست کش شم (يعنى لاس واخلم) [۳] او هغه د الله ﷻ او د رسول ﷺ د پاره خیرات کړم [۴] رسول کریم ﷺ ورته وفرمایل چې ستا په حق کې ښه دا ده چې ته څه مال وګرځوه، [۵] ما عرض اوکړو (ښه دی) زه د خیبر خپله حصه ګرځوم، دا روایت د یو اوږده حدیث ټکړه ده.

حل اللغات ① أَنْ أَنْخَلِعَ: چه زه لاس واخلم، اوباسم، ② أَمْسِكْ: اوساته، ایسار کړه، ③ سَهْمِي: زما حصه، ④ طَرَفٌ: ټکړه، حصه، ⑤ مُطَوَّلٌ: اوږد، طویل.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ:

د غزوۀ تبوک څخه د کعب بن مالک رضی الله عنه پاتې کیدل: دتبوک دپاره دَ رسول الله دَ طرف نه دَ نفیرعام اعلان شوې وو په دې وجه په هرعاقل بالغ سړی باندې جهاد کښې وتل فرض عین شوې وو حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه او دَهغه نور دوه ملګری حضرت هلال بن امیه رضی الله عنه او حضرت مراره بن ربیع رضی الله عنه شاته پاتې شوې وو.

اشکال: د کعب بن مالک د توبه په واقعه کښې دې غزوه کښې ئې نبی علیه السلام د حضرت کعب رضی الله عنه د ټول مال د صدقه کولو څخه منع کړې دې خو په غزوه تبوک کښې د ابوبکررضی الله عنه څخه دهغوی د کور ټول مال قبول کړې دې دا ولې؟

داشکال جواب: وجه دَ فرق داده چه دَهریو ایمانی کیفیت جدا جدا وو دَ دې حدیث تعلق باب النذورسره داسې دې چه دَحضرت کعب رضی الله عنه مال پیش کول لکه چه دَ نذر دَ وجې نه وو

فائده: پنځه ملغلري:

① دَدې دریوارو نومونه یاد ساتلودپاره لفظ «مکه» یاد لرئ څکه چه دَ هریودَنوم رومبې حرف په دې لفظ کښې موجود دې «میم» کښې حضرت مراره بن ربیع رضی الله عنه اشاره ده او په «کاف» کښې حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه ته اشاره ده او په «ه» حضرت هلال بن امیه رضی الله عنه ته اشاره ده

② لیلة المعراج کښې د انبیاء کرامو سره د ملاقات ترتیب دغه شان په معراج کښې په کوم آسمان کښې کوم نبی سره دَ رسول الله ﷺ ملاقات شوې وو دکوم چه په احادیثوکښې په ترتیب سره واقعه بیان کړې شوې ده نودَدې دَ یادولودپاره

③ د تفسیر جلالین د مصنفینو پیژندګلو دغه شان دَ جلالین دوه مصنف جلال الدین سیوطی او جلال الدین محلی کښې دَحروف هجا په اعتبارسره رومبې حرف سین دې دویم میم دې نودَ رومبې حصې مصنف سیوطی دې دَ دویمې محلی دې

④ په کوم نبي کریم صلي الله علیه و سلم کوم کتاب نازل شوې دې د دې پیژنګلو دغه شان «تعمرفعمراسمزبد» په دې حروفوکښې دَ هرنبی نوم او په هغه باندې نازل شوې کتاب اودَ ژبې طرف ته اشاره ده مثلاً «تعمر» ته اوګورئی "ت" تورات "ع" عبرانی کښې میم موسٰی علیه السلام

باندې نازل شوې "طعور" کښې "ف" فرقان "ع" عربي "م" محمد ﷺ باندې نازل شوې
په "اسم" الف انجیل، سین سریاني ژبه کښې "ع" عیسیٰ علیه السلام باندې نازل شوې
په "زبد" کښې زبور "ی" یوناني ژبه کښې دال داود علیه السلام باندې نازل شوې دې
⑤ هابیل و قابیل کښې د قاتل او مقتول پیژنګلو دغه شان هابیل او قابیل کښې دَ قاتل دَ معلومولو دَپاره قاف په ذهن کښې ساتنې دَ کوم په نوم کښې چه رومبې حرف قاف دې هغه قاتل دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۴۳۵] د ګناه د منختې حرمت

۳۴۳۵ـ[۹] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«لَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةٍ، ③ وَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ الْيَمِيْنِ»". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① بي بي عائشه . وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د ګناه نذر پوره کول جائز نه دی. ③ او د هغه نذر کفاره د قسم د کفارې پشان ده. (ابوداود ترمذي نسايي)

تسهيلات:

نوټ: د دې حدیث پوره تشریح په وړاندې حدیث نمبر (۳۴۲۸) کښې تیره شوې ده

[۳۴۳۶] د نذر کفاره غیر معین

۳۴۳۶ـ[۱۰] (۲) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ ③ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ الْيَمِيْنِ». ④ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا فِي مَعْصِيَةٍ ⑤ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ، ⑥ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَا يُطِيْقُهُ ⑦ فَكَفَّارَتُهُ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ، ⑧ وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا أَطَاقَهُ فَلْيَفِ بِهِ»". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَوَقَفَهُ بَعْضُهُمْ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: ① و حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړی چې غیر معین نذر ومني (یعنې یو اخي دا اووائي چې زه نذر منم او د دې خبرې تعین ونه کړي، چې د کوم څیز نذر مني، مثلاً د روژې یا د صدقې) ③ نو د هغه نذر کفاره د قسم کفاره ده (یعنې د غیر معین نذر په صورت کې هغه به هغه کفاره اداء کوي کومه چې د قسم د ماتولو په صورت کې ورکول کیږي) ④ دغه شان کوم سړی چې د یو داسې څیز نذر ومنلې

(۱) اخرجه ابوداود في كتاب البيوع/باب في المزارعة (رقم-۳۳۹۲) والترمذي في كتاب النذور والأيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أن لا نذر في معصية (رقم-۱۵۲۵) والنسائي في كتاب العمرى/باب ذكر إختلاف ألفاظ الناقلين لخبر جابر في العمرى (رقم-۳۷۳٤) واحمد في المسند: ۶/۲۴۷

(۲) اخرجه ابوداود في كتاب الأيمان والنذور/باب من نذر نذرا لا يطيقه (رقم-۳۳۲۲) وابن ماجه في كتاب الكفارات / من نذر نذرا ولم يسمه (رقم-۲۱۲۸)

چې ګناه ده. نو د هغه پوره کول جائز نه دي او. ۵ د هغه کفاره د قسم کفاره ده. ۶ او کوم سړی چې د داسې شي نذر ومني چې د هغه د پوره کولو هغه طاقت نه لري ،لکه يو سړی د غره د پورته کولو يا په پښو بيت الله شريفې ته د تلو نذر ومني يا دغه شان ناممکن العمل څه څيز په خان په طور د نذر واجب کړي، ۷ نو د هغه کفاره د قسم کفاره ده، ۸ او کوم سړی چې د داسې شي نذر ومني چې د هغه د پوره کولو هغه طاقت لري، نو هغه ته پکار دي چې هغه نذر پوره کړي، ابوداود ابن ماجه، بعضې راويانو دا حديث په حضرت ابن عباس رضي الله عنه باندې موقوف کړې دی

حل اللغات ① أَطَاقَهُ: چه طاقت ئې لری، ② فَلْيَفِ: نو پوره دې کړی

تسهيلات:

قوله: مَنْ نَذَرَ نَذْرًا لَمْ يُسَمِّهِ:

د دې جملې په مصداق کښې دوه اقوال: ① د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نيز دې حديث مطلب دې چا نذر مطلق پريخودو او د يو خاص فعل نوم ئې وانخستلو چه په ما باندې د الله تعالى دپاره روژه ده يا حج دې يا عمره ده خو که په زړه کښې ئې د څه څيزنيت وی نو په هغې باندې به عمل کول وی ګني دا نذر مطلق دې د دې کفاره د يمين يعني قسم د کفارې په شان ده.

② د شوافعو حضراتو په نيز په دې حديث کښې نذر لجاج وجدال بيان دې يعني چه يو سړی نذر اومنلو که ما فلانکی سړی سره خبرې اوکړې نو په ما باندې د يوې مياشتې روژې يا حج دې لازم وی او س که هغه خبرې اوکړې اونذر ئې مات کړو نو په ده به د يمين کفاره راځی په ظاهر حديث کښې "لم يسمه" الفاظو نه د احنافو او مالکيو د رائې تائيد کيږی

[-۳۴۳۳] د جائز نذر د پوره کولو حکم

-۳۴۳۳-[۱۰] ( ) ۱ وَعَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «نَذَرَ رَجُلٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَنْحَرَ إِبِلًا بِبُوَانَةَ، ۳ فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرَهُ، ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟ ۵ " قَالُوا: لَا. ۶ قَالَ: " فَهَلْ كَانَ فِيهِ عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟ " ۷ قَالُوا: لَا. ۸ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " أَوْفِ بِنَذْرِكَ، ۹ فَإِنَّهُ لَا وَفَاءَ بِنَذْرٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ، ۱۰ وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ ابْنُ آدَمَ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ثابت ابن ضحاک رضي الله عنه وايي ۲ چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې يو سړي دا نذر ومنلی چې هغه به په بوانه کې ،چې د مکې په خکته علاقه کې واقع د يو ځای

( ) اخرجه ابوداود في كتاب الأيمان والنذور باب ما يؤمر به من الوفاء بالنذر(رقم-٣٣١٣)

نوم وو، اوښ ذبح کوي. [۳]بيا هغه سړي رسول الله ﷺ ته راغلی او حضور ﷺ يې د خپل نذر څخه خبر کړي. [۴] رسول الله ﷺ د صحابه و ﷺ څخه معلوم کړل چې آيا په زمانه د جاهليت کې په دې مقام کې يو بت وو چې د هغه پرستش (عبادت) کېدلی؟ [۵]صحابه و ﷺ عرض اوکړو چې نا. [۶]بيا حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې آيا هلته د کفارو په ميلو کې څه ميله لګيدله؟ [۷]صحابه و ﷺ عرض اوکړو چې نا. [۸]د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ هغه سړي ته وفرمايل چې ته خپل نذر پوره کړه. [۹]ځکه چې د هغه نذر پوره کول جائز نه دي چې د څه ګناه خبره وي. [۱۰]او په ابن آدم (انسان) د هغه شي نذر پوره کول هم ضروري نه دی کوم چې د هغه په ملکيت کې نه وي. (ابوداود)

حل اللغات: ①أَنْ يَنْحَرَ: چه اوښ قرباني کوی . چرته چه نحر لفظ راشی نو هلته د اوښ قربانی کول مراد وی ②بُوَانَة: په باء باندې پيش او واؤ مفتوح غيرمشدد دي. مکه مکرمه سره نيزدې ينبع مقام کښې دَ سمندر په غاړه دَ د ځرن د يو ځائی نوم دي دَ نجد په علاقه هم دَ اوبود يو دند نوم بو'نه دې هغه مرادنه دي ③وَثَنٌ: جمع اوثان ده په معنی دَ بت ④عِيدٌ: عيد دَ اعياد جمع ده. ميله خوشحالی. ⑤أَوْفِ: پوره کړه.

تسهيلات:

قوله: هَلْ كَانَ فِيهَا وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟

د مشرکانو په عبادتخانو کښې د ذبح کولو څخه ممانعت: په جاهليت کښې چه به چرته مشهورې ميلې لګيدلې دَدغه ځايونو به خاص خاص نومونه وو هم دَدې حضورپاک پوښتنه کړې ده. دې دَپاره چه هغوی ته معلومه شی چه په دې ځائی کښې دَ کافرانو څه نښې نښانې خونښته دي کله چه معلومه شوه چه څه خاص علامت نشته نو حضورپاک هلته دَ ذبح اجازت ورکړو

کافرانو څخه د مشابهت څخه ځان ساتل: دَدې نه دا معلومه شوه چه کافرانو سره مسلمانانو له خپل افعال او اقوال او خپل عباداتو او عاداتو کښې مشابهت نه دی ساتل پکار ځکه چه (من تشبه بقوم فهو منهم) دَ مذکوره حديث نه معلومه شوه چه دَ نذر چه دَ کوم مکان تعين کړې شوی وی او په هغې باندې عمل ممکن وی نو هم په هغه ځائی نذر پوره کول لازم دی

[۳۴۳۸]د تنبل وهلو نذر منل

۳۴۳۸-[۳] () [۱]وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، [۲]«أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ. [۳]قَالَ: "أَوْفِي بِنَذْرِكِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، [۴]وَزَادَ رَزِينٌ: قَالَتْ: «وَنَذَرْتُ أَنْ أَذْبَحَ

() اخرجه ابوداود فی كتاب الأيمان والنذور/باب ما يؤمر به من الوفاء بالنذر(رقم-۳۳۱۲)

بِمَكَانِ كَذَا وَكَذَا، [۵] مَكَانٌ يَذْبَحُ فِيهِ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، [۶] فَقَالَ: " هَلْ كَانَ بِذَلِكِ الْمَكَانِ وَثَنٌ مِنْ أَوْثَانِ الْجَاهِلِيَّةِ يُعْبَدُ؟ " [۷] قَالَتْ: لَا. [۸] قَالَ: " هَلْ كَانَ فِيهِ عِيدٌ مِنْ أَعْيَادِهِمْ؟ " [۹] قَالَتْ: لَا. [۱۰] قَالَ: " أَوْفِي بِنَذْرِكِ» ".

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيکه (حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه) څخه روايت کوي [۲] چې يوې ښځي عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ ما دا نذر منلی دی (چې کله تاسو د جهاد څخه واپس تشريف راوړئ، نو) زه به ستاسو په مخکې تنبل (دريا) غږوم، [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل ته خپل نذر پوره کړه، (ابوداود) [۴] او رزين رحمه الله په دې کې دا الفاظ نور نقل کړي دي چې هغه ښځي دا هم اوويل او ما دا نذر منلی دی چې زه به په فلاني فلاني مقام کې [۵] چرته چې په زمانه د جاهليت کې به خلقو څاروي ذبح کول، حيوان ذبح کړم، [۶] حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې آيا هلته د زمانهٔ جاهليت د بتانو څخه يو بت وو؟ [۷] هغې ښځي اوويل چې نا. [۸] بيا خيني حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې هلته د کفارو د ميلو څخه يوه ميله لګيدله؟ [۹] هغې ښځي اوويل چې نه. [۱۰] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې خپل نذر پوره کړه.

حل اللغات: ① عَلَى رَأْسِكَ: ستاسو په مخکښې، ② بِالدُّفِّ: طنبل، ③ كَذَا وَكَذَا: فلانی فلانی ځای کښې.

تسهيلات: قوله: إِنِّي نَذَرْتُ أَنْ أَضْرِبَ عَلَى رَأْسِكَ بِالدُّفِّ:

د مذکوره جملې مفهوم: دَدې جملې مطلب دادې چه ستاسو په وړاندې به تمبل وهم عام شارحينو هم دغه مطلب اخستې دې ليکن داحاصل معنی ده که چرې په حقيقي معنی باندې عمل اوکړې شي چه ستاسو په سر به تمبل غږوم نو هم ممکن ده ځکه چه دَ تمبل غږونکې وينځه کله اودريږي تمبل غږه وي او حضور پاك ناست وي او تشريف فرما وي نودا به په سرياندې تمبل غږول وي او ترجمه به داشي چه زه به ستاسو په سرياندې تمبل غږوم شيخ عبدالحق رحمه الله فارسي کښې هم دغه ترجمه کړې ده اوبيائې حاصل معنی بيان کړې ده

اشکال: تمبل غږول څه طاعت او نيك عمل نه دې دَزيات نه زيات يومباح عمل دې حالانکه دَ نذر منلودَپاره دَ طاعت کيدل ضروري دی نودا نذر څنګه صحيح کيدې شي؟

دَاشکال جواب: علامه خطابی رحمه الله په جواب کښې فرمائي سره دَدې چه تمبل غږول يومباح عمل دې خو چه کله دا تمبل غږول حضور پاك سره دَ ډير مينې اوعقيدت سره متعلق وی اوجهادی معرکونه صحيح سالم دَ فتح په انداز کښې واپس راتلوسره متعلق وی په کوم کښې چه دَ کافرانوسرښکته په خفګان کښې کيدل وو اودَ منافقانو توهين تحقير او تذليل وو نو په دې وجه اوس داعمل دَ بعضې نيکو په شان شونو دَدې نذر صحيح شو.

[۳۴۳۹] د دریمې حصې مال څخه د زیات د صدقه کولو ممانعت

۳۴۳۹-[۳] ()[۱]«وَعَنْ أَبِي لُبَابَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲]إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَهْجُرَ دَارَ قَوْمِي الَّتِي أَصَبْتُ فِيهَا الذَّنْبَ، [۳]وَأَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي كُلِّهِ صَدَقَةً [۴]قَالَ: "يُجْزِءُ عَنْكَ الثُّلُثُ»". رَوَاهُ رَزِين.

ترجمه: [۱]او د حضرت ابو لبابه رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو [۲]چې زما کامله توبه دا ده چې زه د خپل قوم کور پرېږدم، چرته چې زما څخه ګناه صادره شویده، [۳]او دا چې زه خپل ټول مال خیرات کولو د پاره د هغه څخه فارغه شم. [۴]حضور ﷺ ورته وفرمایل چې د دریمې حصې مال صدقه ستا د پاره کافي ده. (رزین)

حل اللغات: ①أَنْ أَهْجُرَ: آیا زه پرېږدم، ②أَصَبْتُ: زه رسیدلې یم، مانه صادر شویده، ③أَنْخَلِعَ: چه زه جدا شم، فارغ شم، ④يُجْزِءُ: کافي کیږي.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَهْجُرَ دَارَ قَوْمِي الَّتِي أَصَبْتُ فِيهَا الذَّنْبَ:

د حدیث پس منظر: په مدینه منوره کښې د جنګ خندق په موقع باندې ۴هجری کښې د بنوقریظه یهودیانو کله چه وعده ماته کړه نو د جنګ خندق نه فارغیدو سره مسلمانانو د حضورپاک سره ۲۵ ورځو پورې د بنوقریظه د یهودیانو محاصره اوکړه. کعب بن اسد چه د دغه یهودیانو مشرو هغه داسې تقریراوکړو. اې یهودیانو! اې د انبیاء کرام اولاد! د دې مشکل نه د وتلو د پاره په دریوخبروکښې د یوې انتخاب اوکړئ

① یا ایمان راوړئ اوتاسوته معلومه ده چه دا نبی هم هغه نبی آخرزمان دې د چاچه تاسو په انتظارونې

② که چرې داسې نه وی نو خپلې ښځې اوبچې په خپله قتل کړئ اوبیا په مسلمانانو باندې په یوځل حمله اوکړئ هغوی تباه اوبرباد کړئ یاپخپله مړه شئ

③ یا داسې اوکړئ چه د هفتې په ورځ په مسلمانانو باندې ناڅاپې حمله اوکړئ دوی به ناخبره وی مونږ به روستو د هفتې په ورځ د جنګ د وجې نه استغفار اوتوبه اوکړو. قوم د خپل سردار یوه خبره هم اونه منله

دابولبابه د مدعو کولو قصه: بیا دا فیصله اوشوه چه ابولبابه راوغوارئ کیدې شی خه حل راوخی ابولبابه رضي الله عنه چونکه بنوقریظه سره اوسیدلو د هغه هم هلته کور وو اوهغوی سره د ده پخوانی تجارتی اومعاشرتی تعلقات هم وو. کله چه د حضورپاک په اجازت سره دوی

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الأیمان والنذور/باب فیمن نذر أن یتصدق بماله (رقم-۳۳۱۹) ومالک فی الموطا کتاب النذور والأیمان/باب جامع الأیمان (رقم-۱۶)

بنځې محلونوته لاړل اودَ ښځو اوماشومانو چغې صورې نې واوریدې نو نرم شو دَهغوی نه اوونیل که چرې موږ دَ حضرت محمد ﷺ په حکم باندې دَ قلعه ګانو یهودیانو هغوی ته اوونیل که چرې موږ دَ حضرت محمد ﷺ په حکم باندې دَ قلعه ګانونه ښکته راکوز شو او هغه به موږ سره څه سلوك کوی؟ حضرت ابولبابه ﷺ دَ مرئی طرف ته اشاره اوکړه یعنی تاسو ټول به ذبح کړی

دَ ابولبابه رضی الله عنه ځپل ځان په ستنه پورې تړل: دا وینا کول ووچه هغه په هوش کښې راغلو اوس لادوه قدمه وړاندې روستوشوې نه وو چه پښیمانه شوچه ما خود حضورپاك راز ښکاره کړو هغه نیغ مسجدنبوی ته راغلو اوځپل ځان نې ستنې پورې اوتړلو دغه ستن اوسه پورې دَ اسطوانه ابولبابه ﷺ په نوم سره مسجدنبوی کښې دَحضورپاك منبر او روضه مبارکې په مینځ کښې ریاض الجنه کښې ولاړه ده دَ اووو ورځوپورې هغه تړلې وو نه به نې خوراك کولو اونه به نې اوبه څکلې صرف دَ قضاحاجت دَ پاره به پرانستلې شو اووه ورځې پس بې هوشه راپریوتلو آخرالله تعالی دَ هغه توبه قبوله کړه اودَ توبه دا آیت نازل شو ﴿ وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ۭ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ ﴾[سورة توبه الایه ١٠٢]. خلقو زر زر هغه کولاوول غوښتل خوهغه منع کړل او وئی فرمائیل چه پخپله به حضورپاك په خپلو لاسونو مبارکو سره مې کولاووی

قوله يُجْزِءُ عَنْكَ الثُّلُثُ:

دَ ټول مال دَ صدقه کولو څخه ممانعت: کله چه حضورپاك هغه کولاوُ کړو نو هغه اوفرمائیل چه زه بنوقریظه سره خپل کور پرېږدم څکه چه دغه مکان هم دَدې واقعه سبب جوړشوې دې اوزه خپل پوره مال صدقه کوم څکه چه دا مال دَتجارت هم دَ دغه واقعه سبب جوړشوې دې حضورپاك دَ مال باره کښې اوفرمائیل چه صرف یوثلث صدقه کړه دَزیو کښې یوه حصه خیرات کافی دې رسول الله ﷺ مبارك دَ مکان باره کښې هیڅ اونه فرمائیل لکه چه حضورپاك دَ مکان دَ پریخودو اشاره اوکړه څکه چه چرته شیطانی اثرات پریوځی دَهغه خانی نه بدلیدل ضروری دی

[٣٣٢٠]په یوخاص ځالی کښې دَ مونځ کولو نذر منل

٣٣٢٠—[٣]( ) [١]وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - :[٢]«أَنَّ رَجُلًا قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ[٣]فَقَالَ: يَارَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي نَذَرْتُ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكَ مَكَّةَ أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ رَكْعَتَيْنِ[٤]قَالَ: "صَلِّ هَاهُنَا". [٥]ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ[٦]فَقَالَ: "صَلِّ هَاهُنَا". [٧]ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ[٨]فَقَالَ: "شَأْنَكَ إِذًا»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

١) اخرجه ابوداود فی کتاب الأیمان والنذور/باب من نذر أن یصلی فی بیت المقدس (رقم-٣٣٠٥) واحمد فی المسند: ٣ ٣٦٣

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ ابن عبد الله وايي [٢] چې د مکې د فتح په ورځ يو سړی په مجلس نبوی کې ودريدلو [٣] او عرض يې وکړي چې يا رسول الله ﷺ ما د الله ﷻ دا نذر منلی وو، که الله ﷻ تاسو ته د مکې فتح عطاکړي، نو زه به په بيت المقدس کې دوه رکعته مونځ وکړم، [٤] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ته په دې ځای (مسجد حرام) کې مونځ وکړه، ځکه چې دلته مونځ کول افضل دی، باوجود د دې چې بيت المقدس ته تلو سره هلته د مونځ کولو په نسبت دلته مونځ کول زيات آسانه دی، [٥] هغه سړي بيا دا عرض وکړو، [٦] حضور ﷺ ورته هغه جواب ورکړي چې په دې ځای کې مونځ وکړه، [٧] هر کله چې هغه په دريم ځل هم عرض وکړو، [٨] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې اوس ستا ته ختيار دی (يعني که ته دلته مونځ کول نه غواړې نو ته پوهه شه، ستا ته د خپل نذر مطابق په بيت المقدس کې د مونځ کولو اختيار دی)، ابوداؤد، دارمي

تسهيلات:

قوله: إِنْ فَتَحَ اللهُ عَلَيْكَ مَكَّةَ أَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِ الْمَقْدِسِ رَكْعَتَيْنِ

په مقدس ځائې کښې د عبادت د ادا کولو نذر منل: که الله تعالى دَ مکې فتحه راکړه نو زه به په بيت المقدس کښې دَ شکرانې دوه رکعته نفل کوم په دې سره هر مسلمان اندازه کولې شي چه دَ صحابه کرامو جذبات دَ جهاد دَپاره او دَ اعلاء کلمة الله دَپاره څومره اوچت وو

قوله: فَقَالَ: "صَلِّ هَاهُنَا". ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ فَقَالَ: "شَأْنَكَ إِذًا"

دتعين عدم لزوم: يعني هم دلته مکه کښې اوکړه بيت المقدس ته دَ تللو ضرورت نشته دې

په معين ځائي کښې د نذر د ادا کولو په حکم کښې دري مذاهب:

که يو سړی دَ خپل نذر دَپاره يو مکان او مقام متعين کړو چه زه به دا عبادت هلته کوم نو آيا دا تعين به برقرار وی يا هريو ځائی کښې نذر پوره کولې شي

① امام زفر ﷫ فرمائی چه تعين نې اوکړو نو په دغه سړی باندې لازم دی چه نذر دې هم په هغه ځائی کښې اداکړی هغه فرمائی چه اوګورئ الله تعالى دَ وقوف دَپاره عرفات مقرر کړې دې دَ شپې تيرولو دَپاره ئې دَ مزدلفه تعين کړې دې او دَ رمی جمرات دَپاره منی مقرر ده په دې کښې تغير جائز نه دې

② دَ نورو ائمو باره کښې په شرح السنه کښې ليکلی دی چه هغوی دَ ادنی او اعلی فرق کوی يعنی که نذر ئې په غوره کښې ادا کول منلی وی نو په مفضول کښې دې نه اداکوی او که چرې په مفضول کښې نذر منلې وی نو په افضل کښې اداکولې شي

مثلاً چا په مسجد اقصی کښې دوه رکعته نفل اداکولو نذر اومنلو نو هغه په مسجد نبوی او مسجد حرام کښې اداکولې شي خو که په مسجد نبوی کښې دَ دوو رکعتو نفل کولو نذر اومنلو نو په مسجد حرام کښې اداکولې شي خو که په مسجد حرام کښې دوه رکعته نفل

کولو نذر او منلو نو هغه په مسجد اقصی کښې نه شی اداکولې او که په مسجد حرام کښې د دوه رکعته نفل کولو نذر او منلو نو په مسجد نبوی کښې نه شی اداکولې

④ ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښې ليکلی دی چه امام ابوحنيفه رحمه الله د دې تعين قائل نه دې بلکه مکان او مقام سره متعين نذر چرته چه هم وی پوره کولې شی

[۳۳۳۱] د نا ممکن څيز د نذر منلو حکم

۳۳۳۱ ـ [۵] (ﻫ) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - [۲] «أَنَّ أُخْتَ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً، [۳] وَأَنَّهَا لَا تُطِيقُ ذَلِكَ. [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ مَشْيِ أُخْتِكَ، [۵] فَلْتَرْكَبْ وَلْتُهْدِ بَدَنَةً ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي [۲] چه د عقبه ابن عامر خور دا نذر ومنلی، چې هغه به په پښو حج کوي، [۳] ليکن د دې طاقت يې نه لرى. [۴] نبي کريم ﷺ حضرت عقبه رضي الله عنه ته وفرمايل چې بلا شبه الله تعالی ته ستا د خور د پښو د تلو ضرورت نشته، [۵] نو هغې ته پکار دی چې هغه (هر کله په پښو نشي تللی، نو) په سورلی دی کيني او د هغی مال څخه د کفاری په طور دی بدنه ذبح کړي (د حنفيه په نزد د بدنه څخه مراد اوښ يا غوا ده، ليکن د شوافع په نزد د بدنه اطلاق يواځې په اوښ کيږي) (ابوداود او دارمي)

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ: فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] أَنْ تَرْكَبَ وَتُهْدِيَ هَدْيًا. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " إِنَّ اللَّهَ لَا يَصْنَعُ بِشَقَاءِ أُخْتِكَ شَيْئًا، [۴] فَلْتَرْكَبْ وَلْتَحُجَّ رَاكِبَةً [۵] وَتُكَفِّرْ يَمِينَهَا» ".

ترجمه: [۱] د ابوداود په يو روايت کې دا الفاظ دي چې نبي کريم ﷺ هغې ته حکم وکړي [۲] چې په سورلي دي سپره شی او يوه قرباني دې وکړي. [۳] او د ابوداود په يو روايت کې دا الفاظ دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل الله تعالی ستا خور ته د دې مشقت هيڅ ثواب نه ورکوي (يعني ستا خور چې داسې مشقت برداشت کوي، د دې به ورته هيڅ ثواب نه حاصليږي) [۴] نو هغه ته پکار دی چې هغه (هر کله په پښو نشي تلی نو په سورلی کيناستو سره د حج سفر دی پوره کړي، [۵] او د خپل قسم کفاره دې ورکړي)

حل اللغات ① مَاشِيَةً: پيدل. په خپو تلل ② وَلْتُهْدِ: او قرباني دې کړی. ③ بَدَنَةً: اوښ يا غوا ④ هَدْيًا: هدی هغه څناور ته وائی چه د کعبې شريفې دپاره اوليږلې شی دې دپاره چه په حرم کښې ذبح کړې شی ⑤ شَقَاء: مشقت. سختی برداشت کول

۱) اخرجه ابوداود في كتاب الأيمان والنذور/باب من رأى عليه كفارة إذا كان في معصية (رقم-۳۲۹۷) واحمد في المسند: ۲۵۳/۱

تسهيلات:

قوله: أَنْ تَرْكَبَ وَتُهْدِيَ هَدْيًا

د هَدْيًا مصداق: دَ قرآن آيت دې ادنی هدی چیلئی ده اواعلی هدی بدنه یعني اوښ اوغوا ده

نوټ: د پیدل حج نذر منلو په صورت کښې چې کوم تفصیل دې هغه د دې څخه وړاندې د حدیث نمبر (۳۴۳۱) په تشریح کښې تیرشوې دې

قوله: إِنَّ اللَّهَ لَا يَصْنَعُ بِشَقَاءِ أُخْتِكَ شَيْئًا:

د مذکوره جملې مطلب: لایصنع دَ صنع نه دې اودَ لایفعل په معنی کښې دې. صنع کاریګرئی ته وائی دلته عمل مراددې. "شقاً" دَ شین فتحه سره دَ محنت اومشقت اوچتولو په معنی کښې دې. ترجمه داده چه الله تعالی ستادَ خور په دې مشقت اوچتولو سره هيڅ هم نه کول غواړی ځکه چه هغه دَ دفع مضرت او جلب منفعت نه پاك دې (کذایفهم من المرقات واشعة اللمعات) [اشعة المعات: ۳/۲۲۳].

[۳۴۳۲] د ښځې سرتورسر د حج کولو نذر منل

> ۳۴۳۲—[۸] ()① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ، «أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ أُخْتٍ② لَهُ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ حَافِيَةً غَيْرَ مُخْتَمِرَةٍ. ③ فَقَالَ: "مُرُوهَا فَلْتَخْتَمِرْ وَلْتَرْكَبْ④ وَلْتَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① و حضرت عبد الله ابن مالك ﷺ وايي کوم وخت چې عقبه ابن عامر (د سفر په دوران کې) د خپلې خور په باره کې پوښتنه وکړه ② چې هغه دا نذر منلی وو، چې هغه به په خپې آبله پښو او سر تور سر حج ته ځی، ③ نو حضور ﷺ وفرمایل هغه ته حکم ورکړه چې خپل سر پټ کړي، او په سورلی کیني ، ④ او هغی ته پکار دی چې دري روژې ونیسي، (ابوداؤد . ترمذي، نسايي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ① حَافِيَةً: خپې آبله، بغیر پیزار ② غَيْرَ مُخْتَمِرَةٍ: سرتور سر "اختمار" دَ خمار نه اوخمار لوپټې ته وائی اختمار اومختمره دادَ لوپټې په سرکولو معنی کښې دي

تسهيلات: قوله: ولتصم ثلاثة ایام:

دعقبه بن عامر د خور په قصه کښې د کفارې باره کښې دري قسمه مختلف روایات:

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الأیمان والنذور/باب من رأی علیه کفارة إذا کان فی معصیة (رقم-۳۲۹۳) والترمذی فی کتاب النذور والأیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۱۵۴٤) والنسائی فی کتاب الأیمان والنذور/باب إذا حلفت المرأة لتمشی حافیة غیر مختمرة (رقم-۳۸۱۵) وابن ماجه فی کتاب الکفارات / من نذر أن یحج ماشیا (رقم-۲۱۳٤) واحمد فی المسند: ٤/۱٤۹

دَ حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه دَ خور په قصه کښې دَ کفارې اداکولوباره کښې مختلف الفاظ راغلی دی

① څه رواياتو کښې دَ دريوورځو دَ روژو ساتلو ذکر دې لکه چه په زير بحث حديث کښې دې

② څه رواياتو کښې دَ هدی ذکر راغلې دې لکه څنګه چه دَ دې نه مخکښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حديث نمبر (۳۴۳۱) کښې دَ هدی ذکر دې

③ هم په دغه حديث نمبر (۳۴۳۱) کښې دَ "بدنه" ذکر هم دې په دې کښې چې کوم تفصيل دې د هغې بيان وړاندې تيرشوې دې

د منذور کيفيت د نه ادا کولو په صورت کښې د جزاء په لزوم کښې دوه مذاهب:

په دې خبره باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه مشي الی بيت الله نذرصحيح دې اوناذر له پيدل حج يا عمره کول پکاردی اوکه دَ پيدل تلونه عاجز شی نو په سورلئی دې سورشی تردې پورې خواتفاق دې اختلاف په دې کښې دې چه

① امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه دَ منختې ماتولو په صورت کښې به دَ يمين يعنی دَ قسم کفاره اداکولې کيږی که هغه دَ مشي الی بيت الله منخته وی اوکه بل څه وی ؟

② دَ جمهورو خبره ليکلې شوې ده چه دَ منختې ماتولو دَ وجې نه په دې سړی باندې دم واجب دې

داول فريق دليل: زير بحث حديث دَ حضرت عبدالله بن مالک رضی الله عنه د دوی مستدل دې په دې کښې دَ دريو روژو ذکر دې او روژې نيول کفاره ديمين ده نوپه ده به کفاره د يمين لازميږی

داول فريق د دليل دري جوابونه: ① بعضې شارحين دَدې حديث مطلب دا اخلی چه کوم وخت يوسړې دَ پيدل تلونه عاجز وی نودم دې ورکړی اوکه چرې په دم ورکولوباندې قادر نه وی نودهغې بدله کښې دې درې روژې اوساتی

②دحضرت عقبه رضی الله عنه خورچه کله ترک مشي الی بيت الله منخته ماتولوسره سوره شوه نودې وجې نه حضور پاک دَ کفاره په توګه دَدم ورکولوحکم ورکړو څکه چه دَ نقائص حج کفاره په دم سره اداکيږی خلاصه دا چه دَحضرت عقبه رضی الله عنه خورته دَ کفاره يمين او هدی دواړو حکم ورکړې شوې وو کفاره يمين په ترک اختمار باندې او دَهدی په ترک مشی باندې په دې وجه داحديث دَ ضابطه دليل نه شی جوړيدې

③ دمجموعی رواياتونه معلوميږی چه دَ حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه خوردَ دوو خبرو منخته کړې وه يودا چه هغه به په سرباندې لوپټه نه اچوی اودويم دا چه هغه به پيدل خپې ابله حج ته ځی ترک اختمار يعنی لوپټه نه په سرول چونکه معصيت اوګناه ده څکه چه دَ ښځې دَ سرويښته عورت دې دَدې پټول ضروری دی اودَ معصيت منخته ماتول ضروری

كيږي او په دې كښې په اتفاق سره د قسم كفاره راځي په دې وجه دلته په دې حديث كښې د كفاره يمين ذكر هم راغلې دې او ښكاره خبره ده چه كله يوسړې د غلام آزادولو يا مسكينانو ته د خوراك وركولو طاقت نه لري نو د هغه دپاره درې روژې دي

د دويم فريق دلائل: ① د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په روايت دې إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنْ مَشْيِ أُخْتِكَ، فَلْتَرْكَبْ وَلْتُهْدِ بَدَنَةً". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ. په دې كښې د بدنه ذكر او د هدى ذكر دې دا ټول دم دى د يمين د كفاره ذكر په كښې نشته

② په مستدرك حاكم كښې د يو روايت الفاظ دا دي "فليهد هديا وليركب".

[۳۴۴۳] د ناجائز نذر د كفارې وركولو وجوب

۳۴۴۳-[۱۷] () ①وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: ②«أَنَّ أَخَوَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ بَيْنَهُمَا مِيرَاثٌ، ③فَسَأَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ الْقِسْمَةَ، ④فَقَالَ: إِنْ عُدْتَ تَسْأَلُنِي الْقِسْمَةَ فَكُلُّ مَالِي فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ. ⑤فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: إِنَّ الْكَعْبَةَ غَنِيَّةٌ عَنْ مَالِكَ، ⑥كَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ، ⑦وَكَلِّمْ أَخَاكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "لَا يَمِينَ عَلَيْكَ وَلَا نَذْرَ فِي مَعْصِيَةِ الرَّبِّ، ⑧وَلَا فِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ، ⑨وَلَا فِيمَا لَا يَمْلِكُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①و حضرت سعيد ابن مسيب وايي ②چې دوه انصاري ورونو ته د چا ميراث حاصل شوى وو (چې د هغه دواړو په منځ كې تسليمول باقي وو) ③نو په هغه دواړو كې يو ورور د بل ورور څخه د هغه ميراث د تقسيم مطالبه وكړه. ④نو هغه دويم ورور ورته اوويل چې زه دا نذر منم كه، اوس ته بيا زما څخه د تقسيم مطالبه لري، نو زما ټول مال دې په كعبه كې خرڅ كړل شي. ⑤هر كله چې دا صورت حال د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه (په علم كې) راغلى نو هغه، وفرمايل چې كعبه ستا د مال څخه بې پروا ده (يعني كعبې ته د دې ضرورت نشته چې ته خپل مال هغه ته نذر كړې) ⑥او په تا دا نذر پوره كول واجب نه دى. خكه ته د خپل قسم (يعني د دې ناجائزه نذر) كفاره ادا كړه. ⑦او هر كله چې ستا ورور د دې ميراث د تقسيمولو مطالبه وكړي (نو په دې معامله كې) ته د خپل ورور سره خبرې وكړه (يعني دا ميراث تقسيمولو سره د هغه مطالبه پوره كړه)، خكه چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې په تاسو د دې قسم نذر پوره كول واجب نه دى. او د پروردګار د معصيت نذر ناجائز دى (يعني د كوم نذر تعلق چې د پروردګار د نافرماني او يوى ګناه سره وي. هغه پوره كول نه دي پكار) ⑧او نه هغه نذر پوره كول پكار دى. چې د قرابتداري قطع كولو سره متعلق وي. ⑨او د كوم څيز چې انسان مالك نه وي د هغه نذر پوره كول هم جائز نه دى (بلكه كوم نذر چې د ناجائز كيدو په وجه پوره نه شي د هغه كفاره وركول واجب دى. ابوداود

() اخرجه ابوداود في كتاب الأيمان والنذور/باب اليمين في قطيعة الرحم (رقم-۳۲۷۲)

حل اللغات ①الْقِسْمَةَ: تقسيم كول، ②إِنْ عُدْتَ: كه تا دوباره داسې اووئيل، ③فِي رِتَاجِ الْكَعْبَةِ: رتاج لوني دروازې او پهاټك ته وائي مراد كعبه ده. ④قَطِيعَةِ: پريكول، پريخودل، ⑤الرَّجِم: رشته داري،

تسهيلات:

نوټ په دې حديث كښې د ناجائزه نذرونه پوره كولو ماتولوذكر دې دا خبره په مختلفو احاديثو كښې وړاندې تيره شوې ده اوتفصيل ئې هم تيرشوې دې د دوباره ذكر كولو څه ضرورت نشته

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۴۳۴] جائز او ناجائز نذر

۳۴۳۴—[۱۸] () [۱]وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲]" «النَّذْرُ نَذْرَانِ: فَمَنْ كَانَ نَذَرَ فِي طَاعَةٍ فَذٰلِكَ لِلّٰهِ فِيهِ الْوَفَاءُ، [۳]وَمَنْ كَانَ نَذَرَ فِي مَعْصِيَةٍ فَذٰلِكَ لِلشَّيْطَانِ وَلَا وَفَاءَ فِيهِ. [۴]وَيُكَفِّرُهُ مَا يُكَفِّرُ الْيَمِينَ» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱]حضرت عمران ﷛ ابن حصين وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [۲]چې نذر په دوه قسمه دی (يو خو دا چې) يو سړی د طاعت (يعني د حق تعالی ﷻ د بندګي) نذر ومني، دا نذر خالص د الله ﷻ د پاره دی، داسې نذر پوره كول واجب دی، [۳]او دويم دا چې يوسړی د ګناه نذر ومني، دا نذر د شيطان د پاره دی، داسې نذر پوره كول واجب نه دی، [۴]بلكه په داسې صورت كې دې د هغه كفاره ادا كړي، كومه چې د قسم د ماتولو په صورت كې وركول كيږي، نسايي.

حل اللغات ①الْوَفَاءُ: پوره كول، سرته رسول،

تسهيلات:

نوټ په دې حديث كښې د ناجائزه نذرونه پوره كولو ماتولوذكر دې دا خبره په مختلفو احاديثو كښې وړاندې تيره شوې ده اوتفصيل ئې هم تيرشوې دې د دوباره ذكر كولو څه ضرورت نشته

[۳۴۳۵] د ځان قرباني كولو د نذر منلو حكم

۳۴۳۵—[۱۹] () [۱]وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ قَالَ: [۲]إِنَّ رَجُلًا نَذَرَ أَنْ يَنْحَرَ نَفْسَهُ إِنْ نَجَّاهُ اللّٰهُ مِنْ عَدُوِّهِ. [۳]فَسَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ، فَقَالَ لَهُ: سَلْ مَسْرُوقًا، فَسَأَلَهُ، [۴]فَقَالَ لَهُ: لَا تَنْحَرْ نَفْسَكَ، فَإِنَّكَ إِنْ كُنْتَ مُؤْمِنًا قَتَلْتَ نَفْسًا مُؤْمِنَةً، [۵]وَإِنْ كُنْتَ كَافِرًا تَعَجَّلْتَ إِلَى النَّارِ، [۶]وَاشْتَرِ كَبْشًا فَاذْبَحْهُ لِلْمَسَاكِينِ [۷]: فَإِنَّ إِسْحَاقَ خَيْرٌ مِنْكَ، وَفُدِيَ بِكَبْشٍ. [۸]فَأَخْبَرَ ابْنَ عَبَّاسٍ، فَقَالَ: هٰكَذَا كُنْتُ أَرَدْتُ أَنْ أُفْتِيَكَ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

) اخرجه النسائي في كتاب الأيمان والنذور /باب كفارة النذر (رقم-۳۸۴۵)

) اخرجه رزين

ترجمه: [۱]او حضرت محمد ابن منتشر وايي [۲]چې يو سړي دا نذر ومنلى كه الله ﷻ هغه ته د دښمن څخه نجات ورکړي، نو هغه به خپل ځان ذبح کړي، هغه ته چې د دښمن څخه نجات حاصل شو، [۳]نو (هغه په دې مسئله کې) د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه معلومات وکړل، نوهغوى ورته ووئيل د مسروق څخه تپوس وکړئ: نوهغه د مسروق څخه تپوس وکړو [۴]هغه ورته وفرمايل چې ته خپل ځان مه ذبح کوه، ځکه که ته مسلمان يې، نو (په دې صورت کې) ته به د يو مسلمان د قتل مرتکب شې، [۵]او که ته كافر يې، نو (په دې صورت کې لکه چې) ته دوزخ ته په تلوکې تلواړې کوې، [۶]نو ستا په باره کې دا حکم دى چې ته يو پسه رانيولو سره د مسکينانو د پاره هغه ذبح کړه، [۷]حضرت اسحاق عليه السلام ستا څخه ښه وو، چې د هغه بدله يو پسه وګرځول شو ، [۸]هغه سړي چې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما (د حضرت مسروق د دې فتوى څخه خبرکړي) نو هغوى وفرمايل چې حقيقت دا دى چې ما تا ته د دې فتوى د درکولو اراده لرله (رزين)

حل اللغات: ①وَاشْتَرِ: او واخله، ②كَبْشًا: ګډ، پسه،

تسهيلات:

قوله: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ:

دمحمدبن المنتشر مختصرتعارف: دا جليل القدر تابعى دې اودحضرت عائشه صديقه رضی الله عنها نه ئې احاديث ونيلى دى دا صاحب د حضرت مسروق بن اجدع وراره دې همدان قبيلې سره د ده تعلق وو او په کوفه کښې اوسيدلو.

قوله: سَلْ مَسْرُوقًا:

دمسروق بن اجدع همدانى مختصر تعارف: حضرت مسروق بن اجدع رحمه الله ډير لوئى تابعى دې د حضورپاك په حيات طيبه کښې پيدا شوې وو مګر ملاقات ئې اونه کړې شو هغه د خلورواړو خلفاء راشدين رضی الله عنهم او حضرت عائشه رضی الله عنها نه ئې ښه پوره علم حاصل کړو په دې وجه په تابعينوکښې هغه ته يو امتيازى شان حاصل وو

قوله: إِنَّ رَجُلًا نَذَرَ أَنْ يَنْحَرَ نَفْسَهُ إِنْ نَجَّاهُ اللَّهُ مِنْ عَدُوِّهِ

دخپل ځان د قربانى کولو نذر (دمسئلې پوښتنه کونکې دا سړې د يوعجيبه نفسياتى مرض ښکارشوې وو دهغه دا خيال په ده باندې سورشوې وو که چرې دهغه دښمن دې قتل کړو نو په دې کښې به دهغه ډيره رسوائى اوبدنامى وى په دې وجه هغه دا نذر منلې ووکه الله تعالى زه د دښمن د چال نه بچ کړم نوزه به دهغه په نوم باندې خپل ځان قربانولوسره ذبح کوم د دغه سړى يوطبعى خواهش او دتوهم پرستئى يوه جذبه وه هم د دغه خودکشئى باره کښې هغه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه د مسئلې پوښتنه اوکړه هغوى دې حضرت مسروق رحمه الله ته اوليګلو نوحضرت مسروق رحمه الله اوفرمائيل که ته مسلمان ئې

وخپل خان دې قتل کړو نوته به د يومسلمان قاتل جوړشي اوکه چرې ته کافر نې نوپه ډيره ت زنې سره به خپل ځان د دوزخ اور کښې ورديکه کړې نوداسې مه کوه بلکه بهتر داده چه ددې ندر په بدله کښې ته يو ګډ راوړه او ذبح کړه ځکه چه الله تعالى دحضرت اسحاق عليه السلام په بدله کښې يوګډ قبول کړې وو

قوله فَإِنَّ إِسْحَاقَ خَيْرٌ مِنْكَ، وَفُدِيَ بِكَبْشٍ:

د ذبيح د مصداق تحقيق: ① د على رضي الله عنه ابن عباس رضي الله عنهما عبدالله بن عمر رضي الله عنهما، ابوهريره رضي الله عنه، ابوالطفيل رضي الله عنه، سعيد المسيب رضي الله عنه، سعيد بن جبير رحمه الله، حسن بصرى رحمه الله، مجاهد رحمه الله، عمر بن عبدالعزيز رحمه الله، شعبى رحمه الله، محمد بن كعب قرظى رحمه الله او نورو ډيرو تبعينو نه منقول دى چې دغه خوئې اسماعيل عليه السلام وو

حافظ ابن كثير رحمه الله وغيره دا قول اختيار كړې دې[1] اودويم راروان قول ئې په سخته رد كړې دې

② عمر فاروق رضي الله عنه، عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، عباس رضي الله عنه، ابن عباس رضي الله عنهما، كعب الاحبار رحمه الله، سعيد بن جبير رحمه الله، قتاده رحمه الله، مسروق رحمه الله، عكرمه رضي الله عنه، عطاء رحمه الله، مقاتل رحمه الله، زهرى رحمه الله او سدى رحمه الله نه منقول دى چې دغه خوئې اسحاق عليه السلام وو، حافظ ابن جرير طبرى رحمه الله دا قول غوره كړې دې[2]

راجح قول او ددې دلائل: دلته د دواړو فريقو په دليلونو باندې مكمله تبصره نشى كيدې بې هد د قرآن پاک د طرزبيان او د روايتونو دمضبوطيا تر مخه غوره دا معلوميږى چې د ابراهيم عليه السلام دغه خوئې اسماعيل ځکه وو چې

① قرآن كريم ددې ټولو قيصې نقل كولونه پس فرمائيلى دى چې ﴿وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ﴾ ددې نه صفا دا معلوميږى چې دغه خوئې ئې داسحاق عليه السلام ځکه علاوه بل يو وو او د اسحاق عليه السلام زيرې ورته دې نه پس ورکړې شوې وو

② د اسحاق زيرى وركولو كښې دا بيان دې چې اسحاق عليه السلام به نبى وى، دې نه علاوه په يو بل آيت مبارک کښې دابيان دې چې د اسحاق عليه السلام د پيدا كيدو سره د ازيرې هم وركړې شوې وو چې دوئ عليه السلام نه به يعقوب عليه السلام پيدا كيږى لكه فرمائى چې ﴿فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ﴾ نو ددې صفا مطلب دادې چې دوئ عليه السلام به تر ډيره عمره پورې ژوندى وى تر دې چې اولاد به ئې هم كيږى، نو بيا په وړوكتوب ددوئ عليه السلام د ذبح كولو به څه مطلب كيدېشى؟ او كه په وړوكتوب كښې ددوئ عليه السلام پيغمبر كيدو نه وړاندې ددوئ عليه السلام د ذبح كولو حكم وركړې كيدلې نو ابراهيم عليه السلام به پوهيدو چې دوئ عليه السلام خو به پيغمبر جوړيږى

[1] تفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ۷، ص ۳۲ نه ۳۵ پورې.
[2] تفسير الطبرى تحت هذه الآية: ج ۲۱، ص ۷۸

دوئ ﷺ نه به یعقوب ﷺ پیدا کیږی نو په ذبح کولو سره د دوئ ﷺ مر کیدل نشته . په دې شان به دا نه خو څه لوئې امتحان ووا و نه به ددې په کولو سره ابراهیم ﷺ دڅه تعریف حقدار وو امتحان خو به دې صورت کښې ممکن وو چې د ابراهیم ﷺ دا یقین وې چې زما خوئې به په ذبح کولو سره ختم شی ، په دې بنا د اسماعیل ﷺ په باره کښې د اخبره پوره ربنتیا کیږی چې الله ﷻ د دوئ ﷺ د ژوندی پاتې کیدو او د پیغمبر جوړیدو څه پیشنګوئی نه وه فرمائیلې

④ دقرآن پاک د بیان نه معلومیږی چې ابراهیم ﷺ ته د رومبی خوئې د ذبح کولو حکم شوې دې ولې چې هغوئ ﷺ کله چې خپل وطن نه هجرت کولو نو د یو خوئې دپاره ئې دعا کړې وه ، ددې په جواب کښې ورته دا زیرې ورکړې شو چې هغوئ ﷺ ته به الله ﷻ یو زغمناک خوئې ورکړی . کله چې هغه ورسره د ګرځیدو راګرځیدو جوګه شو نو د ذبح کولو حکم ئې ورکړې شو . نو د واقعاتو داټوله سلسله ښائی چې دا د ابراهیم ﷺ رومبې خوئې وو اودا اتفاقی خبره ده چې رومبې خوئې ئې اسماعیل ﷺ دې او اسحاق ﷺ ئې دویم خوئې دې . څکه په دې کښې هیڅ شک نه پاتې کیږی چې ذبیح اسماعیل ﷺ وو

⑤ دا خبره هم تقریبا په ډاګه شوې ده چې دخوئې د قربانئ دا واقعه د مکې مکرمې په خواؤ شا کښې راپیښه شوې وه . څکه په اهل عربو کښې د حج په دوران کښې په مخه دا طریقه روانه پاتې شوې ده . چې دوئ به قربانی کوله ، بلـه دا چې د ابراهیم ﷺ د خوئې په بدل کښې چې کوم ګډ قربانی کړې شوې وو دهغې ښکرونه په کلونو کلونو په کعبه شریفه کښې آویزان پاتې شوی وو لکه حافظ ابن کثیر رحمه الله ددې په تائید کښې څو روایتونه نقل کړی دی او د عامر شعبی رحمه الله دا قول ئې هم ذکر کړې دې چې ما د ګډ [په] دغه ښکرونه په کعبه کښې پخپله آویزان لیدلی دی [ابن کثیر ص/۱۸ جلد/۴] [1] او سفیان فرمائیلې دی چې ددې ګډ ښکرونه په کعبه شریفه کښې په مخه آویزان پاتې شوې وؤ تر دې چې په هغې اور اوسوځیدل کوم چې د حجاج بن یوسف په زمانه کښې په خانه کعبه کښې لګیدلې وو [ایضا ص/۱۷ جلد/۲] [2] اوس دا خبره ښکاره ده چې په مکه مکرمه کښې اسماعیل ﷺ استوګنه کړیده اسحاق ﷺ نه ده کړې . په دې بنا داخبره په ډاګه شوه چې د ذبح حکم د اسماعیل ﷺ په باره کښې شوې وو د اسحاق ﷺ باره کښې نه وو شوې پاتې شو هغه روایتونه چې هغوئ کښې د مختلفو صحابه کرامو او تابعینو باره کښې ذکر دی چې اسماعیل ﷺ ذبیح ګرځولې دې نو په دې باره کښې حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چې

---

[1]) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة: ج ۰۷ ص ۲۹
[2]) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآیة: ج ۰۷ ص ۲۹

د عمر رضی الله عنه د کعب الاحبار څخه سماع: الله ﷻ ښه پوهیږي خو په ظاهره د دا ټولې خبرې د کعب الاحبار رحمه الله نه راخستې شوې دي داسې معلومیږي چې هغوی کله د عمرفاروق رضی الله عنه په زمانه کښې اسلام راؤړو نو عمر فاروق رضی الله عنه ته به ئې د خپلو زړو کتابونو نه خبرې آورولې چې د هغوی په آوریدو سره نورو ته هم دا موقعه په ګوتو ورغله چې هغوی به ئې هم خبرې آوریدلې او د هغې نقل کول ئې شروع کړل په دې کښې هر قسم یقیني اوغیر یقیني خبرې راجمع شوې وې سره ددې چې دې امت ته د دغې خبرو هیڅ ضرورت نشته والله اعلم [تفسیر ابن کثیر ص/۱۷ جلد/۴] (۱)

اسحاق علیه السلام لره د ذبیح ګرځولو بنیاد: د حافظ ابن کثیر رحمه الله دا خبره قیاس سره نزدې معلومیږي ولې چې د اسحاق علیه السلام ذبیح ګرځولو بنیاد په اسرائیلي روایتونو باندې قائم کړې شوې دې او هم دا وجه ده چې یهود او نصرانیان اسحاق علیه السلام ته ذبیح وائي موجوده بائیبل کښې دا واقعه په دې الفاظو کښې بیان کړې شوې ده چې ددې خبرونه پس داسې اوشو چې الله ﷻ په ابراهام علیه السلام باندې آزمیښت اوکړو او ورته ئې اوفرمائیل چې ائې ابراهم علیه السلام هغوی علیه السلام اووئیل چې زه حاضر یم بیا الله ﷻ اوفرمائل ته خپل ایکې یو خوئې اضحق علیه السلام چې ته ورسره مینه کوې خان سره کړه ، د موریاه ملک ته لاړ شه او هلته په یو غر باندې چې زه به ئې درته اوښایم د سوځیدونکې قربانۍ په ډول اوخیژوه [پیدائش ۲ ۲۲]

اسماعیل علیه السلام د موریو ګوټي: په دې کښې د ذبح واقعه اسحاق علیه السلام ته منسوب کړې شوې ده خو که د انصاف او تحقیق نه کار واخستې شي نوصفا معلومیږي چې دلته یهودیانو د خپل روایتي تعصب نه کار اخستې دې او د تورات په عبارت کښې ئې بدلون کړې دې ولې چې د کتاب پیدائش په دغه بیان شوی عبارت کښې د ایکې یو خوئې لفظ بانې چې ابراهیم علیه السلام ته د ایکې یو خوئې دقربانۍ کولو حکم ورکړې شوې وو ، نو هم په دغه باب کښې دې پسې لیکې چې تاخپل ایکې یو خوئې هم ما نه منع نه کړو [پیدائش ۲۲ ۲]

د ابراهیم علیه السلام د ایکې یو ځوئې مصداق: دې جمله کښې په ډاګه داخبره موجود ده چې دغه خوئې دابراهیم علیه السلام ایکې یو خوئې وو ، خو بل خوا دا خبره یقیني ده چې اسحاق علیه السلام د هغوی علیه السلام ایکې یواځې خوئې نه وو بلکه دهغوی علیه السلام ایکې یواځې خوئې اسماعیل علیه السلام وو نو هم د پیدائش نور عبارتونه ددې ګواهي ورکوي چې د اسماعیل علیه السلام پیدا کیدل د اسحاق علیه السلام نه ډیر وړاندې دي

اوګورئي .ود ابرام علیه السلام بي بي ساره څه اولاد او نه شو دهغوی علیه السلام یوه مصرئي وینځه وه

---

(۱) تفسیر ابن کثیر تحت هذه الآية: ج ۷، ص ۳۲

چې هاجره نوم ئې وو چې هغوئ ﷺ ورته نزدې شو نو د هغې اولاد اوشو د الله ﷻ فرښتې ورته اوونیل چې ته اوس بارداره ئې خوئې به دې کیږي د هغه نوم اسماعیل ﷺ کیږده کله چې اسماعیل ﷺ د هغې نه پیدا شو نو د ابرام ﷺ عمر شپږاتیال کاله وو.. [پیدائش باب ۱۲ آیتونه او ۴ وه او ۱۲] د غه شان نور عبارتونه هم په دې دلالت کوي چې ذبیح اسمعیل علیه السلام وو اسحاق علیه السلام نه وو

د اسحاق علیه السلام د اسماعیل علیه السلام څخه کشروالې: دې عبارتونو نه په ډاګه معلومیږي چې اسحاق ﷺ د اسماعیل ﷺ نه څوارلس کاله کشر وو. تر دغې وخته پورې د ابراهیم ﷺ ایکی یوخوئې وو ، اوس ددې نه پس کله چې د کتاب پیدائش په دوه ویشتم باب کښې د خوئې د قربانئ بیان راځی نو په هغې کښې د لفظ ایکی یو ددې خبر ګواهی ورکوي چې دې نه مراد اسماعیل ﷺ دې ، او چا یهودي دې سره د اسحاق ﷺ لفظ ځنې په دې غرض لګولې دې چې دا فضیلت د بنی اسماعیلو ﷺ په ځائې بنی اسحاق ﷺ ته حصل شي

د اسحاق علیه السلام ذبیح نه کیدویو بل دلیل: دې نه علاوه د بائیبل هم په دې کتاب د پیدائش کښې چرته چې د اسحاق ﷺ دپیداکیدو زیرې ابراهیم ﷺ ته ورکړې شوې دې . هلته دا هم بیان شوېدې چې . یقینا زه ده ته [یعني اسحاق ﷺ ته] برکت ورکړم چې قومونه به ددوئ د نسل نه وي. [پیدائش ۱۷ ۱۲]

اوس ښکاره خبره ده چې دکوم خوئې باره کښې د هغه د پیدا کیدو نه وړاندې دا خبر ورکړې شوې وي چې هغه به صاحب اولاد وي او قومونه به د هغه د نسل نه وي . د هغه د قربانولو حکم څنګه ورکولې شي ؟ دې نه هم دا معلومیږي چې داحکم د اسحاق ﷺ باره کښې نه بلکه د اسماعیل ﷺ باره کښې وو

د یهودو د باطل خیال تردید: ﴿وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ مُبِينٌ﴾ د بائیبل ددې عبارتونو ملاحظه کولو سره دا اندازه کیدیشی چې ددې دواړو په نسل کښې ښینې بنه هم دی او خینې داسې هم دی چې په ډاګه خپل زیان کوي ددې آیت تر مخه د یهودو هغه باطل خیال رد کړې شوې دې چې دوئ به د تولو نه زیات دانسان غور والې دا ګڼړلو چې د پیغمبرانو ﷺ په اولاد کښې وي او هم دا به ئې د فضیلت او دنجات ذریعه ګڼړله ، ددې آیت مبارک ترمخه دا خبره په ډاګه شوه چې د انسان نسبي تعلق هیڅ پکار نه راځي بلکه نجات او کامیابي وغیره په خپل عمل سره ملاویږي

[١٥]كِتَابُ القِصَاصِ

دقصاص بيان

خلاصة الباب:

فيه أربعة وثلاثون حديثا مشتملة على تسعة مسائل:

① حل إراقة الدم بالقصاص:١، ١٢،١١، ١٨، ٢٥، ٢٧، ٢٨، ٣١، ٣٤.

② عظمة جريمة القتل بغيرحق:٢، ٣، ٥، ۶، ٩، ١٥، ١۶، ١٧، ١٩، ٢٠، ٣٢، ٣٣.

③ القصاص الأخروى في إهلاک نفسه وعضوه:٧، ٨، ١٠،

④ الدية وقت عفوالقصاص: ١١، ١٣، ١۴، ٢٥، ٢٧،

⑤ قصاص الأطراف:١٣،٢٤ .

⑥ موانع القصاص: ۴، ١۴، ٢١، ٢٣، ٢۴،٢۶.

⑦ عدم الأخذ بجناية الغير:٢١، ٢٢.

⑧ الزجربالقتل بعدأخذ الدية:٢٧، ٢٩،

⑨ الترغيب في عفو القصاص: ٣٠،

دقصاص لغوى معانى:① قص يقص باب نصر ينصر نه قصاپرې كولومعنى كنبې دې قص الشعر يعنى په قينچئى سره ئى ويښته پرې كړل

② قصاص د بيان وركولوپه معنى كنبې هم راځى البته صله راوړلوسره ئى فرق كيږى "قص اثره" دا د شاته تللو سره خاص دې لكه "فارتدا على آثارهما قصصا" او "قص الخبرقصصا" دا خبرور كولو او بيان كولوسره خاص دې لكه

③د نصرينصرد باب نه كه مصدر "قصصا" راشى نود چاد خپوپه نښوباندې شاشاته تللوته وائى

④ قصاص د بدله او انتقام اخستلو په معنى كنبې دې او ﴿وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ﴾ د مساوات او برابرئى په معنى كنبې دې

په لغوى ۔ شرعى قصاص كنبې مناسبت: په شرعى قصاص كنبې پرې كول اوشاته د تللو په مفهوم كنبې دې ځكه چه د مقتول وارث د بدله اخستلو په غرض سره قاتل پسې شاشاته ځى دې دپاره چه په دې باندې قابوبيا اومومى دغه شان پرې كړى لكه چه دې قاتل مقتول پرې كړې وو هم د دغه ځانى نه په دې كنبې د مساوات مفهوم هم راغلې لهذا په لغوى توګه هم په قصاص كنبې بدله اخستل. مساوات.د قاتل لتمون اود هغه د پرې كولومفهوم موجود دې

دقصاص شرعى تعريف: د شريعت په اصطلاح كنبې د قصاص تعريف داسې دې "القصاص

هوان يفعل بالفاعل مثل ما فعل۔ یعنی قاتل یا جارح سره هم هغه څه کول کوم چه هغه کړی دی اسلامی عادلانه نظام کښې قصاص صرف په قتل عمد کښې کیږی په دې وجه دلته دَ قتل اقسام بیانول ضروری دی

دناجائزه قتل پنځه قسمونه: ① قتل عمد ، داهغه قتل دې چه قصداً عمداً څوك په تيره څيزيا ټوپك سره اووژنی

② قتل شبه عمد ، داهغه قتل دې چه په قصد سره بغیر دَقتل دَ آله نه اووژنی.

③ قتل خطاء، دَدې دوه صورتونه دی

(الف) اول قتل خطاء فی القصد دې داهغه قتل دې چه دَلرې نه ئی یو څیز اولیدلو اوخیال ئی اوکړو چه دا ښکاردې هغې طرف ته ئی غشې اوویشتلو یائی په هغې ګولئی اوچلوله اوهغه په حقیقت کښې سړې وو په ګولئی لګیدو سره مړشو.

(ب) دویم قتل خطاء فی الفعل دې چه ګولئی په نښه باندې اوویشتله مګر لاس ئی خطاشو یا ګولئ خطا شوه په سړی باندې اولګیدله او هغه مړشو دادواړه صورتونه دَ قتل خطاء دی

④ جاری مجرای خطاء، یعنی دَ خطاء په ځائی، داهغه قتل دې چه مثلاً یوسړې په کټ باندې اوده وی او په خوب کښې واوړی په چا راپریوځی اوهغه په دې سره مړشی

⑤ قتل تسبب، دَدې صورت دادې چه یوسړی دَ بل په زمکه کښې کوهې اوکنستلو هلته څوك پریوتلو اومړشو. یادلرئی دَ قتل دَ قسمونودا تعریفات دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په مسلك دی دَ نورو ائمه حضراتو په تعریفاتوکښې لږ شان فرق دې.

د قتل موجبات: ① دَ قتل عمد موجب یوخوګناه کبیره ده دویم قصاص دې اودریم دَمقتول میراث نه دَ قاتل محروم کیدل دی.

② قتل شبه عمد دَ وجې نه ګناه کیږی قاتل دَ میراث نه محروم کیږی په قاتل باندې کفاره لازم راځی یعنی غلام آزادول یا دوه میاشتې روژې ساتل او دیت مغلظه اداکول چه دَ قاتل په عاقله باندې به راځی

③ قتل خطاء او جاری مجرای خطاء دَ وجې نه قاتل دَمقتول دَ میراث نه محروم کیږی په قاتل باندې کفاره راځی اودَ قاتل په عاقله باندې دیت راځی په دې کښې ګناه نشته دې اودَ بې احتیاطئی جرمانه کفاره ده

④ قتل بسبب کښې عاقله باندې دیت راځی

په قتل عمل کښې د قصاص اجراء: دا خبره یادساتئی چه قصاص صرف قتل عمد کښې وی قتل شبه عمد یا قتل خطاء یاجاری مجرای خطاء کښې قصاص نشته دې.

د مقتول اولیاؤ اود قصاص حق: بله داخبره یادساتئی چه دَ قصاص حق اګرکه دَ مقتول دَ وارثانودې

د قصاص د نفاذ حقدار: دَقصاص نافذ کول اوددې دتنفیذ حق وارثانوته حاصل نه دې بلکه دَنافذ کولوحق حکومت وخت ته حاصل دې خکه چه که هرسړي په ذاتی توګه قصاص اخستل شروع کړی نودَ امن په ځائي به بدامنی خوریږی خکه چه دَ مقتول ورثاء دَغصې نه مغلوب کیدوسره حدود قصاص نه تجاوز کولې شی بل دَ قصاص کولو تفصیلات اوددې دَ واجب کیدو باریک نکات دومره زیات دی چه هرسړې ددې دَ پوهیدو نه قاصر اوعاجزدې په دې وجه دَ اسلامی عدالت طرف ته رجوع کول ضروری دی باقی دَ دنیاداموجوده دَ پهانسئی نظام قصاص نه دې

په قصاص کښې د حیات کیدو مطلب: بله داخبره هم یاده ساتل پکاردی چه قصاص کول دَ خلقو دَ ژوند دَ بقاء او دَحفاظت ذریعه ده خکه چه دَ یوسړی دَ قصاص کیدوسره ډیرو خانونوته تحفظ ملاویږی. په سعودی حکومت کښې صرف دَقصاص نظام قائم دې دَ کوم په وجه چه هلته مکمل امن اوامان دې. دَ قصاص نه علاوه هلته دَ نور شرعی حدود نفاذ نشته دې په افغانستان کښې دَ طالبانو اسلامی خلافت په دورکښې چه کوم وخت دَ حدود اوقصاص نفاذ وو نوهلته څنګه یو مثالی امن وو. په حدود او قصاص کښې دَ فرق بیان ان شاء الله کتاب الحدود کښې راځی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳٤٤٦] د مسلمان د وینې حرمت

[۱] (۱) ١ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِءٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنِّي رَسُوْلُ اللّٰهِ ٣ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: ٤ اَلنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، ٥ وَالثَّيِّبُ الزَّانِي، ٦ وَالْمَارِقُ لِدِيْنِهِ التَّارِكُ لِلْجَمَاعَةِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ د حضرت عبد الله ابن مسعود ﵁ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د مسلم انسان. چې د دې امر شهادت ورکړي، چې د الله ﷻ نه ماسوا بل معبود نشته او بلا شکه زه د الله ﷻ رسول یم. ٣ نو د هغه وینه بهیول جائز نه دی، خو دا چې په دې درېو خبرو کې څه یوه خبره پیښه شي. ٤ ① عمداً قتل کول چې د وینی په باره کې وینه وآخستې شي (یعني قصاص) وآخستې شي (لیکن دا د مقتول د ولي حق دی. چې هغه په دې باره کې د شریعت د مقرر کړو اصول مطابق د قاتل نه بدله واخلي) ٥ ② د واده شوی (مسلمان، مکلف او آزاد) زنا کول (چې هغه سنګسار کړل شي) ٦ ③ د خپل دین نه

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدیات/باب قول الله تعالی: {أنّ النّفس بالنّفس والعین بالعین والأنف بالأنف والأذن بالأذن والسّنّ بالسّنّ والجروح قصاص فمن تصدّق به فهو کفّارة له ومن لم یحکم بما أنزل الله فأولئک هم الظّالمون} [المائدة: ٤٥](رقم-٦٨٧٨) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربین والقصاص والدّیات/باب ما یباح به دم المسلم(رقم-٢٥ - (١٦٧٦)

وتونكي او خپل جماعت پریښودونكی ،یعني كوم مسلمان چې مرتد شي د هغه قتلول جائز دي. بخاري. مسلم

حل اللغات ① الثَّيِّبُ: واده شوي. ② المَارِقُ: وتونكي، خارج كيدونكي.

تسهیلات: قوله: النَّفْسُ بِالنَّفْسِ:

په قصاص كښي د صفاتو په اعتبار كښي ۲ مذاهب:

په دې كښې اختلاف دې چه آیا صرف دَ ذات انسانی لحاظ به كولې شي یا دَ جنس او ایسانی صفاتو به هم اعتبار كولې شي. یعنی حریت وعبدیت ذكورت وانوثت اواسلامیت وذمیت لحاظ به هم وی كه نه؟

① جمهور فرمائی چه دَ صفاتو لحاظ به ساتلې شی كه یو حریعنی آزاد سړی څوك غلام قتل كړو نو حر به دَ غلام په قصاص كښې نه شی وژلې او حر دَ حر په بدله كښې او عبد دَ عبد په بدله كښې به وژلې شی.

② دَ ائمه احناف په نیز قصاص كښې دَ ذات انسانی اعتبار دې دَ دې زیاتی صفاتو اعتبار نشته دې. لهذا دَ عبد په بدله كښې به دَ حر نه قصاص اخستلې شی بل دَ ښځې په بدله كښې به سړې قتل كولې شی.

داول فریق دلیل: آیت ﴿الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى﴾ [سورت بقره ۱۷۸]. د دوی مستدل دې طریقه دَ استدلال داسې دې چه دَ آیت مفهوم مخالف اخستې شوې دې نو دَ حر په بدله كښې حر دې بل څوك نه دې او دَ عبد په بدله كښې صرف هم عبد دې بل څوك نه دې په دې وجه به دَ عبد په وژلو سره دَ حر نه قصاص نه شی اخستې نو كه یو حر څوك غلام قتل كړو نو دَ دغه آزاد نه به قصاص نه شی اخستې

د اول فریق د دلیل جوابونه: ① دویم فریق وائی ونږ دَ مفهوم مخالف قائل نه یو مونږ دَ آیت نه ستاسو مفهوم مخالف اخستل نه منو نو ستاسو استدلال په مونږ باندې هیڅ حجت نه دې

② دَ آیت مطلب او مفهوم دا دې چه په دې آیت كښې الله تعالی دَ جاهلیت یو نظام ختم كړې دې په ایام جاهلیت كښې به داسې كیدل چه صاحب شان او شریف قوم سړی بدله كښې به هغه خلقو وضیع كمزورې او دَ كم خاندان دوه سړی وژل دَ شریف قوم دَ غلام په بدله كښې به دَ ښكته قوم آزاد سړې قتل كیدو دَ ښځې په بدله كښې به سړې وژلې شو دا غلط رواج په دې آیت كښې مات كړې شو بل دلته مفهوم مخالف نشی اخستې څكه چه دَ منطوق په موجودگئی كښې دَ مفهوم اعتبار نشته

③ دا الزامی جواب هم دویم فریق وركړې دې چه تاسو دَ كوم آیت نه استدلال كړې دې په دې كښې دَ ښځې په بدله كښې دَ ښځې ذكر دې حالانكه تاسو منئی چه كه ښځې سړې

قتل کړو یا سړی ښځه قتل کړه نو په دواړو کښې به قصاص جاری کیږی نود خپلې ضابطې مطابق اول فریق پخپله په آیت (وَالْاُنْثٰی بِالْاُنْثٰی) باندې عمل اونه کړو

د دویم فریق دلائل: دا آیت د دویم فریق مستدل دې ﴿اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ﴾ [سورت مائده الایه ۴۵.]

② دویم دلیل دا آیت دې ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ [سورت بقره ۱۷۹.]

③ دا آیت هم د دوی مستدل دې ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى﴾ [سورت بقره ۱۷۸]

په دې ټولو آیاتونو کښې مطلق د ذات انسانی ذکر دې او په دې کښې دافرق نشته چه څوك په کوم صفت باندې متصف دې صرف د خان په بدله کښې د خان ذکر دې

④ زیربحث حدیث هم د دوی مستدل دې په دې کښې مطلق نفس په مقابله کښې مطلق نفس ذکر راغلې دې د څه زیاتی صفت ذکر نشته دې.

قوله وَالثَّيِّبُ الزَّانِي:

د واده کړی د زنا سزا: یعنی واده کړې سړې چه خلوت صحیحه کونکې وی مسلمان وی مکلف او آزاد وی که د زنا ارتکاب اوکړی نو هغه به سنګسارکولې شی

قوله وَالْمَارِقُ لِدِينِهِ:

د مرتد د قتل حکم: مارق د وتلو په معنی کښې دې دلته خپل دین پریخودو سره وتونکې یعنی دین اسلام پریخودونکی ته مارق وئیلې شوې دې اود دې نه پس "التارك" الفاظ د دې د پاره په صورت د صفت مؤکده راوړلې شوې دی یعنی کوم سړې چه قولاً فعلاً یا اعتقاداً د دین اسلام نه مرتد شی نودریو ورځو پورې به هغه پوهه کولې شی که توبه نی اوکړه خو ټیك ده ګنی هغه به قتل کولې شی په دې کښې د ټولو فقهاؤ اتفاق دې که ښځه مرتده شی نوهغه به قتل کولې شی که نه؟ په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې

د مرتدې ښځې په قتلولو کښې ۲ مذاهب:

① جمهور علماء فرمانی چه د دې حدیث عموم په رڼا کښې ښځه به هم د ارتداد په سزا کښې قتل کولې شی

② ائمه احناف فرمانی د ارتداد په سزا کښې به ښځه قید کولې شی او قتل کولې به نه شی

داول فریق دلائل: ① د بخاری شریف حدیث "من بدل دینه فاقتلوه" حدیث داول فریق مستدل دې

② نبی کریم حضرت معاذ ﷺ ته اوفرمائیل ((ايما امرأة ارتدت عن الاسلام فادعها فان عادت والا فاضرب عنقها))

داول فریق د اول او دویم دلیل صحیح جواب: د دې ټولو دلائلو دا جواب دې چه د دې

عموم نه د ښځې حکم مستثنی دې اود مذکوره روایاتونه په دې عموم کښې تخصیص راغلې دې

③ عقلي دلیل دادې چه کوم جنایت سړی کړې دې د ارتداد هم دغه جنایت ښځې هم کړې دې نو د دواړو سزا هم یوشان کیدل پکاردی

دعقلي دلیلي جواب: سړی په ښځوباندې دلته نه شی قیاس کولې ځکه چه سړی د جنګ میدان ته ځی اودکافرانو امداد کولې شی اوښځه دا امداد نه شی کولې د دې حدیث نه ثابته شوه چه د اسلام قبلولو نه پس د چا د قتل اسباب هم دغه درې کیدې شی جمهورو د تارک الصلوة د قتل حکم هم ورکړې دې لیکن احناف د ده د قتل قائل نه دی او د هغه په جیل کښې د بندولو قائل دی.

د دویم فریق دلائل: ① رسول الله ﷺ د ښځو اوبچو د قتل کولونه منع فرمانیلې ده ((نهی عن قتل النساء والصبیان)) (ترمذی، ابوداؤد)

② د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې د کوم الفاظ چه داسې دی ((وایما امرأة ارتدت عن الاسلام فادعها فان تابت فاقبل منها وان ابت فاستتبها)) (معجم طبرانی، بحواله زجاجة المصابیح ۴/۳) یعنی که مرتده ښځه توبه نه کوی نوبیا هم په هغې د توبه کولو کوشش اوکړئ

③ په نه قتلولو کښې یوحکمت اوعلت شته اوهغه دا چه ښځه ناقصة العقل ده نو د یوحده پورې معذوره ده د پوهه کولوکوشش اوکړئ. بله ښځه د جنګ کونکونه نه ده که مرتده شی نودښمن ته امداد نه شی ورکولې په خلاف د سړو چه هغوی د جنګ کونکونه دی نودوی به دریو ورځو پورې پوهه کولې شی که منع شو نوتیك ده ګنی قتل کولې به شی

[۳۴۴۷] د قاتل مسلمان د ویني عدم حرمت

۳۴۴۷–[۲] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «لَنْ يَزَالَ الْمُؤْمِنُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَالَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د خو پورې چې يو مسلمان د خون حرام (يعني د ناحق) قتل مرتکب نه وي، نو هغه هميشه د خپل دين په وسعت او فراخي کې وي. (بخاري)

حل اللغات ① لَنْ يَزَالَ: هميشه. ② فُسْحَةٍ: وسعت، فراخي

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدیات/باب قول الله تعالی: {ومن یقتل مؤمنا متعمدا فجزاؤه جهنم} [النساء: ۹۳] (رقم-۶۸۶۲)

تسهيلات:

قوله مَالَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا

د مذكوره جملې په مفهوم كښې څلور اقوال: ① ابن الملك رحمه الله فرمائي د كوم كس نه د قتل دا خراب فعل نه صادريږي مگر د حق نه علاوه (يعنى حدود وقصاص) نو الله ﷻ دهغه دپاره ديني امور آسانوي او ده ته د نيكو عملونو توفيق وركوي

② امام طيبي رحمه الله فرمائي كوم كس څوك په ناحقه نه قتلوي نو هغه ته دالله ﷻ دطرفه د رحمت او بخښش اميد وى اگر چې دده نه نور كبائر صادر شى ليكن كله چې دې د قتل كولو حرام جرم كوى نو په ده باندې د رحمت دروازه بنده شى ،بيا دې دهغه خلقو په زمره كښې شامليږى كوم چې دالله ﷻ د رحمت نه نااميده وى لكه څنگه چې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت كښې دى چې (من أعان على قتل مؤمن ولو بشطر كلمة لقى الله مكتوب بين عينيه آيس من رحمة الله) كوم كس چې د مؤمن په قتل كښې د يوې كلمې ونيلو برابر هم شريك شى (كلمة نه مراد ا ، ق دى) نو دې به د الله ﷻ سره داسې حال كښې ملاقات كوى چې دده د دواړو سترگو په مينځ كښې به ليكلې شوى وى چې دې دالله ﷻ د رحمت نه مايوسه دې

③ عند البعض ظالم قاتل ته په دنيا كښې د نيكو اعمالو كولو توفيق نه ملاويږى

④ دا حديث پاك په تغليظ و تشديد باندې محمول دې (مرقاة ج ۷ص ۴۸)

[۲۴۴۸] د قيامت په ورځ حقوق العباد كښې د تولو څخه اولنې فيصله

٣٤٤٨-[٣] (١) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ③ فِي الدِّمَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د قيامت په ورځ د تولو نه مخكې چې د كوم څيز فيصله كيږي ③ هغه خون دى. (بخاري، مسلم)

حل اللغات ① الدِّمَاءِ: جمع د دم ده وينه ، قتل

تسهيلات:

قوله أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

داول تپوس په احاديثو كښې تعارض: دلته په دې حديث كښې خودلې شوى دى چه د قيامت په ورځ به د تولو نه مخكښې د قتل حساب شروع كيږى او د ترمذى وغيره په نورو

١) اخرجه البخارى فى كتاب الديات/باب قول الله تعالى: {ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاؤه جهنم} [النساء: ٩٣] (رقم-٦٨٦٤) ومسلم فى كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات/باب المجازاة بالدماء فى الآخرة. وأنها أول ما يقضى فيه بين الناس يوم القيامة (رقم-٢٨ - (١٦٧٨)

روایاتوکښې دَمونځ ذکردې چه دَدې حساب اوفیصله به دَ ټولو نه مخکښې کیږي. په دوارو روایتونوکښې واضح تعارض دې

دَ تعارض دری جوابونه: ① په عبادتونوکښې به دَ ټولو نه مخکښې دَ مانځه قضیه پیش کولې شي او په معاملات کښې به دَ ټولونه مخکښې دَ قتل قضیه اوچتولې شي

② اوامر او مامورات کښې به دَ ټولو نه اول دَمونځ حساب اخستلې شي اومنهیات اوامور منهیه کښې دَټولو نه مخکښې دَ ناحق وینې حساب به کیږي

③ حقوق الله کښې به دَ ټولو نه مخکښې فیصله دَ مانځه کیږي. پخوانوجماتونو کښې به اکثردا شعر لیکلې شوي وو. او په حقوق العباد کښې دَ ټولو نه مخکښې فیصله به دَ دماء یعنې دَ وینې کیږي نوهیڅ تعارض نشته دې

[۲۴۴۹] دَ کلمې په وئیلو دوینې حرمت

۳۴۴۹–[۳] (۱) ① «وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: ② يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَقِيتُ رَجُلًا مِنَ الْكُفَّارِ فَاقْتَتَلْنَا، ③ فَضَرَبَ إِحْدَى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا، ④ ثُمَّ لَاذَ مِنِّي بِشَجَرَةٍ، ⑤ فَقَالَ: أَسْلَمْتُ لِلَّهِ - ⑥ وَفِي رِوَايَةٍ: فَلَمَّا أَهْوَيْتُ لِأَقْتُلَهُ ⑦ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ - أَأَقْتُلُهُ بَعْدَ أَنْ قَالَهَا؟ ⑧ قَالَ: "لَا تَقْتُلْهُ".

ترجمه: ① او د حضرت مقداد ابن اسود رضي الله عنه نه روایت دی چې هغه عرض اوکړو ② چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وښایه که زه یو کافر پیداکړم اوموږسره وجنګیږو ③ او هغه کافر زما په یو لاس د توري ګذار کولو سره هغه پریکړي، ④ او بیا د یوی ونې په خوا کې زما نه پناه نیولو سره ⑤ دا اووائي، چې زه د الله جل جلاله د پاره مسلمان شوم، ⑥ او په یو روایت کې دا دي، او څنګه چې زه د هغه د قتلولو اراده وکړم، ⑦ هغه اووائي چې لَاإِلٰهَ إِلَّا اللهُ، نو آیا زه د هغه د ژبې نه دا الفاظ وتلو نه روسته، هغه قتلولی شم؟ ⑧ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل (د دې باوجود) هغه مه قتلوه، مقداد وایي

حل اللغات: ① أَرَأَيْتَ: ماته خبرراکړئ، ② لَاذَ: لَاذَ، يَلُوذُ پناه اخستل، ③ أَهْوَيْتُ: زه ورَ ښکته شوم ④ بِشَجَرَةٍ: ونه

① فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّهُ قَطَعَ إِحْدَى يَدَيَّ. ② فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (لَا تَقْتُلْهُ، فَإِنْ قَتَلْتَهُ فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ أَنْ تَقْتُلَهُ ③ وَإِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ كَلِمَتَهُ الَّتِي قَالَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ما عرض اوکړو چې اي دالله رسوله هغه زمایولاس کټ کړیدي ②. رسول علیه السلام وفرمایل چې مه یې قتلوه ځکه که ته هغه قتل کړي، نو هغه به هغه ځای ته ورسیږي. ③ کوم ځای چې ته د هغه د قتلولو نه مخکې وي، او ته به هغه ځای ته ورسیږي،

۱) اخرجه البخاري في كتاب الدّيات/باب قول الله تعالى: {ومن يقتل مؤمنا متعمّدا فجزاؤه جهنّم} [النساء: ۹۳] (رقم-۶۸۶۵) ومسلم في كتاب الإيمان/باب تحريم قتل الكافر بعد أن قال: لا إله إلّا الله(رقم-۱۵۵ - (۹۵)

چرته چې هغه د کلمې ویلو نه مخکې وو، یعنې ته به جهنمې شې هغه به جنتې شي.
بخاري، مسلم

تسهیلات:

قوله فَإِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ

د حدیث په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنې هغه به د ایمان اومؤمن په خانې شې "وانك بمنزلته" یعنې تاسو به د کفر په خانې باندې راشئې دا حکم تشدیداً تغلیظاً او زجراً دې "قاله الطیبي"

② د دغه غیر مسلم د کلمې ونیلونه پس که چرې تاسو هغه قتل کړو نولکه څنګه چه اول تاسو د هغه د قتل کولونه مخکښې محفوظ الدم وئې اوس هغه محفوظ الدم شو اوهغه د قتل د وجې نه اوس تاسو غیر محفوظ الدم شوئې اوڅنګه چه هغه مخکښې د اسلام راوړلونه غیر محفوظ وو اوس تاسو د هغه د قتل د وجې نه غیر محفوظ شوئې خلاصه دا چه د اسلام راوړلونه مخکښې د کفر د وجې نه د هغه قتل کول چه څنګه صحیح وو اوس د اسلام راوړلونه پس د هغه په قتل کولو سره ستاسو قتل صحیح شو الکاشف ۱۶/۷.

یوه فقهي مسئله: قاضي عیاض رحمه الله د دې حدیث نه دامسئله راویستلې ده چه په مکره باندې د اکراه په صورت کښې هم د هغه اسلام قبول او معتبر دې

[۳٤۵۰] د کلمه ګو د قتلولو عدم جواز

---[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: [۲] «بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أُنَاسٍ مِنْ جُهَيْنَةَ [۳] فَأَتَيْتُ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ، فَذَهَبْتُ أَطْعَنُهُ، [۴] فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، [۵] فَطَعَنْتُهُ فَقَتَلْتُهُ، [۶] فَجِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، [۷] فَقَالَ: "أَقَتَلْتَهُ وَقَدْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ؟"

ترجمه: [۱] او حضرت اسامه ابن زید رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ مونږ د قبیله جهینه د خلقو د مقابلې د پاره ولیږلو. [۳] نو (د هغوی د مقابلې په دوران کې) ما په یو سړي په نیزې سره حمله کول وغوښتل. [۴] چې هغه اوویل لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، [۵] لیکن ما په هغه کې نیزه پیوست کولو سره هغه مې قتل کړي. [۶] بیا چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې واپس راغلم، او دا واقعه مې ورته بیان کړه. [۷] نو حضور ﷺ وفرمایل (صد آفسوس) تا هغه په داسې صورت کې قتل کړي چې هغه لَا إِلَهَ إِلَّا الله ویلې وه.

حل اللغات: ① أُنَاسٍ: خلق. ② أَطْعَنُهُ: په نیزه مې پرې حمله اوکړه.

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الديات/باب قول الله تعالى: {ومن أحياها} [المائدة: ۳۲] (رقم-۶۸۷۲) ومسلم في كتاب الإيمان/باب تحريم قتل الكافر بعد أن قال: لا إله إلا الله (رقم-۱۵۸ - (۹۶)

[۱] قُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ! [۲] إِنَّمَا فَعَلَ ذٰلِكَ تَعَوُّذًا. [۳] قَالَ: "فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ»؟ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ما عرض وکړو، چې یا رسول الله! ﷺ [۲] هغه خومحض د قتل نه د خان ساتلو د پاره کلمه ویلې وه [۳] حضور ﷺ وفرمایل چې تا د هغه زړه شلولو سره ولې ونه کتلی

حل اللغات: ① تَعَوُّذًا: دخان ساتلو دپاره. ② فَهَلَّا شَقَقْتَ: نو تا ولې اونه څیرلو. اونه شلولو

۳۳۰۵- (۱) [۱] وَفِي رِوَايَةِ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ إِذَا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟" [۳] قَالَهُ مِرَارًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] و جندوب رضی الله عنه ابن عبد الله بجلي چې کوم روايت نقل کړي دی په هغه کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې د قیامت په ورځ کلمه لَاإِلٰـهَ إِلَّااللّٰه د خپل ویونکي یعني د مقتول، د طرف نه جګړه کولو سره تاته راشي. نو هغه وخت به ته څه جواب ورکوې؟ [۳] حضور ﷺ (دخوف ورکولو د پاره) دا الفاظ څو څله ارشاد وفرمایل، مسلم.

حل اللغات: ① كَيْفَ تَصْنَعُ: ته به څه کوې، څه جواب به ورکوې؟ ② مِرَارًا: باربار. څو څو څله.

تسهیلات: قوله: جُهَيْنَةَ:

د حضرت اسامه رضی الله عنه یو نو مسلم لره د قتلولو واقعه: حضرت اسامه رضی الله عنه په دې لښکر اوفوجې دسته کښې دَ قبیله جهینه طرف ته دَهغه دَ ملګروسره نبی کریم روان کړي وو (فهلا شققت عن قلبه) حضرت اسامه رضی الله عنه سوچ اوکړو چه داسړي صرف دَ ویرې دَوجې نه کلمه وائی اودَ ژبې په څوکه باندې دَ خان بچ کولودپاره کلمه وائی اودَ ده په زړه کښې ایمان نشته دې لهذا دَده قتل کول جائزدی یا حضرت اسامه رضی الله عنه دا اجتهاداوکړو کله چه زما توره دَهغه دَ سټ پورې رسیدلې ده، نیزه دَ هغه طرف ته وړاندې شوې ده نو په دې حالت غرغره کښې دَ دغه سړی ایمان معتبرنه دې

قوله فَهَلَّا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهِ:

خو نبی کریم دَحضرت اسامه خیال اواجتهاد غیرصحیح اوګرخولو اووئی فرمائیله چه کله دغه سړی کلمه ونیلې وه نوتاله دَهغه ظاهری اسلام قبلول وو باطن اودَهغه دَ زړه کیفیت نه تاپیژندلې شو اونه ددې ضرورت وو تاله پکاروو چه دَهغه په ظاهری حالت دې فیصله کړې وه اودَهغه دَقتل نه منع شوې وې ته پخپله سوچ اوکړه که دغه سړي دا کلمه دَ قیامت په ورځ خپل خان سره راوړی نوته به څه کوې نبی کریم صرف دَ خفګان اظهار اوکړو اودَ حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه نه نی قصاص یا دیت وانه خستلو ځکه چه اسامه رضی الله عنه کوم دا سړي وژلې وو نوهغه دَ اجتهاد دَلاندې داسې کړې وو او په اجتهادی غلطئی باندې نبی کریم بنه رټنه اوکړه او نور نی هیڅ اونه وئیل

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب تحریم قتل الکافر بعد أن قال: لا إله إلّا الله(رقم-۱۶۰ - (۹۷)

[۲٤۵۲]د معاهد د قتلولو ممانعت

۳۳۰۳-[۲] (۱) [۱]وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «مَنْ قَتَلَ مُعَاهِدًا لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ. [۳]وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]کوم سړی چې عهد والا قتل کړي، هغه به د جنت بوی نه و مومي ، [۳]او د جنت بوی د څلويښتو کلونو د لارې په مسافت کې راځی، (بخاري)

حل لغات ①مُعَاهِدًا: دجنګ بندئ معاهده کونکي، ②لَمْ يَرَحْ: بوئی به نه کړی، ③مَسِيرَةِ: مسافت. فاصله، ④خَرِيفًا: خريف دَخزان موسم ته وائی مراد ترې نه څلويښت کاله دی

تسهيلات: قوله: مُعَاهِدًا:

د معاهد تعريف: معاهد هغه کافرته وائی کوم چه امام اوخليفه دَ وخت سره دَ جنګ نه کولو عهداو معاهده کړې وی که هغه ذمی وی که حربی وی اوکه مستامن وی.

قوله لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ:

د جنت بوئي نه محسوسولو کښې درې توجيهات: ① مراد دادې چه هغه دا حرام عمل حلال ګنړی نوک فرشو نودَ جنت خوشبوئی به پرې حرام وی.

② دا نې په توګه دَ تشديد تغليظ او په توګه دَ زجراوتوبيخ فرمائيلی دی.

③ مراد دادې چه په شروع کښې به داسړې دَ جنت دَ خوشبوئی ادراك نه شی کولې دَ سزاتيرولونه پس به احساس کوی

قوله أَرْبَعِينَ خَرِيفًا»:

په احاديثو کښې د تعارض اشکال: په دې حديث کښې دَ څلويښتوکالو ذکر دې بعضې روايتوکښې اوياکاله دي بعضې کښې سل کاله دي بعضې کښې پنځه سوا کاله دې يا دَ زرو کالومسافت ذکرهم ملاويږی نودَدې تفاوت څه وجه ده

د تعارض د اشکال جواب: دا دَ اشخاص اودَوی دَ درجو دَ اختلاف د تَفاوت دَ وجې نه دې دا څه تعارض نه دې يعنی دَ اوچتو درجووالو ته به په نسبت دَ ښکته درجووالو خوشبوئی دَ لرې نه راځی

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الجزية/باب إثم من قتل معاهدا بغير جرم (رقم-۳۱۶۶) وابن ماجه في كتاب الديات/باب من قتل معاهدا (رقم-۲۶۸۶)

[۲۴۵۲] د خودكشي كونكي په باره كښي وعيد

۳۴۵۳ - [۷] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ، ۳ فَهُوَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ يَتَرَدَّى فِيهَا خَالِدًا ۴ مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، ۵ وَمَنْ تَحَسَّى سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ،

ترجمه: ۱ و حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم سړى چي د غره نه خان غورځولو سره خود كشي وكړي، ۳ نو هغه سړى به هميشه په دوزخ كي رغړول كېږي، ۴ او هلته به هميشه هميشه وي، او هيڅ كله به د هغه نه ونه وځي، ۵ او كوم سړى چي د زهر څكلو سره خود كشي وكړي،

حل اللغات: ① تَرَدِّي: دَ باب تفعل نه دي خپل خان دَغرو غيره نه راغورزول. باب تفعل دَ تكلف دَپاره هم كيدي شى ② خَالِدًا مُخَلَّدًا: دَمخلد لفظ دَ خالدادَ پاره تاكيددي اوابدا هم تاكيددي هميشه پاتي كيدل، ③ تَحَسَّى: دَ باب تفعل نه دي."حسو" دَ څكلوپه معنى كښي دي دلته زهرڅكل مراد دى. دَباب تفعل نه دَتكلف معنى ظاهرېږى چه كراهت سره په خپل خان باندي زورزياتي كولو سره زهر اوڅكل ④ سُمًّا: په سين باندي زبر زير پيښ درېواړه حركات راځى زهرته وئيلى شى

۱ فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ ۲ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، ۳ وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ، ۴ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ ۵ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ د هغه زهر به د هغه په لاس كي وي، ۲ چي هغه به يي د دوزخ په اور كي څكي، هغه به هميشه هميشه په دوزخ كي وي، د هغه نه به هيڅ كله نه را وځي، ۳ او كوم سړى چي د اوسپني په يو څيز (مثلًا چاړه وغيره) سره خپل خان قتل كړي، ۴ هغه هتيار به د دوزخ په اور كي د هغه په لاس كي وي، چي هغه به يي په خپله خيټه كي تومبي. ۵ او هميشه به په دوزخ كي وي، د هغه نه به هيڅ كله نه اُوځى. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⑤ حَدِيدَةٍ: تيز مخ والا دَ وسپني آله ⑥ يَتَوَجَّأُ: دَ باب تفعل نه دي. چاړه چاقو سره خپله خيټه شلولى

تسهيلات: قوله: خَالِدًا مُخَلَّدًا:

د قاتل په جهنم كښي د هميشه اوسيدو په نص كښي توجيهات: ① دا حكم تشديداً تغليظاً تهديداً زجراً اوتوبيخاً دي

۱) اخرجه البخاري في كتاب الطّبّ/باب شرب السّمّ والدّواء به وبما يخاف منه والخبيث (رقم-۵۷۷۸) ومسلم في كتاب الإيمان/باب غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه. وأنّ من قتل نفسه بشيء عذّب به في النّار. وأنّه لا يدخل الجنّة إلّا نفس مسلمة(رقم-۱۷۵ - (۱۰۹) والترمذي في كتاب الطّبّ عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فيمن قتل نفسه بسمّ أو غيره (رقم-۲۰۴۴) والنسائي في كتاب الجنائز/باب/ترك الصّلاة على من قتل نفسه (رقم-۱۹۶۵) واحمد في المسند: ۲/۲۵۴

② دخلود نه مراد مدت مديده طويله دي كوم چه په محاوره كښې ونيلې شي

③ دا د همېشه باېې كيدل نه ددې وجې نه وی چه دې سړی خودكشی حلال گڼرلو سره كړې نو كافرشو په دوزخ كښې به پروت وی

فائده: په اسلام كښې د خود كشی د حرمت وجه: اسلام خودكشی په دې وجه حرام كړې ده چه د انسان خپل ځان د هغه خپل ملكيت نه دې نوځنگه چه نور انسانان وژل حرام دی هم دغه شان خپل ځان وژل هم حرام دی البته د خودكشی داجرم د بعضې اعتباراتو سره د بل قتل كولونه زيات غليظ جرم دې خكه چه په دې كښې اكثر د الله تعالى د ناميدئی عنصر موندلې شی چه هغه ماته خوراك نه راكوی يا نه شی راكولې نو په شكايت اوناميدئی كښې د خپل ژوند خاتمه كوی كه چرې دا خبره په كښې نه وی نو بيا قاتل نفس جرم د قتل غير د جرم نه سپك دې كذافی المرقات خودكشی د دنياپه يومهذب قانون كښې هم جنر نه ده اودانسان جوړشوی خپل قانون كښې هم دا قابل تعزير جرم گرځولې شوې دې اسلامي خو آفاقي اوفطری قانون دې هغه د مخكښې نه دا جرم حرام گرځولې دې

۳۴۵۴-[۸] (۱) ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«الَّذِي يَخْنُقُ نَفْسَهُ ③يَخْنُقُهَا فِي النَّارِ ④وَالَّذِي يَطْعَنُهَا يَطْعَنُهَا فِي النَّارِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②كوم سړی چې مرئ خفه كولو سره خپل ځان مړ كړي، ③هغه به په دوزخ كې هم خپله مرئ خفه كوي. ④او چ چې په نيزه سره خودكشي وكړه. هغه به په دوزخ كې هم خپل ځان په نيزه سره وهي. بخ زي

حل اللغات ①يَخْنُقُ مرئ خفه كوی ②يَطْعَنُهَا: په نيزه سره ئې وهی

تسهيلات: قوله يخنق نفسه

د نون په كسرې سره هم راځی او باب نصر نه د نون په ضمې سره هم راځی قال شارح المصابيح أي يعصر حلقه يعنى خپل څټ تاوهل او نچونړول .يا خپل ځان مړكول. الحاصل چې خپل ځان پخپله مړكړو نو په قيامت كښې به هغه ته هم هغه شان سزا وركولې كيږی

[۳۴۵۵] په خودكش باندې د جنت حرمت

۳۴۵۵-[۹] (۲) ①وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ، ③فَجَزِعَ فَأَخَذَ سِكِّينًا، ④فَحَزَّ بِهَا يَدَهُ فَمَا رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ. ⑤قَالَ

۱) اخرجه البخاري في كتاب الجنائز /باب ما جاء في قاتل النفس (رقم-۱۳۶۵) واحمد في المسند: ۲/۴۳۵

۲) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء /باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-۳۴۶۳)ومسلم في كتاب الإيمان/باب غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه،وأنّ من قتل نفسه بشيء عذّب به في النّار. وأنّه لا يدخل الجنّة إلّا نفس مسلمة(رقم-۱۸۰ (۱۱۳)

اللّٰهُ تَعَالٰى: بَادَرَنِي عَبْدِي بِنَفْسِهِ فَحَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جندب ابن عبد الله رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ (يوه ورځ) وفرمايل [۲] ستاسو نه په مخکې خلقو کې يو سړى وو ، چې زخمي شوى وو . [۳] نو (د زخم تکليف شديد کيدو په وجه) هغه صبر ونه کړي، چاړه يې پورته کړه [۴] او خپل لاس يې پريکړلو (چې زخمي وو) د هغه نتيجه دا شوه چې زخم دفع نه شو ، او هغه مړ شو . [۵] الله تعالی وفرمايل چې زما بنده د خپل ځان په باره کې زما د فيصلې انتظار ونه کړي، بلکه خپل ځان يې هلاك کړي، نو ما په هغه جنت حرام کړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات ① جُرْحٌ: زخم. ② فَجَزِعَ: فرياد ئې اوکړو، بې صبري ئې اوکړه. ③ سِكِّيْنًا: چاړه. ④ فَمَا رَقَأَ: پس دفع نه شو، جوړ نه شو ⑤ بَادَرَنِي: مقابله او ضد ئې اوکړو ما سره

تسهيلات:

قوله: فحرمت عليه الجنة

د مذكوره جملې وضاحت: ابن الملك رحمه الله فرمائي چې په دې باندې د جنت د حرامېدو مطلب دادې چې دې ځانمرګى حلال ګنړلې وه او د حرام څيز باره کښې د حلال عقيده لرل صريحا کفر دې په دې وجه په دې باندې دخودل جنت حرام کړې شو . يا ددې نه مراد دادې چې تر کومې پورې دې جهنم کښې خپله سزا تيره نه کړي نو دې به د اول جنت ته د تلو نه محروم کړې شي

[۳۴۵۶] د خودکشي په باره کښې يوه سبق آموز واقعه

د۳۳ــ[۱۰] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: «أَنَّ الطُّفَيْلَ بْنَ عَمْرٍو الدَّوْسِيَّ لَمَّا هَاجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ هَاجَرَ إِلَيْهِ، [۲] وَهَاجَرَ مَعَهُ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ، [۳] فَمَرِضَ فَجَزِعَ، [۴] فَأَخَذَ مَشَاقِصَ لَهُ، فَقَطَعَ بِهَا بَرَاجِمَهُ، فَشَخَبَتْ يَدَاهُ، حَتَّى مَاتَ، [۵] فَرَآهُ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو فِي مَنَامِهِ وَهَيْئَتُهُ حَسَنَةٌ وَرَآهُ مُغَطِّيًا يَدَيْهِ، [۶] فَقَالَ: مَا صَنَعَ بِكَ رَبُّكَ؟

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي نبي كريم ﷺ چې په هجرت مديني ته تشريف راوړو. نو طفيل ابن عمرو دوسي هم هجرت کولو سره حضور ﷺ ته راغلي، [۲] د هغه سره د هغه د قبيلې يو بل سړى هم هجرت وکړي [۳] اتفاقي، هغه سړى بيمارشو ، او (کوم وخت چې مرض شدت اختيار کړي) د هغه نه صبر ونه شو . [۴] نو هغه د غشي تيره څوکه آخستوسره د خپلو ګوتو جوړونه يې پريکړل، په دې وجه د هغه د دواړو لاسونو نه دومره وينه جاري شوه، چې هغه مړ شو [۵] (د هغه د مرګ نه وروسته يوه ورځ) طفيل بن عمرو رضي الله عنه هغه سړى په خوب کې په داسې حالت کې وليدلو، چې هيئت خوښنه وو، خو هغه

۱) اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب الدليل على أن قاتل نفسه لا يكفر(رقم-۱۸۴ - (۱۱۶)

خپل دواړه لاسونه پټ کړي وو، [٦] طفيل ﷺ د هغه نه پوښتنه وکړه، چې ستا رب ستا سره څنګه معامله وکړه؟

حل لغات ①اَلْجَزَعُ: فرياد نې اوکړو، بې صبرى نې اوکړه. ②مَشَاقِصَ: دَ مشقص جمع ده لويه چاړه. ③بَرَاجِمَهُ: د برجمه جمع ده د ګوتوجوړونه ④فَشَخَبَتْ: دَ نصر اوفتح نه راخى دَ رګونو يا دَ زخم نه دَ فوارې په شان دَ وينه جارى شوه

> [۱] فَقَالَ: غَفَرَلِي بِهِجْرَتِي إِلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [۲] قَالَ: مَالِي أَرَاكَ مُغَطِّيًا يَدَيْكَ؟ [۳] قَالَ: قِيلَ لِي: لَنْ نُصْلِحَ مِنْكَ مَا أَفْسَدْتَ، [۴] فَقَصَّهَا الطُّفَيْلُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللّٰهُمَّ وَلِيَدَيْهِ فَاغْفِرْ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] هغه سړي اوويل چې الله ﷻ زه په دي وجه وبخښلم، چې ما د هغه نبي ﷺ طرف ته هجرت کړي وو، [۲] بيا طفيل ﷺ اوويل چې زه تا وينم، چې دواړه لاسونه دي پټ کړي دي. [۳] هغه سړي (په ډير حسرت سره) اوويل چې د پروردګار د طرف نه ماته ونيل شوى دى، چې کوم څيز تا خپله خراب کړي دى، مونږ هغه هيڅ کله نه صحيح کوو. [۴] کوم وخت چې طفيل ﷺ دا خوب د رسول الله ﷺ په مخکښې پيش کړي. [۵] نو حضور ﷺ وفرمايل چې اې الله! ﷻ هغه او د هغه دواړه لاسونه وبخښې، (مسلم)

حل لغات ⑤مُغَطِّيًا: پټ کړى نې وو. ⑥مَاصَنَعَ بِكَ: څه نې اوکړل تاسره، څه معامله نې اوکړه تاسره. ⑦فَقَصَّهَا: قصه نې بيان کړه،

تسهيلات: **قوله**: بِهِجْرَتِي إِلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د هجرت برکت: يعنى دَالله تعالى رسول محمدعربى ﷺ طرف ته دَ هجرت دَ برکت نه الله تعالى زما دَ خودکشنى جرم معاف کړو دې نه معلوميږى چه هجرت ډير لونى عمل دې اوخاص کر په مدينه منوره کښې دَ نبى کريم طرف ته دَ صحابه کرامو ﷺ هجرت ډير لونى عمل وودکوم په برکت چه الله تعالى دَ صحابه کرامو لونى لونى خطاګانې معاف کړې نو دَ يوسړى دپاره مناسب نه دى چه په صحابه کرامو باندې ګوته اوچته کړى اودَ خپل بې کاره عقل په تله کښې دَهغوى اوچت مقام تلل شروع کړى

دَ دې حديث نه داهم معلوميږى چه کبيره ګناه موجب کفرنه ده اونه دَ دوزخ دَ دائمى عذاب ذريعه ده چنانچه دَ اهل سنت هم دغه عقيده ده چه دَ سزاتيرولونه پس دَ کبيره مرتکب به دَ دوزخ نه راؤخى

قوله: اللّٰهُمَّ وَلِيَدَيْهِ فَاغْفِرْ

د صحابى دپاره د مغفرت دعا: رسول الله ﷺ ډير دَ مينې په انداز کښې دَدغه صحابى دپاره دَمغفرت دعا اوکړه چونکه معامله صرف دَ لاسونووه نونبى کريم دا مقدم کولو سره فاغفرمؤخرکړو او ونى فرمائيل اې رب کريم دَ ده لاسونه هم اوبخښې

[۲۴۵۷] د مقتول وارثانو ته قصاص او دیت په دوارو کښې د یو د اخستلو اختیار

۳۴۵۸—[۱۱] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " ۲ «ثُمَّ أَنْتُمْ يَا خُزَاعَةُ! قَدْ قَتَلْتُمْ هٰذَا الْقَتِيلَ مِنْ هُذَيْلٍ، ۳ وَأَنَا وَاللّٰهِ عَاقِلُهُ، ۴ مَنْ قَتَلَ بَعْدَهُ قَتِيلًا فَأَهْلُهُ بَيْنَ خِيرَتَيْنِ: ۵ إِنْ أَحَبُّوا قَتَلُوا، وَإِنْ أَحَبُّوا أَخَذُوا الْعَقْلَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالشَّافِعِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو شریح کعبي ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ (د مکې د فتح په ورځ کومه خطبه ارشاد وفرمایله او د هغه ابتدایي حصه د حرم مکه په باب کې تیره شویده، د هغه آخري الفاظ دا وو) وفرمایل ۲ چې اې خزاعه! تاسو دا مقتول چې د قبیله هُذَیل یو فرد وو، قتل کړي دی. ۳ او زه قسم په خدای د هغه د خون بها ذمه واریم. ۴ اوس د دې نه روسته (په دې حکم سره خبرولی شي که) یو سړی څوک قتل کړي، نو د مقتول وارثانو ته ددوو څیزونو نه د یو شي اختیارولو حق حاصل دی. ۵ ① چې هغه قاتل قتل کړي ② که هغه خون بها واخلی (ترمذي شافعي)

حل اللغات: ① اَلْقَتِيلَ: مقتول، ② عَاقِلُهُ: دخون بها ذمه وار (دقاتل قبیله) ③ فَأَهْلُهُ: اهل وعیال، وارثان، ④ خِيرَتَيْنِ: دوه اختیاره. ⑤ الْعَقْلَ: خون بها، دیت.

تسهیلات:

قوله: فَأَهْلُهُ بَيْنَ خِيرَتَيْنِ:

د مذکوره واقعي تاریخي پس منظر: یعنی دَ مقتول وراثانوته په دوو څیزونوکښې دَ یودَاختیارولوحق حاصل دې. دَدې واقعه تاریخي پس منظرداسې دې چه دَ جاهلیت په دروکښې دَ هذیل قبیلې خلقو دَ قبیله خزاعه یوسړې وژلې وو. دَ فتح مکه په ورځ خزاعه ته په هذیل باندې اوچتوالې حاصل شوې وو. نوخزاعه دَ هذیل یوسړې اووژلو اوخپله زړه بدله ئې واخستله نبی کریم دَ فتنې اوفساد دَختمولوپه غرض سره دَدغه مقتول دیت په خپل ذمه واخستلو اودې نه پس دَ فتح مکه په خطبوکښې په یوه خطبه کښې ئې دا شرعي قاعده بیان کړه که اوس چا څوک ناحقه قتل کړو نو دَ مقتول وارثانو ته به په دوو خبروکښې اختیار ورکولې شي چه خوهغوی قصاص واخلی یادیت اخستوسره دې قاتل معاف کړی اوس دَدغه اختیارباره کښې دَ فقهاؤ په مینځ کښې څه اختلاف دې

د قتل عمد په موجب کښې ۲ مذاهب:

① شوافعو اوحنابله فرمائی چه په قتل عمد کښې دَ مقتول وارثانوته دَ قصاص اخستلو هم اختیاردې اودَ قاتل نه دَ دیت اخستلوهم اختیاردې که هغوی دَ قاتل نه دَ دیت مطالبه

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الدّیات/باب ولیّ العمد یرضی بالدّیة (رقم-۴۵۰۴) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی حکم ولیّ القتیل فی القصاص والعفو(رقم-۱۴۰۶) واحمد فی المسند: ۲۳/۴

اوكړي نو قاتل به ديت وركوي
② ائمه احناف اومالكيه فرمائي دَ قتل عمد موجب صرف قصاص دې دَمقتول وارثان دَ قاتل نه صرف دَ قصاص مطالبه كولې شي اودَ قاتل دَ مرضئ نه بغيردَ هغه نه دا مطالبه نه شي كولې چه مونږ ته ديت راكړه مونږ قصاص نه اخلو

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوى مستدل دې خكه چې په دې كښې دَمقتول وارثانوته دَ دوو خبرو اختياروركړې شوې دې داحضرات فرمائي چه كه چرې قاتل په ديت وركولوباندې راضي نه وى اودَ قصاص وركولودَپاره تياروى نوبياهم دَ مقتول وارثان دَهغه نه دَديت مطالبه كولې شي

داول فريق د دليل جواب: دَزيربحث شوافعو اوحنابله دَمستدل جواب دادې چه دلته ديت اخستوكښې به دَ قاتل دَ رضا خيال ساتلى شي دَپاره چه په ټولو نصوصوكښې تطبيق راشي اوتعارض پاتې نه شي

ددويم فريق دلائل: ① دَ قرآن عظيم هغه آياتونه دى په كوم كښې چه دَ قتل عمدسزا قصاص متعين كړې شوې ده لكه ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى﴾ [سورت بقره ١٧٨]. ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ [سورت مائده ٤٥]. ﴿ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ﴾[سورت بقره ١٧٠]

② دَ حضرت انس ﷺ روايت كښې نبى كريم فرمائيلى «ياانس كتاب الله القصاص» اې انس كتاب الله كښې خو هم قصاص دې

③ دَ حضرت ابن عباس ﷺ په حديث كښې دا الفاظ دى «العمدقودوالخطاءدية» يعنى په قتل عمدكښې هم قصاص دې اوقتل خطاء كښې ديت دې داروايت نصب الرايه كښې ٣٢٧/٤ سندسره موجود دې

٣٣٨٠-(١) [١]وَفِي شَرْحِ السُّنَّةِ إِسْنَادُهُ، [٢]وَصَرَّحَ بِأَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّحِيحَيْنِ عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ، [٣]وَقَالَ: وَأَخْرَجَاهُ مِنْ رِوَايَةِ أَبِي هُرَيْرَةَ يَعْنِي بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: [١]په شرح السنة كې دا روايت د شافعي ﷺ په اسناد سره مذكور دى. [٢]او د شرح السنه مصنف بغوي ﷺ دا صراحت كړى دى. چې دا حديث په بخاري او مسلم كې د ابو شريح ﷺ نه منقول نه دى. [٣]ليكن بغوى ﷺ ويلى دى چې په بخارى او مسلم كې دا روايت د ابوهريره ﷺ نه منقول دى. حالانكه په هغه كې هم بالمعنى منقول دى

١) اخرجه البخارى فى كتاب العلم/باب كتابة العلم (رقم-١١٢) ومسلم فى كتاب الحج /باب تحريم مكة وصيدها وخلاها وشجرها ولقطتها. إلا لمنشد على الدوام (رقم-٤٤٨ - (١٣٥٥)

[۲۴۵۹] دښځي په بدله کښې د سړي قصاص

۳۳۰۳ — [۱۲] (۱) ① وَعَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ يَهُودِيًّا رَضَّ رَأْسَ جَارِيَةٍ بَيْنَ حَجَرَيْنِ ② فَقِيلَ لَهَا: مَنْ فَعَلَ بِكِ هٰذَا؟ ③ أَفُلَانٌ؟ حَتّٰى سُمِّيَ الْيَهُودِيُّ فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا. ④ فَجِيءَ بِالْيَهُودِيِّ، فَاعْتَرَفَ فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُضَّ رَأْسُهُ بِالْحِجَارَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې يو يهودي د يوي جينۍ سر د دوو کاڼو په منځ کې وټکی، يعني په يو کاڼي د هغې سر اېښولو سره په دويم کاڼي يې ګذار ورباندې وکړي، نو د جينۍ په حالت دنزعي کې چې بيان واخستې شو، نو ② د هغې نه پوښتنه وشوه چې ستا سره چا دا معامله کړي ده؟ ③ آيا فلانی سړی، آيا فلانی سړی (يعني په کومو خلقو چې شبه وه، د هغوئ نومونه واخستې شو، ددې پورې چې د هغه يهودي نوم واخستی شو، نو جينۍ د خپل سر په اشاري سره وښودل چې هو، هغه داسې کړي دي) ④ بيا هغه يهودي حاضر کړل شو، او هغه د خپل جرم اقرار وکړي، نو رسول الله ﷺ هغه شان د هغه يهودي د سر د ټکولو حکم وکړي، او د هغه سر په کاڼو سره ميده کړی شو . (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① رَضَّ: اوټکولو، چخنړی کړلو ② فَأَوْمَأَتْ: نو اشاره ئې اوکړه ③ فَاعْتَرَفَ: نوهغه اقرار اوکړو.

تسهيلات: قوله: رَضَّ: دادَ باب نصر ينصرنه ټکولو چقنړی کولو اودل کولوته وائی

قوله: فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا:

د حديث د جملې مفهوم: يعنی هغه جينئی دَ زخم دَوجې نه خبره نه شوه کولې صرف دَ اشارې کولوطاقت ئی لرلو صحابه کرامودَ هغې نه تپوس اوکړو ته چا وهلې آيا فلانکی وهلې فلانکی وهلې؟ کله چه دَهغه يهودی نوم واخستې شو چاچه وهلې وه نوجينئی دَ سر په اشارې سره اوخودل چه اودغه يهودی وهلې يم په دې باندې يهودی په قصاص کښې قتل کړې شو خوهغه دَ جرم اعتراف کړې وو

دحديث نه مستنبط مسائل: ① که يوسړی خوك ښځه قتل کړه نودَ ښځې په قصاص کښې به سړې قتل کولې شی

② که چا خوك سړې په درونډ کاڼری سره وهلوباندې قتل کړو نودغه قاتل دَ قتل عمدمرتکب شو اودَ ده نه به قصاص اخستلې شی دې مسئلې ته قتل بالمثقل وائی اوهم

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدّيات/باب إذا أقرّ بالقتل مرّة قتل به (رقم ٦٨٨٤) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربين والقصاص والدّيات/باب ثبوت القصاص فی القتل بالحجر وغيره من المحدّدات. والمثقّلات. وقتل الرّجل بالمرأة (رقم-١٥ - (١٦٧٢) و ابو داود فی کتاب الدّيات/باب يقاد من القاتل(رقم-٤٥٢٧) والترمذی فی کتاب الدّيات عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فيمن رضخ رأسه بصخرة (رقم-١٣٩٤) والنسائی فی کتاب مناسک الحجّ/باب الحجّ بغير نيّة يقصده المحرم (رقم-٢٧٤٢) وابن ماجه فی کتاب الدّيات/باب يقتاد من القاتل کما قتل (رقم-٢٦٦٥) واحمد فی المسند: ٣/١٩٣

په دې كښې دَ فقهاء كرامو اختلاف دې چه آيا په دې كښې قصاص دې كه ديت؟

د قتل بالمثقل په حكم كښې ۲ مذاهب:

① جمهور فقهاء او صاحبين فرمائي چه قتل بالمثقل موجب قصاص دې اوداقتل عمد دې لكه څنګه چه په دې حديث كښې په درونډ كانړي سره يهودي جينئي ويشتلوسره شهيده كړه اودهغه نه قصاص واخستې شو

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چه قتل بالمثقل شبه دَعمد ده او شبه دَعمد كښې ديت دې قصاص نشته دې

داول فريق دليل: زيربحث د حضرت انس رضي الله عنه د دوی مستدل دې چه په خپله مدعا باندې واضح دليل دې

داول فريق د دليل جوابونه: ① دا قصاص په سياست باندې محمول وو اګرچه دَ قاعده په رنړا كښې دلته قصاص نه وو دَ سياست قاعده دَټولو فقهاؤ په نيز مسلم ده بعضې علماؤ په دې موضوع باندې مستقل تصنيفات ليكلي دی مثلاً علامه عبدالبر ابن شحنه دَ لسان الحكام په نوم باندې كتاب ليكلې دې علامه ابن تيميه السياسة الشرعيه په نوم باندې كتاب ليكلې دې

② دَدې حديث دادې چه دا سړې قطاع الطريق يعنی ډاكو وو هغه دَ دغه جينئي نه بنګړي اخستي وو اوهغه نقض عهد هم كړې وو بهرحال دَ جمهورو دليل واضح تر دې اوصاحبين هم جمهورو سره دی

د دويم فريق دليل: دَ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه حديث د دويم فريق مستدل دې دكوم الفاظ چه داسې دی ((الا ان دية الخطأ شبه العمدماكان بالسوط والعصاء)) (ابوداؤد .بحواله مشكوة ص ۳۰۲باب الديات فصل ثانی)

امام صاحب رحمه الله فرمائي چه دلته په لښته، چوكه او همسا كښې هيڅ فرق نشته دې چه هغه غټه وی يا وړه وی نو په دې سره دَقتل بالمثقل ضابطه حاصله شوه

② كښې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت هم د دوی مستدل دې الفاظ ئې دا دی ((من قتل فی عمية فی رمی يكون بالحجارة اوجلد بالسياط اوضرب بعصاً فهوخطاء وعقله عقل الخطأ)) (ابوداؤد .بحواله مشكوة ص ۳۰۲)

په مساوات فی القتل و القصاص كښې ۲ مذاهب:

① دَدې زير بحث حديث نه امام شافعی رحمه الله اوامام مالك رحمه الله دا مسئله مستنبط كړې ده چه قتل او قصاص كښې مساوات فی الفعل ضروری دې يعنی په كانړي سره دَقتل بدله به په كانړي سره اخستې شی اودَ زهر بدله په زهر سره اودَ چوكې بدله په چوكه سره او په ګولئي ويشتلوسره بدله په ګولئي سره اخستې شی دې دَپاره چه مساوات قائم شي.

② امام ابوحنيفه رحمه الله او په يوقول كښې امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائي په قصاص كښې مساوات في العمل ضروري نه دي بلكه قصاص په توري سره متعين دي

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوی مستدل دې چه په كانړي وژلوسره بدله به په كانړي وژلوسره واخستې شوه

داول فريق د دليل جواب: دا حديث په سياست باندې محمول دې، دې دپاره چه خلقو ته د زيات نه زيات عبرت حاصل شي

د دويم فريق دليل: "لاقودالابالسيف" حديث د دوی مستدل دې

[۲۴۶۰] په غاښونوكښې د قصاص حكم

۳۴۶۰—[۱۳] (۱) ①وَعَنْهُ قَالَ: «كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ - وَهِيَ عَمَّةُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - ②ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، ③فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ④فَأَمَرَ بِالْقِصَاصِ، ⑤فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: لَا وَاللَّهِ لَا تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ!

ترجمه: ①او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې بي بي ربيع د حضرت انس رضي الله عنه ابن مالك ترور (د پلار خور) وه، ②هغه د يوې انصاري جينۍ غاښ مات كړې، ③د هغه جينۍ رشته داران د استغاثې سره د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو، ④حضور د بدلې اخستلو حكم وفرمايلو (يعني دا فيصله يې وكړه، چې د بي بي ربيع رضي الله عنها غاښ دې هم مات كړل شي) ⑤انس رضي الله عنه ابن نضر چې د انس ابن مالك رضي الله عنه تره وو، هغه عرض اوكړو چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې به نه كيږي، قسم په خداى د بي بي ربيعې رضي الله عنها غاښ به نشي ماتولى.

حل اللغات: ①كَسَرَتْ: مات ئې كړو. ②-ثَنِيَّةَ: مخامخ غاښ،

①فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَنَسُ! كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ". ②فَرَضِيَ الْقَوْمُ وَقَبِلُوا الْأَرْشَ. ③فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې اې انسه! د الله جل جلاله حكم د بدلې اخستو دى، ②ليكن (الله جل جلاله داسې وكړل چې) د جينۍ خاندان والا (د بي بي ربيعې رضي الله عنها غاښ نه ماتولو باندې راضي شو او ديت مالي معاوضه يې قبوله كړه، ③نو رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل بعضې بندګان د خداى جل جلاله داسې دي كه هغه په څه خبره د الله جل جلاله قسم واخلي، نو الله تعالى جل جلاله د هغوى قسم پوره كوي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ②الْأَرْشَ: تاوان. مالي معاوضه. ديت. ③لَأَبَرَّهُ: برى به ئې كړى، پوره به ئې كړى

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الدّيات/باب العاقلة (رقم-۶۹۰۳) ومسلم في كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والدّيات/باب إثبات القصاص في الأسنان. وما في معناها (رقم-۲۴ - (۱۶۷۵) و ابو داود في كتاب الدّيات/باب القصاص من السّنّ (رقم-۴۵۹۵) والنسائي في كتاب القسامة/باب القصاص من الثّنيّة (رقم-۴۷۵۷) واحمد في المسند ۱۲۸:۳

تسهيلات:

قوله كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ:
د څو نومونو تعين: دلته د تولو نه مخکښې په دې روايت کښې يو د خونومونو تعين ضروري دې

① په دې کښې ربيع د يوې ښځې نوم دې چه د نضر لور ده
② د مالك نوم دې چه د نضر خوئى دې
③ انس هم د نضر خوئى دې
④ مالك بن نضر هم د خپل خوئى نوم انس ايخودې وو دغه شان د تره او وراره دواړو نوم انس وو او انس بن مالك د نبى کريم خاص خادم وو د دې روايت راوى هم هغه انس بن مالك دې
⑤ حضرت ربيع د انس ترور وه او د انس بن نضر خور وه

قوله لَا وَاللهِ لَا تُكْسَرُ: دا د "لاوالله" قسم هم دې انس بن نضر خوړلې دې او نبى کريم "يا انس کتاب الله القصاص" خطاب هم ده ته کړې دې

د انس بن نضر د قسم خوړلو وجه: د حضرت انس بن نضر داکلام اودا قسم خوړل د نبى کريم د کلام او حکم نه انکار نه وو او نه د هغې مخالفت مقصود وو بلکه د الله تعالى په وسيع رحمت باندې د هغه نظر وو او د هغه اميدوو چه قسم په خدائى الله تعالى به داسې نه کوى بلکه هغه به دغه مدعيان راضى کوى اودا خلق به د قصاص په ځائى ديت قبلوى چنانچه هم داسې اوشو د حضرت انس بن نضر رضی الله عنه نيت چونکه ښه وو د الله تعالى د حکم نه انکار نه وو بلکه د رحمت انتظاروو په دې وجه نبى کريم د هغه تعريف اوکړو او د خفګان اظهار ئې اونه کړواو "ارش" ديت ته وائى بهر حال "قلندر هرچه گويد ديده گويد"

[۲٤٦۱] د کافر په قصاص کښې د مسلمان د قتلولو حکم

۳۳۳۶—[۱۳] (۱) ① وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «سَأَلْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: ② هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ لَيْسَ فِي الْقُرْآنِ؟ ③ فَقَالَ: وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ، وَبَرَأَ النَّسَمَةَ، ④ مَا عِنْدَنَا إِلَّا مَا فِي الْقُرْآنِ، ⑤ إِلَّا فَهْمًا يُعْطَى رَجُلٌ فِي كِتَابِهِ وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ.

ترجمه: ① او حضرت ابو جحيفه رضی الله عنه وايې چې ما د حضرت علي کرم الله وجهه نه پوښتنه وکړه ② چې آيا ستاسو سره د قرآن نه علاوه يو بل شى هم شته؟ ③ هغه وفرمايل چې قسم دى په هغه ذات چې هغه غله پيداکړه، او جان رسا والا ته يې وجود وبخښلى، ④ زما سره

۱) اخرجه البخاري في کتاب الدّيات /باب العاقلة (رقم-۶۹۰۳)

داسې هیڅ څیز نشته چې په قرآن کې موجود نه وي، ۵ هو د قرآن هغه پوهه (ماته ضرور راکول شوی ده) کوم چې یو انسان ته ورکول کیدی شي، او زمونږ سره څه داسې څیزونه دي چې په کاغذ کې لیکل شوي دي؟

حل اللغات ① فَلَقَ: وې چودلو، څیرې نې کړلو ② الْحَبَّةَ دانه، تخم ③ بَرَأَ: وجود نې ورکړو، پیدا نې کړو ④ النَّسَمَةَ: د نون سین او میم فتحاتو سره نفس او هر ساه والا، ذی روح

۱ قُلْتُ: وَمَا فِي الصَّحِيفَةِ؟ ۲ قَالَ: الْعَقْلُ وَفِكَاكُ الْأَسِيرِ، ۳ وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ: "«لَا تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا»". فِي "كِتَابِ الْعِلْمِ".

ترجمه: ۱ ما عرض اوکړو چې هغه څه څیزونه دي چې په کاغذ کې لیکل شوي دي؟ ۲ هغه وفرمایل چې (د ناحق قتل) خون بها، د هغه مقدار او د هغه احکام او د قیدی پرینبودو ثواب لیکلی دی، ۳ او دا لیکلي دي، چې د کافر (چې ذمي نه وي) په بدله کې دې مسلمان نشي قتلولی، (بخاري)

حل اللغات ⑤ الْعَقْلُ: دیت، مالی معاوضه، ⑥ وَفِكَاكُ: خلاصول، آزادول ⑦ الْأَسِيرِ: قیدی.

تسهیلات:

قوله: هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ:

د حضرت ابوجحیفه نه د سوال کولو غرض: حضرت علی رضی الله عنه نه د حضرت ابوجحیفه رضی الله عنه د سوال کولو او د تپوس منشاء د شیعه روافض هغه عقیده وه دکوم په وجه چه به هغوی ونیل حضرت علی رضی الله عنه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په خصوصی توګه باندې علم اسرار ورکړې وو اونبی کریم هغوی خلیفه او وصی جوړکړې وو دا عقیده د نن صبا روافض کښې هم رائج ده هم په دې وجه نې په اذان کښې د خلیفه او وصی لفظ داخل کړې دې بل د شیعه ګانو داهم عقیده ده چه عامو خلقو ته ۳۰ سپارې قرآن ملاؤ شومګر حضرت علی رضی الله عنه ته ۴۰ سپارې قرآن ملاؤ دې په کوم کښې چه ۱۰ سپارې د اهل بیت په فضائل باندې مشتمل وې کومې چه دې وخت کښې موجود قرآن پاك نه غائب دی د دې تولو خبرو په رڼا کښې د ابوجحیفه سوال وو په جواب کښې د حضرت علی رضی الله عنه د طرف نه د دې تولو خبرو تردید راغلو بلکه هغوی په ډیر تاکید سره قسم خوړلوسره تردید اوکړو دې د پاره چه دامت په ذهنونو کښې څه شك شبه پیدا نه شي

قوله: إِلَّا فَهْمًا

د فهم نه مراد: یعنی الله تعالی چه د خپل کتاب پوهه چاته ورکوی هغه هم الله تعالی ماته راکړې ده دکوم په ذریعه چه زه د قرآن کریم احکام او معانی استنباط کوم د هغې په اجمالی اشاراتو باندې پوهیږم اود هغې ژورو علومو ته ورسیږم

قوله: وَأَنْ لَا يُقْتَلَ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ»
د کافر په قصاص کښې د مسلمان عدم قتل: دَدې حدیث په دې جمله سره دَ فقهاؤ په مینځ کښې یو اختلافي مسئله راؤچته شوې ده دَ فقهاء کرامو خو په دې کښې اتفاق دې چه دَ یو کافرحربي قتل کولو سره به د مسلمانانو نه قصاص نه شي اخستې

د ذمي یا معاهد په قتل د مسلمان په قصاص کښې ۲ مذاهب:

① دَ جمهور ائمه مسلك دادې چه دَ ذمي بدله کښې به دَ مسلمان نه قصاص نه شي اخستې

② دَ ائمه احنافو مسلك دادې چه دَذمي او معاهدپه بدله کښې به مسلمان په قصاص کښې قتل کولې شي

داول فریق اول دلیل: ① د زیر بحث حدیث دا جمله "وان لایقتل مسلم بکافر" د دوی مستدل دې او طریقه د استدلال ئې دا ده چه په دې جمله کښې دکافرلفظ دې کوم چه عام دې که هغه حربي وي یې ذمي وي یامعاهدوي دَمسلمان نه به بدله اوقصاص نه شي اخستې

داول فریق دویم دلیل: ② د دوی عقلي دلیل دادې چه کافراومسلمان کښې مساوات نشته دې دَ ذمي قتل سره دَدې چه جائز نه دې لیکن په وجه دَ کفردَ هغه په قتل کښې دَ اباحت شبه راغله نو قصاص به نه شي اخستې. [نصب الرایه ۳۳۵/۴.]

د اول فریق د دلیلونو جواب: امام طحاوي رحمه الله فرمائي دلته په دې حدیث کښې دَ کافرنه مراد حربي کافردې ذمي مراد نه دې او په کافرحربي کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې دې نه علاوه دَ پورته ذکر شوو روایتونو او صحابه کرامو رضي الله عنهم فیصلو دَ زیربحث حدیث په عموم کښې خصوص پیدا کړې دې نو دَدې نه ذمي مرادنه دې اګرچه دَ ظاهري حدیث نه عموم معلومیږي کله چه دَهغوی دَ نقلي دلیل جواب اوشو نودَعقلي دلیل وجود ختم شو

د دویم فریق دلائل اربعه: ① دَحضرت علي رضي الله عنه یواثراوقصه ده هغوی دَ ذمي په بدله کښې دَمسلمان نه قصاص واخستلو اووئې فرمائیل "من کان له ذمتنا فدمه کدمنا ودیته کدیتنا" [نصب الرایه ۳۳۷/۴.]

② دَدارقطني روایت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادي «ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قتل مسلما بمعاهد» بحواله نصب الرایه ج ۴.

③ دَ حضرت عمر رضي الله عنه هغه فیصله د دوی مستدل ده په کومه کښې چه هغوی دَ یوذمي په بدله کښې دَ یومسلمان نه قصاص واخستو حواله بالا دَ صحابه کرامو رضي الله عنهم دې فیصلو اودَ اسلاف دَدې مستدلات پوره تفصیل تعلیق الصبیح ۱۲۶/۴ کښې اوګورئی

④ هغه عام ضابطه د دوی مستدل دې دکومې ذکرچه په ډیرو روایاتو کښې راغلې دې

اويه کوم کښي چه د ذمیانو حقوق اود ځان او مال د تحفظ ذمه واري قبوله کړې شوې ده دهغوی د مالونو غلا کول جرم دې دهغوی ښځو سره زنا یا د زنا تهمت لګول جرم دې نو دهغوی د وینې حفاظت هم "دماءهم کدمائنا واموالهم کاموالنا" په رڼا کښې ضروری دې ، کذا فی زجاجة المصابیح ۱۵/۳ .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۴۶۲] د مسلم د قتل د ګناه لوئي والي

۳۳۳۳-[۱۵] (۱) [۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "«لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ [۳] مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ. وَوَقَفَهُ بَعْضُهُمْ، وَهُوَ الْأَصَحُّ.

ترجمه: [۱] د حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] د الله ﷻ په نز د پوره دنیا ختمیدل [۳] د یو مرد مؤمن د قتلیدو نه زیات آسانه دی ، ترمذي ، نسایي ، او په بعضې روایاتو کی یې دا حدیث موقوف بیان کړي دی ، یعني دایي ویلي دی چې دا حدیث نبوي ﷺ نه دی ، بلکه د عبد الله ابن عمرو ﷺ قول دی ، او دا زیات صحیح دی

حل اللغات: ① زَوَالُ : ختمیدل ، ② أَهْوَنُ : ډیر آسان

تسهیلات: **قوله لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ**:

د الله په نیز د مسلمان عظمت: الله تعالی د دې کائنات څیزونه د مسلمانانو د پاره پیدا کړی دی دې د پاره چه هغوی د دې څیزونو نه فائده اوچته کړی او عبادت او کړی

عبدالرحمان بابا څه ښه فرمائیلی دی

د خلیل د کعبې دا (زړه) کعبه ده لویه — چا چې آباد کړل ویران حرم د زړه

اوس چه یو سړی څوك مسلمان قتل کړو نو لکه چه هغه پوره کائنات مرګ سره مخ کړو هم د دغه مضمون طرف ته د قرآن پاك په دې آیت کښې اشاره ده ﴿مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا﴾ [سورت مائده ۳۲]

۳۳۳۴-(۲) [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

ترجمه: [۱] او ابن ماجه رحمه الله دا روایت د حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ په ځای د حضرت براء ابن عازب ﷺ نه نقل کړي دی

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم باب ما جاء فی تشدید قتل المؤمن (رقم-۱۳۹۵) والنسائی فی کتاب تحریم الدّم/باب تعظیم الدّم (رقم-۳۹۸۶)

۲) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الدّیات/باب التغلیظ فی قتل مسلم ظلما (رقم-۲۶۱۹)

[۲۴۶۴] د يو مؤمن په قتل د ټولو انسانانو جهنم ته تلل

[۱۶] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ [۳] لَأَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوسعید خدري او حضرت ابوهریره رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] که (دا ثابته شي چه) د آسمان والاو د زمکې والاټول د یو مرد مومن په قتل کې شریك دي، [۳] نو الله تعالی به دوی ټول د دوزخ په اور کې پرمخې واچوي. امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړي دی او ویلې یې دی چې دا حدیث غریب دی

حل اللغات: ① لَأَكَبَّهُمْ: پرمخې به نې اوغورزوی، ألته به نې نسکور کړی.

تسهیلات:

قوله: لَأَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ:

د لفظ کب او اکب تحقیق: علامه طیبی رحمه الله لغت د امام علامه جوهری رحمه الله نه نقل کړی دی چه "کب" فعل متعدی دې او "اکب" فعل لازمی دې اودا به د نوادرات نه وی چه "اکب" فعل لازم وی او "کب" متعدی وی په دې وجه بعضې شارحینوونیلی دی چه دلته اصل لفظ "کبهم الله" دې د یوراوی نه نقل کولوکښې غلطی شوې ده علامه طیبی رحمه الله فرمانی چه د نبی کریم کلام معیار دې اهل لغت له هم د دې تابعداری کول پکاردی بل ټول راویان داسې نقل کوی یعنی د دې ټولو طرف ته د سهونسبت نه دا بهتردی چه جوهری ته د سهو نسبت اوکړې شی جامع صغیرکښې داحدیث "کبهم الله فی النار" په الفاظوسره نقل دی الکاشف ۶۶/۷.

[۲۴۶۵] د قیامت په ورځ د مقتول فریاد

[۱۷] (۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِالْقَاتِلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۳] نَاصِيَتُهُ وَرَأْسُهُ بِيَدِهِ، [۴] وَأَوْدَاجُهُ تَشْخُبُ دَمًا، [۵] يَقُولُ: يَا رَبِّ! قَتَلَنِي، حَتَّى يُدْنِيَهُ مِنَ الْعَرْشِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نبي کریم ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] د قیامت په ورځ به مقتول خپل قاتل داسې نیولی راولي. [۳] چې د قاتل تندی

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب الحكم فی الدّماء (رقم-۱۳۹۸)
۲) اخرجه الترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة النّساء (رقم ۳۰۲۹) والنسائی فی کتاب تحریم الدّم/باب تعظیم الدّم (رقم-۳۹۹۹) وابن ماجه فی کتاب الدّیات/باب هل لقاتل مؤمن توبة (رقم-۲۶۲۱) واحمد فی المسند: ۲۴۰/۱

او سر به د مقتول په لاس کې وي، ۴ او خپله به د هغه د رګونو نه وينه بهيږي. ۵ او د هغه په ژبه به دا الفاظ وي پروردګاره! ده زه قتل کړي يم (زما فرياد رسي وکه) ددي پورې چې مقتول به قاتل (رانبکلو سره) د عرش الهي ته نزدې بوځي. (ترمذی، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① نَاصِيَتُهُ: د تندي وېښته ② وَأَوْدَاجُهُ: دا د ودج جمع ده د سټ رګونه. ③ تَشْخُبُ: نصرينصر نه دي ، د رګونونه وينه جاري شوه

تسهیلات:

قوله: وَأَوْدَاجُهُ تَشْخُبُ دَمًا:

د حديث د بعضې ټکو وضاحت: ① وَأَوْدَاجُهُ: دا د ودج جمع ده د سټ د هغه رګونو نوم دې چه د ذبح په وخت پرې کولې شی بعضې شارحين وائی چه دلته د جمع نه تثنيه مراد اخستې شوې ده بعضې رواياتوکښې "ودجان" الفظ هم راغلی دی

② دَمًا: دا تميز "محول عن الفاعل" دې يعنی په معنوی توګه باندې فاعل دې عبارت به داسې وی ③ "تشخب دمها" د دې حديث نه معلومه شوه چه د قيامت په ورځ به مقتول خپل پوره حق د قاتل نه غواړی او د مظلوميت کيفيت سره به د الله تعالی مخې ته حاضريږی او الله تعالی به هغه راضی کوی.

[۲۴۶۶] د يوم الدار په موقع د عثمان ﷺ تقرير

۳۴۶۶ـ[۱۸] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، «أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَشْرَفَ يَوْمَ الدَّارِ، ۲ فَقَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ أَتَعْلَمُونَ ۳ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِءٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: ۴ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ، ۵ أَوْ كُفْرٍ بَعْدَ إِسْلَامٍ، ۶ أَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ حَقٍّ فَقُتِلَ بِهِ".

ترجمه: ۱ او حضرت ابو امامه ﷺ ابن سهل ابن حنيف وايي چې حضرت عثمان ابن عفان ﷺ د دار په ورځ چت ته وختلی، ۲ او (د بلوه کونکو مخاطب کولو سره يې فرمايل چې زه تاسو ته په خدای قسم درکولو سره پوښتنه در نه کوم، چې آيا تاسو ته نه ده معلومه. ۳ چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي، د يو مرد مومن خون ريزي (په هيڅ صورت کې) جائز نه وي، خو دا چې په دې دريو خبرو کې يوه خبره پيښه شي ۴ ① د نکاح کولو نه وروسته زنا کول ۵ ② د اسلام راوړلو نه وروسته مرتد کيدل ۶ ③ او څوک ناحقه قتلول. چې د هغه په بدله کې به قتلول کيږی.

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الديات/باب الإمام يأمر بالعفو فی الدم (رقم-۴۵۰۲) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء لا يحلّ دم امرئ مسلم إلّا بإحدى ثلاث (رقم-۲۱۵۸) والنسائی فی کتاب تحريم الدم/باب ذکر ما يحلّ به دم المسلم (رقم-۴۰۱۹) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب لا يحلّ دم امرئ مسلم. إلّا فی ثلاث (رقم-۲۵۳۳) واحمد فی المسند: ۶۱/۱

حل اللغات ①أَشْرَفَ: په اوچت ځاي راښکاره شو، په چت راښکاره شو ②يَوْمَ الدَّار: د کور ورځي، د عثمان رضي الله عنه د محاصرې ورځي مراد دی ③أَنْشُدُكُمْ: تاسو ته قسم درکوم ④إِحْصَان: پاکوالی، حفاظت، نکاح، دلته ترې نکاح مراد ده،

[۱]فَوَاللهِ مَا زَنَيْتُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ،[۲]وَلَا ارْتَدَدْتُ مُنْذُ بَايَعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،[۳]وَلَا قَتَلْتُ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ فَبِمَ تَقْتُلُونَنِي»؟رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ،وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ،وَلِلدَّارِمِيِّ لَفْظُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: [۱]نو په الله جل جلاله مې دې قسم وي چې ما خو نه په زمانه د جاهليت کې زنا کړېده، او نه مې په زمانه د اسلام کې، [۲]او کله چې مې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت کړې دی، ترننه د اسلام نه نه يم ګرځيدلی، [۳]او نه مې څوك قتل کړي دی، چې د هغه قتلول د الله جل جلاله په نزد حرام وي، نو د خدای جل جلاله د پاره ماته وښايئ چې) تاسو په کومه بناء زما قتلول غواړئ، دا روايت ترمذي نسائي او ابن ماجه نقل کړې دی او د حديث الفاظ د دارمي دي

حل اللغات ⑤مُنْذُ بَايَعْتُ: د کوم وخت نه چه ما بيعت کړې دی.

تسهيلات:

قوله،، أَشْرَفَ يَوْمَ الدَّار:

د حديث مذکور مختصر پس منظر: يوم الدار يعنی دَ کورورځ دې نه دَحضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه دَ محاصرې ورځې مراد دی ابن سبا يهودی دَ حضرت عثمان رضي الله عنه خلاف شام، مدينه، کوفه کښې پروپيګنډه اوکړه مګر کامياب نه شو مصرته تلوسره دَهغه پروپيګنډه کامياب شوه دا سړې ډير لوئی منافق وو دَحضرت عثمان رضي الله عنه دَ ګورنرخلاف ئې دروغو پروپيګنډه کولوسره حضرت عثمان رضي الله عنه بدنامولو په مصرکښې هغه يو جنګی ګروپ تيارکړو اوبيا دا ګروپ مدينې ته راغلو او بلوه ئې شروع کړه يوه ورځ حضرت عثمان رضي الله عنه په محاصره کښې دَ خپل کور دَچت نه هغه خلقوسره خبرې اترې اوکړې اودَ خپل قتل دَ حرمت دلائل ئې ورکړلو نو آخر بلوه کونکو هم په دغه محاصره کښې هغوی شيهد کړل تفصيل به ان شاء الله روستو راځي

[۳۴۶۷] دقتل په وجه د خير د کارو نو څخه محروميتيا

۳۴۶۰-[۱۹] (۱)[۱]وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲]" «لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا، [۳]مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا، [۴]فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابودرداء رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲]مسلمان هغه وخته پورې د نيکې طرف ته سبقت کوي، او د الله جل جلاله او د هغه د بنده ګانو د حقوق په آدائيګی کې مشغول وي، [۳]د څو پورې چې هغه حرام خون نه کوي،

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب التّرجّل /باب فی تعظيم قتل المؤمن (رقم-۴۲۷۰)

۴ او هر كله چې هغه حرام خون وكړي، نو ستړى شي. (ابوداود)

حل اللغات ① لَايَزَالُ: هميشه. ② مُعْنِقًا: تيز تلل، په نيک كار كې وړاندې كيدل. قائم اوسيدل. ③ مَالَمْ يُصِبْ: چه نه وى رسيدلې، كړي نې نه وى. ④ بَلَّحَ: ستړې شو.

تسهيلات: **قوله** بَلَّحَ:

د قتل نه پس د قاتل د نيكو نه محروميتيا: يعنى د هغه تيزى اوچالاكى ختميږى اوس هغه د نيك او ښه عمل نه جدا كيږى اوالله تعالى هغه ته د نيكئى توفيق نه وركوى تجربه شاهد ده چه قاتل د قتل د وجې نه پټيږى نود ښكاره عام عباداتومواقعو نه محروم كيږى پټ پټ كيږى ګرځى اوكله چه داحالت وى نود آخرت د ښيګړو سره سره د دنيا د ښيګړې او حلال ګټې نه هم محروم كيږى

[۳۴۶۸] د ناحق قتل عدم بخشش

۳۴۶۸—[۲۰] (۱) ۱ وَعَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «كُلُّ ذَنْبٍ عَسَى اللهُ أَنْ يَغْفِرَهُ ۳ إِلَّا مَنْ مَاتَ مُشْرِكًا ۴ أَوْمَنْ يَقْتُلُ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو درداء ﷜ د رسول الله ﷺ نه نقل كوي چې حضور ﷺ وفرمايل ۲ د هري ګناه په باره كې دا اميد دى چې الله ﷻ هغه وبخښي. ۳ خو هغه سړي نه بخښي. چې د شرك په حالت كې مړ شي، ۴ يا چا چې يو مسلمان عمداً قتل كړي وي. ابوداود.

۳۴۶۹—(۲) وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ مُعَاوِيَةَ.

ترجمه: نسايي ﷫ دا روايت د حضرت معاويه ﷜ نه نقل كړي دى

تسهيلات:

قوله: أَوْمَنْ يَقْتُلُ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا:

د مسلمان قاتل په مخلد في النار كيدو باندې اعتراض: د دې حديث نه په ظاهرى توګه دامعلوميږى چه مؤمن ناحق قتل كونكې مسلمان به هميشه په دوزخ كښې وى اود مشرك په شان به د هغه بخشش نه كيږى حالانكه د اهل سنت والجماعة او عام امت عقيده ده چه د مؤمن قتل ګناه كبيره ده اود ګناه كبيره مرتكب مخلدفى النار به نه وى البته د خوارجو او معتزلو دا عقيده ده چه دې به مخلد فى النار وى د حديث نه په ظاهره د دې تائيد كيږى د اهل سنت مستدل ﴿ إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ﴾ آيت دي

۱) اخرجه ابوداود فى كتاب التّرجّل /باب فى تعظيم قتل المؤمن (رقم - ۴۲۷۰)
۲) اخرجه النسائى فى السنن كتاب تحريم الدّم(رقم - ۳۹۸۴) واحمد فى المسند: ۹۹/۴

د اعتراض جوابونه: ① دا حديث د هغه سړي باره کښې دې چه قتل مسلم جائز ګڼړي نو هغه کافر دې "مخلد في النار" دې
② دا حديث په تغليظ اوتشديد اوتهديد اوتوبيخ باندې محمول دې

[۲۴۷۰] د پلار مخکښې د ځوئي د قصاص حکم

۳۴۷۰-[۲۱] (۱) ⟦۱⟧ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⟦۲⟧ "«لَا تُقَامُ الْحُدُودُ فِي الْمَسَاجِدِ، ⟦۳⟧ وَلَا يُقَادُ بِالْوَلَدِ الْوَالِدُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ⟦۱⟧ او د حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⟦۲⟧ په مسجدونو کې دې حدود نشي جاري کولی، ⟦۳⟧ او نه دې د اولاد د قتل په بدله کې پلار قتل کړل شي بلکه د پلار نه دې ديت يعنی مالي معاوضه وآخستی شي، ترمذي، دارمي

حل اللغات ① اَلْحُدُودُ: شرعی سزا ګانې، ② وَلَا يُقَادُ: نه به شی قتلولې، قصاص به نشی اخستلې

تسهيلات:

قوله فِي الْمَسَاجِدِ

په جماتونو کښې د حدودو د نفاذ حکم: دحديث ددې اولنی جزء مطلب دادې چه په جماتونو کښې حدود مثلاً د غلا حد يا د زنا يا د خمر يا حدقذف مه جاری کونی دغه شان قصاص هم په جمات کښې مه اخلئی ځکه چه جماتونه صرف د فرض مونځونو سنن ونوافلو او د الله تعالی د کلام د تلاوت دپاره جوړشوی دی

قوله لَا يُقَادُ بِالْوَلَدِ الْوَالِدُ:

د ځوئي په قتل کښې د مور پلار عدم قصاص: يعنی که پلار خپل ځوئی قتل کړی نو هغه به د مقتول ځوئی په بدله کښې په توګه د قصاص مه قتل کونی هم دغه حکم د نيکه او غرنيکه هم دې اوهم دغه حکم د مور اونياګانو هم دې دعلماء کرامو په دې باندې اتفاق دې که ځوئی مور پلار قتل کړل نو دغه بدبخت به په قصاص کښې قتل کولې شی

د ځوئي په ذبح کولو کښې د پلار په قصاص ۲ مذاهب

① امام مالک رحمه الله فرمائی که پلار ځوئی په مروجه طريقه سره مرکړو نو مسئله داسې ده ځنګه چه جمهوروائی ليکن که پلار ځوئی ذبح کولوسره مرکړو نوبيابه ددې ظالمانه اووحشيانه فعل د وجې نه د پلار نه قصاص اخستلې شی
② جمهورفرمائی پلاربه دځوئی په قصاص کښې مطلقاً نشی قتل کولې

د اول فريق د مذهب جواب: زيربحث حديث مطلق دې په دې کښې د ذبح او غيرذبح څه

---

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الدیات عن رسول الله صلّى الله علیه وسلّم باب ما جاء فی الرّجل یقتل ابنه یقاد منه أم لا (رقم ۱۴۰۱) والنسائی فی کتاب الدیات باب لا یقتل والد بولده (رقم ۲۶۶۱) واحمد فی المسند: ۱۶/۱

ذكر نشته نو نو د امام مالك رحمه الله رائي به پريخودلې شي

د مويم فريق دلائل: ① زيربحث حديث د دوی مستدل دې خكه چې دا په دې كښې صريح دې چه د پلار نه به د خوني د قتل په بدله كښې قصاص نه شي اخستې،

② پلار د دغه خوني د ژوند ذريعه جوړشوې دې اوس دا خوني د پلار د مرګ ذريعه نه شي جوړيدې قرآن كريم كښې الله تعالى خوني ته د مورپلار شكر په خاني راوړلو حكم وركړې دې اوهغوی ته د تكليف نه وركولونې سخت تاكيد كړې دې اوهغوی سره په نرمنې سره د پيش كيدو تلقين ئې كړې دې

③ په احاديثو كښې "انت ومالك لابيك" الفاظ راغلي دی په كوم سره چه خوني د پلار د مملوك مال په شان كيږی اوس به د هغه نه قصاص نه شي اخستې په دنيا كښې د شريعت حكم دا دې او د آخرت معامله الله تعالى ته حواله ده البته په دنيا كښې به د پلار نه ديت اخستې شي

[۲۴۷۱] پلار او خوني هريو د خپلې ګناه ذمه واركيدل

[۲۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَبِي [۲] فَقَالَ: "مَنْ هَذَا الَّذِي مَعَكَ؟ [۳] قَالَ: ابْنِي أَشْهَدُ بِهِ. [۴] قَالَ: "أَمَا إِنَّهُ لَا يَجْنِي عَلَيْكَ وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابو رمثه رضي الله عنه وايي چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې د خپل پلار سره حاضر شوم [۲] نو حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې دا ستاسو سره څوك دی؟ [۳] زما پلار ورته اوويل دا زما خوی دی، ته رضي الله عنه ګواه اوسه چې دا زمازوي دي. [۴] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې خبردار ته به په ده تيری او ظلم نه كوې او دی به په تا تيری او جنايت نه كوی. ابوداود نسايي.

حل اللغات: ① أَشْهَدُ بِهِ: ته ګواه اوسه ② لَا يَجْنِي: ظُلم. جُرم. زياتې به نه كوی.

[۱] وَزَادَ فِي " شَرْحِ السُّنَّةِ " فِي أَوَّلِهِ [۲] قَالَ: «دَخَلْتُ مَعَ أَبِي عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى أَبِي الَّذِي بِظَهْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] فَقَالَ: دَعْنِي أُعَالِجُ الَّذِي بِظَهْرِكَ فَإِنِّي طَبِيبٌ. [۴] قَالَ: " أَنْتَ رَفِيقٌ وَاللَّهُ الطَّبِيبُ» ".

ترجمه: [۱] او صاحب مصابيح په شرح السنه كې د دې او د روايت په شروع كې دا الفاظ هم نقل كړي دي [۲] چې ابو رمثه رضي الله عنه اوويل كوم وخت چې زه د خپل پلار سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شوم، او زما پلار د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شا مباركه مهر نبوت

---

۱) اخرجه ابوداود فی كتاب الدّيات/باب لا يؤخذ أحد بجريرة أخيه أو أبيه (رقم-۴۴۹۵) والنسائی فی كتاب القسامة/باب هل يؤخذ أحد بجريرة غيره (رقم-۴۸۳۲) واحمد فی المسند: ۱۶۳/۴

ولیدلو، ③نو هغه د دې په حقیقت پوهه نه شو ، او هغه اوویل چې ماته اجازت راکړه چې ستا په شاه څه څیز دی، زه د دې علاج وکړم، ځکه چې زه طبیب یم، ④رسول اللهﷺ ورته وفرمایل ته (خو بس) رفیق یې طبیب (خو) الله ﷻ دی

حل اللغات: ③بِظَهْرِ: شا،ملا. ④دَعْنِی: ما پرېږده، اجازت راکړه، ⑤أُعَالِجْ: چه علاج اوکړم. ⑥طَبِیبٌ: ډاکټر، حکیم،

تسهیلات:

قوله: وَعَنْ أَبِي رِمْثَةَ : **حضرت ابورمثه رفاعه التیمی:** نوم رفاعة،کنیت ابورمثة اوقبیله تیم سره ئی تعلق لرلو. غالبًا دَ مکې دَ فتح نه پس په اسلام مشرف شوې وو. دَ هغه دَ دین باره کښې سوال باندې رسول الله ﷺ هغه په کرسئی باندې کینولواو دَ دین ضروری تعلیم ئی ورکړو (مسلم).

ابورفاعه کښې دَ جهاد ډیره جذبه وه اوهغه به دعاهم کوله چه اې الله ماته داسې مرګ رانصیب کړې چه دَ نورو مسلمانانودپاره دَ پسخیدو سبب وی.(۱) اوهم داسې اوشو۴۴ه کله چه په کابل باندې حمله اوشوه په سجستان کښې توله شپه عبادت کولونه پس ئی سحر سترګې ورغلې فوځ ورانډې لاړواودې هم هلته اوده وو نودښمنانو دې یوازې اولیدو نو ذبح ئی کړو.(۲) دهغه نه څه روایات نقل دی چه دَ هغې په شمیرکښې اختلاف دې.

قوله: ابْنِي اِشْهَدْ بِهِ:

د جاهلیت یو قانون: دې کلام سره دَ ابورمثه دَ والد مقصددَ جاهلیت دَ زمانې دَ یودستور او رواج طرف ته اشاره کول وو. په جاهلیت کښې دا رواج وو چه دَ پلار په جرم کښې به خونی نیولې کیدو اودَ خونی په جرم کښې به دَ پلار مواخذه کیدله. لکه هریوبه دَ بل په جرم کښې دَ مواخذه قابل ګڼړلې شو. دَ ابورمثه دَ پلار مقصد هم دَ دې کلام نه دغه وو چه دازما صلبی خونی دې ته په دې باندې ګواه اوسیږه که چرې ده څه جرم اوکړو نوزه به دَ ده ذمه وار یم اوکه ما څه جرم اوکړو نو زما دا خونی به دَهغې ذمه وار وی

قوله: أَمَا إِنَّهُ لَا يَجْنِي عَلَيْكَ وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ:

د جاهلی قانون خاتمه: ددې په جواب کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل اوس به داسې نه کیږی اوس به خونی خپل پلار په خپله ګناه او جرم کښې نه شی راګیرولې اونه به پلار خپل خونی په خپله ګناه کښې راګیرولې اوس دَ جاهلیت دا غیرمنصفانه رواج ختم شو. اوس به هرسړې دَخپلې ګناه اوخپل جرم په دنیا اوآخرت کښې پخپله ذمه وار وی.

(۱) الطبقات ابن سعد ۴۸/۷). (۲) طبقات ابن سعد) (۳) مسلم فی الحج باب جواز دخول مكة بغير إحرام)
(۴) سیرت خیرالعباد. (۵)حاوی ۷۸/۲. (۶)مسلم فی الحج باب جواز دخول مكة بغير إحرام).

قوله: أَنْتَ رَفِيقٌ:

د ابو رمثه د غلط فهمي ترديد: د ابورمثه پلار دنبی کریم په شامبارکه باندي مهرنبوت اوليدلو نوخيال ئی اوکړوچه دا چرته پولئی او دانه ده په دي وجه هغه اوونيل تاسو ماته اجازت راکړئی چه زه دَدي علاج اوکړم داخبره دَډيري نادانئی دَ وجي نه وه او به دي کښي دَ بې ادبئی اړخ هم ووبه دي وجه نبی کريم ډيرخفه شو اوونی فرمانيل ته طبيب نه ئی بلکه رفيق ئی يعنی دَ مرض اوبيمارئی ظاهری حالت ته په کتو سره دَدي مطابق دوائی تجويزکولوسره ورکولې شي دَ مرض حقيقت ته رسيدل اوشفاورکول ستاکارنه دي ته صرف مريض سره نرمی کولې شي بس نرمی کوه طبيب خودَ الله تعالی ذات دي چه دَ مرض حقيقت هم پيژنی اودارو اوعلاج هم پيژنی اوهم هغه شفاورکوی دَ نورو په اختيارکښې دا خيزونه نه وی نوته خو صرف مهربان کيدي شې شفاورکونکې نه شې کيدي

[٢٤٧٢]د خوی ځخه د پلار د قصاص اخستلو حکم

[٢٣] (١) ١ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، «عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ٢ حَضَرْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقِيدُ الْأَبَ مِنِ ابْنِهِ، ٣ وَلَا يُقِيدُ الِابْنَ مِنْ أَبِيهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَضَعَّفَهُ.

ترجمه: ١ و حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه او هغه د حضرت سراقه ﷺ ابن مالك نه روايت کوي ٢ چې هغه اوويل زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوی يم، حضور ﷺ به د خوی نه د پلار قصاص آخستلو. ٣ ليکن د پلار نه د خوی قصاص يې نه آخستلو، ترمذي ﷺ دا روايت نقل کړي دی او دا يې ضعيف ګرځولی دی

حل اللغات: ① حَضَرْتُ: حاضر شوم، ② يُقِيدُ: قصاص ئې اخستلو.

تسهيلات:

قوله: يُقِيدُ الْأَبَ مِنِ ابْنِهِ:

يعنی که زوي خپل پلار اووژنی نو د پلار په قصاص کښې به زوي قتل کيږی ليکن که پلار خپل زوي اووژنی نو پلار به د زوي په قصاص نشو قتل کولې بلکه ده د خون بها (دوينې معاوضه)به اخستې شوه

١) اخرجه الترمذی فی کتاب الدّيات عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی الرّجل يقتل ابنه يقاد منه أم لا (رقم-١٣٩٩)

[۲۴۷۳] د غلام په قصاص کښې د آزاد د قتلولو حکم

--- [۲۳] (۱) [۱] وَعَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ، [۳] وَمَنْ جَدَعَ عَبْدَهُ جَدَعْنَاهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.
[۴] وَزَادَ النَّسَائِيُّ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: "«وَمَنْ خَصَى عَبْدَهُ خَصَيْنَاهُ»".

ترجمه: [۱] او حضرت حسن (تابعي رحمه الله) د حضرت سمره (صحابي رضي الله عنه) نه روایت کوي هغه اوویل چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې خپل غلام قتل کړي مونږ به هغه قتلوو، [۳] او کوم سړی چې د خپل غلام اعضاء (یعني پزه، غوږ، لاس، پښه وغیره) پریکړي مونږ به د هغه اعضاء پریکړو (ترمذي ابوداود ابن ماجه دارمي) [۴] او نسائي رحمه الله په یو دوبم روایت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې کوم سړی خپل غلام خصي کړي مونږ به هغه خصي کړو

حل اللغات ① جَدَعَ پریکړلو، (اندام پریکول) ② خَصَى: خصی ئې کړلو، د شهوت ماده ئې ختمه کړه

تسهیلات:

قوله مَنْ قَتَلَ عَبْدَهُ قَتَلْنَاهُ:

د غلام په مقابله کښې د حر په قصاص کښې ۲ مذاهب:

که چرې غلام آزاد سړي قتل کړو نو په اتفاق سره به دَ دغه غلام نه قصاص اخستې شي لیکن که یو آزاد سړی چرته غلام قتل کړو نو آیا دَ دغه آزاد نه به قصاص اخستې شي که نه؟ په دې کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دي

① جمهور فرمائي چه دَ غلام بدله کښې به حر او آزاد سړې نه شي قتل کولې که هغه غلام دَ ده خپل وي او که دَ بل چا غلام وي

② ائمه احناف فرمائي که چرې آقا خپل غلام قتل کړي نو په دې کښې به دَ آقا نه قصاص نه شي اخستې لیکن که هغه دَ بل چا غلام قتل کړو نو قصاص به اخستې شي

داول فریق دلیل: د قرآن کریم د آیت ﴿الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ﴾ د اول فریق مستدل دې او مفهوم مخالف ئې اخستې دې چه دَ آزاد بدله کښې آزاد دې نو دَ غلام په بدله کښې به دَ آزاد نه قصاص نه شي اخستې لکه چه خنګه دا مسئله وړاندې تیره شوه

داول فریق د دلیل جوابونه: ① دواړو فریقینو دپاره په یوځائی دَ دې حدیث جواب ورکول

---

۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الدّیات/باب من قتل عبده أو مثّل به أیقاد منه (رقم-۴۵۱۶) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الرّجل یقتل عبده (رقم-۱۴۱۴) والنسائی فی کتاب القسامة/باب القود من السّیّد للمولی (رقم-۴۷۳۶) وابن ماجه فی کتاب الدّیات/باب هل یقتل الحرّ بالعبد (رقم-۲۶۶۴) واحمد فی المسند: ۱۰/۵

دی خکه چه دا روایت دَباقی ټولو روایاتو اوقواعدوسره معارض دې دَدې دَپاره چه دَ اندام په بدله کښې اندام پرې کولوحکم اودَ خصی کولو په بدله کښې دَ خصی کولوحکم دَ چاپه نیزهم نشته دې نو دَدې روایت جواب ورکول دَټولوذمه واری ده نواول جواب دادې چه دا حکم دَ زجرتوبیخ او تشدید اوتغلیظ په بنیادباندې دې اوپه دې کښې دا سیاسی حکمت پټ پروت دې چه خلق دَ خپلو غلامانودَ قتل کولوجرأت اونه کړی اونه دَهغوی دَ اندامونو په پرې کولوکښې تادئی نه کار واخلی

② "عبده"نه دَ تیرې شوې زمانې غلامی مراد ده نه چه فی الحال دې غلام دې اوس خودې آزاددې لیکن یو وخت هغه دَدې مولی غلام وو په دې اعتبارسره ورته غلام اوونیلې شو نو دَ آزادسری متعلق چه کوم حکم په دې حدیث کښې دې په هغې کښې دَ چااختلاف نشته دې

د دویم فریق دلائل خمسه: ① دَ قرآن کریم هغه آیاتونه هم د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَ نفس په بدله کښې دَ نفس حکم ذکردې دَهغې تفصیل چه په حدیث نمبر(۳۳۳۶) کښې تیرشوې دې

② دَ نسائی یوروایت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه داسې دی «لایقاد المملوك من مولاه» (نسائی) دادَ احناف په مدعاباندې یودلیل دې چه دَ آقا نه دَ غلام دَپاره قصاص نشته دې

③ «عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رجلاً قتل عبده متعمداً فجلده النبی ﷺ مائة جلدة ونفاه سنة ومحا سهمه من المسلمین ولم یقده به وامره ان یعتق رقبة» (دارقطنی او بیهقی ،بحواله زجاجة المصابیح ۱۸/۳) دَدې حدیث نه هم ثابته ده چه دَ آقا نه به قصاص نه شی اخستې

④ هغه دردناك واقعه هم د دوی مستدل دې په کومه کښې چه ذکر دی یوسری خپله وینځه دَ زنا په تهمت کښې په اور باندې کینوله اودَ هغې شرمګاه ئی اوسیزله دَحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په وړاندې مقدمه پیش شوه هیڅوك ګواه نه وو نه وینځې دَ زنا اعتراف اوکړونوحضرت عمر فاروق رضی الله عنه هغه سړی ته اوفرمائیل «لولم اسمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لایقاد مملوك من مالکه لاقدتها منك» (زجاجة المصابیح ۱۹/۳)

⑤ عقلی دلیل دادې چه دَ مولی او غلام په قصاص کښې شبه راغله خکه چه غلام دَ مولی په ملکیت کښې دې البته په شبه سره قصاص ختم شو

[۲٤۷٤] د دیت مقدار او د اوښانو نومونه

س—[۲۵] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "«مَنْ قَتَلَ مُتَعَمِّدًا دُفِعَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْمَقْتُولِ: [۳] فَإِنْ شَاءُوا قَتَلُوا، [۴] وَإِنْ شَاءُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ: [۵] وَهِيَ ثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً وَأَرْبَعُونَ خَلِفَةً. [۶] وَمَا صَالَحُوا عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُمْ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې قتل عمداً وکړي هغه دې د مقتول وارثانوته حواله شي [۳] خواه که هغه هغه (د مقتول په بدله کې) قتل کړي، [۴] او که د هغه نه دیت یعنې خون بها واخلي [۵] او د خون بها (مقدار او تعداد) دادی چې دیرش اوښې هغه وي چې (د دریم کال نه تیریدو سره) په څلورم کال کې وي، او دیرش اوښې هغه وي چې په پنځم کال کې وي. او څلوېښت اوښې هغه وي چې بلاربې (حامله) وي [۶] (د دې نه علاوه) او په کوم څیز چې صلح وشي، په هغوی به د هغه مقدار وي (یعني دیت چې د مقتول د وارثانو حق دی د هغه اصل مقدار او تعداد خو دغه دی، خو که وارثان په کم راضي شي نو په قتل به هغه واجب وي)

حل اللغات ①دُفِعَ: حواله دې کړې شی، ②الدِّيَةَ: خون بها، مالي معاوضه، ③خَلِفَةً: بلاربه اوښه

تسهیلات: قوله: وَإِنْ شَاءُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ: وَهِيَ ثَلَاثُونَ حِقَّةً..الخ:

فائده: زکاة سره متعلق بعضې اصطلاحي ټکی:

① حقه،بنت مخاض: هغه ماده اوښه ده دکوم چه یوکال پوره شوې وی او په دویم کښې داخله شوې وی

② "بنت لبون" هغه ښخه اوښه ده دکومې چه دوه کاله پوره شوې وی او په دریم کښې داخله شوې وی

③ "حقة" هغه ښخه اوښه ده دکومې چه درې کاله پوره شوې وی او په څلورم کښې قدم ایښودې وی

④ "جذعه" هغه ښخه اوښه ده دکومې چه څلور کاله پوره شوې وی او پنځم کښې قدم ایخودې وی دې نه پس

⑤ "ثني" ده داهغه اوښ یا اوښه ده چه په شپږم کال کښې داخل شی

⑥ "رباعي" هغې اوښ ته وائی کله چې هغه په اووم کال کښې قدم کیږدی او مادې ته رباعیه وائی

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم /باب ما جاء فی الدّیة کم هی من الإبل (رقم-۱۳۸۷) والنسائی فی کتاب الدّیات /باب من قتل عمدا فرضوا بالدّیة (رقم-۲۶۲۶) واحمد فی المسند:۲/۱۸۳

⑦"سدیس" هغې اوښ ته وائی کله چه هغه اووه کاله پوره کړی او په اتم کښې داخل شی

⑧ "بازل" هغې اوښ ته وائی کله چه هغه اته کاله مکمل کړی په نهم کال کښې داخل شی دې نه پس که هغه په لسم کال کښې هم داخلیږی هغه ته "بازل" او "مخلف"هم وائی دې نه پس د یوعمردپاره هم څه خاص نوم نشته دې البته "بازل" سره د عام لفظ لګولونه اندازه کولې شی دغه شان "مخلف" سره د عام لفظ لګولوسره وئیلی شی "بازل عام وبازل عامین" او "مخلف عام ومخلف عامین"

قوله: - "وَأَرْبَعُونَ خَلِفَةً"

د خون بها په ترتیب کښې ۲ مذاهب:

① د دې جمع خلفات ده حمل دارې اوښې ته وائی په قتل عمد کښې د قصاص په ځائی که په دیت او خون بها باندې طرفین راضی وی نو د خون بهاپاره کښې دامام شافعی رحمه الله په نیز هم دغه ترتیب دې کوم چه په دې حدیث کښې دې. چه دیرش حقه وی او دیرش جذعه وی او څلویښت خلفات یعنی حاملې وی.

② دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د خون بهاترتیب د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د روایت مطابق داسې دې چه ۲۵ بنت مخاض وی ۲۵ بنت لبون ۲۵ حقه او ۲۵ جذعه اوښې وی د شوافعو په نیزچه د اثلاثاً د دیت اداکولوکوم ترتیب دې دا دیت مغلظه دې د احناف په نیز د ارباعاً والا ترتیب دیت مغلظه دې.

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث داول فریق مستدل دې په کوم کښې چه د اثلاثاً ترتیب دې

داول فریق د دلیل جواب: د ددویم فریق په نیز کوم روایات د دوی مستدلات دی هغه د زیر بحث حدیث نه راجح دی. دا روایت د هغې روایاتو مقابله نشی کولې

د دویم فریق دلائل: د سائب بن یزید رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی ((روي الزهري عن السائب بن يزيد قال كانت الدية على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم رباعاً خمساً وعشرين جذعة وخمساً وعشرين حقة وخمساً وعشرين بنت لبون وخمساً وعشرين بنت مخاض)) (كذا فى المغنى تعليق الصبيح ۴/ ۱۳۲)

② د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه هم د دوی مستدل دې کوم چه امام ابو داؤد رحمه الله نقل کولوسره سکوت فرمائیلې دې کوم چه د حدیث د صحت نښه ده د حدیث الفاظ دادی ((عن علقمة والاسود قالا قال عبد الله في شبه العمد خمس وعشرون حقة وخمس وعشرون جذعة وخمس وعشرون بنات لبون وخمس وعشرون بنات مخاض)) (رواه ابوداؤد) په دې کښې هم د ارباعاً ترتیب ذکردې لکه چه پورته د حضرت سائب رضی الله عنه په روایت کښې دی.

[۲٤۷۵] په قصاص او ديت كښې د ټولو مسلمانانو برابري

۳۴۷۵ - [۲۶] (۱) ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «اَلْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ، ۳ وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ، ۴ وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ، ۵ وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ، أَلَا لَا يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ، وَلَا ذُو عَهْدٍ فِي عَهْدِهِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت علي كرم الله وجهه د نبي كريم ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل ۲ په قصاص او ديت كې ټول مسلمانان برابر دي، ۳ او يو ادنى مسلمان هم آمان وركولى شي. ۴ او د لرې والا مسلمان هم حق لري، او ټول مسلمانان د يو لاس په شان دى يعني ټول مسلمانان د غير مسلمو په مقابله كې په خپلو كې د يو بل مددگار كيدو ۵ او د يو بل سره د اتفاق او اتحاد ساتلو او په خپلو كې اختلاف نه كولو كې د يو لاس په شان دى، چې څنگه يو څيز نيولو يا د سكون او حركت په موقع د يو لاس په ټول اجزاؤ كې څه مخالفت يا جدايي نه وي، دغه شان مسلمانانو ته هم پكار دى چې د غيرو په مقابله كې متحد او متفق وي، او په خپلو كې د يوبل مدد كوي، او خبردار د كافر په بدله كې دي مسلمان نشي وژلى، او نه عهد والا (يعني ذمي) دي وژلى شي، د څو پورې چې هغه په عهد وامن كې وي. (ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① تَتَكَافَأُ: برابر دى. ② وَيَسْعَى: حقدار دي ③ بِذِمَّتِهِمْ: امان وركولې شى ④ أَدْنَاهُمْ: ادنى، معمولى په دوى كښې ⑤ أَقْصَاهُمْ: لرې په دوى كښې، ⑥ يَدٌ: لاس، موټې، متفق. ⑦ ذُو عَهْدٍ: عهدولا، ذمي.

تسهيلات:

قوله: اَلْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ:

كفاءت فى الدماء نه مراد: دادكفاءت نه دې چه دَ مساوات اوبرابرئى په معنى كښې دې يعني د خون بهـ اخستلو وركولو اوقصاص كښې ټول مسلمانان يوشان برابر دى په يوادنى او اعلى كښې يا شريف او رذيل كښې يا په لوئى وړوكى كښې يا په نيك عمل اوبدعمل كښې يا عالم جاهل يا اميرغريب يا ښځه اوسړى كښې دَ ديت اوقصاص هيڅ فرق نشته دې دا نشته چه دَ لوئى ذات والا ديت به زيات وى اودَ وړوكى ذات والا ديت به كم وى اوس دادَ اسلام عادلانه نظام دې دَ جاهليت ظالمانه فرق اوس ختم شوې دې چه دَ اوچتې طبقې اوخاندان دَ سړى قصاص دَ يوپه ځائى دوه او درې وژلې شى

---

۱) اخرجه ابو داود فى كتاب الديات/باب أيقاد المسلم بالكافر(رقم-۴۵۳۰) والنسائى فى كتاب القسامة/باب سقوط القود من المسلم للكافر(رقم-۴۷۴۶) واحمد فى المسند: ۱/۱۲۲

قوله: وَيَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ:

د ادنی مسلمان د امن ورکولو صحت: یعني یوکمزوري مسلمان که هرڅومره ګمنام ولی نه وی یا ښځه اوسري مسلمانان غلامان ولي نه وی هغه که یوکافرته امن ورکړی نوټولو مسلمانانوله د هغه احترام کول پکاردی او دغه کافرته امن ورکول پکاردی

د حدیث د بعضي جملو وضاحت:

قوله: ① وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ: یعنی د اسلام د لښکر نه چه مثلاً یو وړوکي ټولګي جدا شو اولري لاړو اوجنګیدو اومال غنیمت ئې حاصل کړو نو په هغوی باندي لازم دی چه هغوی دي مال غنیمت راوړی او مرکز او بیت المال کښي دي جمع کړی د دغه ټولګی په دغه مال باندي خپل هیڅ حق نشته دي

قوله: ② وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ: یعنی د دنیاټول مسلمانان د کافرانو په مقابله کښي د اوسپني د یودیوال په شان دی یولاس دي چرته هم چه په یومسلمان باندي د کافرانو د طرف نه ظلم اوزیاتي کیږی نو په ټولو مسلمانانو باندي فرض دی چه هغوی د خپلو مسلمانانوروڼړو امداداوکړی. په دي حدیث کښي مسلمانانوته دا دستاویزی حکم ورکړی شوي دي چه څنګه "الكفرملةواحدة" دی دغه شان مسلمانان هم دکافرانو په مقابله کښي یولاس دی هغوی د یوبل د امداد نه خلاصیدي نه شی.

قوله: أَلَا لَا يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ : **په حدیث کښي د کافرنه مراد** :د احنافو په نیز دلته د کافرنه حربی کافر مراددي چه د هغه په قصاص کښي به مسلمان قتل کولي نه شی اود ذمی په بدله کښي به قتل کولي شی. دلته د ذمی جدا ذکر کول د دي خبري دلیل دي چه د کافرنه مراد حربی دی اود ذمی حکم جدا دي.

۳۴۷۶-(۱) وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: او ابن ماجه رحمه الله دا روایت د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړي دی

[۲۴۷۷] مقتول اوزخمی ته د دریو څیزونو اختیار

۳۴۷۷-[۲۷](۲) [۱] وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] "«مَنْ أُصِيبَ بِدَمٍ أَوْ خَبْلٍ -وَالْخَبْلُ: الْجُرْحُ- فَهُوَ بِالْخِيَارِ بَيْنَ إِحْدَى ثَلَاثٍ، [۳] فَإِنْ أَرَادَ الرَّابِعَةَ فَخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ: [۴] بَيْنَ أَنْ يَقْتَصَّ [۵] أَوْ يَعْفُوَ [۶] أَوْ يَأْخُذَ الْعَقْلَ، فَإِنْ أَخَذَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ عَدَا بَعْدَ ذَلِكَ فَلَهُ النَّارُ خَالِدًا فِيهَا مُخَلَّدًا أَبَدًا»" رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

۱) اخرجه ابن ماجه فی السنن كتاب الديات /باب المسلمون تتكافأ دماؤهم (رقم-۲۶۸۳)

۲) اخرجه ابوداود فی كتاب الديات /باب الإمام يأمر بالعفو فی الدم (رقم-۴۴۹۶) وابن ماجه فی كتاب الديات /باب من قتل له قتيل فهو بالخيار بين إحدى ثلاث (رقم-۲۶۲۳)

ترجمه: [۱]او حضرت ابو شريح خزاعي ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي [۲]کوم سرى چې د قتل ناحق يا زخم په وجه غمزده وي (يعني د کوم سړي مورث چې ناحق قتل شوى وي، يا د هغه د بدن يو اندام پرې شوى وي) نو هغه په دريو څيزونو کې د يو شي د اختيارولو حقدار دى، [۳]او که هغه (د هغه درې څيزونو نه زائد) د څلورم څيز طلبګار وي ، نو د هغه لاس ونيسى (يعني هغه د هغه څلورم طلب کولو نه منع کړه) او هغه درې څيزونه دا دي [۴]① يا خو هغه دې قصاص واخلي [۵]② يا معاف دې کړي[۶]③ يا مالي معاوضه دې واخلي، بيا که هغه په دريو څيزونو کې يو څيز اختيار کړي، او د دې نه وروسته د دويم څيز اضافه يې وکړه (يعني مثلا مخکې خو هغه معاف کړي، بيا وروسته د قصاص يا مالي مطالبه وکړه) نو د هغه د پاره د دوزخ اور دى، چې په هغه کې به هميشه اوسيږي، په هغه کې به هميشه ساتل کيږي، او هيڅ کله به ترې نه نه اوځى، (دارمي)

حل اللغات ①أُصِيبَ: چه ورته رسيدلي وى، مبتلاشوي وى، ②خَبْلٍ :زخم. ③الْجُرْحُ :زخم. ④أَنْ يَقْتَصَّ :قصاص دې واخلى، ⑤الْعَقْلَ:ديت، مالى معاوضه. ⑥عَدَا: د زياتى مطالبه كوى. زياتې او تجاوز كوى

تسهيلات:

قوله فَلَهُ النَّارُ خَالِدًا فِيهَا مُخَلَّدًا أَبَدًا : په دوزخ کښې دَ هميشه اوسيدوحکم تشديدًا تغليظًا اوزجرًا وتوبيخًا وتهديدًا دي

[۳٤٧٨]دقتل خطاء حكم

[۲۸] (۱)[۱]وَعَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲]" «مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيَّةٍ فِي رَمْيٍ يَكُونُ بَيْنَهُمْ بِالْحِجَارَةِ، أَوْ جَلْدٍ بِالسِّيَاطِ أَوْ ضَرْبٍ بِعَصًا، [۳]فَهُوَ خَطَأٌ، وَعَقْلُهُ عَقْلُ الْخَطَإِ، [۴]وَمَنْ قَتَلَ عَمْدًا فَهُوَ قَوَدٌ [۵]وَمَنْ حَالَ دُونَهُ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَغَضَبُهُ، [۶]لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت طاوس رحمه الله د ابن عباس ﷺ نه او هغه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲]کوم سرى چې د خلقو په منځ کې د کاڼو په ويشتو يا د دورو او کوتکو بې دريغه ګذارونو کې ووژل شي (يعني دا معلومه نه شي چې قاتل څوك دى) [۳]نو دا قتل (د ګناه نه کيدو په اعتبار سره) به د قتلِ خطاء په حکم کې وي (ځکه چې هغه بلا قصد قتل شوى دى) او هغه ديت، د قتلِ خطاء ديت دى [۴]او کوم سرى چې قصداً ووژل شو ، نو د هغه قتل، قصاص واجب کوي، [۵] او کوم سرى چې د قصاص په اخستو کې

۱) اخرجه ابوداود في كتاب الدّيات/باب من قتل في عمّيا بين قوم (رقم-٤٥٤٠) والنسائى فى كتاب القسامة/باب من قتل بحجر أو سوط (رقم-٤٧٨٩) وابن ماجه فى كتاب الدّيات/باب من حال بين ولىّ المقتول وبين القود أو الدّية (رقم-٢٦٣٥)

حائل (مزاحم) وي، په هغه د الله ﷻ لعنت او د هغه غضب دی، ۞نه د هغه نفل قبليږي ، او نه فرض، (ابوداود ، نسايي)

حل اللغات: (۱) عِمِّيَّة: دَعين کسره اوميم مشدد کسره اويامشدده سره دي. داداسې فتنې او بې حده زيات ډزو يا کاڼرو ويشتلوته وائی دَکوم چه دَ صحيح صورت حال اندازه نه شی کيدې.(۲)رَمْي: ويشتل، غوزارونه کول. (۳)الحِجَارَة: کاڼرى(۴)حَلْبٍ بِالسِّيَاطِ :دُورو سره وهل. (د خرمن دُوره)،(۵)عَصًا: همسا ، کوتک، (۶)عَقْلُ الخَطَأ: د قتل خطا ديت،(۷)قَوَدٌ: قصاص، (۸)حَالَ: حائل شو، مزاحم شو، (۹)صَرْفٌ:نفلي عبادت، (توبه) (۱۰)عَدْلٌ: فرض عبادت، (فديه)،

تسهيلات: قوله: مَنْ قُتِلَ فِي عِمِّيَّةٍ:

په هجوم کښې په قتل باندې عدم قصاص: دَ حديث مطلب دادې مثلاً دَ دوو ډلو جنگ دې اوطرفين نه په يو بل بې شميره کاڼرو وريدو يا کوړو او يادَ ډنډو استعمال شروع دې. او په جنگ کښې څوك سرې مرشی نو دا قتل خطاء دې کوم چه قصاص نه واجبوی بلکه داقتل بالمثقل دې کوم چه ديت واجب کوی اودا ديت به په عاقله باندې راځی

د قتل شبهِ عمد په تعريف کښې اقوال:

① په کوم يومثقل څيز سره ئی اووژنی دې قسم قتل ته فقهاء شبه عمدوائی

② دَ شوافعو اوصاحبينو په نيز دَ شبه عمد تعريف دادې چه قصداً يو سړې بغيردَ آلـه قتل نه په يوخل اووهی په کوم سره چه عموماً دَ چامرگ نه واقع کيږی. لکه وړوکې کاڼرې يا په وړوکی چوکې سره قتل کول.

③ دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دَ قتل شبه عمدتعريف داسې دې هغه قتل چه قصداً اوکړې شی ليکن په يوداسې څيزسره چه نه دَ اوسپنې وی او نه په تفريق اعضاء کښې دَ اوسپنې په شان وی. لکه په کاڼرې او همساسره قتل کول.

ثمره د اختلاف: دَ احنافو اوشوافعو دَ اختلاف ثمره داده که يوسړی بل سړې په يو درونډ کاڼرې يا پيړه درنه همسا باندې اووهی نودَ شوافعو په نيز داقتل عمد دې په کوم کښې چه قصاص دې اودَ احنافو په نيزبه شبه عمدوی

په مذکوره حديث سره د امام ابوحنيفه تائيد: دَ زيربحث حديث دَ ظاهری الفاظ نه دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دَ مسلك تائيد کيږی ځکه چه مطلق کاڼرې او چوکه دروندنه دروند او دَ لوئی نه لوئی کيدې شی دَ شوافعو په نيزدَې نه سپك څيزونه مراد دی.

قوله: وَمَنْ قُتِلَ عَمْدًا:

د قتل په صيغه کښې دوه احتمالات: ① اشعة اللمعات کښې شيخ عبدالحق رحمه الله دا صيغه دَمجهول صيغه منلوسره ترجمه کړې ده.

② ملاعلی قاری رحمه الله دَ معروف منلې ده. اشعة المعات:۳/۲۳۸.

د حديث د بعضې جملو وضاحت، ① **لَهُوَ قَوَدٌ**: يعنى چاچه څوك په آله جارحه يعنى تيره څيزباندې قصداً اووژلونو په دې قتل سره قصاص لازم راځى

② **وَمَنْ حَالَ دُونَهُ**: يعنى كوم سړې چه دَ قاتل نه په قصاص اخستلوكښې حائل شو اوخپل اثراورسوخ استعمالولوسره ئې دَ دې شرعى حكم په نافذكولوكښې ركاوټ جوړشو نو په هغه به دَالله تعالى لعنت نازليږى

③ **لَايُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَاعَدْلٌ**: شيخ عبدالحق رحمه الله اشعه المعات كښې ليكلى دى چه دَ صرف ترجمه په توبې سره هم كولې شى او نفل سره هم كيږى او عدل ترجمه فديه سره هم كولې شى او فرض سره هم كولې شى هرخانى كښې دَدې الفاظو دا مطلب اخستلې شى [اشعة المعات ۳/۲۳۸،۲۳۰].

فائده: د قتل قسمونه: دَ فقهاء كرامو په نيزدَ قتل پنځه قسمونه دى

①قتل عمد ②قتل شبه عمد ③قتل خطا ④قتل جارى مجراى خطا ⑤قتل بسبب. دَ كتاب القصاص په شروع كښې دَتولوتعريف او تفصيل تيرشوې دې

[۲٤۷۹] د ديت اخستلوڅخه روسته دقاتل د قتلولو ګناه

[۲۹] (۱) ١ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «لَا أُعْفِي مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِ الدِّيَةِ» ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ٢ د مقتول ولي. د وارثانونه ، چې كوم سړى (د قاتل نه) ديت (خون بها) اخستو نه وروسته هغه قتل كړي. زه هغه نه معاف كوم (بلكه هغه به هم په طورِ خاص قتلوم) ابوداوود

حل اللغات (۱) لَاأُعْفِي :زه نه معاف كوم.

تسهيلات:

قوله لَاأُعْفِي مَنْ قَتَلَ بَعْدَ أَخْذِ الدِّيَةِ

د ديت اخستلويا معاف كولوڅخه روسته د بدلې اخستلووعيد: مقتول كوم ولى چې قتل معاف كړى يا ديت واخلى او بيا هم بدله اخستل غواړى نو هغه دپاره دردناك عذاب دې كما فى قوله تعالى «فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ»، داشان حديث «لاأعفى من قتل بعدأخذالدية» كښې د نبى كريم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې . د هغه كس دپاره معافى نشته دې څوك چې ديت اخستلو نه پس هم قتل اوكړى يا دا مطلب دې چې دداسې مقتول د ولى قاتل به معاف نه كړم خينې حضرات فرمائى چې په زمانه جاهليت كښې به اول داسې

۱) اخرجه ابوداود فى كتاب الديات/باب من يقتل بعد أخذ الدية (رقم-٤٥٠٧)واحمد فى المسند:۳/۳٦۳

کیدل چې که یو کس بهٔ قتل کړې شو نو قاتل به د مقتول دیت ادا کړو او مامون بهٔ شو لیکن کله به خلقو په ده باندې غلبه اوموندله نو بیا به نې دې قتل کولو او دیت به نې واپس کولو نبی کریم ﷺ د جاهلیت د زمانې ددې فعل تردید اوکړو (مرقاة ج ٧ ص ٦٧، ٦٨) داشان داسې قاتل (چې د مقتول ولی دې) به د جمهور په نزد قصاصا نه قتل کیږی لهذا نه معاف کولو نه مراد قتل کول نه دی

[٢٤٨٠] د زخم د معاف کولو ثواب

٣٤٨٠ـ[٣٠] (١) ①وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: ②" «مَا مِنْ رَجُلٍ يُصَابُ بِشَيْءٍ فِي جَسَدِهِ فَتَصَدَّقَ بِهِ ③إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ بِهِ دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْهُ خَطِيئَةً» "). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①او حضرت ابودرداء رضی الله عنه وایي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي ②چې د کوم سړي د بدن څه حصه چې زخمي کړل شوه، او هغه زخم کونکی یې معاف کړي (یعنې د هغه نه یې څه بدله وانخستله، او په تقدیر الهي صابر شو) ③نو د الله تعالی به د دې په وجه د هغه یوه درجه بلنده کړي او یوه ګناه به یې معاف کړي. (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: (١) يُصَابُ: چه رسیدلي وی ورته (زخم) (٢) فَتَصَدَّقَ: معاف نې کړی، څه معاوضه بدله تري اونه غواړی (٣) حَطَّ: رژوی، لرې کوی.

تسهیلات:

قوله: يُصَابُ بِشَيْءٍ فِي جَسَدِهِ: ددې نه مراد آسمانی مصیبت یا قتل نه دې بلکه د یو مسلمان د طرف زخم وغیره رسول دی. لهذا داسې صورت په زخمی کوؤنکې مسلمان معاف کولو کښې لوې فضیلت دې. کما فی فی القرآن (فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا.... إلخ) دا شان دا معافی دمسلمان مجرم باره کښې ده. کافر نه بدله اخستل ضروری دی کافر نه که بدله وانخستل شی نو هغه به نور هم جری شی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٤٨١] یو مسلمان په قصاص کښې د صنعاء یمن د خلقو قصاص کول

٣٤٨١ـ[٣١] (٢) ①عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَتَلَ نَفَرًا خَمْسَةً أَوْ سَبْعَةً ②بِرَجُلٍ وَاحِدٍ قَتَلُوْهُ قَتْلَ غِيلَةٍ، ③وَقَالَ عُمَرُ: لَوْ تَمَالَأَ عَلَيْهِ أَهْلُ صَنْعَاءَ ④لَقَتَلْتُهُمْ جَمِيعًا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

١) اخرجه الترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی العفو (رقم-١٣٩٣) وابن ماجه کتاب الدّیات/باب العفو فی القصاص (رقم-٢٦٩٣) واحمد فی المسند: ٤٤٨/٦

٢) اخرجه مالک فی الموطا کتاب العقول/باب ما جاء فی الغیلة والسّحر (رقم-١٣)

ترجمه: ① او حضرت سعید ابن مسیب رحمه الله راوي دی چې حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه (خلیفة المسلمین) داسې د پنځه یا اوو سړو جماعت قتل کړي، ② چې هغوئ په دهوکه دهوکه سره یو سړی قتل کړي وو، ③ او حضرت عمر رضی الله عنه وفرمایل که صنعاء والاتولو دا قتل کړي وی، یا د قاتلانو مدد یې کړي وی، ④ نو ما به هغه ټول قتل کړي وو.

حل اللغات: (۱) غِیلَةٍ: په دهوکې سره، (۲) تَمَالَأَ: د مَلأ نه دې د اتفاق اتحاد اویوبل سره تعاون کولو په معنی کښې دې

تسهیلات: **قوله:** أَهْلُ صَنْعَاءَ:

د صنعاء ښار د ذکر کولو وجه: دَ یمن دَملك مرکزی ښاردې. نن صباد دې ملك دارالخلافه ده. حضرت عمر رضی الله عنه دَدې ښارنوم یاخوپه دې وجه واخستو چه دَقاتلانو تعلق هم دې ښارسره وو یا هغوی رضی الله عنه دَ عربو دَ دستور مطابق کثرت ښکاره کولو دَپاره دَ صنعا نوم واخستلو یعنی که په زرګونوخلق هم دَ یو انسان په قتل کښې شریك شی نوزه به ټول په قصاص کښې وژنم. دَدې عدل اوانصاف نه معلومیږی چه اسلام دَ انسانی ځان څومره حفاظت کړې دې لیکن نن صبا دَ حقوق انسانی په نوم باندې جوړشوی تنظیمونه هم انسانی حقوق دَخپو لاندې کوی.

۳۴۸۲ ـ (۱) وَرَوَى الْبُخَارِيُّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ نَحْوَهُ.

ترجمه: امام بخاري رحمه الله هم دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه د دې په مثل نقل کړي دی.

[۳٤۸۳] د د مقتول د الله په دربار کښې خپل قاتل پیش کول

۳٤۸۳ ـ [۳۲] (۲) ① وَعَنْ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: حَدَّثَنِي فُلَانٌ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② «يَجِيءُ الْمَقْتُولُ بِقَاتِلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ③ فَيَقُولُ: سَلْ هَذَا فِيمَ قَتَلَنِي. ④ فَيَقُولُ: قَتَلْتُهُ عَلَى مُلْكِ فُلَانٍ". ⑤ قَالَ جُنْدُبٌ: فَاتَّقِهَا». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت جندب وایي چې ماته فلاني صحابي (چې د هغه نوم یا خو جندب رضی الله عنه واخست یا د راوي په ذهن کې یاد پاتې نه شو) دا حدیث بیان کړي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② د قیامت په ورځ به مقتول خپل قاتل نیولی راولي، ③ او الله تعالی ته به فریاد وکړي چې د ده نه پوښتنه وکړي چې زه یې ولی قتل کړي وم؟ ④ قاتل به وایي چې ما د فلانی سړی په سلطنت کې قتل کړي وو، ⑤ جندب رضی الله عنه (د دا حدیث بیانولو نه وروسته) اوویل ته د دې نه ځان اوساته، (نسایي)

حل اللغات: (۱) فَاتَّقِهَا: دې نه ځان اوساته

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدّیات/باب إذا أصاب قوم من رجل، هل یعاقب أو یقتصّ منهم کلّهم(رقم-۶۸۹۶)
۲) اخرجه النسائی فی کتاب تحریم الدّم/باب تعظیم الدّم (رقم-۳۹۹۸)

تسهيلات:

قوله: قَتَلَتُهُ عَلَى مُلْكِ فُلَانٍ:

د الله په دربار کښې د مقتول فرياد: يعنى مقتول به دَ قيامت په ورځ چه کله په قاتل باندې دَقتل دعوىٰ کوى اوالله تعالى ته به فرياد کوى چه دَدې قاتل نه پوښتنه اوکړئ چه ده زه ولې قتل کړې ووم نوقاتل به په جواب کښې وائى چه ماد فلانکى سړى په بادشاهئ کښې دې قتل کړې وو

په سوال او جواب کښې د عدم مطابقت اعتراض: دَ قاتل داجواب دَ مقتول دَ سوال او دعوىٰ اوفرياد دَپاره جواب نه شى جوړيدې نو په دې سوال جواب کښې څه مطابقت دې؟

د اعتراض جواب: په دې کښې مطابقت واضح دې چه قاتل په جواب کښې وائى چه بيشکه مادې قتل رې ووخومادَفلانکى بادشاه په بادشاهئ کښې دَهغه په اشاره او امدادسره دې قتل کړې وولهذا دَدې قتل اصل محرك او ذمه وار هم دغه بادشاه دې جندب ﷺ هم هغه مشهور صحابى دې چه دَ ابوذر غفارى ﷺ په نوم باندې مشهوردې.

[۲۴۸۴] په قتل کښې د معمولى مدد کولو سزا

۳۴۸۴—[۳۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ شَطْرَ كَلِمَةٍ لَقِيَ اللَّهَ، [۳] مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهريره ﷺ راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړى چې نيمه جمله ويلو سره هم د يو مومن په قتل کې مدد وکړي (يعني مثلًا اُقتُل پوره يې ونه ويلو بلکه يواځې اُق يې وويلو) نو هغه به د الله ﷻ سره په داسې حال کې ملاقات کوي [۳] چې د هغه د دواړو سترګو په منځ کې به يې دا ليکلي وي چې دا هغه کس دى چې د الله ﷻ د رحمت نه نا اميده دى. (ابن ماجه)

حل اللغات: (۱) شَطْرَ كَلِمَةٍ: نيمګړې خبره. (۲) آيِسٌ: ناأميده.

تسهيلات: قوله: شَطْرَ كَلِمَةٍ:

په قتل کښې په معمولى شرکت د قتل سزا: يعنى پوره دَ اقتل کلمه ئى نه وئيلې بلکه دَ قاتل په معاونت اوامداد کښې صرف "اق" نيمه کلمه وئيلې وى هغه هم دَ قاتل سره په دې قتل کښې شريك دې

دَدې نه معلومه شوه چه دَ چا په قتل کولوکښې عملاً دَ شريك کيدونه علاوه منصوبه سازى کول يا مشوره کول يادَ رضامندئى اظهارکول اودَ څه قسم لاز خودنې اوامداد اونصرت کول هم جرم دې

(۱) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الديات/باب التغليظ فى قتل مسلم ظلما (رقم-۲۶۲۰)

قوله: آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ:

د دې جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعنې داسړې دَالله تعالى دَ رحمت نه نااميده دې دَ مسلمان قتل کول دَ ګناه په سختوالى کښې دَ کفرپه شان دې دا جمله چه دا سړې دَ الله تعالى دَ رحمت نه نااميدې هم دَدغه ارتکاب کفرنه کنايه ده چه دکافرانوپه شان به داسړې هم دَ الله تعالى دَ رحمت نه نااميده وى نودا زجروتشديد اوتهديد اوتوبيخ باندې محمول دى

②مطلب چه دَ مؤمن په قتل کښې معاونت اونصرت چه کوم سړې حلال ګڼړى هغه به دَالله تعالى دَ رحمت نه نااميده اوکافروى

[۲٤۸۵] د قاتل معاون لره قيد ګول

٣٤٨٢—[٣٣] (١) [١]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «إِذَا أَمْسَكَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ [٣] وَقَتَلَهُ الْآخَرُ، [٤] يُقْتَلُ الَّذِي قَتَلَ [٥] وَيُحْبَسُ الَّذِي أَمْسَكَ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې نبى کريم ﷺ فرمايل [٢] هر کله چې يو شخص يو سړى ونيسي، [٣] او دويم هغه قتل کړي. [٤] نو (د مقتول په بدله کې) هغه سړى دې قتل کړي، چا چې هغه قتل کړي دى، [٥] او نيونکي ته دې د قيد سزا ورکول شي، (دارقطني)

حل اللغات: (١) أَمْسَكَ: اونيسى، ايسار ئې کړى. (٢) يُحْبَسُ: قيد کولې به شى

تسهيلات: **قوله**: وَيُحْبَسُ:

د قاتل د معاون په سزا کښې ۳ مذاهب:

يوسړى بل يوسړې راونيولو اودويم قتل کړو نو په دې باندې اتفاق دې چه دَ قاتل نه به قصاص اخستلې شى ليکن دَدغه نيونکى به څه سزا وى په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

① دَ امام احمد رحمه الله يوقول دادې چه ترمرګه پورې به دغه سړې قيد کولې شى لکه چه په دې حديث کښې دى

② امام مالك رحمه الله او دَ يوقول مطابق امام احمد رحمه الله فرمائى چه دغه نيونکې سړې به هم قتل کولې شى

③ امام ابوحنيفه رحمه الله اوامام شافعى رحمه الله فرمائى چه دغه سړى ته به تعزير ورکولې شى اوس په تعزيرکښې به دَ قاضى اودَحاکم دَ رائې اعتبارکيږى که چرې هغه غواړى نو قيد کولې شى اوکه مناسب ګڼړى نودې قتل کولې هم شى ځکه چه دَ تعزير دائره وسيع وى

١) اخرجه الدارقطنى ٣ / ١٤٠ رقم الحديث ١٧۶

تنبيه: شارحين حديث ليكلى دى چه دا حديث دَهغه تولو احاديثوسره معارض دې په كوم كښې چه دَ قاتل مدد اومعاونت باندې دَ قصاص حكم لګولې شوې دې لهذا هغوى فرمائى چه داحديث دَ خپل حكم په اعتبارسره منسوخ دې (كذافى الاشعة)

[۱۶] كِتَابُ الدِّيَاتِ

[۱] بَابُ الدِّيَاتِ

دَ ديتونوبيان

خلاصة الباب:

فيه اثنان وعشرون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① دية الأطراف: ۱، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۶.

② دية الجنين: ۲، ۳، ۴، ۱۷، ۲۲.

③ دية غير العمد على العاقلة الأغنياء دون الفقراء: ۲، ۳، ۴، ۱۴، ۱۹.

④ دية شبه العمد: ۵، ۱۵، ۲۰، ۲۱.

⑤ حكم دية النفس: ۶، ۱۰، ۱۸.

⑥ حكم دية الخطاء: ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۲۰.

د ديت لغوى: ودې يدې دية دَ باب ضرب نه دَ قاتل دَ طرف نه دَمقتول وارثانوته مالى معاوضه وركولوته ديت وائى

د ديت اصطلاحى تعريف: دَ شريعت په اصطلاح كښې ديت دَ هغه مالى معاوضه نوم دې چه دَ يواندام يا دَ يوخان ختمولوپه بدله كښې وركولې شى چونكه ديت كله دَ يوخان بدله كښې راځى كله دَ يواندام بدله كښې راځى كله ديت مغلظه وى اوكله ديت مخففه وى په دې وجه په كتاب كښې ديات جمع راوړلې شوې ده دَ كوم مفردچه دية دې

د ديت دوه قسمونه: ① ديت مغلظه دې ② ديت مخففه

د ديت مغلظه په تعريف كښې ۲ مذاهب:

① دَامام شافعى رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نيزهم ديت مغلظه سل اوښې دى ليكن درې قسمه اوښې به وى مثلاً ۳۰ حقه ۳۰ جذعه او څلويښت خلفات يعنى حامله به وى دې تقسيم ته اثلاثًا وائى او رومبى تقسيم ته ارباعًا وائى

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نيز ديت مغلظه سل اوښې دى ليكن څلور قسم اوښې به وى ۲۵ بنت خاض او ۲۵ بنت لبون دې ۲۵ حقه او ۲۵ جذعه وى

د دیت مغلظه او مخففه د ادا کولو اجناس: ① دیت مغلظه په هغه سری باندې راځی چه دَ قتل شبه عمد مرتکب شوې وی یا په قتل عمد کښې په دیت باندې صلح شوې وی. دیت مغلظه صرف دَ اوښانو په صورت ادا کولې شی

② دیت مخففه اوښانو او دراهم اودنانیردواړو سره ادا کیدې شی. که چرې په اوښانوسره ادا کول وی نو پنځه قسمه سل اوښان به اداکولې کیږی ۲۰ بنت مخاض ۲۰بنت لبون ۲۰ابن مخاض، ۲۰حقه او ۲۰جذعه به ورکوی

د تعیینو (سره سپینو) په صورت کښې د دیت د ادا کولو مقدار کې ۲ مذاهب

① دَ دیت مخففه ادائیگی که چرې په سرو زرو یا سپینو زرو سره وی نودَ سرو زرو نه زر دینار دی او چاندئی نه دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزلس زره دراهم دی

② دَ شوافعو حضراتو په نیزدولس زره دراهم دی.

داول فریق دلیل: دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما د دوی مستدل دې کوم چه دَ مشکوة په صفحه ۳۰۴باندې ذکردې په کوم کښې چه دَ دولس زرو دراهم تصریح موجود ده.

د دویم فریق دلیل: دَ حضرت عمر رضی الله عنه یوروایت د دوی مستدل دې. کوم چه په زجاجة المصابیح کښې دَامام محمد رحمه الله په حواله سره ذکرکړې شوې دې. الفاظ داسې دی (روي البيهقي من طريق الشافعي رحمه الله قال محمد بن الحسن رحمه الله بلغنا عن عمر انه فرض على اهل الذهب في الدية الف دينا رومن الورق عشرة آلاف درهم) (زجاجة المصابيح ج۳ص۳۳)

راجح قول: احنافو دَ لسو زرو دراهم روایت ته ترجیح ورکوی چه دا متیقن دی ځکه چه لس زره دَ دولسو زرو په ضمن کښې دی اودَ زیاتی دَ پاره نور ثبوت پکاردې. بل دَ دولسو زرو ذکرچه په روایت کښې راغلې دې هغه دَ وزن سته په اعتبار سره دې اولس زره دَ وزن سبعه په اعتبارسره دې نومقدار هم یودې هیڅ فرق نشته دې. دیت مخففه په هغه سړی باندې راځی چه قتل خطا یا جاری مجر ای خطا یا دَ قتل بتسبب مرتکب شوې وی خلاصه دا چه قتل عمدکښې قصاص دې قتل شبه عمدکښې دیت مغلظه دې کوم چه په عاقله باندې دې او په سړی باندې کفاره ده قتل خطا او جاری مجرای خطاکښې په سړی باندې کفاره ده اوپه عاقله باندې دیت دې. قتل تسبب کښې عاقله باندې دیت دې په سړی باندې کفاره نشته دې

د دیت متعلق یو څو اصطلاحاتو وضاحت:

① یوکامل خون بهاده هغې ته دیت وائی

② یونصف دیت دې او یوعشردیت دې یعنی دَ دیت لسمه حصه نودَ سلو لسمه حصه لس ده.

③ دَ اعضاء معاوضه ته ارش وائی بیادَ دیت دَ اداکولوترتیب داسې دې چه دَ قتل خطا

مجرم عاقله باندې به دیت راځي لیکن هغه به په دریو کالو کښې قسط وار اداکوي هرکال به یو ثلث دیت اداکیږي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲٤۸٦] د ګوتې د کټ کولو دیت

۳۳۸۲—[۱] (۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "«هٰذِهٖ وَهٰذِهٖ سَوَاءٌ» يَعْنِي: الْخِنْصَرَ وَالْإِبْهَامَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل دا او دا (یعني حضور ﷺ د خپلې خچې ګوتې او قتې ګوتې طرف ته په اشاره کولو سره وفرمايل چې) خچې ګوته قتې ګوته (د دیت په اعتبار سره دواړه برابر دي). (بخاري)

حل اللغات: (۱) هٰذِهٖ وَهٰذِهٖ: دا او دا (اسمائي اشارات دي) (۲) اَلْخِنْصَرَ: قچې ګوته. نرۍ ګوته. (۳) اَلْإِبْهَامَ: غټه. متۍ ګوته.

تسهیلات: قوله: اَلْخِنْصَرَ:

د بعضې ګوتو نومونه:

① دلاس د ټولونه وړې ګوتې ته خنصروائې کومې ته چه کچه ګوته وائي

② "الابهام" غټې ګوتې ته وائي.

د دیت په مقدار کښې د تفاوت معیار: پوره دیت راتلل یا نصف راتلل یا لسمه حصه دیت واجب کیدو دارومدار د یواندام په منفعت باندې دې که پوره منفعت ضائع شو نوپوره دیت راځي ګنې کم دیت به راځي.

د ګوتې په اعتبار سره د دیت مقدار: ① که یوسړی د بل سړي ټولې ګوتې پرې کړې نو د لاسونو ټول منفعت ختم شو لهذا پوره دیت به راځي په دې لحاظ سره د هرې ګوتې په بدله کښې لس اوښان دیت کښې راځي نو د لاسونو په لسو ګوتو کښې به سل اوښان راځي

② په دې حساب سره کچه ګوته او غټه ګوته برابر دي خکه چه منفعت ئې یوشان دې سره د دې چه په کچه ګوته کښې درې بندونه دي او په غټه ګوته کښې دوه دي مګر منفعت ئې برابر دې نو دیت ئې هم برابر دي

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدّیات/باب دیة الأصابع (رقم-۶۸۹۵) و ابو داود فی کتاب الدّیات/باب دیات الأعضاء (رقم-۴۵۵۸) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی دیة الأصابع (رقم-۱۳۹۲) والنسائی فی کتاب البیوع/باب بیع التمر بالتمر متفاضلا (رقم-۴۵۵۸) وابن ماجه فی کتاب الدّیات/باب دیة الأصابع (رقم-۲۶۵۲)

د جوړونو په اعتبار سره د دیت مقدار : که د ګوتې یوجوړ یا بند پرې کړی شی نود لسم دیت ثلث به ورکولې شی اود غټې ګوتې دوه بنده دی لهذا د یوبند په پرې کیدو باندې نصف عشر یعنی پنځه اوښان به ورکولې شی د اسلام په عادلانه نظام باندې قربان چه د ګوتو د جوړونو او بندونو حفاظت ئې هم کړې دې او په بین الاقوامی انسانی قوانین باندې لعنت دې چه د انسانی حقوقو په نوم سره ئې انسانی حقوق د خپولاندې کړی دی

[۳۴۸۷] د ښځې په خیټه کښې د بچی دیت

۳۴۸۷—[۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنِينِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي لِحْيَانَ سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ: ② عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ، ③ ثُمَّ إِنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِي قُضِيَ عَلَيْهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّيَتْ ④ فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنَّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَزَوْجِهَا ⑤ وَالْعَقْلُ عَلَى عَصَبَتِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ د بنی لحیان د یوې ښځې د ماشوم په دیت کې چې مړ کیدو سره د هغه د خیټې نه لویدلی وو (په عاقله) غره مقرره کړې وه، ② او د غره نه مراد غلام یا وینځه ده، ③ بیا هر کله چې هغه ښځه (چې د هغه په عاقله غره واجب کړې وه.) مړه شوه، ④ نو حضور ﷺ دا فیصله وفرمایله چې د هغه میراث د هغه د ځمنو او خاوند د پاره دی ⑤ او د هغې دیت د هغې په عصبه دی، (بخاري، مسلم)

حل اللغات ① جَنِين: په حمل، خیټه کې دننه ماشوم ② سَقَطَ: اوغورزیده، ③ بِغُرَّةٍ: تاوان، دیت غلام یا وینځه، د پوره دیت شلمه حصه چه پنځه سوه درهم جوړیږی اوپوره دیت لس زره درهم دي (۱) اَلْعَقْلُ: دیت، مالی معاوضه،

تسهیلات: قوله: فِي جَنِينِ امْرَأَةٍ:

د حدیث مفهوم: ترکومې پورې چه بچې د مور په خیټه کښې وی هغه ته جنین وائی "لحیان" په لام باندې فتحه هم ده اوکسره هم ده دا د عربود یو قبیلې نوم دې چه د بنولحیان په نوم سره مشهوره ده په راتلونکی روایت کښې لفظ هذیل راغلې دې نوهیڅ منافات نشته دې خکه چه هذیل لویه قبیله ده او لحیان د دې یو ښاخ دې

د حدیث پس منظر: قصه داسې اوشوه چه د هذیل قبیلې یودوه ښځې وې د یوې تعلق د لحیان سره وو دا د یو بل بنې وې په دوی کښې یوې هغه بله بن په کاڼړی یا لرګی باندې اووهله اوهغه حامله وه په دې ګذار سره د هغې بچې هم په خیټه کښې مړشو اوحمل ساقط

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدیات/باب جنین المراة. وأنّ العقل علی الوالد وعصبة الوالد. لا علی الولد (رقم-۶۹۰۹) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربین والقصاص والدیات/باب دیة الجنین. ووجوب الدیة فی قتل الخطا. وشبه العمد علی عاقلة الجانی (رقم-۳۵ - (۱۶۸۱) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی السّبق (رقم-۲۵۷۷) والترمذی فی کتاب الدیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی دیة الجنین (رقم-۱۴۱۰) والنسائی فی کتاب القسامة/باب دیة جنین المراة (رقم-۴۸۱۷)

شو مقدمه نبی کریم ﷺ له راغله نبی کریم دَ ماشوم په دیت کښې یوغلام یا وینځه مقرر کړه

قوله: سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ: عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ:

د غره معنی: غره دَ اس په تندی باندې سپین داغ ته وائی. بیا دَدې اطلاق په هر روښانه اوپرقیدونکی څیز باندې اوشو

په حدیث کښې د غره مصداق: دلته دَغره اطلاق په غلام او وینځه باندې شوې دې کوم چه روښانه مال دې او "عبداوامة" هم دَدغه غره تفسیر او وضاحت دې او ظاهر دادی چه دا الفاظ دَ حضوراکرم ﷺ خپل دی. دَ یوراوی وضاحت نه دې. راتلونکی حدیث نمبر(۳۵۰۳) کښې په دې الفاظوسره دَ فرس او بغل نور الفاظ هم لګیدلی دی هغه دَ یوراوی دَطرف نه دی کوم چه په وهم باندې مبنی دی. دا روایت دَمشکوٰة شریف په صفحه ۳۰۴ باندې موجود دې. که چرې بچې په خیټه کښې مړ شو راؤوتلو نوهم دغه حکم دې اوکه چرې ژوندې پیدا شی او په دغه ګذار سره مړشی نو په دې کښې بیا پوره دیت لازمی راځی

اشکال: راتلونکی دَ حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه روایت کښې دی چه نبی کریم دَ غره دیت په عاقله باندې کیخودو. دې سره شبه پیداکیدې شوه چه کله دیت په عاقله باندې دې نوبیا دَ دغه سړی میراث هم عاقله ته ملاویدل پکار دی دَچادَ طرف نه چه عاقله دیت اداکولوسره ورکړې دې.

د اشکال جواب: دَدغه شبه دَ لرې کولودَپاره په حدیث شریف کښې دا الفاظ راغلل "ثمران المرأة" یعنی کومې ښځې چه جنایت کولو دَ دویمې ښځې بچې وژلې وو هغه پخپله مړه شوه اودَهغې دَ میراث مسئله پیدا شوه نونبی کریم دَهغې دَ میراث فیصله دَهغې دَ وارثانودَپاره اوکړه چه میراث به دَ دغه ښځې خامنو اوخاوند ته ملاویږی اودیت به دَ دغه ښځې په عصبه باندې راځی. دلته دَ میراث تصریح دَ خامنو اوخاوند دَپاره ځکه اوکړې شوه چه دَدغه ښځې وارثان دغه وخت کښې هم دا وو

دویم اشکال: دَحدیث مطلب دادې چه میراث دَ وارثانودې که هرڅوک هم وارث شی دَدې حدیث نه معلومیږی چه قاتله ښځه مړه شوه اودَ روستو روایتونونه معلومیږی چه هغه ښځه مړه شوه دَ چا په خیټه کښې چه دَهغې بچې مړ شوې وو اول بچې مړ شو او بیائی مور مړه شوه نودَ دې تفاوت او تعارض دوه جوابونه دی.

د اشکال دوه جوابونه: ① دا دوه جدا جدا واقعات وو

② په دې حدیث کښې "قضى عليها بالغرة" الفاظ کښې علیها په معنی دَ لها دی یعنی دَ کومې ښځې دَپاره چه دَ دیت فیصله شوې وه هغه مړه شوه دغه شان به باقی روایاتوسره تعارض نه پاتې کیږی عام شارحینودَ علیها ضمیر جانبه قاتله طرف ته راګرځولې دې او

"قضی" صیغه معروف اومجهول دواړه شان لیکلې ده ملاعلی قاری رحمه الله خو اول ضمائر جانبه قاتله سره یوځائی کړل او روستو ئې دَ تحقیق دوران کښې اولیکل چه دا مړه شوې ښځه جانبه نه بلکه مجنبه وه

قوله. وَالْعَقْلُ عَلَى عَصَبَتِهَا:

د عاقلة دوه وجوه تسمیه: ① شرح السنه کښې لیکلی دی چه عقل دیت ته وائی دیت ته عقل ځکه اوونیلې شو چه عقل دَ ترلوپه معنی کښې دې اودیت ورکونکې هم دَدیت اوښان ترلوسره دَ مقتول کورته راولی اوتړی.

② بعضې ونیلی دی چه عقل دَ منع کولوپه معنی کښې دې لکه څنګه چه په عقل انسانی کښې دَ منع کولومعنی موجود ده نودیت ته عقل ځکه اوونیلې شو چه داهم انسان دَ قتل وغیره جرم نه منع کوی. هم په دې مناسبت سره عصبه اوخاندان ته عاقله وائی

د بحث تمهید: دلته زیربحث حدیث کښې په عصبه باندې دیت لازم کړې شوې دې او روستو دَ مغیره بن شعبه رضی الله عنه په روایت کښې هم دَ دیت لزوم په عصبه باندې کیخودې شوې دې نودَدې نه دا مسئله پیداشوې ده چه آیا دَ سړی عاقله او دیت اداکولو ذمه واری به صرف په عصبه اودَ سړی خاص دَ وینې رشته سره ترلې خاندان وی یا عاقله نورخلق هم کیدې شی په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

د عاقله په مصداق کښې ۲ مذاهب:

① دَامام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزپه هرحال کښې هم عصبه عاقله دی دَ عصبه نه علاوه بل هیڅوك په عاقله کښې داخلیدې نه شی.

② دَ ائمه احناف په نیز اهل تناصر او عام مصائب کښې دَیوبل امدادیان خلق هم په عاقله کښې داخل دی

د اول فریق دلیل: زیربحث حدیث کښې دا الفاظ ,,والعقل علی عصبتها،، د دوی مستدل دې

داول فریق د دلیل جواب: په هغه زمانه کښې عصبه به عاقله وه ددې وجې په حدیث کښې ,,والعقل علی عصبتها،، اوونیلی شو لکه چې دامام اعظم رحمه الله په نیزعصبات هم عاقله دی اوپه مشکل وخت کښې په کار راتلونکی د نورو قبیلوخلق هم عصبه کښې شامل دی

د دویم فریق دلیل: دَنبی کریم په مبارکه زمانه کښې به هم عصبات اهل تناصر وو لهذا هم دغه عاقله وو لیکن دَحضرت عمرفاروق رضی الله عنه په زمانه کښې به اهل دیوان عاقله صرف اهل تناصر ګنړلې شو نوحضرت عمر رضی الله عنه دَ ټولو صحابه کرامو په موجودګئی کښې اهل دیوان عاقله اوګرځول اوچاهم په دې باندې نکیراونه کړو "کذافی نصب الرایه"

[۲۴۸۸] په حکا نړی سره د واقع کیدونکی قتل کښې د قصاص حکم

۳۴۸۸ـ [۳] (۱) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: ۲ «اقْتَتَلَتِ امْرَأَتَانِ مِنْ هُذَيْلٍ ۳ فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ فَقَتَلَتْهَا ۴ وَمَا فِي بَطْنِهَا، ۵ فَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ دِيَةَ جَنِينِهَا ۶ غُرَّةٌ: عَبْدٌ أَوْ وَلِيدَةٌ، ۷ وَقَضَى بِدِيَةِ الْمَرْأَةِ عَلَى عَاقِلَتِهَا، وَوَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَمَنْ مَعَهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي ۲ چې (يوه ورځ) د قبيله هذيل دوو ښځو په خپل منځ کې جنګ وکړې، ۳ په هغوئ کې يوې ښځې دويمه ښځه په کاڼي وويشته، په هغه سره هغه ښځه مړه شوه، ۴ او د هغه د خيټې وړوکی هم مړ شو ، ۵ رسول الله ﷺ حکم وکړې چې د مقتولې د هغه ماشوم ديت، کوم چې د هغې په خيټه کې مړ شوی دی، ۶ غرّه يعنی يوه وينځه يا يو غلام دی، ۷ او حکم يې وکړې چې دمقتولې ديت د قاتلې په خاندان او په برداري باندې دی، او حضور ﷺ د هغه ديت وارثان د هغه خامن او هغه خلق وګرځول، کوم چې د خامنو سره وراثت کې شريك وو ، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① فَرَمَتْ:هغې اوويشتله، ② وَلِيدَةٌ:وينځه.

تسهيلات: قوله: فَقَتَلَتْهَا:

په قتل بالمثقل سره د ديت وجوب: داسې معلوميږی چه دا واقعه دَ دغه مخکينې واقعه نه مختلف ده ځکه چه په هغې کښې دا ذکر وو چه اول بچې په خيټه کښې مړشو بيا اسقاط اوشو اوبيا ښځه خپل پخپله مړه شوه. ليکن دلته خو تصريح شته چه هم په يوکاڼې ويشتلوسره ښځه هم مړه شوه اودهغې په خيټه کښې بچې هم مړشو او داعمل په يوځائی يك دم اوشو. بهرحال دَدې رواياتونه داخبره په واضحه توګه مخې ته راغله چه قتل بالمثقل سره ديت لازم راځی قصاص نه راځی.

قوله: وَقَضَى بِدِيَةِ الْمَرْأَةِ:

د امرأة نه مراد: دې نه مقتوله ښځه مراد ده کومه چه "ام الجنين" ده. "على عاقلتها" يعنی دَقاتله ښځې عاقله په ذمه دَمقتول ديت مقررکړو. دَها ضمير دَ قاتله طرف ته راګرځی. "وورثها" دَورث فاعل ضمير دَ رسول الله ﷺ طرف ته راجع دې او دَ ها ضمير "دية" طرف ته راګرځی. "ولدها" دلته ولدها مفعول به واقع شوې دې يعنی نبی کريم دَمقتوله دَ ديت وارث دَدغې مقتوله خونی جوړکړو اوخوك چه هغې سره وو هغه ئی وارث جوړکړل

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدّيات/باب جنين المرأة، وأنّ العقل على الوالد وعصبة الوالد، لا على الولد (رقم-۶۹۱۰) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربين والقصاص والدّيات/باب دية الجنين، ووجوب الدّية فی قتل الخطإ، وشبه العمد على عاقلة الجانی (رقم-۳۶ - (۱۶۸۱) و ابو داود فی کتاب الدّيات/باب دية الجنين (رقم-۴۵۷۶) والنسائی فی کتاب القسامة/باب دية جنين المرأة (رقم-۴۸۱۸) ومالک فی الموطا کتاب العقول/باب عقل الجنين (رقم-۵)

دَملاعلي قاري رحمه الله دَ کلام نه معلومیږي چه دلته "ولدها" جمع سره دې یعنی اولادها په دې صورت کښې "ومن معهم" ضمیر اولاد طرف ته راجع دې لیکن که چرې "ولدها" کښې لفظ ولد مفرد وي نوبیابه دې سره دَ جنس معامله کولې شي نودَ معهم ضمیر مسئله به حل شي چه جنس دَ ولدطرف ته دَ جمع ضمیر راوګرځولې شي اودَ جنس اطلاق په قلیل اوکثیر دواړو باندې کیږي

۳۴۸۳ـ[۳] (۱) [۱] وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ امْرَأَتَيْنِ كَانَتَا ضَرَّتَيْنِ، [۳] فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ أَوْ عَمُودِ فُسْطَاطٍ، [۴] فَأَلْقَتْ جَنِينَهَا، [۵] فَقَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ غُرَّةً: عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ، [۶] وَجَعَلَهُ عَلَى عَصَبَةِ الْمَرْأَةِ». هٰذِهِ رِوَايَةُ التِّرْمِذِيِّ،

ترجمه: [۱] او حضرت مغیره رضی الله عنه [۲] ابن شعبه وایې [۲] چې دوه ښځې چې په خپل منځ کې بنې وې (یوه ورځ سره په جنګ شوې) [۳] په هغوئ کې یوې دویمه (چې حامله وه) په کانړي یا د خیمې په لرګي سره ووهله، [۴] چې د هغه په وجه د هغې حمل ساقط شو ، [۵] نو رسول الله ﷺ د خیټې د بچي په دیت کې غره یعنی د یوې وینځې یا د یو غلام ورکولو حکم وکړي، [۶] او دیت یې په وهونکې ښځې واجب کړي، دا د ترمذي رحمه الله روایت دې،

حل اللغات: ① ضَرَّتَيْنِ: دادَ ضرة تثنیه ده بنې (بن) ته وائی. ② عَمُودِ: دَخیمې ستن او لونی بانړس ③ فُسْطَاطٍ: لویه خیمه ، ④ فَأَلْقَتْ جَنِينَهَا: خپل ماشوم ئې اوغورزلو، یعنی حمل ئې ساقط شو ⑤ عَصَبَةِ الْمَرْأَةِ: د ښځې رشته داران

[۱] وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ: [۲] «قَالَ ضَرَبَتِ امْرَأَةٌ ضَرَّتَهَا بِعَمُودِ فُسْطَاطٍ وَهِيَ حُبْلَى، فَقَتَلَتْهَا. [۳] قَالَ: وَإِحْدَاهُمَا لِحْيَانِيَّةٌ. [۴] قَالَ: فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيَةَ الْمَقْتُولَةِ عَلَى عَصَبَةِ الْقَاتِلَةِ [۵] وَغُرَّةً لِمَا فِي بَطْنِهَا».

ترجمه: [۱] او د مسلم رحمه الله په روایت کې داسې دی [۲] چې حضرت مغیره رضی الله عنه اوویل یوې ښځې خپله بنه چې حامله وه، د خیمې په لرګي ووهله، چې د هغه په وجه هغه مړه شوه (او د هغې په خیټه کې وړوکی هم مړشو) [۳] مغیره رضی الله عنه وایې په هغه دواړو کې یوه ښځه د لحیان د خاندان نه وه (چې دقبیله هذیل یو شاخ دی) [۴] د مغیره رضی الله عنه بیان دی چې رسول الله ﷺ د مقتولې دیت د قاتلې په عاقله باندې واجب کړي، [۵] او د خیټې د ماشوم په دیت کې د غره یعنی د یوې وینځې یا د یو غلام حکم وفرمایلو

حل اللغات: ① حُبْلَى: حامله. ② لِحْيَانِيَّةٌ: د لحیان خاندان او قبیلې والا.

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدّیات/باب جنین المرأة (رقم-۶۹۰۵) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربین والقصاص والدّیات/باب دیة الجنین. ووجوب الدّیة فی قتل الخطإ. وشبه العمد علی عاقلة الجانی (رقم-۳۸ - (۱۶۸۲) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی دیة الجنین (رقم-۱۴۱۱)

تسهيلات:

قوله: فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى بِحَجَرٍ أَوْ عَمُودِ فُسْطَاطٍ:

قتل بالمثقل عمد نه دی: داحدیث هم دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دی چه قتل بالمثقل عمدنه دی بلکه شبه دعمد ده په دې وجه دلته ددې قتل په بدله کښې قصاص نشته بلکه دیت واخستې شو شوافعو حضرات فرمائی دلته دکانړی نه وړوکې کانړې مراددې اود لرګی نه وړوکې لرګې مراد دې احناف وائی چه په حدیث کښې هیڅ قیدنشته چه داخیزونه واړه وو

[۲۴۹۰] د قتل خطاء او شبه عمد دیت

[۵] (۱) [۱] عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «أَلَا إِنَّ دِيَةَ الْخَطَإِ شِبْهِ الْعَمْدِ [۳] مَا كَانَ بِالسَّوْطِ وَالْعَصَا [۴] مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ: [۵] مِنْهَا أَرْبَعُونَ فِي بُطُونِهَا أَوْلَادُهَا» وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] پوهه يدل پکار دی چې قتلِ خطاء چې د هغه نه مراد شبه عمد دی، [۳] چې دوري او کوتك (لرګي) سره چې واقع شوی وي، [۴] د دیت سل اوښان دي، [۵] چې په هغه کې څلوېښت داسې اوښې کيدل پکار دی، چې د هغه په خيټه کې بچي وي (نسائي ابن ماجه دارمي) او په ابوداود کې دا روايت ابن عمرو رضی الله عنه او ابن عمر رضی الله عنهما د دواړو نه نقل کړي دی، او په شرح السنه کې دا روايت دابن عمر رضی الله عنهما نه بالفاظ مصابيح نقل شوی دی

حل اللغات: (۱) دِيَةَ الْخَطَإِ: د قتل خطا ديت يعنی مالی معاوضه، (۲) شِبْهِ الْعَمْدِ: قتل شبه العمد، (۳) بِالسَّوْطِ: دوره، د خرمنې چابک.

تسهيلات:

قوله: أَلَا إِنَّ دِيَةَ الْخَطَإِ:

د مذکوره جملې ترکيب: علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه شبه العمد الفاظ د ديت الخطاء نه بدل واقع دی او ماكان بالسوط والعصا دې بدل نه بدل دې دا ټول بدل اومبدل يوځائی کيدوسره د ان دپاره اسم شو او مأة من الابل د ان خبردې د عبارت ترجمه به داسې وی
خبردار قتل خطا يعنی شبه عمدچه په کوړه اوچوکه سره واقع شوې وی دهغې ديت سل اوښان دی

(۱) اخرجه النسائی فی السنن كتاب القسامة باب ذكر الاختلاف على خالد الحذاء (رقم-۴۷۹۹) وابن ماجه فی كتاب الديات باب دية شبه العمد مغلظة (رقم-۲۶۲۸) واحمد فی المسند:۲/۱۱

د قتل تقسيم طرف ته اشاره: دې حديث نه دَ قتل عمد قتل شبه عمد قتل خطا قتل جاري مجراى خطا اوقتل تسبب دَ تقسيم طرف ته اشاره راؤخي. دا روايت دَامام ابوحنيفه رحمه الله دَ مسلك واضح دليل دې چه قتل بالمثقل شبه عمددې په کوم سره چه قصاص نه بلکه ديت لازميږى اودا به ديت مغلظه وى دَ احنافو په نيزديت مغلظه سل اوښان دى. ليکن دَاداکولوترتيب ارباعًا دې يعنى دَ ۲۵، ۲۵ په حساب سره به وى اودَ شوافعو په نيزدا ترتيب اثلاثًا يعنى ۳۰، ۳۰ او ۴۰ حساب سره وى تفصيل وړاندې تيرشو [الکاشف ۸۵/۷]

(۱) وَرَوَاهُ أَبُودَاوُدَعَنْهُ، وَعَنِ ابْنِ عَمْرٍو. وَفِي (شَرْحِ السُّنَّةِ) لَفْظُ (الْمَصَابِيحِ) عَنِ ابْنِ عُمَرَ

ترجمه: او په ابوداود کې دا روايت ابن عمرو رضي الله عنه او ابن عمر رضي الله عنهما د دواړو نه نقل کړې دى، او په شرح السنه کې دا روايت دابن عمر رضي الله عنهما نه بالفاظ مصابيح نقل شوى دى

[۳٤۹۲] د بدن د مختلفو اندامونو ديت

[۲] (۲) ① وَعَنْ أَبِي بَكْرِبْنِ مُحَمَّدِبْنِ عَمْرِوبْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ، ② «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى أَهْلِ الْيَمَنِ، ③ وَكَانَ فِي كِتَابِهِ: ④ أَنَّ مَنِ اعْتَبَطَ مُؤْمِنًا قَتْلًا ⑤ فَإِنَّهُ قَوَدُيَدِهِ ⑥ إِلَّا أَنْ يَرْضَى أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ) ⑦ وَفِيهِ: (أَنَّ الرَّجُلَ يُقْتَلُ بِالْمَرْأَةِ)

ترجمه: ① او حضرت ابوبکر ابن محمد ابن عمرو ابن حزم د خپل پلار (محمد ابن عمرو) نه او هغه د ابوبکر د نيکه (عمرو ابن حزم) نه روايت کوي، ② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اهل يمن ته يوه هدايت نامه وليږله، ③ په هغه کې ليکلي وو، ④ کوم سړى چې قصداً يو مسلمان په ناحقه قتل کړي (يعني د قتلِ عمد ارتکاب وکړي) ⑤ نو د هغه د لاسونو د فعل قصاص دى (يعني هغه چې د خپل لاسونو د فعل او تقصير په ذريعه کوم قتل عمد کړي دى، د هغه په سزا کې دې هغه قتل کړل شي) ⑥ خو دا چې د مقتول وارثان راضي شي (يعني د مقتول وارث که قاتل معاف کړي يا د هغه نه د خون بها په اخستو راضي شي، نو هغه دې نشي قتلولى) ⑦ په هغه هدايت نامه کې دا هم وو، چې د مقتولي ښځې په بدله کې دې قاتل سړى په قصاص کې قتل کړل شي،

حل اللغات: ① اعْتَبَطَ: دَ څه جرم او جنايت نه بغير دچا قتلول ② قَوَدٌ: قَودَ انقياد نه ماخوذ دې تابعدار کيدل. او قاتل هم په قصاص کښې دَ اولياء مقتول په مخکښې تابعدار کيږى. ③ قَوَدُيَدِهِ: يعنى دَ خپل لاس دَ جرم دَ وجې نه دَ قصاص مستحق کيږى لکه چه دَ ده لاس دَ قصاص سامان پيدا کړو.

---

۱) اخرجه ابو داود فى كتاب الدّيات /باب فى دية الخطا شبه العمد (رقم-۴۵۴۷)

۲) اخرجه النسائى فى السنن كتاب القسامة /باب ذكر حديث عمرو بن حزم فى العقول. واختلاف النّاقلين له (رقم-۴۸۵۳) ومالک فى الموطا كتاب العقول /باب ذكر العقول (رقم-۱)

[١] وَفِيهِ: (فِي النَّفْسِ الدِّيَةُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ، [٢] وَعَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أَلْفُ دِينَارٍ، [٣] وَفِي الْأَنْفِ إِذَا أُوعِبَ جَدْعُهُ الدِّيَةُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ، [٤] وَفِي الْأَسْنَانِ الدِّيَةُ، [٥] وَفِي الشَّفَتَيْنِ الدِّيَةُ [٦] وَفِي الْبَيْضَتَيْنِ الدِّيَةُ، [٧] وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ، [٨] وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ، [٩] وَفِي الرِّجْلِ الْوَاحِدَةِ نِصْفُ الدِّيَةِ، وَفِي الْمَأْمُومَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ، [١٠] وَفِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ،

ترجمه: [١] په هغه كې دا هم ليكلي وو، چې د نفس خون بها سل اوښان دي (يعني د چاسره چې سل اوښان وي، هغه دي په خون بها كې د مذكوره تفصيل مطابق سل اوښان وركړي) [٢] او د چا سره چې سره زر وي، هغه دي يو هزار دينار وركړي، [٣] او د پوزې ديت (هر كله چې هغه پوره پرې شوې وي) سل اوښان دي، [٤] او د غاښونو ديت (هر كله چې ټول مات شوي وي) پوره ديت دى، [٥] او د دواړو خصيتينو ايستلو هم پوره ديت دى، [٦] او د ملا د هډوكو د ماتولو هم پوره ديت دى، [٧] او د عضو مخصوص (ذكر) د پريكولو هم پوره ديت دى، [٨] او د دواړو سترګو ښكلو هم پوره ديت دى، [٩] او د يوى پښې د په پريكولو نيم ديت دى، او د سر د چمړه په زخمي كولو دريمه حصه ديت دى، [١٠] و خيټه كې زخم رسولوياندې دريمه حصه ديت دى،

حل اللغات: ③ أَهْلِ الذَّهَبِ: اود سرو زرو په مالكانو ⑤ الْأَنْفِ: پوزه، ⑥ إِذَا أُوعِبَ: كله چې پوزه پوره كټ كړى، ⑦ جَدْعُهُ: جدع دَ باب فتح نه دَ پوزې پرې كول ⑧ الْأَسْنَانِ: جمع د سن ده غاښونه. ⑨ الشَّفَتَيْنِ: شونډې، (١٠) الْبَيْضَتَيْنِ: خصيتين، دوه هګۍ، (١١) الذَّكَرِ: ذكر، عضوتناسل، د سړى خاص اندام. (١٢) الْمَأْمُومَةِ: د سر چمړه، د سر څرمن، (١٣) الْجَائِفَةِ: دخيټې ژور زخم،

[١] وَفِي الْمُنَقِّلَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ مِنَ الْإِبِلِ، [٢] وَفِي كُلِّ أُصْبُعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدِ وَالرِّجْلِ عَشْرٌ مِنَ الْإِبِلِ، [٣] وَفِي السِّنِّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ» [٤] رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ. وَفِي رِوَايَةِ مَالِكٍ: («وَفِي الْعَيْنِ خَمْسُونَ، وَفِي الْيَدِ خَمْسُونَ، وَفِي الرِّجْلِ خَمْسُونَ، وَفِي الْمُوضِحَةِ خَمْسٌ»".

ترجمه: [١] او دغه شان په مجروح (زخمي) كولو چې هډوكي د خپل ځاى نه بې ځايه شوى وي. پنځلس اوښان وركول واجب دي، [٢] او د لاس او پښو د ګوتو هري يوي ګوتي پريكولو باندې لس اوښان وركول واجب دي، [٣] او د هر غاښ په بدله كې پنځه پنځه اوښان دي، [٤] (نسايي دارمي) او د امام مالك رحمه الله په روايت كې دا الفاظ دي چې د يوې سترګي د ماتولو ديت پنځوس اوښان دي، او د يو لاس او يوې پښې ديت پنځوس پنځوس اوښان دي. او د داسې زخم رسولو ديت چې په هغه كې هډوكي بهر راوتلي وي، يا ښكاره شوي وي پنځه اوښان دي

حل اللغات: (١٤) الْمُنَقِّلَةِ: ژور زخم چه هډوكي ورسره بې ځايه شي، (١٥) الْمُوضِحَةِ: ژور زخم چه هډوكي ورسره راښكاره شي

تسهیلات:

قوله: يَرْضَى أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُولِ:

د قتل عمد په صورت کښې د دیت اخستلو جواز: قتل خطا اوقتل شبه خطا اوقتل شبه عمد کښې په اتفاق سره دیت دې قصاص نه دې اوقتل عمد کښې په اتفاق قصاص دې لیکن که چرې اولیاء دَ مقتول په دیت اخستلوباندې راضی شی نوداهم جائز دی چه هغه قاتل بالکل معاف کړی یاهغه سره صلح اوکړی دیت واخلی

په دیت کښې د اوښانو د موجودګئ په صورت کښې د دې په بدل کښې د نقدینو ورکولو په حکم کښې ۲ مذاهب:

① په مذکوره صورت کښې د امام شافعی رحمه الله فرمائی که چرې اوښان موجودوی نوسره زر اوسپین زرورکول جائزنه دی. اوښان متعین دی اوکه چرې جانبین دَ اوښانو په ځائی په زرنقدباندې راضی شی نوبیاجائزدی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام احمد رحمه الله فرمائی چه دَ اوښانو په موجودګئ کښې هم سره زر اوسپین زر دیت کښې ورکولې شی دَمقتول وارثان به ئی اخلی

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث ددوی مستدل دې په دې کښې دَ سلو اوښانوتصریح ده

د دویم فریق دلیل: بیشکه دلته دَ اوښانوذکر دې لیکن په توګه دَ صلح اودَ طرفین په رضمندئ سره دَ اوښانونه علاوه مقررشوې او فیصله شوې څیزونه هم دَ اوښانوبدل کیدې شی که هغه سره زر وی اوکه سپین زر وی یا نور څیزونه وی

قوله: أَلْفُ دِينَارٍ:

د زرو دیناریه ځائې د دارهم په مقدار کښې ۲ مذاهب:

په زرو دینارو کښې خو دَ هیڅ اختلاف نشته دې. خو د دې په برابر په دراهمو کښې اختلاف دې

① دَ شوافعو په نیزدولس زره درهم دی

② احنافو په نیزلس زره درهم دی. دَدې باب په شروع کښې دامسئله لیکلې شوې ده

د دیت د ډیر والی او کم والی ضابطه او د دې ماخذ: داخبره دې نه وړاندې لیکلې شوې ده چه دَ دیت دَ زیاتیدو اوکمیدو وجه دَ جرم نوعیت دې که چرې نقصان داسې اندام ته رسیدلې دې کوم ته چه په انسانی بدن کښې مرکزی حیثیت حاصل دې اودَ دغه اندام پوره منفعت ختم شوې دې په کوم سره چه دَ بدن ښائست اوموزونیت ته مکمل نقصان رسیدلې دې نو په داسې صورت کښې پوره دیت واجب کیږی اوکه دَدې نه دکمې درجې نقصان دې نوبیادَ نصف یا ثلث دیت حکم جاری کیږی دا ضابطه دَ نبی کریم دَ دې مبارك حکم نه حاصلیږی په کوم کښې چه نبی کریم دَ داسې مخصوص اندام په ضائع کیدو باندې دَ پوره

ديت حكم فرمانيلي دي د كوم اندام په ضائع كيدو چه د انسان په جمال اوكمال كښې فرق راځي اود سړی عظمت اوشان اوشوكت ته نقصان رسيږی مثلاً پوزه ده يا ژبه ده يا سترګي دی په دي سره د انسان پوره منفعت ضائع كيږی

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په خپل خلافت كښې د يوزخم د وجي نه څلور ديتونه واجب كړي وو څكه چه سره د دې هغه زخم يووو خو د دغه سړی عقل هم په دغه زخم سره ختم شوي وو د هغه سماعت اوبصارت او مردانه قوت اوعقل بول چال څلور واړه څيزونه ختم شوي وو

(عن عمر بن الخطاب انه قضى في رجل ضرب رجلاً فذهب سمعه وبصره ونكاحه وعقله باربع ديات، (زجاجة المصابيح ج٣ص٢٩)

[٢٤٩٢] د مواضع اواسنا نو د ديت مقدار

٣٣٠٣-[٧] (١) [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: [٢] «قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَوَاضِحِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْإِبِلِ، [٣] وَفِي الْأَسْنَانِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْإِبِلِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ. وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهِ الْفَصْلَ الْأَوَّلَ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو بن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه خپل نيكه نه نقل كوي [٢] چي رسول الله ﷺ حكم وكړي د داسي زخمونو ديت چي په هغه كي هډوكي ظاهر شي، پنځه پنځه اوښان دي. [٣] او د غاښونو (يعني د هر هر غاښ) ديت هم پنځه پنځه اوښان دي. (ابوداود نسايي دارمي) ترمذي رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله (د دې حديث) مخكنی جز (چې په هغه كي د زخمونو ديت بيان شوی دی) نقل كړي دی

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث پاك تشريح ما قبل حديث كښې تيره شوې ده البته دې خاني كښې يو سوال او جواب وړاندي كيږی

قوله: وَفِي الْأَسْنَانِ خَمْسًا خَمْسًا مِنَ الْإِبِلِ:

اشكال: هركله چي د ټولوغاښونو ديت سل اوښان دی نو ديو غاښ ديت پنځه اوښان څنګه كيدشی ؟ څكه چي د ټولو غاښونو تعداد دوه ديرش دي . په دې اعتبار سره د يو غاښ ديت دري اوښان او ددې نه څه لږ شان زيات پكار دي؟

داشكال جواب: دا ضروری نه دی چي شارع څومره احكام نافذ كړی دی . عقل دې د هغې ټولو ادراك او احاطه اوكړی . نو ډير احكام داسې دی چي په هغې كښې د عقل هيڅ عمل

١) اخرجه ابو داود في كتاب الدّيات/باب ديات الأعضاء (رقم-٤٥٦٦) والترمذي في كتاب الدّيات عن رسول الله صلى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في الموضحة (رقم-١٣٩٠) وابن ماجه في السنن كتاب الدّيات/باب الموضحة (رقم-٢٦٥٥) واحمد في المسند: ٢/٢١٥

دخل نشته دي بلكه څنګه چې شارع حكم وركړې دې زمونږ كار په هغې باندې عمل كول دي ، اعتراضات نه

[۳۴۹۴] د لاس او د پښو د ګوتو د ديت برابرى

۳۴۹۴-[۸] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [۲] «جَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ سَوَاءً». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ②چې رسول الله ﷺ د دواړو لاسونو او پښو ټولې ګوتې مساوي ګرځولى دى ،ددې پورې چې قتى ګوته او خچى هم د يو بل برابر ګرځولى دى، اګر چې د بندونو د اعتبار نه په دواړو كې فرق دى، (ابوداود ترمذي)

تسهيلات:

نوټ د ترجمې څخه مطلب واضح دې

[۳٤۹۵] دبعضې اندامونو ديت برابرى

۳٤۹۵-[۹] (۲) ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«الْأَصَابِعُ سَوَاءٌ، ③وَالْأَسْنَانُ سَوَاءٌ، ④وَالثَّنِيَّةُ وَالضِّرْسُ سَوَاءٌ، ⑤هَذِهِ وَهَذِهِ سَوَاءٌ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي ②چې رسول الله ﷺ وفرمايل (د ديت په اعتبار سره) ټولې ګوتې برابرې دي، ③او ټول غاښونه برابر دي (اګر چې بعضې غاښونه لوى دي و بعضې واړه دي) ④او د مخ غاښونه او داړي يعنى د ژامې غاښونه برابر دي (اګر چې داړي د مخ د غاښونو نه لوى دي، خو ديت د دواړو برابر دى) ⑤او حضور ﷺ د بټې او خچې ګوتو طرف ته اشاره كولو سره وښودل چې دا او دا برابرى دي، (ابوداود)

حل اللغات (۱) الثَّنِيَّةُ: مخامخ غاښ (۲) الضِّرْسُ: د ژامې غاښ (۳) هَذِهِ وَهَذِهِ: دا او دا (اسمائي اشارت دى.

تسهيلات:

قوله الْأَصَابِعُ سَوَاءٌ، وَالْأَسْنَانُ سَوَاءٌ:

مذكوره د درې واړو احاديثو دپاره د يوعنوان د انعقاد وجه: پورتنى دريواړه احاديث هم ديوعنوان لاندې څكه كېخودې شوى دى چه ددې ټولو تعلق غاښونو او ګوتو سره دې حديث نمبر (۳۴۳) كښې مواضح لفظ راغلې دې دادَ موضحة جمع ده موضحه هغه زخم ته

---

۱) اخرجه ابو داود فى كتاب الدّيات باب ديات الأعضاء (رقم-٤٥٦١) والترمذى فى كتاب الدّيات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فى دية الأصابع (رقم-١٣٩١)

۲) اخرجه ابو داود فى كتاب الدّيات باب ديات الأعضاء (رقم-٤٥٥٩) وابن ماجه فى كتاب الدّيات باب دية الأسنان (رقم--٢٦٥٠)

وائي دَ كوم نه چه خرمن اخواشي او هدوكي ښكاره شي. په دې كښې به پنځه اوښان په ديت كښې وركولې شي دَ ديت دا تعين دَ شارع كار دې په دې كښې دَ چاقياس ته هيڅ هم دخل نشته دې

حديث نمبر (۳۴۹۵) كښې ثنية لفظ راغلې دې دَدې جمع ثنايا ده. په خله كښې مخامخ غاښونو ته رباعي وائي. دې سره ثنايا دې دې نه پس اضراس ونواجذ دى ضرس دَ جامې غاښ ته وائي يعنى لوئي واړه غاښونه په ديت كښې برابر دى دغه شان گوتې برابر دى سره دَدې چه په غټه گوته كښې دوه غوټې وى. (هذه هذه سواء) كښې اشاره دَ غټې گوتې او لاس كچې گوتې طرف ته ده

دا دَ شريعت حكم دې چه دَعقل اوقياس دلته دخل نشته دې سره دَدې چه په غټه گوته كښې جوړونه كم دى او په كچه گوته كښې زيات دى.

نسر جاۓ مركبتراں تاختن　　كہ جاہا سپر بايد انداختن

يعنى هرځائي كښې عقلى اس نه شي زغلولې په ډيرو ځايونو كښې وسله غورزولې كيږى.

[۳۴۹۶] د ذمي كافر د ديت مقدار

۳۴۹۶ - [۱۰] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: [۲] «خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ [۳] ثُمَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ، [۴] وَمَا كَانَ مِنْ حِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّ الْإِسْلَامَ لَا يَزِيدُهُ إِلَّا شِدَّةً، الْمُؤْمِنُونَ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ [۵] يُجِيرُ عَلَيْهِمْ أَدْنَاهُمْ، وَيَرُدُّ عَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ يَرُدُّ سَرَايَاهُمْ عَلَى قَعِيدَتِهِمْ،

ترجمه: [۱] و حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار (حضرت شعيب) او هغه د خپل نيكه نه نقل كوي [۲] چې رسول الله ﷺ د مكې د فتح په كال يوه خطبه وركړله. [۳] او په هغه كې (د حمد وثناء نه وروسته) وفرمايل چې په اسلام كې قسم او عهد وپيمان كول جائز نه دى، [۴] ليكن هغه عهد وقسم چې د هغه په زمانه د جاهليت كې رواج وو، هغه اسلام په مضبوطې سره نيسي (ياد لري) تول مسلمانان د خپل غير (يعني كفارو) په مقابله كې (د نيكيو په خورولو او په خپلو كې د يو بل په مددگار كيدو كې) د يو لاس په شان دى. [۵] يو ادنى ترين مسلمان هم د تولو مسلمانانو د طرف نه پنا وركولى شي، او هغه مسلمان هم حق لري، كوم چې د تولو مسلمانانو نه چرته لري وي، او د مسلمانانو لښكر هغه تول مسلمانان هم (د مالِ غنيمت) حقدار جوړ وي، كوم چې (د لښكر سره نه وي تلى، بلكه) ناست پاتې شوي وي

[۱] اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ۴۵۸۳ واحمد فى المسند ۲/ ۱۸۰

حل اللغات ①لَا حِلْفَ: حلف د حاء په کسره اولام سکون سره، یوبل سره قسم کول، عهدوپیمان ومعاهده او لوظ کول ②شِدَّةً: سخت والي، مضبوط والي. ③يَدٌ: یو لاس، یو موټي، اتحاد او اتفاق. ④يُجِيرُ: پناه ورکولې شي. ⑤أَدْنَاهُمْ: ادنی، معمولی. ⑥أَقْصَاهُمْ: لرې. ⑦قَعِدِهِمْ: د دوی ناست جهاد ته نه وی تللې.

> ①وَلَا يُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِكَافِرٍ، ②دِيَةُ الْكَافِرِ نِصْفُ دِيَةِ الْمُسْلِمِ ③لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ، ④وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُورِهِمْ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: دِيَةُ الْمُعَاهِدِ نِصْفُ دِيَةِ الْحُرِّ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ①خبردار، هیڅ مسلمان دې د یو (حربي) کافر په بدله کې نشي وژلی. امام شافعي رحمه الله وايي چې د ذمي کافر په بدله کې دې هم مسلمان نشي قتلولی. ②او د ذمي کافر دیت د مسلمان د دیت نیم دی. ③او په زکوة وصولونکی کار کې پطور د خص واوري چې د زکوة حیوان دې په رابنکلو سره نشي راغوښتلی. ④او زکوة ورکونکی دې هم واوري چې هغه دې خپل حیوان چرته لرې نه بیايي زکوة وصولونکي ته پکار دی چې زکوة د هغوی کورونو ته ورتلو سره واخستي شي. او په یو روایت کې دا هم دی چې د عهد والا دیت د آزاد د دیت نیم دی. (ابوداؤد)

حل اللغات ⑧لَا جَلَبَ: په رابنکلو دې نه راولی. ⑨وَلَا جَنَبَ: ورې ته کول دې نه کوی. ⑩فِي دُورِهِمْ: په کورونو دهغوی کښې ⑪الْمُعَاهِدِ: ذمی.

تسهیلات:

قوله: لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ

په دور جاهلیت کښې د حلف د معاهدې رواج: په دې کښې د قسم مفهوم موجود دې د جاهلیت په زمانه کښې دا عهدوپیمان دغه شان کیدل دوو کسانو یا دوه ډلو به په خپل مینځ کښې قسم خوړلوسره دا معاهده کوله چه که چرې په تاباندې مصیبت راغلویا په موږ کښې په یوباندې مصیبت راغلو نوموږ به د یوبل امدادکوو په دغه مصیبت کښې به دواړه برابرشریك یو په جنګ کښې به یوبل سره برابر شریك یو په میراث کښې به د یوبل وارثان یو او په تاوان اونقصان کښې به شریك یو که ظالم وی اوکه مظلوم وی

په اسلام کښې د جاهلی حلف فسخ: په دې معاهده کښې د ظالم امداد وو او په هرجائزاوناجائز کښې بې خایه معاونت وو په دې وجه نبی کریم دا منع کړل او د میراث آیت د دې معاهده حیثیت باطل کړو په دې وجه د دې ممانعت اوکړې شو

قوله: «لَا يَزِيدُهُ إِلَّا شِدَّةً»

د انصافی معاهدې برقرار ساتل: په جاهلیت کښې چه به ناجائزمعاهدې کیدلې نوځه معاهدې په کښې داسې هم وې چه په انصاف باندې وې مثلاً یوحلف نامه به داسې وه چه د مظلوم امدادبه کوو خپلولی به ساتو اود انسانی جائزحقوق حفاظت به کوو اسلام دا

معاهده باقی پریخوده اونبی کریم اعلان اوکړو چه اسلام به دا نوره هم کلکه کړی خلاصه دا چه بنه معاهده بنه ده دَهغې پالنه به کولې شی اوخرابه معاهده خرابه ده دې نه به ویزاره کیدل وی

قوله: عَلٰی قَعِیدَتِهِمْ:

د قعید تعریف: قعیده او القاعده دَمرکز په معنی کښې دې داداَ اسلامی افواج مرکز او لویه چهاؤنړنی اوکیمپ ته وائی. مطلب دادې چه مرکزکوم چهاپه مار ټولګی لرې لرې علاقوته دَ فوجی کاروائی دَپاره لیګلې هغه ټولګی پخپله لاړل اوهغوی ته دَ غنیمت مال حاصل شو نوپه هغوی باندې لازم ده چه پوره مال دَ غنیمت دې راوړی مرکزکښې دې جمع کړی دَ یرد مفعول به په دواړو خایونوکښې محذوف دې کوم چه الغنیمة دې دا جمله دَماقبل یرد دَپاره په منزله دَ بیان ده.

قوله: وَلَا یُقْتَلُ مُؤْمِنٌ بِکَافِرٍ: بکافر کښې کافرنه حربی مراددې دادَ احنافو مسلك دې

قوله: دِیَةُ الْکَافِرِ نِصْفُ دِیَةِ الْمُسْلِمِ:

د دیت مقدار: یادلرنی دَ جمهورو په نیز پوره دیت دولس زره درهم دې دَدې نصف شپږ زره درهم دې اودَدې ثلث څلور زره درهم دی دَ احنافو په نیزپوره دیت لس زره درهم دې دَدې نصف پنځه زره درهم دې.

د ذمي په دیت کښې ۳ مذاهب:

دَ ذمی کافردیت دَ مسلمان دَ دیت په مقابله کښې نیم دې. دَ حربی کافرپه قتل کښې هیڅ دیت نشته اودَ ذمی په دیت کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

① امام مالك رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزدَ ذمی کافردیت دَ مسلمان دَدیت نصف دې

② امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دَ غیرمسلم ذمی دیت دَمسلمان په مقابله کښې ثلث یعنی دریمه حصه دې

③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی دَمسلمان اوذمی دیت برابردې

داول فریق دلیل: زیر بحث حدیث د دوي مستدل دې په دې کښې دَ نصف دیت تصریح موجود ده

د دویم فریق دلیل: دَمصنف عبدالرزاق یوحدیث د دویم فریق مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی (انه علیه السلام فرض علی کل مسلم قتل رجلا من اهل الکتاب اربعة الاف درهم) (مصنف عبدالرزاق)

د دریم فریق دلائل: ① (عن سعیدبن المسیب قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم دیة کل ذي عهدفی عهده الف دینار) (مراسیل ابوداؤد بحواله زجاجة المصابیح ج۳ص۳۰)

② ان النبي صلى الله عليه وسلم ودى ذميًا دية مسلم كذا في دارقطني، دَ دارقطني په دويم روايت كښې دى (ان النبي صلى الله عليه وسلم جعل دية المعاهد كدية المسلم)
③ عن ابن عباس رضي الله عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم ودي العامريين بدية المسلمين وكان لهما عهد من رسول الله صلى الله عليه وسلم) كذا في الترمذي باب الديات، يعنى دَ قبيله عامر دَ دوو معاهدو په قتل باندې نبى كريم دَ دوو مسلمانانو دَديت برابر ديت ادا كړو
④ دَ خلفاء راشدين قضايا او فيصلې هم د دوي مستدل دې د حضرت صديق اكبر رضي الله عنه په مبارکه زمانه كښې او دَ حضرت عمر اوحضرت عثمان رضي الله عنهما په مبارك دوركښې هم دغه شان فيصلې شوى دى چه دَ غيرمسلم ديت دَمسلمان دَ ديت مساوى او برابر ګرځولې شوې دې

داول فريق د دليل جواب: دويم فريق وائى مونږ دَ كوموااحاديثو اودَخلفاء راشدين دَ فيصلونه استدلال كړې دې هغه دَ نورو رواياتو نه راجح دى.

قوله: لَاجَلَبَ:

د جلب د لفظ مختلف مصاديق: دالفظ په كتاب الزكوة كښې هم راغلې دې اوپه كتاب الجهادكښې هم راغلې دې اودلته هم راغلې دې. دَ دې تعلق كله زكوة سره وى اوكله دَ اسونومقابله سره وى دواړو ځايونوكښې ځان ځانله مفهوم دې دلته دا جمله دَزكوة متعلق ده په دې كښې دَ زكوة وصولونكى كاركن ته وئيلې شوى دى چه هغه دې دَ ښار په مركزكښې كيناستو سره زكوة وركونكوته دا نه وائى چه تاسو خپل مال املاك ښار ته راوړئى دې دَ پاره چه زه ئې معاينه اوكړم او بيازكوة وصول كړم په دې كښې دَ مالكانودَپاره ډير مشقت دې

قوله: وَلَاجَنَبَ:

د مذكوره جملې متعلقين: دَدې جملې تعلق مالكانوسره دې چه هغوى خپل مال اوځاروى دَدغه مقام نه لرې بوځى كوم ځائى ته چه دَ زكوة وصول كونكې كاركن رسيدلې وو مالكانوهغه ته اووئيل چه دلته راشه اوزمونږ مال اوځاروى اوګوره اودَ زكوة مال وصول كړه په دې كښې دَ زكوة وصول كونكى دَپاره ډيرمشقت دې په دې وجه نبى كريم دواړه صورتونه منع اوفرمائيل چه (لاجلب ولا جنب) هم دَدې جملې دَ تاكيد اوتوضيح دَپاره دَ حديث وړاندينئ جمله ارشاد اوفرمائيلې شوه (ولاتوخذ صدقتهم الافى دورهم)

[۲۴۹۷] د قتل خطاء دیت

۳۲۹۷ـ[۱۱] (۱) [۱] وَعَنْ خِشْفِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [۲] قَالَ: «قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دِيَةِ الْخَطَإِ عِشْرِينَ بِنْتَ مَخَاضٍ، [۳] وَعِشْرِينَ ابْنَ مَخَاضٍ ذُكُورٍ، [۴] وَعِشْرِينَ بِنْتَ لَبُونٍ، [۵] وَعِشْرِينَ جَذَعَةً، وَعِشْرِينَ حِقَّةً». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او خشف ابن مالك رحمه الله د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل کوي چې هغه اوويل [۲] چې رسول الله ﷺ د قتل خطاء ديت دا مقرر کړي چې شل اوښې دي هغه وي چې په دويم کال کې لګيدلی وي، [۳] او شل اوښان د دويم کال خاوندان يعنی شل نر او شل مادی چې جمع څلوېښت شی، [۴] او شل اوښې هغه وی چې په دريم کال کې لګيدلی وي. [۵] او شل اوښي دي هغه وي چې په پنځم کال کې وي، او شل اوښي دي هغه وي چې په څلورم کال کې وي. (ترمذي ابوداود نسائي)

[۱] وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ مَسْعُودٍ وَخِشْفٌ مَجْهُولٌ لَا يُعْرَفُ إِلَّا بِهَذَا الْحَدِيثِ. [۲] وَرُوِيَ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَى قَتِيلَ خَيْبَرَ بِمِائَةٍ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ [۳] وَلَيْسَ فِي أَسْنَانِ إِبِلِ الصَّدَقَةِ ابْنُ مَخَاضٍ إِنَّمَا فِيهَا ابْنُ لَبُونٍ.

ترجمه: [۱] د دې حديث په باره کې صحيح خبره دا ده چې دا په ابن مسعود رضی الله عنه موقوف دی (يعنې د هغه خپل قول دی) او (د دې راوي) خشف يو غير معروف راوي دی، چې يواځې د دې حديث سره پيژندل کيږي (يعنې د دې نه علاوه بل يو روايت د هغه نه منقول نه دی) [۲] بغوي رحمه الله په شرح السنه کې داسې نقل کړي دی رسول الله ﷺ د هغه سړي په ديت کې چې په خيبر کې قتل شوی وو (او دغه تفصيلي واقعه به په باب القسامت کې بيان شي) په زکوة کې راوړل شوي اوښانو نه سل اوښان ورکړي وو، [۳] او د زکوة په هغه اوښانو کې يو اوښ هم د يو کال نه وو بلکه د دوو دوو کالو وو.

حل اللغات ① وَدَي: ادا ئې کړل ② أَسْنَان: جمع د سن غاښونه ③ ابْنُ مَخَاضٍ: د يو کال اوښ. ④ ابْنُ لَبُونٍ: د دوو کالو داوښې بچی

تسهیلات: قوله: دِيَةِ الْخَطَإِ عِشْرِينَ بِنْتَ مَخَاضٍ:

په ديت مخففه کښې د اوښانو په نوعيت کښې ۲ مذاهب:

① په ديت مخففه کښې د اوښانو ديت او د تقسيم بيان په دې حديث کښې راغلي دي د قتل خطاء په ديت مخففه کښې د اوښانو تقسيم په پنځه شان باندې دي په دې کښې د چا

١) اخرجه ابو داود فی کتاب الدّيات/باب الدّية کم هی؟ (رقم-٤٥٤٥) والترمذی فی کتاب الدّيات عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی الدّية کم هی من الابل (رقم-١٣٨٦) والنسائی فی کتاب القسامة/باب ذکر أسنان دية الخطاء (رقم-٤٨٠٢) وابن ماجه فی کتاب الدّيات/باب دية الخطأ (رقم-٢٦٣١)

اختلاف نشته البته

② امام شافعي رحمه الله دَ ابن مخاض په ځائي ابن لبون قائل دي يعني ۲۰ بنت مخاض ۲۰ ابن مخاض او ۲۰ بنت لبون او ۲۰ حقه او ۲۰ دَجذعه چه كوم ترتيب زير بحث حديث كښې راغلې دي په دې كښې امام شافعي دَ ابن مخاض په ځائي دَ ابن لبون قائل دي. ليكن احناف هم دَدې قائل دی كوم چه په دې حديث كښې ترتيب ذكر دې

د احنافو په زيربحث مستدل بانديې اعتراضات: زير نظر حديث چونكه دَ احناف واضح دليل دي په دې وجه شوافعو حضراتو دَدې دكمزورې كولودَپاره درې اعتراضات كړى دى

اول اعتراض: ① اودا روايت په اصل كښې په ابن مسعود رضي الله عنه بانديې موقوف دې

د اول اعتراض جواب: ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي كه چرې دا روايت موقوف هم دې نوهيڅ مضائقه نشته ځكه چه په دې روايت كښې دَ شرعي اعدادو بيان شوې دې او په كوم روايت كښې چه دَ مقادير شرعيه بيان وى هغه غيرمدرك بالقياس وى كوم چه دَمرفوع په حكم كښې وى لهذا دا حديث دَمرفوع په حكم كښې دې.

دويم اعتراض: دَ دې حديث يوراوى خشف بن مالك مجهول دې.

د دويم اعتراض جواب: خشف دَ خپل پلار مالك طائى نه روايت كوى دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه روايت اخلي. دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت كوى هغه څنګه مجهول دې حالانكه ضابطه دَ اصول حديث داده چه كله يوسړې دَ دوو كسانونه روايت كوى نوهغه مجهول نه پاتې كيږى بلكه معروف كيږى. بل امام نسائى رحمه الله غوندې سخت محدث دَخشف بن مالك توثيق كړې دې. ابن حبان رحمه الله خشف په ثقات كښې شميركړې دې "كذا في المرقات ملخصاً". امام ترمذى رحمه الله امام ابوداؤد رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله په خپلو كتابونو كښې خشف نه روايت كړې دې لهذا دَ انصاف تقاضاداده چه په دې روايت بانديې څه كلام اونه كړې شى

دريم اعتراض: ③ اودَ خيبر دَ مقتول چه كوم ديت نبى كريم اداكړې وو په هغې كښې ابن لبون وركړې وو دَ ابن مخاض ذكر په دې روايت كښې نشته دې نوابن لبون به اخستې شى ابن مخاض به پريخودې شى

د دريم اعتراض دوه جوابونه: ① علامه شمنى رحمه الله فرمائي دَخيبردَ ديت معامله دَ نبى كريم دَ طرف نه احسان او دَ تبرع په توګه وه څه ضابطه نه وه. نبى كريم دَخپل طرف نه اكثر ديت وركړې وو نوهغه دَ صلح يوصورت وو

② دَ مقتول خيبريه ديت كښې چرته چه دَ ابن لبون لفظ راغلې دې نوهم په دغه روايت كښې دَدې جواب هم دې چه هغه وخت دَ صدقه په اوښانو كښې ابن مخاض موجودنه وو په دې وجه ابن لبون وركړې شو

[۲۴۹۸] په دیت کښې د اوښا نو بنیادی کردار

۲۴۹۸- [۱۳] (۱) ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ۲ «كَانَتْ قِيمَةُ الدِّيَةِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانَمِائَةِ دِينَارٍ، أَوْ ثَمَانِيَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ، ۳ وَدِيَةُ أَهْلِ الْكِتَابِ يَوْمَئِذٍ النِّصْفُ مِنْ دِيَةِ الْمُسْلِمِينَ، ۴ قَالَ: فَكَانَ كَذَلِكَ حَتَّى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَامَ خَطِيبًا ۵ فَقَالَ: إِنَّ الْإِبِلَ قَدْ غَلَتْ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي ۲ چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کې د دیت (د سلو اوښانو) قیمت اته سوه دیناره یا اته زره درهمه وو. ۳ او د هغه په زمانه کې د اهل کتابو (یعني عیسایانو او یهودیانو) دیت د مسلمانانو د دیت نیمه وو. ۴ د هغه نیکه وایي چې د حضرت عمر رضی الله عنه تر خلیفه کیدو د دې مطابق عمل در آمد کیدلی، د حضرت عمر رضی الله عنه (د خلیفه کیدو نه وروسته) د خطبه ورکولو د پاره ودریدنو ۵ او وي فرمایل چې د اوښ قیمت زیات شوی دی.

حل اللغات ① اُسْتُخْلِفَ: چه خلیفه جوړکړې شو. ② غَلَتْ: نرخ ئې زیات شو قیمت ئې زیات شو.

۱ قَالَ: فَفَرَضَهَا عُمَرُ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ أَلْفَ دِينَارٍ، ۲ وَعَلَى أَهْلِ الْوَرِقِ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا، ۳ وَعَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ، ۴ وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ، ۵ وَعَلَى أَهْلِ الْحُلَلِ مِائَتَيْ حُلَّةٍ. ۶ قَالَ: وَتَرَكَ دِيَةَ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَرْفَعْهَا فِيمَا رَفَعَ مِنَ الدِّيَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ راوي بیان دی چې (د دې نه وروسته) حضرت عمر رضی الله عنه چې کوم دیت مقرر کړي وو. د هغه تفصیل دا دی چې په سره زر ساتونکو یو زر دیناره، ۲ په سپینو زرو ساتونکو دولس زره درهم. ۳ د غوا په مالکانو دوه سوه غواګاني. ۴ د بزو په مالکانو دوه زره بزې چیلې. ۵ او د کپړې په جوړولو (تجارت کونکو) دوه سوه جوړې. ۶ راوي وایي چې حضرت عمر رضی الله عنه د ذمیانو دیت په خپل حال برقرار وساتلی (یعني د حضور ﷺ په زمانه کې د ذمیانو دیت څلور زره درهمه وو. حضرت عمر رضی الله عنه هغه برقرار وساتلی) په دې کې یې هیڅ اضافه ونه کړه. څنګه چې په نورو دیتونو کې اضافه وشوه. (ابوداود)

حل اللغات ③ فَفَرَضَهَا: مقررئې کړلو. لازم ئې کړلو ④ أَهْلِ الذَّهَبِ: د سرو زرو خاوندان ⑤ أَهْلِ الْوَرِقِ: د سپینو زر خاوندان (لورنکی) ⑥ أَهْلِ الْبَقَرِ: غواګانو والا ⑦ أَهْلِ الشَّاءِ: ګډو چیلو والا ⑧ أَهْلِ الْحُلَلِ: جامو والا (بزاز) دکپړې تجارت کونکی. ⑨ حُلَّةٍ: کپړه. جوړه. ⑩ أَهْلِ الذِّمَّةِ: ذمیان. چه د مسلمانانو په ملک کښې په معاهده سره اوسیږي. ⑪ لَمْ يَرْفَعْهَا: زیات ئې نه کړل. برقرار ئې اوساتلو

۱) اخرجه ابو داود فی كتاب الدیات/باب الدیة كم هي؟ (رقم-۴۵۴۲)

تسهیلات:

قوله: فَفَرَضَهَا عُمَرُ

د دیت په معیار او اصل کښې ۳ مذاهب:

دَدې روایت دَ وجې نه دَ فقهاء کرامو په مینځ کښې دا مسئله راوچته شوې ده چه دَ دیت مقررونو کښې اصل معیار اوبنیاد څه څیز دې آیا اوښان بنیاددې یا نقد دینار اودراهم دَ دیت مقررکولو دپاره اصل دې یا دغه دواړو سره څه نور څیزونه هم دَ دیت مقررکولو دپاره اصل دې په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

① امام شافعي رحمه الله فرمائی چه اصل معیاراوبنیاد اوښان دی دَ اوښانو دَ قیمت په حساب سره دینار او دراهم به مقررکولې شی سل اوښان بودیت دې لهذا دَ سل اوښانودَ قیمت په حساب سره مثلاً پاکستان کښې دَ روپئی حساب کولوسره به دیت ورکړې کیږی دَ اوښانو ارزان یا ګران کیدوسره دَ روپو په زیاتیدو اوکمیدو باندې به اثر پریوځی لیکن په دیت کښې اصل صرف هم اوښان دی لهذا دَ مجبورئی نه بغیر دَ اوښانو په موجودګئی کښې دَهغې دَ قیمت طرف ته تلل نه دی پکار

② صاحبین یعنی امام ابویوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نیزدَ دیت په مقررکولوکښې شپږ څیزونه اصل دی (۱) اوښان (۲)سره زر (۳) سپین زر(۴) غواګانې (۵) چیلئی (۶) دَ کپړو جوړې

③ دَامام ابوحنیفه رحمه الله دَدیت په مقررکولوکښې درې څیزونه اصل دی (۱)اوښان (۲) سره زر (۳) سپین زر

داول فریق دلائل: زیربحث حدیث د دوی مستدل دې دوی د دې دَ هغه حصې نه استدلال کړې دې په کومه کښې چه دَ اوښانو ذکر حضرت عمر رضي الله عنه دَ اصل په توګه کړې دې

① بل په نورو احادیثوکښې دَ سلو اوښانو تصریح موجود ده دې سره دَ بل څه څیز ذکرنشته دې لکه چه دَ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روایت کښې مأةمن الابل الفاظ راغلی دی کوم چه دَدې باب په حدیث نمبر(۳۳۹۰) کښې ذکردی

داول فریق د دلائلو مجموعی جواب: هرکله چې په احادیثوکښې دَ اوښانونه علاوه څیزونوذکر شته نوبیا دیت صرف په اوښانوکښې منحصرکول جائزنه دی

ددویم فریق دلیل: زیربحث حدیث د دویم فریق هم مستدل دې په دې کښې دَ شپږو څیزونو تصریح موجودده

د دویم فریق د دلیل جواب: په دغه شپږو څیزونو کښې ابل فضه اوذهب نه علاوه څیزونوکښې انضباط نشته بلکه دَ زمانې په تغیرسره دَ اشیاء په قیمتونوکښې ډیر

تغیر راځي نودا به څنګه اصل جوړيږي لهذا صرف اوښان سره زر اوسپين زر د اصل په توګه قبلول پکار دي

د دريم فريق دلائل: ① د دريم فريق مستدل د ابوبكر بن محمد رضي الله عنه حديث نمبر(۳۳۳) دي په کوم کښې چه دا الفاظ دي (في النفس الدية مائة من الابل)

② سره او سپين زر اصل ګرځولو د پاره دوی سره د حضرت عمر رضي الله عنه دي کوم چه امام محمد رحمه الله په خپل موطا کښې داسې ذکر کړې دي (قال محمد بلغنا عن عمر رضي الله عنه انه فرض على اهل الذهب في الدية الف دينار ومن الورق عشرة آلاف درهم) بيهقي او ابن ابي شيبه هم د دې تخريج کړې دي

[۳۴۹۹] د ديت مقدار

۳۴۹۹-[۱۳] (۱) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ (أَنَّهُ جَعَلَ الدِّيَةَ اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي ۲ چې حضور صلى الله عليه وسلم دولس زره درهم ديت مقرر کړې، (ترمذي ابوداود نسايي دارمي)

تسهيلات:

دې حديث سره متعلق تشريح د دې باب په شروع کښې په مکمل توګه باندې شوې ده.

[۳۵۰۰] د خطا د ديت مقدار

۳۵۰۰-[۱۴] (۲) ۱ «وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ۲ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَوِّمُ دِيَةَ الْخَطَإِ عَلَى أَهْلِ الْقُرَى أَرْبَعَمِائَةِ دِينَارٍ ۳ أَوْ عِدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ وَيُقَوِّمُهَا عَلَى أَثْمَانِ الْإِبِلِ ۴ فَإِذَا غَلَتْ رَفَعَ فِي قِيمَتِهَا وَإِذَا هَاجَتْ رُخْصًا نَقَصَ مِنْ قِيمَتِهَا ۵ وَبَلَغَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ أَرْبَعِمِائَةِ دِينَارٍ إِلَى ثَمَانِمِائَةِ دِينَارٍ وَعِدْلَهَا مِنَ الْوَرِقِ ثَمَانِيَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ

ترجمه: ۱ او حضرت عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه نقل کوي ۲ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به کلي والاوو د قتلِ خطاء ديت څلور سوه دينار ۳ يا د دې مساوي قيمت يعنې د سپينو زرو څلور زره درهم مقرر کړل، او دا مقدار به د اوښانو د قيمت مطابق وو. ۴ هر کله چې د اوښانو په قيمت کې به اضافه کيده، نو حضور صلى الله عليه وسلم به د ديت په

١) اخرجه ابو داود في كتاب الديات/باب الدية كم هي؟ (رقم-٤٥٤٦) والترمذي في كتاب الديات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الدية كم هي من الدراهم؟ (رقم-١٣٨٨) والنسائي في كتاب القسامة/باب ذكر الدية من الورق (رقم-٤٨٠٣) وابن ماجه في كتاب الديات/باب دية الخطأ (رقم-٢٦٣٢)

٢) اخرجه ابو داود في كتاب الديات/باب ديات الأعضاء (رقم-٤٥٦٤) والنسائي في كتاب القسامة/باب ذكر الاختلاف على خالد الحذاء (رقم-٤٨٠١) وابن ماجه في كتاب الديات/باب دية الخطأ (رقم-٢٦٣٠)

مقدار کې هم اضافه کوله اوکله چې به داوښانو په قیمتونوکي کمي راتله نو حضور ﷺ به د دیت په مقدار کې کمی کوله، [۵]دا وجه ده چې د حضور ﷺ په زمانه کې د دیت مقدار خلور سوه دینار نه واخله تر اته سوو دینارو یا د دې مساوي قیمت (د سپینو زرو اته زره درهم) پورې وو،

حل اللغات ①يُقَوِّمُ: قانموی، مقررکوی، ②عِدْلَهَا: ددې برابر، ③الْوَرِقِ: سپین زر ④غَلَتْ: قیمت زیاتیدل، ⑤هَاجَتْ: زیتې اوقیمت پریوتل، آرزانیدل ⑥رُخْصًا: قیمت کمیدل آرزانیدل

[۱]قَالَ: وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهْلِ الْبَقَرِ مِائَتَيْ بَقَرَةٍ [۲]وَعَلَى أَهْلِ الشَّاءِ أَلْفَيْ شَاةٍ [۳]وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْعَقْلَ مِيرَاثٌ بَيْنَ وَرَثَةِ الْقَتِيلِ [۴]وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَةِ بَيْنَ عَصَبَتِهَا. وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا») رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱]راوي وايي چې رسول الله ﷺ په غوا والاوو دوه سوه غواګانې [۲]او په بزو والاوو دوه زره بزې (چیلۍ)، په طور د دیت مقرر کړي وو، [۳]او رسول الله ﷺ د دیت مال د مقتول د وارثانو حق ګرځولی دی، [۴]او رسول الله ﷺ وفرمایل چې د ښځې دیت د هغه په عصباتو دی، او قاتل (که خپل مورث قتل کړي وی، نو هغه) به د مورث د وراثت نه محروم وي. نه به هغه ته د مقتول د دیت نه څه حصه حاصلیږي ، او نه به د هغه د ترکې میراث نه د څه شي مقدار وي، (ابوداود نسايي)

حل اللغات ⑥عَصَبَتِهَا: دهغې رشته داران.

تسهيلات:

قوله وَإِذَا هَاجَتْ رُخْصًا نَقَصَ مِنْ قِيمَتِهَا:

د رخصا ضبط اود دې نه مراد: په راء باندې فتحه ده اوخاء باندې سکون دې مراد د قیمتونو کمیدل دی یعنی کله چه به دَ اوښانو په قیمت کښې کمې راتلو نونبی کریم به دَ دیت په مقدار کښې هم کمې کولو کله دَ دیت مقدار څلورسوا دینارو پورې کمیدلو او کله به اتوسوو دینارو پورې اوچتیدلو

قوله. أَنَّ عَقْلَ الْمَرْأَةِ بَيْنَ عَصَبَتِهَا:

د مذکوره جملې ولیلو وجه: داجمله نبی کریم څکه اوفرمائیله دې دَپاره چه دا خبره واضحه شی چه دَښځې په عاقله باندې دَ دیت تاوان راځی اوښځه دَ غلام په شان نه ده دَ چاچه عاقله نه وی څکه چه غلام په خپل دیت ورکولوکښې پخپله ذمه وار دې دَهغه څوك عاقله نشته دې

[۲۵۰۱] د شبه عمد قتل حکم

۳۰۰۵ - [۱۵] (۱) [۱] وَعَنْهُ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «عَقْلُ شِبْهِ الْعَمْدِ مُغَلَّظٌ مِثْلُ عَقْلِ الْعَمْدِ [۳] وَلَا يُقْتَلُ صَاحِبُهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شعیب رحمہ اللہ د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] د قتلِ شبه عمد دیت د قتلِ عمد د دیت په شان سخت دی. [۳] لیکن د شبه عمد مرتکب دی نشي قتلولی. (ابوداود)

حل اللغات ① عَقْلُ: خون بها، دیت ② مُغَلَّظٌ: سخت.

تسهیلات:

قوله وَلَا يُقْتَلُ صَاحِبُهُ:

د سوال مقدر جواب: داجمله په حقیقت کښې دَ یواشتباه او وهم جواب دي. شبه اووهم دَدې حدیث دَ شروع کلام نه داسې پیداشوې چه دَ قتل شبه عمددیت په دې حدیث کښې یوځن مغلظ ګرځولې شوی دی په کوم سره چه وهم پیداشو چه کله په دیت کښې دواړه یوشان دی نو په قصاص کښې به هم یوشان وی. دا وهم لرې کولودپاره نبی کریم اوفرمیل (ولایقتل صاحبه) یعنی دَ شبه عمددَقتل مرتکب به په قصاص کښې نه شی قتل کولې دلته تشبیه صرف تغلیظ دیت کښې ده په قصاص کښې نشته دي

[۲۵۰۲] د زخمي شوی سترګي دیت

۳۰۰۶ - [۱۶] (۲) [۱] وَعَنْهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: [۲] «قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَيْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّةِ [۳] لِمَكَانِهَا بِثُلُثِ الدِّيَةِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه نقل کوي [۲] چې رسول الله ﷺ د داسې سترګي په باره کې چې د زخمي کیدو نه وروسته په خپل ځاي باقي پاتې شي. [۳] لیکن د رڼا نه محرومه شي. دا حکم وفرمایلو چې د هغې (د پوره دیت) ثلث (دریمه) دی. (ابوداود نسايي)

حل اللغات ① الْقَائِمَةِ: موجوده ② السَّادَّةِ: په خپل ځاي برابر.

۱) اخرجه ابو داود فی کتاب الدّیات/باب دیات الأعضاء (رقم-۴۵۶۵) واحمد فی المسند: ۲/۲۲۴
۲) اخرجه ابو داود فی کتاب الدّیات/باب دیات الأعضاء (رقم-۴۵۶۷) والنسائی فی کتاب القسامة/باب العین العوراء السادّة لمکانها إذا طمست (رقم-۴۸۴۰)

تسهيلات:

قوله فِي الْعَيْنِ الْقَائِمَةِ السَّادَّةِ

د زخم په وجه د بصارت د ختمیدو په حکم کښې ۲ مذاهب:

① اسحاق بن راهویه په نیز په سترګه داسې زخم اولګید و چه نظرئې ختم شو لیکن په خپل ځائې باندې ده او د مخ رونق ئې هم په ځائې دې په ښائست او زینت کښې ئې څه فرق رانغلو کتونکې ته داسې ښکاری لکه چه صحیح سالم سترګه ده نو په دې کښې دریمه حصه دیت دې

② عام فقهاء په دې صورت کښې (حکومة عدل) واجب ګرځوی یعنی ماهر عادل تجربه کار سړې چه فیصله اوکړی چه ددې سترګې څومره دیت کیدل پکاردی دا فیصله به داسې وی چه د مضروب سړې غلام فرض کړې شی او په صحیح سترګه سره د ده قیمت اولګولې شی او بیا په ناقص سترګه سره د ده قیمت اولګولې شی چه څومره قیمت کمیږی نو چه څومره قیمت کم شی هم دومره دیت او تاوان به په زخمی کونکی سړی باندې راځی

د اول فریق دلیل: زیربحث حدیث د وی مستدل دې د کوم ظاهری الفاظ چې په دې دلالت کوی

داول فریق د دلیل جواب: علامه توریشتی رحمه الله په حواله سره ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی که چرې د حدیث صحیح ثابت شی نو بیا به دا په حکومة عدل باندې محمول کیږی

د دویم فریق دلیل: په مذکوره صورت کښې په مکمل توګه باندې منفعت نه ختمیږی د دې به په دې باندې عمل نشی کولې

[۳۵۰۲] د خیټې د ماشوم دیت

سند—[۱۷] (۱) ⑴ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ ⑵ قَالَ: «قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنِينِ بِغُرَّةٍ ⑶ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ أَوْ فَرَسٍ، أَوْ بَغْلٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ وَخَالِدٌ الْوَاسِطِيُّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو وَلَمْ يَذْكُرْ: أَوْ فَرَسٍ أَوْ بَغْلٍ.

ترجمه: ⑴ او حضرت محمد ابن عمرو د حضرت ابو سلمه نه او هغه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه نقل کوي ⑵ چې رسول الله ﷺ (د حاملې) د خیټې د ماشوم خون بها غره مقرره کړه. ⑶ او د غره نه مراد یوه وینځه یا یو غلام یا یو آس یا یو کچر دی، ابوداود رحمه الله دا روایت نقل کولو سره ویلي دي چې دا روایت حماد ابن سلمه او خالد واسطي د محمد ابن عمرو نه نقل کړي دی. لیکن په دي دواړو کې هیڅ یو هم لفظ فرس او بغل (یعني آس او

۱) اخرجه ابو داود فی کتاب الدّیات/باب دیة الجنین (رقم-۴۵۶۹) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی دیة الجنین (رقم-۱۴۱۰) واحمد فی المسند: ۴۹۸/۲

كچر. ذكر كړي نه دی (نو په دي روايت كي) د فرس او بغل اضافه شاذ ده. او په دي اعتبار دا حديث ضعيف دی، ابوداؤد نسايي

حل اللغات (۱) غُرَّةٍ: د اس په تندی باندې سپين داغ ته وائی. هر ښانسته څيز . دلته ترې غلام يا وينځه يا اس مراد دی

تسهيلات:

قوله: أَوْفَرَسٍ، أَوْبَغْلٍ:

د مذكوره الفاظو په حديث كښې ادراج: علماء فرمائی چه (فرس او بغل) دَ الفاظواضافه په دې حديث كښې دَ يوراوی دَ طرف نه دې كوم چه شاذاو نامقبول دې ابوداؤد رحمه الله هم دا الفاظ مسترد كړی دی

[۲۵۰٤] د طبيب د لاسه د مرګ واقع كيدو حكم

۳۵۰۴—[۱۸] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «مَنْ تَطَبَّبَ وَلَمْ يُعْلَمْ مِنْهُ طِبٌّ [۳] فَهُوَ ضَامِنٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او عمرو ابن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيكه نه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړی چې خپل ځان طبيب ظاهر كړي. حالانكه د هغه طبيب كيدل معلوم نه وي (يعني هغه په فن طب كې څه مهارت نه لري) او بيا څوك د هغه د لاسه مړ شي. [۳] نو هغه به ضامن وي. (ابوداود نسايي)

تسهيلات: قوله: مَنْ تَطَبَّبَ:

د تطبب معنی: باب تفعل نه دي يعني طبيب او ډاكټر نه دې بلكه په دهوكه او فراډ سره خپل ځان طبيب ظاهره وی او دَ مريض علاج كوی

قوله: فَهُوَ ضَامِنٌ

د جعلي ډاكټر د نقصان په صورت كښې د ضمان وجوب: كه چرته يوجعلي اونقلي ډاكټر دَ يومريض علاج اوكړو اوهغه په علاج باندې نه پوهيدلو اومريض ته ئې نقصان اورسولو نودغه جعلي ډاكټربه ذمه واري وی او په هغه باندې به ضمان راځي دَدې مسئلي تفصيل بذل المجهود كښې دې دَدې خلاصه داده كه چرې يوجعلي ډاكټر دَ يومريض په وړاندې دَ يوې دوائی ډير تعريف اوكړو اودَ استعمالولوترغيب ئې وركړو اوونئ ونيل دا اوخوره ډيره ښه دوائی ده دغه مريض هغه دوائی اوخوړله اومړشو نو دَدغه مريض په دې دوائی خوړلو

۱) اخرجه ابو داود في كتاب الدّيات باب فيمن تطبّب بغير علم فأعنت (رقم ۴۵۸۶) والنسائي في كتاب القسامة باب صفة شبه العمد وعلى من دية الأجنّة. وشبه العمد. وذكر اختلاف ألفاظ النّاقلين لخبر إبراهيم. عن عبيد بن نضيلة. عن مغيرة (رقم ۴۸۳۰) وابن ماجه في كتاب الطّبّ باب من تطبّب. ولم يعلم منه طبّ (رقم ۳۴۶۶)

کښې عمل دخل راغلو نو په دې صورت کښې په دغه جعلی ډاکټر نه قصاص شته او نه دیت البته دغه ناهل نقلی طبیب ته به دتعزیر په توګه سزا ورکولې شي چه د طب د فن نه ناواقف دې جاهل مریض ته غلطه مشوره ولې ورکړه

په جعلی دوائي د قتل حکم: اوکه دغه جعلی ډاکټر په خپل لاس مریض ته دوائي ورکړه اومریض مړشو نو په دې صورت کښې به دغه نقلی ډاکټر ضامن وي یعنی دافعل د قتل خطا په حکم کښې دې په کوم کښې چه دیت په عاقله باندې راځي اوقصاص نشته دې دلته چونکه مریض دغه نقلی ډاکټرته د علاج اجازت پخپله ورکړې وو په دې وجه قصاص ساقط شواو دیت لازم راځي

[۳۵۰۵] د دیت د معافي یوه واقعه

٣٥٠٣-[١٩] (١) ١ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ غُلَامًا لِأُنَاسٍ فُقَرَاءَ ٢ قَطَعَ أُذُنَ غُلَامٍ لِأُنَاسٍ أَغْنِيَاءَ ٣ فَأَتَى أَهْلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: ٤ إِنَّا أُنَاسٌ فُقَرَاءُ ٥ فَلَمْ يَجْعَلْ عَلَيْهِمْ شَيْئًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت عمران ابن حصین وایي چې یو هلك چې د مفلس خندان سره یې تعلق ئرلو. ٢ د یو داسې هلك غوږ یې پریکړې، چې د یو دولتمند خاندان نه وو. ٣ کوم هلك چې غوږ پریکړې وو. د هغه خاندان والاد رسول اللهﷺ په خدمت کې حاضر شو. او عرض یې وکړې ٤ چې مونږ محتاج او مفلس یو (په مونږ دې دیت نه مقرر کیږی، ٥ رسول اللهﷺ د هغوئ د رخواست منظورولو سره) په هغوئ څه څیز مقرر نه کړې. (ابوداود، نسایي)

تسهیلات:

قوله قَطَعَ أُذُنَ غُلَامٍ لِأُنَاسٍ أَغْنِيَاءَ:

په ماشوم باندې عدم قصاص: یعنی د مالداره خلقو د خوئي غوږ د غریب نوخلق خوئي پرې کړو د غلام نه مراد نابالغ بچې دې عبدمرادنه دې ځکه چه چرې عبدوې نود دغه جرم تاوان به پخپله په هغه راځي ځکه چه د غلام څوك عاقله نه وی هغه د جرم د تاوان پخپله ذمه وار دې او په زیربحث واقعه کښې چونکه د غوږ پرې کونکې وړوکې ماشوم وونود ماشومانونه قصاص نه شی اخستې په دې وجه په عاقله باندې دیت راغلو لیکن هغه عاقله پخپله دومره فقیران وو چه د دیت متحمل کیدې نه شو په دې وجه په دې سره هم دیت ساقط شو ځکه چه فقیر عاقله باندې دیت نه راځي

---

١) اخرجه ابو داود فی کتاب الدیات/باب فی جنایة العبد یکون للفقراء، (رقم - ٤٥٩٠) والنسائی فی کتاب القسامة/باب سقوط القود بین الممالیک فیما دون النفس (رقم - ٤٧٥١)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۰۶] د قتل شبه عمد او قتل خطاء دیت

۲۵۰۶ - [۲۰] (۱) [۱] عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: [۲] دِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ أَثْلَاثًا ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ حِقَّةً، [۳] وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً، [۴] وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ ثَنِيَّةً إِلَى بَازِلِ عَامِهَا كُلُّهَا خَلِفَاتٌ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: فِي الْخَطَإِ أَرْبَاعًا: خَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً، [۶] وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً [۷] وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ، [۸] وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت علي کرم الله وجهه نه منقول دی. وي فرمایل [۲] چې د قتل شبه عمد په دیت کې سل اوښان ورکول واجب دي. په دي تفصیل چې دریو دیرش ۳۳ اوښې هغه وي. کومې چې په څلورم کال کې وي. [۳] او دریو دیرش اوښې هغه وي. کومې چې په پنځم کال کې شروع شوی وي. [۴] او څلور دیرش اوښې هغه وي چې په شپږم کال کې وي. تر اته کنه. چې په نهم کال کې وي. او ټولي حاملې (بلاربې) وي. [۵] په یو بل روایت کې د حضرت علي کرم الله وجهه نه دا منقول دی چې هغه وفرمایل د قتل خطاء په دیت کې څلور قسمه اوښې ورکول واجب دي. په دي تفصیل چې پنځویشت هغه وي چې د دریو کالو وي. [۶] او ۲۵ هغه وي چې د څلورو څلورو کالو وي. [۷] او ۲۵ هغه وي. چې د دوو دوو کنو وي. [۸] ۲۵ هغه وي، چې د یوه یوه کال وي. (ابوداود)

حل اللغات (۱) شِبْهِ الْعَمْدِ: قتل شبه العمد. (۲) أَثْلَاثًا: درې قسمه. (۳) إِلَى بَازِلِ عَامِهَا بازل هغه اوښ ته وائی کوم چې پورا د اتو کالو وی او په نهم کال کښې داخل شوې وی په هغه وخت کښې دهغه غاښونه هم ښکاره شوی وی او په قوت کښې هم کامل شوې وی (۴) خَلِفَاتٌ: حاملې. بلاربې. (۵) أَرْبَاعًا: څلور قسمه (۶) بَنَاتِ لَبُونٍ: د دوه کالو اوښه. (۷) بَنَاتِ مَخَاضٍ: د یو کل اوښه.

تسهیلات:

قوله إِلَى بَازِلِ عَامِهَا كُلُّهَا خَلِفَاتٌ:

د بازل تعریف: بازل هغه اوښ ته وائی کوم چې پورا د اتو کالو وی او په نهم کال کښې داخل شوې وی په هغه وخت کښې دهغه غاښونه هم ښکاره شوی وی او په قوت کښې هم کامل شوې وی

[۲۵۰۷] د شبه العمد د دیت مقدار

۲۵۰۷ - [۲۱] (۲) [۱] وَعَنْ مُجَاهِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] قَضَى عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي شِبْهِ الْعَمْدِ ثَلَاثِينَ حِقَّةً، وَثَلَاثِينَ جَذَعَةً، وَأَرْبَعِينَ خَلِفَةً، مَا بَيْنَ ثَنِيَّةٍ إِلَى بَازِلِ عَامِهَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

۱) اخرجه ابو داود فی کتاب الدّیات/باب فی دیة الخطا شبه العمد (رقم - ۴۵۵۱)
۲) اخرجه ابو داود فی کتاب الدّیات/باب فی دیة الخطا شبه العمد (رقم - ۴۵۵۱) واحمد فی المسند: ۱/۴۹

ترجمه: [۱] او د حضرت مجاهد رحمه الله نه روايت دى [۲] چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د قتل شبه عمد په ديت کې ديرش اوښې د دريو دريو کلو، ديرش د څلورو څلورو کلو. او څلويښت اوښې حاملې (بلاربې) چې د پنځه پنځه کالو وي، د ورکولو حکم وکړي، ګويا دا روايت د امام شافعي رحمه الله د مسلك موافق دى. (ابوداود)

تسهيلات: نوټ: د كتاب القصاص حديث نمبر (۳۴۷۳) په توضيح كښې د اوښانو د عمرونو بيان دې هم هلته ني اوګورئي

[۲۵۰۸] د جنين د قاتل حکم

۳۵۰۸—[۲۴] (۱) [۱] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي الْجَنِينِ يُقْتَلُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ وَلِيدَةٍ. [۳] فَقَالَ الَّذِي قُضِيَ عَلَيْهِ: كَيْفَ أُغْرَمُ مَنْ لَا شَرِبَ وَلَا أَكَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ وَمِثْلُ ذَلِكَ يُطَلُّ. [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِنَّمَا هَذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ») رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] او حضرت سعيد ابن مسيب وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د ښځې د هغه ماشوم ديت. چې ووژل شي. يو غره يعنى يو غلام يا يوه وينځه مقرر کړل. په کوم سړي چې دا ديت واجب شوى وو. [۳] هغه عرض اوکړو چې د هغه ماشوم تاوان څنګه ورکړم؟ چې هغه څه څيز نه څکلى نه خوړلى دى، او نه يې خبرې کړي دي. او نه يې آواز کړي دى، د دې قسم قتل خو سقط کيږي. [۴] رسول الله ﷺ (د هغه سړي په دا خبر اوريدو سره حاضرينو ته وفرمايل د دې نه علاوه نور څه اوويل شي چې دا سړى د کاهنانو ورور دى، امام مالك رحمه الله او امام نسايي رحمه الله خو دا روايت بطريق ارسال (يعني د راوي صحابي ذکر کولو بغير نقل کړي دى

حل اللغات ①وَلِيدَة: وينځه. ②أُغْرَمُ: تاوان (ديت). ③شَرِبَ: څکل. ④اسْتَهَلَّ: آواز نې پورته کړلو ⑤يُطَلُّ: سقط کوى. هدر کوى. ⑥الْكُهَّانِ: جمع د کاهن ده کاهنان. د مستقبل د غيبو دعوه کونکى پال کتونکى ⑦ جنين: د مور په خيټه کښې چه کوم بچې وى د پيدا کيدو نه وړاندې هغې ته جنين وائي

۳۵۰۹—(۲) وَرَوَاهُ أَبُودَاوُدَ عَنْهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مُتَّصِلًا.

ترجمه: ابوداود د حضرت سعيد نه او هغه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه بطريق اتصال نقل کړي دى

---

۱) اخرجه النسائى فى كتاب القسامة/باب دية جنين المرأة (رقم-۴۸۲۰) ومالک فى الموطا كتاب العقول/باب عقل الجنين (رقم-۶)

۲) اخرجه ابو داود فى كتاب الديات/باب دية الجنين (رقم-۴۵۷۶) واحمد فى المسند:۲/۲۷۴

تسهيلات:

قوله: اسْتَهَلَّ:

په مذکوره صورت کښې اسلامي حکم: دَ پيدا کيدو په وخت چه کله ماشوم ژوندې وی نو هغه په چغو چغو ژاړی دې ته نی استهل وئيلې دې. داکلمه دَ دې نه وړاندې دَ نطق دَپاره په منزله دَتفسير ده سره دَدې چه داکلمه دَدې نه زياته غيرمانوس ده مګردَ سجع جوړولودَپاره دې سرې دا مؤخرکړه لکه چه هغه اکل دَ سجع په غرض دَ شرب نه مؤخرکړې دې حالانکه اکل ړومبې ذکرکولې شی او شرب روستووی يطل دامشددې دَ مجهول صيغه ده بې خايه او لغوکولوپه معنی کښې دې دې سړی دَ جاهليت دَ رواج او دستور مطابق داکلام کړې دې چه دغه شان به دَ بچی وينه ضائع ده حالانکه دادَ اسلام نظريه نه ده په اسلام کښې خوباقاعده دَده ديت دې کوم چه دَ غره په نوم باندې مشهوردې.

قوله: إِخْوَانِ الْكُهَّانِ:

د کاهن تعريف او د نبی کريم د خفګان وجه: دادکاهن جمع ده کاهن هغه سړی ته وائی چه په غيبوباندې دَ پوهيدلودعویٰ کوی اودَ مستقبل غلطې خبرې دَالفاظوپه ډيری کښې په بنانسته مسجع صورت کښې پيش کوی دې دَپاره چه په لفاظئی سره دَخلقو زړونه خپل طرف ته مائل کړی اودَ شريعت خلاف خپل باطل نظريات رائج کړی هم په دې وجه نبی کريم دَ دغه سړی نه خفه شو.

په مسجع کلام باندې اعتراض ولې؟: مسجع اومقفیٰ کلام خو په احاديثوکښې ډير راغلې دې بل په قرآن عظيم کښې هم داسې کلام فواصل سره موجوددې بيا دلته په دې باندې نکيرولې اوفرمائيلې شو؟

داشکال جواب: مطلق مسجع کلام مذموم نه دې بلکه هغه مذموم دې چه تکلف اوډيرزيات بناوتی اوتصنع سره راوړلې شی لکه چه دې سړی دَتقديم اوتاخير قواعد مات کړل صرف دَ سجع په غرض سره ئی يوباطل کلام اوکړو بهرحال که بچې په خيټه کښې مرشی نودَهغې حکم دغه دې کوم چه نبی کريم بيان کړې دې چه غره واجب ده يا پنځه سوه درهم دی اوکه چرې ژوندې پيداشی اوچادَ پيداکيدونه پس قتل کړو نو په دې کښې قصاص دې

(الحمد لله ! اووم جلد ختم شو)